## په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹۶۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملین په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په ورمو کې (۵۳۲۰- ۶۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (۶۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ببرنی لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱[illegible]) [illegible]ونه.

**نهم ټوک ([illegible] او [illegible]):** کړ[illegible]وال [illegible] کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰۶) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتی ۳ مخ)



# مه پېړۍ یون

## نهم ټوک

(سیاسي او ټولنیز اثار)

Ketabton.com

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمه پېړۍ یون

## نهم ټوک

## (سیاسي او ټولنیز اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# نیمه پېړۍ یون

## نهم ټوک

## (سیاسي او ټولنیز اثار)

لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴٦)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**

**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۸۱۵۸ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۸۱۷٤ |
| | **که نړیوال ماته وخوري؟** | |
| ۱ | د سیاسي لیکنو دا ټولګه | ۸۱۸٤ |
| ۲ | د کرزي صیب په لستوڼي کې ماران | ۸۱۸۹ |
| ۳ | څوک ناپېیلی ژورنالست دی؟ | ۸۱۹۱ |
| ٤ | د چارتراشو فریاد | ۸۱۹٤ |
| ۵ | د جمهوري ریاست یوه څوکۍ او یونیم درجن کاندیدان | ۸۱۹۷ |
| ٦ | د فاتحې اعلان | ۸۲۰۱ |
| ۷ | د ناسمې سرشمېرنې ناسمې اغېزې | ۸۲۰۳ |
| ۸ | محکمه خپله د محاکمې وړ ده | ۸۲۰۷ |
| ۹ | د ښاغلي حامد کرزي یو سیاسي جرئت | ۸۲۱۳ |
| ۱۰ | قلموال، ټوپکوال او نړیوال | ۸۲۱٦ |
| ۱۱ | ولسمشر کرزی یې ګټي او مخالفین یې لوټي | ۸۲۱۹ |
| ۱۲ | د افغانستان دولت په دوو جبهو کې | ۸۲۲۲ |
| ۱۳ | ناټو او ائتلاف ځواکونه او قومي تصفیه | ۸۲۲۵ |
| ۱٤ | د ښوونځي سوزونه د ژوند سوزونه | ۸۲۲۷ |
| ۱۵ | د نړیوالې ټولنې پاملرنه: د افغانانو لپاره یو طلایي چانس | ۸۲۳۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱٦ | احمدي نژاد په افغانستان کې نژادي پارونې کوي | ۸۲۳٦ |
| ۱۷ | د افغانستان اساسي قانون او انتخابات | ۸۲٤۰ |
| ۱۸ | بې سره سرشمېرنه | ۸۲۵۹ |
| ۱۹ | که نړیوال ماته وخوري...؟ | ۸۲٦٦ |
| ۲۰ | د ثور اوومه او اتمه د یوې غمیزې دوه سرونه | ۸۲۷٦ |
| ۲۱ | د ښاغلي ((کمال)) بې کماله څرګندونې | ۸۲۸۳ |
| ۲۲ | د نړیوالو ځواکونو د شتوالي ضرورت او قانونیت | ۸۲۹۰ |
| ۲۳ | (( القاعده)) په افغانستان او ((الفایده)) په پاکستان کې | ۸۲۹۸ |
| ۲٤ | د افغانستان پارلمان؛ د لرګي توره | ۸۳۰۵ |
| ۲۵ | په افغانستان کې د سیاسي شکایتونو کلتور | ۸۳۱۱ |
| ۲٦ | تور سرې د سپینې ماڼۍ په درشل کې | ۸۳۱۵ |
| ۲۷ | د سیاسي پوښتنو کانکور | ۸۳۱۹ |
| ۲۸ | څه شی چېرته ډېر دي؟ | ۸۳۲۲ |
| ۲۹ | فقر د ډېرو بدمرغیو مور | ۸۳۲۳ |
| ۳۰ | ... نو څه به کېږي؟ | ۸۳۲۸ |
| ۳۱ | ولې بیا جنګسالاران!؟ | ۸۳۳۳ |
| ۳۲ | ((زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وي که نه!)) | ۸۳۳٦ |
| ۳۳ | رنځور سیاست او تاریخ تېری درمل | ۸۳٤٦ |


## نجات څلی (د بیا جوړونې کیسه)


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | نجات څلی د یوه ملت ژوندی تاریخ | ۸۳۵٤ |
| ۲ | د دې اثر د لیکلو اهمیت او ضرورت | ۸۳۵۹ |
| ۳ | حبیب الله کلکانی څوک و او څه یې وکړل؟؟ | ۸۳٦٦ |
| ٤ | د نجات څلي د جوړونې او رنګونې فلسفه | ۸۳۹۷ |
| ۵ | د نجات څلي د بیا جوړونې لپاره لومړني افکار او نظریات | ۸٤۰٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٦ | خاورو ته د کلکاني د خاورو بیا سپارنه | ۸٤۰۹ |
| ۷ | د نجات څلي د بیا جوړونې لومړنۍ هڅې ... | ۸٤۲٤ |
| ۸ | په ژوندون کې د ملي نجات ورځ | ۸٤۳٥ |
| ۹ | د څلي د بیا جوړونې لپاره لويه غونډه او د ډبرې ایښودنه | ۸٤٤۱ |
| ۱۰ | ژمنې او ځان پټونې | ۸٤٥۱ |
| ۱۱ | د څلي د بیا جوړونې لپاره لیکلی تړون | ۸٤۷٥ |
| ۱۲ | د پکتین ساختماني شرکت او د نجات څلي ... | ۸٤۸۷ |
| ۱۳ | د کار د لومړۍ برخې بشپړتیا او د ځینو ستونزو... | ۸٥۱۳ |
| ۱٤ | د سلا مشورو غونډې | ۸٥۳۹ |
| ۱٥ | د څلي د دویم یا ښکلاییز پړاو چارې | ۸٥٥۰ |
| ۱٦ | د ساختماني چارو د بشپړتیا ارزونه | ۸٥٥۹ |
| ۱۷ | د نجات څلي ډبرلیک د شهرت او ضمیر مقابله | ۸٥۸۲ |
| ۱۸ | یو ځل بیا جرگې او مرکې | ۸٥۹٦ |
| ۱۹ | د څلي ډبرلیک او د هغه برخلیک | ۸٦۰۹ |
| ۲۰ | درنه جرگه او ترخې خبرې | ۸٦۱۷ |
| ۲۱ | ژوندون کې د ښنې او پخلاینې جرگه | ۸٦۳۳ |
| ۲۲ | ولولییز پیل او بې ځوړه پای | ۸٦٥۳ |
| ۲۳ | مشورې، تجربې او توصیې | ۸٦٥۹ |
| ۲٤ | پایله، ښنه او منه | ۸٦٦٥ |


## د زمانې په کړلېچ کې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | دا هم د زمانې د کړلېچ څو انځورونه | ۸٦۷٤ |
| ۲ | ((مارشال)) په کابل او کابل په مارشال پلان کې | ۸٦۷۹ |
| ۳ | ستر ریفورمیست اشرف غني او د سترو جنگسالارانو ... | ۸٦۸۳ |
| ٤ | زوړ مارکسېست د گناه په نوي لباس کې | ۸٦۸۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٥ | د اساسي قانون په لویه جرگه کې یوه عجیبه شمېره | ۸٦۹٦ |
| ٦ | د اطلاعات او کلتور وزارت یوې لوحې ((احساسات)) ... | ۸۷۰۱ |
| ۷ | حکمتیار په تور او رباني په سپین لېست کې | ۸۷۰۳ |
| ۸ | سه کشور فارسي زبان یانې څه؟ | ۸۷۱۰ |
| ۹ | د برېښنا وزیر او برېښنا ډوله ژمنې | ۸۷۱۷ |
| ۱۰ | زوم او خسر په حکومت کې که تر حکومته بهر؟ | ۸۷۲۳ |
| ۱۱ | ((کوچي گري)) څه ته وایي؟ | ۸۷۲۹ |
| ۱۲ | ((مارشال)) او بیت المال | ۸۷۳٦ |
| ۱۳ | افغانستان او د ایراني فاشیزم غشي | ۸۷٤۳ |
| ۱٤ | ((متحده ملي جبهه)) د لفاظانو ټلواله | ۸۷٥۳ |
| ۱٥ | د مصر او افغانستان گډې گټې او مشترکات | ۸۷٦۰ |
| ۱٦ | د یوې ژبې د پرمختیا او ځوړتیا څو عوامل او څو دلایل | ۸۷٦٥ |
| ۱۷ | د یو لوی ملت، د یوه ستر مشر یوه تاریخي وینا | ۸۷۷٥ |
| ۱۸ | د یوه فرهنگي انقلاب په لټه | ۸۷۸۰ |
| ۱۹ | افغانستان کې څوک سوله نه غواړي؟ | ۸۷۹٦ |
| ۲۰ | طالبان: ((برادران کرزی)) که ((جنبش خود جوش))... | ۸۸۱۸ |
| ۲۱ | حماسه، ویرنه او ویاړونه | ۸۸۲۲ |
| ۲۲ | د جمعیت ستمي او سیکارېستي بڼه | ۸۸۳۱ |
| ۲۳ | د زور کربښې په زور له منځه ځي | ۸۸۳٤ |
| ۲٤ | افغانستان کې د سیاسي ځواکونو نوې معادلې | ۸۸٤۳ |
| ۲٥ | مناظره که لکچر؟ | ۸۸٥۱ |
| ۲٦ | د یوې ناسمې ادعا سم سپیناوی | ۸۸٦۲ |
| ۲۷ | مورِ د خپلې زمانې په کړلېچ کې | ۸۹۰۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي هويت، ملي عزت


| | | |
|---|---|---|
| ١ | د ملي مبارزو يو ژوندی تصوير | ٨٩١٦ |
| ٢ | گام پر گام له ملي هويت سره | ٨٩٢١ |
| ٣ | افغان او افغانستان | ٨٩٢٧ |
| ٤ | افغان و افغانستان | ٨٩٣٦ |
| ٥ | مـلــت | ٨٩٥٠ |
| ٦ | د ملي شورا مخې ته لومړی لاريون | ٨٩٧٦ |
| ٧ | خوست او د ملي هويت ننگه | ٨٩٨٥ |
| ٨ | کونړيان او ملي هويت | ٨٩٨٦ |
| ٩ | اسلام وژغورئ او افغان وژغورئ | ٨٩٩٠ |
| ١٠ | لويه څارنوالي او زموږ هدف | ٨٩٩٤ |
| ١١ | د اسلاميت او افغانيت د ملاتړ لپاره په ژوندون کې... | ٨٩٩٩ |
| ١٢ | شل دلايل | ٩٠٠٢ |
| ١٣ | جرمني کې مېشت هېوادوال او د ملي هويت ملاتړ | ٩٠٠٩ |
| ١٤ | د  ملت حماسه کې د بغلان څېره | ٩٠١٤ |
| ١٥ | د سترې محکمې مخې ته د ملت حماسه | ٩٠٢٠ |
| ١٦ | د ملت حماسې ته درناوی | ٩٠٢٦ |
| ١٧ | ملي هويت او ولسمشر | ٩٠٤٣ |
| ١٨ | د کرزي د واکمنۍ تر پايه نورې هڅې | ٩٠٧٩ |
| ١٩ | له جمهور رييس  محمد اشرف غني څخه غوښتنه | ٩٠٨١ |
| ٢٠ | د ملي هويت لپاره مبارزه دوام لري | ٩٠٨٤ |
| ٢١ | بيا هم افغانيت او ملي هويت | ٩٠٨٧ |
| ٢٢ | د ملي هويت لپاره متواتره مبارزه | ٩٠٩٤ |
| ٢٣ | له جمهور رييس غني سره ځانگړې کتنه | ٩٠٩٧ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۲٤ | د هويت په تذکرو کې یو نسبي مثبت پرمختګ | ۹۰۹۸ |
| ۲۵ | یو ځل بیا د ملي هويت ننګه او ملاتړ | ۹۰۹۹ |
| ۲٦ | بیا هم اسلاميت او افغانيت او د هويت تذکره | ۹۱۰۲ |
| ۲۷ | لومړۍ ابلاغيه | ۹۱۱۲ |
| ۲۸ | دویمه ابلاغيه | ۹۱۱٤ |
| ۲۹ | درېيمه ابلاغيه | ۹۱۱۷ |
| ۳۰ | څلورمه ابلاغيه | ۹۱۱۹ |
| ۳۱ | په تراژيدۍ کې نمانځنه او يادونه | ۹۱۲۲ |
| ۳۲ | د اسلاميت او افغانيت په ننګه د لوی لاريون په اړه... | ۹۱۲۹ |
| ۳۳ | پکتيا او د افغانيت پر ننګه لاريون | ۹۱۳۲ |
| ۳٤ | د اسلاميت او افغانيت په ملاتړ د لوی لاريون ... | ۹۱۳۵ |
| ۳۵ | خپل غيور ملت ته د ملي حماسې مبارکي | ۹۱٤۳ |
| ۳٦ | ننګرهار او یو ځل بیا د ملي هويت ملاتړ | ۹۱٤۵ |
| ۳۷ | کندوز او ملي مبارزه | ۹۱٤۷ |
| ۳۸ | هندوستان کې د افغان محصلينو ملي ولوله | ۹۱٤۸ |
| ۳۹ | فراه کې د ولس ملي احساسات | ۹۱٤۹ |
| ٤۰ | هرات او افغان ملتپالنه | ۹۱۵۰ |
| ٤۱ | خوست او د هويتپالنې غږ | ۹۱۵۱ |
| ٤۲ | په ډنمارک کې د ملي هويت ملاتړ | ۹۱۵۳ |
| ٤۳ | افغانيت او د نيمروز د خلکو ګرمې ولولې | ۹۱۵۵ |
| ٤٤ | د اسلاميت او افغانيت په ننګه د ملي پاڅون خبرتيا | ۹۱۵٦ |
| ٤۵ | بلخ او د ملي هويت په ننګه مظاهره | ۹۱۵۹ |
| ٤٦ | کندهار او د ملي داعيې پالنه | ۹۱٦۲ |
| ٤۷ | غزني او د افغانيت او اسلاميت په ننګه لاريون | ۹۱٦۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٤٨ | لغمان، اسلامپالنه،ملتپالنه او هویت پالنه | ۹۱٦٦ |
| ٤٩ | د بادغیس ولس او د خپل هویت ننګه | ۹۱٦۸ |
| ۵۰ | د اسلامیت او افغانیت په ملاتړ د ملي اجماع غونډه | ۹۱٦۹ |
| ۵۱ | د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د پراخو لاریونونو د ... | ۹۱۷۵ |
| ۵۲ | د هویت د تذکرو په اړه وروستی وضاحت د افغانستان... | ۹۱۷۷ |
| ۵۳ | یو ځل بیا د هویت د تذکرو په باب د افغانستان ملي ... | ۹۱۷۹ |
| ۵٤ | له جمهور رییس څخه د قانوني سمون غوښتنه | ۹۱۸۲ |
| ۵۵ | د تابعیت په تذکرو کې د ملت او قوم ستون د لیکلو ... | ۹۱۸٦ |
| ۵٦ | د تذکرو د وېش د اداري او ازمویني په اړه د ... | ۹۱۸۸ |
| ۵۷ | د تذکرو ملي بهیر او د ګومارنې عادلانه حل لاره | ۹۱۹۲ |
| ۵۸ | یو ځل بیا ملي هویت او ملي عزت د ولسي جرګې ... | ۹۱۹۵ |
| ۵۹ | یو ځل بیا ملي هویت او ملي عزت | ۹۱۹۸ |
| ٦۰ | ملي هویت او ملي عزت | ۹۱۹۹ |
| ٦۱ | د ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره د تدارک ... | ۹۲۰۱ |
| ٦۲ | د ملي شورا مخې ته لاریون | ۹۲۰٤ |
| ٦۳ | د دیني عزت او ملي هویت په ننګه د ولسي لاریون خبرتیا | ۹۲۰۷ |
| ٦٤ | د اسلامیت او افغانیت په ننګه ولسي لاریون | ۹۲۰۸ |
| ٦۵ | زابل او ملي هویت | ۹۲۱٤ |
| ٦٦ | د کونړ عالمان، افغانیت او اسلامیت | ۹۲۱۵ |
| ٦۷ | د تذکرو په اړه یو ځل بیا یوه یادونه او یوه مننه | ۹۲۱٦ |
| ٦۸ | د مشرانو جرګې له مشرتابه څخه مننه او د هغو ستاینه | ۹۲۱۹ |
| ٦۹ | د برېښنایي تذکرو د برخلیک ټاکنې په حساسو شېبو ... | ۹۲۲۱ |
| ۷۰ | یو ملي ګام، یو قانوني اقدام او یوه ملي بریا | ۹۲۲۵ |
| ۷۱ | د لیندۍ (۲۷)مه د ملي هویت لپاره یوه بریمینه ورځ | ۹۲۲۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۷۲ | د افغانستان ملي تحریک خبرتیا | ۹۲۳۷ |
| ۷۳ | افغان د تاریخ په څپو کې | ۹۲۳۹ |
| ۷۴ | د برېښنايي تذکرو د ځنډ په باب د افغانستان ... | ۹۲٤٤ |
| ۷۵ | یو احتیاطي خبر او د هېوادوالو غبرگون | ۹۲٤٦ |
| ۷٦ | یو بل بد خبر | ۹۲۵۰ |
| ۷۷ | ننگونې، ابهام او هیلې | ۹۲۵٤ |
| ۷۸ | تر بایومیترک وروسته د ولس ملاتړ غونډې | ۹۲۵۸ |
| ۷۹ | د اتمر یو ملي جرئت | ۹۲٦٦ |
| ۸۰ | د برېښنايي تذکرو په باب نظر پوښتنه | ۹۲۷۱ |
| ۸۱ | بغلان کې د تذکرو د وېش ولسي ملاتړ | ۹۲۷۷ |
| ۸۲ | پکتیا کې ملاتړ غونډه | ۹۲۷۹ |
| ۸۳ | د چهار اسیاب د ولسونو ملاتړ | ۹۲۸۱ |
| ۸٤ | کابل مېشتي لغماني هوتخېل او ملي هویت | ۹۲۸۳ |
| ۸۵ | کابل کې د بېلابېلو قومونو غونډه | ۹۲۸۵ |
| ۸٦ | د مدني حرکتونو ملاتړ غونډه | ۹۲۸۷ |
| ۸۷ | د جمهور رییس غني یو قانوني گام | ۹۲۹۰ |
| ۸۸ | د غبرگولي (۱۰)مه یوه ارماني ورځ | ۹۲۹۳ |
| ۸۹ | وروستۍ یادونه او بشپړونه | ۹۲۹۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینګار ولسوالۍ د (سلینګار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولګي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولګی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانګې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانګې د کدر غړی شو. یون پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلودله، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمــد اســمعیل یــون د طالبــانو د نظــام تــر ړنگېــدو وروســته پــر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملگـرو ملتونـو د مرسـتو د ځانگړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لويې جرگې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لويې جرگه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه گډون درلود، غړی و، د جرگې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـويې جرگـې د لومړي منشي په توگه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرگې په باب (بېړنۍ لويه جرگـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانگړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن گـډې جرگې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توگه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانگړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنگي چارو د رییس په توگـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنگي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ازاد، فرهنګي، مدني، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کال له (ارین مومند) سره واده وکړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سوله او ودان). (هیله) او (سمسور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پر لوړو زده کړو بوخت دي، (سوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون له (۱۳٦٦ل)کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، په یاده موده کې یې په سلګونو زرو هېوادوالو سره لیدنې کتنې کړي دي، په سلګونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یې ځان رسولی، د نورو ملګرو او ملي تحریک د ملګرو په مرسته یې مصیبت ځپلو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننګرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنگ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو هېوادوالو ته د ملي پانگوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خیریه ټولنو پام یې هغو ته وراړولی او له دې لارې یې خلکو ته په مستقیم او نامستقیم ډول د میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمینه برابره کړې ده. د مصیبت ځپلو خلکو لپاره یې لوی رسنیز کمپاینونه هم ترسره کړي او دا کار ددې سبب شوی چې هم دولت او هم خیریه ټولنې غمځپلو سیمو ته ځان ورسوي. د جگړې ټپیانو ته د وینې د ورکړې لپاره یې ځو پروگرامونه جوړ کړي او همدارنگه یې د خلکو مدني او اعتراضیه غونډو ته لاره هواره کړې ده. د مسجدونو او کلینیکونو په جوړونه کې یې ونډه اخیستې، د صحي اوبو لپاره یې د ژورو څاگانو په کیندنه او د چاپېریال د پاک ساتلو لپاره یې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجموعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چې یون په تېرو (۳۰) کلونو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) گڼورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې له کوم سیاسي گوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په گډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ ایښی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سیاسي فعالیتونه ترسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنګي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلګونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلي، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړې دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | (لومړۍ شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دپنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هیرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
-ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په ورږمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات خلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، ترړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونډ مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړۍ ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترخ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مونږ یې دمخه یادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوازې په فرهنگي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې مـوږ د استاد یون له خـوا ټـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راټـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لـږه یـو نـیم مخ کـار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلگونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنگ هغه په سلگونو غونډې، مظـاهرې، ټـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنگي کار څخه جلا دي، که دا ټـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرگردانه خو گټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنگسالارانو پـر وړانـدې چـا سـونې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانگل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخنیوی کېده، خو استاد یـون او ملگـرو یـې د اسلامیت او افغانیـت غـږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هـم د دې رسـا غـږ او داعیـې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیـو ایـډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینـو نـورو شخصـیتونو برکـت و چـې د مـلي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولـولې تـر هـرې بلـې ایـډیالوژۍ زیـاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبـارزه دده په فعالیتونو او همدارنگه د استاد په ټولـو اثـارو کـې انځـورېږي. خـو ددې ځو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چـې زمـوږ راتلـونکی نسـل د اسـتاد د ملي او فرهنگي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلویزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کيڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وايي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳۶۶ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (متکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳۶۶ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹۶ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاص ورسره ژر حساسيت نه ښيي او که دوی حساسيت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنگي کار لپاره مو يو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوويشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنگي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني ليکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تيار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر يوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنگي کارونو يو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توگه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په يادښتونو کې ليکلي او ملگرو ته مې هم ويلي وو چې هېواد کې حالات ترينگلي دي، پر ژوند يوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنگي کارونه کړي يانې اثار يې ليکلي دي، بايد په خپله يې راټول او چاپ کړي.

زما کار يوه نوې تجربه وه، ځينو نورو ليکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه يې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وايې او خپله يې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نيمه پېړۍ مزل وواهه، نو يو ځل بيا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وينا چې د عمر اساس پر باد اينبی دی، نو بيا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنگي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بيا له سره منظم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که څېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شپېې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو گرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرگ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په ښنو کې ورته ورغږم راورغږم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توگه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور ښنو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترگې مې ورته ښکل کړې، سترگې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# که نړیوال ماته وخوري!؟

## ( د ټولنیزو او سیاسي لیکنو ټولګه)

لیکوال

محمد اسمعیل یون

۸۱۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | که نړیوال ماته وخوري!؟ |
| لیکوال: | پوهنمل محمداسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۳۲) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۳۲) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه:

# د سياسي ليكنو دا ټولګه

د سياسي او ټولنيزو ليكنو دا ټولګه زما د هغو ليكنو يو جونګ دى، چې په وروستيو څلور-پنځو كلونو كې مې پر بېلابېلو مسايلو ليكلي دي. البته دا زما د ټولو سياسي او ټولنيزو ليكنو ټولګه نـه ده، زما ددې ډول ليكنو دوه نورې ټولګې د ((فرهنګـي فقـر)) او ((افغانستان په سياسي كړلېچ كې)) هم شته، چې له تېـرو شـلو كلونو راهيسې د بېلابېلو سياسـي، تـولنيزو او ځينـو فرهنګـي مسايلو په اړه ليكل شوي دي او هره ليكنه د خپل وخت د پېښو او حالاتو محصول ده او د همغه وخت د اړوندو پېښـو او حـالاتو انځورنه كوي. ددې ترڅنګ زما ځينې نورې سياسي او ټـولنيزې ليكنې هم شته، چې يو دوه ځانګړې ټولګې ترې جـوړېږي، خـو اوس لا هم وخت ددې اجازه نه راكوي، چې هغه راټولې او په خپل نامه چاپ كړم. سياسي ليكنې ډېر جانبي عوارض لري، يو به خپه كېږي، لس به خوشالېږي او يا به هم لـس خپـه كېـږي، يـو بـه خوشالېږي. دا ليكنې چې تاسې په دې ټولګه كې ګورئ، داهم له دا ډول عوارضو او خطرونو خالي نه دي. دا اكثره هغه ليكنې دي، چې په تېرو څلور-پنځو كلونو كې ما په خپل او يا هم په مسـتعار نامه ليكلي دي، پر خپل وخت په چاپي او ځينې يې پـه كتنيـزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(برېښنايي يا انټرنيټي) خپرونو کې خپرې شــوي دي، خــو ددې ليکنو اکثره برخه په ((قلمول)) جريده کې چې اکثره سياسي او ټولنيزې ليکنې خپروي، چاپ شــوي دي. مســتعارو نومونــو تــه دامهال ځکه اړتيا وه، ځينې ليکنې داسې وې، چې د ځينو ډلواو يا اشخاصو پر مزاج ښې نه لګېدې او بل په ((قلموال)) کې زما په خپل نامه هم ډېرې ليکنې خپرېدې، نو ځکه مې نه غوښتل، چې په يوه ګڼه کې په يو نوم دوه ليکنې خپــرې شـــي. اوس چـــې دا ليکنې دويم ځل، د يوې ځانګړې ټولګې په بڼه خپرېږي، کېـدی شي يو شمېر ليکنې يې بيا پر ځينو ډلو او اشخاصو ښې ونه لګي. د ليکوال وظيفه دا نه ده، چې خپله ليکنه د چا پر مــزاج برابــره کړي، د ليکوال اصلي دنده داده، چې خپله ليکنـــه د واقعيــت او حقيقت پر بنسټ وليکي، دا چې څوک د واقعيتونو پــه لوســتلو خپه کېږي که خوشالېږي، دا د هغوی خپل کار دی. ليکوال بايـد واقعيتونو ته ترجيح ورکړي، نه اشخاصــو او ډلوتــه . وايــي چـــې ارستو به پر خپل استاد (اپلاتون) باندې ډېرې  نيــوکې کــولې او ډېرې پوښتنې به يې مخې ته ايښودې، چا ورته وويل، چې استاد به دې در څخه خپه شي، ډېرې پوښتنې مه کوه! خو ارستو ورتــه په ځواب کې وويل: (( اپلاتون راباندې ګران دی، خو حقيقــت تــر هغه هم راباندې ګران دی)). نو دلته هم، زما په دې ليکنــو کـــې، چې کله هم، د ځينو کرکټرونو او اشخاصو نومونه ياد شوي او يــا هم پر هغو څه بحث محث شوی، دا ددې مانا نه لري، چې ګڼې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغو سره څه شخصي کینه او دښمني ده او یا مې هم د پولې او پټې پر سر څه ستونزه ورسره راولاړه شوې ده. خبره د واقعیتونو اوحقیقتونو ده او د پېښو، پېښې هم داسې دي، چې هېواد شموله دي او له زیان څخه یې ټول او یا هم اکثره هېوادوال زیانمن شوي دي، نو د یو شخص یا ډلې له سیاسي او ټولنیزو عملونو څخه چې ټول هېواد زیانمنېږي، نو هغه هم باید، کـه ورتـه مثـال تـه نـه منتظرېږي، نو د خلکو فریاد او نارو سورو ته خو باید منتظر شـــي، داسې هم ممکنه ده، چې یو څوک دې لویو او کوچنیو ښارونو او وطنونو ته اور اچوي او بیا دې د هغه وطن له لیکوالو دا تمه لري، چې پر دوی دې د کلماتو د عطرونو بارانونه وکړي او دســتاینې او افرین ګلپاڼې دې پرې وشیندي.

زما لیکنې زما د خپل زړه او فکـر د درد زېږنــده دي او د هغــه ملت د سوو اسوېلو او چوپو فریادونو د انځــورنې پــه نیــت مــې لیکلي، چې دومره بېوســه او بېکســه دی، چــې د خپــل درد او کړېدنې فریاد هم نه شي پورته کــولای، نــه یــوازې یــې د فکــر مړوندونه غوڅ شوي، بلکې پر ژبې یــې هــم د ســکوت مېخونــه ټکوهــل شــوي دي. زمــا ملــت پــر بــدن دننــه داســې ټکــل شوی(درونکوب) شوی، چې ټپونه یې شته، خو ښکاره کېږي نــه، زه له دغه پر زړه دننه داغلي ولس ســره یــو ځــای اوســېدلی او کړېدلی یم، دده دردونه او کړاوونه، اسوېلي او چوپ فریادونه ماته ښه معلوم دي، خو زما ولس دومره مظلوم دی، چې قلم یې هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کې نه شته، چې د خپلو زخمونو تصویر وکاږي، زه د همــدې مظلوم ولس په پانګه روزل شوی یم او همدا ولس پر ما حق لري، چې د خپل قلم په وسیله د هرې ورځې او هرې شېبې حســاب و کتاب ورکړم. که زه نن د ځانساتنې لپــاره د قلــم ســترګو تــه د محافظه کارۍ سترګی پر سترګو کړم، نو دا ولس به ماته د حال او قال په ژبه څه ووایي؟ دا ګیله به ونه کړي، چې زه خو غم دومــره ځپلی او اسکېرلی وم، چې د فریاد د پورته کولو وس مې هــم نــه درلود، په خپلو وینو کې لت پت او د خپلو خولو پــه دریــاب کــې ډوب وم، نو تا خو هر څه لیدل، که توره دې نه شوه وهــلای او زه دې له خپلو او پردیو دښمنانو څخه نه شوم ژغورلای، نــو دومــره خو دې کولای شول، چې زما رنځور حالت دې په خپل قلم انځور کړی وای او راتلونکي پښت ته دې د یوې تابلو په څېر پرې ایښی وای، دا نو بیا د راتلونکي نسل او تاریخ کار دی، چې زما له خپلــو او پردیو دښمنانو سره یې څه کول؟ نو دا لیکنې مې د یو وجداني درد او مسوولیت له مخې کړي او د همدې درد له کبله مې راټولې کړي او دا دی ستاسو مخې تــه یــې ږدم. ددې او دې ډول نــورو ټولګو په چاپ سره کېدی شي، زمــا د ژونــد، ټولنیز،سیاســي او کلتوري فعالیت ساحه ډېره تنګه شي او ان کېدی شــي فزیکــي ژوند مې هم له سختو ګواښونو او خطرونو سره مخ شي، خو کلــه چې د ملت ګټې او د هېواد سترې غوښتنې مطــرح وي، ســړی د سر او مال تاوان ته نه ګوري، د ((سړي)) او ((نه سړي)) تــرمنځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپیر برید د ګټې او زیان په همدغه حساس حالت کې معلومېږي. ما د ځان پر وړاندې دا پراتــه خنډونــه او ګواښــونه، خطرونــه او زیانونه ټول له نظره تېر کړي، خو دې سره سره د خپل مظلــوم او قربان شوي ولس لپاره هر ډول قربانۍ ته تیار یم او د شاعر له دې هوډ سره زه هم خپل هوډ ملګری کوم، چې وايي:

پر ماته کښتۍ سپور یـــم تــوپانــونه مې په مخکې
پر دې لاره یې بــیایــم کــه وم، وم که نه وم نه وم.

په هېوادنۍ مینه

پوهندوی محمد اسمعیل یون

کابل- افغانستان

۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۲۱مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرزي صيب په لستوڼي کې ماران

(کرزی + ایتلاف = ۰ کرزی + ولس = ۱۰۰)

دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۳ل) کال په (۱) گڼه کې چاپ شوې ده.

کرزي صيب د افغانستان په معاصرو سياسي شخصيتونو کې تـر ډېـره حده يوه مثبته سياسي څېره گڼل کېږي، دده د واکمنۍ په بهيـر کـې افغانستان په نړيواله ټولنه کې منلی مقام پيدا کړ او نړيوالو افغانستان سره تر پنځلسو ملياردو ډالرو زياتې مالي مرسـتې ژمنـه وکـړه. پـه عمراني، کلتوري او ټولنيزو برخو کې زيات پرمختگونه وشول، چـې د افغانستان په ټول تاريخ کې د هېڅ واکمن له پړاو سره د پرتلنې وړ نـه دي، خو له دې ټولو سره سره ولې د کرزي واکمني ټول افغاستان ته نه غځېږي؟ ولې يې فرمانونه او ريفورمونـه نـه عملـي کېـږي؟ دا هغـه پوښتنې دي، چې هر وخت د لوستونکو ذهـن کـې گرځـي راگرځـي. کتونکي نظر لري چې تر ساراني دښمن کورنی غليم ډېر خطرناک وي، ظاهراً خو طالبان او القاعده د کرزي صيب د حکومت دښمنان گڼل کېږي، خو په حقيقت کې درباري يا رسمي جگسـالاران او الفايـده (د القاعده له نامه څخه ناوړه گټه اخيستونکي) د کرزي صيب د حکومت اساسي لړزونکي دي. دوی د طالبانو د مخالفينو په بڼـه د کـرزي پـه حکومت کې مهم پوستونه اشغال کړي او په اصطلاح د مارانو په شـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د جمهور رئيس په لستوني کې ځای نيولی، کله چې جمهور رئيس د ولس دخوښې سمون فرمان صادر کړي، نــو دوی ســرونه را اوچــت کړي او جمهور رئيس ته ګواښ وکړي، چې ياحکومت ورانــوو او يــا بــه زمونږ شرايط منې، په دې ډله کې د نظار شورا درې خطرنــاک مــاران شامل دي، چې د کرزي صيب په کينړ او ښي لستوني کې يــې ځــای نيولی،نور ماران په شمال، جنوب،غرب او نورو سيمو کې دي، چې کــه غم يې ونه خوړل شي ورو ورو ترې ښاماران جوړېږي، خلکو هيله لرلــه چې کرزی صيب به په تېرو دوو لويو جرګو کې خپــل لســتوني څنــډ وهي او دا ماران به ترې ګوزار کړي او ولس به خپــل حســاب ورســره وکړي، نه يوازې داسې ونه شول، بلکــې داســې اوازې دي، چــې نــور ماران ، ښاماران او پاړو ګران هم راوغوښتل شول،چې ديو ائــتلاف پــه بڼه يې سره حکومت کې شامل کړي، کرزي صب پــه دې ســره خپــل محبوبيت او ګرانښت په ولس کې له لاسه ورکړ، ياني ډېر خلک وايــي لکه چې طالبانو د امريکا دښمن ( اسامه) ته په خپل لستوني کې ځای ورکړی و، نو د هغوی د تباهۍ سبب شو، داسې که کرزی صــيب هــم د ولس دښمن (شمالټلوالې) ته په خپل لستوني کې ځای ورکړي، نو لــه امکانه لرې نه ده چې دا به د کرزي صيب د بربادۍ سبب شــي، خــو مخکې تر دې چې خبره دې حالت ته ورسېږي، ښــه بــه دا وي چــې کرزی صيب خپلو لستونو ته ټــک ورکــړي او ځــان لــه دې خطرونــو خوندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوک ناپېیلی ژورنالست دی؟

**دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۳ل) کال په (۱) ګڼه کې چاپ شوې ده.**

ناپېیلتوب یا بې طرفي د ژورنالېزم یو مهم اصل دی، هر خبریال یا ژورنالېست چې د پېښې د څېړنې یا خبر برابرونې پر وخت خپل شخصي لیدلوری او احساس په خبر کې داخل نه کړي، نو دناپېیلتوب پر لوري یې یو غټ ګام پورته کړی دی. له څه وخته چې په افغانستان کې دا معاصر مطبوعات رامنځته شوي نو اکثره د واکمنو په فکري انحصار کې وو، اکثره ژورنالېستان مجبور وو د واکمنو فکري لیکه تعقیب کړي، نو ځکه په دې پړاوونو کې ازادو او ناپېیلو مطبوعاتو ښه وده ونه کړه او نه په دومره شمېر ازاد او ناپېیلي ژورنالیستان رامنځته شول، چې په پوره او کره ډول د ټولنې غوښتنو ته ځواب ووایي:
دوه کاله دمخه چې د امریکا د متحده ایالاتو او طالبانو د سیاسي او پوځي ټکر په نتیجه کې نوی نظام او نوي حالات رامنځته شول، نو ددې حالاتو په بهیر کې په ټول هېواد او په تېره بیا په مرکز کابل کې بې شمېره او ناکنټروله خپرونې راوټوکېدې، دې سره د ازادو خپرونو، ناپېیلي ژورنالېزم او بې طرفه ژورنالېست شعارونه هم پورته شول او په دې اړه څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړي ورکشاپونه او سیمینارونه هم جوړ شول، کورنیو او د افغانستان لپاره بهرنیو خبري اژانسونو او راډیوګانو د ژورنالېزم بازار دومره تود کړ، چې یو شمېر کره او پخو لیکوالو هم خپله اره لیکوالي پرېښوده او ژورنالستیکو کارونو ته یې مخه کړه، په افغاني ټولنه کې د ژورنالېزم اوسني بهیر د ژورنالېستانو اقتصادي ژوند ښېراز او د ژورنالېزم ودې ته دپخوا په انډول ښه زمینه برابره کړه، خو د (ازادۍ) او (ناپېیلتوب) واقعیت لا تر اوسه پورې عملي شوی نه دی. اوس داسې خپرونې شته چې نومونه او کلېشې یې ازادي دي، خو په واقعیت کې خپلواکې نه دي، دې خپرونو پورې د تړلو ژورنالېستانو لیکنې هم همداسې در واخله.

اساسي خبره داده چې "ازادي" او "ناپېیلتوب" یوه فکري مسئله ده او د ژورنالېست په فکر او ضمیر پورې اړه لري، که یوه ژورنالېست دضمیر او فکر له پلوه ازاد و او په خپله لیکنه کې یې د خپل فکر او ضمیر د ازادۍ اوناپېیلتوب دا واقعیت ښه وځلاوه، نو هغه ژورنالېست ته موږ ازاد او ناپېیلی خبریال ویلای شو. او که یوازې د (ناپېیلتوب) او (ازادۍ) لپاره معیار نادولتي یا بهرنۍ په اصطلاح ازادې خپرونې وي، نو دا هېڅکله په واقعي مانا د ازادۍ مانا نه ورکوي. یانې دا چې په ازادو مطبوعاتو یا خپرونو کې هم ناخپلواک او تړلي ژورنالېستان شته او په دولتي یا طرفي خپرونو کې هم ناپېیلي یا خپلواک ژورنالېستان پیدا کېدی شي. بي بي سي راډیو په افغانستان کې نسبتاً دیوې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرفي راډيو په توګه کښل کېږي، خو څوك ويلای شي چې د (منځنۍ اسيا) د خپروني څو تنه ژورنالېستان چې په افغانستان کې په ښکاره ډول قومي دښمنيو ته لمن وهي دا ناپېيلي او بې طرفه ژورنالېستان دي؟ طرفي ژرونالېست دناپېيلو خپرونو تخنيکي او مالي امکانات هم د خپل غرض لپاره استعمالوي او همدارنګه په ترلو يا دولتي مطبوعاتو کې داسې ژورنالېستان هم شته چې په دولتي يا ترلو خپرونو کې هم خپل رسالت ترسره کوي او داسې څه ولس ته وړاندې کوي، چې د ناپېيلتوب اصل يې په کې مراعت کړی وي. په لنډه توګه ويلای شو، چې په نامه ازادې يا ترلې خپروني يا مطبوعات په پوره ډول ديوه ژورنالېست دناپېيلتوب او خپلواکۍ معيار نه دی، د خپلواکۍ او ناپېيلتوب معيار يوازې او يوازې د فکر او نظر ازادي ده او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چارتراشو فریاد

**دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۳ل) کال په (۱) ګڼه کې چاپ شوې ده.**

ډېر نظامونه تېر وبېرشول، ډېرې پاچاهۍ ړنګې شوې، ډېر والیان رد وبدل شول، خو د هېواد د نښترو پر سینو لا د پردیو او خپلو ارو خرپهار همغسې روان دی، اوس هم د نښترو متې غو ځبېږي او په درنو موټرو کې بارېږي. هر حاکم. محکوم، غریب او بډای یې ننداري ته ولاړ دي، د نورستان له برګمټاله بارېږي او د کابل بې وفا ارګ له مخې څخه پر رڼا ورځ پر لویه لار تېرېږي. دیموکراتان، جنګ سالاران، جنرالان او مارشالان ورته رڼې رڼې ګوري، خو هېڅوک یې د بندولو هڅه نه کوي، داسې ښکاري چې د پردې تر شا ډېرو په دې معامله کې ځانونه شریک کړي دي. د ننګرهار له واکمنو چې وپوښتل شي ولې پر دې لار چارتراش تېرېږي؟ نو هغوی وایي که پر دې لار تېر نه شي هسې په اسمار، مروره او نواپاس ځي، ښه دا ده چې پر دې لار لاړ شي، چې کابل هم ترې محصول واخلي او نورو خلکو ته یې هم ګټه و رسېږي، بل خپله د کابل د ګڼو واکمنو امرونه دي چې مورته وایي دومره، دومره لارۍ چارتراشو ته اجازه ورکړئ، د کابل د واکمنو له جملې څخه یو لوی واکمن د خپل یو مشر د قبرد جوړولو لپاره د سلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټرو چارتراشو امرونه ورکړي،چې يو قبر ته څومره چارتراش په کار دي، سړی به څه ووايي؟ د قبرونو تر څنګ د جوماتونو په نوم هم په



سلګونو لارۍ چارتراشو د ايستلو امرونه ورکړل شوي دي. سره له دې چې کرزي صيب په بېړنۍ لويه جرګه کې د کونړ او نورستان د ځنګلونو د غوڅولو د مخنيوي جدي غوښتنه وکړه او بيا يې هم خپله دغه غوښتنه څو ځله تکرار کړه، خو بيا هم دچارتراشو لړۍ پوره بنده نه شوه.سره له دې چې پخواني او غټ قاچاق وړونکي اوس د پخوا په څېر په سيمه کې نه شته، خو د ځنګلونو د غوڅولو ناورين لا دوام لري. د کونړ او نورستان ځنګلونه له خپلو واکمنو فرياد کوي چې هر يو په خپل وار د دوی متې غوڅې کړي دي، په کونړ کې که پوره امپر(نالوستی) او جهادي والي واکمن و، هم ځنګلونه غوڅېدل، چارتراش وړل کېدل که بيا کوم بل لوستی لېونی والي هم حاکم و، نو د ځنګلونو د غوڅونې بهير تم نه شو، که له غربه راغلی باسواده ديموکرات هم واکمن دی، نو دچارتراشو لوبه بيا هم ختمه نه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنیو واکمنو لا ورته د محصول او فیصدۍ په نامه قانون راوویســت. محصول د چارتراشو هغه برخه ده چــې د ګمــرک لــه لارې د دولــت خزانې ته تحویلېږي او فیصدي بیا یوه بله ځانګړې شکرانه ده چــې د کونړ له حاکم ملا نه نیولې تر پورته مقام پورې دټولو جیبونو ته د هغوی د قدرت، ظرفیت او ضرورت په تناسب وېشل کېږي. دا پنځه لس کالــه کېږي چې د کونړ او نورستان د ځنګلونو لپــاره یــو ســولېدلی منطــق کارېږي( د زړو چارتراشو راایستل او د نویو بندول) خو پنځه لس کالــه کېږي چې زاړه چارتراش نه خلاصېږي، د واکمنــو د خلاصــون لپــاره د چارتراشو سوداګرو، د درغلۍ یو عجیب منطــق رامنځتــه کــړی، زاړه چارتراش راباسو، نویو سره غرض نه لرو!!! اصلي خبره دا ده چــې دوی خو اوس زاړه چارتراش راباسي او دې سره نوي ځنګلونه هم غوڅــوي، څه موده وروسته بیا نوي چارتراش هم پــه زړوبــدل شــي او دا لوبــه همداسې دوام پیدا کوي، اوس خلکو سره دا پوښتنه ده کــه واکمــن رښتاهم غواړي چارتراش بند شي، نو پر نویــو او زړو ټولــو دې بنــدیز ولګوي او یا دې یوازې یوه میاشت وخت ورته وټاکي، چې په اصــطلاح زاړه چارتراش راوباسي، نو په دې ډول به د نویو او زړو دا متروکه ببخي بې پدله شي، نو که داسې نه وي کېــدی شــي خــدای (ج) د هېــواد د نښترو فریاد واوري، د حاکمانو او ظالمانو خونه داسې سپېره کړي لکه دکونړ ځنګلونه چې سپېره شوي. خدای (ج) ته هېڅ کار هم مشکل نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمهوري رياست يوه ځوکۍ او يونيم درجن کانديدان

**دا ليکنه دجمهوري رياست ترټاکنو دمخه شوې وه او هغه مهال د ((قلموال)) دسريزې په توګه پر (۱۳۸۳ل) کال دنوموړې جريدې په (۲) مه ګڼه کې خپره شوې ده.**

ټاکل شوې ده دتلې مياشتې پر (۱۸) مه نېټه د هېواد دجمهوري رياست دمقام لپاره عمومي ټاکنې ترسره شي ، ددې مقام دګټنې لپاره تراوسه پورې (۱۸) تنو کانديدانو خپل اسناد بشپړ کړي او دانتخاباتو دکميسيون له خوا يې اسناد پوره او کره ګڼل شوي دي، سره له دې چې دافغانستان داساسي قانون ، دانتخاباتو دقانون او خپله دافغان ولس له نظره ددې کانديدانو په جمله کې داسې کانديدان هم شته چې دجمهوري رياست دمقام لپاره دکانديدۍ وړ نه دي ، دساري په توګه عبداللطيف پدرام او عبدالحفيظ منصور دافغانستان داساسي قانون له مخې ددې حق نه لري، چې دجمهوري رياست او ان دافغانستان په عامو انتخاباتو کې ګډون وکړي ، ځکه چې دوی ځانونه افغانان نه بولي او داساسي قانون له مخې يوازې افغانان په ټاکنو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګډون حق لري . دانتخاباتو دکمیسیون له اعلان سره سم د ولس لــه خــوا پرجنــرال عبدالرشــید دوســتم ، کــریم خلیلــي او حــاجي محمـدمحقق تـر (۱۱۵) زیـات انتقادونـه شـوي او هغـوی یـې پـر بشري جرمونـو تـورن کړي او ددې لپـاره یـې ګـڼ شمېر اسناد هم وړاندې کړي، خو دټاکنو کمیسـیون دقـانون دتطبیـق په برخـه کـې ځان ناګـاره واچوه ، دکورنیـو چـارو وزارت او سـترې محکمـې تـه یې دامسئله حواله کـړه ، هغـوی هم د( نـر! ) غونـدې سـترګې پټـې کړې او ویې لیکل چې نه بابا هېڅ خبره نه ده، دې ټولو هېـڅ ګناه نه ده کړې، نه یې کابل وران کړی، نه یې تنظیمي جګړو کـې برخـه اخیستې ، نه یې یو عسـکر دچـاپر عـزت او عفـت تېـری کـړی، نـه یـې دچـاپر سـرونومېخونه ټکـوهلي او نـه یـې چېـرې لـوټ او تـالان کړی دی ، دا داسې سیاسي پرښتې دي چې لـه ګنـاه او خطـا پـاکې دي!! ، دواړو ارګـانونو،کورنیو چـارو وزارت او سـترې محکمـې پرې دبـې ګناهـۍ مهرونـه ولګـول او دانتخابـاتو کمیسـیون هم پـه هسکه غاړه اعلان وکړ چې دادی " الا بـلا بـه ګردن مـلا " مـوږ خـو دامسـئولیت هغـوی تـه حوالـه کـړ چـې پـولیس او قاضـي یـې نـه ملامتوي، نو موږ څه کاره یو چې چا باندې حکم کوو چې داګنـاه ګار دی که نه دی؟ یـو شـمېر نـور کاندیـدان بیـا داسـې دي چـې نـه د(بدو) دي او نه د(ښو) هسې دشهرت نشې پسې اخیسـتي او ځـان یــې کاندیــد کــړی، دوی فکرکــوي چــی مــوږ خــو هســې هــم نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامیابېږو راځه ځان مشهور کړه ګوندې سبا ګټونکی کاندید یو څه راکړي ، ځینې وایي څه دټاکنو په نږدې کېدو سره به دیو قوي کاندید په ګټه تېرشو یو څه نغده مغده او راتلونکي کې کومه ثوکۍ مقام خو به راکړي ، په همدې وجه دکاندیدانو شمېر یو نیم درجن ته ورسېد .که چېرې دټاکنو کمیسیون داساسي قانون او خپله دټاکنو دقانون تطبیق ته جدي پاملرنه کړې وای، نو نن به دکاندیدانو دا بسندوړ جوړ نه وای . دکاندیدانو دا دومره اوږد لست نه یوازې دانتخاباتو کمیسیون ته ستونزې راولاړوي او دانتخاباتو لګښت لوړوي ، بلکې ولس ته هم ستونزې پیداکوي ، یوزیات شمېر خلك د ووټ کارت په (۱۸) عکسونو کې دخپلې خوښې کاندید په پیداکولو کې له ستونزو او تېروتنیو سره مخامخېږي ، سره له دې چې د (۱۸) کاندیدانو له جملې څخه یو زیات شمېر په دې نه بریالي کېږي، چې زیات شمېر رایې ترلاسه کړي، تول ووټونه تقسیم کړي او انتخابات دویم پړاو ته پاتې شي . خو دګټو کاندیدانو شتوالي کې د دا ډول خطرونو احتمال وي . د ۱۸ کاندیدانو له شتوالي څخه داسې څرګندېږي، چې ځینې یې له انتخاباتي کمپاین څخه یوازې او یوازې دخپل شهرت، مالي ګټو او راتلونکي کې دنورو مادي او نامشروع ګټو دخوندي کولو او ګټلو په نیت ولاړ دي او یو شمېر افغان ضد ، اسلام ضد او افغانستان ضد کاندیدان بیا انتخاباتي کمپاین

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپلو ناوړه اهدافودبیان لپاره ښه فرصت او طلایي چانس ګڼي . دا ډول اشخاصو ته په نورمالو شرایطو او نورو چارو کې هېڅکله هم داسې تبلیغاتي امکانات نه برابرېږي لکه انتخاباتي کمپاین ، خودې ټولو نادودوسره سره موږ هیله لرو چې افغان ملت به لـه دې ناخوالو او ازمېښتونو څخه بریمن راووځي او ملت دښمنه عناصر به لا پسې مختوري او کوز ګوري شي .

دهمداسې ورځې په ارمان .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فاتحې اعلان

دا لیکنه هم د ((قلموال)) جریدې پر (۱۳۸۳ل) کال په (۲) مه
گڼه کې خپره شوې ده.

اساسي قانون: پلار
لویه جرگه: مور
ملگري ملتونه: ببواکه قاضیان
د امریکا متحده ایالتونه: کوربانه
د جرگې غړي: ورونه
جمعیت، نظار شورا او ټول ستمي گوندونه: تربوران
حکومت: بې تفاوته خپلوان
افغان ملتیان:احتیاط کاري ورېرونه
مشاور وزیران: د لستوڼي ماران

د جمعیت، نظار شورا او نورو ستمي ډلو دهغې اوږدې، دښمنۍ، د
حکومت دبې کفایتۍ او د خپلوانو د مضـر احتیـاط لـه املـه، د
اساسي قانون (شلمه ماده) په حق رسېدلې ده (انـالله وانـا الیـه
راجعون)! د اساسي قانون ددې مـادې ټولـو خپلوانـو اود لـویې
جرگې وکیلانو ته په خورا درنښت او خواشینۍ سره خبر ورکـول
کېږي، چې سر له سبا د ټول هېوادپه کچه د ښځینه وو فاتحه په
کابل کې د ملگرو ملتونو د ځانگړي دفتر (یونامـا) پـه مرکـزي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو سیمه ییزو دفترونو او دنرینه وو،معیوبینو او معلولینو فاتحه د کابل په عیدګاه جومات او د ولایتونـو او ولســوالیو پــه جــامع جوماتونوکې د دري ورځو لپاره اخیستل کېږي. د مــړو شــویو او وژل شویو اشخاصو په چارو کې زموږ خبریال او سیاســي مبصــر لیکي چې که ډېر ژر د اساسي قانون د (۱۶)مې مــادې غــم ونــه خوړل شي، نودا ماده هم د شلمې مادې پر برخلیک اخته کېــدی شي، نو له همدې امله له ټولو کورنیو او بهرنیو ملا امامانو څخه په ډېر درنښت هیله کېږي، چې د فاتحې د مراسمو په بهیر کــې پــر شلمې مادې د ویر او تبصرې په ترڅ کې د شپاړسمې مادې رنځور حالت ته هم نغوته او اشاره وکړي.

د اعلان پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناسمې سرشمېرنې ناسمې اغېزې

دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې پر (۱۳۸۳ل) کال په (۲) مه ګڼه کې خپره شوې ده.

سرشمېرنه د بشري موضوع ترڅنګ یوه مهمه سیاسي موضوع هم ګڼل کېږي، په افغانستان کې هره سیاسي او قومي ډله د خپلو حقوقو د اثبات او تر لاسه کولو لپاره سرشمېرنه دیوې مهمې وسیلې په توګه کاروي، هېڅوک هم پر خپل واقعي شمېر قانع نه دي او هېڅا ته هم خپله شمېرپه سمه توګه معلوم نه دی، هره ډله د خپل شمېر په زیاتونه کې دومره مبالغه کوي، که دا دفرضیې دیو اړخ په توګه ومنل شي، نو دافغانستان نفوس به تر اوسني حالته څو ځله زیات شي، همدغه عوامل، نانندرې او جنجالونه په افغانستان کې د یوې دقیقې سرشمېرنې اړتیا تر بله هر وخته زیاته په ډاګه کوي، یوه دقیقه سرشمېرنه به دهر چا دحقوقو برید، حد او حدود وټاکي او د شمېر د زیاتونې او کمونې په پلمه به د زیاتو امتیازاتو ترلاسه کولو او د نورو د حقوقو د غصبولو مخه ونیسي، خو که سرشمېرنه هم د سیاسي غرضونو تر سیوري لاندې ترسره شي او په قصدي او ناقصدي ډول په کې درغلۍ وشي اوبیا همدا ناسمه سرشمېرنه د ټولنې دبېلابېلو پاړکو ترمنځ د سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، پرمختیایي او نورو امتیازاتو او حقوقو د وېش مصداق وګڼل شي، نو په ټولنه کې ډېرې زیاتې ستونزې راولاړولای شي، یوې خوا ته تر خپل ټاکلي حده زیات امتیاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بلې خواته زيات زيان رسېږي. دحقوقو د نااندولۍ پــه دغســې يــو حالت کې عدالت له منځه ځي او يو لوری مجبــورېږي، چــې د خپلــو حقوقو د اعادې لپاره مبارزه پيل کړي اوبل لوری هڅه کوي له هــرې ممکنې لارې تر خپل استحقاق پورته امتياز خوندي کړي، دا حالــت د دواړو لوريو ترمنځ د ذهني او فزيکي ټکر سبب ګرځي او په پــای کــې دواړو لوريو ته زيان رسېږي، کېدی شي ناسمه سرشمېرنه په لنډمهالي توګه يوه لوري ته ګټه ورسوي، خو په وروستۍ نتيجه کــې يــې هــېڅ لوري ته ګټه نه شته، دلته به د ټولنې دژوندانه پر ځينو مهمو خواوو د ناسمې احصايې منفي اغېزو ته لنډه اشاره وکړو.

**۱- پرسياسي برخه:** په افغانستان کې د احصايې د ناسمې ښــوونې يا ناسمې اخيستنې يو اساسي علت همدا سياســي اړخ دی، څــوک چې په افغانستان کې قومي، سيمه ييزو او ژبنيو مسايلو ته لمن وهــي اويايې تردې عنوان لاندې ګوندونه او ډلې جــوړ کــړي دي، هغــوی د سياسي امتيازاتو د ترلاسه کولو لپاره احصايه د يوې اساسي وسيلې په توګه کاروي، که په افغانستان کې اوسنۍ سرشمېرنه بيا هم په ســمه توګه وانه خيستل شي او په شعوري يا ناشعوري ډول درغلي پــه کــې وشي، نو دې ډول تبر ته به ښه لاستی جوړ شي، ځينې قومي ډلې تــر خپل استحقاق پورته او ځينې به کښته امتياز ترلاسه کــړي. يوشــمېر سياسي امتيازونه کېدی شي هرې سيمې يــا ولايــت تــه د هغــوی د نفوسود مجموعي شمېر له مخې په پام کې ونيول شــي، دبېلګــې پــه توګه د پارلمان څوکۍ که د ناسمې احصايې له مخې ووېشل شي ځينې ولايتونه به زيانمن شي او ځينې به زيات امتيــاز ترلاســه کــړي، هغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتونه چې د ناسمې احصایې له مخې ورته خپل حق نه دی رسېدلی هغوی به دخپل حق لپاره هڅه کوي او هغوی چــې زیــات امتیــازات ترلاسه کړي خپل امتیازت به خوندي کــوي، پــه دې وجــه سیاســي بحران او ټکر ته لار اوارېږي، ددې پرځای چې د هېواد وده وکــړي لــه کړکېچ سره مخامخېږي او کورنی بحران منځته راځي.

**۲- پر ټولنیزه برخه:** دولت د ټولنیزعدالت دتامین په خاطر مجبــور دی دهېواد دهرې سیمې دټولنیزو اړتیاوو د پــوره کولــو او اجتمــاعي ښېرازۍ لپاره د سیمې نفوس په پام کې ونیسي او د هغوی د شمېر له مخې ورته پانگه بېله کړي، خو که دلته هم عرضه د ناسمې احصایې پر بنسټ ولاړه وي او تقاضا تر هغې زیاته وي، نو په واقعیت کې د خلکــو مشکل نه حلېږي او ځینو سیمو ته چې تر تقاضا او استحقاق پورتــه امتیاز ورکړل شوی په دې حالت کې هم د ملت پانگه بې ځایــه لگــول کېږي، دا حالت په هېواد کې ټولنیزه ناانډولي رامنځته کوي. د ټــولنې د ناانډولۍ وروستي حالت نارضایتي اوبیا ټکــر دی، اکثــره هېوادونــه غواړي د ټولنیزې ناانډولۍ له بحرانه ځان وژغوري او نه غواړي په خپل هېواد کې یې یوه سیمه پر بلې هغې برلاسې شي، په دې ډول به هغه یوه سیمه ټول عمر د محکومیت او بله د حاکمیت احساس وکړي، په ټولنه کې د افراط او تفریط د حالت ټینگښت پــه پــای کــې دټــولې ټولنې دبربادۍ سبب کېږي.

**۳- پر پرمختیایي یا ودانیزه برخه:** پــه افغانســتان کــې د فــردي مساوات او عدالت د تامین لپاره په کار ده، چې پــه ټــول هېــواد کــې متوازنه پرمختیا رامنځته شي او په متوازنه پرمختیا کــې دهېــواد هــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړی د هېواد هر ګوټ کې چې اوسېږي لــه خپلــو مســاوي حقوقــو برمخنېږي، د متوازنې پرمختیا لپاره هم ښه مصداق دقیقه سرشمېرنه ده، که دولت سره د هېواد د هرې سیمې، ولایت یا ولســوالۍ دقیقــه احصایه موجوده وي، نو دولت کولای شي د هغې سیمې د نفوسو پــه پام کې نیولو سره دښوونې او روزنې مرکزونه، روغتونونه، وړوکتونونه، فابریکې او نورې پرمختیایي ادارې او نور اړتیا وړ مرکزونه جــوړکړي. د ساري په توګه که یوه ولسوالۍ کې یو لک تنه ژوند کوي، په هغې کې دوه روغتونه خو که بله کې چې پنځوس زره تنه ژوند کوي هغــې کــې څلور روغتونونه جوړ شي، نو په داسې حالت کــې اجتمــاعي عــدالت تامین نه شو اود خلکو ترمنځ توپیري چلند وشو، د خلکو دمشــکل د حل لپاره تر ټولو ښه معیار همدا د نفوسو معیار دی، البته جغرافیــایي ستونزې، موقعیتونه او ځینې نور مسایل هم د استثناتو په توګه د منلو وړ دي، خو د متوازنې پرمختیا لپاره ښه معیــار د نفوســو شــمېر دی، ځکه چې که په هېواد کې متوازنه پرمختیا رامنځتــه شــي، د خلکــو ترمنځ د نارضایتۍ احساس له منځه ځي، ملي یووالی لا ټینګبــږي او دا کار د ټولنې د لا پرمختیا سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محکمه خپله د محاکمې وړ ده

**دا لیکنه هم د ((قلموال)) جریدې پر (۱۳۸۳ل) کال په (۲) مه گڼه کې خپره شوې ده.**

په یو کتاب کې مې لوستي وو : " خلکو به ویل داپلانی دومره سپین سترگی دی، چې له کالیو سره دې په سترگو کې راننوزي، خو ما نه منل ځکه چې سترگې خو ډېرې کوچنۍ دي سړی له کالیو سره څه چې یوماشی په کې ننوزي ځومره سړی په عذابوي، خو کله چې لږ رالوی شوم نو پوی شوم چې خلك له کالیو سره څه چې له بسته بسته موټرو ، تعمیرونو او بلډنگونو سره دسړي په سترگو کې راننوزي، پرون یې هېڅ نه لرل ، خو نن یې موټرې ، بلډنگونه او تعمیرونه ولاړ دي ، خو چې ورته ووایې دادې له کومه کړل ؟ نو فوراً به ځواب درکړي کوم؟ څه شی؟ داڅه دي بابا داخو هېڅ هم نه دي، نو دې ټولو سره دې په سترگو کې راننوزي، نو زه هله پوی شوم چې له کالیو څه چې له غټو غټو ماڼیو سره هم سړی دچاپه سترگو ورننوتی شي . " لکه څنگه چې په طبعیت کې ډېر ځیزونه دانکشاف په حال کې دي او انساني ژوند خو ترهرڅه زیات د ودې په حال کې دی، نو په دې سترگو کې راننوتل هم بېخي ډېر پرمختگ کړی دی . اوس خلك له بسته بسته ښارونو، ولایتونو ، مملکتونو ، لویو لویو جنایتونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسړي په سترګو کې راننوزي . یانې سپین سترګي تردې حده زیاته شوې چې نور نو هېڅ سترګې او عقل پرې کار نه کوي، په تېره بیا په سیاسي برخه کې. په افغانسان کې به دهېڅ سیاسي ګوندمشر په دې پړ نه کړې چې ده ګنې افغانستان کې کوم وران کارکړی، د دوی په وینا ټول ناوړه کارونه مقابل طرف کړیدي او که کوم ځای کې ده نه کوم ورانی او خطا شوي داهم مقابل لوري پرې تحمیل کړیدي .

له استاد رباني سره چې کېنې نو ته به هېڅ فکر ونه کړې چې په روسیې کې چاپ شوې شپاړس نیم زره ملیارده افغانۍ دده په نازکو ګوتو د تنظیمي جنګونو لپاره لګول شوي دي، که د انجینر حکمتیار پلویانو سره کېنې، نو هېڅ به داثابته نه کړې چې دوی ګنې پر کابل ښار توغندي اورولي ، که دانجنیر احمدشاه مسعود له پلویانو سره کېنې ، نو هېڅکله به پرې ثابته نه کړې چې دوی هم چېرې پلونه، پلګوټې او ښارونه نړولي، یا یې هم له روسانو سره اوربند کړی او یا یې هم له وحدت حزب او اسلامي حزب سره په جګړو کې دکابل پراخه برخه ورانه کړې او افغانستان کې یې دقومي جنګ دپیل لپاره هڅې کړي دي. دعبدالعلي مزاري ، کریم خلیلي ، اکبري او محقق پلویانو سره چې کېنې هغوی خو بېخي دامنې نه چې دوی هم کوم مېخ بې ځایه کارولی اوټکوهلی او یا یې چاته بې ځایه دمړي نڅا ور ښودلې ده. ددوستم پلویان خو هېڅکله دانه منې چې ددوی عسکرو دې چېرې هم دچا ور ټکولی وي او خلك دې ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعسکرو له ژبې او لاس څخه ازار شوي وي ، دوی دخپل سیاسي ژوند په ټول بهیر کې دهېڅ پرکور برید نه دی کړی، لنډه دا چې دا ټول بې ازاره توتکۍ دي،ددې ټولو دبې ګناهۍ ثبوت هغه وخت وړاندې شو چې کله دانتخاباتو کمیسیون دکاندیدانو په اړه وویل که څوك پرې څه نیوکه لري، نو کمیسیون ته دې ولېږي. تر دریو ورځو په کمه موده کې پرجنرال دوستم ، کریم خلیلي او حاجي محمدمحقق تر (۱۱۵) زیات تورونه پورې شول چې اکثره په کې دبشري ضد جرمونو تورونه وو، کېدی شي پر ښاغلي قانوني او نورو کاندیدانو هم تورونه وو ، یاکمیسیون ته نه وي رسېدلي او یاهم کېدی شي هغوی پرې ځان غلی کړی وي ، څرنګه چې دانتخاباتو کمیسیون ډېر زیات قوت نه لري، نه داساسي قانون او نه هم دخپل انتخاباتي قانون دتطبیق وس لري نو مسئولیت یې له خپل سره تېرکړ او خبره یې کورنیو چارو وزارت او محکمې ته راجع کړه، هغوی هم دنر غوندې سترګې پټې کړې ، سم له لاسه یې حکم او فتوه صادر کړل چې لګېدلي تورونه نامستند او بې بنسټه دي او دا درې واړه ښاغلي بې ازاره توتکۍ دي، نو ماته بیا هغه دسپین سترګۍ خبره رایاده شوه چې دې وطن کې رښتیا هم دروغو او سپین سترګۍ ښه انکشاف کړی دی . وګورئ له بسته بسته ښارونو، دهېواد له پایتخت ، له دې دومره ولایتونو، ورانیو، دکابل ښار له (۶۵) زرو وژلوشویو ښاریانو سره دسړي په سترګو کې راننوزي، افرین دې په دې جرئت !!. او بل دې پردې اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرئت افرین وي چې ویل یې توروونه مستند نه وو ، عـــجیبه خـــو داده، چې اکثره وخت قاضي په قیاس استدلال کوي، چې لـه دې ایت شریف اوحدیث شریف څخه قیاس دادی . یو چاویـل : یوشی دی ګـرد دی ، ژیـړ دی ، تریـو دی ، لاس کـې ځایېـږي، نـو سـړی خپله پوهېږي چې نارنج دی . خو چې بیا هم څوك نه پوهېږي سړی به څه ووایي!؟ ایا دکابل ښار ورانی ثبوت نه دی ، ایا دکابل ښار ( ۶۵) زره وژل شوي ښاریان سند نه دی ، آیا ددې اشخاصو خپـل خپـل مطبوعـات سـند نـه دی، ایـا خپلـه دکورنیـو چـارو وزارت او دسـترې محکمـې ودانـۍ سـندونه دي چـې څـو څـو توغنـدي یـې دهمـــــــــدې تنظیمـــــــــي جنګونـــــــــو پروخـــت پـــر سـینه ورتـــش کړي دي ؟ دا د دنیـا پـه تـاریخ کـــې یـــو ډېـــر بدرنګـه مثـال




دی، چې دیومملکت دوه ستر ارګانونـه اجرائیـه اوقضـایه (پولیس او قاضـي) دې همزمـان پـر جنایتکـار پـرده وغـوړوي، دوی هغـه دعوامو په اصطلاح غر په پر پټوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي دسورلۍ په یوه موټر کې ګڼ خلك ناست وو ، له یوه شخه دباد خطا وشوه نورو ځان ناګاره کړ، دده پرشرم یې پرده خوره کړه، چې څه ګڼې موږ لاڅه نه دي اورېدلي، خو خطا شوي شخص به خپله پښه دموټر پر یوه ټیم راکشوله او هڅه یې کوله چې هغه ته ورته اواز تولید کړي اوپه دې ډول یې غوښتل چې داګڼې دموټر دټیم او دده دپښې ترمنځ دټکر اواز و، نه دده هغه اصله خطا ،دده داهڅه په دې خاطر وه چې نوره سورلۍ تېرباسي.



خو په سورلۍ کې یو تن چې دده دې حرکت ډېرپه تنګ کړ، له لږ جرئت څخه کار واخیست، نو پر ورو یې ورته وویل : " ماما دغږ چاره خو دې ورته وکړه، چې دبوی چاره به یې څنګه کړې ؟ " دې سره خطا شوی شخص پر اصلي موضوع پوه شو، نو اوس هم ولس دې سترې محکمې او کورنیو چارو وزارت ته وايي چې تاسې خو ددې کاندیدانو دغږ چاره وکړه خپله غاړه مو بنده کړه او دوی مو بې ګناه وبلل، خو د بوی چاره به یې څنګه وکړئ ، دا دکابل ورانی او دهېواد نوره ویجاړي داهم تاسو ورودانوئ که نه دا کار خپله دوی ته ورپرېږدئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه پوهېږم چې پرکورنیوچارو وزارت او سترې محکمې یا پولیس اوقاضي باندې به انتقاد دڅومره سزا سبب شي، خو دا باید هم وویل شي چې زموږ مظلوم ولس پر هرڅه پوهېدلی که څوك جنایتکار او غله ته د اتل لقب هم ورکړي، نو ولس یې پېژني او که څوك پر رښتینو اتلانو خاورې هم واړوي، نوبیا هم ولس پرې پوهېږي ، که ستره محکمه او کورنیو چارو وزارت هرڅومره هم ترسیاسي فشار لاندې وای باید داسې پرېکړه یې نه وای کړې ، خپل تاریخ یې نه وای بدرنګ کړی . لږ ترلږه یې ځان غلی نیولی وای او چاته یې دبېګناهۍ سند نه وای ورکړی ، عجیبه خبره خو داده چې دوی له خلکو نه دمجرمینو د جرمونو سندونه غواړي . نو دوی ته هم داسوال راجع کېږي چې ایا تاسو ته ښاغلي دوستم ، خلیلي او محقق هم دخپلې نېکنامۍ سند وړاندې کړی چې تاسو دهغه له مخې هغوی بې ازاره مرغۍ وګڼلې که څنګه؟ د دوستم ، خلیلي او محقق کیسونو خو ستاسو په وینا اسنادو ته اړتیا درلوده ، ایا دعبدالحفیظ منصور او لطیف پدرام موضوع، چې دواړه په جار نارې وهي چې افغانان نه دي هم اسنادو ته اړتیالري؟ بل تاسو سندڅه ته وایئ ؟ خلك ، مړي ،ورانۍ، ښارونه ، هډیرې ؟ سند نه دی ؟ افرین دهغه قاضي او هغه پولیس پرضمیرشي، چې تر داسې پرېکړې وروسته هم ورته په خپله بستره کې ارام خوب ورځي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښاغلي حامد کرزي يو سياسي جرئت

**دا ليکنه هم د ((قلموال)) جريدې د (۱۳۸۳ل) کال په (۲) مه گڼه کې خپره شوې ده.**

دتېرو دوه نيمو کلونو په بهير کې د ښاغلي حامد کرزي سياست د زيات احتياط يوعلت شايد دا وي، چې نړيوالې ټولنې اوپه سرکې يې د امريکا متحده ايالتونو، نه غوښتل خپل افغاني کورني ائتلافي ملگري، چې په دولت کې يې تر خپل استحقاقه زيات اوپورته امتياز ترلاسه کړی، په لنډه موده کې له دې امتياز څخه محروم شي، په خپله کورنيو جنگسالارانو هم هڅه کوله چې د ټوپک د زور ترڅنگ ځانته د ((جهاد)) او ((مقاومت)) په نامه د مشروعيت نورې لارې چارې ولټوي. خو ددې ټوپکوالو واکمنو سپين سترگي تر دې بريده ورسېده، چې له ځان پرته يې نور هېڅوک نه هم مجاهد نه ويلې، ان خپلو استادانو ته، که څه هم د افغان ولس او نورو اکثرو مجاهدينو په نظر دوی رښتيني مجاهدين نه وو، هر وخت يې د ائيتلافونو او سازشونو له لارې ځان قدرت ته رسولی او په سياسي ډگر کې مطرح کړی دی. لنډه دا چې په خپله د عام ولس او د ملت د ديموکراتو شخصيتونو په ذهن کې د دوی پر وړاندې کرکه موجوده وه. دوی نه يوازې په نامشروع ډول زيات واک تر لاسه کړی و، بلکې زياته هڅه يې کوله چې خپل واک وځواک نور هم زيات کړي، د ښاغلي کرزي او نړيوالې ټولنې له خوا د روانې شوې ډيموکراتيکې او سمونپالې پروسې پر وړاندې يې زيات خنډونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ولاړ کړي وو. پر ښاغلي کرزي د ولس له خوا ډېرزيات انتقادونــه وو، چې ولې له دې جګړه مارانو خپله لاره نه بېلــوي، د ښــاغلي کــرزي د محبوبیت ګراف د هغه د واکمنۍ په پیل کې ډېر پورته و، خو کله چـــې د کورنیو جګړو یو زیات شمېر اصلي لوبغاړو ته په دولــت کــې زیاتــه ونډه ورکړل شوه، نو دې ګراف متوسط او ددې اشخاصو و اک په دوام سره نزولي حالت خپل کړ، د سیاسي کتونکو په نظر که ښاغلي کــرزي له دې ډول څوکۍ پالو او ملت ناخوښو اشخاصو څخه خپلــه لاره نــه وای بېله کړې، نو ددې ډېر امکان و، چې ډېر خلک به په انتخاباتو هډو ګډون ونه کړي او یا به کم خلک کرزي ته رایه ورکړي، بل که ښــاغلی کرزی کامیاب هم شي ایا همدا اشخاص او همدا کابینه به ولــس تــه د منلو وړ وي او دوی به هېواد ته څه ګټه ورسولای شي؟ ښاغلی کــرزی کېدی شي د خپلې واکمنۍ له پیله دې نیمګړتیا ته متوجــه و، خــو د ائتلافي حکومتونو مجبوریتونه همداســې وي، خــو اوس هــم ښــه او مناسب وخت و، چې کرزي صیب له ملیشه یي واکمنــو او دهغــو لــه قومندانانو څخه خپله لاره بېله کړه، خلکو همېش کرزي صیب ته ویل چې ښاغلي محمد قسیم فهیم ستا په لستوڼي کې د ولس لــه بریــده ځان ژغورلی او ستاسوله شهرت او محبوبیت نه د خپل ځان په ګټــه کار اخلي، که دی رښتیا هم لکه څنګه چې دی یې وایي په ولس کــې مطرح سیاسي شخصیت وي، نو په مستقل ډول دې ټاکنو ته ودرېږي، هله به معلومه شي، چې دی په ولس کې څومره رایې لري، کلــه چــې ښاغلي کرزي اعلان وکړ، چې محمد قسیم فهیم به په راتلونکو ټاکنو کې زما مرستیال نه وي، نو دخلکو زړونه باغ بــاغ شــول او دایــې د کرزي یو ستر سیاسي جرئت وباله، ولس شکر وویست، جې د جمهوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاست د معاونیت پوست کې له داسې یو شخص څخه خلاص شو، چې د کابل په ورانیو کې یې غټ لاس درلود. د یوې سروې له مخې په سلو کې (۹۵) خلکو د کرزي دا عمل په غوښه تائید کړ، یوازې (۵) په سلو کې خلکو د احتیاط په قید وویل چې اوس به فهیم د ټاکنو د ګډوډولو لپاره هڅه کوي.

ولس نه یوازې دښاغلي کرزي په دې عمل خوشاله دی، بلکې پردې هم ډېر خوشاله دی، چې کرزي وویل: ((که په راتلونکو ټاکنو کې بریالی شم، نو ائتلافي حکومت نه جوړوم او زما د تېر حکومت کمزوري همدغه ائتلافي حالت و)) خدای (ج) دې وکړي چې ښاغلی کرزی په انتخاباتو کې تر بري وروسته رښتیا هم یو مسلکي او نا ائتلافي حکومت جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قلموال، ټوپکوال او نړیوال

**دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸٦ل) کال په (۱) ګڼه کې ددې جریدې د سریزې په توګه خپره شوې ده.**

**درې لسیزې کېږي چې افغانستان د ټوپکوالو په منګولو کې راګیر دی، ځینې وختونه داسې وو، چې ټوپکوالو په کې په یو نه یو ډول مشروعیت درلود، هغه وخت کې دوی د جنګ له مشروعیت سره سره ځینې نور ناوړه کارونه تر سره کول، ولس بیا هم په چوپه خوله زغمل. د بن تر کنفرانس او دنوي حکومت تر جوړېدو وروسته هیله دا وه چې نور به نو ټوپک، قلم او منطق ته ځای پرېږدي او د زورواکۍ دوران به پای ته رسېږي. کله چې د نړیوالو عمل څرګند شو، خبره تر بدو بدتره شوه، په پیل کې خلکو فکر کاوه چې نړیوال غواړي چې له دې زورواکو څخه وسلې واخلي، خو وروسته څرګنده شوه چې دوی دا قومندانان ځان ته دومره نږدې کړل، چې خپل باډیګارډان یې مقرر کړل، دې سره نو د زورواکانو مړۍ لا غوړه شوه، څو موده وړاندې د همغو یاغي قومندانانو له جملې څخه دربو غټو قومندانانو، جنرال عبدالرشیددوستم،جرئت او امان الله ګذر د دولت پر وړاندې بغاوت او د دولت پر حیثیت یې تېری وکړ، یو د هېواد ملي بیرغ او د ولسمشر د عکس توهین وکړ، بل لوی څارنوال ته لاس واچاوه او درېیم د دولت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس بې وسلې کړل او ویې ټکول، خو کله چې له نړیوالو ځواکونو سره د دوی دا عمل مطرح شو، هغوی وویل چې د اخو نو د حکومت خپله معامله ده او موږ په کې غرض نه لرو، کله چې له هغوی څخه پوښتنه وشوه، چې یو جابر چې په جوزجان کې د هېواد ملي بیرغ راکوزوي، د حکومت د والي د له منځه وړلو هڅه کوي، او د هغه طالب ترمنځ چې په هلمند کې د حکومت پر والي برید کوي څه تفاوت دی؟ نو هېڅ منطقي ځواب یې نه درلود، حقیقت دادی چې دا زور واکي له ځینو بهرنیو منابعو سره رابطې لري، خپله دین محمد جرئت د هغو نیمه رسمي ملېشو مشري کوي، چې همدا اوس د بهرنیانو ساتنه او هغوی ته د اجیرو عسکرو په توګه خدمت کوي، نو دوی بهرنیو ځواکونو ته ددغه خدمت په مقابل کې دا مجوز او صلاحیت تر لاسه کړی، چې د حکومت د تکلیف سبب شي. د نړیوالو (د یوه بام او دوه هوا) دا سیاست تر اوسه پورې روان دی، که حالت همداسې روان وي، نود عدالت د تطبیق لپاره به هېڅکله لاره اواره نه شي، نه به کار د هغه اهل ته وسپارل شي، نه به د ټوپک منطق ختم شي او نه به د قلم منطق واکمن شي، ټوپکوال به د خپل د ټوپک پر زور اود نړیوالو په ملاتړ خپل جیبونه نور هم ډک کړي، اود وسله وال قوت تر څنګ به پر پانګوال قوت هم بدل شي، په آینده کې به دولسواکۍ محور هم د همدوی په لاس کې وي، عامه ذهنیتونه به هم اغوا کوي، کلونه کلونه به ظلمت او وحشت د ولسواکۍ او دولت په نامه پر ولس حاکم وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره بېلګه يې په ولسي جرګه کې ځينې ټوپکوال پانګوال دي، چې له دې دواړو وسايلو څخه يې د خپل ځان د حاکميت لپاره کار واخيست او د خلکو مخالف اوس دخلکو د نماينده په توګه امتياز تر لاسه کوي، بله بېلګه يې هغه رسنۍ دي، چې په يو نه يو ډول يې سلسله همدې ټوپکوالو پانګوالو ته رسېږي.

له نړيوالو او د افغانستان له حکومت څخه د قلموالو هيله داده، چې خپلې لنډې مهالې ځاني ګټې په پام کې ونه نيسي، د عدالت د تطبيق لپاره دې هر اړخېزې هلې ځلې وکړي، قانون او عدالت دې پر ټولو يو شان تطبيق کړي، هم پر ټوپکوالو، هم پر پانګوالو، هم پر سياستوالو ، هم پر غريبانو او هم پر قلموالو.

د همداسې يو ارمان د عملي کېدو په ارمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر کرزی یې گټي او مخالفین یې لوټي

**دا لیکنه هم د ((قلموال)) جریدې پر (۱۳۸٦ل) کال په (۱) گڼه کې چاپ شوې ده.**

په تېرو پنځو کلونو کې پر گڼو ستونزو سربېره یو زیات شمېر مثبت او گټور کارونه هم تر سره شوي، چې د افغانې ټولنې د هـر اړخیــزې بیـا رغونې او نوې جوړونې په برخه کې ډېر مثمر واقع شوي دي، پـه تېـرو پنځو کلونو کې دوه لویې جرگې جوړې شوي، چې یــوې د افغانســتان لپاره زعامت وټاکه اوبلې یې نوی اساسي قانون تصویب کړ، د جمهوري ریاست لپاره په ازاده او دیموکراتیکه فضا کې انتخابات وشول، د ولسي شورا او ولایتي شوراگانو لپاره انتخابات تر سره شول، دا هغه سیاسـي پرمختیاوې وې، چې پر دې لنډ وخت یې کېدن ناشونی ښکارېده او د خلکو په فکر کې هم نه گرځېدل. افغانستان په تېرو پنځو کلونــو کې له نړیوالې انزوا څخه راوکښل شو، اوس افغانستان د نــړۍ پــه بېلابېلو هېوادونو کې ځلورپنځوس سیاسي نماینــده گـۍ لــري او همدغه راز په افغانســتان کــې د نــړۍ د پنځــه دېــرش هېوادونــو سفارتونه فعال دي، د ملگرو ملتونو شل نماینده گۍ فعالیت کوي او تر (۱۳۰) زیات نړیوال سازمانونه او انجوگانې پر کــار بوخــت دي، د عامې روغتیا او ښوونې او روزنې په برخه کې هم د پام وړ پر مختگ شوی دی، د ټول هېواد پــه کچــه شــپږ ویشــت لــوی روغتونونــه، څوارلس کلینیکونه او یو سلو شل شخصي کلینیکونه جــوړ شــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، د زده کوونکو شمېره له یو میلیون څخه شپږ میلیونو ته پورته شوه، په پنځو کلونو کې د ټول هېواد په کچــه د درې زره او پنځــه سوه ښوونځیو ودانۍ نوې جوړې شوې دي، یو زر او پنځه سوه نورې هم د جوړېدو په حال کې دي، دغه راز په ټول هېواد کې دوه ســوه پنځه اویا دینې مدرسې هم جوړې شوي دي، چې شپېته زره طالب علمان په کې زده کړې کوي، همدارنګه په هر ولایت کې یو یو عالي دارالمعلمین جوړ شوی او د پوهنتونونو شمېر د ټول هېواد په کچــه (۱۹) ته رسېدلی دی، چې د محصلینو شمېره یې څلوېښت زرو تنو ته پورته شوې ده.

د کلیو پراختیا او بیار غونې په برخه کــې (۱۰۲۰۷) پــروژې تکمیــل شوي او د مخابراتو په برخه کې تر لسو زیاتو شرکتونو (اووه ســوه میلیونه) ډالره پانګه اچولې، د هغو بهرنیــو او کورنیــو موسســو او خصوصي شرکتونو شمېر چې په افغانستان کې یــې پانګــه اچــولې (اووه زرو) او دټولې پانګې رقم یې پنځه ملیارده ډالرو ته رســېږي، دغه راز په سلګونو نور مهم کارونه تر سره شوي دي. په مجمــوعي ډول په تېر و پنځو کلونو کې له نړیوالې ټــولنې څخــه نــږدې شــل ملیارده ډالره مرسته راجلب شوې ده، سربېره پر دې ولسمشر چې هر کله هر هېواد ته سفر کړی په لسګونو او سلګونو ملیونه ډالــره مرسته یې را جلب کړې، خود ملت غټ تشویش او انتقاد په دې کې دی، چې دا ټولې راجلب شوې مرستې پر خپل ځای او د ولــس پــه درد نه لګېږي، ددوی مخالفان لکه طالبان او نور د دولت بیا رغــول شوې پروژې له منځه وړي، مکتبونه سیزي او روغتونونه ویجاړوي، د دولت دولتي مخالفان بیا په درغلۍ او کرپشن ککړ دي او جمهور

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس چې څه په سارا کې ګټي، دوی یې په کور دننه لوټي، تر څو چې دولت د دغو حکومتي او نا حکومتي مخالفانو پر وړاندې یو قوي دریځ غوره نه کړي، ډېره سخته ده چې دا مرستې ولس ته ورسېږي، دا مرستې اوس د اوبو هغه سربند ته ورته دي، چې ډېرې اوبه پرې سورې وي، خو د لارې په اوږدو کې له هر سوري څخه دا اوبه بېرته وځي او اصلي ځای ته بیا ډېرې کمې اوبه رسېږي او یا هېڅ نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان دولت په دوو جبهو کې

**دا لیکنه د ((قلمــوال)) جریدې پر(١٣٨٦ل) کال د په (١) ګڼه کې خپره شوې ده.**

د بن کنفرانس په توافقاتو او تر هغه وروسته پړاوونـو کـې د نړیـوالې ټولنې او د افغانستان د حکومت یوه غټه اشتباه دا وه، چې ټوله توجـه یې یوازې تر حکومت بهر مخالفینو (طالبانو) ته واړوله او هغه ډلې یـې بېخي له یاده ووتلې، چې تر طالبانو دمخه یې افغان ولـس تـه خپلـه بدرنګه ماضي پرې ایښې وه او اوس د امریکایي ځواکونو په زور یو ځل بیا واک ته رسول شوې وې. دې کې هېڅ شک نه و، چې افغان ولس له طالبانو تر پوزې رسېدلی و، خو پخوانیو تنظیمونو په تېـره بیـا شــمال ټلوالې هم د خلکو په څنګ کې ګلونه نه وو ایښـي، بلکـې پـه کورنیـو جګړو کې یې تر ټولو بد ریکارډ درلود. دولت او نړیواله ټولنه ورو ورو له رنګ شویو طالبانو سره په جنګ کې پرېوتل. دولت د داخلي ریفورم او اصلاحاتو پرځای د طالبانو پر ضد جګړې ته ترجیح ورکړه، څرنګه چـې خلک د دولت له یو شمېر زورواکو جنګیالیو څخه نا ارامـه شـول، نـو طالبانو دخپل بهرني ملاتړ تر څنګ له دې حالت څخه هــم ښــه ګټـه پورته کړه او د زور او رضا له لارې یې د خلکو په مــنځ کــې بیـا ځـالې جوړې کړې، پر کلیوالي سیمو د بهرنیو ځواکونو بې رحمه بمبــارۍ او د هغو په ترځ کې د بې شمېره ملکي وګړو وژنه، د طالبانو تبـر تـه ښـه لاستی برابر کړ او هغوی یې له دولت څخه د ولس د لرې کولو په هیلـه کې تر ډېره حده بریالي کړل. له بلې خوا د طالبــانو پخـوانۍ مخــالفې جبهې یا په ښکاره پخوانۍ او اوسنۍ شمال ټلــوالې چـې هــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت يې د بهرنيو ځواکونو له موجوديت او لاسـوهنې څخـه د خپـل ځان په ګټه کار اخيستی، له دې ترينګلي حالت څخه لا ګټه پورته کړه او په دولت کې يې خپل موقف لاپسې قوي کړ. ان تر دې پورې چـې د دولت هر اصلاحي حرکت يې له وسلوال چيلنج او ګواښ سره مخـامخ کړ. دوی له بهرنيو ځواکونو سره د سـاختماني، اقتصـادي او امنيتـي قراردادونو او همدارنګه د دولت له څوکيو څخه د نامشروعو ګټـو لـه لارې پر يوه ستر اقتصادي قوت بدل شول، اوس نه يوازې د يوه نظامي قوت په توګه مطرح دي، بلکې د اقتصادي ځواک په کار اچولو سره يې اجيرې رسنۍ هم په کرايه رانيولي او عامه ذهنيت هم اغوا کولای شي، غوره مثال يې څو رسمي او نا رسمي جنګيالي لکـه دوسـتم، جرئـت، امان الله ګذر او نور دي، چې د امنيتي کمپنيو پـه نامـه يـې خپلـو او خپلوانو ته جوازونه اخيستي او په دې کمپنيو کې يې خپلـې پخـوانۍ ملېشې ځای پر ځای کړي، په دې ډول په اصطلاح،  د خارجي کمپنيـو ساتنه کوي او هغوی يې په مقابل کې موټې له پيسو ډکوي. په دې ډول ددې خلکو ملېشې هم خوندي شوې او په اصطلاح قانوني بڼه ورکـړل شوې او پيسې هم ترلاسه شوې، د افغانســتان پـه تېـر دېـرش کلـن سياسي بهير کې وسلې او پيسې دوه هغه اساسي عناصـر وو، چـې د پوهې، اخلاقو، عدالت او حقوقو ځای يې نيولی دی. په همدې خاطر که جرئت، ګذر، دوستم او نـور هـر ډول عمـل تـه لاس اچـوي، د خطـر احساس نه کوي، نو که خلک له دې اشخاصو څخه تر پوزې راشي، نـو له طالبانو پرته د خلاصون بله هېڅ مرجع نه شته.

د دوو ولس دښمنه عناصرو پر وړاندې د نړيـوالې ټـولنې دوه ګـونی چلند، افغانستان له داسې يوه سخت ناورين سـره مخـامخولای شـي چې تر تېرو ناورينونو به يې دخطر احتمال زيات وي. د بهرنيو ځواکونو او د افغانستان د دولت دا چلند، حکومت د ولس په عامه ذهنيت کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې باورۍ له بحران سره مخامخوي او مشکلات لاپســـې ژورويِ. دې کې هم شک نه شته حکومت ددې پوره وس نه لري، چې پر یوه وخــت له دواړو مضرو پدیدو سره جګړه وکړي یوازېنۍ مرجــع چـــې بایــد لــه حکومت سره هر اړخیزه پوځي او سیاسي همکاري وکړي، هغه نړیواله ټولنه ده، چـــې د دولــت داخلـــي مخـــالفین د دوی د الوتکـــو او تـــورو ترسیوري لاندې ژوند ته دوام ورکوي، نړیواله ټولنه چـــې پـــه هلمنـــد، زابل، کندهار او نورو سیمو کې د دولت د یوه مخالف وسلوال لپاره بـــې دوه پنځوس (B52) الوتکې پورته کوي او د یوه طالب پـــه خـــاطر ټـــول کلی له خاورو سره برابروي، ولې د هغه باغي قومندان پر ضد چـــې پـــه شبرغان کې د حکومت والي کلا بندوي او د وژلو هڅه یـــې کـــوي او د زرګونو افغانانو قاتل ګڼل کېږي، د خپلو الوتکـــو تشـــه یـــوه ګزمـــه نـــه ورلېږي؟ څو چې نړیوال څواکونه او د افغانستان حکومـــت د نـــړدې او لرې زورور او کمزوري خطر تر منځ تفاوت ونه کړي او یا لـــږ تـــر لـــږه د دولت ټولو مخالفینو ته په یو نظر او موافقینو ته پـــه یـــوه ســـترګه ونـــه ګوري، ډېره مشکله ده، چې ددې مشورې سر پیـــدا شـــي، جنـــګ بـــه همداسې دوام کوي د افغانستان ودانۍ به ورو ورو تباه کېږي او نړیوال څواکونه به هم بلاخره د شوروي اتحاد د پوځونو پـــر برخلیـــک اختـــه کېږي. هغه وخت بیا د شمال ټلوالې ملېشې دوی د ډوبېـــدو لـــه خطـــر سره نه شي ژغورلای، ځکه چې دا ملېشې، په لږ تغیر سره له پخـــواني شوروي اتحاد سره هم ملګرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناټو او ائتلاف ځواکونه او قومي تصفیه

دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې پر (۱۳۸٦ل) کال په (۳)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.

د ائتلاف او ناټو ځواکونه ورو ورو هغه حالت او عمل ته ورنږدې شوي چې د شوروي د پوځونو د یرغل پر مهال هغوی په پښتون مېشتو سیمو کې تر سره کاوه. شورویانو داسې فکر کاوه چې په افغانستان کې بــه د پښــتون مېشتو سیمو د ځپلو له لارې د افغاني ټولنې د واک عنعنوي سیستم بدل کړي او دوی به د خپلو څو تنو لاسپوڅو له لارې پر افغانستان واکمن شي، نو په همدې وجه یې په ټول افغانستان کې نږدې دوه نیم ملیونــه کورونــه وران کړل او سلامتې سیمې او ولسوالۍ یې له وګــړو تشــې کــړې، ټــول افغانستان خو په تېره بیا کونړ، ننګرهار، پکتیا، خوست، پکتیکا، کنــدهار، هلمند، فراه، زابل او نورې هغه سیمې وې، چې روسانو ډېرې زیاتې ځپلې، د ائتلاف او ناټو ځواکونه هم په قصدي یا نا قصدي ډول هغې مرحلــې تــه رسېدلي چې روسان په کې واقع وو. پر ودونو بمباري، پر جنازو بمبــاري، د شپې له خوا پر کلیو بمباري ټول هغه شــباهتونه دي، چــې د روســانو لــه چلندونو سره سمون خوري، په تېرو شپږو میاشتو کې لږ تر لــږه لــس زره کسان په جنوب او جنوب شرق کې د ژوند له نعمت نه بې برخــې شــوي، چې ددې مطلق اکثریت ملکي وګړي دي. سره له دې چې د ملکــي وګــړو پر وژنه د افغانستان ولسمشر حامد کرزي څو ځله خپلــه ژوره خواشــیني څرګنده او دناټو او ائتلاف ځواکونو ته یې خپله اندېښنه په ډاګه کړه، خــو هغوی لکه چې په افغانستان کې هېڅ حکومــت نــه وي، د ولسمشــر پــه خبره او اندېښنه سر نه ګروي. ناټو او ائتلاف ځواکونه په حقیقت کې هغــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته د خپل عمل سزا ورکوي چې د اوسني دولت مشر حامدکرزي ته یې په ډېره مینه، اخلاص او اتفاق رایه ورکــړې او دا عامــه وژنــه او قــومي تصفیه دهمغه عمل «انعام» دی. که نړیوال ځواکونه او دهغوی کورني تــالي ښتي، مخبرین او جاسوسان پر دې فکر کې وي، چې د طالب او القاعده له نامه څخه په غلطې استفادې به د اکثریت دقومي تصفیې او عامه ورانۍ له لارې خپلو شومو هدفونو ته ورسېږي او کورني مخبرین به د پردیو په زور، ځان اکثریت او پر دولت واکمن کړي، نــو دا خــوب دې د افغانســتان تېــر تاریخ او د عوامو په اصطلاح اوبو ته تېر کړي، دچنګیــز، هلاکــو، انګرېــز او روس پر وړاندې دې د افغانانو د جګړو تاریخ وګــوري، هغــوی هــم ډېــرې قومي وژنې وکړې، ډېر کله منارونه یې جوړ کړل، ډېر سرونه یې تر خــاورو لاندې کړل، خو بیا هم په پای کې په خپله مات شول، داسې مــات شــول چې د ځان د راټولولو وس یې هم پیدا نه کړ. یو ځل بیا بهرنیو ځواکونو تــه وایو، هغه څوک چې تاسو په غبرګ کې نیولي او تاســو تــه ناســم رپورټونــه درکوي، دا اشخاص نه تاسو، نه افغانستان او نه دې نظــام تــه وفــادار دي، دوی له روس او ایران سره د یارانې ډېر پخواني تارونه لري، دوی ستاسو له زور او ځواک څخه ګټه پورته کوي، د خپلو اوخپلو بادارانو د ارمانونو لپاره کار کوي او که تاسې خپل چلندونه بدل نه کــړئ، نــو پــر یــو ډېــر نــاوړه برخلیک به مو اخته کړي.

وما علینا الاالبلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونځي سوزونه د ژوند سوزونه

**دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸٦ل) کال په (۲)مه ګڼه کې دهغې د سریزې توګه راغلې ده.**

کله چې جاپان په دویمه نړیواله جګړه کې ماتې وخوړه او درانه زیانونه ورته واوښتل، نو سم له لاسه ورسره د جاپان د بیارغونې مساله مطرح شوه. دا چې بیا رغونه باید له کومه ځایه پیل شي او څه ډول پیل شي؟ په دې باب ګرم بحثونه وشول، دجاپان په پارلمان کې ځینو وکیلانو وویل، چې جاپان باید زراعتي شي، ځینو وویل جاپان باید صنعتي شي، له دې لارې به هم جاپان اباد شي او هم به د جګړې د ناورین جبیره وشي، خو د پارلمان یو وکیل وویل:(( جاپان باید انساني شي)) ((انساني په دې مانا چې موږ باید تر هرڅه دمخه تعلیم ته توجه وکړو، کله چې موږ په تعلیمي ډګر کې زیات پرمختګ وکړو، هم خپل هېواد صنعتي او هم زراعتي کولای شو، خو که علم ونه لرو، نه په زراعت او نه په صنعت کې پرمختګ کولای شو)) همغه و چې جاپان تر هر څه دمخه او تر هر څه زیات تعلیم ته پاملرنه وکړه، نن جاپان هغه هېواد دی چې هېڅ نالوستی شخص نه لري، له همدې کبله د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو پرمختللی هېواد دی. دا چې په افغانستان کې ولې د تعليم مخه نيول کېږي، ښوونځي تړل کېږي او سوځول کېږي، دا څه تصادفي خبره نه ده، په افغانستان کې د جګړې اوربلوونکي پر دې پوهېږي چې کله يو چا تعليم وکړ، هغه د انسانيت او سرېتوب مدارجو ته رسېږي او کله چې څوك په انساني ارزښتونو سمبال شو، په هغه کې د زغم، تحمل او ښه ژوندانه روحيه پياوړې کېږي او دا ډول اشخاص بيا په اسانۍ نه حاضرېږي، چې د چا په مقابل کې ناشعوري وسلواله جګړه وکړي. نو دافغانستان فزيکي دښمنان مخکې تر دې چې په يوه سيمه کې اساسي جګړه پيل کړي، فکر کوي هلته بايد د جګړې لپاره ذهني محيط برابر کړي او د جنګ لپاره پراخه بشري قوه په پام کې ونيسي،کله چې په افغانسان کې د پخواني شوروي د يرغل پرمهال افغانانو جهاد او جنګ پيل کړ، نو يو شمېر بهرنيو او کورنيو کړيو افغانستان کې ښوونځي په نښه کړل، ښوونه او روزنه يې په کمونيستي رژيم پورې وتړله او دا يې له کفر او الحاد سره معادل وګڼله، سره له دې چې افغان ولس له زده کړې سره مينه لرله، خو د روسانو پر ضد د جګړې عامه روحيه دا وه چې ښوونځي بايد وسوځول شي، په نتيجه کې په ټول افغانستان کې نږدې درې نيم زره ښوونځي ويجاړ او وسوځول شول او د نږدې اوه مليونو افغانانو د زده کړې مخه ونيول شوه، ددې وقفې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه کې په هېواد کې داسې یو نالوستی قشر راوټوکېد ، چې د تعلیم په انډول د وسلې له کلتور سره ډېر نږدې و. دا نسل بیا د یوې ارزانه بشري قوې او نسبتا وړیا کارګر په توګه په پاکستان او ایران کې استخدام شو او د پردیو هېوادونو د ماڼیو په ابادونې یې خپله انرژي ولګوله. اوس یو ځل بیا یو شمېر ګاونډي هېوادونه په تېره بیا ایران او پاکستان غواړي له هغه زوړ فورمول څخه کار واخلي، یو ځل بیا زموږ پر هېواد د تیارو لمن خوره او د رڼا لاره ډب کړي. پاکستان پخوا د جهادي فعالیتونو په ترڅ کې د افغانستان ښوونځي تباه کړل او دا ځل پاکستان او ایران دواړه په ګډه غواړي دطالبي فعالیتونو په بهیر کې د افغانستان ښوونځي یو ځل بیا د اور له کومي تېر کړي. طالبانو که لږ عقل هم لرلای، نو له تېرې تجربې څخه یې باید ښه پند اخیستی وای، نه یې باید د پاکستان او نه یې هم د ایران هیلې پوره کړې وای، دوی ته یو ځل تجربه شوه، چې حکومت په ځو طالبانو او ملایانو نه چلېږي، نو که دوی چېرته د حکومت کولو ارمان لري، هم ښوونځي ورته پکار دي او که ژوند کول غواړي، هم ښوونځي ورته په کار دي. د دنیا په تاریخ کې به ډېر کم مثالونه پیدا شي، چې کوم سیاسي یا نظامي حرکت دې د مکتب او تعلیم مخالفت وکړي، موږ له نړیوالې ټولنې څخه هیله کوو چې د ښوونځیو د سوځولو په برخه کې د ایران او پاکستان د اوږدې ستراتیژۍ مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسي، له طالبانو څخه مو غوښتنه ده چې نور نو د رڼا مخالفت ونه کړي، د ښوونځیو له سوځولو لاس واخلي او زموږ معصوم کوچنیان پرېږدي، چې په ارامه د خپلې مور، خپل کلي، خپل جومات او خپل ښوونځي په لمن کې په مینه درس ولولي او خپل راتلونکي ته پانګه جوړه کړي.

هر څه رانه واخله خیال او فکر مې مه وژنه
دې کې مې وطن ته لوی تاوان لیدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نړيوالې ټولنې پاملرنه: د افغانانو لپاره يو طلايي چانس

دا ليکنه د ((قلموال)) جريدې د (۱۳۸٦ل) کال په (۲)مه گڼه کې چاپ شوې ده.

په نړۍ کې کمو ټولنو او ولسونو ته داسې يو چانس برابرېږي، چې د ټولې نړۍ په تېره بيا د شتمنو هېوادونو د پاملرنې وړ گرځي، پر افغانستان باندې د پخواني شوروي د يرغل پر مهال افغانستان ته د ټولې نړۍ د ځواکمنو هېوادونو پام را واووښت ، خو هغه وخت نړۍ پر دوو قطبونو وېشل شوې وه او پوځي انډول په نړۍ کې نسبتاً برابر برېښېده. دې پوځي او سياسي انډول هغه وخت افغانستان ته ځکه زيات زيان ورساوه، چې هر يوه په افغانستان کې د خپلې خوښې نظام د راوستلو لپاره پوره پوځي امکانات رالېږل، دې کار جگړه اوږدوله او د افغانانو د بشري زيان کچه يې اوچتوله، د يوه اوږده، خونړۍ، نا اټکله او نا انډوله جنگ په نتيجه کې د جگړې يو لورى (شوروي پلو) کمزورى او له ماتې سره مخ شو. لويديزې او په اصطلاح ازادې نړۍ چې د شوروي په حذف سره په افغانستان کې خپل اصلي ارمانونه او تشويشونه بريالي او حل وگڼل، نوافغانستان يې له خېرمه هېر کړ، همدا وخت پر افغانستان د تنظيمي گډوډۍ يوه ترخه څپه تحميل شوه او ورپسې د طالبانو سخت دريځی او تريخ نظام واکمن شو، دې حالاتو لس کاله دوام وکړ او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتيجه کې د افغانستان زياتره شتمنۍ، فرهنګ او د اقتصاد شيره وزبېښل شول، د طالبانو او امريکې د متحده ايالتونو تر منځ د ټکر په نتيجه کې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو د نړيوالو پاملرنه يو ځل بيا افغانستان ته را واووښته، د نړۍ د پاملرنې له امله په افغانستان کې نه يوازې د سياسي نظام رنګ بدل شو، بلکې د هېواد د فزيکي بيارغونې په برخه کې هم ډېر ګټور ګامونه پورته شول، خو دا ګامونه بيا هم دومره نه دي، چې د هېواد د خلکو ټولې هيلې او اړتياوې دې خړوب کړي. د شمېرنو له مخې پر افغانستان باندې د شوروي د يرغل پر مهال د افغانستان پر خپلو شتمنيو سربېره، په مجموعي ډول(۹۵) مليارده ډالره پخواني شوروي اتحاد او (۶۵) مليارده ډالره د امريکا متحده ايالتونو او د هغو ملګرو، په افغانستان کې د جنګ د دوام لپاره لګولي دي، که ددې ټولو پيسو تخريبي ظرفيت محاسبه کړو، نو افغانستان ته يوازې په مالي برخه کې په سلګونو مليارده ډالره زيان ور اوښتی دی. په تېرو شپږو کلونو کې د نړيوالې ټولنې د ټولې شوې مرستې يا وعدو کچه نږدې دېرشو ملياردو ډالرو ته رسېږي، دا په داسې حال کې ده، چې ددې پيسو تر نيمايي زياته برخه په يوه نه يو ډول بېرته د همدې مرستندويه هېوادونو او په هغو پورې تړلو موسساتو له خوا، له افغانستان څخه ايستل شوې او پاتې نيمايي يې هم د هېواد په داخل کې د پوره ټولنيزو او دولتي ظرفيتونو د نشتوالي له امله، په مناسب ډول نه ده لګول شوې. د ځينو شمېرنو له مخې افغانستان لږ تر لږه دوه سوه مليارده ډالرو ته اړتيا لري، چې له جګړې راپيدا شوي ټول تېپونه پرې ورغول شي او د ټولنې اساسي فزيکي او فرهنګي جوړښت پرې جوړ شي. خو له دې سره سره د نړۍ له خوا چې کومې مرستې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس افغانستان ته ورکړل شوي، که دا هم په سمه بڼه او کیفیت لګول شوې وای، د نوې رغونې لپاره به یې اساساً ښه کار ورکړی وای. که چېرته په هېواد کې جګړه له منځه تللې وای او دجنګ نوې څپې نه وای راټوکېدلې نو کېدی شول، چې په حکومت کې د هغو کسانو لمن هم ژر ټوله شوې وای چې همدا اوس یې په نامشروع توګه د حکومت د واک او ځواک اساسي رګونه نیولي او لا هم ګډوډې ټوکوي او د نور امتیاز په لټه کې دي. اوس په افغانستان کې په حقیقت کې دوه ډلې د بې ثباتۍ لپاره سخت لېوال دي، یوه ډله د طالبانو تحریک دی، چې په ښکاره او څرګند ډول یې د حکومت او ټولې نړۍ په مقابل کې جګړه پیل کړې او بله د حکومت په داخل کې یو شمېر هغه ډلې دي، چې له روسیې، ایران او ځینو نورو هېوادونو سره خواږه اړیکي لري او په اوسنۍ سیاسي ترمینالوژۍ کې((د ملي جبهې)) په نوم نومول شوې ده. د طالبانو او ددې ډلې د مخالفت توپیر دادی، چې دوی د نړیوالې ټولنې له مرستو څخه برخمن دي، هم د حکومت امتیازات اخلي، هم د نړیوالې ټولنې ددوستۍ ویاړ لري او هم د هغوی پر وړاندې، په پټو غونډو او ناستو کې، د ایران او روسیې له هیلو سره سم حرکت کوي، دوی له همغې میډیا څخه چې د غرب په تېره بیا د امریکا د متحده ایالتونو په مالي لګښت میدان ته راوتلې، د ایران د کلتوري یرغل، مذهبي او سیاسي اهدافو لپاره کار اخلي او هم د تصنعي دیموکراسۍ په ښودلو سره ځان د طالبانو د مخالفینو په توګه څرګندوي او امریکا ته ځان نږدې کوي، په نتیجه کې دواړه ډلې هم طالبان او هم پخواني شمال ټلواله (اوسنۍ ملي جبهه) دواړه د هېواد په بې ثباتۍ کې د اساسي عاملینو په توګه کار کوي. دا دواړه یوه د هېواد په جنوب او بله په شمال کې سوله او ثبات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواښي، د شمال ټلوالې د خطر امکاناتو ته باید  په دې هم زیات پام وشي، چې د دوی خطر ډېر نږدې دی. د طالبانو او شمال ټلوالې د نامشروع حرکتونو په نتیجه کې کېدی شي زموږ هېواد یو ځل بیاله سیاسي بحران سره مخامخ شي او که حالت همداسې په منفي ډول دوام وکړي، ددې امکان شته چې د نړۍ یو شمېر هېوادونه ورو ورو له افغانستان څخه خپلې پښې سپکې کړي، دا احتمال هم شته چې ګاونډي هېوادونه په تېره بیا پاکستان له غربي نړۍ سره موافقې ته ورسېږي او د افغانستان سیاسي برخلیک یو ځل بیا پاکستان ته ور حواله کړي، پاکستان  غربي نړۍ ته په ذهن کې دا خبره کېنولې، چې د لودیزې نړۍ د ګټو د خوندیتوب په تضمین د افغانستان د سیاسي ادارې او کنترول وس لري، نو په دې وجه به پاکستان د یوه احتمال په توګه د پخوا په څېر هم د غربي نړۍ مرستې تر لاسه کړي او هم به د افغانستان پر برخلیک لوبې وکړي او دا هغه حالت دی، چې تر دې د مخه یو ځل په افغانستان کې پېښ شوی و. کېدی شي د پاکستان اصلي چارواکي په دې محاسبه کې تېروتي وي، ځکه که نړیوال ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او نړۍ یوځل بیا افغانستان هېر کړي. افغانستان به یو ځل بیا د سیمه ییزو ځواکمنو هېوادونو د سیالۍ پر ډګر بدل شي، دا ځل ایران په سیمه کې هغه هېواد دی چې تر پخواني حالته ډېر غښتلی او د اتومي وسلو د درلودلو په درشل کې دی، په افغانستان کې یې هر اړخیزې مذهبي، سیاسي او ژبنۍ ریښې ځغلولي او د یو شمېر اقلیتونو د حقوقو مدعیان یې هم په لوړه بیه رانیولي، روسیه هم یو ځل بیا د یوه غښتلي پوځي او اقتصادي قوت په توګه خرګندېږي، چین او هند د سیمي غټ اقتصادي قوتونه دي. په دې سیمه ییزو قوتونو کې روسیه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند او ايران د پاکستان اساسي سيالان دي، هېڅکله هم دې ته حاضر نه دي، چې په افغانستان کې د پاکستان پراخ نفوذ وزغمي، په نتيجه کې به يو شمېر پاکستان ضد ډلې او قوتونه منسجم کړي او په افغانستان کې به يو ځل بيا داسې جګړه پيل شي چې دا ځل کېدی شي، د هېواد سياسي هويت او ځمکنۍ بشپړتيا هم له ګواښ سره مخامخ کړي، نو اوس د ټولو هېوادپالو افغانانو دا دنده ده، چې په دقيق ډول د هېواد کورني او بهرني دښمنان تشخيص کړي، د هغوی له نيتونو، توطئيو او حرکتونو څخه ټول هېوادوال خبر کړي او د هغو مخه ونيسي. د نړيوالې ټولنې له دغې پاملرنې څخه چې اوس يې افغانستان ته لري ، بايد تر خپلې وروستۍ کچې ګټه پورته کړي، له دې حالت څخه بايد داسې ګټه واخيستل شي، چې د افغانستان ټول ټېپونه پرې ورغول شي او مهم ضرورتونه پرې پوره کړي، افغانستان بايد په خپلو پښو ودرېږي، له ګاونډيو سره په واک و ځواک کې برابر شي آن تر دې چې په هر ډګر کې دخپلو ګټو د ساتنې او پالنې وس لري، موږ بايد د خپلو ګاونډيو همېشني ګواښ ته همېشه متوجه اوسو، د تل لپاره پر پرديو مرستو ډډه ونه لګوو، د نړيوالو مرستې، کومکونه او ځواکونه به همېشه نه وي، خو زموږ د ګاونډيو رقابتونه او ګواښونه کېدی شي، همېشه وي او په تېره بيا تر هغه وخته پورې چې موږ کمزوري يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احمدي نژاد په افغانستان کې نژادي پارونې کوي

دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸٦ل) کال په (۲)مه گڼه کې چاپ شوې ده.




د ایران د اخوندانو رژیم چې داسلامي جمهوریت تر چتر لاندې د اسلام په نامه جوړ شوی ، په حقیقت او ماهیت کې د اسلام روح نه تمثیلوي. دوی هم لکه د یو شمېر نورو سیاسي ملایانو په څېر دین او مذهب د خپلو سیاسي اهدافو د خوندیتوب وسیله گرځولې، خپلو مخالفینو ته یې له دین او مذهب څخه یو لا ځوابه منطق جوړ کړی او خپل مشروع او نا مشروع مخالفین پرې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه وړي. په شرقي ټولنو په تېره بیا په اسلامي نړۍ کې ځینو ډلو د دین د احکامو خلاف له دین څخه یوه داسې وسیله جوړه کړې، چې که هر سیاسي ګروپ په پیل کې ونیوله، نو د همغه شوه او خپل مخالف پرې په اسانۍ سره وهلای او ټکولای شي. د ایران اخوندانو هم په پیل کې اسلام جر کړی(نیولی) دی، خو په اسلام کې هم دوی ټول اسلام ته نه، بلکې یوازې جعفري فقهې یا شیعه مذهب ته ترجیح ورکوي. د ایران شیعه اخوندان غواړي په نورو اسلامي هېوادونو کې د شیعه اقلیتونو له لارې خپله مذهبي پراختیا او د هغې تر چتر لاندې خپله فاشیستي نظریه او هیله بري ته ورسوي. دوی د ایران له طبیعي منابعو نه په ګټې اخیستو سره غواړي په نورو هېوادونو کې شیعه لړکي د خپلو حکومتونو پر ضد راوپاروي او هلته سیاسي او ټولنیزه بې ثباتي رامنځته کړي. دوی په لبنان، عراق، افغانستان او ځینې نورو هېوادونو کې همدا اوس دا جنګ ګرم ساتلی او په ځینو هغو هېوادونو کې چې شیعه ګان په کې نه شته هلته بیا د فارسي ژبې د پراختیا او کلتوري یووالي تر نامه لاندې خپل فعالیتونه کوي، لکه تاجکستان او د منځنۍ اسیا ځیني نور هېوادونه. ایران په افغانستان کې د جهاد په کلونو کې د اهل تشیع اته بېلابېلې ډلې جوړې کړې او بیا یې د ((حزب وحدت اسلامي افغانستان)) په نامه سره متحدې کړې، دا ډلې اوس کله سره بېلې او کله سره یو ځای وي، ریموټ کنټرول یې د ایران په لاس کې دی ، راټولول او ببلول یې د ایران له خوا کېږي، القاب، تخلصونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومونه يې د ايران  له خوا ټاکل کېږي، چاته شيخ، چاته اخند، چاته حجة الاسلام او چا ته ايت الله لقبونه او رتبې ورکول کېږي، ږيرې، تورې لونګۍ او سليقې يې په ايران کې ډيزاينېږي او بيا افغانستان ته صادرېږي، چا ته د قم مدرسې جوړوي، چا ته(( خيابانونه)) چا ته ((دانشګاوې)) او چا ته هم ((استانونه))، چاته  ((تلويزونونه)) او چا ته ((کوثر))، ((نور))، (نورين) او ((تمدن)) خو دا ټول داستانونه چې ګورې سر يې دلته او بېخ يې ايران ته رسي. د افغانستان په حکومت کې هم د پاکستان ځای اوس ايران نيولی، ايران که هر څه وغواړي کولای يې شي، حتی حکومت يې له ډاره امريکايانو ته هم نه شي ويلای، کله چې ايرانی وسله ونيول شي، نو بيا د حکومت ځيني ايران پلوه ډنډورچيان وايي، چې دا نو په ((تور بازار)) کې نيول شوې، له دې څخه معلومېږي، چې يوازې د ايران وسله په تور بازار کې اخيستل شوې او بيا دلته خرڅېږي او د نورو ټولو هېوادونو وسلې په ((سپين بازار)) کې.ايران



اوس په هرات، باميان، ميدان وردک، کابل، غزني، فراه، نيمروز، بلخ او نورو ولايتونو کې د مذهب تر چتر لاندې پراخ  نژادي کمپاين پيل کړی، خپلو پلويانو ته پيسې، وسلې او امکانات لېږي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په  حکومت کې حساسې سیاسي څوکۍ ترلاسه کړي، هم ځمکې راونیسي، هم ځان ته مخصوص ښارګوټي جوړ کړي، چې سبا ته  د ایران د سیاسي اهدافو لپاره ښه وسایل برابر شي. که د افغانستان حکومت په ملي کچه د ایران د لاسوهنې مخه ونه نیسي، نو یو وخت به افغانان د ایران د هر اړخیز یرغل د دفعې او رفعې لپاره ډېره زیاته قرباني ورکړي او د شوروي تر یرغل به هم افغانستان ته په زیاته  او درنه بیه پریوزي.

**د مذهب دعــوه دې پرېږده سړي خوره**

**ستا دعوه هله صحیح ده چې انسان شې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان اساسي قانون او انتخابات

**دا لیکنه په کابل کې د (ودان افغانستان) د موسسې له خوا د انتخاباتو په اړه په یوه جوړ شوي سیمینار کې اورول شوې او هم په رڼا مجله کې چاپ شوې ده.**

د انتخاباتو قانونیت: په افغنسان کې د انتخاباتو د قانونیت تر ټولو غټه او معتبره سرچینه د افغانستان اساسي قانون دی. ددې قانون (۴، ۳۳، ۶۰، ۶۱، ۶۲، ۶۷، ۸۳، ۸۴، ۸۵) ماده په مستقیم او نامستقیم ډول د انتخاباتو او د هغو د څرنګوالي یادونه کوي:

**۴ مه ماده:** په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري، چې په مستقیم ډول یې په خپله یا یې استازو له لارې عملي کوي.

**۳۳ مه ماده:** د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدلو حق لري.

**۶۰ مه ماده:** د جمهوري ریاست کاندید د خپلو مرستیالانو نومونه د ځان له کاندیدولو سره یو ځای ملت ته اعلاموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۱ مه ماده:** جمهور رئیس د رایې ورکوونکیو د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو رایو له لارې په سلو کې تر پنځوسو زیاتو رایو په ترلاسه کولو انتخابېږي.

- د جمهور رئیس وظیفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي.
- دجمهور رئیس د کار تر پای ته رسېدو دمخه د نوي جمهور رئیس د ټاکلو لپاره انتخابات له دېرشو تر شپېتو ورځو پورې موده کې کېږي.
- که چېرې په لومړي پړاو کې له کاندیدانو څخه یو هم ونه کړای شي چې په سلو کې تر پنځوسو زیاتې رایې ترلاسه کړي، انتخابات د دوهم ځل لپاره د انتخاباتو نتایجو دنېټې تر اعلان وروسته د دوو اوونیو په اوږدو کې تر سره کېږي، دا ځل هغه دوه تنه کاندیدان په انتخاباتو کې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې یې تر ټولو زیاتې رایې ترلاسه کړې وي.
- د انتخاباتو په دویم پړاو کې هغه څوک چې د رایو اکثریت ترلاسه کړي، جمهور رئیس ګڼل کېږي.
- که چېرې د جمهوري ریاست یو کاندید د رای ګیرۍ د لومړي یا دویم پړاو په جریان او یا تر انتخاباتو وروسته او یا د انتخاباتو د نتایجو له اعلان څخه پخوا مړ شي، نوي انتخابات د قانون له حکمونو سره سم کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۲ مه ماده: څوك چې جمهوري رياست ته کانديدېږي، بايد د لاندنيو شرطونو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونلري.

۲- د کانديدو پر ورځ يې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي.

۳- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.

• هېڅ شخص نشي کولای له دوو دورو زيات د جمهور رئيس په توګه وټاکل شي.

• په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور رئيس دمرستيالانو په برخه کې هم تطبيقېږي.

۶۷ مه ماده: • د جمهور رئيس د استعفی، عزل، مړينې او يا په صعب العلاجه ناروغۍ د اخته کېدلو په صورت کې چې د وظيفې د اجرا مخه نيسي د جمهور رئيس لومړی مرستيال د جمهور رئيس واکونه او وظايف په غاړه اخلي.

• جمهور رئيس خپله استعفی په خپله ملي شورا ته اعلاموي.

• د صعب العلاجه ناروغۍ تثبيت د هغه طبي هئيت له خوا کېږي چې ستره محکمه يې ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• په داسې حالاتو کې د نوي جمهور رئیس د ټاکلو لپاره په درې میاشتو کې دننه ددې اساسي قانون د یوشپېتمې مادې له حکم سره سم انتخابات کېږي.

• د جمهور رئیس مرستیالان ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم کولای شي ځان جمهوري ریاست ته کاندید کړي.

**۸۳ مه ماده:** د ولسي جرګې غړي د خلکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې انتخابېږي.

• د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه د انتخاباتو د اعلان څخه وروسته پای ته رسېږي او نوې شورا په کار پیل کوي.

• د ولسي جرګې د دورې تر ختمېدو دمخه له دېرشو څخه تر شپېتو ورځو پورې موده کې د ولسي جرګې د غړو انتخابات کېږي.

• د ولسي جرګې د غړیو شمېر د هرې حوزې د نفوسو د شمېر په تناسب زیات نه زیات تر (۲۵۰) کسانو پورې دی.

• انتخاباتو په قانون کې باید داسې تدبیرونه ونیول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازیتوب تامین کړي او د نفوسو په تناسب دې له هر ولایت څخه په اوسط ډول لږ تر لږه دوه ښځینه وکیلې په ولسي جرګه کې غړیتوب ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸۴ مه ماده:** • د مشرانو جرګې غړي په لاندې ډول انتخاب او ټاکل کېږي.

۱- دهرې ولايتي جرګې له غړيو څخه يو تن دمربوطې جرګې په انتخاب، د څلورو کلونو لپاره.

۲- د هر ولايت د ولسواليو د جرګو له غړيو څخه يو تن، دمربوطو جرګو په انتخاب، د دريو کلونو لپاره.

۳- پاتې درېيمه برخه غړي دمعلولينو او معيوبينو د دوو تنو او کوچيانو د دوو تنو استازيو په ګډون د هېواد له خبيرو او تجربه لرونکو کسانو څخه د پنځو کلونو لپاره دجمهور رئيس له خوا ټاکل کېږي.

• جمهور رئيس له دې اشخاصو څخه په سلو کې پنځوس ښځې ټاکي.

• هغه شخص چې د مشرانو جرګې د غړي په توګه انتخابېږي، په مربوطه جرګه کې خپل غړيتوب له لاسه ورکوي او دده پر ځای د قانون له حکمونو سره سم بل شخص ټاکل کېږي.

**۸۵مه ماده:** دا ماده د ملي شورا دغړيتوب لپاره د کانديدانو شرايط په ګوته کوي. د ولسي جرګې لپاره د عمر (**۲۵**) کاله او د مشرانو جرګې لپاره (**۳۵**) کاله قيدوي.

**۸۶ مه ماده:** د ملي شورا د غړيو انتخاباتي وسيقې، د انتخاباتو د څارنې خپلواک کميسيون له خوا د قانون له حکمونو سره سم څېړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز د اساسي قانون (۸۷، ۸۸، ۸۹، ۹۲، ۹۷، ۱۰۰) ماده د ولسي جرگې د داخلي چارو لپاره انتخاباتي عناصر لري.

د اساسي قانون شپږم فصل، ۱۱۰ مه ماده د لويې جرگې په باب ده، په دې ماده کې راغلي چې لويه جرگه دملي شورا له غړيو او د ولايتونو او ولسواليو د جرگو له رئيسانو جوړېږي.

## ۱۳۸ مه ماده: د ولايتي جرگو په باب ده.

دغه راز په اساسي قانون کې په ځينو نورو ځايونو کې هم په ضمني او تلميحي ډول د انتخاباتو او يا د انتخابي جرگو د جوړښت او په هغو کې د رايو ځرنگوالي ته اشاره شوې ده.

د افغانستان تر اساسي قانون وروسته دقانونيت بله مرجع د انتخاباتو هغه قانون دی، چې د انتخاباتو د خپلواك کميسيون له خوا جوړ شوی او دې اساسي قانون کې يې د جوړېدو سپارښتنه شوې: دې قانون په (۱۱) څپرکـو او (۶۹) مادو کې د انتخاباتو ځرنگوالی رانغاړلی دی. دا قانون اوس په ولسي جرگې کې تر کتنې او ځيرنې لاندې دی.

د انتخاباتو مشروعيت: د انتخاباتو تر قانونيت وروسته بل مهم ټکی چې د انتخاباتو لپاره ډېر مهم دی، هغه د ټاکنو مشروعيت دی. د ټاکنو د مشروعيت لپاره دغه لاندې څو ټکي ډېر مهم دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د انتخاباتي کمیسیون ناپېیلتوب:** کوم شی چې د انتخاباتو د مشروعیت لپاره مهم دی، هغه دادی چې د انتخاباتو ناظمین باید بې طرفه، ناپېیلي او ناګوندي اشخاص وي، چې د ټولو کاندیدانو د باور وړ وګرځي.
- **شفافیت:** بل ټکی چې د انتخاباتو د مشروعیت لپاره مهم دی، هغه د انتخاباتو د پروسې یا بهیر شفافیت دی، هر ډول، ابهام، شك او د پوښتنو نه ځوابونه د انتخاباتو مشروعیت ته زیان رسوي.
- **درایو کمیت:** د رایو وړ اشخاصو او رایو ورکوونکو د شمېر زیاتوالی د انتخاباتو له مشروعیت سره مستقیمه رابطه لري، څومره چې د ثبت شویو اشخاصو او رایه ورکوونکو شمېر زیات وي، همغومره پر پروسې د خلکو د باور څرګندویي کوي او د ټاکنو مشروعیت قوي کېږي.
- **د امکاناتو متوازن او متناسب وېش:** که چېرې د انتخاباتو چارواکي ټولو سیمو ته انتخاباتي امکانات په متوازن او متناسب ډول ونه وېشي، نو طبعاً یوه خوا یا ځینې کاندیدان په کې زیان ویني، عدالت نه رامنځته کېږي او دا کار د ځینو خلکو د نارضایتۍ سبب ګرځي.
- **د شکایتونو اورېدنه او ځوابونه:** د انتخاباتو په بهیر کې او د نتیجو تر اعلان وروسته که د معترضینو غوښتنو او شکایتونو ته معقول ځواب ور نه کړای شي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی مشروع غوښتنې او پوښتنې په سم ډول ځواب نه شي، نو طبعاً د انتخاباتو مشروعیت ته زیان رسېږي. د پورتنیو یادو ټکو ترڅنګ یو شمېر نور مسایل هم شته، چې د انتخاباتو مشروعیت ته ګټه او زیان رسولای شي، په مجموعي ډول معمولاً همغه انتخابات بریالي او درست ګڼل کېږي، چې قانونیت، شفافیت او مشروعیت ولري.

## انتخاباتي سیستمونه: په نړۍ کې له بېلابېلو

انتخاباتي سیستمونو څخه ګټه اخیستل کېږي، دا حتمي نه ده، چې هر انتخاباتي سیستم دې د هرې ټولنې او هېواد لپاره ښه وي، یو انتخاباتي سیستم په یو هېواد کې ډېر ګټور وي، خو په بل کې نه وي، اصلاً د یوه انتخاباتي سیستم دنده داده چې د خلکو رایه په دولت کې په متناسبه توګه په استازیتوب بدله کړي، یانې، سیاسي، سیمه ییز، جنسي، نژادي، قومي، اقتصادي، تعلیمي، تحصیلي، مسلکي، مذهبي، عمري، اداري او نور استازیتوبونه یا نمایندګۍ. یو سیستم په یوه ټولنه او بل په بله ټولنه کې ښه نتیجه ورکوي، داسې هم شوي، چې له یوه واحد سیستم څخه په یوه ټولنه کې ګوندونه او په بله کې ازاد کاندیدان ښه ګټه پورته کړي، لکه جاپان او اردن دواړه له یوې واحدې نه انتقالېدونکې رایې ( SNTV ) څخه کار اخلي خو په جاپان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي ګوندونه او په اردن کې خپلواك کاندیدان له دې ډول سیستم څخه د ځان لپاره ډېره ګټه اخلي.

دلته به د ځینو انتخاباتي سیستمونو یادونه وکړو او وروسته به یې پر ګټو او زیانونو هم رڼا واچوو:

۱- د واحدې نه انتقالېدونکې رایې سیستم: SNTV ( Single Non Transferable Vote) په دې سیستم کې یو رایه ورکوونکی حق لري د کاندیدانو په ډله کې یوازې یوه کاندید ته رایه ورکړي، دا رایه به پټه، سري، مستقیمه او نه انتقالېدونکې وي، یانې کاندید د نتیجو تر اعلان وروسته او دمخه حق نه لري، چې دا رایه بل کاندید ته انتقال کړي.

## ۲- د ټاکنو اکثریتي سیستم:

دا ډول سیستم یوه واحده حوزه لري، یانې هره حوزه یوه څوکۍ لري، د ساري په توګه د افغانستان ولسي جرګه (۲۴۹) څوکۍ لري، دا پر (۲۴۹) حوزو وېشل کېږي، په هره حوزه کې چې هر چا تر ټولو زیاتې رایې وګټلې، همغه ګټونکی ګڼل کېږي، په دې سیستم کې هم له واحدې نه انتقالېدونکې رایې څخه کار اخیستل کېږي.

## ۳- د متناسبې نمایندګۍ د لست سیستم (Proportional Representation list System):

هره سیاسي ډله او ګروپ د خپل لست د رایو په تناسب په ولسي جرګه کې څوکۍ ترلاسه کوي او رایې نه ضایع کېږي. دساري په توګه په یوه ولایت یا حوزه کې (۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوکۍ دي، که یو لست د ټولو رایو ۳۰% پوره کړي، نو درې ځوکۍ به په دې ولایت کې ترلاسه کوي.

## ۴- مخلوط یا مختلط سیستم:

دا د واحدې نه انتقالېدونکې رایې او د سیاسي ګوندونو د استازیتوب له متناسب لست څخه منځته راځي، لکه که په افغانستان کې د ولسي جرګې نیمایي ځوکۍ په موجوده یا تېر سیستم او نیمې هم د سیاسي ګوندونو له لستونو څخه انتخاب شي.

ددې ترڅنګ د واحدې نه انتقالېدونکې رایې په سیستم کې د تعدیل یوه بله بڼه هم شته، د ساري په توګه په افغانستان کې د لویو ولایتونو ځوکۍ پر څو وړو حوزو ووېشل شي. دغه راز دملي لست سیستم هم شته چې ټول هېواد یوه حوزه وي، هر ائتلاف چې څومره رایې وګټي، همغومره ځوکۍ به اخلي. اوس دنړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې له پورتنیو انتخاباتي سیستمونو څخه ګټه اخیستل کېږي، دا سیستمونه اکثره د پارلماني ځوکیو لپاره کارول کېږي، خو په ریاستي سیستمونو کې چې ولس نېغ په نېغه ولسمشر ټاکي، له واحدې نه انتقالېدونکې رایې څخه زیات کار اخیستل کېږي او نتیجه د اکثریت پر بنسټ اعلانېږي.


خو له دې سیستمونو څخه زیاتره په پارلماني او نورو شورایي انتخاباتو کې ګټه اخیستل کېږي. د نړۍ په کچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رایو د سیستمونو دکمیت څرنګوالی په دې جوړښت کې وګورئ!

## په نړۍ کې استعمالېدونکي انتخاباتي سیستمونه
### ( د ملي شوراګانو او ولسي جرګو لپاره)




اوس دهر سیستم ګټې او زیانونه په لنډه توګه یادوو، البته دا ټکی هم د یادونې وړ دی، چې دهرې ټولنې لپاره دهغې دسیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، قومي او مذهبي مناسباتو په پام کې نیولو سره یو یو سیستم ګټور تمامېږي، نه هر سیستم د همدې ټولنې لپاره، داسې هم کېدی شي، چې یو سیستم په یوه دوره کې ګټور وي، خو بله کې نه، یا هم برعکس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د واحدې نه انتقالېدونکې رايې سيستم ګټې، نيمګړتياوې او زيانونه:

### الف- ګټې:

- رايه په مستقيم ډول د رايه ورکوونکي په خوښه د خپلې خوښې کانديد ته ورکول کېږي.
- ازاد کانديدان په کې د بري زيات چانس لري.
- د زر او زور خاوندان په کې تر يوې څوکۍ د زياتو څوکيو د ګټنې چانس نه لري.
- د قومي، مذهبي لړکيو د بري چانس هم په کې زياتېږي.
- انتخابات يې هم نسبتاً اسانه، لګښت يې کم او د شمېرنې کار يې اسان دی.
- سياسي ډلې په اسانۍ نه شي کولای د انتخاباتو بهير او د څوکيو شمېر تر خپل کنټرول لاندې راولي.

### ب – نيمګړتياوې او زيانونه:

- د ډېرو زياتو رايو د ضايع کېدو احتمال شته.
- کېدی شي اقليت رايه ورکوونکي انتخابات وګټي او اکثريت يې بايلي چې دا بيا پر خپل ځای د انتخاباتو مشروعيت زيانمنوي.
- مشروع سياسي ګوندونه هم په کې وده نه شي کولای او زياتې څوکۍ نه شي ګټلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• د زیاتو او کمو رایو د بریالیو کاندیدانو ترمنځ د رایو وزن له منځه ځي.
• د بېلابېلو حوزو د بریالیو او ناکامو کاندیدانو د رایو د شمېر تضاد ښکاره کوي.

مانا دا چې په یوه حوزه کې یو شخص په شل زره رایو ناکام او په بله حوزه کې یو کاندید په دوه زره رایو بریالی دی.

• د تصادفي اشخاصو دبریالیتوب چانس هم زیاتوي او په دې ډول د لست د اوږدوالي سبب کېږي او داسې نورې نیمګړتیاوې.
• له داسې اشخاصو څخه جوړ شوی پارلمان هېواد ته سیاسي لوری نه شي ورکولای.

## ۲- د ټاکنو اکثریتي سیستم:

**الف- ګټې:** دا یو ښه سیستم دی، ځکه چې په هره حوزه کې د همدې واحدې نه انتقالېدونکې رایې په واسطه د اکثریت رایې اخیستونکی ګټونکی بلل کېږي.

• که په دې سیستم کې اکثریت پنځوس + یو وي نو عدالت نور هم تامینېږي.
• په دې سیستم کې هغه ګوندونه چې د ټول هېواد په کچه نفوذ ولري ډېره ګټه کوي.

دهېوادني او ګوندي نفوذ پر اساس پارلمان یو لاس او منسجمه بڼه خپلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب – نیمګړتیاوې او زیانونه:

• ازاد کاندیدان په دې ډول ټاکنو کې د بري کم چانس لري.
• دقومي او مذهبي لږکیو چانس هم کمېږي.
• که پرېکړه د نسبي اکثریت پر بنسټ وشي، نو بیا هم د ډېرو رایو د ضایع کېدو احتمال شته.

## ۳- دمتناسبې نمایندګۍ د لېست سیستم:

الف- ګټې: • د رایو د ضایع کېدو مخه نیول کېږي.
• هر څوك د خپل کمیت په اندازه پارلمان ته لاره پیدا کوي.
• سیاسي ګوندونه په کې زیات غوړېږي.
• اکثریت په کې د اکثریت او اقلیت په کې د اقلیت په اندازه ځوکۍ اخلي.

ب- نیمګړتیاوې زیانونه: • ازاد کاندیدان په کې په اسانۍ څوکۍ نه شي ترلاسه کولای.

که نا مشروع ګوندونه په ټولنه کې وي، نو دا پروسه د ځان په ګټه څرخولای شي.

## ۴- مخلوط یا مختلط سیستم:

الف- ګټې: • ګوندونو ته په کې هم د ګټې چانس شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• ازادو کاندیدانو ته هم.
• تر یوه حده د رایو د ضایع کېدو مخه نیول کېدی شي.
ب- زیانونه: • ګوندونه به هم خپلو اختصاصي څوکیو ته کاندیدان ودروي او هم به د ازادو کاندیدانو څوکیو ته!
• د ازادو او ګوندي کاندیدانو تفکیك سخت دی.
• مخکې تر مخکې ګوندونو ته یو ډول امتیاز دی.
د پورتنیو سیستمونو ترڅنګ د ملي لېست سیستم هم بد نه برېښي، خو هغه هم د ټول هېواد په کچه خپلې ګټې او زیانونه لري. دا چې ټول هېواد یوه واحده حوزه وي، ګټې یې دا دي چې د څوکیو د وېش مسله له منځه ځي او عدالت تامینېږي، خو په دې سیستم کې له سراسري ګوندونو پرته ازاد او محلي کاندیدان وده او کمپاین نه شي کولای او ګټونکي کاندیدان به هم د خپلو موکلینو پر وړاندې د مسولیت احساس ونه کړي.

## د افغانستان تېرو پارلماني ټاکنو ته یوه کتنه:

تر ځلوېښتو کلونو وروسته په افغانستان کې پارلماني ټاکنې وشوې، دې ټاکنو طبعاً بریاوې او نیمګړتیاوې لرلې، دلته یې په لنډیز سره دواړو ته اشاره کوو.
الف – بریاوې او ګټې: • خلکو په خپله خوښه په مستقیمه او سري توګه د خپلې خوښې کاندیدانو ته رایه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر نیمایي زیات هغه کاندیدان بریالي شوي، چې ولس غوښتل.
- د ټولنې د بېلابېلو قشرونو یوه نسبي نمایندګي تمثیل شوه.
- یو زیات شمېر ازادو کاندیدانو هم پارلمان ته لاره پیدا کړه.
- خلکو د انتخاباتو یوه ښه تجربه تېره کړه.

## ب- نیمګړتیاوې او زیانونه:

- د ډېرو رایه ورکوونکو رایې ضایع شوې، یانې دا چې ۶۸٪ رایه ورکوونکو انتخابات بایلولي، نږدې **۵-۸** ٪ رایې باطلې شوي او یوازې **۲۵**٪ رایه ورکوونکو انتخابات ګټلي دي.
- د دومره کمو رایه ورکوونکو په خوښه د ټاکنو د برخلیك ټاکل، د انتخاباتو مشروعیت او قانونیت ته ډېر زیان رسوي.
- ګڼ شمېر هغو کاندیدانو هم پارلمان ته لاره پیدا کړه چې لاسونه یې د ملت په وینو سره دي، خو دوی د زور او زر په استعمال پارلمان ته لاره وموندله. د (**۳۱۵**) هغو کاندیدانو له جملې څخه چې په تور لېست کې وو، نږدې (۷۰) تنه د پارلمان غړي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• د انتخاباتو پروسه په تېره بیا د شمېرنې بهیر شفاف نه و، د کاندیدانو له خوا (۷۰۰۰) شکایتونه وشول، خو یوه ته هم ځواب ونه ویل شو، دا په داسې حال کې ده، چې پر همدې کال په عراق کې د پارلماني انتخاباتو په ترڅ کې یوازې (۳۵۰) شکایتونه شوي وو.

او داسې نورې زیاتې نیمګړتیاوې خو بیا هم تر (نه پارلمان) دا (نسبي پارلمان) هم غنیمت دی. په یوه جنګ ځپلې ټولنه کې اوسمهال د ایډیال پارلمان جوړونه ممکنه نه ده.

## د راتلونکو پارلماني ټاکنو لپاره ځو وړاندیزونه:

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، هر انتخاباتي سیستم د همغې ټولنې د شرایطو په پام کې نیولو سره د پام وړ او ګټور دی، فکر کوم چې د افغانستان د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره (د یوې واحدې نه انتقالېدونکې رایې سیستم) له خپلو ډېرو نیمګړتیاوو سره سره ګټور برېښي، په دې برخه کې ځینې دلایل په دې ډول دي:

• خلك له دې سیستم سره اشنا دي.
• د ازادو کاندیدانو د بري چانس زیات دی.
• څرنګه چې سیاسي ګوندونه د پوخوالي مرحلې ته نه دي رسېدلې او اکثره یې بهرنی ملاتړ لري، نو ځکه په ولس کې خلك ورته د زړه له تله درناوی نه لري، که دې سیستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ټاکنې بل سیستم ( لېست سیستم) ته واړول شي، نو ګوندونه به په کې په نامشروع ډول زیاته ګټه وکړي.

- د زر او زور خاوندان یوازې د ځان د بریالي کولو چانس لري، نه دنورو ځان ته ورته او نږدې ملګرو د کامیابۍ چانس.
- که ازادو کاندیدانو او سیاسي ګوندونو ته څوکۍ بېلې هم شي، بیا به هم دوی دواړو ته کاندیدان ودروي.

دا سیستم د نسبي ګټو ترڅنګ د پام وړ نیمګړتیاوې هم لري چې په تېرو ټاکنو کې پېښې شوي، دهغو د مخنیوي په خاطر لاندې وړاندیزونه کېږي:

- د ټاکنو کمیسیون باید په رښتیا هم، ناپېیلی، غښتلی او د کاندیدانو د غوښتنو او شکایتونو ځواب ویونکی شي.
- د نفوسو د دقیق شمېر له مخې دې د پارلماني څوکیو وېش ترسره کړي ، په تېره دوره کې نږدې لس پارلماني څوکۍ په نا عادلانه ډول وېشل شوې وې.
- له داسې یو میتود څخه دې کار واخیستل شي، چې اکثریت رایې ګټونکی وګڼل شي، ددې یوه حل لاره داده چې د کاندیدو شرایط دومره سخت کړي، چې شهرت طلبي او د کمو رایو ګټونکي اصلاً کاندیدېدو ته زړه ښه نه کړي. دا کار کېدی شي د احتمالي جریمو او د ټاکنو د لګښت د یوې برخې د جبران په واسطه ترسره شي.
- د ټاکنو پروسه باید شفافه او رڼه وي او د خلکو پر شکایتونو، پر خپل وخت غور وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د سواد او بشري حقونو د معیارونو تطبیق هم کولای شي د کاندیدانو شمېر راکم کړي.

او داسې نور وړاندیزونه.

- وروستۍ یادونه: په افغانستان کې د انتخاباتو په اړه ډېر بحث ته اړتیا ده او اوږدې خبرې پرې کېدی شي، خو د وخت د اوسپلې په پام کې نیولو سره دا بحث همدلته ختموم.

**سرچینې:**


۱- د افغانستان اساسي قانون.

۲- د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود، الف څخه تر یا، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. (**۱۳۸۵**ل) کال.

۳- د انتخاباتو د قانون په اړه لنډ لارښود کتاب، د امریکا متحده ایالاتو د خلکو له خوا، **۲۰۰۷** سپتمبر.

۴- د پارلماني انتخاباتو موقت قانون او ځینې نورې سرچینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې سره سرشمېرنه

**دا لیکنه د ((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په (۱) ګڼه کې خپره شوې ده.**

ټاکل شوې ده د نړیوالې ټولنې او زموږ د یوه ګاونډي هېواد په مرسته او لېوالتیا د افغانستان احصایې د مرکزي ادارې له خوا د افغانستان عمومي سرشمېرنه واخیستل شي. د احصایې دمرکزي ادارې د مامورینو په وینا ، دا سر شمېرنه به د (۱۳۸۷ل) کال د زمري میاشتې پر (۱) نېټه پیل، پر (۲۱) نېټه به ختمېږي او ټولو شلو ورځو کې به د نږدې (۳۰) زرو مامورینو په مرسته په ټول افغانستان کې بشپړېږي. د هېواد په نامناسبو سیاسي او امنیتي حالاتو کې په بیړنۍ توګه ددې ډول یوې لویې پروژې پیلول د هېواد پالو افغانانو په ذهنونو کې ګڼې پوښتنې راولاړې کړي دي. اساسي اندېښنه داده، چې یو شمېر کورنۍ او بهرنۍ کړۍ غواړي په افغانستان کې طبیعي قومي اکثریت پر یوه اقلیت بدل کړي یا لږ تر لږه د اکثریت اصطلاح له منځه یوسي، یا اکثریت راکم کړي او یا هم اقلیتونه ورزیات کړي، په دې ډول به نو دوی له خپل نظر سره سمه سیاسي موخه ترلاسه او تر دې وروسته به بیا نورې سیاسي بې عدالتۍ ته لاره اواره کړي. ټول پر دې پوهېږي، چې په اوسني حکومت کې د یوه اقلیت زیاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونډه او د لوی اکثریت محرومیت، د سرشمېرنې پر رښتینوالي مستقیم تاثیر لري، خو بیاهم محدودې کړی، په دې هڅه کې دي، چې له خپل دې موقعیت او زماني چانس څخه د ځان په ګټه کار واخلي. اوسمهال څو داسې مهمې ستونزې دي، چې د سرشمېرنې پر وړاندې پرتې دي، تر هغې پورې چې دا ستونزې حل نه شي، سرشمېرنه اصلاً واقعي مفهوم نه لري، یوه خیالي او جنجالي موضوع به وي او بس.

دلته به په لنډیز سره ددې ستونزو یادونه وکړو:

- **امنیتي ستونزه:** د سرشمېرنې پر وړاندې تر ټولو غټه ستونزه امنیتي ستونزه ده، شپږ- اوه داسې ولایتونه دي، چې عملاً په کې ګرمه جګړه روانه ده، هلته له درنو وسلو او ځواکونو پرته ان د پولیسو تګ راتګ ګران دی، نو پاتې لا د سرشمېرنې د مامورینو شل ورځنی فعالیت. اوه - اته داسې ولایتونه دي، چې په هغو کې د جګړه ییزو پېښو اطلاعات شته او څلور- پنځه داسې ولایتونه دي، چې ناوړه امنیتي پېښې په کې کله کله پېښېږي، په مجموعي ډول (۱۹) ولایتونه داسې دي چې په سم ډول په کې سرشمېرنه نه شي ترسره کېدلی او نورو ولایتونو ته هم د سرشمېرنې د زماني واټن او تثبیت شوي مهال له مخې د نا امنۍ پېښې غځېدلای شي، په داسې حال کې چې د احصایې مامورینو یوازې د هلمند ولایت نا امنه ګڼلی اود سرشمېرنې له محاسبې یې ویستلی دی. د سرشمېرنې مامورین د کوم تضمین له مخې غرو، رغو، کلیو او بانډو کې سمه سرشمېرنه ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي؟ ایا د سرشمېرنې محلي او مرکزي مامورین به د خپل سر د قیمت په بیه د نورو د سرونو شمېرنې ته حاضر وي؟ پوره باور دی چې نه!

• **د مهاجرو ستونزه:** نږدې په سلو کې (**۱۵-۲۰**) افغانان بهرنیو هېوادونو کې مهاجر دي، په دې عمومي سرشمېرنه کې هغوی له پامه غورځول شوي، نو چې په سلو کې شل خلك د شمېرنې له بهیره وغورځي، نو دا خو د سرشمېرنې مشروعیت ته غټ زیان رسوي. دغه راز ګڼ شمېر افغانان دهېواد په داخل کې بېځایه شوي دي، د هغو شمېرنه هم د اصلي او اوسني استوګنځي په پام کې نیولو سره ستونزمنه ده، دا هم د سرشمېرنې پر وړاندې یوه ستونزه ده.

• **کلتوري ستونزه:** په کلیوالي او لرې پرتو سیمو کې ګڼ شمېر افغانان د ځینو کلتوري مناسباتو له امله دېته حاضر نه دي چې د خپلې کورنۍ د ښځینه غړو شمېر، نومونه، مدني حالت او د هغو د عمر کچه په دقیق ډول وښیي، که د احصایې مامورین دا ټول معلومات په دقیق ډول ثبت نه کړای شي، نو هغه به څه احصائیه وي او د څه شي درد به دوا کړي؟

• **د کوچیانو ستونزه:** د افغانستان دنفوسو یوه درنه او پام وړ برخه په ګرځنده او کوچیاني ډول ژوند کوي، چې زیاتره وخت په حرکت کې دي، ددوی د شمېرنې لپاره هم په دې سرشمېرنه کې کوم خاص پروګرام په پام کې نه دی نیول شوی، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا هم له محاسبې ووځي، د احصايې مامورينو ته له ځينو لويو ښارونو پرته نور څه پاتې کېږي؟

• د ګاونډيانو لاسوهنه: اساساً خو سرشمېرنه د يوه هېواد د بشري پرمختګ او سوکالۍ لپاره يوه مهمه بشري موضوع ده، خو په افغانستان کې له دې موضوع څخه يو جنجالي او سياسي موضوع جوړه شوې، ځيني بهرني هېوادونه په تېره بيا زموږ ځيني ګاونډي هېوادونه غواړي، چې په دې مسئله کې هم مداخله وکړي، د افغانستان پر هر اړخيزو معلوماتي مسايلو واکمن شي او په دې ډول خپل مذهبي او ژبني اړيکوال دلته زيات وښيي. دا په داسې حال کې ده، چې د نړيوالو معيارونو له مخې هېڅ ګاونډي هېواد په داسې مهمو کورنيو معلوماتي مسايلو کې د ګډېدو يا ککړتيا حق نه لري. که چېرې دا کار وشي، نو سرشمېرنه خپل باور له لاسه ورکوي. اوس چې ايران د نړۍ په کچه تر بل هر هېواد زيات د افغانستان د سرشمېرنې لېوال، مينوال او په کې دخيل دی دا طبعاً د افغانانو شکونه پيداکوي، د افغانستان هغه سرشمېرنه چې د ايران او يا پاکستان د لاسوهنو، همکاريو! او يا هم مداخلو له امله واخيستل شي، پر هغې به کوم رښتينی افغان باور وکړای شي؟

• د احصايې پر مرکزي ادارې د باور دنشتوالي ستونزه: په تېرو څو کلونو کې د احصايې مرکزي اداره تر ډېرې کچې سياسي او قومي شوې ده، په هغې اداره کې چې مشر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې مهم مامورين يې يو مشخص جنجالي تنظيم ته وفادار او له قومي پلوه هم د يوه قوم غړي وي او سرشمېرنه هم د دوی له خوا اخيستل کېږي، نورې سياسي او قومي ډلې به پرې څنګه باور وکړي؟ د ځينو معلوماتو له مخې د احصايې د مرکزي ادارې مشر د اسلامي جميعت د تنظيم وفادار غړی دی، د مامورينو شمېر يې د قومي ترکيب له مخې نږدې (۷۰) سلنه تاجك قوم پورې تړلی دی او نور پاتې د افغانستان نورو ټولو قومونو پورې اړه لري، نو داسې يو سياسي، سمتي او قومي ترکيب چې د احصايې په اخيستلو کې اساسي نقش ولري، څه فکر کېږي چې نور قومونه به پرې باور وکړي؟ د احصايې په الکترونيکه برخه (سافټ وير) او نورو په جوړونه کې هم چې ايرانيان دخيل وي، نو بيا به ښه او شفافه احصائيه ترسره شي!؟

• د احصايې تخنيکي ستونزې: د پورتنيو منفي عواملو ترڅنګ د احصايې رياست پر وړاندې ګڼې تخنيکي ستونزې هم پرتې دي، هغه پوښتنليکونه چې دوی چاپ کړي او د هغو په واسطه سرشمېرنه کوي، ډېره مشکله ده، چې د ښوونځيو ښوونکي او يا هم کم لوستي محلي خلك دې پر کم وخت، د هغو په سمې کارونې او دقيق ثبت پوه شي. د زماني واټن په تناسب د خلکو عامه پوهاوی هم ډېر سخت ښکاري، د احصايې مامورين وايي هغه سيمې چې د مامورينو تګ ورته د بېلابېلو عواملو له مخې ګران دی هلته د سپوږمکۍ يا سټلايت له لارې د کورونو احصائيه اخيستل کېږي او هر کور د منځې حد

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶) تنو غړو په ضریب ضربېږي او د هغې سیمې مجموعي کمیت معلومېږي. اول خو د (شپږو ضریب) په اطرافي سیمو کې دقیق ځکه نه دی چې دلته کورنی منځی حد تر دې پورته دی بیا که دا هم سم وي نو په دې کې خو د سړي (سر) معلوم شو، د عمر، جنس، مدني حالت، سواد، شغل او نور چې د احصایې اصلي هدفونه دي څنگه معلومېږي؟ که چېرې موږ پر احتمالي احصائیه ډډه لگوو، نو دا ډول احتمالي احصایې خو اوس هم شته، پر هغو ولې ډډه نه لگوو او د نړیوال معیار له مخې دې هر کال یو ټاکلی ضریب ورسره ضربېږي.

د (۱۳۵۸ل) کال احصائیه یوازې په دې دلیل نیمگړې گڼل کېږي چې هغه وخت د جگړو له امله د نورستان او پکتیکا په ځینو سیمو کې سرشمېرنه په سمه توگه ترسره نه شوه، خو اوس چې په (۱۹) ولایتونو کې سرشمېرنه په سمه توگه ترسره کېدی نه شي، ولې بیا د نوې احصایې پر اخیستلو ټینگار وشي؟ ددې ټینگار له مخې ښکاري، چې د احصایې اخیستلو تر شا سیاسي هدفونه پراته دي او دا مشخصې کړۍ غواړي، د نړیوالو له شتوالي او مصداق څخه په غلطه توگه گټه پورته کړي، له دې عملیې څخه هداف دادی چې دوی به ناسمه احصائیه واخلي او پر نړیوالو به یې تصدیق کړي، بیا به څوك ددې وس نه لري چې دروغ په رښتیا دروغ ثابت کړي. په دې برخه کې ډېر نور دلایل هم راوړل کېدی شي، چې دا لیکنه یې د ټولو د ځایولو وس نه لري، خو دولت ته زموږ وړاندیز دادی، چې اوس دې له نړیوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې څخه د سرشمېرنې لپاره پانګه راټوله کړي، په دې پانګې دې په ولسوالیو او ولایتونو کې د احصایې د مامورینو لپاره دفترونه جوړ کړي، خپل مامورین دې وروزي، د احصایې مرکزي ریاست دې د یوې ډلې او یوه قوم له انحصاره وباسي، د عامه پوهاوي کارونه دې ترسره کړي، کله چې په هېواد کې سراسري امنیت ټینګ شو، کورني کډوال او بهرمېشتي افغان مهاجر خپل هېواد ته راستانه شول، په حکومت کې د ځینو ډلو سیاسي ناقانونه واك ختم شو، په احصایې او نورو چارو کې د ګاونډیو هېوادونو د مداخلې هر ډول امکان له منځه لاړ، نو بیا دې تر هغه وروسته دا لویه ملي او بشري پروژه عملي شي، له هغې پرته دا ډول احصائیه چې نه په کې سرونه شمېرل کېږي او نه هم په کې کلي او ښارونه، یوه خیالي او سیاسي احصائیه ده او له یو سیاسي بحران او بشري غمیزې پرته به بله نتیجه ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که نړیوال ماته وخوري...؟

**دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۱) ګڼه کې چاپ شوې ده.**

د افغانستان یو ټولنپوه ویلي وو: " افغانستان داستثناتو هېواد دی، دلته د سیاسي او نورو پېښو وړاندوینه نه شي کېدی، هر ناممکن شی ممکنېدی او هر ممکن کار نا ممکنېدی شي." ددې خبرې مانا داده،



چې د فزیکي واقعیتونو او د ریاضي د خاصو ارقامو د محاسبې له مخې د افغانستان د پېښو ارزونه او شننه دقیقه محاسبه نه ده. هر بهرنی ځواك او هر كورنی جابر چې د افغانستان د واك پر ګدۍ ناست دی، نو اکثرو خپل اټکلیز بری د وسلو، پیسو او سرتېرو د کمیت له مخې ارزولی دی. له همدې کبله خو دلته د شلمې پېړۍ په لر کې انګرېزي امپراتورۍ او په بر کې یې کمونیستي یا روسي امپراتورۍ په ګونډو شوه. د خلکو ملي، عقیده یي او کلتوري ارزښتونه، چې د ریاضي په فورمولونو کې یې محاسبه ګرانه ده، هېڅ بهرني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورني زبر ځواك د جګړې په معاملاتو کې په سمه توګه نه دي ارزولي، له همدې کبله خو له سکندره تر چنګېزه او له چنګېزه تر انګرېزه او بیا تر هغو وروسته، سرو، شنو او سپینو لښکرو یوه هم دلته ښه ورځ نه ده لیدلې. تر اوږدو کورنیو جګړو وروسته یو ځل بیا افغانستان د ډول ډول بهرنیو ځواکونو او د هغو د کورنیو پلویانو او مخالفینو ترمنځ د سرې او تودې جګړې پر یو لوی ډګر بدل شوی دی.

دا ځل د جګړې شعار، مانا، رنګ او خوند بدل دی، د کمیت او کیفیت کچه او د مخالفو ځواکونو انډول هم ډېر توپیر کوي، د افغانستان هر وګړی او هر بوټی هم له جګړې څخه ستړی شوی دی. د جګړې ظاهري بڼه، شعار او څومره والی که هر څومره بدل دی خو یو شی چې بدل نه دی هغه دادی چې د جګړې محتوا او خصلت پر خپل ځای پاتې دي، د چنګیز، هلاکو، سکندر ، روسي او انګریزي لښکرو په لښکر کشیو کې هم افغانان وژل کېدل اوس هم وژل کېږي. که هغه وخت د زورواکۍ په نامه خلك وژل کېدل، خو اوس بیاهم همغه خلك وژل کېږي او همغه سیمې ورانېږي او همغه ولس کړول کېږي، چې پخوا کړول شوي وو، خو دا ځل د ولسواکۍ او ازادۍ په نامه. هېڅ شعار او هېڅ کورني او بهرني ځواك د جګړې اصلي خصلت ( ویجاړي) ته بدلون ورنه کړ او هېڅا د جګړې په خصلت کې د (ابادۍ) عنصر زیات نه کړای شو. دا چې د جګړې خصلت وژنه او تباهي ده، دا ورانی او تباهي بیا خپل خپل غبرګونونه لري او د تباهي له پاسه نورې تباهۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کوي. زه دېته ډېر ځورېږم؛ افغانانو چې د تاریخ په اوږدو کې کومه جګړه ګټلې هم ده، دوی په کې زیان کړی او که یې بایلولې هم ده د دوی په زیان تمامه شوې، د انګریزي او روسي امپراتورۍ تر ماتې وروسته د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونو خپله خپلواکي ترلاسه کړه او د ژوند د سوکالۍ تر پولې ورسېدل خو موږ دواړه ځله پر کورنۍ انارشۍ او جګړې اخته شوو او کله که مو مغولي او نورو همدینه یرغلګرو ته جګړه بایللې، نو بیا خو یې زموږ له سرونو کله منارونه جوړ کړي دي.

افغانستان اوس بیا له یو سخت سیاسي، پوځي او ټولنیز بحران سره مخامخ دی، که افغانان او نړیواله ټولنه په ګډه له یو ډېر دقیق تدبیر او پلان څخه کار وانه خلي، نو پایله به یې دواړو ته ډېره زړه بوږنوونکې او زیان رسوونکې وي. اوس غټه پوښتنه داده چې متفرق نړیوال ځواکونه به د افغانستان په اوسنۍ سریښندونې جګړه کې بریالي شي او که نه؟ یو اټکل چې اکثره جګړې پرې محاسبه کېږي دادی چې نړیوال ځواکونه ډېر امکانات او وسایل لري، پرمختللې وسلې او ډېر سرې لري او جګړه په همدې امکاناتو کېږي، نو که دا اټکل سم وګڼل شي، دې سره سړی ویلای شي، چې بهرني ځواکونه به دلته له کورنیو طالبانو او د هغو له بهرنیو ملاتړو جګړه وګټي. که بهرني سیاسي او پوځي ځواکونه او په خپله د افغانستان د حکومت ولسواک اړخ په حکومت کې دننه پوره پوره سمون راولي او حکومت مخالفه حکومتي ډله له حکومته وباسي او یا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزورې کړي، متوازن اقتصادي پرمختګ رامنځته کړي، د محلي او تنظیمي جنګسالارانو امتیاز ختم او پر ځای یې د ولس ونډه په حکومت کې زیاته کړي، د بهرنیو لاسوهنو په تېره بیا د ایران، پاکستان او روسیې لاسوهنې بندې او د هغو ځانګړې ډلې دلته په حکومت او تر حکومته بهر کمزورې او یا مهار کړي، نو ددې امکان شته چې په افغانستان کې سوله او ثبات ټینګ شي. واقعیت خو دادی چې د افغانستان د حکومت پر وړاندې اصلي چلینج طالبان نه دي، طالبان یوازې داسې یو جنګېدونکی نظامي قوت دی چې نه کوم سیاسي او نه هم کومه کلتوري او اقتصادي پالیسي لري، دا ډول قوتونه یوازې د وسلې په بندیز او د اقتصادي سرچینو په مهارولو سره بندېدلای شي، خو د افغانستان خلکو او حکومت ته هغه مخالفې ډلې چې په افغانستان کې مختلفې کلتوري، سیاسي، مذهبي،پوځي او اقتصادي اجنډاوې لري، هم د افغانستان دملي ګټو مخالفې دي او هم د بې ثباتۍ او ګډوډۍ سبب کېږي، دا ډلې تر هر چا زیاتې خطرناکې دي. ددې ډلو د خطر کچه ځکه زیاته ده، چې دوی مستقیماً له ځینو هغو هېوادونو څخه خړوبېږي چې دوی ورسره پوځي، اقتصادي، سیاسي، ژبني او مذهبي اړیکې لري او په ستراتیژیکه توګه د هغو هېوادونو د ګټو د خوندیتوب لپاره کار کوي. که پر دې ډلو بهرنۍ نامشروع مرستې بندې شي، دوی د افغانستان په سیاسي تحولاتو کې د ځان د مطرح کولو توان نه لري. دا ډلې یو داسې سیاسي مهارت لري چې اکثره هېوادپال

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني ګوندونه یې نه لري او یا یې نه غواړي. ددې ډلو مهارت دادی، چې دوی له بهرنیو ځواکونو سره ډېر ژر سازښت او جوړ جاړی کولای شي. دوی له تبلیغاتي پلوه هم ډېر فعال دي او ددې توان لري، چې خپله ملامتي پر بل چا واچوي. د ساري په توګه د جهاد په کلونو کې دې ډلو لومړی ځل له روسي لښکرو سره اوربند وکړ او هماغه وخت د شوروي اتحاد له پتهو خوړلنیو برخمن شول، خو کله چې روسي لښکرې ماتې شوې، د جهاد امتیاز هم دوی د ځان وګاڼه، که شوروي لښکرې افغانستان ته نه وای راغلې او بیا یې د وتو پرمهال او تر هغه وروسته دې ډلو ته لاره نه وای اواره کړې، دا محال وه چې د استاد برهان الدین رباني په شان یو څوك دې ددې توان پیداکړي، چې په افغانستان کې د واك پر ګدۍ کېني. دویم ځل بیاهم تاریخ تکرار شو، که چېرې امریکایي لښکرې افغانستان ته نه وای راغلې، نو بیا هم محال وه چې د رباني، فهیم، محقق، قانوني او دوستم په شان څېرې دې د افغانستان په سیاسي چارو کې دومره مطرح څېرې وي لکه اوس چې دي. دا ډلې هر وخت د بهرنیو لښکرو د وزرونو تر سیوري لاندې وده کوي. اوس چې د اکثرو لویدیزو هېوادونو لښکرې په افغانستان کې دي، د دوی د ودې لپاره ښه زمینه برابره ده، ځکه چې له خپل اصلي غلیم (طالبانو او د حکمتیار له اسلامي حزب) څخه یې بهرني ځواکونه ساتي او دوی پوره وخت او وس لري، چې دولتي څوکۍ د قومي او سمتي اړیکو پر بنسټ اشغال کړي، د ولسمشر حامدکرزي له فکري روحیې څخه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله ییز سیاست پر بنسټ ولاړه ده، هم ناوړه ګټه پورته کوي، ولسمشر ته د انارشۍ د زیګنال په ښودلو سره په حکومت کې نور نور امتیازات ترلاسه کوي. دا امتیازات ددې سبب کېږي چې د افغانستان په حکومت کې د افغانستان د بېلابېلو سیمو، قومونو او قبیلو ونډه او تناسب او د لیاقت اصل له منځه لاړ شي او د حکومت طبیعي جوړښت زیانمن شي. دا کار ددې زمینه برابروي چې د طالبانو، اسلامي حزب او نورو مذهبي جګړه، قومي او سیمه ییز عنصر هم له ځان سره ملګرې او د مخالفانو د جګړې د مشروعیت لمن پراخه کړي، په حکومت کې له دغسې یو نابرابره حالت سره سره بیا هم د اسلامي جمعیت په مشرۍ ځیني ډلې لا په دې امتیاز قانع نه دي او د حکومت د نا پېیلو او دیموکراتو عناصرو پروړاندې بېلابېلې جبهې او خنډونه جوړوي. دا کار به په پای کې ددې سبب شي، بهرني ځواکونه چې اوس په افغانستان کې د سولې د ټینګښت او ترهګرۍ د ځپلو دندې پر غاړه لري، په یوه بله نامفهومه او څو بعدیزه جګړه کې راښکېل شي، دا به داسې یوه جګړه وي، چې هدف، لورې او پای به یې یې معلوم نه وي، ضایعات او تلفات به یې هم زیات وي. اوس راځو دېته که دغسې یو حالت رامنځته شي افغانانو او نړیوالو ته به یې احتمالي زیانونه څه وي؟

## الف – افغانانو ته یې زیانونه:

که نړیوال ځواکونه په افغانستان کې ماتې وخوري په لومړي ګام کې یې تر ټولو ستر زیان افغانانو ته دی، افغانستان به یو ځل بیا د لسګونو څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلګونو وړو او لویو تنظیمونو ترمنځ د جګړو پر یوه ډګر بدل شي، څه ابادي چې د تېرو څو کلونو په ترڅ کې رامنځته شوې، هغه به بیا پر خاورو ایرو بدله شي، د حکومت نوې اډانه به بیا ویجاړه، قومي، ژبني، سمتي، ولایتي او ان کوڅه یي جګړې به پیل شي، په ملیونو افغانان به بیا مهاجرت ته اړ شي، په هېواد کې د پوهې او تمدن روان بهیر به پر ټپه ودرېږي، یو علمي کدر به هم په هېواد کې د کار او فعالیت مجال پیدا نه کړي او د مهاجرت لمن به ونیسي. افغانان به له هر پلوه دومره کمزوري شي، چې د حکومت د جوړولو توان ونه لري، فردي مصئونیت او




د ژوند د سمبالښت چارې به له منځه لاړې شي. په داسې یو حالت کې ګاونډیو هېوادونو لکه ایران، پاکستان، روسیې او زموږ ځینو سیالو یا رقیبو ګاونډیو ته به ددې زمینه برابره شي، چې په افغانستان کې پراخې لاسوهنې وکړي، ددې لاسوهنو نتیجه به دا وي چې یا به افغانستان ټوټې ټوټې کېږي، یا به په کې جګړه دوام پیدا کوي او یا به هم د طالبانو په څېر یو، افراطي مذهبي تحریک د پاکستان او ځینو عربي هېوادونو د خاصو کړیو په مرسته رامنځته کېږي او افغانستان کې به د منځنیو پېړیو داسې یو زورواکی نظام جوړوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسبي امن په کې وي، خو د تمدن او ژوند د نورو نښو نښانو ځرك به په کې نه لیدل کېږي، د تېرو تجربو پر بنسټ داسې یو نظام هم، ځینو ګاونډیو هېوادونو ته د زغم وړ نه دی او هغوی به بیا هم هڅه وکړي، چې دا ډول نظام بې ثباته کړي. طبیعي خبره ده چې په وروسته پاتې ټولنو کې افراطي مذهبي حکومتونه ډېر دوام کوي او ولسي ملاتړ لري، کېدی شي دا ډول مذهبي حکومت د ژوند له اسانتیاوو پرته خپلې پښې ټینګې کړي او که چېرې دا ډول نظام ټینګ شو، نو زیان به یې نړۍ ته څه وي؟

نړیوالو ته یې زیان: که په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو ترماتې وروسته ددین له اصلي جوهر پرته د مذهب تر چتر لاندې یو افراطي نظام واکمن شو، نو دا نظام به داسې نه وي، چې یوازې د افغانستان پر جغرافیایي محدودې بسنه وکړي، دوی به لومړی هغو ګاونډیو اسلامي هېوادونو ته چې سیکولر یا نامذهبي حکومتونه پرې واکمن دي، دبې ثباتۍ لارې ګودرې وګوري، کله چې یې دا ډول نظامونه ړنګ کړل، پوځي او مالي امکانات او بشري قوت یې زیات شو، بیابه هغو هېوادونو ته چې مسلمانان په کې اقلیت دي او تر ځینو محرومیتونو لاندې دي، لاس وروغځوي او بیا به په وروستۍ کټګورۍ کې نورې نا اسلامي نړۍ ته. که چېرې احیاناً اټومي او یا هم عصري وسله ددې ډول خلکو لاس ته ولوېده، نو بیا خو به له غربي نړۍ سره د مفاهمې خبره بېخي له امکانه ووځي، بیا نو دوه لارې دي: یا دا چې غربي نړۍ به له کوم دلیل پرته په مطلق ډول د دوی خبره مني

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا به هم د جنګ لاره خپلوي، دا دواړه هغه لارې دي، چې د اوسنۍ نړۍ د بېلابېلو تمدنونو، کلتورونو، ادیانو او خلکو لپاره د تحمل وړ نه دي، د بشر د سوکاله ژوندانه لپاره د نړۍ د بېلابېلو سیمو، خلکو او کلتورونو ترمنځ توازن، همکاري، همغږي او تفاهم په کار دی. که هره کینه او ښي افراطي نظریه د نړۍ له یوه لوري پر بل لوري تحمیلېږي، نتیجه یې له ټکر او تباهۍ پرته بل څه نه ده، اوس چې نړۍ د یوه کلي حیثیت لري او د علم د یوه جال په واسطه یوه سیمه له بلې سره نښلول شوې، دغسې یو بل ته د ګټې او زیان رسولو لارې چارې هم اسانه شوي دي، اوس که د نړۍ کومه جنګي ډله وغواړي نورو ته په اسانۍ سره زیان رسولای شي، نو ددې زیان د مخنیوي په خاطر ښه لاره داده، په هره هغه سیمه کې چې منفي، افراطي او جګړه مار ګروپونه او ډلې را پیدا کېږي، د هغه محیط د وقایې له لارې باید دا ګروپونه له منځه لاړ شي، په افغانستان کې د څو محدودو افراطي ډلو د مخنیوي لاره دا نه ده چې دلته له ډېر زور او بمبارد څخه کار واخیستل شي، ځکه دا خپله یو افراطي عمل دی او زموږ په ټولنه کې دا ثابته ده چې یو افراط بل تفریط او بل تفریط بیا بل افراط زېږولای دی، نو دلته که نړیواله ټولنه غواړي خپل انساني مسئولیت ادا او په راتلونکي کې ځان هم له جنجاله خلاص کړي، ښه لاره دا ده، هغه عوامل تشخیص کړي، چې په سیمه کې د جنګ او افراط د ټوکېدو سبب شوي دي، ددې جګړې او افراط داخلي عوامل په سیمه کې فقر، لوږه، بېسوادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بېکاري ده، که په سیمه کې د تمدن بېلابېلي پروژې عملي شي، پوهنه عامه او خلکو ته د کار او روزګار چارې برابرې شي او دغه راز په حکومت او ځینو نورو ارګانونو کې د هغو



افراطیونو او جنایتکارانو لمن چې پخوا هم په هېواد کې د بدمرغۍ سبب شوي او اوس هم د ځینو بهرنیانو تر وزرونو لاندې په هېواد کې د اقتصادي او سیاسي مافیا له لارې غواړي سوله او امن ګډوډ کړي، لمن راټوله شي، نو پوره باور دی، چې په افغانستان کې تلپاتې سوله ټینګېدی شي. افغانان اساساً سوله دوست خلك دي، ځنګه چې سوله د افغانانو او ټولې نړۍ لپاره د نوش دارو حیثیت لري، نو بایده دي، چې ټول په ګډه په پوره تدبیر د سولې د ټینګښت لپاره کار وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ثور اوومه او اتمه د یوې غمیزې دوه سرونه

**دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۱) گڼه کې چاپ شوې ده.**

د افغانستان اوسنۍ غمیزه د ۱۳۵۷ ل کال د ثور پر اوومه نېټه پیل او په تېرو دوو لسیزو کې یې بېلابېل بشپړتیایي پړاوونه ووهل. ویل کېږي چې د خلکیانو په یوویشت میاشتنۍ واکمنۍ کې تر (۳۰) زرو زیات افغانان په جابرانه توگه ووژل شول او بې شمېره نور مهاجر شول، د شوروي لښکرو له یرغل سره سم د کارمل –نجیب د واکمنۍ پر مهال نږدې یو نیم ملیون افغانان ووژل شول، نږدې همدومره معیوب او معلول شول او اتکل شپږ میلیونه افغانان تر هېواده بهر مهاجرت ته اړ شول، ددې مهال جگړو په ترخ کې نږدې دوه ملیونه کورونه ړنگ شول. تر دې مهاله د شوروي لښکرو او د هغو د لاسپوڅي حکومت شتوالي د مختلفو جهادي ډلو پر گڼو عیبونو پرده غوړولې وه او د دوی هر ناوړه عمل ته یې د مشروعیت رنگ ورکاوه، خو کله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسيې په ملاتړ شمال ټلوالې د ملګرو ملتونو سوله ييز پلان له منځه يوړو، نو د ډاکټر نجيب الله حکومت هم رنګ شو. دا وخت د اصلي او جعلي مجاهدينو اصلي څېره هم ښکاره شوه، هغه چا چې د مجاهدينو نقاب يې اغوستی و هغوی هم هغه کارونه وکړل، چې که تر کمونيستي ډلو زيات نه وو، نو کم خو هم نه وو، دې ښاغلو يوازې په کابل ښار کې تر پنځه شپېته زرو زيات کابل ښاريان ووژل او تر اتيا زرو زيات کورونه يې رنګ کړل، ملي موزيم يې لوټ کړ او د افغانستان وسلوال پوځ يې له منځه يووړ، يو ځل بيا بهرنيو هېوادونو ته په لکونو څه چې په مليونونو افغانان مهاجر شول، لنډه دا چې خلکو پر زاړه کفن کش شکر ووېست. د شوروي لښکرو د شتوالي پر مهال د جګړې زيات بار پر نا ښاري يا کليوالي لرې پرتو سيمو پروت و او ددې نورو ښاغلو بيا پر ښارونو. په افغانستان کې جګړه داسې کور پر کور وګرځېده، چې نه يې په ښار کې څه پرېښودل او نه هم په اطراف کې، د هېواد ټوله شتمني يې له يوې مخې جارو کړه.

افغان ولس فکر کاوه چې د وخت په تېرېدو سره به ټول سياسي او ملي جنايتکاران پر خپلو جنايتونو اعتراف وکړي، نور به نه په سياسي چارو کې ګوتې وهي او نه به د قدرت لېوال وي، خو دوی له تېرو تجربو څخه بيا هم عبرت وانه خيست؛ د امريکا د بې دوه پنځوس الوتکو تر وزرونو لاندې په افغانستان کې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهادي او الحادي ډلو له نوې را لورول شوې ولسواکۍ بیا یو بل ډول ګتېه پورته شوه، دوی ولسواکي بیا د ګډوډۍ، سازشونو او ائتلافونو په مانا وانګېرله او له دې فضا څخه یې د خپلو تېرو جنایتونو د پاتې برخې د غځونې او اتمام لپاره کار واخیست، یو ځل بیا ډلې جوړې شوې، یو ځل بیا جبهې سازې شوې او یو ځل بیا د پردې تر شا او د پردې پر مخ، وراسته ، زیږه او کرغیړن ائتلافونه را وټوکېدل. پخوانيء ارزښتونه او معیارونه بدل شول او د زمانې او عصر له نوي ډول سره سم د اتڼ نوې جامې واغوستل شوې، پخوانی ملحد نن مجاهد شو او نننی مجاهد دملحدینو له ګریوانه سر وکېښی، سړی حیران پاتې شي چې دا دومره اوښتنې راوښتنې او دا دومره رنګبدلونه د څه لپاره؟ دوی فکر کوي که افغانستان کې د ملحدینو او مجاهدینو ائتلاف جوړ شي، نو دا به له خلکو څخه د دوی هغه پخوانی جنایتونه هېر کړي؟ نه هېڅکله نه داسې نه ده، هر کله چې دې ډول عناصرو د ائتلاف کومه غونډه کړې، پر همغه ورځ لوی خدای(ج) په خپل قدرت سره د دوی د جنایتونو یوه بېلګه خلکو ته څرګنده کړې ده، کله چې ددې جبهه یانو د ائتلاف صحنه له تلویزیونونو ښکاره شوې، پر همغه ورځ یا په بدخشان کې ددې جبهه یانو د یوې ډلې له خوا د وژل شویو افغانانو ډله ییز قبرونه موندل شوي یا د چمتلې په دښته کې، یا هم په مزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف او نورو سیمو کې ، نو جنایت، جنایت دی، پټېدونکی نه دی، که دوی هرځومره هلې ځلې وکړي، بیا هم (غر) په (پر) نه



شي پټولای، خو تردې هم لا د شرم خبره دا ده، چې دوی اوس د ثور (۸) چې د ثور (۷) زېږنده ګڼل کېږي، د ملت په وینو د شاندارو(!) مراسمو په ترخ کې نمانځي او تردې لا هم د شرم وړ بله مسئله دا ده، چې دا ورځ د منتخب حکومت له خوا دبیت المال په پیسو چې ټول ولس، کونډه رنډه، یتیم، صغیر، معلول، معیوب، خوار اوغریب په کې حق لري، نمانځل کېږي. ایا منتخب حکومت ددې حق لري چې د بیت المال پیسې په تېره بیا د کابل ښاریانو مال د هغو (سرو) او (تورو) ورځو نمانځلو ته وقف کړي، چې د دوی له ورونو، اولادونو، مېرمنو، پلرونو او تنکیو ماشومانو یې د ژوند حق اخیستی دی؟ ایا هغه ښاغلي چې د ثور پر (۸) نېټه واک ته رسېدلي هغوی خپله هم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې ته وفادار دي؟ او که وفادار وای نو ولې یې ددې فاجعې د لومړۍ ورځې له وارثینو، سید محمد ګلاب زوی، نورالحق علومي، عبدالرشید دوستم او نورو ښاغلو صاحبانو! سره یوه نا مقدسه او نا متجانسه جبهه جوړه کړې ده؟ ایا دا جبهه ددې لپاره ده چې د کابل پر شهیدانو او د افغانستان پر ټولو شهیدانو ریشخند ووهل شي؟ چې ځنګه مو د نر غوندې ووژلۍ او ځنګه مو درته له اولادونو ډله ییز قبرونه جوړ کړل؟ او اوس هم دادی داسې زور لرو چې خپل لاسونه ستاسو په وینو او خولو ووینځو، ځانونه پاك کړو او خپل جنایت در باندې د افتخار په توګه ومنو! نږدې یوه میاشت کېږي چې د کابل د حضوري چمن په سیمه کې یا د ماښام له خوا لاره بنده وي او یا هم د سهار له خوا، په لکونو افغانان چې له دې لارې تېرېږي، نو د لارې د بندښت له امله له ګڼو ستونزو سره مخامخېږي، ټول په یوه خوله اوسني حکومت ته داسې کنځلې کوي، چې د کاغذ پر مخ د لیکلو وړ نه دي، له خلکو سره دا سوال دی، هغو خلکو چې د همدې چمن شا او خوا سیمه او بیا ټول کابل له خاورو سره برابر کړي دي، د همغې ورانۍ پر ایرو اوس جشن جوړوي؟ دا داسې مانا ورکوي لکه چې څوك په هدیره کې د خوښۍ سازوسرود جوړوي، دولت په شپږو کلونو کې حضوري چمن چې د کابل ښاریانو د لوبو ځای دی اباد او شین نه کړای شو او اوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې سپېرې دښتې  بڼه لري، چې د لوبو  پر وخت  ګردونه  ترې پورته کېږي، میوند واټ  او نورې ورانې سیمې خو څه کوې، نو دا دومره  په لسګونو میلونو افغانۍ  چې په اصطلاح پر دې جشنونو لګېږي دا د څه لپاره؟ ددې جشنونو(!) نمانځل د کابل ښاریانو پر ټپونو د مالګې دوړولو په مانا دي. جمهور رئیس حامد کرزي ته  د افغانستان خلکو په دې خاطر رایه نه ده ورکړې چې دی به د خلکیانو او جمعیتیاتو د کودتاوو ورځې نمانځي او دبیت المال پیسې  به پر دې ورځو مصرفوي. که د



ولسمشر کرزي د واکمنۍ  په شپږو کلونو کې  د ثور د اتمې د نمانځنې  ټول لګښت محاسبه کړو نو د کابل ښار ډېر سړکونه، په تېره بیا د جشن د تاریخي سیمې ټولې ورانې ویجاړې برخې پرې ښې ښکلې ابادېدلای شوې. په هدیرو او کنډوالو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرې او جشنونه خوند نه کوي، تاسو یو عاطفي شخص یاست، تاسو نه د چا مال خوړلی او نه دې څوك وژلي دي. پردې مړي پر ځان مه را اړوه، هغوی چې خلکو ته د مړي نڅاوې (رقص مرده) ښودلای شي ، هغوی چې د کابل له جګو غونډیو کابل ښار ورانولای شي، هغوی چې د پردیو په لمسون او ملاتړ سور او تور ائتلاف جوړولای شي، هغوی دا ډول غملړلې ورځې هم نمانځلای شي، هغوی له ځانه د شرم جامې ایستلي دي، هغوی د هر ډول ګناه پر وړاندې واکسین شوي او د ولس ښېرا او پېغور پرې تاثیر نه کوي، نو تاسو باید د ائتلافیانو دلیکو پر ځای د مظلوم ولس په لیکه کې ودرېږئ، دومره مظلوم ولس چې پر ښارونو او کورونو یې د خپل قاتل عکس ځړېدلی، خو دی یې نوم هم نه شي اخیستلای....

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښاغلي ((کمال)) بې کماله څرګندونې

څو ورځې دمخه د پاکستان د سند ایالت د کراچۍ ښــار نــاظم اعلــی (ښاروال) ښاغلي ((مصطفی کمال)) له یوې پاکســتانۍ رســنۍ ســره داسې څرګندونې وکړې، چې هېڅکله هم لــه یــوه متمــدن او عاقــل انسان سره نه ښايي. هغه ټول پښتانه ((ترهګــر، مفســد، وحشــي او د القاعدې غړي وبلــل)) او څرګنــده یــې کــړه، چــې ((دوی غــواړي د پاکستان د کراچۍ ښار اشــغال کــړي)). ښــاغلي کمــال پــه دې ډول وغوښتل د کراچۍ پخواني تــاوتریخوالي تــه چــې د ښــار د بېلابېلــو اوسېدونکو، سندیانو ، پښتنو، مهاجرو، بلوڅو او نورو قومي ډلو ترمنځ د ګڼو عواملو له امله وخت پر وخت پېښېده او لا پېښــېږي، بلــه بڼــه ورکړي او په دې ډول خپله بې کفایتي پټه کــړي. ځینــو فاشیســتانو، متعصبو او بې کفایته واکمنو ته القاعده او طالبان داسې یوه وسیله ده، چې هر وخت پرې خپله بــې کفــایتي پــاکولی شــي. نــو اوس چــې د پاکستان په شان یوه بې ثباته او ګڼ قومیزه ټولنه کې هر فساد خپــور شي، واکمن یې سم له لاسه له القاعدې او طالبانو سره وتړي، که څــه هم دا فساد په ټولنه کې د سیاسي او حکومتي ډلو د بې غوریــو او یــا هم د ځینو وسلوالو داړه مارانو له خوا رامنځته شوی وي، خو حکومت او ځینې مغرض اشخاص یې ژر طالبانو ته منســوب کــړي، طالبــان او القاعده هم تش په دې خاطر چې په مطبوعــاتو کــې یــې سیاســي او نظامي حضور مطرح شي، پردي مړي پر ځــان را اړوي او د هــرې وړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوړې پېښې مسئولیت پر غاړه اخلي، دا چې طالبان یـا القاعـده څـه وايي او څه کوي دا د هغوی خپل کار دی، خو دا چې ځینې اشخاص او ډلې یو بشپړ قوم او ملت په طالبانو او یا هم القاعـدې پـورې تـړي، دا خبره د غور،تامل، دقت او تحلیل وړ ده، په تېره بیا دا چـې پاکسـتاني چارواکي د خاصو غرضونو له مخې یوه مذهبي افراطي ډله په یـو قـوم پورې تړي او هغه ته يې منسوبوي دا نو بیا له هغه قوم سره یـوه ډېـره لویه جفا ده.

ټولو ته معلومه ده چې طالبان او القاعده چا راټوکولي، څه کوي او څـه يې وکړل او چاته يې ډېر زیات زیان واړاوه؟ که عادلانه قضـاوت وکـړو طالبان او القاعده هغه ډله ده چې تر ټولو زیات زیـان یـې پښـتنو تـه واړاوه او اړوي يې، تراوسه طالبانو د لروبرو پښتنو د اولادونو پرمخ پـه سلګونو ښوونځي تړلي او که د دواړو غاړو پښـتانه ماشـومان حسـاب کړو، نو لږ تر لږه دوه ملیونه ماشومان د دوی له لاسه ښوونځیو تـه نـه شي تللای، ایا دا دوستي ده؟ او دوستي همداسې وي؟ که دې تراژیدۍ ته څوک دوستي وايي، نو دا دوسـتي دې دوی تـه مبـارک وي او کـه څوک ورته دښمني وايي، نو بیا خو دې دښمنۍ ته ورودانګي او پښتنو سره دې له دې تراژیک حالته په راوتو کې مرسته وکـړي. حقیقـت دا دی چې د پښتنو پر وړاندې د سیمې د هېوادونو د ځینو خاصو کړیو او سیاستوالو له خوا یوه ژوره توطیه روانـه ده، چـې دا ډول څرګنـدونې ددې توطيې یوه برخه ده، له ښاغلي کمال څخه که وپوښتل شي، چې د القاعدې زیات او مهم غړي تراوسه پورې چېرته نیول شوي دي؟ نـو څه به ووايي؟. لږ تر لږه دې د جنرال پرویز مشرف ارقامو تـه مراجعـه وکړي، هغه په خپله اعتراف کوي، چې موږ تراوسه پـورې د القاعـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷۵۰) تنه مهم غړي امریکایانو ته په لاس ورکړي، دا به کمال صــاحب ته معلومه وي چې ددې شمېر اکثره برخه، پــه کراچـــۍ، اســلام ابــاد، راولپېنډۍ، فیصل اباد او د پاکستان په نورو مهمو ښــارونو کــې نیــول شوې او بیا پر امریکایانو پلورل شوي دي، دا چې دوی جنګ ولــې پــه لروبرو پښتون مېشتو سیمو کې متمرکــز کــړی، دې کــې د پښــتنو د دښمنانو چل دی؛ هم به د پښتنو سیمه ورانه ویجاړه شي ، هــم بــه د پښتنو سرونه غوځ شي او هم به له نړیوالې ټولنې سره د ټکر له امله په نړۍ کې بدنام شي. عجیبه خبره خو داده چې جنګ د پښتنو په سیمه کې روان ساتل شوی، خو د القاعدې د مشرتابه غړي بیا پــه ناپښــتون مېشته لویو ښارونو کې نیول کېږي. له ښاغلي کمال څخه که وپوښتل شي، چې رمزي یوسف، ابو زبیده، رمزي بن الشیبي، خالد شیخ محمد، یاسر الجزیری، توفیق اتش خالد او د القاعدې نور په سلګونو مهم غړي چېرته نیول شوي او چېرې یې پر امریکایانو مړي او ژوندي پلورل شوي دي؟ نو دی به څه ووایي؟. که کمال صاحب کې واقعاً د عــدالت کمــال وي، نو دې پوښتنو ته باید سم ځواب ووایي.

ایا همدا پاکستان او د هغوی استخباراتي سازمانونه نه وو، چې هم یــې د طالبانو او القاعدې په جوړولو او ځواکمنۍ کې اساسي ونــډه لرلــه او هم یې بیا د له منځه وړلو او کمزورۍ لپاره له امریکایانو ســره لاس یــو کړ او ډېره پانګه یې ترې ترلاسه کړه او ایا بیا هم همدا کړی د طالبانو او القاعدې د تقویې لپاره کار نه کوي؟ له یوې خوا له امریکایــانو پیســې اخلي او له بلې خوا ورته د طالبانو او القاعدې په واسطه جنګ ګرموي، جنګ یې هم بیا په پښتنو سیمو کې متمرکز کړی، چې ټول زیــان یــې همدې قوم ته واوړي، نو ښاغلی کمال صاحب! کوم جنګ او لوبه چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو او ستاسو استخباراتي کړیو پیل کړې او ټول سود او ګټه یې تاسو ته درځي او زیان یې پښتنو ته، نو مهرباني وکړئ د ملامتی مســئولیت یې هم پر ځان ومنئ، د خپل بام واورې د بل پر بام مــه اچــوئ، اوس د کمپیوټر زمانه ده، هر څه ښکاره کېږي، ډېر ژر به، هــم پښــتانه او هــم نړیواله ټولنه پوه شي چې د چا په اوږو کې شګه ده؟ څوک اوبه خړوي او کبان په کې نیسي؟ څوک ظالم دی څوک مظلوم دی؟ څوک منافق دی څوک صادق دی؟ څوک ترهګر دی او څوک د ترهګــرۍ قربانیــان دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((نه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي))
## ( راسته پوښتنې او سرچپه ځوابونه)

**دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۱) گڼه کې چاپ شوې ده.**

| پوښتنه | ځواب |
|---|---|
| په افغانستان کې ملي اتل څوك دی؟ | چې پر کابل یې ډېر توغندي توغولي وي. |
| افغانستان چا وران کړ؟ | بې وسلې افغانانو. |
| کابل چا وران کړ؟ | کابل ښاریانو! |
| د ولسمشر کرزي دښمنان څوك دی؟ | هغوی چې ورته ډېره رایه یې ورکړې وه. |
| دوستان یې څوك دي؟ | ټلواله او هغوی چې هېڅ رایه یي نه ده ورکړې. |
| افغانستان کې څوك ډېره مداخله کوي؟ | برازیل او نیکاراگوا. |
| په افغانستان کې څوك هېڅ مداخله نه کوي؟ | ایران او پاکستان. |
| مجاهدین څوك دي؟ | هغوی چې هېڅ جهاد یې نه دی کړی. |
| چې جهاد یې کړی هغوی څوك دي؟ | فراریان او باغیان. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| شیخ محمداصف محسني ته ثوك پیسې ورکوي؟ | خپله يې پیداکوي، څه ایران خو يې نه ورکوي؟. |
| افغانستان ته د چا مرستې بې غرضه دي؟ | د روسیې ا وامریکا. |
| ثوك د پنجشېر د زمردو قاچاق کوي؟ | طالبان. |
| د چا نظام پر ټول افغانستان واکمن و؟ | د استاد برهان الدین رباني. |
| مارشال چاته ویل کېږي؟ | چې دبهرنیوهېوادونوپه عسکرو يې خپل هېواد نیولی وي. |
| په افغانستان کې د فکري ثبات مجددي. | حضرت صاحب صبغت الله |
| خاوند سیاستوال ثوك دی؟ | |
| انجنیر چاته ویل کېږي؟ | چې د خپل هېواد دورانۍ نقشۀ جوړوي. |
| ثوك دی چې له ځوانۍ تردې دمه دهېواد پر ابادۍ او سوله ییزو چارو بوخت دی؟ | انجنیر ګلبدین حکمتیار. |
| د افغانستان لوی ولایت کوم دی؟ | پنجشېر. |
| کوچنی کوم دی؟ | هلمند. |
| د حامدکرزي ډېر لرې مخالفین ثوك دي؟ | احمدضیا مسعود او کریم خلیلي. |
| کوم تلویزیون د ایراني کلتور پر ضد سخته مبارزه کوي؟ | طلوع تلویزیون. |
| کوم تلویزیون افغاني کلتور نه | شمشاد. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپروي؟

ځوك له پښتو ژبې سره ډېره مينه لري؟ — رهنورد زرياب.

ځوك په افغانستان كې ملي وحدت غواړي؟ — لطيف پدرام.

كوم تنظيم په حكومت كې هېڅ ونډه نه لري؟ — جمعيت اسلامي.

كوم وكيل دی چې هېڅ انتقاد نه كوي؟ — رمضان بشردوست.

افغانستان كې ډېر جنګيالی سياستوال ځوك دی؟ — حامدكرزی.

ځوك د سولې او امن كوتره ده؟ — جنرال دوستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نړیوالو ځواکونو د شتوالي ضرورت او قانونیت

دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۲)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.

له نږدې دوو کلونو راهیسې شمال ټلوالې ( اوسنۍ (متحده ملي جبهــه) او ددې ترڅنګ دېته د ورته اهدافو لرونکې بلــه جبهــه ( متحــده ملــي شورا)، په خپلو تبلیغاتي غونډو، میټنګونو، مظاهرو او مرکو کې په پرلــه پسې ډول ټینګار کوي، چې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې شــتوالی دې ((قانوني)) شي. له ((قانوني کېدلو)) څخــه ددې پورتــه دوو ټلوالــو خپل تعبیر او خپل تفسیر دی، چې غواړو وروسته پرې رڼا واچــوو، خــو اوس په عام ډول راځو دېته، چې افغانستان کــې د نړیوالــو ځواکونــو د شتوالي اړتیا شته که نه؟ او که اړتیــا یــې وي، نــو د ((قــانون)) کــومې ځواکمنې کورنۍ او بهرنۍ سرچینې باید دا تائید یا رد کړي؟

**۱- په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو ضــروروت: پــه عــام ډول** افغان ملت په خپله خاوره کې د هیڅ بهرني ځــواک شــتوالی نــه شــي زغملی، خو کله که د بهرني ځواک شتوالی د بېلابېلو کورنیــو او بهرنیــو عواملو له امله حتمي او ضروري شي، نو بیا افغانان خپلو ملي ګټــو تــه د تعقل له مخې په دې باب فکر کولای شي، چې کوم ځواکونــه د څــومره وخت لپاره ضروري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه افغانان چې د هېواد د ملي ګټو د ساتنې پر رازونو پــوهېږي، هغــوی ددې ضرورت احساسوي، چې دا بهرني ځواکونه باید تر هغه مهالــه پــه افغانستان کې پاتې شي، چې افغانستان او د هغه پوځ، د مغرضو ګاونډیو هېوادونو د پټو او ښکاره لاسوهنو د مخنیوي جوګه شي، نوره نــړۍ لــه افغانستانه د خوندیتوب احساس وکړي، د دې ولــس پــه رګونــو کــې د متمدن ژوند وینه وچلېږي او په هــر اړخیــز ډول دا هېــواد د جګــړې او جګړه مارو له اسارته خلاص شي. تر دغسې یو حالت وروسته نه نړیــوال دلته د پوځونو د رالېږو پلمه جوړولای شي او نه ورته ضرورت لري او نــه افغانان بیا د بهرنیو ځواکونو راتګ زغملای شي، اوس خو چې افغانــانو د طالبانو د سقوط پر مهال د بهرنیو ځواکونو پر وړاندې سخت حساســیت ونه ښود، علت یې دا و چې طالبانو او تر دې دمخه شمالټلوالې له خلکــو سره داسې بد چلند کړی و، چې خلک ترې تر پوزې راغلي وو او هر نوي تحول ته یې اړتیا لرله. د بهرنیو ځواکونو په راتګ سره دلتــه سیاســي او قانوني بهیرونه که څه هــم پــوره پــوره عادلانــه نــه وو، پیــل شــول، د افغانستان د پرمختګ لړۍ روانه شوه، که چېرې ځینې سیاسي تېروتنې نه وای شوې، نو اوسنۍ بریاوې به تر دې هم زیاتې وې. پــه تېــرو پنځــو کلونو کې په افغانستان کې شوې رغونه د افغانستان د پنځوسو کلونو له رغونې سره انډول ده. څرنګه چې افغانستان دېرش کلنې جګړې دومره ځپلی چې هر څومره ابادي په کې کېږي، بیا هم نه معلومېږي، نــو ځکــه اوسنۍ ابادي د چا په نظر ډېره زیاته نه ښکاري. د خلکــو تقاضــا هــم د خلکو عادلانه قضاوت ته زیان رسوي، ځکه د بهرنیو ځواکونو پــه راتــګ سره د خلکو تقاضا دومره لوړه شوه، چې له واقعیت سره یې مطابقت نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود، هر کله چې د واقعیت او تقاضا ترمنځ واټن رامنځته شي، د خلکو سالم قضاوت ته زیان رسېږي.
نو ځکه خو په افغانستان کې د تېرو څو کلونو پر مهال پر شوي کار، هــم شوې تبصرې او هم قضاوت عادلانه نه دي. البته شکایت که پــر دې وي چې له دې امکاناتو څخه نوره هم موثره ګټه اخیستل کېدلای شوه، خــو د سیاسي بې عدالتیو او اداري نیمګړتیاوو له امله له دې نړیوالې پــانګې او طلایي چانس څخه مثبته ګټه پورته نه شوه، دا انتقــاد بیــا پــر ځــای برېښي. د نړیوالې ټولنې له سیاسي او پوځي حضور سره سره اوس هــم افغانستان په داسې یو حالت کې دی، چې مرستې او لاسنیوي ته لا اړتیا لري. که همدا اوس هم، نړیواله ټولنه خپل پوځونه له افغانستانه وباســي او خپلې مالي مرستې بندې کړي، نو دلته به بیا څه غوبل جوړ شي؟ ایا د نویمو کلونو لوبې به بیا تکرار؟ او ان تر هغه بدتر حالت بــه رانــه شــي؟ د تجربو له مخې وایو، چې همداسې به کېږي، نو افغانان باید د خپلــوملي ګټو په پام کې نیولو سره، ګاونډیو هېوادونو، په تېره بیا ایران او پاکستان ته ددې مجال ورنه کړي، چې نړیوال ځواکونه دلته په تنګ او په شا کړي او وروسته بیا د هغوی پر ځای د دوی پټ او ښــکاره عســکر او ملېشــې دلته داخل شي. د یو شي یا مسلې قانونیت د هغو د ضرورت لــه مخــې معلومېږي، نو اوس چې موږ، د افغانستان ضرورت ته په ژور نظر ګورو، نو په ډاګه ښکاري، چې د نړیوالو ځواکونو شــتوالي تــه اړتیــا ده، همدغــه ضرورت ددې ځواکونو قانونیت ته لاره اواروي.که څه هــم ددې خبــرې زغم یو خپلواک انسان ته ډېر سخت پرېوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- د نړیوالو ځواکونو د شتوالي قانونیت:** لکه څنګه چې دمخــه مو یادونه مو وکړه؛ د نړیوالو قوتونو د شتوالي ضرورت، د هغو د قانونیــت سرچینه ده، خو بیا هم د نړیوالو او ملي اصولو او حقوقو له مخې داســې قانوني او حقوقي سرچینې شته، چې دوی له هغو څخه قــانوني مجــوز ترلاسه کړي. په دې قانوني سرچینو کې یو هم د ملګرو ملتونو ســازمان او بل هم خپله د افغانستان دولت دی. د سپتمبر د یوولسمې نېټې تــر پېښې وروسته، ملګرو ملتونو د خپل (۱۳٦۸) پرېکړه لیک له مخــې پــر امریکا شوی برید وغانده، د امریکا متحده ایالت یې متضرر یــا قربــاني شوی هېواد وګاڼه او د خپلې دفاع حق یې ورتــه ورکــړ. بیــا دملګــرو ملتونو د امنیت شورا (۱۳۸٦) پرېکړه لیک چې تطبیــق یــې اجبــاري حکم لري، د امریکا متحده ایالاتو ته د دې حق ورکړ، چې خپل دښمن، په هره سیمه کې چې وي، تعقیب کړي، هغوی د همدې پرېکړه لیــک له مخې د طالبانو حکومت ړنګ کړ او بیا یې د بن نړیوال کنفرانس تــه لاره اواره کړه. په دې کنفرانس کې چې د ځینو سیاسي ډلو، لــه هغــې جملې نه د شمالټلوالې استازي یې هــم اساســي غــړي وو، د ملګــرو ملتونو د غړو هېوادونو له خوا پرېکړه وشوه، چــې افغانســتان تــه بــه نړیوال سوله ساتي ځواکونه ځي، په پیل کې به د کابل او وروسته به بیا د نورو سیمو امنیت ټینګوي، په دې ډول په افغانستان کې د ائتلاف او ایساف دواړو ځواکونو شتوالي لپاره نړیوال حقوقي مجوز رامنځته شــو، دا چې دا مجوز د ځینو په نظر عادلانه دی که نا عادلانه دا نــو بیــا بېلــه خبره ده. البته د ملګــرو ملتونــو د نــورو ایجنســیو د پرېکــړو تطبیــق اختیاري دی، خو د امنیــت شــورا د پرېکــړو تطبیــق اجبــاري دی، نــه اختیاري ، که ددې شورا د پرېکړې مطابق کوم هېواد ته نړیوال ځواکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږل کېږي، هغه هېواد یې مخالفت نه شي کولای، په هر حال دا یو اوږد بحث دی، چې موږ ورته په اجمالي ډول اشــاره وکــړه، ددې ترڅنــګ د افغانستان د دولت درې واړه ارګانونه چې پــه واقعیــت کــې د همــدغو نړیوالو ځواکونو د شتوالي زېږنده دی، هم تراوسه پــورې لــه حقــوقي او قانوني پلوه د نړیوالو ځواکونو شتوالی نه دی چلنج کــړی، د افغانســتان دولت پر دې پوهېږي، چې که نړیوال ځواکونه همدا نــن لــه افغانســتانه ووځي، نو د دوی شتوالی به هم ورسره ختم شي، نو هغــه دولــت چــې شتوالی یې د بل چا په شتوالي پورې تړلی وي، هغه به لــه عملــي پلــوه څومره مشروعیت او توان ولري چې د بل چا د مشروعیت په اړه فیصــله وکړي. ددې ترڅنګ افغانستان د امریکا متحده ایالاتونو ســره یــوه اوږد مهالې ستراتیژي هم لري، دا هم ددې ایجاب کوي، چې پــه افغانســتان کې تر بشپړ ثبات پورې نړیوال ځواکونه دلته مېشت وي.

خو دا چې ولې یو شمېر ډلې او سیاسي اشخاص، د بهرنیو ځواکونــو د قانونیت خبرې کوي، د دوی بګراونډ(شالید) ته هم باید لږ نظــر وشــي، چې دا ډول څرګندونې د صداقت له مخې دي کــه د چــل او فریــب لــه مخې؟: دا هغه ډلې دي، چې تر ټولو دمخه همدوی چغې وهلې چې ژر ژر دې امریکایي ځواکونه راشي او موږ دې د طالبانو لــه مرګونــو ګوزارونــو وژغوري؛ هغه څوک چې نن د ناټو او ایساف  ځواکونو د وتلو او یا قانوني کولو غوښتنه کوي، دا همغه خلک دي چې ستوني یې هغــه وخــت لــه ډېرو چغو کېناستل او تر ټولو دمخه یې امریکــایي ځواکونــو تــه لبیــک ووایه، هغه وخت یې د ((قانونیت)) نوم هم په خولــه وانخیســت، خپــل کورونه یې امریکایي ځواکونو ته په ډېله کرایه ورکړل او اوږه پر اوږه لکــه د اجیرو ملېشو په څېر د امریکایانو ترڅنګ د طالبانو پر ضد وجنګېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډېره وخته يې امريکايي پوځونو سره باډيګارډي وکړه او اوس هم لګيا دي همدې کسب ته ادامه ورکوي، خو دا چې اوس د نړيوالو ځواکونـو د قانوني کېدو خبرې کوي، علت يـې دادی چــې دوی لا نــورو سياســي امتيازاتو ته دام ايښی دی، دوی فکــر کــوي، چــې نړيــوال بــه پــه دې ((قانونيت)) ووېروي او په پای کې به هغوی دوی سره سياسي امتيــاز او معاملې ته غاړه کېږدي. دوی فکر کوي، چې د ولســي جرګــې مشــرتابه دوی سره دی او په حکومت کې هم د ټلوالې ونډه درنــه ده، نــو لــه دې قوت څخه به پر بهرنيو ځواکونو د فشار د يوې وســيلې پــه توګــه کــار واخلي.

ايران او پاکستان هم دلته د بهرنيو ځواکونو له شــتوالي څخــه پــه تشويش کې دي، نو دا ډلې هم له پخوا نه ددې هېوادونو له سياســي او نورو کړيو سره پټې او ښــکاره يــارانې لــري، نــو ځکــه خــو د دې هېوادونو پټه رابطه هم له دې قضيې سره ردېدلای نه شــي. دې کــې هم هېڅ شک نه شته، چې د بهرنيو ځواکونو خپــل ســري او نــاوړه عمليات او په هغو کې د سلګونو افغانانو بېګناه وژنه د هېڅ افغان پــر زړه نه اوارېږي او نه دا ډول عمليات د امنيت په ټينګښت کې کومــه مرسته کولای شي، بلکې تاثيرات يې لا منفي دي. هــېڅ شــعوري او ملتپال افغان د ډېر وخت لپاره د بهرنيو ځواکونو شتوالی حتی قانوني او ناقانوني، دواړه نه شي زغملای، خو ملتپال افغانان پر دې پوهېږي، چې اوسمهال نړيوالو ځواکونو ته پلمې جــوړول، د مغرضــو ګاونــډيو هېوادونو اشغالګرو ځواکونو راتګ ته د لارې اوارولو په مانا دي. څــه فکر کوئ، هغه څوک؛ په تېره دوه ټلوالې (( متحده ملــي جبهــه)) او ((متحده ملي شورا)) چې دواړه د يوې ســکې دوه مخونــه دي، کــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدا نن امریکایي او نړیوال ځواکونه نه وي، نو دوی به د یوې شېبې لپاره هم په کابل کې پاتې شي؟ بیا به یې ځـای کـولاب، اصـفهان او نورې سیمې نه وي؟ له دې ډول چغو او فریادونو ښخـه ددې خلکـو هدف دا دی، چې ښنګه کولای شي له همدې بهرنیو ځواکونو ښخه د**



**اوسنۍ اقتصـادي او پـوځي ګټې ترښنګ، نوره سیاسـي ګټه هم پورته کړي.**

**له بهرنیو ځواکونـو ښخـه هم، د ولس هیله داده، چـې خپـل سـري عملیـات دې زیاتي ودروي، د افغانستان د دولت له ولسواک اړخ سـره دې مرسـته وکـړي، چـې د افغان ملي پوځ، ملـي اردو، پولیس او ملي امنیت په ارګانونو کې بشپړ سمون راولي، دا ارګانونـه**



**دې پیـــاوړي کړي، ځکـه د دوی د یـــوه عسکر لګښت زمـوږ د سـلو عســـکرو د لګښـــت پـــه انـــدېول دی،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د افغانستان له کلتوري، ټولنیز، قومي او جغرافیـــایي جوړښـــت سره بلد نه دي او نه هم د چریکو جګړو تجربه لري، نو په دې خاطر د دوی او ملکي خلکو دواړو تلفات زیات دي، ددې په خاطر چې هـــم د دوی د لازیاتو زیانونو او تلفاتو مخه ونیول شي او هم د ملکي افغانانو، نو ښه لاره داده، چې خپله افغان پوځ په عصري وسلو سمبال او پــه هر اړخیز ډول ځواکمن شي، دا کار به د کورنۍ جګړې د مخنیـــوي او کنټرول لپاره هم لاره اواره کړي او پر مناســب وخــت بــه د بهرنیـــو ځواکونو د وتو زمینه هم برابره کړي، افغان پوځ به په چټک ډول ددې جوګه شي، چې په خپله د خپل هېـــواد ســاتنه وکـــړي او د ګاونـــډیو لاسوهنو ته ځواب ووایي. دا هغه لاره ده چې دواړو لوریو او زموږ عام ولس ته ډېره په ګټه ده. دا چې یو شو سیاسي مداریان هر وخـــت پـــه رسنیو کې چغې وهي، دا هغه خلک دي، چې په ولـــس کـــې اساســـي بنسټ نه لري او یوازې په یو شمېر پردیپالو رسنیو کې مطرح دي، دا همغه خلک دي، چې هم یې د بهرنیو ځواکونو د راتګ پر مهـــال ډېـــر امتیاز اخیستی او اوس بیا غواړي د ((قانونیت)) تر چتر لاندې د هغو د تنګولو له لارې نور امتیاز هم واخلي. نړیوال ځواکونـــه او د هغـــوی سیاسي ماهرین باید د افغاني ټـــولنې ددغـــو سیاســـي ســـوداګرو او پاړوګرو په چل او جادو پوه شي، تر دې زیات امتیاز ور نـــه کـــړي او د پخوانیو امتیازونو د سلب په باب یې هم جدي فکر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (( القاعده)) په افغانستان او ((الفایده)) په پاکستان کې

دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۲)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.

نږدې یوه نیمه لسیزه کېږي چې په نړۍ کې د (( القاعده)) په نوم یو نوی سیاسي بازار پرانیستل شوی دی. ددې بازار مارکیټونه هر چېرته پرانیستل شوي، خو هوښیار هغه دی چې په دې تور بازار کې خپله ناچله سکه وچلوي، خپل کوټه زر صفا کړي، سپین په تور او تور پر سپین واړوي. ددې بازار یوه زیاته برخه په افغانستان کې پرانیستل شوې، خو افغانان یې نه پېرېدونکي دي او نه پلورونکي، سودا نور خلک راوړي او پر نورو یې خرڅوي، راکړه ورکړه د نورو ده، خو ځمکه یې د افغانانو نیولې، داسې لکه د یوه فري زون په شان، فري زون خو ښه وي، یوه ټاکلې اندازه محصول خو د ځمکې خاوند ته ورځي، خو دا مارکیټ په فري زون کې هم فري دی. عجیب مارکېټ دی، امریکایان ترې یو ډول ګټه پورته کوي، اروپایان ترې بل ډول، روسان ترې بل رنګ، ایرانیان ترې بل او پاکستان، خو بیا د ګټې ګټه اخلي، ټول پېروی او د سر کوچ پاکستان ته ځي. که چېرې په افغانستان کې د القاعدې مارکېټ ببرته نه وای، نو امریکایانو هېڅکله هم دلته خپل مالونه نه شول خرخولای، روسیې ته هم پلمه نه پیداکېدله، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سیمه کې د خپلې تېرې ماتې غچ واخلي، ایران هم له خپل پخواني دښمن (طالبانو) سره د خپل لوی غلیم (امریکا) پر وړاندې تاکتیکي ملګرتیا نه شوه کولای او پاکستان ته هم ددې زمینه نه برابرېدله چې یو خرخ کړي او بل واخلي، یا زوړ رنګ کړي او نوی جوړ کړي او بیا د تېر دېرش کلن جنګي ماشین ارابه تاوه او زوړ داستان بیا له سره پیل کړي.

له دې لنډې یادونې څخه هدف دادی، چې داسې یوه حقیقت تــه مو متوجه کړي، چې څوک د القاعدې د دښمنۍ چیغې وهي، هغوی د القاعدې له وجود او نامه څخه تر هر چا زیاته ګټه پورتــه کــړې ده او څوک چې یې پر دوستۍ تورن دي، هغوی ته یې ډېر زیان اړولی دی. د جهاد په کلونو کې اسامه او د هغه ملګري د امریکا متحده ایالاتو په ملاتړ او هڅونه ښه په زغرده شوروي لښکرو پر ضد وجنګېــدل، تــر جهاد وروسته ددې ډلې غړي څه په سعودي، څه په افغانستان، څــه په سوډان او څه هم په نورو هېوادونو کې مېشته شول، خو د اوسنۍ شمال ټلوالې= ملي جبهې او د هغه وخت د اســلامي دولــت رئــیس پروفیسور برهان الدین، اسامه بن لادن له سوډانه اریانا افغان الوتکه کې افغانستان ته انتقال او دلته یې مېلمه کړ او سربېره پر دې یې تــر (۱۲۰) تنو زیاتو عربو ته د افغانستان تابعیت ورکړ، د جهاد په کلونو او تر هغې وروسته استاد رباني د اخوانیزم د تار په غځولو سره پــه دې بریالی شو، چې په عربي درهمو او ریالونو خپله سیاسي بقا خونــدي کړي او په تخار کې د (عبدالله بن مسعود) په نوم یو پوهنتون هــم د همدې سیروم له لارې ژوندی وساتي، خو کله چې طالبانو له اســامه سره نوې یارانه ټینګه کړه، نو د رباني پر زړې یارانې ګردونه پرېوتــل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو، چې د رباني تش په نامه سيار اسلامي دولت د افغانستان لــه خاورې اوټ کړی و، د القاعدې پخوانۍ دوستۍ او نوې دښمنۍ ورته د نوش دارو حيثيت غوره کړ، د سپټمبر پر (۱۱) يې يو ځل بيــا د بخــت ستوری راوخوت او د بي (۵۲) امريکايي الوتکو تر سيوري لاندې يــې نوې ساه واخيسته، د شمال ټلوالې ټول داړه مــاران لکــه د ســمڅې ياران له غارونو راووتل او پر ښارونو راتويې شول، د خيال پاچا يو ځل بيا د واک د عمل پر ګدۍ کېناست، طالبانو د القاعدې د دوستۍ مزه وڅکله، د ملا عمر تخت او بخت دواړه نسکور شــول. د افغانســتان د هويت او ځمکنۍ واکمنۍ د کورنيو مخالفانو ترڅنګ بهرنيو هېوادونو هم د القاعدې له دوستۍ او دښمنۍ څخه ښه د مزې ګټه پورته کــړه. که په کورنۍ کچه د رباني په مشرۍ شمالټلواله په پيل کې د اخوانيزم د نظريې له امله په اسامه او د هغه پر استاد عبدالله عزام وياړېدله او د هغوی له دوستۍ او دښمنۍ يې ښه ګټه پورته کړه، نــو پــه بهرنــۍ کچه پاکستان هغه هېواد و، چې هم يــې د القاعــدې او نــورو عــرب ګروپونو په جوړونه کې تر حده زيــات امتيــازات، د همــدې عربــو او لويديزې نړۍ څخه ترلاسه کړل، خو کله چې د ځــای د ((جارســتان)) راغی، نو تر ټولو دمخه همــدا پاکســتان پــه واز کــومي د امريکــا د خوشالۍ لپاره د القاعدې د مقابلې ډګر ته راودانګل، جنرال مشرف د جورج بوش د جګړې د ملاتړ په برخه کې د (هو) او (نه) پــه انتخــاب کې ډېر ژر (هو) انتخاب کړه او بيا يې دا هم غبرګه کــړه، چــې ((پــه سياست کې دوستي او د ښمني دايمي نه وي، دوستي او د ښمني د يو هېواد د ملي ګټو پر بنسټ ټاکل کېږي، اوس موږ تــه د پاکســتان ملي ګټې مهمې دي نه القاعده او طالبان)). طالبان چې زموږ په ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اکثره هسې هم یتیمان او بې سرپرسته ماشومان دي، له سیاسي پلوه هم پر ډېر سخت وخت بې سرپرسته شول او د خپلو پنجابي یارانو پنجابۍ توره او اسلامي وروروليي یې په خپلو سترګو ولیده، ان تر دې چې د طالبانو پر سفیر(ملا ضعیف اخوند) یې هم صرفه ونه کړه او امریکایانو ته یې د خپلې دوستۍ د اثبات د یوې نمونې او غوړې مړۍ په توګه ور ډالۍ کړ.

پاکستانیانو له القاعدې سره خپله زړه دوستي پر یوې نوې امریکایي دوستي بدله کړه او ددې دوستۍ په مقابل کې یې نږدې شل ملیارده ډالره له امریکا څخه ترلاسه کړل.

د القاعدې د ټکولو د روان بهیر له پیله بیا تر دې دمه هغه پټې او ښکاره مرستې چې امریکا له پاکستان سره کړي، تر هغو مرستو څو ځله زیاتې دي، چې امریکا له افغانستان سره کړي دي. د پاکستان لپاره دا یو طلایي چانس و چې څو یاغي عرب او څو نا شعوري طالبان او د هغوی جوړه شوې اډانه په شلو ملیاردو ډالرو وپلوري او د پاکستان ګټې تضمین کړي. پاکستان بیا هم پر دې بسنه ونه کړه، چې طالبان او القاعده یو ځل جوړ کړي او بیا یې ړنګ کړي او په دواړو حالتونو کې خپله چنده او انعام ترلاسه کړي، بلکې د سبانۍ ګټې لپاره یې هم ور پرانیستې پرېښود، د پښتنو قبایلي سیمه یې یو ځل بیا د داسې خوځښتونو لپاره عیاره او د جګړې د جاري ساتلو امکانات او بستر یې ورته برابر کړل. ددې لپاره چې د القاعدې شبکه په بشپړ ډول له منځه لاړه نه شي، نو د القاعدې د مشرتابه شورا مهم غړي یې د پاکستان په لویو سیاسي او صنعتي ښارونو کې ځای پر ځای کړل او جنګي ډلې یې په پښتنو مېشتو سیمو کې ځکه خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، چې د جنګ د جاري ساتلو جوګه وي، د ورانۍ زیان هـم دوی وزغمي، سیاسي مسولیت هم د دوی پر غاړه شي او له نړیوالې ټولنې سره د ټکر کفاره هم دوی ورکړي، عجیبه خبره ده د القاعـدې مهـم سیاسي غړي اکثره په اسلام اباد، لاهور، راولپېنډۍ، کراچۍ، فیصـل اباد او د پاکستان په نورو ښارونو کې نیول شوي، خو جنګ د پښتنو په سیمو کې روان دی. د جنرال مشرف د څرګندونو له مخې تراوسه پورې د القاعدې (۷۵۰) تنه مهم غړي پاکستان نیولي او پر امریکا یې پلورلي دي، اکثره یې د پاکستان په پورتنیو یادو شویو ښـارونو کـې نیول شوي. د القاعدې ګڼ شــمېر غــړي همــدا اوس د پاکســتان د استخباراتو او امنیتي ارګانونو تر نظر لانــدې د پاکســتان پــه مهمــو ښارونو کې خوندي دي او د هر یوه د سر قیمت او ارزښت معلوم دی، کله چې امریکایان لږ په قهر او پاکستانیان لږ بې پیسو شي، نــو بیــا پاکستاني جنرالان د القاعدې یو مهم غړی د یوې غوړې مرۍ په شان د امریکایانو تر ستوني تېر کړي او هغوی بیا ددې ښکار په بــدل کــې پاکستاني جنرالانو ته خپل انعام ورکړي، د ګټې دا بازار او مارکېټ به تر هغه روان وي تر څو چې د افغانانو د ملي شعور کچه نه وي اوچتــه شوې، افغانان باید پر دې پوه شي چې دا جنګ د څه لپاره او د چا په ګټه دی؟ ډېره دردونکې خبره دا ده، چې که د جګړې انــډول د یــوه فرضي احتمال له مخې د امریکایانو پر زیان تمام شي، نو بیا بــه هــم پاکستان هغه هېواد وي چې تر ټولو زیاته مادي او معنــوي ګټــه بــه ترلاسه کړي، همدا پاکستاني جنرالان به وي او وایي به چــې مــوږ د اسلامي وروروليٰ له مخې خپلو مسلمانو عربو وروڼو ته پنــاه ورکــړې وه، نړۍ مو تېر وېستې وه او د القاعدې مهم غړي مو خوندي کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې احتمال هم شته چې پاکستان امريکايانو ته د لوړ قيمت په بدل کې يو ځل بيا د طالبانو او القاعدې نوی راټوکېدلی قوت پر هغوی وپلوري او دا ډلې يو ځل بيا پر بد برخليک اخته کړي. ددې اټکل هم شته چې پاکستاني کمپاينران د نړۍ په کچه د غټو قدرتونو ذهنيت بدل کړي او ددې سيمې امنيت ترې په اجاره واخلي، پاکستان سره ددې ظروف شته چې دلته د يو داسې وروسته پاتې سياسي او مذهبي افراطي نظام د رامنځته کولو تابيا وکړي، چې د مذهبي او سياسي تنګنظرۍ پر اساساتو ولاړ وي، په سيمه کې د ژوند او تمدن ټولې نښې نښانې له منځه يوسي، خو ددغه غم په بدل کې په سيمه کې يوه ناخوښې سوله او امنيت ټينګ کړي،

دا به د امنيت داسې يوه جزيره وي، چې وګړي يې د جزاميانو په څېر په کې ژوند کوي، خو له نورې نړۍ او تمدنونو سره به اړيکي نه لري. ددغو ټولو احتمالي خطرونو په پام کې نيولو سره، ټول افغانان او طالبان بايد دې ټکي ته ځير وي چې د القاعدې په شان د يوه تحريک لپاره په ټوله افغاني خاوره کې د فعاليت د زمينې برابرول که هغه هر ډول دلايل او عوامل ولري، د افغانانو په ګټه نه ده او نه هم طالبان په دې ډول د يوه سياسي او شعوري ځواک په توګه په ټولنه کې د واک، ګرانښت او منښت خاوندان کېدلای شي، ددې ټولو سلسلو دوام د پخوانيو تجربو بيا تکرار دی، چې زيان به يې افغانان، افغاني ټولنه او په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library





**افغاني طالبان زغمي، خو ګټه به يې پاکستان او د هغوی په شان نورو هېوادونو ته چې ددې ډول تيوريو د جوړولو صلاحيت او ظرفيت لري، رسېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان پارلمان؛ د لرګي توره

**دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۲)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.**

**د بې وخته دیموکراسۍ همداسې بې ثمره ونه وي، کله چې امریکایي پوځونه افغانستان ته راغلل، نو دلته هم دبې وخته دیموکراسۍ ډولونه وغړول شول. د دیموکراسۍ نارو سورو او شعارونو دومره زور واخیست، چې له خلکو نه د نورو فکرونو او شعارونو لاره ورکه شوه. د ولسواکۍ په همدې ګرمه هنګامه کې د افغانستان د پارلمان یا ملي شورا ( ولسي جرګې او مشرانو جرګې) لپاره انتخابات وشول. سره له دې چې د زر او زور ډېرو خاوندانو له قانوني او ناقانوني لارو پارلمان ته لاره پیدا کړه، خو یو شمېر هېواد پالو افغانانو هم د خلکو د استازو په توګه د پارلمان غړیتوب ترلاسه کړ. سره له دې چې د پارلمان د غړو پر ترکیب، د خلکو نیوکې وې، خو بیا هم خلکو ته د هغو د شکایتونو د اورېدو یوه سرچینه پیدا شوه. په لومړیو وختونو کې د خلکو هیله زیاته وه، د خلکو هیله هغه وخت نوره هم زیاته شوه، چې ولسي جرګې نوې کابینې ته د باور رایه ورکړه، په دې باور رایه کې یو شمېر وزیران په ډېره مشکله د ولسي جرګې له چاڼه تېر شول، ښاغلی رهین او ښاغلی فرهنګ په کې په مطلق ډول ناکام شول، خو فرهنګ بیا وروسته د ډېر پسپسک او سمجوتې په وجه د کړکۍ له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې ببرته كابينې تــه لاره پيــدا كــړه، خــو د ښــاغلي رهــين ځــاى هندوستان شو.

تر هغه وروسته د ولسي جرګې ډېر وخت پــر خپلمنځــي نانــدريو، شخړو، قومي، تنظيمي او سيمه ييزو بحثونو تېر شو. د ولسي جرګې د شخصيت د اعادې لپاره دويم چانس هغه وخت پيدا شو چې د بهرنيــو او مهاجرينو چارو وزارتونو وزيرانو ته د نه بــاور (عــدم اعتمــاد) رايــې صندقونه كېښودل شول، ولسي جرګې دواړه وزيران لــه خپــل بــاوره سلب كړل، دې كار سره د ولسي جرګې حيثيت اوچت شو، يو وزير خو په خپله مخه لاړ، خو دا چې د دويم وزير سلب، د جمهور رئيس له خوا



(( ويتو)) شو او بيا ولسي جرګه پر دې بريالۍ نه شوه، چې پر حكومت خپله پرېكړه تعميل كړي، نو د ولسي جرګې حيثيت ته نور هــم زيــان ورسېد.

تر دې وروسته د ولسي جرګې د يو زيات شمېر غــړو زړونــه ســاړه شول، د غير حاضرۍ لړۍ چې له پخوا نه هسې هم روانه وه، نوره هــم ټينګه شوه، ځوک پر بهرنيو او ځوک هم پر كورنيو ســفرونو مصــروف شول، ځينو وكيلانو چې له پخوا نه يې له يــو شــمېر وزيرانــو ســره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



((کمېشنکارۍ)) تار ځغلولی و، دا لړۍ نوره ګړندۍ کړه، دا ډول وکیلان نور هم د خپلو ګټو تضمین ته وهڅېدل. په دې ډول د ولسـي جرګـې رنګ ورو ورو پیکه شو، خبره ان تر دې حده ورسېده چې ډېـر ځلـه د ولسي جرګې ورځنی نصاب هم نه پوره کېده. د بغـلان پېښـې هـم د ولسي جرګې قضاوت او عدالت تر سختې پوښتنې لانـدې راوسـت. د بغلان دردوونکې پېښه کې ولسي جرګې ډېر غوروپش وکړ، په نتیجـه کې د هغه ولایت ملکي او بې واسطې والي ډاکتر محمدعالم اسـحقزی د ولسي جرګې د قضاوت قرباني شو، دا په داسې حال کـې ده چـې د پېښې لومړۍ درجه امنیتي مسئولین؛ د ملي امنیت رئـیس او امنیـه قومندان لا سرې سترګې ګرځي، نه یوازې سرې سترګې، بلکـې کلـه چې د امنیه قومندان ښاغلي سیدخیلي په ټلېفون کې د ولسي جرګې مشر ښاغلي یونس قانوني ته سپکې سپورې وکړې او اخطار یې ورتـه ورکړ، نو د ولسي جرګې د رئیس پر اور او شور یې یخې اوبه تویې کړې. د ولسي جرګې د حیثیت د احیا لپاره تقریباً وروسـتی چـانس د روان کال د ثـور د اتمـې نېټـې د (( جشـن)) پېښـه وه، چـې نـړدې وه د افغانستان مشرتابه په کې له منځه تللی وای او هېـواد لـه یـوه لـوی سیاسي او پوځي بحران سره مخامخ شوی وای. پـه دې پېښـه کـې د ولسي جرګې یو بل هېوادپال غړی حاجي فضل الرحمن څمکنـی هـم قرباني شو، ولسي جرګې پر دې پېښې داسې یو فریاد پیل کړ، چې تـا به ویل که ټوله کابینه نه وي، نو د دې مـسئولو امنیتي ارګانونو مشران خو به په یو څو شېبو کې بې اعتماده او له حکومته رخصت کـړي، دوه وزیران او یو رئیس راوغوښتل شول، د ولسي جرګې اکثره غړي دومره په قهر وو، چې تر خولې یې اورونه بادېدل، وزیرانو او رئیس صاحب که

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ځان د سپیناوي لپاره خپلو خبرو ته ډېر سپېړوني ورکړل، خو څه نتیجه یې ور نه کړه، صندوقونه راوړل شول او ټول ولس په دې تمه و، چې اوس به ددې



دربو ښاغلو سابه په مالګه کړي، ولسي جرګې ګوزار وکړ، خو ګوزار یې داسې و، لکه د لرګي د توري ګوزار، ددې پرځای چې مقابل لوري ته زیان ورسوي،خپله توره ماته شوه او هغه وهم چې له حکومت او ولس سره د ولسي جرګې پر وړاندې موجود و، ټول په یو ګوزار له منځه لاړ، کله چې رای شمېرنه پیل شوه، نو په وزیرانو او رئیس کې د وینې




رنګ نه ښکارېده، ساعت وروسته هر څه سرچپه شول، دولسي جرګې کمېشنکاروغړو د سترګو په رپ کې د ټلېفون په غوږۍ معامله وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نتیجه کې هغه مسولین چې د حضوري چمن په ((ستره جبهه)) کې یې د دوه درې مخالفینو د ټکان له امله شرموونکې ماتې خـوړلې وه، د ملت د کور په پراخه جبهه کې په داسې حال کې چې د ملت اکثریـت استازي یې په مخالفه جبهه کې ولاړ وو، په فاتحانه ډول دا جبهه فــتح کړه او سره مخونه له پارلمانه راووتل، د پارلمان وکیلان خړ غوړونــه او بوس مخونه له ولسي جرګې د خپل کور پر لوري رهي شول او د ولسي جرګې کمېشنکار وکیلان په دې بریالي شــول چــې د ولســي جرګــې جبهه ماته او لوبه په خپله ګټه تمامه کړي. تر هغه وروسته ولس ته پــه ډاګه شوه چې ولسي جرګه د وراسته لرګي هغه توره ده چې پر هر چـا یې ګوزار کړې، خپله ماتېږي او هغه شخص تــه هــېڅ تـاوان نــه شــي رسولای.

دې ښاغلو ته د نه باور رایې تر دې بهیر وروسته، ولسي جرګه نوره هم پیکه شوه، اوس نو د لرګي له دې تورې، نه ولس ډارېږي او نه هم د





حکومت بې کفایتــه او باکفایته وزیــران. اوس چـــې ولســـي جرګې ته نه اعتبــار پاتې او نه ډېر عمــر، خو زه د یو افغان په توګـــــه د ولســـــي جرګې د هغو وکیلانو پر شخصیت او حیثیت ډېر ځورېږم چــې واقعــاً د ولس په رایه راغلي او خپل ملت ته د خدمت تلوسه او ولوله لري. مــوږ باید په ولسي جرګه کې د کمېشنکارو وکیلانو او ربښتینو استازو ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفاوت درک کړو. که ولسي جرګه رښتیا هم غواړي د خپل عمــر پــاتې برخه په حیثیت او اعتبار تېره کــړي، د صــداقت او درایــت تــوره دې راواخلي، سیمه ییز، ژبني، تنظیمي او سلیقه یي اختلافونــه دې یــوې خواته پرېږدي، د خپلو ځینو وکیلانو د پټو او ښکاره معــاملو مخــه دې ونیسي او د ملي ارمانونو د تطبیق لپاره دې پــه متحدانــه ډول هڅــې وکړي، هغه  وخت کېدی شي د ولسي جرګې شــان و شــوکت، بــرم او عزت تر لاسه شي او که حالات همداســې روان وي، نــو کېــدی شــي ولسي جرګه تر دې هم کم ارزښته او پیکه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې د سياسي شکايتونو کلتور

دا ليکنه هم د((قلموال)) جريدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۲)مه ګڼه کې د سريزې په توګه چاپ شوې ده.

په درې لسيز جنګ کې د افغانستان پر ډېرو ارزښتونو د ابهام وربځې خورې شوې، د ژوندانه د ډېرو ډګرونو معيارونه کمرنګ شول، له خلکو لاره ورکه شوه، ملامت او سلامت، خدمتګار او تخريبکار له خلکو لادرکه شول، د انتقاد، ونې هم تر وخت دمخه وده وکړه، تر اختناقي رژيم وروسته د ناکنتروله ((ديموکراسۍ)) رارسېدل، بله ستونزه وه، چې خلک يې په سياسي سفر کې ګډ وډ کړل. د سياسي انتقادونو دا بې هدفه لړۍ د ببرک کارمل د واکمنۍ له وروستيو وختونو پيل شوه، کارمل په پيل کې د شوروي راتګ د خپل ځان وياړ باله، خو وروسته چې جګړې زور واخيست، نو ده د روسانو د راتګ پړه پر پخواني واکمن (حفيظ الله امين) واچوله، د خپلې واکمنۍ پر وروستي مهال يې د خپل ګوند او حکومت پر ځينو مطرحو غړو هم سخت ټکونه وکړل.

ډاکټر نجيب الله هم دې لړۍ ته دوام ورکړ او په يوې غونډې کې يې د خلکيانو او پرچميانو دواړو له مخالفت نه سر وټکاوه او ويې ويل چې نه خلکي يم، نه پرچمي يم... او وروسته يې ((انتقاد و انتقاد از خود)) په نامه د انتقادي ويناوو يو کتاب هم چاپ شو. د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ په وروستيو کې هم، حکومتي لوړ رتبه او ټيټ رتبه مامورين

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره په انتقاد روږدي شول، ددې پر ځای چې د خپل هېواد او حکومت ظرفيت وسنجوي او له بحرانه د راوتلو لارې په ګوته کړي، ټولو له يوې مخې د انتقاد لمن ونيوله. تر هغه وروسته د تنظيمونو په ګډوډېزه واکمنۍ کې، خو انتقاد دومره عام شو، چې تنظيمي مشرانو او جنګسالارانو ورسره ببخي معافيت حاصل کړ، هغه وخت نو حالات دومره ترينګلي وو، چې د انتقاد تر کچې هم پورته وو او (( بې له تورې خلاصی نه و په کار)). تر هغه وروسته د طالبانو په زورواکه واکمنۍ کې خو په داخلي اوحکومتي کچه انتقاد د سره کفر معادل و، يوازې بهرنۍ راډيوګانې او رسنۍ وې چې له طالبانو سره يې مقابله کولای شوه، نور نو د هېواد په داخل کې د هر چا ژبه او قلم تړلي وو او د رسنيو پر شتون دسانسور خپسه ناسته وه. د طالبانو د واکمنۍ تر ړنګېدو وروسته چې د يو ناڅاپي ديموکراسۍ وږمې وچلېدې، نو بيا هم قلمونه تېره شول او د ژبو تنستې خلاصې شوې، د هر چا چې هر څه په خوله راغلل، هغه يې وويل او لا هم دا لړۍ روانه ده. عجيبه خبره خو داده؛ ټولې دولتي او نا دولتي رسنۍ او اشخاص لګيا دي په انتقادي کمپاين کې برخه اخلي، هېڅ داسې يوه سرچينه نه شته چې مسئوليت پر غاړه واخلي، څو موده دمخه ازادۍ راډيو خپل ګردي مېز ته د دولت يو وزير رابللی و، چې د خلکو پوښتنو او شکايتونو ته ځوابونه ووايي، وزير صاحب ددې پرځای چې د خلکو شکايتونه ځواب کړي، په خپله په شکايتونو سر شو، پردې مهال د ازادۍ راډيو کوربه ژورناليست، وزير صاحب ته وويل: بس وزيرصاحب پوه شو، موږ خو تاسو ددې لپاره رابللي وئ چې د خلکو شکايتونه ځواب کړئ، دا چې تاسو خپله شکايت کوئ، نو ستاسو شکايت به څوک ځواب کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې ټول دولتي ارګانونه ګوري، له شکایت او انتقاد پرته بل څه کار نه کوي، د دولت دوه لوی ارګانونه؛ قضا او په تېره بیا پارلمان، خو د ټولو مشکلاتو سر، حکومت بولي، خپل ځان یې یوازې انتقاد ته وزګار کړی او همدې انتقاد ته یې کار ویلای دی، دا په داسې حال کې ده چې خپله د شورا اکثریت غړي د همدې حکومت مهم غړي وو، دې ښاغلو نه که وپوښتل شي تاسو خپله چې په حکومت کې وئ هغه وخت کې موکومه توره کړې وه، چې اوس لا پر دې نورو حکومتي چارواکو انتقادونه کوئ؟ په ولسي جرګه کې همغه وکیلان تر ټولو زیات او توند انتقادونه کوي، چې تر دې دمخه یې په حکومت کې تر ټولو غوړې څوکۍ لرلې او اوس هم له حکومت څخه تر ټولو زیات باج اخلي، د انتقادونو لړۍ ان د جمهوري ریاست تر معاونینو هم رسېدلې، د جمهور رئیس مرستیالان هم کله کله پر دولت نیوکه کوي او نږدې ده چې د نا سالم انتقاد دا لړۍ د جمهوري ریاست تر مقامه هم ورسېږي، دلته پوښتنه پیداکېږي، چې دا ټول انتقادونه کوي، نو دا کار به څوک کوي؟ زما یو دوست دی د مارانو او لړمانو دمونه یې زده دي، هغه راته کیسه کوله چې پېښور کې یو (هندکی) زما دوکان ته راغی، ماته یې وویل: پیرصاب ماته به یو دم ورکې، ما ویل د څه شي دم؟ ده ویل: والله کور چت باندې ماران ګرځي، ماته دم ورکي چې مار ورک وکي او اودې لاندې راولي. څو څو ځله مې په سږي دم او چوف وکړ او بیا مې ورته وویل چې دا دعا به څو څو ځله وواېې او بیا به ورته  وواېې چې راکښته شه په حکم د خدای او په اجازه د پیر صاحب! (هندکی) لاړ خپل کور ته او سبا مازیګر بیا راغی، ماته یې وویل: پیرصاب تا ما باندې اجازه ورکړې وه چې مار به دم وکي، اول به دعا وکي بیا وواېې راکښته شه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم د خدای او په اجازه د پیر، ښه ما دا دم واچوه، مار کته شه، نو راکابو کی به څوک؟ (نیسي به یې څوک) ما ورته وویل، چې ته به یې کابو کوې که نه! نو هندکي، په ډېرې وارخطایۍ وویل: پیرصاب اجازه واپس کي اجازه واپس کي، ما باندې کابو ونه شي، چا پلار به لاس باندې ور وړي...))

نو اوس پوښتنه داده، چې انتقاد خو اسانه دی، هر څوک انتقاد کولای شي، خو د حل لاره کومه ده؟ او څوک مشکل حلولای شي؟ نو چې د حکومت، پارلمان او قضا مامورین ټول انتقاد کوي او کار نه کوي، نو دا د مشکلاتو (مار) به څوک کابو کوي؟ اصلي خبره داده چې ټولنه یوازې په انتقاد نه جوړېږي، د ټولنې ابادي کار او زیار غواړي، ((څوک چې کار کوي هغه یې وسایل لټوي او څوک چې کار نه کوي هغه ورته دلایل ګوري)). ډېر انتقادونه ټولنه د انتقاد له معافیت سره روږدې کوي، انتقاد هغه وخت خوند کوي، چې پر ځای او پر وخت وي، د حل لارې په کې وي او په ټولنه کې یې د سمون لپاره پوره ظرفیت او امکانات وي. د ډېرو خبرو او ډېرو انتقادونو پرځای لږ کار هم ډېر ګټور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور سړی د سپینې ماڼۍ په درشل کې

**دا لیکنه هم د((قلموال)) جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۲)مه ګڼه کې خپره شوې ده. هغه وخت لا د امریکا دجمهوري ریاست انتخابات نه وو شوي، خو کوم اټکلونه چې په دې لیکنه کې شوي وو،په انتخاباتو کې پر واقعیت بدل شول**

بارک اوباما د امریکا په تاریخ کې لومړی تور پوستی سړی دی، چې تر خپلمنځي ګوندي سیالیو وروسته د جمهوري ریاست سر خېلو کاندیدانو کې راځي، د بارک اوباما، فزیکي او فکري ځواکمنی، ژبنی مهارت، فصاحت، ځواني او د امریکایي ټولنې د ذهني بدلون اړتیا، د ډېرو خلکو په ذهن کې دا احتمال قوي کړی، چې بارک اوباما د جمهوري غوښتونکي ګوند کاندید (جان مکن) څخه څو ګامه دمخه دی. دا چې د سپینې ماڼۍ تر درشله به دا واټن کوم کاندید څومره او په څه ډول ووهي؟ دا به راتلونکې ټولټاکنې معلوموي، خو کوم خبر او پېښه چې افغانانو ته مهم دي، دادی چې په دې کاندیدانو کې که هر یو بریالی شي، د افغانانو پر سیاسي ژوند به یې اغېزه څه وي؟ که چېرې د جمهوري غوښتونکو کاندید جان مکن بریالی شي، نو څرګنده خبره ده، چې په افغانستان کې به د جورج بوش او جمهوري غوښتونکو پخوانۍ پالیسي تعقیبوي او کېدی شي د وخت له اړتیاوو سره سم لږ و ډېر بدلون په کې راشي. سره له دې چې د افغانستان په اړه د بوش د اداري د پالیسۍ په اړه ځینې نیوکې وې، خو دا چې بوش د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه پرېکنده تصمیم درلود، دا برخه ډېره مهمــه وه. د بــوش د اداري پرمهال د افغانستان د رواني جګړې پر سیاسي بدیل فکر و نه شو او له محلي جنګسالارانو سره د تفاهم له لارې په حکومت کې د عــدالت د تامین عنصر کمزوری شو، ولس په یوه او زورواکي پــه بلــه لیکــه کــې ودرېدل. په دې دوره کې تر عدالت او انصاف، سیاسي تفاهم، معــاملې او پوځي ثبات ته ډېره پاملرنه وشوه او زورواکي د ناعادلانه امتیــاز پــه بدل کې ونازول شول. همدې حالت په افغانستان کې نــورې ســتونزې راوټوکولې، د جنګسالارانو د اشتها جام ډک نه شــو، د ولــس د صــبر کاسه تر مورګو ډکه شوه. خو په دې دوره کې افغانستان ته د امریکا او نړیوالو بې درېغه مالي مرستو څه ناڅه د سیاسي عدالت د نشتوالي له امله پر راپیداشویو زخمونو موقتي پټۍ کېښودلې، پــه دغســې یــو نــا مطمین حالت کې که د دیموکراتانو کاندید بارک اوباما د واک پر ګــدۍ کېني، نو په افغاني سیاست کې به د بدلون کومې نښې څرګندې شي؟ یو شمېر څېړونکــي اوبامــا تــه ددې لپــاره هیلــه مــن دي، چــې دی دیموکرات دی او دیموکراتان طبیعتاً له زورواکانو سره جوړ نه دي، نــو په افغانستان کې به طبعاً د جنګسالارانو بازار سوړ شــي؛ تېــر او نــور امتیازات به یې سلب شي، د حکومــت ولســي بنســټ بــه قــوي او د زورواکو واک به کمزوری شي. پاکستان چې د افغانستان دلانجــې یــو اصلي لامل دی، د اوباما په راتګ سره بــه د افغانســتان پــه اړه خپلــه پالیسي نرمه کړي او که نه کېدی شي اوباما یې سابه په مالګــه کــړي، ځکه اوباما د هغه د تېرو څرګندونو له مخې په دې حقیــت پوهېــدلی چې اصلي مشکل په پاکستان کې دی، نو که اوباما پاکستان ته د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکو او توغندیو زور وروښيي، پاکستان به د عوامو په اصـطلاح يـخ شي.

افغانستان ته د اوباما راتګ او دلته په ننګرهار او کابل کې له دولتي چارواکو سره کتنـه د افغانستان پر حالاتو او مشـــکلاتو د لا ځـــان خبرونې پـه مانـا ده. افغانســـتان تـــه د امریکـــا د جمهـــوري ریاست تر ټاکنو دمخه




د اوباما دا سفر ددې ښکارندویي کوي، چې افغانســتان بــه د اوبامــا د احتمالي بریالیتوب په حالت کې د هغه د بهرني سیاســت یــوه مهمــه برخه وي.

د افغانستان د شخړې بل عامل ایران دی، چې په ډېر ماهرانه او هر اړخیز ډول په افغانستان کې خپلې توطیې پرمخ بیایي، اوباما له ایــران سره هم په حساب و کتاب ښه پوهېږي، نو که د اوباما په راتګ ســره د ایران او پاکستان د مداخلو لاسونه وتړل شي، د افغانســتان د جګــړې بهرنی اړخ به تقریباً مهار شي او د کورني امنیت او جوړ جاړي د تــامین لپاره بیا افغانان خپل فورمولونه لري چې کېدی شي ژر تفاهم ته ســره ورسېږي. دیموکراتان غواړي په یو نه یو ډول په عراق کــې لــه خپلــې پوځي ښکېلتیا څخه ځان خلاص کړي، نو که دوی په خوندي ډول له هغه ځایه ځان راوکاږي، نو افغانستان ته به یــې پاملرنــه زیاتــه شــي، افغانستان به ددوی د پاملرنې د ثقل مرکز شي، په دې ډول به دلتــه د

(c) ketabton.com: The Digital Library





سولې او ثبات او هر اړخیزې رغونې لپـــاره زمینـــه برابـــره شـــي. ددې ترځنګ دیموکراتان کېدی شي د افغانستان د شخړې د پـــوځي حـــل ترځنګ پر سیاسي بدیل هم غور وکړي، که په دې ټولو لارو کې هر یوه عملي او بریالی شي افغانستان ته یې ګټه زیاته ده. پورتنۍ څرګندونې احتمالات دي، ددې احتمالاتو تطبیق او یا نه تطبیق د وخت او زمان او د بریالي کاندید پر فکر او عمل، جرئت او دقت پورې اړه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سیاسي پوښتنو کانکور

**دا لیکنه هم د((قلموال)) دسیاسي پوښتنو دکانکور په توګه د نوموړې جریدې د (۱۳۸۷ل) کال په(۲)مه ګڼه کې چاپ شوې**

**لومړۍ پوښتنه:** له کومو کسانو ډار په کار دی او له کومو نه دی په کار؟ د ډار درې کسان په کې په نښه کړئ.

۱- حاجي محمد محقق

۲- عبدالرشید دوستم

۳- حضرت صبغت الله مجددي

۴- حامد کرزی

۵- محمد قسیم فهیم

۶- پیرسید احمد ګیلاني

**دویمه پوښتنه:** کوم کارونه دلته ډېر عام دي؟

الف- رشوت

ب- فساد

ج- سړي تښتونه

د- ټول سم دي

**درېیمه پوښتنه:** رقص مرده (د مړي نڅا) ښودل د کوم تنظیم کار و؟ په ځلورو ځوابونو کې یو په نښه کړئ.

الف- اسلامي اتحاد

ب- اسلامي حزب

ج- اسلامي وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د- هېڅ یو

**څلورمه پوښتنه:** کوم نظام د رنج او عذاب په نامه یادېده؟

الف- د استاد برهان الدین رباني

ب- د ډاکټر نجیب الله

ج- د ملا محمد عمر مجاهد

د- د ببرک کارمل

**پنځمه پوښتنه:** کوم نظام د شر اوفساد په نامه یادېده؟

الف- د ملا محمد عمر مجاهد

ب- د نورمحمد تره کي

ج- د سردار محمد داود خان

د- د استاد برهان الدین رباني

**شپږمه پوښتنه:** په لاندې نومونو کې د کوم یو تخت سیار و؟

الف- حضرت سلیمان(ع)

ب- سلطان محمود غزنوي

ج- استاد برهان الدین رباني

د- امیر عبدالرحمن خان

**اوومه پوښتنه:** کوم اشخاص له ایران سره خواخوږي او پیوند نه لري؟

الف- کریم خلیلي

ب- شیخ محمد اصف محسني

ج- حاجي محمد محقق

د- ټول غلط دي

**اتمه پوښتنه:** کابل ښار په اویایمو کلنو کې چا ډېر اباد کړ؟

الف- اسلامي حزب او ملي اسلامي جنبش

ب- اسلامي جمعیت، نظار شورا او اسلامي اتحاد

ج- اسلامي وحدت

د- ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه پوښتنه:** که حامد کرزی د ((جشن)) پر ورځ له منځه تللای وای، نو کابل به په څومره وخت کې لوټ شوی وای؟

الف- یو کال کې

ب- یوه میاشت کې

ج- یو ساعت کې

د- وروستی ځواب سم دی

**لسمه پوښتنه:** که طالبان بیا کامیاب شي، نو د تنظیمونو مشران به چېرته ځي؟

الف- پاکستان ته

ب- ایران ته

ج- تاجکستان ته

د- له کوم ځایه چې راغلي او روابط ورسره لري هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه شی چېرته ډېر دي؟

**رشوت:** په حکومت کې.

**فساد:** د فساد پر ضد ادارو کې.

**نا امني:** په امنيتي ارګانونو کې.

**بهرنيان:** په داخل کې.

**داخليان:** په بهر کې.

**مخدرات:** د مخدراتو پر ضد ادارو کې.

**مخالفين:** په حکومت کې.

**موافقين:** تر حکومته بهر.

**ګډوډي:** په ښارو کې.

**نظم:** په اطراف کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فقر د ډېرو بدمرغیو مور

**دا لیکنه په کابل کې یوې خپرېدونکې مجلې او همدارنګه په ننګرهار کې ((رڼا)) مجلې چاپ کړې ده.**

**د افغانستان روانه غمیزه بېلا بېل عوامل لري؛ سیاسي عوامل، د بهرنیانو مداخله، د افغانستان جیوپولیټیک ارزښت او موقعیت، د پردیو د لاسپوځو تنظیمونو شتوالی او د نا اهله سیاستوالو ناوړه فعالیتونه، دا ټول پر خپل وخت او پر خپل ځای په افغانستان کې د بې ثباتۍ او هېواد د وروسته پاتې والي سبب شوي دي، خو ددې ترڅنګ ځینې نور اساسي عوامل هم شته چې د پورتنیو علتونو تطبیق ته یې لاره اواره کړې ده. په دې لاملونو کې یواساسي عامل فقر دی، همدا فقر دی چې د جګړو او ستونزو لپاره بستر برابروي. فقر بېلابېل ډولونه او رنګونه لري: سیاسي فقر، ذهني فقر، اقتصادي فقر، کلتوري فقر او داسې نور ډېر ډولونه ، خو په عمومي ډول دوه فقره؛ یو مادي او بل معنوي فقر، چې نور ټول د همدې دواړو برخې دي، ډېر خطرناک دي او دټولنې په بې ثباتۍ کې اساسي نقش لري. تر ۱۳۵۷ل کال له اقتصادي پلوه د افغانستان خلکو د ژوند کچه تر صفر پورته وه،د ژوند دا کچه نوره هم د غوړېدو او ودې په حال کې وه، تر صفر پورته په دې مانا نه چې یو سوکاله ژوند ته پرې ورسېږي، خو بیا هم تر ځینو نورو ګاونډیو هېوادونو دلته د ژوند حالات ډېر خراب نه وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنګونو پر مهال د افغانانو اقتصاد (صفر) ته نږدې شو او وروسته تر (صفر) هم کښته کچې ته ورسېد.له اقتصادي پلوه تر صفر کښته ژوند هغه حالت ته وایي چې انسان په کې پوروړی وي، دا د ژوند هغه پړاو دی، چې انسان په کې د مایوسۍ خوا ته ځي او د ژوند د بقا په خاطر هرډول مشروع او نامشروع سرچینې او وسیلې ته لاس اچوي، حتی که دا سرچینې دوی ته د عقیدیي، کلتوري او ملي ارزښتونو د پرېښودلو او بدلانه په بیه هم تمامې شي. د ټول بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص)، مسلمانان د فقر پر ضد مجادلې او مبارزې ته رابلل او فقر یې د اسلام مخالف عنصر باله، د پیغمبر حضرت محمد (ص) نړۍ لید دا و چې فقر په انسان کې وهم قوي کوي او مسلمانان د اسلام له پاکې او مستقیمې لارې اړوي، د حضرت محمد(ص) مبارک حدیث دی چې: (( ډېر خلک به له فقر څخه کفر ته متمایل شي...)) د پیغمبرانو هېڅ وینا او عمل بې حکمته نه وي، د حضرت محمد (ص) د دې وینا د واقعیت بڼه موږ په خپلو سترګو ولیدله، کله چې افغانستان اوږدې جګړې دومره وځاپه چې د خلکو د اقتصاد کچه ډېره ټیټه شوه، نو دا وخت یو زیات شمېر افغانانو خپل ملي او اسلامي ارزښتونه له لاسه ورکړل او کوښښ یې وکړ چې څنګه خپل ژوند د فقر او تنګلاسۍ له بلا وژغوري، ډېرو لومړی ګاونډیو هېوادونو ته د کډوالۍ لمن ونیوله او وروسته بیا له هغه ځایه ګڼ شمېر نا اسلامي هېوادونو ته د پناه اخیستلو په لټه کې شول. د طالبانو د حاکمیت پر مهال حالات دومره تنګ شول، چې یو شمېر افغانان د سوکاله ژوند په بدل کې خپلې عقیدې پرېښودو ته هم حاضر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناتائید شویو رپوټونو له مخې د طالبانو د حاکمیت پر مهال نږدې یو لک افغانان له (اسلام) نه (عیسویت) ته په دې نیت واوښتل، چې په نامسلمانو غربي هېوادونو کې ورته سیاسي پناه ورکړي. دې کې هېڅ شک نه شته، چې افغانان د ژوند د سختیو پر وړاندې ډېر مقاوم وګړي دي، خو هغه وخت د فقر زور دومره زیات و، د یو شمېر افغانانو، چې اکثره له ښاري ژوند او ازادیو سره روږدي وو، مقاومت یې هم مات کړ، که چېرې د فقر لړۍ په همغه کچه او چټکۍ روانه وای، نو حالات به نور هم خراب شوي وای. هغه مهال چې به څوک په یولویدیز هېواد کې د هغه هېواد د تابع په توګه قبول شو، نو دلته په پاکستان او افغانستان کې به یې کورنیو خیراتونه کول، چې شکر خدایه د کور غړی یې قبول شو.

یوه رښتنیې کیسه ده ، د یوې کورنۍ څو غړي په استرالیا کې قبول شوي وو، ښځې او ماشومان یې هم په کې شامل وو، خو د همدې کورنۍ یوه سپین سرې ښځه دلته پاتې وه، هغې د استرالیا ډېر ارمان کاوه، کله چې به یې د ماښام او ماسخوتن مونځ کاوه، نو په دعا کې به یې همدا ویل : خدایه ما استرالیا ته بوځې او هملته مې مړه کړې...

دا ډول کېسونه د خوشالۍ او ویاړ سبب ګرځېدل، خو تر (۱۳۵۷ل) کال دمخه افغانانو ته دا حالت د شرم، بې ننګي او پېغور خبره وه، خو فقر او جګړې حالات دې حد ته را ورسول.

همدا فقر و، چې ګڼ شمېر افغانان یې دا ډول کېسونو ته سوق کړل. که د افغانستان جګړې له یوې خوا ایډیالوژیکي عناصر درلودل، نو له بلې خوا فقر هم په کې ډېر رول درلود، د دواړو غاړو په لیکو کې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات شمېر ځوانان جنګېدل، چې اقتصادي مجبوریتونو وسلې اخیستلو ته اړ کړي وو. د ډاکټر نجیب الله د حاکمیت پر وخت ((یوه پلار له خپل زوی څخه هیله وکړه چې لاړ شي صاحب منصب شي او ډبل معاش واخلي، زوی یې ورته وویل، چې پلاره معاش هم ډبل دی، خو مرګ هم ورسره مل دی، څو میاشتې به معاش واخلم، خو وروسته به مې مړی درته راوړي، پلار یې ورته وویل: زویه زه خبر شوی یم چې تر مرګ وروسته هم معاش ورکوي...)) یانې تقاعدي معاش. دا که څه هم ټوکې ته ورته یوه خبره ده، خو زموږ د ټولنې د هغه وخت د فقر یو تریخ تصویر په کې پروت دی.

د فقر دا لړۍ اوس هم روانه ده، اوس هم زموږ ګڼ شمېر ځوانان د پیسو په زور د خپل هېواد پر ضد کارول کېږي، دښوونځیو، پوهنځیو، پلونو او سړکونو ورانول ورته په اجاره ورکول کېږي او د هغوی له اقتصادي فقر نه د خپل هېواد د نورې ویجاړۍ لپاره کار اخیستل کېږي، د وخت په تېرېدو سره فقیر نور هم فقیر کېږي. د فقر درجه ځینو ځایونو کې د افراط وروستي حالت ته رسېدلې ده، آن دا چې یو څو ک د خپل اولاد خرڅانه ته هم اړ شوي دي، یانې فقر، جنګ، سرطاني ناروغیو او نورو ټولو دومره خطرناک دی، چې په نورو ټولوو حالاتو کې څوک د خپل اولاد خرڅانه ته نه اړ کېږي، خو د فقر په حالت کې دې کار ته هم اړوزي، لکه څنګه چې د مخه مو وویل فقر یوازې اقصادي بڼه نه لري، د خپل هېواد او خپل ژوندانه د برخلیک په باب د سالم فکر نه کولو ته هم فقر وایي. ټولنپوهان د فقر د تعریف په برخه کې په دې نظر دي چې: ((تر ټولو خطرناک فقر هغه دی چې انسان په کې د خپل برخلیک د ټاکلو ظرفیت له لاسه ورکړي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زموږ په ټولنه کې، په لومړۍ درجه کې سیاستوال، په دویمه درجه کې عام ولس اوډټولنې عادي افراد د فقر په همدې خطرناکه مرحله کې دي. موږ د خپل هېواد، خپل ژوند اوخپلې ټولنې دبرخلیک دټاکلو سالم ظرفیت او کفایت له لاسه ورکړی، نو که غواړو خپله ټولنه د بحرانونو له دې ټولو ډول ډول ناخوالو څخه را وباسو، لومړی باید د خپل ذهني فقر علاج وکړو. ټول ملت د پوهې او علم زده کړې ته سوق کړو، کله چې مو پوهه تر لاسه کړه، بیانو د هر ډول معنوي او مادي فقر پر وړاندې مقابله کولای شو. د هر ډول فقر اختتام زموږ د بدمرغیو د اختتام مانا لري او همدا د خلاصون لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ... نو څه به کېږي؟

**دا لیکنه له جلال اباده خپرېدونکې ((کاروان)) نومې جریده کې چاپ شوې ده.**

هغه ټولنه چې له جنګه راوتې وي، پر ډول ډول ناروغیو اخته وي، د ارزښتونو، کمزوري، بې باوري، بې ځایه انتقاد، د هر څه غندنه، کینه، رخه او دېته ورته نورې ډول ډول ناروغۍ په کې راټوکېږي، خو اندیان او مدبر سیاستوال بیا دې ډول ډول ناروغیو ته کاري نسخې راوباسي او ټولنه له بېلابېلو لارو وقایه کوي او بېرته یې نورمال بهیر ته سوقوي. زموږ ټولنه چې تر دېرش کلن بحران او دې ډول ناروغیو وروسته تر پخواني حالت یوه نسبتاً ښه حالت ته روانه ده، بیا هم له ډول ډول ستونزو سره مخ ده.

زه دلته پر ډېرو ستونزو نه غږېږم او نه دا لیکنه د ټولو ستونزو د سپړنې، شننې او ان تشې یادونې وس لري، خو یو څو وړو ستونزو ته اشاره کوم، چې زموږ د ټولنې ذهني فضا یې ککړه کړې او د هیله مندۍ پرځای د نهیلۍ څپې خوروي. په دې ستونزو کې یوه ستونزه هم د هر اړخیزې نیوکې یا انتقاد ستونزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د انتقاد د تېشي څوکه زیاتره وخت حکومت ته متوجه وي. منتقدین هر څوك دي، حاکم، محکوم، ظالم، مظلوم، لوستی، نالوستی، لیکوال او سیاستوال. لنډه دا چې څوك چې خوله او قلم لري، ټول انتقاد کوي. یو عام انتقاد دادی چې په تېرو کلونو کې افغانستان کې څه شوي؟ دې ته دمنتقدینو لنډ ځواب دادی، چې هېڅ نه دي شوي، خو دې سره دا پوښتنه نه ملګرې کوي، چې موږ څه لرل چې نور پرې زیات شي او څرګند شي؟ واقعیت دادی چې موږ هر څه په جګړه کې له لاسه ورکړي وو، په افغاني ټولنه کې د ژوند کچه د نړیوالو تر راتګ دمخه تر صفره په ټیټ حالت کې وه. داسې یو حالت کې باید ټولنه لومړۍ د صفر ترکچې پورته شي او بیا تر هغه وروسته د پرمختګ پر لوري حرکت وکړي، نو ځکه کله کله د " هېڅ" پر بنسټ ولاړ انتقاد له عدالت څخه لرې وي. ایا که د " هېڅ" مخالفین وو ایي، چې په تېرو شپږو کلونو کې لږ تر لږه (۲۵۰۰)کیلو متره سړك، نږدې (۵۰۰۰) ښوونځي، په سلګونو کلینکونه او روغتونونه جوړ شوي، (۱۴زره) کلیوالي پروژې بشپړې شوي، شپږ نیم ملیونه زده کوونکي ښوونځي ته ځي، د پوهنتونو شمېر (۲۱) ته پورته شوی، د اردو او پولیسو تشکیلات منظم شوي، اساسي قانون جوړ شوی، ګوندونه ازاد فعالیت کوي، رسنۍ خپلواك فعالیت لري، افغانستان په نړیواله ټولنه کې څرګند حضور لري، اکثرو سیمو کې د مخابراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهولتونه شته، نږدې درې ملیونه مهاجر بېرته هېواد ته راستانه شوي، شخصي ښوونځي او پوهنتونونه جوړ شوي او نور په سلګونو مثبت کارونه او پروژې چې دلته یې یادونه ډېره ضروري نه ده. خو دا ټولې پرمختیاوې د "هېڅ" په سیند لاهو کول خپله د انتقاد ماهیت کمزوری کوي. دې کې هم هېڅ شك نه شته، چې تر جنګ وروسته ټولنې د جوړونې بهیر کې په لسګونو ډول ډول نیمګړتیاوې وې او بایده دي چې انتقاد پرې وشي او حل لاره هم په ګوته شي. په حکومت کې او تر حکومته بهر داسې کړۍ شته چې د افغانستان د ملي ګټو مخالفې دي، د اداري فساد لمن پراخه ده، د بهرنیو ځواکونو له خوا پر ملکي خلکو بې ځایه بمباری کېږي، خلك په زوره مهاجرت ته مجبورېږي. په حکومت کې ځینې خاصې ډلې تر حده زیات نامشروع واك لري او نورې په لسګونو نیمګړتیاوې، خو غوره انتقاد هغه دی چې تر څنګ یې یو ښه بدیل او حل لاره په ګوته کړي، سپوره او وچ انتقاد چې هېڅ لار ونه ښیي، په خپله د منتقد د کینې ښکارندویي کوي، نه د سمون. زموږ یو دوست دی پر هر څه انتقاد کوي، هر نظام چې حاکم وي دی یې له کوم دلیل پرته مخالف وي، خو کله چې هغه نظام ړنګ شي، دی یې پر همغه ورځ پلوی شي او د بل نظام مخالفت پیل کړي، څو ځله مو ورسره پر دې بحث کړی: تاسو چې ددغه یا هغه نظام یا شخص چورلټ مخالفت کوئ، ددې بدیل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته کړئ چې تاسې او موږ ټول يې ملاتړ وکړو او ټولنې ته خير ورسوو. هغه وايي زما يې له بديل سره کار نه شته، زما کار يوازې انتقاد دی، بديل پيداکول يې ستاسې کار دی. نو دا ډول انتقادونه چې حل لاره او بديل ونه لري، ټولنې ته کومه ګټه نه شي رسولای او د کار پر ځای يوازې پر انتقاد باندې د ژوند او وخت تېرولو په مانا دی.

نو اوس چې زموږ ټولنه د انتقاد او عمل سختې شپې ورځې تېروي، ښه به دا وي، چې موږ تر انتقاده عمل ته ترجيح ورکړو، انتقاد هم وکړو، خو يوازې د انتقاد ډوډۍ ته کېننو او کار هم وکړو، په ټولنه کې د انتقاد په وجه د خلکو تقاضا دومره پورته نه کړو، چې د هغې د پوره کولو امکان نه وي؛ د تقاضا او عرضې ترمنځ انډول ته دقيق پام وکړو، د ټولنې تقاضا څومره ده؟ او د ټولنې شتمني او د عرضې عمومي ظرفيت څومره دی؟ دا دواړه بايد په پام کې ونيسو، که د عرضې ظرفيت زيات و او موږ يې پر ناعادلانه وېش انتقاد ونه کړو، نو ټولنه مو له خپلو حقوقو محرومه کړې،خو که د عرضې ظرفيت کم وي او تقاضا پورته کړو نو ټولنه مودمنفي ذهنيت له يوې بلې ناروغۍ سره مخ کړې ده.

په افغانستان کې اوس د نړيوالو شتوالی (له ځينو ناوړو مذهبي کلتوري، سياسي او پوځي غرضونو پرته) د افغانستان لپاره يو طلايي چانس دی، افغانان بايد له دې موقع څخه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ګټه پورته کړي، تر هغه حده ځان ورسوي، چې له ګاونډیو هېوادونو سره په هره برخه کې سیال شي، که چېرې نړیوال بیا په افغانستان کې هم نه وي، نو ګاونډي هېوادونه ددې وس پیدا نه کړي، چې افغانستان ته بیا لاسونه راوغځوي، خو که موږ په ټولنه کې د سالم انتقاد پر ځای د منفي او غرضي انتقاد روحیه او کلتور دود کړو، دا به نه یوازې ټولنه نهیلې او منفي خواته بوځي، بلکې چارواکي به هم د انتقاد له کلتور سره روږدي شي او له متواتر انتقاد سره به معافیت حاصل کړي، بیا به نو هېڅ ډول مثبت او منفي انتقاد پر هېڅ حاکم او محکوم او هېڅ ظالم او مظلوم تاثیر نه لري او دا نو بیا د ټولنې د سمون پر وړاندې تر ټولو بده ننګونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولې بیا جنګسالاران!؟

**دا لیکنه د بېلابېلو پښتو وېبپاڼو له لارې خپره شوې ده.**

څه موده دمخه له امریکــا نــه خپرېــدونکې ((نیویــارک ټــایمز)) ورځپاڼې، د امریکا نوي ولسمشــر (بــارک اوبامــا) تــه د یــوې نــږدې سرچینې نظریات خپاره کړي دي. که څــه هــم ورځپــاڼې د سیاســي ملحوظاتو له مخې د اوباما د ادارې ددې لوړ پوړي چارواکي نوم نــه دی اخیستی، خو داسې ښکاري چې رښتیا هم د هغه د مرستیال او یا هم کوم بل لوړ پوړي چارواکي نظریات به وي. په دې نظریاتو کې یو شــمېر نظریات داسې دي، چــې هغــه د افغانســتان خپلــواکۍ او د خــاورې بشپړتیا ته زیان رسوي او تردید یې نه یــوازې د افغانســتان د دولــت، بلکې د هر هېواد پال افغان دنده ده. په دې نظریاتو کې د حامــدکزي د حکومت د بدیل په توګه یو هم (( د سیمه ییزو یــا ولایتــي رهبرانــو او جنګسالارانو تقویه کول دي.)) په نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې د دې لوړ پوړي چارواکي له قوله (( د ولایتي رهبرانــو)) یادونــه راغلــې، چــې د تقویې نیت یې لري. د ورځپاڼې له متن او ددې لوړ پــوړي چــارواکي د خبرو قرینه او هدف همغه محلي جنګسالاران دي، چې تراوسه لا هــم په ځینو سیمو کې فعال او په ځینو کې نیم ژواندی سیاسي او پــوځي ژوند لري. دا چې لــه ســیمه ییــزو زورواکــو او جنګســالارانو ســره د امریکایانو څه سیاسي یا پوځي یارانه ده او دا یارانه به هغــوی تــه پــه کومه بیه پرېوزي؟ دا به وخت ثابتوي، خــو کومــه خبــره چــې زمــوږه هېوادوالــو تــه همــدا اوس د زیــاتې اندېښــنې وړ ده، هغــه ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګسالارانو بیا تقویه کول او راژوندي کول دي. امریکایان کېدی شي په لنډه موده کې له دې جنګسالارانو یو څه ګټه پورته کړي، لکه مخکې چې یې هم دا کار وکړ، خو هغه مرضونه او جنجالونه چې دې سیمه ییزو جنګسالارانو او په اصطلاح رهبرانو سره مله دي، پر هغو د امریکایي چارواکو سر نه خلاصېږي. دا جنګسالاران په لنډه او اوږده موده کې افغانستان ته د نړۍ رنځ مثال لري، چې د وخت په تېرېدو سره د ټولنې ټول وجود زبېښي، خو په اوږده موده کې د امریکا متحده ایالتونه هم ترې په ارامه شپه نه شي سبا کولای. امریکا باید پر دې پوه شي، چې دلته د زورواکي او جنګسالار لوري او تګلوري یوازې د پیسو په مقابل کې بدلېږي، رابدلېږي، نو امریکائیان چې یو سیمه ییز زورواکی د پیسو په بیه اخیستلای شي، ددوی نور نوي او زاړه، پټ او ښکاره سیمه ییز رقیبان لکه روسیه، چین، پاکستان، ایران او نور هم دا ډول کرکټرونه په بیه رانیولای شي. ځینو امریکایي سیاستوالو تر دې دمخه هم، دوه ځلې په افغانستان کې د جنګسالارۍ تجربه ازمویلې ده، کله چې د افغانانو د جهاد له برکته د دوی هدف ترلاسه شو، بې وسلې افغانان یې مختلفو زورواکو ته یوازې پرېښودل، افغانانو او نړۍ ته د هغې اشتباه زیان، موږ ټولو په سترګو ولید. بیا یې چې کله د طالبانو نظام ړنګاوه، نو بیا یې هم د جنګسالارانو له تاریخ تېري درمل څخه ګټه واخیسته او نتیجه یې دا شوه چې تېرې اوه کلنې سیاسي پروسې او د دیموکراسۍ بهیر ته یې زیان ورساوه. د امریکا نوي چارواکي باید پر دې پوه شي، چې جنګسالار او جنګسالارۍ نور په افغانستان کې د چلند وړ نه دي، دا داسې تاریخ تېر درمل دي، چې کېدی شي یو مرض به دوا کړي، خو زر نور مرضونه به راولټوکوي.

امریکا چې اوس د نړۍ د مشرۍ دعوه لري او په نړۍ کې ځان د دیموکراسۍ ممثل ګڼي، ښه به دا وي چې ددې زمینه او لاره چاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابره نه کړي، چې زموږ ولس یوځل بیا د څو محدودو او سـیمه ییـزو زورواکانو له خوا اسیر شي ، افغانان هم د نړۍ د نورو انسانانو په شـان حق لري، چې د ولسواکۍ په فضا کې خپل برخلیک په خپله وټاکي، نه دا چې څو تنه محدود کسان د هغوی پر برخلیک لوبې وکړي. د امریکا دا چارواکي باید پر دې هم پوه شي، چې د سیمه ییزو سیاسي او پوځي اشخاصو تقویه، ورو ورو دا سیمې د مرکزي حکومت له حاکمیت څخـه وباسي او افغانستان د فدرالیزم لوري ته بیـایي او دا هغـه حالـت دی، چې زموږ ځینې مغرض ګوندیان لا له پخوا نه ورته هیلې لري. دا حالت افغانانو ته هېڅ د زغم وړ نه دی، افغانانو د خپل وطن د خپلـواکۍ او د خاورې بشپړتیا د ساتنې لپاره دوه ملیونه سرونه نذرانه کړي، دا قرباني په دې او هغه سیمه کې د کوم زورواکي سیاستوال او جنګسالار لپـاره نه وه، نو امریکایي نوي لـوړ پـوړي او ټیـټ پـوړي چـارواکي بایـد د افغانستان د خلکو له ارادې سره سم حرکت وکړي، هـر هغـه حرکـت چې د زور له لارې پر افغانانو تحمیل شوی او زمـوږ د خلکـو د فکـر او ارادې مخالف حرکت و، نتیجه یې نه یوازې افغانانو، بلکې تـر افغانـانو زیاته همغه بل بهرني ځواک ته په ډېر زیان تمامه شوې ده. هیلـه ده د امریکا نوي چارواکي د تاریخ ددې حقیقت او واقعیت له دې حکـم نـه ځان مستثنی ونه ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وي که نه!))

# ( ټولو ملتپالو افغانانو ته یو ډاډ)

دا لیکنه په څو پښتو وېبپاڼو او ځینو چاپي خپرونوکې چاپ شوې ده.

په دې وروستیو څو ورځو کې ځینو ستمي او جمعیتي فاشیستانو او حلقو پر ځینو هغو افغانانو پسې ډېرې ســپکې ســپورې لیکلــي او لیکي یې چې ددې نویو فاشیستانو پر توطیو او دسیسو ډېر خبــر دي، ډاکټر فاروق وردګ، حنیف اتمر او ځینې نــور د دوی د لیکنــو محتــوا جوړوي، هر څوک چې په افغانانو، په تېره بیا په پښتنو افغانانو کــې د افغانستان د ملي ګټو لپاره ډېرې هلــې ځلــې او د هېــواد د ځمکنــۍ بشپړتیا د ساتنې او پالنې لپاره ټینګه مبــارزه کــوي، هغــوی نــو ددې فاشیستانو د سترګو اغزي دي.

ستمیان او د مذهب په جامه کې نوي فاشیستان په خپلو لیکنــو کې ان تر دې حده وارخطا دي، ددې پرځای چې د چا پــر فکــري لیــد لوري نیوکه وکړي او خپل دلایل وړاندې کړي، د شخص شخصي حریم ته ورداخلېږي او شــخص تــه ســپکې ســپورې کــوي، دا خبــره ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثرګندونه کوي چې په افغانستان کې تجزیــه غوښــتونکي، څــومره د علم او منطق پر فقر اخته دي.

نویو فاشیستانو چې اکثره یې د ستم، جمعیت او پــرچم لــه ډلــو څخه جوړ دي، په دې وروستیو وختونو کې په ډله ییز ډول د خپل قلم تبرونه زما خواته هم را اړولي، دا لومړی ځل نه دی چې دوی دا کارونــه کوي، هر کله چې ما په کوم اخبار، راډیو او ټلویزیون کې د ســتمیانو او نورو تجزیه غوښتونکو غوڅ ځواب ورکړی، نو بیا پر دوی اور بل شــوی او ورځ وروسته یې په خپلو اړوندو رسنیو کې ما پسې داســې لیکنــې کړې، چې له منطقه لرې دي. د دوی اکثرو لیکنو ته ما ځکه ځواب نــه دی ورکړی چې لیکنې یې له متضادو خواو ډکې دي، د لیکنې په مــتن کې یې په نا شعوري ډول خپلې خبرې بېرته رد کړي دي، یوه جمله یې یوه مانا ورکوي او بله جمله یې بله مانا، بل مې په دې خاطر هم ځــواب نه دی ورکړی، چې زه نه غواړم د افغانستان د دښمنانو پر وړاندې خپل ځان په داسې یو دریځ کې ووینم، چې د هغو کمزوري منطق ته هم تم شم او ځان له کاره وباسم، افغانستان، اسلام، افغان ملت، زمــوږ ملــي هویت او ملي ارزښتونه زما لپــاره ســتر ایډیالونــه دي، پــر دې ســترو ارزښتونو د چا له خوا تعرض نه منلای او نه زغملای شم، نو په همــدې خاطر زما غوڅ او سپین ځوابونه د هغوی د زیاتې ځورېدنې او کړېــدنې سبب شوي دي، دا چې په ما پســې د ســتمیانو او نویــو فاشیســتانو لیکنې د هغو د ډېرې وارخطایۍ ثرګندونه کوي، دا خبــره زمــا زړه او فکر ته لا ډېر قوت ورکوي چې زما فکر او لیکنو د نښې منځ ویشــتی، ځکه چې اصلي هدف ته رسېدلی یم، خوند خو دا کــوي، چــې زمــا د( یوې جملې) ان د (یوې کلمې) پر وړانــدې دوی اوږدې اوږدې لیکنــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، خو بیا هم د هغې ځواب ځکه نه شي ویلای چې که ویلای یې شواې بلې لیکنې ته اړتیا نه وه.

په دې وروستیو ورځو کې د اریانا ټلویزیون له لارې، (له طالبانو سره د مذاکراتو په اړه) یو ګردی مېز جوړ شوی و، چې په ژوندۍ بڼه خپرېده، زه (یون) او د اسلامي جمعیت یو اړوند شخص ښاغلی عتیق الله بریالی چې تر جمهوري ریاست اتنخاباتو دمخه د ملي دفاع وزارت مرستیال و، ددې مېز مېلمانه وو، زما او ښاغلي بریالي ترمنځ د خبرو ډېر اختلاف نه وو، یوازې یو ځای کې ښاغلي بریالي طالبان یو قبیله یي او عقب ګرا خوځښت وباله، چې د مذهب په جامه کې وړاندې شوی او روان جنګ یې د قدرت جنګ وباله. البته تر دې دمخه په بېلابېلو خپرونو او مرکو کې جمعیتیانو او ستمیانو، طالبان یوه قومي ډله بللې، ما د دوی د دغو تعبیرونو په ځواب کې وویل چې طالبان اساساً یوه مذهبي او نظامي ډله ده، نه قومي ده، نه سیاسي، زما دلایل دا وو، چې که چېرې دا سیاسي ډله وای، نو له دومره نظامي قوت سره به یې له پیله تراوسه ډېر سیاسي امتیازات ترلاسه کړي وای او له دومره ستونزو سره به هم نه مخامخېدل او که قومي ډله وای، نو ولې د همغې سیمې او همغه قوم خلک تر ټولو زیات ځپي چې دوی ورته منسوب ګڼل کېږي، دا په داسې حال کې ده چې دوی تر ټولو زیات پښتانه وژلي، د لغمان د ځوانانو عامه وژنه یې هم وروستی مثال و، دا مې هم وویل، چې په افغانستان کې اوسنۍ روانه جګړه د قدرت لپاره جګړه ده، ایران او پاکستان غواړي پر کابل د خپلې خوښې حکومت تعمیل کړي، دا هېوادونه مخکې تر دې چې دلته پوځي جګړه پیل کړي، مجبور دي د جګړې لپاره یو ایډیالوژیک بنسټ جوړ کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان د جګړې بشري او اصلي قربانیان دي، طالبان ددغــې مــذهبي ایډیالوژۍ یا عقیدې تر چتر لاندې جګړه کوي، له مذهب څخه د دوی خپل تعبیر دی، دا چې دا تعبیر سم دی که ناسم، ښه دی که خراب، دا بېله مسئله ده، خو دوی د خپل فکر له مخې د ایډیالوژۍ لپاره جګــړه کوي، نو په دې خاطر طالبانو ته دا جګړه ایډیالوژیک ارزښت لري او که یې نه لرلای، یو څوک د قدرت په خاطر ځان وژنې ته په اسانۍ سره نه حاضرېږي، خو د ګاونډیو هېوادونو لپاره دا جګړه دقدرت جګــړه ده. د ښاغلي عتیق الله بریالي د نظر وروســتی نچــوړ دا و چــې دا جګــړه د قدرت جګړه ده، نه د ارزښتونو او زما وروستی نظر دا و چې دا جګړه د ګاونډیو هېوادونو لپاره دقدرت جګړه ده او د طالبانو لپاره د هغوی لــه خپلو تعبیرونو سره سم د ارزښتونو جګــړه، پــه دې ډول دا جګــړه د قدرت جګړه ده او طالبانو ته دهغوی لــه خپلــو انګېرنــو ســره ســم د ارزښتونو جګړه. د خبرو ټول نچوړ او مانا دا وه. په اوسنۍ لیکنــې کــې کېدی شي د الفاظو څه بدلون راغلی وي، خو مانا یې ټوله همدا وه.

کله چې دا مرکه نشر شوه، نو پر ستمي او جمعیتي کړیو یــې یــو اور بل کړ، ددوی هدف دا و چې تا ولې دا وویل چې طالبان ((قــومي)) ډله نه ده او د ایډیالوژۍ لپاره جنګ کوي، د دوی په نظر زما دا خبره له (( کفر)) سره معادله خبره وه، نو ځکه خو یې په بېلابېلو سایټونو کــې ((اسماعیل یون و ایډیالوژي طالبان))، ((یون و تقدیس وحشت وتــرور )) او داسې نورې لیکنې وکړې او پــه خپلــو اړونــدو چــاپي رســنیو او سایټونو کې یې خپرې کړې. دوی د خپل منطق لپاره په خپلــو لیکنــو کې د طالبانو د وخت د هغوی د رهبرۍ شورا او واکمنو هغه لېست هم خپور کړ، چې ددوی د خپل استدلال له مخې له څو نا پښتنو پرته نــور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره غړي یې پښتانه او اکثره د کندهار، هلمند او ارزگان وو. او بیا یې لیکلي وو، چې ایا دا پښتانه نه دي؟ خو د خپلو لیکنــو پــه وروســتیو برخو کې بیا دې اعتراف ته هم اړ شوي چې دا که څه هــم پښــتانه وو، خو د پښتنو نمایندگي نه شي کولای، له کښتني اعتراف سره پــورتنۍ ادعا خپله باطلېږي. نو ما ځکه ځواب هم ور نه کړ، د اریانا ټلویزیون په مرکه کې او تر هغه وروسته هم زما نظر همدا و، چې طالبان یوه مذهبي او نظامي ډله ده، قومي افکار نه لري. که چېرې یې لرلای، نو په ډله ییز ډول یې دومره پښتانه نه وژل، نه یې د پښتني سیمو (۶۲۵) ښوونځي تړل او نه یې دا سیمه له تمدنه لرې پرېښودله. کــه چېــرې طالبــان د قومیت پر محور راڅرخېدلای، نو بیا د حکومــت او شــمال ټلــوالې دا ادعاوې بې بنسټه دي چې له دوی ســره بهرنــي طالبــان؛ پنجابیــان، عربان، ایغور، ازبک او چیچنیایان اوږه پر اوږه جنگېــږي؟ څــه شــی د دوی ترمنځ مشترکه وجه ده؟ قومیت دی او که د دوی له خپل تعبیــر سره سم دین او مذهب؟ او یا هم القاعده له طالبانو سره قومي ریښــې لري که څنگه؟ د طالبانو اوسني جوړښت ته چې سړی گوري پر طالبانو د قومیت تور پورې کول له منطقه لــرې ښــکاري، د طالبــانو پخــواني جوړښت کې چې د اسلامي جمعیت پر ضد یې جگړه کوله، د بدخشان او تخار د گڼو طالبانو حضور د هغوی د قومیت مفکوره په خپله ردوي، دا چې اسلامي جمعیت او وحدت گوندونه او نورو هغه وخت د طالبــانو پر ضد جگړه کوله او د دې گوندونو زیات شمېر غړي تاجــک او هــزاره قومونو ته منسوب وو، دا ددې مانا نه ورکوي چې جمعیت مانــا د ټولــو تاجکانو گوند، که چېرې هر گوند موږ یو قوم ته منسوب کړو، نو دلتــه به اتومات د هر گوند سیاسي او بشري جنایتونــه هــم هغــه قــوم تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منسوب شي. په داسې حال کې چې په وروستیو څو لسیزو کې د ګوندونو او قومونو ترمنځ ډېره زیاته فاصله وه او لاشته . کوم ګوندونه چې له کومو سیمو راټوکېدلي د همغو سیمو خلک یې له لاسه ډېر کړېدلي دي. زما منطق دا دی چې د طالبانو جنایت او وحشت ښه او بد کارونه په طالبانو پورې منحصر دي دا په پښتون قوم او نور افغان ملت پورې هېڅ اړه نه لري او همدارنګه د اسلامي جمیعت د افرادو جنایتونه، وحشت، ښه او بد کارونه په اسلامي جمعیت پورې اړه لري، نه په تاجک قوم یا ټول افغان ملت پورې.

دا چې ځینې ستمي او فاشیستي ډلې او اشخاص طالبان د پښتون قوم مترادف ګڼي، ددې تر شا د هغوی اوږده فاشیستي ستراتیژي پرته ده، دوی غواړي دا قوم د طالب او القاعدې په نامه بدنام کړي او له نړۍ سره یې په ټکر کې وساتي، دا کار به ددې سبب شي چې پښتون قوم او په ټوله کې ټول ملتپال افغانان د دولتمندۍ ظرفیت له لاسه ورکړي، د بهرنیو ځواکونو د شتوالي په موده کې به د ایران، روسیې او پاکستان په مرسته یو داسې قشر راوټوکېږي چې هغه به د افغانستان د ملي وحدت او ملي هویت مخالف وي. په دې حالت کې به افغانستان یا د ټوټه کېدو خواته ځي او که په کابل کې کوم سست حکومت حاکم وي هغه به هم ددې ډول متعصبینو په لاس کې وي. نو ځکه خو دوی د همېش لپاره غواړي پر پښتون قوم د طالب او القاعده د نامه جال خور وي او د نورو نړیوالو په پوځي زور د طالب په جامه کې د هېواد اکثریت په اقلیت بدل او له سیاسي صحنې څخه حذف کړي، ایران، پاکستان او د شمالټلوالې مهم غړي اوس د ګډو ګټو په همدې مثلث کې شامل ګڼل کېږي. که نه نو زما پر یوې خبرې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



((طالبان قومي تحریک نه دی، بلکې نظامي او مــذهبي حرکـت دی)) دومره شور جوړولو ته اړتیا نه شته.

دوی د طالبانو د ((قومي)) ښودلو لپاره د هغوی د نسلي انتســاب لپاره د هغوی لیست خپور کــړی دی، خــو کاشــکې چــې د اســلامي جمعیت د مهمو غړو د نسلي انتساب لست یې هم ښودلی وای، کــه د جمعیت لیست ته مراجعه وکړو نو طالبان به مو له یاده ووځي. که څــه هم عملاً په اسلامي جمعیت کې د نورو اکثرو ګونــدونو پــه تناســب د قومیت عنصر قوي وو، خو مونږ هېڅکله په کابل او نورو ســیمو کــې د اسلامي جمعیت د قومندانانو جنایتونه کوم قوم ته نه شو منسوبولای. له پورتنیو توضیحاتو څخه مې هدف دا و چې ټول ملتپال افغانــان دې خبر وي چې زما او زما په شان پر نورو افغانــانو پســې ولــې تونــدې او ترخې لیکنې کېږي، زه له خدای(ج) څخه مشــکور یــم چــې زه یــې یــو (افغان) پیدا کړی یم، زما فرهنګي او رسنیزه مبــارزه د هغــه چــا پــر وړاندې ده چې هغه د دې خاورې شیره او پېروی خوري، خو ځــان تــه ((افغان)) نه وایي، دوی د (افغان) پر ځای ځان ته ((افغانستاني)) وایي او ټول شعوري افغانان پر دې پوهېږي، چې د دې دواړو کلمو تــرمنځ د مانا څومره واټن پروت دی. زه یو مستحکم مرکزي دولت غواړم چې د افغانستان پر ټولې خاورې بشپړ حاکمیت ولري، خــو دوی نــامتمرکز، فدرالي او سیمه ییز حکومتونه غواړي چې د افغانستان وېش تــه لاره اواره کړي، زه د ټولو افغانانو لپاره له نیمروزه نیولې تر بدخشانه سل په سلو کې د تساوي غوښتونکی یم او د هر ډول نا معقولې فردي لوړتیــا مخالف یم، خــو دوی د افــرادو د تســاوي پــر ځــای د ((قومونــو)) او ((ملیتونو)) د ((تساوي)) خبــرې کــوي او خبــره پــه واقعیــت کــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتساوي او نامعقولیت خواته بیایي، حقیقت دادی چې په یو هېواد کې د قانون پر وړاندې د قومونو د حقوقو او وجایبو خبره نه مطرح کېږي، اصلاً افراد خپل حقوق او د قانون پر وړاندې خپل وجایب او مسـولیت لري. که چېرې په ډله ییز ډول د قومونو د حقوقو خبره مطرح شي، که قوم کې کوم څوک جرم وکړي ایا دا جرم به فردي وي که قومي؟ هغه فرد به نیول کېږي که ټول قوم؟ که د قومونو د ((تساوي)) اصطلاح قید کړو، ایا په پارلمان کې به د تاجکانو او پښتنو او دې سره په ننګرهار کې د سکانو افغانانو څوکۍ سره برابرې وي؟ خو دلته معلومېږي چې د ((تساوي)) اصطلاح هغه مانا نه ورکوي چې خپله د کلمې لغوي مانا ده. له اسلامي قوانینو نیولې بیا د نړۍ تر ټولو وضعي قوانینو پورې هیچېرته هم څوک د قوم خبرې نه مطرح کوي، کله چې په یوه ټولنه کې فردي تساوي رامنځته شوه، نو د ټول ملت د تساوي زمینه برابره شوه، نو په کور کې د کورګیو جوړولو ته څه اړتیا ده؟ عجیبه خبره خو داده چې څوک د قومي او قبیله یي نظریاتو مخالف وي او د ټول ملت په اړه فکر کوي، هغه ډېر پر قومیت تورنوي، زه یو واحد متحد افغان ملت غواړم، له نیمروزه تر بدخشانه او له نورستانه تر هراته هرڅوک چې د هرې سیمې وي، په هر مذهب چې وي، هغه افغان بولم او د ټولو د حقوقو د تساوي غوښتونکی یم، خو دوی موږ پر قومیت تورنوي.

زه د ایران، پاکستان او نورو لرې پرتو هېوادونو د مداخلو مخالفت کوم، خو دوی د هغوی په اصطلاحاتو شخوند وهي او بیا رسنیو کې دوی سپینې کوترې شي او موږ ګناه کار شو. موږ د ایران او پاکستان د کلتوري یرغل مخالفت کوو، خو دوی د ایران په لاس په جوړو شویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلویزیونونو او رسنیو کې معاشونه اخلي. موږ د ټولو افغانانو ترمنځ پـر یوې ورځ خپل مذهبي اختر کوو، خو دوی له ایران سـره خپـل اختـر شریکوي، دا او دې ته ورته نورې خبرې دي چـې د اختلافـاتو اصـلي ټکي جوړوي، نو ځکه خو د ایران په مرسته په چلېدونکو رسنیو کې نه یوازې په ما، بلکې نورو تکړه افغانانو پسې هم دا ډول لیکنې خپرېـږي. ستمي کړیو نه یوازې د ایران په مرسته د افغانستان د ملـي هویـت او ارزښتونو د ختمولو اوکم ارزښته کولو لپاره پراخ کمپـاین پیـل کـړی، بلکې یو شمېر نور ضعیف النفسه افغانان په تېره بیایو شـمېر پښـتانه افغانان یې هم د پیسو او رشوتونو په زور تطمیع کړي دي. په جلال اباد کې د ایران د قونسـلګرۍ تـر فعالېـدو وروسـته هلتـه هـم د ملـي شخصیتونو او ملي افکارو د خاوندانو پر وړاندې یو ډول حرکتونه پیـل شوي، په دې ترڅ کې یو دوه کم سواده حق الزحمه یـي ژورنالیسـتان هم د پیسو په زور تطمیع شوي او هغوی ته دا دنده ورکړل شوې چې د پښتنو افغانانو د ملتپالو او شعوري فرهنګیانو پر ضد لیکنې وکړي او په افغاني په تېره بیا په پښتني ټولنه کې د هغوی اغېز کمزوری کړي، نو د ستمیانو او نویو فاشیستانو په دې نوي راپیل کړي کمپاین کې تر ټولـو دمخه زما نوم ورکړل شوی، نو له دې حق الزحمـه یـي ژورنالیسـتانو څخه یو یې د (( یون وپېژنئ)) په نوم یوه داسې لیکنه کړې چـې لـه پیله تر پایه یې ما، زما پلار، مېرمن او ټولې کورنۍ ته یې په کې کنځلې کړي، که څه هم دا لیکنه یې تراوسه نه ده خپره کړې ، خو په کوم چا یې چې کمپوز کړې او په مستعار نامه یې یو ایمیل ادرس جوړ کـړی او بیا یې له هغې لارې خپل ځان او یو بل کس ته ایمیـل کـړې، دا ټولـه سلسله ماته معلومه ده، دا لیکنه هم د ایران پلـوه ډلـو قومانـدې تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منتظره ده، چې کله به زما پر ضد په دې کمپاین کې راڅرګنده شي، زه اوس د ځینو نزاکتونو له مخې د هغه شخص نوم نه اخلم، خو هــر کلــه یې چې دا لیکنه خپره کړه، بیا به یې لیکونکی در وپېــژنم اوکــه اړتیــا پېښه شوه ځواب به یې هم ووایم. له دې لیکنې څخه زمــا هــدف دا و چې یو خو ټولو ملتپالو افغانانو ته دا څرګنده کړم، چې د هېواد پر غــم غمجنو فرهنګي شخصیتونو پر ضد څومره لوی تبلیغاتي کمپاین روان دی او دا کمپاین له کومې سرچینې الهام اخلي ، زه په دې ډول خپلــو ټولو ملتپالو هېوادوالو ته دا ډاډ ورکوم: **(( پام چې وار مو خطا نه شي- ما منلې غرغرې دي.))** او بله دا چې د ســتمي او نویــو فاشیستانو دا ډول لیکنې پر ما تاثیر نه کوي، ځکه چې اوس ماته پتــه ولګېده چې زما او زما په شان د نورو هېواد مینــو افغانــانو کــارو زیــار هدف ته رسېدلی، نو ځکه یې افغان ضد ډلې ټپلې دومره چیغو او نــارو سورو ته رسولي دي.

د دنــیا تورې لــښکــرې د عــالم ډېــرې خـــــبرې
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وي که نه
((خوشال بابا))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنځور سیاست او تاریخ تېری درمل

درې لسیزې کېږي، چې زموږ ټولنه د یوه داسې رنځور سیاســت پــه منګولو کې راګیر ده، چې څومره وخت پرې تېرېږي، نو دا رنځ نور هــم اوږدېږي، داسې لکه د سرطان او یا هم نري رنځ په شان، چې د انســان وجود ورو ورو کمزوری کوي او بیا یې لــه منځــه وړي. کــه انســاني او ټولنیزې ناروغۍ هر څومره ډېرې او رنګارنګ دي، داسې یې د رغــونې لارې چارې او درمل هم ډول ډول او رنګارنګ دي. هوښــیار طبیــب او حکیم جي همغه څوک دی، چې دا ناروغي پر خپل وخت تشــخیص او ناروغ ته له ناروغۍ سره متناسب درمل ورکــړي. هــر درمــل د هــرې ناروغۍ لپاره کار نه ورکوي او کله که هم د یوې نــاروغۍ لپــاره د بلــې ناروغۍ درمل کارول شوي، نو ددې پرځای چې ګټه یې کړې وي، زیــان یې اړولی او جانبي عوارض یې پیدا کړي دي. د افغانستان په تېــر درې لسیز سیاست کې د بحرانونو یو غټ لامل همدا و، چې یو شی پر خپل ځای نه کارول کېده او تر ننه هم دا لړۍ روانه ده. د خلکیانو، پرچمیانو، جمعیتیانو او طالبانو د پوره واک او نیم واک په ټولو بهیرونو کې حالات همداسې روان وو او اوس هم تــر ډېــره حــده خبــره همداســې ده. د خلکیانو په ټوله کابینه کې یوازې څلور پنځو وزیرانو لــوړې زده کــړې درلودې، د جمعیتیانو پــه نیمواکــه واکمنــۍ کــې ان اشــپزان هــم د افغانستان په سیاسي نمایندګیو کې د دپلوماتانو په توګه مقرر شول، د طالبانو په واکمنۍ کې د عامې روغتیا پر مسلکي پوستونو سربېره ان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترافیکو رئیسان او مدیران هم ملایان مقرر شول او د طالبانو تر سقوط وروسته د یوې درې ګوریلایان لکه دیو سـېلاب پـه ځېـر پـر دولتـي پوستونو راشېوه شول، تراوسه یې هم ګڼ شمېر دولتي پوسـتونه پـه لاس کې دي، یوازې په لباس او څېره کې یې تغیر راغلی، خو په ماهیت او ذهنیت کې یې هېڅ بدلون نه دی راغلی. دې هرې دورې خپل خپل مرضونه او رنځونه زموږ پر ټولنې تحمیل کړل او د علاج لاره یـې اوس ځکه له موږه ورکه ده، ځکه چې موږ ددې لپاره سمه سیاسي نسـخه نه کاروو او که کاروو یې هم، نو د درملو پوره دوز نه تطبیقوو. همدا څه باندې دېرش کاله کېږي، چې افغانستان له څو ډلـو ټپلـو او سیاسـي ګوندونو سره یرغمل دی. که ددې ټولو ډلو د مطرحو او اغېزمنو څېـرو شمېر محاسبه کړو، نو تر زر یو نیم زر کسانو نه زیاتېږي، همدا کسـان دي، چې بیا نو له زورواکو، ټوپکوالو او نورو دېره مـارانو سـره یـو ګـډ زنځیر او ځېل جوړوي او د ټولنې د روغتیا ټول رګونه زبېښي. د دېرش کلن سیاست په بهیر کې یوه غټه اشتباه همدا وه، چې دغه لوبېدلي او لوبېدونکي اشخاص له سیاسي صحنې څخه په بشپړ ډول ونـه وتـل، طالبانو که څه هم د دوی یو زیات شمېر له مخې پسې جارو کړل، خـو هغوی بیا خپله دومره مرضونه لرل، لکه د ملاریـا پرځـای چـې کـولرا راشي. کله چې د طالبانو کولرا د امریکایانو د دواپاشۍ پـه زور ختمـه شوه، نو ځای یې بېرته پخوانۍ ملاریا یاجنګي ډلو ونیـو. د ملاریـا یـو خصلت دا دی، چې که د درملو پوره دوز ونه کارول شي، اتلس ورځـې وروسته بیا راګرځي او دا ځل نو سړی دومره ځپي، چې لـه پښـو یـې غورځوي. د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته هم امریکایانو د افغانستان له خلکو سره همداسې چل وکړ، دوی د ملاریا ضد واکسین او وسـایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل، خو زمورږ خلک يې د ملاريا د ماشو ترحم تـه پرېښــودل. دې ماشو زمورږ د ولس د بدن وينې داسې وزبېښلې، چې دوی په کــې ښــه غټ شول، خو زمورږ د ولس رنځ يې داسې اوږد کړ، چې اوس يــې ټولــه نړۍ علاج ته حيرانه ده. امريکايانو داسې فکر کــاوه، چــې د پخوانيــو جګړه مارانو او جنګسالارانو بيا راژوندي کول به د يوه داسې درمل پــه توګه کار ورکړي، چې طالبي ناروغي ختمه کړي، خو امريکايان دې تــه متوجه نه وو، چې جنګسالاران داسې يو تاريخ تېــری درمــل و، چــې جانبي عوارض لري؛ که د يوه مرض لپاره دوا شي، نو سل نور مرضــونه زېږوي. طالبان خو اصلاً د همدې جنګسالارانو د عملونو زېږنده ده، يــا که دې جنګسالارانو په کابل او د هېواد په نورو سيمو کې د خلکــو پــر سرونو مېخونه نه وای ټکوهلي او د خلکو پر مال، عزت او نــاموس يــې تېری نه وای کړی، نو طالب په شان يوې زېږې او ترخې پديدې ته هېڅ اړتيا نه پيداکېدله. طالبان هغه وخت داسې يو تريخ درمل و، چــې تــر ستوني تېرول يې اسانه کار نه و، خو د هغــه وخــت د جنګســالارانو د زړګونو ناروغيو ښــه دوا وه، نــو ولــس خپلــه پــوزه ونيولــه اولکــه د چمبړخيال په څېر د بدبويه درمل په توګه يې تر ستوني تېر کړل، خــو اوس چې بيا پخواني ټوپکيان په نوي او نسبتاً صفا لباس کې پر ټولنــه واکمن شوي، د واک او ځواک ميتود يې توپير کړی، خو ماهيت يې نــه دی بدل شوی، نو طبعاً يو ځل بيا د طالبانو شتوالي ته زمينه برابرېږي، ځکه بهرنيو ځواکونو، چې په ګډه، له دې کورنيو غلــو ســره د جــوال خوله نيولې، نو زمورږ ولس به چاته فرياد وکړي، يو ځل بيــا بــه يــې د طالب د ترخو درملو ته پام وراوړي. واقعيــت خــو دادی کــه چېــرې د افغانستان دولت او نړيواله ټولنه غــواړي پــه افغانســتان کــې بشــپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سياسي عدالت او سوله تامين کړي، نو د هر ډول تاريخ تېرو دواګانو له کارولو دې ډډه وکړي، نه پخواني جنګسالاران او تنظيمواکان د طالبانو ښه بديل دی او نه هم طالبان د هغوی. نړيواله ټولنه او افغان حکومت که غواړي، ددې اوږده سياسي رنځ علاج وشي، نو لږ تر لږه دې په افغانستان کې د عامې روغتيا له ميتود او تجربې څخه ګټه واخلي. د عامې روغتيا وزارت د قانون له مخې، د ټولو تاريخ تېرو درملو استعمال او خرڅول بند دي، نو څکه خو ددې وزارت هئيتونه وخت پر وخت د کابل او د هېواد د نورو ولايتونو پر درملتونو ګرځي، تاريخ تېرې دواګانې راټولوي، سېزي يې او خرڅوونکو ته يې قانوني سزا ورکوي. ددې وزارت مامورين او طبيبان پر دې پوهېږي، چې دا ډول درمل د انسان بدن ته زيان رسوي، که يوه ناروغي ښه کړي، نو لس نورې زېږوي. خو زموږ سياستوالو لا تراوسه پورې د ټولنې د سياسي ناروغۍ اصلي عاملين نه دي تشخيص کړي او نړيواله ټولنه هم له دومره تجربو سره سره بيا هم د اشتباه له پاسه بله اشتباه کوي. هغه سياستوال، زورواکي او محتکرين زموږ پر ټولنه واکمنوي او څواکمنوي، چې زموږ ټولنه د همغو له لاسه در په در اوخاورې پر سر شوې ده. که دا جګړه مار، دومره د نبوغ خاوندان وای، نو د خپلو اختلافونو علاج به يې کړی وای، چې ولس يې پرې کباب کباب کړ. د خپلې دې ليکنې د وروستۍ غوټې په توګه يو ځل بيا له افغان حکومت او نړيوالې ټولنې څخه هيله کوم، چې تېرې ناروغه سياسي څېرې ، د نويو درملو په توګه، نورې زموږ په ټولنه کې ونه کاروي، دا همغه تاريخ تېري درمل دي، چې بيا کارول يې په لسګونو جانبي عوارض او مرضونه زېږوي، نو که نړيواله ټولنه او افغان حکومت اوسمهال، لکه د عامې روغتيا وزارت د ماهرينو


(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان، دا تاریخ تېرې درمل، د ښارونو له درملتونو څخه نه شي ټولولای او نه یې شي سېزلای، نو لږ تر لږه خو دې دومره وکړي، چې نور امتیازات دې نه ورکوي، سیاست ته دې پرېږدي، خو په سیاسي او اقتصادي امتیاز دې نه سمبالوي، خپل کفایت او خپل ظرفیت ته دې پرېږدي، چې څومره خپل سیاسي ژوند او واک غځولای او تضمینولای شي. اوسمهال که حکومت او نړیواله ټولنه دا توره هم وکړي، نو زموږ ولس به د شکرانې لمونځونه ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجات څلی

## (د بیا جوړونې کیسه)

لیکوال

محمد اسمعیل یون

١٣٩٦المریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library





# نجات ځلی

## د بیا جوړونې کیسه

**لیکوال: محمد اسمعیل یون**

**کمپوز: فیاض حمید**

**ډیزاین: سپین سهار**

**خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک**

**د لیکوال د خپرونو لړ: (۴۴)**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۳۴)**

**چاپکال: ۱۳۹٦ل/ ۲۰۱۷ز**

**چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**وېبپاڼه: www.melitahirk.com**

**چاپځی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

**د دې کتاب د چاپي او آنلاین خپرولو ټولې رښتې له خپرندوی سره خوندي دي**

**۸۳۵۳**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجات څلی د یوه ملت ژوندی تاریخ

لکه څرنگه چې هر ملت خپل خپل ارزښتونه لري او د هغو دساتنې او پالنې په فکر کې وي، د نجات څلی هم د افغان ملت د برم سمبول او د اغتشاش د له منځه وړلو یو ژوندی تاریخ دی، چې د هېواد ژغورنې لپاره خپلو اوسنیو او راتلونکو نسلونو ته هغه سربښندنې ور په زړه کوي، چې د دې ملت اصیلو بچیانود خپلو سرونو په نذرانه کولو سره هېواد ژغورلی او تر دې دمه یې اوسنیو نسلونو ته سپارلی دی. کله چې سپه سالار محمد نادر خان څو میاشتې د پکتیا پر ولسونو وگرځېد په پای کې یې د پکتیا مشران (سپینه شگه) کې جرگه کړل او هغوی ته یې درې وړاندیزونه وکړل:

۱- د سقاو زوی ته چې زموږ پر سر یې ډېرې پیسې ایښې، موږ وروسپارئ او هغه زیاتې پیسې ترلاسه کړئ!

۲- که مو خوښه وي موږ له ځاځیو څخه وشړئ چې موږ نور پر تاسو بوج نه شو او درېیم وړاندیز دا چې:

۳- راځئ په گډه ملا وتړو او خپل وطن د سقاو له تورتم څخه خلاص کړو.

د نادر خان تر وړاندیزونو وروسته د ځاځیو مشرانو، له نادر خان او د هغه له ورونو پرته په یوه جلا غونډه کې پرېکړه وکړه چې دا به تاریخي بدنامي وي چې دا ورونه د پیسو په مقابل کې سقاویانو ته وسپارو، د پښتونولۍ د دود دستور له مخې هم سمه نه ده چې دا ورونه موږ له خپلې سیمې وشړو، نو راځئ چې ملا وتړو او کابل بېرته ونیسو. پر همدې وروستۍ پرېکړه دوعا وشوه او درې ورځې وروسته د قومي اربکیو یو لښکر تیار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې د (۱۳۴۸هـ .ق)کال د ربیع الثاني پر یوویشتمه نېټه مشران سره جرګه شول او په یوه پنځلس ماده ییزې پرېکړې سره یې د هېواد ژغورنې ته ملا وتړله. چې ددغو غازیانو په سرښندنو سره هېواد یو ځل بیا له اړ و دوړ څخه وژغورل شو او د یو ملي حکومت حاکمیت ته لاره اواره شوه.
د دې سترې بریا د ژوندۍ ساتلو او راتلونکو نسلونو ته د یادګار په توګه یې په لاهورۍ دروازه کې یو څلی جوړ کړ. نوموړی څلی د ببرک کارمل دواکمنۍ پر مهال په دې نیت له بېخه ونړول شو، چې هېڅ اثار یې پاتې نه شي، خو ژوندي ملتونه هېڅ وخت خپل ارزښتونه له لاسه نه ورکوي او نه یې د لاسه ورکولو ته تیار دي، که څه هم په پښتني ټولنه کې ټولې بدبختۍ په پوره شدت سره موجودې دي، خو بیا هم په همدغو بدبختیو کې خدای ج په دغو پرګنو ځینې د کار او دستار سړي لورولي دي.

چـــې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

هو د پښتنو د دستار سړیو په جمله کې یو هم پوهاند محمد اسمعیل یون دی چې د نجات څلي د بیاجوړونې لپاره یې له نورو هېوادوالو او یو شمېر مشرانو سره یوځای متې را ونغښتلې او په پوره مېړانه او نه ستړي کېدونکي زیار یې وکولای شول چې د هېواد ټول قومونه د نجات څلي په یو ځل بیا جوړولو سره سلا کړي. له نیکه مرغه د استاد او ځینو نورو مشرانو دغو هڅو رنګ راوړ، د نجات څلی تر پخواني هغه نور هم لوړ او د تاریخ په حساسو شېبو کې چې د ملي ارزښتونو او یادګارونو د له منځه وړلو پوره هڅه کېږي؛ یو ځل بیا دنګ کړ. خو دغه کار استاد له زیاتو ننګونو او خنډونو سره مخ کړی دی، ځکه چې استاد د ټولو هېوادپالو شخصیتونو دروازې ته لکه درویزګر درېدلی او د څلي لپاره یې د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړیو ژمنو د پوره کولو غوښتنه څنې کړې (په دې اثر کې ورته په تفصیلي ډول اشاره شوې) چې دا بیا تر ټولو سخت کار و. له چا څخه د یو ((ملي)) کار لپاره پیسې غوښتل او دهغه پوره حساب ورکول او د ټولو شکاکانو د شکونو رفع کول هم ساده خبره نه ده. د ځینو په وینا د مرستې جلبول یانې سیند ته د هغوی غورځول دي (ښه وکړه او سیند ته یې وغورځوه!)، دا نو د ستر کیمیاګرو کار دی د هر وګړي په وس پوره خبر نه ده.

په دې اثر کې پوهاند صیب د څلي پر تاریخ، ارزښت او بیا جوړولو رڼا اچولې ده، پوهاند صیب په دې اثر کې هغو ټولو لوړو ژورو ته اشاره کړې، چې د کار په بهیر کې ورسره مخ شوی دی؛ د چا له خوا ننګول شوی، د چا له خوا رټل شوی، د چا له خوا ستایل شوی او نور ټول موضوعات یې په کې واضح کړي دي، چې دلته یې تکرار او بیا بیان ته ضرورت نشته. لکه څنګه چې خوشال خان خټک له پښتنو سره د کار پوره تجربه لري، د بې اتفاقۍ په شمول د هغوی هرې چارې ته یې اشاره کړې. دغسې استاد یون هم له پښتنو سره د ګډ کار پوره تجربه لري. خوشال بابا وایي:

اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شـــه
ګنې ما به د مغول ګریوان پاره کړ

یو شی چې زه یې ډېر زیات تر اغېز لاندې راوستم هغه د پوهاند صیب د قلم یوه ځانګړنه ده، چې هر کله د حکومت پر نادودو هم لیکلې نیوکه کوي، نو په پای کې د علمي لیکنو په څېر ورته ځینې سپارښتنې هم کوي، چې دا چاره یې پر لوستونکي د لیکنې اغېز لا پسې زیاتوي چې په دې سره یې د لیکنې عینیت او علمیت جوتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې اثر په پای کې یې په پښتنې ټولنه کې د کار ټولې تجربې شریکې کړي که هغه مثبتې دي او که منفي او استاد په پوره امانتدارۍ سره پرته له دې چې د چا شخصیت ته زیان ورسېږي، ټول تېر بهیر یې واضح کړی، له دې څخه هدف دا دی چې راتلونکو مبارزینو او د کار سرېو لپاره د لارې مشال شي.

ځوک چې دا کتاب لولي نو راساً یې د څلي ماضي او حال ته بیایي، تاریخي واقعیتونه په تسلسل سره یو پر بل پسې بیانېږي او بیا خبره تر دې دمه رارسېږي. دا کتاب د تاریخي او اوسنیو واقعیتونو د بیان ترڅنګ د یونلیک بڼه هم لري چې په ډېر دقت سره د څلي د بیاجوړونې بهیر په کې ګام پر ګام تعقیب شوی. دا کتاب د دېرشو ورځو په بهیر کې لیکل شوی، ایډېټ شوی او چاپ ته تیار شوی دی. له یوه پاخه لیکوال پرته دا د هر لیکوال په وس پوره خبره نه ده.

که ملي ضرورت او احساس نه وای او قوي انګېزه، نو هېڅکله به داسې یو اثر نه و رامنځته شوی. په دې اثر کې چې کوم ترخه جریانونه بیان شوي، زه نه غواړم چې هغه دلته راوسپړم، ښه ده چې لوستونکي یې خپله په دقت سره ولولي.

هغو مبارزینو ته چې مبارزه کوی او غواړي په پښتنې ټولنه کې کار وکړي او کار یې ثمر هم ورکړي، مشورې ورکوي، دغه مشورې ځینې ډېرې خوږې او ځینې ډېرې ترخې دي، خو ددغو مشورو پلي کول به مو هڅه او هاند په اوبو نه وړي، په دې مشورو کې یې د کار پر وړاندې ټولو خنډونو، خطرونو او ننګونو ته د حل لاره په ګوته کړې ده، که مبارزین غواړي کار وکړي، نو څه ډول پیل او څه ډول یې پای ته ورسوي، که وننګول شي څه باید وکړي، له خنډونو سره څه ډول مبارزه وکړي، موږ د پېښومدیریت په نوم یو مضمون تدریسوو، چې په کې د پېښې تر مخه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باید وشي، د پېښې پر مهال څه باید وشي او تر پېښې وروسته څه باید وشي، نو استاد هم د پېښو د مدیریت د پرنسیپونو له مخې خپلې چارې داسې ترتیب کړې وې، ته به وایې چې دا مضمون یې په زور او زیږ لوستی دی. ځینې پېښې دي چې د هغو مخنیوی ناشونی وي، نو پر وړاندې یې باید داسې لارې ولټول شي، چې د گوابښ کچه راټیټه شي. چې استاد هم په دې اثر کې ورته اشاره کړې آن پر خپلو کړیو کارونو یې د دې لپاره چې د خلکو حسادت را ونه پاریږي، پرده اچولې، د هغو د نه یادولو قرباني یې ورکړې ده، خو په داسې حال کې چې له هغو څخه یادونه یې مطلق حقوقي حق دی، خو استاد د پرگنو د وحدت او پښتني برم لپاره، لکه څرنگه چې یو مشر ته ښایي هماغسې اوسېله کړې او لکه د مدبر مدیر په څېر یې په ټولیزه توگه دغه ټولې ناخوالې مدیریت کړې دي.**

**په پای کې زه درانه لوستونکي د استاد د ترخو او خوږو تجربو لوستو ته رابولم، چې د څلي د بیا جوړونې په کاري بهیر کې یې ورته نغوته کړې، بویه که په پښتني ټولنه کې مبارزین غواړي کار وکړي، نو له دغه اثر څخه د یوه لارښود په توگه ښه کار اخیستلای شي.**

**په درناوي**

**وفاالرحمن وفا**

**احمدشاه بابا مېنه کابل- افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دې اثر د لیکلو اهمیت او ضرورت

هغه ټولنې چې غم ځپلې او درد ځپلې وي، ستونزې او کړاوونه یې زیات گاللي وي، په هغو کې د خدمتگار او خاین تثبیت اسانه کار نه دی. د شخصیت زغمل هم په کې یو سخت کار دی او د شخصیت جوړونې بهیر هم په کې له سختو کړاوونو څخه تېرېږي. په داسې ټولنو کې مصنوعي شخصیتونه ډېر وخت د اصلي شخصیتونو ځای نیسي او تر څو چې حقیقت روښانه کېږي، دروغو خپل کار کړی وي، په همدې خاطر زموږ په ټولنه کې متل دی: ((څو چې رښتیا راځي درواغو به کلي وران کړي وي)). متل په یوه ټولنه کې د هغې ټولنې د وگړو دمتواترو تجربو وروستۍ نتیجه او نچوړ دی. دا د ټولنیز منطق داسې یو فورمول دی چې د هغه له پاسه بیا بله خبره ځای نه لري، نو ځکه خو پر متل باندې پر نالیکلې او نا رسمي بڼه د ټولنې عام توافق موجود وي. متل په داسې ځای کې کارېږي چې ورته مسله پېښه شي او څوک یې د غوټې خلاصولو وس نه لري، یا هم د طرف او طرفینو تر منځ پرې د گټو او نظر توافق موجود نه وي، نو جرگه مار یا متلچي چې پر خپل وخت او پر خپل ځای اړوند متل وکاروي، نو خبره راټوله او بیا نورو خبرو، دلیل او څنگزنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسایلو ته په کې د بحث مجال پاتې نه شي. زموږ په ټولنه کې رښتیني او کاذب شخصیتونه دواړه موجود دي. رښتیني شخصیتونه نه غواړي په تصنعي، تکلفي ډول او د تظاهر له مخې ځان ځرګند کړي، کار او خدمت کوي، خپله خوله تویوي، خو په اکثرو وختونو کې ځان شاته ساتي، پر خپل نفس پښه ږدي او د ځان د شهرت او نېکنامۍ لپاره هڅه نه کوي. خو په مقابل کې بیا تصنعي او تکلفي شخصیتونه چې اصلاً د کار وس او توان نه لري، غواړي د حقیقي شخصیتونو د کار او زیار په برکت رامنځته شوي مثبت کارونه د ځان په نامه تمام کړي او په دې ډول د خپل شخصیت د تصنعي تبارز لپاره لاره اواره کړي. ډېر وخت رښتیني شخصیتونه د خپلې حیا او عزت په خاطر د دې ډول اشخاصو پر وړاندې غبرګون نه ښیي او نه غواړي خپل فزیکي او فکري ځواک د دې ډول اشخاصو پر وړاندې وکاروي، نو تصنعي اشخاص له دې تشیال څخه هم ګټه پورته کوي او غواړي په یو نه یو ډول په ډېره سپین سترګۍ سره ځان مطرح او د عوامو ذهنیت منحرف کړي. له همدې کبله هغو اشخاصو چې د ژوندانه په هر ډګر کې توره کړې، د تورې ثمر یې تکلفي او ځان خوښو اشخاصو وړی، نو ځکه خو د همدغه جریان د تثبیت په خاطر په پښتو کې یو متل رامنځته شوی چې: ((تورې دې لالا وهي، مړی دې عبدالله وهي)).

د نجات ځلي د بیا جوړونې په برخه کې دواړه یاد متلونه یو ځل بیا د عمل په ډګر کې پلي شول. د ځلي تر جوړونې مخکې د ښاغلي محمد نذیر احمدزي په کور، ژوندون ټلوېزیون او ځینو نورو ځایونو کې چې څومره غونډې شوې وې، په هغو کې چې کومو سیاسي او تصنعي اشخاصو کومې ژمنې کړې وې، هغه یې یوه هم عملي نه کړه، نه یوازې خپل لوزونه یې عملي نه کړل، بلکې داسې یې ځانونه غیب کړل چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتو میاشتو یې پیدا کېدل ناشوني شول. د موضوع د رڼاوي لپاره به یو دوه درې بېلګې راوړم. ښاغلی محمد نذیر احمدزی چې د دې ځلي د بیا جوړونې له اساسي اشخاصو څخه و، د ځلي د ډبرې تر ایښودلو وروسته لا درکه شو، څه موده وروسته مې په ډېر تکلیف او هڅونې یو ځل د ځلي کتلو ته اړ کړ، خو تر هغه وروسته مې بیا د سلګونو ټلېفونونو او واسطو په کارولو سره هم پیدا نه کړای شو. د (۱۳۹۵ل) کال د تلې (۲۳)مه نېټه د ځلي ډبره کېښودل شوه. د (۲۰۱٦م) کال د نومبر پر دویمه نېټه چې د (۱۳۹۵ل) کال د لړم (۱۲)مې نېټې سره سمون خوري، زه (یون) او احمدزی صیب د ځلي د کار لیدلو ته ورغلو، نور مې نو بیا احمدزی صیب څو میاشتې وروسته د (۱۳۹٦ل) کال د سرطان پر (۳۱)مه نېټه د شپې لس بجې د هغه په کور کې ولید. تفصیل یې وروسته د دې کتابګوټي په متن کې راځي.

ښاغلی عبدالرشید ایوبي چې د (عدالت) په نامه یو ګوند هم لري او د نذیر احمدزي په کور کې یې د نږدې دوو سوو قومي مشرانو او مخورو پر وړاندې ژمنه وکړه چې لومړنۍ بسپنه چې هر چا وکړه او تر هغه وروسته چې پر ځلي هر څومره مصارف راځي، هغه ټول زه ورکوم، هېڅ تشویش مه کوئ، ان که خبره تر پنځه لکو ډالرو هم ورسېږي. کله چې د ځلي ډبره کېښودل شوه، ایوبي صیب چې له ستېج څخه ښکته شو، پر همغه ورځ دوبۍ ته لاړ، د نږدې لسو میاشتو په بهیر کې یو ځل هم د ځلي خواته ور ونه ګرځېد، یوازې (یو لک) افغانۍ ترې په متواترو ټلېفونونو او فشارونو ترلاسه شوې.

د نجات ځلي د ډبرې تر ایښودو وروسته ایوبي صیب د همغه کال د ډسمبر پر (۱۰)مه نېټه چې د (قوس) میاشتې له (۱۹) مې نېټې سره سمون خوري،

(احمد شاه بابا مېنې) په (ملالۍ ځلور لارې) کې یوه لویه غونډه جوړه کړه او هلته یې وویل چې دا ځلور لارې او د ملالۍ یادګاري ځلی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوم، یوازې د ملالۍ واټ لوحه یې ولګوله او لاندې یې ترې ولیکل، (عدالت ګوند) تر هغه وروسته بیا تر دې دمه چې نږدې (اته) میاشتې تېرېږي، په هغه ځای کې نه چا ایوبي صیب ولید، نه کار ښکاره شو او نه چا ((عدالت)) ولید.

د نجات څلي لپاره د مالي مرستو د راټولولو، جواز اخیستلو او فرهنګي کمېټو په نامه دوه درې کمېټې جوړې شوې، نه یوازې دا چې کوم کار یې تر سره نه کړ، بلکې خپله کمېټې او غړي یې هم لادرکه شول.

کله چې د څلي د ډېرې د ایښودلو لپاره لویه غونډه جوړه شوه، نو پرېکړه دا شوې وه چې دا یوه ملي مسله ده، هېڅ ګوند او شخص حق نه لري چې دې غونډې ته خپل عکس او یا د ګوند لوګو، بینر او بیرغ راوړي او له دې ملي حرکت څخه سیاسي ګټه پورته کړي، خو کله چې مو سټیج وکته، د ښاغلي نذیر احمدزي یو څو عکسونه هم ښکارېدل او عبدالرشید ایوبي بیا د خپل ګوند بیرغ، لوګو، د خطابې مېز او بینرونه راوړي وو.

کله چې غونډه (ویناواله برخه) خلاصه شوه ډېره لا نه وه ایښودل شوې چې پر سټیج ولاړ مشران او ویناوال ټول لادرکه شول، چا د کورني او چا د بهرني سفر لمنه ونیوه. موږ د ګڼو ولسي مشرانو په ګډون ډېره کېښوده. ساعت وروسته چې مو د ټولیزو رسنیو پاڼې واړولې، هر چا د خپل فیسبوک پر پاڼه لیکلي وو چې: ((مبارزو مو رنګ راووړ.)) د (عدالت) ګوند خپلو پلویانو او هېوادوالو ته لیکلي وو چې د ګوند مبارزو یې رنګ راوړ، څلی مو پرانیست، د اصولي صیب پلویانو هم هغه ته مبارکي ورکړې وه او نورو په لسګونو اشخاصو هر یو لیکلي وو چې مبارزې او تورو یې رنګ راوړ.

زموږ فرهنګي ملګرو او نورو انډیوالانو ماته وویل چې دا څه خبره ده چې له دې څلي څخه سر له همدا اوسه د مومن خان د ښامار کیسه جوړه شوه، هر سړی په کې خپله توره سره کوي او په خپل نامه یې یادوي؟ خدای حاضر دی ما ورته وویل: ((د خوشالۍ کار دی، پرېږدئ چې هر سړی یې یادونه وکړي، هر سړی یې ځان وارث وګڼي او هر سړی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مال وګڼي. د خلکو روحیه او جذبه باید مړاوې نه شي، بل که په دې کې د دوی شخصیتونه وځلېږي او مطرح شي، موږ ته یې تاوان څه دی؟ موږ داسې یوه مرحله کې یو چې ځومره مو شخصیتونه زیاتېږي، د کار پر شخصیتونو فشار کمېږي او ټولنیز مسولیتونه تقسمېږي. بله خبره دا ده چې دا د څلي د جوړېدو د اکمال افتتاح نه ده، دا یوازې د ډبرې د ایښودلو مراسم دي چې دا له څلورو میاشتو نیولې بیا تر کال پورې وخت غواړي، دې کې بیا معلومېږي چې څوک کار کوي او څوک ځان باسي، تر هغو وروسته بیا قضاوت کول په کار دي.)) څه موده ځینو اشخاصو فیسبوکونه د خپل ځان په ګټه ډک کړل، خو وروسته یو یو لادرکه شو. هغو اشخاصو کار ته ودانګل چې نه یې ژمنه کړې وه، نه یې شهرت غوښته او نه تردې دمه د څلي د جوړونې په بهیر کې شامل وو. دې خلکو مالي او معنوي زیار وویست، قرباني یې ورکړه. د نهه نیمو میاشتو په بهیر کې د څلي د جوړېدو کار نوي سلنه بشپړ شو، په دې مانا چې اسکلېټ یې جوړ شو. دا مهال بیا یو شمېر هغه اشخاص، لکه ښاغلی نذیر احمدزی، صمد ځاځی او یو شمېر نور چې د څلي د ډبرې تر ایښودو دمخه ډېر فعال وو او د څلي د بیا جوړونې له اصلي مدعیانو څخه ګڼل کېدل، خو په تېرو نهو میاشتو کې یې بیا پته ونه لګېده، یو ځل بیا لاس په کار شول، دې منځ کې زموږ او د قراردادي شرکت تر منځ ستونزې هم پیدا شوې چې پر خپل ځای ورته اشارې کېږي. د دې یادو ښاغلو په ګډون ګڼ شمېر نور اشخاص ټول راپیدا شول او د څلي د کار د څرنګوالي پوښتونکي شول، هغه څوارلس، پنځه لس تنه چې څلی یې تردې ځایه راورسوه، پر ځای پاتې شول، یو ځل بیا زوړ داستان راغبرګ شو. ځینو بیا په فیسبوک کې خپل عکسونه پورته کړل، ځینو خپلو پلویانو ته وویل چې له موږ څخه مننه وکړئ چې څلی مو درته تکمیل کړ. د قراردادي انجنیر په اشاره د هغه پلویانو د هغه عکسونه پورته کړل چې له انجنیر (ځلاند) څخه مننه چې موږ ته یې دا څلی جوړ کړ، په داسې حال کې چې دی د ساختماني شرکت مسول و او د کار په مقابل کې یې اجوره اخیستله. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې منځ کې پر ما (یون) هم ډول ډول تورونه پورې شول، چې کار یې انحصار کړی، له ځلي د خپل ځان او خپل تحریک په ګټه کار اخلي، دا ویاړ له یوه سمت څخه بل ته وړي او نور ډول ډول تورونه. دې ډول تورونو او دېته ورته نورو نارښتینو پېښو او ګونګوسیو زه دېته اړ کړم چې دغه کتابګوټی ولیکم او د ځلي د جوړونې ټول جریان هېوادوالو ته تثبیت او د راتلونکي تاریخ برخه یې کړم. خدای شته له سره مې په زړه کې هېڅکله هم نه ګرځېدل چې زه به له ډول ډول ستونزو سره مخامخېږم او بیا به د دې کتابګوټي لیکلو ته هم اړ کېږم اوس مې نو فکر وکړ، که زه دا کار ونه کړم، نو د هغو خلکو پر حقوقو به خاورې اړول شوې وي، چې تر ټولو زیات زیار یې ګاللی او یو شمېر اشخاص، ډلې یا ګوندونه غواړي، د هغوی زیار او کار په خپل نامه تمام کړي، د هغه متل د بیا تکرار مخه باید ونیول شي چې کلي ورانوي او یا دې هم د لالا په توره عبدالله غوړې مړی تر ستونې تېروي؛ مننه او تشکر دې هم نه کوي او هغه دې په خپل نامه هم تماموي. په همدې ډول باید موږ د تاریخ هغه برید ته هم ورسېږو چې د تکلفي، تصنعي او ځان خوښو اشخاصو د ناطبیعي ودې مخه ونیسو او حقیقي شخصیتونو ته لاره پرانیزو. یو ځل بیا یادونه کوم چې خدای (ج) حاضر، ناظر او شاهد دی چې زما په زړه کې هم د دې اثر د لیکلو اراده موجوده نه وه، نو ځکه خو مې د ځلي د جوړونې له پیله بیا تر دې دمه هېڅ ډول یادښت نه دی لیکلی او نه مې کوم اسناد راټول کړي، خو د ځینو اشخاصو ناسمو حرکتونو مجبور کړم چې د دې ځلي حقیقي داستان بیان کړم، اوس خو د ټکنالوژۍ او انټرنېټ زمانه ده، ځینې اسناد خو به د هغو له څېو څخه ترلاسه کړم، د سترګو لیدلی حال به هم بیان کړم او پر خپلې حافظې به هم فشار راوړم چې د تېرو نږدې لسو میاشتو مهم ټکي رابرسېره کړم. غواړم د هغو رښتینو افغانانو حق ادا کړم چې د زړه له اخلاصه یې په دې کار کې هلې ځلې کړي او تر اوسه لا خبر هم نه دي چې له دوی څخه به مننه او یادونه کېږي او که نه؟ او دوی هم هېچرې تر اوسه پورې هڅه نه ده کړې چې خپله مرسته پر ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپاسلي. داسې تصور باید وکړو چې موږ ژوندي خلک، د ملي مبارزې یو لوری او تګلوری یو، فکر او قلم هم خوځوو، نو اوس چې یو شمېر سیاسي خلک، تنګنظران، لنډپاري او شهرت غوښتونکي زموږ په سترګو کې راننوزي، د عام ولس به څه حال وي؟ څرنګه چې د نجات ځلی د ټولو افغانانو یو تاریخي ویاړ او د تاریخي واقعیتونو پر بنسټ ولاړ دی، نو ځکه خو یې باید د بیا جوړونې تاریخ هم همداسې د واقعیتونو پر اساس ولاړ پاتې شي، نو ځکه مې د دې کتابګوټي د لیکلو تکل وکړ.

د (۱۳۹٦ل) کال د اسد پر (۲)مه د دوشنبې پر ورځ د سهار تر لمانځه وروسته پر پنځو بجو مې د دې اثر د لیکلو عملي کار پیل کړ او دا یې لومړی یادښت دی چې تاسو ولوست، نور پوره داستان او تر دې یادښت وروسته کیسې او حقیقتونه ټول د دې کتابګوټي په نورو پاڼو کې لوستلای شئ!

په درنښت

ستاسو د ټولو خدمتګار

ستاسو خپل یون

(۱۳۹٦ل) کال د اسد (۲)مه، دوشنبه، کابل، مکروریان

زما خپل کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حبیب الله کلکانی څوک و او څه یې وکړل؟؟



حبیب الله کلکانی

د نجات منار یا څلي اساس هغې موضوع پورې تړلی چې د دې څلي تر جوړېدو دمخه پېښه شوې او دا څلی په واقعیت کې د همغې تورې حادثې او زمانې په مقابل کې د یوه تاریخي یادگار په توگه هسک شوی دی. دې زمانې ته په تاریخ کې (سقاوي اړو دوړ) وایي. دا دوره د حبیب الله کلکاني چې د (بچه سقاو) یا (سقاو زوی) په نامه هم یادېده، له واکمنۍ سره پیل او د ده د واکمنۍ له نړولو سره سمه پایته ورسېده. د دې لپاره چې درانه لوستونکي (د نجات منار) د جوړولو پر اهمیت او ضرورت ښه پوه شي، نو ښه به وي، تر هغه وړاندې د حبیب الله کلکاني پر ژوند او د هغه د واکمنۍ پر څرنگوالي هم رڼا واچول شي. کله چې څوک د کلکاني د واکمنۍ پر څرنگوالي خبر شي، نو بیا تر هر چا زیات د نجات څلي پر اهمیت، ضرورت او ارزښت پوهېږي.

((کله چې انگرېزانو له افغانانو څخه په درېیو سترو جنگونو کې د ماتې مزه وڅکله، نړیوال پر ستیژ او حیثیت یې کمزوری او پیکه شو، نو له افغانانو څخه د یو ډول غچ اخیستلو په لټه کې شول، هغوی په افغانستان کې د لاسوهنې او کور ورانۍ ښه پخه تجربه لرله. پر (۱۹۱۹م) کال چې انگرېزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسمي ډول په نړیواله کچه خپله ماتې ومنله او د افغانانو برى یې تصدیق کړ، نو په افغانستان کې د یو نوي، ښکلي او ښېرازه تمدن د زرغونېدو او ټوکېدو هیلې پیدا شوې، په نړیواله کچه د افغانستان نوم او نښان څرګند شو، په ټوله نړۍ کې زموږ هېواد د یو ځانګړي حیثیت ویاړ او پرتم خاوند شو. افغانستان په ډېرې چټکۍ سره د تمدن او پرمختګ پر لوري ګامونه واخیستل.

انګرېزانو سره له دې چې په رسمي ډول د افغانانو سیاسي خپلواکي او خپله ماتې منلې وه، خو بیا یې هم له لاسوهنو څخه لاس نه اخیسته، دا ځل د یوې بلې تجربې د ازمېښت په لټه کې شول. دوی د دې کار لپاره دا وار داسې یو شخص وټاکه چې هم ساده او امیږ و او هم ظاهراً یو لږکي قوم ته منسوب و، انګرېزانو دا ټسټ کاوه چې د لږکیو د حکومت ظرفیت څومره دی، ایا دوی هم په راتلونکې کې د واک د یو کاندید او فکتور په توګه مطرح کېدی شي او که نه؟د انګرېزانو ګټې تضمینولای او پاللای شي که څنګه؟ د حکومت کولو او د هېواد د کنټرول ظرفیت یې څومره دی؟ په ټولنیز ثبات او بېثباتۍ کې یې ونډه څومره ده؟ همدغو پوښتنو ته د ځواب موندلو او د یو نوي تمدن د پرشا تمبولو لپاره یې حبیب الله کلکانی (بچه سقاو) انتخاب کړ. په خپلو مرستو او د کورنۍ ارتجاع په ملتیا یې هغه د دې جوګه کړ چې لومړی ګړ و بړ جوړ کړي او بیا نوی راټوکېدلی تمدن له سقوط سره مامخ کړي.

حبیب الله کلکانی د امین الله زوی پر (۱۸۹۰م) کال زېږېدلی دی، هغه د شمالي د کلکانو د (ډکو) د کلي اوسېدونکی ، پلار یې څه مهال مالونه پوول، بیا یې سقاوي غوره کړه، غوښتل یې چې زوی یې څه درس مکتب ووایي، خو ښوونځی یې ونه شو لوستلای، له بدو او اوباشو هلکانو سره یې ناسته ولاړه شوه، په غلا، قمار بازۍ ور روږدی شو، پر (۱۹۲٦م) کال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهي پوځ کې عسکر شو او د یوه عادي عسکر په توګه یې دنده سرته رسوله، یو ځل یې د لسو ورځو لپاره رخصت واخیست او کور ته لاړ، له ځان سره یې سرکاري وسله هم په پټه یوړه، کله چې له کابل څخه نهه میله لرې د (حاجي کلا) کوتل ته ورسېد، درې غله په لار کې پرې راپورته شول، له هغوی سره یې مقابله وکړه او یو غل یې وواژه، کله چې تر رخصتۍ وروسته بېرته کابل ته راغی، نو بیا په پټه د وسلې په وړلو او د غله د وژلو پر تور تر پوښتنې لاندې راغی، تر پنځو میاشتو سزا وروسته خوشې شو او پېښور ته وتښتېد، په قصه خوانۍ بازار کې یې له (محمد صدیق) بوټ خرڅوونکي سره مزدوري کوله، پر (۱۹۲۷م) کال د دسمبر پر شلمه ده ته له کابله خبر راغی، په پرده کې او په بدله څېره خپلې سیمې ته ورسېد او په داړه مارۍ یې پیل وکړ.
ځینې نورو څېړونکو د هغه په باب ویلي چې هغه یو ډېر کور مغزه وګړی و، د حافظې ځواک یې نه درلود، ځکه خو یې په درېیو کلونو کې له څو ملایانو څخه د بغدادۍ قاعده هم زده نه کړای شوه، کله چې یې پلار د هغه له زده کړې څخه بېخي مایوسه شو، نو هغه یې له ملک (محسن خان کلکاني) سره چې د کلکانو یو غټ خان و، مزدور کړ، خو تر یو څه ځنډ وروسته یې دا کار هم پرېښود او د سیمې د داړه مارانو له ډلې سره یو ځای شو، وروسته یې د افغانستان په ځینو نورو سیمو کې هم پر چور او چپاول لاس پورې کړ، کله چې پوه شو نور نو د خلکو اوسېله تنګه ده او دولت د ده د نیولو په هڅه کې دی، پر (۱۹۲٦م) کال یې له (محمد اعظم خان) سره د افغانستان خاوره پرېښوده او د غلا بازار یې ګرم کړ، وروسته د ده او د ده د ملګري (محمد اعظم خان) تر منځ مخالفت پیدا شو، د سقاو زوی پېښور ته لاړ او هلته له (محمد صدیق) بوټ خرڅوونکي سره مزدور شو، څرنګه چې د غلا په وجه دی دلته هم تر څارنې لاندې و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د محمد اعظم خان بېلتون او خپګان ده ته ډېر ګران تمامېدل، نو ځکه خو (پاړه چنار) ته لاړ او هلته له هغه سره پخلا شو.
ځینې کتونکي او څېړونکي په دې نظر دي چې سقاو زوی په پېښور کې د اوسېدو پر وخت د برتانیې له استخباراتو سره تماسونه لرل، مثلاً پر (۱۹۲٦م - ۱۳۰۵ل) کال یې په پېښور کې د سرحدونو د پولیسو له رییس (پیروان) سره اوږدې لیدنې کتنې لرلې. ځینې نور څېړونکي نظر څرګندوي چې د کابل د اشغال په لومړیو هڅو کې د سقاویانو د فعالیت په ساحو کې برتانوي استازي هم موجود وو او د سقاو زوی، د برتانیې له استازي (ام فرنیس) سره شخصي تماسونه درلودل.
میر غلام محمد غبار لیکي: ((بعد از انکه در ماورای خط دیورند به دزدی در پاره چنار متهم و محکوم به یازده سال حبس گردید، دفعتاً بطور مرموز رها شد و به افغانستان برگشت))
کله چې افغانستان ته راوستل شو، نو د کابل شمال د کوهدامن سیمه کې یې نور غله او داړه ماران هم پر ځان راټول کړل، د لارې پر شکولو، لوټ او تالان یې لاس پورې کړ، له خپلو غلو سره د مرکزي دولت پر وړاندې ودرېد، کورنۍ ارتجاع، ځینې تنګنظره روحانیون او انګلیسي استخبارات ټول سره یو ځای شول او د کابل د نیولو پلان یې جوړ کړ.
د (۱۹۲۸م) کال په نومبر او د (۱۳۰۷ل) کال د عقرب په پای کې یې د کابل او د هېواد شمال ولایتونو لاره قطع کړه، د (۱۳۰۷ل) کال د لېندۍ پر (۲۲)مه یې د (سرای خواجه) سیمه ییز حکومت له منځه یوړ، حبیب الله کلکاني د (۱۹۲۸م) کال د دسمبر پر (۱۳)مه (۱۳۰۷ل لیندۍ) د برید لپاره د کابل شمال ته راغی، د خیر خانې له کوتله راواوښت او په (شهر آرا) کې ودرول شو. د جنورۍ پر (۱۳)مه غازي امان الله خان له سلطنت نه خپله خلع اعلان کړه او د جنورۍ پر (۱۵)مه سردار عنایت الله خان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې چې د سقاو زوی د (ده کېپک) سیمه نیولې وه او کابل یې محاصره کړی و، د پادشاهۍ اعلان وکړ، د جنورۍ پر (۱۷)مه بېرته خلع او واک د سقاو زوی ته ورسېد، د جنوري پر (۱۸)مه د مازیگر (۵) بجې د (۱۳۰۷ل) کل د مرغومې (۲۸) د سقاو زوی هم ارگ ته راغی او په گلخانې ماڼۍ کې کېناست او په دې ترتیب د افغانستان د تاریخ یوه توره دوره پیل شوه.

غلام محمد غبار په دې اړه لیکي: ((شخص حبیب الله طبعاً از اداره یک کشور نی بلکه از اداره حسابی یک قریه هم عاجز بود)).

((اینها چون از عصر و حتی محیط کابل عقب مانده افتاده تر بودند و هر جا سری می یافتند در صدد بریدن ان می شدند، تا در یک عرصه در شده هیچ سری باقی نماند و انها به تنهایی سر افرازند، پس به شمشیر و زنجیر و اعدام تکیه می کردند)).

((انقراض سلطنت شان امان الله با استقرار حکومت اغتشاشی بچه سقاو توام بود، و این واقعه در افغانستان به حیث یک فاجعه تلقی گردید، مخصوصاً در بین طبقه روشنفکر. وحدمت ملی افغانستان به واسطه تولید نفاق عمومی بنامهای پشتون و تاجک، هزاره و ازبک، سنی و شیعه و امثال ان بر هم خواهد خورد، و باالاخره فضای دیگر و قشر دیگر ایجاد خواهد گردید که به منافع و مصالح مردم افغانستان ارتباط نداشته و بساز دیگران خواهد رقصید.))

د سقاو زوی په واکمنۍ سره په ټول هېواد کې یوه سراسري انارشي رامنځته شوه، نوی راټوکېدلی تمدن پر شا وتمبول شو، د خلکو عزت، حیا، سر او مال په خطر کې شو، د پوهې، کلتور او پرمختگ دروازې وتړل شوې، ان تر دې چې بچه سقاو لومړی کار دا وکړ چې په خپله کابینه کې یې د معارف او عدلیې وزارت ته ځای ورنه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واک د لومړیو ورځو پر مهال یې خلکو ته په خپله یوه وینا کې وویل: ((مه (من) اوضای (اوضاع) کفر و بی دینی ولاتیگری (لارد نمایی=کفر) حکومت سابقه ره دیده، و برای خدمت دین رسول الله کمر جهاده بسته کدم (کردم)، تا شما بیادرا ره (برادرها را) از کفر ولاتی گری نجات بتم (بدهم). مه باد ازی پیسه (پول) بیت الماله به تعمیر و متب (مکتب) خرچ نخات کدم، همه ره به عسکر خود میتم (میدهم) که چای و قند و پلو بخورن، و به ملا ها میتم که عبادت کنن، مه مالیه صفایی و ماسول (محصول) گمرک نمی گیرم و همه ره بخشیدم و دیگه مه پاچای (پادشاه) شما ستم و شما ریت (رعیت) مه (من) می باشین، برین (بروید) باد ازی (بعد از این) همیشه سات خوده تیر کنین (وقت خود را خوش بگذرانید)، مرغ بازی، بودنه بازی کنین، و ترنگ تانه (لحظات تان را) خوش بگذرانین.))

نو هغه حکومت چې نه په کې عدل وي او نه هم په کې د علم ډیوه، سرې خپله اټکل کولای شي چې هغه به څومره د جهل، تیارو او فساد سرچینه وي.

د حبیب الله کلکاني د واکمنۍ د حالاتو د روښانتیا لپاره به ښه دا وي چې د هغه وخت د لیکوالو ځینو لیکنو او یادښتونو ته مراجعه وشي، چې په دې اړه په کې معلومات راغلي دي، په دې یادښتونو کې مهم د (سراج التواریخ) د لیکوال (فیض محمد کاتب هزاره) یادښتونه دي، چې څه یې په سترګو لیدلي هغه یې د نېټې په قید لیکلي او داسې ښکاري چې وروسته یې پر خپلو یادښتونو د بیا کتنې وخت هم نه دی پیدا کړی، ځکه چې د سقاو د زوی جلادانو هغه دومره وهلی و، چې ډېر سخت ناروغ شو او څه کم یو نیم کال وروسته د همغو وهلو ټکولو له لاسه وفات شو، دا یادښتونه افغانستان ته د روسانو تر راتګ وروسته پر (۱۹۸۱م) کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه روسي لیکوال د افغانستان له ملي ارشیف څخه اخیستي، په روسي یې ترجمه کړي او بیا وروسته امریکایي لیکوال (رابرټ میک چیسني) پر (۱۹۹۹م)کال په انګلیسي ژبه ترجمه کړي او د (کابل په محاصره کې) کتاب په نوم یې چاپ کړي دي.

د دې کتاب هره پاڼه د سقاوي رژیم له جنایاتو او تباهیو څخه پرده پورته کوي، خو موږ یې صرف ځینې برخې د خپلو لوستونکو لپاره په دې منظور رااخلو چې هغوی دا قضاوت وکړای شي چې اوس هم دغه رژیم ته د ځوانمردانو او عیارانو نظام ویل کېدی شي که نه؟ (فیض محمد کاتب هزاره) د خپل کتاب په یوه برخه کې د سقاویانو په اړه لیکلي چې دوی ته صرف د مذهب، دولت او مسلمانانو د تباه کوونکو نوم ورکول کېدلای شي. د دوی د وحشت د بیانولو لپاره نور کلمات او تعریفونه نه شته. (حبیب الله کلکانی) چې هر څومره فرمانونه صادر کړي او په هغوی کې یې ځان د مذهب خادم معرفي کړی دی، دا صرف د خلکو د غولولو لپاره دي. دوی (سقاویانو) د حکومت ټوله هغه شتمني چې له هېواد څخه د دفاع لپاره ذخیره شوې وه، لوټ کړه. پر دې سربېره خلک په وچ زور بې له تنخوا د امیر حبیب الله په پوځ کې برتي کېږي. دا په حقیقت کې د شیطان پوځ دی، چې ودانۍ تباه کوي او کورونه چوروي، مګر سره له دې هم فاسد وزیران، حضرتان او تش په نامه ملایان او نور بې دینه خلک دا غم لړلې وضع چې د دوی له لاسه پر خلکو راغلې ده، عادي بولي او وایي چې خیر او خیرت دی. (فیض محمد کاتب- ۵۷ مخ)

فیض محمد کاتب وروسته لیکلي چې دوی (سقاویانو) د هغو نجونو لستونه پیدا کړل چې ښوونځي ته تللې او هغوی ته یې امر وکړ چې هره یوه باید یوه کوهستاني یا کوهدامني غله ته واده شي او د اسلام په نوم یې پر وطن باندې داسې فاجعه راوستله چې تصور یې نه شي کېدلای. (هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب – ۵۹)
سقاویان گواکې کابل ته صرف د چور لپاره راغلي وو او په دې لاره کې يې پر هېڅ شي صرفه نه کوله، فیض محمد کاتب لیکلي چې هره ورځ به جار وهل کېده چې خلک باید خپل دوکانونه خلاص کړي او هر څوک چې چور کوي، هغه به اعدام شي. مگر د غلو دې ډلې هېڅ وخت دوکاندارانو ته پیسې نه ورکولې او چې هر څه يې خوښ وو، هغه يې په توبرو کې اچول او په خپله مخه تلل. (هغه کتاب- ۵۹مخ) هغوی د وسلو د پیدا کولو په پلمه کورونه تلاشي کول او چې څه يې لاس ته ورتلل هغه يې وړل. (هغه کتاب ٦۰ مخ).
د کابل خلکو هر څه د سر په سترگو لیدل، حبیب الله په دې عقیده و چې د کابل خلکو د یوه غله په حیث ځکه د ده حمایه وکړه چې د امان‌الله فاسد حکومت څخه په تنگ وو، مگر کله چې دی په خپله پاچا شو او د خلکو په وهلو او چورولو او پر ناموس باندې په تېریو کولو يې بنا وکړه، نو خلک هم د ده مخالف شول او له خدای څخه يې د هغه د تباه کېدلو غوښتنه کوله. (هغه کتاب – ۸۰ مخ)
د سقاو زوی خپل د جنگ وزیر (سید حسین) او خپل ورور (حمید الله) ته چې د ده وکیل السلطنه و، تام واک اختیار ورکړی و او د هېڅ شي پوښتنه يې نه ورڅخه کوله. فیض محمد کاتب لیکي چې سید حسین او د حبیب الله ورور حمید الله چې په دې تازه شپو کې يې د وزیر جنگ او سردار اعلی او نایب السلطنه لقبونه اخیستي وو، له ښځو او هلکانو سره په عیش او نوش لگیا وو او کله چې د تگاو د خلکو له قیام څخه خبر شول، نو سملاسي يې خپلو باوري کسانو ته امر وکړ چې پر دفاعي کارونو لگیا شي، (هغه کتاب – ۱۱۴مخ) د ژوندیو انسانانو څلور ځایه کول، د ښځو او هلکانو پر عزت تېری کول، په زندانونو کې د بې گناه انسانانو اچول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غرغره کول او په ناحقه د خلکو د وینو تویول، د سقاویانو ورځني کارونه وو (هغه کتاب – ۱۱۷مخ) د سقاو د زوی ورور (حمید الله) د کابل والي (ملک محسن) ته ځکه سزا ورکړه چې ویل یې د مرحوم خزانه دار محمد سرور خان د کور د ضبطولو پر وخت یې ځلوېښت زره روپۍ ځان ته ګرځولې دي.**

**حمیدالله دغه راز د امیر امان الله خان د خارجه وزیر غلام صدیق خان، د دربار د وزیر محمد یعقوب، د دفاع وزیر عبدالعزیز، محمد خان یاور، حیات الله خان عضو دوله او تقریباً نورو دوو سوو تنو له کورونو څخه پیسې او قیمتي شیان پټ کړل (هغه کتاب – ۱۲۴مخ) د حبیب الله ورور**



حبیب الله کلکانی او د هغه پلویان د خپلې واکمنۍ پر مهال

**حمید الله د خپل ورور په امر د کابل والي (ملک محسن) او د دربار وزیر**


(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرجان او نورو غلو څخه دوه سوه زره روپۍ چې له خلکو څخه یې په زور اخیستې وې واخیستلې (هغه کتاب – ۱۳۵مخ).

فیض محمد کاتب د سقاو د زوی د حکومتي اجرااتو یوه په زړه پورې کیسه کوي او وایي چې د (می) پر څلیریشتمه د کابل والي (ملک محسن) د کابل د پخواني والي (میر زمان الدین) پر کور د شپې بې خبره ورننوت، د کور ټول قیمتي شیان او پیسې یې یوووړې او د هغه دوو زامنو او کونډې ته یې وویل چې په کور کې هېڅ شي ته لاس ورنه وړي او دی سبا د موجودۍ لپاره بېرته راځي.

د جون پر دویمه د (میر زمان الدین) کونډې ((خادم دین رسول الله)) ته




عریضه وکړه او ورته ویې لیکل چې د هغه والي (ملک محسن) د هغې کور ته لوېدلی او د هغه له کور څخه یې پنځه ویشت زره روپۍ، قالینې، د ښځو ګاڼې او دوه ټوپکونه وړي دي، امیر د هغې د عریضې په ځواب کې په خپله ملک محسن ته وظیفه ورکړه چې د دغې قضیې په باره کې تحقیقات وکړي، که څه هم چې ملک محسن د میر زمان الدین د کور د لوټلو په شپه په خپله امیر حبیب الله ته د ښځو ګاڼې راوړې وې. د کابل والي ملک محسن د میر زمان الدین کونډه تهدید کړه او هغې وروسته په یوه بل مکتوب کې حبیب الله ته ولیکل چې د هغې له کور څخه صرف دوې قالینې ورکې شوې دي. سړی به د غلو له حکومت څخه د بل څه شي انتظار ولري؟ (هغه کتاب- ۱۳۴-۱۳۵ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ځینې هغه لیکوال چې له بده مرغه د سقاو د زوی د وحشت دوره یې په سترګو لیدلې ده، بیا هم هغه ته د عیار او ځوانمرد خطاب کوي. فیض محمد کاتب د دې ځوانمرد د ناموس دارۍ په باره کې چې د عیارۍ د مسلک اساس دی، داسې لیکي: ((حبیب الله چې په ډېرو لږو ورځو کې یې د ښځو یو لوی حرم ځانته جوړ کړی و، د اپریل پر لومړۍ نېټه فیصله وکړه چې د سردار نصر الله خان او سردار امین الله خان چې دا وخت بندیان وو، لونې خپل ځان ته کېنوي. خو کله چې خبر شو



هغوی واده شوي دي، نو لاس یې ترې واخیست او د سردار محمد علي د ښایستې لور د واده کولو فیصله یې وکړه. هغې نجلۍ د سقاو له زوی سره تر واده کولو مرګ بهتر وباله او زهر یې وخوړل. مګر د خدای په فضل زهرو مړه نه کړه او ژوندۍ پاتې شوه. (هغه کتاب- ۱۴۴مخ)

فیض محمد کاتب وروسته لیکي چې د سقاو د زوی مرستیال (سید حسین) د اپریل پر اوویشتمه وروسته له هغه چې یوه معصومه نجلۍ یې په خپل کور کې په زوره بې سیرته کړه، نو امر یې وکړ چې د امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان د کورنیو له ښځو سره دې هغه سلوک وشي چې هغوی د هزاره ګانو له ښځو سره کاوه. څو چې د نورو خلکو عبرت شي. البته سید حسین د سردارانو پر مال او ناموس باندې د سقاو د زوی په اشاره تېری کاوه. (هغه کتاب – ۱۴۵مخ)

د سقاو زوی د ټولو خلکو په تېره بیا د هغو کسانو مال ځان ته حلال باله چې ده ته یې بیعت نه و ورکړی، هغه د شینوارو، خوګیانیو او سلېمانخېلو د قبایلو ملکانو او خانانو ته چې له ده څخه یې د پیسو او وسلو غوښتنه کوله، د اپریل پر دېرشمه وویل چې هزاره ګانو ده ته بیعت نه دی کړی، د هغوی شتمني، ځمکې، ښځې او کوچنیان ټول د دوی مال او په دوی پورې اړه لري. هغه یوه ورځ وروسته د درېو تنو هزاره ګانو سرونه چې په اور یې وریت کړي او په لرګیو یې مېخ کړي وو او نولس تنه هزاره بندیان په بازارونو ګرځول او خلکو ته یې ورښودل چې هر څوک له خادم دین رسول الله سره مخالفت وکړي عاقبت به یې دغه وي. (هغه کتاب – ۱۵۲-۱۵۳مخ).

فیض محمد کاتب وروسته لیکي چې د (می) په ورستیو شپو ورځو کې حبیب الله امر وکړ چې د کوچي پښتنو هغه دولس زره کورنۍ دې په بتخاک کې راوګرځول شي چې له پېښور او جلال اباد څخه هزاره جاتو ته روانې دي. د هغوی ټول بار وړونکي حیوانات او نور څاروي او ټول تجارتي مالونه یې ورڅخه واخیستل او امر یې وکړ چې د هغوی بار وړونکي حیوانات دې د وسلو او مهماتو د وړلو لپاره قطغن، بدخشان، مزار شریف، هزاره جات، کندهار او جنوبي ته واستول شي. هغه وروسته د کوچیانو مشران وروبلل او ورته ویې ویل چې که پر هزاره ګانو باندې حملې وکړي، نو د هغوی ځمکې او شتمني به دوی ته ورکړي. مګر په دې نه و خبر چې ده له پښتنو څخه قدرت غصب کړی دی او ټول پښتانه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځان دښمنان کړي او بیا غواړي پښتانه له هغو هزاره ګانو سره وجنګوي، چې هغوی د پښتنو د ملاتړ لپاره د جنګ میدان ته وتلي دي. دی غواړي په دې توګه قدرت په خپل لاس کې وساتي، مګر دی یو جاهل دی او په دې نه پوهېږي چې مملکت څرنګه اداره کېږي. (هغه کتاب – ۱۵۳مخ)

فیض محمد کاتب د خپلو یادښتونو په سلسله کې د سقاو د زوی د ورور حمید الله، چې د ده نایب السلطنه و، د چور او تالان کیسه کوي او وایي چې د جولای پر لومړۍ نېټه حمید الله او د هغه پوځیانو پر (سره چشمه) باندې حمله وکړه. د تاجکو او هزاره ګانو توپیر یې ونه کړ او کورونه یې لوټ کړل. څاروي یې ورسره بوتلل او بالاخره یې د کورونو دروازې وایستلې. ویل کېږي چې حمید الله اود هغه سړیو د یو نیم مېلیون روپیو په ارزښت مالونه لوټ کړل.

حمید الله څلور دېرش (۳۴) نارینه او (څلوېښت) ښځې کابل ته ورسره بوتلې، نارینه یې بندیان کړل او خپلو سړیو ته یې امر وکړ چې ښځې خرڅې کړي. (هغه کتاب ۲۵۷مخ) . ملک محسن د اګست د میاشتې پر اوله د هغې ښځې مېړه غرغره کړ چې حامله وه، د ماشوم د زېږېدلو تر وخته پورې یې هغه په بندیخانه کې وساتله او وروسته یې حکم وکړ چې ښځه او ماشوم دې دواړه ووژل شي. قاضي اعتراض وکړ او ویې ویل چې دا د شرعې شریفې خلاف کار دی، خو ملک محسن وویل چې که د شرعې خلاف وي او که نه وي، دا زما حکم دی او باید چې عملي شي، نورې خبرې په کار نه دي. (هغه کتاب – ۲۳۴مخ)

د سقاو زوی د برچې په زور خلک په خپل پوځ کې ساتل او چې چا د تېښتې تکل کاوه، هغه یې ځای پر ځای اعداماوه. ملک محسن کله چې له لوګریانو سره جنګ ته روان و، په لاره کې یې هغه څلور تنه عسکر ځای پر ځای وویشتل چې له پوځ څخه تښتېدلي وو. د سقاو زوی د جولای پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورویشتمه شپاړس تنه عسکر بې وسلې او اعدام کړل. د سقاو زوی د ابو القاسم په نوم شیعه سید چې ده ته یې په وزیر اباد کې د جنګ محاذ ته یو پوخ کړی پسه، ډوډۍ، شلومبې او نور خوراکي شیان وروړي وو، د دې رپوټ پر اساس چې ویل یې هغه په خپل کور کې یاغي هزاره ګانو ته ځای ورکړی و، په خپل لاس اووه مرمۍ وویشت. د هغه کور یې چور کړ، د هغه دوه ښځې او یوه نامزده لور یې خپلو کوهدامنیو ته په نکاح کړې، د هغه کور او جایداد ته یې اور واچاوه او بیا نو د غله امیر ورور (حمید الله) د هغه د مېرمن له غېږې څخه اته میاشتنی ماشوم زوی واخیست، د هغې مخې ته یې پر ځمکې وویشت او ځای پر ځای یې مړ کړ. هغه کتاب- (۱۴۷-۱۴۸مخونه)

لوستونکي ته ښایي د فیض محمد کاتب خبرې د یوه سړي قضاوت ښکاره شي او داسې فکر وکړي چې د یوه سړي د شخصي قضاوت پر اساس د بشپړ نظام محکومول له واقعیت او حقیقت څخه لرې خبره ده، خو له نېکه مرغه چې د سقاو د زوی د پاچاهۍ پر وخت نورو کسانو هم د خپلو سترګو لیدلي حالات لیکلي دي. البته فیض محمد کاتب د یوه هوښیار او ځیرمن لیکوال په حیث خپله وظیفه په ډېره ښه توګه سرته


غلام محی الدین انیس

رسولې او پېښې یې په تفصیل سره بیان کړي دي. د افغانستان مشهور ژورنالېست او لیکوال(غلام محی الدین انیس) چې د پېښو د لومړیو شپو ورځو پر مهال په کابل کې و، داسې لیکي: ((په کابل کې د ظلم او تېریو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو قیامت جوړ و او د شمالي خلک د یو ه کرنیل، یا برګډ او یا خودمختار نایب سالار تر قوماندې لاندې د کابل د مشهورو خلکو او عالي رتبه مامورینو کورونو ته ننوتل او د وسلو او یا سرکاري مالونو د پیدا کولو په پلمه یې کورونه تلاشي کول او د وهلو ټکولو او د ټوپک د قنداق په واسطه یې هغوی مجبورول چې څه په کور کې لري، ټول حاضر کړي، بیا یې نو چې زړه غوښتل هغه یې اخیستل او په خپله مخه به تلل. (بحران و نجات ۹۸ مخ). بل ځای لیکي: ((قلم د هغه څه له تصویرولو څخه عاجز دی چې د کابل پر خلکو تېر شول او نه غواړم په دې کتاب کې هغه فجایع بیان کړم چې په دغو خطرناکو او ببروونکو لحظو کې د کابل پر ښار باندې تېر شول. فقط دومره به ووایو چې غالبه ډله د عوامو او جهالو یو ټولی و او مغلوبه ډله عسکر او صاحب منصبان وو. دې غلو دومره چور وکړ او د کابل خلک یې دومره لوڅ کړل چې حتی د سقاو د زوی هم پر خلکو زړه وسوزېد.)) (هغه کتاب- ۹۸-۹۹ مخونه) غلام محی الدین انیس بل ځای لیکي: (( د سقاو د زوی منصبدارانو خصوصاً خود مختارانو پر ښار قیامت جوړ کړی دی، مګر که د امنیت مسئلې ته وګورو نو امنیت خو معمولاً غله او لوچکان خرابوي، مګر څرنګه چې اوس په خپله دغو غلو ته د ملک د پاچاهۍ وظیفه ورترغاړې شوې ده، نو ویلای شو چې په ملک کې امنیت ټینګ دی، خو د امنیت پر ځای بل قیامت جوړ دی او هغه دا چې د دغه ښار خلک د دغو بدبختو خودمختارانو له لاسه د شپې ارام خوب نه لري. هغوی د وسلو او سرکاري مالونو د پیدا کولو په پلمه کورونو ته ننوزي او خلکو ته ازار ورکوي. د دې خودمختارانو تر ټولو خندوونکی کار دادی چې وړې وړې صندوقچې په خلکو خلاصوي او وایي مبادا ټوپکونه مو په کې پټ کړي نه وي او بیا نو چې څه پیسې او جواهر پیدا کوي هغه چوروي.)) (هغه کتاب – ۱۰۰مخ) بل ځای لیکی چې د سقاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زوی او د هغه حکومت په ډېره کوچنۍ گناه خلک اعدامول او چې په چا کې به یې د مخالفت نښه ولیده، هغه به یې واژه او یا یې ډېرې سختې سزاگانې ورکولې. (هغه کتاب ۱۰۶مخ).**


**د تاریخ پروفیسر مرحوم محمد علي، چې د سقاو د زوی د نظام د لومړیو شپو ورځو پر مهال په کابل کې حاضر و، لیکي چې: ((د کابل پر ښار باندې بېحده زیات ظلمونه وشول، ارگ د داسې ظالمانو لاس ته ورغلی و، چې د هېڅ ډول قانون مراعات یې نه کاوه، ښوونځي، پوهنځي او مفیدې موسسې ټولې وتړل شوې، کتابتون، لابراتوارونه او شاهي میوزیم چور شو او نادر کتابونه تباه شول، وسوزول شول او یا په ډېره نازله بیه خرڅ شول. د سقاو زوی اشراف او پوهان په ډېره بې ادبۍ له کورونو څخه را ایستل، په بازارونو یې گرځول، شکنجې یې ورکولې او په زور یې پیسې ورڅخه اخیستلې، د سقاو له زوی سره راغلي غله او داړه ماران هر یو پاچا و او حتی یوه عسکر هم ځان مستقل باله او چې څه یې زړه غوښتل هغه یې کول. د کابل تاجرانو ته یې وویل چې حکومت ته ډېرې زیاتې پیسې ورکړي، که نه نو سخت عذابونه او شکنجې یې تر خوا دي. دا بېسواده مستبد پر ټولو شتمنو او متنفذو خلکو بدگومانه و. د دې وینې څښونکي پاچا د قهر تنده د سرېدلو نه ده او چې پر هر چا به بدگومانه شو، هغه به د ده د غضب قرباني کېده. نه چا څه ویلای شول او نه چا ته د څه ویلو مجال ورکول کېده. اکثر بدمرغه قربانیان یا په توپونو کې والوزول شول یا وویشتل شول، یا ووهل شول، یا په نېزو ټوکر ټوکر شول او یا په لوږه قتل شول. په ایښېدلو تېلو شکنجه کول، د اوسپنې په قفسونو کې د خلکو اچول، د لاسونو او حتی د وجود د ټولو اندامونو یو په یو پرې کول، د هرې ورځې عادي خبرې وې.))**

**انگرېز ژورنالست (رانالډو ایلډ) چې په دغو شرایطو کې زیاتره وخت په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کابل کې و، لیکي چې: ((د سقاو زوی لکه ځناور په وهلو ټکولو کې لوی شوی و او کله چې قدرت ته ورسېد، نو داسې ظلمونه یې وکړل چې په تاریخ کې یې چنداني ساری نه درلود. په لومړي سر کې د کابل خلک ورته خوشاله وو او چې ده ځینو کسانو ته چې د کابل خلکو ښه خاطره نه ورڅخه درلوده، سزاوې ورکولې، نو هغوی به ویل چې ښه کوي، چې ظالم ته سزا ورکوي. خو کله چې د کابل خلکو ته څرګنده شوه چې هغه د انسانانو له کړاو او شکنجه کېدلو څخه خوند اخلي او چې هر څومره ظلم کوي، زړه یې نه سړېږي، نو د کابل خلک پښېمانه وو او له خدایه څخه یې پخوانی حال غوښت. په لومړي سر کې یې هغه ښځې او ماشومان په زندانونو کې واچول چې په پخواني دربار پورې یې اړه درلوده. خو وروسته خلکو ته معلومه شوه چې هغه له ظلم او قساوت سره مینه لري او صرف ګناهکارانو ته نه، بلکې هر چاته چې زړه یې شي سزا ورکوي او کړوي یې.)) (۲۵۶-۲۵۷م). رانالډو ایلډ) بل ځای لیکي چې: ((په کابل کې د حبیب الله د امارت له اعلانېدلو سره د ښار خلک یا مړه شول او یا د مرګ په انتظار ناست وو، له غرغرو څخه به مړي لرې شوي نه**



میر غلام محمد غبار

**وو، چې بیا به نور ورباندې وځړېدل. خلک مېخ کېدل او په دار کېدل او د ښار پر دېوالونو باندې د انسانانو سرونه ځړېدل. په کابل کې د سقاو د زوی له پاچا کېدلو سره خلک د انسانانو د غوښو د سوزېدلو له بوی او د نېزو پر سرونو باندې د سرونو له لیدلو سره عادت شول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقاويانو د انتقام د اور د سړولو لپاره د منځنيو پېړيو شکنجې بېرته رواج کړې. انسانان په تېلو کې ايشول کېدل او کابل ربښتيا هم تاريکو پېړيو ته ولاړ.))

مير غلام محمد غبار چې پر دغه وخت په کابل کې هر څه د سر په سترگو ليدلي دي، ليکي چې دوی (سقاويانو) قاضي عبدالرحمن، چې د مولوي عبدالواسع په شان د نوي فکر څښتن قاضي و، د کابل پر چوک باندې بند پر بند پرې کړ او په جنگ کې د وژل شويو کسانو سرونه يې د (پل خشتي) په بازار کې پر دېوالونو وځړول او په دې توگه يې په ښار کې وحشت ايجاد کړ.

له بده مرغه چې مرحوم غبار خپلې هغه خبرې چې صرف يوه پاڼه مخکې يې ليکلې دي، هېروي او په بله پاڼه کې د سقاويانو په باره کې ډېر کمزوری او ناعادلانه قضاوت کوي او وايي چې هغوی د تودو له منځه راپورته شوي وو، له چل، توطيې او د خلکو له غولولو څخه يې نفرت درلود، مالونه يې ټولول، مگر خصيص نه وو او هغه څه چې يې ترلاسه کول هغه يې په نورو مصرفول او د اوسينو عصري غلو په شان د طلا او نقرې له ذخيره کولو، تجارت او سودخورۍ سره بلد نه وو.

مرحوم غبار گواکې په دې عقيده دی چې که څوک له نا مشروع لارو لاسته راوړې پيسې پر خپلو داړه مارانو ولگوي او د عيش او عشرت محفلونه ورباندې جوړ کړي، نو بيا چنداني پروا نه لري. مرحوم غبار فکر کوي چې که څوک د خلکو له منځه راووځي هغه چې هر څه جنايتونه کوي، بايد چې يو څه له اغماض څخه کار ورسره واخيستل شي.

البته حقيقت د لمر په شان روښان دی، د فيض محمد کاتب هزاره او نورو ټولو هغو کسانو له يادښتونو څخه چې هر څه يې د سر په سترگو ليدلي دي، څرگنده ده چې په کابل کې د (۱۹۲۹م) کال له جنوري څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اکتوبر تر نیمايي پورې د غلو، داړه مارانو او قاتلانو حکومت و او له سر او مال څخه نیولې د خلکو تر ناموس پورې یې پر هر څه باندې تجاوز وکړ.**

**سردار فیض محمد خان زکریا وايي: ((من شخصاً بچه سقاو را از نقطه نظر اینکه پسر یکنفر سقاو بود انتقاد نمی کنم (باشد متاع نیکو ازهر دکان که باشد) لیکن اعمال بچه سقاو، ظلم و ستمگاری بچه سقاو، جهالت و وحشت بچه سقاو راننگ و عار بشریت میدانم، و در عصر بیستم سلطه جهل و وحشت در افغانستان یک حادثه بس ناگوار و انفعال انگیز است.))**

**له ښاري کلتور او تمدن څخه د سقاو زوی د ناخبرۍ په هکله یوه ناویلې کیسه چې تر اوسه رسنیو ته نه ده رسېدلې، غواړم هغه هم درنو لوستونکو سره شریکه کړم. د دې کتاب د لیکلو پر مهال زه (یون)، مېرمنې مې (ارین یون او لور مې (هیله یون) په کابل کې د غازي امان الله خان لور (شهزادګۍ هندیې) کور ته ورغلو، د (۱۳۹٦ل) کال، د اسد میاشتې (۱۹)مه نېټه، د**



محمد اسمعیل یون او شهزادګۍ هندیه


**غرمې یوولس بجې وې. هدف مو دا و چې د غازي امان الله خان د زوی او د شهزادګۍ هندیې ورور (شهزاده احسان الله) چې په دې نږدې ورځو کې په حق رسېدلی و او حکومت یې په ارګ کې رسمي فاتحه واخیسته، نو موږ هم د فاتحې او دعا لپاره کور ته ورغلو، د غازي امان الله خان د ژوند د وروستیو کلونو دردوونکې خاطرې، له وطن سره د هغه مینه او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردیس ژوند، ټول یې بیان کړل، دې کې د سقاو زوی بحث هم راغی، هغې وویل: ((د سقاو زوی یو ساده او نادان شخص و، له تمدن او ترقۍ څخه ناخبره و، ښاري ژوند یې نه پېژند، ان د ښځینه وو او نارینه وو د لباس توپیر یې هم نه شو کولای، کله چې پاچاهۍ ته ورسېد، نو په ارګ کې زما د مور او د کورنۍ دنورو ښځو ښځینه کالي پاتې وو، په هغې کې رنګه او ګلداره جاکټونه هم وو، خپله سقاو زوی او نورو ملګرو یې هغه ښځینه جاکټونه هم له بکسونو راوویستل، وایې غوستل، یو بل ته یې ویل: دا د باچاهۍ کالي دي، خوند کوي، وایي غوندئ.)) نو اوس خپله فکر وکړئ، داسې شخص او اشخاص چې واک ته ورسېږي، د هېواد حالات به کومې خواته لاړ شي؟

د سقاو زوی د واکمنۍ پرمهال د شویو ظلمونو په باب چې څه یادښتونه زموږ لاس ته راغلي او یا تر موږ پورې رارسېدلي دي، هغه زیاتره د کابل په باره کې دي. د ولایاتو په باره کې لا چا زیات څه لیکلي نه دي او سړی د کابل له وضعې څخه د ټولو ولایاتو د وضعې اټکل هم کولای شي. د سقاو زوی د ظلمونو په باب د هېواد د یو زیات شمېر لیکوالو له خوا د حقیقتونو له څرګندولو سره سره دې کې هم شک نه شته چې د سقاو زوی هم خپل درباریان او غوړه مالان درلودل، یو شمېر لیکوال یې هم درلودل، له هغې جملې څخه (خلیل الله خلیلي) چې د کلکاني د دربار منشي و، پلار یې (میرزا حسین خان) د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د مشهود جرم په تور اعدام شوی و، نو ځکه خو خلیلي د سقاو



خلیل الله خلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زوی ته ډېر نږدې و، د هغه په باب یې د (عیاری از خراسان) په نامه یو کتاب هم ولیکه، ده او نورو درباریانو هغه ته د ((خادم دین رسول الله)) لقب هم ورکړ. په داسې حال کې چې تاریخ شاهدي ورکوي د سقاو زوی د اسلام له اساساتو هېڅ خبر نه و، ان د اوداسه او لمانځه پر فرایضو او ارکانو هم خبر نه و. ځینې تاریخ لیکونکي وايي، د سقاو زوی چې کله ارګ کې د واک پر ګدۍ کېناست، نو ملایان ورته راغلل، بیا یې ورته نایي راوست چې وېښتان یې اصلاح او هم یې د سنتو پر طریقه برابر کړي. د اوداسه او لمانځه طریقه ورزده کړي او نور دیني فرایض. تاریخ لیکونکو د سقاو زوی په باب ان ځینې داسې واقعیتونه هم بیان کړي چې عادي مجلس کې یې سړی په بیان شرمېږي. همغه وخت یو ځوان انګرېز ژورنالېست له کلکاني څخه څو ساده دیني پوښتنې وکړې، خو سقاو ورته داسې ځوابونه ورکړل چې هغه ژورنالېست یې حیران کړ. دا انګرېز ځوان اولیور جاري (Oliur Jarry) نومېده او د یوې میاشتنۍ مهالنۍ د لیکوال په توګه یې له سقاو زوی څخه وپوښتل:**



اعلیحضرت غازي امان الله خان

**اولیور: بنده کی هستی؟**

**بچه سقاو: من بنده امت هستم!**

**اولیور: به امت کی هستی؟**

**بچه سقاو: به امت خدا**

**اولیور بیا وپوښتل: اخرین نبی از جانب خداوند کی است؟**

**بچه سقاو: حضرت ادم!**

**د سقاو زوی د ناپوهۍ او له دین څخه د ناخبرۍ خبرې د ( the King of Miracle) په نامه یو کتاب کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په انګلیسي ژبه لیکل شوی او په درېو ټوکو کې ترتیب شوی دی، په ترتیب سره راغلي. په دې کتاب کې (۱۵۳) ځله د کلکاني د جهالت مستندې خبرې راغلي دي. (د زیاتو معلوماتو لپاره د اعظم سیستاني نوی اثر (منار نجات) ولولئ. خو له دې سره سره بیا هم کورنۍ ارتجاع او هم بهرنیو کړیو هغه ((خادم دین رسول الله)) ګاڼه او د یوه ملتپال او اسلامپال پاچا (غازي امان الله خان) واکمني یې پرې ړنګه کړه. د سقاو زوی د وحشت، دهشت، له انګرېزانو سره پټې او ښکاره معاملې، له انګرېزي ملايانو څخه هغه ته د ښو شویو او پټو وسلو ورکړه، د هغه بېسوادي او له دین څخه ناخبري، ډېرو لیکوالو بیان کړي، نه غواړو دلته هغه ټول مسایل بیان کړو، خو ښه به وي چې د پرتلنې په توګه دلته د غازي امان الله خان د ژوند د وروستیو شپو ورځو یوه خاطره هم راوړو او بیا دواړه سره پرتله کړو چې له دېنه یو نا خبره شخص څرنګه د دین په نامه واک ته رسېږي او یو اسلامپال پاچا څنګه له اسلامه د لرې والي په تور له واکمنۍ څخه لرې کېږي.

دا کیسه د (ډېوېډ جونز) د تاریخي یادښتونو پر بنسټ لیکل شوې، د (بغدادي پیر)په نامه په یوه ښکلي ناول کې چې د (نصیر احمد احمدي) له خوا لیکل شوی، د یوه داستان په بڼه راغلې ده:

"په انګلیسي مې وویل:

-په ماشومتوب کې دې کومه لوبه خوښېدله؟

سړي را وکتل، ویې خندل:

-د اس سورلۍ.

بېرته یې سر وځړېد.

یوه شېبه ناست و. بیا ور ولاړ شو. ګام یې واخیست. په پښتو مې وویل:

-مېلمه یواځې پرېږدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېغ يې را وکتل. سترګې يې وځلېدې. په خوند يې وويل:
-افغان يې؟
راغی، تر لاس يې کش کړم، ودرېدم، تر ډېرو يې په غېږ کې نیولی وم. نه يې پرېښودم.
و مې ویل:
-نه! پرنګی یم.
-ويې ويل:
ټوکې مه کوه! پرنګیان او داسې صافه پښتو! ډېر سره لېرې دي.
-ومې ویل:
ډېوېډ جونز یم. په ۱۹۱۹ کال کې ارګ ته درغلی وم. درې کسه وو. د چانسلر لیک مو در وړ. په کابل کې مو د خپلو څو نماینده ګانو فتوا غوښته.
د سړي لاسونه مړه شول. تر څنګ مې کېناست. سر يې څو ځله یوې، بلې خوا ته وخوځاوه:
-اه! پرنګیانو دلته هم نه یم درنه خلاص!
-ومې ویل:
-خو اوس مې تقاعد اخیستی. له سیاست سره کار نه لرم. ایټالیا ته مې د خپلې مور جنازه راوړه. په ذهن کې مې را وګرځېدې. لیدو ته دې راغلم.
امان الله خان ودرېد. تر لاس يې ونیولم. په موسکا يې وویل:
-راځه کور ته ځو. بیا و نه وایې چې یوه افغان بوډا په پردي وطن کې خپله مېلمه پالنه هېره کړې وه.
تر پارک ووتو. تنګه کوڅه راغله. امان الله خان په یوه زاړه کور کې اوسېده. پورته وختو. وړه کوټه وه. پر زړې، رنګ خوړل شوې غالۍ یو کټ، کوچنی مېز، دوی څوکۍ.... ښکارېدې. کېناستم. شاوخوا مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل. وړه الماری له کتابونو ډکه وه. پورته د لرګي په چوکاټ کې کلیمه نیول شوې وه. کټه ته نږدې په تاقچه کې د جاینماز پر سر کوچنی قران شریف ایښی و.

امان الله خان دباندې ووت. زاړه وره چولې درلودې. غږ یې راته، یو څا ته یې وویل:

-څه مو پاخه کړي؟

ښځینه غږ راغی.

-لوبیا!

-مېلمه لرم. قابلي پلو پوخ کړئ.

دروازه خلاصه شوه، امان الله خان بېرته راغی. ویې ویل:

کړکۍ ته کېنه، کوټه سړه ده.

-څوکۍ مې وکښوله. د لمر وړانګې مې اوږو ته سیخې شوې. امان الله خان په کټ کېناست. و یې خندل:

اوس مې نو سم زړه ته ولوېده چې ډېوېډ جونز یې. فکر کوم یو ځل مو بیا هم سره لیدلي وو.

و مې خندل:

-هو، زه او سفیر دې په نیمه شپه کې در وغوښتو. ویل دې چې انګرېزان د افغانستان په شمال کې مداخله کوي. خلک یې مسلح کړي. سفیر ته دې د هغه له خوا امضا کړی سند ورکړ. ورته ودې ویل چې په دوه اویاوو ساعتونو کې به له افغانستانه وځې. یوه اوونۍ وروسته دې زمونږ انګرېز جاسوس اعدام کړ.

امان الله خان سړه ساه و اېسته:

-اې پرنګیانو، وطن مو را غرق کړ.

و مې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ته هم گرم وې، ډېر تېز تلې.
راته ویې کتل، څه یې ونه ویل.
د کوټې دروازه وټکېده. امان الله خان ولاړ شو. بېرته له پتنوس سره راستون شو. دوه گیلاسه یې له شنو چایو ډک کړل.
کړکۍ ته ودرېد، ویې ویل:
-هاغه ماشومان وینې؟!
ودرېدم. لاندې پاک، سوتره او صحتمند ماشومان روان وو. خندل یې، په ملاوو پسې یې د مکتب بکسې تړلې وې.
امان الله خان وویل:
-دا ماشومان پچې نه جارو کوي، په دوو اوزو پسې هم ټوله ورځ نه دي روان، لوږه نه پېژني، مکتب ته ځي، خاندي، تفریح لري، تلویزون ته گوري، غم نهویني، د ټوپک ټک یې نه دی اورېدلی، روغ دي، له ژونده خوند اخلي....
غلی شو، ویې ویل:
-د هاغه دکان مخ ته ناست بوډا زمونږ گاونډی دی. پنځه څلوېښت کاله یې په یوه فابریکه کې کار وکړ. اوس کرار ناست دی. د تقاعد پیسې ورته راځي. نه زوی ته احتیاج دی، نه لمسو ته، تر مرگه به په گېډه موړ او په تن پټ وي.
هاغه بله ځوانه ښځه ډاکټره ده. اته ساعته کار کوي، خو څوارلس ساعته هوسا ژوند لري. کونډه ده، خو دومره پیسې پیدا کولی شي چې د خپلو اولادونو، درس، روغتیا، خوراک، تفریح.... ته ورسېږي.
دا د روم تر ټولو غریبه سیمه ده. خو کورونه یې څلیریشت ساعته برق، گاز او اوبه لري. کوڅې یې پخې دي، مکتب او روغتون نږدې دی. په دې ټوله غریبه سیمه کې به یو سوالگر هم ونه وینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو. بېرته پر خپل ځای کېناست، پیاله یې ور پورته کړه. ویې ویل:
-سم وایې. زه تېز تلم. ځکه وخت کم و. ما ویل چې په خپل ژوند کې یو پرمختللی افغانستان ووینم. داسې وطن چې اوسېدونکي یې د دې خلکو په څېر ارام ژوند ولري. لوږه ونه پېژني. تعلیم وکړي. د ځان او نورو په حقونو پوه شي. ښه او بد ور مالوم شي. په کورونو کې د مورچو جوړولو پر ځای د کتابونو ځای جوړ کړي او نور یې په یوه او بل نوم غلط نه کړي.
غلی شو. له پیالې یې غړپ وکړ. سوړ اسوېلی یې و ایست:
-ایټالویان له دویمې نړېوالې جګړې را ووتل. ټوله ایټالیا خاورې شوه. خو خلک یې پوه او تعلیم یافته وو. په لسو کلونو کې یې بېرته ایټالیا، ایټالیا کړه. اوس موټرې او طیارې جوړوي. خو زما خلک بېسواده وو. ماغزه به مې ور سره خوړل. په عادي خبرو به یې قناعت نه کاوه. غلی شو، ترخه یې وخندل:
-یو وخت یو څو سپین ږیري راغلل. دوی په کابل کې روان رېل لیدلی و. غوصه یې نه کنټرولېده. ویل چې ښار ته دې د اوسپنې ښامار راوستی، خوراک یې اور دی، شیطان یې چلوي.
ور سره ووتم. په رېل کې مې کېنول. دوره مې ورکړه. پوه مې کړل چې رېل د مسافرو او تجارتي اجناسو لپاره تر ټولو ګټوره او ارزانه لاره ده. ورته و مې ویل چې دا رېل له اوسپنې او لرګیو جوړ دی. د ډبرو په سکرو کار کوي. بنیادم یې چلوي... هر څه یې په خپلو سترګو ولیدل، خو کله چې رېل ودرېد، بېرته به یې هماغه پخوانۍ خبره را واخیسته. تور شیطان او د اوسپنې ښامار یې نه غوښت.
رادیو یې نه منله. ویل یې چې په منځ کې یې واړه واړه شیطانان ناست دي... خلک له دینه باسي...تیلفون کوپر ورته ښکارېده. ویل یې چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینه اوښتی یې، شیطان سره غږېږي.
دې خلکو ان په پخه خښته او پوخ دېوال کې هم شیطان لیده... پوهېږې چې ولې؟ علت یې بې سوادي وه.
ما باید دا ستونزه حل کړې وای. مکتبونه مې جوړ کړل. غوښتل مې چې دا خلک له تیارې را وباسم. په هر څه یې پوه کړم. خو دوی مکتبونه هم نه غوښتل. د کفر ځالې یې بللې....
و مې ویل:
-نو فکر نه کوې چې په داسې یوه ساده او بېسواده ټولنه کې ترکیې ته د نجونو لېږل ښه نه و؟
امان الله خان پیاله ور ډکه کړه. سړه ساه یې و ایسته:
-په ټول وطن کې ښځینه ډاکټره نه وه. ښځې به په ډېرو عادي ناروغیو مړې کېدلې. فکر مې وکړ. په ټولو اسلامي هېوادونو کې ترکیه ښه را ته واېسېده. تر عربو مخکې وه. ما باید په خپل وطن کې ښځینه ډاکټرانې درلودای. سلامت پوهنتون، استادان، لابراتوارونه، کتابخانې.... خو مې غریب افغانستان ته نشوای راوړلی. چاره نه وه. نجونې او هلکان مې ترکیې ته ولېږل. د شرعې خلاف کار مې نه ګاڼه. ترکیه اسلامي هېواد دی. د نجونو لیلیه، خوراک، څښاک، هر څه بېل ول.
و مې ویل:
د چادري په اړه څه وایې؟ تا په کابل کې چادري منع کړه.
امان الله خان سر وخوځاوه:
-زه دیني عالم نه یم. خو اسلامي نړۍ مې لیدلې ده. مطالعه لرم. ما په یوه اسلامي نړۍ کې هم دا ډول شنې رنګه چادریانې و نه لیدلې... زموږ د خلکو لوی مشکل دا دی چې دین او رواجونه یې سره ګډ کړي دي.
زه به د بند، فابریکې، برق، سړک، پل، پلچک، مکتب، پوهنتون... د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړېدو په اړه ورته غږېدم. ګټې به مې ورته بيانولې. د دې شيانو په جوړولو کې به مې د خلکو همکاري غوښته... خو دوی به په هر څه کې ښځې را ګډولې. پوخ سرک او په موټر کې هوسا تګ ته يې پام نه و. ويل به يې چې نه، بيا له روان موټره زموږ کورونه او د کورونو په منځ کې ښځې ښکاري.**

**د مکتب او پوهنتون په ګټو به مې خوله سترې شوه. خو په اخير کې به يې را ته ويل چې نجونې مو کوپر او فحشا ته مه باسه...**

**د روغتون فايدې به مې ور يادې کړې. ويل به يې چې ته عياشي غواړې، تور سرې به مو څنګه له کوره دباندې وځي؟**

**خوار څواکه ماشومانو او ښځو ته مې د تقويې دواوې ور لېږلې، خو خلکو اور ور اچاوه، ويل يې چې پاچا د اسلامي امت د ډېرېدو مخالف دی. دا دوا زموږ ښځې را وچوي. اولاد نشي پيدا کولی.**

**ما به د وطن د پرمختګ خبرې ورته کولې. خو دوی به خامخا پل، پلچک، دېوال، پوخ لښتی.... د ښځو له نوم سره تاړه.... ويل به يې په دې کې خو زموږ ښځې راځي. خلک به يې مخ ويني. بې بندوباره به شي.... دوی هر څه ته بدبينه و. هر پرمختګ يې خامخا د ښځو د مخونو له لوڅوالي او عياشي سره تاړه....**


مارشال شاه ولي خان

**امان الله خان اوږدې خبرې وکړې. سترګې يې لندې شوې. غټې غټې اوښکې يې وبهېدې".....**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا د غازي امان الله خان د ژوند د وروستیو کلونو د داستان یوه برخه وه چې د هغه له ماضي سره تړلې وه.**



اعلیحضرت غازي محمد نادر خان

**اوس نو قدرمن هېوادوال کولای شي چې د حبیب الله کلکانی او غازي امان الله خان عملونه، پوهه، شخصیتونه، واکمني او اسلامیت سره پرتله کړي. سقاوي اړو دوړ هېڅ افغان ته د منلو وړ نه و او دې ګډوډۍ د ټول هېواد بشپړتیا له ګواښ سره مخ کړې وه.**

**مارشال شاه ولي خان وایي: ((اگر این شورش دوام میکرد، شیرازه وحدت کشور بر هم می خورد)) ځکه خو د هېواد غازیان د جهل او تیارو د واکمنۍ د له منځه وړلو لپاره خپل ملي مسولیت او رسالت ته متوجه شول او د هغو د راپرځولو په لټه کې شول. سپه سالار غازي محمد نادر خان د دغو غازیانو او هېوادپالو سرلښکر و، هغه دا انارشي او سراسري ګډوډي ونه شوه زغملای، نو ځکه یې د هغې راپرځولو ته ودانګل، غازي محمد نادر خان پر هغه وخت د دې سقاوي انارشۍ په باب وایي: ((اگر این حالت دوام کند، مملکت ویران، اوضاع خطرناک و استقلال که با قرباني های متوالی بدست امده از دست خواهد رفت، انگاه زندگی برای ما چه معنی خواهد داشت؟)) نورو ګڼو لیکوالو هم د کلکاني د واکمنۍ ځرنګوالی تشریح کړی دی چې د ټولو یادول یې د دې کتابګوټي له زغمه وځي، خو لوستونکي کولای شي چې د زیاتو معلوماتو لپاره، (بحران و نجات) (منار نجات) (دویمه سقاوي) (افغانستان در مسیر تاریخ) (زما ژوند له غلا تر پاچاهۍ) ( تذکرة الانقلاب)،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(حبیب الله کلکانی کی بود؟ (عیاری از خراسان یا دُزدی از کلکان)، د جنرال یارمحمدخان وزیري یادښتونه او نور ګڼ شمېر اثار ولولي. محمد نادر خان، نورو افغان مشرانو او غازیانو د جهالت، وحشت او بربریت دغه واکمني د افغانستان او زموږ د خلکو لپاره داسې یوه خطرناکه ناروغي وبلله چې هم یې د هېواد جوړښت ګواښه او هم د ولس ژوند، نو ملي لښکر یې راټول کړ او پر اساسي مبارزې یې لاس پورې کړ. سره له دې چې پر دې وخت د ده د کورنۍ ځینې غړي له کلکاني سره اسیران وو، د ده د مبارزې له کبله ورته هره شېبه د مرګ خطر و او د سقاو زوی به همدا اخطارونه ورکول: ((من از سلطنت دست نمی بردارم، ملتفت باشید، که**



حبیب الله کلکانی او ملګري یې تر اعدام وړاندې

**اګر بکابل نیاید و امر مرا نشنوید عایله شما که تا اکنون در کمال احترام میباشد، امر میدهم که بصورت بسیار فجیح کشته شوند)). خو غازي محمد نادر خان د دې خبرو او اخطارونو پروا ونه کړه، ځای پر ځای یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library




سقاویانو ته ماتې ورکړه. د (۱۹۲۹م) کال د اکتوبر پر (۱۵)مه غازي محمد نادر خان د ارگ سلامخانې ماڼۍ ته ورسېد، د سقاو زوی (۹) میاشتنۍ واکمني یې ختمه کړه، څو ورځې وروسته یې کلکانی او د هغه ځینې نږدې یاران په دار وځړول او افغانستان یې له دې ناروغۍ او گډوډۍ څخه وژغوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجات څلي د جوړونې او ړنګونې فلسفه


د نجات څلي لومړنۍ بڼه

د غازي امان الله خان د سلطنت تر ړنګولو وروسته، سقاوي انارشي پر ټول افغانستان په تېره بیا پر کابل واکمنه شوه، په کابل کې نه د چا مال خوندي و، نه د چا عزت، نه د چا کور، نه د چا اور او نه د چا اولاد، په دغسې یو حالت کې د غازي محمد نادر خان په مشرۍ د هېواد اصلي وارثان سره جرګه شول او د هېواد د ژغورنې لپاره یې ملا وتړله. لومړی یې د پکتیا د ځاځیو په (علیخېلو) کې جرګه وکړه، د ځاځیو او وزیرستان د قومونو مشران ورسره شول او له سقاوي اړو دوړ، غلا، لوټ او تالان څخه د هېواد د نجات لپاره یې مبارزې ته راودانګل، د سیمې قوتونه یې هم د ځان ملګري کړل، وروسته ورسره د هېواد له ختیځ، کندهار او نورو سیمو څخه هم خلک ملګري شول او تر ډېرو سختو خونړیو جګړو وروسته یې کابل او شاهي ارګ له سقاویانو څخه پاک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





وزیر محمد گل خان مومند

تاریخ لیکونکي وايي چې له کلکاني او د هغه له ملگرو څخه د کابل په بیا نیونه کې نه یوازې د سویلي سیمو لښکرو اساسي نقش درلود، بلکې ځینو نورو ملي او پوځي شخصیتونو هم کارنده رول درلود. له هغې جملې څخه ( محمد گل خان مومند) هم ستر نقش ولوباوه، د یوه مدبر سیاستوال او پوځي شخصیت په توگه یې د اسمايي غره له لمنو څخه ارگ تر هغه پورې تراوور لاندې ونیوه چې د سقاو زوی تېښتې ته اړ کړي او همداسې نور شخصیتونه.

تاریخونه وايي چې سپه سالار (محمد نادر خان) او د هغه دوه نور ورونه (شاه ولي خان او شاه محمود خان) څو میاشتې د پکتیا پر ولسونو وگرځېدل چې د سقاو زوی پر ضد خلک بغاوت ته تیار کړي، نادر خان او دوه ورونه یې د ځاځیو په علیخېلو کې اوسېدل، دا داسې مهال و چې لوگر، گردېز، میرزکه او شاوخوا سیمې ټولې سقاوي شوې وې. نادر خان له ډېرو ستړیاوو سره سره بیا هم کومه مثبته نتیجه ترلاسه نه کړه، ان خبره د هغه د نهیلۍ برید ته ورسېده، یوه ورځ ده د پکتیا دځاځیو مشران په (سپینه شگه) کې یوې جرگې ته سره راوبلل. نادرخان دې جرگې ته په خطاب کې وویل چې تاسو تجار خلک یاست او زموږ له امله تاسې نه شئ کولای چې خپل تجارتي کړه وړه له کابل او نورو سیمو سره پر مخ یوسئ، نو موږ درې وړاندیزونه لرو:

۱- د سقاو زوی ته چې زموږ پر سر یې ډېرې پیسې ایښي، موږ وروسپارئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه زیاتې پیسې ترلاسه کړئ!
۲- که مو خوښه وي موږ له ځاځیو څخه وشړئ چې موږ نور پر تاسو بوج نه شو او دریېیم وړاندیز دا چې:
۳- راځئ په ګډه ملا وتړو او خپل وطن د سقاو له تورتم څخه خلاص کړو.
د نادر خان تر وړاندیزونو وروسته د ځاځیو مشرانو، له نادر خان او د هغه له ورونو پرته په یوه جلا غونډه کې پرېکړه وکړه چې دا به تاریخي بدنامي وي چې دا ورونه د پیسو په مقابل کې سقاویانو ته وسپارو، د پښتونولۍ د دود دستور له مخې هم سمه نه ده چې دا ورونه موږ له خپلې سیمې وشړو، نو راځئ چې ملا وتړو او کابل بېرته ونیسو. پر همدې وروستۍ پرېکړه دعا شوه او درې ورځې وروسته د قومي اربکیو یو لښکر تیار شو.
ولسي مشر (جنرال یار محمد خان وزیری) د دې جرګې په باب په خپل کتاب کې وایي: ((له سپاه سالار صاحب سره تر جرګې وروسته موږ د لښکر مشران خپل تم ځای ته ستانه شوو او د غونډې په پای کې فیصله وشوه چې سبا به جرګه کوو او د وطن د نجات لپاره به یو د بل په همکارۍ نقشه سنجوو.
د (۱۳۴۸ هجري قمري) کال د ربیع الثاني یو ویشتمه نېټه وه، چې د سهار پر لسو بجو باندې د علیخېلو په چونۍ کې چې د محمد نادرخان مقر و، د مشرانو غونډه جوړه شوه او په دې غونډه کې سپاه سالار محمد نادر خان، کرنیل سردار شاه محمود خان، مولوي صاحب الله نواز خان، حاجي صاحب نواب خان، زلمی خان منګل، زمرک خان ځدراڼ، سنک خان منګل، عبدالغني خان ګردېزی، فیض


جنرال یار محمد خان وزیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد د حاجي نواب خان زوی، غونډ مشر صاحب نور محمد خان گردېزی، سردار صاحب امین جان د اعلیحضرت امان الله خان ورور، فقیر محمد خان مومند؛ د اعلیحضرت غازي امان الله خان د سلطنت په دوره کې د جنوبي سمت د ځنگلونو رییس، حاجي صاحب جان خان سربلند، سید خان او لیپت خان د ځاځیو د گل غونډۍ، شېر جان تڼی، سدوخان تڼی، شادینخان دوړ او د وزیرو او مسودو ټولو مشرانو زما تر قیادت لاندې گډون درلود.**

**د ربیع الثاني د یوویشتمې جرگه سپاه سالار صاحب په خپلو څو لنډو خبرو سره پیل کړه، په دې جرگه کې بیا هم محمد نادر خان خپل مجبوریت او پرېشاني موږ مشرانو ته په گوته کړه، د سپاه سالار صاحب تر افتتاحیه وینا وروسته، د جرگې او غونډې گډون کوونکو تر اوږدو خبرو وروسته موږ مشرانو او سپاه سالار محمد نادر خان په دې لاندینۍ پرېکړه تعهد او پیمان وکړ:**

**۱- د ټولو قبیلو او قومونو مشران دې خپل جنگیالي وطن ته تر نجات ورکولو پورې ترغیب ورکوي.**

**۲- د ځدرانو، منگلو، ځاځیو او گردېزیانو لښکر دې بېل وي او د وزیرو، مسودو، دوړو او تڼیو د جنگیالیو لښکر دې بېل وي.**

**۳- د حبیب الله له طرفدارانو سره د جنگ او جگړې ټول امور به د مشرانو په پرېکړه او فیصله سره کېږي.**

**۴- د کابل تر نیولو پورې دې سپاه سالار صاحب په علیخېلو کې ځای پر ځای وي او کرنیل شاه ولي خان دې د سپاه سالار په وکالت له لښکرو سره مل وي.**

**۵- د وطن تر نجات وروسته دې اعلیحضرت غازي امان الله خان سلطنت کولو ته راوغوښتل شي او یا دې د ده له خپلخانې څخه یو بل اهل ته سلطنت وسپارل شي.**

**٦- د اعلیحضرت غازي امان الله خان تر راتگ پورې به سپاه سالار صاحب د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطنت وکیل وي.
۷- حقاني علماؤ او مشایخو د طریقت ته دې په درنده سترګه او عزت سره وکتل شي.
۸- د عسکرو روزنه او پالنه دې په هغه طریقه سره وشي څنګه چې د یو مملکت پادشاه د خپلې کورنۍ د غړو روزنه او پالنه کوي.
۹- د ولس د لوټولو او د بډو اخیستلو څخه دې د حکومت د مامورینو لاس ونیول شي.
۱۰- هغه کسان چې د وطن د نجات لپاره له ځانونو او مالونو څخه تېر شوي دي، حکومت دې د هغوی یادښت واخلي او په تاریخ کې دې ثبت شي.
۱۱- د وطن د نجات حاصلولو نه وروسته دې، د ناجي لښکرو د شهیدانو او معلولینو وارثانو ته معاشات او مکافات مقرر کړه شي.
۱۲- څنګه چې د افغانستان پوځ په کورنۍ جګړه کې تباه شوی دی او هم یو شمېر صاحب منصبانو له خاورې او حکومت سره خیانت او غداري کړې ده، نو د ناجي لښکرو مشرانو او افرادو ته دې په پوځ کې دندې ورکړل شي.
۱۳- د وزیرو او مسودو د لښکرو مشرانو د ۱۳۰۸ لمریز کال د ثور له میاشتې څخه بیا تر دې ګنټو پورې د وطن د نجات او د تاج او تخت د بیا اعادې لپاره په کروړونو کروړونو افغانۍ لګولې دي، د وطن تر نجات وروسته دې هغه لګښتونه محاسبه شي او د حکومت له خزانې څخه دې د لښکر مشرانو ته تادیه شي.
۱۴- همدا ګنټه دې د حبیب الله ټولو پلویانو ته عفوه او بښنه اعلان شي.
۱۵- د جګړې بندیان دې د وطن تر نجات پورې وساتل شي او د نجات تر حاصلېدو وروسته دې په عزت او احترام سره رخصت کړل شي.
دا وې د علیخېلو د مهمې جرګې نسبتاً عادلانه پرېکړې چې همدا جرګه په حقیقت او واقعیت کې د هېواد د نجات یوه اساسي وسیله شوه او کله چې کابل فتح شو، تر هغه وروسته ورپسې په هېواد کې ګڼ شمېر بدلونونه راغلل چې د هغو ټولو بیان دلته ضروري نه برېښي. د دې جرګې په لسمه ماده کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي: ((هغه کسان چې د وطن د نجات لپاره له ځانونو او مالونو تېر شوي دي، حکومت دې د هغوی يادښت واخلي او په تاريخ کې دې ثبت شي.)) د نجات څلي د جوړونې محتوا جوړوي. د نجات منار د کابل د خلکو په غوښتنه د همدغو غيرتمنو پښتنو د اتلوليو د قدردانۍ په خاطر د سپه سالار محمد نادر خان په سپارښتنه او لارښوونه جوړ شو. له غلو او داړه مارانو څخه د کابل د خلکو او افغان ولس ژغورنه يو بې ساری او ستر ملي حرکت و، چې د پکتيا د ځاځيو، نورو ولسونو او د وزيرستان د خلکو له خوا د جنرال يار محمد خان وزيري او نورو قومي مشرانو په ملګرتيا او مشرۍ ترسره شو، نو په کار وه چې د هغوی د اتلولۍ يادونه، ستاينه او نمانځنه وشي، په کابل کې پر يوې څلور لارې يو يادګاري منار جوړ شي، همدارنګه له دولت څخه وغوښتل شي چې يوه ورځ دې د (ملي نجات) د ورځې په نامه ونومول شي، رسمي جنترۍ کې دې ځای شي او بيا دې هر کال د يوه ملي جشن په توګه د دې ورځې نمانځنه وشي. د دې منار د جوړولو هدف هم دا و چې هر کال کابل ښاريان او نور هېوادوال دلته راشي او د دې منار پر لمن د ګلانو ګېډۍ کېږدي، غله او داړه ماران وغندي ، د هېواد د رښتينو بچيو ستاينه وکړي او په دې ډول دا منار غلو او داړه مارانو ته د عبرت او د هېواد نوي نسل ته د ويښتابه سبب شي. د کابل خلکو د دې منار د جوړولو لپاره د کابل بالا حصار ته څېرمه سيمه چې د (لاهورۍ دروازې) په نامه يادېده، غوره وبلله، د دې کار علت دا و چې د پښتنو قبايلو لښکرې له همدې دروازې څخه کابل ته داخلې شوې وې، دا منار د (۱۳۵۹ل)کال تر ثور مياشتې پورې هسک و، خو تر دې وروسته د واکمن ګوند د ځينو لوړ پوړو غړو له خوا، چې سقاوي اړو دوړو ته يې د بزګري پاڅون نوم ورکاوه او تر دې عنوان لاندې يې له هغه سره خپل قومي او نژادي اړيکي پالل، ونړول شو. ځينې ليکوال وايي چې د څلي اصلي نړوونکي د خلکو ديموکراتيک ګوند (پرچم) ډله وه، چې سقاوي پلوي افکار يې درلودل او په شعوري ډول يې د هېواد اکثريت (پښتنو) له واکمنۍ سره دښمني لرله. خو د ياد ګوند د (خلق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څانګې هم بیا له نادرخان او د هغه له کورنۍ سره د طبقاتي دښمنۍ له وجې له دې منار سره زیاته علاقه نه لرله او د هغه تاریخي ارزښت ته یې زیات پام نه و، په تېره بیا دا چې د منار په ډبرلیک کې د (سپه سالار نادر خان) نوم هم په درنو الفاظو یاد شوی وي. دا مهال نو د انقلابي احساساتو پړاو و او د نادرخان کورنۍ ته هر منسوب څیز د دې ګوند د زیاتو غړو په نظر د کرکې وړ و. د (۱۳۵۹ل)کال په بهیر کې (خلق) څانګې د (پرچم) په انډول اساسي واک نه درلود. ځینې کسان بیا وایي چې څلی د (۱۳۵۸ل) کال په بهیر کې یو څه زیانمن شوی و، خو یو زیات شمېر هېوادوال په دې نظر دي چې دوی د روسانو تر یرغل وروسته هم دا څلی په خپلو سترګو لیدلی دی. له هغې جملې څخه دعلومو اکاډمۍ غړی او تاریخپوه (سرمحقق ډاکټر شریف ځدراڼ) وایي چې دا څلی د روسانو تر یرغل پورې روغ جوړ و او کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ، نو د کارمل د واکمنۍ پر لومړي کال دا څلی ونړول شو. د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال د پوځ یو صاحب منصب (غلام محمد کاموال) ماته وویل، دا څلی د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال جوړ و، خو کله چې همدا مهال په بالاحصار کې یوې عسکري قطعې د حکومت پر ضد د پوځي کودتا هڅه کوله، نو د یاغیانو یو زغروال ټانک له دې څلي سره ولګېد او هغه یې یو څه زیانمن کړ (یو څه کوږ شو)، کله چې د روسانو له یرغل سره د کارمل واکمني پیل شوه، نو دا څلی یې بیا په شپه کې ونړوه)). وروسته بیا د ملي تحریک غړي (څړبن هدایي) د خپل پلار او د خلقیانو د وخت د ځینو نورو چارواکو له خولې ماته وویل، کله چې د پرچمیانو (په حقیقت کې د ستمیانو او سقاویانو) له خوا په شپه کې دا څلی په قصدي ډول ونړول شو، نو د خلقیانو، په تېره بیا د پکتیاوالو په استازۍ (محمد اسلم وطنجار) او (سید محمد ګلاب زوی) ببرک کارمل ته ورغلل او هغه ته یې د څلي د ړنګولو په باب احتیاج وکړ، خو کارمل ورته وویل خیر دی، دا څلی کوږ شوی او غیر له هغې هم ړنګېده، نو اوس چې چپه کړای شوی دی، زه به یې له سره نوی جوړ کړم، خو کارمل بیا پر خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمنه وفا ونه کړه. په هر ترتیب اکثره کتونکي په دې نظر دي چې د خلکو دیموکراتیک گوند د واکمنۍ پر مهال د (۱۳۵۹ل) کال پر دویمه یا درېیمه میاشت د نجات منار په شپه کې له بېخه ونړول شو او سهار یې هېڅ اثار پاتې نه وو. تر دې خبرو وروسته اوس راځو دې موضوع ته چې ځینو ته کېدی شي دا پوښتنه راپیدا شي چې (غازي محمد نادر خان) ولې د (سقاو زوی) او د هغه اندېوالان په دار وځړول؟ تاریخ لیکونکي په دې باب وایي: که د سقاو زوی او د هغه د ملگرو ظلمونه چا لیدلي وي چې هغه مهال د هېڅ کورنۍ ننگ او عزت خوندي نه و، ظلم وروستي حد ته رسېدلی و، د پخواني حکومت د مهمو شخصیتونو پر کورنیو او نورو مخورو افغانانو چې څومره ظلمونه وشول، څومره ککرۍ تولې شولې، د خلکو زړونه په بل هېڅ شي دومره نه تسلي کېدل، لکه د دې غلو او داړه مارانو په له منځه وړلو. په خپله سقاویانو اعدام داسې عام کړی و چې د کابل خلک هره ورځ د اعدام له یوې نوې پېښې سره مخامخېدل، نو هغوی چې نور یې اعدامول، خپله هم له همدې برخلیک سره مخامخ شول، (څه چې کرې، هغه به ریبې). د هېواد د یو نامتو لیکوال کاتب هزاره د سترگو لیدلي حال له مخې د سقاو زوی یو غل، لوټمار، جاهل، د تمدن او کلتور مخالف، د پوهې، مکتب او تحصیل ضد، د ارتجاع نوکر او د انگلیسانو د لاس اله و. تاریخ لیکونکي وایي: کلکانی د افغانستان د تاریخ یوه توره څېره وه او عملونه یې هر هېوادوال ته د شرم او کرکې سبب شوي وو. حبیب الله کلکانی لکه څنگه چې لومړني بحث کې ورته اشاره وشوه. د تاریخ لیکونکو په نظر دومره ظالم سړی و چې اسیران به یې ژوندي اور ته اچول او کله چې به یې بدن وسوزېده، نو سر به یې ترې جلا کړ. په یوه لرگي کې به یې وتومبه او بیا به یې په ښار کې گرځاوه چې نورو خلکو ته د وېرې سبب شي. ټوپکوال یې دومره بې رحمه وو چې واړه شیده رودي ماشومان به یې د مور په غېږه کې ویشتل، چې له هغې سره یو ځای هلاک شي. تاریخ لیکونکي وایي، دوی دومره وحشیان وو چې کېدی شي د چنگېز او هلاکو په ظلمونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ببلګې پيدا شي.تاريخونو کې راغلي چې سقاو زوی څو ځله د قزلباشو او هزاره ګانو د ډله ييزې وژنې فرمانونه صادر کړل چې دا خپله يو ملي ضد عمل ګڼل کېږي. ده د خپل واک د دوام په خاطر د خلکو پر حيثيت تېری وکړ. فحشا ته يې لاس واچوه، په خلکو کې يې قومي، ژبني او سمتي نفاق ته لمن ووهله. نادر خان او د هغه ملګرو په هېواد کې دغسې يو جابرانه حالت ته د پای ټکی کېښود. د (۱۹۲۹م) کال د اکتوبر پر (۱۵)مه نېټه چې د (۱۳۰۸ل) کال د تلې يا ميزان له (۲۳) مې سره سمون خوري، شاهي ارګ ته داخل شو، دا مهال (سقاو زوی) د ارګ د شمالي دروازې له لارې تښتېدلی و، څو ورځې وروسته يې هغه له خپلو ملګرو سره اعدام کړ او تر هغې وروسته د ميزان (۲۳)مه د (ملي نجات) د ورځې په نامه ياده شوه، هر کال به دا ورځ د يوه ملي جشن په توګه نمانځل کېده، تر (۱۳۵۷ل) کال پورې د دې ورځې نمانځه کېدله او تر يادې نېټې وروسته افغانستان يو بل ناورين ته داخل شو، چې د دې اثر د ليکنې تر وخته لا هم دا ناورين دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجات ځلي د بیا جوړونې لپاره لومړني افکار او نظريات

کله چې د (۱۳۵۹ل) کال د لومړۍ نيمايي په نيمايي کې د نجات ځلي ونړول شو، نو له همغه کاله بيا د (۱۳۹۵ل) کال تر لومړيو دريو مياشتو پورې، چې نږدې (۳٦) کلونه تېر شول، د نجات ځلي د بيا جوړونې لپاره عملي گامونه پورته نه شول. په دې ټول بهير کې په هېواد کې نه امنيت، نه ثبات او نه هم ملي حکومت و، چې د تاريخي وياړونو د بيا جوړونې او ځلونې لپاره يې هڅې کړې وای. د هېواد په نورو برخو کې تيار جوړ تاريخي ځلي، ودانۍ او تاريخي منارونه له منځه وړل کېدل، نو د پخوانيو د بيا جوړونې خبرې خو هسې يو خيال، خوب او تصور و. د ټول هېواد په کچه ښېر ولايتي موزيمونه لوټ شول، څو مهم تاريخي ځلي چې لرغونوالی يې ان تر زرو کلونو اوښته، له منځه لاړل، د ملي موزيم (۷۰) سلنه مهم اثار تالا شول، د دارالامان، چهلستون او تاج بېگ په شان تاريخي ودانۍ ورانې ويجاړې شوې او نور لسگونه تاريخي اثار له منځه لاړل په دغسې يو حالت کې چې ټول هېواد د جگړې او بې ثباتۍ په ناخوالو کې سوځېده، د تاريخي ودانيو او ځلو بيا جوړونه ناممکنه برېښېده. کله چې د بهرنيو ځواکونو په زور د طالبانو اسلامي امارت ړنگ کړای شو او پر ځای يې يوه موقته (شپږ مياشتنۍ) اداره رامنځته شوه، نو دا مهال افغانستان ته زياته بهرنۍ مالي پانگه راماته شوه، خلکوسره هيله پيدا شوه چې څه که خدای کول، اوس به د هېواد په هر ډگر کې د بيا جوړونې، نوې جوړونې او بيا رغونې کارونه پيل شي. په ځينو برخو، له هغې جملې څخه د تاريخي ابداتو په بيا رغونه او جوړونه کې يو څه پرمختگونه هم وشول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غزني، کابل، کندهار، هرات او ځینو نورو سیمو کې یو شمېر تاریخي ودانۍ، څلي، مقبرې او نور تاریخي اثار ورغول شول، خو د (نجات څلي) په شان د یو شمېر نورو تاریخي اثارو د بیا جوړونې او بیا رغونې په باب حکومتي چارواکو نه یوازې دا چې فکر نه کاوه، بلکې شدید مخالفت یې هم ښوده. د طالبانو نظام تر ړنګونې وروسته اصلاً په کابل کې داسې اشخاص، تنظیمونه او جریانونه واکمن وو چې عملونه او نظرونه یې کټ مټ د حبیب الله کلکاني (سقاو زوی) ته ورته وو، په ځینو برخو کې لا ان تر هغه هم افراطي او بدتر وو. د حامدکرزي په ګډون، د حکومت پر نورو مهمو څوکیو چې هر چا کار کاوه، هغوی هسې خپلې شپې تېرولې، د دې نویو سقاویانو پر وړاندې یې غوڅه خبره هډو کولای نه شوه. د دې چوپ خولو او بې زړه ښتنو ځانساتي سیاست په حکومت کې د شمالټلوالې اړوندو چارواکو ته لاپسې د دې جرئت ورکړ چې د افراط لپاسه نور افراط ته هم لاس وغځوي.

نږدې څوارلس کلونه په متواتر ډول دې حالت دوام وکړ او په دې بهیر کې په یوه نه یو ډول همغه سقاوي اړو دوړ، غله او داړه ماران واکمن وو ، اوس هم څه نا څه واکمن دي، خو د (۱۳۸۱-۱۳۹۰) لمریز کلونو په اندډول یې اغېزې یو څه کمې شوې دي. د همدې تېرو اوولسو کلونو په بهیر ، په تېره بیا د حامد کرزي د حاکمیت په وروستیو څلورو کلونو کې څو ځله د بېلابېلو ټولنو، د لویې پکتیا د ولسونو او مدني بنسټونو له خوا د (نجات څلي) د بیا جوړونې مفکوره رابرسېره شوه او له حکومت څخه غوښتنه وشوه چې د دې څلي د بیا جوړونې په برخه کې ګام پورته کړي، خو نه حامد کرزي او نه هم نورو چارواکو د دې کار جرئت وکړ. یو ځل په کابل کې، غالباً چې، (۱۳۹۰ل) کال و، د حضوري چمن د ختیزې څنډې په یوه هوټل کې د لویې پکتیا د منګلو قوم یوه سراسري شورا یا غونډه درلودله، په دې غونډه کې ماته هم بلنه راکړل شوې وه، ما په اضطراري لویه جرګه کې د لویې پکتیا د وکیلانو له اوسېلې او تدبیر څخه د منني تر څنګ، دې غونډې ته یو څو وړاندیزونه هم وړاندې کړل. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیزونو کې یو وړاندیز هم دا و چې د ټولو افغانانو په تېره بیا د ټولو پښتنو د یووالي او مبارزې د سمبول په توګه باید د (نجات څلی) پر خپل پخواني ځای بیا له سره جوړ شي، هلته خلکو زما وړاندیز ته هرکلی ووایه او ځینو بیا تر غونډې وروسته ماته وویل؛ دا څو کلونه کېږي چې موږ د دې څلي د بیا جوړونې لپاره هڅې پیل کړې دي. ښاغلي ګلاب منګل بیا تر غونډې څو ورځې وروسته دا هم وویل چې موږ ان د دې لپاره یو مقدار پیسې هم راټولې کړې دي. د دې تر څنګ د ځاځیو بېلابېلو مشرانو او ځینو مطرحو شخصیتونو هم وروسته راته وویل چې موږ هم هلې ځلې پیل کړې وې چې د دې څلي د بیا جوړېدو کارونه باید پیل شي.
ویل کېږي چې کمال ناصر اصولي، ګل پاچا مجیدي، نسیم ګل توتاخېل او ګڼ شمېر نورو اشخاصو وخت پر وخت د دې څلي د بیا جوړونې لپاره نظري هلې ځلې کړې دي. د څلي د بیا جوړونې دې مفکورو او نظریاتو نږدې لس کاله وخت راونغاړه، خو په دې موده کې فکر د فکر او نظر د نظر په توګه پاتې شو، نه چا جرئت وکړ او نه هم په دې برخه کې عملي ګام پورته شو. خبره ان دېته ورسېده چې د پخواني سقاو نوی نسل چې د حامد کرزي د واکمنۍ په بهیر کې یې د حکومت ټول حساس رګونه نیولي وو، د سقاو زوی خاورې او هډوکي یو ځل بیا له خاورو راجلا او بیا یې خاورو ته د سپارلو پلان جوړ کړي او په اصطلاح یو ځل بیا یې د خاورو جنازه خاورو ته وسپاري.
ښه به وي چې دلته دې موضوع ته یو څه نور هم تم شو، د یوه ځانګړي عنوان په توګه یې وڅېړو او د موضوع ماضي ته هم لږ نغوته وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاورو ته د کلکاني د خاورو بیا سپارنه

**لکه څنګه چې یادونه وشوه حبیب الله کلکاني د افغانستان د معاصر تاریخ یوه توره څېره وه، چې د پردیو په لمسون او د خپلو غلو**




خاورو ته د حبیب الله کلکاني او د هغه د ملګریو د احتمالي جسدونو بیا سپارنه

**داړه مارانو په ملتیا او د خپل ارتجاعي حرکت په واسطه یې په افغانستان کې د پرمختګ او د ولس د سوکالۍ مخه ډب کړه او د غازي امان الله خان په مشرۍ یې یو ملي او مترقي حکومت ړنګ کړ. د میر غلام محمد غبار، کاتب هزاره، غلام محی الدین انیس او نورو په ګډون د افغانستان اکثره تاریخ لیکونکو، حبیب الله کلکانی د هېواد د تاریخ یوه توره او نامتمدنه څېره بللې، چې افغانستان یې د تمدن له کاروانه لرې کړ. پر افغانستان باندې د شورویانو تر یرغل پورې دا توره څېره همداسې توره پاتې وه، خو کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ او د خپلې تیورۍ پر اساس یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک د دوی خپلخوښو اشخاصو او اقلیتونو ته انتقال کړ، نو نه یوازې په هېواد کې یې یو شمېر نوي مصنوعي شخصیتونه او اتلان جوړ کړل، بلکې پر پخوانیو رښتینو ملي اتلانو یې هم ډول ډول تورونه پورې کړل او د پخوانیو تورو تاریخي څېرو د سپینولو هڅه هم پیل شوه. د دې تورو څېرو په لړ کې یوه هم حبیب الله کلکاني و چې په تاریخونو کې د (بچه سقاو) یا (سقاو زوی) په نامه مشهور دی. روسانو په افغانستان کې د خپلو پلویانو او د اقلیتونو د حقوقو د مدعیانو په واسطه وغوښتل، کلکاني او هغه ته ورته نورې تورې څېرې سپینې کړي، نو ځکه خو یې په خپلو پوهنتونونو کې د هغه په باب د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا دورې د تېزسونو لیکلو ته ځینې اشخاص وهڅول. د ساري په توګه (وداد بارش) چې پرچم او ستم ډلې ته نږدې شخص او د پنجشېر اوسېدونکی و، په شوروي کې یې تر لوړو زده کړو وروسته خپل تېزس د حبیب الله کلکاني ژوند، حاکمیت او په اصطلاح مبارزو ته وقف کړی، همداسې یو لړ نور اشخاص هم شته چې سقاو زوی ته یې خپلې لیکنې او ځینې اثار ځانګړي کړي دي. د جهاد په کلونو کې چې کله هم شورویان نور پر خپلې بریا نا باوره شول، د ناکامۍ احتمال یې احساس کړ، نو د پرچم ډلې رول یې اسلامي جمعیت ته په پام کې ونیو او د (طاهر بدخشي ـ) له خوا رامنځته شوې، د (ملي ستم) ډله یې د (پرچم) او (جمعیت) ترڅنګ د یو بل ځواک په توګه تر پالنې لاندې ونیوله.

تردې وړاندې یو شمېر نورو ارتجاعي لیکوالو هم هڅه کړې وه چې د سقاو زوی توره څېره سپینه کړي او هغه ته شخصیت ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه استاد خلیل الله خلیلي د یوې تاریخي عقدې له مخې د سقاو زوی په اړه یو ځانګړی اثر ولیکه، د دې اثر نوم و: ((عیاری از خراسان)) په داسې حال کې چې په شمالي کې ډېر نامتو او مخور شخصیتونه تېر شوي وو، خو ده د هغوی په باب څه ونه لیکل او د یوه غله او داړه مار په اړه یې ځانګړی اثر ولیکه. خلیلي په دې کار سره غوښتل له امان الله خان څخه د خپل پلار د اعدام غچ واخلي. لکه څنګه چې دمخه مو هم یادونه وکړه د خلیلي پلار (میرزا حسین خان) د غازي امان الله خان له خوا د هغه د یو لړ ناوړه کارونو له امله اعدام شوی و.

خلیلي د امان الله خان د حکومت تر ړنګېدا وروسته د سقاو زوی د حاکمیت په بهیر کې د دربار د (سرمنشي) په توګه پر دنده وګومارل شو. بیا یې د سقاو زوی په تایدي امر د امان الله خان د پلوۍ په تور ګڼ شمېر کورنۍ له منځه یوړلې. خلیلي د محمد ظاهر شاه په سلطنت کې د ستاینې او د عوامو په اصطلاح د غوړه مالۍ له امله د سفارت او وکالت څوکیو ته ورسېد، د شورویانو پر ضد د جهاد پر مهال، بیا له امریکا څخه پاکستان ته راغی او د پاکستان دکتاتور (ضیاء الحق) ته یې یوه ستاینیزه (مداحیه) قصیده وویله.

د خلیلي له ستاینو سره سره لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، د خپل وخت مشهور تاریخ لیکونکي (کاتب هزاره) او نورو لیکوالو بیا د سقاو زوی د یو لوټمار، غله او وحشي شخص په توګه معرفي کړی دی.

د خلیلي ترڅنګ (صدیق فرهنګ) بیا بل شخص دی چې د کلکاني پر ستاینه یې لاس پورې کړی او د واقعیتونو خلاف یې د هغه توصیف کړی دی.

ځینې اشخاصو دا هڅه هم کړې چې د ځینو مشهورو لیکوالو په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جعلي لیکنې جوړې کړي او په هغو کې د سقاو د زوی ستاینه وکړي؛ له غله څخه عیار جوړ کړي او د اسلام د اساساتو له مخالف څخه د اسلام خدمتګار، د ایران یو مشهور لیکوال او شاعر (احمد شاملو) ته هم همدا ډول یوه لیکنه منسوب شوې، چې په هغې کې د سقاو زوی ستاینه شوې وه، خو د هغه پلویانو ډېر ژر هغه لیکنه جعلي وبلله او دا کار یې د (احمد شاملو) شخصیت او فکر ته یو توهین وګاڼه.**

**د حبیب الله کلکاني په اړه که له یوې خوا د هغه پلویانو هڅه کړې، هغه پورې داسې القاب او صفات وتړي چې اصلاً هغه کې موجود نه وو، خو ځینو نورو لیکوالو بیا حقیقت نه دی پټ کړی، غلام محمد غبار بیا د ځینو وړو برخو له تائیدونې پرته په ټولیز ډول د سقاو زوی او د هغه پلویان غله او داړه ماران ګڼلي او داسې یوه ډله یې بللې چې له تمدن څخه ډېر لرې دي.**

**د سقاو زوی د تائیدونې په برخه کې په افغانستان کې د شورویانو د واکمنۍ پر مهال، همغږې شویو درېو ډلو؛ جمعیت، پرچم او ستم اکثریت غړو په دې برخه کې ګډ دریځ درلود.**

**دې درېواړو ډلو که څه هم بېلابېلې ایډیالوژۍ لرلې، خو د پښتنو پر وړاندې یې ګډ دریځ درلود، شورویانو ورو ورو (رباني) د (کارمل) په رول کې عیار او (احمد شاه مسعود) یې هم ورسره ملګری کړ. مسعود د جهاد په ګرمو کلونو کې له شوروي ځواکونو سره اوربند وکړ او همدا کار یې له هغوی سره د دوستۍ د اثبات او ټینګښت لپاره قوي بنسټ شو. د جهاد په وروستیو کلونو کې رباني روسیې ته سفر وکړ او روسان دې نتیجې ته ورسېدل چې د ډاکټر نجیب الله حکومت ړنګ او واک د رباني او مسعود په مشرۍ اسلامي جمعیت او نورو لړکیو ته انتقال کړي.**

**تر دې دمخه هم، د کارمل د واکمنۍ پر مهال پوره هڅه وشوه چې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(بچه سقاو) څېره وځلوي او یا یې لږ تر لږه تور رنګ له خلکو پټ کړي. په همدې خاطر یې په تعلیمي او تدریسي نصاب کې هڅه وکړه د (سقاو زوی) د تورې واکمنۍ نهه میاشتنۍ دوره له تدریسه حذف کړي. هغه وخت د سقاو زوی په باب عامه ذهنیت دومره حساسیت درلود چې د وخت واکمنو نه شو کولای، د دې حساسیت پر وړاندې ودرېږي، نو دا یې هم یو غنیمت ګاڼه چې دا دوره لږ تر لږه د نوي پښت له حافظې څخه لرې وساتي، نو ځکه خو یې د تاریخ مضمون یو زیات شمېر استادانو ته ویلي وو چې د دې دورې پر ځانګړنو بحث مه کوئ او دا دوره په اصطلاح سپینه پرېږدئ، دا کار همغه مهال د یو شمېر پوهانو او تاریخپوهانو د نیوکې سبب شو، له هغې جملې څخه دافغانستان د علومو اکاډمۍ غړي (کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي) اعتراض وکړ او ویې ویل چې: ((په تاریخ کې سپینه پاڼه نه شته، څه چې پېښ شوي هغه باید ولیکل شي او وویل شي.))

تر (۱۳۵۸ل) کال وروسته بیا تر (۱۳٦۷ل) کال پورې په حکومت کې ستمي، پرچمي او پردیپاله عناصر مخ په بره روان وو، واک او ځواک یې زیاتېده، همدا وخت د حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) پټ او ښکاره توصیف، تائید او سپیناوی راڅرګند شو. د ډاکټر نجیب الله د حاکمیت په دوران کې هم سقاو پلوي عناصر له واک و ځواکه راونه غورځېدل، خپل فعالیت ته یې دوام ورکاوه، ان د عظمی صدارت تر مرستیالۍ پورې ورسېدل؛ (محبوب الله کوشانی) د (سازمان انقلابي زحمتکش افغانستان) (سازا) د مشر په توګه د صدارت مرستیال و او په کابل کې یې ښه شان و شوکت درلود، ګوند یې رسمي و او د (میهن) په نامه یې یوه اوونیزه هم خپروله چې ستمي افکار یې نشرول او د سقاوي چلند پلوي یې کوله. دې ډلې او د سقاو نورو پلویانو وخت ناوخت له ډاکټر نجیب الله او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاکمیت له نورو چارواکو سره پر ځینو مسایلو پټې او ښکاره ناندرۍ هم وهلې. د ډاکتر نجیب الله د حکومت پرمهال ستمي ډلو په تخار او نورو سیمو کې ځانګړي قومي غونډونه او ملېشې هم جوړې کړې. په دې دوره کې که څه هم ستمي عناصر یو څه وپړسېدل، خو د کارمل د واکمنۍ په انډول یې پټ حکومتي او فکري قوت یو څه کنټرول شو.
د ډاکټر نجیب الله حکومت په حقیقت کې د همدې ستمي ډلو (پرچم، ستم، جمعیت، وحدت) او یو شمېر نورو عناصرو له خوا رنګ شو او د واک د

سوله ییز لېږد لپاره یې د ملګرو ملتو سوله ییز پلان شنډ کړ. کله چې په کابل کې د (رباني) نیمواکه واکمني چلېدله، نو په ځینو عسکري پوستو او دولتي ځایونو کې د بچه سقاو، احمد شاه مسعود او رباني ګډ تصویرونه راځړګند شول، خو د رباني واکمني له داسې ستونزو سره مخ وه چې نه یې شو کولای، د حبیب الله کلکاني تصویرونه زیات او عملونه یې تر ډېر زیاته حده تائید کړي. یوازې دومره یې وکړل چې د کابل په کلکانو کې د هغه په نامه یوه لېسه ونوموي او همدارنګه د هغه د مېرمن (سنګري) فاتحه چې همدا مهال وفات شوې وه، د کابل په خیرخانه مېنه کې د (کاظم اهنګ) او یو شمېر نورو سقاو پلوه عناصرو په حضور کې واخلي. ویل کېږي چې کلکاني د خپل ژوند پر مهال خپله دامېرمن پرې ایښې وه او له هغه څخه جلا شوې وه. اوسنیو سقاویانو هغې ته د ((بي بي سنګري)) او د افغانستان ((ملکې)) خطاب وکړ. کله چې د انتقالي حکومت پرمهال یونس قانوني د پوهنې وزیر و، نو د (بي بي سنګري) په نامه یې په کابل کې یوه لېسه هم ونوموله.
کله چې طالبانو له اسلامي جمعیت څخه کابل ونیو او جنګ د کابل شمال او بیا د هېواد شمال ته انتقال شو، نو دا مهال احمد شاه مسعود زیاته هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې حبیب الله کلکانی د جګړې د یوه سپر په توګه وکاروي، طالبان له جنوب څخه د راپاڅېدلي داسې یو لښکر په توګه معرفي کړي چې له دوی څخه پاچاهي نیسي او یو ځل بیا د سقاو تاریخ تکرارېږي. طالبانو سره که څه هم قومي ایډیالوژي مطرح نه وه، خو مسعود هڅه کوله چې دوی په یوه قومي جګړه کې راښکېل کړي، د طالبانو څلور نیم کلنه دوره هم له جمعیت او ځینو نورو تنظیمونو سره په جنجالونو او جګړو کې تېره شوه، خو پر دې بریالي شول چې د هېواد پنځه نوي سلنه خاوره له تنظیمي ټوپکمارو پاکه کړي. کله چې د طالبانو نظام د بهرنیو ځواکونو په زور ړنګ شو او شمالټلوالې د هغو د ځمکنیو عسکرو په توګه خپل رول ترسره کړ، نو یو ځل بیا پر کابل داسې اشخاص حاکم شول چې سقاوي خصلت یې درلود. د یادونې وړ ده کله چې پر کابل د رباني او مسعود نیمواکه واکمني چلېدله، نو دا مهال دوی داسې کارونه ترسره کړل چې کټ مټ د بچه سقاو عملونو ته ورته وو.

د دې خبرې یادول هم په کار دي چې سقاوي کوم فکر نه دی، بلکې یو لړ داسې عملونه دي چې د غلا، لوټ او ګډوډۍ پر محور راڅرخي.

همغه مهال یو شمېر لیکوالو د هغې دورې (د رباني او مسعود واکمني) په باب بېلابېلې لیکنې وکړې، دا لیکنې د (سمسور افغان) په نامه یوه لیکوال راټولې کړې او یو کتاب یې ترې جوړ کړ او نوم یې شو: (دویمه سقاوي). پر کتاب باندې سقاو پلوه عناصرو سخت غبرګون وښود، احمد شاه مسعود او نورو پرې هم عکس العمل ښکاره کړ، ان تردې چې هڅه یې وکړه، له دې کتاب څخه هم د خپل ځان په ګټه کار واخلي. خو په کتاب کې داسې واقعیتونه وو چې دوی نه شول کولای ټول متن یې خلکو ته ښکاره کړي، له یوې خوا به یې تبلیغ کاوه چې موږ ته ولې سقاویان ویل کېږي؛ د نورو له خوا به یې ځان ته د دې اصطلاح کارونه یو سپکاوی ګاڼه او له

(c) ketabton.com: The Digital Library




بلې خوا به یې پلویانو د سقاو عکسونه د مسعود او رباني له عکسونو سره ځړول او پر هغو به یې افتخار کاوه. هغه وخت کې هم دا پوښتنه مطرح کېدله چې دوی خپله ځانونه سقاویان بولي او ویاړ هم پرې کوي، نو چې بل چا ورته د سقاویانو خطاب وکړ، ولې بیا دا کار بد ګڼي؟ ان یو شمېر پښتنو محافظه کارانو او ځانساتو به هم ویل چې دا خو مجاهدین دي، دوی ته باید د سقاویانو اصطلاح ونه کارول شي. یو شمېر نورو اشخاصو بیا سقاو ته هم د (مجاهد) خطاب کاوه، خو اکثریت هېوادوالو د سقاو زوی مطلق غل ګاڼه او یو بېسواده شخص. پلویانو کې یې هم د غلا، لوټ او تالان خصلت تر ټولو قوي و. سقاویانو د دې پر ځای چې د (دویمې سقاوي) اثر محتویات په علمي ډول رد کړي، د کتاب د راټولونکي د تثبیت په لټه کې شول، زما په شمول یې بېلابېلو لیکوالو ته دا کتاب منسوب کړ، خو تر اخره یې هغه څه خلکو ته څرګند نه کړل چې په دې اثر کې راغلي وو، دوی ونه ویل چې په دې اثر کې دغه راغلي معلومات سم نه دي او سمه بڼه یې دغه ده. کله چې د طالبانو نظام ړنګ کړای شو، نو سقاو پلوي عناصر بیا پر کابل راشېوه شول، شکل او بڼه یې لږ شان نوې، خو محتوا، خصلت او عمل یې همغه سقاوي ډوله وو. دا نو د درېیمې سقاوي یوه نوې بڼه وه. دوه میاشتې ټول کابل دې اشخاصو ته خوشې و، دوه میاشتې وروسته په اصطلاح (قدرت) حامد کرزي ته انتقال شو. دې ډلو او اشخاصو د بهرنیانو په مرسته نږدې څوارلس کاله پر کابل او نور هېواد خپله ناکنتروله واکمني وچلوله، دوی د حکومت پر حساسو رګونو واکمن وو، دا ځل نو په حکومت کې د قلم، ټوپک، دفتر او سیاست په زور غلا پیل شوه. د غلا او فساد کچه دومره پورته شوه چې افغانستان د مالي او اداري فساد له امله د نړۍ په کچه په دویمه او درېیمه پوړۍ کې راغی، سره له دې چې د نظام یا حکومت په سر کې حامد کرزي ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود، خو د حکومت د ماشین درنه برخه د همدې ټلوالې په لاس کې وه چې سقاوي خصلت یې درلود. د حامد کرزي په وخت کې د سقاو پلویان د واک په اوج کې واقع وو، خپله جمهور رییس حامد کرزي یو وخت ما (یون) ته کیسه وکړه او ویې ویل چې: ((زما د حکومت دوه درې کلونه تېر شوي وو، چې (فهیم خان) ماته راغی او ویې ویل چې موږ د حبیب الله کلکاني مړی راوباسو او په شاندارو دولتي مراسمو یې بېرته خاورو ته سپارو او دا زموږ د خلکو غوښتنه ده.)) کرزي صیب وویل: ((ما ورته وویل چې بیا نو طالبانو سره ولې جګړه کوئ؟ طالبانو هم د نجونو مکتبونه تړلي وو او کلکاني هم، طالبان هم د تعلیم مخالف وو او کلکانی هم، نو بیا طالبانو سره په څه وران یاست او جګړه ورسره ولې کوئ؟)) کرزي صیب



پخوانی ولسمشر حامد کرزی

وویل: ((فهیم خان زما خبرو ته د تائید سر وخوځاوه او هغه موضوع بیا څه موده غلې شوه.)) د کرزي صیب له دې څرګندونو سره سره سقاویانو د کرزي د حاکمیت په موده کې څو ځله هڅه وکړه چې د کلکاني د بیا خښولو مراسم جوړ کړي، د مرنجان غونډۍ ښخ ته څو ځله سره راټول شول، (حفیظ منصور) او ځینې نور ستمیان هم په کې ښکارېدل، چغې او شعارونه یې هم ورکول او د کلکاني د بیا خښولو غوښتنه یې کوله.

د کرزي د حاکمیت پر مهال وخت پر وخت سقاوي عناصرو هڅه کړې چې د سقاو زوی د هډوکو له بیا خښونې څخه یوه سیاسي او جنجالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع جوړه کړي، داسې انګېرل کېدله چې دوی به یې د بیا خښولو هڅه وکړي او مخالفین به یې مخنیوی کوي، دې کې به جنجال جوړ شي او ملک به له بېثباتۍ سره مخامخ شي، په دې ډول به یو ځل بیا یوه بله ګډوډي یا سقاوي جوړه شي. د کرزي د واکمنۍ پر مهال یوه ورځ له ولسمشر کرزي سره د یو شمېر ځوانانو، مدني ټولنو او فرهنګیانو ملاقات و، په دې ملاقات کې هم یو شمېر سقاو پلوه عناصرو هڅه وکړه چې کرزي صیب ته دا موضوع یاده کړي، خو د خبرو چانس ورته برابر نه شو. د کرزي صیب د واکمنۍ پر مهال دې ډول خلکو په حکومت کې دومره واک و ځواک درلود چې چا د سقاو زوی پر ضد د بیان د ازادۍ حق هم نه درلود.

ګل اغا شېرزی چې ډېر مهال د ننګرهار والي و، د خپل ولایت د تصدۍ پر مهال یې د سقاو زوی نوم لکه څنګه چې د هغه ظرفیت و، په همغه شکل یې یاد کړی و، دې کار په کابل کې واکمنې سقاو پلوه ډلې دومره په غوصه کړې چې ګل اغا شېرزي غوندې سړی یې هم بښنې غوښتلو ته اړ کړ. دې حالت همداسې دوام وکړ، خبره د داکټر غني جمهوري ریاست ته راورسېده. دا مهال چې حکومت په رسمي ډول له سقاو پلوه ډلو سره نیمایي شوی و او دې ډلو اجراییه ریاست د یوه بنسټ په توګه خپل پوخ ملاتړی ګاڼه، نو د کلکاني د بیا خښونې موضوع یې یو ځل بیا راګرمه کړه. د غني حکومت چې هسې هم له پیله کمزوری و، د ډېرو سیاسي، قومي او سیمه ییزو بحرانونو تاب یې نه درلود، نو ځکه خو د کلکاني پلویانو دا وخت د خپل هدف لپاره ډېر مناسب وګاڼه، لومړی یې څو پرلپسې خپلمنځي غونډې وکړې او بیا یې له حکومته، په تېره بیا له جمهور رییس (غني) څخه وغوښتل چې د یوه فرمان له لارې د کلکاني خاورې یا د دوی په اصطلاح جسد په ډېر اعزاز سره په رسمي او دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشريفاتو بيا خاورو ته وسپاري. ډاکټر غني د دوی غوښتنو ته غاړه کېښوده، البته له بيا خښولو سره يې مخالفت هم ونه ښود، ويې ويل چې خپلې سيمې ته يې يوسئ، مخالفت يې نه کوم، خو فرمان هم نه ورکوم، په پيل کې د کلکاني پلويانو داسې اوازه اچولې وه، چې د بيا خښونې مراسم يې په کلي کې ترسره کېږي او هدف يې دا و چې په دې ډول له غني څخه فرمان ترلاسه کړي. دا مهال د سقاو پلويانو داسې اوازې هم اچولې وې چې که غني فرمان ورکړي، که ور يې نه کړي، عبدالله به دا فرمان ورکړي، ځکه چې هغه خو هم د حکومت اساسي برخه ده، داسې راپورونه هم وو چې د (مجيب رحيمي) په نامه يو کس چې د عبدالله عبدالله وياند هم دی، يو فرمان ليکلی، پنځه مادې لري، په عبدالله يې لاسليک کړی او په هغه کې يې په اعزاز سره د سقاو زوی د بيا خښونې امر شوی دی. دا فرمان عملي ډګر ته راونه ووت، خو عبدالله عبدالله څو ځله په ډاګه د سقاو او سقاويانو پر پلوۍ څرګندونې وکړې. غني د پړانګ او پانې تر منځ و، له يوې خوا اکثريت پښتانه او د سقاو زوی نور مخالفين خفه کېدل او بلې خوا ته (محدود)، خو فعال او زورور اشخاص وو. يو زيات شمېر ملتپالو، هېوادپالو افغانانو او د ارتجاع ضد قوتونو حکومت ته ګواښ وکړ چې د کلکاني تائيد، د غلا، لوټ او انارشۍ د تائيد مانا لري او د افغانانو په ذهن کې يو ځل بيا د تېرو ناخوالو تداعي کوي، دا کار په ټولنه کې عامه نفرت راپاروي او هېواد يو ځل بيا له ګډوډۍ سره مخامخوي، دا هغه خلک دي چې په ژوندوني هم په ټولنه کې د ګډوډۍ سبب شوي وو او تر ژوند وروسته يې د مړي را ايستل يو ځل بيا ټولنه له بحران سره مخامخوي. په حکومت کې د ملي امنيت شورا د دفتر مشر او د جمهور رييس سلاکار (حنيف اتمر) په ګډون اغېزمنو اشخاصو هم جمهور رييس ته د ولس دا پيغام ور رسولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ ښاغلي حنیف اتمر ماته زنګ وواهه او ویې ویل: ((ولسمشر وایي: په اویاوو کلونو کې به هم له ما څخه څوک دا ډول فرمان وانخلي، هو د مړي له ښخولو سره یې مخالفت نه لرم، هغه یې خپل کار دی خو زه فرمان نه ورکوم)). اتمر صیب ماته وویل چې تاسو خپلو ملګرو او نورو دوستانو ته ووایئ چې دا موضوع مه جنجالي کوئ. ما ورته وویل: ((موږه سوله ییز خلک یو، نه چا سره جنجال کوو او نه چاته اجازه ورکوو چې په داسې خاورې شویو مړو هېواد له یوه بل جنجال سره مخامخ کړي.))

تر دې دمخه ما (یون) ته په کابل کې د ملګرو ملتونو د مرستو دفتر (یوناما) یو تن استازی او څو نور بهرني ژورنالېستان راغلل او په دې باب یې ما سره خبرې وکړې، ما ته یې وویل چې حکومتي اشخاص او ځینې سیاسي ډلې غواړي د حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) مړی بیا راوباسي او بیا یې خښ کړي، دوی زیاته کړه: موږ تشویش لرو چې حکومت کمزوری دی، حالات به کنترول نه کړای شي، پښتانه، یو شمېر هزاره ګان او نور مخالفان به د سقاو زوی پر ضد راپاڅي او ملک به له بحران څخه مخامخ شي، دوی وویل: ((که حکومت د هغو خبره مني، پښتانه به خفه شي او که یې نه مني هغوی حکومت ته ستونزې راولاړوي.)) ماته یې وویل چې ستا نظر په دې برخه کې څه دی، څه کولای شې چې دا مشکل حل شي او حکومت له دې ننګونې خلاص شي؟ ما ورته وویل: ((زه یو عادي افغان یم، د یوه افغان په توګه د هر ډول ګډوډۍ مخالف یم، نو هڅه باید وشي چې د عام ولس احساسات راونه پارول شي او بله خبره دا ده چې که موږ یو ځل د تاریخي مړو بیا خښونې ته ورستانه شو، نو ډېر زیات نور مشکلات به پیدا شي، ښه به وي چې پر تېرو مړو تاریخ قضاوت وکړي او موږ پر حال او راتلونکي فکر وکړو.)) ما (یون) د (یوناما) استازي ته وویل: ((ښه به وي چې تاسو د حکومت پر هغو مشرانو فشار راوړئ چې د دې مړي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا ولاړ دي، د یوه مړي په خاطر دې نور افغانان نه وژني او ګډوډي دې نه جوړوي.))

دا خبرې هم تېرې شوې، څه موده وروسته د ښار بېلابېلو واټونو کې باینرونه بند شول او په هغو کې لیکل شوي وو: ((یازده سنبله روز به خاک سپاری دوباره امیر حبیب الله، خادم دین رسول الله)) په ځینو نورو کې لیکل شوي وو: ((روز به خاک سپاری امیر حبیب الله کلکانی و یارانش)) ځینو ځایونو کې د کلکاني له عکسونو سره د احمد شاه مسعود او رباني ګډ عکسونه هم چاپ شوي وو،



د کلکاني او د هغه د ملګریو د احتمالي جسدونو تابوتونه

په حکومت کې د اشرف غني له برخې سره د سقاویانو خبرې کومې نتیجې ته ونه رسېدې او دوی خپلو ټولو پلویانو ته اعلان وکړ چې موږ به وسلې راوباسو او دا کار به په زور ترسره کړو، د هغو کسانو په ډله کې چې د وسلو راکښلو ګواښ او سپارښتنه یې کړې وه، قومندان ګل حیدر، حفیظ منصور او نور شامل وو. د هغوی دا نظامي ګواښ او د جګړې احتمال له ټلوېزیونونو او نورو رسینو څخه هم خپور شو. هغوی همداسې وکړل، په عیدګاه جومات کې یې (دولس، دیارلس) تابوتونه کېښودل له خاورو او یا هم احتمالي هډوکو یې ډک کړل، پر هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تابوت يې يو نوم وليکه. په عيدګاه جومات کې يونس قانوني، د عبدالله وياند (رحيمي) او د جمعيت ګوند يو شمېر سقاو پلوه اشخاص راغلي وو، قانوني وويل چې دی دلته د تحمل د کلتور د عامولو په خاطر راغلی دی، خو دلته يې اصلي سقاوي خصلت معلوم شو. له عيدګاه جومات څخه يې تابوتونه پورته کړل او د (شهرارا) د تاريخي غونډۍ پر لوري يې حرکت وکړ، د خلکو ګڼه ګوڼه او لېوالتيا ډېره کمه وه، ټول ښار د سقاو زوی د واکمنۍ په شان وحشت، دهشت، رسمي او نارسمي ناقانونه وسلوالو نيولی و، د يادونې وړ ده چې د سقاو زوی چې کوم لومړنی ښوونځی سوځولی و، هغه هم په همدې غونډۍ کې واقع و او دا د نجونو يو لومړنی ښوونځی و. کله چې د شهرارا غونډۍ ته نږدې شول، د جنرال دوستم پلويانو او د سقاويانو تر منځ ډزې تبادله شوې، تابوتونه پر ځای پاتې شول او خلک په منډه شول. دوستم ته يو شمېر ازبکانو ويلي وو چې دلته د ازبکانو د څو تاريخي شخصيتونو مړي ښخ دي او د کلکاني مړي ته بايد دلته د خښېدو اجازه ورنه کړای شي.



په توره شپه کې خاورو ته د کلکاني او د هغه د ملګريو د احتمالي جسدونو بيا سپارنه

دوستم پر خپله خبره ټينګ و او د کلکاني او د هغه د انډيوالانو فرضي او خيالي جسدونه په تابوتونو کې پر سړک پاتې شول، دا داسې مړي وو چې هيڅ ژوندي يې نه څېره او نه هم هډوکي وليدل. د شپې له خوا څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکري قطعات په دې پلمه چې د دواړو خواوو تر منځ فاصله رامنځته کوي چې یو بل سره وسلواله نښته ونه کړي، هلته ولېږل شول او همدا مهال یې دوستم ته یو شمېر اشخاص لکه؛ قومندان الماس، یوسف اعتبار او نور د عذر او ښښنې لپاره هم ورلېږلي وو، د اشرف غني د ټیم په استازۍ (معصوم ستانکزی) هم ورسره ملګری و او په اصطلاح خپل ملي(!) مسولیت یې ادا کاوه. د دوستم او کلکاني د پلویانو ترمنځ دریو تنو ته مرګ ژوبله هم واوښته، خو کله چې هلته حکومتي ځواکونه ورسېدل، د کلکاني د پلویانو لپاره یو څه فضا خلاصه شوه او د شپې ناوخته یوه بجه یې مخکې تر مخکې کیندل شویو قبرونو کې تابوتونه کېښودل، په تیاره کې یې پرې خاورې واړولې او په دې ډول د سقاو زوی ته منسوبې احتمالي خاورې له نورو خاورو سره یو ځای شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجات څلي د بیا جوړونې لومړنۍ هڅې او متواترې غونډې

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، د نجات څلي د بیا جوړونې لپاره خو فکر او نظر د څلي تر ړنګولو لږ وروسته مهال او بیا تر هغه څو کلونه وروسته وختونو کې هم موجود و، خو دا نظر او فکر یوازې د یوه ارمان، فکر او نظر په توګه وو، عملي ډګر ته تردې دمه نه وو داخل شوي، خو کله چې د سقاو زوی جسد ته منسوبې خاورې یو ځل بیا خاورو ته وسپارل شوې او د هغه د پلویانو وحشت، دهشت کابل ښاریانو او نورو هېوادوالو محسوس کړ، نو یو ځل بیا پر ښار باندې د همغې لومړۍ سقاوۍ تصویر



په ژوندون ټلوېزیون کې خاورو ته د کلکاني د احتمالي جسد د بیا سپارنې پر وړاندې د مدنی ټولنو غونډه

راژوندی شو، د اکثریت هېوادوالو احساسات راوپارېدل او د مقابل ځواب په لټه کې شول. په بېلابېلو ځایونو کې د اعتراضي غونډو جوړول پیل شول چې دلته یې ځینو ته نغوته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- په ژوندون ټلوېزیون کې لومړنۍ غونډه:

**کله چې د جنرال دوستم د پلویانو او سقاویانو تر منځ کړکېچ زیات شو او عام پښتانه هم د سقاو زوی د بیا خښونې په باب په غوصه وو، نو دا مهال د یو شمېر مدني ټولنو، سیاسي حرکتونو او قومي شوراګانو مشران او استازي ژوندون ټلوېزیون ته راغلل او دلته د دې مسلې پر وړاندې د خپل غبرګون ښودلو په نیت سره جرګه شول. نږدې دوه سوه تنه بېلابېل مشران به وو، د ولسي جرګې یو شمېر وکیلان، لکه؛ جبار قهرمان، حمیدزی لالی، قیص حسن، همایون همایون، یو شمېر مشاور وزیران او د بېلابېلو قومونو استازي هم په کې شامل وو.**

**جرګې تقریباً تر دوه ساعته بحث وروسته پرېکړه وکړه چې که حکومت د کلکاني د مړي لپاره فرمان ورکړ او یا یې د دې خلکو ملاتړ وکړ، نو موږ به**



په آییني ټلوېزیون کې د مدني ټولنو او د ولس د یو شمېر استازیو خبري کنفرانس

**دحکومت پر وړاندې سخت غبرګون وښیو او همدارنګه که چېرې د کلکاني پلویانو حکومت وګواښه او عام نظم یې اخلال کړ، نو موږ به د حکومت ملاتړ کوو او د دې خلکو پر وړاندې به ټینګ غبرګون ښیو. یو نظر په کې دا هم و چې دوستم د سقاویانو پر وړاندې ولاړ دی، پر پښتنو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې غږ کړی چې ملاتړ یې وکړي، نو اول باید لاړ شو دوستم ته د هغه ملاتړ وکړو، بیا به بېرته ژوندون ټلوېزیون ته راشو او بیا به د سبا مظاهرې یا غونډې په باب همدلته پرېکړه کوو. قیس حسن څو شېبې وروسته خپل کور ته لاړ، همایون غوښتل چې سبانۍ غونډه یا مظاهره پر سمتونو وویشي او هر څوک باید له یوه سمته خلک خبر کړي، خو د ډېر غوڅ غبرگون ښودلو اراده یې نه درلوده، په پای کې خبره په دې غوټه شوه چې ټول د دوستم کور ته ورشي.

لالي او قهرمان چې لا له وړاندې له دوستم سره د شخصي انډیوالۍ تار لري، دې وړاندیز ته هرکلی ووایه، ماښام ناوخته و چې له ما (یون) پرته نور ټول د دوستم کور ته ورغلل، ما د دوستم پر ماضي او اوسني تاریخ او د هغه پر سیاسي چلند خپلې نیوکې درلودې، نو ځکه هلته ورنغلم، دوی ټولو هلته د دوستم له نظر څخه ملاتړ څرگند کړ او هم یې سقاویانو ته د احتمالي انارشۍ د جوړولو په باب گوتڅنډنه وکړه. دوی له (اینې



په ژوندون ټلوېزیون کی د مدنی ټولنو او د ولس د یو شمېر استازیو خبري کنفرانس

ټلوېزیون) څخه په ژوندۍ بڼه په همدې اړه یو خبري کنفرانس هم ورکړ.

د شپې لس نیمې بجې همدا اشخاص بېرته ژوندون ټلوېزیون ته راغلل او یوولس بجې یې په ژوندۍ بڼه له ژوندون څخه خبري کنفرانس ورکړ. سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له دې چې ټول کسان په سټډیو کې نه ځایدل، خو څه ودرېدل او مشرانو ته مو څوکۍ برابرې کړې، همایون همایون، جاوېد دلاور، جبار قهرمان، حمیدزي لالي، ما (یون) او ځینو نورو اشخاصو خبرې وکړې او ټولو له حکومته وغوښتل چې د انارشۍ مخه ونیسي او د کلکاني پلویانو ته یې گواښنه وکړه چې بېځایه حرکتونه ونه کړي او ملي ثبات ته گواښ پېښ نه کړي. په دې خبري کنفرانس کې دا اعلان هم وشو چې سبا سهار (۸) بجې باید مطرح هېوادوال ژوندون ټلوېزیون ته تشریف راوړي چې یا د مظاهرې او یا د لویې غونډې په باب پرېکړه وشي. څرنگه چې دا خبري کنفرانس د شپې ناوخته خپور شو، نو ډېرو خلکو ته پیغام نه و رسېدلی، سبا سهار ځینې خلک راغلل، د ژوندون په انگړ کې کېناستل، خو هغه خلک چې د شپې تر ټولو زیات گرم وو، سهار بیا تر ټولو زیات ساړه وو. حمیدزی لالی خوب وړی و، په ټلیفون مې راپاڅوه، جبار قهرمان هم یوولس بجې تشریف راوړ او نور مشران هم همدارنگه پر وخت راونه رسېدل، د ژوندون جرگه خونه کې مو غونډه پیل کړه، غونډه د کمیت له**



په ولسي جرگه کې د ولس استازي عبدالجبار قهرمان او حمیدزی لالی

**پلوه کمه او د کیفیت له پلوه ښه وه، ځینو تکراري اشخاصو او ځینو نویو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاصو په کې خبرې وکړې، خو د خبرو کیفیت یې ښه و، حمیدزي لالي په کې په زړه پورې او ډاډمنې خبرې وکړې. دې غونډې ولسي روحیه پیاوړې کړه او ورو ورو په مرکز او ولایتونو کې د غونډو د جوړېدو لړۍ پیل شوې.

## ۲- په مرکز کې غونډې:

کله چې په ژوندون کې دوه غونډې او یو خبري کنفرانس ترسره شول، نو ورو ورو نورو ځایونو کې هم د غونډو د جوړولو حرکتونه پیل شول. یوه غونډه په شش درک کې چې ویل کېږي د جنوب ختیز زون شوراگانو او یا هم د مدني ټولنو د همغږۍ دفتر دی، جوړه شوه، په دې غونډه کې د جنوبي ولایتونو پر شوراگانو سربېره د ختیزو ولایتونو د شوراگانو او همدارنگه د لوی کندهار د شوراگانو استازو هم گډون کړی و، د کمال ناصر اصولي په وینا چې د ده او نورو مشرانو وړاندیز دا و چې د حبیب الله کلکاني د پلویانو پر وړاندې تر ټولو ښه ځواب دادی چې موږ د کابل ښار د لاهورۍ دروازې په سیمه کې د (نجات منار)، چې د کلکاني د ماتې په ویاړ جوړ شوی و، یو ځل بیا له سره جوړ کړو، ټولو دا وړاندیز ومانه او ویې ویل چې د دې کار د پیل لپاره باید سلا مشورو ته دوام ورکړو. د یادونې وړ ده چې کمال ناصر اصولي تر دې دمخه هم ورته نظر درلود، پر (۱۳۹۰ل) کال یې د وخت د اطلاعاتو کلتور وزیر (سید مخدوم رهین) او بیا تر هغه وروسته نورو اړوندو اشخاصو سره هم په دې باب خبرې اترې کړې وې، خو کومې غوښې او عملي نتیجې ته نه و رسېدلی، د اصولي په وینا اوس نو د دې کار لپاره مناسب وخت دی، تر دې غونډې وروسته د ولسي جرگې د غړي (نذیر احمدزي) په کور کې څو متواترې غونډې وشوې، نږدې پنځه غونډې چې هرې غونډې د کمیت او کیفیت له پلوه خپل خپل وزن درلود او د هېواد ډېرو مخورو شخصیتونو په کې گډون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی و، دا غونډې په رسنیو کې نه خپرېدې، نو ځکه خو په کې د ازاد بحث چانس زیات و، د دې ټولو غونډو مرکزي او اساسي ټکي همدا وو چې د (نجات څلی) باید له سره جوړ او په دې برخه کې عملي گام پورته شي. د ټولو غونډو اجنډا، محتوا، شکل، پیل او پای یو شان و، هره غونډه به د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، وکیلانو، مشرانو،



د حاجي محمد نذیر احمدزي په کور کې د ولسونو د مشرانو غونډه

ځوانانو او مخورو به په ترتیب او تفصیل سره خبرې وکړې، تېر تاریخ، خپلې تورې، تېرې جگړې او خپل غیرتونه به یې بیان کړل، کله چې به د ماښام د لمانځه وخت راورسېد، ټول به سترې شول، دعا به وشوه او غونډه به له کومې عملي نتیجې پرته پایته ورسېده. کله کله به مالي او فرهنگي کمیسیونونه هم وټاکل شول چې له ښاروالۍ او کلتور وزارت څخه د څلي د بیا جوړونې جواز ترلاسه کړي، خو کله چې به بله غونډه جوړه شوه، خبره به بیا له سره پیل شوه، دا غونډې دومره تکراري شوې چې نور یې نو د فکر د خاوندانو زړونه راتنگ کړل. زه (یون) یوازې په لومړۍ غونډه کې چې په شش درک کې جوړه شوې وه، نه وم، په دې پاتې نورو پنځه واړو غونډو کې حاضر وم، د لومړۍ غونډې جریان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راته معلوم و دې نورو غونډو له متحدالمال خبرو پرته نوره لاسته راوړنه نه درلوده. خبره څلورمې غونډې ته ورسېده، په درېیمه غونډه کې فیصله وشوه چې څلورمې غونډې ته به د څلي د جوړونې نقشه، اقتصادي امکانات او جواز ټول حاضر وي او نور به کار پیلوو. کله چې څلورمه**



د نذیر احمدزي په کور کې د ولسونو د مشرانو غونډه

**غونډه د معمول په څېر پیل شوه، خبره بیا په همغه صفري نقطه کې وه. دا ځل ما اعتراض وکړ، ما وویل دا خو په همغه نقطه کې یو چې پر لومړۍ ورځ په کې واقع وو.، تر دې دمخه چې زه څلورمې غونډې ته راشم، د بي بي سي تکړه خبریال (ډاکټر داود جنبش) راته وویل چې د میزان (۲۳)مه د نادر خان له خوا د کابل دفتحې ورځ ده، نو که تاسې لویه غونډه جوړوئ، پر همدې ورځ یې ونیسئ، ښه به وي. د جنبش صاحب وړاندیز زما خوښ شو. کابل کې مې د غونډې یو تن چلوونکي (عبدالرشید ایوبي) ته زنګ وواهه چې زه له جلال اباده پر لاره یم، غونډې ته درځم، خو که پر ما ناوخته شو، نو زموږ وړاندیز دادی چې عمومي غونډه باید د میزان پر درویشتمه، چې د کابل د فتحې ورځ ده، جوړه شي او هملته باید د نجات څلي ډبره کېښودل شي. له نېکه مرغه زه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم غونډې ته ورسېدلم، خو لږ ناوخته. ایوبي صیب غونډې ته زما وړاندیز اورولی و، خو ما خپل وړاندیز یو ځل بیا تکرار کړ او ومې ویل چې نور باید پر عملي کار لاس پورې کړو. ما پسې ایوبي صیب پورته شو ویې ویل د څلي نقشه جوړه ده (په پنسل باندې یو څو خطونه کښل شوي وو) هغه یې ښکاره کړه او د پیسو په باب یې وویل چې لومړنۍ پیسې چې**

د نذیر احمدزي په کور کې د ولسونو د مشرانو غونډه



**هر چا هر څومره ورکړې، تر هغه وروسته نورو ټولو پیسو ته زه تیار یم، هېڅ تشویش مه کوئ، زه بیا ورپورته شوم چې ایوبي صیب! د دې حساب او کتاب مو کړی، که هسې ژمنې کوئ؟ زما د محاسبې له مخې هغه څلی چې موږ غواړو هغه باید تر (پنځوس مترو) لوړ وي او لږ تر لږه (پنځه لکه ډالر) لګښت پرې راځي، ما هلته پر ټولو غږ وکړ چې ګورئ هغومره ژمنه وکړئ چې له وسه مو پوره وي، یو شمېر نورو هم ژمنې وکړې، خو د ایوبي صیب ژمنه تر ټولو زیاته او لوړه وه او خبره لکونو ډالرو ته رسېده.**

**د همدې غونډې په بهیر کې ځینو کسانو یادونه وکړه چې په دې برخه کې باید له ولسمشر سره وکتل شي، د هغه نظر هم مهم دی، د قومونو او قبایلو چارو او د اطلاعاتو او کلتور وزارت له وزیرانو سره هم ملاقاتونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وشي. دا مو هم خپل خلک دي، کمال سادات چې د کلتور وزارت د ځوانانو معین و، هم حاضر و، هلته ما بیا اعتراض وکړ چې نور د خبرو وخت تېر شوی، حکومت دومره بې کفایته دی چې خپل ځان نه شي راټولولای، نور هم که د هغو په هیله کېنو هېڅ شی نه شو ترلاسه کولای، خو د جمهور رییس یو مشاور ښاغلي (خیال محمد حسیني) له حکومت سره پر خبرو ټینگار کاوه، ما یو بل وړاندیز هم وکړ او هغه داسې چې هر څوک هر ډول کار کولای شي، هغه دې وکړي؛ که څوک امکانات راټولولای شي، هغه دې پیدا کړي، که څوک جواز اخیستی شي، هغه پسې دې لاړ شي، که څوک له جمهور رییس سره کتلای شي، هغه سره دې وگوري، که څوک کار کولای شي، عملي کار دې وکړي، خو یو کار به بل ته نه معطلوو چې وخت کم دی. لنډه دا چې د دې څلورمې غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې پنځمې غونډې ته باید هر څه تیار وي او نوره هېڅ خبره باید په کې پاتې نه وي.**

**د پنځمې غونډې وخت هم راورسېد، بیا هم خبره همغه زړه په زړه وه، تکراري خبرې وې او هېڅ ډول پرمختگ په کې نه و، دا نو داسې یو مهال دی چې د میزان (۲۳)مې ته یوازې یوه اوونۍ پاتې ده، په ولسي جرگه کې د لوگر وکیل (زمرک پادخوابی) پاڅېد او وېې ویل چې راتلونکې دوشنبه چې د میزان له (۱۹)مې نېټې سره سمون خوري په (خلیج هوټل) کې غونډه ده، هلته ټول راشئ، هغه وویل که څه هم زه قومي مسایلو سره علاقه نه لرم، خو بیا هم ستاسو د دې حرکت ملاتړ کوم، ما بیا نوبت واخیست، ما وویل موږ بیا هم په صفري نقطه کې یو، همغه د لومړۍ ورځې خبرې دي، دا سیمینار دی که داسې یوه جرگه چې غوڅه نتیجه ورکړي، نه جواز واخیستل شو، نه پیسې درک شوې، نه کوم بل کار وشو، هېڅ ډول پرمختگ نه شته، که په دې سرعت روان یو، کال دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت به مو هم همدا حال وي. زما خبرې پر ډېرو ښې ونه لګېدې، خو تر دې دمخه د لویې پکتیا د توتاخېلو د قوم په استازۍ د (احمد ګل توتاخېل) په نامه یو تن پورته شو، ویې وویل: ((ورورنو! دا ورځ نه شرې کېږي، یو هغه غر ولي او بل دا غر، زه د حاجي عبدالباري منګل په استازۍ وایم چې هر ډول مالي مرستې ته حاضر دی او بل که غواړئ دا کار خلاص کړئ، یون صیب ته یې وسپارئ، دا داسې یو سړی دی چې یو کار یې سر ته نه وي رسولی، پرېږدي یې نه، وګورئ د تذکرو مسئله یې چې یوه حد ته ونه رسوله، پرې یې نه ښوده، موږ او تاسې نه کارونه همداسې پاتې کېږي، یو یې پر یوه سپارو بل یې پر بل.))


د حاجي محمد نذیر احمدزي په کور کې د غونډې یوه ځنډه

ما د وروستی نتیجې په توګه ورته وویل چې نورې خبرې نه کوو که څوک غواړي ځلی جوړ کړي، نو راتلونکې سه شنبه دې، چې د میزان له (۲۰)مې نېټې سره سمون خوري، ژوندون ټلوېزیون ته راشي، نه د ځلي جواز ته ضرورت شته او نه بل څه ته، کله چې دوی دا ځلی ورانوه، دوی له موږه اجازه واخیسته؟ اوس یې چې موږ جوړوو، نو د دوی جواز ته هم اړتیا نه شته. ځینو پر جواز ټینګار کاوه، موږ وویل څوک چې پر جواز ټینګار کوي هغه دې جواز پسې لاړ شي، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپـل کارونـه پیلـوو، بـل دا خـو نـوی منـار نـه دی چـې مـوږ یـې جـواز ته اړتیا ولرو، پخوانی منار دی، یو ځل بیا یې له سره جوړوو.**
**غونډه پر همدې خبرو پایته ورسېده، خلک رخصت شول، زه (یون)، نذیر احمدزی او رشید ایوبي په یوه موټر کې کېناستو او ومو ویل چې لاړ شو د څلي ساحه په عملي ډول وګورو. په موټر کې راته ایوبي صیب او احمدزي صیب وویل چې؛ (یون) صیب به راسره په شپاړس اولس مترو قانع نه شي چې دا کار ژر خلاص شي، ما وویل تر پنځوسو نه راټیټېږم، دوی وویل لږ ښه شه، د دوی اصلي هدف خو لا تر دې هم ټیټ (دولس) متره و، ما وویل : دا خو ډینډک دی، څلی خو نه دی، دوی وویل: پخوانی څومره و؟ ما وویل پخوا خو دومره وسایل نه وو چې لوړ ساختمان پرې جوړ شي. لاهورۍ دروازې یانې د نجات منار اصلي ځای ته ورسېدو، پخوانی ځای مو وکوت، د څلورلارې منځ نقطه مو انتخاب کړه، ساحه لویه وه، موټرو ته یې هم مزاحمت نه پېښوه، دوی نور لاړل خپل کار پسې او زه خپل دفتر ته لاړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ژوندون کې د ملي نجات ورځ

د میزان پر (۲۰)مه نېټه د سه شنبې ورځ ماسپښین مو په ژوندون ټلوېزیون کې د لویې غونډې لپاره ترتیبات پیل کړل. د احمدزي صیب په کور کې مې یادونه کړې وه چې که څوک رښتیا هم غواړي ځلی جوړ کړي، نو د سه شنبې ورځې پر ماسپښین دې ژوندون ته راشي. د پنځمې غونډې پر مهال د خوست یو مخور ښاغلي (جنرال همت) راته وویل: ((یون صیب! زه په ښاروالۍ کې یو څوک پېژنم، که ستا خوښه وي، زه به هغه پخوانۍ نقشه یا د منار ځای ترې راواخلم.)) همت صیب درې ورځې په ښاروالۍ کې گرځېدلی و، چا ورته نقشه او جواز په لاس نه وو ورکړي، اخر د ښاروالۍ کوم مسؤل ورته ویلي وو، چې ځه ورورہ دا حساسه سیاسي موضوع ده، موږ ته غمونه مه گوره، ځئ خپل کار کوئ، نه دربانديې موږ کار لرو او مه تاسې څه غواړئ، خپل کار شروع کړئ، څوک مو مخه نه نیسي. همت صیب ماته وویل، دغسې وایي، ما ورته وویل د چهارشنبې ورځ هم عاشورا ده، رخصتي ده، پنجشنبه هم موږ ټلوېزیون کې غونډه لرو، د جمعې ورځ هم هغه لویه غونډه ده، نو څه وخت به نقشه ترلاسه کړو؟ بیا مې ورته وویل؛ تاسو نورې نقشې پسې مه گرځئ، تاسو د ښاروالۍ له ماسټر پلان څخه ماته یوازې د لاهورۍ دروازې د څلور لارې نقشه راپیدا کړئ چې موږ د هغې له مخې د څلور لارې د سقل یا تقاطع مرکز معلوم کړو. هغه وویل ماسټر پلان کې مې تیار ملگری دی، هغه ته به ووایم، خو رنگه فوټو کاپي به کله ممکنه وي؟ ما وویل فوټو کاپي یې څه کړې، ټلېفون کې یې عکس واخله او رایې وړه، د سه شنبې ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسپښین مهال و، د تدارکاتي غونډې لپاره د لویې پکتیا له شوراګانو څخه یو څو تنه نور دوستان هم راغلي وو، چې همت صیب له خنډا ډکه خوله زما دفتر راننوته، ویل یې یون صیب شی خو مې ترلاسه کړ، خپل ټلیفون کې یې له ماسټر پلان سره سمه نقشه راوښوده، ژر مې د ده له ټلیفون څخه خپل ته کاپي کړه، په هغې کې د تقاطع نقطه په ښه ډول تثبیتېدلای شوه.

نقشه په دې ډول وه:

ما د (همت صیب) له (همت) څخه مننه وکړه او ډېر خوشاله شوم، دا




مهال نږدې دېرش تنه مخور شخصیتونه او ځوانان راغلل او په ژوندون کې مو د پنجشنبې د ورځې او همدارنګه د میزان د (۲۳)مې نېټې د ورځې په ویاړ د لویې غونډې لپاره ترتیبات پیل کړل، ټول زما له نظر سره موافق وو.

د جنوبي قومونو د یووالي شورا مشران،د ځاځیو د قوم مشران، ښاغلی صمد ځاځی، بیدار ځاځی او نور مشران هم حاضر وو. ومو ویل چې د پنجشنبې ورځې لپاره باید لږ تر لږه (۸۰۰ – ۱۰۰۰) کسان غونډې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوبولو. په دې غونډه کې به د نجات منار د ارزښت او جوړښت په باب بحث وکړو او دا به د لویې غونډې لپاره یوه پیلامه وي. د غونډې پر هر برخوال به غږ وکړو چې لویې غونډې ته لږ تر لږه لس لس تنه ځان سره راولي، په دې ډول به لویه غونډه زرګونو کسانو ته پورته شي. د سه شنبې ورځې په غونډه کې مو پرېکړه وکړه چې د پنجشنبې ورځې غونډې ته به مخور شخصیتونه او قومي مشران خبروو، دې سره مو د دې غونډې لپاره




یوه ټلوېزیوني (پرومو) جوړه کړه، په دې پرومو یا اعلان کې د غازي محمد نادرخان،مارشال شاه ولي خان او وزیر محمد ګل خان مومند عکسونه وو، دا مو ټلوېزیون ته د نشر په خاطر ورکړه او ساعت کې یو ځل یا دوه ځل خپرېده. د چهارشنبې ورځ مو بیا غونډې ته ترتیبات ونیول. د عاشورا ورځ وه، رخصتي هم وه او زموږ لپاره ښه فرصت و، د یادونې وړ ده، هغه غونډه چې (زمرک پادخوابي) یې یادونه وکړه هغه هم د بېلابېلو عواملو له امله باد یوړه، خپله کوربه هم لادرکه شو، نو د څلي لپاره د عامه پوهاوي او ښه ترتیب لپاره د داسې یوې لویې غونډې جوړېدو ته ډېره اړتیا وه. د چهارشنبې پر ورځ د عبدالرشید ایوبي په ګډون یو شمېر نور دوستان هم راغلل چې د عمومي یا لویې غونډې په باب ترتیبات لاپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قوي شي. هر چا د ډېرو خلکو راوستلو ټېر واهه، خو ماته چې تر بل هر چا زیاته د داسې غونډو جوړولو تجربه وه، د ژمنو او عمل ترمنځ راته څرګند توپیر لیدل کېده، نو ژر مې یو جدول جوړ کړ، جدول په دې ډول و.**

| ګڼه | نوم | شخص یا بنسټ | د کسانو احتمالي شمېر | لاسلیک | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |

**ټولو هغو کسانو چې ژمنه کوله، لاسلیک مې هم ترې اخیسته، چاچې دوه زره کسان ویل، ما زړه کې دوه سوه حسابول او چا چې دوه سوه ویل هغه مې (۲۰) محاسبه کول. بیدار ځاځي د (دوه زره تنو) راوستلو ژمنه وکړه، جاوېد دلاور د (زر تنو)، (راضیې منګل) د (پنځه سوه تنو)، مشرقي شورا هم د (زرو تنو) او نورو هم همداسې لوړې ژمنې وکړې، هېڅوک نه وو چې له (۲۰) څخه تر (۵۰۰) تنو د راوستلو ژمنه یې نه وي کړې، خو حقیقت دا و چې دې ټولو څخه دې باید یو صفر کم کړی وای، خو ما له اکثرو څخه لاسلیکونه واخیستل.**

**په ژوندون ټلوېزیون کې د نجات ورځې د نمانځلو لپاره هم تیاری روان**



په ژوندون ټلوېزیون کې د ملي نجات ورځې نمانځغونډه

**و، غونډه مو د پنجشنبې ورځې ماسپښین مهال تیاره کړه. (۷۰۰-۸۰۰) تنو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې ګډون درلود چې اکثره یې مخور شخصیتونه او مشران وو او یو زیات شمېر هغه مشران هم ورته راغلي وو چې تر دې وړاندې یې د ښاغلي نذیر احمدزي په کور کې په غونډو کې ګډون کړی و، درنو مشرانو په کې خبرې وکړې، هم د نجات د ورځې پر ارزښت، ماهیت او اهمیت بحث وشو او هم مو د څلي د ډبرې د ایښودلو لپاره له ناستو کسانو وغوښتل چې هغې غونډې ته هر سړی لږ تر لږه لس تنه ځان سره راولي.
په همدې غونډه کې د څلي د جوړېدو په خاطر د حاجي عبدالباري منګل په استازۍ یو تن د اوه زرو (۷۰۰۰) امریکایي ډالرو او حاجي صیب حکیم خان ځاځي د (شپږ زرو ډالرو) مرستې ژمنه وکړه. غونډه د شپې ناوخته د ټلوېزیون پر څپو نشر شوه، دې غونډې د عامه پوهاوي او د خلکو په ویښتیا کې خپل نقش ولوباوه.
د څلي د ډبرې تر ایښودلو یوه ورځ دمخه او په ژوندون کې تر غونډې یو ساعت وروسته یو ځل بیا په ژوندون ټلوېزیون کې کېناستلو، نذیر احمدزی، عبدالرشید ایوبي او یو شمېر نور مطرح شخصیتونه ټول موجود وو. د یادونې وړ ده چې احمدزي صیب او ایوبي صیب یو ځل بل هم په ژوندون کې په بله غونډه کې ګډون کړی و چې د پرانیستې غونډې لپاره یې ترتیبات نیول، همدا په حقیقت کې د لویې غونډې د تدارکاتو کمیسیون و، څرنګه چې د احمدزي صیب په کور کې د لویو غونډو په ترڅ کې کومې غوڅې نتیجې او پرېکړې ته ونه رسېدو، نو ځکه مو هر څه رالنډ کړل، دلته خبرې او ویناوې نه وې، یوازې د غونډې او د څلي د جوړېدو پر عملي لارو چارو بحث کېده او پرېکړه کېده. پرېکړه لیک او لوی باینر، سونډ سسټم او ځینې نور اړوند شیان په کار وو، د تدارک په دې غونډه کې پرېکړه وشوه چې دا یوه ملي غونډه ده په هېڅ ګوند، ډلې ټپلې او سیاسي جریان پورې اړه نه لري، ځکه نو هېڅوک حق نه لري چې د خپل ګوند یا ډلې بیرغ، باینر، لوګو، عکسونه او نور داسې تبلیغاتي مواد راوړي چې د ګوند لپاره د تبلیغاتي وسیلې په توګه ترې کار واخیستل شي. البته تردې وړاندې د تدارک کمیسیون او ځینو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډو کې زما ټینګار تردې حده نه و، ما ویل که کوم ګوند یا شورا خپله ډله تر خپل بینر یا بیرغ لاندې تنظیموي او غونډې ته یې په منظم ډول رارسوي، کنترول، امنیت او نظم یې ټول پرغاړه اخلي، رادې ولي، څه پروا کوي؟ هغه وخت ځینو ورو ډلو او اشخاصو زما د نظر مخالفت وکړ ځکه چې د ځینو ډلو او خلکو نوموونه لوی، خو افراد یې کم او په نشت حساب دي، نو ځکه خو د تدارک کمیسیون په وروستۍ غونډه کې ما ایوبي صیب او د نورو ګوندونو یو شمېر استازو ته وویل چې ټول باید له ګوند او ګوندبازۍ څخه تېر شو، ټولو راسره ومنله، ایوبي صیب هم راسره ومنله. د تبلیغاتي موادو، اجنډا او نورو اړوندو شیانو مسولیت ما پر غاړه واخیست. پر اجنډا مو توافق وکړ، چې د قران کریم تلاوت به وي، ملي سرود او پرېکړه لیک به وي، ډېره به په ګډه ږدو او نور به دعا کوو او په پای کې به اتڼ وي او غونډه به خلاصېږي.
په همدې توافق وشو، د ډېرې د ایښودلو لپاره ما یو مېکانیزم په پام کې ونیو، د یوه لوی څادر، چې لویوالی یې څلور په پنځه مترو کې و، په جوړولو پسې مې هلکان ولېږل، څادر د افغانستان د بیرغ رنګ درلود، هدف مې دا و چې د همدې څادرڅنډه به د شمال، سویل، ختیځ، لویدیځ او مرکز مشران ټول په ګډه نیسي، تېره به یې په منځ کې وي او ټول به په ګډه تیږه پر خپل ځای کېږدي، په دې ډول به په محمدي طریقې سره د ټولو خلکو ونډه په کې تضمین شي او اینده کې به دا نه ویل کېږي چې ډېره د احمد یا محمود په لاس کېښودل شوه، د لویو او کوچنیو بینرونو د چاپونې ژمنه مو هم وکړه چې سهار وختي یې درته تیاروو. د ملي تحریک غړي (څړبن هدایي) دا دنده واخیسته چې سهار وختي به له چاپخونې څخه باینرونه راوړي، لوی بیرغونه به د غونډې ساحې او واړه به ژوندون ټلوېزیون ته راوړي، غونډه ماښام مهال پایته ورسېده، هر څوک د خپل کار په لټه کې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څلي د بیا جوړونې لپاره لویه غونډه او د ډبرې ایښودنه

لکه څنګه مو یادونه وکړه د میزان پر (۲۲)مه نېټه موږ خپل کارونه ښه منظم کړل او له ژمنې سره سم مو سره هر څه برابر کړل، په ژمنو کې یوه هم دا وه چې د ډبرې د ایښودلو پر ورځ به هېڅ ګوند، ډله یا شخص حق نه لري چې خپل عکس، لوګو، بیرغ او یا هم خپل شعارونه هلته راوړي.



څړبن هدایي

(څړبن هدایي) سهار وختي په احمد شاه بابا مېنه کې چاپخونې ته ورغی، چې بینرونه، شعارونه او هغه درې لوی باینرونه راوړي چې د همدې غونډې لپاره جوړ شوي وو، لوی باینرونه د هغه ځای لپاره ډیزاین شوي وو چې مشران باید هلته ودرېږي او خپله اجنډا تعقیب کړي. د شپې ناوخته تقریباً لس بجې به وې چې ماته ښاغلي نذیر احمدزي زنګ وواهه چې که څوک د خپل ګوند یا شورا شعارونه هم راوړي پروا نه کوي، دا مهال نو غالباً چې عبدالرشید ایوبي هم ورسره ناست و، دوی دواړو دا خبره غوټه کړې وه چې سټېج به دوی جوړوي او په اصطلاح د پروګرام د چلولو چارې به هم په خپله پرمخ وړي. ما وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو د تېرو ژمنو خلاف کار دی، ځکه دا به هره ډله د ځان د تبليغ لپاره کاروي او بيا به د اختلاف سبب شي، دوی وويل، دا دومره مهمه خبره نه ده، پروا نه کوي، دا نو داسې يو مهال دی چې هېڅوک، شخص، ډله يا گوند نه شي کولای د شپې په دې ناوخته کې خپل باينرونه، لوگوگانې او يا هم شعارونه، ډيزاين، چاپ او تکثير کړي، خدای (ج) شاهد دی، ماته د دوی دې کار چندان خوند رانه کړ، ځکه چې له ورايه په کې سياسي هدف ليدل کېده، سهار وختي څړبن هدايي له چاپخونې څخه باينرونه راوړل، ځينې يې ژوندون ټلوېزيون کې پرېښودل او نور ضروري يې د حضوري چمن سويل ختيزې څنډې (لاهورۍ دروازې) ته يوړل، همدا ځای د غونډې د راټولېدو ځای و، څړبن هدايي چې هلته ورسېد، د ايوبي صيب نمبرونه بند وو، څړبن هدايي هم پوليسو اصلي ځای ته نه پرېښوده، ماته څړبن زنگ وواهه چې ايوبي صيب ټلېفون نه پورته کوي او بله خبره دا ده چې دلته لا وختي لوی لوی باينرونه لگېدلي ښکاري، خلک هم يو څه وختي راغلي، ما ويل چې کار جوړ دی، نو تشويش مه کوه، ما څو ځله ايوبي صيب ته زنگونه ووهل، خو ټلېفون يې جگ نه کړ، دلته په ټلويزيون کې د ملي تحريک ځينې غړي او څه نور ځوانان راټول شوي وو، ځينو ملگرو ته مو ويلي وو، هر څوک چې د غونډې ساحې ته نږدې وي، هغوی دې خپله ځان ورسوي، زه د هوتخېلو د قوم مخورو او ځوانانو ته منتظر وم، هغوی وويل؛ ټول په گډه ځو، موږ څو موټره په بيرغونو او دوه موټره مو په سونډ سستم او بيرغونو ډيزاين کړي وو. کله چې د هوتخېلو ځوانان او مشران راورسېدل، نو ټول سره يو ځای شولو، د موټرو يو کاروان شو، تقريباً (۳۰-۴۰) موټره او ټول به څه کم درې سوه تنه وو، د حضوري چمن پر لوري مو حرکت وکړ، د هوتخېلو د مشرانو ښاغلي (يونس هوتک) او (جاوېد دلاور) ترمنځ هم د نظر يو څه اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



**و، خو ما جاوېد دلاور ته ووېل چې نن د اختلافاتو د مطرح کولو وخت نه دی، کله چې د غونډې ځای ته ورسېدو، اته نیمې بجې شاوخوا وې، ټول ستېج ډک و، نذیر احمدزي او رشید ایوبي یو لوی ټیلر موټر ودرولی، له هغه څخه یې ستېج جوړ کړی و، ښایسته ستېج، ټول مشران پرې راټول دي، مخې ته یې د خطابې مېز ولاړ دی، د (عدالت گوند) لوگو پرې نصب ده، شاته یې یو بیرغ هم ولاړ دی، د ستېج په لیدو، د خلکو او**



د نجات څلي د بېرا ېښودنې د غونډې یوه څنډه

**مشرانو پر گڼې گونې خورا خوښ شوم، خو د بیرغ او مېز لیدلو راته خوند رانه کړ، خصوصاً دا چې د ملي بیرغونو په گڼه گوڼه کې تنظیمي او گوندي بیرغونه هېڅ خوند نه کوي، خو دا داسې یو مهال و چې خبرو او**




د نجات څلي د بېرا ېښودنې د غونډې یو انځور

**بحث ته په کې هېڅ مجال نه و، پر ستېج که څه هم د پښې اېښودلو ځای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه و، خو زه خلکو له لاسه ونیولم او سټیج ته یې پورته کړم، پر سټیج باندې د معلومو کسانو ترڅنګ داسې کسان هم ولاړ وو چې ځینې یې اول ځل په داسې غونډه کې ولیدل شول. ځینې یې داسې هم وو چې پخوا یې له دې ډول ملي مسایلو سره هډو لېوالتیا نه درلودله، خو داسې خلک هم په کې ډېر وو چې هم درانه شخصیتونه وو او هم یې پخوا د ملي ګټو او ملي مسایلو لپاره پټه او ښکاره مبارزه کړې وه. ما چې مخکې تر مخکې له پخواني تفاهم سره سم اجنډا جوړه کړې وه، ایوبي صیب ته مې وویل چې له اجنډا سره سم باید پرمخ لاړ شو، ګډوډۍ ته باید زمینه برابره نه شي، په اجنډا کې لومړی تلاوت، بیا ملي سرود، بیا پرېکړه لیک او بیا د ډېرې ایښودل شامل وو او وروسته اتڼ، خبرو ته په کې ځای نه و، د انانسرۍ چارې لا وختي ایوبي صیب په خپله پر خپله غاړه اخیستې وې، تلاوت یې هم په خپله وکړ بیا ملي سرود وغږول شو، ما تر دې وړاندې په پښتو او دري ژبو د نجات ځلي د ارزښت او اهمیت په اړه څو شعارونه لیکلي وو، هغه مې ایوبي صیب ته ورکړل، څرنګه چې ایوبي صیب هغه اول ځل وکتل، نو هغه یې هم ګډ وډ لوستل، د خلکو احساسات پرې سم راونه پارېدل، خو خلک په مجموعي توګه له شعارونو پرته احساساتي او خوشاله وو. شعارونه ټول د ځلي د تاریخي ارزښت او ماهیت پر محور راڅرخېدل.

د سټیج پر سر له مطرحو شخصیتونو څخه د ولسي جرګې غړي، نذیر احمدزی، کمال ناصر اصولي، عبیدالله بارکزی، قادر کلاتوال، نادر خان کټوازی، نواب منګل او یو شمېر نور غړي ولاړ وو، انوار الحق احدي، ضیاء الحق امرخېل، حمید الله فاروقي، حاجي فضل کریم فضل، عبدالرشید ایوبي، عبدالخالق حسیني پشه یي، د جمهور رییس تره (عبدالقیوم کوچي)، د ښځینه وو له جملې څخه راضیه منګل او ځینې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطرح شخصیتونه هم حاضر وو، د قران کریم تر تلاوت او ملي سرود وروسته ټاکل شوې وه، راساً پرېکړه لیک ولوستل شي او بیا ډېره کېښودل شي، خو تر سرود وروسته د خبرو ور پرانیستل شو. نذیر احمدزي او خپله ایوبي صیب خبرې پیل کړې، بیا هر چا تقاضا کوله، په دې لړ کې کمال ناصر اصولي، عبید الله بارکزي، راضیې منګل، حمید الله فاروقي او ضیاء الحق امرخېل خبرې وکړې، احدي صیب هم خپله لنډه وینا وکړه،

د نجات ځلي د ډبر اېښودنې د غونډې یو بل انځور



حاجي فضل کریم فضل او عبدالخالق حسیني پشه یي هم خبرې وکړې، په دې منځ کې د جمهور رییس تره (عبدالقیوم کوچي) ته هم بلنه ورکړل شوه، حقیقت دادی چې ما نه غوښتل کوچی صیب خبرې وکړي، دا وخت عام پښتانه د اشرف غني سخت مخالف وو، موږ نه غوښتل له دې غونډې څخه څوک سیاسي ګټه پورته کړي. نذیر احمدزي ته مې وویل، غونډه مو د پخوانۍ پرېکړې خلاف سیاسي کړه، دې خلکو خو د ځلي له جوړولو سره هېڅ لېوالتیا نه درلودله او نه یې کوم کار کړی، دا چا رابللي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نذير احمدزي ووېل خير دی اوسپله کوئ، بيا به زه درته ووايم چې ولې مو ده ته بلنه ورکړې، احمدزي صيب بيا وروسته ماته ووېل چې دی مو ځکه راغوښتی و چې خلکو ته وښيو چې د جمهور رييس او حکومت**



د نجات څلي د ډبر اېښودنې د غونډې يو بل انځور

**ملاتړ هم موږ سره دی. دا يې هم يو اساسي دليل کېدی شي، خو دا نظر هم ردېدی نه شي چې نذير احمدزي له تره (کوچي) او وراره (غني) سره خپل دريغ پياوړی کاوه. کله چې موږ د سټيج پر سر ولاړ وو، لاندې په زرگونو خلکو زموږ خبرې تعقيبولې او تائيدولې، د نږدې (۷-۸) زرو تنو په شاوخوا کې افغانان په ډېر جم و جوش سره راټول شوي وو، دا په خپل ذات کې يوه بېسارې، ملي احساساتي او عکس العملي غونډه وه، ويناوال ټول ښه وو، هېچا هم داسې ترخه خبره ونه کړه چې په داسې غونډو کې يې احتمال وي، شعرونه او شعارونه هم په کې ولوستل شول، تکړه شاعر مطيع الله تراب هم په کې لنډ شعر ولوست، کلاتوال صيب هم څو لنډ شعرونه دکلمه کړل، پرېکړه ليک ما خپله ولوست چې پنځه مادې يې درلودلې او بشپړ متن يې په لاندې ډول دی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان د نجات څلي د بیا جوړونې لپاره**

**د ولسونو پرېکړه لیک**

**د افغانستان بېلابېلو ولسونو، د ملي یووالي پلویانو او ګڼ شمېر هېوادپالو، اسلامپالو، تاریخ پالو، ملتپالو افغانانو د (۱۳۹۵ل) کال د تلې یا میزان پر (۲۳)مه نېټه د کابل ښار د حضوري چمن په سویل ختیزه سیمه کې د هېواد د نجات څلي پر تاریخي سیمه یوه لویه پراخه او پرتمینه غونډه وکړه، د غونډې په ترڅ کې یې د نجات څلي د بیا جوړونې ډېره کېښوده او دغه لاندې پرېکړه لیک یې صادر کړ:**

**۱ -د ملي نجات څلی چې د (۱۳۰۸هـ ش) کال د تلې په میاشت کې د اعلیحضرت غازي محمد نادر خان ، وزیر محمد ګل خان مومند، جنرال یار محمد خان وزیري او نورو غازیانو له خوا د جهل او تورتم پر وړاندې د افغانانو د بري په ویاړ جوړ شوی و، بیا جوړول یې یوه ستره تاریخي، ملي او هېوادنۍ اړتیا وه.**

**۲ -د ملي نجات څلی پر افغانستان باندې د شوروي لښکرو تر یرغل وروسته د (۱۳۵۹ل) کال په لومړۍ نیمایي کې د هغه مهال په حکومت کې د یو شمېر تنګنظرو اشخاصو له خوا نړول شوی و او د تېرو څه کم څلورو لسیزو په بهیر کې هېوادپالو افغانانو د ګڼو دلایلو او عواملو له کبله د دې مجال پیدا نه کړ چې دا تاریخي څلی له سره ورغوي، دادی اوس د افغان ملت بېلابېلې پرګنې، د ملي یووالي په روحیې سره د تلې پر (۲۳) مه یو ځل بیا پر دې بریالۍ شوې چې پر خپل اصلي ځای د دې څلي د بیا جوړېدو ډېره کېږدي.**

**۳ -د ملي نجات څلی په هېواد کې د ملي یووالي او ملي حاکمیت د ټینګښت، د انارشۍ، ایله جارۍ او لا قانونیت د له منځه وړلو او د تورتمونو د ختمولو سمبول دی، احترام او درناوی یې د هر هېوادپال، سمونپال، قانونپال او ترقي پال افغان دنده ده.**

**۴ -که څه هم دې او دېته ورته د نورو تاریخي او ملي څلو جوړونه د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت دنده او تاریخي مسؤلیت ګڼل کېږي، خو بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ټولنیزو او ملي حرکتونو، چې تر دولت وړاندې یې په دې برخه کې مثمر او نوښتګر ګامونه اوچت کړل، دا کار یې د مننې او ستاینې وړ دی.

۵ -موږ له حکومت څخه غواړو چې د هېواد د تاریخ د حافظې د خوندیتابه لپاره موثر ګامونه پورته کړي، ماضي له حال سره وصل او حال ته له راتلونکي سره د وصل زمینه برابره کړي او په دې ډول هېڅ اخلالګر او د تاریخ مسخه کوونکي ته د دې مجال ورنه کړي چې تاریخي واقعیتونه او حقیقتونه د خپل سیاسي ذوق او خپلې شخصي سلیقې له مخې تعبیر او تفسیر کړي، د اتلانو ځلانده بریاوې پیکه وښیي او غلو او داړه مارانو ته د مصنوعي اتلانو ماسکونه ورواغوندي.

د هېواد د تاریخي ویاړونو او څلو

د بیارغونې او ځلا په هیله

په درنښت

د نجات څلي د بیا جوړونې د ولسونو استازي

کله چې د خبرو او شعارونو دا برخه ختمه شوه، نو ټاکل شوې وه، له مخکیني پلان سره سم ټول په ګډه د ملي بیرغ په رنګ کې د جوړ شوي لوی څادر څنډې ونیسي او ټول په ګډه تیره کېږدو، څادر مې لا وار دمخه راضیې منګل خور ته ورکړی و چې څادر به تاسره وي او تیره به هم تاسو خپله په څادر کې ږدئ، کله چې له ستیجه راکوز شولو، نو د خلکو هجوم، ګڼه ګوڼه او احساسات دومره زیات وو چې څوک یې هم د څادر هوارولو او پراختیا ته نه پرېښودل، دا مهال نو هغه دوستان یا مشران چې مخکې د ستېج پر سر ولاړ وو او ځینو یې انقلابي ویناوې هم وکړې په لاندې صحنه کې یو هم حاضر نه وو، ټولو پښې سپکې کړې وې او پر خپله مخه تللي وو، دلته په مخه کې هم ګڼ شمېر مشران او د بېلابېلو سیمو مخور شخصیتونه پاتې وو، ځوانان خو بېخي له شمېره وتي وو، د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د تیږې د ایښودلو محل ته ورسېدو، لومړی مو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پکتین ساختماني شرکت) په سکواټر چې لا وار دمخه پر ټاکلي ځای ودرول شوی و، څه ځمکه وکندله، بیا مو تیره چې د یاد شرکت له خوا له معمول سره سم په ښکلي کاغذ کې پوښل شوې وه، په څادر کې کېښوده، ټولو څادر ونیوه، پر څادر باندې د لاسونو تعداد دومره زیات وو چې شمېرل یې ناشوني وو، احساسات دومره ګرم وو چې فکر دې کاوه کوم لوی قومي یا دولتي مشر په یوه ستره پېښه کې د خلکو منځ ته راغلی وي. یا هم لکه په کوم ستر دولتي مارش کې چې هر سړی کوښښ کوي د مشر تر ځایه ځان ورسوي او یا هم هغه ته لاس ورکړي، یوه ستره تاریخي ورځ وه، له ولولو ډکه ورځ، بیا ټولو په ګډه څادر راټول کړ او تېره یې به څادر کې تر ټاکلي محله ورسوله. تر هغه وروسته ډولونه وغږول شول او اتڼونه پیل شول، په مجموعي ډول تر (۱۲) زیات ډولچیان راغلي وو، ځینو سره یې سورنچیان هم وو، بیدار ځاځي چې غونډې ته د (۲۰۰۰) تنو د راوستلو لیکلې ژمنه کړې وه، د کسانو شمېر یې هغه حد ته ونه شو رسولای، بیا یې هم خپله وسه کړې وه، خو د ډولچیانو په راوستلو کې یې



د نجات څلي د ډېر اېښودنې د غونډې یو بل انځور

رول تر ټولو زیات اوچت و. تقریباً (اته – نهه) تنه ډولچیان یوازې بیدار ځاځي راوستي وو. ماته یې وویل چې په ټول ښار کې نور ډولچیان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجات څلي د ډېر اېښودنې د غونډې یو بل انځور



سورنیچیان نه پیدا کېدل، بیدار ځاځي، صمد ځاځي او نورو دوستانو ټولو په خپله سیمه کې د خلکو په خبرولو کې تر خپله وسه منډه کړې وه، خو هېڅا هم هغه ژمنه سل په سلو کې نه وه پوره کړې، چې تر غونډې دمخه یې کړې وه. څرنګه چې یو شمېر خلک د عامه تبلیغاتو په واسطه دې غونډې ته راغلي ووا عمومي شمېر زیات وو، نو د ټولو هغو مشرانو پرې پرده پټه شوه چې د غونډې تر مخه یې د زرګونو خلکو د خبرولو ژمنه کړې وه. څرنګه چې اوس هم په زرګونو خلک راغلي وو، نو هر یو د ځان په ګټه حسابولای شول، عیناً لکه انتخاباتو کې د یو چا په ګټه کارېدلې رایې چې د هغه کمپاینران یې هر یو د خپل ځان په جم کې محاسبه کوي. خیر په هر ترتیب غونډه ښه خوړه، ولولیزه، هدفمنه او له خپل مرام سره سمه پایته ورسېده او زیات شمېر رسنیو هم په ژوندۍ او ناژوندۍ بڼه منعکس کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژمنې او ځان پټونې


د هر کار لپاره ژمنه اسانه، خو د کار سرته رسونه سخته وي، د نجات ځلي په بيا جوړونه کې هم موږ د ژمنې او عمل تر منځ پر واټن او تضاد پوه شو او يو ځل بيا راته د کار او وينا خلک په ډاګه شول. زه دلته نه غواړم هغو خلکو ته چې تر ټولو زياتې ژمنې يې کړې وي، په مستقيم ډول ګوته ونيسم، خو غواړم د حقيقت کيسه ټکي په ټکي بيان کړم، بيا هر څه په خپله په ډاګه کېږي.

کله چې موږ په ژوندون ټلوېزيون کې د لويې غونډې لپاره ترتيبات نيول، نو د جنوبي قومونو د يووالي شورا په ګډون شل دېرش تنه مخور درې ځلور ځله په ژوندون ټلوېزيون کې سره جرګه شولو. د ګڼو خبرو په لړ کې د ځلي لپاره د ډيکور، ډيزاين، ساختماني نقشې او جوړوونکي شرکت په لټه کې شو، په دې باب مو هم بحث وکړ. د دې لړۍ په دوو غونډو کې د (پکتين ساختماني شرکت) مشر (انجنير رحمت الله ځلاند) چې تر دې مهاله ما نه پېژنده او نه مې ليدلی و او همدارنګه (انجنير دلاور توتاخېل) چې د اوبو او برښنا وزارت يو رسمي انجنير دی، هم حاضر وو، دی مې هم له نږدې څخه نه پېژنده، کله چې د ځلي د جوړېدو بحث مطرح شو، نو د جنوبي د قومونو د يووالي شورا يو تن مشر غالباً (نېک محمد ولسمل) وويل: ((انجنير صيب ځلاند ساختماني چارې پر مخ وړلای شي.)) ما ورته وويل: ((څنګه دی انجنير صيب قرباني به په کې ورکړي که نه؟)) انجنير صيب دلاور هم وويل چې زه به يې د مهندسۍ پر نقشه کار وکړم، انجنير رحمت الله ځلاند وويل: ((تاسې نورو شرکتونو سره هم خبرې وکړئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی چې څه نرخ درکړ، زه به یې تر هغو لس سلنه ارزانه وکړم.)) موږ ټولو ته دې خبرې خوند راکړ، موږ وویل: تر دې ښه خبره چېرته ده. انجنیر ځلاند د پیسو په برخه کې دا خبره هم وکړه چې: ((که چا پیسې راکړې غورځوم یې نه او که رایې نه کړې ورپسې ګرځم نه، دا د ټولو ګډ کار دی، زه هم په کې قربانۍ ته حاضر یم.)) دا نو داسې یو مهال دی



د نجات څلي د بیا جوړونې خیالي انځور

چې عمومي غونډې ته یوازې دوه ورځې پاتې دي او موږ یوازې دومره کولای شو چې د څلي لپاره یوازې نما (بېرونی انځور) جوړ کړو. انجنیر دلاور او انجنیر ځلاند دواړو ژمنه وکړه چې تر لویې غونډې یوه ورځ وړاندې موږ تاته د څلي نما درکولای شو، نور کارونه به بیا وروسته ترسره کوو، ما هم ورسره ومنله، تر عمومي غونډې یوه ورځ دمخه ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مهال دواړو انجنیرانو ماته د څلي یوه یوه فرضي نما راکړه او ما پر همغه شپه چاپخونې ته د چاپ لپاره ورولېږله. عمومي غونډې ته د تیاري پر مهال د ژوندون ټلوېزیون په لویه غونډه کې چې نږدې (۸۰۰) تنه په کې حاضر وو، حاجي صیب عبدالباري منګل د (۷۰۰۰) ډالرو او حاجي حکیم خان ځاځي د (٦۰۰۰) زرو ډالرو مرستې ژمنه وکړه. حاجي صیب حکیم خان ځاځي موږ سره په وړه ناسته کې دا ژمنه هم وکړه چې که نور هېڅا پیسې ورنه کړې، نو زه نورې مرستې ان ټولو پیسو ته هم حاضر یم. کله چې لویه غونډه پایته ورسېده او د څلي ډېره کېښودل شوه، نور ټول مشران پر خپله مخه لاړل. پکتین ساختماني شرکت د ځمکې پر کیندلو پیل وکړ او له نبنه شوي ځای څخه یې شین خاورتر راتاو کړ. یو دوه ورځې وروسته ما انجنیر صیب ځلاند ته زنګ وواهه،هغه راته وویل: ((یون صیب موږ چې کله ځمکه وکیندله، له نېکه مرغه دهمغه څلي دبنسټ تیږې راووتلې چې پخوا دلته جوړ شوی و)) په دې خبره ډېر خوشاله شوم چې موږ پر خپل اصلي ځای ډبره ایښې ده. څو ورځې وروسته د ښاغلي نذیر احمدزي په کور کې یو ځل بیا غونډه وشوه، ښایسته ډېرو مخورو کسانو په کې ګډون کړی و، نږدې همغومره شخصیتونه چې پخوا په وو، یو ځل بیا د څلي د جوړېدو پر عملي مېکانېزم بحث وشو، پر دې باندې هم بحث وشو چې کوم شرکت ته دا کار ورکړای شي، دا مهال نو انجنیز دلاور توتاخېل د څلي مهندسي نقشه جوړه کړې وه او تیاره یې**


حاجي حکیم خان ځاځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غونډې ته له ځان سره راوړې وه، د پکتین ساختماني شرکت مسول انجنیر (رحمت الله ځلاند) هم حاضر و چې اوس مهال یې یوازې څو متره ځمکه شلولې وه. غونډه کې مختلف نظرونه وو، چا وویل اعلان باید وشي، د داوطلبۍ له لارې یو شرکت ته ورکړل شي، چا وویل؛ دوه درې شرکتونه دې راوغوښتل شي، تر بحث وروسته دې یو شرکت ته ورکړل شي، چا ویل همدغه شرکت چې اوس یې کار پیل کړی، همدغه ته دې ورکړل شي او چا وویل اول باید بانکي حساب خلاص شي، پیسې راټولې شي، له فیسبوکه اعلان وشي، کله چې پیسې راټولې شي، بیا دې د داو طلبۍ له لارې یو ښه شرکت ته ورکړل شي، نظرونه هم ډېر وو، هم بېلابېل او هم مختلف، خو په ولسي جرگه کې د هلمند د خلکو استازې (نسیمې نیازۍ) وویل: ((دا کار چې مو یو ځل داو طلبۍ ته وړاندې کړ او دا داو طلبۍ ما و طلبۍ چې شروع شوې، بیا میاشتې میاشتې وخت نیسي، بیا به هر شرکت گیله کوي، چې ولې ماته دې رانه کړ، ولې دې هغه ته ورکړ، دې څخه ډېر جنجال راپیدا کېږي**



د ولسي جرگې غړې نسیمه نیازۍ

**او بل دا خو څه دولتي پروژه نه ده او نه داسې لویه پروژه ده چې موږ میاشتې میاشتې پر داو طلبۍ تېرې کړو، بله خبره دا ده چې تاسې چېرته نقدې پیسې ورکوئ چې سملاسي یو شرکت سره قرارداد وکړئ؟)) نیازۍ زیاته کړه: ((زما په نظر دغه شرکت چې اوس یې کار شروع کړی دی، زه خو یې نه پېژنم، نه یېژنم، هر څوک چې دی، همدا دې کار شروع کړي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر هغې به ورته پیسې هم پیدا کېږي)) دا وخت (انجنیردلاورتوتاخېل) خپله مهندسي نقشه ښکاره کړه، هغه وویل: ((ما د څلي ټولې برخې سنجولي، دې کې لوړوالی، قطر او ټول محاسبه شوي، دا تقریباً (۷۰) زره ډالره شاوخوا کېږي، دا لومړنی سنجش دی، دې کې کېدی شي پنځه زره ډالر زیات و کم شي، خو ډېر تفاوت په کې نه راځي.)) انجنیر توتاخېل وویل: ((زما نظر خو دادی چې همدغه شرکت چې همدا اوس یې کار پیل کړی، همده ته یې که ورکړو ښه به وي، دی به هم پر موږ ګټه نه کوي.)) دا مهال د پکتین شرکت مسول (انجنیر ځلاند) پورته شو، ویې ویل: ((جوړوم، ګټه درڅخه نه غواړم، تاوان ته هم چمتو یم، هر څومره تاوان چې پر ما ږدئ، زه ورته حاضر یم.)) ما (یون) په دې برخه کې هېڅ ونه ویل، خو زړه مې و چې همدې شرکت ته یې ځکه ورکړي چې یو خو یې کار شروع کړی، بل وخت ضایع کېږي، دریېیم دا چې اوس دې شرکت تیاره پرده غوړولې، خوازې یې راوړي، د کار لین یې برابر کړی، دا چې اوس لرې کوې او بل راوړې، دا خپله یو جنجال دی، له بلې خوا یو شمېر خلکو ته هم پلمه برابرېږي، هلته ترافیکي ستونزې هم راولاړېږي، د خلکو شکایت هم پورته کېږي، لنډه دا چې سل جنجالونه ورڅخه پیدا کېږي، خو په یاده غونډه کې د ځاځیو د یوې ټولنې مشر (صمد ځاځی) او یو شمېر نور خلک موافق نه وو چې پکتین ساختماني شرکت ته دې دا قرارداد ورکړل شي، صمد ځاځي او انجنیر ځلاند دواړه ځاځیان دي او یو بل سره ښه پېژني، تردې مهاله یو بل سره جوړ نه وو، خو په دې غونډه کې اکثریت په دې نظر وو چې کار باید همدې شرکت ته ورکړل شي او ژر تر ژره کار پیل شي. په پای کې د غونډې اکثریت برخوالو پر همدې فیصله وکړه او دعا پرې وشوه.**

**څلور پنځه ورځې وروسته مو ژوندون ټلویزیون کې یو ځل بیا د مرستې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د راټولولو په نیت یوه وړه غونډه وکړه چې یوازې د لویې پکتیا یو شمېر مشران په کې حاضر وو. څو ورځې وروسته حاجي صیب عبدالباري منګل (پنځه زره) او حاجي حکیم خان ځاځي (شپږ زره) امریکایي ډالره مرسته وکړه. دا پیسې پکتین ساختماني شرکت ته ورسېدې، مانا دا چې د عملي کار او نظري کار تر منځ یو څه پیوستون رامنځته شو، کله چې موږ د لویې غونډې راپورتاژ د ټلوېزیون پر څپو خپور کړ، نو ډېرو دوستانو دا**



د ځلي د بیا جوړونې لومړني پړاوونه

**غونډه ډېره خوښه کړې وه، له لندن څخه تکړه افغان لیکوال ښاغلي (غلام محمد کاموال) راته ټلېفون وکړ او ویې ویل چې د ځلي لپاره غونډه ډېره ښایسته وه، د ژوندون پر څپو مې ورته بشپړ راپورتاژ ولیده، زما او د نورو افغانانو ډېره خوښه شوه، زما خو نور څه په وس پوره نه دي، کاشکې هلته وای چې تاسو سره مې په غونډه کې ګډون کړی وای، خو (پنځه سوه ډالره) به زه هم خپله مرسته وکړم، اوس مې همدومره وس دی او دا پیسې زه د خپل وراره په لاس درلېږم. څو ورځې وروسته کاموال صیب خپله ژمنه پوره کړه، (پنځه سوه ډالر) یې راولېږل او ما هغه انجنیر ځلاند ته ورکړل، په دې ډول د نومبر تر وروستیو پورې انجنیر ځلاند ته ټول (یوولس نیم زره ډالره) ورسېدل. انجنیر ځلاند په دې پیسو ډېر ابتدایي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارونه راپیل کړل او د څلي بنسټ یې کېښود او جال یې وتړه، د څلي ټول ځمکنی بنسټ یا پراخوالی (۹) متره په (۹) مترو کې و او (۳،۳۵) متره یې ژوروالی و.**

**په همدې زماني بهیر کې یو ځل بیا د نذیر احمدزي په کور کې مازیګر مهال یوه بله غونډه وشوه، بیا ګڼ شمېر مخور په کې راټول شوي وو. نذیر احمدزي ماته په ټلېفون کې وویل چې مشران مې راغوښتي او یوه تشویقي غونډه ده، تاسو هم ورته ضرور راشئ، کله چې غونډې ته ورسېدم، نو رښتیا هم یو شمېر مشران راغلي وو، خو شمېر یې هغومره نه وو، لکه په نورو غونډو کې چې و، ښاغلي ضیاء الحق امرخېل صیب هم حضور درلود، نذیر احمدزي د غونډې ټولو**



د نذیر احمدزي په کور کې ستاینغونډه

**برخوالو ته یوه یوه لونګۍ په دې خاطر ډالۍ کړه چې ګنې د څلي په جوړونه کې یې منډې ترړې کړې، غالباً چې نذیر احمدزي ته دا لونګۍ بل چا ډالۍ کړې وې، خو خیر په هر ترتیب لونګۍ ټولو ته ډالۍ شوې او ټولو په ګډه یادګاري عکسونه هم واخیستل، ما خو په زړه کې وویل چې تر اوسه خو لا کار په ډېرو لومړنیو مراحلو کې دی، دې ډول ډالیو ته هېڅ اړتیا نه وه، نذیر احمدزي ته مې وویل، تر اوسه خو لا کار په همغه لومړیو شېبو کې دی، کله چې کار خلاص شوی وای، بیا به مو یو بل ته سوغاتونه او ستاینلیکونه ډالۍ کول، خلک به څه وایي چې څه توره مو کړې؟ د لونګۍ ارزښت ته هم باید پام وشي. احمدزي صیب وویل: پرېږده چې دا خلک تشویق شي، همدغه مو مشران دي موږ نور څوک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرو او بله دا چې پرېږده دوی لا پسې وهڅول شي او څلي ته امکانات پیدا کړي، دا غونډه هم په خوښۍ او خوشالۍ پایته ورسېده، خو د څلي لپاره ترې کوم عملي کوچ ترلاسه نه شول.

پکتـین سـاختماني شرکـت خپـل کارونـه پـر مـخ وړل، خـو کارونـه ډېـر چټـک روان نـه وو، کلـه چـې لـه ځمکـې څخـه سـیخان راپورتـه شـول، پـه اصـطلاح د بـېخ سـیخان یـې پـه ځمکـه کـې ښـخ او سـیمنټو کـې ټینګ شـول، نـو زه یـو ځـل بیـا احمـدزي صیب پسـې کـور تـه ورغلـم، کور یـې د دارالامـان واټ پـر عمـومي سـړک حبیبـي لېسـې تـه ورڅېرمـه موقعیت لري، هلتـه مـې ورتـه وویـل چـې یـو خـو بایـد څـلي تـه پیسـې پیدا کړو او بـل یـې کـار وګـورو، تـر دې دمخـه مـې څـو ځلـه ورسره پـه ټلیفـون کـې هـم خـبرې کـړې وې، خـو چـې نتیجـه یـې ورنـه کـړه، مجبـور شـوم کـور تـه ورپسـې ورغلـم. ده وویـل زه خـارج تـه پـه سـفر روان یم، کلـه چـې راغلـم د څـلي لپـاره بـه اسـاسي کارونـه تـرسره کـوو، اوس فقـط ماتـه یـو څـو ورځـې نـور وخـت راکـړه، دومـره کارونـه دې کـړي دي. یـو څـو ورځـې نـور هـم صبر وکـړه، ټـول کارونـه جـوړېږي پـه خـیر. مـا وویـل: سـمه ده، مخکـې تـردې چـې بهـر تـه لاړ شـې، لـومړی بـه د څـلي کـار لـه نـږدې وګـورو چـې څـومره کـار شـوی دی، ده وویـل: زه خـو همـدا نـن ماسپښـین بهـر تـه روان یـم، مـا وویـل: همـدا اوس ځـو، سـاعت د سـهار نـږدې (لـس) بجـې وې. ده وویـل: سمه ده، خپلـو امنیتـي مسـولینو تـه یـې امـر وکـړ چـې مـوټر تیـار کـړئ. دوه درې مرمـۍ ضـد ګـاډي، پـولیس او ترافیـک، یـو د پولیسـو ګـاډی او څـو نـور موټرونـه تیـار شـول، زه ده سره پـه مـوټر کـې کېناسـتم، مـا خپل ډرېور او یـو تـن امنیتـي سـاتونکي تـه وویـل چـې وروسـته راپسـې راځـئ، تـر نـږدې (پنځـه لـس شـل دقیقـو) وروسـته پـه لاهـورۍ دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ځلي موقعيت ته ورسېدو.

د ځلي د قراردادي شرکت مسول (انجنير ځلاند) تيار موږ ته د کار په ساحه کې منتظر و، ځلی مو، چې دا مهال يې د ځمکې له سطحې سيخونه پورته شوي وو، له نږدې وکوت، احمدزي صيب قراردادي ته خپلې سپارښتنې وکړې، هغه ورته وويل چې تاسې مشران ياست يو تن ماته خپل داسې ټلېفون نمبر راکړئ چې فعال وي، چې که زه دلته له ستونزو (له امنيتي مشکلاتو څخه نيولې نورو ډول ډول ستونزو) سره مخ شم، زه هغه ته زنګ ووهم او هغه زما مشکل حل کړي، اوس هېڅوک زما ټلېفون نه جګوي، احمدزي صيب خپل سکرتر ته امر وکړ چې هلئ ژر شئ، زما نمبر هم ورکړئ او خپل هم. انجنير ته يې وويل که زما نمبر کله بند وي، د سکرتر مې هر وخت چالان وي، ما سره اړيکه نيسه، نور هېڅ تشويش مه کوه، انجنير ځلاند او موږ ټول خوشاله شولو. احمدزي صيب ته مو رخصت ورکړ، زه او انجنير ځلاند په ساحه کې پاتې شو، کله چې احمدزی صيب رخصت شو، انجنير ځلاند ماته وويل چې کور دې ودان چې دا سړی دې دلته راوسته، زه خو دا څووم ځل دی چې ټلېفون ورته کوم، څوک زما ټلېفون نه



نذير احمدزی او محمد اسمعيل يون د ځلي د بيا جوړونې د کار کتنې پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کوي، نه مې میسج ته ځواب ورکوي. ما ویل دغه دی اوس خو یې ژمنه وکړه نور به ان شاء الله کارونه سم شي.

دې سره زه د خپل دفتر پر لوري راغلم، څه موده دې کې تېره شوه، ساختماني شرکت په همغو (یوولس نیم زره) ډالرو چې دمخه مو یادونه وکړه خپل کار تر یوه وخته پر مخ یوړ، تر دې وروسته یې تر لسګونو ځله زیات

نذیر احمدزي او همدارنګه رشید ایوبي ته چې د ځلي له اساسي مالي ملاتړو څخه ګڼل کېدل، زنګونه ووهل، خو چا یې ټلېفون پورته نه کړ، ما هم د قراردي په شان ورته کار ترسره کړ، په لسګونو ځله مې ورته زنګونه ووهل، خو دواړو ښاغلو نور نو خپلو ټلېفونونو ته زولنې واچولې، ایوبي صیب خو د ځلي د ډبرې د ایښودلو پر ورځ، همغه مهال چې له سټیجه کوز شوی و، راساً (دوبۍ) ته مخه کړې وه، ان له موږ سره یې د ډبرې ایښودلو په مراسمو کې هم ګډون ونه کړ، ما هم له همغې ورځې بیا تر دې دمه چې تر یوې میاشتې زیاته موده وشوه، بیا ایوبي صیب نه په سترګو ولید او نه مې هم په ټلېفون پیدا کړای شو، د دوبۍ په ټلېفون مې هم پیدا نه کړای شو. دا په داسې حال کې وه چې د ډبرې د ایښودلو پر مهال یې په فیسبوک کې له خپلې ګوندي پاڼې او نورو پلوي پاڼوڅخه ټولو، په تېره بیا خپلو ګوندي انډیوالانو ته مبارکۍ ورکړې وې چې دادی منار مې درته جوړ کړ، دا کار یې د (عدالت) ګوند ستر ابتکار او ارمان بللی و او ځینو غړو یې هم لیکلي وو چې د دوی مبارزو رنګ راوړ. هېڅ شخص او ډلې د ایوبي صیب او عدالت ګوند په شان له دې ځلي څخه دومره د ځان د تبلیغ لپاره ګټه پورته نه کړه، لکه دوی چې تصنعي او دروغجن تبلیغات وکړل، ربښتیا خبره دا وه چې ماته د ایوبي صیب او د دوی د ګوند دا حرکتونه ښه نه برېښېدل، ایوبي صیب ته مې په دې خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ټلېفون کاوه چې له دې ډول دروغجنو حرکتونو او سیاسي کمپاینې تبلیغاتو ډډه وکړي، البته یو شمېر اشخاصو اصولي صیب، حاجي فضل کریم فضل او ځینو نورو وړو ډلو هم د ځان په ګټه یو څه اعلانونه او تبلیغات کړي وو، اصولي پورې ځینو اړوندو لیکنو کې ویل شوي وو چې دا یې وکالت ته دنوماندۍ پرمهال د کمپاین د دورې یو شعار و چې دا څلی به جوړوي، خو هېچا هم د عدالت ګوند په شان بې مالګې تبلیغات نه کول. یوه ورځ انجنیر ځلاند په ژوندون ټلوېزیون کې زما دفتر ته راغی راته یې وویل: تر یوې میاشتې زیاته موده کېږي چې ایوبي پسې ګرځم پیدا کولای یې نه شم، اوس یې په لغمان کې د ګوند کوم غړی دی، یو پوسټ یې پورته کړی چې د نجات څلی د عدالت ګوند په هلو ځلو جوړ شوی او د دوی مبارزو رنګ راوړ، ما ویل زنګ ورته ووهه،


عبدالرشید ایوبي

ځلاند ورته په فیسبوک کې ولیکل چې ژر دې پوست پاک کړه، کار خو نه شئ کولای، لاپې لا هم وهئ او ورته ویې ویل دلته د (یون صیب) څنګ کې ناست یم. دې سره هغه ژر خپل پوسټ لرې کړ، خو زما او د انجنیر ځلاند له تلاش سره سره بیا هم موږ د ایوبي صیب په پیدا کولو بریالي نه شو. انجنیر ځلاند ګیله وکړه چې د احمدزي صیب کور ته ورغلم، ساتونکو یې ورټلم او راته یې وویل چې نور نو دلته د منار په کارونو پسې رانه شې او خپله احمدزی صیب ټلېفون نه پورته کوي.

انجنیر ځلاند وویل: ((زه نور په دې شکل کار ته دوام نه شم ورکولای.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل: ((خیر دی گوزاره کوه، زه به احمدزی صیب، ایوبي صیب، اصولي صیب او نور ټول دوستان پیدا کړم، په هر ترتیب چې وي، ستا مشکل به حل شي.)) دا نو داسې مهال دی چې څلی له ځمکې څخه درې - څلور متره لوړ شوی دی. د څلي کار ورو ورو مخ پر بره روان و. دا وخت (عبدالله ارین) یو تن ځوان او تحصیل کړي افغان چې پخوا یې په (صافي هوایي شرکت) کې کار کاوه، ماته زنگ وواهه چې سبا شپه چېرته وعده ونه کړې، زما مېلمه یې، څو تنو نورو ځوانانو، ملي او سیاسي شخصیتونو ته مې هم بلنه ورکړې او په (صافي لنډ مارک) کې به ماښام سره کېنو، ډوډۍ به هم وخورو او سیاسي مجلس به هم وکړو. ما ورسره ومنله، خو نور مې ترې پوښتنه ونه کړه چې اجنډا څه ده او نور مو څوک خبر کړي دي. له وعدې سره سم صافي لنډ مارک هوټل ته ورغلو، یو یو ملگری راروان و، ښه ښایسته باشعوره ځوانان راغلل، ایوبي صیب او د گوند دوه غړي یې (امیدحیران او یو بل تن) هم ورسره وو، دوی دواړه پخوا په نورو ډلو کې وو، خو اوس یې د ایوبي صیب لمن نیولې وه، هغوی هم راغلل.

ښه گڼ شمېر انډیوالان چې ټول نږدې شل تنه کېدل، راټول شوي وو، پر بېلابېلو سیاسي او ټولنیزو مسایلو بحث وشو. ما ایوبي صیب ته وویل، نږدې دوه میاشتې وشوې چې ټلېفونونه دې گُل کړي، د څلي د ډبرې تر ایښودلو وروسته لادرکه شوې، اوس به څنگه کېږي، څلي سره مرسته؟ ایوبي صیب وویل: ((ما خو د نغدو پیسو ژمنه نه ده کړې، ما ویل چې زه خپله مکسر او پلانټ لرم، څومره مواد چې د هغه په کار وي زه به هغه ورکوم، ماته انجنیر ځلاند هم زنگ وواهه او هغه ته مې وویل هر وخت چې دې ساختماني مواد په کار وي او کله چې دې لنټر اچوه، زه هغه مواد درلېږم)) ما ورته وویل: ((تاسو خو د احمدزي صیب په کور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویل چې په پیل کې هر چا هر څومره بسپنه واچوله، نور نو له یو څخه نیولې تر پنځه لکو ډالرو یانې دا چې څومره پاتې لګښت راته، هغه ټول زه ورکوم، اوس وایې چې زه یوازې د لنټر لپاره تیار مواد ورکوم، بل دا خبره عملي ده که نه؟ چې ته همغه مواد تیاروې چې ساختماني شرکت یې غواړي؟ د دې موادو کیفیت به څوک تضمینوي، د سمنټو او د شګې د ګډې اندازې ګرنټي به څوک ورکوي؟)) ده وویل: ((دا ټول زه تضمینوم.)) ما ورته وویل: ((انجنیر وایي زه د شپې دولس بجې یوه طبقه لنټر اچوم، د ورځې له خوا ترافیکي ګڼه ګوڼه وي، ایا ستاسو پلانټ او مکسر د شپې دولس بجې تیار وي، مزدور کار هلته وي که نه وي، له هغه ځایه چې ستاسو مکسر حرکت کوي، دا به ساحې ته څه وخت رارسېږي؟ امنیت به یې څنګه کېږي، احتمالي خرابي به یې څنګه کېږي؟ د موادو کمی او زیاتی به څنګه کېږي او بله مهمه خبره دا ده چې موږ به سبا ته ساختماني شرکت سره حساب او کتاب څنګه کوو؟ ځکه هغه سره خو د نقشې له مخې پر متر مکعب خبره شوې ده. دا چې یو سړی سمنټ ورته راوړي، بل شګه، بل اوبه، بل سیخ، نو د دې ټولو حساب به بیا د کوم تړون له مخې محاسبه کېږي؟)) ده وویل: ((ما د همدغه شي وعده کړې، هغه یې چې هر وخت په کار وي زه یې ورته رالېږم.)) ما وویل: ((ایوبي صیب ستا خو په دې شګه، سمنټو، میکسر او نورو جوړونکو موادو لګښت راځي که نه؟)) ویې ویل: ((هو راځي)) ما وویل: ((همغه لګښت محاسبه کړه همغه به ورته ورکړو، خبره خلاصه ده.))**



عبدالرشید ایوبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وویل: ((نه دا ماته ارزانه پرېوزي)) ما وویل: ((همغه ارزانه او وروستی قیمت محاسبه کړه!))، خو ده وویل: ((نه! زه یوازې همدا ساختماني مواد ورکوم)) زه چې پوه شوم د ایوبي صیب په زړه کې نور څه ګرځي او دی داسې شرایط وړاندې کوي چې عملي کېدل یې ناشوني دي او کله چې دا شرط ورسره ومنې، نو بیا به یې د لنتر پر شپه ټلېفون بند وي او کاریګر به وایي څو چې رییس صاحب موږ ته هدایت ونه کړي، موږ چاته مواد نه شو لېږلی او بیا په دې توره شپه کې دا کار ناشونی دی، نو ما ورته یوه کیسه وکړه: ما وویل: ((د طالبانو د واکمنۍ پرمهال به زه کله کله پېښور ته د یو شمېر فرهنګي کارونو د سرته رسونې لپاره تللم، هغه وخت د خلکو اقتصادي حالت ډېر خراب و. نو پېښور کې یو افغان لیکوال د یوه لغمان مېشتي لیکوال په باب راڅخه پوښتنه وکړه، ماته یې وویل چې څنګه دی ژوند او اقتصاد یې؟ ما ویل ژوند خو په ټول افغانستان کې تریخ دی او په لغمان کې خو بیا د دې لیکوال هم ژوند تریخ دی او هم له اقتصادي پلوه له ستونزو سره لاس او ګرېوان دی)). پېښور مېشتي افغان لیکوال راته وویل: ((خیر نو چې لغمان ته تلې، زه به درته یو دوه بوجۍ وړه واخلم، هغه ورته یوسه)). ما ورته وویل: ((له لورېینې دې مننه خو که د همدې دوو بوجیو اوړو معادل پیسې راکړې، زه به یې ورته ورسوم، بیا د هغه خوښه چې اوړه یې پرې اخیستل او که کوم بل ضروري مجبوریت یې پرې رفع کاوه. کېدی شي هغه تر اوړو بل څیز ته ډېر ضرورت ولري)) خو ده وویل: ((نه زه فکر کوم دا اوړه ښه دي)) دا چې دا مهال ژمی و، باد و باران هم و، فکر مې وکړ، زه چې تر الینګاره پورې ځم، له پېښوره تر هغه ځایه باید دا اوړه شپږو اوموټرو کې یوسم، له یوه به یې کښته کوم بل ته به یې پورته کوم، ټول باید شپږ موټره او شپږ کراچۍ وکاروو او ماته به هم مشکله وي چې دا بوجۍ په شا کړم او د موټر له یوه تمځایه یې بل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتقال کړم، هرځای کې کراچیوان او جوالي هم نه پیداکېږي او دا کرایه چې پرې ورزیاته کړو، نو نږدې یوه بوجۍ بله پرې کېږي، خو سړی (لیکوال صیب) شله و چې نه همدا دوه بوجۍ اوړه ورته اخلم او دا به ورته ضروري رسوې. د لیکوال په زړه کې اصلي خبره دا وه، چې دی (یون) خو هسې هم دا اوړه نه شي وړلای، نو راځه همدا خبره ټینګه کړه، یو خو به له ده څخه جوالي جوړکړم او بل به مې هغه بل لغمان مېشتي لیکوال ته د سبا لپاره تیاره پلمه جوړه وي چې ما خو درته اوړه درلېږل خو ده درنه وړل، په داسې حال کې چې دا اوړه په لغمان کې هم تقریباً دېته په ورته قیمت خرڅېدل او تکلیف هم پرې نه راته، خو څرنګه چې اصلاً د لیکوال زړه نه و، نو ځکه یې داسې دروند شرط ایښوده چې ما نه شو پوره کولای، زه یې چې ډېر مجبور کړم نو ما ورته وویل: ((زه درته همداسې درې بوجۍ اوړه په پېښور کې اخلم، ته یې لغمان کې هغه لیکوال ته ورسوه، کرایه هم درکوم)) خو دې سره سره بیا هم لیکوال صیب پر خپله خبره ټینګار کاوه.

ما ایوبي صیب ته وویل چې دا کیسه ترې مه جوړوه، چې زړه دې نه وي، هغه بېله خبره ده خو د دې اوړو کیسه ترې مه جوړوه، تاسو اوس ووایاست چې څلي ته پیسې ورکوې او که نه؟ او څومره ورکوې؟ ما دا هم ورته وویل چې د دووسوو مشرانو په مخکې په ډېر جرئت سره یوه ژمنه کول او له هغې څخه بیا په دې پلمو په شا کېدل، دا ستا راتلونکې شخصیت او کرکټر ته ډېر تاوان رسوي او بل موږ غوندې خلکو ته هم د ماشومانو فکر کېږي چې یو سړی دې پورته شي او د ډېرو خلکو په مخکې دې داسې یوه وعده وکړي چې هېڅا هم پرې د مجبوریت فشار نه وي راوړی، نو څه ضرورت و دې خبرو او بیا بې ځایه فیسبوکي تبلیغاتو ته چې ټول وطن مو پر سر اخیستی وي او اخر خبره دې حد ته ورسېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موږ پرې دومره بحث وکړو. زما او د ایوبي صیب خبرې ترخې شوې، نورو دوستانو مداخله وکړه او ویې ویل چې دا محفل باید د څلي پر محور راونه څرخي، نور مسایل هم دي چې باید بحث پرې وشي. ایوبي صیب وویل، ما چې کومه ژمنه کړې، زه اوس هم پرې ولاړ یم، مانا د لنډ لپاره مواد ورکوم، هغه موږ ته د پیغور په توګه دا اشاره هم وکړه چا چې هم جګې جګې لونګۍ ګانې پر سر ولې، هغوی دې اوس د څلي جوړونې کارونه هم ترسره کړي. مقصد یې د نذیر احمدزي په کور کې هغه غونډه وه چې ایوبي صیب په کې حضور نه درلود (دوبۍ) کې و او احمدزي صیب په کې زما په شمول راغلو کسانو ته لونګۍ ور پرسر کړې، ما ورته وویل چې په هغې غونډه کې تاسو نه وئ، که نه تر ټولو دمخه به تاسو پر سر کړې وای، بل تاسو هغه کس وئ چې تر ټولو زیات دې په دې کار کې لېوالتیا لرله، د غونډو انانسري دې هم کوله، تر ټولو زیاتې ژمنې هم تاسو کړي، په پرانیستې لویه غونډه کې دې د خپل ګوند بیرغ، باینر، مېز او لوګوګانې ټولې کارولې وې، د سټیج چارې دې هم پرمخ وړلې، تلاوت دې هم وکړ، فیسبوک کې دې دا کار د خپل ګوند (عدالت) یو ابتکار وباله او تر ټولو بیا تاسو لومړی شخص وئ چې لادرکه شوئ، دې غونډه کې زه او ایوبي صیب چندان توافق ته ونه رسېدو، خو د دې یادونه مې وکړه چې هر چا هر چېرته په هره لویه او وړه غونډه کې تورې او لاپې وهلې وي او بې ځایه ژمنې یې کړې وي، په همغه شان یوه غونډه کې به یې باید بیا یادونه وشي چې دغو خلکو خپله ژمنه پوره نه کړای شوه. د عبدالله ارین ورور محفل کې که څه هم نورې خبرې هم وې، خو یوه درنه برخه یې څلي رانغاړله. څو ورځې وروسته ایوبي صیب بیا دوبۍ ته لاړ، خو د ساختماني شرکت مسول انجنیر رحمت الله ځلاند پسې تعقیبوه، هغه راته بله ورځ زنګ وواهه چې له ایوبي څخه مې (سل زره) افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترلاسه کړې، پر همغه ورځ مې د خپل یادښت په کتابچه ولیکلې، همغه مهال مې پر ډالرو محاسبه کړې (یونیم زر) ډالره شول او د پخوانیو پیسو په ګډون چې قراردادي ته ورکړل شوې وې او دا مهال ټولې (یوولس نیم زره) ډالره کېدل، له هغو پیسو سره مې د یادښت په کتابچه کې ولیکلې. څه موده نوره هم تېره شوه نور نو یو ځل بیا د څلي د اصلي مدعیانو، احمدزي صیب، اصولي صیب، ایوبي صیب او نورو په لټه کې شوم، څومره زنګونه چې وهو د چا ټلېفون ځواب نه ورکوي، احمدزي صیب ته مې بې حده زیات زنګونه ووهل، خو هېڅ ځواب مې ترلاسه نه کړ. د څلي کارونه څه موده د پیسو نشتوالي له امله پر ټپه ودرېدل، داسې یو مهال راورسېد چې د عوامو په اصطلاح د پولی ټک ته کېناستو، حیران وو چې څه وکړو. قراردادي د (ساختماني شرکت مسول) هم هر چاته ځان په ټلېفونونو ستړی کړی و، خوله هېچا څخه یې مثبت ځواب نه و ترلاسه کړی، نو یوازې زه ورته پاتې وم، هغه ته چې به هر څومره قهر ورغی، نو یو ځل به یې د ټلېفون له لارې ماته زړه خالي کاوه، ټلوېزیون ته به هم وخت پر وخت راته. ما ورته وویل یو ځل به ګلاب منګل سره هم وګورو، هغه د څلي د ډېرې د ایښودلو په غونډه کې د خلکو په خبرونې کې ښه مرسته کړې وه، هغه مهال ګلاب منګل د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر و او دا مهال د ننګرهار والي دی. منګل صیب ماته ویلي وو لومړی به هغو خلکو ته انتظار وکړو چې په پرانیستې غونډه کې یې لاپې شاپې وهلې، که هغوی څه ونه کړل بیا به موږ ګورو او خپله هڅه به کوو. ګلاب منګل نو موږ ته د یو ښه هیله من ریزرف ځواک په توګه پاتې و. د څلي کارونه پر ټپه ولاړ وو، ما یو دوو کسانو ته په پټه هم دنده سپارلې وه چې هر وخت د څلي پر شاوخوا راڅرخېږ، په اصطلاح ګزمه کوئ، یوه ورځ یوه ماته راپور راوړ چې نه یوازې پر څلي کار بند دی، بلکې د شنې پردې شاته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله پوډریان هم راځي او ځان پټوي، دې خبرې سره ډېر خفه شوم، انجنیر ځلاند ته مې وویل، وروره پیره دار دې باید ډېر متوجه وي، هغه وویل زموږ کاري وسایل یې هم پټ کړي دي. زموږ له مشکلاتو سره سره له ګلاب منګل سره زموږ ملاقات ونه شو، خو د ټلیفون له لارې مې تر لسو ځلو زیات هغه ته یادونه کړې ده.



جنرال عبدالرازق

اقتصادي مشکلات همداسې پر خپل ځای پاتې وو چې یو دوست راسره په تماس کې شو، ویې ویل چې د څلي په رابطه له کندهار څخه د جنرال عبدالرازق پیغام لري، په ژوندون ټلویزیون کې مې ورسره د ملاقات وخت وټاکه، دوه ساعته وروسته له نورو ملګرو سره راورسېدل. د جنرال عبدالرازق سلامونه یې هم راورسول او د څلي لپاره یې د هغه (شل زره) ډالره نقدي مرسته هم راکړه او دا یې هم وویل چې جنرال صیب وویل دا مرسته به مستقیماً یون صیب ته رسوئ او درېیم شخص ته به یې نه ورکوئ، نو دادی د هغه مرسته موتاسو ته در تسلیم کړه، ما هغوی ته وویل راځئ دا مرسته به مستقیماً تاسو خپله د ساختماني شرکت مسول ته ورسوئ او زه به د هغه په مخکې له جنرال صیب څخه منته وکړم، هغوی وویل موږ نه غواړو د جنرال صیب د مرستې په برکت خپل ځان په رسنیو کې څرګند کړو، موږ ته یې چې څه ویلي وو، هغه همدا وو، نور نو ستاسو خپل کار دی. ما پر همغه ورځ انجنیر ځلاند ته زنګ ووهه، هغه په ګردېز کې و، ما ورته وویل چې کابل ته راشه چې د جنرال صیب عبدالرازق مرسته درته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلیم کړم، هغه وویل دوه ساعته وروسته دررسېږم. دوه ساعته وروسته هغه هم ځلي ته راورسېد او زه هم ورغلم، د جنرال صاحب عبدالرازق (شل زره ډالره) مرسته مې ورتسلیم کړه او موږ دواړو له جنرال رازق څخه مننه وکړه او خبر مو ورته د ژوندون ټلوېزیون پر څپو خپور کړ. په دې ډول د ځلي کار، چې یو څه موده ټکنی شوی و او دا مهال نږدې ځلور پنځه مترو لوړوالي ته رسېدلی و، یو ځل بیا له سره پیل شو او په دغه برخه کې راپېښ شوي تشویشونه یو څه رفع شول.

دا مهال انجنیر ځلاند وویل: ((که مالي امکانات راته برابر شي، نو زه په به پاتې دریو میاشتو کې د ځلي ساختماني چارې بشپړې کړم.)) ځلی لا لس مترو ته نه و رسېدلی چې یو ځل بیا د پیسو کمښت احساس شو، انجنیر ځلاند وویل چې ماته راکړل شوې پیسې تر هغو ډېرې کمې دي چې ما لګولي دي. دا مهال چې موږ د ځلي ټول لګښت له (۷۰-۷۵) زرو ډالرو پورې اټکل کړی و، د ساختماني شرکت تقاضا څه بل ډول راته ښکاره شوه. یو ځل بیا زه د نذیر احمدزي په لټه کې شوم چې له ساختماني شرکت سره کېني، حسابونه ورسره پاک کړي او پاتې پیسې ورته ور ورسوي. هر څومره ټلېفونونه چې مې ورته وکړل احمدزی صیب مې ګیر نه کړای شو. کله د خارج، کله په داخل کې د جلسې او کله هم د سکرتر له خولې د بېلابېلو پلمو په واسطه ځواب شوم، کله کله خو یې هېڅ ځواب هم نه وایه، د ټولو هغو ټلېفونونو شمېر چې ما به احمدزي صیب ته کړي وي، تر (۵۰) ځلو زیاتېږي. کله چې ټلېفونونو ځواب رانه کړ،



د ولسي جرګې غړی نذیر احمدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا مسېجونو ته اړم شوم، یوازې یو مسج یې ځواب کړ چې د ولایتي شورا ګانو له وکیلانو سره په جلسه کې یم، بېرته درته زنګ وهم، تر هغه وروسته مې بیا ورته ټلېفونونه وکړل، خو د یوه ځواب یې هم رانه کړ، بیا مې ورته مسېج وکړ چې کوم داسې کارونه دي چې تر څلي زیات مهم دي او ته یې دومره مصروف کړی یې چې په دوو میاشتو کې ماته ځواب نه شې راکولای؟ نذیر احمدزي په پای کې زما مسیجونو ته ځواب هم بند کړ.

خدای (ج) خبر دی چې نذیر احمدزي څخه تر دې حده خفه شوم چې ما ویل په ټول عمر کې به بیا ورسره خبرې ونه کړم. زړه کې مې شیطان څو ځله داسې وسوسې واچولې چې افسوس د هغه ملت پر حال چې استازي یې دومره بې تفاوته وي، دا نو داسې یو مهال و چې نذیر احمدزي د خپل وخت او کار یوه زیاته برخه د (قومندان زرداد فریادي) ساتنې او مېلمه پالنې ته وقف کړې وه. وکیل صاحب، (قومندان صیب) ته په شپه ورځ کې (۱۲) ساعته وخت درلود خو د پوهنتون یو استاد ته یې په دوو میاشتو کې د یوه مهم ملي کار لپاره دوه دقیقې وخت نه درلود. دا په داسې حال کې ده چې د کرزي په حاکمیت کې چې کله هم په ولسي جرګه کې د کوچیانو لپاره څوکۍ ځانګړې کېدلې، نو یوناما، د انتخاباتو ګډ کمېسیون او ان د کرزي صاحب د حکومت کابینې، کوچیانو ته ټولې (پنځه څوکۍ) په پام کې نیولې وې. خو ما (یون)، ډاکټر عمر زاخېلوال، کاوون کاکړ او ډاکتر اکرم خپلواک بېلابېلې احصایې یا شمېرنې راټولې کړې، د ټولو یادو ارګانونو دروازې مو ورو ټکولې او دا مو ورياده کړه، چې کوچیان د خپل نفوس له مخې د (پنځه لسو) څوکیو مستحق ګڼل کېږي، کله چې دا ټول اسناد یادو ارګانونو ته ورسېدل او کابینه کې هم پرې بحث پیل شو، نو ډاکتر انوارالحق احدي د کوچیانو د حقه حقوقو ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وکړ او ډاکتر عبدالله عبدالله چې دا مهال د بهرنیو چارو وزیر و مخالفت، په پای کې کابینې یوه منځنۍ لاره غوره کړه، نه پنځه او نه پنځه لس، کوچیانو ته یې (لس څوکۍ) مختصې کړې. که چېرې کوچیانو اوس پنځه څوکۍ لرلای او په هغوی کې یوه یا دوه د مېرمنو وای، نو کېدی شي ښاغلي نذیر احمدزي ته په کې د وکالت چانس نه وای برابر شوی. احمدزی صیب او د کوچیانو نور وکیلان کېدی شي ان تراوسه پر دې حقیقت خبر نه وي چې په ولسي جرگه کې د کوچیانو د حقه حقوقو (څوکیو په تثبیت کې) چا زیار گاللی دی، خو خیر په هر ترتیب اصلي گیله او خفگان په دې کې وو چې ما له احمدزي صیب څخه کومه شخصي غوښتنه نه لرله او نه زه له ټولنیز، اکاډمیک او سیاسي پلوه په داسې یوه ټیټ موقف کې وم چې د احمدزي صیب لاسنیوي ته اړتیا ولرم. ان په همدې ولسي جرگه کې زما مېرمن (ارین یون) په ملي مسایلو کې تر ډېرو وکیلانو ډېره فعاله او هڅانده ده او د تحصیل کچه یې هم تر ډېرو لوړه ده (په ادبیاتو کې ماستري لري)، خو څرنگه چې د نجات څلي موضوع یوه ملي مسله وه او احمدزی صیب یې د بیا جوړونې له اساسي غړو څخه و، نو ځکه خو د کار او مسولیت یوه اساسي برخه ده ته راجع کېدله. کله چې له احمدزي صیب څخه د بیا بیا اړیکو نیولو له پلوه نهیلی شوم، نور مې پر هغه درنه تیره کېښوده او غوښتل مې د نورو اشخاصو په لټه کې شم، یو ځل بیا گلاب منگل سره په تماس کې شوم، هغه وویل څه شو احمدزی صیب، اصولي صیب، ایوبي صیب او هغه نور وکیلان چې د افتتاح پر ورځ یې د سټېج پر سر هېڅا ته اجازه نه ورکوله؟ هغه ته مې له سره د احمدزي صیب داستان تېر کړ او ومې ویل چې اصولي صیب سره هم پر اړیکو ټینگولو بریالی نه شوم. د اصولي صیب دوه ټلېفون نمبرونه ما سره وو، یو ښخي چوپ او دویم کله کله زنگ تېراوه، خو ځواب یې نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکاوه، رښتیا خبره وه چې اصولي صیب څخه هم یو څه خفه شوم، خو د احمدزي صیب په انډول نه، ځکه اصولي صیب د مالي مرستې په برخه کې له پیله هم ډېرې لاپې نه وې وهلې. انجنیر ځلاند هم یو ځل بیا ټولو ته ټلېفونونه کړي وو، خو نتیجه یې صفر وه، ماته یې هم څو ځله ټلېفونونه وکړل، خو ما یې ټلېفونونه ځواب کړي او هر ځل مې ورته ویلي تر څو چې دا ټول خلک پیدا نه کړم، تر هغه پورې موږ غوښې نتیجې ته نه رسېږو، ځلاند څو ځله ماته د ګواښنې په ژبه وویل چې زه میډیا راغواړم او دا ټول حقیقتونه ورته وایم، ما ورته وویل خیر دی اوسېله کوه، دا ډېر شرم دی، مخالفین به وایي چې دوی یو څلی نه شي جوړولای، نو نور کارونه به څنګه ترسره کړي؟ کله کله به یې وویل چې دا او هغه ټلوېزیون راپسې راغلی و، د شمشاد ټلوېزیون نوم به یې ډېر اخیسته او ویل به یې چې هغوی ډېر اسرار کوي چې دا څلی ولې نه جوړېږي؟ د ده په وینا چې د هغوی ژورنالېست څو ځله ما پسې راغلی، خو ما ورسره له مرکې ډډه کړې ده، ما وویل ټولو ټلوېزیونونو ته زما نمبر ورکړه، مسؤلیت یې پر ما، ته ورته ووایه چې زه یو ساختماني شرکت یم ماته که چا پیسې راکړې کار کوم او که نه وي کار به ولاړ وي، سیاسي او نور مسولیت یې ستا پر غاړه نه دی. د شمشاد ټلوېزیون د خبریال په باب باید ووایم چې هغه اول ما سره مخامخ کړه چې زه یې حاجي صیب فضل کریم پسې ولېږم چې یوه ځانګړې مرکه ورسره وکړي، حاجي صیب فضل کریم ته مې د څلي په خاطر درې ځله یادونه وکړه، لومړی ځل مې زنګ وواهه، ما ویل چې حاجي صیب کله وخت لرې چې د څلي په اړه درسره خبرې کوم، ویې ویل کوم څلی؟ ما وویل د نجات څلی چې تاسو یې پرانیستونکې یا ډېر اېښودنې غونډه کې ګډون درلود، ویې ویل په فرصت کې به خبرې وکړو. دویم ځل چې مې زنګ ورته وواهه ما ویل حاجي صیب څلي کې باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ونډه واخلې، مانا مالي مرسته وکړې، هغه وویل زه خو اوس (دوبۍ) ته پر لاره یم کله چې راغلم خبرې به وکړو. کله چې راغی، بیا مې ورته زنګ وواهه، ما ویل حاجي صیب څلي کې به مرسته وکړې، زه له نږدې درځم، خبرې به درسره وکړم، هغه رمزي او مالګینه خندا وکړه، څلی، څلی، کوم څلی؟ هغه خو د پکتیاوالو دی، د مشرقیوالو یې پرې څه؟ ما وویل حاجي صیب هغه د ټولو پښتنو او ټولو افغانانو دی، یوازې په پکتیا والو پورې اړه نه لري، که په هغوی پورې یې اړه لرلای، نو تاسو او نورو زرګونو افغانانو څه کول چې په پرانیستونکې غونډه کې مو ګډون کاوه او د سټیج پر سر مو وینا کوله؟ حاجي فضل کریم هم د هغو کسانو له جملې څخه و چې هم یې پر سټیج وینا وکړه او هم یې له شمشاد ټلوېزیون څخه په ژوندۍ بڼه د غونډې یوه زیاته برخه خپره کړه او هم کله چې غونډه



حاجي فضل کریم فضل

خلاصه شوه، له ژوندون ټلوېزیون او نورو سره یې ځانګړې لنډه مرکه وکړه، د ګلانو یو اوږد امېل یې غاړه کې و، عیناً لکه په هند کې چې غټ غټ سېټان ټاکنو ته ولاړ وي او یا هم کوم سېټ (خان) کوم لوی محفل ته وینا کوي، یا د کوم لوی پروګرام افتتاح ته راغلی او پلویانو یې ورته د ګلانو اوږد امېل پر غاړه ځړولی وي. د حاجي صیب له رمزي خندا څخه ماته پته ولګېده چې نه د مرستې لېوالتیا لري او نه هم غواړي ما سره په دې برخه کې ځانګړی ملاقات وکړي، نو پر ده مې هم درنه تېره کېښوده، کله چې یې ماته د ژورنالېست د ټينګار مسئله یاده شوه ما ویل چې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې د ټلوېزیون مسول شخص راولي چې زه یې د حقیقت سرچینې ته بوځم. غالباً چې د شمشاد ټلوېزیون په شمول د نورو ټلوېزیونونو خبریالانو به د څلي په باب د معلوماتو پر خپرولو هغومره ټینګار نه وي کړی، لکه د ساختماني شرکت خاوند چې دعوه لرله او ده غوښتل د رسنیو له لارې پر موږ فشار زیات شي چې ده ته ژر پیسې په لاس ورشي. کله کله به یې د فیسبوکي خبرونو ګواښونه هم کول او کله کله به یې یو لنډ پوسټ هم پورته کړ. یوه ورځ یې راته یو ډېر تریخ اخطار راکړ او ویې ویل: ((یون صیب! که دا خلک ماته پیسې رانه کړي، نو زه سکواټر راغواړم، میډیا هم راغواړم، دا څلی نړوم، پرېږده چې زما پیسې هم په کې لاړې شي، خو دوی ته خپل زور ښیم.)) ما ورته وویل: ((پام چې دا کار ونه کړې، په شرمو به وشرمېږو.)) ما انجنیر څلاند ته بار بار ویلي چې دا مسله به په هېڅ ډول رسنیزه کوو نه، ځکه یو وخت به پیسې پیدا شي، خو د رسنیو تورونه او پېغورونه به هماغسې پاتې شي. ده هم تر ډېره وخته زما پر نصیحت عمل وکړ او خبره ډېره رسنیو ته ونه وته، خو د پیسو د کمښت او بیا بیا غوښتنې مسله لا هماغسې جاري وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څلي د بیا جوړونې لپاره لیکلی تړون

**د (۱۳۹٦ل) کال د وري یا حمل پر (۲۰) نېټه زه جلال اباد ته تللی وم او زړه مې و چې لومړی (ښېوې ولسوالۍ) او بیا له هغه ځایه (کونړ) ته سفر وکړم، شپه مې له (سنگر مومند) سره وه، سنگر د ملي تحریک غړی دی، څو تنه نور ملگري هم راغلل، د شپې تر (۱۲) بجو مو ادبي او سیاسي بنډار وکړ، هغوی پر خپله مخه لاړل او ما په ځانگړې خونه کې د خوب لپاره تیاری ونیو. بالښت مې سر لاندې کېښود، یو ځل بیا د څلي په فکر کې ډوب شوم، یو ساعت چورت مې وواهه، خوب رانغی، بېرته مې گروپ روښانه کړ، ما ویل هسې نه چې د دې ساختماني شرکت مسول پر دې څلي څه ونه کړي، نو ځان سره مې یو احتمالي او فرضي لېست جوړ کړ چې کله هم بېرته له سفره کابل ته ستون شم، نو لومړی به دې یو یو شخص ته زنگ وهم، کور ته به ورپسې ورځم او د څلي مسله به یو طرفه کوم. په دې لست کې دغه لاندې کسان شامل وو:**

**((گلاب منگل، انوارالحق احدي، عبدالرشید ایوبي، همایون همایون، راضیه منگل، حمید الله خیبر، اصغرخېل منگل، حاجي فضل کریم فضل، مشرقي شورا، کمال ناصر اصولي، شېر علي خان شېر، ضیاء الحق امرخېل، حمید الله فاروقي، ډاکټر زلمی احمدزی، بیدار ځاځی، قدرت الله سهاک، احسان الله کاموال، حلیم فدایي، حیات الله حیات، نبي مصداق، حکم خان حبیبي، غلام نبي فراهي، کلیمزی وردگ، ډاکټر فاروق وردگ، مولوي تره خېل محمدي، حاجي نوروزخان، عمر ننگیالی، امیر خان یار، نادر خان کټوازی، زمرک پادخوابي، صمد ځاځی، قیوم کوچی او خپله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه (یون).)) دې هر یو ته مې یو احتمالي رقم په پام کې ونیو، ما ویل سر له سبا به دا لست تعقیبوم او کوم مقدار چې ما هر یو ته په نظر کې نیولی و، که ترې حاصل شوی وای نو تر (۹۵-۱۰۰ زرو ډالرو) پورې رسېدل. د دې خیالي او احتمالي لست تر اکمال وروسته هم چندانې خوب رانغی.، یوازې د سهار تر لمانځه وروسته مې یوه شېبه خوب وکړ، ټوله شپه راباندې نارامه تېره شوه. زړه کې مې وسوسه وه، هسې نه چې قراردادي خپل گواښونه عملي کړي، یا رسنۍ راوغواړي او یا د څلي پر نړولو لاس پورې کړي، ځکه چې څو ځله یې ماته د دې خبرو گواښنه کړې وه. سهار (۹) بجې شاوخوا له جلال اباده د کونړ پر لوري رهي شوم، زړه مې و، یوه شپه هلته تېره کړم او سهار بېرته جلال اباد او بیا کابل ته راشم، ښېوې ولسوالۍ ته لا رسېدلې نه وم چې له کابله د (بهترین پکتیاوال) زنگ راغی، ماته یې وویل استاده چېرته یې؟ ما وویل جلال اباد کې، ویې ویل له څلي څخه خبر نه شوې؟ ما ویل نه، څه خبره شوې ده؟ دې سره مې زړه کې وسوسه زیاته شوه، ویې ویل بېگاه ماښام هغه قراردادي دی که څه بلا ده، ځلاند ورته وایي که څه ورته وایي، هغه سکواټر راوستی و، غوښتل یې څلی ونړوي، ما وویل: ((له څلي سره نو د هغه څه کار دی، هغه خو یوازې قراردادي دی)) پکتیاوال وویل: ((هغه وایي چې ماته څوک د څلي پیسې نه راکوي، نو ځکه یې زه ړنگوم)). ما وویل: ((هغه ته خو موږ پیسې ورکړې او څه یې چې پاتې هغه ورکوو، د ده پیسې خو خوړل کېږي نه، دا چې مشران نه شته پیدا به شي، څلی خو د ده شخصي نه دی او بل تر اوسه چې جوړ شوی هم دی، د ده په پیسو خو نه دی جوړ شوی، که د ده په کې څه پیسې مصرف شوي وي، هغه طبعاً اصول دي، چې هېڅ قراردادي ته څوک ټولې پیسې په یو ځایي ډول نه ورکوي او ده ته خو موږ تر اوسه نږدې (پنځه دېرش زره) ډالر وررسولي دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهترین پکتیاوال وویل چې موږ ټولو ورته وویل، خو دی ډېر شله و، د څلي د پیک ځینې برخې یې هم په سکواټر کنډو کړې، خو بیا د سیمې ټول ځوانان راټول شول او دی یې د څلي نورې ورانونې ته پرېښود، پکتیاوال وویل، ما بېګاه ماښام ناوخته تاته ډېر زنګونه ووهل،



بهترین پکتیاوال

ستاسو ټلېفون ګل و، نو ځکه مې اوس یو ځل بیا درته ټلېفون وکړ، اوس ښه شو، ټلېفون دې رخ شو، بهترین پکتیاوال د ملي تحریک غړی او د پکتیا د ډېرو ښو ځوانانو له جملې څخه دی، هغه چې ما سره ټلېفون کې خبرې کولې، نو ډېر ژړغونی او خواشینی و، ماته یې وویل: ((استاده هر څنګه چې کېږي د دې څلي غم وخورئ، والله چې شرمېږو زیاتي.)) ما خپل ډرېور ته وویل، راوګرځه مخ په کابل، ډرېور او ساتونکو وویل: څه خبره ده، ما ویل خیریت دی، د نجات څلي کې یو څه مشکل دی، بېرته باید کابل ته لاړ شو. کله چې موټر بېرته د جلال اباد پر لوري خپل مسیر برابر کړ، نو قراردادي (انجنیر ځلاند) ته مې زنګ وواهه، ما ویل څه خبره ده وروره په څلي کې؟ ده وویل: ((ماته څوک پیسې نه راکوي، زه خو څه لېونی نه یم چې څلي به جوړوم، ما بېګاه ړنګوه، خپلو پیسو نه هم په کې تېر وم، میډیا مې هم راغوښتله...)) ما ورته وویل: ((دا ستا شخصي څلی دی چې ته به یې ړنګوې؟ تا خو د کار په مقابل کې پیسې اخیستې دي، وریا خو دې کار نه دی کړی؟)) ده وویل: ((تاسو چې ماته کومې پیسې راکړي، ما څو چنده د هغو لګولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راشئ ما سره حساب وکړئ..)) ما وویل: ((ستا چې کومې پیسې پاتې دي، هغه حساب به درکړو او ته چې دا څلی ړنگوې، هغو خلکو چې په کې پیسې ورکړي د هغوی ځواب به څوک وایي، تاوان به یې څوک ورکوي؟ بل دا خو د ټول ملت گډ افتخار دی، د چا شخصي نه دی او نه ستا شخصي دی چې سکواټر دې ورپسې راوستی، د ده ړنگول خو د ملت د ویاړوونو ړنگول دي.)) هغه ماته وویل: ((بړ بړ مه غړیږه، ستا هم شخصي نه دی، زه خو یې دغسې کوم که څوک نر وي، رادې شي او دلته دې ودریږي چې زه ورسره څه کوم؟)) ما وویل: ((گوره خوله دې سمه خوځوه، زه دوه بجې دررسیږم او راساً څلي ته درځم، که ته نر وې ته هم راشه او سکواټر دې هم راوله چې زه بیا تا سره څه کوم؟)) ده وویل: ((که ته نر یې او د نر زوی یې نو راشه بیا به گورو)) خبرې ډېرې ترخې شوې. بهسودو ولسوالۍ ته چې راورسېدو ، د ننگرهار والي (گلاب منگل) ته مې زنگ وواهه، ما وویل عاجل کار مې درسره دی، د پنځه دقیقو لپاره دې گورم او بیا عاجل کابل ته ځم، هغه وویل: چېرته یې؟ ما وویل جلال اباد کې، هغه وویل: (۱۲) بجو ته راشه زموږ جلسه به هم خلاصه وي، سره وبه گورو، سکرتر یې امنیتي چک پوستونو ته ویلي وو، لس کم دولس بجې ورسېدم، دا داستان مې ټول ورته تېر کړ، گلاب منگل ډېر خفه شو،**



محمد گلاب منگل

**سکرتر ته یې وویل، عاجل لاړ شه له صرافه یې اخلئ که له بل چا، عاجل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته لس زره ډالر پیدا کړئ! زه هم ډېر خفه وم او ګلاب منګل هم ډېر خفه شو، ماته یې وویل د ټیکه دار یا قراردادي نمبر درسره شته، څوک دی؟ د کوم ځای دی؟ ما وویل (انجنیر ځلاند) نومېږي، د پکتیا دی، ده وویل: د پکتیا دی؟ ورمېږ دې د ده مات شي. ټلېفون یې ورته وکړ، په نرمه لهجه یې ورته وویل، وه انجنیر صیب دا ولې داسې کوې؟ هغه وویل: ماته څوک پیسې نه راکوي، نو ده وویل چې پیسې نه درکوي بیا خلک داسې کوي او یون صیب سره دې بیا داسې وضع کړې؟ اول خو دا خبره سمه ده چې دا منار د ټولو افغانانو ویاړ دی، خو ډېر ویاړ یې بیا موږ او تاسو پکتیاوالو او جنوبي والو ته منسوب دی، نو یو څوک چې بیا له مشرقي او لغمان څخه راځي او تا سره په دې کار کې دومره منډې رامنډې وهي، نو بیا موږ ورسره داسې چلند وکړو؟ خدای حاضر دی چې یون صیب تر اوسه پورې ماته تر لسو زیات د دې څلي یادونه کړې، همداسې هر پښتون او هر افغان پسې تللی، ستا چلند ماته مناسب ښکاره نه شو.، اوس داسې وکړه چې زه یون صیب ته لس زره ډالر ورکوم، که نور هېڅا درنه کړل، زه په هر ترتیب چې وي دا پیسې پیدا کوم. خپل کور درته خرڅوم خو دا پیسې پوره کوم. ته نور جنجال مه جوړوه، پنځه لس شل دقیقې وروسته یې یو سکرتر لس زره ډالره راوړل او ما ورڅخه رخصت واخیست، ډرېور ته مې وویل: د کابل پر لوري حرکت کوه، څومره چې ژر تللای شې حرکت کوه. کابل ته دوه نیمې بجې ورسېدو، خپل دفتر ته چې ورسېدو، نو اودس مې وکړ پر سر مې هم اوبه تېرې کړې، لږه دمه مې وکړه، بیا مې دوه ساتونکو او یو تن امنیتي مسول ته وویل: ځان تیار کړئ چې ځو څلي ته! دې وخت کې زنګ راغی، یو تن ځان معرفي کړ، د جنوبي د قومونو د یووالي شورا څخه یو، ویې ویل که دفتر کې یاست، موږ او انجنیر ځلاند درځو، ما ویل راشئ! څه کم څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بجې به وې چې راغلل، نېک محمد ولسمل، څو تنه نور سپین ږیري او انجنیر ځلاند ورسره وو. دوی وویل دغسې ستاسو او د انجنیر ځلاند تر منځ څه کشیدگي او خفگان رامنځته شوی، موږ غواړو دا ستونزه حل شي او دا خفگان زیات نه شي، نو ځکه موږ دلته راغلو که کومه خبره تروه ترخه تېره شوې وي، چې له هغو څخه تېر شو او ټول د ورونو په څېر د دې منار په جوړونه کې برخه واخلو، تاسو ریښتیا هم په دې برخه کې ډېرې منډې تړړې کړي، خدای دې اجرونه درکړي. بیا انجنیر ځلاند هم یوه سسته غوندې بښنه وغوښته، ما وویل زه له (ځلاند) څخه خفه یم، دا څلی نه زما شخصي دی، نه د ده دی، باید د ورانولو هڅه یې نه وای کړې، په دې ترې ډېر خفه یم، خیر ماته چې یې کوم ترخه الفاظ کارولي، هغه د دې څلي په خاطر زه زغمم، که نه داسې هم نه ده چې موږ په هره مسله کې هر چاته جواز ورکړو چې هر ډول الفاظ وکاروي. ځلاند وویل: زما هدف دا و چې د خلکو او مشرانو پام دې څلي ته راواړوم چې ماته زما پیسې ترلاسه شي، نور مې د څلي د ورانولو هدف نه و، اوس چې مې دا کار وکړ، وگوره ټول جدي شول. ما ویل که دا خبره رښتیو ته وتلې وای او موږ خو خپل خپل مخالفین هم لرو بیا به نو نور څه کېدل؟ ما دې ښاغلو سپین ږیرو ته وویل چې خبره نوره له شف شف څخه ووتله، د الفاظو حرمت هم ورځ تر بلې ختمېږي، قراردادي د ډېرو پیسو دعوه کوي او هغه انجنیر چې ساختماني نقشه یې جوړه کړې، هغه وایي دومره پیسې نه کېږي، انجنیر ځلاند ته مې وویل چې ستاسو اټکل څو دی؟ هغه وویل: (یو لک او لس زره ډالره) شاوخوا، ما وویل انجنیر خو د (۷۰-۷۵) زرو ډالرو شاوخوا پورې اټکل کړی و، دا توپیر نو څوک جبیره کوي؟ ځلاند وویل، (انجنیر دلاور) هسې هوایي براورد کړی، کار یې کتلای نه دی، زه عملاً کار کوم، هېڅوک یې په دې نرخ نه کوي، ما پر دې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مشرانو ته وویل: تاسې خو پوهېږئ، نذير احمدزی، رشيد ايوبي او نور هغه مشران چې د څلي د جوړېدو پر ورځ او يا هم تر هغه دمخه يې تر ټولو زياتې ژمنې کړې وې او دا قرارداد هم په شفاهي ډول هلته (پکتين ساختماني شرکت) ته ورکړل شوی، تاسې لاړ شئ، د لويې پکتيا، لوی ننګرهار او لوی کندهار له همغو مشرانو سره کېنئ، خوښه يې پر همدې نرخ يې همدې شرکت ته ورکوي، ارزانه کوي يې، قيمته کوي يې، بل شرکت ته يې ورکوي، تر دې دمه د شوي کار په مقابل کې د دې شرکت حسابونه پاکوي او بيا يې بل ته ورکوي او يا يې همده ته ورکوي، په ليکلي يا ګړني ډول يې ورکوي، تاسو د پکتيا مشران ياست، تاسې خپله فيصله وکړئ، زه يو فرهنګي سړی يم، نه انجنير يم، نه ټيکدار، نه د ساختماني شرکت انجنير او نه مې هم سر پر دې موضوع خلاصېږي، زه به له منځه ووځم، تر اوسه چې څه پيسې ما له چا اخيستي او انجنير ځلاند ته مې ورکړي، د هغو به حساب او کتاب ورکړم او نور به له منځه ووځم، هغه د چا خبره (ورغستلی له منځه وتلی).

دا مهال دوی ټولو وويل: نه هېڅ امکان نه لري، تاسو له پيله په دې کار کې شريک وئ، بايد تر پايه يې ورسوئ، ځلاند زياته کړه، نور خلک موږ چېرته پيدا کولای شو، که پيدا کولای مو شوای، نو بيا ولې تاته راتلو، د انجنير ځلاند خبرې، له ماسره د هغه د ټېرو ترخو الفاظو د تبادلې له امله پر ما ښې نه لګېدې، خو څرنګه چې يوه ملي موضوع وه او همدلته په خپل منځ کې پاتې کېدله، نو د دا ډول خبرو زغم ته مې ځان تياروه، تردې مخکې هم د څو مياشتو په بهير کې کله چې به د څلي شاوخوا د موټرو ګڼه ګوڼه شوه او لاره به يو مهال بنده شوه، يو چا به زنګ وواهه، يون صيب يې؟ هو! مهرباني وکړه، څنګه شو څلی دې؟ ما به ويل: جوړېږي، څه وخت جوړېږي؟ هره ورځ دلته لاره بنده وي، سره له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د څلي جوړښت نه یوازې لاره بنده کړې نه وه، بلکې اسانتیاوې یې هم رامنځته کړې وې، خو بیا هم عوامو داسې فکر کاوه چې د لارې هر ډول بندښت په څلي پورې تړلی دی، ځینو به ټلېفون کې ویل، یو څلی نه شئ جوړولای، خبرې مو اسمان غورځوي، هره ورځ ټلوېزیون کې بړ بړ غږېږئ! یوه ورځ یوه زنګ وواهه، سلام احترام نه و، وه وروره! څه وخت یې جوړوئ؟ دا څلی ملی مو؟ موږ خو مو نور تر سپېړمو راوستو، زه هم لږ په فکر کې شوم، ما ویل وروره ستاسو معنوي او مالي مرستې ته معطل دی، کله چې هغه راورسېده، ژر به جوړ شي، نور یې خبرې ونه کړې او ټلېفون یې بند کړ. داسې ډېر زنګونه راتلل، البته د دعاګانو او ملاتړ زنګونه هم بېشمېره وو، خو د غندنې او پېغور هغه هم په کې وو.

ما د پکتیا سپین ږیرو او مخورو ته وویل، د دې په خاطر چې مسله نوره له دغسې یو ناقانونې حالته راووځي، ښه به وي چې موږ له ساختماني شرکت سره یو لیکلی تړون ولرو، په دې تړون کې به د دواړو خواوو مکلفیتونه او وجایب څرګند وي. زمان او مکان به په کې قید وي. زه به د څلي د جوړونکو په استازۍ، حاضر دي که غایب، شته که نه شته، پیسې ورکوي که نه، لوی دي که واړه، ژمن دي که ناژمن، د هغوی په استازۍ تړون لاسلیک کړم. دا چې هغوی پیسې ورکوي که نه؟ زه یې له ځمکې کوم که له اسمانه، ځان خرڅوم که خپل کور او ځمکه، زه ساختماني شرکت ته مکلفیت لرم، زه د څلي د خاوند په توګه تړون لاسلیک کوم، نه د یوه درېیم ګړي په توګه، په مقابل کې انجنیر ځلاند دې د خپل ساختماني شرکت په استازۍ تړون لاسلیک کړي، د یوه قراردادي یا ټېکه دار په توګه، نه د څلي یا د دې ودانۍ د مالک په توګه او که چېرې قراردادي هم د قراردادي په توګه وي او هم د مالک په توګه نو بیا خو باید پیسې هم خپله پیدا کړي او بل چا سره قرارداد ته څه اړتیا ده؟ په دې برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور بحث هم وشو، خو انجنیر ځلاند په دې خوشاله و چې مدعي یې معلوم شي او دی له سرگردانۍ خلاص شي او ما هم په دې خاطر یو غټ مسولیت ته اوږه ورکړه چې نورې ټولې لارې بندې وې، ځلی مو بایدجوړ کړی او دا فشار مو باید زغملای وای، هغه هم په داسې یو حالت کې چې هېڅا هم مسولیت اخیستلو ته زړه نه ښه کاوه او نه د مالي امکاناتو د پیدا کېدو څرگند څرک لگېده. ما انجنیر ځلاند ته وویل چې زه ستا د ټولو پیسو ذمه وار یم، ته


انجنیر رحمت الله ځلاند

نور د هېچا دروازه مه ټکوه، زه پوهېږم او ته، ته پوهېږې او زه، خو یو شرط همدا اوس لرم چې تاسو چې کوم قیمت وایئ، په هېڅ وجه د دې منلو ته تیار نه یم، دا نرخونه له اسمان سره خبرې کوي. سبا سهار به همدا مشران هم راشي، انجنیر دلاور توتاخېل هم، چې د دې ځلي ساختماني نقشه یې جوړه کړې او ټول لگښتونه یې سنجولي دي. ټولو موافقه وکړه، مازیگر مې انجنیر صیب دلاور ته زنگ وواهه، ما ویل سبا ضرور راشه او بل هغه نقشه او سنجش چې تاسو کړی و او انجنیر ځلاند ته مو ورکړی، هغه هم درسره شته که نه؟ که هغه هم ځان سره راوړې ښه به وي، ما وویل د نقشې سافټ کاپي او خپل کمپیوټر دې هم ځان سر راوړه، انجنیر دلاور چې یو پاک او مسلکي سړی دی او د اوبو برېښنا وزارت کې د لغمان د برېښنا د یوې سترې پروژې مسول هم دی، ماته یې وویل: هېڅ تشویش مه کوه، هر څه راسره دي، سبا سل په سلو کې درځم، سهار (۹) بجې به وې چې ټول ژوندون ټلوېزیون ته راغلل، د (۱۳۹۶ل) کال د (وري) (۲۲)مه نېټه وه، ټول سره کېناستو، ما وویل لومړی دې دواړه انجنیران

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو منځو کې حساب وکړي، بیا دې موږ ته نتیجه ووایي، ما نو د شپې ناوخته د تړون یا قرارداد یوه ابتدایي خاکه هم تیاره کړې وه چې که چېرې دوی توافق ته سره ورسېږي، چې هغه پخه او لاسلیک کړو. د انجنیر دلاور او ځلاند په قیمتونو کې یوه متر مکعب کې (۵۰) ډالره توپیر لیدل کېده، انجنیر دلاور ورته وویل: همدا اوس چې موږ تاته کوم قیمت درکړی، دا د بازار له نرخه شل فیصده لوړ دی. زه په هېڅ وجه حاضر نه یم چې دا قیمت نور لوړ شي، زه خو لا وایم چې دا قیمت دې لس فیصده نور هم ټیټ



انجنیر دلاور توتاخېل

شي، بیا هم ته په کې لس فیصده گټه کوې، ډېره گټه مه کوه، دا قیمت مې د(ای، او، ام) او نړیوالو شرکتونو په نرخ درکړی، ظلم مه کوه، خو انجنیر ځلاند یې یوه خبره هم ونه منله، ویې ویل چې دې کې زه تاوان کوم، له گټې یې تېر خو تاوان مه رارسوه. انجنیر دلاور ورته وویل، که هر څو روپۍ دې تاوان وکړ، زه دې ذمه وار یم، که خط غواړې، خط درکوم، خو مه کوه، دومره جگ مه ځه، تر غرمې پورې دوی وډزوله، خو کومې نتیجې ته سره ونه رسېدل، خبره ډېره سره ترخه شوه، نه انجنیر دلاور خپل نرخ پورته کړ او نه هم ځلاند له خپل نرخه راکښته شو. د ځلاند جگ قیمت ټول (۱۱۰۰۰۰) ډالره شاوخوا و او د انجنیر دلاور لوړ نرخ (۷۵) زره ډالره وو، پوره توپیر په کې ښکارېده، غونډه ترخه او بې نتیجې پایته ورسېده. د غونډې په پای کې ما سپینږیرو ته وویل: ((د دې لپاره چې یوې دویمې لارې ته نږدې شو، نو ښه به وي چې سبا ته یو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا غونډه وکړو. سبانۍ غونډې ته دې خیر انجنیر صیب دلاور نه راځي، ځکه دی له ځلاند سره توافق ته نه رسېږي او د ځلاند صیب نرخ هم ډېر لوړ دی، دا هم انصاف نه دی. نو بله لاره به دا وي چې سبا ته انجنیر ځلاند هم یو مسلکي انجنیر او یو ټېکه دار راولي او زه به هم یو ځیرک انجنیر او عملي ټېکه دار راپیدا کړم، زه، ځلاند او تاسې مشران به ورسره نه کښنو، هغوی به دا دواړه نرخونه ټول سره پرتله کړي، د حل لپاره به خپل نظر موږ ته وړاندې کړي، که معقول و، وبه یې منو او که نه بلې ورځې ته به یې پرېږدو)) ټولو وویل: ښېځي سمه ده، پر همدې پرېکړه وشوه.**

**د حمل (۲۳)مه سهار لس بجې مو په ژوندون ټلوېزیون کې د غونډې یا ناستې ژمنه وکړه، یوه ورځ مخکې مازیګر مې انجنیر دلاور ته زنګ وواهه چې تاسو خفه نه شئ، انجنیر ځلاند سره ستاسو واټن زیات و، ستا د زړه درد زه احساسوم، له یوې خوا پیسې نه شته، له بلې خوا قیمت دومره پورته لاړ شي، دا به څوک پوره کوي او بله خبره دا چې خلک به څه وایي چې**



انجنیر محمد سالم

**دومره لوړ قیمت حتماً خپله ورسره شریک یاست، همغه کانه به وشي چې هندو سترې خدای ناراضه! انجنیر دلاور چې یو ډېر پاک انسان او د دې هېواد یو رښتینی بچی دی، ماته وویل: یون صیب! والله په باالله په سمت الله دا نرخ چې ما ورته ویلی، دې کې هم دی ډېره ګټه کوي، خو دی دومره حریص دی چې ټولې پنځه ګوتې په خولې منډي، ما ورته وویل چې ولې ظالمه! دومره ظلم مه کوه، ده ویل چې ته یې څه کوې د پښتنو پیسې دي، ټول پښتانه یې جوړوي، پرېږده چې ماته راشي. نو اوس تاته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وایم پام کوه چې تر دې نرخه ورته پورته نه شې، په ټول افغانستان کې تر دې لوړ نرخ نه شته. ما ویل ښه نظر دی، کوښښ به وکړو. سهار (۹) بجې مې (انجنیر سالم) ته چې زما خپلوان او له کوچنیوالي زما ملګری دی او اوس په ټولګټو وزارت کې یو لایق او فعال انجنیر دی، زنګ وواهه. ما ویل عاجل مې په کار یې وخت لرې؟ هغه وویل: ولې نه، ما ویل (لس) بجې ژوندون ته راشه، ټېکه دار نجیب الله ته مې هم زنګ وواهه، د هغه ټلېفون کار ونه کړ، نجیب ټېکه دار بیا هغه څوک دی چې د ژوندون ټلوېزیون ودانۍ یې جوړې کړې دي، د هغه ورور ارشاد ټېکه دار ته مې زنګ وواهه، هغه جلال اباد کې و او ویې ویل نجیب بهر ته تللی دی. په دې ډول بل ټېکه دار په عاجل ډول ګوتو ته رانغی، لس بجې وې چې انجنیر صیب سالم دفتر ته راغی، ورپسې د جنوبي قومونو د یووالي شورا مشر (نیک محمد ولسمل) او ورسره څو تنه نور مشران چې نومونه یې اوس زما په حافظه کې نه شته، دفتر ته راننوتل، ورپسې انجنیر ځلاند او یو تن بل چې وروسته یې موږ ته معرفي کړ (انجنیر نذیر عظیمي) راغلل. خبرې مو پیل کړې، ما ورته وویل چې له پرونۍ ژمنې سره سم انجنیر سالم، زما له طرفه او انجنیر عظیمي به د ځلاند له طرفه هغه بلې کوټې ته لاړ شي، د انجنیر دلاور او انجنیر ځلاند دواړو نرخونه به سره پرتله کړي. خدای او رسول ته به مخ او بنده ته به شا کړي، د هېچا پلوي به نه کوي، هر څه چې دې دواړو انجنیرانو فیصله وکړه. هغه به ټولو خواوو ته د منلو وړ وي. ټولو همدا وړاندیز ومانه، دا مو هم ورته وویل**



انجنیر نذیر عظیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په تېر سنجش کې که کوم شی ضروري یا نا ضروري وي، په هغو کې هم کمی، زیاتی او سمون راوړلای شئ! دوی دواړه لاړل، نږدې یو ساعت سره ناست وو، بېرته راغلل، خپل یادښتونه یې په لاس کې وو. انجنیر ځلاند ته یې وویل، ستاسو نرخونه ډېر لوړ دي، هغوی ورته هر یو د خپلو خپلو پروژو نرخونه او مثالونه ورکړل. خو بیا هم په دې خاطر چې دا څلی دی او تاریخي څلی دی باید تر ټولو په ښه کیفیت جوړ شي، نو کېدی شي په ځینو برخو کې یو څه تر معمولي نرخ پورته شي، خو هغه نرخ چې تاسو یې غواړئ، هغه ډېر لوړ دی، د انجنیر ځلاند او انجنیر دلاور په نرخونو کې په یوه متر مکعب کانکرېټ کې پنځوس ډالره توپیر و، دوی (۳۰) ډالره د ځلاند له نرخه کم کړل او (۲۰) ډالره یې د دلاور له نرخه ورزیات کړل، یوه څاه، یو بل دایروي استنادي دېوال او برېښنارسونه چې په تېر نالاسلیک شوي تړون کې نه وو، هغه یې هم په دې نوي تړون کې زیات کړل، سافټ کاپي یې ځلاند سره په کمپیوټر کې وه، هغه مو په کې اصلاح کړل، متن مو دوه ځله تر چاپ وروسته چک کړ او کله چې باوري شولو، نو بیا مو په پښتو ژبه له لیکل شوي تړون سره ضمیمه کړ او په دې ډول یو تړون لاسلیک شو، دا تړون په دې ډول دی:

# د پکتین ساختماني شرکت او د نجات څلي د جوړوونکو تر منځ تړون

دواړه لوري د تړون مسؤلې خواوې ګڼل کېږي او خپل خپل مکلفیتونه لري:

الف- د ساختماني شرکت مکلفیتونه:

۱- ساختماني شرکت مکلف دی چې له تړون سره سم په ورکړل شوې نقشه او اړوند جدول کې چې په مجموعي ډول (۸) مادې لري، ټولې غوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پام کې ونیسي.

۲- د کار کیفیت په اعلی درجه مراعت او تضمین کړي.

۳- د دې تړون له نېټې سره سم د دوو میاشتو په بهیر کې ټولې ساختماني چارې بشپړې کړي.

۴- ځینې هغه واړه، جزیي او فرعي مسایل چې په تړون کې یې یادونه نه ده راغلې، خو د څلي اړوند ضرورتونه دي، لکه څلي ته د برښنا رسونه او ځینې نور مسایل، هم د تړون یوه برخه وګڼي او هغه عملي کړي.

۵- د څلي تر بشپړېدو او اړوندو مسولینو ته تر تسلیمۍ پورې د څلي فزیکي امنیت د امنیتي ارګانونو په مرسته خوندي کړي.

ب- د جوړوونکو مکلفیتونه:

۱- جوړوونکي به د کار له تداوم سره سم وخت پر وخت ساختماني شرکت ته پیسې ورکوي.

۲- د کار د کیفیت د تثبیت او څارنې لپاره به خپل څارونکی هیئت ورلېږي.

۳- که چېرې په تړون کې پر لیکل شویو مندرجاتو سربېره پر هغو ساختماني چارو چې د څلي لپاره یې اړتیا احساسېږي، نور لګښت راځي او ساختماني شرکت هم مخکې تر مخکې د هغوی یادونه کړې وي،د فني هیئت تر تثبیت وروسته به د هغو لګښت پرې کوي.

۴- جوړوونکی لوری مکلف دی چې د څلي د جوړېدو او اکمال په باب د جوړوونکي له خوا د فني هیئت او ساختماني شرکت د تخنیکي ټیم تر ګډې فیصلې وروسته د (۲۰) ورځو په بهیر کې د ساختماني چارو پاتې پیسې چې په سلو کې تر (۳۰) سلنې کمې اټکل کېږي، په بشپړ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي او څلی له ساختماني شرکت څخه تسلیم شي.

یادښت: ټول اختلافي مسایل د جوړوونکو او ساختماني شرکت د مسوله خواوو او همدارنګه د ناپېیلي تخنیکي، فني او مسلکي هیئت له خوا چې دواړو خواوو ته د منلو وړ وي، حلېږي. د څلي د لا ښه والي، ښکلا او ښې جوړونې په خاطر، نوي نظرونه او یا ضمني زیاتونې، کمونې او وړاندیزونه د دواړو خواوو په توافق ترسره کېږي.

دواړه لوري ژمن دي چې د څلي په چارو کې د نامسوله خلکو د ناسمو نظرونو او لاسوهنو مخه ونیسي. د ننګونو او ستونزو پرمهال یو بل سره اړیکي ټینګ کړي. دا تړون یوازې د څلي ساختماني جوړښت رانغاړي، د څلي ښکلاییزه برخه به د یوه ځانګړي تړون له لارې وروسته بشپړېږي.

په درناوي

| | |
|---|---|
| د څلي د جوړوونکو په استازۍ | د پکتین ساختماني شرکت په استازۍ |
| پوهاند محمد اسمعیل یون | انجنیر ځلاند |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجات څلي د ساختماني چارو ترون

# Paktin construction company

Zalang

Monar BoQ

| S/No | ACTIVITIES | Unit | Quantity | unit cust | total cost | Remarks |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | |
| 1 | **EARTH WORKS** | | | | | |
| 1.1 | Excavations (any type of soil) : | $m^3$ | 283.5 | 15 | 4,252.50 | |
| 1.2 | Asphalt cutting & Removal from site | $m^2$ | 40 | 15 | 600.00 | |
| 1.3 | PCC under Foundation:<br>Supply of materials, Concrete, shuttering, curing with all related works | $m^3$ | 12.15 | 140 | 1,701.00 | |
| 1.4 | Back fill and compaction soil around of external and Internal walls and foundations:<br>Supply of filling materials, execution, compacting, removal of excess materials from site with all related activities. | $m^3$ | 115 | 15 | 1,725.00 | |
| 1.6 | Back fill Gravel under floor:<br>Supply of filling materials, execution, compacting, removal of excess materials from site with all related activities. | $m^3$ | 25 | 20 | 500.00 | |
| 1.7 | Back fill Gravel under Side walk concrete, Courtyard, Ramp and Stairs and Gravel Pad for Side walk.<br>Supply of filling materials, execution, compacting, removal of excess materials from site with all related activities. | $m^3$ | 25 | 20 | 500.00 | |
| | | | | | - | |
| 2 | **CONCRETE WORKS** | | | | | |
| 2.1 | Reinforced concrete for foundations (28 MPa):<br>Concrete, reinforcement, shuttering, concrete curing with all related activities. | $m^3$ | 138.6 | 220 | 30,492.00 | |
| 2.2 | Reinforced concrete for protection area (28 MPa):<br>Concrete, reinforcement, shuttering, concrete curing with all related activities. | $m^3$ | 26 | 230 | 5,980.00 | |
| 2.3 | Reinforced concrete for wall and column(28 MPa):<br>Concrete, reinforcement, shuttering, concrete curing with all related activities. | $m^3$ | 98 | 330 | 32,340.00 | |
| | | | | | - | |
| | | | | | - | |
| 3 | **Metal works** | ML | 28 | 70 | 1,960.00 | |
| 3.1 | Stair | No | 24 | 100 | 2,400.00 | |
| 3.2 | 4 anchor bolt with 20 cm 20 cm plat thick 10mm | | | | - | |
| 4 | **Electrical works** | | | | | |
| 5 | **Water Work** | LS | 1 | 1800 | 1,800.00 | |
| 5.2 | water well with PVC pipes submersible pump italian 1" | ML | 150 | 20 | 3,000.00 | |
| 5.2 | PVC conduit | | | | | |
| 6 | **FINISHING WORKS** | | | | | |
| 7 | Extra Reinforced concrete for around the Tower (28 Mpa) | M3 | 11 | 150 | 1,650.00 | |
| 8 | Extra Reinforced concrete for Tower (28 Mpa) | M3 | 20 | | - | |
| | **TOTAL** | | | | $ 88,900.50 | |
| | | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



٩٥

١٣٩٦ ل کال دوړ ٣٣

# د پکتین ساختماني شرکت او د نجات څلي

# د جوړوونکو تر منځ تړون

دواړه لوري د تړون مسؤلې خواوې ګڼل کېږي او خپل خپل مکلفیتونه لري:

**الف- د ساختماني شرکت مکلفیتونه:**

١- ساختماني شرکت مکلف دی چې له تړون سره سم په ورکړل شوي نقشه او اړوند جدول کې چې په مجموعي ډول (٨) مادې لري، ټولې غوښتنې په پام کې ونیسي.

٢- د کار کیفیت په اعلی درجه مراعت او تضمین کړي.

٣- ددې تړون له نېټې سره سم د دوو میاشتو په بهیر کې ټولې ساختماني چارې بشپړې کړي.

٤- ځینې هغه واړه، جزیي او فرعي مسایل چې په تړون کې یې یادونه نه ده راغلې، خو د څلي اړوند ضرورتونه دي، لکه څلي ته د برښنا رسونه او ځینې نور مسایل، هم د تړون یوه برخه وګڼي او هغه عملي کړي.

٥- د څلي تر بشپړېدو او اړوندو مسولینو ته تر تسلیمۍ پورې د څلي فزیکي امنیت د امنیتي ارګانونو په مرسته خوندي کړي.

**ب- د جوړوونکو مکلفیتونه:**

١- جوړوونکي به د کار له تداوم سره سم وخت پر وخت ساختماني شرکت ته پیسې ورکوي.

٢- د کار د کیفیت د تثبیت او څارنې لپاره به خپل څارونکی هیئت ورلېږي.

٣-که چېرې په تړون کې پر لیکل شویو مندرجاتو سربېره پر هغو ساختماني چارو چې د څلي لپاره یې اړتیا احساسېږي، نور لګښت راځي او ساختماني شرکت هم مخکې تر مخکې د هغوی یادونه کړې وي،د فني هیئت تر تثبیت وروسته به د هغو لګښت پرې کوي.

٤- جوړوونکی لوری مکلف دی چې د څلي د جوړېدو او اکمال په باب د جوړوونکي له خوا د فني هیئت او ساختماني شرکت د تخنیکي ټیم تر ګډې فیصلې وروسته د (٢٠) ورځو په بهیر کې د ساختماني چارو پاتې پیسې چې په سلو کې تر (٣٠) سلنې کمې اټکل کېږي، په بشپړ ډول ورکړي او څلی له ساختماني شرکت څخه تسلیم شي.

یادښت: ټول اختلافي مسایل د جوړوونکو او ساختماني شرکت د مسوله خواوو او همدارنګه د ناپېیلي تخنیکي، فني او مسلکي هیئت له خوا چې دواړو خواوو ته د منلو وړ وي، حلېږي. د څلي د لا ښه والي، ښکلا او ښې جوړونې په خاطر، نوې نظرونه او یا ضمني زیاتونې، کمونې او وړاندیزونه د دواړو خواوو په توافق ترسره کېږي.

دواړه لوري ژمن دي چې د څلي په چارو کې د نامسوله خلکو د ناسمو نظرونو او لاسوهنو مخه ونیسي. د ننګونو او ستونزو پرمهال یو بل سره اړیکې ټینګ کړي. دا تړون یوازې د څلي ساختماني جوړښت رانغاړي، د څلي ښکلاییزه برخه به د یوه ځانګړي تړون له لارې وروسته بشپړېږي.

په درناوي

د پکتین ساختماني شرکت په استازی


انجنیر خلاند

د څلي د جوړوونکو په استازی

پوهاند محمد اسمعیل یون


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




نېک محمد ولسمل

دا ترون د څلي جوړونکو په استازې ما (یون)، د ساختماني شرکت په استازې (انجنیر ځلاند) او د شاهد په توګه د جنوبي قومونو د یووالي شورا مشر (نېک محمد ولسمل) لاسلیک کړ، خبره خلاصه شوه، دعا مو وکړه، لس زره ډالر چې ماته ګلاب منګل راکړي وو، همغه مې ورتسلیم کړل، لاسلیک مې ترې واخیست، بیا د څلي پر لوري لاړو. خبریال مو هم ځان سره بوت، دا مهال ځینو لیکوالو له هغې جملې څخه (عطاء الله خان حیران) د څلي هغه تصویر چې په سکواټر په ځینو برخو کې کنډو کنډو شوی و، لکه له ونې چې پوټکی واړوې، هم فیسبوک ته پورته کړی و او لیکلي یې وو چې دا د څلي کیسه څنګه شوه؟ زه او انجنیر ځلاند دواړه څلي ته لاړو، مرکې مو وکړې چې دهوا د خرابۍ او په نقشه کې د یو څه ادلون بدلون له امله د څلي چارې یو څه ټکنۍ شوې وې، دادی یو ځل بیا پیل شوې او په راتلونکو دوه-درېو میاشتو کې به یې ساختماني چارې بشپړې شي. دې سره د څلي په باب اکثره تشویشونه، وسوسې او ناسم ګومانونه ختم شول. کارونه هم روان شول او زه یو ځل بیا د پیسو پیدا کولو په لټه کې شوم. لومړی د هغو کسانو په لټه کې شوم چې د لویې غونډې پر ورځ یې خبرې کړې وې او د زیاتې مرستې ژمنه یې کړې وه. حاجي نذیر احمدزي څخه مې نوره هیله نه لرله، د حاجي فضل کریم فضل کیسه خو مې وکړه، مشرقي شورا ته مې احوال ورولېږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې لږ تر لږه (پنځه زره ډالره) مرسته به راټولوئ، خو د هو او نه ځواب یې تر ننه رانغی، ضیاء الحق امرخېل ته مې وویل چې د څلي لپاره مې له سره تړون وکړ، ټوله کیسه مې ورته بیان کړه، هغه لومړی افسوس څرګند کړ، بیا یې وویل: څه وکړم څومره بار پر ما اچوې؟ زما اقتصادي حالت خو هم درته معلوم دی، ما وویل تاسو چې یوه افغانۍ مرسته هم وکړئ، موږ ته په زرو افغانیو منظور ده، ته ځکه مرسته وکړه چې ماته پلمه برابره شي، له نورو څخه یې بیا زه په زور او یا رضا اخلم. امرخېل صیب وویل: (یو لک افغانۍ) ورکړم بس دي؟ ما وویل ستا یو لک په سل لکو منظورې دي، هغه وویل: یو سبا وخت راکړه، بل سبا به درورسېږي. امرخېل صیب خپله ژمنه پوره کړه، د ملي ثبات ټولنې**



ضیاء الحق امرخېل

**غړي (ادم خان سیرت) چې زه ورته (سړی خان لیدلوری) وایم، یوه ورځ ناوخته ماته پیسې راوړې. سم لاسي مې انجنیر ځلاند ته ټلېفون وکړ، د (یو نیم زر ډالرو) لاسلیک مې ترې واخیست، هغه وخت دا پیسې یو نیم زر ډالره کېدل. له امرخېل صیب څخه مې مننه وکړه او زړه مې ورته دعا وکړه.**

**ډاکټر زلمي احمدزي ته مې درې ځله ټلېفون وکړ، ما ویل خپله به هم په کې ونډه واخلي، خو اصلي خبره داده چې (تره) ته به زنګ ووهې چې هغه له مسکو څخه پیسې راولېږي، ځکه د څلي د غونډې پر ورځ خو اصلي ویناوال دی و، له (تره) څخه مې هدف د جمهور رییس (اشرف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غني) تره (قیوم کوچی) دی چې اوس په مسکو کې د افغانستان سفیر دی. ډاکټر زلمی احمدزی چې په ډوډۍ ماری او پښتونولۍ کې نامي دی، خپله مرسته یې نه تائید او نه هم رد کړه، خو د تره په باب یې وویل: ((هغه ته به زنګ ووهم خو فکر نه کوم چې پیسې ترې بود شي، ځکه په دې سن او سال کې چې څوک وي له پیسو سره ډېره مینه لري، (تره) هم همداسې دی)) تر پایه نه د ډاکټر زلمي او نه هم د (تره) د مرستې درک ولګېد. حمید الله فاروقي پسې درې ځله پوهنتون ته ورغلم، دوه ځله مې ګیر ته رانغی، درېیم ځل مې د مورنۍ ژبې د نمانځنې په غونډه کې ولید، د څلي لپاره د مرستې په باب مې ورته وویل، ده وویل: ((بیا به سره کېنو)) څه موده وروسته هغه په یوه انفجار کې ټپي شو، بهر ته لاړ او په دې ډول ترې د مرستې هیله پرې شوه. بیدار ځاځي ته مې څو ځله وویل، یو ځل ژوندون ټلوېزیون ته د مرکې لپاره راغلی و، نږدې نیم ساعت ورسره په ټلوېزیون کې وګرځېدم، لومړی مې د منار په پرانیسته غونډه کې د درجن درجن ډولیچانو د راوستلو له امله مننه ترې وکړه، بیا مې ورته وویل چې دا دویم ګام هم پورته کړه او څلي سره ډېره نه یوازې (دوه زره ډالره) مرسته وکړه، هغه وویل: ((والله زه اوس ډېر غریب شوی یم، د یوې روپۍ وس هم نه لرم)) له ده څخه مې هم هیله قطع شوه. حلیم فدایي ته، چې دا مهال د لوګر والي دی، هغه ته مې هم څو ځله زنګ وواهه، ما ویل څلي سره مرسته وکړه، ځان به یې په خندا تېراوه، ما ورته وویل: داسې خو هم نه کېږي چې څلي به موږ جوړوو او ولایتونه به تاسو کوئ، ما وویل دوه زره ډالره مرسته به وکړې، بیا به یې وویل چې دغه پنجشنبه درځم او دا بله پنجشنبه درځم، مرسته راوړم، خو تر دې دمه نه هغه پنجشنبه راغله او نه هم حلیم فدایي. حکم خان حبیبي (د خوست والي) ته مې زنګ وواهه او له منار سره د مرستې یادونه مې ورته وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه په خندا خندا وویل: ((یون صیب ته زموږ د ټولو مشر یې، ته چې هر څومره بار پر ما کېږدې، پورته کوم یې، خو زه ډېر خوار والي یم، د نورو په شان نه یم چې هر څه یې په لاس کې دي، خو بیا هم خپله ونډه اخلم.)) د کونړ والي (کلیمزي صیب) هم ورته ژمنه وکړه، رښتیا خبره داده چې زه دومره په نورو کارونو کې مصروف شوم چې د دوی مرسته مې بیا تعقیب نه کړای شوه او دوی هم داسې سخاوت ونه کړ چې په خپله یې رالېږلې وای. د هلمند**



شېر علي خان شېر

**والي (حیات الله حیات)، قدرت الله سهاک، احسان الله کاموال، غلام نبي فراهي، عمر ننګیالی، نادر خان کټوازی او ځینې نور راځخه همداسې پاتې شول، د همایون همایون پیدا کول مشکل و، زمرک پادخوابي یو ځل وعده خلافي وکړه، غونډه یې جوړه نه کړای شوه، بیا مې ورته ونه ویل. جرمنې کې زما یو نږدې دوست (شېرعلي خان شېر) ته مې زنګ وواهه چې (اصغرخېل منګل) ته که وواییې چې یو څه مرسته راټوله کړي، هغه ته اصغرخېل منګل منفي ځواب ورکړی و، ویلي یې وو چې زما اقتصاد خراب دی او نور څوک مرسته نه کوي. خپله شېر علي خان شېر چې وخت پر وخت یې له بېلابېلو افغانانو سره مرسته کړې، خپله مرسته (یو زر یورو) راولېږله او ویې ویل چې دغه مې اوس له وسه پوره وه، ښاغلي غلام محمد کاموال ته چې مخکې یې پنځه سوه ډالره مرسته کړې وه، پنځه سوه ډالر نور راولېږل، احدي صاحب ته مې نامستقیم احوال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورلېږلی و، خو بېرته یې پر احوال پوه نه شوم. نبي مصداق چې اصلاً د پکتیا اوسېدونکی او فعلاً د جمهور رییس د رسنیزو چارو یو مشاور دی او ځو ځله یې ماته د دې څلي یادونه کړې وه او دا یې هم ویلي چې د ده د کورنۍ مشرانو هم د سقاوي اړو دوړو په له منځه وړلو کې نقش لوبولی او د نادر خان له خوا ورته د بهادرۍ سند یا فرمان هم ورکړل شوی، د څلي د بیا جوړونې یې ډېره یادونه کوله، هغه ته مې زنګ وواهه چې باید په څلي کې مرسته وکړي ، هغه ته مې وویل چې (دوه زره ډالره) به پیدا کوې، هغه وویل زما معاش خو تاسو ته معلوم دی چې دومره نه دی، زه به یې له کومه کړم؟ ما ویل له خپل ټولنیز، سیاسي، فرهنګي او اخلاقي نفوذ څخه ګټه پورته کړه، له بل چا یې واخله، بل څوک چې وس یې لري هغه تشویق کړه، هغه وویل زه به نو څوک تشویق کړم، خو بیابه هم خپل کوښښ وکړم، ما زړه کې وویل د جمهور رییس یو مشاور چې په خپل ټول توان سره د یو ملي ارزښت لپاره دوه زره ډالر نه شي پیدا کولای، نو هغه به دا ټول مملکت څنګه اباد کړي؟ لنډه دا چې مصداق صیب ته مې وویل: له هرې وجې چې وي، دا پیسې غواړم او ټولو پسې مې همداسې لیکلي دي، شل-پنځه ویشت ورځې وروسته مصداق صیب ټلوېزیون ته راغی، د خپلې کورنۍ د یو مشر د بهادرۍ فرمان، چې نادرخان ورکړی و، هغه هم ورسره و، ماته یې وویل چې تاسو د څلي لپاره د مرستې ویلي وو، ما چې هر څومره هڅه وکړه چا تر (پنځه سوه) څخه زیات وس نه درلود، نو زه پر دې بریالی نه


نبي مصداق

(c) ketabton.com: The Digital Library




شوم چې له چا څخه مرسته راټوله کړم، زه خپل دین ادا کوم، جېب ته یې لاس کړ، خپله بخښکۍ یې راوویسته، (سل ډالره) یې ترې راوویستل ویې ویل، تاسو (دوه سوه ډالره) راته ویلي وو، سل نور چا رانه کړل او دا دی ما خپل سل راوړل. له هغو نورو (پنځه سوو) څخه یې هم هدف (پنځه سوه افغانۍ) و، نه پنځه سوه ډالر، چې دی یې په پیدا کولو کې پاتې راغلی و، زه هک پک حیران شوم او په دفتر کې نور هغه ملګري چې یو په کې هم د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اوسېدونکی او د ملي تحریک غړی (ځرېن هدایي) و، ټول حیران شولو. ما مصداق صیب ته وویل چې درسره یې کړه په کار به دې شي، ستاسو له مرستې ډېره مننه، په دې پیسو نه ځلی جوړېږي او که په دې مزله موږ روان شو، نو سلو کلو کې هم هدف ته نه رسېږو، د هغه سل ډالره مې بېرته مسترد کړل، خو دی تر اخره هم پوه نه شو چې ما ورته د څومره مرستې د راجلبولو ویلي وو، مصداق صیب اسناد ماته راکړل پر دې وخت یو ټلېفون ورته راغی او بیا لاړ. ځرېن هدایي ماته وویل: ما ویل مصداق صیب خو ډېر غټ سړی دی، دی به اوس یو بنډل راوباسي او وبه وایي چې نورې درته له نورو څخه اخلم، رایه مه وهه، دا خو لا هیله لري چې په ځلي کې یې د کورنۍ د مشرانو یادونه هم وشي، هی هی افسوس د دې وطن پر حال، زه والله د ده پر ځای وشرمېدم. دا مهال ماته سوچ پیدا شو، یو څوک چې د جمهور رییس د رسنیزو یا فرهنګي چارو مشاور وي، د هغه طاقت او زور دومره وي، نو د نورو خلکو به څه حال وي؟ د مصداق صیب د کورنۍ د یو تن مشر د بهادرۍ او یا رتبې سند به دلته ځکه راوړم چې هغه مرحوم له نن څخه نږدې (۷۸) کاله وړاندې د افغانستان لپاره توره وهلې وه، خو دا چې نن موږ کې د هغو د ځلولو وس نه شته دا نو زموږ ګناه ده. ځلي کې د ټولو خلکو یادونه ممکنه نه ده، نو ښه ده چې دلته یې یادونه وشي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه یاد تازه کړو:**



فرمان پادشاهی

صداقتمند [illegible]!

نظر بفدا کاری وصداقتیکه ابراز داشته اید شما را برتبهٔ ( [illegible] ) ملکی ممتاز گردانیده بفرمان هذا ارشاد می نمایم که خودرا ( [illegible] ) ملکی بشناسید.

**د مرستې راټولولو په همدې کړلېچن بهیر کې وو چې کمال ناصر اصولي صیب راته زنګ وواهه، ما ورته وویل اصولي صیب چېرته یې؟ زما خو دې په ډېرو د ټلېفونونو زړه راشین کړ، هغه وویل: ((یو ټلېفون مې بند دی او دا اوس چې مې درته زنګ وواهه، دا دایمي فعال دی، خو زه دا ډېره موده وشوه بهر کې وم، هغه د څلي له جنجاله خبر شوم، نو ځکه مې درته زنګ وواهه، ویې ویل هغه ځلاند دی که څه نومېږي، هغه دا څلی ورانوه؟)) ما وویل، دغسې ګواښ یې کړی و، خو اوس زه مجبور شوم، د حمل میاشتې په وروستیو کې ورسره یو لیکلی قرارداد وکړم، ده وویل: ((دی څه کاره دی او قرارداد ورسره چا کړی؟)) ما ورته ټوله کیسه بیان کړه او ورته مې وویل چې وروستی لیکلی تړون مې ورسره د مجبوریت له امله کړی، ده وویل جنرال رازق ته ما ویلي وو، هغه پیسې رااستولي که**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه؟ ما وویل ټولې رارسېدلې او ساختماني شرکت ته مې وررسولې دي، خدای شته اصولي صیب د ساختماني شرکت پر مسول سخت په قهر و، ویل یې زه به ورسره گورم، بیا ما اصولي صیب ته وویل: که تاسو غواړئ له سره ورسره قرارداد وکړئ، هم سمه ده زه به د قرارداد کاپي دروړم، هغه ویل نه څه چې تاسو ورسره منلي، همغه سمه ده، زموږ د تائید وړ ده، ته زموږ عام او تام نماینده یې، ښه اوس دا راته ووایه چې څه وکړو؟ ما وویل ټول هغه کسان چې د څلي پر ورځ تر ټولو ډېر زیات مطرح وو، هغه مخکښ کسان به ستاسو په ځای او یا هم په ژوندون ټلوېزیون کې سره کېنو او پاتې کارونه به تعقیب کړو. ده وویل: ښځي مو خوښه ده، زه درته بیا ټلېفون کوم، درې څلور ورځې لا وتې نه وې چې اصولي صیب ټلېفون وکړ او ویې ویل: یون صیب! همدا اوس نذیر احمدزي صیب سره ناست یم، د څلي په باب مې ورسره خبرې وکړې، راځئ چې دا مسله ښځي حل کړو، ما ویل د احمدزي صیب کور ته خو زه نه ورځم، هغه سره خو ما خبره خلاصه کړې، څو چې د پښتنو جرگې ته راسره کېنني، نه ورځم، هغه وویل: احمدزی صیب وایي چې زه ورځم ټلوېزیون ته، ما ویل نه دلته زما خپل ځای دی، که خبره تروه شي، ښه به نه وي، ده وویل خیر دی زما کور کې به سره کېنو، راتلونکې جمعه غرمه زما کور، صحیح ده؟ ما وویل سمه ده. ده وویل احمدزی صیب به هم هملته راشي، ټینگه وعده یې ده. د جمعې ورځې څه کم دولس بجې په خوشال مېنه کې زه له دوه درېیو تنو نورو ملگرو سره د اصولي صیب کور ته ورغلم، څو نور مېلمانه هم وو. اصولي صیب ته مې ټول داستان او خپلې گیلې مانې له سره بیان کړې، هغه وویل: وروره له تکلیفونو دې مننه، خو اوس به خپله کارونه سره منظموو، پیسو ته تشویش مه کوه، هغه به پیدا شي، چورت ورته مه خټه کوه. ما وویل لست مې برابر کړی، د همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لست مطابق چې پر مخ لاړ شو، هم کارونه ښه کېږي، راضیې منګل خور ته مې ټلېفون کړی و، هغې خپله ژمنه کړې، اصولي ووېل، هغې ته به زه همدا اوس زنګ ووهم، هغې ته یې ټلېفون وکړ، هغې د خپل ډرېور په لاس (درې زره ډالر) راولېږل.

احمدزي صیب ته منتظر شو، خو یو ځل بیا یې وعده ماته کړه، ما اصولي صیب ته ووېل، وعدې وکړي او بیا یې درک نه لګي، داسې وعدې یې ما سره ډېرې کړې دي. اصولي صیب غرمې ډوډۍ تیاره کړې وه، نور مېلمانه هم وو، له خوست څخه څو تنه نور مېلمانه هم وو، یو هم په کې د خلقیانو د حاکمیت پر مهال والي و، خو غلا یې نه وه کړی او رشوت یې نه و اخیستی، د اوسنیو حالاتو او واکمنو خلاف، شخصیت یې درلود، له هغه سره مو هم تود



د ولسي جرګې غړې راضیه منګل

سیاسي مجلس وکړ او پر اوسنیو حالاتو ښه ډېر وغږېدو، د دواړو پرتلنه مو هم وکړه. اصولي صیب ته مې ځینې وکیلان چې ما په لست کې په پام کې نیولي وو، په نښه کړل، هغه یې مسولیت واخیست او ویې ویل چې ضرور یې پیدا کوم او مرسته پرې کوم، اوونۍ- دوه وروسته مې یو ځل بیا اصولي صیب ته زنګ وواهه، ویې ویل تر اوسه مې یو هم ګیر ته نه دی راغلی، ما ورته ووېل خپل ځان دې له یاده ونه وځي، هغه وخندل، مورې خو یو، ودرېږه چې اول دا نور ګیر کړو، ما و تاته خو راپرغاړه ده. څو ورځې وروسته زما مېرمن (ارین یون) یو شمېر وکیلانو ته په ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټلوېزیون کې یوه مېلمستیا کړې وه، اصولي صیب هم دې مېلمستیا ته رابلل شوی و، د ملي دفاع نوماند وزیر ښاغلی (طارق شاه بهرامي) هم له وکیلانو سره د لیدو هیله لرله چې دې غونډې ته راشي، ځکه دا داسې یو محفل و چې ده کولای شول، ځینو وکیلانو سره له نږدې وګوري، ځکه ټاکل شوې وه، هغه په همدې شپو ورځو کې ولسي جرګې ته د رایې اخیستنې په خاطر وروپېژني. پر وکیلانو سربېره د (حمیدالله خیبر) په ګډون د هېواد یو شمېر نورو مخورو، ټولنیزو، سیاسي او علمي شخصیتونو هم په دې غونډه کې ګډون درلود، غونډه یا مېلمستیا اصلاً د ماښام تر اوو بجو وروسته وه، ما لا دمخه اصولي صیب ته زنګ وهلی و چې دی تر نورو وکیلانو ساعت دوه دمخه راشي، هم به له ټلوېزیون سره ځانګړې مرکه وکړي او هم به د څلي په باب سره وغږېږو، اصولي صیب څه کم څلور بجې ټلوېزیون ته راغی، دا مهال نو ما رحمت الله ځلاند ته هم احوال ورکړی و چې اصولي صیب هم راځي، ته هم راشه چې د څلي د مشکلاتو**



د ولسي جرګې غړی کمال ناصر اصولي

**په باب ورسره یو ځل بیا خبرې وکړو. دوی مې یو بل ته معرفي کړل، که څه هم اصولي صیب خو پېژندګلوۍ ته اړتیا نه درلوده، خو ځلاند مې ورته معرفي کړ چې دی د څلي قراردادي دی، اصولي صیب دا مهال ورته وویل: ((ښه همدا ته وې چې څلی دې ړنګوه؟)) هغه ورته وویل: ((هو موږ چې تاسې غوندې مشران لرو، خود مې ړنګوه)) اصولي ورته وویل، دا ستا شخصي و؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library




په خپلو پیسو دې جوړ کړی و؟ هغه ورته وویل زه تا ښځي په رسمیت نه پېژنم، ما سره یون صیب قرارداد کړی، زه پوهېږم، یون صیب، ته لا په کې څوک یې؟ په والله چې د څلي تر غونډې وروسته مې دا لومړی ځل دی چې گورم دې، څه خپل کار دې کوه، دوی دواړه سره دومره گرم شول چې د کلمو تسلسل نور خطا شو او هغه الفاظ یې یو بل ته سره وکارول چې دلته د کاغذ پر مخ د لیکلو وړ نه دي، اصولي صیب انجنیر ځلاند نه پېژنده چې تر دویمې خبرې وروسته له نورمال حالت څخه وځي، څرنگه چې ما ورسره دا څو میاشتې سرو کار و، نو د الفاظو کراهت او لغوي زېرمه یې راته معلومه وه، کوښښ مې وکړ چې دواړه سره ساړه کړم، خبره یو څه ارامه شوه، اصولي صیب لست راواخیست او په مسلسل ډول یې هر یو ته زنگونه ووهل، هغوی هم ورسره په متواتر ډول ژمنې وکړې، دا مهال نو موږ قراردادي ته نږدې (۴۷۰۰۰) ډالر وررسولي وو. اصولي صیب سره چې کومو کسانو ژمنې وکړې، دا پیسې تقریباً پوره شوې، اصولي صیب وویل، واخله دا دې څلی، ما ورته وخندل، ما وویل د کاغذ پر مخ د دې څلي پیسې څو ځله پوره شوي، خو عملي ډگر داسې نه دی، ده وویل، دغه دی ستا په مخ کې یې راسره ژمنې وکړې، دا خلک دومره بې وعدې دي؟ ما ویل وروسته درته معلومېږي. په لېست کې اکثره هغه کسان چې ما ورته په نښه کړي وو او یو څه نوي اشخاص هم په کې شامل وو.

ده وویل ته خپل یو تن ورپسې سر له سبا ورولېږه، زه به ورته همغه شېبه زنگ وهم او دی به ترې پیسې ترلاسه کوي. (څړبن هدایي) چې دا مهال هلته ناست و، ما ویل دی خپل موټر لري، دی به ورپسې گرځي، هغه وویل سمه ده، زه ورپسې ځم، خو اصولي صیب دې زما تر تگ دمخه هغه قانع او تیار کړي. دا مهال اصولي صیب انجنیر ځلاند ته وویل، ته خو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پکتیا یې لاپې ماپې خو ډېرې وهې، ته خپله په کې څو مرسته کوې؟ هغه وویل، زه یې هم کوم، اوس مې هم کړې، اصولي صیب وویل، اوس موس پرېږده،ووایه چې څو مرسته کوې؟ هغه بیا وویل، کوم یې. ده ورته وویل، ولیکه (لس زره ډالره)، هغه وویل: نه ډېرې دي، اصولي بیا وویل ولیکه پنځه زره. ما پنځه زره ډالر د یادښت په همغه کتابچه کې ولیکل چې له انجنیر ځلاند څخه مې د پیسو د وررسېدنې لاسلیک اخیسته، اصولي وویل: لاسلیک یې کړه، ځلاند راغی لاسلیک یې وکړ. نور لنډ متن ما ولیکه، خو د (رسید) کلمه ده په کې ورزیاته کړه. (رسید) په دې مانا چې دا پیسې هم د قراردادي په جم کې محاسبه شوې.



څو شېبې وروسته ما ځلاند ته وویل، ګوره لاسلیک خو دې وکړ او اصولي صیب هم دا په رسېدلو پیسو کې حسابوي، فکر دې وي چې ګوره زه بیا دا پیسې درپسې حسابوم، هغه په خندا شو، زه خو څه ساده نه یم، زما همغه کمک بس دی چې نرخ دې راباندې شپاړس زره ډالره ارزانه کړ، ما ویل ښه ته نو خدای وهلي په قربانۍ کې حسابوې، ما باندې اوس تور دی او انجنیر صیب دلاور وایي چې د (ای، او، ام) تر نرخه دې هم پورته ورکړی، ده وویل، انجنیر دلاور هسې چټیات وایي، هغه د څه شي انجنیر دی؟ ما وویل، خوښه دې خپله خو لاسلیک به دې نه کاوه، نورو شفاهي ژمنې کړې دي او تا دادی لاسلیک هم پسې وکړ. ځلاند په خپله مخه لاړ، اصولي د ټلویزیون له مرکې تېر شو او د ټلوېزیون په انګړ کې ان د ماښام تر لمانځه پورې چې نور مېلمانه رارسېدل، ده ټولو خلکو ته په بیا بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلېفونونو تېره کړه. بیا یې راته وویل بېغمه مې کړې. ما چې په شفاهي ژمنو کې تر اصولي صیب زیاته تجربه لرله، ځان سره غلی شوم، ده ته مې وویل، کاشکې پښتوا راغلی وای، دا مشکل چې دې په دومره اسانۍ حلولای شو، نو ولې پرې موږ دومره وکړېدلو؟ د شپې اته بجې ډوډۍ تیاره شوه، شل دوه ویشت وکیلان او نور ګڼ شمېر مخور شخصیتونه چې ټول شمېر یې نږدې سلو تنو ته رسېده راغلي وو، ډوډۍ خلاصه شوه، نوماند وزیر (طارق شاه بهرامي) هم ځینو وکیلانو ته ځان معرفي کړ، ځینو ورسره د مرستې او همکارۍ ژمنه هم وکړه. ما اصولي صیب ته وویل چې اوس خو دلته ځینې وکیلان هم شته، څلي سره د مرستې خبره ریاده کړه. مولوي صیب تره خېل محمدي هم ناست و، اصولي صیب ورته وویل، مولوي صیب! څلي نه خو خبر یې چې د ټولو څلی دی، اوس وایه څومره مرسته کوې؟ هغه وویل تابعدار یم، یو لک افغانۍ به درکړم، اصولي وویل، دوه لکه یې



الحاج مولوي تره خېل محمدي

کړه، راضیې منګل هم وویل، یو لک یې زما لپاره زیاتې کړه، تره خېل صیب وویل، څه چې تاسې وایئ، دا یې دوه لکه افغانۍ، سبا به یې زما سکرتر (یون صیب) ته راوړي، دې وخت کې مې اصولي صیب ته وویل چې (حمیدالله خیبر) زما ملګری دی، هغه ما سره په ژوندون ټلوېزیون کې ډېر کومک کړی، زه ورته نه شم ویلای، هغه خرابات او مناجات سړی دی، ورته یې ووایه، نوماند وزیر صاحب هم دلته دې مېز کې ناست و، حمید الله خیبر ته مو غږ کړ، هغه هم راغی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول مې دوی ته معرفي کړ، د خیبر ټولنیز بنسټ مشر او ګڼ شمېر علمي، ټولنیز او سیاسي خدمتونه یې کړي، د لغمان د الینګار دی، په قوم هم منګل دی، راضیې منګل ته مې وویل چې ستا قومي هم دی، اصولي صیب ورته وویل، خیبر جانه! څلي سره به کومک کوې او ښه ډېر کومک، پوهېږم چې پیسې هم ښې ډېرې لرې. خیبر وویل، په سترګو! ووایه څومره مرسته وکړم؟ اصولي صیب ورته وویل، جګه مرسته جنرال رازق کړې؛ شل زره ډالره، ته به هم شل زره ډالره مرسته کوې، هغه وویل ومې کړه، سمه ده، اصولي ورته وویل، قول دی، هغه وویل هو قول دی، راضیې منګل وویل، بیا هم منګل، زنده باد منګل، اصولي صیب د کندهار وکیل (عمر ننګیالي) ته وویل چې مرسته وکړه، هغه هم وویل، زه به خپله مرسته یون صیب ته راولېږم، د شپې مېلمستیا په خیر تېره شوه، ټول وکیلان صاحبان او نور مېلمانه په خیر سره رخصت شول. مولوي صیب تره خېل سبا مازیګر د خپل سکرتر (بابکرخېل) په لاس (دوه لکه) افغانۍ راولېږلې، ما په ډالرو محاسبه کړې (درې زره ډالره شول) او یوه ورځ وروسته مې قراردادي ته ورکړې، د (حمیدالله خیبر) پیسې یو څه موده وځنډېدې، خو اصولي صیب بیا تعقیب کړې، خیبر ماته زنګ وواهه، چې (لس زره ډالر) درکولای شم، اوس راسره نورې نه شته، ما وویل له دې څخه دې هم مننه، هغه پیسې ما تر لاسه کړې او پر همغه مهال مې قراردادي ته ورتسلم کړې. خو هغه لېست چې اصولي صیب جوړ کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیامو د هغو د حاصلو لپاره څړبن هدایي ته دنده وسپارله، د څړبن هدایي له هڅو سره سره هېڅ شی ترې ترلاسه نه شول، خو ځینو نورو خلکو بیا خپلې ژمنې عملي کړې. په دې ډول د څلي جوړېدو چارې هم روانې وې او پیسې مو هم له تړون سره سمې وررسولې، ښاغلي گلاب منگل ما سره دا ژمنه هم کړې وه چې (پنځه زره ډالره) نوره مرسته هم کولای شم، خو تر دې زیات مې نور زور نه رسي، نور ته خپله پوهېږې چې له کومو اشخاصو یې واخلې. تر دې وړاندې ښاغلي یوسف اصیل زوی او حاجي صیب عتیق الله احمدي دواړو(پنځه پنځه زره ډالره) مرسته رالېږلې وه او ډاکټر رضوان احمدزي (یو زر ډالره) چې دې ټولو ښاغلو ته اصولي صیب سپارښتنه کړې وه. د څلي لومړنۍ ساختماني چارې له یو لړ نیمگړتیاوو سره سره، بشپړېدو ته نږدې شوې او زموږ هغه اندېښنې چې د پیسو د نشتوالي له امله راپیدا شوې وې، تر زیاته بریده کمې شوې.



حمید الله خیبر


د دې لپاره چې قدرمنو لوستونکو ته د مرستې د څرنگوالي او څومره والي او همدارنگه ساختماني شرکت ته د هغو د رسېدنې په خاطر نور وضاحت هم وشي، نو ښه به وي چې خپله د ساختماني شرکت د مسول لاسلیکونه او سندونه هم دلته راوړو.

حقیقت دادی چې د (۱۳۹۶ل) کال د وري پر (۲۳)مه نېټه چې ما کله له انجنیر ځلاند سره لیکلی تړون وکړ، نو تر هغه وروسته مې ورځخه د پیسو د ورکړې پر مهال لاسلیک هم اخیسته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر هغې وړاندې مې هغه ته وررسېدلې پیسې د یادښت په کتابچه کې لیکلې وې، خو لاسلیک مې ترې نه و اخیستی، خو کله چې مې ورسره ترون لاسلیک کړ، هم مې ورڅخه د تېرو پیسو د وررسېدنې لاسلیک واخیست او هم مې بیا وخت پر وخت د نورو پیسو لیکلی سند اخیسته، لکه دغه پاڼه وګورئ، لومړۍ برخه یې د وري تر (۲۳)مې دمخه پیسې دي چې د وري پر (۲۳)مه ترې لاسلیک اخیستل شوی او دویم لاسلیک یې د وري پر (۳۰)مه نېټه شوی دی.**




**دریېیم یې د ثور پر لومړۍ نېټه لاسلیک شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بل اقرار لیک چې د ثور پر (۷)مه او (۲۶)مه نېټه لاسلیک شوی دی او همدغه راز د جوزا پر (۸)مه نېټه له ورکړل شویو پیسو سره ټول (۶۱۶۰۰) ډالر د جوزا تر اتمې نېټې پورې قراردادي ته ورکړل شوي دي.**


اقرارخط

Zalan

Zalan

Zalan


26/02/1396

**تر دې وروسته مې بیا د جوزا پر (۸)مه نېټه دا ټولې مرستې په یو لست کې راوړې او د غلام محمد کاموال پنځه سوه ډالر نوره مرسته مې هم ورسره یو ځای کړه، یانې کاموال صیب پنځه سوه ډالره پخوا او پنځه سوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یې اوس مرسته کړې وه، ټول زر ډالره شول، یانې په مجموعي ډول انجنیر ځلاند ته د جوزا تر (۱٦)مې پورې (٦٢١٠٠) ډالره ورسپېدل او لاسلیک مو ترې واخیست.**



د ۱۳۹٦ کال د جوزا تر (۸) نېټې
پورې په نجات څلي شوې مرسته

| | | |
|---|---|---|
| ۱ـ | حاجي عبدالباري منګل | 5000 ډالره |
| ۲ـ | حاجي حکیم خان | 6000 ډالره |
| ۳ـ | غلام محمد کاموال | 500+500 ډالره |
| ۴ـ | جنرال رازق | 20000 ډالره |
| ۵ـ | رشید ایوبي (یو لک افغانۍ) | 1500 ډالره |
| ٦ـ | ګلاب منګل | 10000 ډالره |
| ۷ـ | ضیاالحق امرخیل (یو لک افغانۍ) | 1500 ډالره |
| ۸ـ | راضیه منګل | 3000 ډالره |
| ۹ـ | حاجي عتیق الله احمدي (کندهار) | 5000 ډالره |
| ۱۰ـ | شیرعلي خان شید | 1100 ډالره |
| ۱۱ـ | مولوي تره خېل محمدي (دوه لکه افغانۍ) | (3000) ډالره |
| ۱۲ـ | حاجي یونس (کندهار) | 5000 ډالره |


یا (61600) ډالره

د جوزا (۱٦) ... 62100 ډالره ... 500+61600

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر دې وروسته یو زر ډالره ډاکټر رضوان احمدزي، لس زره ډالره حمید الله خیبر او پنځه زره ډالره نور ګلاب منګل مرسته وکړه، د سرطان تر (۲۸)مې نېټې پورې څلاند ته (۷۸۱۰۰) ډالره ورسېدل.**


Memo No.
(63100)
Zalan
(73100)
Zalan
18/06/2017
78100
28-4-۱۳۹۶
Zalan

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نو هغه وروستۍ پیسې وې چې ساختماني شرکت ته تر یادې نېټې پورې ورسېدې، د شوي تړون له مخې دوی باید د څلي ساختماني چارې بشپړې کړې وای او پاتې پیسې یې باید موږ د ساختماني چارو تر ارزونې وروسته ورکړې وای. په دې ډول هغه ژمنه چې موږ ورسره په تړون کې کړې وه چې پیسې به وخت پر وخت وررسوو، دې نېټو ته په کتنې سره په کې کوم زیات زماني ځنډ نه دی راغلی. د سرطان یا چنګاښ تر اتلسمې وروسته ما ساختماني شرکت ته وویل چې کارونه مو راټولوئ، موږ کوښښ کوو د کار دویم پړاو ته داخل شو چې نوره کیسه به یې په همدې پسې بحث کې ولولئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کار د لومړۍ برخې بشپړتیا او د ځینو ستونزو بیا راټوکېدا

کله چې لومړنۍ ساختماني چارې بشپړېدو ته نږدې شوې، تر هغه څو ورځې وړاندې ما قراردادي راوغوښت، ما ویل کارونه خو مخ پر خلاصېدو دي، که ستاسو شرکت د څلي د باندني ډېکور، ډېزاین او ښکلا په برخه کې کومه نظریه موږ ته راکړي، مانا د څلي نما او څو ډوله نماګانې او همدارنګه هغه ساختماني مواد چې د څلي لپاره په کار دي، که ټول راته لست کړئ، ښه به شي، موږ به نرخونه وګورو، دې کې درې خبرې دي، که بل چا تر تاسو په ښه او ارزانه نرخ کاوه، نو موږ به بل چا سره خبره وکړو، که ستاسو نرخ تر هغو ښه و، تاسو ته به یې ببرته درحواله کړو او ان دېته هم حاضر یو چې که تر بل چا ستا نرخ یوه کمه سلنه لوړ و، هم تاسو سره به تړون وکړو، هغه هم په دې خاطر چې تاسو له سره کار پیل کړی دی، خو د تېر قرارداد په شان دا تړون نه شي کېدی، ځکه یو خو د پیسو پیدا کول سخت دي؛ د خلکو اقتصادي حالات خراب شوي، خلک ډېر سخاوت نه شي کولای او دویم زه خپله د خلکو له خبرو ځان ساتم، اوس هم یو شمېر خلک وایي چې دا قرارداد مو په لوړ قیمت ورکړی دی.

دوی وویل سمه ده. دا مهال مې دسلیم کاروان شرکت یو مسول ملګري (صفي الله کاروان) ته هم زنګ وواهه، هغوی او (خالد فدایي) مې یو ځل د څلي د جوړېدو پر مهال کتلي وو. زه د څلي لیدو ته تللی وم، دوی له څلي تاوېدل، یو څو بهرنیان هم ورسره وو، کله چې یې زه ولیدم، خپل موټر یې ودروه، د څلي د کار پر بهیر هم خوشاله شول او ماته یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله یې د رنګ وخت راورسېد، ماته ووایه هر ډول او هر څومره رنګ چې دې په کار وي، د رنګ مرسته به زه وکړم، ما ترې مننه وکړه، د نما د جوړېدو لپاره مې انجنیر ځلاند ته وویل چې اصلي نقشه (سافټ کاپي) چې دوی سره په کمپیوټر کې وه، هغوی ته ولېږه، ویل یې سمه ده، تر درې ورځې انتظار او ټینګار وروسته هم نقشه سلیم کاروان شرکت ته ونه رسېده، بله ورځ انجنیر ځلاند او انجنیر عظیمي زما دفتر ته راغلل، څو نماوې یې راوړې، خو خوښې مو نه شوې، خو زموږ ذهن ته یې یو ښه تصور راکړ. ما ویل نور کار هم پرې وکړئ، انجنیر عظیمي وویل: نور کار به هم پرې وکړو. په دې ترځ کې مو د څلي د دویم پړاو پر احتمالي ډیزاین او قیمت خبرې وکړې، دوی وویل، موږ یو احتمالي نرخ محاسبه کړې، ما وویل، تاسو یې ووایئ، انجنیر ځلاند وویل، تقریباً (څلوېښت زره ډالره)، ما وویل، دا خو ډېر قیمته دی، موږ دا اوسنۍ پیسې نه شو پوره کولای، دا نورې به څنګه شي؟ بیا یې وویل، که ځینې شیان، لکه د بیرغونو ستنې، لایټ سستم، قیمتي ګروپونه او ځینې نور شیان تاسې واخلئ، نو د (دولس لکه) افغانیو شاوخوا کې به تمام شي، ما ویل خو ټول شیان یو ځل له قراردادي سره اجاره کوو، دا خو لا بله لانجه ده چې یو شی به تاسو اخلئ، یو به موږ، بیا به یې ملامتي، خرابوالی او ښه والی یو پر بل اړوو، دوی ته مې وویل یو متر مربع زینتي وطني سره غرنۍ تیږه په څو لګوئ؟ ځلاند وویل، له پنځه زرو څخه تر اته زرو افغانیو پورې، وروسته یې وویل چې که زه هېڅ ګټه پرې حساب نه کړم؟ نو پنځه زره افغانۍ، ما وویل دا خو په نیویارک کې هم دومره قیمته نه ده، ده وویل، دا هم هغه صورت کې چې زه یې مزدورکار ته ورکړم، د هغه اجوره کېږي، ما ویل له دې څخه به اوس بېخي تېر شو، تاسو اوس دا خپل کار بشپړ کړئ، پر دې به بیا وروسته خبرې کوو. زما زړه کې و چې که تر (۸-۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه) افغانیو پورې هم ټول کار تمام شي، بیا به هم زړه ورته ښه کړو، خو دا بل قیمت ډېر لوړ او په لنډ وخت کې ورته پیسې پیدا کول هم اسانه کار نه و، دوی ته مې وویل چې تاسې خپل ساختماني کار خلاص کړئ، د دویم پړاو لپاره به زه یو ځل بیا له نورو مشرانو سره خبرې وکړم، بیا به پرېکړه وکړم، خو اوس اصلي خبره داده چې ساختماني چارې یانې د اسکلېټ برخه خلاصه شي او همدارنګه، دویمه دایره بشپړه شي، ډکون وشي، زینه جوړه شي او د څلي داخل کې کنډو کپر ځایونه سره جوړ شي، پر همدې مو پرېکړه وکړه.

د څلي بهرنۍ برخه کې د ټول څلي پلستر، د زینتي ډبرو لګول، لایټ سسټم، کټارې، د بیرغ د ستنو نصب او نور مهم شیان شامل وو. دا هم په حقیقت کې ښکلې او مهمه ساختماني برخه ده چې ټولې پخوانۍ ساختماني چارې تر پوښښ لاندې راولي، د لیدونکي سترګې په لومړي ځل پر همدې برخې لګېږي، دا باید داسې جوړه شي چې تاریخي بڼه یې هم خوندي شي، خوند، استحکام او ښکلا هم ولري او زړونه هم راجذب کړي، د لومړیو ساختماني چارو د بشپړېدو پر مهال یو شمېر انجنیرانو د دې برخې د ډیزاین ژمنې هم کړې وې، خو ورو ورو هغه خلک لادرکه شول، ما خپله تر دې وړاندې ډېر څلي وکتل، انټرنېټ کې مې پلټنه وکړه، خو داسې څلی مې تر سترګو نه شو چې زړه مې پرې راټول شي.

قراردادي ته مې وویل چې د څلي داخلي چارې باید ژر خلاصې کړې، هغه یو دوه تنه مزدوران راوړل، د څلي داخلي برخه (دېوال) یې په ګچو اوار کړ، هغه هم یوازې لاندینۍ برخه، نه نور ټول څلی، (٦) قوتۍ رنګ یې هم له (برجر) رنګ څخه په وړیا ډول واخیست، ځکه چې د سلیم کاروان شرکت مسؤل (صفي الله کاروان) او (خالد فدایي) یې ژمنه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وه، خالد فدایي ماته وویل چې د دې رنګ مجموعي قیمت (شل زره افغانۍ) کېده، خو دا رنګ هم ټول ونه کارول شو. نږدې لس ورځې یوازې دغو دوو تنو مزدورکارانو د څلي لس متره ارتفاع زموږ له غوښتنې سره سمه جوړه نه کړای شوه.**

**په همدې ورځو کې ښاغلی (شمیم کتوازی) چې د ځوانانو په چارو کې د جمهور رییس مشاور دی او د پکتیا د نوي والي په توګه هم ټاکل شوی، د پوهنتون په دوره کې په اصطلاح زما شاګرد و، ټلېفون راته وکړ، استاده یوې مشورې ته درځم، که وخت ولرې، هغه ټلوېزیون ته تشریف راوړ، ماته یې وویل، دوو مسلو ته راغلی یم، یو دا چې جمهور رییس غواړي ما د پکتیا د والي په توګه ولېږي، کار مې هم خلاص شوی، لاړ شم که لاړ نه شم؟ دویم د نجات څلي موضوع په باب**



شمیم خان کتوازی

**درسره غږېږم، چې کار یې ډېر سست روان دی، که زه کوم شرکت پیدا کړم او دا پاتې کارونه یې پر مخ یوسي څنګه به وي؟ د لومړۍ موضوع په باب مې ورته وویل: ((د پکتیا خلک خدمت ته اړتیا لري، تاسو که څه هم د پکتیکا یاست خو دواړه ولایتونه یو رنګ کلتور او ټولنیز حالات لري، په دې ولایتونو کې داسې شخص ته د والي په توګه اړتیا ده چې جمهور رییس یا په ټوله کې یې مرکزي حکومت سره مناسبات ښه وي، دلته یو څه وزن او پېژندګلوي ولري، نو بیا خپل اړوند ولایت ته مرستې راجلبولای شي، د هغه ځای رالېږلي کارونه یې هم دلته څوک نه ځنډوي، د خلکو هم ترې یو څه حیا کېږي، نو داسې والیان کېدی شي بریالي شي، پکتیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته داسې یو شخص په کار دی چې پکتیا خپل کور وګڼي او پر خلکو یې زړه ودردېږي، ستا خو جمهور رییس سره اړیکي ښه دي، چې باور یې دربانديې کړی، نو باید لاړ شې، لومړی د پکتیا مشران راټول کړه، مشوره ورسره وکړه، ځکه پکتیا د جرګو، مرکو کور او د مشرانو وطن دی، ستا عمر ډېر نه دی، که ته هر څومره ښه کارونه وکړې، بیا هم یو شمېر خلکو ته د تخریب چانس برابرېږي،نو که قومي مشران دې تر شا ولاړ وي، جمهور رییس دې هم ملاتړ وکړي او یو څه کار هم وکړې، نو بیا د تخریبکارو زور دربانديې نه رسي.)) هغه وویل: ((د


انجنیر محمد اسحق تکل

ولسمشر ملاتړ لرم، د خلکو په ژبه هم یو څه پوهېږم، مانا جرګې او مرکې کولای شم او د پکتیا د پرمختګ لپاره مې تیارې څو پروژې هم تر کار لاندې دي)) ما ویل ،بیا خو نو سمه ده. دویمه مسله دې د څلي یاده کړه، ربښتیا خبره داده چې زه یې هم ښه ستړی کړی یم، هغه چې طمع ترې کېدله ټول لاړل لادرکه شول، د څلي دویمې برخې لپاره د شرکت پیدا کول اسانه کار دی، شرکت خو پیسې غواړي، د پیسو پیدا کول سخت کار دی، هغه وویل نه ما داسې شرکت پیدا کړی چې ټول کار خپله کوي، هېڅ پیسې نه غواړي، ما وویل تر دې نو ښه کار چېرته دی؟ یوه شمېره یې راکړه ویې ویل، زه شنبه یا یکشنبه معرفي کېږم، که زه پکتیا ته لاړ نه شوم، نو زه او شرکت والا به خپله دلته راشو او که زه لاړم، نو تاسو هغه ته زنګ ووهئ، هغه به خپله دلته راشي، تاسو بیا نورې خبرې ورسره وکړئ! دا یې هم وویل چې هغه دوبۍ ته تللی، کېدی شي شنبه، یا یکشنبه راشي، د (انجنیر اسحق تکل) نمبر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راکړ. د دوشنبې پر ورځ مې ورته زنګ وواهه، ټلېفون یې پورته کړ، ځان مې معرفي کړ او بیا مې د شمیم کټوازي خبره وکړه، هغه وویل، له ټولو شیانو څخه خبر یم، ما وویل که وخت لرې ټلوېزیون ته راشه، هغه وویل، سبا سهار (سه شنبه) به درشم، خپل دوه نور انجنیران ملګري به هم ځان سره راولم، ما ویل ډېره ښه ده، لس لس نیمې بجې وې چې انجنیر اسحق تکل، انجنیر محمد نصیر بهسودوال او انجنیر (سید**



انجنیر سید نصیر یما

**نصیر یما) زموږ دفتر ته تشریف راوړ،خپل کاري دفتر کې مو پر ټولو مسایلو خبرې وکړې، نتیجه دا شوه چې دوی وویل، له تېر قراردادي څخه کار خلاص کړه، که کوم کم او توم کار یې پاتې هم وي، پروا نه کوي هغه هم موږ درته خلاصوو، خو چې کار موږ ته ژر تسلیم کړي، ما وویل د اسد تر (۱۷-۱۸) مې نېټې پورې یې که راته خلاص کړئ، ښه به شي، دا نو تقریباً د سرطان (۱۷-۱۸)مه نېټه ده. دوی وویل موږ یو ځل کار وګورو، انشاء الله ژر یې درته خلاصوو. ما وویل ځئ چې ځو، څلورواړه د دوی په موټرو کې د څلي خواته لاړو، نږدې دولس بجې وې، رحمت الله ځلاند ته مې وویل چې له څو ملګرو سره څلي ته راځم، ته هلته**



انجنیر محمد نصیر بهسودوال

**اوسه، هغه وویل، زه تیار په ساحه کې یم، هلته چې لاړو، دې انجنیرانو ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وویل چې تاسو به داسې نه وایئ چې موږ دا ځای جوړوو، تاسو به وواییځ، چې موږ یې د بیروني ډیزان لپاره راغوښتي یو، څلاند ته مې وویل چې دا انجنیر صاحبان به د بېروني ډیزاین یوه نقشه جوړه کړي، نرخ به هم راکړي، که نقشه زموږ خوښه شوه، ښه او که نه بیا به گورو چې څه وکړو، هدف مې دا و چې که ده ته ټول جریان ووایم، هسې نه چې یو دم یې حساسیت راوپارېږي، ما انجنیر څلاند ته دا هم وویل، که دوی سره پرې توافق ته ورسېدو، نو بیا هم زه او ته مجبور یو چې نظارت یې وکړو، چې کار خراب نه شي، دلته مې هم هدف دا و چې د ده کینه راونه پارېږي، انجنیران چې مسلکي خلک وو، د څلي داخلي زینه، د گچو په واسطه د څلي د داخلي برخې اوارې او نورې نیمگړتیاوې یې چې وکتلې له واره یې ورته گوته ونیوله، دې کار د څلاند حسادت یو څه زیات کړ، دا مهال بیا انجنیر بهسودوال وویل، استاده بېغمه اوسه موږ یې جوړوو، دې کې څلاند وویل، څنگه به یې جوړوې؟ هر څه به زما تر نظارت لاندې کوې، زه څوک نه پرېږدم چې کار خراب کړي، انجنیر نصیر بهسودوال ورته وویل: ته څوک یې چې نظارت کوې، موږ خپل انجنیران لرو، خپل مسلکي کاریگر، ته بیا څوک یې؟ دې وخت کې ما د انجنیر بهسودوال لاس کېکاږه، چې خیر دی بحث ته اړتیا نه شته، دا انجنیر صیب څلاند دی چې د دې څلي ساختماني چارې یې تردې دمه رارسولي، ده سره به مشوره کوو. دوی دواړو غوښتل چې خبره نوره هم سره تاوه کړي، خو ما یې مخه ونیوله، بیا مې انجنیر څلاند ته وویل چې ځو دارالامان ته هغه وطني زینتي تیږې گورو چې څو ورځې وړاندې ما او تا کتلې وې اوس غواړو چې دوی هم همغه تیږې وگوري او که دوی سره توافق ته ورسېدو چې همدا تیږه او بیا هم تردې ښه تیږه ولگوي. پر همدې توافق وشو، زه له همدې انجنیر صاحبانو سره کېناستم او څلاند له خپل یو بل ملگري سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل موټر کې راپسې راروان شو او له لاهورۍ دروازې څخه مو د دارالامان سړک پر لوري حرکت وکړ، په لاره کې پوره فرصت و چې زه له انجنیرانو سره خپله مشوره شریکه کړم. دوی ته مې وویل چې تاسو اوس ګوزاره کوئ چې دا سړی په خیر سره خپل کارونه خلاص کړي، اوس خو زموږ لاس تر تیږې لاندې دی، دې سړي سره په لېټۍ کې غورځېدلي یو، اوس باید په ډېر مهارت لاس له تیږې راوباسو، هغه کله غواړي چې د څلي دویم پړاو کار د ده له لاسه ووځي، اول پړاو کې یې قیمت دومره لوړ دی او دویمي برخې کار یې ماته څلوېښت زره ډالر اټکل کړی و او بیا یې وویل که د دغو، دغو، دغو شیانو مسولیت ته پر غاړه اخلې، نو کېدی شي دولس لکه افغانۍ شي، زه په دې پوهېږم چې دې کار کې یې هم نیمګړتیا شته، خو د دویم پړاو کار باید ډېر ښکلی او صفا وي، څرنګه چې دی بل قراردادي ته کار سپاري، نو څکه پرې باوري نه یم چې دویم کار به په ښه ډول ترسره کړي که نه؟ نو اوس به تاسو تر هغه وخته پوره ګوزاره کوئ چې دی موږ ته څلی تسلیم کړي، انجنیران دې اوسني نرخ ته هم حیران شول او ویې ویل چې استاده پخوانی یې هم ډېر قیمته دی، موږ خو یې کار وکوت. ما د پخواني کار ټوله کیسه ورته وکړه، خو ټولو پر دې توافق وکړ چې حساسیت به یې نه راپاروو، موږ به خپل کار کوو. دارلامان ته لاړو، یوه کور کې چې دا تیره لګول شوې وه هغه مو وکتله:

انجنیرانو وویل: دا خو زموږ خوښه نه شوه، تر دې باید ښایسته پیدا کړو، دوی مو هلته رخصت کړل، زه له انجنیر څلاند سره بېرته موټر کې سپور شوم او د څلي پر لوري راغلو، په لار کې مې انجنیر څلاند ته وویل، دې خلکو سره جنجال مه کوه، هر څه خو غیر له هغې هم زموږ او ستاسو په لاس کې دي، پرې ګرځو به، دوی یو شرکت لري، ځینې سامان الات یې خپل دي، کېدی شي، هغه موږ ته په وړیا ډول راکړي او ځینې نور به

(c) ketabton.com: The Digital Library





ورته له بازاره واخلو، مزدوران يې هم خپل دي، د شرکت کسان يې دي، نو کېدی شي، موږ ته يې په ارزانه وکړي، نو ته ورسره جنجال مه کوه او که کار يې خراب و، رخصت به يې کړو، ځلاند وويل، نه زه ورسره جنجال نه کوم، خو ماته يې قوارې د انجنيرانو نه ښکارېدې، څنګه چې ستا خوښه وي، زه همغسې کوم، زه يې څه کوم. کله چې څلي ته راورسېدو، ما ورته وويل، ښه خاوره راوړه چې لومړی دا بره او د څلي داخلي برخه ډکه شي، اوبه پرې واچول شي، چې وروسته يې د کېناستلو چانس له منځه لاړ شي، ده وويل سمه ده، نن شپه به ورته خاوره راوړو، زه همداسې د ټلويزيون پر لوري لاړم او دی د کار ساحه کې پاتې شو.
سبا سهار د پوهنتون پر لوري روان وم، معمولاً د نجات څلي پر لاره کابل پوهنتون ته تللم، ګورم چې د څلي ګرد چاپېره، له زړو ټوټو او پلاستيکونو ډکه خاوره پرته ده، څه يې د څلي يوه برخه کې خالي کړې هم ده، دا نو هغه خاوره ده چې انجنير ځلاند خپل بل قراردادي ته ويلي چې د څلي ډکون وکړه، زه له موټره کښته شوم، ما ويل تاسې ته چا ويلي چې دا خاوره واچوئ؟ دا خو چټله خاوره ده، دا خو سبا ته کېني، او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاسه چې موږ د ځمکې پر متن څومره قیمتي ډبرې ایښې وې، هغه ټولې پر ځمکه ننوځي. یو مزدور کار وویل، والله موږ نه پوهېږو دغه خاوره یې د شپې دلته ډېرۍ کړه موږ ته یې وویل چې له دې څخه ډکون وکړئ، دا نو هغه خاوره ده چې د ښاروالۍ یا نور موټر چې د ښار له لښتیو څخه کومه چټلي باسي له ښاره بهر ته یې وړي، هغه یې دلته ډېرۍ کړې ده، ژر مې ځلاند ته زنګ وواهه، ما ورته وویل، وه انجنیر صیب دا دې څه راوړي؟ دا خو یې د ښاروالۍ ګند راوړی، له دې څخه ته ډکون کوې؟ ده وویل، ما ورته ویلي، دا مه اچوئ، دا خرابه ده، زه له غره څخه سمه خاوره او رېګ راوړم، چې کېښني، ما ویل ژر یې ټوله کړئ چې هم یې ځای چټل کړی او هم یې د خلکو لاره بنده کړې، ده وویل، سمه ده ټولوم یې. درې څلور ورځې نوره هم دا خاوره پرته وه، بله ورځ چې لاړم، د څلي بهرنۍ لومړۍ دایره له خاورو ډکه وه، ځلاند وویل چې دا مې نوې خاوره راوړې او پخوانۍ مې ټوله کړه، خاوره یو څه نوې ښکارېده، پوره باوري نه شوم چې لاندې برخه کې به یې پاکه خاوره اچولي وي که نه؟ دویمه دایره چې موږ د شینوالي لپاره په پام کې نیولې وه، هغه لا هماغسې پاتې وه. دویمه دایره چې موږ په کوم ښکلي ډیزاین غوښته، هغه هم هغسې نه وه جوړه شوې، کنډو کپر وه، نو ځکه خو انجنیر ځلاند او انجنیر نذیر عظیمي، د قالب د خلاصېدو پر مهال د شپې ناوخته خپله ورپسې ګېلماله اخیستې وه او پلستر یې ورکاوه، چې بهرنی عیب یې پټ شي. د څلي داخلي برخه چې مخکې لا له کاغذونو او نورو لرګیو یې یوه برخه ډکه وه، څو ځله مې ورته وویل چې دا پاکه کړه او له ښې خاورې او ښه غرني جغله یې ډکه کړه، هغه په په دې پلمه چې خوازې په کې خښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او پاس کار روان دی، وروسته يې ډکوم، د ده د کار تر پايه همغسې پاتې شوه. په دې بهير کې مې ورته وويل چې خوازې دې نورې تولې کړه او ته دې هم خپل کار غوټه کړه، چې زه مشترک هيئت وټاکم، ستا استازی به هم په کې وي او زموږ هم، ستا کار به وارزوي او د تړون مطابق به تاسو ته خپلې پيسې درکړم، شپږ اوه ورځې يې په دې کې تېرې کړې، نن يې خلاصوم، سبا يې خلاصوم، خو کار پر خپل پاتې ځای و. دا خوازه نو ده له يوه بل ټېکه دار او هغه بيا له بل ځخه په اجاره راوړې وه، ده هغه ته او هغه بيا هغه بل ته د خوازې د اجارې پيسې نه دي ورکړي، موږ د دواړو خوازو کارو ټلېفون نمبرونه پيدا کړل، دادی نن يې خلاصوو، سبا يې خلاصوو، نن جمعه ده، مزدورکار نه شته، خوازه کار لوګر ته تللی، شل پلمې يې جوړې کړې، اخر يې يوه وويل چې ځلاند ماته پيسې نه دي راکړي؟ ځو چې هغه ماته پيسې رانه کړي، زه خوازې نه خلاصوم، اخر زه پرې په قهر شوم، ما وويل وروره د تا حساب هغه سره دی، هغه خپل دفتر او ادرس لري، لاړ شه خپل حساب ورسره وکړه، بيا يې ټلېفون بند کړ، اخر مجبور شوم مسېج ورته وکړم چې موږ مه مجبوروه چې له قانوني زور ځخه کار واخلو، که ستا خوازې دلته وي، يا نه وي، ته بايد خپل حساب له قراردادي سره وکړې، بيا يې هم ځواب رانه کړ، د (۱۲)مې حوزې د ملي امنيت امر (حاجي زمان) ورته زنګ وواهه چې وروره خوازې دې خلاصې کړه، دا دی مازيګر يې خلاصوم، مازيګر چې لاړو، بيا هم هېڅوک رانغلل، يوه ورځ بله هم ضايع شوه، مازيګر ناوخته مې بيا ځلاند ته زنګ وواهه، چې وه وروره ولې مو د خولې خوند پيکه کوې، ستا کار خلاص دی، دا اوومه اتمه ورځ ده، زه درته وايم خوازې خلاصې کړه او ته کله يوه پلمه


(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې او کله بله، هغه نه یوړه او نه راوړه، راته یې وویل، تر هغه پورې چې ماته مې سل په سلو کې پیسې رانه کړئ او زما حساب خلاص نه کړئ، زه نه خوازې خلاصوم او نه چاته اجازه ورکوم چې دلته راشي، لاس مو خلاص څه شی چې کولای شئ، ما ورته وویل وه وروره له عقل څخه کار واخله، ما او تا یو تړون کړی، قرارداد مو کړی چې کله ستا ساختماني چارې خلاصې شوې، د یوه فني هیئت تر ارزونې وروسته به زه تاته پاتې پیسې چې تر (۳۰) سلنې کمې اټکل کېږي، د شلو ورځو په بهیر کې دررسوم، ته باید ماسره د قرارداد مطابق لاړ شې او دیوه قراردادي او ټېکه دار په توګه خبرې وکړې، دا کم عقلې خبرې په کار نه دي، موږ مه مجبوروه چې په قانوني زور دې بیا خوازې لرې کړو، بله خبره داده چې هره ورځ چې پر موږ تېرېږي، موږ وخت له لاسه ورکوو او دویم شرکت تاوان کوي، مزدورکار راولي او بېرته یې رخصت کړي، ده وویل، زه هېڅوک په رسمیت نه پېژنم، څلی ما جوړ کړی، څو چې مو پیسې نه وي راکړي، زه نه خوازه لرې کوم او نه څلي ته څوک پرېږدم، که څوک نر وي، سبا ماسپښین دې راشي، ما ویل سمه ده، سبا به سره ګورو، مجبور شوم، د پولیسو امنیتي حوزې ته مې یو غوښتنلیک ولیکه، د دې غوښتنلیک متن په دې ډول و:

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښار د اتمې امنیتي حوزې محترم مقام ته!

قدرمنه!

د لاهورۍ دروازې په سیمه کې د نجات منار د جوړونې ساختماني چارې بشپړې شوي او د لومړي قرارداد مطابق (پکتین) ساختماني شرکت باید ژر تر ژره موږ ته منار تسلیم کړي چې موږ یې د ډیکور او ډیزاین لپاره بل شرکت ته ورکړو. اوس یاد ساختماني شرکت (پکتین) ساختماني شرکت خپلې خوازې نه خلاصوي او یو لړ پلمې لټوي او د کار د ځنډ او ځنډ سبب ګرځي، هیله ده له نوموړي شرکت څخه د قرارداد مطابق د نجات منار د تسلیمۍ او هم د یاد منار د امنیت په خوندي کولو کې مرسته او همکاري وکړئ!

په احترام

د نجات منار

د جوړېدونکو په استازی

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶/۴/۲۱ شنبه

**دا غوښتنلیک مې میوند شاه احمدزي ته ورکړ، ما ویل د اتمې حوزې امر ته یې یوسه، د (۱۲)مې حوزې د ملي امنیت امر (حاجي زمان) چې مخکې تر مخکې په جریان کې و، هغه مې هم راوغوښته، حاجي زمان وویل: ((د پولیسو حوزې ته ضرورت نه شته، زه یې خپله حلوم او بل دا چې دا واړه کارونه دي، ستا له شخصیت سره مناسب نه دي، له ګېلکار او ټېکه دار سره نښتی اوسې او دومره دې ورته اعصاب خراب دي. دا زه په یوه ساعت کې حلوم.)) انجنیر ځلاند ته یې زنګ وواهه، هغه ورته وویل چې ماته دې وخت راکړي، تر مازیګره یې خلاصوم، بیا یې د خوازې بل قراردادي ته زنګ ووهه چې تر مازیګر څلور بجو پورې دې خوازې ټولې کړه، هغه وویل ماته ځلاند وویل چې خوازې مه خلاصوه، میوند شاه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدزی د پولیسو حوزې ته لاړ او جنایي مدیر ورسره د ځلي ساحې ته راغی، حاجي زمان هم ځلي ته لاړ، رحمت الله ځلاند چې مخکې یې ویلي چې زه څوک نه پرېږدم چې ځلي ته راشي، ځان پټ کړ، حوزې څخه ورته زنګونه ورتلل، خو ټلېفون یې نه جګوه، یو ځل چې میوند شاه احمدزي سره په ټلېفون کې رخ شو، نو هغه ورته وویل چې راشه حوزې ته، هغه ته یې د خور، مور، قوم او ټول نسب کنځلې وکړې او د مرګ اخطارونه یې هم ورته ورکړل. هغه ورته وویل چې ته اخطارونه څه کوې، ته حوزې ته راشه او یا ځلي ته، بیا به هلته خبرې کوو، خو ده هغه ته هغه سپکې سپورې استعمال کړې چې د کاغذ پر مخ د لیکلو وړ نه دي، جنایي مدیر ماته وویل: ته بېغمه اوسه، هر څوک چې وي او زما لاس ته راشي، زه به یې ایمان په لاس کې ورکړم. مازیګر ناوخته زه خپله ځلي ته ورغلم، د پخواني قراردادي مزدورانو ته مې وویل، تاسې ځئ ورونو، خپل سامان مو جمع کړئ، دلته هېڅ شی پرې نه ږدئ، چې سبا مو بیا حساب جړ نه اوسي، هغوی خپله خېمه او بستره ټوله کړه، ځلي ته مې خپل دوه امنیتي ساتونکي او یو تن امنیتي مسول چې درې واړه د ملي امنیت د لسمې ادارې کارکوونکي دي، د امنیت لپاره وګومارل، ورته مې وویل چې تر سبا پورې د ځلي امنیت ساتل ستاسو پر غاړه دی، سبا به بیا ګورو چې څه کېږي، د شپې مابنام دوی د ځلي امنیت پر غاړه واخیست، کله چې انجنیر ځلاند دا جدیت وکوت، نو ځلي او حوزې ته یې له راتګ څخه ډډه وکړه، ژر یې په داسې حرکتونو لاس پورې کړ چې پخوا یې تصور هم نه و، صمد ځاځی چې د ځاځیو د یوې شورا مشر دی او له پخوا نه له ځلاند څخه خوابدی و، ان ده ته د قرارداد له ورکړې سره هم مخالف و او خپله ځلاند به هم وخت پر وخت پر نامناسبو الفاظو یادوه، د هغه ور یې وټکوه چې (یون) خو غواړي دا ځلی په خپل نامه کړي، د ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نامه یې کړي، دا افتخار مشرقي ته یوسي، څلی خو زموږ او ستاسو پکتیاوالو او بیا د ځاځیو دی، اوس یې ولې ویاړ بل چاته لاړ شي او نور په سلګونو تورونه یې پورې کړي وو.
همدا مهال یې د ځاځیو یو څو تنه ځوانان هم راټول کړي وو او تر دې یې هم غلطې خبرې وررسولې وې، د پکتیا یو شمېر نورو مخورو ته یې یو بل ډول خبر رسولی و او دا یې هم ورته ویلي وو چې یون د خپلو وسلوالو په زور زما خلک له څلي شړلي او هغوی یې وهلي ټکولي دي. هدف یې دا و چې دا موضوع همداسې جنجالي شي او دا څلی همداسې نیمګړی پاتې شي او بیا خلکو ته ووایي چې ګورئ له ما پرته څوک دا کار نه شي کولای، هغه ساختماني شرکت چې اوس یې په وړیا ډول دې کار ته زړه ښه کړی، هغه به هم زړه توری شي او بیا چې تر څو پیسې پیدا کېږي او بیا بل شرکت ته یې ورکوي، دې کې به ډېر وخت ووځي.
صمد ځاځي چې تر دې مهاله له ځلاند سره وران و، د ځلاند عذر او ښنې یې د خپل ځاځیتوب او سیمه والۍ جذبه راپاروله، ژر یې د اتمې حوزې امر چې هغه هم د پکتیا دی او دوی یو بل سره پېژني، هغه ته ټلیفون کړی چې دې کار کې باید ته مداخله ونه کړې، دا قومي مسله ده، دا موږ په خپله حلوو. د صمد ځاځي یو هدف دا کېدی شي چې دوی خو له پیله بیا تر دې دمه په څلي کې هېڅ ونه کړل او د دوی له مرستې پرته څلی د بشپړېدو لوري ته روان شو، نو دا ورته یوه ښه پلمه وه چې یوځل بیا په څلي کې ځان مطرح او په دې ډول خلکو ته وښیي چې همدوی دي چې د څلي په چارو کې دخیل دي. زه چې له میوند شاه احمدزي سره د حوزې د امر له سوړ چلند څخه خبر شوم او د صمد ځاځي له حرکت څخه، نو یو څه خوابدی شوم، صمد ځاځي ته خو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځکه زنګ ونه واهه چې تر دې وړاندې مې د همدې څلي لپاره درې ځله ورته زنګ وهلی و، خو د ده ټلیفون ځواب نه و راکړی، د حوزې امر ته مې وویل چې ستا وظیفه د امنیت ساتل دي، دا د سیمې، قوم، ولسوالۍ او قبیلې خبره نه ده، دا یوه ملي مسله ده او زه نږدې لس میاشتې کېږي چې په دې څلي کې سرګردانه یم، اوس یو ټېکه دار دی، د ټرون خلاف ټولو ته اخطارونه ورکوي، زه تاسو ته وایم چې تاسو یې حوزې ته حاضر کړئ چې موږ هم درشو او هلته خبره سپینه کړو، خو دوی غواړي دا مسله سیمې ته کش کړي او په دې ډول خپل عیب د سیمې او قوم تر چتر لاندې پټ کړي او تاسو باید په دې کار کې د چا د عیب پټونې هڅه ونه کړئ، ما وویل زه دا څه کم لس میاشتې کېږي چې نذیر احمدزي او صمد ځاځي پسې ګرځم، پیدا کولای یې نه شم، اوس چې څلی د بشپړېدو په حال کې دی، اوس ولې دوی ټول**



حاجي خان محمد باز منګل

**راویښ شول، ما وویل، زماڅه کار و چې تر دې حده د څلي په کار کې دخیل شم، دا خو د دوی کار و چې له پیله بیا تردې دمه یې تعقیب کړی وای، اوس چې پر ما تحمیل شوی، زه مجبور یم، تر پایه یې ورسوم، د حوزې امر ماته وویل چې نذیر احمدزي ماته زنګ نه دی وهلی، خو صمد ځاځي راته زنګ وهلی و، ما وویل له دې څخه معلومېږي چې حوزه هم په دې برخه کې څه نه شي کولای، خو د څلي امنیت درڅخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړم، اوس خو ما له مجبوریته خپل ساتونکي هلته پرېښودل، که نه نو د څلي امنیت ساتل خو ستاسو کار دی. اوس هم درته وایم چې د څلي امنیت باید ونیسئ او هېڅوک باید څلي ته پرې نه ږدئ او که هرڅوک وسلوال وي او که نا وسلوال، بدمعاشي وکړي او یا که بیا کومه پېښه وشوه، نو مسولیت یې ستاسو پر غاړه دی. د حوزې امر وویل، هېڅ تشویش مه کوه، هېڅوک څلي ته نه شي رانږدې کېدلای، څلی مخکې هم زموږ تر امنیتي پوښښ لاندې و او بیا به هم وي، د امنیت له پلوه هېڅ اندېښنه مه کوه او هغه نورو مسایلو کې موږ څکه گوتې نه وهو چې هغه ستاسو مشرانو کار دی، نور امنیت زموږ پر غاړه. د ماسخوتن تر لسو بجو پورې مې څو ځلې د څلي احوال واخیسته، ساتونکو راته وویل خیر او خیریت دی. د شپې نهه بجې مې یو خل حاجي خان محمد باز منگل او قدرت الله سهاک ته د یکشنبې ورځې (د سرطان د لومړۍ نېټې) د وعدې په باب وویل چې پر ځای ده که نه؟ هغوی وویل هو پر ځای ده، دا وعده څکه موږ ایښې وه چې تېره اوونۍ په سروبي کې یو سخت سېلاب راغلی و، اوه تنه یې شهیدان کړي وو، گڼ شمېر ټپیان او تر دوو سوو څخه زیات کورونه یې زیانمن کړي وو. درې کاله مخکې هم سروبي کې همداسې سېلاب راغلی و، خلکو ته یې ډېر زیان رسولی و،هغه وخت موږ رسنیز کمپاین وکړ او ډېرو هېوادوالو سېلاب ځپلو سره مرستې وکړې، د سروبي خلک له موږ څخه ډېر خوشاله وو، سږ کال چې بیا سېلاب راغی، نو بیا له سروبي څخه یو شمېر هېوادوالو زنگونه ووهل او له مصیبت ځپلو سره یې د مرستې غوښتنه وکړه. سږ کال چې موږ د نورو مصروفیتونو له امله د زیات رسنیز کمپاین جوگه نه وو او د مرستندویانو اقتصاد هم د پخوا په شان ښه نه و، مرستندویه موسسې هم په هغه قوت کې نه وې، یوازې جمهور رییس د هوا له خپو څخه د الوتکې په ذریعه سېلاب ځپلې سیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتلې، نور نو د مرستو درک نه و، نو په داسې یو حالت کې ما یوازې حاجي خان محمد باز منګل ته زنګ وواهه چې که مرسته کولای شي، خان محمد باز منګل تېر کال د کابل د سرای شهزده د صرافانو د ټولنې رییس و، له یوې درنې کورنۍ څخه دی، وخت پر وخت یې خلکو سره مرستې کړي، دا ځل چې مې ورته زنګ وواهه، ده وویل سمه ده، خپل کوښښ به وکړو، موږ سره د همدې سختو ورځو لپاره تیارې یو څه پیسې شته، نورو ملګرو سره به مشوره وکړو، تاسو ته به احوال درکړو. د هغوی مشوره راغلې وه، ماته یې وویل چې مېکانېزم او وخت به تاسو او د کابل د خلکو استازی ښاغلی (قدرت الله سهاک) چې د همغې سیمې دی، جوړ او وټاکئ، ما (سهاک) صیب سره خبره شریکه کړه، هغه ټول سستم برابر کړ او د یکشنبې ورځې سهار (۸-۹) بجې مو سروبې ته د رسېدو وخت وټاکه. دا وعده هم پر خپل ځای وه او کابل کې د څلي نوي راټوکېدلي جنجالونه هم وو، نو یو څه ورته اندېښمن وم، خان محمد باز منګل ته مې وویل که زه درسره لاړ نه شم، څنګه به شي؟ هغه وویل ضرور به ځې او د سهاک صیب ټینګار هم و، د شپې لس بجې وې چې د ښاغلي نذیر احمدزي زنګ راغی، څرنګه چې نذیر احمدزي زما ډېر ټلېفونونه نه وو پورته کړي، نو شیطان راته وویل راځه مه یې پورته کوه، خو بیا مې ضمیر وویل چې حتمي کومه د ژوند او خدای مه کړه د مرګ کومه پېښه شوې چې په دې ناوخته کې احمدزی صیب زنګ وهي. ټلېفون مې اوکی کړ، زه یم استاده احمدزی، ښښه غواړم چې په دې ناوخته مې درته تکلیف درکړ، موضوع مهمه وه، ځکه مې درته زنګ وواهه، که نه نو نه مې په تکلیفولې، ما وویل څه خبره ده؟ ده وویل هغه د څلي څه جنجال دی؟ ما وویل مخکې تر دې چې د څلي په باب درسره وغږېږم، به دې اړه خو زما او ستا حساب او کتاب پر خپل ځای دی، هغه به جرګې ته راسره کېنې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدزیو او پښتنو جرګې ته؟ هغه په ارامو اعصابو وویل، مشر مې یې جرګې ته هم درسره کېنم، ملامتي هم منم، ناغه هم درکوم، هر جرم چې ته وایې هغه پور پرې کوم، نور څه وایې؟ ما ویل هغه حسابونه به وروسته کوو، خو اوس څه خبره شوې ده؟ ده وویل، د ځلي جنجال دریادوم، نن څه خبره شوې ده؟ ما ویل هېڅ خبره نه ده شوې، ساختماني شرکت سره قرارداد پایته رسېدلی، د هغه کار خلاص دی، پاتې پیسې به یې تر حساب وروسته ورکړو، نور کار بل شرکت ته ورکوو، ده وویل نه خبره بل څه ده؟ دلته د پکتیا مشران راغلي او ډله ناست دي، ستا خبرې هم اوري، دوی وایي غټ مشکل دی، ما ویل دوی چېرې دي؟ ده وویل زما په کور کې ، ما ویل دوی معطل کړه چې لاړ نه شي، زه درغلم، ژر مې له ټلوېزیونه موټر راوغوښت په لاهورۍ دروازه کې چې ځلي ته ورسېدم، زما امنیتي مسول (فریدون شېرزی) چې دا مهال تیار په ځلي کې و، هغه مې هم راواخیست او د نذیر احمدزي کور ته لاړو، لارې خلاصې وې، لس نیمې بجې د هغه کور ته ورسېدو، ګورم چې یو صمد ځاځی، یو بل سپین ږیری چې وروسته مې وپېژنده چې حاجي عبدالباري منګل دی او یو دوه درې کسان نور ناست دي، ما ویل چېرې دي نور مشران؟ احمدزي صیب وویل، څو تنه نور هم وو، هغه لاړل، په پغمان کې کومه کلتوري مېله وه، ما زړه کې وویل چې عجب مشران دي، د مشرانو یې له مېلې سره څه؟ هغه هم په دې نیمه شپه کې، خو واقعیت دا و چې یوازې عبدالباري منګل په کې مشر و او خپله صمد ځاځی او کبدی شي یو څو نور ځوانان هم ورسره وو چې هغه ترې همغه سرله ماښامه مېلې ته تللي وو او دوی ترې پاتې وو. ما نذیر احمدي ته وویل، اول یې تاسو شروع کړئ چې زه په مقصد پوه شم چې اصلي خبره څه ده؟ خبره اخوا دېخوا وه، خو ورو ورو سپینېدله، احمدزي صیب وویل چې دا مشران وایي چې دا ځلی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو دی، دا باید د یو تن په نامه تمام نه شي، اوس یون صیب خپل وسلوال راوستي او پخواني خلک چې دا ځلی یې جوړوه، هغه یې په زوره له ځلي شړلي او دی غواړي دا ځلی په خپل نامه کړي، د خپل ګوند ملي تحریک په نامه یې کړي او خپل نوم پرې ولیکي، ځلی موږ جوړ کړی، موږ په کې خواري کړې او اوس دی په پای کې راولاړ شو، هر څه په خپل نامه تماموي، دې وخت کې صمد ځاځي وویل چې هلته ډېر شور ماشور و، ځوانان راټول شوي وو، ډېر احساساتي وو، پر ځلي راتلل او ویل یې څوک دي چې زموږ خلک یې شړلي دي، خو زه تر منځ شوم، نزاع مې خاموشه کړه، د حوزې امر ته مې زنګ وواهه چې دې کار کې مداخله مه کوه، که زه نه وای، نو نن مازیګر به ډېره غټه نزاع جوړه شوې وه. دا ځلی د ولس دی، نه دا چې یو څوک دې د خپل ځان، ډلې یا ګوند په نامه کړي، دې کې له کلونو کلونو راهیسې خلکو قربانۍ ورکړې، دا ټول کارونه باید په مشوره وشي، د یوه شخص انحصار باید ختم شي، دلته قومي مشران دي، داسې خو نه ده چې هر سړی په خپل سر راجګ شي، وسلوال راولي، دلته خو هر څوک وسلوال لري، ځلاند راغلی و، مشرانو ته یې وویل چې (یون) غواړي دا ځلی په خپل نامه کړي، نو ما یې مخه ونیوله او دېته ورته نورې ډېر زیاتې خبرې یې وکړې. ما وویل کله چې ستاسو خبرې خلاصې شوې، زه خپلې خبرې پیلوم، د نذیر احمدزي نظر دا و چې دا خبره باید جنجال ته ونه وځي، باید خپلو منځو


صمد ځاځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې حل کړو، ما څخه یې هم مننه وکړه چې په دې نیمه شپه کې د دوی کور ته ورغلم. ما اول نذیر احمدزي ته وویل چې تاته مې څو ځله زنګ وهلی، خبره میسجونو او خفګان ته ووته، ایا زه په دې وطن کې دومره بې ارزښته کس وم چې تا زما لسګونو ټلېفونونو ته د یوې دقیقې ځواب نه شو ویلای؟ د څلي کار خو د تا له همدې کوره پیل شو، ولې لادرکه شوې؟ د تېر کال د میزان له (۲۳) مې بیا دا دی د سږ کال د (سرطان) تر پایه نږدې لس میاشتې تېرېږي، لس میاشتې بعد زه تاسره ستا په کور کې د څلي په باب بحث کوم، رشید ایوبي ته چې تر ټولو زیاتې لاپې یې وهلې، په لسو میاشتو کې یو ځل څلي ته راغلی؟ صمد ځاځي ته مې څو ځله د همدې څلي په خاطر زنګونه وهلي، زما ټلېفون یې اوکې کړی؟ دې وخت کې یو ځل بیا صمد ځاځی زما خبرو کې راولوېده: ((ته خو څه ملایکه نه وې، چې حتمي به مې ستا ټلېفون اوکې کاوه، زه شل کاره لرم، زه خو اوزګار نه یم چې د هر چا زنګ راشي او فوراً یې اوکې کړم، یا به خارج کې وم او یا به چېرته مصروف وم او یا به سفر کې وم...)) ما ویل د دې په خاطر چې د خولې خوند مو پیکه نه شي، ډیالوګ به نه کوو، ما له ملایکې څخه ملایکې ته زنګ نه دی وهلی، ما له (اسمعیل یون) څخه (صمد ځاځي) ته زنګ وهلی و، د ملایکو حساب جلا دی، هغوی ټلېفون ته اړتیا نه لري، اوس ضرورت نه شته چې موږ له اصلي موضوع څخه نورو موضوعګانو ته لاړ شو، هر سړی باید د خپل وزن په تناسب خبرې وکړي، هغه وویل: ((ستا وزن هم موږ ته معلوم دی او د نورو هم)). دې کې احمدزي مداخله وکړه ، اول یې وویل: ((زه یون صیب ته ناغه یم، کور ته یې ورځم، ټلوېزیون ته ورځم، جرګه ورولم، پسه ورولم، غویی ورولم، هر عذر چې دی غواړي هغه منم، زه رښتیا هم ده ته ملامت یم، یا د ډېر مصروفیت، یا د لویو کارونو، یا هم د سستیا له امله، د هرې وجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې و، ما د ده ټلیفون ځواب کړی نه دی، باید احوال مې ورکړی وای، دا چې ومې نه کړای شو، زه خپله ملامتیا منم، هر څه چې دی وایي، زه یې په سر سترګو منم، خو راځئ چې دا لانجه خلاصه کړو.)) ما بیا له ساختماني شرکت سره د قرارداد ټول متن ورته ولوست او ټولې هغه خبرې مې ورته وکړې چې ولې مې ورسره قرارداد وکړ، څومره پیسې مې تر دې دمه ورسولې دي او چا راکړې دي، دا ټول بیان مې کټ مټ ښه په زېر او زور سره ورته وکړ او پاتې شوه د خپل ځان او تحریک په نامه د څلي نومول دا تر منطقه پورته خبره ده، نه د چا نېت داسې دی او نه څوک دا کار کولای شي، ما قراردادي ځکه رخصت کړ چې کار یې پایته رسېدلی او موږ باید پاتې کارونه بل شرکت ته ورکړو، ده مزاحمت پېښوه، نو ځکه مې حوزې ته وویل، نور څوک و چې ما ورته خبره کړې وای؟ دی نه د څلي مالک دی او نه یې هم په کې یوه افغانۍ مصرف کړې، دی وي که بل ټیکه دار وي اخر به خپل حسابونه پاکوي



حاجي محمد نذیر احمدزی

او ځي به، په دې خاطر چې د ده غوښتنې موږ نورې نه شوې زغملای، نو خبره یې سرچپه کړه، مسله یې قوم، قبیلې او سیمې ته یوړه.
صمد ځاځي سره چې دی کلونه کلونه وران و، ده ته یې پناه راوړه او همداسې نورو خلکو ته، بیا مخکې تر دې چې د ده خبرو ته غوږ ونیسي، زما نمبر خو هر چا سره دی، ما سره به یې یو ځل تماس نیولی و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره څه ده؟ د ځینو ټیکه دارانو دا خصلت وي، چې هر وخت د کور له صاحب سره په حساب او کتاب کې ورانېږي، بل ده ما سره د ټېکه دار یا قراردادي په توګه قرارداد کړی، که د څلي د اصلي جوړوونکي یا مالک په توګه؟ که چېرې دواړه خواوې دی وي، نو بیا ما سره یې قرارداد د څه لپاره کاوه، پیسې یې ولې له ما څخه اخیستې؟ دې وخت کې صمد ځاځي وویل: ((ته چې ځان د څلي مالک بولې، تا په کې خپله څو روپۍ ورکړې دي؟ هغه راوښیه، دا خو د نورو خلکو پیسې دي، هغه ته څنګه په خپل ځان پورې تړې!؟)) ما ورته وویل: ((اول خو باید ته د پیسو د پیغور خبره مطرح نه کړې چې د تا په کې څو دي، (مانا زه خو پیسه دار یم او ته لا هېڅ نه لرې) ما وویل، خدای پاک استعدادونه تقسیم کړي، یوه ته یې قلم ورکړی، یوه ته توپک، یوه ته پیسې، یوه ته یو نعمت او بل ته بل نعمت، هېڅوک پوره او کره نه دی، پاتې شوې دا پیسې که له یوې خوا یې حساب کړې، دا پیسې اکثریت ما پیدا کړي، که زه ورپسې شله شوی نه وای، دا یوه روپۍ به هم نه وه پیدا شوې او که له بلې خوا یې حساب کړې، دا د هر چا خپلې پیسې دي چې ما یې درته مخکې نومونه واخیستل، پاتې شوله ستا د شخصي پیغور خبره، ما چې د څلي لپاره د تیارۍ کومه غونډه په ژوندون کې جوړ ه کړې وه، نږدې اته سوه کسانو په کې ګډون کړی و او بشپړ جریان یې له ژوندون څخه خپور شو، دوه زره ډالره لګولي وو او (زر ډالره) مې د څلي د ډېرې د ایښودلو پر ورځ، پر باینرونو، بیرغونو، موټرو او سونډ سستم لګولي او نور مې هم زړه دی چې تر ټولو وروسته خپله مرسته په کې واچوم، بل هغه څوک حق لري چې په دې باب ډېر بحث وکړي چې یا یې خپله پیسې اچولې وي او یا یې هم تر همدغې کچې له نورو څخه پیسې راټولې کړي وي. زه هر چاته د څلي د ګذارش ورکولو مسولیت نه لرم، تر دې دمه همغه خلک د

(c) ketabton.com: The Digital Library




پوښتنې حق لري چې ماته يې پيسې راکړې دي، کله چې ما د څلي د پرانيستې پر ورځ ټول مالي او کاري راپور وړاندې کړ، بيا يو څوک حق لري، ووايي چې وروره ما هم يوه افغانۍ په کې اچولې وه، ولې دې زما د مرستې يادونه ونه کړه، خو تر هغه پورې لا ډېر وخت شته)) صمد ځاځي وويل: ((ما هم مرسته راټوله کړې، خو تاسې ته مې ځکه نه درکوله چې له همغه پيله ستاسو مېکانېزم سم نه و.)) ما وويل: ((ما خو شپږ مياشتې وروسته ورسره ترون لاسليک کړ، تاسې چې هر ډول مېکانېزم غوښتنه خپله به مو جوړ کړی و، خبرې ډېرې زياتې تبادله شوې، زما او د صمد ځاځي خبرې دومره سره ترخې شوې چې د نجات څلي له حريمه خو ووتو، د نورو ټولنيزو څلو حريمونه مو هم سره ونړول، خو د مجلس په پای کې د بدبينۍ پر ځای ورو ورو مفاهمې او نرمښت ته روان شو، ښاغلي حاجي عبدالباري منګل هم په کې په دې منځ کې د روغې جوړې خبرې کولې، نذير احمدزي هم، دوی ټولو وويل، هغه څه چې موږ ته ويل شوي وو، دلته خو خبره ټوله د هغو برعکس ده، صمد ځاځي هم وويل چې يون صيب زما له خبرو غلط برداشت وکړ، زما هدف دا و چې دغسې يوه ستونزه پيدا شوې وه، ما غوښتل دا شر رفع کړم، نور مې کوم هدف نه و. پر ما (يون) باندې چې دا څو ورځې کوم کړاو تېر شوی و، په دې برخه کې هره ناسمه خبره راباندې د توپ د مرمۍ په شان لګېدله. د مجلس په پای کې خبره ورو ورو تفاهم ته ورسېده، ما وويل به دې خاطر چې سبا ټيکه دار نورې خبرې جوړې نه کړي، د سمت او قبيلې خبره چې زه ورڅخه سخته کرکه لرم، مطرح نه کړي، ښه به وي چې د لويې پکتيا او که ممکنه وي د لوی کندهار او لويې ننګرهار ځينې مطرح مشران يا د شوراګانو رييسان دې سره راټول شي او د حاجي صيب عبدالباري منګل، چې د څلي د لومړيو مالي مرستندويانو له جملې څخه دی، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کور کې دې سره راکېني، قراردادي دې هم وي، هر چا سره چې څه شک شبه، غلط فهمي او پوښتنه وي، ټول به مطرح کړي، زه به ورته خپل وضاحت ورکړم او تر دې دمه د څلي راپور، خو یوه خبره به همدلته سپینوو چې د څلي کار به روان وي، زموږ تر منځ چې د نظر هر ډول اختلاف وي، هغه به تر ساختماني کاره بهر حلوو، وخت کم دی او د څلي چارو کې یوه ورځ وقفه هم نه شو منلای، احمدزي صیب وویل چې یو سبا دې هم پرې کار نه کوي، تر ماسپښینه بیا دې شروع کړي، ما**



حاجي عبدالباري منگل

**ویل د پخواني قراردادي کار ختم دی او اوسنی شرکت سبا د خوازو په تړلو او د تیرو پر لگولو پیل کوي، وخت نه ضایع کوو، نور چا څه خبره ونه کړه. حاجي عبدالباري منگل وویل، سبا زه تیار یم، د شاه شهید په لومړي سړک کې مې کور دی، دوه بجې تشریف راوړئ، ما ویل د خلکو خبرول پر تاسو دي، دوی وویل سمه ده. دې سره زما او د صمد ځاځي تر منځ کړکېچ هم یو څه راکم شو، هغه رخصت واخیست او زه څو دقیقې نور هم له حاجي صیب عبدالباري منگل او نورو دوستانو سره پاتې شوم، دې وخت کې حاجي نذیر احمدزي ډوډۍ راوړه، سره کړي مړزان او څه نوره غوښه، ما ویل ما خو درته ویلي وو چې تر څو پورې زما او ستا جرگه نه وي شوې، زه نه ستا ډوډۍ خورم، نه چای څښم، تر دې دمخه هغه چای هم راوړ، خو ما ونه څښه او یو بوتل اوبه مې چې له ځان سره وړې وې، پر همغو مې گوزاره وکړه. نذیر احمدزي د مړز یو وورن بېل کړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او راته یې وویل، والله چې دا ونه خورې، که له دې ځایه راځخه لاړ شې او یا درسره په عمر کې وغړېږم، د پښتانه کور ته راغلی یې، دا ګوډې ماتې د ورونو تر منځ راځي، جنګ به هم کوو، سوله به هم کوو، جرګه به هم کوو، جګړه به هم کوو، دا ټول شیان به کوو خو هدف به له لاسه نه ورکوو چې درته مې وویل ملامت یم، بیا ملامت یم، ملامت چا وژلی؟ نو د مړز یو ورون مې وخوړ، نوره ډوډۍ مې ونه خوړه، حاجي صیب عبدالباري منګل نور ټول دوستان خوشاله شول، تقریباً دوه بجې وې چې د نذیر احمدزي له کوره د خپل کور خوا ته راغلم، ماشومان ویده وو، مېرمن مې دروازه خلاصه کړه، ویل یې ولې دومره ناوخته، ما وویل د نذیر احمدزي په کور کې یوه ضروري غونډه وه، دې وویل، مشکل حل شو، ما وویل هو، یو څه خو حل شو، هغه له ټولې کیسې خبره وه، زه خپلې خونې ته راغلم، خوب رانغی، ساعت یو نیم ساعت وروسته ملا اذان وکړ، لمونځ مې وکړ، تر لمانځه وروسته هم خوب رانغی، سهار شپږ بجې مې حاجي خان محمد باز منګل سره ژمنه وه چې سروبي ته به ځو او سېلاب ځپلو ته به د شهزده سرای د صرافانو راټوله کړې مرسته رسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلا مشورو غونډې

د اسد لومړۍ نېټه، یکشنبه سهار پاو باندې شپږ بجې راپسې له ټلوېزیونه موټر راغی، کله چې ژوندون ټلوېزیون ته ورسېدم، ښاغلی قدرت الله سهاک راته تیار په ټلوېزیون کې منتظر و؛ تر ما دمخه راغلی و، ستړي مشي مې ورسره وکړه، یو لاس یې له لستوڼي وتی و، چپن یې پر اوږه وه، ومې پوښتل، خیرت دی؟ لاس دې ولې، ویې ویل، د ډاکټر صیب فاروق وردگ په کور کې د ستړي مشي پر مهال په ښویه تیږه وښویېدم، ولی مې ووت، ما ویل هډوکي ته خو دې زیان نه دی رسېدلی، ده وویل، نه، عکس مې واخیست، خدای فضل کړی، هډوکی روغ دی، خو نور یې سخت وکړولم، ما ویل ځه خدای درباندې رحمېدلی دی، ده سره د ټلوېزیون په انګړ کې لږه شېبه وګرځېدلو، نیم ساعت وروسته حاجي صیب خان محمد باز منګل هم راورسېده، درې واړه د حاجي صیب خان محمد باز منګل په موټر کې کېناستو، په لاره کې مې وکیل صیب سهاک او حاجي صیب خان محمد باز ته د نجات څلي ټول داستان بیان کړ او دا مې ورته هم وویل چې په تېرو شپږدېرشو ساعتونو کې مې یوه دقیقه خوب هم نه دی کړی، نو که په لاره کې راباندې خوب راغی، په زړه کې مو څه تېر نه شي چې زه ګنې بې تفاوته یم، لږ بېخوبه شوی یم، نو ځکه مې مخکې تر مخکې درته یادونه وکړه. هغوی د پښتنو پر حال افسوس څرګند کړ، ماته یې ډاډ راکړ؛تر دې ځایه دې کار رارسولی چې په دې اخره کې یې خوشې نه کړې چې بیا ټول کار خرابېږي او که موږ ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې څه ضرورت وي، موږ ته یې هم ووایه، ما وویل تاسو دواړه د جرګې او مرکې خلک یاست، حاجي صیب خان محمد باز منګل ته مې وویل، تا خو په صرافۍ مارکېټ کې ډېرې پېچلې جنجالي موضوعګانې حل کړې، نیم پکتیاوال او نیم مشرقیوال یې او نن دوه بجې تیاره د حاجي صیب عبدالباري منګل په کور کې غونډه ده، نو له دې ځایه چې خلاص شو، که ته هم جرګې ته راشې، ښه به شي، حاجي صیب قدرت الله سهاک خو تیار د کابل د خلکو وکیل دی، دوی له پلرونو او نیکونو د جرګو او مرکو خلک دي او د دې څلي له جریانه هم واقف دی، نو که دی هم راشي، ښه به وي چې که یو نیم کس څه ورانی ویجاړی کاوه او خبره یې ورانوله، چې تاسو یې مخه ونیسئ، زه خو اوس یو طرف یم او ځینې خلک هسې د شخصي غرض له مخې غواړي دا کار پر همدې ځای ودروي او هر څه ګډ وډ کړي، حاجي صیب خان محمد منګل وویل، حاجي عبدالباري منګل خو یو خیرخواه سړی دی، هغه خو جنجال نه جوړوي، ما ویل نه هغه خو دا جرګه هم د خیر او مشورې په خاطر رابللې ده او ما ورته وویل چې ستا په کور کې به کېنو، هدف مې دادی چې جرګې ته کېدی شي داسې یو نیم کس هم راشي چې اوړو کې یې شګه وي. دوی دواړو وویل، دوه بجو پورې به انشاء الله کارونه خلاص شي، راساً به که خدای کول غونډې ته درشو، ما وویل سمه ده. په لاره کې مو تر سروبي پورې پر بېلابېلو ټولنیزو، سیاسي او کلتوري مسایلو، د هېواد پر روان



د ولسي جرګې غړی قدرت الله سهاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناورین او د خلاصون پر لارو چارو بحث وکړ، مجلس دومره خوږ و، چې ما ته د خوب مجال پیدا نه شو، سهار چای مو د وکیل صیب قدرت الله سهاک به هوجره کې وڅښه، هغه ډېر زیات تکلیف ګاللی و، زیات لګښت یې کړی و، ما ورته وویل: وکیل صیب! پخوا به تر واده یوه ورځ وروسته د ناوې کور ته د (سرور) په نامه د خسر له کوره څه خوراکي مواد وروړل کېدل؛ د یوې ځانګړې مېلمستیا لپاره، بیا به د خسر له کوره ګڼ شمېر مېلمانه پرې ورغلل او هغه څه به یې چې مخکې ورلېږلي وو، هغه به یې ټول ترې بېرته وخوړل، ان د ناوې کور به تاواني هم شو، داسې نه وي




په سروبي ولسوالۍ کې له سېلاب ځپلیو سره د مرستې انځور

چې تر راوړې مرستې ستا لګښت زیات شي، حاجي صیب خان محمد باز او سهاک صیب دواړو وخندل، خان محمد باز وویل، والله رښتیا وایې، وکیل صیب ډېر زحمت ګاللی، بیا هلکانو پاکټونه راواخیستل، حاجي خان محمد باز وویل، ټولې (شپږ نیم لکه) افغانۍ دي، د وکیل صیب په مشوره شهیدانو ته پنځه پنځه زره کړئ او نورو زیانمنو ته درې درې زره افغانۍ.
نهه بجې د (سرچینو) کلي ته چې د سروبي بازار لوېدیځ لوري ته د نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لس کیلومترو په واټن موقعیت لري، هلته ورسېدو. ټول خلک د کلي په جامع جوومات کې راټول شوي وو، مرستې په منظم ډول د لست له مخې مستحقینو ته ورسېدې، لس بجې مو بېرته د کابل پر لوري حرکت وکړ، یوولس نیمې بجې کابل ته ورسېدو، دوی دواړه خپلو دفترونو ته لاړل، زه کور ته، خو ورته ومې ویل چې پر دوو بجو یاده غونډه مو باید په یاد وي، هغوی وویل درځو ان شاء الله، زه کور ته راغلم، ښه ستړی وم، چپرکټ ته پورته شوم، ما ویل لږ خوب به وکړم، خو خوب رانغی، یوه بجه مې یو څه ډوډۍ وخوړه، لس کم دوه بجې راپسې موټر راغی او تر لس دقیقو وروسته په شاه شهید کې د حاجي صیب عبدالباري منګل کور ته ورسېدم. زه لومړی شخص وم چې کور ته داخل شوم، ورو ورو نور مشران هم راغلل، درې بجې ټول پوره شول، نذیر احمدزی، حاجي خان محمد باز منګل، قدرت الله سهاک، حاجي حکیم خان ځاځی، حاجي داوود شاه نیازی، صمد ځاځی، عبدالستار میرزکوال صیب، احمد ګل توتاخېل، عمرګل مقبل، عبدالقادر طارق وردګ، دوست محمد اجرستانی، محمد عمر مرجان، حاجي زمان، نېک محمد ولسمل، په خپله حاجي عبدالباري منګل او ځینې نور مشران او ځوانان په دې غونډه کې حاضر وو، قراردادي (انجنیر رحمت ځلاند) او میوند شاه احمدزی هم چې یوه ورځ دمخه یې له ځلاند سره شخړه کړې وه، راغلل، میوند شاه احمدزي د ځلاند له ثبت کړو خبرو او لوډسپیکر سره په غونډه**



الحاج نذیر احمدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې حاضر و، په پیل کې تلاوت وشو، بیا نذیر احمدزي صیب ماته وویل چې یون صیب ته خپله خبرې پیل کړه چې ټولو ته وضاحت وشي، کېدی شي ستاسو تر خبرو وروسته هېڅا ته د خبرې ځای پاتې نه شي او غونډه په خیر سره پایته ورسوو او که بیا هم چا ته کومه خبره پاتې وه، هغه به یې وکړي او تاسو به ورته وضاحت ورکړئ، ما وویل: اول دې هغه دوستان چې کومه پوښتنه، ابهام او نظر ورسره موجود وي، لومړی دې هغوی خبرې وکړي او بیا به زه وضاحت ورکړم او هم به له پیله تردې دمه ټول جریان تشریح کړم، خو د ټولو دوستانو خبره همدا وه چې زه باید لومړی ټول جزیات توضیح او تشریح کړم، د غونډې په پیل کې احمدزي صیب او نورو مشرانو له ټولو څخه هیله وکړه چې هېڅوک باید جنجالي خبرې ونه کړي، موږ دلته جنجال ته نه یو راغلي، جنجال ختمولو ته راغلي یو، نه دا چې نورې ستونزې راوټوکوو. ما خپلې خبرې شروع کړې او د څلي ټول راپور چې دې کتاب کې هم راغلی، هغه مې په لنډېز سره له پیله تر پایه غونډې ته وړاندې کړ، هم مې د څلي د مرستندویانو نومونه او هم مې د هغوی د مرستې کچه ټولو ګډونوالو ته بیان کړل. دا مې


محمد اسمعیل یون

هم وویل چې تر اوسه مې قراردادي ته (اته اویا زره او سل) ډالره ورسولي او یوازې (لس زره اته سوه او پنځوس) ډالره یې په هغه حالت کې پاتې کېږي چې دی څلی موږ ته راوسپاري او فني هیئت هم د هغه د کیفیت تائید وکړي چې هو کار له پروتوکول سره سم ترسره شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library




او که فني هیئت یې کار نیمګړی وارزوه، همغومره پیسې به ترې کمېږي. دا چې ځینو خلکو د خپلو شخصي غرضونو له خاطره د سمت، قبیلې او نورو شیانو د پاللو اوازې اچولي، یا دا چې زه غواړم دا ځلی په خپل یا د تحریک په نامه کړم، دا ټول سوچه دروغ دي او دا کار ممکن نه دی، زه د یوه فرد په توګه هېڅا ته اجازه نه ورکوم چې له دې ځلي ځخه د سیاسي ګټو لپاره کار واخلي، یوه اصلي خبره داده چې د پخواني قراردادي کار پایته رسېدلی او اوس یو شرکت چې ټول انجنیران یې زموږ او ستاسو دوستان او عزیزان دي، هغه غواړي په وړیا ډول یې پاتې چارې بشپړې کړي، نو موږ ته وخت ډېر مهم دی، ځکه مو پخواني قراردادي ته وویل چې ژر دې خپلې خوازې ټولې کړه چې دې نویو کسانو ته د کار زمینه برابره شي، هغه خوازې ټولې نه کړې او په دې کې اوه اته ورځې وخت ضایع شو او دغه نورې خبرې چې په کې پیدا شوې دا هم د همدغې انګېزې له امله دي. ما تردې خبرو دمخه د غونډې ګډونوالو ته د ښاغلي نذیر احمدزي د رول په باب هم خبرې وکړې او هغه سختې ګیلې مې هم ورته بیان کړې چې زه یې یوازې پرېښودم او د ده له خوا د تېرې شپې د غونډې جریان مې هم ووایه، د ده د اوسېلې، ملامتۍ د منلو او ناغې د ورکړې خبره مې هم وکړه. نذیر احمدزي هم زما خبرې یو ځل بیا تائید کړې او د جرګې په مخ کې یې خپله ملامتي او ناغه ومنله او ویې ویل چې تر دې وروسته به سستیا نه کوو.د دې ترڅنګ ما د دې خبرې یادونه هم وکړه چې که د نجات ځلي به کار کې ځینې دوستان او یا اشخاص زما پر رول خوښ نه وي، په دې کار کې خو له هرې وجې چې و، زه راټاله شوم، خو اوس یې تر هغه نه خوشې کوم چې څو مې بشپړ کړی نه وي، تر بشپړتیا وروسته به یې موږ کیلي مشرانو ته حواله کړو، بیا نو دوی پوهېږي او کار یې، خو ځینو هغو خلکو ته چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غټو کارونو د سرته رسونې ادعا او اشتها لري، ډېر نور کارونه پاتې دي، هغه دې ترسره کړي، زه به هېڅ مداخله په کې نه کوم، په احمد شاه بابا مېنه کې د ملالۍ یو لوی واټ دی چې عبدالرشید ایوبي صیب په تېره جدي میاشت کې پرې غونډه جوړه کړه او ویلې یې وو چې هم به دا واټ جوړوم او هم ځلی، خو تر اوسه هېڅ کار پیل نه شواو نه څوک پیداشول چې دا واټ جوړ کړي، په میرویس میدان کې د (شیر سرخ) منار و، اوس یې نښه نشته، هغه جوړ کړئ، ببرک خان ځدراڼ د هېواد یو بل ملي مبارز او اتل تېر شوی، د هغه په باب علمي سیمینار جوړ کړئ، څلور لارې یې په نامه کړئ او ځلی پرې جوړ کړئ، او**



انجنیر رحمت الله ځلاند

**نور په لسګونو غټ کارونه، هر څوک یې چې کولای شي، پیل دې کړي، هېچا سره دې مشوره هم نه کوي، مقصد دغه کارونه دې پیل او ترسره دې کړي، که موږ یې په کار کې مداخله وکړه، بیا دې ووایي چې زموږ د کار مخه نیسئ، خو د نجات ځلي په باب په غوڅ ډول وایم، اوس چې په سلو کې نږدې (نوي)برخه ساختماني چارې بشپړې شوي او په دې پاتې کار کې یو څوک خنډونه جوړوي او کار خرابوي، که دا کار موږ دوی ته پرېږدو، نو دا به زموږ پر بېکفاتۍ دلالت وکړي، نو دا کار به بشپړېږي، دې کې د هر ډول دسیسو او توطیو مخه نیسو، نور پاتې کارونه چې ما یې مخکې یادونه وکړه، ټولو ته لاره خلاصه ده چې سر له همدا ننه پرې پیل وکړي. بیا انجنیر ځلاند جګ شو، ویې ویل، زه یون صیب نه مننه کوم،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدی و چې ما سره یې همکاري کړې، خو ده ماته په ټلیفون کې تېزې خبرې وکړې، ما هم تېزې خبرې وکړې، ما خوازه خلاصوله، خو یو څو ورځې په کې ځنډ راغی، اخر دوی راغلل، زما کارګران یې هم له هغه ځایه وشړل، ما پر دې څلي زیات زحمت ګاللی، قرباني مې ورکړې، څو**


عبدالستار میرزکوال

**نورې متحد المال خبرې یې وکړې او له ځینو کسانو یې ګیلې شروع کړې، ما غوښتل چې د ده د چلند په هکله یو څه نور وضاحت هم ورکړم، خو ټولو وویل چې موږ ته راپور پوره وضاحت راکړ، نورو خبرو ته اړتیا نه شته، دې وخت کې (میوند شاه احمدزي) وویل چې ماته فقط یو څو دقیقې وخت راکړئ چې زه د ځلاند خبرې او هغه کنځلې چې یې ماته کړي، هغه درواوروم، نور بیا تاسو قضاوت وکړئ، خو کله چې جرګه مار پوه شول چې دا خبرې کېدی شي ډېرې ترخې وي، نو له میوند شاه احمدزي څخه یې هیله وکړه چې اورولو ته یې اړتیا نه شته، خیر دی ته ځوان یې اوسېله کوه، موږ خبره جوړوو، ورانې ته یې نه وړو، دې سره میوند شاه هم د جرګې خبره ومنله او د ځلاند خبرې یې وانه اورولې، ټولو په خپل نوبت مننه وکړه، میرزکوال صیب، ستونزو او مشکلاتو ته هم اشاره وکړه او له ما څخه یې هم ډېره مننه وکړه چې تردې دمه مې ډېرې هلې ځلې کړي، داود شاه نیازی صیب وویل هغه څه چې تېره ورځ موږ ته ویل شوي وو، خبره د هغه سرچپه راووته، دلته قراردادي ته تقریباً خپلې پیسې وررسېدلي او ډېرې کمې پیسې یې پاتې دي، هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوازې چې ځینو خلکو اچولې، د یون صیب د راپور له مخې هغه ټولې بې بنیاده دي، احمد گل توتاخېل صیب جگ شو، یون صیب خیر یوسې، زموږ سر دې خلاص کړ، ما خو فکرکاوه چې تا یوازې (یو دېرش زره ډالره) ورکړي، نور ټول دې سړي له ځانه لگولي، موږ وویل چې دا یون ولې دې سړي ته پیسې نه ورکوي، ده خوویل چې ماته څوک پیسې نه راکوي، داخو دادی تا (اته اویا زره) ډالر ورکړي، یاره که رښتیا وایم، تر اوسه پورې ماته په زړه کې دا د یون صیب په باب ډېرې خبرې وې، دا خو چې ده کوم زحمتونه گاللي، دا خو نور



احمد گل توتاخېل

هم ماته په زړه کې گران شو، ښه شو چې دا جرگه وشوه، هر څه واضح شول او ښه خو لا داده چې ما تر اوسه د یون صیب په ادرس کومه خرابه خبره نه ده کړې، که نه دا سړی به له ما څخه څومره خفه شوی و، صمد ځاځي هم خپلې خبرې وکړې او ویې ویل چې یون صیب سره زموږ د پرونۍ ناستې هدف هم دا و چې دا مشکل یا غلطفهمي چې پیدا شوې، دا څنگه حل کړو، دلته ځوانان وو، چا به ورته څه ویلي وو، ما هغه غلي کړل، ځلاند ته مې هم وویل چې صبر کوه یو ځل ټول کښنو چې اصلي خبره معلومه کړو، یو بل تن په کې پاڅېدو، غالباً چې لومړی ځل غونډې ته راغلی و او د څلي له ټول داستان او د قراداد له متن څخه هم سم خبر نه و، هغه وویل دا قرارداد په فني ډول نه دی شوی، دا باید له راډیو ټلوېزیون څخه اعلان شوی وای، داو طلبۍ ته وړاندې شوی وای او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرارداد شوی وای، دې کې ډېرې نیمګړتیاوې دي، ده په داسې وخت کې قرارداد ته اشاره وکړه چې قرارداد همدا نن په اصطلاح پایته ورسېده.
نېک محمد ولسمل او څو تنو نورو مشرانو هم خبرې وکړې، بیا صمد ځاځي ماته وویل چې که تېره شپه څه خبرې ترخې تروې تبادله شوې وي، زه د هغو ښښنه غواړم، د هغو لس چنده او لس ځله زه ځان ته حواله کوم، فکر وکړه چې هغه خبرې ما ټولې ځان ته کړې دي، ما ویل نه هېڅ خبره نه ده، دا خبرې په کې راځي، دا ځلی دی، د ټولو مشترک دی، دې کې طبعاً یوه نیمه خبره تبادله کېږي، جرګه او مرکه د همدې لپاره وي چې دغسې مسلې حل کړي، په پای کې بیا زه پورته شوم او ومې ویل، فکر کوم هر څه واضح شول او چا سره چې کومه پوښتنه او ګروېږنه وه او یا ابهام و، هغه ټول تر یوه ځایه حل شول، اوس راځو د غونډې نچوړ او نتیجې ته، لومړی دا چې تېر قراردادي سره د تړون مطابق قرارداد ختم دی، یو دوه تنه انجنیران به زموږ او دوه تنه به د ده له خوا وټاکل شي، یو دوه ورځو کې به د ده کار وارزوي او پاتې پیسې به یې د شلو ورځو په بهیر کې له تړون سره سمې ورکړو.
دویم،د ځلي پاتې کار به چې دویم ساختماني شرکت یې پر مخ وړي، د هغه کار کې به څوک ځنډ او خنډ نه پېښوي، هغه به خپل کار کوي، مشران کولای شي د کار د ښه والي به موخه وخت پر وخت د ځلي کتنه وکړي او د ښه والي لپاره هلته مېشته انجنیرانو ته خپلې لارښوونې وکړي او مشورې ورکړي.
درېیم د ځلي پاتې پیسې چې د پخواني قراردادي پوروړي ګڼل کېږو او یو څه هم داسې چارو ته چې د دویم شرکت لاس ورته نه رسېږي، نو تقریباً ټول اوه لس اته لس زره ډالرو ته اړتیا ده، دا پیسې باید پوره شي.
او څلورم وړاندیز مې دادی چې دځلي د پرانیستې لپاره باید یو تدارکاتي کمیسیون جوړ شي چې لویې غونډې ته ترتیبات ونیسي. دې وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صیب خان محمد باز وویل، (لس زره ډالره) زما له خو اعلان کړه، هغه زیاته کړه زه خبرې نه کوم، ستاسو ټولو خبرې تائیدوم. قدرت الله سهاک هم زما وړاندیزونه تائید کړل، حاجي نذیر احمدزي وویل، زه خو یو غریب وکیل یم، ما پسې (درې زره ډالره) مرسته ولیکه، (درې زره ډالره) مو اصولي صیب پسې ولیکل او دوه زره ډالره ما (یون) ژمنه وکړه.
په دې ډول تقریباً هغه پیسې یو ځل بیا په ژمنو کې پوره شوې چې موږ ورته اړتیا احساسوله. بیا مو د تدارک پر کمیسیون غور وکړ، د هر زون له عمومي قومي شورا څخه لږ تر لږه یو یو تن او که څوک نور په خپله خوښه حاضر وي، هغه هم کولای شي چې د لویې غونډې لپاره د ترتیباتو کمېسیون ته راشي، تقریباً دولس دیارلس تنه شول. زه (یون)، حاجي صیب حکیم خان ځاځی، صمد ځاځی، میرزکوال، حاجي شېر محمد منګل، دوست محمد اجرستانی، توتاخېل، نېک محمد ولسمل، حسیني پشه یي (غیاب کې)، عبدالولي، حاجي عمر او داود شاه نیازی د دې کمیسیون لومړني غړي شولو. جرګه په خیر او عزت سره پایته ورسېده، تر دې وروسته نور مشران رخصت شول او ما د تدارک کمېټې له غړو څخه هیله وکړه چې د یو څو شېبو لپاره پاتې شي، هغوی پاتې شول، ما ورته وویل چې اوس باید د لویې غونډې لپاره یوه نقشه یا کاري پلان جوړ کړو، ټولو مصلحت وکړ، د دې په خاطر چې اوس وخت کم دی، عاجله پرېکړه نه شو کولای، نو ما وړاندیز وکړ چې د حاجي صمد ځاځي په کور کې به کېنو، دی به یو ښه ډنډکی هم جوړ کړي، هم به جلسه وکړو، هم به ډنډکی وخورو، خرما او ثواب به دواړه شي، صمد ځاځي وویل، په سترګو، منم یې، ورځ او تعداد راوښيئ. د اسد پر (۴)مه نېټه د چهارشنبې ورځ یوولس بجې په شش درک کې د صمد ځاځي په کور کې د جلسې نېټه وټاکل شوه او ناسته مو په دعایې سره پایته ورسوله. د صمد ځاځي په کور کې مې له ناستې څخه هدف دا و چې زما او د ده تر منځ چې کومې ترخې خبرې تېرې شوې وې، هغه له منځه لاړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څلي د دویم یا ښکلاییز پړاو چارې

کله چې د حاجي عبدالباري منګل له کوره په خوشالۍ سره راووتو، نو د لویې غونډې د تدارک د نوي کمیسیون غړو ته مې وړاندیز وکړ، اوس خو مشکلات او ناسم پوهاوی تقریباً پایته ورسېدل، راځئ چې لاړ شو، د دې څلي د دویم پړاو کار ته چې همدا نن شروع شوی، هغه وګورو، ټول خوشاله شول، تقریباً یو نیم سل، دوه سوه متره پلی مزل مو وکړ؛ څلی او د حاجي عبدالباري منګل کور ډېر سره نږدې وو. څلي ته ورسېدو، ټوله خوشاله وو. د څلي چارې چې تازه پیل شوې وې، یو څو زینتي تیږې ایښودل شوې وې، یو تن مسول انجنیر خپل پلان تشرېح کړ، ټول سره خوشاله شول، خدای پاماني مو واخیستله او هر یو پر خپله مخه لاړو.

دا مهال د څلي جوړوونکي نوي شرکت (سټیټ کورپس) مسول انجنیر خپلې خوازې راوړې وې، پخواني خوازه کار ته یې ویلي وو چې خوازې دې پورته کړه، د خوازو جنجال لا پر خپل ځای پاتې و. ده د ټولو هغو خوازو شمېر چې پر ځمکه پرتې وې او په څلي کې ځوړندې یا نصب وې، یادښت واخیست او د خوازو مالک ته یې زنګ وواهه چې راشه خوازې دې ټولې کړه، هغه د ځمکې د سر یوړلې، خو په څلي کې بندې لا هماغسې بندې پاتې شوې. تر دې دمخه هم د خوازو مالک ماته یو دوه ځله یادونه کړې وه چې که همدا خوازې راڅخه په کرایه واخلي، ښه به وي، ساختماني شرکت ته مې وویل، هغوی وویل، موږ خپلې خوازې لرو، دا یې سمې ترلې هم نه دي، سبا به بیا ورسره په جنجال کې اخته یو، غم دی چې خلاص یې کړو، ښه به وي، پر خوازه کار مو یو ځل بیا فشار

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړ، خو هغه ځان اخوا دېخوا کاوه، شرکت د څلي لاندینۍ برخې ته د خپلې خوازې تړل شروع کړل، خو بندو خوازو ورته سخت مزاحمت پېښوه، دوه ورځې دې کې نورې هم ضایع شوې، بله ورځ انجنیر محمد نصیر بهسودوال چې د همدې ساختماني شرکت (سټیټ کورپس) یو فعال انجنیر دی او د څلي چارې تر ډېره همدی پر مخ وړي، راته زنګ وواهه، یون صیب یو کار مې وکړ چې ستا په کې څه نظر دی؟ ما وویل، ووایه، دې خوازه کار سره یو توافق ته ورسېدو، ما ویل څه ډول؟ ده وویل، د ده کومې خوازې چې هلته بندې دي، د هغو تعداد مې واخیست، په همغه شمېر مې ده ته خوازې بېلې کړې، ده ته به موږ خپلې خوازې چې همدا ډول دي، خو تر دې نوي دي، هغه ورکړو او د ده خوازې به موږ ته پاتې


انجنیر محمد نصیر بهسودوال

شي، چې مقصد دا مشکل حل شي، که دوی ته موږ کېنو، دا څو ورځې نورې هم پر موږ تېرېږي، ځینې هغه خوازې یې چې په کانکرېټ کې بندې دي، مجبور دي هغه اره کړي او یو څه ضایعات ولري، نو ځکه دی ځان اخوا دېخوا کوي، ما ویل دی په کې څه وایي؟

انجنیر بهسودوال وویل، دی خو دېته ډېر خوشاله دی، د ده خو اوله ورځ هم همدا وړاندیز و، ما ویل چې تاسو خپل منځ کې موافق یاست، زه هم درسره موافق یم، خو چې سبا بل جنجال جوړ نه کړي، ده ویل نه خط مې ترې اخیستی او خط مې ورکړی، سبا راځي او زه ورته له خپل ګودام

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څخه همغه شمېر خوازې ورکوم، سبا همدا کار وشو او په دې ډول د خوازه کار او خوازو ستونزه حل شوه. دوه ورځو کې خوازې له لاندې تر پورته برخو پورې وتړل شوې، د پلستر کار پيل شو، څرنګه چې منار لوړ و، نو د پلستر کارانو سترګو تور خواړه، نو بيا يې يوه شنه پرده ترې راتاو کړه، هم پلستر شروع و او هم لاندې د تيرو کار.**

**لکه څنګه چې مې دمخه يادونه وکړه، د حاجي عبدالباري منګل په کور کې مو ژمنه کړې وه چې د ميزان پر (۴)مه د چهارشنبې پر ورځ به د صمد ځاځي صيب په کور کې کېنو، ما دفتر کې يو څه کارونه لرل، حاجي صيب داود شاه نيازي ته مې وويل چې ما پسې ټلوېزيون ته راشه، دواړه به يو ځای لاړ شو، هغه وويل: سمه ده. له ژمنې سره سم ما پسې ټلوېزيون ته راغی او په څو دقيقو کې د صمد ځاځي صيب کور ته ورسېدو. تر دې دمخه چې کومه بله دردوونکې خبره وه، هغه دا وه چې د يکشنبې پر ورځ چې کله هم موږ د حاجي عبدالباري منګل له کوره رابهر شو او د زاړه قراردادي موضوع يو طرفه شوه، نو هغه پر همغه شپه فيسبوک ته د خپلو ځينو انډيوالانو په واسطه د څلي عکسونه او خپل عکسونه پورته کړي او ويلي يې وو چې مبارک دې وي، څلی مې درته جوړ کړ، بيا يې خپلو ځينې شخصي انډيوالانو او نورو ته هم د فيسبوک له لارې خپل تصويرونه ورلېږلي وو چې يا همدا نشر شوی پوسټ شير کړي او يا هم له ده څخه د مننې په پار ځانګړي پوسټونه وکړي، ځينو ته يې د پوسټ متن هم ورلېږلی و چې دغه شان پوسټ بايد وکړي. کله چې ما د فيسبوک پاڼې کتلې، نو پر څو ايډيانو مې سترګې ولګېدې چې د ځلاند عکسونه او د څلي عسکونه يې پورته کړي وو او له هغه څخه يې ځانګړې مننه کړې، هغه ته يې مبارکي ويلي، حيران شوم چې دا څه وشول، ځينو بيا هغه ته د مبارکۍ او مننې تر څنګ دا هم زيات کړي وو چې له پکتيا څخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راتلونکو پارلماني ټاکنو ته احتمالي نوماند هم دی. دا مهال ماته یو شمېر ځوانانو ټلیفونونه وکړل چې دا ځلی د ځلاند له خوا جوړ شوی، که نورو خلکو یې پیسې ورکړي، له دې څخه څه د مومن خان د ښامار کیسه جوړه شوه، دا موضوع ولې سیاسي یا شخصي شي؟ ما وویل خیر دی لږ اوسېله وکړئ، کېدی شي خپل پوسټونه او ځینې تبصرې بېرته لرې کړي، خو ګورم چې پوسټونه یې نه یوازې لرې نه کړل، بلکې نور یې هم زیات کړل.**

**ما خپل ضمیر سره یوه مشوره وکړه، پرته له دې چې د چا مشورې تر اغېز**




**لاندې راشم زړه کې مې وویل، هغه خلک چې په دې کار کې یې تر ټولو زیات معنوي او مادي خدمت کړی، هغه به څه وایي چې موږ لا ژوندي یو او خلک زموږ په سترګو کې راننوزي او پردی توري په خپل نامه کوي، دا چې اوس یو شمېر اشخاص د نورو خلکو توره په خپل نامه کړي او د دې ځلي د بیا جوړونې پر مسیر او بهیر ګردونه پرېباسي نو بیا به موږ راتلونکي نسل ته په هره برخه کې د یوه راڼه تاریخ د وړاندې کولو ژمنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څنګه عملي کړو؟ دا ځلی چې خپله د یوه تاریخ انځور ګري کوي، نو د بیا جوړونې تاریخ یې ولې له داسې ستونزو سره مخ شي؟ نو ځکه مې د خپل ضمیر په مشوره دا ګام پورته کړو چې ملت ته یو وضاحت ورکړم، که څه هم زه پر دې پوهېدلم چې فیسبوکي بحث ته، هغه هم له داسې اشخاصو سره داخلېدل چې له ادبي ژبې او ادبي نزاکتونو څخه څه ناڅه لرې وي، د بازار او کوڅې ژبه کاروي او یو تاریخي بحث د عوامو د خولې ناخبره منطق ته راټیټوي ، دا ټول شیان مې په ذهن کې تېرېدل چې تر ثمر مخکې د ځلي په باب د هرې خبرې رسنیزه کول هم د ځلي کورنیو اصلي مخالفینو او هم یو شمېر تنګنظرو ته د ناوړه ګټې اخیستنې زمینه برابروي، خو پر حقیقت باندې د خاورو شیندلو مخنیوی راته تر دې ټولو خبرو مهم ښکارېده، نو ځکه مې دغه لاندې وضاحت په فیسبوک کې له خپلې ایډي څخه پورته کړ:**



Mohammad Ismael Yoon added 3 new photos.
July 25 at 1:56am ·

د نجات ځلي په باب
یو وضاحت او عامه پوهاوی
د (۱۳۹۵) ل کال د میزان میاشتي پر (۲۳)مه نېټه د نجات ځلي د بیاجوړوني د بنسټ ډېره کېښودل شوه، له هغي مودي تر دي دمه نږدي لس میاشتي تېرېږي. په دې بهیر کي یو زیات شمېر هېوادپالو او ملتپالو افغانانو د دې ځلي د جوړوني لپاره مالي او معنوي هلي ځلي کړي او یو شمېر ځان غوښتونکو او ځان ځلوونکو بیا نه یوازې دا چي مرسته یې نه ده کړې، بلکي ځانونه یې هم پټ کړي وو او ان د ځلي د جوړېدو په چارو کي یې خنډونه هم رامنځته کول، اوس چي د ځلي د جوړېدو چارې (نوي سلنه) بشپړې شوي او پر پاتي برخو هم چټک کار روان دی، یو شمېر شهرت غوښتونکو بیا هلي ځلي پیل کړي چي دا ملي او ولسي کار د خپل ځان په نامه تمام کړي. له نجات ځلي څخه یې د مومن خان د ښامار کیسه جوړه کړې او هر څوک فیسبوک کي د نورو تورې په خپل نامه خېروي. له ټولو هېوادوالو څخه هیله کوو چي نه د ساختماني شرکت، نه د ټیکدارانو چي د پیسو مقابل کي یې کارونه ترسره کړي او نه زما (یون) په ګډون ددې ځلي د جوړوني چارې کوم بل شخص، سازمان یا ډلي ته منسوبې کړي.
ددې ځلي د جوړوني د چارو ټول جزیات د یوه منظم راپور په بڼه ترتیب شوي، چي یا به یې د ځلي د پرانیستي پر ورځ، یا هم تر هغي ورځې یوه ورځ وړاندې یا وروسته د ځلي د ټولو جوړوونکو حضور ته وړاندې شي او د هر هغه شخص یادونه او قدرداني به وشي چي د ځلي د جوړېدو له پیله بیا تر پایه یې په دې بهیر کي معنوي او مادي مرسته کړې. د ځلي تر پرانیستي وړاندې چي هر شخص، ډله، ټولنه، شورا یا ګوند، ساختماني شرکت، ټېکه دار یا مزدورکار د ځلي د جوړوني چارې ځانته منسوبوي، دا عمل د غندني وړ دی او ټول باید ددې ډول درواغجنو او ځان خوښو اشخاصو پر وړاندې واحد او قوي دریځ خپل کړو.
په درنښت
محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دا پوسټ پورته شو، نو اکثرو هېوادوالو يې تائيد او هر کلي وکړ، خو د ساختماني چارو قراردادي چې د دې ځلي جوړونه يې د ځان لپاره د تبليغ او کمپاين د يوې وسيلې په توګه کاروله، له ځنډ، تامل او تحمل پرته ډېر ژر غبرګون وښود او زما پر پوسټ يې دغه لاندې تبصره وکړه:

Rahmatullah Zaland

يون صيب! ته نه سترګي لري نه منطق که تا سترګي لرلی نو زما سره قرارداد موجود دی دوهم ما د تاجکو اخطارونه جنګونه او دسیسي زغملي دی دوهم د کار په وخت کي هر چا ليدلي يم ، دوهم د ترروکاتو د قانون مطابق هر جوړونکي شرکت حق لری چی خپل جوړ شوي ساختمان د جوړيدو امتياز ځان ته منسوب کړي، ته نه پوهاند نه موهاند ته تر اوسه د ترروکاتو په قانون نه پوهيږي، ته نه فکر لري نه د فکر کولو هوډ، زه هغه اسناد درته وړاندي کړم چي تا د خپل پنځه کسيز متعصب ګوند لپاره په دي ځلي کمپاين کاوه او ما دي مخه ونيوه.
ته او خدای جي يو ملي شخص دومره وړوکي وی لکه ته ،ته هم د مليتوب دعوه لري؟ ملي سړی به داسي وی، ته نه منر يی منر کيدای شي ته خوک يی چي ته ځان د هر څه مدعي بولي؟
څه ګران وړوکيه کمکيه 'جرنه شادی کبوه او خپل اصليت ته مراجعه وکړه.
نور داسي بد ونکړي

Like · Reply · 1 · 42 mins

ورپسې يې نورو هېوادوالو ته د ځواب په ترڅ کې هم، ماته سپکې سپورې ويلې وې، له هغې جملې څخه يې اصولي صيب ته د ځواب په ترڅ کې ويلي وو:

Rahmatullah Zaland

د اصولي صيب بعضي نقاط حقيقت لري خو بعضي نقاطو کي يی افراط کړيدی، خو يون يکي هيڅ رول نه درلود ټولي جاري يی ما پر مخ وړي او له ځان څخه مي هم پيسي يکي مصرف کړيدی چي د افتتاح په ورځ به يی اسناد ارايه کړم
دوهم دې ساحي ته هيڅ پښتون نشو راتللي او هيڅوک د تاجکو له ډاره نه حاضريدل چي د ځلي چار پر مخ يوسي زه د سر په بيه ورته ودريدم نه پوهيږم چي پښتون قوم ته زما قرباني ولي اهميت نلري؟؟ ما يی په يوه تيه کي بيزاين وکړو او د ټيي مي خط واجاوو ..........
اوس يی وملی چي يون دروغ واي

Like · Reply · 4 · July 25 at 6:37am · Edited

همداسې يو شمېر نورو کمنټونو او نظرونو کې چې اکثره د همدې ډول اشخاصو له خوا له خپلو يا مستعارو ايډيانو څخه خپاره شوي وو، هم ماته ډېرې سپکې سپورې ويل شوې وې، چې ما ورته هېڅ ځواب ور نه کړ او دلته يې راوړل هم ضروري نه بولم، خو د دې څو خبرو يادونه مې ځکه وکړه چې کېدی شي زما په شان يو شمېر نور هېوادوال، چې د خدايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خدمتګارۍ په رول کې واقع شي، داسې ښکنځلو سره مخامخ شي، نو ورته په کار دي چې خپله اوسېله ورته لوړه وساتي.**
**په داسې حال کې چې د تا ویلو او ما ویلو، کنځلو، تائید او رد خبرې هم روانې وې، موږ خپل کار ته هم له کوم ځنډ پرته دوام ورکاوه، کله چې د چهارشنبې پر ورځ، غرمه مهال د صمد ځاځي کور ته ورسېدو، نو له ژمنې سره سم، لس دولس تنه مشران راغلي وو. نېک محمد ولسمل، حاجي محمد حکیم ځاځی، داود شاه نیازی، میرزکوال، حاجي عمر، حاجي زمان، انجنیر دلاور توتاخېل، احمدګل توتاخېل او یو څو تنه نور مشران راغلي وو. لومړی مو پر خپلې اصلي موضوع بحث پیل کړ، د څلي د پرانیستونکې غونډې لپاره مو درې کمېټې جوړې کړې: امنیتي کمېټه چې میرزکوال صیب به یې مشري کوي، ولسي کمېټه چې حاجي داود شاه نیازی به یې مسولیت لري او فرهنګي کمېټه چې زه (یون) به یې چارې سمبالوم، هر څوک یانې هره شورا حق لري چې دې کمېټو ته خپل غړي وروپېژني. د کمېټو د مشرتوب پر سر طبعاً په زړونو کې پوره توافق نه و، خو ظاهراً ټولو موافقه وکړه، د خلکو د خبرونو لپاره ما یوه فورمه جوړه کړې وه، چې شکل یې په دې ډول و.**

| ګڼه | نوم | شخص یا بنسټ | د کسانو احتمالي شمېر | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

**له دې فورم څخه زما هدف دا و چې هره شورا یا یې مشر دعوه کوي چې ما سره دومره خلک دي او دومره دي، خو د غونډو پر مهال بیا له هغوی څخه پنځه سلنه هم حاضر نه وي، نو که لاسلیک ورڅخه واخیستل شي، ژمنې ته به نور هم ژمن شي. دا ماته ډېره پخه تجربه ده چې د ژمنې او عمل تر منځ ډېر زیات واټن موجود وي، په دې خاطر چې ژمنه پر عمل بدله شي او د لویې غونډې پر ورځ د ګډونوالو کمښت احساس نه شي، نو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلې ژمنه په کار ده، ما دا هم وویل چې که سړی د خپلې لیکلې ژمنې لس سلنه هم عملي کړي، بیا به هم موږ یوه بریالۍ غونډه ولرو، د غونډې پر مېکانېزم مو هم پوره بحث وکړو، تر ډېر بحث وروسته ناست کسان په جدول کې د خپلې ژمنې لاسلیک ته حاضر شول. صمد ځاځي له ژمنې سره سم ښه خوندور (ډنډکی) تیار کړی و، هر څه پرېمانه وو، ویې ویل بازاري ډوډۍ مې درته ځکه رانه وړه چې څه تاسو غوښتي وو، هغه شان کار مې وکړ، موږ وویل سم کار دې کړی، خوند یې په همدې کې دی، د بازار ډوډۍ هر وخت پیدا کېږي، خو دا خوندوره ډوډۍ هر چېرته نه وي، پوره خوند په کې و. تر ډوډۍ وروسته مې ټولو ته مخ راواړوه، ما ویل یوه خبره بله هم په ضمني ډول یادوم، تر ډوډۍ وړاندې او د جلسې پر مهال مې ځکه یاده نه کړه، چې خبره ډېره پیکه او بې خونده وه، ما ویل هسې نه چې زموږ مجلس بې خونده او یا د ډوډۍ خوند پیکه کړي. صمد ځاځي وویل، زه پوه شوم چې ته څه یادوې، زه ټولو باندې خبر یم، چندان ښه کار نه دی شوی، که یاده نه شي، ښه به وي، ما وویل، یادول یې ځکه ضروري دي چې کېدی شي ځینې دوستان پرې خبر نه وي، دوی هم باید خبر شي، که سبا څه خبره شي، بیا به دا مشران وایي چې موږ خو په دې بهیر کې شامل وو، موږ ته خو به دې یو احوال راکړی و. ما د انجنیر ځلاند نظر ورته ولوست، ټول ډېر خفه شول، بیا صمد ځاځي وویل، کاشکې تا هېڅ ځواب نه وای ورکړی، همداسې دې پرې ایښی وای، که تا څه نه وای لیکلي، نو هغه به ولې داسې څه لیکل، ښه یې نه دي کړي، خو تا هم باید ځواب نه وای ورکړی. ما وویل، هغه خو ټول څلی په خپل نامه کړی او دا خلک چې تر دې دمه یې دا څلی رارسولی، د هغوی حق یې هم تلف کړی، ما فقط یوازې وضاحت ورکړی او دا مې هم ویلي چې زما په شمول هېڅوک حق نه لري چې د څلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارې څان پورې وتړي، لومړی دا خبره خو هغه مطرح کړې وه، ما يوازې وضاحت ورکړ. بيا مې وويل، د دې خبرې يادول په دې مانا نه دي چې زه د خپل ځان ځواب نه شم ويلای، هدف مې دا و چې دا ښاغلی ځان ته ځاځی وايي، اول به يې ځاځي د ځاځيتوب جرګې ته راکاړي، بيا پکتياوال د پکتياوالۍ او بيا پښتانه د پښتونولۍ، که دا ټول د يوه شخص د خولې مزي نه شي ټينګولی، نو بيا زه خپله پوهېږم چې د ځان دفاع څنګه وکړم. ټوله جرګه ورته په غوصه شوه، خو صمد ځاځي وويل چې هېچا ته اړتيا نه شته، موږ ځاځيو کې د دې جرئت شته چې دې ډول خلکو سره څنګه حساب و کتاب وکړو. هغه شخص پر ځای پرېږده چې څه ډول شخص دی، دلته راغلی و، ماته يې وويل چې داسې کار مې کړی دی، ما ورته وويل چې ښه دې نه دي کړي، اوس تاته وايم چې هم د ځاځيو په توګه ناغې ته تيار يو، هم د پکتياوالو په توګه او هم د پښتنو، هره ناغه چې ته وايې، موږ يې ادا کولو ته تيار يو. تر دې وروسته څه نورې خبرې هم وشوې، ځينو دوستانو په لست کې د خلکو شمېر وليکه او لاسليک يې کړ، بيا مو دعا وکړه او جلسه ختمه شوه. زه د ټلوېزيون پر لوري راغلم او مازيګر مهال د څلي ليدو ته ورغلم، په دې جلسه کې مو ژمنه وکړه چې د اسد پر (۹)مه نېټه د دوشنبې پر ورځ به بله جلسه مازيګر څلور بجې په ژوندون ټلوېزيون کې وي. د صمد ځاځي له کوره په خوښۍ راووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د ساختماني چارو د بشپړتیا ارزونه

د اسد پر لومړۍ نېټه، د یکشنبې پر ورځ د حاجي عبدالباري منګل په کور کې له کړې ژمنې سره سم مې دوه ورځې وروسته له انجنیر سالم اخندزاده، انجنیر دلاور توتاخېل او انجنیر نذیر عظیمي څخه هیله وکړه چې درېواړه د ځلي چارې وارزوي او موږ ته خپل لیکلی نظر راکړي، انجنیر صیب سالم او انجنیر دلاور یوه ورځ وروسته د کار ساحې ته لاړل، نقشه او خپل انجنیري وسایل یې ځان سره واخیستل، خو انجنیر نذیر عظیمي پکتیا ته تللی و، ماته یې ټلېفون کې وویل چې دوی دواړه دې وګوري، ما خو هسې هم ځلی کتلی، بیا به یې هم وګورم او بیا به درسره خپل نظر شریک کړم، انجنیر سالم او انجنیر دلاور ماته په ټلېفون کې وویل چې ډکون پاتې، د ځلي داخلي زینه پاتې، البته یوه برخه یې شوې هغه هم نیمګړې، د ځلي بهرنۍ خوا زینه پاتې، برق پاتې او ځینې واړه متفرقه کارونه یې کنډو کپر پاتې دي، خو د ځلي قطر او لوړوالی تقریباً د نقشې مطابق ترسره شوی، البته د کیفیت لپاره یې د چک وسایل نه لرو، خو دا کار یې دومره بد نه برېښي، ما ویل ستاسو لیکلی نظر بیا په یوه پاڼه کې غواړم. دوه ورځې وروسته انجنیر عظیمي زما دفتر ته راغی، هغه وویل، هغه ورځ په سفر وم، اوس څه وکړم؟ ما ورته وویل، که ځلی یو ځل چک کړې ښه به وي. بیا چې هغو نورو انجنیرانو خپل لیکلی نظر راکړ، تاسو به هم خپل نظر پرې ولیکئ، هغه ویل سمه ده، زه په خدمت کې یم، هغه رخصت شو، پنځه شپږ ورځې وروسته هغوی خپل لیکلی نظر راوړ او انجنیر صیب عظیمي هم پرې خپل نظر ولیکه، دا لیکلی نظر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دې ډول دی:



د نجات څلي د ساختماني چارو د بشپړتيا ارزونه

قدرمنو انجنير صاحبانو هر يو انجنير دلاور توتاخيل، انجنير محمد سالم اخندزاده او انجنير محمد نذير اعظيمي ته سلامونه او درناوی.

لکه څنګه چې خبر یاست او د کار له پیله په جریان کې وئ، د نجات څلي ساختماني چارې د یو خانګړي تړون له لارې د (88950) امريکايي ډالرو قيمت په مقابل کې (پکتين ساختماني شرکت) ته سپارل شوي وې، اوس د څلي ساختماني چارې بشپړې شوي، له تاسو قدرمنو څخه په ډېر درنښت هيله کوو، چې د نجات څلي ساختماني چارې وارزوئ چې له قرارداد سره سمې تر سره شوي دي او که نه؟ هیله ده په دې اړه موږ ته خپل ليکلی نظر په دې پاڼه کې وليکئ!

په درنښت

محمد اسمعيل يون

د څلي د جوړونکو په استازي

دوی په څلي کې د ځینو نیمګړتیاوو له امله له عمومي لګښت څخه (دوه زره ډالره) کم کړي وو او دا په دې خاطر چې که بل ټېکه دار دا ساختماني چارې پوره کوي، نو پر دې برخه لږ تر لږه دوه زره ډالر لګښت راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




تر هغه وروسته زه قراردادي ته د پیسو د ورکړې په لټه کې شوم، حاجي خان محمد باز او نذیر احمدزي ته مې زنګ وواهه چې خپلې ژمنې پوره کړه، اصولي صیب لا دا مهال په بهر کې و.

یوه دوه ورځې وروسته انجنیر نذیر عظیمي چې د پکتیا له یوې درنې تاریخي کورنۍ څخه دی او لکه څنګه چې مې یادونه وکړه، د څلي د ترون له پیله بیا تردې دمه یې د دې څلي د جوړونې بهیر تعقیب کړی، له یو بل انجنیر صاحب سره ټلویزیون ته راغی، ماته یې وویل: ((یون صیب! زه چې د دې څلي جوړېدو ته خوشاله وم، دوه علتونه وو، یو خو دا د ټولو افغانانو په تېره بیا د پښتنو د مبارزو او ویاړونو یو سمبول دی او بل دا چې زما نیکه خپله د هغو اربکیو د لښکر مشر و چې د سقاوي اړو دوړ په له منځه وړلو کې یې له نورو مشرانو سره ښه پوره ونډه لرله، نادرخان بیا هغه ته د بهادرۍ مډالونه هم ورکړل، تر اوسه مې تاته نه ویل، خو اوس مې ځکه یادونه وکړه چې څلی نور په جوړېدو دی او ماته ډېر خوند راکوي، هغه ماته وویل چې زما نیکه (وکیل حاجي عظمت) نومېده او له نن (۱۳۹٦ل) کال څخه (۸۷) کاله مخکې دیو زر(۱۰۰۰) کسیز لښکر مشر و، ما هغه ته ونه ویل چې کېدی شي زه په دې باب کوم کتابګوټی ولیکم، ما ویل د مډالونو عکسونه یا عملاً مډالونه یې شته؟ هغه وویل، هو شته، زه به یې عکسونه په (وټس اپ) درته درولېږم. دوه ورځې وروسته یې د هغه د مډالونو عکسونه راولېږل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





فرمان پادشاهی

صداقتمند عظمت خان ...

بفدا کاری وصداقتیکه ابراز داشته اید شما را برتبهٔ

... ملکی ممتاز گردانیده بفرمان هذا ارشاد

می نمایم که خود را ... ملکی بشناسید





دغه مډالونه چې تاسې ګورئ د غازي محمد نادر خان له خوا د هغه د واکمنۍ پر مهال (وکیل حاجي عظمت خان) ته د سقاوي واکمنۍ د له منځه وړلو په پار ډالۍ شوي دي.

زه د دې ترڅنګ چې د پخواني قراردادي د حسابونو پر تصفیې مصروف وم، د څلي د پاتې کارونو چټکولو ته مې هم زیاته توجه کوله. کله چې د عبدالباري منګل په کور کې غونډه وه، تر هغې یوه ورځ وړاندې زه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجنیر محمد نصیر بهسودوال خوشال مېنې ته لاړو چې د ځلي لپاره وطنۍ غرنۍ ښکلې تیږې خوښې کړو، د پلتخنیک درې لارې ته ورځېرمه د تیږو یوې ډېرۍ ته ودرېدو، څو تنه ځوانان راپاڅېدل، موږ سره یې گرم ستړي مشې وکړل، زموږ په لیدو ډېر خوشاله شول، سملاسي یې ټلیفونونه راویستل، یادگاري عکسونه یې واخیستل، موږ ته یې وویل د څه لپاره راپېښ شوي یاست؟ ما وویل دغسې د نجات ځلي لپاره مو یو څه ښکلې تیږې په کار دي، ده وویل، د نجات ځلی خو زموږ خپل ځلی دی، زما نوم (محمد اسلام) دی، زه د تیږو پنځه کانونه لرم او دلته دې څو دکانونو ته هم زه تیږه ورکوم، زه به درته ډېره ښه تیږه راوباسم، ځلی زموږ خپل دی، زه یې هره ورځ کارونه گورم، ان د پرانیستې پر ورځ هم زه په مظاهره کې حاضر وم. بیا یې د تیږو د توږلو او پرې کولو فابریکې ته بوتلو، هغه مو هم وکتله، محمد اسلام ته مو وویل چې راځه موږ سره یو ځای ځلي ته لاړ شو، چې عملاً ځای وگورې او پر همغه اندازه ورته تیږې برابرې کړې، هغه مو ځان سره ځلي ته راوړ، هغه ځای وکوت، بیا زه (یون)، انجنیر محمد نصیر بهسودوال، د پلستر یو ټیکه دار او محمد اسلام ژوندون ټلوېزیون ته راغلو چې له محمد اسلام سره د تیږو پر یو لومړني قیمت موافقې ته سره ورسېږو.

انجنیر محمد نصیر بهسودوال او محمد اسلام د تیږو پر قیمت توافق ته ورسېدل، په دې شرط چې شگه او سمنټ به د ساختماني شرکت وي، تیږه او نور کار به د کار له پیله بیا تر رنگ او سولونې یا ځلونې پورې د محمد اسلام پر غاړه وي، یو متر (عرض ضرب لوړوالی) د (۸۰۰) افغانۍ شاوخوا یې د زینتي تیږې پر قیمت او د گوټ یا نوش تیږې یې چې فابریکه کې توږل کېږي، تر دې پر یو څه لوړ قیمت تفاهم ته سره ورسېدل، خو پر دې یې هم توافق وکړ چې دا قیمت وروستی نه دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو څه لوړوالي او ټیټوالي احتمال په کې شته. محمد اسلام وویل: زه به سبا ته د کار لپاره یو څه تیږه راولېږم. ما د قیمت په باب ځکه څه ونه ویل، چې د دوی دواړو تر منځ توافق و، یو پیسې ورکولې او بل کار کاوه.**

**تر دوه ورځنې ځنډ وروسته د ځلي د بهرني ډیکور عملي کار پیل شو.**

**نور نو د ځلي کار ښه په منظم ډول روان شو، د لس مترو لوړوالي په کچه (تر لومړني پیک پورې) د تیږو او پاس د پلستر کار روان و. د ځلي داخل کې د ډکون کار هم خلاص شو او بهرنیو برخو ته هم خاورې راوړل شوې.**

**د ځلي چارې په منظم ډول روانې وې، موږ د اسد پر (۴)مه د صمد ځاځي په کور کې ژمنه کړې وه چې د اسد پر (۹)مه به ژوندون ټلوېزیون کې بیا سره کېنو او کارونه به تعقیبوو. د دوشنبې ورځ مازیگر څلور بجې په ژوندون کې سره جرگه شولو، له صمد ځاځي پرته نور تقریباً اکثره هغه کسان راغلي وو چې د لویې غونډې لپاره د تدارک کمیسیون غړي وو، لکه احمد گل توتاخېل، داود شاه نیازی، نېک محمد ولسمل، میرزکوال او ځینې نور دوستان، دې غونډې ته راغلي وو. میرزکوال (د لویې پکتیا د ځوانانو جرگه گۍ) یو دوه تنه ځوانان هم رابللي وو چې یو یې (سرتېرصیب) د جرگې مشر او بل یې د مشرتابه غړی گڼل کېدل. سره له دې چې موږ په تېره غونډه کې پرېکړه کړې وه چې یوازې په ترتیب شوي جدول کې له شوراگانو او بېلابېلو بنسټونو څخه چې د ځلي د بیا جوړونې په پرانیستونکې غونډه کې برخه اخلي، له هغو څخه به لیکلې ژمنه اخیستل کېږي، نور تشریحي او توضیحي بحث ته اړتیا نه شته، که څوک نه راځي، نه دې راځي. کله چې عام توافق وشو او له ځینو شوراگانو څخه یو څه ژمنه هم اخیستل شوې وه، خو اساسي کار نه و شوی، تقریباً په همغه نقطه کې وو چې تېره چهارشنبه وو، یانې په پنځو ورځو کې کوم خاص پرمختگ نه و شوی، پر لویې غونډې توافق دوام**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړ، خو دې نویو ځوانانو خپل خپل شرایط وړاندې کړل، ویې ویل چې د دې غونډې ټولې چارې په تېره بیا فرهنګي چارې باید موږ ته وسپارئ. موږ ټول کار خپله کوو هسې نه چې پر موږ څوک سیاسي تجارت وکړي، هغه بل ځل هم پر موږ تجارت وشو، موږ د نورو د لاس اله شولو او دا ځل موږ ځوانان نه غواړو د چا د لاس اله شو، موږ سره د ځوانانو شل شوراګانې دي. (سرتېر صیب) وویل چې زه یې د ګډې جرګه ګۍ په راس کې یم، دا یې هم وویل چې موږ ته باید ټوله اجنډا راکړل شي، څوک خبرې کوي؟ په څلي کې د چا نومونه راځي؟ عمومي راپور څوک وایي؟ د راپور متن څه شی دی، مشران چې پر سټیج ودرېږي، هغه څوک دي؟ د هغوی د انتخاب صلاحیت د چا په لاس کې دی؟ او داسې نورې پوښتنې، دوی وویل: موږ کې د دې وړتیا شته چې د سټیج چارې هم په خپله پرمخ یوسو، راپور هم وړاندې کړو او که داسې نه وي، موږ نه غواړو چې د انضباطانو په توګه هلته ودرېږو او خلک پر موږ سیاسي تجارت وکړي، دوی دا هم وویل چې په تېره غونډه کې هم موږ ډېره قرباني ورکړې او د ډبرې د ایښودو پرمهال مو په خط اندازۍ کې هم ونډه اخیستې وه. کله چې د غونډې برخوالو د دې دوو ځوانانو دا لوړې غوښتنې واورېدې نو چندان ښې پرې ونه لګېدې، ولسمل صیب، داودشاه نیازي او نورو ټولو ورته وویل چې دغه درې کمېټې دي، تاسې خوښه چې په هره یوه کې ځان تنظیموئ، درې واړو ته خپل خپل استازي معرفي کوئ، یوې ته یې معرفي کوئ، هر څه چې تاسې غواړئ. هغوی وویل، موږ نه غواړو چې څوک زموږ پر سر تجارت وکړي، موږ نورو کمېټو ته نه ځو، فرهنګي کمېټه ټوله موږ ته راکړئ، تاسې ترې خلاص یاست، موږ شعارونه، بینرونه او ټول شیان خپله تنظیموو، زموږ جرګه ګۍ کې ټول پر کار پوه کسان شته، د سټیج چارې هم موږ سمبالوو، له هغې پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ حاضر نه یو چې په بله کمېټه کې کار وکړو، بیا موږ خپله پوهېږو چې څه وخت دا څلی پرانیزو، پر همدې ورځ که به بله ورځ. زه ورته تر دې مهاله غلی وم، ما چې د دې دوو تنو وینا واورېده، چې په وړو کې یې شگه ده، ما وویل: ((ځوانان حق لري چې په هره مسله کې ځان شامل کړي، خو ځینې مسایل داسې دي چې له سره باید تعقیب شي او بل موږ هم په دې پوهېږو چې شوراگانې څه مانا؟ کیفیت او کمیت یې څومره دی؟ دا چې د ځوانانو د شلو شوراگانو د همغږۍ لپاره یوه بله جرگه گۍ جوړه شوې، دا په دې مانا ده چې د نظر اختلاف شته چې شل شوراگانې جوړې شوې دي، خو همغږي په کې نه شته، بل د هر ولایت شوراگانې په تېره بیا د ځوانانو ټولنې هم موږ ته معلومې دي چې یو بل په اسانۍ سره سره نه شي زغملای، بل د نجات څلي په پرانیستې غونډه کې د ځوان او زوړ ،سمت، قوم او قبیلې خبره مطرح نه ده، هدف دادی چې څوک فعال گډون کولای شي هغه دې راشي، بله خبره داده چې داسې کوم تضمین موجود


حاجي داود شاه نیازی

دی چې یوې مشخصې جرگه گۍ ته هر څه وسپارل شي او هغه یې په ښه ډول ترسره کړي؟ سرتېر صیب وویل، موږ ته به څوک تضمین راکړي چې تاسې یې تر موږه په ښه ډول ترسره کولای شئ؟ نو زه چې پوه شوم چې دا ځوانان په ډېرو لوړو پوړیو کې دي، ما وویل، وروره! په لویه پکتیا کې د ځوانانو ډېرې ټولنې شته، په لوی ننگرهار او همدارنگه په کابل، لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار او نورو سیمو کې، دا چې د دې ځلي په باب موږ ټولو سره داسې بحثونو ته داخل شو او د دوی توافق ترلاسه کوو، دا نو کلونه کلونه وخت غواړي، اوس لنډه خبره داده چې جرګې سره دې مشوره وکړه چې غونډه کې ګډون کوي که نه او که بیا مو موافقه راغله، نو بیا ټولو کمېټو ته خلک معرفي کړئ، ځوانانو باندې زما دا خبرې ښې ونه لګېدې، ویل یې موږ ماسترۍ لرو، د چارو ادارو کې کار کوو او داسې نورې خبرې یې هم وکړې. په پای کې داود شاه نیازي ورته وویل، وروره! زه (دوه) ماسترۍ لرم او دا هر یو چې دلته ناست دی، دا ځان ته یو څه وایي، خو دې دوو ځوانانو د مجلس ډېر وخت ونیو، بیا یې خدای پاماني واخیسته او لاړل. دا مهال میرزکوال ته ما وویل چې تاسو بیا له سره د مشورو لړۍ پیلوئ او که د ځلي پرانیستو ته تیاری نیسئ، هغه وویل، دا تېروتنه له ما څخه شوې وه، دا مې خپلوان وو، ما ویل چې خپلوان دې دي، خو ستا استازولي یې بس وه کنه. احمد ګل توتاخېل هم په قهر شو، ویې ویل، د ځوانانو ټولنې په هر کوڅه کې دي، نو هر یو سره به موږ دومره بحث کوو، ما وویل خیر اوس به دویم بحث ته راشو. قاضي صیب عمر ببرکزی ځدراڼ چې زموږ د غونډې په نیمایي برخه کې راغلی و او هغه مو په دې خاطر رابللی و چې د ببرک خان ځدراڼ د سیمینار په باب ورسره وغږېږو، د صمد ځاځي په کور کې مو په ضمني ډول یادونه کړې وه چې د ځلي تر افتتاح دمخه باید د ببرک خان ځدراڼ د اتلولیو په باب یو علمي سیمینار جوړ کړو، نو ځکه خو حاجي داود شاه نیازي صیب د ببرک خان ځدراڼ لمسي (عمر ببرکزی صیب) ته بلنه ورکړې وه، ما وویل، راځئ چې پر همدې دویمه برخه وغږېږو، ببرک زي صیب ته مو وویل چې د غازي ببرک خان ځدراڼ د اتلولیو په باب باید یو علمي سیمینار جوړ کړو، سیمینار به د ملي تحریک په کوربه توب او د پکتیا د ولسونو په همکارۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړېږي، هغه ډېر خوشاله شو، هغه ته مو څلور پنځه موضوعگانې ورکړې چې د علومو اکاډمۍ ځینو غړو ته یې ورکړي چې هغوی پرې لیکنې وکړي او خپله د کورنۍ غړي یې د ده په شمول هم باید پرې خبرې وکړې، ځکه چې د غازي ببرک خان ځدراڼ په اړه کتابونو کې لیکل شوي مواد خورا کم، خو دخلکو په زړونو کې زیات دي. د سیمینار لپاره مو د اسد (۱۹)مه نېټه وټاکله او دا مو هم وویل چې د اسد پر (۱۳)مه نېټه د جمعې پر مازیگر به یو ځل بیا پر (۴-۵) بجو همدلته راټولېږو. پر همدې توافق وشو. د دې تر څنگ چې پر سیمینار هم کار روان و، د څلي کار مې هم هره ورځ له نږدې څاره.**

**تقریباً د لس دولس ورځو په بهیر کې د پلستر کارونه پایته ورسېدل او د تیږو کار هم مخ پر راټولېدو شو، دا مهال څلي ته د اړوندو کړکیو او دروازو په لټه کې شوم. په شاه شهید کې څو فلز کارانو باندې وگرځېدو، په یوه کتلاک کې مو څو بېلگې خوښې شوې او فرمایش مو ورکړ، فلزي کړکیو او دروازو باندې ځکه توافق ته ورسېدو چې د دې کړکیو د خرابېدو امکانات کم دي، که نه تر دې دمخه زه دوه ځلې ننگرهار ته په همدې خاطر لاړم چې هلته په (درونټه) کې د (شوې) له لرگي څخه ډېرې ښې تاریخي او نقشي دروازې او کړکۍ جوړېږي. هغوی سره مې خبرې هم وکړې، هغوی خپل نرخ راکړ، ویې ویل چې وخت په کې ډېر لگېږي، مونږ ه یوه دروازه تقریباً په دوو میاشتو کې درته جوړولای شو، لرگی له پاکستانه راوړو، لرگی باید وچ شي، خو ډېرې خبرې یې په کې راوویستې، یو فټ یې تقریباً په (دوه نیم زره افغانۍ) یا (څلور زره پاکستانۍ کلدارې) محاسبه کړ، دا دروازې او کړکۍ ډېرې قیمته تمامېدې، او وخت یې هم ډېر غوښته، خو زما زړه و چې همدا کړکۍ او دروازې جوړې کړو، خو کله چې مې د کړکیو په باب له انجنیرانو سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشوره وکړه، هغوی وویل، دلته باد و باران وي، واورې وي، گردونه وي، هغه زینتي دروازې هغه شان کورونو او ځایونو کې لگول کېږي چې اوبه ور ونه رسېږي، کله چې اوبه ورسېدې، هغه پړسېږي، لمر یې هم خرابوي، نو ژر له منځه ځي، بیا څوک دي چې دا دروازې او کړکۍ بدلې کړي. د دوی دلیل او منطق پر ځای و، نو ځکه ما هم له فلزي کړکیو سره موافقه وکړه، څلورو پنځو ورځو کې کړکۍ تیارې او پر خپل ځای نصب شوې.

کله چې موږ د څلي د دویم پړاو کارونه پیل کړل، نو همدا مهال هغه سړک ته متوجه شوم، چې د حضوري چمن له ختیزې څنډې څخه د څلي پر لوري راغلی او پر څلي د کار له پیله تر اوسه بند دی. ما مخکې فکر کاوه چې حکومت دا سړک د امنیتي دلایلو له مخې بند کړی، ځکه په پورتنۍ برخه کې یې یو امنیتي چک پوسټ هم دی، په سیمه کې مې له یوه ترافیک څخه پوښتنه وکړه، چې دې لاره کې خو هېڅ مشکل نه شته، دا ولې نه خلاصوي؟ هغه وویل کله چې د څلي کار شروع شو، نو د همدې سړک پر وروستۍ برخه کې چې څلي سره وصلېږي، فاصله له هغو نورو څلورو سړکونو څخه یو څه کمه ده، کله چې دلته موټر راشي، نو څنډ سره مخامخېږي، نو ځکه مو دا سړک بند کړی، کېدی شي امنیتي او نور دلایل هم ولري.

دلته نو تقریباً د لس مترو په اندازه یو ځای همداسې ناجوړه پاتې، کله چې دا سړک جوړېده، نو دلته باید د لس مترو په پلنوالي او د پنځه شپږو مترو پر اوږدوالي یو وړوکی پل گوتې جوړ شوی وای چې دا سړک یې مستقیماً د جادې پر لوري له غځېدلي لوی واټ سره وصل کړی وای، ما ویل عجیبه کار دی د پنځه شپږ متره پله لپاره دا لار، دومره څنډ تړلې پاتې، ترافیک راته وویل، صیب که تاسو یو چاره وکړئ، دغه پل گوتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم جوړ کړئ، ډېره به ښه شي، ما ویل دا د چا کار دی؟ ده وویل د ښاروالۍ مربوط دی، ما ویل که شخصي یې څوک جوړ کړي، اجازه به ورکړي، هغه وویل کېدی شي ور یې کړي، خو دا د ښاروالۍ په ماسټر پلان کې د همدې سړک برخه ده، چې تر همدغه ځایه یې جوړ کړ او دلته یې نور پنځه شپږ کاله وړاندې پرېښود. ما چې له انډیوالانو سره مشوره وکړه، هغوی وویل دا د ښاروالۍ کار دی باید هغوی سره په تماس کې شو. د ښاروالۍ اتمې ناحیې ته مې په دې شرح یو غوښتنلیک ورولېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کابل ښاروالۍ د اتمې ناحیې محترم مقام ته!

د حضوري چمن (لاهوري دروازې) په سیمه کې د نجات منار د جوړېدو چارې بشپړې شوي، تاکل شوې په راتلونکو اتلسو ورځو کې دا څلی رسماً پرانیستل شي. د څلي شمالشرقي څنډه کې د نږدې لس مترو په واټن سړک چې د عمومي سړک برخه ګڼل کېږي، باید په اساسي ډول جوړ شي او په دې ډول به هغه ستونزه حل شي چې ددې ځای د ویجاړۍ له امله کلونه کېږي رامنځته شوې او د ترافیکو د ګڼې ګوڼې سبب شوې ده.

موږ ستاسو له محترم مقام څخه هیله کوو چې په دې برخه کې عاجل اقدام وکړئ! چې سړک له خپل جوړښت سره سم جوړ او د خلکو مشکل هم حل شي.

په درنښت

محمد اسمعیل یون

د نجات منار د جوړونکو په استازې

۳ / ذروی / ۱۳۹۹

## د کابل ښاروالۍ محترم مقام ته!

د حضوري چمن (لاهوري دروازې) په سیمه کې د نجات منار د جوړېدو چارې بشپړې شوې، ټاکل شوې په راتلونکو اتلسو ورځو کې دا څلی رسماً پرانیستل شي. د څلي شمالشرقي خنډه کې د نږدې لس مترو په واټن سړک چې د عمومي سړک برخه ګڼل کېږي، باید په اساسي ډول جوړ شي او په دې ډول به هغه ستونزه حل شي چې ددې ځای د ویجاړۍ له امله کلونه کلونه کېږي رامنځته شوې او د ترافیکو د ګڼې ګونې سبب شوې ده.

موږ ستاسو له محترم مقام څخه هیله کوو چې په دې برخه کې عاجل اقدام وکړئ! چې سړک له خپل جوړښت سره سم جوړ او د خلکو مشکل هم حل شي.

په درنښت

محمد اسمعیل یون

د نجات منار د جوړوونکو په استازۍ

۱۳۹۶ لمریز کال د زمري ۴مه

**میوند شاه احمدزي دا غوښتنلیک د ښاروالۍ اتمې ناحیې ته یووړ، هغوی ورته وویل دا زموږ صلاحیت نه دی، باید د کابل ښار والۍ لوی ریاست ته لاړ شئ، هغوی ته عریضه ورکړئ چې هغوی یې په پلان کې ونیسي، یا موږ ته هدایت وکړي او بودیجه یې منظور کړي، بیا به موږ پرې کار شروع کړو. یوه ورځ وروسته مې د کابل ښاروالۍ په عنوان ورته یو غوښتنلیک ولیکه، درې څلور ورځې وروسته احمدزی کابل ښاروالۍ ته لاړ، عرضپاڼه یې وړاندې کړه.**

**هغوی ورته وویل صبر کوه، دپلان رییس نه شته، سفر لري، هغه چې راغی بیا به پرې خبرې وکړو. پلان رییس چې راغی، هغه وویل دا خو باید موږ په پلان کې ونیسو او ښاروال صیب دېته بودیجه پیدا کړي، د کلنۍ بودیجې په پلان کې یې ونیسي او کله چې په پلان کې راغی، مالیې وزارت یې پیسې ومنلې، بیا د تدارکاتو ملي کمیسیون ته ځي، هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یې د اعلان له لارې داو طلبۍ ته ورکوي، چې هر شرکت وګټله، بیا به یې هغه جوړوي او موږ له پلان پرته عاجل کارونه نه شو ترسره کولای، دا وو د پنځه شپږ متره پلګوتې داستان چې ما یې لنډیز دلته وړاندې کړ، تر هغه وروسته د کابل برېښنا رییس (محب الرحمن مومند) سره په تماس کې شوم چې که دې څلي ته برېښنا راکړي، هغه وويل، عريضه به راکړئ، زه به حکم درکړم، میټر به واخلئ، لین به واخلئ، زموږ د کاریګرو اجوره به راکړئ، د برېښنا د پرچاو بل به پرې کړئ، نور نو چې د میاشتې هر څومره لګښت راته، هغه به ورکوئ او که نه برق به مو قطع کېږي، ما ویل رییس صاحب دا څلی شخصي نه دی، دولتي دی، موږ دومره وکړل چې جوړ مو کړ، نور یې دولت ته تسلیموو، دولت پوهېږي او کار یې. هغه وويل: د دولت وي که د ولس، موږ برق خرڅوو، مفت برق نه شته، ما ویل نو دولت کې دا واټونه، څلي او منارونه چا پورې اړه لري؟ هغه وويل ښاروالۍ پورې، دا د هغوی کار دی، موږ هغې ته برق ورکوو او هغوی موږ ته پیسې. تر هغه وروسته مې بیا ښاروالۍ ته په دې عنوان یو عرضپاڼه ولیکله:

د کال ښاروالۍ درانه مقام ته!

د نجات څلی چې په لاهورۍ دروازه کې موقعیت لري، ودانیزې چارې یې د بشپړېدو په حال کې دي او ټاکل شوې چې ژر اړوندو حکومتي ارګانونو ته ورتسلیم شي.

څلي ته د برېښنا اړتیا ده، هیله ده څلي ته څېرمه د برېښنا له هغو ستنو څخه چې واټ ته روښنایي ورکوي، نجات منار ته د برېښنا مزی وغځوئ او په دې ډول د څلي او ښار په روښنایۍ او ښکلا کې برخه واخلئ.

په درنښت

محمد اسمعیل یون

د نجات څلي د جوړونکو په استازې

۱۳۹۶ لمریز کال د ذمري ۸ مه نېټه

دا پاڼه مې هم ښاروالۍ ته پسې ورولېږله، خو د دې لیکنې تر وخته پورې یې بېرته د مړي او ژوندي احوال نه دی راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې وروسته د څلي پاسنۍ برخه چې له فلز څخه جوړېدله، خورا مهمه وه، موږ مخکې پر داسې یوه سمبول موافقه کړې وه چې دوه لاسونه به وي او منځ کې به يې نیولې ډیوه ښکاري، دې حالت ته تر ډېر فکر وروسته ورسېدلو، په پیل کې مو زړه و چې پر سر يې یوه لونګۍ جوړه کړو چې د پښتنو دعزت سمبول دی، څرنګه چې دهغې جوړول سخت و او له څلورو واړو واټونو څخه هم یو شان نه ښکارېده او ترڅنګ يې دا احتمال هم و چې کله يې واورې او باران خرابه کړي، بیا يې دېرش متره لوړه جوړول هم ناشوني ښکارېدل، ځینو پکول او ځینو د نړۍ نقشه یاده کړه، پر هغو هم توافق رانغی، په پای کې پر همدې توافق شو چې دوه لاسونه (پنجې) به وي چې هم د یووالي سمبول دی او هم دساتنې او



خوندیتوب (نجات) او د دواړو لاسونو منځ کې به شمع وي چې د روښنایۍ او حقیقت سمبول دی. څرنګه چې د نجات منار د یوې تورې دورې د ختمېدو په ویاړ جوړ شوی او تر هغه وروسته هېواد ته رڼایي راغله، نو ځکه مو شمع غوره وبلله، ما خپله پر همدې جوړښت ټینګار کاوه او نورو ته مې هم تر تشریح وروسته قناعت ورکړ، پر همدې موافقه وشوه.
کله چې د څلي کارونه لا پسې منظم شول، نو زه او انجنیر محمد نصیر بهسودوال د دې سمبول د جوړولو په لټه کې شو، دوه ورځنۍ پلټنې کومه نتیجه ورنه کړه، دریمه ورځ مو په (قوای مرکز) کې یو فلز کار پیدا کړ، د هغه شریکباني زه پېژندلم، زما پر لیدو ډېر خوشاله شو، ما چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلېفون کې د څلي د نقشې تصویر وروښود، ویې ویل جوړوو یې، خو کار یې یو څه مشکل دی، په افغانستان کې لومړی ځل دی چې دا کار کېږي، دېته لومړی د فلز قالب جوړېږي او بیا د ژېړو پوښ ورکول کېږي، ما او انجنیر بهسودوال ورته وویل چې موږ سره څلي ته لاړ شئ، دقیقه اندازه یې واخلئ، دوی دواړه شریکباڼې راسره لاړل، د څلي سرته ختل هم ورته اسانه نه وو، خو وختل، اندازه یې واخیسته، د څلي د داخلي زینې اندازه یې ونیوله، زینه د متر په حساب قیمت شوه او د سمبول جوړول یې په مجموعي ډول (شپېته زره افغانۍ) وویلې ما او انجنیر بهسودوال ورته وویل چې لږ رابښه شئ، دا په داسې حالت کې ده چې انجنیر ځلاند دا سمبول په (یو لکو شل زره افغانۍ) اټکل کړی و. د اسد (۱۷)مه یې د بشپړېدو وعده وکړه، په دې منځ کې زه دوه ځله لیدو ته ورغلم، زما تر تائید وروسته یې کار بشپړ کړ، خو ټول کار یې د زمري پر (۱۷)مه بشپړ نه شو، خبره ان د زمري یوویشتم ته ورسېده. دا ځکه مهمه وه چې د څلي یو شمېر نور کارونه د دې سمبول نصب ته منتظر وو. په ژوندون ټلوېزیون کې د زمري د (۹)مې نېټې د غونډې پر مهال پرېکړه وشوه چې بله غونډه به د اسد پر (۱۳) نېټه د جمعې پر ورځ پر همدې مهال ترسره کوو او په هغې کې به هم د ببرک خان ځدراڼ د سیمینار او هم د څلي د افتتاحي غونډې په باب نور کارونه پسې تعقیبوو. غونډه څلور نیمې بجې پیل شوه، د تدارک د کمیسیون همغه غړي حاضر وو، خو دا ځل نېک محمد ولسمل حاضر نه و، خو صمد ځاځي تشریف راوړ، عمر ببرک زی ځدراڼ هم غونډې ته راغلی و، د تدارک د کمیسیون له غړو څخه مې پوښتنه وکړه، څنګه شول کارونه؟ نو داود شاه نیازي صیب وویل، یون صیب موږ خو ډېر کار نه دی کړی؛ له یوه نوي وړاندیز سره راغلي یو. ما وویل، څه وړاندیزونه دي بیا؟ نیازي صیب وویل، هغه تېره ورځ موږ د لویې پکتیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو یوه غونډه درلوده، په هغې کې اویا تنه سپین ږیري او مخور شخصیتونه وو، په تېره بیا د خوست، طاهر خان صبری هم و، هلته موږ دا دواړه موضوعګانې بحث او مشورې ته واچولې، د اکثرو مشرانو نظر دا و چې وخت کم دی او دا موضوعګانې په دومره کم وخت کې نه شو تعقیبولای، د ځلي د افتتاح پروګرام په رابطه یې وویل چې دا باید د میزان (۲۳)مې ته انتقال شي، ځکه پر همدې ورځ یې ډېره ایښودل شوې وه او د نجات ورځ هم ده او ځلی هم د نجات په نامه جوړ شوی دی، هلته به ورته سم تیاری هم ونیسو او ډېر خلک به په کې ګډون وکړي. او دویمه موضوع د سیمینار ده چې مشرانو وویل او د استاد (حبیب الله رفیع) نظر هم همدا و چې په دې لنډو ورځو کې دې سیمینار ته تابیا نه شي نیول کېدی، نو د دې لپاره چې پوهان ښه تحقیقات وکړي، نو یوه یوه نیمه میاشت وخت ورته په کار دی، چې دوی ښه تیاری ونیسي او له ښو مقالو سره سیمینار ته راشي، نیازی صیب زیاته کړه چې هلته (توحیدمل توتاخېل صیب) او د علومو اکاډمۍ نور غړي هم ناست وو، د هغوی نظر هم همدا و چې دا علمي سیمینارونه په څو ورځو او اوونیو کې نه کېږي میاشتې میاشتې وخت غواړي. دوی چې خبرې دې پړاو ته ورسولې، ما ویل خبرې مو خلاصې شوې، دوی وویل، هو. ما وویل د ټولو نظر همدادی؟ دوی وویل، تقریباً د ټولو دی، خو اوس ستاسو نظر ته هم منتظر یو، ما وویل، لومړی به د ځلي موضوع ته راشو، اول خو په دې باب یو څو پرېکړې شوې دي، تاسو وویل چې موږ د لویې پکتیا او د جنوب ختیز زون د ټولو شوراګانو او مشرانو استازیتوب کوو، نو چې تاسو استازیتوب کاوه، بیا نورې مشورې ته څه اړتیا وه؟ که موږ د مشورو ور همداسې خلاص پرېږدو، دا خو په سوونو شوراګانې دي، یوازې دا مشورې به میاشتې میاشتې وخت وغواړي او بیا به هم توافق رامنځته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، خصوصاً چې څوک نوې موضوع ته داخلېږي.
دویمه خبره داده چې د اسد پر (۲۸)مه مو یو ځل توافق وکړ او دا ځکه چې دا د هېواد د خپلواکۍ ورځ ده، د نجات څلی په حقیقت کې د خپلواکۍ د بېرته تضمین یو یادګاري منار دی، د میزان پر (۲۳)مه خو د افغانستان د نجات ورځ ده، پر دې ورځ نه لومړی ځل د څلي ډېره ایښودل شوې او نه پر همدې ورځ بشپړ شوی دی. دویم ځل پر همدې ورځ ډېره ایښودل شوې، خو د اسد پر (۲۸)مه چې یوه بختوره ورځ ده، ان شاء الله که د خدای رضا وه، بشپړېږي به، پر دې ورځ رخصتي هم وي او خلک هم د خپلواکۍ د جشن په خاطر واټونو ته راوځي، نو که موږ یې پر همدې ورځ افتتاح کړو، نو هم به ډېر خلک په کې ګډون وکړي، هم به یې تر ماښامه خلک سیل ته راشي او هم به ترې ګرد چاپېره اتڼونه وکړي. بل کله چې څلی پر همدې ورځ جوړ شي، د میزان تر (۲۳)مې پورې ورته څوک انتظار باسي؟ خلک یې خپله افتتاح کوي، ما او تاته نه ګوري، بیا به هغه پیغام چې موږ یې غواړو افغان ولس ته وړاندې کړو، ایا د عام ولس د ځینو اشخاصو له خوا به افاده شي؟ دې وخت کې میرزکوال صیب وویل، که د میزان تر (۲۳)مې نېټې پورې ترې همدا شنه ټوټه سر تر پایه تاوه وي او منځ یې څوک ونه ګوري، څنګه به وي؟ ما وویل، ناوې ده که څنګه چې شال به پرې خور وي او باد به یې هم نه خوځوي؟ ما وویل د هر کار په باب باید غوڅه پرېکړه وکړو، حقیقت دادی چې پخوا زما نیت هم همدا و چې د میزان پر (۲۳)مه مو تیږه ایښې وه او د میزان پر (۲۳)مه به یې بشپړ تیار افتتاح کوو، که پخواني شرکت وای، نو دا کار یې تر هغه یوه ورځ دمخه هم نه شو پوره کولای، نو اوس چې دا نوی شرکت دی، هر څه یې پر خپله غاړه اخیستي، پرېږده چې دا کار ژر خلاص کړي، دا خلک د میزان تر (۲۳)مې موږ ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منتظرېږي چې دا ځلی هماغسې روښانه او تازه وساتي. دې کې میرزکوال صیب یو ځل بیا وویل، ځه (یون صیب!) دې یو کې راسره ته ښه شه او دې بل کې به موږ ښه شو، سیمینار یې ستا په خوښه او ځلی یې زموږ په خوښه، ما وویل، یو کې هم نه ښه کېږم، سیمینار به هم پر خپل وخت جوړېږي او ځلی به هم پر خپل وخت پرانیستل کېږي، هو د ځلي په باب دومره ویلای شم که څوک د ډېرې لویې غونډې د جوړولو په باب اندېښنه لري، نو د درې څلور سوو مشرانو په حضور کې به یې پرانیزو، هم به خلکو ته دځلي د پرانیسو او هم د هېواد د خپلواکۍ مبارکي ورکړو، که نور زیات خلک هم راتلل، د هغو مخه به نه نیسو او که ځینې دوستان غواړي د میزان پر (۲۳)مه پروګرام جوړ کړي، هغوی دې غټ پروګرام جوړ کړي، په همدې ځای کې دې د نجات ورځ ونمانځي، بېرته به پخوانی تاریخ راژوندی شي. دویمه خبره د سیمینار ده، که موږ د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او د هغو نظریاتو ته منتظر پاتې شو، نو ورخ مو اوبو وړی دی، هغوی چې هغه خپل سیمینارونه پر خپل وخت ونیسي شکر دې وکاږي. پر (۱۳۹۴ل)کال د افغانستان ملي تحریک په چندو، بسپنو او د هېوادوالو په همکارۍ (۱۰۲) عنوانه کتابونه چاپ کړل، علومو اکاډمۍ چې په همدې کال یې (۱۷۵) ملیونه افغانۍ معاش اخیستی و، ټول پنځه عنوانه کتابونه چاپ نه کړل، د علومو اکاډمۍ تر سیمینارونو هم ملي تحریک څو ځله زیات او ګټور سیمینارونه جوړ کړي وو. د توحیدمل توتاخېل صیب د وعده خلافۍ کیسه مې هم ورته وکړه چې په شپږو میاشتو کې یې موږ ته د چاپ لپاره خپل کتاب تیار نه کړای شو، اوس لا خبره دېته ورسېده چې دوی نورو خلکو ته سیمینارونه نیسي. موږ ولس او علمي مرکزونو ته نور څومره وخت ورکړو چې دوی دې کار ته تیار شي. د ببرک خان ځدراڼ پر مړینه خو (۹۲) کاله تېر شوي ایا دا کافي وخت نه و چې کومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شورا او یا هم علمي مرکز پرې غونډه جوړه کړې وای، اوس یې موږ سیمینار جوړوو، که چېرې دا سیمینار کمزوری و، علومو اکاډمۍ، پوهنتونونه او شوراګانې دې، میاشت، کال وروسته ښه ژور علمي سیمینارونه جوړ کړي او بله مهمه خبره داده چې د ببرک خان ځدراڼ په باب په کتابونو کې ډېر کم څه راغلي، د ده خاطرې د ولس او د ده د کورنۍ دغړو په ذهن کې دي، دا باید راووځي، په دې سیمینار کې واورول شي او دا بیا کتابونو ته انتقال شي، په تېرو کتابونو کې چې څه راغلي، د هغو بیا یادونه یوازې د تکرار مانا لري. دې وخت کې قاضي عمر خان ببرک زي هم زما خبرې تائید کړې، سره له دې چې پر نورو دوستانو**



د لویې غونډې د جوړولو لپاره د تدارکاتي کمېسیون یو انځور

**زما ټولې خبرې چندان ښې ونه لګېدې، خو ما خپله پرېکړه دوی ته واوروله، عمر خان ببرکزی صیب هم له تقسیم شویو دندو سره سره چاته د لیکنو نه وو ویلي، هغه دنده هم ما پر غاړه واخیسته، سر محقق ډاکټر شریف ځدراڼ ته مې د لیکنې وویل، هغه ومنله او ویې ویل چې غروال صیب ته به یې هم ووایم، نور یې د کورنۍ غړي او هغه مشران چې د ده خاطرې ورسره دي، هغوی به خبرې وکړي او بیا به یو پرېکړه لیک صادر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. د لويې غونډې لپاره د تدارک ياد کميسيون نور کوم پرمختيايي کار نه و کړی، زموږ خبرې چې دې حد ته ورسېدې، نو د هېواد ګلالی او تنکی نابغه (سباوون ننګرهاري) هم ژوندون ټلوېزيون ته تشريف راوړ، ټولو مشرانو سره يې روغبړ وکړ. مشرانو: صمد ځاځي صيب، نيازي صيب، ببرک زي صيب ټولو ډېر وهڅاوه، بيا موږ ټولو په ګډه د ملي تحريک له خوا دچاپ شويو کتابونو يو کلکسيون او يو قلم ورته ډالۍ کړل، هغه هم په خپل نوبت مننه وکړه او دا غونډه پر همدې ځای پايته ورسېده.

د اسد پر (۱۹) نېټه ماسپښين درې بجې د افغانستان ملي تحريک په کوربه توب او د لويې پکتيا او د جنوب ختيځ زون د ولسونو په ملګرتيا د ببرک خان ځدراڼ علمي سيمينار پيل شو، سيمينار ته د هېواد له بېلابېلو سيمو په تېره بيا له لويې پکتيا څخه ګڼ شمېر مخور شخصيتونه او ځوانان راغلي وو، د ځدراڼو اکثره مخور او مشران حاضر وو، ښه درونډ سيمينار و، په پيل کې د قران کريم څو مبارک ايتونه تلاوت شول، بيا ملي سرود وغږول شو، بيا ما (يون) خبرې وکړې، بيا څو تنو قومي مشرانو خپلې خبرې وکړې، ورپسې د ببرک خان ځدراڼ يو لمسي (نجيب الله ځدراڼ) خپله مقاله ولوستله، ورپسې (ډاکټر شريف ځدراڼ) خبرې وکړې، بيا يې د



په ژوندون ټلوېزيون کې د ببرک خان ځدراڼ د اتلوليو په باب علمي سيمينار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ په استازې د ببرک خان ځدراڼ یو بل لمسي (قاضي عمر ببرکزی ځدراڼ) هر اړخیزې او جذابې خبرې وکړې، ورپسې په شپږو مادو کې د داود شاه نیازي له خوا د سیمینار برخوالو پرېکړه لیک واورول شو، بیا دعاییه وویل شوه، لنډه دا چې دومره خوندور او معلوماتي سیمینار و چې ساری یې په دې تېرو څو کلونو کې نه و لیدل شوی، له اهمیت او نویو معلوماتو څخه ډک سیمینار و، د لویې پکتیا او په تېره بیا د ځدراڼو مشران دومره خوشاله وو چې د چا خبره په جامو کې نه ځایېدل او هر یو له ما څخه ځانګړې مننه کوله او یادګاري عکسونه یې اخیستل، د خپل ولس خوشالي زما د څو ورځوسترړیا په ارامۍ او استراحت بدله کړه.
دا یادښت چې مې اوس تردې دمه راورسوه د اسد (۲۱)مه نېټه سهار څلور بجې او پنځه لس دقیقي دي، نن شپه له ماښامه بیا تردې دمه د همدې اثر پر لیکلو او سمون بوخت یم، د یوې مخکنۍ شپې کیسه مې مخکې وکړه دا بله شپه ده چې تر سهاره ویښ یم، اوس اودس کوم، بیا لمونځ او که بیا خوب یونه ړم، نو د کتابګوټي د پاتې برخې بشپړاوي ته دوام ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجات څلي ډبرلیک د شهرت او ضمیر مقابله

د تاریخي څلو، تاریخي ودانیو او نورو جوړښتونو په وروستي بشپړتیایي پړاو کې، وروستی کار د همدې یادښت یا ډبرلیک لیکل وي. ډبرلیک ډېر لنډ او د اړوندې ودانۍ یا جوړښت ټوله محتوا او هدف رانغاړي.
په ځینو برخو کې د دې وروستي کار ترسره کول که څه هم له فزیکي پلوه ډېر کوچنی وي، خو تر ټولو سخت کار وي، په تېره بیا په داسې یو حالت کې چې خبره هم څو لاسه شي، مشورې ته وغورځول شي او مشاورین هم بیا د اصلي موضوع له کیفیت، ماهیت او حساسیت څخه خبر نه وي. د نجات څلي ډبره د ځینورواياتو پر اساس د (۱۳۰۸ل) کال د میزان په میاشت کې ایښودل شوې وه، یا هم لږ تر لږه په همدې میاشت کې پر سقاوي اړودوړ د وطن د ژغورنې د بري ورځې پیل شوي، تر هغه وروسته بیا تر (۱۳۵۹ل) کال پورې چې دا څلی جوړ و، نږدې یو پنځوس کاله یا دوه نسله تېر شول او له ړنګېدو څخه یې بیا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې بیا نږدې (۳۷) کاله تېر شول یا هم یو نیم پښت عمر وخوړ، په مجموعي ډول تردې دمه د دې څلي عمر د نږدې درې پښته افغانانو له عمر سره برابر برېښي، اوس چې یو ځل بیا د هېواد ویښ او ملتپاله قشر د دې څلي بیا جوړونې ته ودانګل او د نږدې لسو میاشتو په بهیر کې یې له ډول ډول خنډونو، فشارونو او ستونزو سره سره د دې څلي کار بشپړ کړ او خبره یوازې د ډبرلیک نصب ته پاتې شوه، اوس موږ دې خورا ستونزمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکي ته راورسېدو. د څلي له لومړني ډېزلیک څخه ډېر کم خلک خبر وو، ځوان پښت او د دې څلي د بیا جوړونې اکثرو برخوالو او مینوالو داسې فکر کاوه چې دې کې به لکه د ځینو نورو څلو په شان د پخوانیو مشرانو نومونه وي، دا به بیا پر څلي لیکل کېږي او خلک به یې بیا ګوري. د څلي تر بیا جوړونې وروسته ډېره ستونزمنه مسله هم همدا د ډېرلیک مسله وه، څه ډول باید ولیکل شي؟ متن کې یې څه راشي؟ او د چا نومونه په کې راشي؟ ځینو دا ډول فکر کاوه چې دې کې د هغو پخوانیو اتلانو نومونه راځي، چې هېواد یې له سقاوي ګډوډۍ څخه ژغورلی دی، هغوی سره داسې تصور و چې پخوا ګنې هم دا نومونه په کې وو، ما د څلي د پخواني ډېرلیک متن پیدا کړ، دا متن په دري ژبه و، په کار وه چې پښتو متن یې هم ترتیب شي، څو ځله مې قلم ورپسې راواخیست، خپلې ژباړې راته خوند رانه کړ، دا متن که څه هم یوازې یو څو جملې وې، خو ما ویل چې پښتو متن یې هم باید ډېر خوندور راشي. زړه مې و چې حبیب الله رفیع صیب ته یې ولېږم، دې وخت کې مې پام شو چې داود جنبش دا متن او همدارنګه د محمود طرزي ځینې پخوانۍ لیکنې ژباړلې وې، د جنبش صیب د کابل په ټلېفون مې کوښښ وکړ، هر ځل چې مې هڅه کوله، ټلېفون به یې بند و، فکر مې وکړ چې جنبش صیب به لندن ته تللی وي، زړه کې مې وګرځېدل، راځه (وټس اپ) کې یې وګوره، خدای دې وکړي چې په همدې نمبر یې (وټس اپ) هم وي، کله چې مې په (وټس اپ) زنګ وواهه، خبرې یې راسره وکړې، ډېر زیات خوشاله شوم، خوند یې وکړ، ما ویل دغسې د نجات څلي د ډبر لیک پښتو متن مې په کار دی، هغه وویل زما فیسبوک پاڼه کې شته، هغه چک کړه، ترې وایې خله، ما ویل تاسو ته به یې پیدا کول اسانه وي، که دې پیدا کړ، نو پر همدغه (وټس اپ) یې راولېږه، هغه وویل، سمه ده. درې ساعته وروسته ماسپښین

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال و چې یو ځل بیا مې خپل (وټس اپ) چک کړ، جنبش صیب هم راته د ډېرلیک پښتو متن رالیږلی و او هم یې راته ټلیفون کړی و، خو ټلیفون یې ما نه و پورته کړی، بېرته مې ورته زنګ وواهه او ډېره مننه مې ترې وکړه، هغه وویل، ما پخوانی متن له فیسبوکه پیدا نه کړ او له درې څخه مې درته یو ځل بیا وژباړه، ما ویل ډېره مننه کور دې ودان، بیا مې د څلي د کار د بشپړتیا د راپور لنډیز ورته ووایه، هغه هم ډېر خوشاله شو. پښتو او دري متنونه مې سره یو ځای کړل او تر دې ځایه خو کار د نظر له اختلافاتو پرته روان دی، خو که دا مسله هم ډېرو خلکو سره شریکه شي، کېدی شي، متفاوت او متضاد نظرونه راوټوکېږی، نو ځکه خو له یو څو محدودو کسانو پرته مې د ډېرلیک موضوع تر دې دمه پټه ساتلې وه، ځینو کسانو چې پوښتنه کوله، نو هغو ته مې ویل، همغه پخوانی ډېرلیک به وګورو، کومه جمله که زیاتېدله، پر هغې به غور او مشوره وکړو. د څلي د جوړېدو پر مهال چې به موږ له هر چا څخه د مرستې د راټولېدو خبره کوله، نو هغوی ته به مو د هڅونې په موخه یادونه کوله چې د څلي د بیا جوړوونکو په توګه به مو په ډېرلیک کې نوم راځي، موږ دا د دوی حق هم ګاڼه، د نورو د تشویق لپاره هم ښه کار و او د مالي رټاوي سبب هم ګرځېده، خو له همغه پیله بیا تردې لیکنې پورې یو شمېر خلک په تېره بیا هغه ډله اشخاص چې په څلي کې یې پیسې نه وې ورکړې او یا یې د پیسو د ورکړې وس نه درلود، له دې نظر سره مطلق مخالف وو چې په دې کې دې د مالي مرستندویانو نومونه راشي، هغوی به وویل، دا څلی د ټولو افغانانو ګډ افتخار دی، یو چا به د سر قرباني ورکړې وي، یو چا د مال، یو چا به معنوي مندې کړي وي، نو که په دې کې یوازې د مالي مرستندویانو نومونه راشي، دا به د ټولو هغو خلکو په برخه کې یو ډول حق تلفي وي چې په دې څلي کې یې له مالي مرستې پرته نورې قربانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي دي. ځینو به ویل، یو څوک به پیسې لري، وکیل، وزیر او قومندان به وي، نور به یې په سر کې الف نه گرځي، هغه به پیسې ورکوي، له حلالو او حرامو لارو به یې پیدا کړې وي، مقصد دا چې پیسې لري، نور هېڅ نه لري، د هغوی نومونه به په کې راځي او بیا به له دې څخه د ځان لپاره سیاسي گټه هم پورته کوي، ځینو اشخاصو چې یوازې په غونډو کې یې گډون کړی و، کله کله یې نظر هم ورکړی و، هغوی به هم ځان تر ټولو مستحق گاڼه او ځینو نورو چې په څو غونډو په تېره بیا په لویه غونډه کې گډون کړی و، ځانونه ورته تر ټولو مستحق ښکارېدل. یوه ورځ مې له همدې جملې څو اشخاصو ته چې زړه یې وو نومونه یې په څلي کې راشي، وویل چاچې په لویو غونډو کې گډون کړی، هغه ټول موږ دوه درې ځله په ټلوېزیون کې ښودلي، که دوی غونډه کړې، هغه په رسنیو کې ښودل شوې او دا ټول کارونه د څلي د ډېرې تر ایښودلو دمخه شوي وو، د څلي په جوړونه کې د غونډې ټولو برخوالو عملاً څه خاص کار نه دی کړی، که نومونه لیکل کېږي، نو هغه کسان یې مستحق دي چې له پیله او بیا تر پایه یې هر ډول مالي او معنوي قرباني ورکړې ده. د مالي مرستندویانو یوازې هغه خلک یا اشخاص مخالف وو چې په څلي کې یې خپله کومه مالي مرسته نه وه کړې، طبیعي خبره ده چې څلی په دعاگانو نه جوړېده، مالي قربانۍ او فکري تدبیر ته په کې اړتیا وه، د دې په خاطر چې دا حساسه مسله د نورو له اضرارو او گواښونو خوندي پاتې شي، نو د ډبرلیک اصلي متن مې چا سر نه شریکوه، پر یو داسې متن مې کار پیل کړ چې سبا ورځ هر چاته ځواب وویلای شم. لومړی معیار خو دا و چې د څلي د پخواني ډبرلیک متن باید ضرور راشي، پښتو متن یې هم ترتیب شي، په پیل کې پښتو متن او بیا دري متن، وروسته ورپسې د دې څلي د بیا جوړونې لنډ تاریخ او ورپسې له هغو کسانو څخه مننه چې د دې څلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بیا جوړونه کې یې معنوي او مالي مرسته کړې، د معنوي مرستې لپاره خو ډېر څرګند فورمول او معیار معلوم نه و، نو ځکه خو مې په ډېر لنډ ډول د لوی کندهار، لوی ننګرهار، شمال او مرکز له قومي شوراګانو، مخورو شخصیتونو او ولسونو څخه په عام ډول مننه ځای کړه، د لویې پکتیا له مخورو څخه مو دلته ځکه مننې ته ځای ورنه کړ چې دوی مو د څلي د اصلي وارثانو او مدعیانو په توګه د مننودیانو یا کوربنو رول ته پرېښودل، ځکه دوی باید له نورو مننه وکړي، له ځانه خو مننه نه کېږي، هغه مشخص اشخاص چې مالي مرسته یې کړې وه، د هغو راوړل مې ځکه ضروري وګڼل چې یو خو یې مالي مرسته کړې وه، حق یې و چې نومونه یې راشي، بل ځینو سره ژمنه هم شوې وه او بله مهمه خبره داده چې موږ باید په خپلو کارونو کې رڼاوی تضمین کړو، سبا بیا یو شمېر خلکو ته پلمه په لاس ورځي او وایي، دې خلکو دا پیسې له کومه کړې، حکومت ورکړې، بهرنیانو ورکړې، که دې کې د بل چا لاس دی. د دې خلکو نومونه له دې اړخه هم ضروري وو چې نور خلک به هم داسې نېکو کارونو ته وهڅول شي او د دوی په هڅونه کې به هم مرستندوی واقع شي. د پیسو د مقدار لیکل ځکه په ډېره کې نه راتلل چې هلته دومره ځای نه و او بیا به سبا نورو اشخاصو هم دعوه کوله چې دومره پیسې خو ما هم ورکولې، زما نوم دې هم په کې راشي، البته د پیسو مقدار اعلان مو د پرانیستې غونډې پر ورځ عمومي غونډې او رسنیو ته پرېښود چې هلته به له ټولو جزیاتو سره خپرېږي. البته په څلي کې د انصاف د تامین په خاطر مو له دې قاعدې څخه کار واخیست چې چا ډېرې پیسې ورکړي، د هغه نوم به په سر کې راځي او بیا همداسې تر پایه په ترتیب سره، تردې ځایه زما په ذهن کې څه ناخه ستونزه نه وه، ځکه هر څه زما له لاسه او ذهنه تېر شوي وو، خو کله چې خپل نامه ته راغلم، نو له سخت رواني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړکېچ سره مخ شوم، له یوې خوا د شهرت شېطان راته وویل چې تر بل هر شخص دې زیاتې منډې رامنډې ووهلې، توهین شولې، تحقیر شولې، لس میاشتې زیار دې وګاله، د چا زنه، د چا ږیره او د چا لمن دې ونیوه، په عذر، زارۍ، زیار او زحمت دې له هر چا پیسې راټولې کړې، خطرونه، ګواښونه او اخطارونه ټول دې وزغمل، مالي قرباني دې هم ورکړه او معنوي زحمت دې هم وګاله، اوس د دې وخت دی چې په دې څلي کې خپل نوم په ښه مناسب ځای کې ځای کړې، چې اینده نسل ته پاتې شي او اوس هم چې په زرګونو خلک دا څلی ګوري، نو د نورو ترڅنګ به یې ستا په نامه هم سترګې لګي، په داسې حال کې چې ډېر لیک هم ستا په لاس کې دی، نو چې اوس یې نه لیکې بیا به یې څه وخت لیکې، شیطان به مې له څو لارو پر ذهن برید وکړ، ګوره چې د هغو خلکو او تنګنظرو فشار ته تسلیم نه شې چې غواړي تا سترې او مایوسه کړي او له بېلابېلو لارو په څلي کې ستا د نوملیکنې مخه ونیسي، هغوی به د څلي تر جوړېدو وروسته ووایي چې ځه ښه شوه د ده د نامه مخه خو مو ونیوله، دا هم زموږ لپاره یو لوی بری دی. کله به یې دا وسوسه هم زړه کې راواچوله چې ته خو وایې زه د حقیقت پلوی یم، نو دا خو هم یو واقعیت دی چې په دې کار کې دې تر هر چا زیاتې منډې وهلې، نو راشه واقعیت او حقیقت تضمین کړه، خپل نوم د ډېرو په ذهن کې نقش او راتلونکي نسل ته یې انتقال کړه. شیطان دا او دېته ورته نورې په لسګونو وسوسې په ذهن کې راواچولې، څو ورځې مې د شهرت او نېکنامۍ د غریزې له ماهر شیطان سره مقابله وکړه، کله به دی غالب و او کله به هم زه، خو څومره چې د څلي د جوړېدو ورځې رانږدې کېدلې، ما مې خپل ضمیر سره مشوره زیاتوله، ضمیر مې راته وویل چې د ډېرو په ذهن کې د خپل نوم تر لیکنې د خلکو په ذهن کې ځان ته ځای پیدا کړه، یو ځل چې څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو په زړه کې ننوت بیا یې نو څوک له هغه ځایه په توپونو او ټانکونو هم نه شي راایستلای، اوس که ته په یوه عادي ډېره کې خپل نوم ځای کړې، نو همغه خلک به بیا وایي چې گوره د خپل نوم د لیکنې لپاره یې دا کارونه ترسره کول، نه ورسره د ملت غم و او نه یې دا کار د خدای د رضا لپاره کاوه، ضمیر مې راته دا مشوره هم راکړه چې د ځلي تر افتتاح وروسته هم د نجات ځلي کار نه خلاصېږي، نور ځلي به دې هم مخې ته راشي. په دې کې به هم ډېر دعوه وکړي چې ولې یې نوم په کې نه دی راغلی، خو که ستا نوم په کې نه وي، نو ته به له دې ځلي او له دې ډېرلیک څخه په ښه ډول دفاع وکړې، ورته وبه وایې که زما نوم په کې وای، نو تا به هم د گیلې حق لرلای، خو چې زه ترې تېر یم، ته هم یو څه قرباني وکړه، نو په دې ډول به د ډېرو شر پېښوونکو او شهرت غوښتونکو اشخاصو مخه ونیسې. ستا د منطق دفاعي ځواک به زیات شي او د نجات ځلی به د ډېرو خلکو د ځاني غوښتنو له بریده وژغورې، خپل ضمیر سره تر همدې ژورې مشورې او هر اړخیز مصلحت وروسته دې نتیجې ته ورسېدم چې په ډېرلیک کې به خپل نوم ته ځای نه ورکوم، تر ډېر فکر وروسته مې د ځلي لپاره دغه لاندې متن مناسب وگاڼه او پر ډېره د همدې متن د لیکنې په لټه کې شوم:

## بسم الله الرحمن الرحیم

## نجات ځلی

د بېساري ستر مشر او لوی نابغه یعنې اعلیحضرت محمد نادر شاه افغان د سرښندنې او هېوادپالو مجاهدتونو په یاد چې د هېواد له گوټ گوټ نه د وطن د فریاد په اورېدو یې د غلو د نسکورولو په تکل د جنوبي مېړنیو په ملتیا په خپلو اته میاشتنیو اقداماتو او د (۱۳۰۸) لمریز کال د تلې پر (۱٦)مه یې د وزیرستان په یرغل د افغانانو لوړ مرکز فتحه او لاندې کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقاو زوی یې له خپلو خاینو ملگرو سره د افغانستان له مخې ورک او پوپناه کړ، دا ټینگه خاطره او پخه ابده جوړه شوه چې په لومړي لید نظروالو ته، د وطن د دې ژغورونکي مېړنتوب او لوړ همت روښانه وي، افغان ملت یې دا لوړ چوپړ ونمانځي او د خپل ټولنیز ژوندانه د نېکمرغولو لپاره د دې ډول ځانځارونې او سرښندنې پل ونیسي او تعقیب یې کړي.

## منار نجات

به یادگار فداکاری و مجاهدات وطن خواهانۀ یگانه قائد معظم و نابغۀ بزرگ اعنی اعلی حضرت محمد نادرشاه افغان که به استماع فریاد وطن از گوشۀ مملکت به عزم استیصال سارقان در طی اقدامات هشت ماهۀ خود با دلیران جنوبی و به هجوم وزیرستان (١٦) میزان سال (١٣٠٨) هجری شمسی مرکز سنیۀ افغانیه را فتح و تسخیر و بچه سقو را با اراکین خائنش از صفحۀ افغانستان محو و معدوم نمود. این خاطرۀ استوار و آبدۀ ثابته بنیاد گذاشته شد تا در بادی الانظار اهل بصیرت، شجاعت و علو همت این نجات دهندۀ وطن ثابت بوده ملت افغان این خدمت عالی شان را تقدیر و این گونه ایثار و فداکاری را در تأمین سعادت حیات اجتماعی خویش تأسی و تعقیب کند.

## د نجات څلي بیا جوړونه، مننه او کور ودانی

د نجات څلي د بیا جوړونې چارې د افغان ملت د بېلابېلو پرگنو د مشرانو له خوا د (١٣٩٥ل) کال د تلې پر (٢٣)مه نېټه د یوې لویې پرتمینې غونډې په ترڅ کې پیل او د (١٣٩٦ل) کال د زمري پر (٢٨)مه نېټه، چې د هېواد د خپلواکۍ د بېرته گټلو له ورځې سره سمون خوري، بشپړې شوې. لومړنۍ ساختماني چارې یې د (پنځه میلیونه، نهه لکه، نهه پنځوس زره، شپږ سوه او پنځوس)افغانیو معادل د (اته اتیا زره، نهه سوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځوس) ډالرو په مقابل کې د (پکتین ساختماني شرکت) له خوا او پاتې نورې ساختماني چارې، ډیکور او ښکلاییزه برخه یې د سټیټ کورپس (STATE CORPS) ساختماني شرکت له خوا په وړیا ډول ترسره شوې.

د ټول افغان ملت له غیرتي مشرانو، په تېره بیا د لوی کندهار، لوی ننگرهار، شمال او مرکز د ولسونو، قدرمنو هېوادپالو افغانانو، جنرال عبدالرازق، گلاب منگل، حمید الله خیبر، حاجي خان محمد باز منگل، حاجي حکیم خان ځاځي، حاجي عتیق الله احمدي، حاجي عبدالباري منگل، محمد یوسف اصیل زوی، راضیه منگل، الحاج مولوي تره خېل محمدي، کمال ناصر اصولي، حاجي محمد نذیر احمدزي، ضیاء الحق امرخېل، عبدالرشید ایوبي، شېرعلي خان شېر، غلام محمد کاموال، ډاکټر رضوان احمدزي، ساختماني شرکتونو او نورو ټولو افغانانو څخه د زړه له تله مننه کوو، کور ودانی ورته وایو، چې د دې څلي په بیا جوړونه کې یې مالي او معنوي مرسته وکړه او دا څلی یې پر تیارو، جهالت او وحشت باندې د رڼا او عزت د یوه بریمن یادگار په توگه یو ځل بیا له سره جوړ او هسک کړ.

په درنښت

د لویې پکتیا ټول ولسونه

تر دې وروسته بیا د ډېرلیک د جوړولو په لټه کې شوم. په داسې حال کې چې د څلي کارونه منظم روان وو، په دفتر کې هم گڼ شمېر کارونه را دمخه کېدل، تر ټولو غټ مشکل د خلکو ناپلانه ملاقاتونه دي، زمادفتر ته هر څوک هر وخت راتللای شي، ځکه ما له پیله بیا تردې دمه د خلکو پر راشه درشه هېڅ ډول بندیز نه دی لگوی، څرنگه چې د هر وړوکي او غټ دولتي چارواکي دروازه د خلکو پر مخ بنده وي، نو ځکه خو خلک داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځای ته مراجعه کوي چې لږ تر لږه د دوی یو ډاډ پرې حاصل شي. که څه هم د ډېرو خلکو د کارونو سرته رسول زما په وس کې نه دي، خو تر خپله وسه ورسره لګیا یم، د سرطان وروستۍ ورځې او په تېره بیا داسد میاشت له کارونو ډکه وه، په همدې ورځو کې زما یو ځوان خوری (احسان الله) به لغمان کې په یوې هوایي مرمۍ ولګېد او شهید شو، د هغه د مور کومه ژړا او انګولا چې ما واورېده، څو ورځې یې راته فکري تمرکز خراب کړ، کله چې پر سړي د کورغم او د سارا غمونه او نور ولسي کارونه راټول شي، نو ضرور به له ستړیا سره مخامخېږي. په تېره بیا له داسې یو حالت سره چې د عوامو په



خبره، ته به یې مړی ژړوې او دی به دې خولې پورې خاندي. د نجات څلي مسلې ښه ډېر وځورولم، خو که مقاومت مې نه وای کړی او همداسې پاتې شوی وای، هغه حالت یې بیا تر دې اوسنۍ ستړیا هم سخت و. د اسد پر (۱۹)مه ما او انجنیر نصیر بهسودوال یو کاري مهالوېش جوړ کړ، د هغه له مخې مې د اسد (۲۰)مې او (۲۱)مې کارونه د پلان مطابق پر مخ یوړل، د اسد پر شلمه د څلي په ځمکنۍ برخه کې فرشونه واچول شول او پر (۲۱)مه بیا د څلي د سر سمبول تیار شو، ماښام مهال د هغه د نصب لپاره لاړو، جګ کرینګ یې په لاره کې نه پرېښود،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حاجي زمان، فریدون شېرزي او میوند شاه احمدزي مرسته وکړه، کرینګ له کابل بای څخه حرکت کړ. دوی تر امنیتي چکپوسټونو تېر او تر لاهوری دروازې یې ورساوه.**

**دا مهال مې ښاغلي نذیر احمدزي ته هم زنګ وواهه، هغه هم د خپل کور له خوا ساحې ته راغی، د سمبول د جګولو چارې یې وکتلې، خوښي یې**




د شپې له خوا د څلي د بیا جوړونې د وروستیو چارو کتنه

**څرګنده کړه، دغه راز یې (درې زره ډالر) چې مخکې یې ژمنه کړې وه، هغه هم راکړل او دا یې هم وویل چې په تېرو وختو کې د څلي په کار کې که له موږ څخه سستیا شوې وي، د هغو ښښنه غواړم، ځکه ټول کار او جنجال موږ تاته پرېښود. احمدزي صیب سره مې همدلته دا خبره وکړه چې د اسد پر (۲۸)مه به که خیر و د څلي د افتتاح مراسم ترسره کړو، هغه وویل، بیا به سره کېنو چې د یوې ښې غونډې بندوبست وکړو، ماښام ناوخته د څلي شاوخوا د لویې پکتیا ګڼ شمېر ځوانان او نور خلک راټول شوي وو، ټولو د څلي پر کارونو خوښي څرګندوله او یادګاري عکسونه یې اخیستل. د څلي چارې له ماښام سره سمې روانې وې، ان شاء الله چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکلې نېټې ته به په خیر سره بشپړې شي. د اسد پر (۲۲)مه سهار لومړی ټلوېزیون ته او هلته تر ځو ضروري ملاقاتونو وروسته، کابل ولایت ته مخامخ حق مارکېټ کې (جاهد ساین) لېزري خطاطۍ ته لاړم هغه سره مې مخکې هم کتنه کړې وه، البته تر دې ځو ورځې وړاندې زه او ضیاءالرحمن ضیاء په درېیم مکروریانو کې یوې لایزري حکاکۍ ته تللي وو، له هغه څخه مو حال و احوال اخیستی و. خو (جاهد ساین) داسې یوه لېزري خطاطي ده چې په کابل کې تر دوی بل ځوک د خطاطۍ لوی ماشین نه لري، هغه ته مې وویل، د ډبرلیک لپاره باید تاسو خپله د تیږې خوښولو لپاره راسره لاړ شئ، هغه خپله هراتی و او چا راته ویلي وو چې د ډبرلیک لپاره د هرات د چشت شریف تر ډبرې بله ښه دبره نه شته، ده ته مې وویل چې تاسو خو هغه تیږه پېژنئ؟ ده وویل، هو پېژنم یې. په لاره کې مو محمد اسلام چې هغه هم په اصطلاح د تیږو متخصص دی، ځان سره واخیست، میرویس میدان ته ورځېرمه د شاداب ظفر بلاکونو ته مخامخ د تیږو لویې لویې کارخونې او خرڅلاو ځایونه دي، فیاض حمید مې د خطاطۍ دوکان کې پرېښود، ما ویل چې زموږ تر راتګه تاسو د ډبرلیک ډیزاین جوړ کړئ، څه فابریکې چې وې ټولې مو ګزوګام کړې، اکثریت هېیوال پېژندګلوۍ وختل، هغوی هم راسره یو څه ملګرتیا وکړه. موږ یو متر په یو متر او شل سانتي کې تیږه غوښتله، په دې کچه نه وه. شپېته په اتیاوو، اویاوو او ان په سلو کې پیدا کېدله، یوې کارخونې ته لاړو، مالک یې سمه سترې مه شي وکړه، ماته یې وویل، خیریت دی؟ ما ویل، تیږې پسې راغلي یو، هغه سره د هراتۍ تیږې په ګډون هر ډول تیږه وه. هغه یو بل چاته تیاره هراتۍ تیږه توږلې وه، خپل کاریګر ته یې وویل، که دا یې خوښه وي، دا ورته تیاره کړه، هغه وویل، بل چاته مو جوړه کړې، ما وویل، چې د بل چا ده نه یې غواړو، موږ ته بله پیدا کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاریګر یې یوه بله تیږه پیدا کړه، (٦٠ سانتي په ١٦٠ سانتي کې). ده وویل. د ډېر لیک لپاره اکثره خلک همدا تیږه اخلي، چې (٦٠ سانتي) بر ولري، موږ چې وکتل خوښه مو شوه، تیار دوه ډبرلیکونه ترې راتلل، (٦٠په٨٠سانتي کې) ترې دوه تختې جوړېدلې، دا مهال یې ماته وویل، دلته نورې سپینې تیږې هم شته، چینایي دي، هم په بر کې او هم په اوږدو کې لویې لویې دي، دې ته مصنوعي تیږې وایې، دا یې وړې تیږې اوږه کړي، بیا یې بېرته ترې دغسې تیږه جوړه کړې، څه مواد یې ورسره یو ځای کړي، تیږه تر هراتۍ تیږې هم لوکسه او سپینه وه، ما وویل خوښه مې شوه، چې د مصنوعي نوم دې پرې کېښود، نو زړه مې ونه شو، ځکه زما اکثره مصنوعي شیان نه خوښېږي، یوه تیږه طبیعي پاتې وه، دا هم مصنوعي شوه، ما وویل، زموږ څلی ټول له طبیعي شیانو جوړ شوی، طبیعي ځانګړنه لري، مصنوعي کوو یې نه، نو همدا وطنۍ هراتۍ تیږه مو خوښه ده، هغه یې ژر راته منظمه کړه، جدولونه یې ورته برابر کړل، (۴۵۰۰) افغانۍ یې قیمت شو، بېرته د خطاطۍ دکان ته ورغلو، متن ما او فیاض حمید اوه اته ځله ایډېټ کړ، تر بیا بیا کتنې وروسته به هم په کې یو نه یو توری ناسم و، کله چې پوره باوري شو، نو هغه ته مو لاسلیک وکړ، خطاطۍ والا ته مې وویل، اجوره دې ووایه، پر هغه زما تر ډېر ټینګار وروسته هغه خپل نرخ ایله (۱۴۰۰۰) افغانیو ته راټیټ کړ، ورته مې وویل چې سبا دوشنبه د اسد پر (۲۳)مه به یوه د بېلګې په توګه جوړه کړې، که مو خوښه شوه، بله به هم جوړه کړې او که نه بیا به تیږه او لیک دواړه بدلوو، د ماسپښین دوه بجې وې، له هغه ځایه د څلي لیدو ته ورغلم، د محمد اسلام د کاریګرو له خوا لا د تیږو لګول نه وو خلاص شوي، هغه ته مې بیا زنګ وواهه چې څلور، پنځه بجې به څلي ته راشې چې کاریګر دې ډېر سست دي او کار هم ډېر پاتې دی. څلور بجې مې ټلوېزیون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ وخوړه او هلته د حاجي صیب مونجي په ګډون له څو سپین ږیرو او ځوانانو سره تر کتنې وروسته بېرته څلي ته لاړم، محمد اسلام هم راغلی و، خو انجنیر پوپل چې ما سره یې دا مهال وعده وه، د یو ضروري کار له امله حاضر نه و، محمد اسلام څخه مې لوز واخیست چې د دوشنبې تر (۱۲) بجو باید د تیرو کار خلاص وي او د انګاف او رنګ کار یې باید شروع شي، هغه وویل، پیک لاندې د تیرو د لګولو لپاره (وایرنګ) ته اړتیا ده، هلته تیرې نه ټینګېږي، همدلته نږدې له یو فلز کار سره مو خبره خلاصه کړه، هغه وویل سبا اته بجې به ما خپل کار خلاص کړی وي، ماښام بېرته ټلوېزیون ته راغلم، دلته مې د ټلوېزیون اداري پلاوي سره د اسد (۲٦)مه د غونډې او د څلي د افتتاح د غونډې په باب جلسه وکړه. اته نیمې بجې کور ته ورسېدم تر ډوډۍ وروسته مې دغه یادښت ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ځل بیا جرګې او مرکې

د اسد (۲۴)مه نېټه د سې شنبې ورځ بیا په منډو تېره شوه، سهار لومړۍ ټلوېزیون ته او بیا له هغه ځایه نجات ځلې ته لاړم، د ځلې کار ښه روان و، خو بیا هم تر ټاکلي پلان یو څه شاته پاتې و. بیا پوهنتون ته، له هغه ځایه لوړو زده کړو وزارت ته او له هغه ځایه بیا ملي بانک ته! هلته مې د بانک له رییس ښاغلي (جاوید وفا) سره د ازادۍ ورځې د نمانځې په باب خبرې اترې وکړې، له هغه ځایه بیا د ځلي کتلو ته ورغلم، تر هغه وروسته مو بیا ټلوېزیون کې د ازادۍ په باب د لویې غونډې جوړولو لپاره د ترتیباتو په باب بحث وکړ، څلور بجې مې بیا د ملي بانک له رییس سره ملاقات و. دا مهال نذیر احمدزي صیب زنګ وواهه چې دلته د جنوب ختیځ زون شورا راغلې او د ځلي د افتتاح په باب ځینې اندېښنې او نظریات لري، که تاسو هم راشئ، ښه به شي، ما ویل لږ بند یم، که دوی یو څه معطلېدلای شي، نو زه هم درځم، خو په راتګ درځم. هغه وویل، دوی وایي موږ انتظار کوو. تر ملاقات وروسته د احمدزي صیب کور پر لوري لاړم، لاره سخته بنده وه، څه کم دوو ساعتونو کې ورسېدم، ماښام لمانځه ته څه وخت پاتې و، چې زه ورسېدم، اکثره هغه مشران په کې وو چې څو ورځې دمخه مو هم موږ ورسره د حاجي صیب عبدالباري منګل، صمد ځاځي په کورونو او ژوندون ټلوېزیون کې څو ځله پر همدې تړاو کتلي وو. ښاغلي داود شاه نیازی، صمد ځاځی، حاجي عمر، میرزکوال، بخت محمد ځدراڼ او یو څو تنه نور نوي مشران او ځوانان په کې وو، وروسته عبدالرشید ایوبي او نېک محمد ولسمل هم راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځل بیا د ځلي موضوع رایاده شوه او په تېره بیا د افتتاح خبره، د جنوب ختیځ زون شورا وویل چې زموږ د شورا نظر دادی چې دا باید د اسد پر (۲۸)مه افتتاح نه شي، یوه اوونۍ وروسته یا د همغې اوونۍ د چهارشنبې پر ورځ دې پرانیستل شي، داود شاه نیازي وویل چې د چهارشنبې ورځ هملته نږدې د جنوب ختیځ زون شورا ده او هلته نږدې یو زر تنه مشران راځي، هغه به ټول تر غرمې وروسته سره راشو، ځلي ته او ځلی به افتتاح کړو. یوه په کې وویل چې (د پکتیا د ځوانانو جرګه ګۍ) وایي چې موږ هېڅوک هم افتتاح ته نه پرېږدو او څو چې د افتتاح صلاحیت او د غونډې پروګرام له موږ سره نه وي او که څوک راغلل نو زموږ له غبرګون سره به مخ شي.

ځینو نورو وویل د اسد (۲۸)مه ډېره مصروفه ورځ ده، میډیا هم مصروفه وي، نو ښه ده چې دا یوې بلې ورځ ته انتقال شي. چا وویل چې ځلی باید د یوه شخص په نامه تمام نه شي، ټولو په کې قرباني ورکړې ده، داسې نه شي کېدی چې یو څوک دې هر څه په لاس کې ونیسي، چا وویل چې د غونډې پر ورځ دې د ځلي تاریخچه د یوه بېطرفه سړي له خوا ولوستل شي، مننه او کور ودانی دې هم د یو بېطرفه شخص له خوا وویل شي، هر څه دې د بې طرفه خلکو له خوا برابر شي.

اخوا دېخوا دومره خبرې وشوې چې ځینې په کې زړې، ځینې په کې بېخونده او ځینې هم په کې غرضي او په شخصي ډول ماته راجع وې. ما ورته لومړی د اسد د (۲۸)مې نېټې د پرانیستې ګټې یوه یوه بیان کړه. د بېطرفه شخص په باب مې وویل چې کاشکې دا کار هم له سره بېطرفه کسانو راپیل کړی وای، کاشکې خو یې دا جرئت لرلای چې د ځلي د جوړونې په بهیر کې د یو چا طرف واقع شوی وای، دا د دې مانا ورکوي، هغه چاچې دا ځلی یې تر دې ځایه راورسوه، هغوی مانا بې کفایته دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا چا سره طرف دي، اوس به د هغه بل طرف د خوشالۍ په خاطر دا طرف له منځه وړو او په اصطلاح داسې بې طرفه کسانو ته به زمینه برابرېږي چې تر اوسه یې هېڅ کفایت نه دی ښودلای. زه چې څومره د قضیې پر ماهیت پوهېږم، یو شمېر خلک چې د څلي د جوړونې له بهیره یې ځان پټ کړی و، اوس غواړي اصلي جوړوونکي حاشیې ته کړي او یو ځل بیا پر واقعیتونو خاورې واړوي. کوم شی چې واضح دی هغه دادی چې دا څلی به جوړېږي او افتتاح کېږي به، خو ښه داده چې د اسد پر (۲۸)مه افتتاح شي او که څوک ځان ته یو څه وایي، نور څلي هم ډېر پاتې دي، هغه دې جوړ کړي. عبدالرشید ایوبي صیب چې لږ وروسته راغلی و، هغه هم وضاحت وغوښت ، ما وویل، دوه خبرې دي، څلی د اسد پر (۲۸)مه افتتاح شي او که تر هغه وروسته. ما ویل زه یې پر (۲۸)مه ټینگار کوم او جنوب ختیځ زون شورا یې پر بله ورځ. ایوبي صیب ته مې د دې خبرې یادونه هم وکړه، اوس ښه شو چې تاسو هم تر لسو میاشتو وروسته بیا دې پروسې ته داخل شوئ، نو تاسې هم باید خپل نظر ووایئ! ایوبي صیب غوڅه خبره ونه کړه، یو ځل یې وویل چې زما خو زړه غواړي چې پر (۲۸)مه دې شي، خو چې نور یې نه غواړي بله ورځ دې شي. دا غونډه یو ځل بیا پر ډیالوگ بدله شوه او په ترخه ډیالوگ چې نه غواړم د ټولو بیان دلته وکړم او د لوستونکو ذهن پرې ستړی کړم، خو اخره کې ما وویل چې څلی د ټولو افغانانو دی، نو ښه ده چې یو خل بیا له ټولو مطرح شوراگانو سره پرې بحث وشي، سبا شپه دې همدلته له هرې شورا په تېره بیا د لوی کندهار، لویې پکتیا او لوی ننگرهار له شوراگانو څخه په مساوي ډول پنځه پنځه تنه راشي او ځینې نور مطرح شخصیتونه، ټول به لومړی دلایل ووایو او بیا به په گډه پرېکړه وکړو، پر همدې د عا وشوه. د وتو پر وخت ما د جنوب ختیځ شورا ته وویل هغه کسان چې د نجات څلي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب دومره خبرې کوي، ښه ده چې د ملالۍ ځلي او واټ د جوړونې پرانیسته هم وکړي. دغه دی ایوبي صیب تیار راغلی، د تېر کال د دسمبر پر (۱۰)مه نېټه یې په احمد شاه بابا مېنه کې د ملالۍ په نامه واټ چې له پخوا څخه هم د هغې په نامه نومول شوی و، د جوړېدو او د ځلي د بنسټ ډېره کېښوده، تاسې پوښتنه وکړئ چې د ستنې سیم په اندازه کار په کې شوی دی؟ دې وخت کې ایوبي وویل دا ډېره عدالت گوند ایښې، زه یې ذمه وار یم او عدالت یې ذمه وار دی، د هغه ځای وارث معلوم دی، عدالت، دی عدالت. ما ورته وویل، څه وخت یې جوړوې؟
ایوبي صیب وویل، ما په کې وخت نه دی ټاکلی دا چې څه وخت یې جوړوم دا زما خپل کار دی او چاته حق هم نه ورکوم چې ماته ووایې څه وخت یې جوړوې؟ د هغه ځلي وارث موجود دی، عدالت گوند دی، ما ورته وویل، نه خپل کور دې دی چې هر وخت دې زړه وغواړي جوړوې به یې؟ تا خو د سوونو خلکو په مخ کې وعده وکړه، هغه خو یو عام ځای دی، د ټول ولس دی، هسې نه چې یو گوند لوحه نصب کړي نور بیا لاړ شي. که دا ولس رښتیا هم ولس وي، نو په کار ده چې د داسې عامه ځایونو پوښتنه وشي. ایوبي صیب وویل، نجات ځلي کې مې هم تر ټولو زیاته مالي او معنوي قرباني ورکړې ده، کېدی شي یون صیب به یو دوه ځله تر ما زیات ځلي ته تللی وي، نور کار خو موږ کړی. ایوبي صیب وویل، ما شل شل منزله، دېرش دېرش منزله تعمیرونه جوړ کړي، زه یې نه یادوم، دا یو څو متره ځلی نو بیا څه دی؟بله خبره دا ده چې یون صیب یو فرهنگي سړی دی، ښه به وای چې فرهنگي کارونه یې کولای، په سیاست کې یې گوتې نه وهلای ډېره به ښه وای. درانه لوستونکي چې دا اثر لولي او یا یې کله هم د ایوبي صیب ژمنې لیدلې وي، هلته به ورته ښه پته لگېدلې وي چې داسې خلک هم شته چې په رڼا ورځ دې په سترگو کې درننوزي، ما زړه کې وویل، افرین په دې سپین سترگۍ او افرین په دې اخلاقي جرئت، هغه ته ځان داسې ښکارېده چې گنې د سیاست ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**متخصص او د ټول افغانستان سیاست د ده پر محور راڅرخي. ما وویل، که دې ولس سیاستوال له درواغو منع کړل، نو دا به هم زموږ لپاره یو غټ بری وي، لنډه دا چې دا غونډه تر ټولو غونډو سترې کوونکې، له غرض، کینو او وسوسو څخه ډکه غونډه وه. د سه شنبې ماښختن چې د نذیر احمدزي له کوره راغلم، نو لومړی مې د همدې ورځې یادښت ولیکه او بیا د شپې تر ناوخته (درې بجو) پورې مو د همدې کتاب، متن وکوت. لږ شان خوب او سهار (۹) بجې یو ځل بیا ځلي ته لاړم، کارونه مې چک کړل، زه او انجنیر نصیر احمد پوپل بیا د بیرغونو د ستنو د لیدو لپاره لاړو، فلزکار ژمنه وکړه چې نن ماسپښین یې د نصب کار شروع کوم، تر دې یوه ورځ دمخه زه، انجنیر پوپل او فلزکار، له سیدنورمحمدشاه مېنې څخه عبدالحق څلور لارې ته لاړو چې هلته د بیرغونو ستنې وګورو. (انجنیر رضا) چې د بیرغونو دا ستنې یې ودرولې وې، ما لا ورځ دمخه هغه سره ملاقات کړی و او هغه هم د دې ستنو تایید کړی و. انجنیر رضا نه یوازې عبدالحق څلور لارې ډیزاین کړې، بلکې پښتونستان واټ او د ښار یو شمېر نورې څلور لارې یې هم**



انجنیر نصیر احمد پوپل

**ډیزاین کړي، انجنیر رضا په خته افغان هزاره دی، هغه ماته په کابل کې ښاروالۍ کې له یو شمېر متعصبینو څخه هم شکایت وکړ او ویې ویل چې قصداً نه غواړي د پښتونستان څلور لارې جوړه شي. هغه د نجات ځلي په ښکلاییزه برخه کې هم د خپلې همکارۍ ډاډ راکړ او دا یې هم وویل، کوم فلزکار چې تاسو ته دا ستنې جوړوي، کار یې د ډاډ وړ دی. تر هغه وروسته کابل ولایت ته مخامخ حق مارکېټ ته لاړم چې ډبرلیکونه ترې راواخلم، هغه تیار جوړ وو، (۱۴۹۰۰) افغانۍ مې ورکړې، ډبرلیکونه مې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترې واخیستل، دوه ډبرلیکونه او په اوسپنه کې یوه جوړه شوې وړه لوحه. په لاره کې په ډېر احتیاط راغلو چې ډبرې ماتې نه شي. ډبرلیکونه مې په خپل دفتر کې غلي کېښودل، چې څوک یې ونه گوري، دا هغه متن دی چې عوامو او خواصو سره پرې ډېره مشوره نه ده شوې او که دا متن یو ځل د غرضي خلکو خولې او مشورې ته غورځېدلی وای، نو څلی به پر ځای پاتې و، پر دې به سره نه جوړېدل، د ډبر لیک متن له اصولو سره سم ترتیب شوی و.**

**په تیره کې همغه متن چې وړاندې ورته اشاره وشوه، حک شو، دا یې بېلگه ده:**

**دا ورځ هم بیا په منډو رامنډو تېره شوه، ډېره ستړې کوونکې ورځ، وخت کم او کارونه زیات.**




**د اسد پر (۲۵)مه، د شپې (اته) بجې یو ځل بیا د احمدزي صیب په کور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې جرگه شو، لومړی ایوبي صیب تلاوت وکړ، بیا حاجي صیب نذیر احمدزي هرکلی ووایه، ویې ویل، نن باید د خوشالۍ خبرې وکړو، د ورانۍ خبرې پرېږدو، د څلي تاریخ مو بېرته تازه کړ، په خوشالۍ سره باید د افتتاح ورځ وټاکو، زه نه د مشرۍ دعوه کوم، یوازې ستاسو خدمتگار یم.

نېک محمد ولسمل صیب وویل: ((موږ یو اوږد مزل لرو، په ورو ورو خبرو یې باید خدشه دار نه کړو، تره مهمه ده، تره باید ماته نه شي، که حالات ضروري وي، دلایل قوي وي او گټه یې زیاته وي، که تره ماته شي پروا نه کوي، خو که د اسد (۲۸)مه یا بله ورځ په گټه وي، تصمیم باید پرې ونیسئ!))

د رحمت الله کټوازي صیب په نامه یو شخص وویل: ((د میډیا، سیاستپوهانو او نورو ټولو پاملرنه او نظر د اسد (۲۸)مې ته دی، نو په دې ورځ یې افتتاح کول مناسب نه دي، بله ورځ که راشي ښه به شي.))

ایوبي صیب وویل: ((پرون زه د موضوع له عمقه نه وم خبر، په دې ورځ میډیا ډېره مصروفه وي، رسنیزه کول ډېر مهم دي، که چېرې بله ورځ شي، نو یوه بله ورځ به هم زموږ په افتخاراتو کې زیاته شي)).

د مشرقي شورا استازي وویل: ((له هر قوم څخه بایدټول مشران په کې گډون وکړي او که ټول رانه شي نو دا مسله بې ارزښته کېږي.))

د (سرتېر) په نامه یو ځوان وویل: د اسد (۲۸)مه د خپلواکۍ ورځ ده، د نجات څلي ورځ باید بله مهمه ورځ وټاکل شي، نه یوازې ورځ، بلکې دا چې پر هغې ورځ نور څه کېږي، پر هغو هم باید بحث وشي.

یو ځوان چې نوی دې بهیر ته داخل شوی و، وویل: (( ځانغوښتنې باید نه وي.))

نذیر احمدزي صیب وویل: ((که پر دوو ورځو یا نېټو فیصله ونه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیمه لار هم شته، خو موږ نه غواړو، درېیمې لارې ته لاړ شو، هر څه باید په اتفاق او اتحاد وشي.))

رحمت الله کټوازي صیب وویل: ((د اسد پر (۲۸)مه که کومه پېښه وشي او خلک په وینو کې ولمبېږي، نو مسولیت به یې څوک پر غاړه اخلي؟))

نېک محمد ولسمل صیب وویل: ((که پر بله ورځ څه پېښه وشوه، مسولیت به یې څوک پر غاړه واخلي؟))

ایوبي صیب وویل: ((د تېرې غونډې لپاره مو ښه امنیتي تدابیر نیولي وو، خو دېته یې هېڅ نه شو نیولای.))

میرزکوال صیب وویل: ((معاون صیب څخه مننه! باتدبیره قوم هغه دی، چې په تیاره کې رڼا راولي، که موږ خپله له یوه بحران څخه راونه وځو، نو بل ته به له بحرانه د راوتلو لاره څنګه وښیو؟))

داود شاه نیازي وویل: ((موږ چې څه دلایل لرل، اجماع مو پرې کړې وه، د جنوب ختیځ زون، توافق کړی و چې د اسد (۲۸)مه کې به جشن وي، په لارو او کوڅو کې به تګ راتګ هم مشکل وي، راتلونکې چهارشنبه که جوړه شي، ښه به شي، ځکه خو د جنوب ختیځ زون (اویاووتنو) مشرانو پرېکړه کړې وه چې پر دې ورځ دې افتتاح شي، نو زموږ خو همدا ورځ خوښه ده، ځکه په دې ورځ تیار شپږ اوه سوه تنه سپینږیري راځي، څلي سره نږدې په یوه هوټل کې غونډه لرو، تر غونډې وروسته به څلي ته راشو، افتتاح به یې وکړو، خبره به خلاصه شي.)) تر دې خبرو وروسته یو نیم په کې وویل: که داسې توافق ته نه رسېږو، نو ښه داده چې رایګیري وکړو او خبره فیصله کړو، د وروستي نظروال په توګه باید ما خبره کړې وای، احمدزي صیب او نورو ماته وویل، خیر نو اوس تاسو وواياست چې څه وکړو؟

ما وویل: ((له تاسو ټولو څخه مننه چې یو ځل بیا پر دې اساسي موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټول شوئ او مننه خو په دې کوم چې لس میاشتې وروسته ماته د ځلې وارثین په لاس راغلل، زه ډېر خوشاله یم چې دوی مسولیت پر غاړه اخلي او د منار د بشپړېدو افتتاح کوي، ما د اسد د (۲۸)مې لپاره خپل لسګونه دلایل لرل چې اوس خبره ډیالوګ ته نه باسو، د رایګیرۍ خبره هم ځکه نه کوو چې رایه اچونه په هغه حالت کې خلک کوي چې د ټولو خواوو تناسب په کې مراعت شوی وي، څوک د رایې حق لري او څوک یې نه لري، د دې غونډې څرنګوالی د حقیقي رایې اچونې ایجاب نه کوي نه دلته د ټول هېواد له بېلابېلو سیمو استازیتوب شته او نه هم هغه اصلي کسان چې تر دې دمه یې دا ځلی رارسولی دی، نو خبره باید په اتفاق سره ترسره شي، اوس چې د جنوب ختیځ زون شورا او یو شمېر نور خلک چې نوي دې بهیر ته داخل شوي او د دې جریان تشریح او توضیح ته هم اړتیا لري، هغه غواړي کومه بله ورځ انتخاب کړي، د دې خلکو پر وروستي او نهایي هدف او مرام هم زه سل په سلو کې پوهېږم، نه غواړم، خبره کوم جنجال ته ووځي، زما هدف د ځلي جوړول وو، هغه ترسره شو، که هغه کې ما صادقانه منډې وهلې وي، خدای به یې اجر راکړي، که نه نو له چا څخه د څه شي د غوښتنې اړتیا نه لرم، د ځلي افتتاح اصلي موضوع نه ده، اصلي موضوع لومړی د نجات ورځ او دویم خپله ځلی دی، افتتاح یې یوه ضمني او فرعي موضوع ده، اوس نو دا جرګه چې په هېڅ وجه نه د ټولو پښتنو، نه هم د ټولو سمتونو او نه هم د ټولې پکتیا د ولسونو استازیتوب کولای شي، خو بیا هم چې د افتتاح د ورځې پر تغیر ټینګار کوي، هره ورځ چې دوی غواړي همغه دې وټاکي، لکه څنګه چې نیازي صیب وویل، د چهارشنبې ورځ هلته تیاره غونډه ده، پر همغې ورځ دې افتتاح کړي. ځکه چې د دویم ځل لپاره به ورته بیا د دې خلکو راټولول هم مشکل وي، نو ښه ده چې پر همغه ورځ یې افتتاح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ډول غونډو پر هدف موږ پوهېدلو، چې اکثره دا ډول غونډې د حکومت له خوا جوړېږي، د ډوډۍ او هوټل لګښت يې هم حکومت ورکوي، څه متحدالمال خبرې په کې وشي او د حکومت ځينې خبرې تائيد شي او يو نيم ناخبره په کې انتقاد هم وکړي او بيا غونډه پايته ورسېږي.



د نذير احمدزي په کور کې د جرګې يو انځور

هره ورځ د شوراګانو مشرانو ته هم سخته وي چې خلک راټول کړي او لګښت پرې وکړي، يو شمېر خلکو ته چې د غرمې ډوډۍ ورنه کړې او هم د موټر کرايه، د نږدې خپلوانو جنازې ته هم نه ځي، نو پاتې شوه ملي غونډو او جرګو ته تګ. ما ويل ځه څه ته به يې په تکليفوو چې ورځ تغير کړو، نو پرېږده چې هر څه د دوی په خوښه تمام شي. خدای حاضر دی چې تر دې دمخه شپه چې د نذير احمدزي په کور کې پر همدې مناسبت غونډه وه، تر هغه وروسته مې له خپل ضمير سره مشوره وکړه او پرېکړه مې وکړه چې څه دوی وايي همغه ورسره ومنه، څرنګه چې ځان له يوه تاريخي مسوليته خلاص کړم، نو ځکه خو مې اول دوی ټولو ته نوبت ورکړ، په پای کې مې وويل، ورونو! زه دلته نه د کوم ګوند، نه د کومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا، نه د کوم قوم او نه د کوم سمت په استازۍ خبرې کوم، د یوه عادي افغان په توګه مې خپل نظر او دلایل پخوا بیان کړي وو، اوس چې تاسې خپل نظر لرئ، ورسره مخالفت نه لرم، تاسې ټول کارونه په منظم ډول جوړ کړئ، که موږ غوندې خلکو ته په کې اړتیا وه، پر موږ غږ وکړئ، څه مو چې له واکه او ځواکه پوره وي، هغه به ترسره کوو، یوازې یو وړاندیز لرم او هغه دا چې تر دې ځایه مالي حسابونه ټول پاک او شفاف دي او ټولې پیسې زما په خپل لاس ټېکه دار ته وررسېدلې او لاسلیکونه مې ترې له نېټې سره سم اخیستي دي، هغه مالي راپور زه درکوم، داسې نه شي چې وروسته نور خلک دعوه وکړي او ووایي چې ما خو په کې دومره پیسې اچولې دي، هغه زما نوم څه شو او یا د هغو کسانو نومونه هېر او تېر شي چې تر دې دمه یې څلي ته پیسې ورکړې دي. نو هغه راپور چې په هر چا لولئ، بې طرفه وي او که با طرفه، هغه باید دقیق وي، ځکه چې سبا به هغه خلک وایي چې پیسې موږ ورکړې او نومونه د نورو خلکو یادېږي، هغو ته زه مسولیت لرم چې د خپلو پیسو حساب و کتاب یې څرګند کړم. دویمه مسله داده چې دوه ځله دا څلی له ستونزو سره مخامخ شو، یو ځل ښاغلي ګلاب منګل په کې مداخله وکړه او مشکل یې حل کړ او دویم ځل شمیم کټوازي فوق العاده همکاري وکړه او یو بل ساختماني شرکت یې پیدا کړ چې پاتې کارونه یې پر مخ یوړل، نو د هغوی له تصمیم پرته که هره جرګه پرېکړه کوي، هغه به بې انصافي وي. ځکه کوم کسان چې دلته اوس پرېکړه کوي، دا د بحران په وخت کې یو هم حاضر نه وو او نه یې څه ترسره کړي، نو پر همدې خبرو مو دعا وکړه، غونډه پایته ورسېده، نذیر احمدزي صیب او نورو مننه وکړه، نیازي صیب وویل، لږ وخت راکړئ، هغه په تېر وخت کې زما د کارونو ډېره ستاینه وکړه او ډېرې تائیدي خبرې یې وکړې، خو ما ټولو ته وویل، تاسې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلسې ته دوام ورکړئ، نور کاروانه پسې تعقیب کړئ او څه چې مو فیصله وکړه، که موږ ته د مرستې اړتیا احساسېدله، هغه به ترسره کوو.
په همدې کې ما له ټولو اجازه واخیسته او د خپل کور پر لوري رهي شوم، د شپې مهال مې څلی هم وکوت او د پنجشنبې سهار یو ځل بیا څلي ته لاړم او دغه راز مې پر همدې ورځ چې د اسد (۲٦)مه نېټه وه، د ازادۍ د کلیزې د نمانځلو لپاره د پاتې کارونو د سرته رسونې په خاطر چټکې هڅې پیل کړې. د پنجشنبې ورځ ډېره مصروفه ورځ وه، د یوې غټې غونډې لپاره ترتیبات نیول چې لا ډېر کارونه یې پاتې وو، نو ژر مې یو کاري پلان جوړ کړ، دا مهال د ښاروالۍ د دولسمې ناحیې رییس (عبیدي صیب) او د حوزې د ملي امنیت امر (حاجي محمد زمان) راته زنګ وواهه چې هلته د احمد شاه بابا مېنې ولسونو د (رضا رفعت) او (بهشتي) چې د سږ کال کانکور کې اول نمره ګان شوي او یو بل قاري صیب (نصیر احمد) په ویاړ غونډه جوړه کړې، که ته رانه شې، دا خلک او موږ ټول خفه کېږو، مجبور شوم، هلته لاړم، ښه لویه غونډه وه، (۱۲) بجې له هغه ځایه څلي ته لاړم، پاتې کارونه مې ورته وویل او بیا له هغه ځایه یوه بجه دفتر ته راغلم. په دفتر کې مو له انډیوالانو سره د استقلال د ورځې نمانځغونډې ته ترتیبات ونیول، څرنګه چې سږ کال په کابل او ټول افغانستان کې د خپلواکۍ جشن نمانځل کېده، نو هغه دوه درې سټېجه چې ډېر ښایسته وو او دا دوه کاله موږ د یوې شپې لپاره په (۲۵۰۰) ډالره په کرایه راوړل، سږ کال دا محدود سټېجونه مخکې تر مخکې ریزرف شوي وو، د دفتر ملګرو وویل، موږ یې تر هغه په ښه ډیزاین جوړوو، هم کم لګښته دي او هم به یې هر وخت جوړوو، خوازې مو راوغوښتلې او ماسپښین مهال پرې کار پیل شو. موږ د اسد (۲۸)مه، کال پر کال د اسد پر (۲٦)مه نمانځو او بیا یې یوه ورځ وروسته پر (۲۷)مه شپه چې سبا یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استقلال ورځ وي، خپروو، نو دا کار مو هم د پلان مطابق روان و.**

**د شپې اته نیمې بجې غونډه پیل شوه، د خدای فضل و، دومره کسان راغلي وو چې د ټلوېزیون په انګړ کې نه ځایېدل، غونډه په ښه ډول پیل**



په ژوندون ټلوېزیون کې د خپلواکۍ ورځې د نمانځنې یو انځور

**شوه او په ښه ډول پایته ورسېده، په غونډه کې مې یو خل بیا د څلي د اکمال خبرې وکړې او هم مې د مرستندویانو نوموونه په ترتیب سره واخیستل او ومې ویل چې له دغو کسانو پرته بل هېچا مالي مرسته نه ده کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څلي ډېرلیک او د هغه برخلیک

د جمعې ورځ سهار (۸)بجې ټلوېزیون ته راغلم چې ځینې کارونه منظم کړم، جلال اباد ته مې د تګ تیاری نیوه، ځکه چې د اسد له (۲۸)مې نېټې څخه د څلي افتتاح هم وځنډېده او دلته د ازادۍ په ویاړ زموږ غونډه هم پایته ورسېده، څه وخت راته سپما شو. د پنجشنبې ورځ لس بجې راته له ننګرهار څخه ځینو دوستانو زنګونه ووهل چې که موږ سره په جلال اباد کې د خپلواکۍ جشن ونمانځې ډېر خوند به وکړي، هغوی وویل، دجمعې ورځ تر دوو بجو که جلال اباد ته راشې، موږ ښار کې ګرځو، د هېواد بیرغونه راسره دي، نو ته هم موږ سره وګرځه، ما ویل ډېر کارونه دي دروبه نه رسېږم، هغوی وویل، څه یو ساعت نور هم (۴) بجې درته منتظر یو، د ټولو هیله ده، ویې ویل زموږ نور مشران خو ډارېږي، په داسې پروګرامونو کې ګډون نه کوي، نو ټولو ویل، یون صیب که راشي، زموږ ستړیا به رفع شي، جشن به خوند وکړي، ما ویل زه کوښښ کوم، خو وعده سل په سلو کې قطعي نه ده، هغو وویل، قطعي یې کړه. د پنجشنبې ماښام ناوخته د ننګرهار والي (ګلاب منګل صیب) زنګ وواهه، اول یې د څلي د حال او احوال پوښتنه وکړه، هغه له جنجالونو خبر وو. بیا یې وویل که جشن لپاره ننګرهار ته راشې، ډېره به ښه شي، ما وویل، دلته کارونه دي، خو کوښښ کوم. د جمعې سهار (۸) بجې ټلوېزیون ته راغلم، دغه یادښت مې ولیکه، اوس غواړم، په ژوندون کې د تېرې شپې د پروګرام د ایډېټ پوښتنه وکړم، بیا غواړم منار ته ډېر لیکونه یوسم، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردې دمه یې چا مخ نه دی لیدلی، د هغو تر نصب او په څلي کې که ممکن وو، دیوه بیرغ تر نصب وروسته غرمه دولس- یوه بجه دننگرهار پر لوري حرکت وکړم.

د اسد پر (۲۷)مه د جمعې مبارکه ورځ شاوخوا لس بجې مې دوه ډېرلیکونه چې مخکې مې د هغو د څرنگوالي په باب یادونه کړې وه، څلي ته یوړل، مجیب الرحمن لحاظ هم راسره و، څلي کې مې کارگرانو ته وویل چې زه اوس تیار ولاړ یم، دا ژر ولگوئ، ځکه چې مخکې تر دې چې څلی افتتاح شي، هر سړی پرې یوه تبصره کوي، ځینې به بیا وایي چې زما نوم ولې په کې نه شته، ما خو هم یوه ورځ په کې منډه تړه کړې، ساختماني انجنیر ته مې وویل چې کله دې هم ډېر لیکونه نصب کړل، یوه پرده پرې وغوړوه چې تاسو دلته کار کوئ (تیرېږ فرشوئ)، هر سړی به راخبرېږي، بیا به دا ډېر لیک گوري او تاسو ته به د کار مزاحمت پېښوي او یو شمېر هغو تنگنظرانو ته به هم پلمه په لاس ورشي چې نه خپله کار کولای شي او نه هم نور زغملای شي. انجنیر نصیر احمد پوپل راته وویل چې ته بېغمه اوسه، کله چې کار خلاص شو، زه ورته یو پوښ ورکوم او د پرانیستې پر ورځ به یې ترې بېرته لرې کړو. زه بېرته ټلوېزیون ته راغلم او د جلال اباد سفر ته مې ځان تیار کړ، ډاکټر هجرت گردیوال چې د ملي تحریک غړی دی او کور یې څرخي پله سره نږدې سیمه کې دی، ماته یې لا پرون ویلي وو چې که جلال اباد ته ځې، نو د جمعې ورځ غرمه مې د کندوز پخواني والي (سلیم خان کندوزي) او وکیل صیب (اجمل عمر) مېلمانه دي، نو تیار په دې لاره راشه، غرمه به دلته تېره کړې، بیا به ځې. دولس نیمې بجې له دفتره ووتم، ما ویل ځه د څلي کار به وگورم، بیا به د بابا مېنې پرلاره څرخي پله سیمې ته ځان برابر کړم. کله چې څلي ته لاړم، نو کاریگرانو د یوه ډېر لیک د نصب کار پیل کړی و، څرنگه چې ډېرلیک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر احتیاط لګول کېږي، نو وخت غواړي، نو ځکه ترې روان شوم، یوه نیمه بجه د ډاکټر هجرت ځای ته ورسېدم، ډوډۍ یې ماته معطله کړې وه، کندوزي صیب او اجمل عمر صیب سره مې څو دقیقې د مملکت پر مسایلو بحث وکړو، دې کې یې وویل، ډوډۍ تیاره ده، بله کوټه کې ډوډۍ ایښې وه، کله چې ډوډۍ ته تللو، نو په دې وخت کې د (انجنیر نصیر یما) له خوا زنګ راغی، انجنیر یما هغه څوک دی چې د دې منار د بېروني ډیزاین نقشه یې جوړه کړې وه. ماته یې وویل: ((استاد انجنیر نصیر هستم، از میدان هوایی گپ میزنم، همین حالا از ساحه کار به ما کاریګر زنګ زده بود، که دو نفر از موتر سیاه ضد مرمی تا شد، مرا تهدید هم کرد، یک سنګ (کتیبه) که نصب شده بود او را و دیګری که در زمین به دیوار تکیه شده بود، هر دویش باخود برد، نمبر تلفون خود را هم داد و ګفت هر کس امد این نمبر ما است، برای ما زنګ بزند، و ګفتند که ما عضو یا معاون شورای ولایتی پکتیا هستم، این منار مربوط ماست، این سنګ ما اصلاح میکنیم، و دوباره میاریم، و نام خود را صمد ځاځی معرفی کرد)) چورت مې ډېر خراب شو، ما ویل که دا مسله لکه د هغو نورو په شان یو څل مشورې ته لاړه، نو هېڅکله به یې سم حل راونه وځي، دې وخت کې بیا غږ شو، استاده ډوډۍ تاته منتظره ده، ژر لاړم، ډوډۍ ته، خو چندان ښه راباندې ونه لګېده، ژر مې یو څو مړۍ تېرې کړې، له والي صیب او وکیل صیب څخه مې اجازه واخیسته، ورته مې وویل چې څلور بجې ننګرهار کې یوه غونډه ده، باید ځان ورسوم، دوه بجې او پنځه لس دقیقې د ډاکټر هجرت له کوره راووتم، تنګي ته دوه نیمې بجې ورسېدم، کله مې زړه غوښتل چې راځه بېرته وګرځه، بیا مې وویل، سبا خو غیر له هغې هم د اسد (۲۸)مه ده، خیر یوه ورځ به ګوزاره وکړو، په همدې منځ کې مې نذیر احمدزي صیب ته زنګ وواهه، ما ویل دغسې پېښه شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



صمد ځاځي ډېرلیکونه ځان سره وړي دي. هغه وویل، لږ صبر کوه، چې زه ورته زنګ ووهم، بېرته یې ماته زنګ وواهه چې هغه وایي موږ سره مشوره نه ده شوې او په خپل سر دا تیږې راوړل شوې دي، دا نومونه موږ ته د منلو وړ نه دي، دې کې پخواني شهیدان نه دي راغلي، موږ به ټولو سره مشوره کوو او بیا به تصمیم نیسو چې دا او که نورې تیږې ولګوو، ما ورته وویل چې د وړلو مشوره یې له چا سره کړې ده؟ ده ته دا صلاحیت چا ورکړی چې د نورو له مشورو پرته دا کار وکړي، بل ده خو په ځلي کې څه عملي ونډه هم نه ده اخیستې چې که چېرې دی نه وای، نو دا ځلی به نه و جوړ شوی، بل نور ځلي او ودانۍ چې جوړې شوې دي، هغه دې وکتل شي چې هغو کې ډېر لیکونه څه ډول لیکل کېږي، مخکې یې پر ما تور پورې کاوه چې دی په کې خپل نوم لیکي، اوس دې په کې زما نوم پیدا کړي. نذیر احمدزي وویل، ځه خیر دی، ته لږ اوسېله کوه، زه یې انشاء الله یو دوه ساعتونو کې حلوم، کله چې نغلو ته ورسېدو، نو ساعت څه باندې درې بجې وې، موټر خراب شو، موټر مې په یوه خوندي ځای؛ د کابل طرف د نغلو ډنډ په وروستۍ برخه کې د کبانو په نویو جوړو شویو هوټلونو کې ودروه، له سروبي څخه مستري راغی او موټر یې جوړ کړ. ما په دې منځ کې چای وڅښه، د هرات، کابل، ننګرهار او ځینو نورو ولایتونو له یو شمېر اوسېدونکو سره مې، چې همدلته دمه کېدل، سیاسي بنډار وکړ، ماښام مانځه مهال مې والي صیب ګلاب منګل ولید، هغه وویل، تر لمانځه وروسته به مجلس کوو. تر لمانځه وروسته مې یو ځل بیا ورته د ځلي تېر داستان او اوس د ډېرلیکونو برخلیک او د افتتاح مراسم ټول تشریح کړل. هغه نذیر احمدزي ته زنګ ووهه، هغه په یوه محفل کې و، خبرې ورسره ونه شوې.

د شپې زه جلال اباد کې خپل کور ته لاړم، چورت مې خټه و، شریف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصري او فريدون شېرزي ته مې وويل، ښار کې ځوانان ډلې ډلې گرځي، که خوښه مو وي، راځئ موږ به يې هم په جشن کې گډون وکړو. لومړی مستوفيت واټ ته ورسېدو، کله چې خلکو موږ وليدلو ټول راټول شول، ويل يې يادگاري عکسونه اخلو، گڼه گوڼه چې زياته شوه، نو يو ځوان وويل، يون صيب د هغه موټر سر ته پورته کړئ چې هم خلکو ته مبارکي ورکړي او هم خبرې وکړي. دې سره پوه شوی نه يم، خلکو په دقيقه کې د موټر سر ته وخېژولم، د ملي بيرغ په رنگ، رنگ خولۍ يې راته په سر کړه، ملي بيرغ يې راته غاړه کې واچوه، ټول څو شېبې غلي شول ما ټولو ته د خپلواکۍ مبارکي ورکړه او بيا مې يو څو شعارونه هم ورکړل، دوی ټولو بدرگه کول، شپېلي، چکچکې او گرم احساسات څرگندېدل، کله چې

په جلال آباد کې د خپلواکۍ ورځې د جشن يو انځور



زما شعارونه خلاص شول، نو دې کې د موسيقۍ يو درز شو، ځوانانو په اتڼ او گډا شروع وکړه، واړه او ځوانان له مخې لگيا وو، چا مخونه د ملي بيرغ په شان درې رنگه رنگ کړي وو، چا درې رنگه جامې اغوستې وې، څرنگه چې دا مهال جلال اباد کې ډېره گرمي وه، نو له ټولو خولې روانې وې، د هر ځوان مخ او بدن له درې رنگه رنگونو ډک و، عيناً لکه په هند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې د رنگونو (هولي) مېله وي. ټول جلال اباد رنگین وو، کله چې موسیقي لږ ارامه شوه، یو دم یو ځوان غږ کړ، ژوندی دې وي یون صیب چې په دې توره شپه کې له موږ سره جشن نمانځي، ټولو بدرگه کړ، بل وویل، مرگ دې وي په معلم عطا، مرگ دې وي په دوستم، ټولو ورسره دا شعارونه بدرگه کول. دې وخت کې مې یو چاته وویل چې د اشخاصو ضد شعارونه مه ورکوئ، نن یوه ملي ورځ ده، د خپلواکۍ شعارونه ورکړئ. بیا نور دا شعارونه غلي شول، د ښار درېو نورو واټونو ته لاړم، هر ځای کې د خلکو همدومره مینه او هرکلی و، د خلکو مینې زما هغه ستړیا تر ډېره حده وایسته چې د نجات منار د بیا جوړونې په برخه کې د یو شمېر تنگنظرو اشخاصو له خوا راته رامنځته شوې وه. د شپې ۱۲ بجې کور ته لاړم.
سهار اته بجې بیا د ولایت مقام ته ورغلم، مېلمانه هم راروان وو، والي صیب (محمد گلاب منگل) یو ځل بیا نذیر احمدزي ته زنگ وواهه، ټلېفون یې رخ شو، د مشکل د حل په باب یې ورسره خبرې وکړې، هغه ورته ډاډ ورکړ، بیا ما منگل صیب ته وویل چې ته خپله کابل ته لاړ نه شې او ټول راټول نه کړې دا په یو او دوه ټلېفونونو مشکل نه حلېږي. والي صیب په دې قانع شو چې کابل کې به د یکشنبې پر ماښام یوه جسله ونیسو، والي صیب وویل، د دې ځای تر جشن وروسته، هلته په غازي امان الله خان لوبغالي کې په همدې مناسبت د کرکټ لوبې دي، هغه به هم موږ سره په گډه وگورې. جلال اباد کې جشن په ښه شور او ځوږ سره تېر شو، بیا غازي امان الله خان لوبغالي ته لاړو. هغه هم ښه خوندور پروگرام و، د لغمان والي عبدالجبار نعیمي صیب هم حضور درلود. (زهیر صیب) چې دا څو کاله په ننگرهار کې د ملي جشنونو په جوړېدنه کې کارنده ونډه لري، راته وویل چې نن شپه زموږ لوی تفریحي پروگرام دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرور پاتې شه، موږ ډېر خوشالېږو، پاتې شوم، د شپې جشن ته لاړو، په زرگونو ځوانان او له کوزې پښتونخواه څخه مشهور هنرمندان ورته راغلي وو، ملي ترانې وویل شوې، ډرامې اجرا شوې، د مدني ټولنو استازي (قرار عزیزي صیب) ځو تنو مشرانو ته مډالونه هم ورکړل، زه یې هم یاد کړم، دوی دې خدای ښاد کړي، سهار اته بجې له کابله د جلال اباد پر لوري راغلم، یوولس نیمې بجې راورسېدم، لږ استراحت مې وکړ، څلور بجې ټلوېزیون ته لاړم، د پکتیا د یو شمېر قومي شوراگانو استازي او ځو تنه مخور شخصیتونه راغلي وو، هم یې د څلي په باب بحث وکړ او هم یې د ډېرلیک موضوع یاده کړه. د ډېرلیک موضوع کې دوی هم ځو نظرونه لرل، چا وویل نومونه دې ولیکل شي، چا وویل، نه دې لیکل کېږي.

په ژوندون ټلوېزیون کې د پکتیا له مخورو سره د ناستې یو انځور



معمولاً هغه کسان د نورو د نومونو د لیکلو مخالف وو چې پیسې یې نه وې ورکړې. د دې داستان لیکل ځکه ضروري دي چې هره هغه موضوع چې یو طرف په کې زیانمن شوی وي او اکثریت ته په کې زیان نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووښتی، نو که دا وخت کې مسله مشورې او رایې اچونې ته واچول شي، د اکثریت نظر اتومات تایدېږي. هغه کسان چې مادي او معنوي قرباني یې ورکړې وي، که هغوی حق په جانب هم وي، هغه نور هم تاواني کېږي. اصولي صیب چې دا څه موده بهر کې و او ما ورسره له جلال اباده په (وټس اپ) خبرې کولې، راته وویل چې یکشنبه مازیگر رارسېږم، اول ستا دفتر ته او بیا د غونډې ځای ته ځو.

اصولي صیب شپږ بجې زموږ دفتر ته راورسېده، د پکتیا له مخورو څخه مې خدای پاماني واخیسته، ما او اوصولي صیب مجلس وکړ، ټول جریان مې ورته تېر کړ او بیا له ژوندون څخه د څلي پر لوري لاړو، هغه مو وکوت، دی هم ډېر خوشاله شو او بیا د والي صیب ګلاب منګل کور ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درنه جرگه او ترخې خبرې

د زمري پر (۲۹)مه د یکشنبې ورځ د شپې اته بجې به وې چې زه او اصولي صیب د گلاب منگل کور ته ورسېدو، حاجي خان محمد باز منگل چې
(لس زره ډالر) یې دې څلي سره مرسته کړې وه، هغه او څو تنه نور سپین ږیري هم راغلي وو. گلاب منگل، نذیر احمدزي او نورو ته مې لا مخکې تر مخکې دا ویلي وو چې دې غونډې ته باید اکثره مالي مرستندویان او د متعرضینو په استازۍ دوه درې تنه راشي چې یو بل ته د مرستندویانو د نوملیکنې یا نه لیکنې په باب قناعت ورکړي، که دوی یو بل سره موافقې ته ورسېدل، نو زموږ هېڅ اعتراض نه شته او که بیا هم هره شورا خپل لس پنځه لس تنه غړي خپلې دې غونډې ته راولي او هر یو بیا په خبرو کې ځان ته د مساوي وخت حق غواړي، دا خو نو بیا د هغو کسانو په حق کې ظلم کېږي چې اصلي لگښت یې ورکړی او هغه کسان چې د نورو حق سلبوي، دا خو نو بیا کوم اخلاقي ارزښتونه نه دي. څو شېبې ناست وو چې ضیاء الحق امرخېل صیب راغی ورپسې غلام محمد کاموال چې دواړوپه څلي کې یو (یو نیم زر) او بل (زر) ډالره مرسته کړې، یوازې یوازې راغلل. ما احمدزي صیب ته ویلي وو چې د متعرضینو په استازۍ دې صمد ځاځی، داود شاه نیازی او یو تن بل څوک راشي، هغه کسان چې د خپلو ټولنو استازولي وکړای شي له یوې شورا دې گڼ شمېر کسان نه راځي، خو کله چې احمدزی صیب راغی، هغه سره صمد ځاځی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نیازی صیب، ایوبي صیب او نهه لس تنه هغه نور ځوانان هم راغلل چې دا ځو ورځې یې پر همدې مسله موږ سره نا‌ندرۍ وهلې وې او غوښتل یې چې یوازې د دوی خبرې باید تائید شي. ما چې دا ډله وکتله، بېرته هغه زوړ داستان را په زړه شو. حاجي صیب عبدالباري منګل سره هم څو تنه وو، زړه کې مې وویل، له دې جرګې څخه حتمي د خفګان بوی راځي.**

**لومړی امرخېل صیب د قران کریم یو څو ایتونه تلاوت کړل، بیا احمدزي صیب خبرې پیل کړې، د څلي په باب یې یو ځل بیا تېر داستان په داسې**



الحاج محمد نذیر احمدزی


**شکل بیان کړ، لکه څوک چې د بل چا د شولو نهال ګزو ګام کړي، له ډېرو شیانو څخه په مجلس کې د ځینو اشخاصو د نزاکت په وجه سرسري تېر شو، نوې خبره په کې دا وه چې (زرمتي صیب) پنځه کاله مخکې د دې څلي امر اخیستی و، کار یې شروع کړی و، بېلابېلو خلکو په کې منډې ترړې کړې وې، هېڅا صرفه نه ده کړې، هر چا زیار ایستلای. د احمدزي صیب له خبرو داسې ښکارېده چې په دې ناستو کسانو کې هېڅا هم خپلې ژمنې نه دي ماتې کړې او هر چا منډه تره کړې. بیا یې وویل د سقاو د زوی تر مړي وروسته بیا د زون شورا فیصله وکړه چې څلی باید جوړ شي او د پښتنو اتفاق پرې راشي. بیا یې د څلي لپاره غونډې تشریح کړې، د هغو ټولو بیان یې وکړ چې ما یې مخکې پر څرنګوالي بحث کړی دی.**

**ما چې کله د احمدزي صیب مکملې خبرې واورېدې نو مجبور شوم وخت واخلم او موضوع یو څه په تفصیل سره تشریح کړم. دلته یې له ځینو تکراري برخو تېرېږم، خو ومې ویل چې د څلي اصلي وارثان یا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدعیان د ځلي د ډبرې تر ایښودو وروسته بیا تر شپږو او ځینې یې تر (۹) میاشتو وروسته راڅرګند شول. ما چې کوم کارونه کړي، د قرارداد په شمول یا تحمیلي وو، یا د ملي احساس له مخې او یا هم د وخت ضرورت له مخې او په دې کې له ټولو هغو کسانو سره چې پیدا کېدل یې شوني وو، مشوره شوې، یوازینی کار چې له ډېرو خلکو سره مشوره په کې نه ده شوې، هغه د ډبرلیک موضوع وه، دا مسله مااصولو ته پرېښوده، ځکه چې دې کې د مشورې له لارې توافق ممکن نه و، نه یوازې دا بلکې د ځلي رنګ، د ډبرو انتخاب او نور که دا ټول یو ځل مشورې ته اچول شوي وای او بیا مو د ذوقونو، فکرونو او سلیقو اختلافات هم په کې پام کې نیولي وای او



بیا مو ټولو مطرحو شوراګانو سره دا خبرې مطرح کړې وای، نو کلونه کلونه وخت ته اړتیا وه او بیا به هم توافق نه و ترلاسه شوی، د یوه اتفاق لپاره به نورې بې اتفاقۍ رامنځته شوې وای، نو ځکه ممکنه نه وه چې ټول کارونه دې د ازادې او هر اړخیزې مشورې له لارې ترسره شي. د ډبرلیک موضوع هم همداسې ده. دا دوه برخې لري، یوه تاریخي برخه ده چې هغه نه زه، نه د قوم سپین ږیري، نه شورا او نه بل څوک حق لري چې په هغې کې بدلون راولي. ډبرلیک پخوا یوازې (دري) متن درلود، داود جنبش پښتو ته هم ترجمه کړ، دویمه برخه یې د بیا جوړونې، مننې او کورودانې وه. دا مو د اصولو له مخې عیاره کړې، دې ډول ته ورته ودانۍ وګورئ، هلته چې له کومو اصولو څخه کار اخیستل شوی، دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم همغه اصول کارېدلي، که موږ غواړو چې ټولنه د اصولو خواته بوځو، نو باید چې اصول پر ځان عملي کړو. که مننه ونه کړو، سبا نورو دې ډول کارونو کې له موږ سره څوک مرسته نه کوي، سبا بیا هر څوک توره سره کوي چې دا څلی ما جوړ کړی، پرېږده چې مالي مرستندویان یې معلوم وي او د مرستې او مننې دا کلتور باید عام شي. دا طبیعي خبره ده چې مرستې کمو خلکو ورکړې، که د هغو نومونه ذکر شي او نور چې اکثریت دي، مالي مرسته یې نه ده کړې، هغوی دې سره عکس العمل ښیي او بله خبره دا ده چې دا ډول خلک د مالي مرستندویانو په توګه یاد شوي، نه د معنوي خدمتګارانو په توګه. تر کومه ځایه چې ما پورې یې اړه لرله، ما د خپل نوم له لیکنې څخه په دې خاطر ډډه وکړه چې تنګنظرانو ته پلمه په لاس ورنه شي او د نورو د نومونو د مخنیوي سبب نه شي. یانې موږ کې تنګنظري دومره عامه ده چې یو څوک یو چا سره مرسته کوي، هغه ترې مننه کوي او دریېم کس وایي چې ته څه حق لرې چې له هغه څخه مننه کوې؟ زه په دې کې موافق نه یم! د دې ډبرلیک پر ټولو خواوو مې هر اړخیزه رڼا واچوله او دا مې ورته وویل چې صمد ځاځی تللی، په تور موټر کې او ډبرلیک یې راښکته کړی او ځان سره یې وړی دی. دا د دې پیغام ورکوي، چې**



احمد ګل توتاخېل

**څلی مصون نه دی، سبا به یو بل څوک ورځي، د هغه به د برېښنا ګروپ خوښ نه وي، یوه ډبره به یې خوښه نه وي، هغه به هم د خپل ذوق مطابق هغه راباسي او ځان سره به یې وړي. ګڼ شمېر دلایل مې نور هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویل چې د لیکنې د زیات اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږم. پر دې هم رڼا واچوله چې په منله کې ولې لوی کندهار، لوی ننګرهار، شمال او مرکز په ترتیب سره راغلي او د لویې پکتیا ټول ولسونه مو ولې د کوربنو او منندویانو په توګه راوړي دي. دا خبره خپل حکمت او خپل منطق لري.**
**دا مهال ضیاء الحق امرخېل اجازه واخیسته، که څه هم ټول مجلس ورته وویل چې کېنه، خو هغه وویل، زه کار لرم، خو هیله مې ده چې په وړو وړو خبرو پسې ونه ګرځوو.**
**دې پسې احمد ګل توتاخېل خبرې وکړې، ویې ویل چې په مجلس کې باید توند الفاظ ونه کارول شي، زه د توتاخېلو د شورا په استازۍ وایم چې که چېرې نومونه راځي بیا چې د (انجنیر دلاور توتاخېل) نوم یې په سر کې رانه شي، نو بیا دې د هېچا هم نه راځي، نقشه هغه جوړه کړې او تر ټولو زیاته قرباني یې ورکړې، احمدګل توتاخېل یو ځل بیا د قرارداد مسله یاده کړه چې موږ خبر نه شو چې څنګه وشو، د هغه لکه چې زما داستان له یاده وتی و چې ما د دې جبري قرارداد تفصیل ورته څو ځله بیان کړی و. دې پسې صمد ځاځي نوبت واخیست، هغه تر نوبت مخکې هم څو ځله لنډې لنډې خبرې وکړې او غوښتل یې زما خبرو کې هم مداخله وکړي، خو ټولو ورته وویل چې خپل نوبت کې دې خبرې وکړه. صمد ځاځي وویل: زه د نومونو مخالف یم، زه د یون د خبرو مخالف یم، یون ټول عمر قومونه په جنګ اچولي دي، شیطاني یې کړې، اوس هم شیطاني کوي، دا اوسنۍ غونډه یې هم یوه شیطاني غونډه ده، د شیطانت لپاره یې رابللې ده، دی په قومونو کې نفاق اچوي، دی څه کاره دی چې راځي د ځلي په کار کې مداخله کوي، ځلی زموږ دی، دی هېڅ حق نه لري چې راشي او موږ کې نفاق واچوي، زه پوهېږم ځلی، د هېچا نومونه په کې نه پرېږدم، دلته خلکو شهیدان ورکړي، هغه به پر ځای پاتې وي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس به د یو څو تنو نومونه په کې راځې، زه درته وایم چې دې کې پیسې پټې شوې، ما ټول حساب نیولی، دا به زه نیسم، غلاوې دوی کوې، تورونه پر نورو پورې کوی، زه له اوله د دې قرارداد مخالف وم، دا دوی له ځانه کړی، دا شیطان دی، بې غیر له شیطانته یې بل کار نه شته، اوس زموږ د لویې پکتیا په قومونو کې تفرقه اچوې، څه وروره خپل کار دې کوه، ته څوک یې چې راځې او دې کار کې مداخله کوې؟ صمد ځاځې دا خبره هم یاده کړه هر څوک چې خپلې**



صمد ځاځی

**پیسې غواړې زه به یې بېرته خپلې پیسې ورکړم، خو څلې کې یې نومونه نه پرېږدم. دا مهال که هر څومره خلکو ورته وویل چې کېنه غلی شه، شخصي حریم ته مه داخلېږه، ډېر تېز مه ځه، حق نه لرې، په دې هوجره کې څوک توهین کړې، خو هغه داسې تېز روان و چې د هېچا خبره یې نه اورېدله، ډېرې نورې توندې خبرې یې هم حواله کړې چې د ځینو پر لیکلو یې انسان څه چې کاغذ هم شرمېږي، مجلس ډېر بې خونده او پیکه شو، ما ورته هېڅ ونه ویل، یوازې په قلم مې د ده د مبارکې خولې خبرې لیکلې. هغه ډېر احساساتي و، لاسونه یې خوځول، خپل حواس او خوله یې نه شوه کنټرولولای، څه یې چې په خوله راتلل، هغه یې ټول ویل، کله چې جرګې دی له توندو خبرو منع کاوه، ما ورته وویل، دی خپلو خبرو ته پرېږدئ چې اصلي جوهر یې معلوم شي، که تاسې د ده خبرې بندې کړئ، نو اصلي ماهیت یې پټ پاتې کېږي.**

**ده پسې میرزکوال صیب یو ځل بیا د تېرو ورځو په شان نوبت واخیست**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ویې ویل چې زه له یون څخه ډېره مننه کوم، ده ډېر زحمت گاللی، خو راځئ چې اوس دا جنجال حل کړو، د نومونو له لیکلو څخه به تېر شوچې اختلاف ترې پیدا کېږي، نه به یې لیکو، پر خپل وخت به غونډه ونیسو، پر همدې به اتفاق وکړو. د میرزکوال صیب خبرې تفصیلي وې، خو لنډ نچوړ، محتوا او ماهیت یې همدا وو.


غلام محمد کامه وال

غلام محمد کاموال صیب وویل: راځئ چې ټول د اتفاق او اتحاد خبرې وکړو، دښمن راکې خپلونه جوړ کړي او نور مو هم سره پاشي او دلته موږ په وړو خبرو نښتي یو. د کاموال صیب د خبرو محتوا داوه چې د صمد ځاځي له خبرو سره جوړ نه و، خو خبره یې په ادبي او مرموز ډول کوله.

دا وخت ډوډۍ تیاره شوه، کوربه غږ کړ، ډوډۍ ته راځئ، ما دا مهال پرېکړه کړې وه چې زه څم خو بیا مې وویل، د پښتانه له کوره د ډوډۍ پر مهال تلل د کنځلو په مانا دي، همدومره کنځلې بس دي چې ما وخوړلې، نو ولې یې زه په بله مانا بل چاته وکړم. گلاب منگل ډېر لگښت کړی و، د دې جرگې د ځینو غړو د الفاظو په تناسب د ډوډۍ قیمت ډېر لوړ و. ما یو دوه مړۍ تېرې کړې، خو لکه سنگتیا چې سړی تېروي، هېڅ فکر مې نه کاوه


عبدالستار میرزکوال

چې د جرگو او مرکو په کور کې د پښتنو د نرخ پر دسترخوان دې دا څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورم، ځان مې ډېر ټینګ کړ، تر یو سخت عاطفي فشار لاندې وم، د خوشال او پیر روښان کیسې رایادې شوې: زه یې چاله وهم، قدر یې چا زده، په اور وسوه دغه توري قلمونه. څو ځله مې د سترګو کونجونو ته اوښکې راورسېدې، ځان مې ټینګ کړ، خو د خبرو مجال نه و.


حاجي خان محمد باز منګل

تر ډوډۍ وروسته کله چې بېرته مجلس راټول شو، ما ټولو ته وویل، که له ما څخه څوک خفه شوي او یا هم د مجلس بې نزاکتي شوې وي، زه له ټولو څخه بښنه غواړم، نور زه ستاسو ټولو په اجازه رخصت اخلم، تاسو خپله فیصله وکړئ، که بیا هم موږ غوندې خلکو ته په کې څه ضرورت و، احوال راکړئ، زه جګ شوم، خو حاجي خان محمد باز منګل، حاجي عبدالباري منګل او څو تنو نورو ټینګ ونیولم، ویل یې هېڅ امکان نه لري چې لاړ شې. څو چې دا جرګه پایته نه وي رسېدلې، ته نه شې تللای، په ډېر زور یې کېنولم. دا مهال حاجي صیب خان محمد باز منګل وویل: اول خو زه دا خبره کوم چې دا د چا د توهین او تحقیر ځای نه دی، نن چې دلته د یون صیب کوم توهین او سپکاوی وشو، دا د ده توهین نه دی، دا د ټولو پکتیاوالو توهین دی، که چېرې دا افتخارات د ټولو وي، نو بیا خو ټولو ته حق ورکړئ او که بیا یوازې د پکتیاوالو وي، نو بیا مو څه کول چې له نورو قومونو او ولایتونو څخه مو دې څلي ته خلک راغوښتل او جرګې مو ورسره کولې، سمه ده یون صیب د لغمان دی، خو ده خو د ټولو پښتنو غم پر سر اخیستی، د دې پر ځای چې مننه ترې وشي، اضافي تحقیرېږي او توهنېږي. زه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



صمد ځاځي څخه جدي خفه شوم، باید رسماً له یون صیب څخه ښښنه وغواړي، ما ویل حاجي صیب ښښنې ته هېڅ اړتیا نه شته، څومره چې دا مسله شاربو لاپسې خرابېږي، تاسې مشکل حل کړئ، ښښنې څه کوئ، تر دې ما ته سختې کنځلې شوې دي، اوس څلی تکمیل کړئ! صمد ځاځي لا هم لاسونه خوځول او ګواښنه یې کوله او تا فکر کاوه چې دا ټول بهیر له پیله تر پایه د ده په مټ رارسېدلی، بیا یې هم وویل: زه داسې خلکو سره جرګې ته چېرته کېنم، دا خو تاسو راوستم، ده مخکې د ټلېفون خبره یاده کړه، دی خو څه جبرائیل امین نه و چې ما به یې ټلېفون ځوابوه. څومره چې دې د هغه یادونه کوله، هغه نور هم ګرمېده.

دا مهال عبدالرشید ایوبي صیب د خبرو نوبت واخیست، ویې ویل چې د څلي د تاریخ په باب خو معاون صیب (نذیر احمدزي) رڼا واچوله، یون صیب هم خبرې وکړې، زه یې تائیدوم. زه خپله له پیله تر پایه د څلي په کار کې شریک وم، ان د سکرتریت چارې مې هم پر مخ وړلې، تلاوت مې هم کاوه، زه په پیل کې په دې نظر وم چې نومونه



عبدالرشید ایوبي

دې ولیکل شي، چې خلک تشویق شي، خو اوس په دې نظر یم چې که ونه لیکل شي، ښه به وي، ایوبي صیب څو نورې خبرې هم وکړې، خو لنډیز یې همدا و، سره له دې چې ایوبي صیب ته مې ماسپښین مهال زنګ وهلی و، چې په ډېرلیک کې ستاسو نومونه راغلي دي، خو یو شمېر خلک یې مخالف دي، ما ستاسو د نومونو د حفاظت په خاطر خپل نوم ایستلی دی ، اوس باید تاسې د خپلو نومونو دفاع په خپله وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غواړئ اینده کې نور داسې کارونه ترسره کړئ، نو د خلکو د هڅونې لپاره دا کار ضروري دی، زموږ په یوه مننه هېڅ نه کمېږي، خو مقابل کې هڅوی هڅومره مرسته کړې ده. که د منفي بافاتو کلتور همداسې حاکم پاتې شي، نو ټول عمر به زموږ استعدادونه د دوی د تنګنظرۍ ښکار ګرځي. دا چې دوی ټول په ګډه او یو ځای له احمدزي سره غونډې ته راغلل، نو غالباً چې دوی په خپل منځ کې دې توافق ته رسېدلي وو چې که خپل منځ کې هر ډول اختلاف لرو، خو (یون) ته مو باید موقف یو وي. دا یو ګمان دی، خدای دې وکړې چې حقیقت ونه لري. دا ګمان مې ځکه یاد کړ چې دا همغه ډله خلک وو چې د څلي کار یې پیل کړ، نور یې بیا ځانونه پټ کړل، کله چې ټول کارونه ماته پاتې شول او بیا کارونه بشپړتیا ته ورسېدل، نو دا ډله یو ځل بیا له سره رامنظمه شوه، دوی فکر کاوه که دا کار همداسې په چټکۍ پر مخ لاړ او زموږ له مداخلې پرته ترسره شي، نو اینده تاریخ کې خو موږ ته هېڅ نه پاتې کېږي، د دوی په



حاجي داود شاه نیازی

فکر دا ټول کرېډېټ یون ته ځي، نو ځکه خو له بیا راپیدا کېدو سره سم یې له توطیو پرته بل هېڅ کار نه و. جرګې وې، مرکې وې او لانجې وې، همدا مهال چې لانجې هم روانې وې، یوه هم یوه ورځ د څلي د جوړښت په باب څه نه ویل چې کوم کار یې کوم ځای ته ورسېده، جنجال یې یوازې دې باندې و چې څه وخت یې افتتاح کړو او څنګه یې افتتاح کړو.

دې پسې داود شاه نیازي (د جنوب ختیځ زون د شورا رییس) نوبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واخیست، هغه په پیل ک ې وویل، صمد حاځي توهین وکړ، دی باید یو پسه د ناغې په توگه جرگې ته راولي، یون صیب د ټولو پښتنو مشر دی، زموږ افتخار دی، پاتې شوه د نومونو لیکنه، موږ یې له اولې ورځې څخه هم مخالف وو او اوس یې هم مخالف یو، پر دې مو توافق نه دی کړی، نو ځکه موږ ډېرې راوړې، نیازي صیب دا واضح نه کړه چې د چا او چا تر منځ توافق نه دی شوی، هغوی چې پیسې ورکوي او هغوی چې نه یې ورکوي. توافق خو له یوې مقابلې خوا سره کېږي، هغوی چې پیسې یې نه دي ورکړې، که هغوی خپل منځ کې توافق وکړي، که ونه کړي، څه مانا لري؟ تاسو خو له هغه چا سره توافق نه دی کړی چې پیسې یې ورکړي او دغه اشخاص چې له نوملیکنې سره مخالفت کوي، یو هم پیسې نه دي ورکړي.**

**ورپسې جنرال ایوب منگل خبرې وکړې، ویې ویل چې یون صیب هغو خلکو (شمالټلوالې) سره خپل خط معلوم کړی، موږ باید دی کمزوری نه کړو، یوازې یې پرې نه ږدو، دا خو نو چې موږ ده سره داسې چلند کوو، نو دا به اخر څنگه شي؟**



د ولسي جرگې غړی کمال ناصر اصولي

**اصولي صیب وویل: څوک به نه خفه کېږي، ځاځي ورونه او مشران که دلته څوک ناست وي، هغه دې نه خفه کېږي، زه واقعیتونه وایم، له (۱۳۹۰ل) کال راهیسې موږ دې مسلې پسې گرځو، تر وزیره لاړو، څه مو وکړل؟ څه مو ترلاسه کړل؟ نو همدغه سړی (یون) و چې دا کار یې درته منظم کړ او تردې ځایه یې راورسوه، اوس د دې مستحق دی چې توهین شي؟ صمد حاجي باید ناغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي، ده ټوله جرگه توهین کړې، زه څو ځله صمد حاجي پسې ورغلم چې دې څلي ته پیسې ورکړه، ده وویل پنځه زره ډالر ورسره دي او یو نیم لک افغانۍ نورې هم لرم، خو چې دا ټېکه دار وي، زه دا پیسې نه ورکوم، بیا مې گل پاچا مجیدي ته وویل، هغه هم وویل چې دا ټېکه دار وي، موږ پیسې نه ورکوو، دا چې صمد ځاځی له هغه سره په څه شي وران و، هغه هم ځاځی دی، دی هم دی، هغه نو موږ نه پوهېږو، دې وخت کې یو دم صمد ځاځي وویل، ته هم داسې دروغ وایې او یون هم داسې دروغ، هغه ته مې چې څه وویل، تاته یې هم وایم، دې وخت کې هلته مخامخ د ځاځیو یو سپین ږیری ناست و، له قهره همداسې شنېده، اصولي صیب ته یې وویل: ((ته هم غلې کې ورسره شریک یې)) هغه ورته وویل: ((چا سره؟)) سپین ږیري ورته وویل: (( ټېکه دار او ین (یون) سره (زه یې وروښودلم)، تاسې درېواړه په غلې کې شریک یئ)) ما چې دا حال وکوت، د هغه متل له عملي بڼې سره مخامخ شم، چې پښتنو کې عام دی. ما د غلا د مخنیوي په خاطر دا دومره سختې تېرې کړې، اخر یې پر ما هم په عام مجلس کې کې داسې تور پورې کړ، نو که یو سړی په داسې یو حالت کې واقع شي، د هغه رواني حالت به څنگه وي؟ پر خپلو پښتنو او هغه هم د هغو خلکو پر حال مې ډېر افسوس راغی چې جرگه او مرکه کې کښني، د لویې پکتیا پر عظمت مې هم زړه وسوځېده، خدای دې وکړي چې نورې جرگې داسې ترخې نه وي. دا مهال اصولي صیب وویل: هر چا چې ډېره له څلي کښته کړې وي، دا دې معلوم شي، دا د څلي حریم ته سپکاوی دی. صمد ځاځي وویل، ما کښته کړې، نیازي وویل، ما کښته کړې، څه کولای شې، اصولي صیب وویل، سبا باید بېرته په خپل ځای کې وي، صمد ځاځي ورته وویل، هېڅوک یې نه شي پورته کولای، ځئ لاس مو خلاص، اصولي صیب وویل، زه سبا درځم، ته راشه چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه کوم، داود شاه نیازی هم وربرګ شو، خلک تر منځه شول، خبره له لاس اچولو راوګرځېده، دې منځ کې ځینو کسانو د ځلي د لومړني ډېرلیک پر متن هم اعتراض درلود، ویل یې دا توند دی، دا باید بدل شي، زموږ کورونه چې شاه شهید کې چور شول، همدا وجه وه چې دې خلکو (شمالټلوالې) سره موږ پخوا مقابله کړې وه، ځینو ویل، لږ ښې خوږې خبرې په کې ځای کړئ، دا خو نو سقاو دی که څه بلا دی، هغه یې یاد کړی. دا ډول خلک چې د ځلي له پخواني ډېرلیکه اصلاً هېڅ خبر نه وو، داسې فکر یې کاوه چې دا هم ما (یون) جوړ کړی، دا یې هم ویل چې ولې یې نادر خان ته (نابغه) ویلی، دې باندې بیا د کندهار خلک خفه کېږي، داسې دلایل یې ویل چې تا به ویل په عمر کې د دې ځلي پر تېر تاریخ نه دی ورتېر شوی، ځینو ویل یوازې ولیکئ، نجات ځلی، دې تاریخ ماریخ څخه یې ښخي تېر شئ!

بیا ګلاب منګل خبرې وکړې، هغه وویل: زه خو په لومړي ګام کې د خپل ځان له طرفه له یون صیب څخه معذرت غواړم، صمد ځاځی زما خپلوان او د کلونو انډیوال دی، خو دا کار چې دلته وشو، دا مناسب نه و، اوس خو خپل منځ کې یو، یون صیب او کاموال صیب د پکتیا نه دي، نور ټول پکتیاوال یو، رښتیا به سره وایو، څو کاله موږ دې کار پسې ګرځېدلو، کومې نتیجې ته ورسېدلو؟ جرګې مو څومره ډېرې وکړې، د احمدزي صیب په کور کې پنځه شپږ جرګې وشوې، نتیجه


محمد ګلاب منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې څه شوه؟ ایوبي صیب وایي، ما سکرتریت وکړ او تلاوت، وروسته بیا څه وشول؟ هېڅ، یو جرګې دي، یو کار دی، جرګې خبرې دي او کار عمل دی، زه درته رښتیا وایم، که یون صیب نه وای، په پنځه کلونو کې مو هم دا ځلی نه شو جوړولای، تاسو ټول پکتیاوال یاست، زه هم د پکتیا یم، تاسې رښتیا ووایئ چې تاسې کوم یو ما پسې راغلي یاست چې دې ځلي کې کمک وکړه، یو راغلي یاست؟ نه، خو دی څو څو واره ما پسې راغلی دی، داسې هر چا پسې، د خلکو زنه یې نیولې، زارۍ یې ورته کړي، پیسې یې ترې اخیستي، هغه هم په داسې حالت کې چې پیسې هم په ډېرې سختۍ پیدا کېږي، مه کوئ په لحاظ د خدای، کله چې ټېکه دار دا ځلی رنګوه، تاسې کې څوک وو چې ورته ویلي یې وای راشه پیسې زه درکوم، قرارداد راسره وکړه، کله چې دی ما پسې راغی او ما ورته یو څه امکانات برابر کړل او تر هغه وروسته بیا ده ورسره قرارداد وکړ، نو دې کې د ده څه ګناه ده؟ افسوس چې موږ ستراتیژیک فکر نه لرو، نور خلک بیا ستراتیژیک فکر کوي، خو موږ کې چې یو څوک پیدا شي چې ډېر لرې فکر کوي، هغه ته بیا دغسې ستونزې جوړوو. که د اصولو، دود، عرف او قواعدو خبره شي، نو د مالي مرستندویانو نومونه هر چېرته لیکل کېږي، سړک، کتاب، دا کوم عیب نه دی، سبا ته به خلک وایي چې زموږ پیسې یې څه کړې، دی خو به ورته یو ځواب ووایي، نور خلک چې بیا د دروغو وعدې کوي، هغه به څنګه سپینوي؟ د ټولو اصولو مطابق دا د مرستندویانو حق دی، خو څرنګه چې اوس دې ځلي کې ما خپله هم پیسې ورکړې دي، نو د خپل نامه په خاطر زه وایم چې نومونه دې نه په کې لیکل کېږي. ګلاب منګل نورې خبرې هم وکړې. حاجي خان محمد باز منګل وویل چې زه هم یون صیب کمک ته هڅولی یم. که د ده هڅونه نه وای، زه هغې غونډې ته نه ورتلم، دې وخت کې ما په زوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت واخیست، ما وویل: له ټولو څخه مننه، که څوک خفه شوي وي، له هغو ټولو څخه بښنه. د دې څلي موضوع خو حل شوه، ما ویل د دې په خاطر چې ځینې خلک د ډېر کار مدعیان دي او هر کار ځان پورې تړي او ځان د هر کار جوگه گڼي، نو ښه به وي چې په (ببرک چمن) سیمه کې د ببرک خان ځدراڼ په نامه د څلور لارې د جوړېدلو چارې همدې ډلې، شخص یا اشخاصو ته وسپارو، هغه دې جوړه کړي، هېڅا سره دې مشوره نه کوي، بیا یې پرې خپل نوم لیکه که نه یې لیکه، د مرستندویانو نوم یې لیکه که یې نه لیکه، خو شپږو میاشتو کې دې ورته کار خلاص کړي، پر نجات څلي نور بحث په کار نه دی، خپله مرستندویان ناست دي او معترضین هم، هر څه چې دوی فیصله کړه، همغه شان دې شي. دا مهال یو ځل بیا گړ بړ شروع شو، مانا د کار ننگونه دې ولې وړاندې کړه دا خبره مه یادوه، مانا هغه کې به هم دغسې یو څوک پیدا شي کار به خلاص کړي او بیا به په پای کې پرې موږ غورځنگ وکړو او ځان به اصلي وارثان وگڼو او هغوی به حاشیې ته کړو.

د رحمت الله کټوازي په نامه یو څوک چې تر دې دمه یې له نظر پرته په څلي کې چا کوم عملي کار لیدلی نه و، یو ځل بیا وویل، یون صیب! ته اوس نور کارونه پرېږده چې هغه څوک کوي که نه؟ اوس دا مسله خلاصه کړه، ما وویل، دا خو خلاصه شوه، اوس هغه بل کار ته شئ چې عملي کار درته معلوم شي.

بیا څو مشرانو صمد ځاځی په زوره راجگ کړ چې ما سره یې پخلا کړي، ما وویل ضرورت نه شته، زه درڅخه ځم، تاسې خپل مجلس ته دوام ورکړئ، صمد ځاځی یې چې زما څنگ ته راوست، ما ته یې وویل، گوره چې زه سپین ږیرو په زوره راجگ کړم، که نه زه چېرته تاته د ښښنې لپاره راتلم، زما خبرې گوره همغه دي چې زړه کې دې څه ونه گرځي. ما وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ښنه خو باید زه تانه وغواړم، چې ډېرې عالمانه او مودبانه! خبرې دې وکړې، د دې په مقابل کې ځوک څه ځواب لرلای شي. سره له دې چې رواني حالت مې ښه نه و، خو یو ځل بیا مې ټولو ته وویل چې تاسو ټولو نه ښنه، صمد حاجي نه هم ښنه، څرنګه چې اواز مې لږ توپیر پیدا کړ، نو ژر مې خپل لاسي بیګ راواخیست، له غونډې بهر شوم، که دوی هر څومره ټینګ شول، خو ځان مې ترې خلاص کړ، ګلاب منګل او جنرال ایوب منګل راسره باندې راووتل، خدای پاماني مو واخیسته، د ګلاب منګل ډرېور کور ته راورسولم، په موټر کې مې چورت واهه، زړه کې مې وویل، دېرش کاله مې د ستمیانو او نورو هېواد دښمنه عناصرو پر وړاندې فرهنګي او سیاسي مبارزه وکړه، دومره یې نه یم ځورولی، لکه په دې څو میاشتو کې چې خپلو پښتنو هغه هم هغو ته د صادقانه کار له امله وکړولم. د شپې یوولس نیمې بجې وې کور ته راورسېدلم، اودس مې وکړ، بیا لمونځ او تر هغه وروسته مې د نن شپې دا ترخې تجربې او ترخې خاطرې د نجات منار په څېر د یوه یادګار په توګه ثبت کړې، چې خپل راتلونکي نسل ته یې انتقال کړم او کله که هم راتلونکی پښت له پښتنو روڼ اندو څخه د کمکارۍ ګیله کوله، نو دا خاطره دې د خپلې زمانې د یوه ټولیز انځور په توګه د خپل قضاوت په تله کې په عادلانه ډول محاسبه کړي، اوس درې نیمې بجې دي، لږ وروسته لمونځ، بیا خوب، که راغی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوندون کې د ښځې او پخلاینې جرگه

**کله چې د یکشنبې ماسختن ناوخته د گلاب منگل له کوره لومړی زه او بیا**



په ژوندون ټلوېزیون کې د ښځې او پخلاینې جرگې یو انځور

**نور ناخوښه گډونوال راووتل، نو څرنگه چې د جنوب ختیځ زون شورا او همدارنگه د ځاځیو د ځوانانو یوې ټولنې د چهارشنبې پر ورځ پر افتتاحیې غونډې ټینگار کاوه، نو د دوشنبې پر ورځ یې د شش درک په هغه دفتر کې چې کله د جنوب ختیځ زون د دفتر، کله هم د مدني تولنو د همغږۍ د مرکز، کله هم د غورځنگ د دفتر او کله هم د کلتوري ټولنو د گډې جرگه گۍ په نامه یادېږي، غونډه وکړه. د دې دفتر مالي لگښت د جمهور رییس د یوه مشاور له خوا ورکول کېږي او اکثره ورته همغه ټولنې او اشخاص ورځي چې د همدغه ښاغلي متابعیت ته تیار دي، کله کله ورته په ناخبرۍ کې یو نیم ازاد شخصیت هم ورشي. د جمهور رییس دا مشاور یوې نیمې قومي شورا ته د غونډې او په هوټل کې د غرمې د ډوډۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګښت هم ورکوي او یا هم له خپل دولتي موقف څخه په ګټې اخیستنې درېیم شخص ته وایي چې لګښت پرې کړي، خو ټول عام خلک چې دې دفتر ته ورځي، هغه د دې دفتر پر اړوندتیا خبر نه دي، یو احتمال دا هم دی چې د څهار شنبې ورځې د غونډې مالي لګښت هم د دې لړۍ یوه کړۍ وي. دې ښاغلي د نجات څلي د ډېرې تر اېښودلو وروسته ویلي وو، دا کار به هم اخر ماته پاتې کېږي، ځکه دوی کې خو زه داسې سړی نه وینم چې دومره غټ مالي بار دې اوچت کړي او یا دې له چا څخه مرسته راټوله کړای شي. خیر په هر ډول د شش درک په همدې دفتر کې د جنوب ختیځ زون شورا غونډه وه، هلته کېدی شي یو شمېر نور اشخاص یې هم رابللي وي، دا شورا وایي، کوچیان هم موږ سره په دې شورا کې شامل دي. سره له دې چې د ټولنې په اساسي کارونو کې د اوسنیو شوراګانو رول اکثره هېوادوالو ته معلوم دی، چې ځینې وخت تشریفاتي بڼه لري، خو بیا هم ځینې شوراګانې ادعا کوي چې ولس دوی سره دی، په یوه ولایت کې د نږدې ورته نومونو تر چتر لاندې څو شوراګانې فعالیت کوي، هر یوه یې د ولس د استازولۍ دعوه کوي، ځینې یې تر ولایتي شوراګانو، ولسي جرګې او نورو هغو جرګو څخه چې په رسمي ډول د ولس استازولي کوي، هم لوړه ادعا لري. خیر په هر ترتیب، د جنوب ختیځ زون شورا وایي چې د اوو ولایتونو او جمع کوچیانو بڼه استازولي کوي او تر نورو شوراګانو یې په نظر او عمل کې وزن زیات دی. دا او دېته ورته شوراګانې تر ډېره حده حکومت پلوی رنګ لري، پر مستقیم او نامستقیم ډول د جمهور رییس د ویناوو تائید کوي، که د جمهور رییس غني ځینې کارونه د انتقاد وړ هم وي، نو دوی ورسره بیا په دې حالت کې ځان نه مخامخوي او غلي پاتې کېږي، دې شورا (جنوب ختیځ زون شورا) کې یو شمېر داسې اشخاص او افراد هم شته چې زموږ د فکر تائید

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، البته علني میدان ته نه راوځي، خو زړه کې پر موږ خفه کېږي، کله چې دې شورا پرېکړه وکړه چې که نور څوک راځي که نه، موږ په هر ترتیب چې وي، ان که د زور استعمال هم وي، د چهارشنبې پر ورځ دا څلی افتتاح کوو. دا په داسې حال کې ده چې د څلي ډېرلیک د اسد پر (۲۷)مه له څلي وړل شوی و،څلي لا ډېرلیک نه درلود خو پر افتتاح یې ټینګار کېده. دا ډېر لیک که څه هم صمد ځاځي وړی و، خو وروسته یې په ملګرتیا کې د دې شورا مشرتابه هم ځان سره شریک کړی و، نو ځکه خو داود شاه نیازي د ګلاب منګل په کور کې وویل چې دا کار یې زما او زموږ د شورا په خوښه کړی، خو هلته څرګنده نه شوه چې د اوو ولایتونو شوراګانو یا استازو سره څنګه د جمعې د لمانځه پر مهال مشوره وکړه؛ هغوی هم ژر موافقه وکړه او بیا ډېرلیک هم د داسې یو چا له خوا ځان سره یوړل شو چې دې شورا سره اړیکي نه لري. د جنوبي قومونو د یووالي شورا چې مشر ي یې قومي مشر (نېک محمد ولسمل) کوي وایي چې د جنوبي ولایتونو اکثره شوراګانې دوی سره دي او د ځوانانو یو شمېر ټولنې هم، دوی وایي شورا یې حکومتي رنګ نه لري او تر هر چا زیات په ښه ډول د ولس استازیتوب کوي، دوی چې د یکشنبې پر ماسخوتن له ما سره د صمد ځاځي له چلنده خبر شول، خواشیني یې څرګنده کړه، ویې ویل چې صمد ځاځي د ټولې پکتیا توهین کړی، دا نه د پکتیاوالو دود دی، نه د پښتونولۍ، نه د انسانیت. هغه په ځاځیو کې د یوې محدودې ډلې د مشرۍ دعوه لري، دی څه حق لري چې پر ټولو خلکو خپل نظر تحمیل کړي. دوی د دوشنبې پر ورځ خپل منځي غونډه لرله او هلته یې پرېکړه کړې وه چې دوی د سه شنبې پر ورځ سهار (۹-۱۰) بجې څلی افتتاح کوي، د دوی په وینا چې تر (۲۰۰۰) تنو پورې یې دې غونډې ته رابللای شول. ما ته یې زنګ وواهه چې موږ خو دغسې پرېکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، تاسو موږ سره ګډون وکړئ. ما وویل، دا مسله اوس د شوراګانو تر منځ اختلافي شوه، زه نه غواړم په دې مسله کې دخیل شم، تاسو خپله پرېکړه وکړئ، که زما منئ، لومړی هغې بلې شورا سره کېنئ، تفاهم ته سره ورسېږئ، که نه کېدل، خپله پرېکړه خپله وکړئ، زه نه ستاسو په غونډه کې ګډون کوم او نه د هغوی، که ستاسو غونډه کې ګډون وکړم، هغه نور به وايي چې دا ده زموږ پر ضد رالمسولي دي، زما هدف د څلي جوړول وو، افتتاح د څلي د جوړونې کومه اساسي برخه نه ده، هر څوک يې چې افتتاح کوي، پروا نه کوي، پر دې هم پوهېږم چې ځینې ډلې او اشخاص چې نور کار نه شي کولای، په دغسې ورځو کې راوځي، یادګاري عکسونه اخلي او خلکو ته ځان ښيي چې دغسې کارونه مو ترسره کړي دي، خو که ټول کارونه په اتفاقي ډول ترسره شي، ښه به شي.

د جنوبي قومونو د یووالي شورا د دوشنبې مازیګر امنيې قومندانۍ ته د غونډې د امنيت د خونديتابه لپاره لیکلی خبر ورکړ، هغوی ورته وویل، هغه بلې شورا هم مکتوب رالېږلی دی، موږ نه شو کولای، دلته دوه ورځې سر په سر د امنیت لپاره راشو، تاسو خپل منځ کې جرګه شئ، یوه ورځ وټاکئ موږ د یوې شورا غوښتنه هم نه شو منلای، تر څو چې تاسو سره جوړ نه شئ، دا خبرې د زون قومندان (سالم احساس) د دې شورا استازي، (عادل صیب) ته کړې وې. کله چې د جنوبي قومونو د یووالي شورا او د ځاځیو یو شمېر ځوانان خبر شول، نو بیا دې شورا سره جرګه شول، تر ډېرو جنجالونو، بحثونو وروسته څو پرېکړو ته ورسېدل. لومړی دا چې څلی د ټولو دی، نو ټول هغه اشخاص چې د دې څلي په جوړونه کې يې نقش لرلی، په تېر بیا د دوی په اصطلاح (یون صیب) چې اساسي کار يې کړی، هغه زموږ له خوا توهین شوی، باید عزت يې پر ځای شي، ښنه ترې وغوښتل شي او په هر ترتیب چې وي، په غونډه کې ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، د هغه له ګډون پرته افتتاح نیمګړې ده، ځکه ټول پوهېږي چې دا ځلي اساساً چا جوړ کړی، دویمه خبره داده چې د افتتاح ورځ دې نه سه شنبه وي، نه چهارشنبه، یوه بله ورځ دې وي، د سیاسي ګوندونو او ډلو ټپلو اشخاص دې د افتتاح پر ورځ بیانیې نه ورکوي چې له ځلي څخه سیاسي ګټه پورته نه کړي او یو شمېر نورې پرېکړې. د دوشنبې پر ورځ چې د جنوب ختیځ زون شورا کومه غونډه درلودله، په هغې کې هم یو شمېر مشرانو د یکشنبې ورځې د ماسختن د غونډې پر جریان خواشیني څرګنده کړې وه، دا یې نه یوازې زما (یون) توهین ګڼلی و، بلکې دا یې د ټولې پکتیا عرف او رواج ته هم یو سپکاوی ګڼلی و، د سه شنبې سهار بیا دې شوراګانو خپلمنځې غونډې لرلې، یو ځل بیا په کې پورته موضوعاګانې یادې شوې وې، د جنوب ختیځ زون شورا پرېکړه کړې وه چې د اوو ولایتونو او جمع کوچیانو په استازۍ دې یون صیب ته یو شمېر مشران ورشي، ښنه دې ترې وغواړي او په هر ډول چې وي مجبور دې کړي چې په پرانیستغونډه کې ګډون وکړي، لس بجې ماته د جنوبي قومونو د یووالي شورا رییس (نېک محمد ولسمل) زنګ وواهه چې زموږ د شورا له خوا هم لس پنځه لس تنه او همدارنګه د جنوب ختیځ زون له شورا څخه هم لس پنځه لس تنه راځو، ښنه هم غواړو او د غونډې په باب وروستۍ پرېکړه هم تاته پرېږدو.

ما ورته وویل، تاسې هم مه راځئ او هغو ته هم ووایه چې رانه شي، ښه به وي. ځلی بشپړ دی او زه نه غواړم د ځلي په کار کې تر دې زیات دخیل شم او یو شمېر هغو تنګنظرو ته د بې اتفاقۍ لپاره پلمه برابره کړم، چې نه خپله کار کولای شي او نه نور څوک کار ته پرېږدي، تاسې خپل منځ کې کېنئ، سره جوړ شئ، څومره چې مو غونډه ښه وي، موږ پرې خوشالېږو. ده وویل، موږ دوه بجې درځو، تاسو باید حتمي په خپل دفتر کې اوسئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وویل، زه یو څه نور پروګرامونه لرم، هلته روان یم، بله خبره داده چې سپین ږیرو خو نه د چا توهین کړی، نه یې چاته بده خبره کړې، سپین ږیري ولې باید د بل چا د توهین کفاره ورکړي، نو راتګ ته اړتیا نه شته، کله چې څلی افتتاح شو، بیا زه خپله درځم، دا مهال حاجي صیب خان محمد باز منګل هم زنګ وواهه، هغه هم وویل، دغسې سپین ږیري درځي، څه ورسره کوې؟ ما وویل، که ورته ووایې چې رانه شي، ښه به وي، زه چېرته روان یم، حاجي صیب باز وویل، ما ورته وویل چې اصلي مدعي درسره نه وي ستاسو د سپین ږیرو تګ څه مانا؟ دوی وویل چې موږ د هغه په استازۍ نه ورځو او نه هغه داسې کوم شخصیت دی چې د ټولې پکتیا استازي وکړای شي، هغه په ځانځیو او په خپل کلي کې څوک نه مني، موږ د لویې پکتیا د مشرانو په توګه په دې خاطر ورځو چې یون صیب ته زموږ د پکتیا په کور کې توهین شوی دی. ما وویل حاجي صیب، سپین ږیري د احترام وړ خلک دي او دا خبرې په دې نه ارزي چې دومره مشران دې په تکلیف شي، تردې سختې کنځلې هم موږ ته شوي، خو موږ زغملې دي، دا یوه یې بله هم پرې له پاسه، نو ځکه خو باید مشران په تکلیف نه شي، هغه وویل، زه ورته وایم.

د ماسپښین یوه بجه وه، په دفتر کې مې خپل کاغذونه راټولول، زړه مې و چې لومړی کور او بیا له هغه ځایه احمد شاه بابا مېنې ته لاړ شم، همدې شېبه کې د توتاخېلو د قوم یو مشر (احمد ګل توتاخېل) دفتر ته راننووت، یون صیب موږ راغلو، مشران راسره دي، ما وویل، مشران ولې راغلل؟ ده وویل، راتګ یې ضروري وو، ته خفه شوی یې، دوی ټول ستا عذر ته راغلل، ما وویل، دا خو والله چې ښه کار ونه شو، دا خبره دومره غټه وه چې اوس دې دومره مشران په تکلیف شي؟ ما ویل اوس چې راغلئ، نو دلته زما دفتر کې به کېنو، هغه وویل، ډېر یو، دلته نه ځایېږو، بېرون پاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا کې څوکۍ هم شته، هلته چمن کې به کېنو، ده وویل، نور مشران هم راروان دي، دوی تر څو لمونځ کوي، هغه نور هم رارسېږي، ما ویل ځه تر هغه به زه هم اودس او لمونځ وکړم، درکښته کېږم. هلکانو ته مې وویل فرشونه ورکښته کړئ، چمن کې یې اوار کړئ، جرګه پر ځمکه ښه ښکاري، پر څوکیو جرګه خوند نه کوي. د جنوبي قومونو د یووالي شورا غړي هم راورسېدل. ټول شل پنځه ویشت کسان شول، د پکتیا، لوګر، غزني، خوست، پکتیا او کوچیانو استازي په کې شامل وو. حاجي صیب عبدالباري منګل یې مشري کوله، (حاجي پړې) چې پخوا په ولسي جرګه کې د کوچیانو وکیل و، هم ورسره و، جنرال ایوب منګل، نېک محمد ولسمل، غازي، احمد ګل توتاخېل، یو څو تنه ځوانان، شپون، خپلواک ځاځی او نور هم ورسره وو چې دلته یې اوس د ټولو نومونه زما په حافظه کې نه شته. غونډه په دعایې سره پیل شوه، لومړی ما ورته ښه راغلاست ووایه د تکلیف له امله مې ترې ښنه وغوښته، بیا حاجي صیب عبدالباري منګل خبرې پیل کړې، ویې ویل: ((یون صیب! ته زموږ مشر یې، موږ د اوو ولایتونو مشرانو د نورو په استازۍ تاته راغلي یو، موږ تا څخه ښنه غواړو، مننه درڅخه کوو چې تا موږ سره د څلي په کار کې مننه‌ې ووهلې، موږ تا د مشرقي نه ګڼو، تا د ټولو پښتنو مشر ګڼو، نو اوس که له کوم شخص څخه ګناه او خطا شوې وي، دا د ټول قوم او ټولې پکتیا خبره نه ده، موږ خفه په دې یو چې دا کار د پکتیا په کور کې وشو، موږ د هغه شخص په نمایندګۍ نه یو راغلي، موږ د لویې پکتیا د ولسونو په استازۍ راغلي یو، موږ له تا څخه ښنه غواړو او عذر درته کوو چې هم به خپله مرورتیا بېرته اخلې او هم به موږ سره په غونډه کې ګډون کوې، که ته ګډون ونه کړې، دا افتتاح څه مانا؟ ټول په دې پوهېږو چې دې څلي کې چا ډېرې مننه‌ې وهلي او چا تر دې ځایه راورسوه، که ته ګډون ونه کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زموږ غونډه به ډېره پیکه شي او مخالفین به ډېر خوشاله شي، وایي به چې په یوه څلي سره نه جوړېدل، نو په نورو غټو خبرو به څنګه سره جوړ شي؟ حاجي صیب عبدالباري منګل دومره تواضع وکړه چې ماته خپل ځان ډېر بد ښکاره شو، هغه وویل، یون صیب! تر هغه موږ له دې ځایه نه ځو چې موږ ته مثبت ځواب رانه کړې او په خوشالۍ مو له دې ځایه رخصت نه کړې. حاجي عبدالباري منګل اوږدې خبرې وکړې، خو لنډیز یې همدا و چې ما وړاندې بیان کړ. ورپسې جنرال ایوب منګل وویل: هر کله چې عقل پر احساساتو غالب نه وي، داسې مشکلات پیدا کېږي، څه تېرې چې دي د پښتنو پر سر ماتېږي، زموږ په نیت او اخلاص کې ډېر توپیر دی، له یون صیب څخه زموږ هیله او ارزو داده چې تر دې ځایه دې خبره رارسولې، باید په وروستۍ غونډه کې هم برخه واخلې، مشران همېشه رټل شوي او کنځل شوي او دا لړۍ به لا دوام پیدا کوي، موږ کوم پښتون مشر بې کنځلو او بې رټلو پرې ایښی، چې تا به پرېږدو، نو ته هم باید ورته اوسېله پورته کړې، تر دې وروسته به نورې کنځلې هم درته وشي، سترې به دې کړي، مایوسه به دې کړي، اوس خو دې له پښتنو سره د کار تجربه نوره هم څو ځله زیاته شوه، موږ په وړو وړو خبرو نه جوړېږو، نو تا خو لویو کارونو ته لاس اچولی، ما ټولو پښتنو ته ویلي چې که تاسو د یون ملاتړ نه کوئ، نو د تخریب حق خو هم نه لرئ، خو چاته یې وایې، زموږ هیله د پښتنو یووالی دی، اوس دلته مشکل پیدا شوی او دا مشکل تاسو حلولای او دا اتفاق تاسو تضمینولای شئ، نو که تاسو غونډې ته راشئ، ټول مشکلات به حل شي، د هغو خلکو مخه به هم ونیول شي چې نه غواړي دا څلی په ښه ډول سرته ورسېږي.

په ولسي جرګه کې د کوچیانو پخواني وکیل (حاجي پړې) وویل: زموږ هیله او ارزو داده چې ته په دې مسله کې برخه واخلې، د ټولو پښتنو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتفاق به دا کار کوو، سوړې باید زیاتې نه کړو، سوړې باید بندې کړو، که ته ګډون وکړې، په دې اتفاق راځي، مسله هر چاته معلومه ده چې دلته اساسي کار چا کړی، په همدې خاطر موږ عذر ته راغلي یو او موږ باید له دې ځایه نهیلي او تش لاس لاړ نه شو، هغې شورا حاجي صیب عبدالباري ته ټول واک ورکړی چې هر څه یون صیب وایي، موږ یې منو، نو ته باید زموږ عذر ومنې! زه نه غواړم خبرې اوږدې کړم، پر همدې به دعا وکړو.

ورپسې نېک محمد ولسمل وویل: د جنوبي قومونو د یووالي شورا پرېکړه کړې وه چې نن یې افتتاح کوو، د چهار شنبې ورځ دوی غوښتله، څو تنه منځګړي راغلل، موږ ورته درې وړاندیزونه لرل، مرور باید پخلا شي، یوه بله ورځ (نه سه شنبه، نه چهارشنبه) باید غوره شي او مشترکه کمېټه باید وټاکل شي. اوس د دې پرېکړې په اول پړاو کې یو، دوه نورې هم باید عملي شي، دا د یوې شورا کار نه دی، تر څو چې ټول پرې متفق نه شي، یوه شورا باید په خپل سر دا کار ونه کړي او که دوی بیا هم پر خپله خبره ټینګار کوي، موږ مجبور یو د چهارشنبې سهار یې افتتاح کړو. موږ خو وایو چې تر څو یون صیب قانع نه شي، موږ چاته اجازه نه ورکوو، ده چې هره فیصله وکړه، همغه به منل کېږي.

احمد ګل توتاخېل وویل: د یوه سړي خبرې د ټول ولس خبرې نه دي، پر هغې به نه سره خوابدي کېږو. په هغه مجلس کې زه خپله وم، ربښتیا هم سپکاوی وشو، دا سپکاوی ټولو پکتیاوالو ته سپکاوی و، زموږ خپل سپکاوی و، موږ اوس د قومونو د مشرانو په توګه بښنه غواړو، موږ خبر شو چې د جنوبي قومونو د یووالي شورا خفه ده، نیازي صیب وویل چې اول دې همدا شورا مخکې شي، موږ به ورپسې یو، اوس مو خلک خبر کړي، که ورځ بدله شي، ډېره به سخته وي، خو هر څوک چې خفه دي، باید پخلا شي. اوس زه وایم که یون صیب په کې ګډون ونه کړي، اول دا زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې ګډون نه کوم، زما د ټولې شورا یو تن هم ورته نه راځي، د یون صیب موضوع وړه خبره نه ده، که دا موږ لویه نه ګڼلای، موږ دلته بښنې ته نه راتللو، زه یون صیب د مشرقي نه ګڼم، د ټول افغانستان مشر یې بولم، په قسم چې په لویه پکتیا کې دی ځومره مینوال او طرفداران لري، په مشرقي کې هغومره نه لري، نو یون صیب باید په کې ګډون وکړي.
یو دوو تنو نورو وویل: د یون صیب پلویان په لویه پکتیا کې ډېر زیات دي، هغوی پرې قرباني ورکړې، مظاهرې یې د ده په پلوۍ رااېستلې، که دی ګډون ونه کړي، هغه ټول ترې خفه کېږي، یون صیب باید د دې جرګې مخه وکړي. نورو دوستانو هم دېته ورته خبرې وکړې. ما (یون) وویل: اول خو له ټولو مشرانو څخه بښنه غواړم، چې په دې ګرمۍ کې یې تکلیف وګاله، که زه د یو طرف په توګه د دې تکلیف سبب شوی یم، نو زه بښنه غواړم. مشرانو د خپل سرېتوب له مخې د بښنې خبره مطرح کړه، اصلاً د عذر او بښنې خبره مطرح نه ده. نه دې مشرانو او مخورو څخه کومه خطا، اشتباه او ترخه خبره شوې چې دوی دې بښنې ته اړ کړي او نه زه په داسې یو لوړ دریځ کې یم چې ما څخه دې څوک بښنه وغواړي او هغه هم بیا داسې مشران، د بښنې خبره به هېڅ نه یادوو، زه یو شخص یم کوم چا چې کومه تروه او ترخه خبره کړې، هغه اوس په دې ټولنه کې عام رواج دی، په فیسبوک کې هم هره ورځ یو په بل پسې خبرې کوي، حتی کنځلې هم تبادله کېږي، دا کنځلې منځلې او سپورې خبرې، تر ټولو دمخه همغه شخص ته راجع کېږي، چې له خولې یې راباسي، د ځلي موضوع چې نه وای نو دا خپګان هم نه رامنځته کېده، هغه لا نورې ډېرې قربانۍ ته اړتیا لري، د نجات ځلی یوازې یوه سمنټي ستنه نه ده، بلکې په دې کې د یوه لوی ملت د قربانۍ او معنویت افاده پرته ده، که نه ودانیږ خو تر دې ډېرې زیاتې جوړې شوې دي،ولې پرې دومره بحث نه کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته چې دا مشران هره خبره وکړي، زه یې د غورځولو حق ځان ته نه ورکوم، خو د دې لپاره چې د دې جرګې قدر هم وشي او هغو اشخاصو ته هم د جرګې ارزښت معلوم شي چې دروغ وايي او توهين کوي، نو زه یوازې یو دوه شرطه لرم، دا شرطونه داسې نه دي چې د ښښې په اړه دي او یا هم زما شخصي غوښتنې دي. زما شرطونه دادي چې د نجات له څلي څخه اوس د مومن خان د ښامار کیسه جوړه شوې، هر سړی په کې توره سره کوي او ځان مومن خان ښيي، نو که ځینو اشخاصو او ډلو رښتیا هم د دې څلي په جوړونه کې اساسي نقش لرلی وي، نو دوی خو دېته ورته نور څلي هم جوړولای شي. لومړی شرط مې دادی هر هغه څوک چې د قوم د مشرۍ دعوه لري، شورا لري، جرګه لري او یا جرګه ګۍ لري، لکه صمد ځاځی، د جنوب ختیځ زون شورا، دوی دې د شپږو میاشتو په بهیر کې په (ببرک چمن) سیمه کې د ببرک خان ځدراڼ په نامه یوه څلور لارې او یو څلی اباد کړي، دوی دې مخکې او نورې ټولې شوراګانې دې ورپسې وي. د عدالت ګوند مشر (ایوبي صیب) تقریباً (۹) میاشتې وړاندې په (احمد شاه بابا مېنه) کې د (ملالۍ څلور لارې او څلي) د جوړولو ژمنه کړې وه، تر اوسه یې یوه ډبره هم په کې نه ده ایښې، تاسو مشران لاړ شئ، له دغو ښاغلو څخه تر نن ماښامه پورې د دې واټونو د جوړونې په باب لیکلې ژمنې او لاسلیکونه راوړئ، زه به سبا ته په دې غونډه کې ګډون وکړم. دې سره به دوه نور ملي کارونه هم ترسره شي او ولس ته به یې ګټه هم ورسېږي. زما په دې شرطونو ټول یو ځل وخوځېدل، والله یون صیب دا کارونه خو موږ نه شو کولای، ما وویل چې نه یې شئ کولای، جرګه خو د دې صلاحیت لري چې له دواړو خواوو څخه واک واخلي او ازاده فیصله وکړي او بیا هغه فیصله پلې هم کړي، یوه وویل، هغوی کله زموږ خبره مني، بل وویل، هغوی کله دا کارونه کولای شي، موږ ته به وواییي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کوو یې، بیا به یې نه کوي، ما وویل دا لیک هم ترې راوړئ چې وایي نه یې شو کولای، که سبا بیا بل چا هغه کارونه ترسره کړل، چې دوی یې بیا په افتتاح کې مداخله ونه کړي چې دې سره موافق یو یا نه یو، ډېرلیک دې ورته هم په خپله خوښه جوړ کړي، خپل نوم پرې لیکي، نه یې لیکي، هر څه چې کوي موږ به په کې هېڅ مداخله نه کوو، دې کې د خوست شورا یو تن غړی (غازي) راپورته شو ویې ویل: هغوی به وایي، موږ په خپل قوم کې سړي نه لرو چې د بل قوم د سړیو لپاره به ځلي جوړوو، کله چې یې ببرک چمن کې نومرې توزیع کولې موږ ته یې په کې کومه نومره راکړه، ټولې یې خپلو خپلوانو ته ورکړې او ځلی به یې موږ جوړوو؟ زه چې پوه شوم، خبره بېخي قبیلویت ته وځي، ما ورته وویل چې ببرک خان ځدراڼ د ټول افغانستان افتخار دی، دا سمه ده چې د پکتیا و او ځدراڼ و، خو د نورې ګټه یې ټول افغانستان ته رسېدلې ده، هغه د ځدراڼ په توګه نه، بلکې د یوه افغان په توګه پر ټولو افغانانو حق لري، که په هر قوم کې داسې اشخاص وي، چې خدمت یې د ټول هېواد په کچه وي، باید د هېواد په کچه ونمانځل شي او هغه چې د ولایت او ولسوالیو په کچه وي، باید په همغه کچه ونمانځل شي. دې وخت کې په غونډه کې یو ناست ځدراڼ هم اعتراض وکړ، په غونډه کې نورې قومي او قبیلوي خبرې مطرح شوې، د غزني استازي او څو نورو مشرانو بیا د ځلي په باب خبرې وکړې، دلته د دواړو شوراګانو د استازو تر منځ یو ځل بیا ټکر رامنځته شو، یوې ویل چهارشنبه به غونډه وي، بلې ویل، نه به وي، تېرې خبرې یو خل بیا د ورځې د اختلاف تر شعاع لاندې راغلې، دې وخت کې دواړو خواوو، (حاجي عبدالباري منګل) او همدارنګه (نېک محمد ولسمل) ماته مخ راواړوه چې دا مشکل هم زه حل کړم. ما وویل، څومره چې خبرې زیاتېږي اختلافات هم زیاتېږي او نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوې خبرې هم په کې راپیدا کېږي، نو ښه به دا وي چې خبره راتوله کړو. ما وویل، ورځ دې د جنوب ختیځ زون د شورا په خوښه وي، خو د څلي د پرانیستو پر مهال به د جنوبي قومونو د یووالي شورا مشران تر مخه او د دې بلې شورا مشران به ورپسې وي. زه د دې سپین ږیرو او مشرانو د احترام په خاطر او په دې خاطر که چېرې زما په ګډون سره اتفاق رامنځته کېږي، نو زه هم د جنوب ختیځ زون د شورا په غونډه کې ګډون کوم او هم د څلي په افتتاح کې، خو د یوه افغان فرد په توګه، نه د کوم ګوند، ډلې، سمت او قوم د استازي په توګه د خلکو خبرول هم په تاسو دي، زه ځکه پر خلکو د راتګ ټینګار نه کوم چې ځینو خلکو ته بیا د مخالفت پلمه برابره نه شي، خو تاسو کوښښ وکړئ پرانیستغونډې ته ډېر**



په ژوندون کې د ښښنې او پخلاینې جرګه

**خلک راوبولئ! ټول خوشاله شول، دعا مو وکړه، دوی رخصت شول او زه خپل دفتر ته پورته شوم، څو دقیقې وروسته کمال ناصر اصولي صیب زنګ وواهه، خبر شوم چې په غونډه کې ګډون کوې، ما ویل هو! د مشرانو په خاطر، ده وویل ښه شول، زه هم راځم. ګلاب منګل چې سهار مهال ماته زنګونه وهلي وو او ما یې ټلېفونونه مس کړي وو، هغه ته مې زنګ وواهه، ورته ومې ویل د سپین ږیرو د ټینګار له امله مجبور شوم چې په غونډه کې ګډون وکړم. هغه وویل ښه شول چې جنجال خلاص شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما سهار تاته په همدې خاطر زنګ وواهه چې یو نیم کس که ځان ته ډېر غره وي، نو زه د چهارشنبې پر ورځ سل تنه ځوانان د ځلي مخې ته ودروم، بیا دې څوک نر شي او ځلي ته دې راشي او دا دې له مشورې پرته په خپل سر افتتاح کړي. بیا یې وویل، ځه اوسېله به کوو، نو ځکه مې تاته زنګونه ووهل، خو ستا ټلېفون مصروف وو، ګلاب منګل زیاته کړه، اوس که داسې وکړې چې سبا ته بروشرونه چاپ کړې او د ځلي تر رسمي افتتاح وروسته یې ټولو خلکو ته ورکړې ښه به شي، له ټولو هغو کسانو باید مننه په کې شوې وي چې مالي مرسته یې کړې وي، د مرستې اندازه یې هم په کې ولیکه، چې ټول هر څه واضح وي. اوس د ایوبي صیب ګوند او نور اشخاص بیا یادګاري عکسونه فیسبوک ته پورته کوي چې مبارزو مو**



په ژوندون تلوېزیون کې د ښښنې او پخلاینې جرګې یو انځور

**رنګ راوړ، پرېږده چې ټول هر څه واضح شي. هغه له ما څخه ښنه هم وغوښته چې د ده په کور کې ماته هغه ترخې خبرې وشوې او هم یې راڅخه مننه وکړه چې په ډېره زیاته اوسېله مې کار تر دې ځایه راورسوه.**

**ایوبي صیب او ملګرو یې د یادګاري عسکونو ترځنګ په خپلو نورو پوستونو کې دې خبرو ته هم اشاره کړې وه چې ځینو اشخاصو غوښتل دا ځلی په خپل نامه تمام کړي، خو دوی او دوی ته ورته خلکو یې مخه ونیوله، هېڅ ډلې او ګوند د ځلي تر افتتاح وړاندې داسې ډله ییز عکس نه و خپور کړی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پورته انځور کې ایوبي صیب د خپل گوند له غړو سره د ځلي تر پرانیستې دمخه د یادگاري انځور اخیستنې په حال کې لیدل کیږي.**




**گلاب منگل وویل: د بروشور ټول لګښت زه خپله ورکوم، پنځه زره دانې چاپ کړه، ما وویل، ډېر ناوخته دی، کله به وشي، هغه وویل، خپل کوښښ وکړه، ماښام اوه بجې د اسد دانش دفتر ته ورسېدم، تر نهه نیمو بجو پورې مې بروشور ډیزاین کړ، هغو ته مې وویل، په هر ډول چې وي، سبا سهار لس بجې یې غواړم، هغوی د شپې پرې کار شروع کړ، زه د شپې لس بجې کور ته راغلم، سهار چای او د غرمې ډوډۍ مې نه وه خوړلې، لس بجې مې ډوډۍ وخوړه، سهار اته بجې دفتر ته لاړم او د دغه یادښت پر لیکلو مې پیل وکړ. (۹) بجې اسد دانش بروشورونه دفتر ته راولېږل چې دا دی دلته یې بڼه کاپي کوو:**


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس یوولس بجې دي، لږ وروسته د جنوب ختیځ زون د شورا غونډې ته ورځم، دا چې تر هغه وروسته به څه کېږي، هغه به په پاتې یادښتونو کې ولولئ!**

**یوولس نیمې بجې د جنوب ختیز زون د قومونو د یووالي شورا غونډې ته چې (ستاره شهر) هوټل کې جوړه شوې ده او حضوري چمن ته ورڅېرمه موقعیت لري، راغلم. کله چې له موټره کښته شوم، اصولي صیب هم له موټره کښته شو، ستړي مشي مو سره وکړل، هغه وویل په زړه کې چې**

د جنوب ختیز زون د قومونو د یو والي جرگه



**اخلاص وي، داسې پر یوه وخت رارسېږو، غونډه کې ښه ډېر سپین ږیري او قومي مشران راغلي وو. وکیلان هم په کې حاضر وو، د سولې او ملي یووالي او همدارنگه د څلي په اړه یې خبرې کولې، پر حکومت هم له معمول سره سم خبرې وشوې، انتقادونه هم په کې وو، دا اوس معمول دی چې انتقادونه به کېږي، یو شمېر خلک چې ځان حکومت پلوی گڼي، پر هغو دا ډول خبرې ښې نه لگېدې، نادرخان کټوازي انتقادي، خو علم گل کوچي بیا متحدالمال خبرې وکړې، ماته هم بلنه راکړل شوه، ما لومړی د سولې په باب پر حکومت او جمهور رییس د روانو انتقادونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه ارزونه وکړه، ومې ویل چې نه ټول انتقادونه عادلانه دي او نه ټولې ستاینې، یو معیار باید غوره شي او هر انتقاد باید یوه حل لاره ولري. اوس انتقادونه هم پیکه شوي، تاثیر یې هم کم شوی، ولس انتقاد کوي، وکیل انتقاد، مشاور وزیر انتقاد، وزیر انتقاد او ان خپله جمهور رییس انتقاد کوي، ټول وطن انتقادونو نیولی، اوس پر انتقادونو هم انتقاد په کار دی. هغه کسان چې توند انتقادونه کوي، پر هغوی تور دی چې څوکۍ نه دي وررسېدلي، نو ځکه یې د انتقاد لمن نیولې او هغوی چې ستاینې کوي، پر هغوی دا انتقاد دی چې د خپلو څوکیو د ساتنې لپاره تر حده زیات د جمهور رییس ستاینه کوي. ښه لاره داده چې که جمهور رییس ښه کارونه کول باید تائید شي او که بد یې کول، باید رد شي، تعادل باید په پام کې ونیول شي. لاندې (علم گل کوچي) غږ کړ چې ټول داسې نه دي، هر چا باندې باید بېځایه انتقاد ونه شي، دی د کوچیانو په چارو کې د جمهور رییس مشاور دی، ما وویل، زه داسې مشاورین پېژنم چې په یوه کال ان دوو کلونو کې یې هم جمهور رییس لیدلی نه دی، نو مشوره به څنگه ورکوي؟ د درباري غوړه مالانو د رول په باب مې هم بحث وکړ، ما وویل، یو مشاور جمهور رییس ته پاسته او نرم بوټان ډالۍ کړي وو، ورته یې ویلي وو چې پښې دې په کې ارامه شي، د ده کار خو مشوره ده، نه د بوټانو وروړل، نو چې بوټ پاک ورته وایي، هغه خو په همدغه حالت کې ورته وایي، بیا مې د وخت د کموالي له امله د څلي تاریخ په ډېر لنډ ډول بیان کړ او په پای کې مې پر ټولو غږ وکړ چې که څوک ځان د جمهور رییس وارث گڼي نو ښه ده، هغه دې ولس سره کېني، د ولس غوښتنې دې واوري، جمهور رییس ته دې ورسوي او بېرته دې ولس ته احوال راوړي چې یو کال وروسته هم رارسېدی شي که نه؟ ما وویل، موږ باید واقعیتونه د خپل مقام په خاطر قرباني نه کړو، د سولې په اړه دومره وایم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي صيب په وخت کې يې هم اساس پر جنګ ايښی و او يو تنظيم سالار يې په راس کې و او اوس يې هم يو تنظيم سالار چې د طالبانو او نورو مخالفانو مخالف دی، په راس کې دی،سوله په دې ښه نه شي تضمينېدلای.

تر ما وروسته نورو ويناوالو، چې ويل کېږي يو يې د جمهور رييس د تره زوی دی او اوه څلوېښت کاله کېږي امريکا کې اوسي، اوس راغلی دی. (احمدزی) تخلص کوي، هغه خبرې وکړې، هغه هم پر جمهور رييس نيوکه وکړه او د يوه مشاور ګيله يې هم واوروله، چې په يوولسو مياشتو کې يې يو ځل هم جمهور رييس کتلی نه دی. خو ده هم د خپل تره زوی په شان ژمنه وکړه چې دا مشکل به زه حلوم. په پای کې حق پناه صيب چې له نن څخه (۱۲-۱۵) کاله وړاندې د کابل د ولايتي شورا وکيل او رييس و، خبرې وکړې، لومړی يې د سولې او بيا يې د څلي په باب نظر څرګندکړ، د څلي په باب يې وويل: ((کله چې زه د کرزي صيب په لومړۍ دوره کې د کابل د ولايتي شورا وکيل وم، د دې څلي د جوړونې امر مې له حامد کرزي څخه واخيست، بيا مې خرم صيب ته ورکړ، هغه راته وويل، پيسې نه شته او بيا مې له کرزي صيب څخه د پيسو امر هم واخيست)) ده وويل: ((د څلي لومړی کار ما پيل کړی دی، بيا وروسته نور خلک پيدا شول او خبره دې سلسلې ته ورسېده.)) تر دې وروسته خلک ډوډۍ ته لاړل، د غونډې تر پای وروسته او د ډوډۍ تر پيله پورې زماني واټن کې ماته فرصت په لاس راغی او دغه يادښت مې وليکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولولییز پیل او بې ځوږه پای

تر ډوډۍ وروسته یو شمېر خلک د ځلي پرانیستو ته لاړل، خو یو شمېر خلک خپلو کارونو پسې، موږ له هوټله تر ځلي پلي لاړو، نږدې پنځه سوه متره لاره وه، کله چې ځلي ته نږدې شو، په لاوډ سپیکر کې د نذیر احمدزي غږ اورېدل کېده، یو څو خبرې مو واورېدې، تر هغې دمخه د



د نجات ځلي د بیا جوړونې د پرانستغونډې یو انځور

قران کریم تلاوت د څو ایتونو شوی و، بیا نذیر احمدزي ټولو قومونو څخه مننه وکړه او ویې ویل چې ټولو په کې برخه اخیستې ده، مبارک مو شه! تر هغه وروسته ملي سرود وغږول شو، بیا پټۍ پرې شوه، بیا رفیع صیب د ځلي په باب خپلې خبرې پیل کړې. غونډه کې شعارونه، ولولې او ګڼه ګوڼه نه وه. د (۱۳۹۵ل) کال د میزان پر (۲۳)مه چې کومه غونډه جوړه شوې وه، دا له هغې سره د کمیت او کیفیت له پلوه د پرتلنې وړ نه وه، د غونډې سونډ سستم هم منظم نه و، د سټیج چارې هم. موږ د پټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پرېکولو کې خپله ونډه واخیسته، نور ترې رخصت شو، که اینده نسل د دې او هغې غونډې د پرتلنې خبرې یادوي، نو مسولیت یې د ټولو هغو اشخاصو پر غاړه دی چې د دې ځلي په بشپړتیایي پړاو کې یې تېرې تولولې، ما په دې اثر کې د دې خلکو یادونه کړې ده.**



د نجات ځلي د بیا جوړونې د پرانستغونډې یو انځور

**زما خپل پلان دا و چې د ځلي په پرانیستغونډه کې به لږ تر لږه لس زره تنه ګډون کوي، پر هر شخص، ګوند او ډلې مې د خپلو کسانو د خبرولو بار ایښی و، ژمنلیک مې اخیسته، ځینو ته مې ویلي وو چې له ډول او سورني سره به راځي، له ملي بیرغونو سره به راځي، لومړی به تلاوت کېږي، بیا به ملي سرود غږول کېږي، بیا به د لویې پکتیا په استازۍ یو تن مشر د ځلي تاریخچه لولي او له مرستندویانو به مننه کوي. د منار پر سر چې کوم لوی بیرغ نصب دی، پنځه تنه مشران به د ځلي سر ته پورته کېږي، یو تن به له لوی کندهار، یو به له لویې پکتیا، یو به له لوی ننګرهار، یو تن به له شمال او بل به له مرکز څخه وي، ټول به په ګډه د افغانستان بیرغ پورته کوي، د دې بیرغ لوړوالی نږدې شپږ دېرشو مترو ته رسېږي، بیا به همزمان ورسره (۱۲) بیرغونه چې لاندې نصب دي، له هرې سیمې څخه پنځه پنځه تنه دا بیرغونه پسې پورته کوي، چې مجموعاً (۶۰)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنه کېږي، د دې تر څنگ به دوه ډېر ليکونه چې ختيځ او لويدځ خواته به نصب وي، له هغو به پردې لرې کېږي تر هغه وروسته به د دې غونډې د برخوالو پرېکړه ليک لوستل کېږي، په پرېکړه ليک کې به پر نورو مسايلو سربېره له حکومت څخه غوښتنه کېږي چې وخت پر وخت د نجات ورځې د اتلانو يادونه او ځلونه وکړي، د هغوی په نامه مډالونه جوړ کړي، د نجات ورځ د هېواد په رسمي جنترۍ کې ځای کړي او هر کال د پخوا په شان يو ځل بيا د نجات جشن جوړ کړي او پر همدې ورځ د نجات د ورځې د اتلانو په نومونو، نوي نسل او هېوادپالو افغانانو ته مډالونه او ستاينليکونه ورکړي او دېته ورته يو لړ نور ملي مسايل به په پرېکړه ليک کې ځای کېږي او له حکومت څخه به يې د تطبيق هيله کېږي، تر برېکړه ليک وروسته به ملي اتڼ کېږي او دې سره به پروگرام پايته رسېږي، دا زما خيالي او ارماني نقشه وه، د ازادۍ ورځ مې څکه ورته غوره کړې وه چې نېکمرغه ورځ وه او دا ځلی هم د ازادۍ د بيا احيا کوونکو يو يادگار و، زما هيله وه چې د خپلواکۍ پر ورځ دا ځلی په رنگارنگ گروپونو ښکلی وي او د يوې اوونۍ لپاره به له ماښامه تر سهاره روښانه وي. د اسد پر (۲۷)مه مو د ډېر ليکونو د نصب کار پيل کړ، خو لکه څنگه چې مې دمخه يادونه وکړه، د صمد ځاځي په نامه يوه شخص هغه راکښته او ويل کېږي چې داود نيازي يې هم ملگرتيا کوله، نن چې ځلی پرانيستل کېږي، نو ډېرليک په کې نه و، دې ښاغلو هم تر دې وخته جوړ نه کړای شو او هغه پخوانی يې هم پرېښود، د ډېرليک ځای داسې سپېره ښکارېده لکه په (۷۰) يمو کلونو کې چې غلو تاريخي ودانۍ لوټلې وي. دوی يوازې د پرانيستې پر مراسمو ټينگار کاوه، د ځلي نور غم ورسره نه و. دا يوازينی ځلی و، يا يوازينۍ ودانۍ وه چې له کوم ډېرليک او يادښت پرته يې پرانيستغونډه وشوه. د ډېرليک له غورځولو يا وړلو بيا تر پرانيستغونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پورې شپږ ورځې تېرې شوې، خو په دې منځ کې دې شوراګانو یو ډېرلیک ان یو یادښت هم جوړ نه کړای شو، خو پرانیستغونډې ته سخت ګبنې نیولي وو.**



د نجات ځلي د بیا جوړونې د پرانستغونډې یو انځور


**زه له خپل ولس څخه ډېره ښېنه غواړم چې زما له هڅو سره سره زه تر پایه پر دې بریالی نه شوم، چې د خپل ولس او د دې ځلي له شان او شوکت سره مناسبه د دې ځلي پرانیست غونډه جوړه کړم، کورنیو تنګنظرو، لنډو پارو، ځینو ارګ مېشتو غوړه مالانو او یو شمېر نورو کړیو ټولو سره لاسونه یو کړل او د یوې سترې ملي داعیې د ځلا مخه یې ونیوله، دا چې تر دې وروسته به د دې ځلي پر برخلیک څه کېږي؟ ډېرلیک به څوک لیکي؟ څرنګه به یې لیکي او څرنګه به یې نصبوي، په ټولیز ډول د ځلي ساتنه او پالنه به څوک کوي؟ دا به راتلونکی وخت ثابتوي او نوی پښت به قضاوت کوي. په همدې جملې سره د دې کتاب وروستۍ برخې ته رسېږم او د دې ترڅنګ غواړم په دې وروستۍ برخه کې یو ځل بیا د مالي رڼاوي لپاره یو څو نورې جملې هم ورزیاتې کړم.**

**کله چې د فني هیئت له خوا د (۸۸۹۵۰) امریکایي ډالرو له جملې څخه د کاري نیمګړتیاوو له امله (دوه زره ډالره) له پکتین ساختماني شرکت څخه وګرځول شول، نو تر هغه څو ورځې وروسته یو شمېر سپین ږیرو او په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره بيا د جنوبي قومونو د يووالي شورا مشر (نېک محمد ولسمل) او يو شمېر نورو مخورو له ما څخه هيله وکړه چې که دا پاتې دوه زره ډالره هم ورته ورکړې، ښه به شي، خير دی که کار کې يې يو څه نيمګړتياوې هم احساسېږي. څه موده وروسته بيا يادې شورا ما ته يو ليک هم راولېږه، نو دغو مشرانو ته د درناوي په خاطر مې دا پاتې (دوه زره ډالره) هم ساختماني شرکت ته ورکړل. په دې مانا چې په تړون کې د کومو پيسو (۸۸۹۵۰) ډالرو وروستی رقم ليکل شوی و، هغه پيسې پکتين ساختماني شرکت ته په بشپړ ډول ورسېدې.


د جنوبي قومونو د يووالي شورا
Southern Nations Alliance Council
نېټه: ۱۳۹۶/۹/۱۱
ګڼه: 22
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته
B-88950
د جنوبي قومونو ديووالي شورا رئيس
نېک محمد (ولسمل)
0772695868 رئيس-0765052477 اداري مدير 0779700525
janobiyawali@gmail.com
0777181873

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر دې لیک وروسته له ساختماني شرکت سره زموږ ټول حسابونه پاک شول او یو ډالر یې هم پر موږ پاتې نه شو او تر دې وروسته ما سره (۷۱۵۰) ډالره پاتې شول، چې له هغې جملې څخه (۳۰۰۰) ډالره بېرته اصولي صیب سره د امانت په توګه پاتې شول (٦۵۰) ډالره د ډېرلیکونو په ګډون پر متفرقه چارو ولګول شول. (۳۵۰۰ ) ډالر له ما سره د امانت په توګه پاتې دي.**

**کله چې د څلي متفق علیه وارثان پیدا شول، کولای شي دا پیسې او هغه درې زره ډالره چې له اصولي صیب سره په امانتي بڼه پاتې دي، ترلاسه کړي او پر خپل وخت د څلي پر ترمیماتي او نورو اړتیا وړ چارو ولګوي.**

**د دې کتاب چاپول مې ځکه ضروري وګڼل چې د څلي معنوي او تاریخي برخه هم خوندي شي او د څلي د فزیکي جوړښت ترڅنګ د څلي معنوي ودانۍ هم د لوستونکیو په ذهن کې انځور شي.**

**تر دې داستان وروسته غواړم یو څو مهمو مشورو او تجربو ته اشاره وکړم چې هم مې د دې څلي د جوړونې له بهیر او هم مې د روزګار له کړلېچونو څخه ترلاسه کړي دي، که زموږ نن او راتلونکی پښت هغه په ځیر سره ولولي، نو کېدی شي د خپل وخت ځینو د ستونزو په راکمولو کې ورسره مرستندوی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مشورې، تجربې او توصیې

د دې اثر په پای کې غواړم له قدرمنو لوستونکو او راتلونکي نسل سره ځینې مشورې، تجربې او توصیې شریکې کړم، په تېره بیا هغو کسانو سره چې غواړي ما غوندې یو کار ته لومړی د مینې او بیا د تحمیل له دروازې ورداخل شي، تقاضا لوړه وي او عرضه هم کمه، د نظر سرچینې متعد دې وي، خو د پرېکړې او مسولیت نامعلومې، امکانات کم وي او تقاضا زیاته، سیاسي خطرونه زیات او دفاعي ځواکونه کم، ځان ښودونکي زیات او د کار سرونه کم، امکانات کم او کارونه سخت، تنګظري زیاته او ژور فکر کم او نور په سلګونو مرضونه او غرضونه. په داسې یو حالت کې څه کول په کار دي؟ غواړم په دې برخه کې خپلې څو مشورې، تجربې، توصیې، نظرونه او وړاندیزونه درسره شریک کړم.

- په هر کار کې هغه وخت مشوره وکړئ چې کار له ځنډ او خنډ سره مخامخ شوی وي، کله چې کار په نورمال ډول روان وي او تاسو د مشورې لړۍ پیل کړئ، نو په خپله مو په لوی لاس د کار پر وړاندې بېلابېلو نظرونه او خنډونه رامنځته کړل.
- مشوره باید د مشورې له اهل سره ترسره شي، هغه کسان چې په اړوند کار کې تجربه او دخل ونه لري، له هغوی سره مشوره کول د وخت د ضایع کېدو او فکري پاشلتیا سبب ګرځي.
- په یوه کار کې چې له پیله له چا سره مشوره پیل شوې وي، باید همغو سره سر تر پایه مشوره وشي، د کار په بهیر او یا هم د اتمام پرمهال له نویو مشاورینو سره مشوره، نه یوازې دا چې د تېر شوي کار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکمنۍ سبب نه ګرځي، بلکې اصلي شخص مجبور دی، يو ځل ټول بهير نويو مشاورينو ته تشريح کړي چې دا کار هم په خپله د وخت د ضايع کېدو سبب ګرځي او زيات وخت نوې مشورې له پخوانيو مشورو سره په تضاد او ټکر کې واقع کېږي او د کار د ځنډ سبب ګرځي.

- پر هر کار چې پوره واکمن وې، د مشورې لپاره يې وخت مه ضايعه کوه، خپله يې په مستقيم ډول ترسره کړه.
- هر کله چې يوه تاريخي او ملي کار ته ورداخلېږې، قلم او کاغذ ځان سره واخله، ټول ورځيني يادښتونه وليکه. کله چې کار پر خپل مسير او بهير روان و، نو خپرولو ته يې اړتيا نه احساسېږي او کله که چا هم د اصلي کار د مخنيوي او انحراف هڅه کوله، نو يادښتونه بايد بشپړ او مستند وي او تر کار وروسته يې بايد نشر کړې چې راتلونکي پښت ته د عبرت سبب شي. ښه بېلګه يې همدا نجات څلی دی.
- له کم عقلو، ځان ښودو، شهرت غوښتونکو، په تېره بيا له داسې اشخاصو سره بايد ډېر احتياط وشي چې علم يې کم وي، امکانات يې زيات او د شهرت غريزه يې هم قوي وي، دوی کولای شي اصلي شخصيتونه ستړي، يا له خپل اصلي مسيره منحرف او يا هم په پای کې د نورو کړي کارونه او وهلې تورې په خپل نامه کړي.
- په هر کار کې بايد له زيات تدبير، دقت، جرئت او غوڅ دريځ څخه کار واخيستل شي، په دې برخه کې کم تعلل، بې جرئتي، هغو ځانغوښتونکو ته د دې زمينه برابروي چې خپله کار نه شي کولای، خو دې کې مهارت لري چې څنګه د نورو کارونه په خپل نامه تمام کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله چې یوه ملي موضوع کې راټاله شوئ او د کار په محور کې راغلئ، نو یو شمېر ناکاره اشخاص بیا هڅه کوي چې د سیمې، ژبې، قوم، قبیلې او ځانپالنې تور درباندې پورې کړي، د کار تر بشپړاوي پورې باید له دې ډول اشخاصو سره له هر ډول بحث څخه ځان لرې وساتئ. ځکه دوی غواړي چې کار پر ټپه ودرېږي، اصلي محرک تر پوښتنې لاندې راولي او بې کفایته یې وښيي.
- مالي حسابونه باید کنترول او راټه وي چې پلمه جوړوونکو ته د هېڅ ډول تخریب زمینه برابره نه شي. مالي حسابونه باید مستند وي. د راکړې ورکړې تاریخ او د طرفینو لاسلیک ولري.
- په وروسته پاتې ټولنو، په تېره بیا په هغو ټولنو کې چې قبیلوي مناسبات پرې حاکم وي، د ټولمنلي شخصیت جوړونه او زغمنه اسانه کار نه دی، یو څوک دې دا هیله نه لري چې له ټولو خوا وو دې تائید یا وستایل شي، هغه باید د خپلو کارونو د بشپړاوي په لټه کې شي، نه د تائیدونې یا ردونې په فکر کې.
- په لویو کارونو کې ((ښه مه کوه بد نشته)) د متل له عملي اړخ سره ضرورو مخامخېږئ، دا باید ومنئ چې د خپلو ښو څېړه مو ضرورو پر مخ لګي، خو دېته باید مخکې تر مخکې تیاری ولرئ او د مایوسۍ احساس ته لاره ورنه کړئ!
- خپل ذهني ځواک باید داسې عیار کړئ چې د خپلو نېکیو له امله له سختې بدۍ سره مخامخېږئ، که د بدۍ د زغم اوسېله مو پیدا کړه، نو د بریالیتوب چانس مو زیات دی، داسې هم نه ده چې ټولنه د چا نېکي هېروي، خو متل دی: ((تر هغو پورې چې رښتیا راځي، درواغ کلي ورانوي.)) دا متل د زمانې د تجربو د تکرار نتیجه ده. نو صبر او زغم هم په کار دی، په همدې خاطر وايي چې ((د صبر مېوه خوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده)).

- دا هم وايي چې ((ښه وکړه او سیند کې یې واچوه))، مانا دا چې اوبه هم د چا ښه نه هېروي، یو وخت دا ښه د اوبو سر ته راوځي، خو تر هغه پورې پوره استقامت په کار دی.
- د عقیدې او فکر ترمنځ انډول ساتل په کار دي، هغې نړۍ کې د دې دنیا د ټولو کارونو او حسابونو تصفیه کول، هم هغو دنیاپالو ته د جرئت زمینه برابروي، چې غواړي، حسابونه هغې دنیا ته انتقال کړي او دوی پر دې دنیا د نورو په زحمتونو خپل عیش او عشرت وکړي، خپل ځان هوښیار وګڼي او نورو ته د ساده ګانو خطاب وکړي، نو هغه حسابونه چې په دې نړۍ کې یې د تصفیې امکان نه شته، هغه باید هغې دنیا ته انتقال شي او د دې دنیا نور حسابونه باید په همدې دنیا کې تصفیه شي.
- په یوه جرګه، جلسه یا غونډه کې د متوازنو خلکو، لکه د قومي شوراګانو، ګوندونو، مدني ټولنو او نورو حرکتونو د مشرانو او مالکانو تر منځ توافق ته رسېدل اسانه کار نه دی، باید یو شخص تر مخه، خبره غوټه او له نورو څخه په غوڅ ډول د خبرې د رد یا تائید هوکړه ترلاسه کړي. د خبرو اوږدوالی او د ګڼو دلایلو تبادله خبره نوره هم پېچلې کوي او غونډه بې نتیجې پایته رسېږي.
- متفرق مشران، سپینږیري او نور مخور زیاتره وخت د یوې خبرې د مشروعیت د تائید لپاره ښه کار ورکوي، نظر دېته چې د یوې لانجې د حل سر راوباسي، په داسې یو حالت کې باید یو شخص مخکې تر مخکې د شخړې حل راویستی وي، نور مشران باید همدې حل لارې ته رامات کړي، د تائید سر پرې وخوځوي او به دې ډول یې د تخریب مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله چې یوه مسله ډېره پېچلې شي او بل څخه د قربانۍ هیله لرو، نو د ټولنیز کار د خوندیتوب په خاطر باید تر ټولو لومړی خپله د هغه کار اصلي مدعي قربانۍ ته تیار شي، که دی قرباني ورکړي، د قضیې دویم او درېیم اړخ ته د زیات تخریب زمینه نه برابرېږي او کار خپل ثمر ته رسېږي.
- که غواړې چې یو کار په ښه ډول ترسره کړئ، نو څومره چې وزن لرئ، هغومره ځان مه ښیئ، تر هغه ټیټه کچه اختیار کړئ، دې حالت کې د مقابل طرف حساسیت نه راپورته کېږي او تاته د دې زمینه برابرېږي چې خپل پلانونه په ارامه او نرمه توګه عملي کړې.
- د عرضې او تقاضې تر منځ باید انډول وساتې، کله چې دې د خلکو تقاضا پورته کړه، خلک بیاهغه خپل حق ګڼي، که پوره دې نه کړه، نو د خلکو د خپګان سبب ګرځي، خو که د تقاضې په انډول دې عرضه زیاته وړاندې کړه، نو دا کار د خلکو د خوشالۍ او ستا د ټولنیز باور د زیاتوالي سبب ګرځي، هدف دادی چې د ژمنې او عمل ترمنځ باید سمون، انډول او انطباق موجود وي.
- د یوه کار لپاره باید زېرمه ځواک ولرئ، که یو چا درسره ژمنه وکړه او تا ټوله ډډه پر هغه ولګوله او هغه هم له خپلې ژمنې په شا شو، نو طبیعي خبره ده چې کار نه ترسره کېږي، په داسې حال کې باید ته پټ زېرمه ځواک ولرې چې له هغه څخه د دویم یا درېیم قوت په توګه کار واخلې، خو لومړی ژمنه کوونکی باید خبر نه شي چې ته نور ریزرف ځواک لرې، په داسې یو حالت کې بیا هغه فکر کوي، څه که زه خپله ژمنه عملي هم نه کړم، نور څوک شته چې هغه کار ترسره کړي.
- که یو کار سل په سلو کې هم تا تر سره کړی وي او یا یې د ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو جوګه یې، کوښښ به کوې چې کار ټول ستا په نامه تمام نه شي ځکه چې په ټولنه او چاپېریال کې تنګنظره خلک کم نه دي، نه دې د دې کار بشپړاوي ته پرېږدي او که دا کار د زړه په وینو هم ترسره کړې، نو داسې تبلیغات به درپسې وکړي چې هم ستا د کار ارزښت راټیټ کړي، هم تا پیکه کړي او هم له نورو څخه د دې جرئت سلب کړي چې سبا ستا په شان کارونه ترسره کړي.

- کار خپله کوه نوم د بل کوه، که څه هم په لنډه موده کې دا قرباني اسانه نه ده، خو د لنډ فکرو اشخاصو مخه په دې ډول نیولای شې، دا کار ستونزمن دی، خو مېوه یې بیا خوږه ده او راتلونکی پښت یې پر ارزښت پوهېږي.
- کوښښ وکړه، کم اصله خلک او هغه اشخاص چې کورنی نصب او سلسله یې درته پوره معلوم نه وي او په یو ناڅاپي ډول په ټولنه کې یو څه ناڅه مطرح شوي وي، شهرت او قدرت ته ونه رسوې، دا ډول خلک نه یوازې ببرته تاته غم دي، بلکې په ټولنه کې د مصنوعي ودې له امله، عامو خلکو ته هم د سخت زیان او سردردۍ سبب ګرځي.
- د هر کار د سرته رسونې لپاره د زمان او مکان قید و برید وټاکه، ځکه چې په یوه کار کې مهال او ځای معلوم نه وي، انسان د خپل طبیعي خصلت له مخې د خپلې ارامتیا په خاطر هغه کار بل وخت ته پرېږدي، هغه بیا بل وخت ته او همداسې یو کار نیمګړی پاتې شي.

دا وې یو څو مشورې، تجربې او څو توصیې، اوس غواړم تاسو ته د دې کتابګوټي وروستۍ برخه؛ پایله، ښنه او مننه دروړاندې کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله، ښنه او مننه

هر لوی ملي او هېوادنی کار د سرته رسونې خپل خپل پېچلی بهیر لري، په دې بهیر کې یو انسان له سترو خنډونو، جنجالونو او پېچومو سره مخامخېږي، هوډمن او مفکر انسان همغه دی چې په لومړي گام کې ځان له ستونزو او جنجالونو وژغوري، خو که جنجالونه او کړاوونه حتمي او جبري شول، نو بیا دې ورته پولادي اراده اختیار کړي. د نجات څلی چې زموږ د معاصر تاریخ د یوه ترخه پړاو پر ضد د ولسي پاڅون د بري یو سمبول و، په شعوري او قصدي ډول دا نښه له منځه یوړل شوه او د بیا جوړونې د مخنیوي لپاره یې هم په قصدي ډول هڅې کېدې. د څلي د بیا جوړونې داستان ټول ستاسو له مخې تېر شو. هر څه ستونزې او کړاوونه چې وو، له هغو راتېر شو او څلی جوړ شو. له دې کړلېچن بهیر څخه موږ گڼې تجربې، پایلې او عبرتونه ترلاسه کړل. د دې څلي په کار کې د ستونزو راټوکېدل او د تنگنظره اشخاصو راڅرگندېدل، د نورو نتایجو ترڅنگ یوه پایله دا ورکړه چې دا اثر یې وټوکوه، که چا مخالفت نه وای کړی، ستونزې نه وای زېږول شوې، نو بیا خو دا اثر نه رامنځته کېده او د هغو گڼو افغانانو د مبارزو او سرښندنو حق نه ادا کېده چې له دې هېواده یې پر خپل وخت د ظلم، وحشت، دهشت او ایله جارۍ ټغر ټول کړ. په ډېرو کمو اثارو کې د هغو یادونه شوې ده، په دې اثر کې یو ځل بیا د هغو له جملې څخه د ځینو مبارزینو یادونه وشوه. د هغو یادونه پر موږ باندې د هغوی حق دی او دا کار د هغوی د پور په ادا کولو کې مرسته کوي، نو ځکه خو د ځینو خلکو یا اشخاصو مخالفت د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضررونو تر څنګ دا ګټه هم درلودله چې زه یې اړ کړم، دا اثر ولیکم. که دې اثر کې ځای نیم، د ځینو خنډ اچوونکو اشخاصو یادونه راغلې وي، ځینې واقعیتونه ویل شوي وي او دا واقعیتونه په نن او سبا کې د دوی شخصیتونو ته څه زیان رسولای شي، زه د هغې ګټې له امله چې دوی د دې اثر د رامنځته کېدو له امله، ولس ته شونې کړه، بښنه غواړم، زه له ټولو هغو اشخاصو بښنه غواړم چې په دې کتاب کې د راغلیو واقعیتونو د بیان له امله د خفګان احساس کوي، زه د دوی هر یو شخصیت ته احترام لرم، خو که واقعیت او حقیقت ونه وایم، پر دین او دنیا به مې غاړه بنده وي. له (ارسطو) څخه چا پوښتنه وکړه چې پر خپل استاد (افلاتون) ولې سختې نیوکې کوې او ولې ترې سختې پوښتنې کوې؟ هغه ورته وویل: ((افلاتون راباندې ډېر ګران دی، خو حقیقت تر هغه هم راباندې زیات ګران دی)). دلته که ځینې شخصیتونه پرموږه ګران دي او یا ګران وو، خو د څلي بیا جوړېدل او د هغه په باب ناویل شوي حقیقتونه هم پر موږ ډېر ګران دي، نو ځکه خو له ټولو هغو دوستانو څخه چې په دې تېر (۱۰-۱۱) میاشتنې بهیر کې په یو نه یو ډول له ما څخه خفه شوي، زه له ټولو بښنه غواړم، یا مې څوک پر ډېرو ټلېفونونو په تکلیف کړي، یا په میسجونو، یا په پېغورونو، له هغو ټولو څخه بښنه غواړم، کېدی شي، د هغوی مجبوریتونه مانه وو درک کړي او د څلي په باب له هغوی څخه زما غوښتنې تر واقعي حالته پورته وې او یا هم هغوی د شرم او حیا له مخې نه غوښتل خپل عذر او مجبوریتونه ماته بیان کړي، یا یې هم د بیان وخت نه درلود، له هغو ټولو بښنه غواړم، انسان ډېر کمزوری موجود دی، موږ باید د انسان مجبوریتونه د هغه پر قصدي نیمګړتیا تعبیر نه کړو. له هغو دوستانو هم ډېره بښنه غواړم چې څلي سره یې ښه ډېره مرسته وکړه، خو زما ټلېفونونو ډېر په تکلیف کړي وو، زه پر دې پوهېدلم، چې دوی ماته د (نه) ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شي راکولای، پر ځان فشار راوړي، خو ما نه خفه کوي، زه پر دوی باندې د راغلي فشار له امله بښنه غواړم، هغو دوستانو څخه هم ډېره بښنه غواړم چې په دې اثر کې د ځینو ستغو کلیمو له امله دوی په اینده کې د خفګان احساس کوي، لنډه دا چې له ټولو هغو اشخاصو، ډلو او بنسټونو څخه چې په یو نه یو ډول زما له خبرو او کلام څخه په دې اثر کې خفیف او یا شدید ضرر ګوري، بښنه غواړم. کېدی شي د دې کتاب د لیکلو له امله یو شمېر افغان ضد اشخاص هم ګټه پورته کړي او یو شمېر هغو اشخاصو ته هم دا پلمه په لاس ورشي چې زموږ د خپلمنځي نیمګړتیاوو د ښرګندولو له امله مخالف لوري ته ګټه رسوي، موږ وایو که دا نیمګړتیا موږ کې وي، نو ولې یې د سمون لټه ونه کړو، ولې یې ښرګندې نه کړو؛ چې ناروغي تشخیص نه کړو، نو درملنه به یې څنګه کړو؟ مخالفین زموږ پر ټولو نیمګړتیاوو خبر دي، نو ځکه خو په ډېر جرئت سره پر موږ بریدونه کوي، دا موږ یو چې ځان ناګاره اچوو، نیم عمر په شکایتونو تېروو او نیم هم په غیبت او نیوکو، کار ته ډېر کم وخت ورکوو او د کار سړي نه شو زغملای. ایا راتلونکي نسل ته موږ دا مسولیت نه لرو چې ورته ووایو، موږ د خپلې زمانې په دغسې ترخو واقعیتونو کې ژوند کاوه او که موږ تاسو او یا هم راتلونکي پښت ته کومه ښه ډالۍ نه ده در ډالۍ کړې، نو علتونه او دلایل یې دغه وو، هغوی باید له دغسې ستونزو ځان لرې وساتي. نور داسې ګڼ دلایل وو چې د دې اثر لیکلو ته یې اړ کړم.

د دې اټکل هم شته چې د دې اثر تر چاپ وروسته، یو شمېر اشخاص د دې اثر پر وړاندې راوپارېږي، کینې ښرګندې کړي، د فیسبوکونو مخونه ډک کړي او یو ځل بیا د حقیقت په سترګو کې د خاورو شیندلو هڅه وکړي، خو زه نه غواړم، هغوی سره بل بحث یا تاویلو ماویلو ته داخل شم، ما په دې اثر کې د رښتیا کیسه په زړېر او زور سره تېره کړې، تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته چې بیا هم څوک د واقعیتونو د تحریف هڅه کوي، عقل به یې د عدالت له محوره وتی وي.

دا به هم بې انصافي وي چې د مننې پر وخت موږ هغه کسان هېر کړو چې په یو نه یو ډول یې د دې څلي بیه بیا جوړونه کې خپل رول لوبولی دی، قومي مشران، سیاسیون، مخور شخصیتونه، شوراګانې، ځوانان او نور ټول پر خپل ځای د مننې وړ دي، چې ټولو پر خپل ځای او وخت اخلاقي، مشورتي، معنوي او نصیحتي مرسته کړې ده. خو څرنګه چې دا ټول معنوي ارزښتونه او مرستې دي او د معنوي څیزونو د ارزونې لپاره کومه مشخصه تله نه شته، نو ځکه خو په ډله ییز ډول له دوی ټولو څخه مننه په کار ده، خدای دې دوی ته ثوابونه او جنتونه ور نصیب کړي، خو هغو کسانو چې مادي مرسته یې کړې او څومره والي ته یې پر خپل ځای نغوته شوې، غواړم یو ځل بیا د نورو ټولو مرستندویانو په استازۍ له ښاغلي جنرال عبدالرازق،ګلاب منګل، حمید الله خیبر، حاجي خان محمد باز منګل، حاجي حکیم خان ځاځي، حاجي عتیق الله احمدي، حاجي عبدالباري منګل، محمد یوسف اصیل زوی، راضیې منګل، الحاج مولوي تره خېل محمدي، کمال ناصر اصولي، حاجي محمد نذیز احمدزي، ضیاء الحق امرخېل، عبدالرشید ایوبي، شېر علي خان شېر، غلام محمد کاموال، ډاکټر رضوان احمدزي او سټېټ کورپس ( State corps) ساختماني شرکت، د هغه له مشر چې د خپل نوم له یادونې یې تل ډډه کړې، د دې شرکت له قدرمنو انجنیرانو؛ انجنیر اسحق تکل، انجنیر محمد نصیر بهسودوال، انجنیر نصیر یما، انجنیر نصیر احمد پوپل، چې په لسګونو زره ډالر یې پر پاتې ساختماني چارو او ښکلاییزه برخه ولګول، قدرمن ورور شمیم کټوازي، انجنیر دلاور توتاخېل او نورو ټولو دوستانو څخه مننه کوم چې که د دوی ټولو مرسته نه وای، نو دا څلی به نن دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسک نه و ولاړ، له نورو ټولو هغو خواخوږو دوستانو څخه چې په الفاظو کې د مننې د ادا کولو افاده ورڅخه مشکله ده او نومورکي خدمتګاران ګڼل کېږي، له ټولو څخه د یو افغان، یو مسلمان او یو انسان په توګه مننه کوم، کور ودانی ورته وایم، دوی د ملي نجات دا څلی چې د ټول وطن د عزت څلی، ګڼل کېږي، هسک کړ، الله (ج) دې د دوی د عزت څلي هسک کړي.

د دې خبرې یادول هم ضروري بولم چې دا اثر د زمري پر (۲)مه نېټه پیل او د وږي یا سنبلې پر لومړۍ نېټه پایته ورسېد. د (۳۰) ورځو په بهیر کې دا اثر هم لیکلی شوی، هم کمپوز شوی او هم یې د سمون چارې ترسره شوي، دا په داسې حال کې و چې د څلي کارونه هم روان وو، ګڼې غونډې هم وې او نور زیات شمېر کارونه هم روان وو؛ یوه ډېره ستړې کوونکې او مصروفه کاري میاشت وه. سره له دې چې د دې اثر هره برخه مې تر لیکلو وروسته څو څو ځله کتلې او ایډېټ کړې، خو بیا هم د زیاتو ډول ډول تېروتنو احتمال په کې شته، هیله ده درانه لوستونکي، هغه تېروتنې وزغمي او په خپلې لویۍ سره یې راوبښي.

په دې اثر کې نه یوازې د څلي بیا جوړونه په تفصیل سره راغلې، بلکې د دې څلي د جوړولو، بیا رنګولو او بیا جوړولو ټولو برخو ته هم په کې اشاره شوې ده.

خدای تعالی دې د پښتنو مل شي


په درنښت

محمد اسمعیل یون

۱۳۹٦ لمریز کال د وږي لومړۍ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زمانې په کړلېچ کې

## (د ټولنیزو او سیاسي لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹٦ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: د زمانې په کړلېچ کې

لیکـــــوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: فیاض حمید

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹٦ ل / ۲۰۱۷م کال

د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳۷)

لیکوال د خپرونو لړ: (۴۸)

www.melitahrik.com - info@melitahrik.com

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## ټولو ملتپالو او هېوادپالو افغانانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه:

# دا هم د زمانې د کړلېچ څو انځورونه

د لیکنو دا ټولګه چې اوس تاسو په لاس کې ده، دا زما د هغو لیکنو له جملې څخه دي چې له (۱۳۸۳-۱۳۹٦ل) کلونو تر منځ لیکل شوي او د خپل وخت په چاپي او برېښنایي رسنیو کې خپرې شوې دي. پر دې مهال زما نورې لیکنې په نورو ټولګو کې خوندي او خپرې شوې دي، خو د دې لیکنو د ځینو یې سیاسي مرچ و مالګه لږ شان زیات وو او تر دې یې دمه لا د یوې ځانګړې ټولګې بڼه نه وه خپله کړې. اوس (۱۳۹٦ل کال، کب کې) ما د خپل ژوند د سترې سفر نیمه پېړۍ پوره کړه، نو کوښښ مې وکړ چې د خپل تېر ژوندانه په بهیر کې ټولې هغه لیکلې مقالې او نور مستقل اثار له سره راټول، ډلبندي او منظم کړم او که خدای کول له سره یې د کلیاتو په بڼه چاپ کړم، نو په دې ټولګه کې راغلې لیکنې مې سره منظمې او په دې کتاب کې مې خوندي کړې. په دې ټولګه کې څوارلس (۱۴) عنوانه لیکنې همغه دي چې د (قلموال) جریدې په بېلابېلو ګڼو کې چاپ شوي او د دې اثر په متن کې ورته نغوته شوې ده او نورې لیکنې بیا په نورو وختونو کې لیکل شوې دي.

دا چې ولې مې د بېلابېلو ټولګو په بڼه د خپلو ټولو پخوانیو لیکنو د خوندیتابه تکل وکړ، علت دا و چې هره لیکنه د زمانې د خاصو شرایطو تر اغېز لاندې لیکل شوې او د همغې زمانې د پېښو  او کرکترونو انځورنه کوي. دا پېښې نه ما رامنځته کړي او نه یې زه د راټوکېدو جوګه وم. پېښې زمانې رامنځته کړي او شخصیتونه هم زمانې راپنځولي، ما د زمانې د یوه شاهد په توګه څه چې مې لیدلي، هغه مې انځور کړي او د لیک دایرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې داخل کړي دي. دا پېښې ټولې مثبتې نه وې او نه یې مرکزي کرکترونه مثبت وو. پر خپل وخت د منفي پېښو او منفي شخصیتونو انځورول هم اسانه کار نه و، منفي غبرګونونه یې راپارول او د لیکوال ژوند ته یې د ګواښ او خطر پېښول حتمي کول. په داسې یو حالت کې لیکوال مجبور دی چې له مستعار نامه څخه کار واخلي.

د مستعار او بدل نامه کارونه په همدغه ځای کې ضروري ځکه وي چې هم د لیکوال ژوند خوندي پاتې کېدی شي او هم پېښې ثبتېدی او د تاریخ حافظې ته انتقالېدی شي، نو ما هم د زمانې د همدغه مجبوریت له امله د واقعیت د خوندیتابه لپاره له مستعار نامه څخه کار اخیستی او یو شمېر لیکنې مې پر خپل وخت په بدل نامه خپرې کړي دي. اوس چې د هغې زمانې په انډول څه ناڅه حالات نرم شوي او ما هم د عمر نیمه پېړۍ پوره کړې، نو غواړم همغه لیکنې په خپل نامه خپرې کړم. ما له دې لیکنو څخه یوازې د لیکوال مستعار نوم لرې کړی او په ځینو برخو کې مې په عنوان کې لږ لنډون او سمون راوستی، نور مې د لیکنې په متن او محتوا کې هېڅ ډول بدلون نه دی راوستی. دا په دې خاطر چې دا لیکنې د خپلې زمانې انځورګري کوي او د همدغې زمانې ملکیت ګڼل کېږي. زموږ د هغې زمانې ځینې واقعیتونه ډېر ترخه وو، هر لیکوال نه غوښتل ځان له زورواکو او جنګسالارانو سره مواجه کړي او ټوپکوال هم له ټول قوت او وحشت سره په میدان کې ولاړ وو. د زورور ټوپکوال او عاطفي قلموال تر منځ سخته مبارزه روانه وه. په دې لړ کې (قلموال) جریدې چې د (شېر علم املوال) په مدیریت او د (خپلواک وطنیار) په مرستیالۍ خپرېدله، د قلموال جهاد په برخه کې خپل ملي او انساني رسالت ترسره کړ، ډېرې هغه لیکنې یې، چې نورو چاپي خپرونو یې چاپ ته زړه نه ښه کاوه او یا یې د خپراوي جرئت نه درلود، (قلموال) جریدې په پوره جرئت هغه خپرې کړې او دا دی اوس زموږ د تاریخ راتله تصویرونه دي. دا لیکنې د خپلې زمانې سوز او درد لري، که پر همغه وخت نه وای لیکل شوې، نو نن یې په همغه کیفیت لیکل یا ناشونی کار و او یا هم ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزمن. اوس چې ما ته څوک ووايي له نن څخه د يوې نيمې لسيزې وړاندې حالات او خاطرات لکه څنګه چې وو، همغسې انځور کړه دا کار زما په وس پوره نه دی، نه يوازې زما، بلکې د بېلابېلو ليکوالو د وس خبره هم نه ده. ليکوال چې پر خپل وخت د خپلې زمانې حالات انځور نه کړي، وروسته يې بيا ليکنې د هغې زمانې سوز او درد لکه څنګه چې و، هغه شان نه شي انځورولای. دې ليکنو کې پر يو شمېر داسې کرکترونو بحث شوی چې هم په خپله زمانه کې زموږ ټولنې ته مضر وو او وروسته يې هم ضررونه لا پسې ډاګيز شول. هغه وخت چې دا ليکنې خپرېدلې يو شمېر تنګنظرو، چې په خپله د تعصب پر ناروغۍ اخته وو، دې ډول عکس العملي ليکنو ته د تعصب، قومپالنې او فاشيزم نوم ورکړ، خو کله چې يې وروسته په دې ليکنو کې د انځور شويو منفي کرکترونو کينه، بغض، قومي تعصب او د ولسواکۍ په نوي لباس کې د فاشيزم هڅې وليدې، نو اکثره يې د دې ليکنو پر حقانيت پوه شول. دا ليکنې ځکه خوندي کوم چې زموږ نننی او سبانی نسل زموږ د زمانې له واقعيتونو لاپسې خبر شي. طبيعي خبره ده چې سياسي او ټولنيزې ليکنې خپل خپل موافقين او مخالفين لري، دا ډول ليکنې به خپل مخالفين او خپل غبرګون ولري، مثبت او منفي دواړه غبرګونونه به ولري. زما هدف دا دی چې د خپلې زمانې واقعيتونه د قلم په واسطه تصوير او بل نسل ته يې انتقال کړم: ((د هغه شاعر دانې وشه په ژبه، چې د شعر دردانې پلورې په مال)). د هغو ليکوالو پر حال افسوس په کار دی چې دوی به خپله زمانه کې ورته رنې رنې کتل او حقيقتونو سلګۍ وهلې، خو دوی يې له انځورنې په دې خاطر ډډه وکړه چې د کوم زورواکي له خوا ورته خطر متوجه نه شي. څومره به ښه وای چې ټولو ليکوالو د خپل وخت پېښې او په هغو کې لوبېدونکي شخصيتونه په دقيق ډول انځور کړي او د ولس مخې ته يې د خپل يو انساني مسوليت په توګه ايښې وای. په تېره بيا هغه ليکوال چې د ليکوالۍ تجربه هم لري او د عمر زياته برخه يې هم خوړلې وي. اوس چې د دې ټولګې د ترتيب پر مهال زما د عمر پنځوسم کال پوره کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ولې به له واقعیتونو پرده نه لرې کوم؟ قدرمن لوستونکي  به دا لیکنې ولولي، که دا لیکنې د خپلې زمانې د تاریخ لپاره د خامو او پخو موادو د یو ځاځکي په توګه هم کار ورکړي، نو ما به خپل مسولیت تر یوه حده ترسره کړی وي.

زه هیله لرم زموږ درانه هېوادوال پر نورو لیکوالو هم فشار راوړي چې د خپلې زمانې تاریخي او مستند یادښتونه مخکې تر دې چې په کور کې یې پوپنک ووهي، زاړه، وراسته او بې ارزښته شي، ډګر ته راوباسي چې هېوادوال ترې ګټه پورته کړي او همدارنګه له هغو لیکوالو څخه هم هیله کوو چې همدا اوس یې واقعیتونه له سترګو تېرېږي، دوی باید دا واقعیتونه په منظم ډول ثبت او بل نسل ته انتقال کړي. که په خپل نامه د ځینو حقیقتونو ثبتول او نشرول سخت وي، نو له مستعار نامه څخه دې کار واخلي، مستعار نومونه د همدغې ورځې لپاره کارېږي چې واقعیتونه فوت نه شي، خو مستعار نوم هم باید د واقعیتونو د پټونې، بل ډول ښودنې او د چا د شخصیت د سپکاوي لپاره نه وي، بلکې یوازې د همدې لپاره وي چې په دې وسیله خلکو ته د پېښو او د هغو د اړوندو کرکترونو انځور خوندي او په رڼه بڼه ورانتقال شي.

په دې لیکنو کې کېدی شي یوه نیمه لیکنه داسې هم وي چې محتوا یې له هغې بلې سره څه ناڅه تضاد ولري، لکه (ستر ریفورمېست ډاکټر اشر غني او د سترو جنګسالارانو ګواښونه) او د هغه په مقابل کې (لکچر که مناظره؟) چې دا دواړه لیکنې د یوه شخصیت پر محور راڅرخي، لوستونکي به فکر وکړې چې څنګه یو شخص (۱۳) کاله وړاندې تایید او (۱۳) کاله وروسته رد شوی دی، دا لیکنه مې په همدې خاطر راوړې چې د زمانې په کړلېچ کې شخصیتونه هم بدلون مومي، شخصیتونه د هغو کارونو له مخې ارزول کېږي. په دې لیکنو کې چې مې کوم اساسي تغیرات رانه وړل علت یې دا و  چې ټولنه باید خپله لیکوال هم وارزوي، یوازې پېښې او عامل کرکترونه مهم نه دي، ناظر او کتونکی څه فکر کوي؟ ټولنه د لیکوالو پر لیکنو هم د قضاوت حق لري. ځینې لیکوال خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانۍ او اوسنۍ لیکنې په تسلسل سره ځکه نه شي چاپولای چې متضاد لیدلوري لري او له شرمه یې ټولیز خپراوي ته زړه نه ښه کوي. تر دې ټولګې وروسته که خدای کول زه د خپلې لیکوالۍ ټول کلیات چاپوم، هغه کار مې چې په پنځوس کلن ژوندانه او (۳۲) کلنې لیکوالۍ کې کړی، هغه به په ترتیب سره په څو ټوکونو کې چاپ کړم، لوستونکي به له پیله بیا تر دې دمه زما هر څه له نظره تېر کړي، کمزورۍ، نیمګړتیاوې او بریاوې به ټولې د لوستونکو قضاوت ته پرېږدو، زما له نورو لیکوالو څخه هم هیله ده چې د خپلې ټولې لیکوالۍ محصول په منظم ډول چاپ کړي.

موږ چې د لیکوالۍ په ذریعه د نورو تصویر خلکو ته کاږو، ښه ده چې نور هم زموږ په خپله لیکوالۍ کې زموږ خپل تصویر وګوري، جرئت، غوړه مالي، ځانساتنه، پردیپالنه، وطنپالنه ټول به څرګند شي.

راځئ چې ولس ته هر څه روښانه کړو، دا روښانتیا له ځانه پیل او پر نورو یې مخته کړو.

اوس د دې لیکنو په باب همدومره، نور نو دا لیکنې او دا هم تاسو درانه لوستونکي.

په درنښت

محمد اسمعیل یون

۱۳۹٦ل کال د کب (۲۵)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((مارشال)) په کابل او کابل په مارشال پلان کې

**دا لیکنه د قلموال جریدې د (۱۳۸۳ل) کال په (۲) گڼه کې خپره شوې ده.**

**یاره موږ هم عجیبه خلک یو، که هرڅومره جگړو ځپلي او مروړلي یو، بیا هم هغه دچا خبره له خپله چکه نه اوړو. بس هر څوک چې مو د خبرو میدان ته واچاوه، بیا یې داسې لوڅ لغړ کړو او داسې یې سپک کړو، چې په اصطلاح د باد بڼکه ترې جوړه کړو، بس نو د سپکولو او درنولو په دې لړۍ کې داځل د ((مارشال)) صیب نوبت راورسېد. مجلس کې صیب گڼ خلک ناست وو، شمېر به یې (۳۰) یا (۳۵) تنو ته رسېده،ژبپوهان، لیکوال، وکیلان او ان څو تنه جنرالان هم په کې ناست وو، بس یو چا یوه خبره رامنځته کړه، چې صیب دا مارشال څه مانا؟ مخکې تردې چې نور څوک پربحث پیل وکړي، ژبپوه او ژبور صیب دخپل حقوقي بېز له مخې د خبرې جلو ونیو او ویې ویل: (( زه په بنسټیز ډول یو ژبپوه یم، دا**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د پوځي نومونو (اصطلاحاتو) له پلوه مارشال څه مانا لري؟ په دې اړه زه څه ويل نه غواړم، خو د ژبپوهنې له نظره چې دا زما آر مسلک دی، (مارشال) اصلاً پښتو کلمه ده، چې له دوو کلمو رغېدلې ده، اول (مار) اوبيا(شال) دی، چې دواړه سره يو ځای شي (مارشال) ځنې جوړېږي، (مار) تاسو پېژنئ چې ډېره خطرناکه خزنده ده او (شال) خو په پښتو کې پوړني ته وايي، يانې داچې (مار) په (شال) کې تاو کړې او يا داچې پر (مار) باندې (شال) واچوې او پټ يې کړې. دا چې دې اوسني جنگسالار صيب ته ولې مارشال وايي دا يوه اصطلاحي مانا لري چې ... کله چې ژبپوه صيب د مارشال د اصطلاحې مانا پر تشريح پيل کاوه، نو دې کې د غونډې يو برخوال جنرال صيب يې خبره غوڅه کړه او ويې ويل: ((مارشال په عسکري امورو کې تر ټولو جگه عسکري رتبه ده او هغه چاته ورکول کېږي، چې د فتوحاتو په نتيجه کې يې په څلورو مفتوحه هېوادونوکې عسکر پراته او هغه هېوادونه يې تر پوځي تاثير او واک لاندې وي)) پر همدې وخت يو بل برخوال له يوه کونجه، په نيم تبسم ډول خندا وکړه او ويې ويل: ((ياره نو خلک زموږ دې مارشال صيب باندې هسې ريشخند وهي، رخه ورسره لري او کينه ورسره کوي، که په هېوادونو کې د عسکرو د خوړېدو خبره مطرح وي، دا کارونه خو پخوانيو مارشالانو لکه (تيتو) او نورو هم کړي دي، نر مارشال هغه دی، چې په څلورو هېوادونو کې د خپلو عسکرو د خوړېدو پر ځای په خپل هېواد کې د (۱۸) هېوادونو د عسکرو د خوړېدو زمينه برابره کړي، د داسې مارشال قوت او مهارت د نورو مارشالانو په انډول څلور نيم برابره زيات دی، نور مارشالان د خپلو عسکرو په زور نور هېوادونه نيسي او په هغه هېواد کې خپلې واکمنۍ ساتي، خو زموږ مارشال د نورو هېوادونو د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عسکرو په زور خپل هېواد نیسي او خپل ځان پرې ساتي همدلته سړي ته هغه د شاعر خبره رایادېږي چې:**

**ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ**
**واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي**

**پر دې وخت په غونډه کې یو بل شخص هم خپله غاړه تازه او صافه کړه، داسې ښکارېده چې انجنیر او د بیارغونې په برخه کې د پخې تجربې خاوند دی. هغه خپل منطق داسې پیل کړ: ((کله چې د امریکایانو او دهغو د متحدینو له خوا غربي جرمني اشغال شو، نو د جرمني اکثره ودانۍ ویجاړې او ټول هېواد په کنډوالو بدل شوی و، امریکایانو او متحدینو د جرمني د بیا رغونې لپاره یو مارشال پلان جوړ کړ، د مارشال پلان مانا دا ده ، چې د رغونې توسعه او پراختیا یې د ماسټرپلان په اندول څو ځله زیاته ده، ماسټرپلان دې ته وایي،چې د یوه ښار نورمال پرمختیایي حالت په کې پېشبیني شوی وي او دولت او ولس د همغه پلان مطابق د ښاري ترقۍ پروګرام پرمخ بیایي، خو مارشال پلان بیا دې ته وایي، چې د ماسټر پلان ټول اړخونه هم په بر کې نیسي،خو پر هغه سربېره د بیا رغاونې او نورې پرمختیا پلانونه هم په کې شامل وي. تاسو مخکې د مارشال صیب خبره وکړه او د هغه د نظامي کفایت او درایت یادونه مو وکړه، ځینو له (مارشال تیتو) سره پرتله کړ، خو زه خپل مارشال ته یوازې، د یوه پوځي ماهر په سترګه نه ګورم، بلکې هغه د بیارغونې، بیا جوړونې، ځمکنیونې او غصبونې یو ماسټر او مارشال هم بولم. د اروپا د بیا رغونې په مارشال پلان کې د اروپا هېڅ جنرال او مارشال په دې نه دی بریالی شوی، چې دومره دولتي او شخصي ملکیت دې لاندې کړي، چې ځان ته پرې تر دوو سوو زیات مارکیټونه او لوی کورونه جوړ کړي، خو زموږ د هېواد په مارشال پلان کې د مارشال صیب تر بولۍ(قوماندې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې په سلګونو جنرالان په دې بریالي شول، چې ځانته په لسګونو کورونه او مارکېټونه جوړ کړي، خپله مارشال صیب خو خبره له لسګونو څخه تر سلګونو پورې ورسوله او د اوازو او انګازو له مخې اوس یوازې په کابل ښار کې د مارشال د کورونو او مارکیټونو شمېر تر دوو سوو اوړي، نو اوس تاسو خپله فکر وکړئ، چې د اروپا په مارشال پلان کې د یو مدرسه یي مارشال ودانیز پرمختګ همدومره و؟ نو زه د خپلو پورتنیو دلایلو پر بنسټ دا وایم چې زموږ مارشال نه یوازې ماهر نظامیات دی، بلکې ماهر نفسیات و تعمیرات هم دی.)) د مارشال صیب په اړه خبره همداسې تاوېدله راتاوېدله، هر چا یې د ځو بعدیز شخصیت پر یوه اړخ رڼا اچوله او د ذوق ببلاببلو اړخونه یې څېړل، خو ټول په دې خبره متفق وو او د شونډو په کونجو کې به یې په مالګین تبسم سره دا خبره تاوېدله چې: ((یاره کابل له مارشال صیب سره ښه ښکاري او مارشال له کابل سره، دا د یو بل لپاره لازم او ملزوم دي، باید مارشال په کابل او کابل په مارشال پلان کې شپې ورځې تېرې کړي...)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستر ريفورميست اشرف غني او د سترو جنگسالارانو گوابنونه

دا ليکنه پر (١٣٨٣ل کال) د قلموال جريدې په (٢)گڼه کې خپره شوې ده.

د جمهور رييس ښاغلي حامد کرزي کابينه په عمومي ډول له دوه ډوله وزيرانو جوړه ده، يو جنگسالاران او يا د هغوی استازي اوبل ريفورميستان، سمونپال يا ديموکراتان دي. په سمونپالو يا ديموکراتو وزيرانو کې ښاغلی اشرف غني، علي احمدجلالي، محمدحنيف اتمر، امين فرهنگ، رمضان بشردوست او ځينې نور شامل دي. په جنگسالار وزيرانو کې هغه وزيران شامل دي، چې د بهرنيانو په مرسته، يا هم د وسلې په زور او يا هم د نظار شورا، اسلامي جمعيت، اسلامي اتحاد، ملي اسلامي جنبش، اسلامي وحدت او نورو پوځي سياسي تنظيمونو له خوا معرفي شوي دي. ددې دواړو ډوله وزيرانو ترمنځ وخت پر وخت په کابينه کې او تر کابينې بهر خواړه او ترخه بحثونه تبادله شوي، يو بل ته يې گوتې نيولي او زورورو وزيرانو، خو گوتڅنډنه هم کړې ده، ددې لپاره چې ځينې



(c) ketabton.com: The Digital Library



زورور وزیران بهرنۍ نړۍ او په کور دننه د ولس له زیات غبرگون سره مخامخ نه شي، نو سمونپال او ریفورمپستو وزیرانو ته له ډېرې زیاتې څرگندې گوتڅنډنې او گوتنیونې ډډه کوي او دا کار بیاخپل دویم لاس ملگرو ته چې په دولت کې او یا تر دولته بهر تنظیمي فعالیتونه کوي، ورسپاري. د بېلگې په توگه که په خپله د دفاع وزیر محمد قسیم فهیم مخامخ پر ډاکټر اشرف غني نیوکه نه کوي، نو د خپلو تنظیمي ملگرو او نورو سیمه والو له خوا دې کار ته لمن وهي؛ د عبدالحفیظ منصور په خوله د اشرف غني د استعفی او گوښه کولو غوښتنه کوي، که چېرې د منصور او امثالهم شاته د حکومت د لوړپوړو زورواکو ملاتړ نه وي، نو هغه به هېڅکله هم په دې کوچنۍ خوله دومره لویې خبرې ونه کړي. د نظار شورا مظاهره چیان ولې د یو جنگسالار حکومتي واکمن د گوښه کولو غوښتنه نه کوي، چې د ریفورمیست وزیر دگوښه کولو نارې سورې پورته کوي، اشرف غني، صدیق فرهنگ،اتمر او بشر دوست خو له وسلې سره کابل ښار ته نه دي راننوتي، وزارتونه خو یې په زور نه دي نیولي، نه یې کابل ښار لکه د ځینو نورو تنظیمي وزیرانو په شان پر کنډوالو بدل کړی او نه د ټوپک په ژبه خبرې کوي. جمهور رییس ښاغلي حامد کرزي یو ستر اخلاقي او ملي جرئت وکړ، خپله ټوله پانگه یې تثبیت او ثبت کړه او ملت ته یې وښودله چې اوس مې دغه پانگه ده او د واک تر گوښه کېدو وروسته که تر دې زیاته وه، بیا راسره حساب کولای شئ، ډاکټر اشرف غني احمدزی دویم شخص و چې دویم گام یې اوچت کړ او د مالیې د وزیر په توگه یې ریکارډ ټینگ کړ او خپله پانگه یې ثبت کړه، وایي چې غل نه یې له پاچا مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډارېږه، ولې ښاغلی ((مارشال)) صیب، قانوني صیب، خلیلي صیب، استادبرهان الدین رباني، پروفیسر سیاف، او شیخ محمد اصف محسني خپله پانګه ملت ته نه ښیي، ((مارشال)) صیب باید ولس ته په ډاګه کړي، چې تر وزارت دمخه پانګه یې څومره وه؟ له کومه یې کړې وه؟ او تر وزارت وروسته پانګه یې څومره ده؟ ایا په کابل ښار کې په سلګونو جوړ شوي او جوړېدونکي لوړ پوړي بلډنګونه دده دي او که دده په نامه یې نور محتکرین جوړوي؟ یو وي که دوه باید ثبت شي، که شپه تیاره ده منې په شمار دي، د ښاغلي اشرف غني احمدزي د وزارت پرمهال افغانستان ته د ملیاردونو ډالرو بهیر را مات شو، د دولت خزانه له پېسو ډکه شوه او افغانۍ د ثبات خپل بې سارى ریکارډ ټینګ کړ، د هېواد مالي سستم اصلاح شو، د ګمرکونو د کنټرول لپاره پلان جوړ شو او له څو زورواکو محلي جنګسالارانو پرته نور ولایتي ګمرکي عواید په مرکز پورې وتړل شول، خو موږ داسې تنظیمي وزیران هم لرو، چې د دوی د تېرې واکمنۍ پرمهال مالیې وزارت او د افغانستان مرکزي بانک خزانې څه چې فرشونه هم لوټ شول، یوازې د استاد برهان الدین په امر او د هغه د واکمنۍ پر مهال د دولت له (۹۰۰۰) باب څخه په شمېر نه په وزن او ټن افغانۍ ایستل شوي او د لګښت هېڅ وجه یې معلومه نه ده. تنظیمي وزیران، قوماندانان اوس هم هماغه پخوانی خیال لري، چې تش په یوې پاڼې او پرزې به له مالیې وزارت څخه پیسې ایستل کېدې او هېڅ حساب به یې معلوم نه و، اوس هغه وخت نه دی، اوس دم او قدم دواړه په حساب دي، ((مارشال)) صیب چې دفاع وزارت کې څومره حاضر او رسمي عسکر او صاحب منصب لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغومره معاش به حواله کېږي، د خپلسرو او پر کور ناستو ملېشو معاشونه باید له بل مدرکه تمویل شي!؟ د ریفورمېستو وزیرانو غټه گناه همدا ده، چې زورواکو وزیرانو سره د جوال خوله نه نیسي. د زورواکو واکمنو د پلویانو چغې او نارې سورې په همدې خاطر دي، چې هغوی ته ولې د پخوا په شان بې حسابه اوبې کتابه مال نه ور رسېږي، د خبرو ډېرو اوږدولو او شاربلو ته اړتیا نه شته، اشرف غني د یو دیموکرات وزیر په توگه د اساسي قانون په لویه جرگه کې ودرېد، د خپل کار او فعالیت راپور یې وړاندې کړ، دا د افغانستان په تاریخ کې د مالیې لومړی وزیر و، چې ولس ته یې حساب ورکړ او اوس یې خپله شخصي پانگه هم ثبت کړه، موږ له ټولو زورواکو او دیموکراتو وزیرانو څخه هیله کوو، چې د ښاغلي کرزي او اشرف غني په شان گامونه پورته کړي او خپلې پانگې ثبت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوړ مارکسېست د ګناه په نوي لباس کې

**دا لیکنه پر (۱۳۸۳ل) کال د قلموال جریدې په (۲) ګڼه کې خپره شوې ده.**

**د افغانستان پنځه زره کلن تاریخ په زبات رسولې، چې په دې هېواد کې مېشتو قومونو په خپلو منځو کې د ورونو په څېر ژوند کړی او کوي یې او د ټولو بهرنیو یرغلګرو په مقابل کې یې په مېړانه او یو موټي ډول مقابله کړې، هر وخت یې بهرنیان د خپلو مټو په زور په ګډه له دې هېواد څخه شړلي او تل یې په یووالي او وحدت کې ژوند تېر کړی، هېڅکله هم د قومونو تر منځ د ژبې او قوم په نوم جګړه نه ده**



**شوې، له یما څخه نیولې د سردار محمد داوود خان تر واکمنۍ پورې دا یووالی ښه ټینګ و. کله چې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه په دوره کې سیاسي ګوندونو ته د فعالیت اجازه ورکړل شوه او د افغانستان خلکو دیموکراتیک ګوند، چې پر سوسیالیستي نظریاتو متکي و او د وخت شوروي اتحاد له کمونیست ګوند یې فکري الهام اخیسته هم پر فعالیت پیل وکړ، روسانو د خپلې زړې پالیسۍ له مخې چې په منځنۍ اسیا کې یې ترسره کړې وه، د قومونو او ملت ترمنځ یې نوې د (ملیت) اصطلاح وکاروله او د منځنۍ اسیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونه  او ملتونه یې تر خپل جغ لاندې راوستل، غوښتل یې چې دا تجربه په افغانستان کې هم تکرار کړي، په شوونیستي او سمتي نظریاتو برابر اشخاص یې د طاهر بدخشي تر مشرۍ لاندې د افغانستان خلکو دیموکراتیک گوند کې وروزل. د طاهر بدخشي او ببرک کارمل تر مشرۍ لاندې د خلکو ډیموکراتیک  گوند کې یې ښکاره  پرچمیان، خو په باطن کې  ستمیان او افغان دښمنه عناصر وروزل او رشد یې ورته ورکړ، دا کسان پر لوړو دولتي  او گوندي پوستونو نصب شول، همدا ستمي ډله وه، چې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ د ړنگېدو او ملگرو ملتونو د سوله ییزپلان د شنډېدو باعث شوه او یو شمېر جهادي تنظیمي ډلو سره یې په گډه  ائتلاف جوړ کړ، په دې مشهورو ستمي څېرو کې  کولای شو د محبوب الله کوشاني، غلام سخي غیرت، نجم الدین کاویاني، فرید احمد مزدک، جنرال دوستم، جنرال مومن او نورو نومونه یاد کړو،عبدالطیف پدرام هم د دې کړۍ یو غړی دی، ښاغلی عبدالطیف پدرام  د افغانستان د خلکو دیموکراتیک گوند دخپرندوی ارگان ((حقیقت انقلاب ثور)) د مارکسیزم او لیننیزم د صفحې مسئول و، هغه  وخت ښاغلی عبدالطیف پدرام  د کمونیستي فکر ترڅنگ  په (ایران و فیل) مشهور ځکه و، چې  نوموړي هر وخت ایرانۍ لهجه کاروله او هېڅکله هم په خپلې افغاني دري نه غږېده، وروسته بیا پدرام  له یوشمېر جهادنما ستمیانو سره یوځای شو او کله چې  په شمال کې کمونېست پلوه ستمی (جنرال مومن) د خپلو نورو افغان ضد پخوانیو ملگرو له خوا ووژل شو، نو پدرام  د جنرال مومن د قطعاتو د سرپرست په توگه وټاکل شو او د استاد رباني له خوا په ډېرو مالي امتیازاتو ونازول شو، همدا وخت  پدرام پر یوه وخت هم د جنرال مومن د قطعاتو سرپرست قوماندان  او هم دکابل  پوهنتون د ژبو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیاتو پوهنځي د دري ځانګې د سهاري ټایم محصل و، چې پر یوه مهال دا دواړه وظیفې د قانون مخالف عمل و، خو پدرام هغه وخت هم له قانونه مستثنی و، د پدرام اخلاقي چلند او ټولنیز کړه وړه هغه وخت هم د دري ځانګې او نورو ځانګو پر استادانو چندان ښه نه لګېدل، پدرام لا درېیم ټولګی نه و بشپړ کړی، چې پر کابل دطالبانو سیلاب راخور شو، پدرام او ډېر نور پدرام خپل یې په مخه کړل، پدرام په بي بي سي راډیو کې د ظاهر طنین، ایراني باقر معین او په ایران کې د ده د خپلو پخوانیو روابطو او ایراني دوستانو په مرسته ایران او بیا فرانسې ته لاړ، درې ځلور کاله یې په فرانسه کې تېر کړل او د بي بي سي رادیو د منځنۍ اسیا خپرونه، چې د ایرانیانو اوظاهر طنین له خوا سمبالېږي، پدرام به ورته د صاحب نظر په نامه رابلل کېده، افغان ضد او افغانستان ضد افکار به یې خپرول. دطالبانو تر سقوط وروسته په مړژوانده ستمیانو کي یو ځل بیا ساه وغوړېد، او ځانونه یې کابل ته راورسول او دلته یې د دیموکراسۍ له اوسنۍ فضا څخه ناوړه ګټه پورته کړه، له افغان او افغانیت څخه انکار څه چې ان مخالف لوری یې غوره کړ، پدرام هم کابل ته راغی اوځان یې په ډېره سپین سترګۍ سره ان جمهوري ریاست ته کاندید کړ. عبدالطیف پدرام د افغان دښمنه عناصرو د لیکې په سر کې راځي، چې په ښکاره ډول یې د افغان او افغانیت پرضد لیکنې خپرې کړې، ځان ته افغان هم نه وایي او پر افغانیت شرمېږي، چې ښه مثال یې په ارمان ورځپاڼه کې دده هغه لیکنه ده، چې د جمهور رییس حامد کرزي په باب یې لیکلې ده، پدرام لیکي: د انتقالي دولت مشر حامد کرزي فرمان صادر کړی او حکم یې ورکړی چې د تابعیت په تذکرو کې دې د ملیتونو پر ځای یوازې افغان ولیکل شي، د پدرام په قول کرزی غواړي چې یوازې افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې د افغانستان د خلکو د ملي هویت په توګه پاتې شي، دا غلط عمل دی. خو زه له ښاغلي پدرام څخه پوښتنه کوم، چې ایا په نړۍ کې به داسې کوم هېواد وي، چې د هغو د تابعیت تذکرو یا نورو معتبرو اسنادو کې دې د ملت پرځای د قوم نوم لیکل شوی وي. ښاغلی لطیف پدرام همدا اوس د جمهوري ریاست د ګټنې لپاره په کمپاین کې افغان ضد خبرې او مرکې کوي او راتلونکي کې افغانستان لپاره د فدرالېزم نقشه او پروګرام لري، چې دا عمل یې د اساسي قانون خلاف کار دی. که چېرته پدرام بریالی شي او جمهور رییس هم شي(محال ده)، سره له دې چې اساسي قانون خو نه شي تغیرولای، خو دی بیا هم خپلې باتې وهي. پدرام صیب! افغانانو اوس ستا څېره ښه پېژندلې او ستاسو پر هر حرکت پوهېږي. افغانان پر دې پوهېږي، چې څوک افغان نه وي هغه ته ولې رایه ورکړي؟ د شرم خبره خو داده، چې تاسو جناب ځان ته افغان نه وایې بیا مو څنګه د افغانانو مشرتابه او د افغانستان لوړې څوکۍ جمهوري ریاست ته ځان کاندید کړی دی؟ که ضمیر دې ژوندی او خپل وي، نو کله چې یوازې شوې ځان سره سوچ وکړه، ایا په نړۍ کې به داسې ملت وي، چې خپل دښمن د خپل مشر په توګه وټاکي؟ ایا داسې امیر به هم وي چې ملت نه مني، خو د جمهوري ریاست مقام ته یې ځان کاندیدوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښاغلي قانوني ناقانونه کارونه

دا لیکنه پر (۱۳۸۳ل) کال د قلموال جریدې په (۲) گڼه کې خپره شوې ده.

د اوسنۍ انتقالي ادارې په کابینه کې دوه ډوله وزیران شامل دي: یو تنظیمي وزیران دي، چې د تنظیمي ملحوظاتو، سیاسي او نظامي فشارونو له امله یې په کابینه کې مهمې څوکۍ نیولي دي او بل ناتنظیمي



وزیران دي، چې اکثره یې د مسلک او پوهې پر بنسټ په کابینه کې شامل شوي دي. تنظیمي وزیران د خپلو څوکیو د اشغال او استحقاق لپاره د ((جهاد)) او ((مقاومت)) اصطلاحات د یوې مشروع کاري وسیلې په توگه کاروي او ناتنظیمي وزیران خپل مسلک او خپله پوهه د څوکیو د نیولو اصلي مجوز گڼي، خو په تنظیمي وزیرانو کې هم یو نیم وزیر داسې پیدا کېږي، چې دوی باید نور د تنظیمي گټو پر ځای ملي گټې وپالي. په تنظیم خېلو وزیرانو کې د سوداگرۍ وزیر ښاغلی مصطفی کاظمي تر نورو فعال دی او د پوهنې پخوانی وزیر ښاغلی یونس قانوني هم تر نورو فعال و، خو اوس راځو د قانوني صیب کار او فعالیت ته، چې دده ټول کارونه ښه او منظم وو که نه؟ قانونیت په کې مراعت شوی و که نه؟ معارف په ټول افغانستان کې متوازنه وده وکړه که نه؟ تنظیمي اوسیمه ییزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېوالتیا یې لرله که ملي او سراسري؟ دا ټولې هغه خبرې دي، چې د ښاغلي قانوني صیب فعالیت او شخصیت ته راجع کېږي. په افغانستان کې له بده مرغه نومونه او تخلصونه د اشخاصو له شخصیت سره منطبق نه دي، کله کله نومونه او تخلصونه مخالف لوري کې واقع کېږي، دیو چا تخلص به ((گړندی)) وي خو خپله به سست وي، دبل به ((دانش)) وي خو پوهه به نه لري، تخلص به یې ((عادل)) وي، خو خپله به ظالم وي، نوم به یې ((غیرت)) وي، خو خپله به غیرت نه لري، اوس قانوني صیب هم د نوم له مانیز پلوه له یو داسې حالت سره مخ دی. خپله قانوني دی، خو کارونه یې ناقانونه دي. څرنگه چې قانوني صیب اساساً یو سیاسي، نظامي او تنظیمي شخص دی، نو ددې ډول اشخاصو زیاته لېوالتیا له پوځي او سیاسي کارونو سره وي، نه له تعلیمي او روزنیزو چارو سره، کله چې د اضطراري لویې جرگې په پای کې قانوني صیب ته د پوهنې وزارت وړاندیز وشو، نو ده وویل چې دا نه منم، مانا دا وه چې دا وزارت دده په خوښه نه و، ده یا د کورنیوچارو وزارت او یا هم د جمهوري ریاست لومړی مرستیالي غوښتله، خو په هر ترتیب دا وزارت د قانوني صیب په نصیب شو، د وزارت د ځوکۍ تر اشغال وروسته، دده پر وخت د نړیوالې ټولنې په بې دریغه ملاتړ په سلگونو ښوونځي بیا ورغول شول، په سلگونو نوي جوړ شول او په لسگونو نور لا تر ده وروسته د جوړېدو او رغېدو په حال کې دي، دغه راز په ملیونونو ټوکه تعلیمي کتابونه چاپ شول او د ښوونکو په معاش او امتیازاتو کې نسبي ښه والی راغی، دې کې شک نه شته چې دې ټولو چارو کې ده هم مثبت رول درلود، خو ددې کار دروند بار د نړیوالې ټولنې په مرسته اوچت شو، خو که دا مهال د قانوني پر ځای بل هر څوک وای، نو دا کارونه به یې په دې ډول او یا هم تر دې په ښه کچه ترسره کړي وای. د ښاغلي قانوني صیب زیات وخت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر سیاسي مسایلو تېرېده، د وزارت مقام ته هم لکه د یو وزیر په شان نه ورته، د هغه حرکات د یو تنظیمي رهبر په شان و، نه د یو وزیر په شان، له همدې کبله یې خپل زیات صلاحیتونه خپلو رییسانو په تېره بیا خپل باوري تنظیمي ملګري ښاغلي اشراق حسیني ته ورسپارلي وو، کله چې ښاغلی قانوني له کورنیو چارو وزارت څخه د پوهنې وزارت ته تبدیل شو، نو له هغه ځایه یې یو شمېر نږدې ملګري په ګروپي ډول د ښوونې اوروزنې وزرات ته تبدیل او دلته یې یو شمېر پښتانه له کاره ګوښه کړل، تر هغه وروسته په دې لټه کې شو، چې د ښوونې او روزنې وزرات ټول نشرات او مکاتبه په دري ژبه ترسره شي. تعلیمي نصاب ته هم تنظیمي رنګ ورکړي او اکثره کتابونه هم په دري ژبه چاپ کړي. ویل کېږي، چې د نړیوالې ټولنې په لګښت یه یوه بهرني هېواد کې د افغانستان لپاره شپاړس نیم ملیونه ټوکه تعلیمي کتابونه چاپ شول، د پوهنې وزارت په غوښتنه دا کتابونه (۱۲) ملیونه ټوکه په دري او څلورنیم ملیونه ټوکه په پښتو چاپ شول، که له ښاغلي قانوني څخه سړی پوښتنه وکړي، چې ایا پښتانه په افغانستان کې همدومره دي، چې دوی ورته دا وېش کړی؟ که ښاغلی قانوني وایي چې یو زیات شمېر پښتانه ماشومان په دري ژبه درس لولي، نو دا خو بیا خبره تر بدو بتره شوه، ځکه چې د یونسکو د قانون له مخې هر څوک حق لري، چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي او د پوهنې وزارت مکلف دی، چې د هېواد ماشومانو ته ددې زمینه برابره کړي، چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي. که چېرې د پوهنې وزیر غوښتل چې په شعوري او ناشعوري ډول پښتانه مجبور کړي، چې په دري ژبه تعلیم وکړي، نو دا خو له تعصب نه ډک عمل دی او د نړیوالو اصولو او بشري حقوقو خلاف کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهنې وزارت  د پلان رییس ښاغلی(رحمتي) د ښوونځیو د سروې په باب  د سروې کارکوونکو ته قاطع حکم کوي، چې  ټولې پاڼې باید په دري ژبه ډکې شي ( حتی در مناطق پشتو زبان) وګورئ د فورمې ډول ته:

رهمنای (الف): دستورات خانه پری (تکمیل سازی) پرسشنامه سروی مکاتب وزارت معارف. تمام پرسشنامه باید به لسان دری خانه پری شود (حتی درمناطق پشتو زبان). تعریفات که بطورمعمول مورد استفاده قرار گرفته است، سطوح  تدریسی مختلف، ما چهار سطح تدریسی مختلف را مجزای نوعیت مکتب در این سروی در نظر گرفته ایم:

ابتدایی: صنف ۱ الی ٦

متوسطه: صنف ۷ الی ۹

لیسه: صنف ۹ الی ۱۲

عالی:صنف ۱۳ الی ١٤

د معارف اخبار چې د ټول افغانستان لپاره چاپېږي صرف ۸ کرښې (یو شعر) په کې پښتو دی او نور ټول اخبار په دری ژبه  چاپ شوی دی. دا په داسې حال کې ده، چې  د افغانستان په اساسي قانون کې پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي، خو د پوهنې وزیر او ددې وزارت نور چارواکي د قانون دا ماده  نه مني. د پوهنې  د پخواني  وزیر ښاغلي یونس قانوني او ددې وزارت  د نورو چارواکو  نشراتي پالیسي او دهغوی ذهني تګلوری د هغو له نشراتو ډېر ښه څرګندېږي، دا وزارت د (معارف) په نامه یوه اوونیزه چاپوي،  د (۱۳۸۳ل) کال د جوزا د (۳۱) نېټې ګڼه  به د بېلګې په ډول په پام کې ونیسو داګڼه (۱۲) مخه لري، په دولسو مخونوکې یوازې یو شعر پښتو دی، چې  د ټولې جریدې په سلو کې یوه برخه جوړوي، اوس له ښاغلي قانوني څخه پوښتنه کېږي، چې ایا دا کار قانوني دی که ناقانونه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا پښتانه په افغانستان کې له ژبني پلوه همدومره حق لري؟ د نشراتو تر څنګ د مکتبونو په بیا جوړونه او رغونه کې هم عدالت نه مراعتېده، څومره مکتبونه چې یوازې پروان ولایت ته منظور شوي او بیا رغول شوي، بل هېڅ ولایت ته دومره حق نه دی ورکړل شوی، دا کار په خپله د قانوني توپیري چلند په ګوته کوي، قانوني صیب لا اوس ځان د ټول افغانستان د مشرتابه لپاره نومولی دی، له ښاغلي قانوني څخه پوښتنه کېږي،تا چې په پوهنې وزارت کې عدالت تامین نه کړای شو، د ټول افغانستان په اداره کې به یې څنګه تامین کړې؟ افغان ملت به څنګه پرتا باور وکړي، چې ستا تېرو کارونو ته ګوري هرڅه ورته په خپله روښانېږي. که چېرې کوم بل وزیر داسې توپیري چلند کړی وای، نو قانوني صیب به ورته په څه نظر کتلي وای؟ دا کار به یې قانوني ګڼلای وای که ناقانونه؟. د دغو ټولو او نورو دلایلو له مخې سړی ویلای شي، چې د قانوني صیب په دربار کې هم یو زیات شمېر کارونه ناقانونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اساسي قانون په لويه جرگه کې يوه عجيبه شمېره

دا ليکنه پر (۱۳۸۳ل) کال د قلموال جريدې په (۲) گڼه کې خپره شوې ده.

سړی د خدای پاک حکمتونو ته حيرانېږي، په طبيعت کې يې څومره رازونه نغښتي، په الفاظو کې يې څومره ماناگانې تاوې کړي او په ارقامو کې يې څومره رازونه خوندي کړي دي، کله کله چې بنده د خدای (ج) په بې شانه نعمتونو شکر، و نه باسي او د هغه حکمتونو ته تسليم نه شي، په سر کې يې د استبداد او طغيان نشه په څپو شي، نو بيا لوی څښتن د خپل حکمت يوه شنگ ورته ورښيي او په هغه سره يې داسې ځنډ وهي، چې ټوله نشه يې له سره والوزي او عقل يې سرته راولي.

له يوه شخص څخه چا پوښتنه کړې وه، چې خدای (ج) په کومو قدرتونو پېژنې، هغه ورته وويل: د خدای (ج) د پېژندنې قدرتونه خو ډېر دي، خو يوه نښه يې داده، چې زه د يوه هدف لپاره پر لار روان يم يو دم مې په بله خوا تاو کړي، دغلته زه پوهېږم، يو څوک دی، چې ما د خپلې ارادې او نيت خلاف تاووي، دغه نه ليدونکی، خو احساسېدونکی ځواک لوی څښتن دی. دا متل مې اورېدلی((چې بد گرځي بد به پرځي)). دې کې شک نه شته چې د بد گرځېدلو صلاحيت خپله له شخص سره دی، خو د بد پرځولو ځواک له خدای(ج) سره دی، ما د لوی خدای(ج) د قدرت د لايتناهي رازونو يو راز په خپلو سترگو د اساسي قانون په لويه جرگه کې وليد، د اساسي قانون د لويې جرگې د ټولو غړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر (۵۰۰ ) تنه وو، خو دوه تنه د معلولینو او معیوبینو د حقوقو په پام کې نیولو سره د جمهور رییس د ځانګړي فرمان له مخې نور هم پرې زیات شول، مجموعاً (۵۰۲) تنه شول، د لویې جرګې هر وکیل ته ځانګړی پېژند کارت ورکړ شوی و، چې د وکیل نوم، ولایت، او دکارت پرله پسې نمبر پرې لیکل شوی و، د کارت نمبر، په تسلسل سره له یو نه پیل تر (۵۰۲) پورې رسېده، له لوی خدای (ج) پرته ددې کارت تر اخیستلو د مخه هېڅوک نه پوهېدل، چې دکارت نمبر به یې څو وي، کله چې لویه جرګه پیل شوه، نو هر چاته د خپلو کارتونو نومرې معلومې شوې، خو هېڅ وکیل د بل وکیل د کارت پر نمبر نه پوهېده، نه یې دې مسئلې سره چندان علاقه لرله او نه هم دا دومره مهمه مسئله وه، خو کله چې په لویه جرګه کې ځینو وکیلانو، په تېره بیا د نظار شورا څو وفادارو ملګرو لکه عبدالحفیظ منصور، شیرپاچا قیام، شیربهادر او واقف حکیمي په پرله پسې ډول د خبرو نوبت اخیسته، د ملي یووالي پرضد یې خبرې کولې او د جرګې اخلال یې هم کاوه، نو د جرګې د اکثرو برخه والو کرکه، غوصه او پاملرنه یې ځان ته راواړوله، یو وخت داسې راغی، چې د لویې جرګې د ځینو مادو د تعدیل په موخه د پېشنهادي ملاتړ لپاره باید غوښتونکو (۱۵۱) لاسلیکونه راټول کړي وای. د نظار شورا ډلې او پورتنیو یاد شویو اشخاصو نږدې څوارلس مادې د تعدیل لپاره پېشنهاد کړې، چې د اکثرو لپاره یې له (۱۵۵-۱۹۰) لاسلیکونه راټول کړي وو، دې اشخاصو هڅه کوله، چې د لاسلیکونو تر سرسري کتنې وروسته دې ژر تر ژره رایه اچونه ترسره شي ، خو د اساسي قانون د لویې جرګې د دارالانشا غړو ټینګار وکړ، چې موږ ټولې امضاګانې چک کوو او په دقت سره یې ګورو. د قانون له مخې هر شخص د هرې مادې لپاره یوازې یو ځل (د یو لاسلیک) حق درلود، کله چې د دارالانشا غړو د لاسلیکونو پر چک کولو پیل وکړ، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معلومه شوه، چې د نظار شورا غړو او پلویانو  د اکثرو مادو لپاره تکراري امضاګانې کړې دي،  لکه د ملي سرود تعدیل، د افغان پر ځای د ((افغانستاني)) لفظ راوړل، د پارلماني نظام غوښتنه او داسې نورې مادې... په تکراري او جعلي امضاګانو کې د ښاغلي عبدالحفیظ منصور،**



**شېربهادر، شیرپاچا قیام او واقف حکیمي تکراري امضاګانې  هم راووتې. د لاسلیکونو څرنګوالی په دې ډول و: د وکیل نوم، ولایت، د کارت شمېره، لاسلیک. د حفیظ منصور تکراري امضاګانو ته  د کتونکو پام هغه وخت راواوښت، چې دده د کارت نومرې ته یې پام شو.**

| نوم | ولایت | دکارت نمبر | لاسلیک |
| --- | --- | --- | --- |
| عبدالحفیظ منصور | کابل | ٤٢٠ | ٠ |

**څرنګه چې دا نومره (٤٢٠) ډېره بده مانا ښندي، نو د دارالانشا غړي دې تصادف او د خدای پاک دې حکمت ته هک پک حیران شول. ددې (٤٢٠) شمېرې له مخې یې د یوې مادې لپاره د ښاغلي عبدالحفیظ منصور څو تکراري امضاګانې  پیدا کړې، عجیبه خو داده چې  د ښاغلي منصور د نورو انډیوالانو  د کارت شمېرې هم  دې (٤٢٠) ته نږدې وې، د دارالانشاد یوه کارکوونکي په وینا، د لویې جرګې رییسه هیئت یو غړي، ښاغلی منصور راوغوښت او ورته یې وویل: ((ګوره  له یوې خوا تکراري امضاګانې کوې او داکار د داسې حساسو رایه اچونو  په شېبو کې یو جنایي، سیاسي جرم او د قانون خلاف کار دی او له بلې خوا مجلس اخلالوې! که تاسو بیا هم دې کار ته دوام ورکوئ، نو زه ستاسو دا تکراري جعلي امضاګانې له کارت نمبر سره یوځای د همدې لویې جرګې په تالار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اعلانوم، چې خلک جعلکاران او اخلالگر وپېژني.)) منصور تر هغې ورځې وروسته یو دوه ورځې په جرگه کې غلی و، خو وروسته یې بیا د اخلال هڅه کوله او داسې یې گڼله چې خبره نوره سړه شوه، کله چې منصور د خپل کارت پر نزاکت او د جرگې یو شمېر غړي دده د کارت پر واقعیت پوه شول، نو منصور به خپل کارت په غاړه کې سرچپه اچوه او سپینه خوا به یې ځړوله، د لویې جرگې یو شمېر غړي څو ځله د منصور مخې ته ورغلل، چې د هغه د کارت نومره ووېني، خو هغوی به یوازې د کارت سپینه خوا لیدله او منصور به د خپل شرم د پټونې لپاره همېشه کارت سرچپه اچوه، کله چې د نظار شورا د غړو امضاگانې اکثره جعلي او تکراري راووتې، نو اکثره هغه مادې چې دوی یې تعدیل غوښته د تعدیل لپاره له پېشنهادي متن څخه ووتې، نو ځکه د شمالټلوالې پلوي وکیلان پر خپل خپل ځای کېناستل، په رایه اچونه کې یې له گډون څخه ډډه وکړه او د جرگې د اخلال په لټه کې شول، دوی په دې پوه شول، چې د یوې مادې د تعدیل په باب د پېشنهادي ملاتړ لپاره (۱۵۱) لاسلیکونه نه شي پوره کولای، نو د تعدیل لپاره به له (۵۰۲) څخه په سلو کې (۵۰+۱) یانې (۲۵۲) رایې له کومه کړي؟ د لاسلیکونو د راټولولو کار ډېر اسانه و، ځکه چې چا څوک نه خفه کول، اکثرو وکیلانو یو بل ته لاسلیکونه کول خو رایه سخته او پټه وه، غوڅ اکثریت وکیلانو د نظارشورا ملت ضد نظریاتو ته رایه نه ورکوله، څرنگه چې دوی له پټې رایگیرۍ څخه وېرېدل، نو ځکه یې یو شمېر وکیلان په زور، تهدید او جبر کېنول چې رایه اچونه کې گډون ونه کړي، خو بیا هم اکثره وکیلان د رایو صندقونو ته لاړل او خپله رایه یې وکاروله. ټولې دنیا ته څرگنده شوه، چې څوک متشدد، څوک اخلالگر او څوک د افغانستان د ملي گټو پر ضد دي او څوک ملي وحدت او دافغانستان ملي گټو ته وفادار دي؟ هغه وخت داسې انگېرل کېدله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د نظار شورا ستمي گروپ او نور ملت ضد اشخاص به د قانون تر نفاذ وروسته قانون ته غاړه کېږدي او نور به افغان ضد تحرکات پرېږدي، خو اوس څرگنده شوه چې د قانون تر نفاذ وروسته هم دا اشخاص نه منطق مني او نه قانون ته غاړه ږدي. اوس ببرته خپلې اصلي خبرې ته راځم،چې خدای (ج) د کوم حکمت له مخې په (۵۰۲) کسانو کې عبدالحفیظ منصور ته (۴۲۰) نومره په برخه کړې وه؟ بېشکه چې لوی خدای(ج) پر خپل حکمت ښه پوهېږي. په لويه جرگه او تر هغې وروسته پېښو کې د خدای (ج) داحکمت ښه په ډاگه شو، چې د عبدالحفیظ منصور شخصیت په رښتیا هم له همدې نومرې(۴۲۰) سره سمون خوري. د لويې جرگې يو شمېر وکیلان او ځینې خبریالان د لویې جرگې په بهیر کې په دې راز خبر وو، په دې اړه يې د کوم مطلب د خپراوي هڅه ځکه نه کوله، چې د چا انساني کرامت ته زيان ونه رسېږي، خو څوک چې زموږ د ټول غیرتي افغان ملت پر وړاندې ودرېږي، ټول ملت او دهغه هويت ته سپکاوی کوي او د افغانستان جغرافیه نه مني، د افغانستان اوبه او دانه خوري او له همدې خاورې تغذيه کېږي، خو ځان افغان نه گڼي او په کور کې کورگيي جوړوي، پر داسې اشخاصو پرده خورول نور د ضمیر ځورول دي او بس، دا ليکنه مې ځکه وکړه چې لوی خدای(ج) راڅخه ناراضه نه شي او ونه وايي چې د يو جنجالیز شخص دشخصیت د تمثیل لپاره تاسو ته ما يو شفر، يوه خصوصي نومره، د راز په توگه درکړې وو، تاسو ولې دا شفر پرانیست او ولې مو دده له شخصیت سره منطبق نه کړ؟ په دې خاطر مې دا ليکنه وکړه، چې خدای(ج) او ملت راڅخه ناراضه نه شي او خپل ضمیر له ځورېدنې وژغورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اطلاعات او کلتور وزارت یوې لوحې ((احساسات)) را وپارول

دا لیکنه پر (۱۳۸٦ل) کال د قلموال جریدې په (۴)مه گڼه کې خپره شوې ده.

څو موده د مخه د اطلاعات او کلتور وزارت خپله یوه لوحه ولیکله، د لوحې متن دادی: ((د اطلاعات او فرهنگ وزارت)) دې کار د افغانستان د ستمیانو او یو شمېر متعصبینو احساسات راوپارول او د دې لوحې عکس یې په خپلو اخبارونو کې چاپ او




د اطلاعات او کلتور وزیر یې په دې جرم چې ولې یې لوحه په دري نه ده لیکلې، پر تعصب تورن کړ. د دوی په نظر په پښتو ژبه د یوې لوحې لیکل جرم دی، خو په دري ویاړ دی، ځکه که له پښتو لوحو څخه د دوی دا تعبیر نه وي، نو تردې دمخه چې د رهین صاحب د وزارت د تصدۍ پر مهال دا لوحه دري وه او ټکی پښتو په ټول وزارت کې نه وه، دوی ولې یوه ورځ رهین صاحب ته ونه ویل، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولې صاحبه دا بې انصافي کوې، ولې دې کې پښتو نه شته؟ اوس هم چې کله تاسو د اطلاعات او کلتور وزارت او همدارنگه د نورو اکثرو وزارتونو داخلي لوحې او مکاتب وگورئ، دوه سلنه هم په کې پښتو نه شته ایا د ((اقتدار ملي)) او ((هشت صبح)) خپرونو ژورنالیستانو کله هم د اساسي**




**قانون(١٦) مې مادې ته اشاره کړې، چې دا اته نوي سلنه بې انصافي ولې روانه ده، نو اوس به یې انتقاد ډېر پر ځای و، اوس راځو د همدې ښاغلو د انتقاد په هنداره کې موضوع را اخلو. د اساسي قانونو د (١٦) مې مادې له مخې ((پښتو اودري دواړه رسمي ژبې دي)) نو عدالت خو دا دی چې د دولت ټولې عمومي وړې او لویې لوحې دې په پښتو جمع دري او وروستۍ برخه په انگلیسي وي، ایا دا ښاغلي د قانون دغه عدالت ته تیار دي، که تیار وي، نو مهرباني دې وکړي د دغې لاندې لوحې له اصلاح څخه دې پیل کړي.**

**کله چې یې په ټولو وزارتونو او ادارو کې دا اصل او عدالت پرځای کړ بیا نو اطلاعاتو او کلتور وزارت هم له دې بهیر څخه مستثنی کېدلای نه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حکمتیار په تور او رباني په سپین لیست کې

دا لیکنه پر (۱۳۸٦ل) کال د قلموال جریدې په (۴)مه گڼه کې خپره شوې ده.

د زمانې څپېړه ډېره ظالمانه وي، سیاست هم اکثر وخت د عدالت مخالف وي، د خلکو قضاوت هم کله کله عادلانه نه وي ، همدا وجه ده چې د حالاتو په تاوجن بهیر کې څوک چې ډېر تور وي هغه ډېر سپین



شي او څوک چې ډېر سپین وي هغه ډېر تور شي، خاین په کې خدمتگار شي او خدمتگار په کې خاین شي، غل په کې اتل شي او اتل په کې غل معرفي شي، گناهکار په کې لکه سپینه کوتره بې گناه او بې گناه په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د مردارې کارغه گناهکار شي، په اکثرو وروسته پاتې شرقي او دغه راز نورو وروسته پاتې ټولنو کې دا عملیه تکرارېږي، خو زموږ په ټولنه کې بیا بېخي د ریاضي د فورمول په شان کټ مټ او بیا بیا تکرارېږي، چې یوه ذره هم خطایي نه کوي، موږ دلته ډېرو مثالونو پسې نه گرځو، دا ډول ډېرې بېلگې لرو، خو دلته به یوازې د ښاغلي حکمتیار او ښاغلي رباني پر کرکټرونو وغږېږو، چې څنگه د یوې لارې (اسلام) لارویان او د یو چلند خاوندان یو د تومتونو په دریاب کې ډوب شو او بل د امتیازاتو له مداره هېڅ نه وځي.

رباني او حکمتیار دواړه د مرحوم داود خان د واکمنۍ پر مهال له هېواده وتښتېدل او په پېښور کې د پاکستان د هغه وخت د حکومت په تېره بیا د نصیرالله بابر له خوا ونازول شول او وروزل شول، وروسته بیا احمد شاه مسعود هم ورسره یو ځای شو. دوی د پاکستان له خوا او د هغوی په لارښوونه په لغمان، پکتیا، پنجشیر او نورو سیمو کې د افغانستان د حکومت پر ضد بغاوتونه وکړل، خو څرنگه چې په ولس کې یې ریښه نه وه، نو وځپل شول او د ولس له خوا ورټل شول، دا ښاغلي بیا هم ډېر وخت د پاکستان د حکومت مېلمانه پاتې شول، څو چې د خلکیانو او پرچمیانو په خونړۍ کودتا کې د داود خان رژیم نسکور شو، ددې حکومت د بې شمېره ظلمونو په نتیجه کې ولس  وځورېد او ډېر زیات شمېر خلکو پاکستان ته پناه یوړه، دا وخت  نو د حکمتیار پکول او د رباني لنگۍ په غوړیو کې ولوېدل، د روسانو په یرغل سره نو ددې ښاغلو مړی لا غوړه شوه، حکمتیار په کې د (اسلامي حزب) او رباني په کې د (اسلامي جمعیت) لیډران شول او په لسگونو نورو (نه سړیو) نه په کې (سړي) جوړ شول. د افغانستان اکثرو خلکو ښه په نره د جهادي مشرانو  او د هغو د تنظیمونو ملاتړ وکړ، د جهاد کلونو کې هغه تنظیم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص یا ډلې چې د کابل د حکومت او شوروي لښکرو پر ضد یې تر نورو زیاته جګړه کوله، هغو ته زیات نظامي امکانات ورکول کېدل، نو ځکه خو د حکمتیار تنظیم ته د غرب له خوا تر نورو زیاته وسله ورکول کېدله، خو د جهاد همدا  ګرم کلونه وو، چې روسان پر خپل بري نا باوره شول،  نو هماغه و چې د جهاد په لیکو کې د اسلامي جمعیت له مشرانو سره اړیکي ټینګ کړل، دې سلسلې یې تر هغه دوام وکړ چې په پای کې د استاد رباني په ګډون یو شمېر جهادي مشرانو مسکو ته سفر وکړ، استاد له نورو پټ په یو ځانګړي ملاقات کې د روسیې د هغه وخت د ولسمشر



(بوریس یلتسین) دا ملاتړ او ډاډګېرنه تر لاسه کړل، چې د ډاکټر نجیب الله ځای ناستی به استاد رباني وي. په همدې وجه اسلامي جمعیت، نظار شورا او د دوی نورو ائیتلافي تنظیمونو د ملګرو ملتونو سیاسي پروسه سبوتاژ کړه او پر کابل، په زرګونو بې بند وباره ملېشې را خورې شوې، په کابل کې د لوټ او تالان یو داسې بې ساری بهیر خور شو، چې یوازې یو ځل یې تر دې دمخه تاریخ مثال لیدلی و، اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمعیت دې ایتلاف ته ((د اسلامي انقلاب)) او ((اسلامي دولت)) نوم ورکړ، حکمتیار د استاد رباني پخوانی رقیب چې په جهاد کې یې تر ده ونډه ځو ځله زیاته وه، ځان د کابل د واکمنۍ اصلي مستحق ګاڼه او د کابل پر خزانو یې یوازې د شمال ملېشو د ښامارانو واک نه شو زغملای، نو د اسلامي جمعیت او د دوی د نورو ائیتلافي ملېشو پر ضد پر جنګ اخته شو ، کابل د بېلابېلو تنظیمونو تر منځ ووېشل شو، هر تنظیم د کابل د دفاع په نامه ځان ته د جنګ مشروعیت ورکاوه، چا د تلویزیون پر تپه، چا د بالاحصار پر غونډۍ، چا پر اسمایي غره، چا د مرنجان پر غونډۍ او چا هم پر لارو کوځو په سلګونو توپونه او ټانکونه ځای پر ځای کړي وو، ټولو په ګډه کابل لوټې لوټې کړ، هر چا چې هر ځومره زور درلوده، هغه یې استعمال کړ، په نتیجه کې پنځه شپېته زره کابل ښاریان ووژل شول او اتیا زره کورونه ویجاړ شول، خو ((صدراعظم)) او ((جمهور رییس)) سره پخلا نه شول، کله چې د طالبانو تحریک د دوی تورو او سپینو ږیرو ته نږدې شو، نو ګلبدین حکمتیار او احمد شا مسعود د کابل په ماهیپر کې د ((انډیوالۍ)) او ملګرتوب یو تړون لاسلیک کړ او د دوی تر منځ په زرګونو شوي مړي یو بل ته وبښل شول، جمهور رییس او صدراعظم لا په کابل کې څه موده نه وه تېره کړې، چې جمهور رییس ، صدراعظم او ټوله شمال ټلواله طالبانو پسې واخیستل، د جمهور رییس مقام او ځوکۍ لکه د هوایي تخت په شان په هوا کې سیار شول. جمهور رییس به کله په کولاب، کله په اصفهان، کله هم په نورو ځایونو کې ګرځند و . صدر اعظم یې هم همدا ډول، مهاجر ولسمشر او فراري صدراعظم د مهاجرت او سیار حکومت په دوران کې هم سره جوړ پاتې نه شول. د احمد شاه مسعود تر وژنې وروسته طالبانو ته یوه اوونۍ په کار وه، چې د شمال ټلوالې ټغر له ټول افغانستان څخه ټول کړي، خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته د نیویارک پېښه رامنځته شوه، د نیویارک پېښه سره له دې چې د امریکا متحده ایالاتو ته ډېره وژونکې او دردوونکې وه، خو د اسلامي دولت رییس او ټولې شمال ټلوالې ته داسې وه لکه آب حیات او نوش دارو، چې د دوی په مړ ژواندي کالبوت کې یې یو دم ساه ور پو کړه.

استاد رباني د امریکا بمباریو ته دومره وارخطا و، چې همدا به یې ویل: (( غت غت بمونه واچوئ، دا واره دي تاثیر نه کوي.)) استاد رباني طالبان دومره سرسختي سرتېري بلل، چې اتوم ته له ورته بمونو پرته یې په وړو بمونو چاره نه کېدله. استاد او د هغه ډله یو ځل بیا واک ته




ورسول شول، خلکو داسې فکر کاوه، چې دا ځل به بیا دوی له خپلې تېرې نیم واکه واکمنۍ څخه ښه پند اخیستي وي،. غلا، لوټ او تالان به نه کوي او پر دولتي واکمنۍ به خېټه نه اچوي، خو د وخت په تېرېدو سره تجربو وښودله، چې د دوی فطرت نه دی بدل شوی. دا چې د دوی د پخوانیو مخالفینو (طالبانو) او (حکمتیار) مخه امریکایي ځواکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډب کړې ده او که نه دا محال وه چې اسلامي جمعیت دې په منتخب حکومت کې په نامنتخبه توګه دومره څوکۍ تر لاسه کړي، سره له دې چې په اوسني حکومت کې زیاتې څوکۍ د اسلامي جمعیت د تنظیم په لاس کې دي، خو استاد رباني او د هغه جمعیتي او ستمي انډیوالان یې بیا هم په دې قانع نه دي او ( میم زرما ټوله زما) غواړي. دوی داسې تصور کوي چې دوی دلته په خپل زور ناست دي، خو حقیقت دادی،**



**چې که بهرني قوتونه نه وي، نو استاد او د هغه د انډیوالانو ځای به بیا همغه شان او یا به تر هغو هم بدتر وي، چې د بهرنیو ځواکونو تر موجودیت دمخه و، عدالت خو دا و چې نړیوالو ځواکونو د حکمتیار تر څنګ رباني هم په تور لېست کې راوړی وای، ځکه چې که صدراعظم یې ګناهکار وي، نو جمهور رییس خو به یې طبعاً وي، همدا دواړه څېرې وې، چې د یو بل د مخالفتونو ، سازشونو او جنګونو له امله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې کابل ښار وران کړ او د دولت اډانه یې ویجاړه کړه، هغه توغندي چې حکمتیار پر درېیم مکروریان او مسلخ ویشتل او هغه توغندي چې د استاد رباني ډلې پر لومړي مکروریان، زمان خان کلا، شاه شهید او نور کابل ویشتل هېڅ تفاوت نه لري، د کابل ښار په ورانونه کې دوی دواړو، د دوی تنظیمونه او همدارنگه د د وی ائیتلافیان ټول خپله خپله ونډه لري، نو دا څنگه انصاف دی چې اوس دې یو د سولې سپینه کوتره شي او په سپین لېست کې دې ځای شي او بل دې تور کارغه شي او په تور لېست کې دې ولیکل شي. که دنیا ته هر څوک پر غلامۍ، چاپلوسۍ، جاسوسۍ ځان سپین کړي او یا ځان تور کړي، خو د افغانستان غمځپلي ولس ته ټول معلوم دي، چې څوک تور دی او څوک سپین ؟ څوک په تور کې سپین دي او څوک په سپین کې تور؟

نه ومه خبر پرده مې لږه غوندې جگه کړه
نـه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سه کشور فارسي زبان یانې څه؟

دا لیکنه هم پر (۱۳۸۲ل) کال د قلموال جریدې په (۴)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.

د افغانستان پر وړاندې د ایران د اوږدې ستراتیژۍ یوه برخه داده، چې افغانستان له ژبني او مذهبي پلوه ووېشي، له ژبني پلوه دوی د افغانستان ځینو ایران پلوه دري ژبو ته ایډیالوژي او پیسې ورکوي او له مذهبي پلوه د افغانستان د شیعه لړکیو بېلابېلې ایران پلوه ډلې تقویه کوي، دوی غواړي په افغانستان کې د شیعه او سني توپیر رامنځته کړي او د ایران د شیعه سیستم په شان دلته هم شیعه نظام ته لاره اواره کړي، ایران پر دې پوهېږي، چې په افغانستان کې د فارسي ژبو او شیعه نظام حاکمیت نا ممکن دی خو څرنګه چې دا ایران پلوه ډلې د ایران پر اقتصادي، سیاسي او ایډیالوژیکي مرستو ډډه لګوي، نو په افغانستان کې د بې اتفاقۍ په حالت کې، دوی مجبور دي په بشپړ ډول د ایران لمنې ته ولوېږي.

ایران اصلاً غواړي د افغانستان د هرات، مزارشریف، سمنګان، تخار او بدخشان له لارې دمنځنۍ اسیا له تاجکستان سره، له ژبني پلوه وصل شي، سره له دې چې د تاجکستان خلك او افغان تاجکان له مذهبي پلوه له ایران سره پیوستون نه لري، خو ایران دلته د ژبې او فرهنګ عنصر ډېر مطرح کوي او د هزاره لړکیو په برخه کې په لومړي ګام کې د مذهب او په دویم ګام کې د ژبې هماهنګۍ ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت ورکوي. په شیعه مذهب کې د یوې مرجع اطاعت او پلویتوب بل هغه عنصر دی، چې ایران غواړي په پای کې د افغانستان شیعه ګان د ځان تابع کړي. پورتني مسایل د ایران د پراختیا غوښتنې د سیاست یوه برخه ده.

د جهاد په کلونو کې لومړنی شخص چې د ایران په ژبنۍ دایره کې شامل شو، هغه د اسلامي جمعیت د تنظیم مشر برهان الدین رباني و چې ایران ته په یو سفر یې د فارسي ژبو هېوادونو د تصور محتوا تائید کړه او په هغه کې داخل شو، خو د افغانستان په سیاسي ساحه کې د اکثریت پښتنو او سني مذهبو د دودیز واك له امله د ایران د لاسوهنو چانس ډېر زیات نه و، د استاد رباني او احمدشاه مسعود د نیم واکه واکمنۍ پرمهال هم، ایران په دې بریالی نه شو چې د خپلو لاسوهنو په برخه کې ډېره زیاته عملي لاسته راوړنه ولري، خو کله چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له خوا د طالبانو سني مذهبه افراطي نظام ختم شو او ځای یې د درېو اقلیتونو ایران پلوه مشرانو او قومندانانو ونیو، نو د ایران لاسوهنه خولا څه چې د افغانستان په حکومت واك دومره زیات شو، چې د پخواني شوروي اتحاد د یرغل پرمهال د روسانو او د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د پاکستانیانو هم نه و. ایران په پیل کې په دې بریالی شو چې د افغانستان د حکومت پر حساسو څوکیو ایران پلوه اشخاص نصب کړي، مادي او معنوي امکانات ورته برابر کړي، نو دا ډول اشخاص اوس د افغانستان دملي ګټو پر ځای د ایران ګټو ته ډېره ترجیح ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران په تېرو پنځو کلونو کې پر دې هم بریالی شو، چې د شیخ محمد اصف محسني تر چتر لاندې، په کابل ښار کې د اهل تشیعه د روزنې یو ستر مرکز ( جامعه علمیه خاتم النبین) جوړ کړي، دا به داسې یو مرکز وي، چې نه یوازې د شیعه مذهب د تبلیغ او ترویج لپاره به کار کوي، بلکې د ایران فرهنګي، اقتصادي او سیاسي ګټې به هم تضمینوي. د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د شیعه مذهب رسمیت بله هغه مساله ده چې په افغانستان کې د ایران د پرمختګ مانا لري. د لومړي ځل لپاره شیعه ډلو ته د دولت د ریاست دویم معاونیت، دعدلیې وزارت او نور مهم وزارتونه د ایران لپاره هغه پرمختګونه دي چې په افغانستان کې د ایران مهمې لاسته راوړنې ګڼل کېدی شي. ایران هڅه کوي په مهمو ښارونو او ایران سره په هم سرحده سیمو کې د ځمکو د رانیولو او په هغه کې د شیعه ګانو د ځای پر ځای کولو له لارې د خپلې ستراتیژۍ د تطبیق لمن پراخه کړي، په هرات کې د یوه شیعه مذهبه والي تقرر او د نویو شیعه مېشتو ښارګوټو جوړول د ایران بله بریا ده. د ایران له خوا د افغاني شیعه ګانو په نامه د تلویزیوني چینلونو د فعالیت د جواز ترلاسه کول او په ایراني روحیه او مفکوره د هغو د نشراتو سمبالول د ایران بله کامیابي ده. په لومړي ګام کې د (تمدن)، (فردا) تلویزیونونو او په دویم ګام کې د (نور)، (نورین)، (طلوع) او نورو تلویزیونونو فعالیت ایراني فرهنګ ته د پراخ تبلیغ زمینه برابره کړې ده. سږکال د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د افغاني شیعه ګانو له خوا له ایران سره پر یوه ورځ د کوچني اختر د ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمانځل د ایران بله بریا ده. ځینې ایران پلوه افغان ژونالېستان او په اصطلاح لیکوال خو د ایرانۍ فارسي په تبلیغ او ترویج کې دومره هلې ځلې کوي، چې پر خپلې افغاني دري ژبې هم پښې رږدي. د ایران له سفارت سره د ځینو ایران پالو افغانانو همېشني مناسبات د ایران د پراخ نفوذ ښکارندويي کوي. ایران نه یوازې له خپلو اصلي سرچینو څخه په افغانستان کې د خپل نفوذ د پراخولو لپاره کار اخلي، بلکې له خپل پخواني دښمن ( طالبانو) څخه هم ګټه پورته کوي او د خپلو نورو لویو دښمنانو (امریکا) او په مجموع کې (غرب) پر ضد ترې ګټه اخلي.

څو موده دمخه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې په هرات کې د ایکو دغونډې په حاشیه کې به د دغه وزارت په وینا د ((فارسي ژبو هېوادونو)) د بهرنیو چارو د وزیرانو یوه ځانګړې ناسته هم ترسره شي، دا چې ایران یو ځل بیا د ( سه کشور فارسي زبان) مسله پورته کړې او د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت او په دولت کې یو شمېر ایران پلوه واکمن یې ملاتړ کوي، دا څه نوې خبره نه ده، د افغانستان پر (دري) ژبې د ایرانۍ (فارسي) یرغل د همدې لپاره و چې (دري) په (فارسي) کې ورکه کړي، کله چې په افغانستان کې د (پښتو) ژبې د څنګ ته کولو او د (دري) ژبې د هضمولو هیله پوره شوه، نو بیا خو د تاجکستان د تاجیکي یا دري ژبې د هضمولو زمینه په اسانۍ سره برابرېږي. نږدې لس کاله کېږي چې ایران تاجکستان ته د ژبې او فرهنګ د متخصصینو تر نامه لاندې په سلګونو ایرانیان وراستولي او هلته د ژبې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهب ترڅنګ پر لسګونو نورو ډول ډول اقتصادي، سياسي او استخباراتي فعاليتونو بوخت دي. د ايران د اوسني حرکت هدف دا دی چې د افغانستان او تاجکستان د دري ژبو په پيوستون سره د ايران تر رهبرۍ لاندې د لرغونې اريانا د جوړېدو خوبونه عملي کړي. د فارس د واکمنۍ تر چتر لاندې د اريانا د بيا احيا ذهنيت هغه وخت ډاګيز شو، چې د فارس دولت خپل نوم رسماً پر «ايران» بدل کړ او افغانستان هغه وخت د نړيوالې ټولنې له لارې ددې (نوم) مخالفت وکړ او ويې ويل چې له دې نوم څخه د پراختيا غوښتنې بوی راځي؛ د اريانا زياته خاوره اوسني افغانستان پورې مربوطه ده او فارس حق نه لري چې دا نوم ځان ته منحصر کړي. کله چې په افغانستان کې «د اريانا افغان هوايي شرکت» جوړ شو، نو ايران يې له پيله مخالفت وکړ او هڅه يې وکړه افغانستان ته د ډېرو مالي امتيازاتو په ورکړې سره ددې نوم امتياز له افغانستانه واخلي، خو افغان ملتپالو هېڅکله ورسره ونه منله، (د اريانا افغان هوايي شرکت) په کمزورۍ کې د نورو ګڼو عواملو ترڅنګ د ايران پلوه اشخاصو لاس هېڅکله ردېدلای نه شي. تېر کال په تاجکستان کې د ايران، تاجکستان او افغانستان د جمهورو رييسانو په درې اړخيزه غونډه کې «د فارسي ژبو هېوادونو» مسئله بيا مطرح شوه او په يوه نه يو ډول يا د هغوی په تعبير هڅه وشوه، چې افغانستان هم په دې ژبنۍ ټولواله کې راټاله کړي، خو څرنګه چې افغانستان اساساً يو فارسي ژبی هېواد نه دی نو همغه وخت هم دې مسلې سخت حساسيتونه راوپارول ، هلته «دفارسي ژبې د يو ګډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلويزيون)) مفکوره هم وړاندې شوه، تر هغې وروسته ايران ددې تلويزيون د جوړېدو لپاره عملي ګامونه واخيستل او په افغانستان کې يو شمېر ايرانپالي اوس ورته عملاً کمپاين کوي.

اوس چې په هرات کې ((د فارسي ژبو هېوادونو)) د ټلوالې د جوړېدو خبرې کېږي دا يو اوږد پسمنظر لري، په ايران کې د افغانستان د بهرنيو چارو د وزير (داکترسپنتا) پخوانۍ زده کړې او ايران ته د ده د کورنۍ ديوې غړې يا غړي انتساب، د هرات د پښتون مېشتي او تر زياته بريده د دري ژبي کړاى شوي ښار انتخاب او په افغانستان کې دنورو ستمي او ايران پالو اشخاصو موجوديت دا ټولې هڅې د يوې اوږدې ستراتيژۍ يوه کړۍ ده. ايا افغانستان ته دا ممکنه ده چې هر چا سره په ژبنۍ ټلواله کې راټاله شي؟ افغانستان کې ازبکان، ترکمنان، عربان، قرغزيان او نور ګڼ شمېر قومونه اوسېږي، سبا به يو څوك راجګېږي افغانستان به د ازبکي ژبې، ترکمني ژبې، قرغزي ژبې او عربي ژبې هېوادونو کې شاملوي؟ افغانستان کې نږدې (۲۰-۴۰) زره سکان او هندوان هم اوسېږي، ايا افغانستان به دهندي ژبو هېوادو په اتحاديه کې هم شاملېږي؟ په تاجکستان کې ګڼ شمېر ازبکان اوسېږي، تاجکان به د ازبك ژبو په اتحاديه کې هم شاملېږي؟ او همدارنګه ازبکستان کې تاجکان اوسېږي، هغوی به هم برعکس کار کوي؟ خپله په ايران کې کوردان، ازاريان، عربان، ترکان، بلوڅان او نور ګڼ شمېر قومونه اوسي، هر يو خپله بومي ژبه لري، ايا ايران حاضر دی، چې د عربي ژبې، ترکي ژبې او يا نورو ژبو په اتحاديه کې شامل شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا به هم بل هېواد ته اجازه ورکړي، چې د ايران د قومونو او د ايران فارسي هويت خپل هويت کې مدغم کړي؟ نو ايران په افغانستان کې په کومو سياسي اخلاقو او اصولو دا جرئت کوي چې دلته دا ډول يوه نامشروع او تفرقه اچوونکې هڅه کوي؟ او د افغانستان ((خودکش بيګانه پرور)) ايرانپالي د کوم معيار له مخې ځانته ددې حق ورکوي، چې د خپل هېواد خپل ملي هويت پرېږدي او د ژبې تر عنوان لاندې د ايران د غلامۍ په دايره کې ځان اچوي؟ خو ددې ټولو خبرو نتيجه داده، چې د امريکايانو او غربيانو دناسنجول شوې لاسوهنې له امله ايران اوس ددې وس پيدا کړی، چې هم په افغانستان کې د غرب ګټې تهديد کړي او هم د افغانستان ملي هويت وګواښي. په دې برخه کې د افغانستان د حکومت د يوه مخالف خبره په تول برابره ده، چې وايي ((امريکايانو افغانسان د ايران د ګټو د پراختيا او خونديتوب لپاره نيولی دی، نه د افغانستان د ملي ګټو د حفاظت لپاره)). که حالات همداسې روان وي او د افغانستان دولت او په مجموع کې هېوادپال افغانان د ايران د پراختيايي ستراتيژۍ په مقابل کې خپله ملي او دفاعي ستراتيژي جوړه او عملي نه کړي، نو دا وطن به پريو لوی مذهبي او ژبني جنګ اخته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د برېښنا وزیر او برېښنا ډوله ژمنې

دا لیکنه پر (۱۳۸۷ل) کال د قلموال جریدې په (۵)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.

موږ هم عجیبه خلك یو، ټول عمر کار د کار اهل ته سپارو! د لیك لوست کچه مو دومره لوړه شوې، دکابل هر هټیوال نه چې پوښتنه وکړه نو یا د ډاکترۍ ډیپلوم لري یا د ماسترۍ او که نه د لیسانس دپلوم خو ضرور لري، د پخوانیو مسلکي جنرالانو او ډګروالانو خو هېڅ کمی نه شته، په سیاسي او دیني برخه کې هم د خدای(ج) فضل دی، تر چا کم نه یو امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد، امیر صاحب اسمعیل خان او نور په لسګونو امیران او امارتونه لرو، د شیخانو، اخوندانو، حجت المسلمینو او استادانو خو هېڅ کمی نه شته، نو



بیا دا دنیا ولې دومره بې انصافي کوي، چې اکثره افغانان په نالوستو خلکو کې شمېري؟ خیر په هر ډول د دنیا کارونه د دنیا په خلکو پورې اړه لري چې څه وایي او څه کوي هغه یې خپل کار دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو موږ دلته د برق یا برېښنا له وزیر ښاغلي امیر صاحب ستر جنرال تورن اسمعیل خان سره سروکار لرو، هغه سره هم نه د کوم شخصي غرض له مخې، بلکې د یوه مجبوریت له امله،که چېرې ده ولس سره د برق په شان د برق د چټك راتګ ژمنه نه وای کړې، نو نه به زموږ دومره په برق پسې وزغېی کېدله او نه به دی بېچاره دومره پیکه کېده، اصلاً خبره دا وه، چې اسمعیل خان په هرات کې د نوې جوړونې او بیا رغونې په برخه کې ډېر شهرت ګټلی و، اکثرو خلکو داسې فکر کاوه چې دا نو د امیر صاحب کمالات دي، د ((امیرصاحب)) او ((ستر جنرال)) ویاړنې یې هم د همدې نیکو کارونو (!) له امله ګټلې وې، خو کله چې امیر صاحب له هراته راووت (( چلوصاف از اب برامد)) هر څه په ډاګه شول؛ اصلي خبره دا وه چې هلته په هرات کې امیرصاحب نه شرنګېده، بلکې ((همیانۍ)) شرنګېدله، امیر صاحب د هرات او په حقیقت کې د افغانستان پر خزانو پروت و، کله چې جنرال ملك، اسمعیل خان پر طالبانو وپلوره بیا هم هرات کې کار روان و، کله چې اسمعیل له زندانه وتښتېد، بیاهم هرات کې کار کېده، کله چې پر هرات د ((بعث بعدالموت)) په شان دویم ځل واکمن شو، بیا هم هرات بې کاره پاتې نه شو او کله چې په وچ زور له هراته وویستل شو او په کابل کې د بریښنا وزیر شو، اوس هم په هرات کې کار روان دی، نو دا خبره اوس ښه جوتېږي چې د هرات کار د هرات د پیسو محصول دی، نه ددغه او هغه امیر. هغه وخت چې چلتاری امیر (اسمعیل خان) د هرات واکمن نه و او پر ځای یې شهل او ساده ملا (یارمحمد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرات واکمن و هم په هرات کې تر ګرد افغانستانه زيات کار کېده، نو اوس خلکو ته ښه پته ولګېده، چې څوك بايد پردی، تورې په خپل نامه نه کړي او نه بايد څوك د بل چا وياړنه کوم بل چاته منسوب کړي.

اسمعيل خان چې کله له هراته راووت داسې شو لکه کب چې له اوبو راوباسې. دده هغه تېر وياړ و پرتم هېڅ ورپاتې نه شول. ده اول فکر کاوه چې دا هم د هرات د بندرونو بې حسابه او بې کتابه پيسې دي، نو اول راڅه خلکو ته وعده ورکړه چې په يوه مياشت کې به ټول کابل ته برق ورکړم، ده خيال کاوه چې برق هم لکه زموږ د سپين زږي ولس په شان دی؛ په دم وچوف غولېږي، ژر به يې د کابل هر کور ته راستون کړم، خبر نه و چې برق احساس او عواطف نه لري، بلکې د عقل، سنجش، پلان،کار او تفکر په ذريعه هر کور ته رسېدی شي، دده لومړی نوبت دا و، چې په کابل کې جنراتورونه نصب کړي، خو دې ته يې فکر نه و،چې جنراتور تېل خوري او تېل پيسې غواړي.که څه هم د ځينو شيخانو د سخاوت بوجی، راخلاصې شوې، خو داسمعيل خان جنراتورونو دومره تخنيکي مشکلات درلودل چې نه يوازې د تېلو سوال يې مشکل حل نه کړای شو، بلکې نورې ستونزې يې هم لرلې، څو موده خو د پيسو د نشتوالي پلمه هم وه، خو په پای کې معلومه شوه چې د اسمعيل خان د بې کفايتی، په وجه په سلګونو مليونه ډالر د مظلوم افغانستان له لاسه ووتل، امير صاحب ملت ته پر دې زيان او شرم هم بسنه ونه کړه، د برق ستېشنونو د جوړولو پر ځای يې د ((جبهو)) پر جوړولو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې کړ او یو ځل بیا د سمڅو له پخوانیو یارانو سره په نوي ستهایل او ډیزاین د تلویزیونو پر پردو راڅرګند شو. سره له دې چې اسمعیل خان د ژوند په کلونو کې د مبارزې ډېرې سړې تودې ولیدې، ډېر متضاد کارونه یې تر سره کړل، ډېرې مذهبي، پوځي او دولتي رتبې یې واخیستې، ستر جنرال شو، امیر شو، والي شو، وزیر شو او څه نه و چې نه شو، خو د ولس په ذهن کې د اسمعیل خان همغه اصلي تصویر او مقام دی چې ده تر دې پورته مصنوعي رتبو دمخه تر لاسه کړی و. له څو محدودو کسانو او ډلګیو پرته به هېڅوك هم اسمعیل خان ته "ستر جنرال" او یا "امیر" ونه وایي، اکثره خلك یې په ((تورن اسمعیل خان)) یادوي، (تورني) هغه پوځي رتبه وه چې اسمعیل خان تر سیاسي اړو دوړو دمخه په خپل لیاقت ترلاسه کړې وه، نو ځکه خو یې ولس په خپلې اصلي مانا او مفهوم یادوي، که دا نورې رتبې هم ورسره یادوي، نو (( تورن)) خو ورسره ضرور یادوي، ځکه چې تورن د ده د نامه او د ده ژوند او ماهیت یوه برخه ګرځېدلې، ډېر ځله مو په ورځنیو خبرو اترو او مرکو کې داسې هم اورېدلي چې: ((ستر جنرال تورن اسمعیل خان))، ((ستر جنرال تورن اسمعیل خان امیرعمومی حوزه جنوب غرب))، ((ستر جنرال تورن اسمعیل خان والی هرات و امیر عمومی حوزه جنوب غرب)) او داسې نور خو په دې ټولو پوړیو کې د ((تورن)) رتبه له نامه سره مل راتله، ولس یوازې د اسمعیل خان په باب دا قضاوت نه کوي، بلکې د ټولو هغو اشخاصو په باب یې قضاوت یو شان دی، چې په تصنعي او ناقانونه ډول داسې پوړیو ته رسېدلي دي. ولس د کندهار سرکاتب

(c) ketabton.com: The Digital Library



عطامحمد ته چې د اسلامي حزب د مشر ګلبدين حکمتيار له خوا ورته د ستر جنرال رتبه ورکړل شوې وه، هم دا ډول قضاوت کوي، په خبرونو کې به راتلل ((ستر جنرال سرکاتب عطامحمد)) او داسې نور سرکاتبان، معلمان، واليان او نور د ولس په ذهن کې هماغه خپله مانا لري. يو وخت طالبانو خپل يو نطاق ته د (پوهاند) رتبه ورکړه او د طالبانو سترې محکمې هم تائيد کړه، خو کله چې طالبان ړنګ شول نو نه نطاق و او نه د پوهاند رتبه. اوس راځو خپلې دې خبرې ته چې اسمعيل خان خپلو وعدو کې څومره چټک پرمختګ کړی دی، دی خو اوس د برق وزير دی، کارونه يې هم بايد د برق په شان سرعت ولري او که ددې سرعت امکان نه وي نو د برق په شان چټکې وعدې دې نه ورکوي، يو ځل اسمعيل خان اعلان کړی و چې دا ژمی به کابل ته برق راشي، هغه ژمی تېر شو، بل وخت يې نهه مياشتينۍ وعده ورکړه، هغه هم تېره شوه او دادی اوړی او بل ژمی هم را روان دی خو د برق څرک نه ښکاري، د راوي دې غاړه بنده وي، د برق وزارت په حواله چا ويل، چې کله دوی خلکو ته د برق د راتګ وعده ورکوله. نو د هجري شمسي او ميلادي کلونو د اړولو پر وخت د مهال يو څه تېروتنه شوې وه، خو دوی تر دې تېروتنې مخکې اعلان کړی و، د راوي په وينا ځکه نو هغه وخت اوس نه تلافي کېږي. اوس هم کله کله دا پلمه کېږي چې که (۲۵) مليونه ډالر نور پيدا نه شي، نو کابل ته به برېښنا پر خپل وخت رانه شي، نو سړی حيران شي کله چې خزانه له پيسو ډکه وي او بېرته درنه ځي، هلته نورې پلمې وي او کله چې نورې پلمې ختمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي بیا د پیسو پلمې وې، دا درسته ده چې ټول کارونه په پیسو کېږي او د ننګرهار د ادم خان ماما په وینا چې د رحمان بابا شعر یې په خپل تعبیر سم کړی او وایي:

چې پیســـې درسره نه وي ادم خانه
نه سړی یې نه سړیو کې حساب یې

خو د پیسو تر څنګ ډېر کارونه په سړیو هم کېږي، همدا سړي دي چې هم کارونو او هم پیسو پیدا کولو ته پلان جوړوي او سړیتوب یا انسانیت یوازې په پیسو کې هم نه دی نغښتی:

انسانیت پـه مــــال دولت نـه دی رحمانه
بت که جوړ کړې د سرو زرو انسان نه دی

له ښاغلي اسمعیل خان څخه زموږ هیله داده، چې د خدای(ج) شکر وکاږه، هم د زرو خاوند یې هم د زور، خو راځه د خپل هغه تېر شهرت او نامه په خاطر لکه د برق په شان په سرعت کار وکړه او دې وطن ته برق راوله، برقي مزي په سیاسي مزو پورې مه تړه، له دې او هغې جبهې نه ځان راوباسه او د برق په جبهه کې ځان شامل کړه، که د افغانستان هر کور ته دې رڼا راوسته، نو د هر کور د رڼا په هر ګروپ کې به ته ځلېږې او ستا نوم به یادېږي، اډیسن مړ دی خو ټوله نړۍ ورته دعا کوي، تاته که ټوله نړۍ دعا ونه کړي، نو ټول افغانان خو به درته دعا وکړي راځه پرسرونو امریت پرېږده، پر زړونو امریت وکړه، دردېدلو او کړېدلو زړونو ته رڼا راوله رڼا او دې تورتم وطن ته ځلا او ښکلا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوم او خسر په حکومت کې که تر حکومته بهر؟

**دا لیکنه پر(۱۳۸۷ل) کال د قلمول جریدې په (۵)مه گڼه کې چاپ شوې ده.**

زموږ هم عجیبه نظام دی، شپږ اوه کاله کېږي چې په رانازل شوې دیموکراسۍ کې ژوند کوو، خو پوه نه شو چې دیموکراسي څه ته وايي؟ حکومت څه شی دی، مخالف څوك دی، حاکم څوك دی؟





محکوم څوك دی؟ میا څوك دی؟ ملا څوك دی؟ طالب څوك دی؟ خپل څوك دی او پردی څوك دی؟ دیموکرات څوك دی؟ زورواك څوك دی؟ ټوپکوال څوك دی؟ او قلموال څوك دی؟ مجاهد څوك دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ملحد څوک دی؟ ما په خپلو دې ګناه کارو سترګو داسې خلك ليدلي، چې يو وخت يې د اسلام دومره جوغه پر سر ولاړه وه چې ديموكراسي خو څه كړې چې ملتپالنه ورته شين كفر ښكارېده، بيا داسې وخت راغی چې همدوی د قومپالنې او ديموكراسۍ بيرغ پورته كړ، په ټولنيزو او علمي چارو څه چې په عادي ژوندانه كې يې د ښځو ونډه نه شوه زغملای، خو اوس چې ګورې د مارچ اتمه او د ښځو د مناسبونو نورې ورځې ددې ډول اشخاصو په ويناوو پرانيستل كېږي، دا ډول اشخاص په ټولنه كې د ګوتو په شمار نه، بلكې د حساب د ماشين په شمار دي او غټه بې شرمي خو لا داده، چې يوه خبره يې توره وي، بله سپينه، يوه ورځ يوه خبره كوي، بله ورځ بله، كه چېرې ددې ډول اشخاصو او سياستوالو د خبرو ارشيف راواخلئ او خپله يې ورته مخې ته كېږدې، نو كه سړي كې لږ هم د سړيتوب احساس وي، نو ځان ته به لاړې تو كړي، خير دا ډول اشخاص چې هر څومره راسپړو خبره تر شمار تېرېږي خو راځئ چې يوه بله نمونه دروښيو: ښاغلی پروفيسور برهان الدين رباني د بدخشان د خلكو استازی! او پخوانی جمهور رييس!. د استاد د سياسي اطلاعاتو قاموس يا غياث الغات ته به لږ تم شو: كله په حكومت كې شي، كله مخالف شي، كله منځګړی شي، كله بهرني ځواكونه دعوت كړي، كله وايي پر طالبانو " غت غت بمونه واچوئ دا واره دي" كله وايي طالبانو سره بايد مذاكره وشي او كله وايي كه طالبان د كابل دروازو ته راورسېږي موږ به پرې ډز ونه كړو، كله وايي حكومت بې كفايته دی بايد اصلاحات په كې راشي كله دا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله دا، په سلګونو ډوله پارا ډاکس یا متضادې خبرې، کله چې ځوك د استاد دې خبرو ته ځیر شي، نو د هغه په هکله به څه قضاوت وکړي؟ که د ټولنې یو عادي سړی له سادګۍ او کوم لیکوال د هنري کیفیت لپاره پارا ډکس خبرې کوي، نو هغو څخه خو ګیله ځکه نه ده په کار چې یو نه پوهېږي او د بل هنري ضرورت دی، نو یو ځوك چې استاد وي، جهادي مشر وي، د یو ولایت د خلکو وکیل وي او جمهور رییس! تېر شوی وي، هغه ته متضادې خبرې کول څه مانا لري؟ د هغه شخصیت ته څومره ګوابنونه پېښولای شي؟ موږ دلته نه غواړو د استاد پر ټولو متضادو خبرو او عملونو کتنه وکړو؛ غواړو یوازې دده د ملي جبهې او په اصطلاح اپوزېشن په باب لنډ بحث وکړو: کله کله په رسنیو کې راځي چې ((ملي جبهه)) د حکومت مخالف لوری یا اپوزېشن دی. خو کله چې په عمل کې ګورو، خپله ملي جبهه یا د استاد رباني اسلامي جمعیت په حکومت کې تر هر چا زیاته ونډه لري. د ساري په توګه لومړی معاون، د کورنیو چارو وزیر، د دفاع وزارت لوی درستیز، د ملي امنیت رییس، د اوبو او برښنا وزیر، د افغانستان بانك رییس او په سلګونو څه چې په زرګونو لوی او واړه پوستونه ټول د اسلامي جمعیت په لاس کې دي. د افغانستان څه چې د نړۍ په تاریخ کې هېڅ ګوند چې په انتخاباتو کې یې ماتې خوړلې وي، په حکومت کې دومره ونډه نه لري، لکه اسلامي جمعیت یې چې په فعلي حکومت کې لري. دا تنظیم عملاً د جمهوري ریاست په ټاکنو کې د جمهور رییس حامدکرزي په مقابل کې ولاړ و، خو تر انتخاباتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تر بل هر مستحق او نا مستحق سیاسي ګوند او قشر څخه زیاتې څوکۍ لري، خو بیا هم د حکومت پر وړاندې ستونزې جوړوي او پر دې امتیاز هم قانع نه دی، دوی بیا هم حکومت په بې کفایتۍ تورنوي او وایي چې د سیاسي ګوندونو او خلکو غوښتنو ته غوږ نه ږدي. که حکومت په دې ګرم وي چې د خلکو غوښتنو ته غوږ نه



ږدي دا درسته خبره ده، ځکه د خلکو یوه غوښتنه دا ده چې د اسلامي جمعیت د جګړه مارانو په ګډون دې ټول هېواد پلورونکي او کابل ورانوونکي د حکومت له پوستونو ګوښه کړای شي، په همدې وجه خو خلکو خپله رایه له دې ډلو څخه د یوه نفرت په توګه حامدکرزي ته ورکړه، خو ښاغلي کرزي بیا همغه ډلې په قدرت کې شریکې کړې چې خلك ترې تر پوزې راغلي وو، خو د ((حکومت بې کفایتۍ)) څخه د استاد رباني او اسلامي جمعیت تعبیر یوازې حامدکرزی دی، نه د هغه قدرمن او کارپوه مرستیالان او یا هم نور ښاغلي وزیران! که چېرې د استاد رباني انتقاد واقعاً پر عدالت ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای نو لومړی یې باید پر خپل زوم (لومړي مرستیال) انتقاد کړی وای چې ددې ځوکۍ وړتیا نه لرې، د ولس پر حق غاړه بندوې، یوه مستحق ته یې پرېږده، بیا یې نو که پر حامدکرزي هر ډول انتقاد کړی وای خلکو به ورته هرکلی ویلی وای، ایا خپل بل قومندان امیرصاحب تورن اسمعیل خان ته متوجه شوی چې د خپلې بې کفایتۍ له وجې یې په سلګونو ملیونه ډالر بېرته نړیوالې خزانې ته لاړل؟ ایا کله یې هم د ملي امنیت پر رییس، کورنیو چارو وزیر (ضرار احمد) او یا هم نورو اړوند جمعیتي وزیرانو کومه نیوکه کړې چې ولې مو په کارو کې نیمګړتیاوې دي، ایا استاد کله دې ته هم متوجه شوی چې یوه ګوته نورو او څلور ځانته را اوړي، کله یې هم خپله ګرځنده یا موبایل پاچاهي د کرزي له حاکمیت سره پرتله کړې. ایا دېته هم متوجه شوی چې د ګلبدین حکمتیار له اسلامي حزب او د عبدالعلي مزاري له اسلامي وحدت ګوند سره د ده د پاچاهۍ بریدونه پل محمودخان او دهمزنګ و!

ایا دې ته یې هم پام کړی، چې دده په پاچاهۍ کې په ټول افغانستان کې یو کیلو متر سړك هم نه دی جوړ شوی او ورانی تر حساب تېر و. نو قدرمن استاده! استادي، او پاچاهي په حساب او په کتاب ده، د افغانستان خلك غریب دي خو داسې هم نه دي چې چا پسې حساب و کتاب نه شي نیولای، تاسو خپله خپل ځان سره قضاوت وکړئ، ایا د خپل حاکمیت پر وخت مو دومره واك و، چې اوس یې لرئ! ایا په اوونۍ کې یو ځل یا دوه ځله تاسو اوسني جمهور رییس سره نه ګورئ او د هېواد په هر کار کې ستاسو مشوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه اخلي؟ ایا کوم جمعیتی ستاسو له اجازې پرته له کومې دولتي څوکۍ لرې شوی او که لرې شوی هم دی بل ځای نه دی مقرر شوی؟ څه کېږي که تاته (اوسنی) جمهور رییس ونه ویل شي پخوانی جمهور رییس درته وویل شي؟ ښه به دا وي چې د حکومت مشکلات او نمیګړتیاوې په خپل کور کې له خپل زوم سره حل کړئ او که هغه یې د حل وس نه لري نو حامدکرزي سره خو ستاسو کتل دومره اسان دي لکه له ستوني چې اوبه تېروې. خو یوې خبرې ته باید دقیق پام وکړې چې نور نو د داسې امتیازونو هیله مه کوه چې هم په حکومت کې یې او هم ځان له ملامتیه ژغورې او په اصطلاح د اپوزېشن امتیاز اخلې. د اپوزېشن امتیاز باید ولس واخلي، ځکه چې ملت په حکومت کې له خپل حق او امتیاز څخه بې برخې شوی، نه (اسلامي جمعیت)، اسلامي جمعیت ته په دې ورکړي امتیاز کبر مه کوئ ځکه چې تاسو خو تر ټولو ښه پوهېږئ چې کبر اخر زوال لري زوال!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((کوچي گري)) څه ته وایي؟

دا لیکنه پر ( ۱۳۸۷ل) کال د قلموال جریدې په (۵)مه
گڼه کې خپره شوې ده.

له هغې ورځې چې د کوچیانو د ملکیتونو او دودیزو څړځایونو پر سر د کوچیانو او یو شمېر سیاسي شویو هزاره گانو ترمنځ په بهسودو او نورو سیمو کې څه ستونزې پیدا شوي، نو یو شمېر بهرنیو او په هغو پورې تړلیو کورنیو کړیو دې مسلې ته ډېره لمن وهلې ده، یوې حقوقي مسلې ته یې سیاسي رنگ ورکړی او گڼ شمېر افغان ضد او هېواد ضد خپرونو پر دې مسئلې په یو اړخیز ډول خپلې پاڼې دومره لړلي چې د ژورنالیزم اصول یې هم تر پښو لاندې کړي دي، د هېواد کوچیانو ته یې سپکې او سپورې کارولي او یوه نوې اصطلاح (کوچي گري) چې د سیاسي غرضونو بوی ترې له ورایه ښکاري د کوچیانو لپاره کارولې. ما د افغانانو د یوه لوی خصوصیت ( زغم او تحمل) له مخې تر ډېره وخته ځان غلی کړ، چې د "کوچي گري" انډول اصطلاح ونه کاروم، خو دا چې تر دې عنوان یا اصطلاح لاندې د سلو په شاوخوا کې بېلابېلې غرضي لیکنې په ((ملي ارمان، ۸ صبح، افغانستان، راه نجات، چراغ، جامعه، اقتدار ملي)) او نورو چاپي خپرونو کې چاپ شوې او د مقابلې خوا یوه لیکنه هم په دې خپرونو کې خپره نه شوه، نو هلته مو ړ ته د ازادو خپرونو(!) عدالت او قضاوت (!) لا ښه څرگند شو. زه پر دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم چې که دې ډول اشخاصو او یا ډلو ته د (کوچي ګري) په مقابل کې ورته اصطلاح (هزاره ګري) وکارول شي، نو زموږ ځینې ایرانپالي دولتي چارواکي، درباري غوړه مالان، ایران ملاتړې خپرونې، د ایران په ملاتړ جوړ شوي اته ګوني ګوندونه، د شمالي ټلوالې یا اوسنۍ ملي جبهې او افغانستان ضد نور عناصر په دې اصطلاح څومره وچولی تریو کړي، کله کله سړی مجبورېږي ددې ډول اشخاصو پر وړاندې غبرګون وښیي، خوکه د داسې یوه حقیقت په بیان سره ځینې تصنعي او لاسپوڅې څېرې خوابدې کېږي، خوابدې دې شي.



حقیقت دادی چې له سلګونو کلونو راهیسې کوچیان د افغانستان په ګوټ ګوټ کې همدا کوچیان وو او ګرځند ژوند یې درلود، د افغانستان د غرو له لمنو، دښتو او خپلو مشخصو څړځایونو څخه یې ګټه پورته کوله او هېڅ داسې کومه ستونزه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي رنګ دې واخلي، نه ده رامنځته شوې، که کله هم یو نیم ځل له کلیوالو استوګنو خلکو سره څه ستونزې پیدا شوي، هغه هم د حکومتي چارواکو او قومي جرګو له لارې اوارې شوي او دا ستونزې دومره حدته نه دي رسېدلي، چې د ځايي یا کلیوالي خلکو تر خپلمنځي ستونزو دې ډېرې اوچتې وي، یانې ستونزو اکثره شخصي رنګ درلود ، نه په دې اوسنۍ بڼه چې ستونزه په بامیانو یا بهسودو کې وي او مظاهره ورته په کابل کې کېږي. ټول خلك پر دې پوهېږي چې د کابل د مظاهرو مصارف څوك ورکوي؟ هماغه بهرنۍ کړۍ چې په کابل کې د عاشورا د ورځې د نمانځنې لپاره د تورو ټوټو او تورو دروازو لګښتونه پرې کوي، د همغو کړیو استازي د دا ډول مظاهرو لګښتونه هم پرې کوي، همغه کړۍ په دې مسله کې ډېره لېوالتیا لري، چې په کورونو، مدرسو او ګوندي دفترونو کې يې د (حیات الله خمیني) تصویرونه بند دي، هماغه کړۍ دې مسلې ته لمن وهي.




د افغانستان د اساسي قانون له مخې هر افغان د افغانستان په هر ګوټ کې د اوسېدو کار او دندې حق لري، نو اوس که د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې خلك راپاڅي او د بلې سیمې خلکو ته ووایي چې پر دې سیمه او لاره مه تېرېږئ او دلته کار مه کوئ، ځکه دا زموږ سیمه ده، نو دا خو به په افغانستان کې ژوند په ټپه ودروي. که چېرې کوچیانو د هزاره ګانو او یا نورو ځایي خلکو پر شخصي ملکیت تېری کړی وي، نو دوی حق لري چې محکمې ته عارض شي او که چېرې کوچیان له خپلو معمولو څرځایونو او خپلو ملکیتونو ګټه پورته کوي، نو بیا دوی په کومو دلایلو د دوی حق سلبوي؟ افغانستان کې د وروستۍ تصنعي دموکراسۍ یوه نیمګړتیا داده چې ملامت او نا ملامت په کې نه معلومېږي، همغه څوك چې ډېر ظالم دی، هغه د مظلومیت تر ټولو ډېرې چغې وهي، تر کاروانی د غله چغه ډېره اوچته ده، هغه څوك چې په پردیو پیسو خپلې خپرونې چلوي، هغوی کولای شي د خپلې ګناه پېټی پر نورو واچوي، کوچیان د افغانستان هغه مظلوم خلك دي چې هم پرې ظلم کېږي او هم یې څوك فریاد ته نه پرېږدي، د ایران له خوا تمویلېدونکې رسنۍ ددې توان لري چې ظالم د مظلوم او مظلوم د ظالم په توګه منعکس کړي، کوچیان بېچارګان طبعاً په خپلو تولیداتو ددې وس نه لري چې د ایران له تېلو څخه د راڅخېدونکو پیسو په زورله چاپي او تصویري رسنیو سره مقابله وکړي، خوحقیقت حقیقت دی او یوه ورځ به دا حقیقت پر واقعیت بدلېږي او ځان به ښیي.

اوس راځو دې تېرو څو کلونو او دې دوو اصطلاحګانو ته، چې افغانستان کې کوچي ګري شوې که هزاره ګري؟ ایا کریم خلیلي له خپل دولتي زور څخه نا مشروع ګټه نه ده پورته کړې او خپل ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي نبي ته يې تر دوه زره جريبو زياته ځمکه د کابل په غرب کې نه ده توزيع کړې؟ ايا کريم خليلي د خپل معاونيت په تصدۍ کې د کوم بل افغان عرضپاڼه هم جمهور رييس ته وړاندې کړې؟ ايا پر ګڼو افغانانو په تېرو کلونو کې ظلم نه دی شوی؟ کريم خليلي د کوم ظلم او توهين د رد په خاطر د مظاهرې ميدان ته وتی، خو چې کله د ((کابل اکسپريس)) فلم کومه صحنه کې هزاره ګانو ته توهين شوی، د کريم خليلي، سيماسمر، محقق او نورو په ګډون ټول دولتي او نا دولتي چارواکي په مظاهره کې ګډون کوي ايا دوی له خپلو دولتي مقامونو څخه د مذهبي او قومي تمايلاتو لپاره ناوړه توګه ګټه نه ده اخيستې؟ شيخ محمد اصف محسني د "خاتم النبين" په نوم مدرسې ته شل جريبه دولتي ځمکه نه ده نيولې؟ ټول پر دې پوهېږي، چې ددې مدرسې د جوړېدو پيسې چا ورکړې او څوك يې ورکوي او د کوم مقصد لپاره جوړه شوې؟ ايا د افغانستان په هرات کې همدا اوس د انوري په دولتي زور ګڼ، شمېر هزاره ګانو ته ځمکې نه ورکول کېږي؟ او ګڼ شمېر ښارګوټي او نورې سيمې د خليلي، محقق، انوري او نورو په زور يوازې د همدې د يو قوم افرادو ته نه وېشل کېږي؟ ايا د اسلامي وحدت ګوند او يا هم د محقق " حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان" کې له شيعه هزاره ګانو پرته د بل قوم يا بل اسلامي مذهب افراد غړيتوب لري؟ که دې پوښتنو ته واقعاً سم ځوابونه ووايو، نو بيا په پوره باور ويلای شو چې په افغانستان کې ((کوچي ګري)) شروع نه ده، بلکې ((هزاره ګري)) شروع ده. که کوچيانو په دولت کې د کريم خليلي، محقق،

(c) ketabton.com: The Digital Library



انوري، سیما سمر، محسني او نورو په شان کسان لرلای او ددې ترڅنګ د ایراني ښامار په شان یو څوك چې د (توري طلا) خزانې یې تر خېټې لاندې وي، ملاتړی لرلای بیا چا ورته د ((کوچي ګري)) اصطلاح نه شوه کارولای، نه یې هم چا پر حقه حقوقو خېټه اچولای شوه او نه چا دا مسئله داسې تر پارلمان پورې غځولای شوه، چې د



نظار شورا تبر ته لاستی برابر کړي. نظار شورا د افغانستان د وروڼو قومونو ترمنځ پخوا هم د ډېرو ستونزو د پیداکولو هڅه کړې بیا هم دې هڅو ته دوام ورکوي. اوس چې د ولسي جرګې د تقنین کمېسیون د اسلامي جمعیت - نظار شورا په لاس کې دی، ښاغلی برهان الدین رباني یې مشر او عملي واك یې له ښاغلي صالح محمد ریګستاني سره دی، دوی غواړي د افغانستان بېلابېل وګړي په خپلو منځو کې وجنګوي. تر څو چې دا کمېسیون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



متعصبو سیمه پالو، قومپالو او تنظیمپالو له انحصار څخه خلاص نه شي، دوی به له دې کمېسیون څخه ډېر ځله په هېواد کې د ملي تفرقې د رامنځته کولو او د خپل خوښې قوانینو د جوړولو لپاره ګټه پورته کړي. د اسلامی وحدت ګوند پر ضد د نظار شورا او اسلامي جمعیت جنګونه موږ پخوا هم په افشارو ، درېیمه کارته، چنداول او نورو سیمو کې لیدلي او له هزاره ګانو سره د دوی د ((دوستۍ)) ډېر ښه تمثیل اوس د تاریخ د حافظې یوه برخه ده. دکوچیانو پر وړاندې دا اوسنی نا عادلانه چلند او دا سیاسي او لفظي جنګونه هم د همغې لړۍ یو دوام دی. نو که څوك غواړي په افغانستان کې واقعاً عدالت تامین شي باید د ټولو افغانانو ترمنځ د ورورۍ پر اصل ټینګار وکړي، خپل سیاسي عیبونه د قومونو تر شا پټ نه کړي او قوم د یوې سیاسي وسیلې په توګه ونه کاروي او نه کوم قوم، سیمې او فرد ته نامناسبې اصطلاحګانې وکاروي، که نه خو هر عمل عکس العمل لري او د هرې اصطلاح ځواب یوه بله اصطلاح کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((مارشال)) او بیت المال

**دا لیکنه هم د (۱۳۸۷ل) کال د قلموال جریدې په (۵)مه گڼه کې چاپ شوې ده.**

په نورو هېوادونو کې هر څوك چې کومې لوړې پوړۍ ته رسېدلې وي، نو هېواد ته یې د خدمت نښې نښانې ځرگندې وي، خو زموږ هېواد کې ځینې داسې اشخاص شته، چې د مجازاتو پر ځای مکافات ورکول کېږي او ځینې بیا چې باید مکافات ورکړل شي، مجازات کېږي، رښتیا هم د استاد الفت په وینا چې" موږ خپل خدمتگاران نه پېژنو خو باداران ښه پېژنو". نن



په داسې حال کې چې زموږ خلك له لوږې او فقر څخه کړېږي، خو ځینې کسان بیا په حکومت او تر حکومته بهر داسې هم شته چې د پیسو او پانگې شمېر یې تر حساب او کتاب تېر دی، پرون یې هېڅ نه لرل، خو نن هر څه لري او چاته ددې مجال هم نه ورکوي چې پوښتنه ترې وکړي چې دادې له کومه کړل؟ د نامشروع پانگې لپاره ځینو یو فورمول کشف کړی: "جهاد او مقاومت". د جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره خو واضح ده چې ټول ملت جهاد کړی او که چا په جهاد کې د جهاد له پانګې یا پیسو سپما کړې او یا یې پټې کړې وي، نو له دې څخه خو ښه ښکاري چې دې خلکو اصلاً جهاد نه دی کړی، د جهاد دپیسو غلا خو لا ښخي لوی جرم دی او دویمه دا چې ایا د جهاد پیسې ددې لپاره وې چې څوک پرې ځان ته لوړې ماڼۍ جوړې کړي او د خپل عیش او عشرت ځایونه، که نه پاتې پیسې باید د د کونډو و رنډو او د جهاد د یتیمانو د ټپونو پر درملو ولګول شي. بله خبره د "مقاومت" ده پر هغې ځکه بحث نه کوو چې دا د کابل ورانې او خپل منځي جګړو له ګناه څخه یوازې د اسلامي جمعیت او نظار شورا د خلاصون او برائت یو فورمول دی، دا پلمه له جمعیت تنظیم پرته نور ملت او سیاسي ډلو ته هیڅ ارزښت او مفهوم نه لري، بلکې دا خپله د جنګي ډلو د یوې خوا نوم دی. خو اوس راځو ددې اشخاصو له جملې څخه یوازې یوې بېلګې؛ ښاغلي ((مارشال)) فهیم ته چې اوس سړی نه پوهېږي دی په حکومت کې دی که په اپوزیشن کې، رسمي دنده لري که پر کور ناست دی، طالبان ردوي که تائیدوي یې، بهرني ځواکونه مني او که ردوي یې او داسې نورې ډېرې پوښتنې. که څوك په جمهوري ریاست کې د " مارشال" محمدقسیم فهیم د " ستر سلاکار" دندې ته ګوري نو سړی فکر کوي چې دی دولتي شخص دی، کله چې عسکري رتبې، باډیګاردانو او په مهمو دولتي ورځو کې یې حضور ته ګوري نو بیا هم فکر کوي چې غټ دولتي سړی دی، خو کله چې یې په سیاسي چارو کې د اساسي قانون خلاف حضور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې او هغه جبهه او نورو سیاسي بوختیاوو کې ګډون ته ګوري نو سړی فکر کوي چې دی یو نادولتي شخص دی، خو خیر دا ډول پوښتنې ډېرې مطرح کېدی او خپل خوښي ځوابونه ورته پیدا کېدی شي، دې پوښتنو نه که راتېر شو او د "مارشال" صاحب د پانګې په باب بحث وکړو، نو دې کې بیا هېڅ پوښتنه نه پیداکېږي، چې څوك دې دا شك وکړي چې د مارشال صاحب اقتصادي وضعه خرابه ده، یوازې د عسکري رتبې معاش ته ناست دی او نورې هېڅ ډول منابع نه لري، موږ دلته دا خبره هم نه یادوو، چې د خپل حاکمیت پر وخت یې څه کړي؟ څومره دولتي ځمکې یې غصب کړي، څومره قراردادونه یې په خپله خوښه کړي، د دفاع وزارت څومره ملکیتونه یې خرڅ کړي او له بهرنیو ځواکونو څخه یې څومره قراردادونه خپلو ورونو او د خپل تنظیم غړو ته اخیستي دي، د شېرپور د ځمکو د وېش موضوع هم نه یادوو او نور په اصطلاح اپراتیفي مسایل هم نه پوښتو، یوازې دېته لنډه اشاره کوو چې اوس هم ولې پر دولتي خزانې او د بیت المال پر مال د " مارشال" صاحب واك چلېږي، اوس ولې حکومت ددې وس نه لري، چې د مظلوم ولس له مال او بیت المال څخه د چا لاس لنډ کړي او تر کومه به دا لوی لوی ښاماران پر خزانو پراته وي؟ د ځینو معلوماتو له مخې چې سل په سلو کې کره کول یې د دولت د ملي شورا، څارنوالۍ او محاکمو کار دی خو تشه یادونه یې د رسنیو وظیفه ده، ښاغلی " مارشال" محمد قسیم فهیم له دولت څخه د (۲۲۰)کسانو معاش اخلي، دا معاش دده د ساتونکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استحقاق(!) له مخې له بیت المال څخه اخیستل کېږي، ویل کېږي چې د هر شخص تنخواه (لس زره) افغانۍ محاسبه شوې چې هره میاشت کې دوه ملیونه او دوه سوه زره(۲۲۰۰۰۰۰) افغانۍ یا څلور څلوېښت زره (۴۴،۰۰۰) امریکایي ډالره کېږي، ویل کېږي چې دا پیسې په هغه مالي امتیاز کې شاملې نه دي چې "مارشال" صاحب ته د هغه د دولتي او عسکري رتبې له مخې ورکول کېږي، ځینې راپورونه وايي چې ((مارشال)) صیب د (۱۴۰۰) تنو سرتېرو معاشونه اخلي. خو تراوسه پورې هېڅ دولتي او نا دولتي، کورنۍ او بهرنۍ سرچینې دې ډول مسایلو ته اشاره نه ده کړې او نه هم کومې رسنۍ دې موضوع ته نغوته کړې ده. په ولسي جرګه کې ځینې وکیلان له هغې جملې څخه ښاغلی رمضان بشردوست، اکثره وخت په چس او نس شیانو پورې نښتی وي، کله وايي چې وکیلانو ته باید منرالي اوبه ورنه کړای شي چې د بیت المال خزانه تشېږي، خو دې ډول موضوعګانو ته چې له بیت المال څخه باج اخیستل کېږي، دولسي جرګې دمشر ښاغلي قانوني او نورو وکیلانو خوله له اوبو ډکه ده او هېڅوک هېڅ نه وايي، قانوني صاحب خو باید ځکه څه ونه وايي چې هغه هم تر ((مارشال)) صاحبه په دې ډول موضوعګانو کې کم نه دی او د خدای(ج) فضل دی، پانګه یې تر حساب او شماره تېره ده. خو د ولسي جرګې هغه وکیلان، چې په هره وړه او لویه موضوع کې د ماتې کټوې په شان ګړېږي هغوی ولې چوپه خوله ناست دي؟ دوی خو د قانون جوړونې او څارنې یوه مرجع ده، ولې یې خوله کې مشنګ اچولی؟،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعیم فراهي چې هر وخت یې ځان اوتو کړی وي، په جبهه کې ناست وي او خوله یې یوازې پر کرزي باندې انتقاد ته جوړه ده، ولې یې یوه ورځ پر خپل " استاد" او "مارشال" نیوکه ونه کړه چې ولې تر قانون پورته امتیازات اخلئ! ایا په قانون کې راغلي چې مارشالان، څارنوالان، قاضیان او نور پوځي چارواکي دې سیاسي جبهې او ګوندونه جوړکړي او یا دې د هغو غړي وي؟ او بله سپکه یې لا دا چې دا په اصطلاح ازادې رسنۍ، چې د ورځې د لسګونو مړو او ژوندیو د مرګ او ژوند خبرونه خپروي، ولې یې د شپږو کلونو په ترڅ کې د "مارشال" او نورو زورواکو په باب یوه خبره هم خپره نه کړه چې دوی دې هم یوه ورځ ملت ته د خپلې مشروع او نا مشروع پانګې حساب و کتاب ورکړي؟

څو کاله دمخه د بي بي سي (B.B.C) تلویزیون یوه نړیوال چینل د پاکستان د پخوانۍ صدراعظمې مرحومې بېنظیر بوټو د خاوند (اصف علي زرداري) د ورځنیو لګښتونو په اړه یو مستند تلویزیوني فلم خپور کړ، په دې فلم کې یوه صحنه د اصف علي زرداري د اسونو طویله وه، د زرداري اسونو خاصه مینو درلودله چې هره ورځ اسونو ته په کې هګۍ او کیلې حواله وې او په ترتیب سره ورته ورکول کېدې، خو دې چینل کې دا مهال د هغو پاکستاني ماشومانو تصویرونه هم ښودل کېږي چې په لارو کوڅو کې یې یا پلاستیکونه خرخول او یا یې خیرات ټولاوه، د همدې مستند فلم خپرېدل ددې سبب شول چې د زرداري بدمعاشۍ ته د پای ټکی کېښودل شي او د هغه پر نامشروع حاکمیت د قانون جال خور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د باوري معلوماتو له مخې زموږ "مارشال" صاحب هم د اصف زرداري په شان د اسونو یوه منظمه طویله لري، چې په شان او شوکت کې د زرداري تر هغې که زیاته نه وي کمه به هم نه وي او لګښت یې هم د همغه په شان. ویل کېږي چې د ((مارشال)) د اسونو او د هغو د ساتونکو ورځنی لګښت لږ تر لږه (اته سوه) امریکایي ډالره دی. په داسې حال کې چې زموږ ملت له لوږې فریادونه کوي او د همغه ملت " مارشال" داسې لګښتونه، نو دلته به د عدالت د راوستو کار څومره ګران وي؟ موږ پر دې هم دلته بحث نه کوو، چې ایا دا عسکري پوړۍ ښاغلي محمدقسیم فهیم ته دهغه د وړتیا له مخې ورکړل شوې او که د سیاسي بې عدالتۍ له مخې، ایا افغانستان کې زموږ پوځ دا مهال په دې حالت کې دی چې داسې یوه لوړه رتبه دې چاته ورکړای شي ؟ په هر حال اوس خو دا رتبه د جمهور رییس د مضر احتیاط یا ناعادلانه سخاوت او یا هم د کوم کورني او بهرني فشار له مخې ده ته ډالۍ شوې، نو دا ((مارشال)) صاحب ته په کار دي، چې اوس ددې رتبې خیال وساتي. فکر کوم چې اوس دده د ژوند ټول ضرورتونه پوره شوي، ده ته اوس په کار دي چې نور له ملت او د هغه له خزانې څخه باج وانه خلي، بلکې ملت او بیت المال ته څه ورکړي، دی اوس ددې وس لري چې ډېر څه دې ملت ته ډالۍ کړي، ((مارشال)) باید د ملت ساتندوی او پالندوی وي، لکه د نورو مارشالانو په شان، دی باید د ټول ملت د ژوند د سوکالۍ لپاره یو مارشال پلان جوړ کړي، نه یوازې د ځان لپاره، زه هیله من یم پردې لیکنې په لومړي ګام کې په خپله ((مارشال)) صاحب او بیا ملي شورا، څارنوالي، قضا او همدارنګه رسنۍ غور وکړي او له هرې ممکنې لارې چې وي له بیت المال څخه باید د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزوري او زورور د نامشروع ګټې اخیستنې لاس لنډ کړي. دا لیکنه مې ځکه د انټرنیټ له لارې د " قلموال" په پته درولېږله چې اوس هم لا زموږ په هېواد کې داسې لاسونه شته، چې د زورور پر وړاندې د کمزوري فریاد نه اوري، ازادي رسنۍ، له څو ګوتو په شمار رسنیو پرته نورې هسې هم خپلواکې نه دي. که زما دا لیکنه مو خپره کړه، نو د ازادو رسنیو یوه دنده به مو ترسره کړې وي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان او د ایراني فاشیزم غشي

دا لیکنه هم پر (۱۳۸۷ل) کال د قلموال جریدې په (۲)مه ګڼه کې خپره شوې ده.

ایران په افغانستان کې اوږده او ستراتیژیك هدفونه لري، دې هدفونو ته د لاسرسي لپاره دوی ډول ډول پلانونه لري او مختلفې ډلې، ګوندونه او اشخاص یې د هغو د تطبیق لپاره ګومارلي او




هر ډول ملاتړ یې کوي. دلته به په لنډیز سره د دوی د ځینو پلانونو او لاسوهنو یادونه وکړو:

۱- په سیاسي برخه کې : د جهاد په کلونو کې د ایران رژیم ته ښه موقع په لاس ورغله، چې په ایران کې افغاني شیعه ګوندونه وروزي او ملاتړ یې وکړي، افغانستان ته یې راولېږي او تر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنټرول او تاثیر لاندې یې راولي. نو ځکه خو یې لومړی په ایران کې ((اته ګوني)) شیعه ګوندونه جوړ کړل او وروسته یې بیا دوی د عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې د ((حزب وحدت اسلامی افغانستان)) په نامه یوه واحد شیعه ګوند کې راټول کړل. په نوییمو کلونو کې دې ګوندونو د کابل په ورانۍ، تنظیمي جنګونو، ائتلافونو او لوټمارۍ کې غټه ونډه لرله.

۲- **مذهبي برخه کې** : ایران غواړي د شیعه مذهب د تبلیغ او افغاني شیعه ګانو د تقویې او انسجام له لارې افغانستان ته د یوه شیعه هېواد رنګ ورکړي، یا لږ تر لږه په افغانستان کې د شیعه ګانو رول او اغېز دومره زیات کړي، چې د ایران ګټې او غوښتنې د دوی له لارې په افغانستان کې خوندي شي. له همدې کبله دوی د جعلي احصائیو له مخې غواړي په افغانستان کې د شیعه ګانو شمېره پورته وښيي، په ایران کې د ځینو چاپ شویو کتابونو او اثارو له مخې په افغانستان کې د شیعه ګانو شمېر تر ۳۵% سلنې پورې پورته شوی، خو د نورو رښتینو سرشمېرنو له مخې په افغانستان کې دشیعه مذهب دلارویانو شمېر تر ۸% سلنې نه پورته کېږي. ایران غواړي په افغانستان کې د حنیفي مذهب او احنافو دودیز واک کمزوری او د شیعه مذهب اوشیعه ګانو رول غښتلی کړي، له همدې کبله هڅه کوي چې په تعلیمي نصاب او یا هم د افغانستان په قضایي سیستم کې د جعفري فقهې د ځایونې له لارې دې هدف ته ورسېږي. سربېره پر دې دوی د بېلابېلو مدرسو له لارې چې مستقیماً د ایران له خوا جوړې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جوړېږي غواړي د شیعه مذهب لمن پراخه کړي، غوره بېلګه یې د شیخ محمد اصف محسني تر چتر لاندې د ((حوزه علمیه خاتم النبین)) په نامه د یوې مدرسې جوړېدل دي، چې پر یوه وخت به تر لس زرو زیات زده کوونکي په کې د شیعه مذهب او جعفري فقهې زده کړه کوي، مدرسین به یې اکثره افغاني شیعه ګان او لارښوونکي یا مشاورین به یې ایراني شیعه ګان وي. پر دې مدرسې د ایران له خوا په لسګونو ملیونه ډالر لګښت راغلی دی.

۳- کلتوري او ژبني برخه کې: پر مذهبي او سیاسي لاسوهنو سربېره ایران په افغانستان کې ډېره کلتوري او ژبني مداخله کوي. دوی په مذهبي او ژبني برخه کې د افغانستان د شیعه ګانو ملاتړ کوي، خو په کلتوري برخه کې دوی د افغانستان د نورو فارسي ژبو لکه تاجکو، قزلباشو او ایماقو ژبنی ملاتړ هم کوي، هغه ګوندونه لکه اسلامي جمعیت او نور چې له ژبني او کلتوري پلوه د فارسي ژبې او کلتور سخت پلویان دي، د هغوی ملاتړ هم کوي. دوی د افغانستان د تاجکانو یا فارسي ژبو له لارې غواړي تاجکستان او د منځنۍ اسیا نورو وړو فارسي ژبو سیمو ته لار پیدا کړي، لومړی هلته خپله ژبه او کلتور عام کړي او تر څنګ یې د شیعه مذهب د تبلیغ لپاره لاره اواره کړي. په همدې خاطر دوی د ((فارسي ژبو تلویزیون)) په نامه یو تلویزیوني چینل جوړوي چې تاجکستان، افغانستان او ایران به یې په ګډه چلوي، خو د لګښت او واک اصلي چارې به یې د ایران له خوا سمبالېږي. که څه هم افغانستان اساساً فارسي ژبی هېواد نه دی، خو د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلوع خارجه وزیر له ایران سره د خپل ژبني پیوستون او تمایلاتو له امله دا تړون لاسلیك کړی او د افغانستان نور قانوني او ارتباطي



د ایران په لګښت د جوړې شوې یوې مدرسې یوه څنډه

مراجعو، لکه اطلاعاتو او کلتور وزارت، وزیرانو شورا، ملي شورا او سترې محکمې لا دا تړون نه دی تائید کړی، دغه راز تر (پنځو) زیات داسې تلویزوني چینلونه او تر (۴۰) زیاتې داسې چاپي خپرونې شته چې په مستقیم او نا مستقیم ډول د ایران له خوا ورسره مرسته کېږي. له هغې جملې څخه یې د ((تمدن)) په نامه د شیخ محمد اصف محسني تلویزیون، اکثره لګښت د ایران له خوا ورکړل شوی او نږدې سل کسان یې د ایران له خوا روزل شوي دي.

۴- په اقتصادي برخه کې: ایراني شرکتونه د افغانستان په دولت کې د خپلو پلوي افرادو په مرسته غواړي په افغانستان کې پر تجارتي مارکیټ خپل کنټرول حاصل کړي، له ښاروالیو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلاناتو له قراردادونو نیولې بیا د ځینو ساختماني چارو په برخه کې پانګه اچوي، ایران د خپلې پانګې لپاره د زمینې برابرولو ترڅنګ غواړي د نورو افغان سوداګرو ، پانګوالو او د نورې نړۍ د پانګې اچونې مخه هم ونیسي. څو موده وړاندې د ایران ځینو پټو شبکو له خوا په هرات کې ځینو افغان پانګوالو ته وړاندیز وشو چې په هرات کې خپلې جوړې شوې فابریکې بندې او د (اسلام کلا) تر بندر اخوا د پنځه ویشتو کیلومترو په واټن یې د ایران په خاوره کې جوړې کړي او ایران به د دوی د لګښتونو پنځه ویست سلنه سبسایډي ومني. که چېرې دا کار عملي شي نو په هرات کې به پر یوه وخت تر سلو زیاتې فابریکې سقوط شي، دغه راز ایران هڅه کوي د نفت او ګاز نلیکې هغه لویه پروژه له ناکامۍ سره مخ کړي، چې ټاکل شوې له ترکمنستان څخه د هغه هېواد نفت او ګاز د افغانستان له لارې پاکستان ، هند او نورې نړۍ ته ولېږدوي. ددې پروژې له لارې افغانستان ته ډېره اقتصادي ګټه رسېږي، خو ایران د افغانستان دا ګټه نه شي زغملای.

۵- **په نظامي برخه کې:** په نظامي برخه کې د ایران پالیسي دا ده چې په افغانستان کې وضعه بې ثباته کړي، یو وخت یې له شیعه ګوندونو سره زیاته او مستقیمه مرسته کوله، بیا کله چې طالبان واک ته ورسېدل، نو دوی ټولو طالب ضد ډلو په تېره بیا شیعه ګوندونو او اسلامي جمعیت سره زیاته مرسته کوله، خو اوس چې طالبان له واکه غورځېدلي، دوی له طالبانو سره پوځي مرسته کوي. د دې مرستې هدف دادی چې له یوې خوا امریکایانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیانونه واړوي او غربي نړۍ دلته مصروفه کړي، له بلې خوا که طالبان هم زیان ګوري، د دوی په ګټه تمامېږي او که سیمه هم ورانېږي دوی ترې ګټه پورته کوي. دا سیمې په مطلق ډول سني مذهبه پښتون مېشتې سیمې دي، چې له مذهبي پلوه او هم له قومي پلوه د ایران له ستراتیژۍ او پراختیا غوښتنې سره مخالفې دي، نو ایران په دې سیمو کې د جنګ دوام د خپلو ګټو د تضمین لپاره یو ښه طلایي چانس ګڼي، نو ځکه غواړي په مستقیم او نامستقیم ډول دولت مخالفو وسلوالو ډلو ته پوځي امکانات ورولېږي. هرات، نیمروز، فراه، هلمند او دایکندي کې دایران د پوځي لاسوهنو څرګندې بېلګې لیدل شوي.د ایران پوځي کړۍ په تېره بیا ((سپاه پاسداران)) په دې ساحه کې زیات فعال دي.

۶- **د ملکیتونو د رانیولو په برخه کې**: د ایران یوه بله پالیسي دا ده چې خپل پلوو مذهبي اوسیاسي ډلو ته پیسې او مالي امکانات برابرکړي، چې دافغانستان د ځینو مهمو ښارونو مرکزونه او حساسې ستراتیژیکې جغرافیایي سیمې ونیسي، د ایران په مالي امکاناتو اوسیاسي ملاتړ د تېرو پنځه لسو کلونو په بهیر کې په لسګونو زره شیعه مذهبي هزاره ګان له بامیانو او نورو هزاره مېشتو سیمو څخه مزار شریف ښار ته راواړل شول او هلته مېشته کړای شول، مزار شریف ښار چې تر دې دمخه یو سني مذهبه ښار ګڼل کېده که په همدې حالت روان وي، نو یو وخت به پر یو شیعه مذهبه ښار بدل شي. د داسې لویو پروژو پلي کول د ایران له مستقیم مالي ،نظامي اوسیاسي ملاتړ پرته ممکن نه دي، دغه راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران غواړي د بامیانو- غور له لارې تر هراته یوه مذهبي او قومي لیکه وغځوي اوبیایې په هرات کې له شیعه مذهبو لړکیو سره وصل کړي او وروسته بیا دا لیکه د ایران تر پولې وغځوي، دغه راز دوی غواړي دلته بیا دا لیکه د بامیانو له لارې له میدان وردګو او بیا له کابل سره وصل کړي، په دې ډول به ایران له خپلې پولې بیا د افغانستان تر مرکزه یو مصئون مذهبي، کلتوري او قومي تونل ځان ته خلاص کړی وي. ایران دغه راز غواړي د افغانستان له هرات نه د افغانستان شمال غرب او بیا له شمال غرب نه شمال شرق ته د یوه کلتوري او ژبني تونل له لارې سره وصل شي او بیا له هغه ځایه سني مذهبي، خو فارسي ژبي تاجکستان سره ځان ونښلوي، په دې ډول به دوی دا سیمې د مذهبي او ژبنیو عناصرو په کارولو سره تر خپل اغېز لاندې راولي. سید حسین انوري په هرات کې ددې پروژې یوه برخه عملاً پیل کړې او د نویو ښارګوټو د وېش او نورو ځمکو د رانیولو له لارې یې په لسګونوزره شیعه ګان په هرات کې مېشت کړي. حاجي محمد محقق او نورو لا دمخه په مزار شریف کې ددې پروژې یوه برخه عملي کړې او کریم خلیلي په کابل کې د خپلو ورونو او نورو له لارې د نویو ښارګوټو د جوړولو له لارې غواړي دا پروژه عملي کړي. کریم خلیلي د خپل ورور حاجي نبي تر چتر لاندې د کابل په غرب کې د یو نوي شیعه مېشتي ښارګوټي د جوړونې کار پیل کړی چې لږ تر لږه د لس زره کورونو د جوړونې ظرفیت لري او همدا اوس پرې کار روان دی. کریم خلیلي او دهغه ورور حاجي نبي غواړي ددې ښار ګوټي نورې شا او خوا سیمې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



را خپلې کړي. دا ښار ګوټی د کابل د غرب په داسې یو ځای کې موقعیت لري، چې نیم کابل یې تر سینې لاندې دی، د سولې پر وخت د سوکالۍ ځای او د جنګ پر مهال د خپل مصئونیت او نور ښار ته د تهدید ظرفیت لري.

۷- د دولتي پوستونو د اشغال په برخه کې: د ایران د پالیسۍ یوه بله برخه دا ده چې د افغانستان د حکومت په مهمو پوستونو کې خپل پلوي مذهبي او سیاسي اشخاص ځای پر ځای کړي، څوك د ژبې او څوك د مذهبي اړیکو پر بنسټ د افغانستان په اساسي قانون کې د شیعه مذهب ځایول، له رایو پرته د جمهور رییس د دویم مرستیال څوکۍ نیول، د عدلیې وزارت، کانونو، ټولګټو او ځینو نورو مهمو وزارتو پوستونه تر لاسه کول، په افغانستان کې د ایران د پراختیا غوښتنې د سیاست لوی بری دی. دا بری د هغه مقیاس په تناسب چې سني مذهبي مسلمانان یې په ایران کې لري، رښتیا هم د ایران لپاره لویه لاسته راوړنه ده. پر دې هم ټول پوهېږي که د ایران مستقیم ملاتړ نه وي، نو ایران پلوه ډلې او اشخاص هېڅکله هم تر خپل استحقاقه دومره پورته امتیاز نه شي اخیستلای. د دولت په وړو پوستونو کې حالت نور هم خراب دی. ایرانیان غواړي یو شمېر خلك له ژبني او یو شمېر خلك له مذهبي پلوه په حکومت کې ځای پر ځای کړي، په حکومت کې د ایران پلوه اشخاصو شمېر زرګونو ته چې په لسګونو زرو کسانو ته رسېږي، د افغانستان په حکومت کې د ایران پلوه مامورینو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اغېز دومره زیات دی چې تر اوسه پورې دولتي او نا دولتي میډیا د ایران د مداخلو یادونه نه ده کړې.

اوس راځو دې پوښتنې ته چې د ایران کومې کړې په افغانستان کې څرګندې مداخلې کوي؟

په افغانستان کې د ایران بېلابېلې کړۍ مداخله کوي چې ځینې یې ښکاره او ځینې یې پټې دي، چې دلته یې د ځینو یادونه کوو:

۱- سپاه پاسداران: دا شبکه په افغانستان کې اکثره نظامي فعالیتونه لري، بېلابېلو ډلو ته وسلې ورکوي او یو شمېر سیاسي شخصیتونه چې د دوی له خوا روزل شوي، د هغوی مالي ملاتړ کوي.

۲- دا نشګاه پیام نور: دا د ایران یوه بله شبکه ده، چې تر تحصیلي پوښښ لاندې د ایران د ګټو لپاره کار کوي. دوی په افغانستان کې خپلو ځینو هغو کم لوستو پلویانو ته اسناد برابروي، چې لوړې او منځنۍ زده کړې نه لري. دوی ورته په ایران کې د لوړو تحصیلاتو جعلي اسناد جوړوي او په دې ډول ورته په دولتي پوستونو کې د کار لاره اواروي.

۳- کمیته امداد امام خمیني: دا د بشري خدمتونو تر چتر لاندې فعالیت کوي، دا کمېټه په افغانستان کې بېلابېلو شیعه ډلو ته مالي او بشري مرستې ورکوي، دې کمېټې یوازې د کابل غرب کې په سلګونو لویې او وړې پروژې پیل کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- صدا و سیما جمهوري اسلامي ایران: د ایران یوه بله شبکه ده چې په افغانستان کې له ځینو هغو رسنیو سره مرسته کوي چې ایران سره ژبني، کلتوري او مذهبي روابط لري او یا د ایران د ګټو د خوندیتوب لپاره کار کوي. ځینې تلویزیونونه او چاپي خپرونې له همدې سرچینې څخه خړوبېږي.

نور، نورین، طلوع، فردا او تمدن، هغه ټلویزیونونه دي چې د ایران د فرهنګي او ژبني یرغل لپاره عملي کار کوي، ایراني سټایل او لهجه کاروي او په څرګنده ایرانۍ روحیه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((متحده ملي جبهه)) د لفاظانو ټلواله

دا ليکنه پر (۱۳۸۷ل) کال د قلموال جريدې په (٦)مه گڼه کې چاپ شوې ده.

پخوانۍ شمال ټلواله چې اوس د ((ملي جبهې)) په نامه نومول شوې، د هغو جگړه مارانو او لفاظانو يوه مجموعه ده، چې د افغانستان په تېر دېرش کلن سياسي او پوځي تاريخ کې ډېره بدرنگه څېره لري. د دې جبهې له مشرانو څخه يو هم پوهنمل (۱۳٥٤ ل کال پاکستان ته د تېښتې پرمهال) برهان الدين رباني دی، چې د افغان ولس د جهاد په گرمو شېبو کې يې له روسانو سره اوربند وکړ او په دې ډول يې روسانو ته د افغانستان د بېلابېلو سيمو، مجاهدينو او ولسونو د ځپلو لاره اواره کړه. د کارمل په مشرۍ د پرچم ډلې تر سياسي حضور او واک وروسته د رباني په مشرۍ د اسلامي جمعيت ډله هغه لومړنۍ سياسي ـ سمتي ډله ده چې تر هر چا زيات د روسانو له مالي، معنوي او پوځي ملاتړه برخمنه شوې ده، د ډاکټر نجيب پر ضد د شمال ټلوالې رامنځته کېدل چې د روسانو د سياسي پلان يوه برخه وه، اسلامي جمعيت ته د ((وحدت)) او ((جنبش)) ډلو تر څنگ محوري رول ورکړل شوی و، د پخواني شوروي اتحاد ميراثخورې اوسنۍ روسيې ته د اسلامي جمعيت او د هغو د مشرانو گرانښت او مننښت دومره زيات و چې نه يوازې يې په مسکو کې ورته د پيسو د چاپ ماشينونه لگولي وو او په ټنونو پيسې يې ورته چاپولې، بلکې په لسگونو ډوله وسلې يې هم ورکولې، هغه پيسې چې څرگندې او معلومې دي لږ تر لږه (شپاړلس نيم زره مليارده افغانۍ) کېږي او دا تر هغو پيسو نږدې (١٦٥٠) ځله زياتې دي چې شورويانو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوي افغان حکومت ته په (١٤) کلونو کې ورکړې وې او که زماني واټن ورسره محاسبه کړو نو دا شمېر تر (٣٣٠٠) ځلو هم پورته کېږي. پر دې سربېره د کولاب هوايي ډګر يې هم خپلو دې نازولو ته په واک کې ورکړی و، خو اوس عجيبه خبره داده چې د روسانو پر ضد د جهاد ډنډوره هم د دوی له خوا غږول کېږي، دا همغه د مومن خان د ښامار کيسه ده؛ ښامار چا مړ کړی و او چيغې چا وهلې. کله چې طالبانو دا ښاغلي لکه د سترنج د دانې په شان د هېواد ګوټ ګوټ ته په منډه کړل او اکثر يې له هېواده اوټ کړل، نو چېرته پرې خدای(ج) د سپتمبر د يوولسمې نېټې پېښه برابره کړه، يو ځل بيا يې مړ ژواندو جسدونو کې ساه وچلېدله او امريکائيانو ته به يې همدا ويلې ((ژر ژر راشئ، موږ د ستاسو ځمکنيو عسکرو په توګه دنده اجرا کوو، ستاسو به امر او زموږ به خدمت وي...)) ځينو يې لا پر دې غوسه ښکاره کوله چې((امريکايان ولې موږ سره ژر مشوره نه کوي...)) کله چې امريکايانو پر طالبانو کلستر بمونه اچول، نو دوی به ورته پر ځمکه له خوشالۍ ځخه نځېدل، د ځينو خو د صبر کاسه دومره ډکه وه همدا به يې ويل: ((غت غت بمونه واچوی، کی تاثير کی زيات وکی دا واله (واړه) دي)) کله چې امريکاييانو تر نيمه اتومي بمونو قوي بمونه واچول نو بيا د ټلوالې يو ويناد وويل: (( اوس نو ښه بمباري وشوه)). کله چې افغانستان کې د ولسواکۍ نغمې خورې شوې، نو پخوانۍ ملېشې او د هغو دا ډول مشران ټول ديموکراتان شول ، چا لونګۍ لرې کړې، چا پکولونه وغورځول، چا ږيرې لنډې کړې او ټول د امريکائيانو د نعمت پر ټغر راټول شول، دوی فکر کاوه چې امريکائيانو ته د دوی د خدمت په بدل کې به ټول واک سل په سلو کې له دوی سره پاتې شي، نو يو څه وخت د جهاد نغمې بېخي غلې شوې، امريکاييانو او نورو هېوادونو چې دلته يې عسکر درلودل، هم مجبور وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دنیا ته خو د ولسواکۍ یو څه تصویر هم وړاندې کړي، نو همغه و چې انتخابات وشول، په انتخاباتو کې د اسلامي جمعیت کاندیدانو لکه قانوني، منصور او د ټلوالې نورو غړو لکه محقق، دوستم او نورو ښه شرمېدونکې ماتې وخوړه ، د رباني زوم (احمدضیا مسعود) چې دا مهال د احمدشاه مسعود پر مسند ناست و او په ټول هېواد کې یې د خپل نفوذ ادعا کوله او کریم خلیلي چې د هزاره لړه کیو د مشرتوب دعوه گیر و، هر یو په خپل کور کې داسې ماتې وخوړه چې د بشریت د انتخاباتو په تاریخ کې چا نه وه خوړلې، احمدضیا مسعود (۳۳۷) رایې او کریم خلیلي هم همدا ډول زیاتې وکمې رایې واخیستې، دا مهال د افغانستان خلک د هرچا په کرامت او د هغو په محبوبیت لا ښه پوه شول چې څوک څومره دي او څومره ځان ښیي. دا چې د ښاغلي کرزي په چپن کې برکت و د دواړو عیبونه یې پټ کړل، یو اول معاون او بل دویم مرستیال وټاکل شول، دا نو بیا بېله خبره ده. خلکو داسې فکر کاوه چې تر ټاکنو وروسته به حکومت کې اساسي تغیر راشي، د روسیې او ایران گوډاگیانو او ددې ډول ټلوالو د نامشروع نفوذ ساحه به کنټرول شي. خو دوی بیا هم په قدرت کې پاتې شول، خو له دې ناقانونه واک سره سره دوی بیا هم قانع نه شول، اکثره مهم پوستونه دوی سره وو، خو بیا هم د دوی د هوسونو تاو کښېناست، یو ځل بیا یې یو زوړ او پخوانی فورمول ((جهاد به نور کوي او ډنډورې به دوی غړوي، تورې به لالا وهي مړۍ به عبدالله وهي)) را تازه کړ، هر ځای یې تبلیغات شروع کړل چې له دې حکومت څخه خو مجاهدین گوښه کېږي، امریکایي ډوله افغانان راځي او په سلگونو نور ډول ډول تورونه، پر دې یې هم بسنه ونه کړه، د پخوانۍ شمال ټلوالې روح یې یو ځل بیا تازه کړ، د ((ملي جبهې)) په نامه یې یوه بله نوې ټلواله جوړه کړه. چې نه ملي وه او نه هم سراسري، دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همغو پخوانیو ماتو کودړو بیا پیوندول وو چې تر دې پخوا څو ځله مات شوي وو. ددې په خاطر چې د دوی څېره خلکو ته بل ډول معلومه شي نو یوه بله نوې څېره ((مصطفی ظاهر)) یې هم په دې رشوت ځان ته رامات کړ چې راځه موږ کې خو سړی نه شته تابه مخې ته کړو او موږ به درپسې یو، مصطفی ظاهر چې په افغانستان کې یې د سیاست کومه پخه شخصي تجربه نه لرله، نه ددوی پر چلونو او وعده خلافیو پوهېده او نه د دوی د کعبې شریفې په قسمونو خبر و، ډېره بېره یې وکړه ځان یې له دوی سره ورګډ کړ، د جبهې لا کال وتی نه و چې له ده سره یې هم ټکر راغی، اوس نو د جبهې ویاړمنه رهبري (!) ښاغلي رباني ته پاتې ده، هغه بېچاره چې په رهبرۍ او مقام پسې مړ مړ دی، په دې کې ښه تجربه لري چې څنګه کانتینري او انتقالي حکومت جوړ کړي او څنګه یې یوه ځای نه بل ځای ته انتقال کړي، څنګه خپله څلور میاشتینۍ واکمنی پر کال او کال بیا پر کلونو او کلونه بیا پر لسیزو واړوي، دا مبارکه جبهه چې جوړېدله نو غړو یې دا ویل چې دوه میاشتې وروسته به کېنو او رهبرۍ کې به تغیر راوړو، محمد نعیم فراهي بېچاره یې هم په دې تمه کېنولای و چې تا ته به هم یو وخت مشرتوب درورسېږي، ښاغلی نعیم فراهي، چې د نورو قدرمنو هېوادپالو فراهیانو لکه غلام نبي فراهي، عبدالخالق فراهي او په مجموعي ډول سلطان محمد خان فراهي د ډېرې درنې او قدرمنې کورنۍ بلا دې پرې پرېوزي، د رهبرۍ ډېر تږی و، هغه کیسه پرې وشوه چې پر یوه لېوه شوې وه. یو وخت یو لېوه په یوه ناروغ پسه پسې روان و، د پسه څوړند و متعلقو شیانو ته یې سترګې نیولې دي. لېوه فکر کاوه چې د پسه څوړند متعلق شیان به ژر ولوېږي او دی به یې وخوري، لېوه ډېر انتظار وویست، له ډېرې لوږې او انتظاره ډنګر شو، خو د پسه څوړند متعلق شیان ونه لوېدل. ښاغلی نعیم فراهي په دې طمع ناست و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې ځنګه او څه وخت به رباني له دې څوکۍ لرې کېږي او دی به د مشرتوب ویاړ ترلاسه کوي، سره له دې چې فراهي صیب اوس هم ددې جبهې د تش په نامه (اجراییه شوری) رییس دی، خو ټول پوهېږي چې دا سمبولیک پوست دی. خو فراهي له دې خبر نه و چې استاد رباني د طالبانو له لاسه د بدخشان، پنجشیر، تخار، کولاب او نورو سیمو پر لوړو او دنګو غرو او رغو وګرځېده خوبیا هم طالبانو ترې د جمهوري ریاست سرېښ کړې څوکۍ را ببله نه کړای شوه ، نو نعیم فراهي به یې ځنګه په تش لاس او انتظار ترې رابېله کړي، فراهي بېچاره یې څو ورځې د تش په نامه ((اجرائیه رییس)) په نامه وغولوه، وروسته یې هغه نوم هم ورڅخه واخیست اوس کال واوښت خو د جبهې دا خلي انتخابات معلوم نه شول، داسې ښکاري چې د جبهې ریاست مدام العمر لوی استاد(!) رباني ته پاتې دی.**

**کله چې په جبهې پورې تړلو مستقیمو او نامستقیمو خبرونو ته**



**سړی ګوري، نو سخت غالمغال په کې ښکاري؛ سړی فکر کوي چې ټول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د دوی پر ښکر ولاړ دی، خو کله چې سړی عمل او ددې جبهې واقعيت ته متوجه شي، د جبهې د رهبرۍ هر غړی په يوه کانديد پسې منډې وهي، يو شمېر يې پټ حامدکرزي ته رامنډې وهي او وايي چې موږ تر تا بل ښه سړی نه شو پيدا کولای، بله ډله يې عملاً علي احمد جلالي پسې منډې وهي او هغه ته وايي موږ تا سره يو او ځينې يې زلمي خليل زاد سره تماسونه ټينګوي او هر يو ته وايي چې موږ به تاسو بريالي کوو، که واقعاً په دې جبهه کې (سړی) او د کار (سرونه) موجود وي او دومره زور لري چې نور کاميابولای شي، ولې خپله نه ودرېږي، ولې خپله استاد رباني، احمد ضيا مسعود، نعيم فراهي، مصطفی ظاهر، علومي، ګلاب زوی او نورې غټې غټې ستې ميدان ته نه راوځي چې بيا د نورو تر سيوري لاندې پټېږي. که چېرې د دوی په شخصيت او سر کې دومره قدر و قيمت وي چې نور نور کاميابولای شي نو بايد خپل سرونه پورته کړي، دلته په نوښت مجله کې د يوه ليکوال چاپ شوې مقاله دسړي ذهن ته ودرېږي چې ليکلي يې وو: ((امريکائيانو د اسامه پر سر پنځه ويشت مليونه، د ملا عمر پر سر لس مليونه او د حکمتيار پر سر پنځه مليونه ډالر انعام ټاکلی دی)) ليکوال ليکي چې: ((د هغوی د سرونو قيمتونه خو معلوم شول دا د ښاغلي رباني ... او نورو د سرونو قيمت څومره دی؟ که دا سرونه وي ولې يې قيمت معلوم نه دی او که سرونه نه وي نو ولې په پنځو کې حساب دي او د سردارۍ دعوه کوي؟)) نو اوس جبهه والو ته هم پکار دي چې که واقعاً دا جبهه، جبهه وي نو بايد دوی يو مستقل کانديد ودروي او هېڅ بل کانديد ته دې خپل پټ او ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي د اول او دویم معاون په توګه نه معرفي کوي، ولس دا ځل دا چل او فریب نه شي زغملای چې جبهه دې هم یو مستقل کاندید ودروي او هم دې نورو مستقلو او قوي کاندیدانو سره خپل پټ او ښکاره غړي د معاونانو په توګه کنجوغه کړي. حقیقت دادی چې دا جبهه، ملي بېز نه لري، یوازې د هغو مطبوعاتو په زور چلېږي چې همدا اوس له بېلابېلو نامشروعو کورنیو او بهرینو سرچینو څخه خړوبېږي، که نړیوال او مستقل ملي کاندیدان غواړي، افغان ولس له دې ډلو تصنعي او جعلي لیډرانو څخه خلاص کړي، نو ښه لار دا ده چې لومړی دې په افغانستان کې بشپړه سوله ټینګه کړي، تر هغې وروسته دې عادلانه انتخابات وکړي، بیا دې جبهه استاد رباني او یا هم کوم بل جمعیتی د خپل مستقل کاندید په توګه ودروي، وبه ګورو چې څومره رایې ګټي، هغه وخت به د جبهه یانو لفاظي او ولسي واک دواړه ښه معلوم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مصر او افغانستان ګډې ګټې او مشترکات

دا لیکنه پر (۱۳۹۴ل) کال لیکل شوې وه، هدف یې دا و چې په کابل کې د مصر سفارت کارکوونکي د افغانستان لپاره په راتلونکي کې ښه لیدلوری ولري.

مصر او افغانستان د نړۍ دوه لرغوني هېوادونه دي، چې خپل طبیعي جوړښتونه او اوږد تاریخي شالید لري؛ په یو ناڅاپي او تصادفي ډول نه دي رامنځته شوي، نو ځکه خو یې د طبیعي، سیاسي او پوځي پېښو او نورو ناتارونو پر وړاندې د مقاومت ظرفیت زیات دی. همدا کیفیت او ظرفیت ددې سبب شوی چې دا هېوادونه او ملتونه د زریزو په بهیر کې خپل ژوند ته دوام ورکړي او خپل نوم ژوندی وساتي.



مصر د تمدنونو زانګو ده، د نړۍ یو شمېر زیات تمدنونو د لرغوني مصر له تمدنونو، علم، پوهې او بصیرت څخه الهام اخیستی او د لرغونو مصریانو معنوي پانګه اوس د ټول بشریت تاریخي او ویاړمنه پانګه ګڼل کېږي. د لرغوني مصر د تمدنونو نښې نښانې د ټکنالوژۍ په دې عصري نړۍ کې لا هم بشر ته د حیرت وړ دي؛ ان اوس هم معاصر بشر ددې توان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لري چې د لرغوني مصر په شان تمدنونه چې د هنر او علم په ګاڼه سمبال وي او یا هغسې ډبرینې ودانۍ جوړې کړي چې مصریانو له نن څخه درې څلور زره کاله وړاندې جوړې کړې وې.

د اسلام د مقدس دین تر خورېدو وروسته مصریانو ددې دین په پراختیا کې تر هرچا زیاته ونډه واخیسته، مصریانو د عربي جزایرو له تورې سربېره د علم نرمه وسیله ملګرې کړه او د اسلام اصلي انځور یې نورې نړۍ ته ورساوه. مصر د حقیقي او منطقي اسلام د تبلیغ، تحلیل او شننې پر یو ستر مرکز بدل شو او د (الازهر جامعه) د ټولې اسلامي نړۍ پر یو ستر فکري او تقلیدي مرکز بدله شوه. دا مرکز ددې وس او توان لري چې د اسلام په باب د نا اسلامي نړۍ د ټولو شکاکانو او د اسلام له اصلي روح څخه د ناخبرو متعصبو او تنګنظرو مسلمانانو ناوړه تعبیرونو او ناسم پوهاوي ته علمي او منطقي ځواب ووایي.

الازهر جامعه په ټوله نړۍ کې د اسلامي نړۍ لید تر ټولو غوره مرکز دی او مصریان په اسلامي نړۍ کې د هغه ملت په توګه مطرح دي چې پر اسلام د پوهېدو او اعتقاد له دواړه عناصرو برخمن دي. مصر نه یوازې د اسلامي تفکر د پالنې، روزنې او خورونې د یو ستر مرکز په توګه د یادونې او ستاینې وړ دی، بلکې د ملي غورځنګونو د الهام یوه ستره سرچینه هم ده. په شلمه پېړۍ کې د (جمال عبدالناصر) په مشرۍ د ټولو عربو د ملي داعیې د غږ پورته کېدل، د ټولې عربي او اسلامي نړۍ او نورو ملتونو لپاره د مثبت پیغام او الهام تر ټولو اغېزناکه وسیله وشوه. جمال عبدالناصر د همدغې سترې داعیې له امله نه یوازې عربي نړۍ، بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې دومره محبوب شو، چې د زمانې ګردونه یې د خلکو له ذهنونو نه شي ایستلای. جمال ناصر ته افغانان د ډېر قدر په سترګه ګوري او په خپل زړه کې یې ورته ځای ورکړی دی. لنډه دا چې مصر د نړۍ د لویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمدنونو، ادیانو، مذاهبو، ملي او ازادي بښونکو افکارو د یوه ستر پالنځي او روزنځي په توګه پاتې شوی دی او لا هم په اوسنۍ نړۍ کې د یو ستر فکري محور حیثیت لري.

افغانستان هم پنځه زره کلن تاریخ لري او په دې زماني بهیر کې له سترو ویاړنو او همدارنګه له ناخوالو سره مخامخ شوی دی. دلته هم بېلابېل تمدنونه رامنځته شوي، خو د بدمرغۍ ځای دا و چې زموږ هېواد د هر تمدن تر جوړېدو وروسته له یو ستر بهرني یرغل او کورني ناورین سره مخامخ شوی او په نتیجه کې د جوړ شوي تمدن ټول اساسات له منځه وړل شوي دي. افغانستان د زریزو په بهیر کې د ارام ژوند لپاره د تنفس ایستلو مجال نه دی پیداکړی، له سکندره نیولې بیا تر چنګېزه، انګرېزه، روسه او اوسني حالته پورې یې ډېر وخت په تاتارونو او ناورینونو کې تېر شوی دی.

که څه هم د افغاني تمدنونو ډېرې نښې نه دي پاتې، خو افغانان د امپراتوریو د ړنګولو داسې تجربه لري چې افغانانو ته په ډېر قیمت تمامه شوې، خو نړیوالو ته په وړیا توګه ډالۍ شوې ده. سکندر دلته ستړی او ناهیلی شو، چنګېزی لښکر دلته ډوب شو، انګرېز دلته مات شو، روس دلته په ګونډو شو او اوس وخت کې د غرب په مشرۍ د نړۍ ځلوېښت هېوادونه دلته ستړي ستومانه شول. د افغانانو ملي مبارزې د نړۍ د ازادۍ غوښتونکو ملتونو لپاره د الهام سترې سرچینې شوې. د غازي امان الله خان په مشرۍ چې کله هم افغانانو انګرېزانو ته ماتې ورکړه، نو د هند د نیمې وچې په ګډون د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه د انګرېزانو د استعمار له ولکې ووتل او کله چې افغانانو شوروي امپراتوري ونړوله، نو نه یوازې د برلین دېوال ونړېد، ختیزه اروپا ازده شوه، منځنۍ اسیا هم ورپسې خپلواکه شوه، بلکې غربي نړۍ او عربي نړۍ هم د شوروي له ګواښونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تهدیدونو بېغمه شوه. مصریانو د تاریخ په اوږدو کې له افغانانو سره ښه اړیکي درلودلي او افغانان په زیاتو برخو کې د مصریانو له مرستو منندوی دي.**

**ددې لیک له سریزې څخه مې هدف دا و چې مصر او افغانستان د اوږده تاریخ د مستحکم ظرفیت له امله یو بل سره د پراخو اړیکو د ټینګښت وړتیا لري. اوس چې بیا ګډ دښمن دا دواړه تاریخي هېوادونه او د هغوی ستر ملي او تاریخي ارزښتونه تهدیدوي، نو یو بل سره د ګډ کار او ملګرتیا ضروریات زیات احساسېږي. افغانستان د خپل غربي ګاونډي (ایران) له خوا د پراخو فکري، اقتصادي، مذهبي، ژبنیو او نورو ډول ډول یرغلونو تر ګواښ لاندې دی. د شیعه مذهب تر چتر لاندې ایران په افغانستان او نړۍ کې د پان ایرانیزم فاشیستي اجنډا پرمخ بیایي، عربي نړۍ کې د مذهبي تفرقې له امله غواړي خپل هژمونیستي هدفونه تعقیب کړي، پاکستان هم له مذهبي افراط څخه د یوې سیاسي وسیلې په توګه ناوړه ګټه اخلي، افغانستان او نورې اسلامي نړۍ ته د اسلام په نامه ترهګریزې او افراطي ډلې ورلېږي، عربي نړۍ ته د دوست په توګه ځان معرفي کوي او په تصنعي توګه د اسلام د مشرتابه او پنجابي استعمار د خورېدو خوبونه ګوري. نور ګڼ شمېر خطرونه او اندېښنې هم شته چې مصر، افغانستان او په مجموع کې عربي نړۍ ته ګډ ګواښونه ګڼل کېږي. په دغسې یو ترینګلي حالت کې د مصر او افغانستان او په تېره بیا د دواړو ملتونو ترمنځ د ګډې همکارۍ اړتیا احساسېږي.**

**طبیعي خبره ده چې دا همکاري باید د حکومتي چینلونو له لارې ترسره شي، خو لاره یې باید ولسونو ته ورسېږي. دا د افغانانو بدمرغي ده چې حکومتونه یې با ثباته نه دي او تر ډېره حده ملي اجنډا نه تعقیبوي، نو ځکه خو د مصر په شان د نړۍ له متمدنو ملتونو سره زموږ د ملت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکي له ځنډ و خنډ سره مخامخېږي. په تېرو (۸۰) کلونو کې هم له مصر سره د افغانستان له اړیکو څخه ځینو ځانګړو کړیو او آن اشخاصو ناوړه ګټه پورته کړه، د افغان او مصري ولس په پیسو یې لوړې زده کړې وکړې خو له دې علم څخه یې د افغانستان د عمران پرځای د افغانستان د ورانولو لپاره کار واخیست.

تر دې وروسته موږ هیله من یو له مصري ولس سره د روابطو له ټینګښت څخه د افغانستان د ابادۍ لپاره هر اړخیزه ګټه واخیستل شي. دا روابط باید داسې اعیار شي چې هم د دواړو هېوادونو ملي ګټې او ارزښتونه وپالي او هم د حکومتونو په تغیر او تبدیل سره کمزوري او متضرر نه شي. دا اړیکي باید افغان ولس ته د مصر د علمي او عمراني خدمتونو په بڼه تامین شي، داسې میتودونه باید وکارول شي چې د هر ډول همکاریو موثریت زیات شي. افغانستان کې اوس داسې بنسټونه شته چې تر سیاسي موخو یې خدماتي اهداف ډېر قوي دي، سیاسي ډلې او اشخاص خپل خپل اهداف او جانبي عوارض لري، نو ځکه خو ورسره د روابطو پالل له خطره او ضرره لرې نه دي. که په کابل کې د مصر سفارت له افغانستان سره د خپلو روابطو د لاپیاوړتیا لپاره پر پخوانیو تجربو سربېره له نورو موثرو میتودونو څخه کار واخلي، نو پوره باور دی چې داسې فضا به رامنځته شي چې له ولس څخه ولس ته به د همکارۍ او ملګرتیا لاره پرانیستل شي.

د همدې ارمان د بري په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوې ژبې د پرمختیا او ځوړتیا څو عوامل او څو دلایل

دا لیکنه گوگل یا نړیوال جال ته د پښتو د شاملېدو په ویاړ شوې او پر (۱۳۹۴ل) کال په دې ویاړ د ملي تحریک له خوا په یو جوړ شوي سیمینار کې اورول شوې وه.

د ژبې عام تعریف دادی چې د پوهولو او راپوهولو وسیله ده. پنځوس په سلو کې پوهاوی او پنځوس په سلو کې راپوهاوی دی. ژبه کېدی شي اشاري وي، انځوریزه وي، لیکنۍ او یا گړنۍ وي. لیکنۍ ژبه د گړنۍ ژبې مادي انځور او افاده گڼل کېږي، غږ د گړنۍ ژبې بنسټ او توری د لیکنۍ ژبې اساس دی. د بشر له پیدایښت سره خدای (ج) هغه ته ژبه یا د بیان د علم ځانگړنه ورکړې ده، د ادم علیه السلام په کورنۍ کې د یوې ژبې د کارونې اړتیا وه، کله چې د ادم زامن زیات شول، خبره قبیلې، قوم او ملت ته ووتله، نو له یوې ژبې څو نورې ژبې او له نورو ژبو څخه بیا نورې ژبې وټوکېدې؛ میندې او خویندې ژبې جوړې شوې او شمېر یې زرگونو ته ورسېد. له نن (۱۳۹۴ل) څخه (۴۰) کاله وړاندې په نړۍ کې (۳۰۰۰) مطرح ژبې ژوندۍ وې، چې د نږدې (۲۵) مهمو لیکدودونو په واسطه لیکل کېدلې او گڼ شمېر ویونکي یې درلودل، البته هغه ژبې چې ډېر کم شمېر ویونکي لري، یانې د ویونکو شمېر یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰۰۰) څخه تر (۲۰۰۰) پورې رسېږي، که دا ډول ژبې محاسبه شي، نو د نړۍ د ټولو ژبو شمېر نږدې (۷۰۰۰) ژبو ته رسېږي، ځینو نورو بیا د مطرحو ژبو شمېر (۱۸۸۲) ښودلی دی، چې پر بېلابېلو لیکدودونو لیکل کېږي، په دې کې بیا ځینې ژبې ډېر تاریخي قدامت لري. خو څومره چې د ګړنۍ ژبې تاریخ پخوانی دی او د بشر له ژوند سره سم پیل شوی، د لیک تاریخ بیا هغومره پخوانی نه دی، د لومړني لیک تاریخ شاوخوا دوه ویشت زره (۲۲۰۰۰) زره کاله پخوا زمانې ته رسېږي، دا تصویري لیک ګڼل کېږي. تر میلاد(۴۰۰۰) کاله وړاندې په مصر کې (هیروګلیف) لیک رامنځته شو، وروسته یې څه نور پرمختګ وکړ او تر میلاد (۳۰۰۰) کاله وړاندې (مېخي لیک) جوړ او دود شو، لیک له هغې وخته بیا تر دې دمه په خپل (۲۲۰۰۰) کلن ژوندوانه کې پنځه پړاوونه وهلي دي: (انځوریز لیک، فکري لیک، کلیمه یي لیک، څپییز لیک او الفبایي لیک). لیک په دې بهیر کې څلور تګلوري خپل کړي دي: (له کیڼې څخه ښي خواته، له ښي څخه کیڼې خواته، له پورته څخه کښته خواته او له کښته څخه پورته خواته.)

د نړۍ نږدې (۷۰۰۰) ژبې ټولې لیکدودونه نه لري، ځینې هېڅ الفبا نه لري، ځینې بیا څو ژبې په یوه لیک پسې شوي او ځینو بیا په یوه لیک کې لږ و ډېر بدلونونه راوړي دي. د نړۍ له (۷۰۰۰) ژبو څخه څه باندې (۱۰۰) ژبې داسې دي چې لیک لوست پرې کېږي. په نړۍ کې اوس نږدې (۲۵) ډوله لیکونه کارول کېږي چې له هغې جملې بیا (۱٦-۲۰) لیکدودونه زیات کارول کېږي. ګرجي، چیني، هیروګلیف او میخي هغه څلور لیکدودونه دي چې په لرغونې زمانه کې زیات کارېدلي دي، خو تر هغو وروسته بیا (فنیقي، ارامي، پهلوي، اوستایي، سریاني، سغدي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورخون، عبري، نبطي، کوفي، عربي او دیوانګري) هغه لیکونه دي چې زیات کارېدلي دي.

د ګڼو ژبو له منځه اوس یوازې پنځه ژبې؛ (انګلیسي، روسي، فرانسوي، هسپانوي او عربي) نړیوالې ژبې ګڼل کېږي او د ملګرو ملتو رسمي اسناد پرې لیکل کېږي، چیني او هندي یا اردو ژبې هم د نړۍ ګڼې ویونکې ژبې ګڼل کېږي په ترتیب سره (چینایي، هسپانوي، انګلیسي، هندي، عربي، پرتګالي، بنګالي، روسي، جاپاني او جاواني) د نړۍ هغه لس ژبې دي چې ډېر ویونکي لري، کېدی شي پر یادو پنځو نړیوالو ژبو چیني او هندي ژبې هم ورزیاتې شي او د نړیوالو رسمي ژبو شمېر (۷) ته پورته شي.

له انګلیسي پرته نورې یادې مطرح نړیوالې ژبې نورو ژبو ته ډېر غټ ګواښ نه پېښوي، البته عربي ژبه د خپل لیکدود او دیني تقدس په قوت ځینې هم مذهبه ژبې سختې ځپلي او له لغوي پلوه یې تر سخت یرغل او اغېز لاندې راوړې دي، خو په بشپړ ډول یې تر ستونزې تېرې کړې نه دي. هسپانوي، فرانسوي او روسي ژبو هم د سیریلیک لیکدود په مټ په دې لیکدود کې شاملې ژبې زیانمنې کړې دي، خو انګلیسي ژبه بیا په دې ټولو کې ژبخوړونکې ژبه ده، انګلیسي ژبې ډېرې ژبې تر ستونې تېرې کړي او له خلکو یې هېرې کړي دي. نو ځکه خو د ژبپوهنې په اصطلاح ورته (ژبخوره) ژبه ویل کېږي. دا چې یوه ژبه ولې بله ژبه خوري، کمزورې کوي یې او له منځه یې وړي، ولې یوه غښتلې کېږي او بله کمزورې کېږي، غواړم همدغو دلایلو او عواملو ته دلته په ډېر لنډیز نغوته وکړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- ديني يا مذهبي ځواک او اهميت:** دين يا مذهب په يوه ولس کې تر ټولو ستر ارزښت او تقدس دی، هر څومره چې په يوه ژبه کې ديني متون زيات وي، دين د همغې ژبې په وسيله د خلکو روح و روان ته ورننوزي. د نړۍ ډېر زيات شمېر ليکلي تاريخي متون چې ګورو هغه د ديني پيغام په قوت ژوندي ياتې شوي دي، (اوستا) ژبه چې تر ډېره وخته ژوندۍ او کارنده پاتې شوې، د زردشتي دين د پيغامونو له امله وه. د يهودو ژبه له خولې څخه وغورځېدله او نږدې وه چې په مړو ژبو کې حساب شي، خو د ديني پيغامونو په ځواک، کله چې د اسرايلو حکومت جوړ شو، له ليکلو متونو څخه بېرته خولې ته ورداخل شوه او اوس هم د ليک، هم د وينا او هم د اسرائيلي حکومت، د علم، سياست او دفتر ژبه ده.

عربي ژبه چې پر عربي هېوادونو سربېره د نړۍ په ګڼو اسلامي هېوادونو کې دود ده، د ديني پيغامونو په برکت پر ټوله اسلامي نړۍ خوره ده، يو افغان ماشوم مخکې تر دې چې په ليکنۍ توګه له خپلې ژبې سره اشنا شي، لومړی له عربي ژبې سره اشنا کېږي، که قران، نبوي احاديث او نور ديني متون په عربي ژبه نه وای، نو عربي ژبې هېڅکله دا مقام نه شو خپلولای.

په پښتو کې د بيټ نيکه مناجات، د شيخ متی منظومه، د پير روښان خير البيان او د اخوند دروېزه مخزن السلام د ديني او مذهبي پيغامونو په مټ ژوندي او خوندي پاتې شوي دي. په فارسي کې د مولانا جلال الدين بلخي (مثنوي معنوي) د ستر ديني پيغام لرونکې ده، د سعدي (بوستان او ګلستان) هم ستر ديني او اخلاقي پيغامونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- سیاسي ارزښت او اهمیت:** د یوې ژبې د پرمختیا او پراختیا بل اساسي علت د هغې ژبې سیاسي ارزښت، اهمیت او ملاتړ دی، کوم ملتونه او دولتونه چې په سیاسي ډګر کې برلاسی لري، د هغو ژبه هم ورسره په متوازنه توګه وده کوي. په روسیه کې تر (۱۹۱۷م) کال یا د اکتوبر تر انقلاب وړاندې فرانسوي ژبه د دربار، سیاست، دفتر او علم ژبه وه، په فرانسوي خبرې کول د اشرافو کار ګڼل کېده ، خو د (الکساندر پوشکین) له افکارو څخه په الهام (ولادیمیر ایلیچ لنین) د روسي ژبې پراختیا د خپل کمونیستي تفکر یوه برخه وګڼله، نه یوازې یې په شوروي جمهوریتونو کې په جبري او نا مستقیم ډول دود کړه، ان د نورو ژبو لیکدودونه یې هم په سرلیک یا روسي لیکدود واړول.سربېره پر دې هغه یې په نورو شوروي پلوه هېوادونو کې هم دود کړه او پر ملګرو ملتونو یې د نړیوالې ژبې په توګه د ویتو د حق په شان ومنله.

کله چې انګرېزان پر فرانسې واکمن وو، نو فرانسوي ژبه د انګرېزۍ تر سیوري لاندې وه، خو کله چې انګرېزان مات او فرانسویان سیاسي بلوغ او خپلواکۍ ته ورسېدل او ګڼ شمېر نور هېوادونه یې ایل کړل، نو فرانسوي نه یوازې په خپل هېواد کې د سیاست، علم، اقتصاد او دفتر ژبه شوه، بلکې د دوی تر ولکې لاندې په ګڼو هېوادونو کې یا لومړۍ او یا هم دویمه ژبه وګڼل شوه.

په هند کې د مغولو په دربار کې د سوونو کلونو په بهیر کې فارسي ژبه د یو محدود واکمن اقلیت ژبه وه، خو د هند د ټولې نیمې وچې د رسمي او دولتي ژبې په توګه وکارېدله. خو کله چې درباري حاکمیت او واک ختم شو، د دې ژبې لمن هم ورسره راټوله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو چې د نړۍ هر هېواد لاندې کړی، نو د ښکېلاک تر څنګ یې هغو هېوادونو ته په خپل رنګ کې څه ناڅه د تمدن نښې نښانې هم وروړې دي، نو ځکه که انګرېزان له هغو سیمو ایستل شوي هم دي، د تمدن اثار په تېره بیا د ژبې اغېزې یې پر خپل ځای پاتې شوي دي. هند، پاکستان، ځینې عربي او د نړۍ یو شمېر نور هېوادونه یې څرګندې بېلګې دي.

**۳- د ژبې علمي ارزښت او اهمیت:** علمي ارزښت او ملاتړ د ژبې د پرمختګ داسې یوه وسیله ده چې هېڅ ډول فشار ته اړتیا نه لري، نن چې څوک انګرېزي، فرانسوي او یا د نړۍ بله کومه معتبره ژبه زده کوي، هغه د خپلې علمي سویې د لوړاوي او پوهنیزو اړتیاوو لپاره زده کوي، یوه ژبه هغه وخت علمي ارزښت پیدا کوي چې ویونکي یې فکري تولید ولري. زموږ ژبه د فکري تولید له امله د نړۍ له نورو مطرح او ان نا مطرح ژبو سره د پرتلې وړ نه ده، موږ په خپله ژبه اوسمهال په کال کې تر (۵۰۰) عنوانو د زیاتو اثارو تولید نه لرو، په داسې حال کې چې زموږ ګاونډي ایران په اوونۍ کې (۱۲۰۰) عنوانه اثار تولیدوي، لندن کې څو کاله مخکې هر کال له (۵۳۰۰۰) څخه تر (۶۰۰۰۰) عنوانه اثار چاپېدل، په امریکا کې هر کال(۱۷۲) زره عنوانه بېلابېل اثار چاپېږي او که د چاپ د شمېر له پلوه یې محاسبه کړو، نو موږ د خپل نفوس د اړتیا په اندول صفر ته نږدې کېږو، دفتر، دېوان او رسنۍ هم په فکري تولید پورې تړلي دي، اوس موږ په پښتو کې په نسبي ډول د خپل هېواد په کچه څلور لیدنۍ رسنۍ (ټلوېزیونونه) لرو چې دوه یې د ناپښتنو او دوه یې د پښتنو له خوا جوړې شوې دي. هغه هم ټول هېواد تر پوښښ لاندې نه شي راوستلای، سږ کال د ټول هېواد په کچه ټول دولت تر (۵۰) عنوانو زیات علمي اثار نه دي چاپ کړي او دا په داسې حال کې ده چې د هېواد (مشري) هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو (مفکر) په لاس کې ده، نو چې د مفکر په واکمنۍ کې د هېواد فکري تولید صفر وي، نو د نورو نافکرو، کمسوادو او بیا بېسوادو په واکمنۍ کې به حالت څنګه وي؟ په دغسې یو حالت کې د ژبې وده او پرمختګ اسانه کار نه دی.

**۴-د ژبې اقتصادي ارزښت او اهمیت:** یوه ژبه هغه وخت پرمختګ کولای شي چې د ګټې وټې، بازار او کاروبار ژبه شي، انګلیسي کورسونه په ښارونو کې ځکه زیات دي چې خلک په کې خپله ګټه ګوري، ان دیني ارزښت او نه ارزښت یې هم څوک نه محاسبه کوي، دلته درملتونونه ځکه زیات دي چې ناروغان زیات دي درمل پلورونکی ګټه کوي او د انګلیسي ژبې د زده کړې کورسونه ځکه زیات دي چې دوه اړخیزه ګټه لري، څوک چې کورس لري، هغه فیس اخلي او څوک چې انګلیسي زده کړي، هغه ته په انجیو، حکومت او ان ارګ کې دنده پیدا کېږي، هره ژبه چې د اقتصادي ګټې وټې دغسې یوې لوړې پوړۍ ته ورسېږي، نو څوک غواړي او کنه، پرمختګ کوي، پراخېږي او د دې پرمختګ مخنیوي هم اسانه کار نه دی، له همدې کبله هر چېرته چې انګلیسي ژبه رسېدلې، ورې او سیمه ییزې ژبې، چې پورته ارزښتونه نه لري، هغه یې له پښو غورځولې او له ستوني یې تېرې کړې دي. نو ځکه خو انګلیسي ژبې ته یو شمېر ژبپوهان ژبخوره ژبه هم وایي. ددې یادو ارزښتونو ترڅنګ یو شمېر نور ارزښتونه هم شته چې دلته یې د وخت د کموالي له امله له شننې څخه تېرېږو، خو اوس راځو د خپلې ژبې برخلیک او د ودې څرنګوالي ته:

**پښتو او د اوسنۍ زمانې د ژبو او تخنیک سرعت:** د یوې ژبې د ساتنې، بډاینې او پرمختګ څلورو غټو عواملو او دلایلو ته مو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز سره اشاره وکړه، پښتو د پورتنیو څلورو ملاتړو ارزښتونو له پلوه له یوه څخه هم برخمنه نه ده. د نړۍ هره بله ژبه چې پورتني ازښتونه ونه لري، د قوي ژبو تر یرغل لاندې هم وي، شونې نه ده چې ډېر وخت دوام وکړي او ژوندۍ پاتې شي. اوس د نړۍ په کچه د (۷۰۰۰) لویو او وړو ژبو له جملې څخه په هرو (۱۴) ورځو کې یوه ژبه د همدغو ملاتړو امکاناتو د نشتوالي له امله مري، افغانستان ته د ژبو گودام ویل کېږي چې د تېرې میلادي پېړۍ له پیله بیا تر پایه تر (۳۳) زیاتو ژبو ویونکي درلودل، خو د همدې یادې پېړۍ په بهیر کې گڼ شمېر ژبې هېرې او مړې شوې، څرگنده بېلگه (داردي) ژبې دي چې په هغو کې گڼ شمېر ژبې لکه؛ (کاتي، وایگلي، پراسوني، دامیلي، پشه یي، شوماشتي، ننگلامي، وټه پوري، گواري، تیرایي، کشي، بشکاریک، کاروي، توروالي، مایاني، شیني، پهارلوري، کشمیري) او ځینې نورې ژبې شاملې وې، دا ټولې ژبې یا په بشپړ ډول له منځه تللي دي او یا هم د له منځه تللو په حال کې دي، د هېواد په شمال ختیځ کې پامیري ژبې هم د مرگ له گواښونو سره مخ دي،خو دا چې د هېواد د یوې مهمې ژبې په توگه پښتو ولې ژوندۍ پاتې شوې او د پرمختگ جوگه هم ده، غواړو همدې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو.**

**پښتو ته د ژبپوهنې په اصطلاح (کنزرویټېف)؛ محافظه کاره یا ځانساتې ژبه وایي، ځانساتې په دې مانا چې خپل ځان په خپله ساتي، له دولتي امکاناتو او هغو ملاتړو ارزښتونو چې پورته مو ورته اشاره وکړه، له هغو پرته خپل ځان په خپله ساتي، د شلمې پېړۍ په نویمو کلونو کې د ملگرو ملتونو د (یونسکو) ادارې چې د تاریخي میراثونو، ژبو او نورو بشري ارزښتونو ساتنه او پالنه کوي، یوه اعلامیه خپره کړې وه او په هغې کې یې پښتو په هغو ژبو کې حساب کړې وه چې ډېر ژر به د مرگ مزه وڅکي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو استناد شاید پر هغو امکاناتو وو چې موږ پورته ورته نغوته وکړه. خو پښتو د هغوی د وړاندوینې خلاف د بل هر وخت په انډول اوس په نسبتاً ښه دریځ کې ده. د یونسکو په شان یو علمي مرکز کېدی شي د پښتو ژبې ولسي ملاتړ نه و محاسبه کړی. د پښتو اساسي ملاتړ اصلاً په خپله ولس دی، د هرې ژبې نوم چې له ملت یا قوم سره تړلی وي او شاته یې ولس ولاړ وي، تر هغه پورې چې ولس په بشپړ ډول محوه شوی نه وي، ډېره سخته ده چې ولس ورته گوري او ژبه یې مري. هغه ژبې چې درباري ملاتړ لري، د سیاسي او دفتري ځواک په ختمېدو سره هغه ژبه خپل پخوانی دریځ نه شي ساتلای، خو پښتو چې له پخوا څخه هم د دربار او سرکار ژبه نه وه، نو د دربار اوښتون راوښتون یې په خپل دریځ کې څه بدلون نه شي راوستلای، البته که ملاتړ یې وکړي، د پرمختگ سرعت یې زیاتولای شي. یو چکي ژبپوه (ډاکټر پیچکا) چې (پښتو خج څېړنه) په نامه یې یو ځانگړی اثر لیکلی، هغه وایي د پښتو ژبې د پرمختگ سرعت تر نورو گاونډیو ژبو زیات دی.

پښتو سره له دې چې ولسي ملاتړ لري، خو دا ملاتړ ټول د پښتو په پرمختگ کې شامل نه دی، په دې مانا چې د ولس غوڅ اکثریت پښتو وایي، خو ټول یې بیا د لیکلو جوگه نه دي، په ولس کې ملکان پښتو وایي، پالي یې هم، خو ټول یې له لیکلو سره بلد نه دي، ملایان یا روحاني قشر یې وایي، خو لیکي یې نه او یا یې یو زیات شمېر د لیکلو جوگه نه دي، په پښتنو کې یوازې لیکوال او شاعران دي چې پښتو لیکي او هم یې وایي، سندرغاړي په دویمه گټگوري کې راځي، چې د پښتو د ځلولو لپاره له خپل هنر څخه کار اخلي، یو شمېر علمي مرکزونو هم په دې برخه کې کارنده ونډه اخیستې ده، خو لیکوالو او شاعرانو فکر، مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ولوله درې واړه سره يو ځای کړي او پښتو يې د مرگ له خطره ژغورلې ده.

اوس چې په نړيواله کچه پښتو په سلو مطرح ژبو کې حسابېږي او د گوگل نړيوال معلوماتي، علمي او ارتباطي جال ته لاره پيدا کوي، په لسگونو وېبپاڼې او په زرگونو فيسبوکپاڼې او نورې برېښنايي رسنۍ په پښتو کې فعالې دي. پښتو ليدنۍ، اورېدنۍ چاپي او کتنۍ رسنۍ لري، نو د (يونسکو) د وړاندوينې خلاف پښتو د (ډاکټر بيچکا) له وړاندوينې سره سمه په سرعت سره پرمختگ کوي، البته پښتو لا هم د افغانستان د اساسي قانون مطابق، خپل سياسي، دفتري، علمي، رسنيز او اقتصادي حقوق نه دي تر لاسه کړي او که دولت د يوه مسؤل ارگان په توگه خپل مسؤليت د عدالت پر بنسټ ترسره کړي، نه يوازې مرگ به د پښتو خواته سترگې راوانه ړوي ، بلکې د پښتو اوسنی پرمختگ به نور هم څو ځله زيات شي.

د همدې ورځې د رارسېدو په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یو لوی ملت، د یوه ستر مشر یوه تاریخي وینا

**کله چې پر (۱۳۹۴ل کال) د هند لومړی وزیر (نریندرا مودي) کابل ته راغی، نو د افغانستان د ملي شورا ودانۍ کې یې، چې د هند په مالي مرسته جوړه شوې وه، د ملي شورا دواړو جرگو ته یوه تاریخي وینا کړه. دا وینا د زیاتو افغانانو له هر کلي سره مخامخ شوه، خو د یو شمېر تنگنظرو کړیو په زړه اواره نه شوه. دا لیکنه د هند لومړي وزیر ته د مننې په توگه لیکل شوې او بیا وروسته هند سفارت ته لېږل شوې چې خپل لومړي وزیر ته یې ورسوي.**



(د هند لومړی وزیر؛ نریندرا مودي)

**هندوستان او افغانستان د دوو تاریخي هېوادونو په توگه په یوه لویه وچه کې ژوند کوي. هندوستان د یوه ستر ولسواک هېواد په توگه د ولسواکۍ اوږده تجربه لري او د (مهاتما گاندي) د عدم تشدد انساني نظریه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشر د سوکالۍ نظریه ده. دا نظریه د پرون ضرورت هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي. په همدې خاطر خو په نړۍ کې په ملیاردونو انسانان ددې نظریې ملاتړ کوي. افغانستان بیا د نړۍ د سترو زبرځواکونو او لویو زورواکو امپراتوریو په ماتولو کې اوږده تجربه لري. که څه هم دا تجربه افغان ملت ته په ډېره گرانه بیه تمامه شوې او لا هم تمامېږي، خو د نړۍ نورو ازادي غوښتونکو غورځنگونو او ولسونو ته د الهام سرچینه ده. افغانانو د تورې او عدم تشدد دواړه تجربې تېرې کړي دي. (غازي امان الله خان) د تورې او منطق په زور د انگرېزي ښکېلاک زنځیرونه مات کړل او دا کار په نړۍ کې د گڼو هېوادونو د ازادۍ لپاره څلانده ډیوه شوه او فخر افغان (خان عبدالغفار خان) بیا له (مهاتما گاندي) سره څنگ په څنگ د عدم تشدد لاره ونیوه. د لوی هندوستان د خپلواکۍ لپاره یې نه ستړي کېدونکي مبارزې وکړې. که څه هم په پای کې د غازي امان الله خان او خان عبدالغفار خان ټول ارمانونه پوره نه شول، خو د ملي، تاریخي او بشرپالو شخصیتونو په توگه یې د ټولو انسانپالو او ژوندپالو انسانانو په زړونو کې ځای پیداکړ.

د لوی هندوستان مدبر، ژبور او مفکر صدراعظم (نارېندرا مودي) چې کله د افغانستان پارلمان د نوې ودانۍ (اتل) د پرانیستې پرمهال وینا کوله، نو په ملیونونو افغانان ورته غوږ غوږ وو. لومړي وزیر د افغانستان او هندوستان پر تاریخي اړیکو او دوستۍ رڼا واچوله او دا یې نړۍ ته څرگنده کړه چې د افغان - هند دوستي یو اوږد تاریخي تسلسل لري، هند او افغانستان په نړۍ کې دوه داسې هېوادونه دي چې پر گډو تاریخي او کلتوري اړیکو سربېره گډ تاریخي اتلان لري، شېرشاه سوري، باچاخان او نور یې ښه مثالونه دي. د مهاتما گاندي انساني ایډیالوژي په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګڼ پلویان لري او هندي هنر د اکثرو افغانانو ذهنونو ته لاره پیدا کړې ده.**

**لومړي وزیر (نارېندرا مودي) د افغانستان یو شمېر ګاونډیو هېوادونو ته د رمز په ژبه وویل چې که له سرېتوب څخه کار اخلئ، نو د هندوستان په شان کارونه وکړئ؛ افغانستان کې ودانۍ مه ورانوئ، ودانۍ جوړې کړئ! د لومړي وزیر په دې خبرو کې افغانانو او زموږ ګاونډیو ته غټ پیغام پروت و، هم افغانان په زړه کې پوهېږي او هم د افغانانو غلیمان او هم ټول نړیوال چې افغانستان کې څوک د ورانۍ په لټه کې دي او څوک د ابادۍ په فکر!**

**اکثره افغانان جرمني، جاپان او هندوستان د هغو هېوادونو له جملې څخه ګڼي چې افغانستان کې یې د نوې جوړونې او بیارغونې په برخه کې اساسي ګامونه پورته کړي او بې غرضه مرستې یې کړي دي. که څه هم زموږ د یوه نیم ګاونډي به د هندوستان دا ډول بې غرضه مرستې نه خوښېږي، د افغانانو خو خوښېږي او اړتیا ورته لري، افغانان هم دا استدلال لري چې ووایي موږ خدای پاک د ګاونډي د خوشالۍ لپاره نه یو تخلیق کړي، موږ یې مستقل پیداکړي یو، باید خپلواک واوسو، نو حق لرو چې له هندوستان او بل هر هېواد سره خپلواک دوه اړخیز اړیکې ولرو.**

**د هند د صدراعظم وینا یو ځل بیا په افغانانو کې له هندوستان سره د اړیکو پاللو او د ورورۍ روحیه پیاوړې کړه، د هند او افغانستان حال یې له ماضي سره وصل او د راتلونکي لپاره یې ښه لیدلوری روښانه کړ. د افغانستان د حال او ماضي په باب د هند د صدراعظم معلومات دومره زیات، پراخ او دقیق وو، چې په خپله د افغان چارواکو هم دومره نه وو،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو که له یوې خوا د هند د صدراعظم پر خبرو خوښي څرګندوله، نو له بلې خوا یې پر خپلو تصنعي چارواکو قهر او غوصه هم ښکاره کوله، چې ولې یې د هند د صدراعظم په شان په الفاظو کې پوره قوت او ظرفیت موجود نه و او ولې د خپل هېواد له ماضي څخه ناخبره دي. د هند صدراعظم ته د افغانستان تاریخي واقعیتونه په دومره ژور ډول معلوم وو چې نه یې پر هېواد باندې د واکمنۍ جنګسالاریزې فضا، تنظیمي ټوپکمارو او سترو جنګسالارانو یادونه وکړه او نه هم ستاینه. د زورواکو یادونه هغه منفي تقاضا ده چې پر هېواد واکمن جنګسالاران یې له هر بهرني لوړ پوړي چارواکي څخه هیله لري، چې د دوی تنظیمي ټوپکمار دې د افغانستان د شخصیتونو په توګه په داسې غونډو کې د مثبتو او ملي کرکترونو په توګه یاد شي، خو د هند صدراعظم د افغانستان واقعیتونه په ژور ډول درک کړي او یوازې یې د همغو تاریخي شخصیتونو یادونه وکړه چې ټول افغان ولس ته د منلو او تائید وړ وو. د هند د صدراعظم په دې مدبرانه چلند هم له څو محدود جنګسالارانو او د هغوی له پلویانو پرته اکثریت افغان ولس ډېر خوشاله دی.

هندوستان افغانستان ته د ((اتل)) ودانۍ ډالۍ کړه، د نورو په شان یې هڅه ونه کړه چې ((غل)) پر افغانانو باندې د ((اتل)) په نامه تحمیل کړي. هند د ((اتل)) ودانۍ په ډالۍ کولو سره د ابادۍ د یو سمبول په توګه رښتیني ((اتلولي)) څرګنده کړه.

دا داسې یو یادګار دی چې کله هم د افغان ولس رښتیني استازي په دې ودانۍ کې ناست وي، نو د هندوستان د ستر هېواد دا ډالۍ به وریادېږي؛ له دې سره به د افغانستان د ودانۍ سوچ هم کوي او هم به یې د هند ټولې هغه مرستې او ودانیزې چارې په ذهن کې ګرځي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هندوستان د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان کې ترسره کړي دي. موږ هیله لرو چې دې ودانۍ ته د ولس رښتیني استازي لاره پیداکړي چې ذهن او فکر یې د هېواد د ابادۍ له مینې ډک وي، نه لکه د اوس په شان چې یو زیات شمېر یې د خپل ځان په فکر کې دي.**

**د هند د صدراعظم وینا د افغانستان او هندوستان په اړیکو کې یو نوی تاریخي باب دی چې ارزونه او ستاینه یې په یوه لیکنه یا څو لیکنو کې ناشونې برېښي، دا وینا دومره ښکلې وه چې موږ ورته حد او حدود نه شو ټاکلی، د هر ښکلي شي لپاره برید ټاکل اسانه کار نه دی، لکه څنګه چې ښکلا پوهان له ښکلا څخه خوند اخلي او تعریفولای یې نه شي، دغسې موږ هم د هند د صدراعظم له ښکلې وینا څخه خوند واخیست، خو تعریفولای یې نه شو، خو مننه یې پر موږ فرض ده، که څه هم د مننې لپاره به بشپړ او پوره الفاظ ونه لرو، عیناً لکه د خپل ولس په شان چې په زړه کې ډېر صفا، مخلص او صادق دی، خو د خپل صداقت او رښتینولۍ لپاره ورسره وخت پر وخت بشپړ الفاظ موجود نه وي، دغه لیک زموږ د زړه د اخلاص زېرنده وګڼئ، که په الفاظو کې کمی وي، هغه راوبښئ، خو په مینه او خلوص کې به کمی نه وي.**

**د ګاندي او باچاخان د عدم تشدد د افکارو، ایډیالونو او نظریاتو د پلي کېدو په هیله**

**په ډېر درنښت**

**پوهنوال محمد اسمعیل یون**

**د افغانستان ملي تحریک په استازۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوه فرهنګي انقلاب په لټه

**دا لیکنه یا وینا مې د (۱۳۹۴ل) کال د کب پر (۲۷)مه په کابل سټار هوټل کې د ملي تحریک له خوا د (۱۰۲) عنوانو علمي او ادبي اثارو د چاپ په ویاړ په رابلل شوې پرتمینه غونډه کې اورولې وه.**



**د عظیم، کریم، رحیم، غفار او غفور څښتن تعالی په نامه**

**تر هر څه وړاندې د افغانستان ملي تحریک په استازۍ ملي او پخواني ولسمشر ښاغلي قدرمن حامد کرزي، تاسو ټولو درنو او قدرمنو مشرانو، مخورو، لیکوالانو، استادانو، د ملت استازو، دولتي چارواکو او ددې پرتمینې غونډې ټولو برخوالو ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وایم!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ته سلامونه ، درناوی، ښې چارې، ښه راغلاست ، هر کله راشئ!

درنو او پتمنو هېوادوالو! نن موږ په داسې یو حالت کې یو چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ویر او ماتم اورونه بل دي او هره ورځ زموږ د هېواد تنکي ګلونه د اور د لمبو له ستوني تېرېږي. ټول هېواد له داسې یو ستر ناورین او ناتار سره مخامخ دی چې نه مو مشر پرېږدي، نه مو کشر، نه ماشوم، نه ځوان او نه بوډا، نه مو ښوونځی پرېږدي، نه روزنځی، نه درملځی او نه دمه ځای، ټول هېواد د جهل له یو سېلاب او توپان سره مخامخ دی. په داسې یو حالت کې د علم او تمدن، انسانیت او سړیتوب لپاره د یوې ډیوې لګول هم د زیات ارزښت او اهمیت وړ کار دی.

د افغانستان ملي تحریک د خپل هېواد د دردونو د درملنې لپاره تر ټولو ښه او غوره مبارزه دا وګڼله چې د وچو او سپوره شعارونو، ولولو او جذباتو پر ځای عملي کار، زیار او خدماتو ته مخه کړي. په هېواد کې د سیاسي، کلتوري او مدني حرکتونو دودیز سستم چې اکثره د تقاضا د شعار پر بنسټ ولاړ و، مات کړي او خپله عملي کار ته ورودانګي. په کلتوري، ټولنیز او سیاسي ډګر کې د عملي کار او خدماتو بېلګې وړاندې کړي، د مظلومو هېوادوالو غږ او فریاد پورته کړي او د انسانپالو او هېوادپالو افغانانو د مرستې لاس هغوی ته ورسوي. دا په دې مانا نه ده چې د تحریک په دې ډول حرکت سره به هره ستونزه حل شي او موږ به خپل وروستي انساني ارمان ته ورسېږو، خو خبره په دې کې ده چې موږ به د ناروغۍ او درد د درملنې لپاره تر خپله وسه لومړني ګامونه پورته کړي وي. یوازې په ټولنیزه برخه کې موږ په تېر یوه کال کې په ننګرهار، کونړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغمان، خوست، کابل، هلمند او د هېواد په نورو سیمو کې جګړه ځپلو، غمځپلو او مصیبت ځپلو هېوادوالو سره د لاسنیوي په خاطر له کورمېشتو او بهرمېشتو افغانانو څخه مرستې راټولې کړي او مظلومو هېوادوالو ته مو رسولي دي. هغه نقدې مرستې چې د تېر یوه کال په بهیر کې د ملي تحریک له خوا په مستقیم او نا مستقیم ډول هېوادوالو ته رسول شوي، نږدې (پنځه لس میلیونه افغانیو) ته رسېږي.

ملي تحریک د جګړې پر ضد د شینوارو د ولسونو غږ اوچت کړی او دوه ځله یې د هغوی د فریاد د اوچتولو لپاره غونډې جوړې کړې دي.

ملي تحریک په جلال اباد ښار کې د یوې خونړۍ پېښې پر ضد لاریون وکړ، هغه پېښه یې وغندله او د قربانیانو له کورنیو سره یې د هېوادوالو مرسته راجلب کړه.

ملي تحریک په سیاسي ډګر کې د سیاسي ډلمشرانو او یو شمېر حکومتي چارواکو د ناقانونه پرېکړو پر وړاندې پر خپل وخت غبرګون ښودلی او د ولس هیلې او غوښتنې یې منعکس کړي دي. ملي تحریک د تېر یوه کال په بهیر کې د ملي هویت په تېره بیا د هویت په تذکره کې د افغانیت او اسلامیت د تسجیل په خاطر په لسګونو لویې او وړې غونډې کړي او هم یې له نورو ورته مدني،کلتوري او سیاسي حرکتونو سره یو ځای د (افغانیت او اسلامیت) د ستري داعیې د ملاتړ لپاره په پراخ لاریون کې اساسي نقش لوبولای او ددې داعیې غږ یې تر ټولو اړوندو دولتي چارواکو پورې رسولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي تحریک د تېر یو کال په بهیر کې د ملي او فرهنګي شخصیتونو د نمانځغونډو په ګډون تر لسو زیاتې بېلابېلې ادبي علمي او تحلیلي نمانځغونډې جوړې کړې دي، په (ګوګل یا نړیوال علمي جال) کې یې د پښتو د شاملېدو په ویاړ یو ورځنی علمي سیمینار جوړ کړی دی او نور ګڼ شمېر لوی او واړه کارونه چې د وخت د کمښت له امله یې د ټولو له یادولو ډډه کوم.

## ددې غونډې قدرمنو ګډونوالو او درنو هېوادوالو!

د (۱۳۹۳ل) کال په بهیر کې ملي تحریک د یوې غونډې په ترځ کې له خپل ولس سره ژمنه کړې وه چې موږ به انشاء لله د (۱۳۹۳ل) کال تر پایه پورې (شل) عنوانه بېلابېل علمي کتابونه ولس ته ډالۍ کوو. ملي تحریک خپله ژمنه پوره کړه او د یوې غونډې په ترځ کې یې د (۱۳۹۳ل)کال د کب میاشتې په وروستیو کې  په (کابل سټار هوټل) کې د یادو شلو عنوانو کتابونو مخکتنه وکړه.

د تېر (۱۳۹۳ل)کال په بهیر کې په همدې ځای  (کابل سټار هوتل) کې پر همدې مهال ملي تحریک یو ځل بیا ژمنه وکړه چې د راروان (۱۳۹۴ل) کال تر پایه به انشاء الله د خپل ولس په همت (سل) عنوانه بېلابېل اثار خپل ملت ته وړاندې کوي. تحریک د یو کلن متواتر او سترې کوونکي کار په پای کې دا دی د یوې سلیزې په بشپړاوي  سره نه یوازې خپل دا هدف  ترلاسه کړ، بلکې تر ټاکلي هدف هم پورته لاړ، (یو سل او دوه) عنوانه اثار یې چاپ کړل. په دې علمي او نشراتي سلیزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګڼ شمېر داسې علمي، ټولنيز او تاريخي اثار هم شامل دي چې په تعليمي او تحميلي ډګرونو کې به ترې د تدريسي اثارو په توګه ګټه پورته کېږي. طبيعي خبره ده چې دا يو ډېر ستړی کوونکی کار و، زه د ملي تحريک په استازۍ له ټولو قدرمنو ليکوالو او د چاپ په برخه کې له ټولو مالي مرستندويانو څخه د زړه له تله مننه کوم چې په ډېرو سختو شرايطو کې يې يو بل سره د مرستې لاسونه ورکړل او د هېواد په تاريخ کې يې يوه ډېره مثمره فرهنګي خاطره او حادثه وپنځوله دا فرهنګي حماسه هم حکومت او هم نورو علمي بنسټونو ته د الهام يوه ښه او عملي بېلګه ګرځېدلی شي. دا کار په اسانۍ سره نه دی ترلاسه شوی، يو کلن کاري پلان او شپږ مياشتې متواتر زيار ددې سبب شو چې موږ د نن ورځې مثبتې فرهنګي حادثې ته ورسېدو. په دې علمي کار کې نږدې دوه سوه کسانو په مستقيم او تر درې سوه زياتو کسانو په نا مستقيم ډول ونډه لرلې ده. ښاغلي (ضياء الرحمن ضياء) چې د کمپوز، سمون او اوډون چارې يې پر مخ بيولې، د ګنګستوب تر پړاوه ورسېد، ان تر دې چې د ورځې يې په وينه زلزلې کتلې او خبره ان تر ډاکټره ورسېده. (فياض حميد) هم د تنکۍ ځوانۍ تنکۍ شېبې ددې کتابونو ډېزان او ښکلا ته وقف کړې. تر ټولو دمخه د نورو په استازولۍ له دوی څخه ځانګړې مننه کوم. له قدرمنو ليکوالو هر يو ((سميع الله پام، محمد انور سلطاني، يحيا همای، محمد حسن حقيار، څېړنپوه محمد شريف ځدراڼ، ډاکتر بادام شفق،حفيظ الله نظيمي، ضياءالحق صديقي، وفاالرحمن وفا، سيده حسينه ګل تنها، فيروز خان صادق، روشن لال ملهوتره، پوهاند رازقي نړيوال،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوهاند ډاکتر نقیب الله سهاک، ضیاءالرحمن ضیاء، حفیظ الله تراب، ذکریا ملاتړ، محمد حسن حقیار، اسدالله رحمتزی، سید اصغر هاشمي، نقیب احمد اتل، پوهندوی عبدالقیوم کریم، استاد حبیب الله رفیع، گل رحمان رحماني، نصر لله سوبمن ، امید حیران، عبدالکریم توتاخېل، پوهنوال احمدشاه زغم، محمد اورنگ مختار، محمد ذاکر ذکي، خاطره قریشي، محمد اصف احمدزی، سید امرالله امید، دینارگل امین سهاند، محمد ایمل ابراهیم خېل، مینا مسعوده نېکیار، باصره شعاع، شېرشاه همدرد، سر محقق زلمی هېوادمل، فریدالله اولخېل، مسعوده همدم، څېړندوی عبدالغفور لېوال، مصطفی عمرزی، پوهنوال محمد رفیق رفیق، شمله نیازی، احمدالله ارچیوال، زرلښت حسیني، محمد اکبر نیازی، روح الله تلاش، فیاض حمید، رفیع الله روشن، محمد ویس، حکیم بشارت، سردارمحمد همدرد، محمدداوود جنبش، رفیع الله نیازی، شاه محمود کدوال، پوهاند دوکتور عبدالخالق رشید، ملوک رغون، محمد نواز حقیقت، یار محمد سهار، محمد حلیم ستانکزی، ارین یون، پوهنیاره اریانا حقپال او یاسمین وزیري)) څخه ډېره مننه کوم چې له کومې طمعې او توقع پرته یې موږ ته خپل اثار په واک کې راکړل.**

**د چاپ لپاره له مالي تمویلوونکو هر یو ((حاجي عبدالقیوم پردیس، سلطان محمد نوري،قدرت الله سهاک، عبدالرزاق رافت، په ډنمارک، هلمند او ننگرهار کې د تحریک له کلتوري څانگو ، لطیف خان ژوندی، پوهنمل غلام نبي فراهي، عبدالستار سعادت، ، شمیم کټوازی، چرند سنگ او پارسن سنگ، غفور خان، حاجي سنگر ساپی، قطب الدین رویدار،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**امیرخان یار، حاجي محمد رفیع وردگ، حاجي وحیدالله ولیزی، محمد داود شینواری، احسان الله کاموال، حاجي محمد انور اخندزاده، محمد اقبال عزیزي، محمد عمر شېرزاد، محبوب الله محبوب، خیرالله، علي اکبر ژوندی، انجنیر نظرمحمد منگل، محمد حلیم فدایي، محمد گلاب منگل، محمودکرزی، ډاکتر زلمی احمدزی، محمد زمان مموزی، عبدالجبار نعیمي، حمید ناصري وردگ، زلمی توپان، شېرعلي خان شېر، حاجي خان محمد باز، عرب شاه چمتو، میرویس یاسیني، اجرخان زهیر، وحیدالله کلیمزی ، ډاکتر یعقوب پتیالی، عبدالقادر ځاځی، عبدالوکیل وفا، زمرک پادخوابي، انجنیر میرحاتم فضلي، خان افضل هډه وال، محمد عاشق غریب ، محمد اصف حکیم، میرحمزه سامیزی، احمد جان پوپل، نثاراحمد ناصري، حوریه عالم، انیسه عمراني، سیدخالد عمراني، عبدالله رامین همدرد، ډاکتر احمد همدرد حسام، انجنیر ذبیح الله حسام، سید فضل الله وحیدي، محمد اصف ننگ، محمد هاشم نیازی سنګر، گلزار سنگروال، احمدالله علیزی، احمد صمیم فضلي، محمد حلیم ملنگ، نجیب احمدزی ، حکم خان حبیبي، حاجي زمان لغماني او حاجي بریالي گردیوال)) څخه ډېره زیاته مننه کوم چې هر یو په خپله مالي قرباني مورې دې علمي هدف ته ورسولو، یو ځل بیا له دوی او د دوی ټولو په استازی له ښاغلي (قدرت الله سهاک) څخه مننه کوم چې دا ځل یې مورې سره ځان ډېر زیات سترې کړ. د النخیل چاپخونه، کاکړ چاپخونه، ډیلایټ تبلېغاتي شرکت او د هغه مشر حاجي خوشال لغماني، مومند خپرندویه ټولنه، سهار چاپخونه، ختیځ خپرندویه ټولنه او حاجي صیب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفتاح الدين او نور دوستان ټول د زیاتې مننې، او قدردانۍ وړ دي چې هر یو په دې فرهنګي کار کې خپلې هلې ځلې کړې دي. د خپل ځان په باب باید هم ووایم:

چې خپل غزل له چانه اورم حمزه

وایم چې چا داسې وینا کړې ده

ما هم پوره شپږ میاشتې ځینې ډېر ضروري کارونه یوې خواته کړل، ځان مې دې ستر فرهنګي کار ته اړم کړ.

د ټولو هغو کتابونو د مخونو متواتر شمېر چې ما په پرله پسې ډول ایډېټ کړي، نږدې (۲۵۰۰۰) زرو مخونو ته رسېږي. دا ډېر چینجن او سترې کوونکی کار و، دا کار طبعاً سړی له نورو سیاسي او خدماتي کارونو څخه باسي. ددې یادونه مې ځکه وکړه چې دا ستومانه کوونکی فرهنګي کار ددې سبب شو چې هغو خلکو ته د یو ډول تبلیغاتو پلمه په لاس ورکړي چې خپله کار نه کوي، د نورو خلکو کارونو ته منتظر ناست دي. هغوی په فیسبوک او ټولیزو رسنیو یا نورو پاڼو کې ولیکل: [(یون) ته هم لکه چې د مفکر صیب(ښاغلي ډاکټر اشرف غني) حکومت څه مالده یا خوږه ورکړې ده، نو ځکه غلی ناست دی، اوس یې ماشین هېڅ ریز نه کوي، پخوا به لکه بلبل غوندې غړېده. خو اوس یې هېڅ غږ نه پورته کېږي.] خو موږ دوی ته ځکه ځواب نه ورکاوه چې ځواب ته مو وخت نه درلود. دادی اوس نننۍ فرهنګي حادثه ددې ټولو پوښتنو یو غوڅ ځواب دی. هر هېوادوال ته باید څرګنده وي چې موږ دومره کمزوري نه یو چې د ګډوله حکومت په ګډوله جوړښت کې راټاله شوي، نامتجانس او متضاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاص دې ددې جرئت ولري چې زموږ د حق چغه غلې کړي. خو موږ نه غواړو د ځينو نورو په شان په وچو شعارونو او فيسبوکي ناندريو خپل وخت تېر کړو. کار سخت، شعار او خبرې اسانه دي. موږ غواړو له حکومت، ټولنې او ولس سره مو چلند او قضاوت د عدالت، تدبير او انصاف پر تله ولاړ وي. د هر چا ښه کارونه بايد تائيد او ناوړه عملونه يې بايد وغندو. غواړم دلته د ملي تحريک د راتلونکو کارونو او پلانونو په باب خپل او د تحريک ليدلوري مشخص کړم. څه وړانديزونه لرو او څه غواړو؟ له حکومت، مدني ټولنو او ولس څخه مو هيلې او غوښتنې څه دي؟

**لومړی مدني او سياسي ټولنې**: په افغانستان کې د ثبت شويو او ناثبت شويو سياسي ګوندونو، نيمه سياسي جوړښتونو او وړو سياسي حرکتونو شمېر نږدې (۵۰۰) بېلابېلو ډلو او جوړښتونو ته رسېږي. د اکثرو دا ډول جوړښتونو د تقاضې او عرضې تر منځ انډول برابر نه دی، اکثره يې هر څه غواړي او له بله يې غواړي، خو ډېر کم يې داسې دي چې د تقاضې تر څنګ يو څه عرضه هم لري. د نورو اکثرو يې تقاضا تقريباً (سلو) ته او عرضه يې نږدې صفر ته رسېږي. هر کله چې د عرضې او تقاضې تر منځ انډول له منځه لاړ شي، عدالت په خپله له منځه ځي. د ثبت شويو او ناثبت شويو مدني ټولنو او قومي شوراګانو شمېر هم نږدې (۵۰۰۰) ته رسېږي، که هر ګوند هر کال په منځنۍ ډول څلور کارونه ترسره کړي، يانې په کال کې يو کلينيک،يو جومات يو ښوونځی او يو روزنيز کورس جوړ کړي، نو په کال کې به دوه زره بېلابېل کارونه شي ، که مدني ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قومي شوراګانې هم دېته ورته کار وکړي، نو په یو کال کې به (شل زره) مثمر کارونه ټولنې ته وړاندې شوي وي او دا به هغومره کارونه وي چې د دولت تر کچې به هم زیات شي. خو دلته یاد جوړښتونه نه یوازې شعاري بنه لري، له نورو تقاضا کوي، په خپله فکري او فزیکي تولید نه لري، زموږ هیله او وړاندیزونه همدا دي چې تر شعاري او تخیلي حالته ځان راوباسو او په عملي ډول خدماتي بېلګې وړاندې کړو.

**حکومت:** له حکومتي چارواکو څخه مو غوښتنه داده چې تر ټولو لومړی دې دروغ بس کړي، د دروغو په پرېښودلو هېڅ لګښت نه راځي، که دواړه دولتمشران هر یو په سلو کې پنځوس پنځوس سلنه دروغ او ژمنې پرېږدي، بیا به هم یو ښه پرمختګ وي، بېځایه وعدې د ولس تقاضا پورته کوي، د حکومت او ولس تر منځ واټن لاپسې زیاتوي اوسني سیاسي مشران دې اساسي قانون او نور قوانین لومړی پر ځان او بیا پر نورو تطبیق کړي. د اساسي قانون د بدلولو هڅه دې نه کوي، ځکه که یو ځل د قانون د بدلون بحث پیل شو، هره ډله به خپلې غوښتنې مطرح کوي، هېواد به د اوسنیو نورو بحرانونو تر څنګ د اساسي قانون له بحران سره هم مخامخ شي، اوسني دولتمشران چې له نورو مخالفینو څخه د اساسي قانون د تطبیق غوښتنه کوي، خپله دې هم سر په ګرېوان کې ننباسي چې دوی څه کوي؟ هېڅ داسې ورځ به ونه مومي چې په یوه نه یوه برخه کې له اساسي قانون څخه سرغړونه نه وي شوې، موږ له ښاغلي ډاکټر اشرف غني څخه هیله کوو چې له اساسي قانون څخه د خط کشۍ میدان جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړي، چې کله وايي دا مثلث پر مربع بدلوم، مربع پر مستطیل او داسې نور...

موږ له حکومت څخه په ټینګه غواړو چې په امنیتي سکتور کې دې تنظیمیي سمتي، قومي انحصار اوسکتارتي عناصر ختم کړي. د تنظیمي ډلمشرانو او سترو جنګسالارانو عکسونه او نور تیظمي افکار دې د امنیتي سکتور له ساحې څخه لرې کړي. موږ له اوسنیو دولتمشرانو غواړو چې انتخاباتي سستمونه دې د خپلو نا مشروع غوښتنو تر اغېز لاندې نه راولي، دوی ته باید په ډاګه شي چې تاسو او ستاسو عملونو ته په کتو سره تاسو د افغانستان په سیاسي راتلونکي کې هېڅ بل چانس نه لرئ، نو په کار دي چې انتخاباتي سستمونه له سیاسي غرضونو او مرضونو لرې وساتل شي. د سولې په برخه کې باید وویل شي که څه هم د سولې د عالي شورا په جوړښت کې یو نسبی مثبت پرمختګ شوی، خو لا هم کافي نه دی. اوس هم پر حکومت واکمن جنګسالاران د سولې له کلمې او پروسې سره حساسیت ښیي، د منفي او مثبتې ، عادلانه او نا عادلانه سولې اصطلاحګانې کاروي. دا ډول اصطلاحګانې خپلې خپلې ماناوې لري، په دې مانا چې دوی ته هغه سوله عادلانه ده چې د دوی واک تضمین کړي که نه نو بیا منفي او نا عادلانه ده. موږ د ملي هویت پر خوندیتابه ټینګار کوو یو ځل بیا له حکومت څخه په ټینګه غواړو چې د اساسي قانون په رڼا کې د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت جوهر خوندي کړي او موږ دې بیا لویو مظاهرو ته نه اړباسي، حکومت دې د فسادګرو په لاس د فساد ضد مبارزې دودیز سستم ختم کړي، هم دې د فساد او هم د فسادګرو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد هممهاله مبازره وکړي. دولتمشر اشرف غني دې خپل ناکنتروله او نا مشروع مشاورین، مرستیالان او نور دولتي چارواکي کنترول کړي او په یوه واحد حکومت کې دې د څو موازي حکومتونو متضاد حرکت پایته ورسوي.

دولتمشر دې د تنظیمي جنگسالارانو تلین غونډو، یاد غونډو ته خپله هم له ورتگ څخه ډډه وکړي او نور دولتي چارواکي دې هم له ورتگ څخه منع کړي، ځکه چې دې کار سره د ملت وخت ضایع کېږي، دولتمشر دې پر یادو غونډو د بیت المال لگښت او دولتي امکانات قطع کړي او نه دې تنظیمي ډلمشرانو او د هېواد ورانوونکو ته ناقانونه لوی لوی القاب ورکوي. که دولتمشر ولس ته ډاډ نه شي ورکولای، پر ټپونو دې ورته مالگې هم نه دوړوي. دولتمشر او حکومتمشران دې ولس او د رسنیو د استازو په گډون یوې لویې او ناسانسوره مناظرې ته حاضر شي او لکه څنگه چې یې ژمنه کړې وه، ولس ته دې سپیناوی ورکړي.

## اوس راځم اپوزېشن ته!

له بده مرغه چې په هېواد کې اوس هم یو غښتلی، ولسواک، مدبر او سالم اپوزېشن نه شته، کوم څوک، ډلې یا اشخاص چې اوس د اپوزېشنونو تمثیل کوي، دا هم په حقیقت او واقعیت کې د تېر او اوسني حکومت بوساړې دي چې بادېږي. یایې زامن په حکومت کې دي، یا یې ورونه یا یې هم د تنظیم او کورنۍ غړي خو خپله د اپوزېشن اکټ کوي. موږ اوس څو ډوله تمثیلي اپوزېشنونه لرو. یو اجراییه ریاست د جمهوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاست په مقابل کې، دویم د جمهور رییس مرستیالان د جمهور رییس په مقابل کې، درېیم د جمهور رییس یو شمېر مشاورین د جمهور رییس په مقابل کې، بل جمهور رییس د خپل اجراییه رییس په مقابل کې، د ملي شورا یو شمېر غړي د جمهور رییس په مقابل کې، د همدې شورا یو شمېر غړي د اجراییه رییس په مقابل کې، د ډاکټر عبدالله او ډاکټر غني یو شمېر ناراضه کمپاینران چې د خپل ذوق مطابق څوکۍ ورته نه دي رسېدلې، د دواړو په مقابل کې، طالبان د ټولو نظام په مقابل کې او ولس بیا ددې ټولو په مقابل کې، یانې د حکومت تر کنترول لاندې ساحه کې په مجموعي ډول یو وروست، سست او اچار ته ورته اپوزېشن موجود دی، چې تاریخ تېرې، امتیاز غوښتونکې او ځانپالې بڼه لري او د خیر هېڅ ډول هیله ورڅخه نه شي کېدی. د اپوزېشن په باب، د وروستۍ نتیجې په توګه باید ووایو چې طالبان د اوسني حکومت نظامي مخالفین دي، چې د سیاسي تفکر په انډول یې مذهبي جذبه او نظامي فعالیتونه زیات دي، نور نو په حقیقت کې ولس هم د طالب او هم د اوسني حکومت خاموش ابوزېشن دی. یو سالم اپوزېشن ته اړتیا ده چې د مظلوم اکثریت فریاد اوچت کړي او دا ولس د طالبانو له ظلمونو او د حکومت له فسادونو وژغوري، دا چې دا اپوزېشن څنګه جوړېدی شي، وخت او تدبیر ته اړتیا لري.

اوس راځم دې خبرې ته چې مور خپله څه کوو او څه مو له واکه پوره دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان ملي تحریک یو مدني، ټولنیز، کلتوري او نیمه سیاسي حرکت دی، موږ د سوله ییز مدني حرکت په توګه غواړو خپل تګلوری په دې ډول مشخص کړو.

**ټولنیزه برخه کې:** د تېر په شان غواړو خپلو خدماتي چارو ته دوام ورکړو، مظلومو او مصیبتځپلو هېوادوالو ته د حکومت او نورو هېوادوالو مرستې راجلب کړو او د دوی تر منځ د یوې وسیلې او پله حیثیت غوره کړو. تحریک غواړي د (۱۳۹۵)لمریز کال په بهیر کې د ټول هېواد په کچه د هېوادوالو په مرسته، یو کلینیک، یو جومات، د نجونو یو لومړنی ښوونځی او د سواد زده کړې پنځه کورسونه جوړ کړي. ملي تحریک له ټولو سیاسي ګوندونو، قومي شورا ګانو او مدني حرکتونو څخه هیله کوي چې هغوی هم ورته کارونه ترسره کړي او هغه حرکتونه چې ډېر غښتلي دي او ډېر شعارونه ورکوي، هغوی باید تر دې زیات کارونه ترسره کړي.

**فرهنګي برخه کې:** په فرهنګي برخه کې به موږ خپله پاملرنه نوره هم زیاتوو، د کتابونو چاپ ته به دوام ورکوو، د وخت له عصري خپرنیزو وسایلو په ګټه پورته کوو، د نشراتي چارو د پوښښ ساحه به زیاتوو، ښوونځیو، پوهنځیو او روزنیزو مرکزونو ته به خپل نشراتي مواد او د نورو فرهنګي بنسټونو ګټو اثار ور رسوو.

ملي ورځې به نمانځو او د ملي شخصیتونو تلین غونډې به جوړوو، د پردي کلتوري یرغل د مخنیوي لپاره به هلې ځلې کوو او د ملي هویت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونه به خوندي کوو او په ټولیز ډول به د ټولنې په ذهني اعمار کې خپله ونډه اخلو.

**سیاسي برخه کې:** په سیاسي برخه کې به موږ له نورو ملي مدني حرکتونو سره هڅه کوو چې د اوسني نظام جوړښت، چې په ډېرو زحمتونو دې حالت ته رسېدلی، خوندي وساتو، د نظام په داخل کې د فسادګرو او زورواکو پر وړاندې چې د نظام اساسي دښمنان ګڼل کېږي، په ټینګه مبارزه وکړو، غواړو د دولت په داخل کې له هېوادپالو او ملتپالو افغانانو سره لاس یو او د هغوی تر منځ همغږۍ رامنځته کړو. په دې ډول به د دولت په داخل کې د ډول ډول مکروبونو د درملنې لپاره یوه نسخه پیدا کړو. د دولت له مخالفینو څخه هم غوښتنه کوو چې له جګړې او وینې تویدنې لاس واخلي، د نظام عمومي اډانه زیانمنه نه کړي. ښوونځي، پوهنځي او روزنیز مرکزونه ونه تړي او که جنګسالارانو سره خپل حساب او کتاب لري، د هغوی په ټس کې دې ولس نه سوځوي. زموږ په نظر حکومتي او ناحکومتي جنګسالاران او فسادګر چې د حکومت په اډانه کې یې اساسي ځای نیولی او هغه مخالفین چې د زور او وحشت له لارې حاکمیت غواړي دا دواړه د افغانستان د بحران داخلي لوبغاړي دي او موږ غواړو په موازي ډول ددې دواړو رنځونو درملنه وشي.

یو ځل بیا د هویت په تذکره کې د افغانیت او اسلامیت پر تسجیل ټینګار کوو او دا خپل حق ګڼو، که حکومت بیا هم له احتیاطه کار واخلي او یو ځل بیا په دې برخه کې قانون تر پښو لاندې کړي، نو بیا هم د سترو مظاهرو احتمال شته او ددې بهیر د کارکوونکو پر وړاندې د غوڅ اقدام

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سره کول هم ردېدلای نه شي. په داسې یو حالت کې دې نا افغانه دولتي چارواکي خپل سر ښه خلاص کړي چې دا یوه ملي مسله ده او دې سره ټوکې کول په کار نه دي. نور نو که په ټولیز ډول د ډاکټر اشرف غني په ګډون هر بل دولتي چارواکي او یا هر بل افغان ښه کارونه ترسره کول تائیدوو یې او ملاتړ یې کوو او که ناوړه عملونه یې کول غندو یې. موږ د افغانانو په توګه ځان ته دا حق ورکوو چې د منطق او عدالت پر بنسټ د یو چا عملونه وارزوو، نه د احساساتي شعارونو، شخصي کینو او یا هم د مقام او موقف د راکړې ورکړې له مخې.

نور نو ستاسو وخت نه نیسم، په پای کې یو خل بیا له قدرمنو لیکوالو او د کتابونو د چاپ له مالي مرستندویانو څخه ډېره مننه کوم چې د دوی د زیار او زحمت له امله موږ د داسې یوې غونډې د جوړېدو جوګه شو او تاسو سره مو د زړه خواله وکړه.

د هېواد د زرغونتیا او د هېوادوالو د سوکالۍ په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان کې څوک سوله نه غواړي؟

## (د ملي درسونو د دویم پړاو لومړی درس)

د (۱۳۵۷ل) کال د ثور پر اوومه نېټه (شپږم ماښام، اوومه ورځ) د افغانستان خلکو دیموکراتیک ګوند د یوې پوځې کودتا له لارې د سردارمحمد داودخان جمهوري نظام ړنګ او پرځای یې ((د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت)) اعلان کړ.




هغه وخت زه (یون) د شپږم ټولګي زده کوونکی وم. اوس چې (۱۳۹۵ل) کال دی. د ثور شپږم ماښام دی او سبا یې د ثور اوومه نېټه ده. زه اوس د پوهاندۍ علمي رتبې ته رسېدلی یم. پوره (۳۸) کاله شول، خو جګړه لا هم روانه ده. جګړې یو نسل په بشپړ ډول تر ستوني تېر کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوو نسلونو نیم عمر په جګړه کې تېر شو. تر صلیبي او ځینو نورو جګړو وروسته په افغانستان کې روانه جګړه د نړۍ د جګړو په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه ده. چې بې شمېره زیانونه یې اړولي دي. دلته به ددې جګړې د زیان څرنګوالي ته هم لړ تم شو:



**د جګړې زیانونه:** دې جګړې په (۳۸) کلونو کې تر یونیم ملیون زیات افغانان شهیدان کړي، دوه ملیونه یې معلول کړي، تر (۱۰) ملیونو زیات یې د هېواد په داخل کې او له هېواده بهر مهاجرت ته اړ کړي دي، د لسو ملیونو افغانانو د لوستوالۍ مخه یې نیولې، دوه ملیونه کورونه یې ړنګ کړي، تر درې زرو زیاتې لویې او وړې فابریکې یې له منځه وړي دي، تر څلورو زرو زیات ښوونځي یې ړنګ کړي، په سلګونو ملیارده ډالره اقتصادي زیان یې اړولی او د هېواد کلتوري، ملي او دفاعي ارزښتونه او استحکامات یې زیانمن کړي دي.

د زیانونو دا لړۍ لا هم روانه ده. اوس راځو دې پوښتنې ته چې چا په افغانستان کې سوله نه ده غوښتې، څوک ددې جګړې لوبغاړي وو او دا لړۍ ولې دومره اوږده شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سولې مخالفین او د جګړې لوبغاړي څوک دي؟

**له (۱۳۵۷ل) کال څخه بیا تر دې دمه سولې وخت پر وخت خپل مخالفین لرلي او جګړې بېلابېل پړاوونه وهلي دي، غواړو دلته ورته په ډېر لنډیز سره نغوته وکړو.**

**لومړی پړاو: د (۱۳۵۷ل) کال د ثور پر اومه تر پوځي پاڅون او کودتاه وروسته واکمن ګوند غوښتل خپل مخالفین د برچې په زور له خپلې مخې لرې کړي. تر (۱۸) میاشتني زور کارونې وروسته پوه شول چې په زور کلي نه کېږي. ویل کېږي په پېښور کې مېشت د وخت د نظام اصلي مخالف مشر (انجنیر ګلبدین حکمتیار) او د کابل د حکومت مشر (حفیظ الله امین) یوې نسبي روغې جوړې ته نږدې شوي وو. دا حالت د امین کورمېشتو او بهر مېشتو مخالفینو نه شو زغملای، نو ځکه خو ټول سره لاس په کار شول او ددې پلان مخه یې ونیوله.**

**دویم پړاو: د (۱۳۵۸ل) کال د جدي پر (٦) مه نېټه پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، حفیظ الله امین یې وواژه او ورسره یې د خلق ډلې حکومت ړنګ او د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې مشر (ببرک کارمل) یې پر خپلو ټانکونو سور د کابل پر واک واکمن کړ. دې کار سره جګړې زور واخیست او په ټول هېواد کې د شوروي د یرغل او روس پلوي نظام پرضد پاڅونونه پیل شول، دې لړۍ اوه نیم کاله دوام وکړ.**

**درېیم پړاو: کله چې شوروي مشران له خپلې بریا نهیلي او پر خپلې ماتې باوري شول، نو د خپلو عسکرو د ایستلو په لټه کې شول، کارمل د شوروي لښکرو له وتلو سره مخالفت وکړ او ډاکتر نجیب الله ملاتړ، نو ځکه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د کارمل پرځای د نجیب الله گومارنه ترسره شوه. ډاکتر نجیب الله د ملي روغې جوړې تگلاره او یو اړخیز اوربند اعلان کړل، خو جهادي مشرانو او تر شا یې د پاکستان استخباراتو د ډاکتر نجیب الله د روغې جوړې سیاست رد کړ او جگړه یې جاري وساتله. پر جلال اباد ښار د پاکستان درې قول اردوگانو او نږدې شل زرو مجاهدینو منظم یرغل وکړ، خو دا یرغل د وخت د حکومت د منظم پوځ د ټینگ مقاومت له امله له ماتې سره مخ شو.

څلورم پړاو: ډاکتر نجیب الله لا خپل حاکمیت ته دوام ورکاوه چې شوروي اتحاد ړنگ شو، د اسلامي جمعیت مشرتابه چې له پخوا څخه یې له شوروي اتحاد سره د اړیکو اسناد خپاره شوي وو، له یو شمېر نورو جهادي مشرانو سره مسکو ته سفر وکړ، استاد رباني له روسي مشر (بورس یلتسن) سره په خصوصي ډول وکتل او هغه ورسره واک ته د رسونې ژمنه وکړه. پرچم ډلې، جمعیت او نظار شورا، وحدت ډلې او د ډاکتر نجیب الله په لاس جوړ شویو ملېشو په جبل السراج کې ائتلاف وکړ، د ملگرو ملتونو د سولې پلان یې شنډ او د ډاکتر نجیب الله حکومت یې ړنگ کړ.

پنځم پړاو: د حضرت صبغت الله مجددي له دوه میاشتني تمثیلي حکومت او ورپسې د استاد برهان الدین رباني له څلور میاشتني حکومت سره جنگونو زور واخیست، دې جگړو څلور نیم کاله دوام وکړ، یوازې په کابل ښار کې (٦٥ زره) کابل ښاریان ووژل شول او (٨٥ زره) کورونه ړنگ شول.

شپږم پړاو: خلک له تنظیمي جنگونو تر پوزې راغلل، دا مهال د (ملاعمر) په مشرۍ د طالبانو اسلامي تحریک په نوم په کندهار کې یو نوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حرکت پيل شو، خلکو يې هرکلی وکړ، دوی لومړی کندهار، بيا شاوخوا ولايتونه: هرات بيا کابل او د هېواد شمال ولايتونه ونيول او د برهان الدين رباني په مشرۍ اسلامي دولت يې په پنځه سلنه خاوره کې را ايسار کړ. د هېواد په اکثره سيمو کې د شريعت په انګېزه او د برچې په وسيله امن ټينګ شو.**

**اووم پړاو: د طالبانو او نړيوالې ټولنې په تېره بيا د لويديځې نړۍ ترمنځ اوږدې ناندرۍ پيل شوې، د (اسامه بن لادن) پر سر خبره د توغنديو کارونې ته هم ورسېده.**

**د (۲۰۰۱) ميلادي کال د سپتمبر پر يوولسمه نېټه پر نيويارک او پنټاګون مرګوني ګوزارونه وشول، د امريکا پوځي عزت او طاقت تر پوښتنې لاندې راغی، امريکا پړه د اسامه په مشرۍ پر القاعدې ډلې واچوله او د دوو مياشتو په بهير کې يې د طالبانو نظام ړنګ کړ.**

**اتم پړاو: د امريکا پوځي حرکت دومره چټک و چې سياسي بهير تر پوځي عمل ډېر شاته پاتې شو، پخوانۍ شمالټلوالې ته چې دا مهال د مرګ پر پوله ولاړه وه، يو ځل بيا ددې چانس مساعد شو چې د امريکايي الوتکو تر وزرونو لاندې پر کابل واکمنه شي. د بن په کنفرانس کې طالبانو او اسلامي حزب له نظره وغورځول شول او د دښمن په سترګه ورته وکتل شول. (۹۰) سلنه واک نظار شورا او اسلامي جمعيت ته ورکړل شو. حامدکرزی او (۱۷) تنه نور تکنوکراتان د سمبوليکو واکمنو په توګه حکومت ته داخل شول، يادې ډلې او ډلو د بهرنيو په مرسته قومي تعصب، پخوانيو سياسي کينو او ژبني تعصب ته پراخه لمن ووهله. د نوي حکومت په لومړيو دريو کلونو کې د طالبانو فعاليتونه په نشت حساب وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په حاکمیت کې واکمن قومي او ژبني تعصب طالبانو ته ددې زمینه برابره کړه چې خپلې لیکې په دفاعي بڼه بېرته منظمې کړي. درې څلور کاله وروسته طالبان دفاعي او بیا تر هغه وروسته تعرضي حالت ته داخل شول.

**نهم پړاو:** د حامدکرزي تر (۱۴) کلن حاکمیت وروسته خلک ډاکتر اشرف غني ته هیله من وو چې له طالبانو او نورو مخالفو ډلو سره به د سولې بهیر یو جوت او څرګند حالت ته ورسوي. خو د ګډوله حکومت په جوړېدو سره هغه هیلې پر نهیلۍ بدلې شوې.

**لسم پړاو:** طالبانو له چریکي جګړو څخه جبهه یي جګړو ته مخه کړه. دفاعي حالت یې پر بشپړ تعرضي حالت بدل کړ، د ولسوالیو له سقوط څخه خبره د ښارونو او ولایتونو سقوط ته راورسېده او پر عادي دولتي تاسیساتو باندې له بریدونو څخه خبره پر ډېرو مهمو امنیتي بنسټونو پورې بریدونو ته ورسېده.

دا د جګړې د بهیر یو لنډ زماني انځور و چې دلته یې یادونه وشوه. اوس راځو د جګړې کورنیو او بهرنیو لوبغاړو ته چې دا هم څو اړخونه او څو پړاوونه لري:

**لومړی لوری لومړی پړاو:** دا د خلکو دیموکراتیک ګوند د واکمنۍ څوارلس کلنه دوره ده. د جګړې کورني لوبغاړي د خلکو دیموکراتیک ګوند (خلق+ پرچم ډله) او د هغوی متحدین، بهرني ملاتړي یې شوروي اتحاد او نړیوال کمونیستي بلاک. په بله خوا کې مخالف لوری د مجاهدینو اوه + اته تنظیمونه او د هغوی کورني متحدین، بهرني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړي يې، پاکستان، ايران، سعودي عربستان، زيات شمېر عربي هېوادونه، د امريکا متحده ايالتونه او لويديځه نړۍ.

**دويم پړاو او مقابل لوري:** د ډاکتر نجيب الله د نظام تر ړنګېدو وروسته، تنظيمي جنګونه په دې پړاو کې شاملېږي، لوبغاړي يې: د رباني په مشرۍ د کابل رژيم، اسلامي جمعيت او د هغه متحدين، بهرني ملاتړي يې، روسيه، هند، د مرکزي اسيا هېوادونه، کله ناکله ايران، مخالف لورى يې د حکمتيار په مشرۍ اسلامي حزب او د هغه متحدين، بهرني ملاتړي يې تر يوه بريده پاکستان (پاکستان دواړو لورو ته)، سعودي عربستان او د خليج هېوادونو ځينې خاصې کړۍ.

**درېيم پړاو او لوري:** د اسلامي جمعيت او طالبانو ترمنځ د جګړو مهال رانغاړي، مقابل لوري د رباني په مشرۍ شمالټلواله، بهرني ملاتړي يې روسيه، هند د مرکزي اسيا هېوادونه، ايران، يو شمېر اروپايي هېوادونه او ځينې نور، مخالفين يې طالبان د هغوى رژيم، ملاتړي يې پاکستان، سعودي عربستان، متحده عربي امارات او په خليج کې يو شمېر خاصې کړۍ.

**څلورم پړاو او مقابل لوري:** د امريکا په مشرۍ د طالبانو د نظام ړنګول. د حامدکرزي په مشرۍ موقت او بيا انتخابي حکومت، د قدرت اصلي زړى اسلامي جمعيت او پخوانۍ شمالټلواله، تکنوکراتان د افرادو په توګه او يو شمېر چپي ګوندونه، بهرني ملاتړي يې د امريکا په مشرۍ لويديځه نړۍ او نږدې (٦٠) هېوادونه، مخالف لورى طالبان د هغوى کورني متحدين، بهرني ملاتړي يې د پاکستان مذهبي او استخباراتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمانانونه او په خلیج کې یو شمېر کړی. د اسلامي حزب یوه برخه هم په مخالف لوري کې واقع وه.

**پنځم پړاو او مخالف لوري:** د ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله تر مشرۍ لاندې د ملي وحدت حکومت په نامه چوکاټ کې راټاله شوي بېلابېل تنظیمونه، د قدرت اصلي سرچینه شمالټلواله، غني او په هغه پورې تړلي یو شمېر اشخاص، د قانوني سرپوښ په توګه، بهرني ملاتړي یې د امریکا متحده ایالتونو په مشرۍ، اروپایي او لویدیځ هېوادونه، په مجموعي ډول (۴۷) هېوادونه، روسیه، ایران او ځینې نور هېوادونه بیا په مشخص ډول د ټلوالې ملاتړي.

طالبان د اصلي مخالفینو په توګه، د اسلامي حزب یوه برخه هم د مخالف په توګه، د پاکستان استخبارات بیا د یوه اصلي مخالف د ملاتړي په توګه. په دې ډول نو جګړه له یوه پړاوه بل ته داخله شوې او لا هم داخلېږي. دا چې دا جګړه ولې دومره اوږده شوه بېلابېلې پلمې او انګېزې یې لرلې، غواړو دلته همدې پلمو او انګېزو ته هم لږ تم شم:

**د جګړې پلمې او انګېزې:** کله چې د جګړې تر شا غټ زبرځواکونه، ستراتیژیک هدفونه او ایډیالوژیک جریانونه ولاړ وي، نو د هغې جګړې د تداوم لپاره د پلمو او انګېزو پیداکول سخت کار نه دی. په افغانستان کې د (۳۸) کلنې جګړې په بهیر کې هم ګڼ شمېر اصطلاحات د انګېزو د پیداکولو لپاره وکارېدل چې دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو؛ اشرار، مجاهد، مهاجر، کمونیست، کافر، مشرک، ملحد، اخوان المسلمین، اخوان الشیاطین، مخالف، افراطي، وطن پلور، وطن دوست، ترقي، ارتجاع، کمونیزم، امپریالیزم، ایډیالست، ماټریالست، مقاومت، شر و فساد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسواکي، خلق، ولس، طالب، تروریست، ترهګر او داسې نورې نومونې چې تر ننه لا کارېږي. دا اصطلاحات د غټو، لویو، پټو او ښکاره اهدافو د انګېزو لپاره وکارېدل، په مجموعي ډول که موږ د جګړې له پیله بیا تر دې دمه پورې د جګړې ټول حجم، ټولې خواوې او ټول وسایل محاسبه کړو، نو دا جګړه یوه نړیواله جګړه ګڼل کېدی شي، یا هم افغانستان د نړیوالې جګړې مستقیم او نیابتي ډګر و. د نړۍ هېڅ داسې هېواد به پیدا نه شي چې د افغانستان په جګړه کې یې په مستقیم او نامستقیم ډول ډوډۍ، ګولۍ او روپۍ نه وي لګېدلي، ددې ټولو لګښتونو جانبي عوارض دادي چې زموږ هېواد کې لا هم جګړه توده ده او تر دې دمه یې راغځولې ده. دا چې اوس د جګړې څرنګوالی په کوم حالت کې دی، غواړو دلته په لنډېز سره ورته نغوته وکړو:

**۱- اوسنی حکومت او د جګړې اوسنی حالت:** د روانې میاشتې پر (٦)مه نېټه ډاکتر غني د ملي شورا ګډې غونډې ته په زړه یوه او په خپله خوله بله عجیبه وینا وکړه، د شمالټلوالې تر زیات فشار لاندې یې د هغوی له دودیزې ترمینالوژۍ سره سم له تروریستانو سره د جګړې اعلان وکړ، خو په زړه کې پر دې پوهېده چې ددې جګړې مهارول دده په وس کې نه دي. خو بیا هم ده خپلو مخالفینو ته څرګند او ناڅرګند ګواښونه وکړل. دلته غواړو د غني د بېوسۍ ځینو ټکو او په اوسني حکومت کې د غني د واک موازنې ته لنډه نغوته وکړو:

**۲- د ملي وحدت په حکومت کې د واک انډول:** که څه هم ډاکتر غني د وسلوال پوځ د اعلی سر قوماندان په توګه یادېږي، خو په اوسني پوځ کې د غني ونډه ډېره خواره ده. اوسنی پوځ، نه له سیاسي، نه له سمتي، نه له ژبني، نه له فکري او نه هم له قومي پلوه د غني تر وزرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اوامرو لاندې دی. پوځ د وسلو او معاشيت له پلوه بهرني ملاتړ پورې تړلی، د انګېزې له مخې هم له بحران سره مخ دی او د جوړښت له پلوه، سيمه ييزه، تنظيمي او قومي بڼه لري. يوازې يوې شمېرنې ته به نغوته وکړو: د قومي ترکيب له مخې په ملي دفاع وزارت کې په سلو کې (۷۲) سلنه لوړپوړي صاحب منصبان تاجکان او (۲۲) سلنه يې پښتانه او پاتې نور يې په نورو قومونو پورې اړه لري، له سياسي پلوه حالت تر دې هم بدتر دی. د دفاع وزارت غوڅ واک له اسلامي جمعيت او د هغه له موئتلفو تنظيمونو سره دی. نو په داسې يو حالت کې د غني اعلی سر قومنداني اوبو ته د خيال تېرول دي. د کورنيو چارو وزارت او ملي امنيت رياست کې حالات تر دې هم بدتر دي او غني يې اوسمهال د سمون وړتيا هم نه لري. په داسې يو حالت کې د مخالفينو پر وړاندې د جنګ اعلان څه مانا او څه پايلې لري؟ غواړو ددې ډول اعلانونو احتمالي نتايجو ته هم لږ تم شو:

**۳- د جنګ د اعلان اټکلېزې پايلې:** دې اعلان سره به جګړه نوره هم ګرمه شي. طالبان او د هغوی بهرني ملاتړي به هم خپل ټول زور او توان څرګند کړي، په جګړه کې د طالبانو موقعيت هغوی ته ددې زمينه برابروي چې په کمو تلفاتو مقابل لوري ته زيات زيان ورسوي.

د طالب ځای، مهال او مورچل معلوم نه دی، خو د حکومتي ځواکونو موقعيتونه ثابت دي. دا کار د جګړې د پټ لوري په ګټه پرېوزي، له داسې يو حالت څخه به حکومت کې واکمنې متعصبې ډلې ناوړه ګټه پورته کړي او د هغو سيمو خلک به ډېر وځپي، چې طالب له هغو سيمو حرکتونه ترسره کوي. طالب د خرپ او ترپ جګړه کوي، د ولس له منځه ډز کوي، خو کله چې مقابل لوری پرې ګوزار کوي، طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا له هغه ځایه پښې سپکوي، نو دې حالت کې ولس زیات زیان ویني، دا زیان ددې سبب ګرځي چې ولس د حکومت پر وړاندې نفرت پیداکړي. دا کرکه تر جمهور رییسه رسېږي، په دې ډول په حکومت کې پټ حکومتي مخالفین د حکومت له امکاناتو څخه د حکومت د کمزورۍ لپاره کار اخلي، دا ډلې ددې شریک حکومت له وسایلو ګټه اخلي او د خپلو قومي کینو د سړولو لپاره د خلکو په ځورونې لاس پورې کوي. دا کار په پای کې د حکومت پر وړاندې د خلکو پاڅونونو ته لاره برابروي او د مخالفینو د لیکو د پراختیا سبب ګرځي.

کله چې حالات له هرې خوا بحراني وي؛ ملت د اور په بټۍ کې وریتېږي، نو طبیعي خبره ده چې هر چا سره دا پوښتنه مطرح کېږي چې د خلاصون کومه لاره او د رڼا کوم څرک هم شته او که نه حالات به همداسې روان وي؟

په پښتو کې یو متل دی چې که غر لوړ دی، پر سر یې لار شته، دلته غواړو له همدغو سختو لارو څخه یو څو لارو ته په لنډیز سره نغوته وکړو:

۴- څو حل لارې: دا خبره باید ټولو ته په ډاګه شي چې په افغانستان کې روانه جګړه کورنۍ نه ده، بلکې الهام، روحیه، امکانات او ستراتیژي ټول یې بهرني دي. جغرافیه د افغانستان ده او د جګړې بشري قوه له افغانانو جوړه ده. افغانان د سون توکي دي او زموږ جغرافیه د جګړې لابراتوار دی.

دا چې څنګه به دا لابراتوار وتړل شي، ددې لپاره باید کورني او بهرني ټول امکانات وکارول شي. تر هر څه وړاندې باید بهرني جګړه‌ییز عناصر مهار شي، یو شمېر بهرنیان سوله غواړي، خو زموږ یو شمېر ګاونډي هېوادونه له هغې ډلې پاکستان او ایران په هېڅ وجه سولې ته تیار نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی کورني پلويان هم سولې ته لېوال نه دي. د افغانستان په حکومت کې ملي او مثبت عناصر بايد له ټولو ممکنو لارو خپل نړيوال دوستان؛ د امريکا متحده ايالاتونه او نور ستر ځواکونه پر دې قانع او پوه کړي چې ايران او پاکستان مهار کړي او که چېرې دوی هم ددې لوبې يوه برخه وي، نو بيا دې دا واقعيت له ولس سره شريک کړي چې هم يې خپل ولسونه او هم د همدغو لويو ځواکونو ولسونه پر دې واقعيت خبر شي.

د (۳۸) کلنې جګړې په بهير کې د جګړې اکثره کورني او بهرني لوبغاړي بدل شوي يا يې تاثيرات کم شوي او يا يې موقعيتونه عوض شوي، خو د جګړې په بهرنيو لوبغاړو کې په لومړي ګام کې پاکستان او په دويم ګام کې ايران هغه لوبغاړي دي چې موقعيتونو يې بدلون نه دی کړی او له (۱۳۵۷)ل کال راهيسې په مسلسل ډول په افغانستان کې خپلې ستراتيژۍ عملي کوي. د جګړې په کورنيو لوبغاړو کې اسلامي جمعيت چې وروروسته ورسره پرچم او ستم ډلې هم يوځای شوې، هغه ډله ده چې د جګړې له پيله د يو کورني عنصر په توګه مطرح ده. د حکمتيار اسلامي حزب د يوه مخالف په توګه لوبېږي او طالبان د جګړې اوسنی اساسي لوری دی. که غواړو چې سوله راشي بايد د ټولو مطرحو غاړو ټول نامشروع حرکات کنټرول شي.

د حکومت داخل کې فوق العاده اصلاحاتو ته اړتيا ده. امنيتي ځواکونه بايد په واقعي مانا ملي شي؛ د جنګسالارانو له انحصاره راووځي او د افغانستان ټولنيز واقعيتونه منعکس کړي، مسلکي او ملي بڼه بايد خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، عقيده، انګېزه، وسله او مهمات ټول بايد ولري، قضايي ارګانونه او انتخاباتي کمېسيونونه بايد مسلکي او ناپېيلي وي. فسادګر، جنګسالاران، مافيايي ګروپونه او د مخدره موادو کاروباريان بايد د حکومت له ليکو لرې شي، د قانون حاکميت بله اساسي لاره ده چې سولې ته لاره برابروي. که داخلي ريفورم ترسره شي، د بهرني دښمن يا مخالف پر وړاندې مقابله څو ځله اسانېږي.

په لنډه وينا د بهرنيو مداخلو کنترول او داخلي سمون ددې سبب ګرځي چې په هېواد کې سوله او ثبات ټينګ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوښتنې او ځوابونه

**پوښتنه: پرویز الیشنگی: په حکومت کې دننه ډېر خپلمنځي اختلاف شتون لري، ټول په یوه خوله نه دي، داسې کومه طرحه به وي چې دوی ټول په یوه خوله د سولې لپاره کار وکړي او رښتینې سوله راشي؟**



**ځواب: هره پدیده چې په داخل کې مستحکمه وي، پر بهرني قوت فشار زیاتېږي، دلته حکومت خپله ډېر کمزوری دی، ولس ته دروغ وایي او ولس پرې پوهېږي، خو دوی پر ځان نه پوهېږي، ښه لاره دا وه چې اساسي قانون په پیل کې تر پښو لاندې نه وای شوی، دویمه مسئله دا چې دوی په خپل منځ کې کوم تفاهملیک لاسلیک کړی هغه یې هم له یو بل سره ونه مانه، هغه کې لیکل شوي وو چې د اپوزېشن لیډر باید معلوم وي او حکومت یې په رسمیت وپېژني، نو که ډاکټر عبدالله اپوزېشن ته داخلېده د اجراییه ریاست پوست ترې پاتې کېده او که اجراییه پوست ته ورته، نو اپوزېشن ترې پاتې کېده. لږ تر لږه که دغه عبارت هم دوی عملي کړي، هم سمه ده، دوی لیکلي ((په حکومت کې به دواړه مساویانه ونډه لري)) دولت یې نه دی لیکلی، مثلاً: قضا، څارنوالي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمان. خو اوس اجراییه رییس په هغو کې هم ونډه غواړي، په دې تفاهمليک کې يوه بله ماده دا ده چې د اساسي قانون محتويات به په پام کې نيول کېږي، نو چې د اساسي قانون محتويات په پام کې ونيول شي، بيا دا تفاهمليک ټول باطلېږي، بله دا چې تر اوسه خو ډاکټر صيب اشرف غني په دې نه دی توانېدلی چې دغه پنځوس سلنه ونډه دې واخلي. علت دا و کله چې امريکايان افغانستان ته راغلل نو شمالټلوالې ته يې ډېر زيات امتياز ورکړ، هغه نا مشروع امتياز و، چې دا دوی خپل حق وګاڼه، نو اوس چې ترې څوک دغه امتياز اخلي، نو دوی فکر کوي چې د دوی حق تلف کېږي، اوس د ډاکټر صيب اشرف غني په ګروپ کې داسې يوه شخص نه شته چې ورته ووايي راځه وروره دغه تفاهمليکه چې ما او تا لاسليک کړی دی، د حکومت په نوم مو کړی که د دولت په نوم؟ د انتخاباتو په وخت کې ډاکټر صيب اشرف غني هم ويل چې حکومت په انتخاباتو کې مداخله کړې او ډاکټر صيب عبدالله عبدالله هم ويل چې حکومت په انتخاباتو کې مداخله کړې، مانا دا چې دوی په حکومت کې خلک نه درلودل، نو ددې تفاهمليک له مخې په ملي امنيت رياست کې د دواړو پنځوس پنځوس سلنه برخه رسېدلې، نو اوس دې پنځوس سلنه خلک ډاکټر صيب اشرف غني او پنځوس سلنه دې ډاکټر صيب عبدالله عبدالله معرفي کړي چې دا ټيم بدل کړي، اوس چې اشرف غني يو څوک لرې کوي عبدالله ورته وايي چې دا زما سړی دی، خو چې ستا سړی دی، نو مخکې دې ولې ويل چې حکومت مداخله کړې، که مداخله ده، نو ستا نفرو کړې کنه، بله دا چې دا ستا سړی دی ته يې په خپل جم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب کړه، دا دې یو نفر، همداسې بل، بل او بل. هغوی خو په حکومت کې له اوله (۷۰) سلنه دي، چې پنځوس سلنه نور واخلې نو خبره به کوم ځای ته ورسېږي، نو تر څو چې اساسي قانون عملي نه شي، دغه شعار چې دوی یې وایي (هېڅ افغان تر بل افغانه کم نه دی او هېڅ افغان پر بل افغان برتر نه دی) په رښتینې ډول پلی نه شي، نظام یو لاس نه شي، د حقیقي سولې راتلل ناشوني دي.

پوښتنه: څړبن هدایي: جنګ د نظام او طالب تر منځ دی، خو قرباني یې افغان ولس دی، د ولس لپاره څه کول په کار دي چې ځان له دې غمیزې خلاص کړي؟



ځواب: ولس اته دېرش کاله کېږي چې قرباني شوی، افغانستان کې منظم سیاسي تشکیلات نه شته او که جوړېږي د بهرنیو په مرسته به وي، ځکه خو له همدې امله ولس له بحران سره مخامخېږي، طالب کولای شي سوله راولي، هغه که د دیني انګېزې په زور وي یا د برچې په زور وي، خو حکومت نه شي کولای،د حکومت تجربه نه لري، د حکومتولۍ په فن او مهارت نه پوهېږي ځکه یې حکومت له لاسه ورکړ، دا نور خلک چې حکومت کې څه کدرونه لري، هغه ډول جذبه، ولوله، انګېزه او سپېڅلتیا نه لري چې دا ملت سره یو ځای کړي او باثباته حکومت جوړ کړي، یا د حکومت کولو نسبي تجربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، خو د ثبات راوستلو تجربه نه لري، ثبات ورته په گټه نه تماميږي، دوی نه غواړي ثبات راولي، دا بل چې ثبات راوستلای شي، د حکومت کولو تجربه نه لري. نو له دغه ډول يو بحران سره حکومت مخامخ دی، مخکې مو ږ يادونه وکړه چې دوه ډول عناصر دي: يو کورنی، بل بهرنی، کورنيو عناصرو ته له سره ځواب ورکولی شي له هغوی سره بايد د تفاهم لاره خپله کړي او د بهرني عناصرو لپاره بايد له بهرني عناصرو کار واخلي.

ولس د ژرند د دوو پلونو تر منځ گير دی، په همدې خاطر يې اولادونه وژل کېږي، کړول کېږي، هيله لرو چې ولس کې هم ټولنيز شعور ورځ په ورځ زيات شي چې طالب هم له گرېوانه ونيسي چې د مکتب سېزل او ړنگول، په کور د خويندو کېناستل نه د اسلام د تقويې په مانا ده او نه د سرېتوب لار ده او دا انفجار او انتحار هم د سړيتوب لاره نه ده. بله خوا چې د ولس په رايه راغلي د دوی مسؤليت هم تر طالبه څو ځله زيات دی، دوی هم بايد کېنوې چې دا جنگ د حل لاره نه ده، نړۍ بايد قانع کړې چې افغانستان کې زموږ اصلي دښمن څوک دی؟ نن که امريکا وغواړي پاکستان پر ځای کېنوي مشکل حل دی. هغه وخت چې پر طالبانو يې بريد کاوه، پروېز مشرف ته بوش زنگ وواهه چې ما سره يې که زما مخالف سره؟ بله هېڅ خبره په کې نه منم فقط يو ځواب غواړم، نو هغه ورته په گډ وډ حالت کې وويل تا سره يم. دلته چې کابل کې نړيوال کانفرانس و، دوه توغندي د بهرنيو چارو وزارت پر سر تېر شول، د ايساف ځواکونو قومندان د پاکستان لوی درستيز ته زنگ وواهه که دريېم توغندی راغی، نو بيا اسلام اباد ته توغندي درغلل ، بس پر سبا باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل کې ډز ونه شو. که پاکستان دغه ډول خطر احساس نه کړي، نو دوی افغانستان کې مداخله کوي. زه په امریکا کې په یو کنفرانس کې ناست وم، یو ازاد بحث و، هلته د پاکستان سفیر هم و، هغه وویل دا د ډیورنډ کرښه دې په رسمیت وپېژندل شي،په افغانستان کې جګړه ختمېږي، ما ورته وویل، دا جګړه خو تاسو د تروریزم په پلمه پیل کړې، دا که د ډیورنډ کرښې پورې اړه لري، دا نو دا مانا لري چې دا جګړه ته کوې، نو که دا کرښه په رسمیت پېژنې نو مشکل حل دی که یې نه پېژنې جګړه کوم، بیا خو دا جګړه د تروریزم نه ده بیا ستا جګړه ده.

نو په دې خاطر د افغانانو اصلي مشکل له پاکستان سره دی، کله چې دا مشکل امریکایان یا نړیواله ټولنه حل کړي، پاتې شوه د طالب خبره، طالب ددې وطن سړی دی، ملا د دې وطن سړی دی، افغانان که د جګړې تجربه لري د سولې هم لري، ډېر مسایل په هېڅ قانون کې نه حلېږي مګر افغانان یې په جرګو او مرکو حلوي، اوس هم کومه قضیه چې قضا ته لاړه شي، قاضي لومړی لیکي چې جرګه دې حل کړي، مانا دا چې د جرګې عنصر اوس هم دومره قوي دی چې هر مشکل پرې حلېږي، نو دا حکومت چې د سولې او جوړې د تجربې دعوه کوي، نو دا نړیوال دې قانع کړي په دې باندې چې وروره زما مشکل په دغه ځای کې دی، پاتې شوه د ولس خبره، نو ته نه د جرګې سړی یې نه د مرکې سړی یې او نه په دې حکومت کې داسې څوک شته چې جرګه او مرکه وکړي، دا کار دې بیا ولس ته پرېږدي، نو داخلي ستونزه دې بیا په دې ډول حل شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو اوس ولس د دواړو تر منځ راګیر دی، باید دواړو سره مقابله وکړي، باید دې خوا ته هم ځواب ورکړي هغې خوا ته هم.**



**پوښتنه: ډګروال تره خېل: د سولې شورا ډېر زیات مصارف لري، همدا ډول معاشونه یې هم ډېر لوړ دي، ایا دا شورا کومه لاسته راوړنه لري که نه؟ او هغه وزیران او رییسان چې استعفی ورکوي علت یې څه دی؟**

**ځواب: د سولې شورا د ډاکټر صیب غني په وخت کې نه، بلکې ډېره پخوا جوړه شوې ده، ښه ده چې دا پوښتنه مطرح شوه، چې دا جریان هم خلکو ته ووایم چې د تاریخ حافظې ته وسپارل شي. ځکه هغه وخت زه د دې شورا د جوړېدو د جرګې غړی وم. وړاندیز دا و چې استاد رباني دې د سولې شورا  د رییس په توګه وټاکل شي، ډېر غوړه‌مالان وو چې ضرورت نه شته اوس یې نومونه واخلم، له استاد رباني سره یې پخوا اختلاف هم درلود، خو په دې خاطر چې موقف واخلي، ویل یې استاد رباني دې د دې شورا رییس شي، ما ددې کار مخالفت وکړ، ما وویل موږ له استاد رباني سره شخصي مخالفت نه لرو، خو د سولې شورا د رییس په توګه یې مخالف یم، زه، زما مېرمن (ارین یون) او نور کسان وګرځېدو، دې (شپاړس سوه) کسانو سره چې جرګه کې وو یو زیات شمېر سره مو مشوره وکړه. فیصله دا وشوه چې د سولې شورا ریاست ته زه (یون) ځان کاندیدوم، موږ پوهېدو چې نه یې شو ګټلی، خو ما ولس ته واقعیت وایه، هغه سړی چې جګړه یې شروع کړې، هغه سوله راوستلی شي؟ دا منطق نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مني، موږ ویل؛ یو شخص چې په جګړه کې یې لاس نه وي درلودلی هغه دې راشي رییس دې شي، دا مهمه نه ده چې پښتون دې وي، د جرګې مفهوم دادی چې؛ یو درېیم ګړی راځي د دوه مخالفو قوتونو تر منځ جوړه کوي، نه دا چې یو طرف. د استاد رباني هدف دا و چې په سولې شورا کې ډېرې پیسې دي، امکانات دي، بله دا چې هغه د نظار شورا له لوري کونج ته شوی و، مشري ترې د پنجشېر ګروپ اخیستې وه، نو دا یې حاشیې ته کړی و، ده غوښتل چې حکومت سره پخلاینه وکړي او د سولې شورا ریاست واخلي، بیا د انتخاباتو پر وخت د سولې شورا له ولایتي دفترونو څخه استفاده وکړي او ځان په میډیا کې ژوندی وساتي. موږ د منطق په زور ددې مخالفت وکړ. ما ولسمشر کرزي ته وویل ته استاد رباني پر خلکو مه تحمیلوه، پرېږده چې انتخاباتو ته ودرېږي. ویل یې نه! زه انتخابات نه منم، تاسو باید دی همداسې ومنئ چې استاد رباني رییس شي، موږ ورته وویل یو بل سړی راوله چې استاد رباني بېرته له طالبانو سره پخلا کړي، بس وه یې نه کړل، نتیجه همغه شی شوه، چې تر ننه پورې د سولې شورا هم پر تنظیمي ملاحظاتو ولاړه ده، په سوونو ملیونه ډالر مصرف شول، خو نتیجه یې صفر، اوس هم د سولې شورا سمبولیک رول لري. دغه واقعیتونه دي که یې ووایې، نو ژوند کې به له ډېرو مشکلاتو سره مخ کېږې. اوس په سولې شورا کې نسبي پرمختګ راغلی، خو دا پرمختګ هم سل په سلو کې د ولس د هیلو ترجماني نه شي کولای. د سولې شورا کې باید داسې خلک راشي که حکومت ملامت وي، دا پرې باید ومني چې ته ملامت یې.

بله خبره دا چې په حکومت کې تر اوسه (۳۰) مطرحو کسانو استعفا کړې، ټول له یو قوم څخه دي (پښتانه دي)، هغه په دې خاطر چې مدافع نه لري، یو خو ډاکټر صیب اشرف غني ته لاسرسی نه لري، بله خوا له هغه بل ګروپ څخه تنګ شي بس استعفی ورکړي، ډاکټر صیب اشرف غني هم خپلو کسانو ته تکړه دی چې څه ډول یې له دندې ګوښه کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس که د ننگرهار والي د مرکزي حکومت خلاف خبره وکړه، نو پر همغه ورځ منفک دی، خو که د بلخ یا هرات والي یې وکړي، هېڅ خبره نه ده، هلته یو ولایت کې بل جمهور رییس او بل نظام جوړ دی. ولسمشر وایي: ((هېڅ افغان له بل افغانه کمتر نه دی او هېڅ افغان له بل افغانه برتر نه دی)) خو ته دا خپله خبره تطبیق کړه کنه، ته خو د هغې خوا ولسمشر یې، چې هغه حق لري پر تا خبره وکړي؟ مگر دا خوا کمزورې ده. هغه خلک چې په متواتر ډول استعفاگانې کوي، هغوی په حکومت کې د تنفس مجال نه لري، دوی ته دوسیې جوړېږي.**

**پوښتنه: انعام الله: د افغانستان اقتصاد ولې د حامد کرزي د حکومت په پرتله خراب شوی؟**



**ځواب: قافله دې هم منزل نه ځان خبر کړي - کله کله راهنما نه لار خطا شي.**

**کله کله انسان ډېر احتیاط کوي چې هغه یې په تاوان وي، استاد الفت وایي: ((زموږ په کلي کې یو سړی و، ډېر احتیاط به یې کاوه، خلکو به ترې مشورې هم اخیستې، کابل ته به موټر کې نه تلو، ویل به یې هسې نه موټر چپه شي، پلی به لاړ شم، خیر دی که درې ورځې وروسته ورسېږم، نو ولسمشر هم د تدارکاتو کمېټه دومره ټینگه رانیولې چې، تېره اوونۍ یې د (۱۰۰۰) میلیونو ډالرو معادل پروژې ودرولې چې دې کې فساد دی، نو دا پروژې چې اوس ودرېږي، دوه کاله درې کاله پرې تېرېږي، بیا به هغه خارجي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډونر هم نه حاضرېږي، پروژه کې هم تنقيص راځي، خلکو ته هم کار نه پيدا کېږي، بيا به ددې نظام وخت هم په ختمېدو وي، بيا به بل نظام راځي هغه به بيا قرارداد نه کوي، کله کله د وړوکي شي په خاطر دومره لوی احتياط وشي چې يو لوی هدف له لاسه ووځي. ويل يې يو ميليون شغله ايجادوم او يو ميليون کورونه جوړوم، هغه مسئله بېخي سرچپه شوه، البته دې کې د هغه د اداري مديريت هم غټ نقص دی، مديريت ځان ته شی دی، علم ځان ته، دی د مديريت په برخه کې ډېر عاجز دی. پخواني کومکونه چې د کرزي صيب په وخت کې وو، هغه اوس نه شته، پر حکومت باندې خلک بې باوره دي، پانګونه نه کوي، دې کار د هېواد اقتصادي حالت خراب کړی، نو ځکه خو ځوانان نورو ملکونو ته پناه وروړي، همدا شان نور ډېر عوامل سره را يو ځای شوي او هېواد يې له اقتصادي بحران سره مخ کړی.

ډېره مننه

په خدای مو سپارم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طالبان: ((برادران کرزی)) که ((جنبش خود جوش)) رباني؟؟

دا لیکنه پر (۱۳۹۵ل کال) د یو شمېر هغو کړیو په ځواب کې لیکل شوې، چې په انتقاد کې له افراط څخه کار اخلي او په یو اړخیز ډول قضاوت کوي.



په افغانستان کې د امریکایانو په زور د طالبانو نظام تر ړنګونې وروسته، داسې سکتاریستي او اتنیکي ډله واک ته ورسول شوه، چې د هېڅ ډول سیاسي اخلاقو پروا نه لري، نه تاریخي حافظه لري او نه د شرم پرده، دا ډلې چې دوستم، جمعیت، نظار شورا او دېته ورته نورو ډلو په تصویرونو کې ځان ښکاره کوي او د اسلام ماسک يې هم پر ځان غوړولی، د (جهاد) او (مقاومت) دوه اصطلاحات يې د سیاسي امتیازاتو لپاره ناقانونه پوښښ ګرځولی، د بې شرمۍ، بې عزتۍ وروستي حد و برید ته رسېدلي دي. دوی ان د هغو اشخاصو خیال او پروا هم نه ساتي چې دوی ته په حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او واقعیت کې د ولي نعمت حیثیت لري، پر دوی یې پردې غوړولې وې او تر همدې پردې لاندې یې د لوټ او تالان بې ساری ریکارډ ټینګ کړی و. دوی ځان ته د هر ډول الفاظو د کارونې صلاحیت ورکوي، خو که د نورو له خولې څخه یوه عادي خبره هم ووتله او د دوی پر مزاج برابره نه وه، نو له هغې څخه بیا داسې یوه ډنډوره جوړه کړي چې ګنې اسمان راکښته شوی دی.

په دې لیکنه کې غواړم یوازې یوې کلمې ته اشاره وکړم چې ښاغلي حامد کرزي په تېرو (۱۷) کلونو کې بار بار کارولې او سکاړېستي کړیو بیا د هغې په باب داسې غبرګون ښودلی چې ګنې ښاغلي کرزي کوم کفر غږولی دی. کرزي طالبانو ته د (ورور) خطاب کړی، خو تر دې وړاندې د طالبانو د ظهور پر مهال لومړنی سړی چې طالبان یې د ((نجات فرښتې)) وبللې او د هغوی د چټک سیاسي او پوځي پرمختګ په باب یې نظر څرګند کړ، هغه د اسلامي جمعیت مشر (برهان الدین رباني) و، نوموړي هغه مهال وویل: ((طالبان یک جنبش خود جوش است)). رباني یوازې پردې بسنه ونه کړه؛ کندهار او نورو سیمو کې یې طالبانو ته په ټنونو پیسې او ډول ډول مهمات هم ور ولېږل او خپلو جمعیتیانو ته یې وویل چې له طالبانو سره له جګړې لاس واخلي، خپلې سیمې او وسلې هغوی ته تسلیم کړي. په ټولو تنظیمي قومندانانو کې د نظار شورا مشر (قومندان احمد شاه مسعود) لومړنی قومندان و چې له خپل ساتونکي (داود داود) سره یو ځای یې په میدان ښار کې طالبانو ته درناوی وکړ او له کوم قید او شرط پرته یې د طالبانو مشر (ملا رباني) ته وویل چې زه یو نظامي شخص یم، کوم سیاسي سړی نه یم، تاسو چې کوم شرعي نظام غواړئ، زه د هغه د یوه عسکر په توګه ستاسو په خدمت کې یم، خو تر ټولو د مخه باید تاسې په (چهار اسیاب) کې د (ګلبدین حکمتیار) او د کابل په (لویدیځه برخه) کې د (عبدالعلي مزاري) د قوتونو غم وخورئ، کله چې مو دا دوه قوتونه له دې ځایه پورته کړل، نور کابل زه خپله درتسلیموم. کله چې طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدا کار وکړ ؛ د کابل ښار غربي څنډې او د چهار اسیاب نورې سیمې يې له یادو قوتونو ونیولې، نو بیا د نظار شورا یاد قومندان پر طالبانو ناڅاپي برید وکړ، طالبان چې د مسعود له ژمنې سره سم له هغه څخه ددې ډول غلچکي برید هیله نه لرله، نو له یادو سیمو پر شا شول او بیا يې د (مسعود) تر مرګه پورې د هغه پر خبرو باور ونه کړ. له دې سریزې څخه مې هدف دادی چې له طالبانو سره د خبرو اترو، معاملې، مفاهمې او مقابلې اساس تر حامد کرزي، حکمتیار او نورو اشخاصو وړاندې خپله دې ښاغلیو ایښی دی. اوس که کرزی طالبانو ته د (برادر یا ورور) د کلمې پر کارولو له خوړې ګوتې نیول کېږي، دې خبرې ته بېلابېل رنګونه ورکول کېږي او ځینې يې بیا د محاکمې د غوښتنې شعار هم ورکوي، نو عام ولس ته هم باید ددې حق ورکړل شي چې د یادې سلسلې د پیلوونکو په توګه د (رباني) او (مسعود) د محاکمې بحث مطرح کړي، طالبانو ته د ورور یا دښمن په خطاب سره د هغوی په ماهیت، کیفیت او کمیت کې هېڅ ډول بدلون نه راځي، جمعیتیانو د طالبانو د دوستۍ او دښمنۍ دواړه حالتونه تجربه کړي دي، کله چې یو ستمي یا جمعیتي ته ددې خبرې په اصطلاح حق حاصل دی چې هر چاته هر ډول خطاب وکړي، پر هر چا د هر ډول جنایت تور پورې کړي، دغسې عام ولس ته هم باید ددې حق حاصل وي چې د جمعیت او نظار شورا جګړه مارانو ته د جنایت کارانو خطاب وکړي، دوی د جهاد په ګرمو شېبو کې له روسانو سره پروتوکولونه وکړل او د جهاد بریالیتوب يې ټکنی کړ، دوی (اسامه بن لادن) له (سوډان) څخه په الوتکه کې کابل ته راوړ، دوی (دوه سوه) عربانو ته د افغانستان د تابعیت تذکرې ورکړې، دوی د اسامه استاد (عبدالله عزام) پنجشېر ته دعوت کړ، دوی طالبانو ته وسلې او پیسې ورولېږلې، دوی کابل په وینو ولمبوه، دوی ته روسانو په ټنونو پیسې چاپ کړې، دوی غربیانو ته وویل چې ((غت غت بمونه واچوئ)) دوی په افغانستان کې د شر او فساد زړي وکرل، دوی د کرزي په حاکمیت کې تر ټول افغان ولسه زیات امتیازات واخیستل، دوی سیاسي، دولتي، تنظیمي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي او میډیایي مافیا رامنځته کړه، خو له دې ټولو غمیزو او ستونزو سره سره بیا هم دوی سپینې کوترې (!) دي او د دوی ټول سیاسي او نظامي مخالفین د دوی په اصطلاح جنایتکاران.

ایا په دې کار د کرزي د محاکمې بحث د مطرح کېدو وړ دی چې طالب ته یې د (برادر) خطاب وکړ؟ او که د ډېرو خلکو په نظر په دې کار چې د ملت حق یې د نظار شورا او جمعیت پر جنګسالارانو وخوړ؟

ددې لیکنې په پای کې یادونه په کار ده چې د طالبانو تر سقوط وروسته د افغانستان د اوه لس کلنې لانجې یو اساسي عامل، د نظار شورا په نامه یوې محدودې ډلې ته په مطلق ډول د قدرت ناکنترول انتقال و. تر څو چې دا ډله او ددې ډلې نورې متعصبې ستمي ائتلافي ډلې او د هغوی جنګي جنایتکاران له حساسو دولتي پوستونو لرې او د واک وېش د عدالت پر بنسټ تر سره نه شي، نه طالبانو سره سوله ممکنه ده، نه نورو ډلو سره، نه حکومت کې سمون راتلای شي، نه په عام ډول په هېواد کې امن، ددې ډلې د حاکمیت په شتوالي کې نه یوازې دا چې د امن ټینګښت ممکن نه دی، حتی مخالفینو ته د مناسبو الفاظو کارول هم د دوی له سخت غبرګون سره مخامخېږي. د سولې د ټینګښت په لاره کې نور خنډونه هم شته، خو یوه اساسي غوټه او خنډ یې د همدې مافیایي ډلې نا کنټروله حاکمیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حماسه، ویرنه او ویاړونه

**د هېواد د خپلواکۍ د (۹۷)یمې کالیزې په ویاړ مو په ژوندون راډیو ټلوېزیون کې یوه پرتمینه ویاړ غونډه جوړه کړې وه، دې غونډې ته مې د ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون په استازۍ یوه وینا وکړه چې دا دی لیکنی متن یې دلته وړاندې کوم:**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

درنو او قدرمنو مشرانو، ځوانانو، د ولس استازو، دولتي چارواکو او ددې پرتمینې غونډې برخوالو ته د افغانستان ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون په استازۍ سلامونه، درناوی، او نېکې هیلې وړاندې کوم، ښې چارې، ښه راغلاست، هر کله راشئ، په خیر راشئ!

درنو مشرانو! له نن څخه څلور کاله وړاندې د افغانستان ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون په همدې ځای کې همدا مهال د خپلواکۍ د خوشالۍ جشن ونمانځه. هغه مهال پر هېواد داسې یوه فضا واکمنه وه چې د هېواد د خپلواکۍ نمانځل اسانه کار نه و، ملي روحیه مړاوې وه، د ملي جرئت وزرونه تړلي وو، جنګسالاران پر دولتي څوکیو واکمن وو، ملي ورځې هم د سترو غلو او داړه مارانو په نامه او اجازې پورې تړلې وې، په داسې یو حالت کې د خپلواکۍ غږ پورته کول، د (مومن خان) زړه او د (فرهاد) عزم غوښته، خو کله چې له همدې ځایه، له همدې بنسټه او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې رسنیز مرکزه د خپلواکۍ د جشن غږونه پورته شول، نو ورو ورو د نورو بنسټونو په رګونو کې هم وینه وچلېده، د جرئت وزرونه یې وغوړېدل او کال وروسته د خپلواکۍ جشنونه زیات شول، یو کال وروسته حالات تر دې هم ښه شول، دا ځل حکومت هم د سرېتوب یو څو ګامونه پورته کړل، دادی نن له دولتي امکاناتو او چاپېریال پرته موږ یو ځل بیا په ولسي کچه د هېواد د خپلواکۍ جشن نمانځو، سږ کال که څه هم په هېواد کې امنیتي حالات د تېرو (۱۵) کلونو په پرتله ډېر ترینګلي دي او هره ورځ د ټول هېواد په کچه نږدې دوه سوه جنازې د تورو خاورو غېږې ته سپارل کېږي او پر ټول هېواد د وېرې، ویر او ماتم ټغر خور دی، خو ملي روحیه او ملي ولوله د ټولو تېرو لسو پنځه لسو کلونو په پرتله ډېره غښتلې او خوځنده ده، سږ کال د تېرو کلونو په انډول په ډېر جوش د هېواد په ګوټ ګوټ کې د هېواد د خپلواکۍ جشن نمانځل کېږي، ولس او د هغه استازو مدني، کلتوري او ملي بنسټونو په خپله دې میدان ته دانګلي، حکومت هم یا د شرم او یا هم د مسؤلیت له مخې د تېرو کلونو په انډول د سرېتوب یو څو نور ګامونه پورته کړي او په بېلابېلو ولایتونو کې په دولتي کچه هم د خپلواکۍ جشنونه جوړېږي، حکومت که څه هم تر دې وړاندې د بدرنګۍ یو څو نورې بېلګې هم لري؛ د خپلواکۍ د یو اتل سپه سالار غازي عبدالوکیل خان نورستاني د څلي د نامه بدلول، ځینو جنګسالارانو او د ملي نفاق سرلارو ته د ملي وحدت د پالونکو او نورو القابو ورکول او داسې نور کارونه چې د ملت له ملي روحیې او تاریخي واقعیتونو سره څرګند مخالفت لري او په دې وروستیو کې لا داسې اوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دي چې د شلمې پېړۍ په سر کې د افغانستان په تاریخ کې یوې تورې څېرې او د مورخانو په قول یو داړه مار ته د امیر او رسول الله د دین د خادم لقب ورکول کېږي که دا خبره رښتیا شي نو دا به لا بل هغه تور داغ وي چې د دې وطن د تاریخ پر تندي لګول کېږي.

خو که د دولت او د هغه د ځینو مضرو چارواکو نا فکره او مضر چلند او بدرنګي یوې خواته کړو، نو ولس او ولسي بنسټونه لکه څنګه چې یې په نره تاریخ ګټلی د تاریخ د ساتنې او ملاتړ په مورچل کې هم لا پسې ټینګ ولاړ دي، لازمه ده چې دلته د ټول غیرتي ولس د غږ او فریاد په توګه له دې ځایه د ولس پر پخوانیو شهیدانو، غازیانو او اتلانو، او اوسنیو شهیدانو، سرخندویانو او هېوادپالو باندې درود ووایو او پر غلو، فسادګرو او جنایتکارانو باندې نفرین.

درنو هېوادوالو! موږ پر دې پوهېږو په داسې یو حالت کې چې موږ اوس واقع یو د خپلواکۍ نمانځل او بیا پر هغې ویاړېدل، ناخپلواکو افرادو ته یوه بابیزه خبره ښکارېږي، خو پر خپلواکۍ مینو اشخاصو ته دا یوه نه هېرېدونکې خاطره ده، د یوه ملتپال افغان په توګه هر هېوادپال افغان ته که هغه د هېواد په داخل کې دی او که تر هېواده بهر خو چې د خپلواکۍ نشه یې په سر کې وي، ددې ورځې مبارکي وایم او د زیاتې خپلواکۍ لپاره د لوی رب دربار ته د دعا او هیله منتیا لاسونه پورته کوم.

قدرمنو مشرانو او ګرانو ځوانانو! ما نه غوښتل چې د خپلواکۍ پر دې پرتمینه ورځ پر حکومت او ځینو سیاسیخېلو د انتقاد او شکایت باب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرانیزم، دا خبرې موږ هر ځای او هر مهال کولای شو، د کال نورې (۳٦٥) ورځې ورته هم لرو، هلته به یې ډزوو، خو یو څو ټکي چې د نیوکو، وړاندیزونو او ان د ګواښنې بڼه او له خپلواکۍ سره مستقیم تړاو لري، که یادونه یې ونه کړو، نو غاړه به مو پر دین او دنیا بنده شي.

۱- دولتمشر ډاکټر صیب اشرف غني د سپه سالار غازي عبدالوکیل خان نورستاني د څلي او درې لارې د بدلون فرمان، د فشار، له تاریخ څخه د ناخبرۍ، نادرکۍ او سادګۍ، په حالت کې ورکړی دی، دا یو ستر ملي خیانت دی او موږ ورڅخه جدي غوښتنه کوو چې د اسد پر (۲۸)مه نېټه دا څلی بېرته د همغه غازي او اتل په نامه ونوموي، خپله دی او یا یې استازی باید هلته لاړ شي، د غازي پر منار دې د ګلونو ګېډۍ کېږدي او خپله دا تاریخي تېروتنه او خیانت دې په خپله جبران کړي. که موږ اوس د سپه سالار عبدالوکیل خان په انځور کې د خپل تېر سل کلن تاریخ څلي نه شو خوندي کولای، نو راتلونکي کې به نوره څه توره وکړو.

۲- دولتمشر دې متنازعه اشخاصو، جنګسالارانو، ملي نفاق اچوونکو او نورو ډلمشرانو ته د پرله پسې ناقانونه فرمانونو له لارې د بېلابېلو القابو حاتم بخشي بنده کړي، دا د ولس او تاریخ قضاوت دی، چې چاته څه القاب ورکوي، دا عسکري رتبې نه دي چې د ولسمشر په واک کې دې وي، په دې برخه کې دې خپلې تېرې تاریخي تېروتنې هم بېرته اصلاح کړي.

۳- لکه څنګه چې مې د مخه یادونه وکړه، اوازې او انګازې دي چې د درغلګرو، تاریخي داړه مارانو او د تاریخ مسخه کوونکو یوه ډلګۍ غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حکومت له کمزوري موقعیت څخه ګټه پورته کړي، پر جمهور رییس فشار راوړي او له هغه څخه د شلمې پېړۍ د څرګندو داړه‌مارانو او تاریخ ځپلو څېرو لپاره په جبري ډول یو فرمان واخلي او د تاریخي مستندانو خلاف په کې غل او غله د اتلانو په توګه را څرګند کړي، موږ جمهور رییس ته په ټینګه وایو چې تېر تاریخ ته مه ګرځه، پر تېرو اشخاصو تاریخ او ولس خپله قضاوت کوي، قانون او فرمان هم پر حال د تطبیق وړ دی، نه پر ماضي، نو که دې ډول غلو او داړه مارانو ته فرمانونه ورکړل شي، نو د ځینو خلکو هغه وړاندوینه او نیوکه به پر واقعیت بدله شي چې وايي: ولسمشر خو جغرافیه ګډوډه کړه، اوس د تاریخ د شرمولو نوبت دی.**

**۴- د ملي هویت د تذکرو په باب یو ځل بیا یادونه کوو چې دا زموږه سره کرښه ده، تېرېدل ترې ناشوني دي، څوک چې افغان نه وي، پر دې غیرتي خاوره د اوسېدو حق نه لري. موږ حکومت او د هغو مشرانو ته په ډاګه وایو چې دا ځل موږ له هرې وسیلې کار اخلو، لارې بندوو، تندي ماتوو او ستاسو ګرېوانو ته هم لاس دروړو، نوره مو خپله خوښه. اساسي قانون موږ ته دا حق راکوي چې د خپل هویت خوندیتابه ته ور ودانګو.**

**۵- په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د اصلاحاتو تر نامه لاندې مخدراتو ته لاره اوارول په هېڅ وجه د منلو وړ نه دي. په دې برخه کې د جمهور رییس او اجراییه رییس پټ او څرګند جوړ جاړی او معامله ملت او ولسواکۍ ته د وژونکو زهرو مانا لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که احیاناً دا دواړه ښاغلي هوکړې ته سره ورسېږي، نو د (۷) احتمالي کمشنرانو له جملې څخه به (۴) تنه د ډاکټر اشرف غني او (۳) تنه به د ډاکټر عبدالله په خوښه راځي، د ډاکټر غني په (۴) تنو کې به یو تن د جنرال دوستم، یو تن د سرور دانش او یو تن د احمد ضیا مسعود سهم شي. یو تن به ښاغلي ډاکټر غني ته پاتې شي، هغه به هم حکومت کې د ځینو نورو په شان داسې مړ غوړی، څپړغوړی، چوپ خولی، بې ژبې، گونگی، گوزڼ وهلی، کوڼ او ړوند پښتون راولي چې له خپل ځانه به مچان نه شي شړلی او په کمیسیون کې به د رایې اچونې پر مهال (٦) د (۱) په مقابل کې وي. موږ دا تجربه د انتخاباتي اصلاحاتو په نامه په (۱۵) کسیز کمیسیون کې په رڼو سترگو لیده، چې د (۱۵) تنو غړو له جملې څخه یې دوه تنه بهرني، (۲) تنه پښتانه او نور له نورو (۱۱) قومونو څخه وو، د رایې پر مهال (۱۱) د (۲) تنو په مقابل کې وو او بهرنیانو هم د رایې حق نه درلود، نو چې د اصلاحاتو کمېټه یې داسې وي، تر هغې چې کوم د انتخابي ترکیب راوځي، د هغه به څه حال وي؟

٦- موږ ددې ملت د ربتینو بچیانو په توگه داسې ناعادلانه قضاوت هم نه کوو، چې د جمهور رییس ټولې مثبتې او منفي کړنې له یوې مخې رد کړو، مثبتې کړنې یې د تایید وړ دي او منفي یې د رد. د اداري فساد په برخه کې د جمهور رییس اراده، نیت او هلې ځلې د تائید او ستاینې وړ دي، ښاغلی غني له ارادې، نیت او فکر څخه غریب نه دی، خو له قوت او سیاسي جرئت څخه غریب دی، غني باید ددې خلا د ډکولو لپاره د ولس له قوت څخه گټه پورته کړي، پر ولسي ځواک دې ډېره ولگوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سترو فساد ګرو لست دې ژر تر ژره عدليي او قضايي ارګانونو، رسنيو او نړيوالې ټولنې ته وسپاري، فسادګر خپله د تاريخ کندې ته ټېلوهل کېږي.**

**۷- جمهور رييس په بهرني سياست کې تر ډېره بريده بريالی او په کورني سياست کې تر ډېره ناکام دی، کورني ډګر ته بايد پاملرنه زياته شي، جمهور رييس بايد خپل اجتماعي اخلاق د افغانيت او اسلاميت له اصولو سره سم اعيار کړي، په نړيوال سياست کې بايد پاکستان نور هم منزوي او نړيوالې مرستې نورې هم راجلبې کړي.**

**۸- ولسمشر بايد له خپلو (اووه- اتو) مشاورينو پرته چې منطق، ملي اراده، ملي احساس او کاري استعداد لري، نور ټول (دولس نيم درجنه) چوپ خولي، کم جرئته، بې حرکته او ټپساري مشاورين له دندې څنډې او يا دې پر فعالو مشاورينو بدل کړي او يا دې دوی خپله ځان فعال کړي. د ټولو مشاورينو په ټوليز مياشتني معاش او نور لګښت لږ تر لږه په مياشت کې يو ښوونځی او يو کلينک جوړېږي، اوس بايد جمهور رييس ته وويل شي چې نه دوی تا ته مشوره درکوي، نه يې تاسو مشوره اورئ او نه په کال کې يو ځل ورسره ليدلای شې، خو په کال کې يوه مشوره يا نه مشوره يې ولس ته د (۱۲) ښوونځيو او (۱۲) کلينيکونو د نه جوړونې په بيه پرېوزي.**

**۹- د جمهور رييس د امنيتي چارو سلاکار ښاغلي (محمد حنيف اتمر) څخه مو، چې دی د وطن يو کدر او د ولسمشر ښي لاس ګڼل کېږي، هيله ده چې په خپل لستونې کې ماران مه ساته، د جنګسالارانو دويم نسل مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړسوه، دا هم غټه بې انصافي ده چې غټ جنگسالاران دې د جمهور رییس او زامن یې د امنیت شورا په دفتر کې مشاورین وي، د دوی پلرونو، ډاکټر نجیب الله او حامد کرزي ته ټک ورکړ، اوس د اشرف غني وار دی او سبا ستا، نور مو خپله خوښه، چې ماران ساتئ، خون به مو په خپلې غاړې وي.

پر ما باندې ملگري کړی وار دی مخامخ
پخوا و په لستوڼي کې نن مار دی مخامخ

(درویش درانی)

۹- په پای کې یو ځل بیا پر جمهور رییس غني غږ کوو چې له ټوپکوالو څخه مه ډارېږه، اساسي قانون په لاس کې ونیسه او پر خپل ولس د وروستي ځل لپاره غږ وکړه چې د شر او فساد پر ضد جهاد دی، راسره ودرېږئ او که نه؟ که ولس دې ملاتړ ونه کړ، نو بیا چې ته هره معامله کوې، تاریخ او ولس ته به کوزگوری نه وې او که ولس دې ملاتړ وکړ، نو دا فساد گر او جنگسالاران چې اوس د نظام د ړنگولو خبرې کوي، یا به په کولاب کې وي یا به په اصفهان کې او یا به هم په پنجاب کې، په دې وطن کې د پښې د ایښودلو ځای نه لري، غني به هله غني خان شي چې ولس ورسره وي.

اوس چې د اجراییه رییس او جمهور رییس تر منځ د قدرت د ناقانونه وېش پر سر ناندرۍ روانې دي، زموږ هیله ده چې دا ناندرۍ لومړی د خپلمنځي تفاهم له لارې حل شي او که چېرې دوی د دې وړتیا نه لري، نو بیا خو تر ټولو ښه لاره داده چې اساسي قانون تطبیق شي، اساسي قانون د لویو سیاسي شخړو د حل قانوني لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه خبره خو داده چې جمهور رییس او ډاکټر عبدالله د اساسي قانون د لویې جرګې د جوړېدو خبره کوي، خو نور ټول قانون نه مني، یوازې په دې قانون کې د راغلې جرګې یادونه کوي.

زه په پای کې یو ځل بیا ټولو هېوادمېشتو افغانانو ته د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ګټلو د (۹۷) کلیزې په ویاړ مبارکي وایم، د غازیانو روح په تېره بیا د غازي امان الله خان او نورو غازیانو د ارواوو د خوشالولو لپاره د دعا لاسونه پورته کوم، خدای دې په هېواد کې سوله، سوکالي، او پرمختګ راولي.

له قدرمن ورور قدرت الله سهاک، حاجي صیب هاشم، حاجي صیب خیر الله، داود شینواري، د طبیعت اوبو جوړولو فابریکې له مشر (روکي صیب)،حاجي صیب سلطان محمد خان، د افغان ملي بانک او د هغه قدرمن رییس ښاغلي جاوید وفا څخه ډېره مننه کوم چې له مورږ سره یې خپل مالي او معنوي ملاتړ وکړ.

د احمد غیرت او سلطان محمود غزنوي ښوونځي، افغان موډل ګروپ، سکانو او هندوانو ورونو، امنیتي ځواکونو او نورو ټولو هغو دوستانو څخه چې ددې غونډې په جوړونه کې یې هر اړخیزې مرستې کړې، ټولو ته کور ودانی وایم.

د یوه سوکال، غښتلي، پرمختللي، یو موټي

لوی افغانستان په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمعیت ستمي او سیکارېستي بڼه

**دا لیکنه (۱۳۹۵ل) کال د سلواغې په وروستیو کې د وخت د اړتیا له مخې په مستعار نامه لیکل شوې وه، دا دی دلته یې په خپله نامه خو په همغه بڼه کټ مټ یو ځل بیا خپروم.**



په افغانستان کې اسلامي جمعیت تنظیم، د هغو ډلو او تنظیمونو له جملې څخه دی چې د خپل تشکیل له پیله یې جوړښت پر قومي اساساتو ایښودل شوی و، خو ظاهري بڼه یې اسلامي وه. د جهاد په کلونو کې هم د دې ډلې قومي تعصبات یو څه څرګند شول، خو هغه وخت د ټولو خلکو زړه ته نه لوېده چې دا ډله دې اساساً په هېواد کې د قومي حساسیتونو د راپارولو لپاره جوړه شوې وي. تر جهاد وروسته روسانو سره ښکاره روابط د هغو له پټو اړیکو څخه نوره پرده پورته کړه. د تنظیمي جنګونو پر مهال پر واک باندې د قومي انحصار وختونو د جمعیت اصلي څېره نوره هم څرګنده کړه، د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته جمعیت تنظیم په بشپړ ډول پر ستمي حرکت بدل شو او همدا مهال یې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سقاوي بڼه هم لا پسې په ډاګه کړه. جمعیت اوس یوازې د بدخشان، تخار، پنجشېر او څو نورو محدودو سیمو او اشخاصو پر محور راڅرخي او د یوه مشخص قوم له دایرې پورته فکر نه شي کولای. د تنګنظرۍ دایره دومره تنګه ده چې د بل قوم غړی په کې ځایېدای نه شي. د (۱۳۹۵ل) کال د دلوې پر (۱۵)مه نېټه ددې ډلې مشرتابه یو ځل بیا د صلاح الدین رباني په کور کې غونډه وکړه او له اشرف غني سره یې د عطا محمد نور د خبرو اجنډا وڅېړله. ښه به وي چې دلته ددې ناستې ترکیب په لنډېز سره معرفي کړو چې هېوادوالو ته د جمعیت اصلي محتوا او د اسلامي بڼې تر شا اصلي ستمي څېره لا پسې څرګنده شي.**

| نوم | استوګنځی | قوم |
|---|---|---|
| صلاح الدین رباني | بدخشان | تاجک |
| عنایت الله شاداب | بدخشان | تاجک |
| واقف حکیمي | بدخشان | تاجک |
| عبدالله عبدالله | پنجشېر | تاجک |
| احمد ضیا مسعود | پنجشېر | تاجک |
| محمد یونس قانوني | پنجشېر | تاجک |
| بسم الله محمدي | پنجشېر | تاجک |
| عبدالحفیظ منصور | پنجشېر | تاجک |
| امر الله صالح | پنجشېر | تاجک |
| ادیب فهیم | پنجشېر | تاجک |
| عطامحمد نور | بلخ | تاجک |
| عبدالستار مراد | کاپیسا | تاجک |
| محمد اسمعیل خان | هرات | تاجک |
| کلیم الله نقیبي | کندهار | پښتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کلیم الله نقیبي له کندهار څخه دی، ویل کېږي چې د نسب له مخې پښتون دی، خو ماهیتاً او عادتاً پښتون نه ښکاري.**

**درانه هېوادوال کولای شي، پورتني ترکیب ته په کتو سره چې (۱۴) تنه ګډونوال لري او د جمعیت رهبري شورا جوړوي، د هېڅ بل قوم غړي ته په کې ان د ناستې ځای هم نه دی ورکړل شوی. دا په داسې حال کې ده چې امر الله صالح د جمعیت په رهبرۍ کې پر غړیتوب سربېره د (روند سبز) په نامه ځانته بله ډله، یونس قانوني د (افغانستان نوین) په نامه بل سیاسي جریان، بسم الله خان او نور یې هم د نورو جریانونو مشري کوي او یا یې د مشرتابه غړي دي. تر دې د مخه یې فضل احمد معنوي د خپلواک او بې طرفه شخص په توګه د انتخاباتو کمیسیون رییس، امرالله صالح د ملي امنیت د رییس، بسم الله خان د دفاع وزیر او نورو ښاغلو یې د نورو مهمو دولتي پوستونو د متصدیانو په توګه دندې اجرا کړې دي. د جمعیت د رهبرۍ ترکیب د افغانستان د اساسي قانون د هغې محتوا خلاف دی چې وایي؛ هېڅوک حق نه لري د قومي، سمتي، ژبنیو، او مذهبي اساساتو له مخې ګوند، ډله او سیاسي جریان جوړ کړي، اوس چېرته دي د قانون د تطبیق مدعیان چې پر دې ښاغلو د اساسي قانون محتوا تطبیق کړي او څوک دي چې ورته ووایي؛ د اسلام له سپېڅلي نوم څخه نور د خپلو فاشیستي او ستمي افکار لپاره ناوړه ګټه مه پورته کوئ!.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زور کرښې په زور له منځه ځي

د (۱۳۹۵ل) کال په وروستیو کې ما (یون) د ناروی هېواد له (اوسلو ټایمز) ورځپاڼې سره د ډیورنډ کرښې په باب یوه ځانګړې مرکه کړې وه، دا دی دلته د دې مرکې متن وړاندې کوم.

**۱. د ډیورنډ کرښه له یوې پېړۍ راهیسې د برتانوي هند، افغانستان او پاکستان ترمنځ یوه لانجمنه مسئله ده، ولې یې د افغانستان حکومت د نړیوال سرحد په توګه نه پېژني؟**

ځواب: دا کرښه د برطانوي هند د هغه وخت د چارواکو له خوا د افغانستان پر امیر (عبدالرحمن خان) په زوره منل شوې وه، افغان ولس له همغه پیله له دې جبري کرښې سره مخالف و، له یو څو امیرانو پرته نورو ټولو افغان واکمنو د ولس عامه احساساتو ته په پام سره دا کرښه نه ده منلې او که افغان چارواکي بیا هم د پخواني امیر په شان د مقابل طرف زور ته تسلیم شي، نو د ولس له سخت غبرګون سره به مخامخ شي.

**۲. ایا رښتیا هم ددې کرښې په رسمیت پېژندل به د ترهګرۍ په له منځه وړلو کې ارزښت ولري او یا مرسته وکړي. که کولای شي نو د اوږدې مودې لپاره به سوله تامین شي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: ترهګري يوه نړيواله پديده ده. په امريکا کې پر نړيوال مرکز بريد، د هندوستان په ممبيي ښار کې پر هوټل بريد، په اروپا او د نړی په ګوټ ګوټ کې نور ترهګريز بريدونه ددې ښکارندويي کوي چې دا يوه نړيواله پديده ده. افغانستان هم د نړيوال تروريزم تر بريدونو لاندې دی. دا بريدونه ډيورنډ کرښې پورې هېڅ اړه نه لري.

که پاکستان ترهګريزې پېښې په ډيورنډ کرښې پورې تړي، دا نو بيا ددې مانا ورکوي چې که افغانستان دا کرښه په رسميت وپېژني، ترهګر به بند شي او که نه نو دا جنجال به روان وي. مانا دا چې پاکستان پر افغانستان باندې ددې جبرې کرښې د منلو لپاره د ترهګرۍ له وسيلې څخه هم کار اخلي. د ترهګرۍ اصطلاح په اوسنۍ لنډه مانا پر امريکا د القاعدې تر بريدونو وروسته دود شوه. په داسې حال کې چې پاکستان د خپل جوړښت له پيله بيا تر دې دمه د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه کوي.

۳. په افغانستان کې ځينې خلک ادعا کوي چې د افغانستان حکومت له پاکستان سره په پټه دا کرښه په رسميت پېژندلې، خو له ولس يې پټه ساتلې ده. ولې دا توپير موجود دی؟

ځواب: له (۱۸۹۳م) کال راهيسې د (۱۲۴) کلونو په بهير کې يوازې د پيل دريو اميرانو د خپل وخت د مجبوريت له امله د يوې جبري کرښې په توګه منلې، هغه هم د برطانوي هند او افغانستان د نفوذ د ساحې په توګه چې تر دې کرښې اخوا به افغان واکمن خپل نفوذ نه زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو ته به بغاوتونه نه راپاروي نه دا چې دا به د برطانوي هند او افغانستان ترمنځ یو طبیعي او دایمي سرحد وي.

تر هغه وروسته په افغانستان کې نور (۱۷) واکمن یا حکومتونه تېر شوي، یوه هم دا کرښه نه په پټه او نه په ښکاره په رسمیت پېژندلې ده.

۴. څنګه کېدلای شي، چې نوی سرحد دې د افغانستان په ګټه شي؟ ایا دا به د ډېرو ستونزو او ددې لامل نه شي چې بلوچستان ازادي واخلي او یو ازاد بلوچستان رامنځته شي؟

ځواب: بلوڅان پر خپله خاوره چې برتانوي هند نیولې وه او بیا پاکستان پوځ په زور تر خپل واک لاندې راوستې، د خپلې خپلواکۍ حق لري، خو افغانان له افغانستان سره د محکوم پښتونستان د ولس او خاورې د یو ځای کېدو حق او ادعا لري. انګرېزانو د پښتنو او بلوڅو ترمنځ هم ستونزې پرې ایښي دي. هغه سیمه چې د بلوچستان په نامه یادېږي، لکه مرکز (کوټه) او نورې سیمې هغه اکثریت پښتون مېشته سیمې دي او پښتانه په کې اوسېږي. دا سیمې په دقیقه مانا د جنوبي پښتونخوا په نامه یادېږي، چې په طبیعي ډول ځانونه پښتانه او افغانان بولي، افغانان د دې سیمې د حق لپاره مبارزه کوي.

۵. پر هغه ځمکه چې له لاسه وتلې وي پر هغې د دویم ځل لپاره دعوې سره به د ملیونونو خلکو ژوند له ستونزو سره مخ نه شي او یا به هم بېځایه نه شي؟ که چېرې افغانستان د ډیورنډ کرښې د ترون له مخې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه له لاسه ورکړې وي، که چېرې ځمکه ترلاسه کړي د تړون له مخې به تاریخي کنټرول ونه لري، نو د هغو ملیونونو خلکو په اړه به دا څنګه عادلانه وي، چې یا ځانونه افغانان ګڼي او یا هم پاکستاني؟

ځواب: هر ملت له لاسه وتلې خاوره له څو لارو بېرته ترلاسه کوي، کله چې یو ملت له پوځي، اقتصادي او سیاسي پلوه ډېر قوي شي، نو هغه کرښې چې په زور ایستل شوي دي، په زور بېرته له منځه ځي. دویم د ولسواکۍ او د خلکو خپله خوښه او غوښتنه ده. په ولسواکه پروسه کې باید له چل، مهارت، اختناق، زور، عوام فریبۍ، ناسمو مذهبي احساساتو، چې د خلکو د نظر او داعیې اصلي مسیر بدل کړي، له یوه څخه هم کار وانخیستل شي. د مدعي او مدعي علیه دواړو ترمنځ باید د قواوو بېلانس برابر وي. نو په هغه حالت کې که د خلکو رایې ته پام وشي، نتیجه به یې د عدالت پر بنسټ وي. اوس چې افغانستان له پاکستان سره د قواوو توازن نه لري، نو په داسې یو حالت کې پاکستان هڅه کوي چې د سیاسي، اقتصادي او مذهبي زور او نورو نامشروع امکاناتو له لارې پر افغانستان دا کرښه په رسمیت وپېژني. موږ وایو چې افغانستان باید پرې ښودل شي چې یو ځل د سیمې او نړۍ په کچه خپل ځان جوړ کړي، له پاکستان سره خپله سیالي برابره کړي او بیا د ډیورنډ او نورو ستونزو په باب مقابل لوري سره یو عادلانه او منطقي حل لارې ته سره کېني.

۶. ایا ربښتیا هم هغه پښتانه چې په پاکستان کې اوسېږي، غواړي له افغانستان سره بېرته یوځای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: کوم پښتانه چې اوسني پاکستان کې اوسېږي، په اوس وخت کې چې افغانستان کې جګړه روانه ده او افغانستان له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، دا مهال ددې ډول پوښتنې مطرح کول عدالت تر پښو لاندې کوي، حقیقت دادی چې اکثریت پښتانه غواړي چې بېرته خپل پلرني ټاټوبي سره یوځای شي، خو هغه مهال چې افغانستان کې سوله او سوکالي وي، ظلم او وحشت نه وي، کله چې هند او پاکستان وېشل کېدل او یا هم د هند او پاکستان دریو جنګونو مهال و، هغه وخت ټولو پښتنو غوښتل افغانستان سره یوځای شي، که داسې یو مهال راشي او یا هم افغانستان کې سوله او ثبات راشي او یا هم پاکستان له یو داسې بحران سره مخامخ شي، چې د پوځیانو اوسنی حاکمیت ختم شي، هغه وخت باید دا پوښتنه مطرح شي چې ایا د پاکستان تر اشغال لاندې پښتانه پاکستان سره خوښ دي؟ مستقل هېواد غواړي؟ او که افغانستان سره یوځای کېږي؟ هغه وخت کېدی شي د خلکو واقعي او رښتینی نظر منعکس شي.

۷. ایا افغانستان د نور توکمیز تاوتریخوالي تاب لري، چې د یوې داسې مسلې له راپورته کولو څخه زېږېږي، هغه مسله په نړیواله کچه منل شوې ده، که دا پوله یوه خیالي کرښه وګڼل شي، چې افغانستان سره وېشي، نو بیا ولې افغان حکومت په ملګرو ملتونو کې ددې موضوع بیا راپورته کولو هڅه نه کوي او نه یې تر اوسه کړې ده؟

ځواب: افغانستان له توکمیز پلوه یو قوي هېواد دی، ملي یووالی د ټولو هغو هېوادونو په اندول چې د اکثریت ترڅنګ په کې لږکي او واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومونه اوسېږي، ټینګ دی، که پر هر هېواد دومره مشکلات راغلي وای او نړیوالو په کې دومره مداخله کړې وای، نو لا وختي به ټوټې ټوټې شوی وای، خو د دین، مذهب او ملي تفکر په ګډون ګڼ نور داسې عوامل وو چې افغانستان لا هم واحد او مستحکم پاتې شو، د ډیورنډ د کرښې د رسمیت پېژندنې لپاره افغانانو غږ نه دی پورته کړی، بلکې نورې کړې هڅې کوي چې په زوره، دا کرښه پر افغانانو په رسمیت وپېژني، ځینې حالات داسې وي چې نړیوال هم کومه خبره کوي، په هغې کې هم عدالت په پام کې نه نیول کېږي، سیاسي مصلحت او دپلوماسۍ ته ترجیح ورکړل شوې وي؛ جرمني د یوه نړیوال زور له کبله پر دوو برخو وویشل شو، دوه بېلابېل هېوادونه وګڼل شول، نړیوالو دواړه هېوادونه په رسمیت وپېژندل، د برلین دېوال یې ورته خپلمنځي پوله ګڼله، یمن هم پر شمالي او جنوبي برخو وېشل شوی و، بېرته یوځای شول، کوریا هم په زور پر دوو برخو وېشل شوې ده، د بیا یوځای کېدو احتمال یې ډېر زیات دی، ویتنام پر دوو برخو وېشل شوی و، (کریمیا) نیمه پېړۍ د اوکراین برخه وه، (هانګ کانګ) یې بل مثال دی، ډېر نور ګڼ مثالونه لرو. افغانستان اوس له کورنۍ جګړې او د ترهګرۍ تر نامه لاندې له نورو ډول ډول جګړو سره مخامخ دی. ملګري ملتونه او د نړۍ څه کم (٦٠) هېوادونه چې په ټول توان په افغانستان کې راټاله دي، په افغانستان کې د جګړې د مهار او د بهرنیو په تېره بیا د ګاونډیو د مداخلې مخه نه شي نیولای، نو په داسې یو حالت کې چې افغانستان په ملګرو ملتونو کې د ډیورنډ لاین مسله مطرح کړي، پوره باور دی چې ډېر کم هېوادونه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړ وکړي. موږ وایو افغانستان باید دا موضوع تر هغې پورې پر خپل حال پرېږدي، نه یې په رسمیت وپېژني او نه یې په نړیواله کچه یاده کړي، تر څو چې افغانستان هم د نړۍ په کچه له پاکستان سره سیال شوی نه وي دا موضوع دې پر خپل ځای وي. پر (۱۹۴۷م) کال چې افغانستان په قوي او پاکستان په ضعیف موقف کې و، په کابل کې د امریکا او برتیانیې سفیران په دې نظر وو چې دا مهال که افغانستان نړیوالې محکمې ته د ډیورنډ لاین موضوع وړاندې کړي، نو افغانستان دا موضوع گټي، هغه وخت د هند او پاکستان په دریو جنگونو کې افغان حکومتونو طلایي چانسونه له لاسه ورکړل. اوس نو کله چې هم افغانستان قوي موقف ته ورسېد، بیا به دا موضوع د سیمې او نړۍ په کچه مطرح کېږي.

۸. د رسنیو د یو مسوول په توگه راته ویلای شئ چې (ژېړ ژورنالېزم) په افغانستان کې څه اغېز لري؟ څکه گڼ شمېر خلک دا مني چې ایران ډېرو رسنیو او ادارو ته پیسې ورکوي، تر څو د افغانستان په کلتوري او نورو خپلمنځي مسایلو کې گوتې ووهي، ایا دې نفوذ د ملي گټو مخه نه ده ډب کړې؟

ځواب: افغانستان کې (ژېړ ژورنالېزم) شته او اکثره د هغو رسنیو له خوا کارول کېږي چې د بهرنیو په مرسته چلېږي. د رسنیو په برخه کې ایران هغه هېواد دی چې تر ټولو زیاته پانگونه یې کړې، (پنځه) ټلوېزیوني چینلونه او لسگونه چاپي او برېښنایي رسنۍ په مستقیم ډول د ایران له خوا تمویلېږي او له ایراني سرچینو څخه الهام اخلي. د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنی حکومت کمزوری دی، د ایران د رسنیزو او نورو مداخلو مخه نه شي نیولای او یا یې نه نیسي، په خپله په حکومت کې هم د ایران پراخ نفوذ څرګند دی. ایران په افغانستان کې په سیاسي، پوځي، ژبنیو، مذهبي، اقتصادي او نورو برخو کې پراخه مداخله کوي او دا ډول مداخلې په څرګند ډول د افغانستان د ملي ګټو خلاف دي.

۹- له اسلامي حزب سره د سولې له خبرو د افغان رسنیو اخیستنه څنګه ده او ستاسو په اند دا خبرې به څومره ګټورې وي؟

ځواب: سوله د افغانانو تر ټولو مهم ضرورت دی، سوله که اسلامي حزب سره وي، که طالب سره او یا هم کوم بل مخالف سره، ټول افغانان یې هرکلی کوي. اسلامي حزب په افغانستان کې یو مطرح تنظیم دی، باید د سولې له بهیر سره یوځای شي. اسلامي حزب څخه هم غوښتنه کوو چې پخواني افراطي مذهبي نظریات او زورواکي نور د زغم او چلند وړ نه دي، زورواکي که د هر تنظیم له خوا وي باید مردوده وګڼل شي. له حکومت څخه هم غوښتنه کوو چې حکومتي او تنظیمي جنګسالارانو ته باج ورنه کړي او د عادي افغانانو په سترګه ورته وګوري.

۱۰- د لوړو زده کړو په برخه کې د ښځو شمېر زیات شوی، په کاري قوه کې یوازې (۱٦) سلنه په افغانستان کې ښځې دي، کوم ګامونه باید پورته شي چې ښځو ته په افغانستان کې د یو شان کار او وظیفې موقع ورکړل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته په ټولنیزو، کلتوري او سیاسي برخو کې د ښځو ونډه زیاته شوې د افغانستان ملي شورا په سلو کې (۲۷) برخې ښځینه وکیلانې دي. په پوهنې، تجارت، سیاست او نورو ډګرونو کې د ښځو ونډه زیاته شوې، خو بیا هم طبیعي او اصلي حد ته نه ده رسېدلې، په ټولو ډګرونو کې د ښځو فعال ګډون لپاره یوه لاره دا ده چې د ښځو لپاره مثبت قوانین جوړ شي او قوانین د ښځو حق او ګډون تضمین کړي.

لکه اساسي قانون چې د ولسي جرګې په هرو ځلورو څوکیو کې یې یوه ښځو ته تضمین کړې، نو ځکه د ښځو ونډه په سلو کې (۲۷) ته پورته شوه. که دا حق نه وای تضمین شوی، نو ښځو په ولسي جرګه کې دومره څوکۍ نه شوې ترلاسه کولای، نور قوانین هم باید ښځو ته د حق دغه شان تضمین ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان کې د سیاسي ځواکونو نوې معادلې

**دا لیکنه (۱۳۹٦ل) کال د ثور میاشت کې کابل ته د انجنیر گلبدین حکمتیار تر راتگ او له حکومت سره د اسلامي حزب تر پخلاینې څو ورځې وروسته لیکل شوې ده او د همدغه مهال د سیاسي حالاتو د څرنگوالي انځورنه کوي.**

**په سیاست کې د قدرت معادلې ثابتې نه وي، وخت پر وخت بدلون مومي؛ هر کله چې د متضادو بهیرونو تر منځ د ځواک انډول برابر او مساوي وي، تفاهم، ثبات او پخلاینه نه رامنځته کېږي، خو کله کله چې دواړه متضادې خواوې د تعقل او منطق پرنسیپ ته غاړه کېږدي او دواړه لوري پر دې قانع شي چې یو بل نه شي حذفولای، نو دا وخت بیا تفاهم ته هم، لاره اوارېږي، خو د افغانستان په شان ختیزو ټولنو کې د سیاسي او پوځي ځواکونو تر منځ د قواوو انډول اکثره وخت د جنجال او جگړې د تداوم سبب شوی دی.**

**تر (۱۳۵۷ل) کال د مخه په هېواد کې سیاسي ځواک تر ډېره بریده د ملتپالو، پرمختگ غوښتونکو او نسبتاً معتدلو روښنفکرانو او نیمه فیوډالي ځواکونو په لاس کې و، دې حالت تقریباً د افغاني ټولنې د عامه ذهنیت ښکارندویي کوله او ټولنه هم له ثبات او نسبي پرمختگه برخمنه وه. پر (۱۳۵۷ل) کال کینې اړخو ځواکونو د یو ناسنجول شوي انقلابي عمل په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه کې دا حالت پایته ورسوه. تر دې حالت لږ وروسته د شوروي اتحاد یرغل پیل شو. دې کار نو هغو ښې اړخو حرکتونو ته چې لا دمخه یې فعالیتونه پیل کړي وو، ښه پلمه په لاس ورکړه، دیني روحیه، مذهبي جذبه او پردۍ وسله سره ټول یو ځای شول. شوروي نړیوال ځواک او د هغوی ملګري په کابل کې د کیڼ اړخو تر شا ودرېدل، غربي نړۍ او د اسلامي نړۍ زیاته برخه د ښي اړخو تر شا. د متضادو افکارو ټکر او پوځي امکاناتو انډول ددې سبب شو چې جګړه (۱۴) کاله اوږده شي. کله چې د کین اړخو بهرنی فکري او پوځي ځواک کمزوری شو، نو د دوی د واک تداوم هم ناممکن شو. ښي اړخي له خپلو افراطي ولولو سره پر لویو ښارونو ورشېوه شول، خپلو پخوانیو ملګرو یې ترې شا واړوله او دوی د واک پر سر پر جګړو اخته شول. دا رنځوونکی حالت ددې سبب شو چې عام ولس له پخوانیو کیڼ اړخو او اوسنیو ښي اړخو جریانونو څخه تر پوزې راشي. له (۱۳۵۷ل) کال څخه بیا تر (۱۳۷۵ل) کال پورې ملي ځواکونو او افکارو ځکه وده ونه کړه چې کورنی او بهرنی چاپېریال ورته برابر نه و. په کور دننه دا دواړه اړخونه د ملي ځواکونو مخالف وو، نو ځکه خو په حکومتي او جهادي دواړو چاپېریالونو کې ورته د ودې زمینه برابره نه شوه. د طالبانو اسلامي تحریک د جهادي ډلو کمپله ټوله کړه، خو څرنګه چې هغوی په خپله هم د جهاد دویم نسل ګڼل کېده؛ افراطي مذهبي افکار یې درلودل او له بلې خوا یې د دولتولۍ تجربه او ظرفیت نه درلودل، نو ځکه خو په خپله پر یو بل بحران بدل شول. له نړیوالو زبر ځواکونو سره د طالبانو ټکر دې ته زمینه برابره کړه چې د جهادي ډلو په نومونو یو بل ځواک یو ځل بیا د نړیوالو په مرسته پر کابل واکمن شي. دې ځواک ظاهراً جهادي رنګ درلود، خو ماهیت یې افغان ضد او پښتون ضد و، دا ځواک د اسلامي جمعیت، اسلامي وحدت، اسلامي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي جنبش او ځینو نورو تنظیمونو په وجود کې د یو شمېر لړکیو پټ او پښتون ضد ائتلاف و، چې د بهرنیو ځواکونو په مرسته یې د طالبانو ضد جګړې په دوام کې خپله بقا تضمینوله. دا مهال هم ملي فکر او ځواک ته د ودې ډېره زمینه برابره نه وه، دې حالت نږدې (۱۷) کاله دوام وکړ. خو ملي افکارو او ملي ځواکونو د همدې (۱۷) کلونو په بهیر کې له همدې نیمه او یو اړخیزې ولسواکۍ او د رسنیو له نیمه ازادۍ څخه یو څه ګټه پورته کړه، د کیڼ اړخو، ښي اړخو ملت ضد واکمنو کړیو پر ضد یې غږونه پورته کړل. دا غږونه که څه هم متفرق وو، همغږي په کې نه وه، خو څرنګه چې عام ولس له ټولو یادو جریانونو او د هغو د ممثلینو له عملونو ستړي شوی و، دې حرکت ته یې هرکلی ووایه. اوس چې په هېواد کې پخواني کیڼ اړخي له فعالیته غورځېدلي، یا هم په نورو ډلو کې حل شوي او دل شوي، پخوانۍ جهادي ډلې هم خپل هغه پخوانی، کیفیت او کمیت نه لري او ملت ضد عناصر هم په حکومت کې د فسادونو په هر ډول کې راټاله دي. د ملي ځواکونو او افکارو د قوت او ودې لپاره تر بل هر وخت ښه زمینه برابره ده. اوس چې د (انجنیر ګلبدین حکمتیار) په مشرۍ د اسلامي حزب اصلي او نادولتي برخه هم په سیاسي او سوله ییزه پروسه کې را داخله شوې، نو دې سره سیاسي قوتونه یو ځل بیا له چغله تېرېږي، نوي سیاسي بهیرونه رامنځته کېږي او یا هم هر رنګ له خپل رنګ سره یو ځای کېږي، نو په دغسې یو چاپېریال کې د درېو سیاسي جریانونو د ټوکېدو اټکل کېږي:

**۱- ملي فکر او ملي ځواک:** په تېرو (۳۸) کلونو کې د کیڼ اړخو او ښي اړخو جریانونو متواترو تېروتنو، له زور، جبر، وسلې او اختناق څخه کار اخیستنې، خلک دېته اړ کړل چې د یوه درېیم قوت په لټه کې شي. ښي او چپې ایډیالوژۍ چې له بهر څخه یې مالي، معنوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي ملاتړ درلود، د دغو سیاسي جریانونو اصلي ماهیت او عملي چلند خلکو ته په ډاګه کړ، دا کار ددې سبب شو چې اکثره افغانان د ملي حیثیت، هویت او ملي ماهیت په لټه کې شي. له (۱۷) کلونو راهیسې په حکومت کې سکاریستي ډلې هم ددې سبب شوې چې په هېواد کې د محسوس محرومیت او محکومیت له امله د ملتپالنې احساس را ژوندی شي. دا احساس د مدني ټولنو، رسنیزو فعالیتونو او د یو شمېر سیاسي ډلو په فعالیتونو کې راڅرګند شو. که څه هم ملتپالې ډلې یا حرکتونه د هغو دوو نورو په اندول ډېر منظم نه دي، خو د خپلو یو شمېر نا وسلوالو او بې خطره خدمتونو په وړاندې کولو سره یې د ولس احساسي او فکري پاملرنه ځانته را اړولې ده. دا ځواک که څه هم د شکل او تشکیل له مخې خپلې خپلې ستونزې لري، خو وړې او متفرقه ډلې د یو واحد محور پر لوري د حرکت په حال کې دي. له مشخصو استخباراتي کړیو پرته عام نړیوال هم له دې ملي حرکت او جوړښت سره، چې اساس یې پر ولسواکۍ ولاړ دی، کومه ځانګړې ستونزه نه لري. نو ځکه خو دا مهال د بلې هرې ډلې په اندول ددې ملي حرکت لپاره عامه ذهنیت او ولسي چاپېریال ښه برابر برېښي.

**۲- مذهب محوره جریانونه او ځواکونه:** دا حرکتونه اکثره د تېرو جهادي ډلو او تنظیمونو په بڼه کې څرګندېږي. دا ډلې خپل خپل مشکلات او د تېرو جنګونو خوږې او ترخې خاطرې لري. شوروي یرغل دې ډلو ته قوي مشروعیت ورکړی و او د دوی پر سیاسي تېروتنو او عیبونو یې قوي پرده غوړولې وه، کورنیو جنګونو او د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته نورو نامسلمو هېوادونو او ځواکونو سره د دوی پټه او ښکاره راشه درشه، جوړ جاړی او ان سرټیټي ددې ډلو مذهبي داعیې ته سخته صدمه ورسوله. طالبانو له دې ډلو څخه مذهبي انګېزه اخیستې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا ډلې او اشخاص يې د مذهبي انګېزې له پلوه بې وسلې کړي دي، خو څرنګه چې طالبان کوم منظم سياسي جريان نه دی؛ يو پوځي او مذهبي بهير دی، نو کله چې بهرني ځواکونه نه وي، د دوی مذهبي انګېزه هم کمزورې کېږي او کله چې جګړه پايته ورسېږي، نو طالبان يوازې د (طالبانو) په توګه مطرح کېږي چې مجبور به وي له کوم منظم سياسي اسلامي تنظيم سره ځان وصل کړي.**

**د اسلامي حرکتونو په جمله کې د حکمتيار (اسلامي حزب) هغه تنظيم دی چې د نورو په انډول هم منظم دی او هم يې لا تر اوسه ديني او مذهبي انګېزه ساتلې ده، د (جمعيت)، (اتحاد) او ځينو نورو تنظيمونو په شان په تېره (۱۷) کلنه واکمنۍ کې هم شريک نه و، البته ځينې کسان يې د همدې ګوند له نامه څخه په ګټې اخيستنې څه ناڅه د حکومت ونډه وال وو، خو دا هغه ډول اشخاص وو چې اکثره يې د ځينو نورو تنظيمونو د غړو په شان د جمعيت تنظيم اوامرو ته غاړه اېښې وه، اسلامي جمعيت او اسلامي وحدت او داسې نور تنظيمونه چې اساساً قومي تنظيمونه دي، خو د اسلام تر پوښښ لاندې يې سياسي فعاليتونه کول او کوي يې، دوی هم تر دې وروسته نه شي کولای چې په اسانۍ سره د جهاد او اسلام له نامه څخه د خپلو سياسي فعاليتونو د تداوم او خپلو ګټو د تضمين لپاره کار واخلي. په دې ډول اکثره مذهبي او جهادي ډلې او د مذهبي سياست پلويان به تر ډېره بريده د حکمتيار په مشرۍ د اسلامي حزب پر محور را وڅرخي او په دې ډول به د ديني انګېزې او مفکورې پر اساس يو نوی سياسي جريان رامنځته شي. البته د حکمتيار او اسلامي حزب پخواني شاليد ته په پام سره دا به هم اسانه نه وي چې دوی دې ټول هغه اشخاص او ډلې پر ځان راټولې کړي چې دوی ته ورته نظريات لري، خو بيا هم تر بلې هرې ډلې به د دوی کميت او کيفيت زيات وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۳- اقلیت محوره گروپونه:** پر افغانستان باندې د روسانو تر یرغل وروسته، روسانو هڅه وکړه چې د قدرت طبیعي او اصلي سرچینې له منځه یوسي او یا یې کمزورې کړي، نو ځکه خو یې د ځواک مصنوعي او فرعي سرچینې رامنځته کړې. روسانو فکر کاوه چې دا ډول سرچینې د دوی په مرسته خړوبېږي او په کم قیمت حاضرې دي د دوی استعماري غوښتنو ته هرکلی ووایي، نو ځکه خو یې د اقلیتونو د حقوقو د مدعیانو په توگه یو شمېر اشخاص او ډلې راوټوکولې. دوی کوښښ کاوه چې د افغانستان په اکثرو وړو قومونو کې د اکثریت پر وړاندې د اعتراض او نیوکې روحیه پیاوړې کړي، خو په ټولو کې بریالي نه شول. د (پرچم، جمعیت، ستم) او وروسته د (وحدت حزب) له لارې په دې بریالي شول چې په تاجکو، ازبکو او هزاره وو کې یو شمېر ډلې او اشخاص په دې روحیه وروزي او د خپلو گټو لپاره یې استخدام کړي. د (۱۳۵۸ل) کال د جدي تر (٦) مې نېټې وروسته دا لړۍ شروع شوه او د (ډاکټر نجیب الله) تر واکمنۍ وروسته د (اسلامي جمعیت) په وجود کې دې لړۍ لا پسې زور واخیست. طالبانو بیا په خپل زور دا ډلې ټپلې تر (کولابه) ورسولې او د قدرت بېلابېلې سرچینې یې ختمې کړې. د طالبانو د سیاسي تدبیر د نشتوالي له امله، دا ډلې د نړیوالو ځواکونو په مرسته یو ځل بیا پر کابل داسې واکمنې شوې چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی، بهرنیو ځواکونو په مستقیم او نامستقیم ډول او د اقلیتونو د حقوقو مدعیانو په مستقیم ډول د هېواد د اکثریت (پښتنو) پر ضد نامحدوده فعالیتونه پیل کړل، ددې اشخاصو حاکمیت د (حامد کرزي) په ظاهري حاکمیت سره پیل او د (اشرف غني) د گډوله حکومت په امتداد سره اوس هم دوام لري. دې ډلو او اشخاصو د (جهاد او مقاومت) تر دوو نومونو لاندې ناشمېره امتیازات واخیستل او د حکومت اکثریت رگونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیول. په تېرو (۱۷) کلونو کې ددې ډلو له خوا داسې اشخاص وروزل شول او داسې جریانونه رامنځته شول چې له پښتنو او د هېواد له ملي هویت او مرکزي ریاستي سستم سره یې نفرت او کینه اوج ته رسېدلي دي. دا ډلې ټپلې تر ډېره بریده له بهرنیو سرچینو او د حکومتي سرچینو په امتیازاتو خړوبېږي، که ددې ناقانونه امتیازاتو لاره پرې بنده شي، نو خپله سیاسي بقا په هېڅ وجه نه شي تضمینولای، خو اوسمهال دا ډله او اشخاص پر یو اقتصادي، سیاسي، حکومتي، مافیایي او ان اخلاقي ضد جریان بدل شوي او د سپین سترگۍ وروستي حد ته رسېدلي دي، په مجموعي ډول اوسني سیاسي حرکتونه د دغسې یو مثلث بڼه لرلای شي.




یانې دا چې دغه درې څواکونه د دې مثلث ضلعې جوړوي:

مثلث:

۱- ملي فکر او ملي څواکونه

۲- مذهب محوره څواکونه

۳- اقلیت محوره څواکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حل لارې:** د ملي او اسلامي ځواکونو تر منځ مشترکات شته، ملي ځواکونه د ملي تفکر او احساس تر څنګ یوې عقیده یي پانګې ته اړتیا لري، اسلام د ټول بشر د لارښوونې دین دی، په دې او هغې دنیا کې د ژوندانه د تضمین لپاره تر ټولو ښه عقیده ده. کله چې فکر، احساس، عقیده او انګېزه ټول سره ملګري شي، غښتې قوت ترې جوړېږي، اسلامپالو افغان حرکتونو هم یوه اوږده تجربه ترلاسه کړې؛ په دې مانا چې د نړۍ بل هېڅ مسلمان حاضر نه دی چې خپله خاوره د دوی د خوښې اسلام د تطبیق لپاره وقف کړي، څرنګه چې عقیده په خلا کې نه پلې کېږي، نو ځکه خو دوی هم جغرافیا او ملت ته اړتیا لري، مجبور دي چې ددې جغرافیې او همدې ملت ارزښتونو ته درناوی وکړي او ملتپالو او هېوادپالو جریانونو سره غاړه یوسي. ملت ضد او اسلام ضد عناصر چې په درېیمه کټه ګورۍ کې معرفي شوي، د هغوی غوښتنې او لایتناهي هوسونه نه د ملت په ګټه دي او نه هم د دین له اساساتو سره سمون خوري. که چېرې افغان ملتپال او اسلامپال حرکتونه (د افغانیت او اسلامیت) د پراخ مفهوم تر چتر لاندې په لویو ملي مسایلو کې همغږې حرکت وکړي او په لومړي ګام کې د دولت رګونه له شریرو، مفسدو، افغان ضد او اسلام ضد عناصرو څخه پاک کړي او د هغو د ملاتړ بهرنۍ سرچینې په تدبیر سره وچې کړي، نو هم به په واقعي مانا د یو ملي او اسلامي حکومت جوړېدو ته لاره اواره شي، هم به د هېواد جغرافیایي یووالي ټینګ شي او هم به هېواد د پرمختیا او سوکالۍ پر لوري روان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناظره که لکچر؟

د (۱۳۹٦ل)کال چنګاښ پر لومړۍ نېټه په ارګ کې جمهور رییس ډاکټر اشرف غني د خپلو یو شمېر مشاورانو، د مشاورانو د مشاورانو، د هغو د پلویانو او یو شمېر هغو ځوانانو سره چې د همدې یادې کتګورۍ اشخاصو له خوا فلتر شوي وو، یوه ناسته ترسره کړه، دې ناستې ته یې (مناظرهٔ شهروند و ارګ) او یا هم د (شهروند مسول و حکومت پاسخګوی) نوم ورکړ. ناسته وړه؛ پنځوس کسیزه یا شپېته کسیزه وه، د ارګ په (کوټې باغچه) کې جوړه شوې وه، له ازادو رسنیو پټه وه، نه ((شهروند)) ته د



خبرو او د نظر د تبادلې وخت ورکړ شو او نه په کې ازاد او انتقادي بحث ترسره شو. جمهور رییس او د هغه یوې مشاورې په کې له درباري دود او تقاضا سره سمې خبرې وکړې. جمهور رییس په دې ناسته کې نږدې (۲۲) دقیقې وینا وکړه، شپاړس دقیقې عام مسایل، شپږ دقیقې د خپل مشاور (قیومي) تعارف او توصیف و او په درنو الفاظو د هغه ستاینه وه، د مناظرې ژبه دري وه، د جمهور رییس خبرې هم ټولې په دري ژبه وې، یو شعار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پښتو، په پای کې یو په کې ازبکي او یو په کې په دري ژبو و. څلور کلمې نورې هم په کې پښتو وکارول شوې. جمهور رییس بیا د خپلې یوې بلې مشاورې (زهرا نادري) له خوا په ګرمو الفاظو ونازول شو او له هغه څخه یې ځانګړې مننه وکړه چې ټولنه کې یې ځینې دودونه مات کړل. جمهور رییس په دې مناظره کې خپل مشاور (قیومي) ته سپارښتنه وکړه چې له ځوانانو (شهروندانو) سره کېني او خبرې ورسره وکړي او په دې ډول مناظره پایته ورسېده. دېته وایي رښتینې، ازاده او ولسي یا د دوی په اصطلاح (شهروندي) مناظره!؟

زما عادت نه دی چې پر هرې موضوع لیکنه وکړم او هر کار ته په انتقادي نظر وګورم، خو ځینې مسایل داسې دي چې که سړی ورته چوپ پاتې شي، نو راتلونکي تاریخ ته به مختوری وي او خپل انساني مسولیت به یې نه وي ترسره کړی. ما په خپل نوبت ډېر پخوا د رسنیو له لارې جمهور رییس او نورو درباریانو ته دا پیغام رسولی و چې جمهور رییس دې یوې ازادې او رښتینې مناظرې ته حاضر شي، د انتخاباتي کمپاینونونو، شعارونو، نظرونو او تر هغه وروسته د خپلو ژمنو په باب دې ولس ته وضاحت ورکړي او د دې ترڅنګ دې د ولس رښتینو بچیو ته هم ددې حق ورکړي چې هغوی خپل نظر، نیوکه او وړاندیزونه ورته مخامخ څرګند کړي. زموږ هیله وه چې جمهور رییس غني به په پای کې دې ضرورت او حقیقت ته غاړه کېږدي، هغه دا کار وکړ، خو په بله بڼه، بله مانا او بله محتوا. اصطلاح یې د (مناظرې) وکاروله، خو په واقعیت کې یې د یو شمېر حکومتي چارواکو، مشاورانو او د هغو له خوا رابلل شویو یو شمېر خامو درباري اشخاصو او یو شمېر ځوانانو سره یوه ځانګړې ناسته درلودله چې پر ژمنو، توصیفونو، لاپو شاپو پیل او د پخوا په څېر یو ځل بیا په ارماني خبرو پایته ورسېده. جمهور رییس تر اوسه پورې د دولتي ناستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ازادې مناظرې تر منځ په توپیر پوه نه شو، هغه لکه د پوهنتون د یوه استاد په توګه چې خپلو محصلینو ته لکچر ورکوي او یا هم د یوه سیاسي ګوند مشر چې خپلو پلویانو یا مخاطبانو ته وینا کوي، همدې ډول یوه چلند ته یې د مناظرې نوم ورکړ، عیناً لکه په یوه ټولګي کې چې لکچر ورکوي.

(مناظره) اصلاً د (نظر) له مصدر څخه اخیستل شوې، هدف یې دادی چې د دوو مخالفو یا سیالو خواوو تر منځ نظر، فکر او خیال تبادله شي، په دې ډول ناسته کې د نورو افرادو افکار، متضاد نظرونه، اندېول، وخت او وزن ټول په پام کې نیول کېږي، مناظره له یوه لوري بل لوري ته د داسې خطابې مانا نه ورکوي چې هغه بل کس به د نظر او اعتراض هېڅ حق نه لري. مناظره په حقیقت کې یو ډېر ګرم سیاسي، ټولنیز، علمي او کرهکتنیز بحث دی چې د تورونو او ابهاماتو سپیناوی په کې کېږي، یو لوری پر بل لوري تور پورې کوي او هغه بل لوری یې سپینوي، قضاوت بیا ناست خلک یا درېیمګړی او یا هم ټول ولس کوي. خو جمهور رییس چې د مناظرې په نامه ولس ته کومه ناسته وړاندې کړه، د مناظرې په اصطلاح ریشخند وهل او یا هم د مناظرې پر محتوا  د نه پوهاوي په مانا ګڼل کېږي.

مشورتي غونډه هم ورته نه شو ویلای، ځکه چې چا په زغرده جمهور رییس ته مشوره ور نه کړه او ناستو کسانو کې چا د مشورې جرئت هم نه درلود. خو څرنګه چې د جمهور رییس یو شمېر مشاورین او د هغوی پلویان په کې ناست وو، نو ظاهري بڼه یې یوې مشورتي غونډې ته ورته وه، مشاورینو ته دا هم یو غټ غنیمت ګڼل کېږي چې په داسې غونډو کې د جمهور رییس پر مبارک حضور! مشرف او پر ټلوېزیون راڅرګند شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا خلکو ته وښيي چې جمهور رییس سره د کتنې امکانات لري، که نه نو دا خو هم ټولو ته معلومه ده چې داسې مشاورین هم شته چې په کال (۱۲) میاشتو کې یو ځل هم جمهور رییس نه شي لیدلی، نو کله چې جمهور رییس له خپلو مشاورینو مشوره نه غواړي، هغو ته وخت نه ورکوي، له خپلو وزیرانو سره نه ګوري، نو هغه دولتمشر به ازادۍ او انتقادي مناظرې ته کله حاضر شي؟

په افغانستان کې پر سیاسي، پوځي، دیني، ټولنیزو او علمي اصطلاحاتو ملنډې وهل شوي، اوس پر ځینو رسنیزو اصطلاحاتو لکه مناظرې، مرکې، مباحثې، مناقشې او نورو اصطلاحاتو هم د ملنډو وهلو وخت راغلی دی.

له هغې ورځې چې ډاکټر غني د جمهور رییس په توګه خپله دنده پیل کړې، د ټاکنیزو مبارزو له احساساتي او شعاري پړاو سره، دده د اوسنیو ویناوو پر (تون)؛ (انداز) او (طرز) کې کوم خاص توپیر نه لیدل کېږي، دی اوس هم فکر کوي چې انتخاباتي مبارزه ده او خلک باید دده خبرو ته حق او ناحق چکچکې وکړي. د جبري چکچکو لپاره پر ځینو کلمو او جملو ناضروري فشار راوړل، بېځایه ژمنې، په خبرو کې د ژمنو افراط او اغراق، عام ولس ته په ساده سترګه کتل، تکلفي خندا، تکلفي روغبړ، له سټیج څخه راکښته کېدونکي هر کس سره، تکلفي سترې مشې، هرکلی، غېږ کې نیول، قهرجنه لهجه، مصنوعي ټوکې او نور ډېر ناضروري حرکتونه، هغه نیمګړتیاوې دي چې په څرګند ډول د جمهور رییس په چلند او وینا کې لیدل کېږي، تېره ورځ یې په خبرو کې وویل چې د یوې میاشتې په بهیر کې یې (څلور زره) کسانو سره کتلي دي، خو دا یې ونه ویل چې دا څلور زره کسان ډېرې وې که انسانان چې یو د نر زوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پیدا نه شو چې تاته یې د ولس فریاد دررسولای وای؟ او درته ویلي یې وای چې حرکتونه، عملونه، وینا، ژمنې او چلند دې ټول داسې برابره کړه چې له یو جمهور رییس سره ښایي، جمهور رییس له همغو خلکو سره ګوري چې دده مامورین دي او دی هر وخت ورسره ګوري او یا هم هغوی ورته داسې څوک ورپېژني چې د حقیقت د بیان وس نه لري، جمهور رییس فکر کوي چې دی اوس هم په پوهنتون کې لکچرر دی او نور خلک دده عالمانه وینا! ته ضرورت لري. ددې لپاره چې دا لیکنه له اړتیا پرته ډېره اوږده نه شي، غواړم جمهور رییس ته د رسنیو له لارې څو وړاندیزونه وکړم، تر هغه وروسته به بیا د مناظرې په باب خپل نظر څرګند کړم. د رسنیو له لارې ځکه ددې نظرونو د ورلېږلو هڅه کوم چې جمهور رییس ته له (عزرایل علیه السلام) پرته بل څوک د ورتګ لاره نه لري، ځینې حکومتي چارواکي او درباري غوړه مالان له دې امر څخه مستثنی دي، وړاندیزونه په دې ډول دي:

- جمهور رییس باید خپلو کمپاینې ویناوو ته د پای ټکی کېږدي.
- د وینا پر مهال دې خلک او په غونډه کې ناست غوړه مالان دې ته نه اړباسي چې ده ته جبري چکچکې وکړي.
- جمهور رییس دې په خپله وینا کې بېځایه وقفې، پر کلمو او جملو بې اړتیا فشارونه او د چکچکو لپاره بېځایه وقفې نه راولي.
- کومه خبره که خوږه، ضروري او د خلکو د خوښې وړ وه، پرې دې ږدي چې خلک ورته خپله چکچکې وکړي او خپل احساسات څرګند کړي.
- په وینا کې د بېځایه احساساتو څرګندول، پر تعقل د احساساتو د غلبې په مانا دي، جمهور رییس دې د شاعر، ملا امام، خطیب او موعظ په رول کې خپله وینا نه اعیاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بېځایه ټوکې، بې ضرورته او نا کنټروله خندا د جمهور رییس له شان سره برابره نه ده.
- جمهور رییس په جدیت سره مشهور دی، جدي ټیپ له ده سره ښه ښکاري، د ټوکو ټون، لهجه، څېره او له ټوکو سره مناسب الفاظ او ظروف نه لري، پکار ده چې په لویو غونډو کې له دې ډول حرکتونو او چلندونو څخه ډډه وکړي.
- د جمهور رییس ملي لباس، لونګۍ او درېشي کله نا کله دده له فزیکي جوړښت سره متوازن او هماهنګ نه وي، هر څوک چې دده د ظاهري لباس چارې سمبالوي، دې برخې ته باید زیات پام وکړي، که د جمهور رییس له څېرې او فزیکي جوړښت سره دده لباس هماهنګ شي، نو ښکلا ته به یې ډېره ګټه ورسوي. ((په هر څیز کې ټاکلې هماهنګۍ ته ښکلا وایي)).
- د عسکري قطعاتو د کتنې او ځینو بهرنیو سفرونو پر مهال د جمهور رییس فزیکي حرکت نورمال او متوازن نه دی، ځینو برخو کې ان د دپلوماتیک عرف مخالف دی، اړوند کارکوونکي باید دا نقیصه رفع کړي.
- دا یو واقعیت دی چې جمهور رییس په یو شمېر سیاسي مسایلو او خپله اړونده مسلکي څانګه کې د زیاتې پوهې خاوند دی، خو دده پوهې په انډول دده ژبنۍ او لغوي زېرمه کمه ده، په پښتو او دري کې ګرامري ستونزه هم لري، که ژبنۍ او ګرامري نیمګړتیا یې رفع شي، نو دده ژور او مانیز پیغامونه به په ښه ډول ولس ته ورسېږي او د الفاظو د کمښت او ناسم تلفظ له امله به د پیغام کیفیت زیانمن نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- جمهور رییس دې په خپله وینا کې له ځانه ارقام نه ورکوي، دده له خولې ویل شوي ارقام بله ورځ په همغه برخه کې له ورکړل شویو ارقامو سره توپیر کوي.
- په ځینو رسمي، نړیوالو او مهمو تاریخي غونډو کې که جمهور رییس لیکلې وینا وکړي، ورته په گټه به وي، خو دا وینا به د متعهدو اشخاصو له خوا لیکل شوې وي، اوس یې په ځینو ویناوو کې ایراني اصطلاحات په قصدي ډول تېرېږي او هم ځینې قصدي محتوایي تېروتنې هم تر سترگو کېږي.
- د یوې ژمنې لپاره دې ټاکلې نېټه نه ټاکي، ځکه هغه وخت چې راورسېږي، دده وعده نه وي عملي شوې، خلکو ته د یوه دروغجن سیاستوال بڼه خپلوي.
- جمهور رییس باید پر هغو مسایلو چې نه پوهېږي، ډېر زیات ټینگار او تمرکز ونه کړي، لکه دیني مسایل، یو شمېر ټولنیز موضوعات او نور، له جمهور رییس څخه څوک دا غوښتنه نه لري چې دی دې د یوه دیني عالم په توگه راڅرگند شي او یا دې هماغه شان په قال او قیل خبرې وکړي.
- جمهور رییس دې د وینا پر مهال د پښتو او دري ژبو د گډوله کولو په برخه کې د پخواني جمهور رییس (حامد کرزي) اکټونه نه کوي، دی یوه کلمه پښتو وايي، بیا درې ته شي، بیا بېرته پښتو ته، دلته د جملې خپلمنځي ارتباط شلېږي، هېڅ تامه جمله نه ترلاسه کېږي، که دی په دواړو ژبو د وینا شوق لري، څو متواتره جملې او یا هم یو بشپړ پیغامیز متن دې په یوه ژبه ووايي او بیا دې په بله ژبه خبرې شروع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**البته د سیاست، امنیت، ټولنېزې سوکالۍ او د دولت د نورو چارو په باب یو شمېر نور وړاندیزونه هم شته، چې د لیکنې د اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږم او بل وخت ته یې پرېږدم.**

**تر دې ځو وړاندیزیونو وروسته اوس راځم د مناظرې او واقعي مناظرې برخې ته!**

**ښاغلی ډاکټر اشرف غني هم د کمپاین پر مهال او هم د واک پر مهال له ولس سره ژمنه کړې چې تقریري او تحریري ازموینه به ورکوم او که پارچه مې سپینه وه، نو ناکام مې کړئ، له نېکه مرغه چې ما د پوهنتون د یوه استاد په توګه دده د حاکمیت په پیل کې دده چلند ارزولی و، دی ما سره هغه مهال په ځینو مضامینو کې هم محروم و، هم مشروط او په پای کې هم ناکام، ددې درېواړو کلمو وضاحت مې نږدې درې کاله وړاندې (د اختر نوي کالي دې مبارک، ناکامي دې مبارک!) لیکنه کې کړی و، نه غواړم بیا یې تکرار کړم، خو اوس غواړم د یوې ربښتینې مناظرې په چوکاټ کې د خپل ولس او ازادو رسنیو پر وړاندې له ده څخه یوه ګړنۍ یا تقریري ازموینه هم واخلم، نو ځکه خو جمهور رییس غني او دده د حکومت مهم او اساسي غړو ته بلنه ورکوم چې یوې ازادې، ربښتینې، ملي او دیموکراتیکې مناظرې ته حاضر شي.**

**د مناظرې ترکیب: د مناظرې د ترکیب په باب زموږ وړاندیز په دې ډول دی:**

**۱- جمهور رییس غني او دواړه مرستیالان یې**

**۲- اجراییه رییس او دواړه مرستیالان یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د ملي شورا د دواړو خونو رییسان

۴- د بلخ والي (عطامحمد نور)، د حکومت د مهم والي، د حکومتي اپوزېشن د مشر او د قدرت د یوې جزیرې د امیر په توگه

۵- د سترې محکمې رییس او لوی څارنوال

د مناظرې بل لوری:

۱- له لوی کندهار څخه دوه تنه

۲- له لوی ننگرهار څخه دوه تنه

۳- له لویې پکتیا څخه دوه تنه

۴- له شمالي ولایتونو څخه دوه تنه

۵- د محمد اسمعیل یون په گډون له مرکز (کابل) څخه درې تنه

چې ټول یوولس تنه کېږي، دا کسان باید علمي او سیاسي تجربه ولري، لوړې علمي رتبې او درجې ولري، د ژبې فصاحت او بلاغت ولري، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د نظام د ټینگښت پلویان، خو د حکومت تر ټولو سرسخت، قانوني او اصولي مخالفین وي، اخلاقي او سیاسي جرئت ولري او په ټول عمر کې یې نه کوم حکومتي چارواکي او زورواکي ته غوړه مالي کړې وي او د تحصیل کچه یې هم تر ماسترۍ ټیټه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناظرین:

الف- د امریکا سفارت، اروپایي اتحادیه، یوناما او نور
ب- افغاني او نړیوالې ازادې رسنۍ، د مدني ټولنو او سیاسي گوندونو استازي.

**برخوال**: د ناپېیلو قومي شوراگانو، مدني ټولنو، خیریه نادولتي بنسټونو، لیکوالو او فرهنگیانو په استازۍ له هر ولایت څخه په تناسبي ډول له (۲۰-۱۰۰) تنه استازي.
او له کابل څخه نږدې (۲۰۰) تنه، په مجموعي ډول اټکل (۲۰۰۰) تنه

**ځای**: د لویې جرگې کېږدۍ او یا هم کوم بل مناسب ځای.

**نېټه**: د زمري یا اسد میاشتې تر پایه، وخت پنځه ساعته (د سهار له اتو بجو څخه د ماسپښین تر یوې بجې پورې)

**لگښت**: هر سړی (گډونوال) په خپل لگښت.

**د مناظرې اصول**: دواړو لوریو ته به مساوي حق ورکول کېږي، یانې وخت کې به نا انصافي نه کېږي.
د هر ویناوال انساني کرامت به په پام کې نیول کېږي، د کلمو کراهت ته به اجازه نه ورکول کېږي، سپوره او سپک الفاظ به نه کارول کېږي او د کارونې په حالت کې به طبعاً د مناظرې په پای کې د گډونوالو پر وټونو چې د مناظرې د ارزونې په موخه کارول کېږي، تاثیر وکړي او د مقابل لوري خوا به درنېږي.
چلوونکي باید ناپېیلي اشخاص وي، د کورنیو او بهرنیو رسنیو له ژبورو او ماهرو چلوونکو څخه باید غوره شي او دواړو خواوو ته باید د منلو وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مناظرې په پای کې ګډونوال حق لري د مناظرې د ارزوونکو په توګه د یوې خوا په پلوۍ خپل ووټ وکاروي.**

**د مناظرې ژبه: پښتو او دري به د مناظرې رسمي ژبې وي.**

**نو که دې ډول یوې مناظرې ته دولت حاضر شو بیا به ووایو چې رښتیا هم دا حکومت یو ((پاسخګوی)) حکومت دی. او که نه نو د مناظرې په نامه د لکچرونو وړاندې کول او خپل صفتونه کول هسې د ولس په سترګو کې د خاورې شیندلو مانا ورکوي، نه کومه بله مانا، ددې ډول مناظرو پر ځای، خو بیا ښه ده چې ده ته ووایو؛ لکه څنګه چې دې په یو اړخیز ډول دا تېر څه کم درې کاله ډنګولې، دوه کاله نور یې هم وډنګوه، ولس خو هسې هم درڅخه تللی، تاسو پوهېږئ، همدا دربار او درباري غوړه مالان مو. هیله ده د حکومت او دولت ټولې اړوندې سرچینې او په خپله د جمهور رییس دفتر د یوې میاشتې په بهیر کې ددې لیکنې د غوښتنې او محتوا په باب لیکنی یا ګړنی ځواب راکړي او په رسنیو کې یې د همدې لیکنې په څېر خپور کړي. که دا لیکنه نامعیاري وي او هېڅ ډول ارزښت نه لري، په خپلو مبارکو علمي دلایلو دې رد کړي، خو د یوې مسولې ادارې یا شخص لاسلیک او مهر دې ولري.**

**وما علینا الاالبلاغ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوې ناسمې ادعا سم سپیناوی

زړه مې نه و چې دا لیکنه دې د لیکنو په دې ټولګه کې چاپ کړم، ځکه هغه څوک چې د دې لیکنې سبب شوی و، هغه خپله لیکنه په یوه برېښنايي وېبپاڼه کې خپره کړې وه. هملته د دې لیکنې خپراوی کافي و، خو کېدی شي شکاک تر دې وروسته خپله لیکنه په چاپي بڼه هم خپره کړي، نو ځکه مې د ځینو ملګرو په غوښتنه دلته هم چاپ کړه چې په چاپي بڼه هم لوستونکو ته خوندي شي. معترض کېدی شي د دې لیکنې تر خپراوي وروسته نور غبرګون هم وښيي، خو زه يې نورو متواترو لیکنو ته ځکه ځواب ضروري نه ګڼم چې يو خو نور کارونه په مخ کې دي، په تا ویلو او ما ویلو ځان نه مصروفوو، بل دا چې ځینې کسان قصداً غواړي یو چا سره ځان په یوه جنجال او موازنه کې واچوي او په دې ډول ځان ته د مصنوعي شهرت زمینه برابره کړي. لوستونکي به تر دې لیکنې وروسته خپله عادلانه قضاوت وکړي.

په دې نږدې ورځو د (۱۳۹٦ل کال د لړم په وروستيو) کې د (ادب او ادبي کره کتنې) لیکوال ښاغلي (عبدالمالک همت) زما پر یوه اثر (کره کتنه) باندې دده په اصطلاح یوه ((کره کتنه)) کړې ده. دا اثر ما پر (۱۳۹۱ل) کال د (پوهنوالۍ) علمي رتبې لپاره لیکلی و او بیا پر (۱۳۹۴ل) کال چاپ شوی دی. (کره کتنه) په کابل پوهنتون کې د یوه ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضمون په توګه تدریسېږي. ددې مضمون لپاره د داسې یو اثر لیکلو ته اړتیا وه چې هم تدریسي بڼه ولري او هم د څېړنې او شننې پر اصولو برابر لیکل شوی وي. ما چې نږدې دوه لسیزې د ادبپوهنې مضمون (د ادبپوهنې بنسټونه) تدریس کړی او ادبي کره کتنه هم د ادبپوهنې یوه اساسي څانګه ګڼل کېږي، نو د ادبپوهنې په درېواړو برخو (ادب تاریخ، ادب تیوري او ادبي کره کتنه) کې راته د خپل پوهنځي تدریسي اړتیاوې او کریکولم ښه څرګند وو. د ادبي کره‌کتنې په برخه کې هم د یوه منظم تدریسي اثر نیمګړتیا او اړتیا ډېره احساسېدله، نو ځکه مې د یوه تدریسي اثر د لیکلو تکل وکړ، د پوهنتون تحصیلي کریکولم مو هم په پام کې ونیو او د محصلینو د هضم او جذب کچه، درسي ساعتونه او نور ټول اړوند ضرورتونه هم محاسبه شول.

ددې اثر لیکل په دې مانا نه وو چې د کره کتنې په برخه کې تر دې پخوا قوي او کمزوري اثار نه وو، دا اثار به وو، خو هغه اثر چې تر ډېره بریده د محصلینو اړتیاوې خړوبې کړي؛ تدریسي بڼه ولري او د پوهنتون د منظور شوي کریکولم محتویات راونغاړي، داسې اثر نه و، که ځینې متفرقه اثار وو، نو پر هغو هم ډېره زمانه تېره شوې وه، داسې یو مستقل اثر چې د نوي عصر غوښتنې په پام کې ونیسي او د کریکولم له محتویاتو سره برابر وي، موجود نه و. تردې دمه د کره کتنې د مضمون استادانو یا له بېلابېلو متفرقه اثارو ګټه پورته کوله او یایې هم خپل ځانګړی لکچر نوټ ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ددې اثر د لیکلو پر مهال نږدې ټول هغه اثار چې پیدا کېدل یې شوني وو، سره راټول کړل، یو یو مې له نظره تېر کړ، پرتله مې کړل، محتوا، املا، انشاء هر څه مې ټول وارزول او د خپل کریکولم مطابق ضروري مواد مې په کې په نښه کړل، په دې اثارو کې د زرین انځور (شعرونه او نقدونه)، د رضا براهني (طلا درمس)، د دوکتور لطیف بهاند (په پښتو ادب کې د کره کتنې تاریخ؛ ناچاپ اثر) ، د پوهنوال محمد رفیق رفیق (د ادبپوهنې بنسټونه)، د کاندید اکاډمېسین محمد صدیق روهي (د کره کتنې تاریخي پس منظر او معیارونه) او همدارنګه (ادبي څېړنې)، د ډاکټر زرینکوب (نقد ادبی)، د پوهاند ډاکټر عبدالقیوم قویم(نقد ادبي)، د سید محی الدین هاشمي (ادب پوهنه)، د سر محقق زلمي هېوادمل (د کره کتنې ډولونه) د رنه ولک (تاریخ نقد جدید)، د عبدالمالک همت (ادب او ادبي کره کتنه) او همدارنګه یو شمېر نور مهم اثار شامل وو،له دې ټولو څخه ګټه پورته شوه، په ټولیز ډول (۳۳) بېلابېل اثار وکتل شول.

د علمي او تدریسي اثر د لیکلو لپاره طبعي خبره ده چې علمي معیارونه په پام کې نیول کېږي؛ ساده، روانه، سلیسه او بې تکلفه ژبه، د مخاطب ذهني کچه، درسي ساعتونه، د محصل د جذب قوه او ګڼ شمېر نور معیارونه. ما چې کله هم د ټولو درنو لیکوالو اثار وپلټل، نو په ځینو برخو کې د مانا او محتوا د ورتوالي تر څنګ، املایي، انشایي اختلافات، لهجوي توپیرونه، لیکنیز میتودونه، د افادې طرز، د نثر ساده والی او پېچلتیا او ګڼ شمېر نور داسې مسایل په کې وو، چې کټ مټ د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتقال نه یوازې یو واحد اثر پر څو برخو وېشه، بلکې لوستونکو ته یې هم د منظم او منسجم پیغام د لېږد په برخه کې ابهام پېښولای شو.

ما کوښښ وکړ چې واحده معیاري ژبه وکاروم او تر ډېره حده کوښښ وکړم چې اصلي محتوا را انتقال کړم. کله کله د یوې اوږدې محتوا نچوړ ته اړتیا وه، په دې برخه کې هم ډېر احتیاط شوی چې د محتوا زړی او جوهر زیانمن نه شي. د هر لیکوال پیغام چې دلته انتقال شوی، هغه سل په سلو کې د هغه په ژبه او لیکني ډول نه دی راانتقال شوی. ددې کار علت دا و چې موږ کله هم د کره کتنې په باب اثر لیکو، نو ټول هغه متون هم باید له مخې ورسره کره شي چې له لیکوال څخه یې د مفهوم په افاده کې یا تېروتنه شوې وي، یا پیغام په ژوره توګه نه وي افاده شوی، یا املایي او انشایي تېروتنه ولري، یا یې هم په ژباړه کې ستونزه پېښه شوې وي، نو داسې مفهومونه څو څو ځله شنل شوي، یو بل سره پرتله شوي،، راټه شوي او بیا د کتاب متن ته داخل شوي دي. هغه محتوا چې تر ډېره حده کره او پوره وه، هغه کټ مټ راانتقال شوې او اخځ یې هم ښودل شوی دی. د نږدې ټولو هغو محتویاتو اخځ په دقیق ډول ښودل شوی چې په دې کتاب کې ورڅخه ګټه اخیستل شوې ده.

داسې هم شوي چې د یوه اثر له څو مخونو څخه په بېلابېلو ځایونو کې په لنډیز سره یوه محتوا رااخیستل شوې او په پای کې یې ورته اخځ ښودل شوی او هم هغه مخونه چې له هغو څخه نچوړ راټول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کتاب (کره کتنه) کې د ښاغلي عبدالمالک همت له اثر (ادب او ادبي کره کتنه) څخه هم ګټه پورته شوې او ځای پر ځای یې د کتاب د مخونو شمېره هم ورکړل شوې ده. سربېره پر دې مې د خپل کتاب (کره کتنې) په (۴۰۵-۴۰٦) مخونو کې دده د کتاب په پېژندنه کې ځانګړې یادونه هم کړې ده او همداسې د نورو لیکوالو د اثارو په اړه یادونه شوې ده.

اوس چې ګورم ښاغلي همت یوه اوږده لیکنه کړې او د ((ادبي غلا)) په نامه یې یو داسې تور هم پورې کړی چې له سالم عقله لرې برېښي. لیکنه مستقیماً له سیاسي خبرو پیل شوې او له ډول ډول تورونو سره مله ده.

ښاغلی همت وایي چې زما له کتاب څخه ګټه پورته شوې یا دده په اصطلاح ((ادبي غلا)) شوې او اخځ نه دی ښودل شوی. (۲۷) شمېره دده د اثر یادونه کوي. له (۲۷) شمېرې سره ټول اړوند مخونه د کتاب په متن کې راغلي دي. وګورئ!: ۱۹ مخ کې (۲۷: ۱۲۲)، ۲۵ مخ کې (۲۷: ۱۲۷-۱۳۱)، ۴۴ مخ کې (۲۷: ۲۷۷) ، ۱۱۵ مخ کې (۲۷: ۴۲۸-۴۳۹)، ۱۱۹ مخ کې (۲۷: ۴٦۱ – ۴٦۳) ، ۱۳۰ مخ کې (۲۷: ۴٦۵-۴۸۲) مخونه او ځینې نور په څرګند ډول لیکل شوي دي. په یوه علمي اثر کې د اخځ د ښودنې لپاره د الفبا په ترتیب شمېره ورکول کېږي او بیا د هغه اړوند مخونه هم ورسره په متن کې لیکل کېږي. دده اړوند اخځ په (۲۷) شمېرې پورې اړه لري او په دې ډول لیکل شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷- همت، عبدالمالک، ادب او ادبي کره کتنه، (۱۳۸۵ل) کال، کوټه، صحاف نشراتي موسسه، اکرم پریس.

البته په یو شمېر نورو، په تېره بیا په نسبتاً زړو څېړنيزو اثارو او ځينو ملايي متنونو کې اخځونه په نورو ډولونو هم ښودل شوي چې د همت صيب کتاب کې هم یو شمېر په همغه ډول راغلي دي.

همت صيب نيوکه کوي چې ولې يې په ځينو برخو کې متن کټ مټ نه دی راوړی:

ایا یو ليکوال چې محتوا يې سمه وي، خو په املا،انشاء، گرامر او یا هم په ژباړه کې يې تېروتنه شوې وي، لازمه ده چې موږ محصلينو ته د هغه همغه املايي او گرامري تېروتنې کټ مټ ورانتقال کړو او که د هغه سمه محتوا؟

د همت صيب د همدې ليکنې په سريزه کې چې اوس يې پر (کره کتنه) اثر کړې، يوازې د پيل په نږدې (۱۲) ليکو کې (۲۵) ځله (او) راغلی، د (او) دومره کارونه تر اړتيا پورته ده. که چېرې په دې (۱۲) ليکو کې جملې په منظم، منسجم او سم ډول راغلې وای، نو لږ تر لږه (۱۴) ځله ترې (او) حذفېدلای شو او متن هم په ښه ډول خوندپيدا کولای شو. ليکنښې او په تېره بيا کامه (،) د همدې لپاره دي چې په ليکني متن کې د ليکوال د ډېرو (اوونو او واوونو) مخه ونيسي او متن روان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه به وي چې د لا وضاحت په خاطر د همت صیب د لیکنې همدا پیلیزه برخه کټ مټ راانتقال کړو، دې سره به لوستونکي لا ښه پوه شي چې دا لیکنه له املایي، انشایي او محتوایي پلوه په کومه پوړۍ کې ده؟

## ((ادبي غلا

## د یون پر کره کتنه باندي کره کتنه

**ولا أغير على (الأقوال) أسرقها**
**غنيت عنها وشر الناس من سرقا**

**(طرفه بن العبد)**

( زه د نورو خلکو پر ویناوو ډاکه نه وهم چې غلایې کړم، دې کارته څه اړتیا نه لرم او د خلکو ډېر بد او شریر هغه دي چې غلاکوي ).

لکه چې پوهیږو له ډېرو کلونو راهیسي زموږ پر گران هیواد باندي زموږ د پتمنو خلکو د دین او دنیا او مادي او معنوي شتمنیو کورنیو او بهرنیو غلو چور اچولی دی او پرله پسې زموږ سپېڅلی هیواد راورانوي، ډول ډول پر ځمکه باندي او لاندي شتمنۍ مو لوټوي او خلک مو وژني او کړوي. د لوټ او تالان او حملې او توبرې په دې روان چپاو کي خبره تر دې پولي رسېدلې ده چې ان زموږ د لیکوالو د کتابونو د منځپانگو لوټولو ته لا هم لاسونه غځول کیږی. سره د دې چې ډېر پر اسلام او هیواد مین او د پردو غلیمانو د نیواک او لوټمار او د هغو د لاسپوڅو د بریځر او پردي پالني څخه د بد وړلو له امله وژل کیږي، کړول کیږي او له خپلو حقونو او کار او خدمت څخه گوښه کړی سوي دي، په فرهنگي اورشو کي د کټ او فیسټ په دې بل له شرمه ډک دود سوي کړندود کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پر ليکنو او اثاروهم تېري کيږي او د ډول ډول غلاوو کچه تر دې رسېدلې ده چي ان د کتابونو محتويات يې د ليکوالی او څېړني د اصولو خلاف غلاکيږی، د يو څه نوري غلا او ښکاره سره اوډل کيږي، د اثر نوم پر ايښوول کيږي او د کتاب په نامه چاپ ته سپارل کيږی. ډېره بده يې لا دا چي يو شمېر نور کسان يې دغسي له ادبي غلا او درغلۍ ډک کتابونه په نظرونو، يادښتونو، تقريظونواو صفتونوستايي او ليکونکی يې امتيازونه هم پر اخلي.

ما لس کاله وړاندي د پښتو ادبياتو په برخه کي نوو رامنځ ته سوو ناخوالو او د ځينو کسانو له خوا د ناسمو کره کتنو په ليدو او د ادبي کره کتني په برخه کي د بشپړو لاربشودو اثارو د نه شتون له امله په خورا زياتو زيارونو، خواريو او لګښتونو، له ډول ډول بهرنيو او کورنيو منابعو څخه په ګټه اخيستنه، په څه له پاسه دوو کلونو کي د (ادب او ادبي کره کتنه) تر سرليک لاندي يو ښه ضخيم او مغتنم کتاب په ٦۴٨ مخونو کي وليکی. چي په ډېر لږ مهال کي د هيواد په دننه او بهر کي د ډېرو پوهانو، ليکوالو او د مطالعې د مينوالو له خوا ومنل سو او بيا ځلي خپور سو. خو څنګه چي زه د نيواک، غلا وو او پردي پالني په کلکه ضد يم او مرګ قبلوم خو د پردو غليمانو نيواک او مزدوري نه منم. د اسلام او خپل هيواد او فرهنګ سره لېونۍ مينه لرم، په تېره له سيکولرو عناصر سره په هيڅ ګون نه جوړېږم، ځکه نو د نوو پر دوران راغلو، خو ټيټو، پردي پالو او د غليمانو د تالۍ څټو او سيکولرو موزيګيانو له خوا دغه کتاب زما د نورو اثارو او ژباړو غوندي د ساړه غبرګون سره مخامخ سو. خو جالبه داده چي په راوروسته کي يوه تن پوهاند محمد اسماعيل يون چي له رشتيانۍ علمي پانګي څخه هيڅ هم په چانته کي نه لري، اما پردو نيواکګرو ته د رشتيني او نه ستړي کېدونکي چوپړ له امله د ډول ډول امتيازونو او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمنيو څښتن سوی دی زما د ادب او ادبي کره کتني کتاب له بېلو بېلو پاڼو څخه یوه لویه برخه د لیکوالۍ او تحقیق د منلو سوو آرونو او مأخذ ښوولو خلاف را اخیستې ده، اسلامي کسوت يې ځني ایستلی او له نورو کتابونو څخه يې څه نوره غلا او ښکاره پر ور اضافه کړې او د کتاب په بڼه يې د (کره کتنه) په نامه خپره کړې او خپله لیکنه يې بللې ده. د کتاب ترسرلیک لاندي يې ورته لیکلي دي:" د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګو د کره کتنې مضمون لپاره". بیا يې د لومړي چاپ یادښت تر سرلیک لاندي لیکلي دي: " دا کتاب ما (یون) پر (۱۳۹۱ل) کال د (پوهنوالۍ) علمي رتبې لپاره لیکلی و او پر هغه مهال د یادي رتبې لپاره ومنل شو".

اوس د دې لپاره چې زما ادعا او د یون غلا جوته سي، لومړی یو په یوه د یون د کتاب هره هغه برخه چې زما د ادب او ادبي کره کتني له کتاب څخه يې غلاکړې ده را اخلم او ورپسې به زما د کتاب هغه برخه د پرتلني لپاره ورسره ایږدم چې غلا سوې ده :))

ددې سریزې یا پیلیزې محتوا له کینې، بغض، عداوت او سیاسي غرضه پیلېږي، لیکوال يې خپل ځان سپینه کوتره او داسې یو دینداره شخص ګڼي چې د بهرنیانو سرسخت مخالف دی او ان تر مرګه د هغو مقابلې ته تیار دی، نور خلک ورته (سیکولر) ښکاري، نو که دده کتاب ته چا ارزښت نه دی ورکړی، علت يې همدا دی چې دی د پردیپالو او د هغو د لاسپوڅو سخت مخالف دی. دی اسلام او خپل فرهنګ سره لېونۍ مینه لري، په ډېر زحمت يې کتاب لیکلی او (یون) خو دده په اصطلاح له ربښتیانۍ علمي پانګې څخه هېڅ هم په چانټه کې نه لري او نور... نه غواړم ټول متن دلته یو ځل بیا تکرار کړم، دغه راز دا هم نه غواړم ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیلیزې هرې جملې او تورونو ته مسلسل ځوابونه ورکړم، ځکه ځینې برخې اصلاً په ځواب نه ارزي، خو یو څو ټکو ته به د بېلګو په توګه اشاره وکړم. ښاغلی همت نه دی خبر چې ما لیکوالي له کوم کاله پیل کړې ده، په دې برخه کې باید وویل شي چې د (۳۰) کلونو پر مهال په فرهنګي، ټولنیز او سیاسي ډګر کې تر خپلې وسې پورې زما کار او زیار ټولو هېوادوالو ته معلوم دی، د خپل ځان ستاینه او یادونه راته یو غټ عیب ښکاري، خو بیا هم مجبور یم ځینو کسانو ته خپله فرهنګي پېژندنه په یو څو جملو کې یو ځل بیا تداعي کړم: زه په شپږم ټولګي کې وم چې د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی وم، خپله به مې هم لنډ لنډ شعرونه (نظمونه) لیکل، پر (۱۳٦۵ل) کال د خوشال خان لېسې د ادبي انجمن مشر وم، د دولسم ټولګي پر مهال مې د (هیلې) په نامه د لرو او برو ځوانو افغان لیکوالو د شعرونو ټولګه راټوله کړه او د (۱۳٦٦ل) کال  په بهیر کې چاپ شوه، پر (۱۳٦۷ل) کال د پښتو ځانګې محصل او د ځوانو لیکوالو د انجمن غړی وم، د پوهنځي په بهیر کې مې د خپلو شعرونو مجموعه (مټکور) چاپ شوه او همدارنګه د (نیمګړي ارمانونه) په نوم مې د (محمد عالم حیران) د شعرونو یوه ټولګه راټوله او چاپ کړه. پر (۱۳۷۰) کال د ازمویننې له لارې د پښتو ځانګې د کدر غړی شوم او تردې دمه دې (۱۳۹٦ل) کال د لړم میاشتې پورې دې دندې ته دوام ورکوم. له (۱۳۷۰ل) کال څخه تر (۱۳۸۱ل) کال یانې افغانستان ته د بهرنیانو تر راتګ پورې مې خپل نږدې (۲۳) عنوانه بېلابېل اثار چاپ کړل. د (هیلې)، (کابل پوهنتون) او (شمشاد) مجلو د مسول مدیر په توګه مې هم ورسره هممهاله کار وکړ او د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال په بهير کې مې د بېلابېلو ليکوالو تر (سلو عنوانونو) زيات اثار ايډېټ او چاپ کړل. افغانستان باندې د بهرنيانو تر يرغل او يا افغانستان ته د بهرنيو ځواکونو تر راتګ وروسته مې هم په خپل فرهنګي کار کې هېڅ ډول ځنډ و خنډ نه دی راوستی، پر يوه وخت مې (۳۳) عنوانه کتابونه چاپ کړل او د لسګونو نورو ليکوالو د اثارو چاپ ته مې زمينه برابره کړه. يوازې د (ملي تحريک) له لوري مو په دوو کلونو کې (۱۲۳) عنوانه بېلابېل اثار چاپ کړل. زما خپل څېړنيز، ادبي او نور هغه اثار چې ما راټول کړي او ټول چاپ شوي دي، شمېر يې اوس مهال تر (۴۴) عنوانونو پورته کېږي.

نور کلتوري، رسنيز او په دې ډګر کې خدماتي کارونه ټول ولس ته معلوم دي، دلته يې تفصيل ته اړتيا نه شته.

دا چې زما له خوا ليکل شوي او پنځول شوي اثار به څومره علمي، څېړنيز او شننيز وي، ګټه او ارزښت به ولري که نه؟ دا قضاوت به لوستونکو او خپلې ټولنې ته پرېږدو. دا چې څوک په ((چانټه)) کې څه لري که نه او د چا وينا او ليکنه له منطقه ډکه ده او د چا له کينې، بغض او عداوته، دا قضاوت به هم ټولنه کوي. بهرنيانو ته د نوکرۍ، غلامۍ او هغو ته د نه ستړي کېدونکي خدمت خبرې د بازار، کوڅې او هغو اشخاصو خبرې دي چې د تعلم، فرهنګ او انسانيت له اخلاقي دايرې څخه وتلي وي، ښه به وي چې دلته په تېرو (اوولسو کلونو) کې د هر چا کار او زيار وارزول شي. عملي او نظري مبارزه دواړه وتلل شي، چا څه کړي؟ چا د افغانيت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامیت او انسانیت چغه پورته کړې؟ څوک عملاً میدان ته وتلي او څوک تر برېستنې لاندې ځان ته د مبارز خطاب کوي. زه د ټولو بهرنیانو او د هغو د کورنیو لاسپوڅو مخالف یم، که دا په ټوله کې لویدیځوال وي، د دریشۍ او د نېکټایي په لباس کې د هغو کورني لاسپوڅي او یا هم په سپینه ږیره او سپین لباس کې د اسلام تر پردې لاندې د پنجاب گوډاگیان وي، څوک چې د افغان او افغانستان مخالف وي، زه یې مخالف یم، د همت صیب په لیکنه کې په نامستقیم ډول د اقتصادي حقارت په گډون د هغه یو شمېر نورې عقدې هم ښکاري، خو زه نه غواړم دلته پر هغو ټولو بحث وکړم، ځکه چې دا موږ له اصلي موضوع څخه لرې کوي، خدای (ج) دې ده ته همت ورکړي چې خپل ټول دروني رواني مشکلات په خپل همت رفع او دفع کړي. خو دلته غواړم ددې پیلیزې د گرامري تېروتنو له جملې څخه یو څو یې د بېلگې په ډول یادې کړم او هغه هم ددې لپاره چې دده د کتاب په متن کې هم دا ډول گرامري تېروتنې وې چې ما د اقتباس پر مهال هغه سمې کړې دي او بیا غواړم دده د لیکنې پر ځینو نورو برخو هم لنډه رڼا واچوم.

ددې پیلیزې متن په ټولیز ډول کراهت او ثقلت لري، د عطف توري (او) یادونه مو وکړه چې تر اړتیا زیات کارېدلی دی، جملې یې روانې نه دي، تامې جملې یې څرگندې نه دي، (سربلونه او وستربلونه) لکه: (له، تر، باندې، لاندې، سره) او همدارنگه ترکیبي کلمې او نور اړوند گرامري ضرورتونه سم نه دي کارېدلي، د لیکنښو پوره مراعت په کې نه دی شوی، لهجوي اغېز پرې څرگند دی، د کلمو تر منځ لازم لیکنی واټن نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مراعت شوی او همدارنګه نورې نیمګړتیاوې په کې محسوسې دي. دې ټولو نیمګړتیاوو متن له سلاسته ایستلی دی. دلته به یې یو څو بېلګې هم راوړم:**

**ناسمه بڼه: (پر ځمکه باندي او لاندي شتمني). سمه بڼه: تر ځمکې لاندې او د ځمکې پر سر شتمني. (پر) سربل د (باندي، سر، سربېره) لپاره راځي او (تر) د (لاندې) لپاره، دلته (پر) د دواړو اوستربلونو (لاندې او باندې) لپاره کارېدلی، د (پر) د کارونې ځایونه: د ځمکې پر سر، پر ځمکه باندې، پر مېز باندې. د (تر) کارونه: تر ځمکې لاندې، تر مېز لاندې، تر دې مهاله او نور...**

**ناسمه بڼه: (سره ددې چې...)، (د برېځر او پردي پالني څخه د بد وړلو....))**

**سمه بڼه: (سره له دې چې...) (له برېځر او پردیپالنې څخه د بد وړلو...)**

**(له) او (سره) له یو بل سره تړلي دي نه (د)سره. د (له) پر ځای د(د) کارونه سمه نه ده. (له) د بېلتون او پیوستون لپاره راځي، اړوند او ستربلونه یې (سره، ځنې، څخه) او نور دي. (د) له (څخه، سره او ځنې) سره نه راځي.**

**(پردي پالني) هم ناسمه ده، یو ځای باید ولیکل شي ، (پردیپالنې)، لکه څنګه چې همت صیب د (لاسپوڅو)، په ګډ لیکنه کې دا کار کړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، (لاس+ پوڅو) یې نه دي لیکلي. ناسمه بڼه (د کتاب په نامه چاپ ته سپارل کېږي.) دا د دري ژبې (به چاپ سپرده میشود) ټکي پر ټکي ژباړه ده. سمه بڼه یې داده (د کتاب په نامه چاپېږي) دلته هم جمله لنډېږي، هم د ژباړې اغېز پرې نه ښکاري او هم جمله خپل اصلي مسیر ته لوېږي.

ناسمه بڼه: (د هېواد په دننه او بهر کې))، سمه بڼه یې : (په هېواد کې او تر هېواده بهر). (تر) دلته د قید لپاره راځي، یانې هغه کتاب چې هم یې په هېواد کې مینوال پیدا کړي او هم تر هېواده بهر نوره نړۍ کې، بله سمه بڼه یې دا هم کېدی شي، (هم په هېواد او هم په بهر کې).

ناسمه بڼه: (د اسلام او خپل هېواد او فرهنگ سره لېونۍ مینه لرم)، سمه بڼه: (له اسلام، خپل هېواد او فرهنگ سره لېونۍ مینه لرم)، دلته د همت صیب دوه (اوونه) پر یو (او) بدل شول، جمله هم روانه شوه او پیغام هم زیانمن نه شو. د (د) پر ځای (له) هم پر خپل ځای وکارول شو، د زیار صیب په وینا؛ لیکوال باید ((دالونه)) ډېر او بېځایه ونه کاروي چې هم متن او هم سړي ته ډېر زیان رسوي.

ناسمه بڼه: (د ساړه غبرگون سره)، سمه بڼه یې: (له ساړه غبرگون سره)، ناسمه (پردي پالو، تالی ختو)، سمه بڼه: (پردیپالو، تالیختو). لیکپوهان وایي، دوه کلمې چې د یوه واحد مفهوم لپاره راوړل شوې وي او د پیوستون قابلیت ولري، نو که یو ځای ولیکل شي د مفهوم په افاده کې ډېره مرسته کولای او لوستونکي یې له ځنډ او فاصلې پرته پر یوه مهال لوستلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکنې د اوږدوالي له امله یې له نورو تېروتنو څخه تېرېږم، لیکنښې یې که هم سمې کارولې وای، متن به دومره نه ټکنی کېده. د پښتو (یاگانو) د کارونې په برخه کې هم ستونزه لري.

په دې پیلیزه یا د سر خبرو کې چې کومې گرامري تېروتنې شوي، د (ادب او ادبي کره کتنه) په نامه دده د کتاب په اصلي متن کې هم په لسگونو څه چې په سلگونو ځایه دې ته ورته تېروتنې راغلې دي، ما چې د همت صیب د کتاب له کومو برخو څخه گټه پورته کړې، په هغو کې مې دا تېروتنې اوتومات سمې کړې دي، خو همت صیب نیوکه کوي چې ما ولې دا کار کړی دی، ما نه یوازې د همت صیب په لیکلي متن کې گرامري سمون راوړی، بلکې د نورو لیکوالو په متن کې هم چې زما په نظر کومه تېروتنه شوې او یا یې په ژباړل شوي متن کې پېچلتیا موجوده وه، هغه مې هم اصلاح کړي، خو پیغام کې مې لاسوهنه نه ده کړې؛ نچوړ او لنډون مې راوړی دی.

دلته به د بېلگې په توگه د همت صیب د کتاب یو څو جملو ته هم لنډه نغوته وکړو چې زه په کې بدلون راوړلو ته اړ شوی یم، د همت صیب د کتاب د لیکني متن څو جملې:

- ...درغلي او جعل کاري کول....
- د سرو زرو سره...
- کره کتنه د ادب تر تاریخ د مخه رامنځته سوې ده.
- مصحفي په خپلو تذکره کې سوچه اوساده ژبه وکارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جملې ماپه دې بڼه اړولې دي:

- ...درغلي او جعل کاري کوله
- له سرو زرو سره....
- کره کتنه تر ادب تاریخ د مخه رامنځته شوې ده.
- مصحفي په خپلو تذکرو کې سوچه اوساده ژبه وکاروله

او همداسې نورې ګڼې جملې او کلمې.

ددې جملو د سمون منطق دادی:

(درغلي) او (جعل کاري) دواړه لفظي مونثې کلمې دي، په پښتو کې فعل د جنس تابع دی. که تر فعل وړاندې کلمه مونث خصلت ولري، فعل هم همغه بڼه خپلوي او که مذکر خصلت ولري، همغه نرینه بڼه. (کول) د مذکر جمع حالت لپاره راځي، لکه: هغه ښه کارونه کول. محمود درغلي کوله یا یې جعل کاري کوله، څرنګه چې دلته تر فعل وړاندې (کارونه) مذکر جمع دي، نو ځکه ورته (کول) فعل وکارېده او (درغلي) له لفظي پلوه مونثه کلمه ده، نو ځکه ورته (کوله) فعل په مونث ډول وکارېده.

کله چې په یوه جمله کې تر نوم وروسته (سره) کلمه یا (اوستر بل) راشي، نو تر هغه وړاندې ورسره (له) (سربل) یو ځای کېږي، نه (د). (له) د بېلتون او پیوستون لپاره دی او (د) د ملکیت مانا ورکوي؛ اضافت توری ګڼل کېږي. مخکې مو هم یادونه وکړه.

له احمد سره راغلم، له محمود سره لاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دا چې د احمد سره راغلم یا د محمود سره لاړم.

له سرو زرو سره تلل کېږي، نه دا چې د سرو زرو سره تلل کېږي.

(کره کتنه د ادب تر تاریخ د مخه رامنځته سوې ده.) دا جمله هم د گرامر له مخې سمه نه ده اوډل شوې.

(ادب تاریخ) یو ترکیبي نوم دی، لکه خپله (کره کتنه) یا (ادبي کره کتنه) او (ادب تیوري)، لکه څنگه چې داسې نه شو ویلای: ((ژبپوهنه د کره تر کتنې، د ادبي تر کره کتنې د مخه رامنځته شوې، یا د ادب تر تیورۍ د مخه.)) نو دا هم سمه نه ده چې ادب تاریخ په خپل منځ کې نیم کړو، د (ادب) او (تاریخ) تر منځ (تر) ورزیات کړو.

که سمه یې افاده کوو، نو داسې یې باید ووایو: (کره کتنه تر ادب تاریخ د مخه رامنځته شوې ده). نه دا چې؛ (کره کتنه د ادب تر تاریخ د مخه رامنځته سوې ده).

همت صیب وایي: مصحفي په خپلو تذکرو کې سوچه او ساده ژبه وکارول.

ما لیکلي: مصحفي په خپلو تذکرو کې سوچه او ساده ژبه وکاروله.

کېدی شي ځینو خلکو ته دا مسایل په ځینو گړدودونو کې سم وبرېښي، خو موږ د پښتو د عام گرامر خبره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لسګونو ځایونو کې ما داسې سمون راوړی دی. موږ باید محصلینو ته یوه کره او معیاري ژبه او همدارنګه معیاري لیکدود وړاندې کوو، نه د هر لیکوال انفرادي لیکدود. که داسې وکړو، نو یو محصل به یوازې په لیکنۍ برخه کې پر شلو ذهني لارو بوځو.

په ځینو ځایونو کې همت صیب نیوکه کړې چې ځینې کتابونه ما یو ډول معرفي کړي او (یون) بل ډول. د کره کتنې ځینې کتابونه چې همت صیب معرفي کړي، هغه نورو لیکوالو هم معرفي کړي، ما هغو ټول کتابونه کتلي او بیا مې هغه په ډېر لنډيز سره لوستونکو ته معرفي کړي، دا په دې مانا نه ده چې هغه ټول د همت صیب له کتاب څخه معرفي شوي دي. همت صیب ځینې ځایونو کې د کتاب د پېژندنې تر څنګ ځای ځای پر هغه کتاب د نورو لیکوالو تبصرو ته هم ورداخل شوی، په داسې حال کې چې په یاده برخه کې ما غوښتل یوازې کتاب په ډېر لنډيز سره معرفي کړم، نه دا چې د ټول کتاب ارزونه وشي او پر هغه باندې کره کتنه، ځکه دلته محصل ته یوازې د کتاب لنډه پېژندنه ضروري وه او که د هر کتاب هر اړخيزه ارزونه وای، نو د کره کتنې پر همدې (۲۸) کتابونو تر (۱۰۰۰) مخونو زیات څه لیکل کېدی شي.

همت صیب نیوکه کوي چې ولې دده د کتاب له متن څخه ځینې برخې رااخیستل شوي او ټولې برخې کټ مټ نه دي رااخیستل شوي، نو ځکه خو یې دخپل کتاب بشپړ متن هم ورسره د سند په توګه راوړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو لیکوال چې د یو بل لیکوال له کتاب څخه کوم څه رااخلي، د خپل ضرورت مطابق یې رااخلي په تېره بیا هغه برخه چې له ټاکل شوې موضوع سره سمون وخوري، د هغه د کتاب د ټول متن پر انتقال مکلف نه دی.

یوازې یو څو کتابونه به د بېلګې په توګه راوړو چې همت صیب وایي ولې یې زما د متن په شان نه دي راوړي.

**۱- کتاب الشعر**:کتاب الشعر ما په دې ډول معرفي کړی دی:

دا کتاب اصلاً د یونان د نامتو فیلسوف او حکیم (ارسطو) د بوطیقا (Poetics) پښتو ژباړه ده. دا اثر (مولوي محمد اسرافیل) ژباړلی او د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ مشر (مولانا عبدالقادر) پرې بیا کتنه کړې. یاد اثر پر (۱۹۵۸م، ۱۳۳۷ل) کال په پېښور کې د پښتو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی.

لکه څنګه چې څرګنده ده، بوطیقا د شعر او شاعرۍ په اړه په نړۍ کې لومړنی منظم اثر ګڼل کېږي، دغسې په پښتو کې ددې اثر ژباړه هم د کره کتنې په برخه کې لومړنی ژباړل شوی اثر ګڼل کېږي. ارسطو په دې اثر کې پر شاعرۍ باندې عمومي او متوازن نظر ښندلی، د شاعرۍ ډولونه یې بیان کړي، جنګي شاعري یې توضیح کړې، د کره کتونکو اعتراض او هغو ته د ځواب ورکولو اصول یې بیان کړي دي. د ارسطو دا اثر د (نظمیات) په نامه (قلندر مومند) هم ژباړلی دی او پر (۱۹۶۳م، ۱۳۴۲ل) کال یې په پېښور کې خپور کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همت صیب متن په دې ډول دی: ((کتاب الشعر :

په ۱۹۵۸ع.کال کتاب الشعر چي د ادبي کره کتني د نظریې په هکله د یونان د نامتو لرغوني حکیم ارسطو د« Poetics » ( بوطیقا) د نامتو کتاب پښتو ژباړه ده، مولوي محمد اسرائیل وژباړی او د پېښور پو هنتون د پښتو اکاډمۍ مشر ( ډایرکټر) مولانا عبد القادر بیاځلي کتنه ( نظرثاني) ورته کړې او د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ لخوا خپور سوی دی.

په دې حساب لکه څنګه چي بوطیقا ( همدغه کتاب الشعر) د کره کتني لومړنی کتاب دی، دغسي د غه کتاب د کره کتني په هکله په پښتو لومړنی ژباړل سوی او خپور سوی کتاب هم دی.

د کتاب د نیو لیك له مخي د بوطیقا یا د شعر هنر د کتاب موضوعات دغه دي: په شاعرۍ باندي عمومي او بالموازنه نظر_ د شاعرۍ قسمونه، د المیې بحث، جنګي شاعري، د نقادانو د اعتراض او د هغو د جواب ورکولو اصول، د جنګي شاعرۍ نه المیه ډېره غوره ده، په کتاب کښي چي د کومو خلقو ذکر راغلی دی د هغوی لنډ حالات.

کتاب الشعر د دنیا په اکثرو ژبو کښې ترجمه شوی دی او ډېرو لوړو علماوو  او ادیبانو پرې اوږدې اوږدې شرحي لیکلي دي.

په پای کي باید هیره نه کړو چي د ارسطو بوطیقا قلندر مومند هم د « نظمیات » په نامه په پښتو ژباړلې او په ۱۹٦۳ع.کال په پېښور کي خپره سوې ده. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- مقدمه د شعر او شاعرۍ: دا اثر ما په دې ډول معرفي کړی دی:**

(مقدمه د شعر او شاعرۍ) پروفیسور محمد نواز طایر له اردو څخه پښتو ته ژباړلې ده. د اثر لیکوال د اردو ژبې نامتو کره کتونکي (الطاف حسین حالي) دی. د کتاب پښتو ژباړه د (۱۳٦۰ل،۱۹۸۱م) کال په اپریل کې د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ له خوا چاپ شوې ده. په دې اثر کې د اردو ژبې د ادبیاتو پر څرنګوالي کره کتنه شوې، د کره کتنې عام اصول بیان شوي دي. د کره کتنې دا اصول اکثره د نړۍ د نورو ژبو پر ادبیاتو هم د تطبیق وړ دي.

همت صیب بیا دا کتاب داسې معرفي کړی دی:

((په همدغه ۱۹۸۱ع.کال د اردو ژبي د ادبي کره کتني د نظریې یو نامتو، لومړنی کتاب؛ « مقدمهٔ شعر و شاعری » د « مقدمه د شعر وشاعرۍ » په نامه وژباړل سو. دغه کتاب د اردو ژبي وتلي کره کتونکي او شاعر خواجه الطاف حسین حالي لیکلی، پروفیسر محمد نواز طائر په پښتو ژباړلی دی او د دغه کال په اپریل کي د پېښور پوهنتون د پښتو اکادیمۍ لخوا خپور سوی دی. پر دې کتاب د پېښور پوهنتون مشر پروفیسر محمد زبیر صاحب زاده یوه لنډه سریزه لیکلې چي د سر خبري یې دادي: )) نورې خبرې بیا پسې ادامه پیدا کوي او نږدې دوه نیمو مخونو ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹- د خیرالبیان تنقیدي مطالعه: ما په دې ډول معرفي کړی دی:

دا د قلندر مومند یو اثر دی چې پر (۱۹۸۸م) ، ( ۱۳٦۷ل) کال په پېښور کې خپور شوی دی. د مخونو شمېر یې (۳۵٦) ته رسېږي. قلندر مومند په دې اثر کې د خیرالبیان پر هغه چاپ چې په فوټو افسیټ ډول په کابل کې چاپ شوی او د خیرالبیان پر هغه متن چې په پېښور کې د پښتو اکاډمۍ له خوا خپور شوی دی، پر دې دواړو متنونو بحث کړی دی. د قلندر مومند په نظر هغه متن چې دی یې کره بولي له دغو دواړو متنونو څخه اخیستل شوی، چې د دریم متن بڼه لري. د ( پټه خزانه فی المیزان) په شان د قلندر مومند پر دې اثر هم د نورو کره کتونکو له خوا نیوکې شوي او هغه یې سالمه کره کتنه نه ده بللې.

همت صیب دا کتاب په دې ډول معرفي کړی دی:

((د خیر البیان تنقیدي مطالعه:

دغه راز په همدغه ۱۹۸۸ع.کال د خدای بخښلي قلندر مومند لخوا د حضرت بایزید روښان ! پر نامتو کتاب « خیر البیان » باندي د کره کتني یو کتاب له پېښور څخه خپور سو. د دغه کتاب فهرست ته چي گورو په (۳۵٦) مخونو کي د مقدمه، ضمیمې، مراجع، متن، نوټونه، تتمه، اشاریه ( الف )، اشاریه ( ب ) تر سرلیکونو لاندي لیکل سوی دی. خو کله چي د کتاب پاڼې را اړوو د مقدمې کلمه نسته او د کتاب له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي مخ څخه د « هو الناصر» تر سرلیك لاندي تر ( ۱۷۹) مخ پوري د سریزي په دود خبري سوي دي. د کتاب له (۱۹۱) مخ څخه تر(۲۹۳ ) مخ پوري د خیر البیان هغه متن راغلی دی چي قلندر مومند یې درست او اصلي بولي.

د خیر البیان دغه متن د کابل د فوټو آفسیټ چاپ او د پېښور د پښتو اکاډیمۍ د چاپ سره توپیر لري او د قلندر مومند په وینا دا نسخه له دغو دواړو نسخو څخه اخذ سوی دریم قرا ٔت دی، چي د ده په زعم اصل خیر البیان دی. خو پر دې کره کتنه باندي ځیني ادبپوهان نیوکي کوي، لکه چي ښاغلی زلمی هیوادمل په خپل کتاب د « ادبي کره کتني ډولونه » ( ۱۵) مخ کي وایي:« د ښاغلي قلندر مومند پټه خزانه في المیزان او د خیر البیان تنقیدي مطالعه مقدمه داسي نقدونه دي چي زه یې په دغسي څېړنو کي ضرور یادوم، خو دا د دې ممعنی نه لري چي زه ورسره موافق یم. زه د دغو نقدو نو له په سلو کي نوي خبرو سره موافق نه یم او دغه آثار د نقد له اصولو او معیارونو ډېر په کروهونو لیري آثار بولم، ما د دغو دواړو نقدونو د ځینو برخو په رد کي د محمد هوتك ژوند او مزار او د پښتو د ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي او نورو آثارو کي څه لیکلي دي. له دې نقدونو سره نه یوازي زه، بلکه زما په څېر په لسګونو نور لیکوال او ادبي محققین هم نه دي موافق ». دا د همت صیب متن و. پورتنی متن هم څو ځایه همغه شان ګرامري تېروتنې لري چې ما یې ځینې بېلګې د مخه راوړې، د لیکنې د اوږدوالي له امله یې له تشریح څخه تېرېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰- د رنګ او بو قافله:** ما یاد اثر په دې ډول معرفي کړی دی:

دا د ډاکتر اقبال نسیم خټک اثر دی، چې پر (۱۹۹۱م، ۱۳۷۰ل) کال په پېښور کې چاپ شوی دی. د کتاب د ټولو مخونو شمېر (٤۰۲) ته رسېږي. دا اثر د تحقیق او تنقید یو امتزاج دی یانې دا دوه برخې په کې رانغښتل شوي دي. په دې اثر کې د (عبدالحمید مومند)، (کامګار خټک)، (کاظم خان شیدا) او (علي خان) پر ژوند، شاعرۍ او هنر باندې څېړنه او کره کتنه شوې ده. دا اثر د یوه تدریسي کتاب د معیارونو په پام کې نیولو سره لیکل شوی دی او هڅه شوې چې زده کوونکي ورڅخه د یوه ادبي تدریسي اثر په توګه ګټه پورته کړي. دا اثر د لیکوال د ډېرو کلونو د زیار او کار ثمر دی.

همت صیب بیا داسې معرفي کړی دی:

((د رنګ او بو قافله:

د ۱۴۱۲س. کال په حسن حسین میاشت کي چي د ۱۹۹۱ ع. د جولای سره سمون خوري د څلورو پخوانیو شاعرانو؛ عبد الحمید ماشوخیل، کامګار خټك، کاظم خان شیدا او علي خان پر ژوند او فن باندي د ډاکټر ایم اقبال نسیم خټك د څېړنو او کره کتنو کتاب د پېښور پوهنتون لخوا په (۴۰۲) مخونوکي خپور سو.

ډاکټر ایم اقبال نسیم خټك د دغه کتاب په سریزه کي وایي:« په دغه قافله کښي چي کومي مقالې شاملي کړی شوي دي، په دې کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقیق هم شته او تنقید هم، د تدریسي ضروریاتو خیال هم پکښې ساتل شوی دی او د لیك د معیار هم. ما دغه مقالې د تحقیق د اصولو په رنړا کښې ځکه اولیکلې چه په پښتو کښې تحقیق او تنقید ډېر کم دی او بیاادبي تنقید خو په پښتوکښي لټول تشي شوملې شاربل دي. دلته خو په هرڅه کښي روغ نیتي کمه او پره جنبه زیاته وي. هرڅوك د خپل شخصیت تشهیر ته پر ادب زیات فوقیت ورکوي هم دغه وجه ده چي په ادب کښي د تنقید او تحقیق ځای جانبداری او کردار کشی نیولی دی. که چرته زمونږ لیکونکیو د تنقید یا تحقیق په اصولو عمل اونه کړو، نو د پښتو جولۍ به د تحقیقي او تنقیدي ادب نه همېشه د پاره خالي وي ».

د کتاب نوم د ښاغلي حبیب الله رفیع په مشوره ایښوول سوی دی چي د کاظم خان شیدا له دې شعر څخه اخیستل سوی دی :

د غنچې د رباط ور په واکېده دی    قافله د رنګ وبو د رومي صبا شه

کاظم خان شیدا په دې یوه شعر کي دادب یو څپڅپانده سمندر په هنر او شعري نازك خیالي سره په کوزه کي ځای کړی دی، دلته له رنګ څخه موخه هنر یا په بله وینا هنري بڼه ده، چي له هنري ښکلا څخه عبارت ده او له بو څخه نازك خیال یا په بله وینا مضمون یا معنا عبارت ده، یعني په عامه توګه د شاعر کلام او دلته د دغو څلورو پخو شاعرانو شعرونه د هنر او اند له مخي ښکلي او خوشبویه دي او د هنري او ادبي شان او شوکت قافله باله سي. شعر ډېر ښکلی دی خو دلته د ډېرو خبروځای نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب شاه صابر لیکي:« د دغه مقالو د پاره په موادو راغونډولو کښې خواري شوې ده، خو د ګڼو او اوږدو اقتباساتو را نقل کولو، د شاعرانو د زیات شمېر شعرونو رانقل کولو، د هغوی د شاعرۍ په مختلفو اړخونو ګڼ شمېره صنعتونو او اصطلاحګانو د استعمال په حقله بحثونو او شعري حوالو د دغه لیکونو رنګ وبو کمزورې کړې ده ». ( پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید [۱۲۹] مخ ).

دا خو د صابر صاحب خبري وې، اما کتاب د لیکوال د ډېرو کلونو تجربو او ډېرو څېړنو او ښو کره کتنیزو اندونو پایله ده.)) دا (د رنګ اوبو قافله) اثر معرفي وه چې همت صیب کړې وه، اوس نو درانه لوستونکي په تېره بیا محصلین او د تدریسي ډګر څانګوال ښه قضاوت کولای شي چې کوم نثر یا متن روان، سلیس، تدریسي او له اړتیا سره سم لنډ او واضح دی.

ددې ترڅنګ هغه کتابونه چې د همت صیب په کتاب کې یې معرفي نه ده راغلې، یو څو یې دلته د بېلګې په توګه راوړم:

## پټه خزانه تول پارسنګ:

دا د کوزې پښتونخوا د یو نامتو څېړونکي (همېش خلیل) یو کره‌کتنیز اثر دی، چې په پېښور کې چاپ شوی دی. دا اثر اصلاً د (قلندر مومند) د اثر ( پټه خزانه فی المیزان) د هغو شکونو، نیوکو او انتقادونو ځواب دی، چې هغه په خپل دې اثر کې پر (پټه خزانه) څرګند کړي دي. په دې اثر کې یو پر یو د (قلندر مومند) نیوکو ته ځواب ویل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پټې خزانې میزان رښتیا میزان دی؟

دا د زرین انځور او استاد محمد اصف صمیم ګډ اثر دی، چې په پېښور کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې د استاد صمیم او زرین انځور یو څو هغه لیکنې راغلي دي، چې د قلندر مومند د هغو نیوکو په اړه لیکل شوي، چې ده په خپل اثر ((پټه خزانه فی المیزان)) کې راوړې دي. دې اثر کې هڅه شوې، د علمي دلایلو له مخې د قلندر مومند یو زیات شمېر هغو انتقادونو ته منطقي ځواب وویل شي چې هغه د پټې خزانې پر بېلابېلو خواوو څرګند کړي دي.

## د کره کتنې تاریخي پس منظر او معیارونه:

د کاندید اکاډمیسین محمدصدیق روهي اثر دی، چې پر (۱۳۸۰ل) کال د محمدصدیق روهي فرهنګي ټولنې له خوا په پېښور کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې راغلي محتویات همغه دي چې اکثره یې په (ادبي څېړنې) اثر کې راغلي دي، خو دلته د یوه ځانګړي اثر په توګه هم چاپ شوی دی.

## د پښتو شعر اوسمهالي بهیر کره کتنه:

د عبدالغفور لېوال اثر دی، چې پر (۱۳۸۱ل ) کال په کابل کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې د پښتو د اوسني شعر په تېره بیا د طالبانو د واکمنۍ تر ختمېدو پورې یو شمېر مخکښو شاعرانو پر شعرونو باندې کره کتنه شوې، هغه څېړل شوې، شنل شوي او ارزول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ټول کتابونه دغسې په لنډيز سره معرفي کړي.

د محصلینو لپاره همدومره معلومات بس وو، د زیاتو معلوماتو لپاره خپله اثر ته مراجعه کولای شي.

د یوه اثر زیاتې تشریح او توضیح ته دلته هېڅ اړتیا نه وه، د هر کتاب اړوند مهم معلومات ټول په لنډيز سره په کې راغلي دي.

درانه لوستونکي دې خپله قضاوت وکړي چې د یوه محصل لپاره کوم متن خوږ، لنډ او سیلس دی: دلته ما (کره کتنه) اثر ټول د کتابونو معرفي ته نه دی وقف کړی، دا کتابونه په ډېر لنډيز سره په دې خاطر معرفي شوي چې لوستونکي یا محصلین په پښتو کې د کره کتنې په باب له نورو لیکل شویو اثارو سره د اشنایي او زیاتو معلوماتو لپاره هغو ته مراجعه وکړي.

بل ځای لیکي چې ما خو په خپل کتاب کې د عربي نړۍ (۲۲)کره کتونکي معرفي کړي وو، ده ولې (۱۱) معرفي کړي دي. ما چې د کره کتنې کوم کتاب لیکلی، په دې کې د ټولو عربي کره کتنو د پېژندنې اړتیا نه وه، ددې لپاره چې محصلین لږ تر لږه له عربي کره کتونکو سره اشنا شي، یو څو یې د بېلګې په توګه یاد شوي دي.

د پېژندل شویو عربي کره کتونکو اخځ هم ښودل شوی، وګورئ، کره کتنه (۱۱۵) مخ. اخځ یې په دې ډول ښودل شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۷: ۴۲۸-۴۳۹). د اخځ شرح داده چې (۲۷) ګڼه اخځ، (ادب او ادبي کره کتنه) اثر دی چې عبدالمالک همت لیکلی، په دې اثر کې دغه برخه د یاد کتاب له (۴۲۸-۴۳۹) مخونو څخه رااخیستل شوې او د نورو عربي کره کتونکو په باب داسې یادونه شوې ده: ((د یادونې وړ ده چې د عربي ژبې د ادبیاتو په معاصره دوره کې نور په سلګونو کره کتونکي شته، چې د ټولو پېژندنه دلته ناشونې ده، دا یو څو تنه د بېلګې په یاد شول.)) کره کتنه (۱۱۵مخ).

دلته نه د ټول کتاب  د متن کټ مټ انتقال ته اړتیا وه، نه هم د ټولو کره کتونکو پېژندنې ته چې په عربي نړۍ کې تېر شوي، نه یو کتاب او نه هم څو کتابونه ددې موضوع د ځایونې ظرفیت لري. که په غرب کې هم کره کتنې ته نغوته شوې او د استاد روهي له کتاب او نورو اثارو څخه ګټه پورته شوې، هلته هم ټول کره کتونکي نه دي معرفي شوي، نه هم د ټولو د پېژندنې اړتیا وه او نه یوه واحد تدریسي کتاب د ټولو د ځایونې وس لري.

همت صیب وایي: ځینې عربي نومونه ناسم ثبت شوي دي، کېدی شي، لکه څنګه چې ځینې  عرب لیکوال د ځینو پښتو نومونو په ثبت کې تېروتنه کوي، داسې پښتانه لیکوال هم کېدی شي، له یوه اخځه بل ته او له بله بل ته د ځینو عربي نومونو په لیکلو کې له ستونزو سره مخ شي. نه یوازې د عربي نومونو، بلکې د لاتین، یوناني او نورو ژبو په نومونو کې هم ستونزه شته، همدا (اپلاتون) او (ارسطو) تر اوسه په څو ډوله لیکل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



افلاتون، افلاطون، اپلاتون، ارستو،ارسطو، دې کې کوم یو سم دی؟ دلته هم کېدی شي، ځینې نومونه تکرار راغلي وي، ځینې ناسم ثبت شوي وي، له یو نوم څخه د یوې کامې (،) په زیاتېدو سره دوه نومونه جوړ شوي وي، خو دې ډول احتمالي تېروتنو ته د کتاب په (۲) مخ کې مخکې تر مخکې اشاره شوې ده: ((طبعي خبره ده چې دا اثر به خپلې خپلې نیمګړتیاوې هم ولري، خو ډېرې تېروتنې به تر چاپ وروسته په عملي ډګر کې څرګندېږي، هیله ده درانه لوستونکي او محصلین یې د لوستلو او کتلو پر مهال هغه څرګندې او راپه ګوته کړي چې په بل چاپ کې هغه نیمګړتیاوې سمې او نورې زیاتونې هم ورسره مل شي.))

همت صیب پر عربي ژبه زما د نه پوهېدو خبره هم د یوه پېغور په بڼه مطرح کړې او خپل علمي فضیلت یې دلته په یو نه یو ډول څرګند کړی دی.

زه خو پر عربي ژبه د پوهېدو دعوه نه لرم، خو د ګڼ شمېر عربي لغتونو پر لغوي مانا مې سر خلاص دی، پر دې پوهېږم چې عربي دي او یا عربي رېښه لري، لکه په خپله (عبدالمالک). (مالک) د (ملک) له مصدر څخه جوړ شوی چې (ثلاثي مجرد) ګڼل کېږي، نورې کلمې چې له همدې مصدره رغېدلې، دادي: ملوک، تملیک، ملکیت، مالکین، مالک الملک، املاک، مملکت او داسې نورې، (عبد) د بنده مانا لري، (عبدالمالک) د (مالک بنده) ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په خپل کتاب کې یادونه کړې چې ما په دې اثر کې د عبدالمالک همت (ادب او ادبي کره کتنه) کتاب څخه ډېره ګټه اخیستې، هدف مې تر ډېره حده محتوایي غنا وه، زه بیا هم وایم چې دا کتاب د محتوا له پلوه خورا غنیمت کتاب دی،خو نه د ژبني او ګرامري جوړښت له نظره. که له دې لیده یې تر ژبپوهنیزې کره کتنې لاندې ونیسو، نو کېدی شي پر ژبنیو او ګرامري تېروتنو یې ډېر څه ولیکل شي. په ژباړل شوي متن کې خو ستونزې لا نورې هم زیاتې دي، یوازې یو عنوان به د بېلګې په توګه راوړو: د همت صیب د کتاب ( ۲۷۱) مخ، دا به لوستونکو ته څه پیغام ولري؟ ((ساختیاتي یا ساختګرا یا ساختارګرا کره کتنه)) ، دا څه ډول ترکیب دی، پښتو کې ورته څه وایي؟

فکر وکړئ چې عنوان کې داسې حال وي، نور متن کې به دا ډول ترکیبونه څومره وي؟

ما په خپل کتاب کې پر کتابونو کره کتنه نه کوله، یوازې دهغو له محتوا څخه مې د نوي اثر لپاره ګټه پورته کوله. د همت صیب د کتاب د پېژندنې په برخه کې مې ددغه کتاب ځانګړې یادونه هم کړې ده.

ددې کتاب د پېژندنې په باب ما ویلي: ((۱- ادب او ادبي کره کتنه: دا اثر ښاغلي عبدالمالک همت لیکلی دی، په دې اثر کې د ژباړې او تالیف دواړه برخې شاملې دي، لیکوال خورا زیار په کې ګاللی دی، نه یوازې د کره کتنې په باب په کې معلومات راټول شوي، بلکې د ادب، ادبپوهنې، د ادب ښوونځي، د ادبیاتو شننه او څېړنه هم په کې راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دي. دا اثر ټول (٦٦٨) مخونه لري. ادب او ادبپوهنه، ادب د اسلامي نظريې له مخې، ادب او ادبپوهنه د اوسنۍ لويديزې نظريې له مخې، ادبي کره کتنه، مفهوم او ارزښت، ادبي کره کتنه له پخوا څخه تراوسه، اسلامي کره کتنه، دري کره کتنه، اردو کره کتنه او پښتو کره کتنه يې اساسي سرليکونه دي. تر دغه هر يو اساسي سرليک لاندې بيا څو نور څنگزني سرليکونه دي، چې هره موضوع يې په هر اړخيز ډول څېړلې ده. دا اثر په ښکلي قطع او صحافت پر (٢٠٠٦م)، (١٣٨٥ل) کال په کويټه کې د صحاف نشراتي موسسې له خوا د يو زر ټوکو په شمېر چاپ شوی دی او دا اثر چې اوس لولئ په دې کې هم د همدې اثر (ادب او ادبي کره کتنه) اثر څخه زياته گټه اخيستل شوې ده.)) زما اثر (کره کتنه) (٤٠٥-٤٠١ مخونه)**

**نو کله چې يو څوک له کوم اثر څخه گټه پورته کوي، اخځ هم په دقيق ډول ښيي، کتاب او مخونه يې هم په ثابت ډول ښيي او په ځانگړي ډول د کتاب يادونه هم کوي، نو بيا ((ادبي غلا)) څه مانا؟. کاشکې ښاغلي همت صيب همدې متن ته پاملرنه کړې وای. همت صيب چې په خپل کتاب (ادب- ادبي کره کتنه) کې له کومو اخځونو څخه گټه اخيستې، ځينو ته يې د کتاب په متن کې اشاره کړې او نور يې بيا يوازې د کتاب په پای کې په لنډيز سره ښودلي دي، خو دلته هر څه څرگند دي.**

**ښاغلي همت چې په خپل اثر کې له نږدې (١٣١) اخځونو څخه گټه اخيستې، نو دېته هم ((ادبي غلا)) ويل کېدی شي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همت صیب اثر یو ښه څېړنیز، شننیز او د کره کتنې په باب یو تاریخي اثر دی، چې لوستونکو ته په دې برخه کې ښه معلومات ورکوي، خو تدریسي بڼه نه لري، ده هم له بېلابېلو اثارو څخه ګټه پورته کړې. (۱۳۱) اثار یې ورپسې پلټلي، خو په خپل ژبني او ګړدویز طرز یې لیکلی دی.

په کره کتنه کې یو مهم اصل دادی چې کره کتونکی باید حلیم، صبور او عادل وي، کینه،احساسات او شخصي عقدې، د کره کتونکي سیاسي، مذهبي او نور تمایلات د ادبي کره کتونکي له شان سره مناسب نه دي، ښاغلي همت په دې لیکنه کې دسیاسي،مذهبي، شخصي او اقتصادي عقدې تر اغېز لاندې راغلی، خپل همت ته یې یو څه صدمه رسولې ده. ډېر ژر یې د قاضي او څارنوال په توګه حکم صادر کړی دی. اصلي کره کتونکی همغه دی چې خپل دلایل وړاندې کړي، نتیجه او وروستی قضاوت لوستونکو ته پرېږدي.

دا یې هم لیکلي چې ولې (یون) په خپل متن کې دده ټول هغه متون نه دي راوړي چې په عربي ژبه وو، دده په اصطلاح (اسلامي کسوت) یې ځنې ایستلی، یانې ولې یې له پښتو ژباړې سره عربي متن نه دی راوړی؟ یو حدیث شریف ته یې هم اشاره کړې چې ولې یې یوازې ژباړه راوړې یا پیغام او محتوا راوړل شوي. له دې خبرو څخه د همت صیب غرض کېدی شي دا وي چې خپل دیني یا مذهبي فضیلت وښیي، که داسې نه وي نو چې ده هم له عربي څخه کوم متون ژباړلي، ان دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



متون، هلته هم له پښتو ژباړې سره په ټولو برخو کې عربي متن نه دی راغلی، بل دا خو د دیني متونو د ژباړې، تحلیل او شننې کوم اثر نه دی او یا هم کومه ملایي ژباړه چې حتمي دې ورسره څنګ په څنګ عربي متن هم راوړل شي او هغه دې بیا هم ټکي پر ټکي وژباړل شي. که په مقدسو دیني متونو کې د انتقال پر مهال خدای مه کړه یو توری هم کښته او پورته شي؛ کم او زیات ، وړاندې او وروسته شي، یا په کې چاپي تېروتنې وشي، نو بیا خو به د کتاب نورې ټولې ښېګڼې پر ځای پاتې وي او لیکوال به د تکفیر له توره ځان نه شي خلاصولای، لکه اوس چې د همت صیب زړه دی، خبره همغه لوري ته بوځي.

همت صیب په خپله لیکنه کې تردې حده د احساساتو تر اغېز لاندې راغلی دی چې د (کره کتنې) او (ادب) تر منځ توپیر یې هم له یاده وتی او یا هم کېدی شي سر یې پرې نه وي خلاص شوی. سره له دې چې کتاب یې هم پر همدې (ادب او ادبي کره کتنې) لیکلی دی. ادب هنر دی او کره کتنه علم دی. ادب کې احساس، ولوله، عاطفه، تخیل او تفکر ټول ځای لري، خو کره کتنه بیا د علم په توګه له تفکر پرته دې نورو برخو ته څه ډېره اړتیا نه لري. شعر، کیسه او نوره ټوله هغه لیکنې یا ګړنې وینا چې هنري ارزښت لري، هغې ته ادب یا ادبیات ویل کېږي او هغه پوهه چې بیا همدا هنر (ادبیات) څېړي، کره کوي یې او ارزوي یې، هغې ته بیا (کره کتنه) وایي. څوک چې ادبیات پنځوي، هغه ته (ادیب) وایي او څوک چې ادبیات ارزوي، هغه ته بیا (ادبپوه) وایي. همت صیب لیکلي چې ((ادبي غلا))، ایا همت صیب کوم ادبي اثر؛ شعر، لنډه کیسه، ناول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



طنز یا بل څه لیکلي چې د هغو متن، محتوا، فکر او یا هنري جوهر خدای مه کړه ما او یا بل چا ترې تروړلي او په خپل نامه یې کړي، چې ده پرې د (( ادبي غلا)) تور پورې کړی او که نه د ده له علمي او څېړنیز کتاب (ادب او ادبي کره کتنه) څخه د یوه څرګند اخځ په توګه کار اخیستل شوی دی ؟ په دې حالت کې که بیا هم دی نا راضه و، نو بیا یې باید لیکلي وای: ((علمي غلا)) چې خبره خو یې یو څه علمي منطق ته برابره شوې وای، ځیرمن لیکوال ټول د (ادب) او (ادبپوهنې) پر توپیر پوهېږي، خو یوازې همغه څوک پرې ځان نه پوهوي چې کتاب پرې لیکي.

همت صیب خپله لیکنه د خپل کتاب د متن پر بیا راغبرګولو غځولې ده او همدارنګه زما د کتاب د ځینو برخو په راوړلو سره، زیاته برخه یې د همغو عرب لیکوالو یا کره کتنو پر پېژندنه راڅرخي چې ده په خپل کتاب کې په نسبتاً تفصیلي او ما بیا د همده له کتاب څخه په لنډیز سره پېژندلي دي. ددې ترڅنګ ده د کره کتنې (۱۸) کتابونه معرفي کړي او ما (۲۸) عنوانه. ده هر کتاب نسبتاً په تفصیل سره پېژندلی او ځینو ځایونو کې د همغه کتاب به باب د نورو لیکوالو تبصرو ته هم ورداخل شوی او ما بیا اړوند کتابونه په ډېر لنډیز سره معرفي کړي دي. ده فکر کړی چې دا کتابونه یې دده د کتاب د معرفۍ پر اساس معرفي کړي، په داسې حال کې چې ددې کتابونو یو زیات شمېر ما سره په خپله موجود وو، اکثره یې په ځانګړې ډول معرفي شوي او یو نیم که دده له کتابه هم معرفي شوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د کتاب د لنډیز پېژندنې پر اساس دي، نه دا چې دده متن په پام کې نیول شوی او یا ورته اړتیا وه.

که ښاغلي همت په خپل کتاب کې لیکلي وای چې له دې کتاب (ادب او ادبي کره کتنه) څخه هېڅوک هېڅ ډول اقتباس نه شي کولای او که کوي یې هم، نو سل په سلو کې دې دده متن کټ مټ انتقالوي، که تېروتنه هم په کې وي، نو بیا یې حق درلود چې اعتراض وکړي.

ښاغلي همت لیکلي چې یون د کره کتنې ډولونه او ادبي ښوونځي دواړه معرفي کړي، په داسې حال کې چې دا دواړه بېلابېل شیان دي، ادبي ښوونځي د کره کتنې په ډولونو کې نه راځي، باید دلته یې نه وای معرفي کړي، همت صیب که د کتاب څلورم څپرکي ته پام کړی وای؛ (۱۳۷) او (۱۳۸) مخونه یې لږ په دقت سره لوستي وای، کېدی شي دا نیوکه یې هم ځای پر ځای حل شوې وای، یو ځل بیایې هغې برخې ته پام رااړوم چې ما خپله په څرګندو ټکو ورته اشاره کړې ده، نو بیا دده یادونې ته څه اړتیا ده؟ وګورئ (کره کتنه) (۱۳۷)مخ، په دې ډول یادونه شوې ده:

((کره کتنیز او ادبي ښوونځي:د کره کتنې په بېلابېلو چاپ شویو اثارو کې د کره کتنې جریانونه او د ادبیاتو بېلابېل ښوونځي اکثره د ادبیاتو د ښوونځیو تر چتر لاندې څېړل شوي دي. کله چې یو ادبي ښوونځی رامنځته شوی او یوه مشخصه محتوایي او شکلي بڼه یې غوره کړې ده، نو بیا ادبپوهانو یا کره کتونکو همغه اثار چې ددې ښوونځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحې ته داخلېږي، د همغه ښوونځي د ځانګړنو په رڼا کې مطالعه کړي، شنلي او څېړلي دي. د یوه ادبي ښوونځي د پولو او ځانګړتیاوو تشخیص هم د ادبپوهانو او کره کتونکو له خوا په ګوته کېږي. نو که موږ غواړو د کره کتنې د ښوونځیو په باب رڼا واچوو، ضروري ده چې د ادبیاتو بېلابېل ښوونځي هم وپېژنو، د همدغو ښوونځیو پېژندنه په حقیقت کې د کره کتنې د ښوونځیو ښه اسانوي. په ځینو څېړنیزو اثارو کې د کره کتنې ښوونځي، ادبي ښوونځي او د کره کتنې ډولونه تر یوه چتر لاندې څېړل شوي دي، په تېره بیا د کره کتنې ښوونځي او ډولونه. د کره کتنې د ښوونځي او د هغه د یو ډول ترمنځ یو څه توپیر په کار دی. په یوه کره کتنیز ښوونځي کې کېدی شي، د کره کتنې څو ډولونه مطرح شي، خو په پښتو او دري اکثره کتابونو کې ددې موضوعګانو په باب توپیرونو ته ډېره پاملرنه نه ده شوې.

دلته لومړی غواړو کره کتنیزو ښوونځیو ته لنډه نغوته وکړو او بیا ادبي ښوونځینو ته لاړ شو. ))

نو له دې متن سره سره چې بیا هم د چا سره نه خلاصېږي، خدای (ج) دې د هغه سر خلاص کړي.

نه غواړم دا لیکنه تر دې اوږده شي، درانه لوستونکي او ګران محصلین کولای شي، زما په قلم لیکل شوی اثر (کره کتنه) او د نورو درنو لیکوالو ټول لیکل شوي اثار یو ځل بیا تر کره کتنې لاندې ونیسي، له مانیز، روزنیز، پوهنیز، ژبنیز، کره کتنیز او نورو اړخو له نظره یې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخیز ډول وځېړي، له ټولو څخه دې ګټه پورته کړي، خو کوم یو چې تر نورو خوږ، روزنیز او پوهنیز و، هغه دې زیات ولولي.

په پای کې غواړم یادونه وکړم چې درانه لوستونکي دې د هر اثر د لوستلو پر مهال دې خبرې ته ډېر پام وکړي چې یو ادبي، هنري، علمي یا تاریخي اثر د چا له خوا لیکل شوی او د چا لپاره لیکل شوی دی؟ د فني، مسلکي او متخصص لیکوال او د اړوندې برخې د ځانګوال له خوا، که د یو ذوقي، اماتور او نامسلکي لیکوال او یا کوم بل کس له خوا، کله کله کېدی شي د یو اماتور لیکوال له خوا ځینې داسې اثار هم ولیکل شي چې په ورته موضوع کې تر مسلکي لیکواله هم ډېر هر اړخیز او معلوماتي وي، خو که په ورته موضوع کې یې بیا تېروتنو ته پام وشي، نو د مسلکي شخص تېروتنې به بیا د نا مسلکي هغه په انډول ډېرې کمې او کم ضرره وي.

زموږ په پښتو ادب څېړنه کې د مسلکي لیکوالو کمی له ورایه احساسېږي، هر څوک چې په دې برخه کې یو ګام پورته کوي، دستاینې وړ دی، خو ځینې وخت ناسمې ژباړې، ملایي املا او انشاء او پر خپل لیکنیز او ګرځودیز سبک تر حده ډېر ټینګار، په علمي مسایلو کې د ځان په ګټه له مذهب څخه ناوړه ګټه اخیستنه او د ملایۍ له دریځه پر نورو تورونه پورې کول، تر هر څه وړاندې په خپله د تور پورې کوونکي کمزوري او مانیز فقر په ډاګه کوي.

ددې لیکنې له سپیناوي سره سره که بیا هم د شکاک، منتقد او ځینو نورو لوستونکو قناعت نه وي حاصل شوی او موضوع ښه نه وي روښانه شوې، نو کېدی شي دا او دېته ورته نورې موضوعګانې د ځوانو لیکوالو او طرفینو په حضور کې د تختې پر مخ شرح او همدارنګه د هر اثر د پرتلنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اړوندو مسایلو په باب د پوښتنو او ګروېږنو په بڼه روښانه شي. ددې ترڅنګ کله چې یو لیکوال یو اثر ولیکه او بیا یې لوستونکو ته وړاندې کړ، لوستونکي حق لري چې دهغه په باب خپل نظر څرګند کړي، کره کتونکو ته هم دا حق خوندي دی، خو په دې شرط چې کره کتونکی، تېروتنې اصلاح او متن کره کړي، نه دا چې خپله کینه، بغض او عداوت د کره کتنې تر نامه پر نورو تحمیل کړي.

هیله ده دې سپیناوي د همت صیب یو لړ شکونو، نیوکو او اندېښنو ته تر یوه حده ځواب ویلای وي.

د عادلانه کره کتنې د بریا په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موږ د خپلې زمانې په کږلیچ کې

د ژوند پیل او پای داسې نه دي چې د صفر له نقطې پیل شي او همداسې عمومي یا افقي حرکت کوي. ژوند د زمانې په کږلېچ کې خپل کږلېچ او خپلې لوړې او ژورې لري، دا لوړې ژورې که څه هم د انسان په ژوندانه کې هغه ته په ډېر لوړ قیمت تمامېږي او هغه په کې له ډېرو ستړیاوو سره مخامخېږي، خو بل نسل ته د پند په توګه ډېرې قیمتي وي او په وړیا ډول ورته د غټو تجربو په توګه پاتې کېږي. هوښیار ملتونه او ځیرک نسلونه بیا له دغو تجربو څخه د خپل ژوند د ښېرازۍ او سمون په خاطر غټه ګټه پورته کوي او ویده نسلونه بیا دا تجربې په همغه قیمت یو ځل بیا تکراروي چې تر دې وړاندې نسل هم تېرې کړې وي.

موږ په داسې یوه ټولنه کې ژوند کوو چې استثنایي حالات لري، ډېرې داسې پېښې هم په کې پېښېدی شي چې هېڅ اټکل یې نه وي شوی او د داسې پېښو احتمال هم په کې شته چې احتمال یې نه وي. ان ممکنات په کې ناممکن او ناممکن کارونه په کې ممکنېدی شي. دلته ژوند د سیاسي، اقتصادي او ساینسي محاسباتو له مخې برابر نه دی، وړاندوینه هم په کې سمه نه راوځي، نو په داسې ټولنه کې ژوند کول او هلته د معیارونو له مخې د ژوند تېرول اسانه کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکه څنګه چې پېښې دلته منظمې او ارګانیکې نه دي؛ استثنایي حالات هم په کې پېښېدی شي، دغسې شخصیت جوړونه هم په منظم او سستماتیک ډول نه رامنځته کېږي. دلته به یو شخصیت هم د زمانې د کړلېچ تر ډېرو پړاوونو تېرېږي، بیا کېدی شي د پوخوالي پړاو ته ورسېږي، خو دا پوخوالی هم په دې مانا نه دی چې ټول خلک به ورته درناوی کوي او په ټولنه کې به عام منښت ترلاسه کوي. کېدی شي ځینې یې په همدې لوړو ژورو کې مسخه شي او کړی کار یې هم د چا سترګو ته ونه درېږي.**

**له دې لیکنې څخه مې هدف دا دی چې زموږ په ټولنه کې ټول ارزښتونه تعریف شوي نه دي او که ځینې ارزښتونه تقدس هم لري، ټول خلک یې پر اصولو موافق نه دي او یا یې پر معیارونو نه پوهېږي. دلته غواړم لږ نور وضاحت هم ورکړم او ځینو هغو مسایلو او ستونزو ته هم نغوته وکړم چې په ټولنیز چاپېریال کې موجود دي:**

- **د اصولو او معیارونو له مخې باید له یوه فرهنګي شخصیت څخه موږ تر ډېره بریده د فرهنګي خدمتونو هیله ولرو، نه دا چې هغه زموږ د ژوند د هر ډګر ستونزې را اوارې کړي، خو که دلته یو څوک په فرهنګي برخه کې یو څه پرمختګ هم وکړي او یو څه فرهنګي خدمات هم ترسره کړي، په خپله په فرهنګي چاپېریال کې پر شتو ستونزو سربېره په عام ولس کې له هغه څخه د خلکو هیله دا وي چې نور ټولنیز، سیاسي او رغاونیز کارونه دې هم ترسره کړي، په داسې حال کې چې دا کار د ده په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس پوره نه وي، نو دا مهال د ده د عرضې او د ولس د تقاضې تر منځ واټن رامنځته کېږي، نو ځکه خو د ده عام منښت او ګرانښت په ولس کې له ننګونې سره مخامخېږي.

د طالبانو د حاکمیت پر مهال مو پېښور کې د نورو ملګرو په مرسته (هیله) مجله چاپوله او په ډېر تکلیف مو ورته چاپ لګښت برابراوه، یوه ورځ راته یو شخص وویل، والله په دې مجلو او کتابونو څه نه کېږي، د دې پر ځای چې دې د کابل- جلال اباد لویه لاره جوړه کړې وای، ښه به و. ما وویل موږ په دوو میاشتو کې دا یوه مجله په ډېر تکلیف چاپوو او د دومره لویې لارې جوړول، خو د حکومتونو کار دی، ډېرې زیاتې پیسې غواړي، حکومت یې پېسې نه لري، موږ خو لا عادي خلک یو، ونیسه که تا ته کومه لاره او ګودر معلوم وي، دا کار ته وکړه، موږ به همدا فرهنګي کار کوو، دې ته به دوام ورکړو، هغه کار تاسو ترسره کړئ، ده وویل، ترسره کوم یې خو چې پیسې راته پیدا کړې، ما ویل چې پیسې مې پیدا کولای شوې، نو بیا مې تا ته څه ته ویل، خو موږ خپله دا کار کاوه، سخت کار خو همدا د پیسو پیدا کول دي، له دې جملې څخه مې هدف دا و چې د یوې مجلې چاپ، د یو چا تقاضا دومره پورته کړه چې هغه درڅخه د لویې لارې د جوړونې غوښتنه کوله، خو کله چې تا همدا هیله له هغه څخه وکړه، هغه درڅخه بله هیله وکړه. غرض دا دی چې کار کول یوه ستونزمنه عملیه ده او تقاضا ډېره اسانه او بې لګښته، کار انرژي او لګښت غواړي او تقاضا یوازې د خولې خوځول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د ذوقونو اختلاف بله موضوع ده چې وخت ناوخت د کار د خلکو مخه نیسي، خپله تجربه بیانوم. په پېښور کې چې مو مجله چاپوله، یو به نیوکه کوله چې د پښتې رنګ یې ولې شین دی، بل به ویل، بله ګڼه مو ولې په سره بخن رنګ چاپ کړې او بل به پر ساده سپین رنګ نیوکه کوله او له خپل ذوق سره سم به یې یوه غوښتنه لرله. دلته موږ دا تجربه ترلاسه کړه، که چېرې تا کار نه وای کړی، نو دا نیوکې یا غوښتنې نه رامنځته کېدلې، نو دلته دوه کته ګورۍ خلک رامنځته شول؛ یو د کار خلک چې تولید لري او بل مبصرین چې د خبرو ځواک لري او د عمل نه.**
- **تنګنظري، سیاسي، مذهبي او رواني عقدې نور مسایل دي چې د کار خلک کار ته نه پرېږدي، دا لړۍ پخوا هم موجوده وه، اوس هم شته او لا به هم روانه وي. اقتصادي فقر او له هغې څخه راټوکېدلې عقصده او کینه بل عامل دی چې د کار او په تېره بیا د فرهنګي کار د پنځوونکو پر وړاندې موجود دی. منتقدینو به هر ډول فرهنګي کار له اقتصادي ګټې سره غوټه کاوه او همدارنګه به یې وویل چې دې کې احمد او محمود ته ډېرې پیسې پاتې کېږي، په وړیا ډول څوک دا کارونه نه کوي، خو چې تا به ورته وویل، که دې کار کې ډېره ګټه متصوره وي، خو راشئ، تاسې یې ترسره کړئ، هم به ګټه وکړئ هم به فرهنګي کار ترسره شي، تر دې به د نېکمرغۍ بل کوم زېری وي چې زموږ ټولنه داسې یو پړاو ته ورسېږي چې په فرهنګي کار، ښه کار او علمي کار کې یې ګټه خوندي شي، تر دې نو بیا بل غوره حالت چېرته دی؟ خو څرنګه چې دې ډول اشخاصو خپله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم فرهنګي نوښت او کار نه شو کولای، نو د بل چا د کار د مخنيوي په خاطر يې دا ډول تبليغات کول.

- سياسي، قومي او مذهبي ټاپې بله هغه منفي پديده وه او ده چې زموږ په ټولنه کې يو شمېر کارنده اشخاص ورسره مخامخ دي. مذهبي منتقدين هره پديده له خپل مذهبي ليدلوري او په هغه کې هم بيا له خپل اند اندود سره سمه څېړي، د ساري په توګه موږ د ژوندون په نوم يوه رسنۍ لرو، ټلوېزيون د عوامو او خواصو ټولو لپاره دی، يوازې د ټولنې د هغه مذهبي قشر لپاره نه دی چې دين ته يې افراطي بڼه ورکړې او د ژوند ډېر مهم ضرورتونه يې په کې په خپل نظر حرام ګرځولي دي. په ژوندون ټلوېزيون کې په څلورويشتو ساعتونو کې يو ساعت موسيقي هم خپرېږي، خو يو شمېر تنګنظره مذهبي ليکوال بل کار نه لري، پر ټلوېزيون او شخصاً ما باندې يې نيوکه ده چې ولې يې د موسيقۍ خپراوي ته اجازه ورکړې، خو د ټلوېزيون هغه بل اړخ ته چې ګڼ شمېر سياسي، ټولنيزې، علمي او ديني خپرونې لري، هغه نه ستايي، خو پر همدې يوې برخې نيوکې ته يې کار ويلی دی.

زه خپله د ځينو خاصو سندرغاړو له ځينو لوړو سندرو پرته نورو زياتو سندرو سره زياته مينه نه لرم او نه دا برخه ډېره تعقيبوم، خو د ټلوېزيون اداره د عام ولس غوښتنې په پام کې نيسي، د نورو پروګرامونو ترڅنګ دا برخه هم خپروي، خو يو شمېر تنګنظران بيا د خپلې سياسي، ټولنيزې او فرهنګي عقدې د تشولو لپاره دې ټکي ته زياته هوا ورکوي. وه وروره! که ته دومره ځان مذهبي ګڼې، خو دا موسيقي بېخي اوره مه، ريموټ دې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاس کې دی، بل چینل ونیسه! بل دا ډول خلک خو په ټولنه کې کم نه یاست، ونیسئ پیسې راټولې کړئ، یو سوچه مذهبي چینل جوړ کړئ، څه ډول مذهبي افکار مو چې په ذهن کې گرځي، هغه په کې خپاره کړئ! که دا ډول خلک خپل فکر، نظر او گروهې ته ژمن وي، نو عملي خدمت ته دې ورودانگي، خو څرنگه چې د ذهني تنگظرۍ پر ناروغۍ اخته دي، نو ځکه غواړي، نور خلک هم له کاره وباسي او یا یې ځان سره په تا ویلې ما ویلې مصروف کړي.**

- **د ژبني او قومي تعصب ټاپه هم د مذهبي تنگنظرانو تر ټاپې کمه نه ده. که په خپله ژبه دې کتاب چاپ کړ، که په خپله سیمه کې دې د یو شمېر بېوزلو لاسنیوی وکړ، نو فوراً درباندې ټاپې ووهل شي، هغه دې ژبپالنه کوي، ولې یې په هغه بله ژبه نه چاپوي چې په خپله ژبه یې چاپوي، که دوی رښتیا ملي وحدت غواړي، نو باید په هغه بله ژبه دې لومړی کار شروع کړي چې هغوی هم خوشاله شي ، د دوی په نظر د خپل خفگان په بیه د نورو خوشالول ملي وحدت گڼل کېږي، په داسې حال کې چې د هغو نورو ټول حقوق محفوظ دي، هغوی کولای شي خپلې ژبې ته په خلاص مټ کار او خدمت وکړي او د تعصب له هر ډول تور او ټاپې څخه هم خوندي دي. خو که تا په خپله ژبه یوه پاڼه ولیکله او د ختم او واده بلنلیکونه دې په خپله ژبه ولیکل، نو دا بیا یو تعصب دی. که په یوه سیمه کې دې له بېوزلو سره د مرستې او لاسنیوي زمینه برابره کړه، نو بیا به دوی سره معیار دا وي چې ولې یې دا کار له هغې بلې سیمې پیل نه کړ، چې له دې یې پیل کړ، دغه دی تعصب! زموږ په ټولنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تعصبګر دومره سپین سترګي شوي چې هم خپل تعصب پټوي، هم پر نورو د تعصب ټاپې لګوي او هم د نورو د کار مخه نیسي او خپله هم کوم کار نه شي ترسره کولای.

د تنګنظریو، تعصب، کینې او نورو ډول ډول خنډونو بېلګې ډېرې دي، نه غواړم دا لیکنه پرې تر دې زیاته وغځوم، خو دا زموږ د ټولنې منفي واقعیتونه دي. دا څو بېلګې مې ځکه راوړې چې تر موږ دمخه خدمتګار نسل هم ورسره لاس او ګرېوان و، زموږ دزمانې د روښنفکره نسل هم همدا حال دی او احتمال شته چې تر موږ وروسته نسل هم له ورته ستونزو سره مخامخ شي.

- د ګڼو ستونزو له منځه مو د دې څو ستونزو یادونه ځکه وکړه چې راتلونکي نسل ته دا خبره لاپسې روښانه شي چې موږ د خپلې زمانې په دغسې یو کړلېچ کې ژوند کاوه، نو په دې کې که چا ډېر کم کار هم کړی وي، باید غنیمت وګڼل شي. بله خبره دا ده چې په داسې حالاتو کې به په کارونو کې طبعاً نیمګړتیاوې او کمزورۍ لیدل کېږي، ځکه چې خپله ټولنه په نورمال حالت کې نه ده، خو اوس راځو دېته، چې د دې نیمګړتیاوو او ستونزو له شتوالي سره سره ایا د بریا او پرمختګ کومه لاره هم شته که نه؟ ایا داسې لارې چارې او تګلورې هم موجود دي چې د هغو په کارونې سره له دې ستونزو څخه ځان وباسو، کار هم وکړو، تولید هم ولرو او له مخالفینو او خنډونو سره سره ټولنې ته یو شمېر مثمر خدمات هم وړاندې کړو؟ خپلو فرهنګي هڅو او تجربو ته په کتو کېدی شي دې پوښتنو ته د (هو) ځواب ورکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زموږ په ټولنه کې د تنګظرۍ عنصر شته، تشویق به هم وي، خو کېدی شي د لنډ فکرۍ تله پرې درنه وي، نو ځان باید په داسې روحیه وروزو چې د کار په مقابل څوک کوم امتیاز نه راکوي، نه ډاډ شته، نه تشویق، د توهین، سپکاوي او غندنې احتمال هم شته، که موږ خپله روحیه دومره پیاوړې کړو چې د سپکاوۍ، تنګنظرۍ له هر ډول مکروب سره مقابله کولای شو، نو بیا مو میدان ګټلی او کار مو ثمر ته رسېږي، په دې برخه کې که احتمالي، هڅونه تایید او ستاینه هم ورسره مل شي، نو د کاري شخص اوسېله نوره هم زیاتېږي او کار نتیجې ته رسېږي.
- یو شمېر اشخاص غواړي قصداً د کاري خلکو پر وړاندې ستونزې راولاړې کړي، پر هغوی ډول ډول تورونه پورې کړي، په رسنیو کې په هغو پسې ډول ډول تبلیغات وکړي، هدف یې دا وي چې د کار خلک له کاره وباسي، ځان سره یې مصروف کړي او په دې ډول خپل ځان ته د شهرت زمینه هم برابره کړي، نو په داسې یو حالت کې باید د کار خلک د دې ډول اشخاصو پر وړاندې هېڅ ډول لیکنې ونه کړي او هېڅ ډول غبرګون ونه ښیي، د هغوی تبلیغات بې ځوابه پرېږدي، بابېزه یې وګڼي او ارزښت ورنه کړي، نو د وخت په تېرېدو سره لنډ فکره اشخاص د خپل کړي کار له بې ارزښتۍ سره مخامخېږي، د نور تبلیغ او تصنعي شهرت زمینه یې له منځه ځي. البته خاص حالت چې سپیناوی ته اړتیا لري، هغه مستثنی دی.
- په ټولنه کې هر سړی خپل خپل مخالف لري، که د کار سړي غواړي خپل تنګنظری یا سیال مخالف بې ارزښته کړي، نو باید خپل کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کش ورکړي، کله چې د ده او د سيال تر منځ يې د پرمختګ واټن زيات شي او لنډ فکرى وګوري چې دا واټن نه شي وهلاى، نو په خپله له خپل رقابت څخه لاس اخلي او د کار سړي ته خپله لار اوارېږي.

- هر کله چې د يوه فرهنګي، ټولنيز اوعملي کار مخالفينو د کار سړي د مثبتو کارونو پر وړاندې منفي غبرګون وښود، نو د کار سړى، بايد له هغوى سره خپل وخت پر تا ويلو ما ويلو مصرف نه کړي، خپل همغه کار ته لا پسې کش ورکړي چې د مخالفينو حساسيت يې راپارولى دى. په دې حالت کې مخالفين لاپسې ځورېږي او څه شى يې لاس ته هم نه ورځي، خصوصاً دا کارونه بيا هغه وخت لاپسې ضروري شي چې د هېواد او ملت په ګټه وي.
- يو فرهنګي شخصيت بايد خپل ورځنى، اوونيز، مياشتنى او کلنى پروګرام ولري او پرته له دې چې اخوا دېخوا خلکو سره په ناضروري ناندريو ځان مصروف کړي، خپل پلان تطبيق کړي.
- يو فرهنګي کار، ژر او سم لاسي نتيجه نه ورکوي، وخت غواړي، دولس په متن کې د کار د خلکو قدرونه شته، اکثره وخت خپل نسل د خپل اتل پر قدرونې نه پوهېږي، لږه زمانه چې تېره شي، بيا د کار د خلکو د کار موثريت معلومېږي او ولس کې يې ګرانښت جوتېږي، بله اساسي خبره دا هم ده چې که يو ځوک واقعاً يو خدمتګار شخصيت وي، هغه بايد د عقيده يي بنسټ له مخې د خداى او رسول رضا هم په پام کې ونيسي، د خالق د مخلوق خدمت په خپله د عبادت برخه ده، خپل کار بايد د عبادت برخه وګڼي او له خداى (ج) پرته يې له هېچا څخه د معاوضې غوښتنه ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو څو مشورې مو ځوانو خدمتګارانو ته په دې خاطر يادې کړې چې دوی کېدی شي د خپل کار په بهير کې له دې ډول ستونزو سره مخ شي او په دې خاطر چې نهيلي نه شي او کار يې ټکنی نه شي، نو په کار ده چې دا او دېته ورته نور ټولنيز واقعيتونه په پام کې ونيسي. د دې ترڅنګ هغو اشخاصو ته چې همدا اوس عملاً پر فرهنګي او ټولنيز خدمت بوخت دي، له هغو څخه مو هيله ده چې د خپلو فردي تجربو ترڅنګ پورتني مسايل او واقعيتونه هم په پام کې ونيسي. په پای کې يو ځل بيا يادونه کوم چې که نننی او سبانی نسل زموږ کړی مات ګوډ فرهنګي کار ارزوي، نو پورتني کړلېچونه او اغزن چاپېريال دې هم په پام کې ونيسي.

د دې ليکنې پر مهال ما د خپل عمر پنځوس کلونه پوره کړل، په دې نيمه پېړۍ کې زه تر (۳۲) کالو زياته موده له ليکوالۍ سره نږدې پاتې شوی يم، پورتنۍ څو موضوعګانې زما د تېر (۳۲) کلن فرهنګي ژوندانه د ګڼو تجربو څخه يو څو تجربې وې چې درنو لوستونکو ته مې په لنډېز سره يادې کړې. هيله ده زموږ نننی او سبانی فرهنګي نسل د خپلو نويو او ځاني تجربو ترڅنګ ياد موضوعات هم په پام کې ونيسي، د تېرو تجربو او د خپل وخت د نويو غوښتنو په رڼا کې خپل هېواد ته د ښو او ګټورو فرهنګي، ټولنيزو او سياسي خدمتونو جوګه شي.

په درنښت

محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادښت

د (ملي هویت او ملي عزت) اثر اصلاً د (۱۳۹۲-۱۳۹٦ل) کلونو د ملي مبارزو یو انځور دی. په دې اثر کې اکثره پېښې پر همدې مهال لیکل شوي او ثبت شوي دي، یوازې یو څو لیکنې یې د (۱۳۹۷ل) کال په لومړیو دوو میاشتو کې د ملي هویت په اړه د ترسره شویو مبارزو انځورنه کوي. کتاب هم د (۱۳۹٦ل) کال په پای کې تقریباً بشپړ و، خو چاپ یې د مبارزې وروستۍ نتیجې ته منتظر و. وروستۍ پایلې ته تر انتظار وروسته دا اثر ژر چاپ شو. څرنگه چې (نیمه پېړۍ یون) ټول کلیات د (۱۳۹٦ل) کال په وروستیو کې بشپړ شول، خو د چاپ چارې یې د (۱۳۹۷ل کال) لومړیو میاشتو ته وغځېدې، نو ځکه خو مو د (ملي هویت او ملي عزت) اثر د دې کلیاتو د چاپ پر مهال د دې نهم ټوک برخه کړ. هیله ده درانه لوستونکي د (۱۳۹٦ل) کال وروستۍ دوه میاشتنۍ او د (۱۳۹۷ل) کال لومړۍ دوه میاشتنۍ زماني پیوستون په پام کې وساتي او یاده موضوع کومه زماني او محتوایي تېروتنه ونه گڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي هويت، ملي عزت

## (گام پر گام له ملي هويت سره)

محمد اسمعيل يون

۱۳۹۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ملي هویت، ملي عزت

لیکـــــوال: محمد اسمعیل یون

خـپرنـدوی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنگي څانگه

وېـبپاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: فیاض حمید

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۷ ل / ۲۰۱۸م کال

د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳٦)

لیکوال د خپرونو لړ: (۵۰)

www.melitahrik.com - info@melitahrik.com


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## د اسلاميت او افغانيت د لارې لارويانو او د ملي هويت ټولو پالندويانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي مبارزو يو ژوندی تصوير

د طالبانو تر سقوط وروسته د هېواد حالت واوښت؛ نړۍ په هېواد کې مستقيم حضور بیاموند او د کرزي په مشرۍ اداره رامنځته شوه. د کرزي د ادارې ټول واک د شمالي ټلوالې او نظار شورا لاسته ولوېد، که پوځي برخه وه که ملکي، جمعيت او د جمعيت په طبعه برابرو تنظيمونو او وګړو په برخه ورسېدله.

د نړيوالو په راتګ سره بېلابېلو برخو پرمختګ وکړ، پوځي، اقتصادي او سياسي برخو مثبت بدلون وموند، خو ددې پرمختګ پر وړاندې پراخې ننګونې او خنډونه هم رامنځته شول، د هېواد تاريخ تورې او کرکجې څېرې د مجاهدينو او دموکراتانو په نوم واکمنې شوې او ددې لپاره ګړندۍ هڅې پيل شوې، چې تر طالبانو وروسته له دې استثنايي چانس څخه ګټه پورته کړي او هر څه واړوي.

له يوې خوا د ايران او پاکستان څرګند جاسوسان او له بلې خوا له لويديځ څخه راغلي تش په نوم دموکراتان او بيروکراتان سره ټلواله شول او د حکومت اډانه يې جوړه کړه. تر (۱۳۵۷ل) کال دمخه او وروسته زېږېدلي د هېواد تاريخي دښمنان په بېلابېلو بڼو په مقامونو وګومارل شول، ښايي نړيوالو به هم فکر کاوه چې د افغان هېواد لوی اکثريت د دوی هره غوښتنه منلای نه شي، ځکه يې د ټولنې داسې پوړ په واک وګوماره چې ټولنيز بنسټ يې کمزوری و او ځان کوچنی او ضعيف باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له بده مرغه څومره چې د کرزي واک اوږدېده، همدومره ورسره د جنگسالارانو، قاچاقبرانو، غلو او قاتلانو واک هم اوږدېده او په دې ډول غميزه اوږدېدله. د طالبانو تر سقوط وروسته د کرزي په راتگ سره هر ملتپال افغان مجرم او هر خاين اتل شو، هر ډول ملي فکر ساتل گناه او هر ملتپال يا د (نشنلسټ) په نوم د دين له ادرسه ټکول کېده يا د (تروريست) په نوم د وخت د سياست له ادرسه. پگړۍ، ږيره، افغاني کالي، پښتو ژبه او... ټول د ترهگرو د نښو په توگه وانگېرل شوې.**

**دا درېيم ځل دی چې سقاويان واک ته رسېږي او هېواد چوروي، دا ځل هم هغه څه وشول چې په لومړي ځل حبيب الله (بچه سقاو) او دويم ځل (رباني او مسعود) پر (۱۳۷۱ل) کال وکړل. درېيم ځل بيا، نړيوالو شتون درلود او د هغوی کورنيو لاس پوځو بيا د دوی په شتوالي کې يو بل ډول سقاوي واکمنه کړه. د کرزي په واکمنۍ کې که څه هم ځېرې افغاني، خو اداره او واک بهرني وو. يوه خوا دلته د بهرنيانو شتون او بله خوا د داسې افغانانو شتون چې واگې يې په تهران او اسلام اباد کې وو، د هېواد او هېوادوالو لپاره لوی ناورين شو.**

**کله چې د هېواد اجرايه، قضايه او مقننه برخې د هېواد له دښمنانو ډکې شوې، نو د سترو منفي بدلونونو لپاره هم هڅې گړندۍ شوې. ددې هڅو يوه برخه د افغانستان د نوم بدلول او د (افغان) نوم له منځه وړل يا محدودول وو چې د نويو برېښنايي پېژندپاڼو د قانوني پړاوونو د تېرولو پر وخت دا موضوع څرگنده او ډاگيزه شوه.**

**که څه هم اساسي قانون د بنسټ په توگه دا موضوع روښانه کړې چې د افغانستان ټولو وگړو ته که له هر قومه وي (افغان) ويل کېږي، خو ځينو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړېو ځکه ددې مخالفت کاوه چې اساسي قانون د خلکو جیبونو کې نه وي، خو چېرته به په کوم دفتر یا کتابتون کې پروت وي، څوک یې ګوري؟ خو برېښنایي پېژندپاڼه به د یوه کوچني کارت په بڼه په جیب کې وي او هره شېبه کتل کېږي او ټولنیز کېږي او په دې ډول (افغان) د ټولنې بنسټ ګرځي.

ددې ترڅنګ ځینو له (دین) سره هم چندان مینه نه ښووله او له پېژندپاڼو یې ددې ارزښت حذف ته ملا وتړله، خو په مقابل کې یې بیا د جهاد او مقاومت پر امتیازاتو سر ماتوه.

په هر صورت یو بده او ستره بلا رانازله شوه چې د ځمکې او هوا ټانکونه او چورلکې ورسره وې، پانګه او زرګونه سرتېري یې لرل او له هېڅ ډول ظلم او تېري یې لاس ونه نیوه، خو له نېکه مرغه ډېرو بېوسو او بېکسو وګړو د دوی پر وړاندې داسې ځواکونه او لښکرونه جوړ کړل چې دوی ورته ګوته په غاښ شول.

داسې پېښې زموږ په تاریخ کې لږې دي چې یو بې زره او بې زوره شخص او شخصیتونه دې دومره ستر کار په نړدې شپږو کلونو کې په بري سره پای ته ورسوي. دلته هرڅه حکومتونه کوي، نه شخص یا اشخاص.

دا اثر د هغو شپږ کلنو مقاومتونو، مبارزو، تنګسو، ربړو او کړکېچونو هېنداره او څېره ده چې د (اسلام او افغان) د خوندیتوب لپاره ترسره شوي دي. دا لیک دی او لیک د ژوندیو پېښو مړه بڼه ده، کېدی شي تاسو هغه دردونه او رنځونه پوره احساس نه کړئ چې د (افغان او اسلام) لارویانو په دې لاره کې منلي، خو هغه څوک چې په دې مبارزو کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملاً برخه اخیستې، هغوی په دې اثر کې درد، فکر او مبارزه ټول کتلای شي. په دې اثر کې ملي مبارزه ګام پر ګام تعقیب شوې او پېښې لکه څنګه چې پېښې شوي، په تسلسل سره ذکر شوي دي. زموږ په ټولنه کې به ډېر کم کسان داسې پیدا شي چې د فکر او عمل موازنه یې برابره وي. د دې اثر لیکوال هغه شخص دی چې د ملي او دیني هویت په مبارزه کې د عمل په ډګر کې ولاړ و او هېڅ جابر او پردیپال ته یې سرټیټ نه کړ او نه یې د پټې او ښکاره معاملې او ناوړه تفاهم ور پرانیست، که چېرې ده لږ هم ((تفاهم)) ته زړه ښه کړی وای، نو د امتیازاتو باران به پرې ورېدلی وای، دی خپل ژوند، رسنۍ، دندې او ټوله لاس لرلې شتمني سره د مقابلې میدان ته ووت، څوان پښت یې تر شا ودرېد او تر ډېرو سختو اغزنو شرایطو او پړاوونو وروسته د قانوني بري درشل ته ورسېد. له نېکه مرغه چې د ملي هویت د عملي مبارزې یو اصلي کرکټر د پاخه قلم خاوند هم دی، که ده پر وخت په منظم ډول د دې مبارزې یادښتونه نه وای لیکلی او بیا یې په منظم ډول نه وای ترتیب کړي، نو خدای خبر چې د دې شپږ کلنې ملي مبارزې تصویر به په دومره رڼه او دقیقه بڼه تر موږه او بیا تر راتلونکي نسله خوندي شوی وای. پښتانه هره پېړۍ کې یو یا دوه ستر ملي او فکري شخصیتونه لري. زموږ په نظر د دې پېړۍ د ملي او فکري مبارزې اصلي کرکټر همغه څوک دی چې په دې سختو شرایطو کې یې د ملي هویت د خوندیتابه لپاره ملت ته لیدلوری او تګلوری ورکړ. دا اثر نه یوازې د یوې لسیزې تر نیمایي زیاتې برخې د سختو مبارزو یو ژوندی تصویر دی، بلکې داسې یو خوځنده ژوندی تصویر هم دی چې زموږ نني او سباني ته نسل د ملي او اسلامي ارزښتونو د خوندیتابه جذبه، فکر او ولوله هم ورکوي، دا کتاب د ملي ارمانونو لپاره یوه تګلاره هم ده. زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ټولنې له ننني او سباني نسل څخه په درنښت هیله لرم چې دا اثر بار بار ولولي، په دې کتاب له انځور شویو دردونو او پیغامونو څخه الهام واخلي او د خپل هېواد او ملت د سوکالۍ، یووالي او استحکام لپاره له هغو څخه ګټه پورته کړي.

زه په پای کې استاد پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون او د ملي مبارزې ټولو لارویانو ته د دې اثر د لیکلو، چاپ او د ملي مبارزې د اوسني بهیر د قانوني بریالیتوب له امله مبارکي وایم.

درنښت

شاه محمود کدوال

احمد شاه بابا مېنه - کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه:

# ګام پر ګام له ملي هویت سره

ملي هویت داسې کوم شی نه دی، چې په یوه ورځ کې پیدا شي او خپله بڼه غوره کړي. ملي هویت د یوې ملي ټولنې او ملي دولت په شان اوږده زمانه رانغاړي، د زمانې په بهیر کې په تدریجي ډول رامنځته کېږي او بیا استحکام مومي. افغاني ټولنه او افغان ملي هویت هم همداسې دی، دا د اوږدو پېړیو محصول دی، د تاریخ تر سترو ازمونونو وروسته زموږ ملي هویت دا بڼه خپله کړې ده.

اوږدې مبارزې، سربښندنې، جرګې، مرکې، جنګ او فرهنګ، ولسواکي، تمدن او پرمختګ دا ټول د دې سبب شوي چې دلته یوه ټولنه رامنځته شي، یو ملت اباد شي، یو هېواد جوړ شي، یو دولت تشکل ومومي او په پای کې یو ملي هویت رامنځته شي، البته په دې برخه کې د دې هرې پدیدې پر وړاندې ستونزې او مزاحمتونه پېښ شوي، خو د ملت رغنده ارکان دومره قوي وو چې پر دې خنډونو او ستونزو برلاسي شوي دي. د شلمې پېړۍ په لومړیو درېو لسیزو کې د ملي وحدت د ټینګښت او ملت جوړونې لپاره پاخه ګامونه پورته شول. پر (۱۹۲۹م) کال په سقاوي اړو دوړ سره په افغانستان کې د معاصر دولت اډانه وپاشل شوه او ملت د خپل پرمختګ او استحکام یوه اساسي وسیله له لاسه ورکړه، دې دورې که څه هم ډېر دوام ونه کړ، خو منفي اغېزې یې ان تر ننه پورې محسوس دي. تر سقاوي بحران وروسته بیا تر (۱۳۵۷ل) کال پورې په افغانستان کې د دولتي او ملي استحکام لپاره اساسي ګامونه پورته شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا وخت هم یو شمېر بهرنیو عناصرو په تېره بیا پخواني شوروي اتحاد ته د افغان ملت استحکام د زغم وړ نه و، کله چې پر (۱۳۴۳ل) کال (د خلکو دیموکراتیک گوند) بنسټ کېښودل شو، نو یو شمېر روس پلوه اشخاصو، چې وروسته په ستمي ډلې ونومول شول او پښتني ضد او افغان ضد افکار یې درلودل، هم دې گوند ته لاره وکړه، روسانو غوښتل په گانده کې روس پلوه لړکي په افغانستان کې واک ته ورسوي، نو ځکه خو یې د دې ډلو پر لمسون او پر هغو باندې پر پانگونې لاس پورې کړ. پر افغانستان باندې د شورویانو پر مستقیم یرغل هر څه په ډاگه شول او د ببرک کارمل په وجود کې یې په افغانستان کې قومي لړکي واک ته ورسول. دې سره نو په افغانستان کې د ملي وحدت او ملي هویت پر ضد په څرگند ډول هڅې وشوې او هغې ستراتیژۍ چې پخوا یې اساسات ایښودل شوي وو، ورو ورو عملي بڼه خپله کړه؛ ستم او پرچم ډلو د ملي وحدت او ملي هویت پر ضد زیاته ونډه واخیسته، تر هغه وروسته بیا روسانو دا رول د رباني او مسعود په وجود کې اسلامي جمعیت او نظار شورا ته وسپاره، دې ډلو بیا د ستم او پرچم پاتې ارمانونه پسې تعقیب کړل، د دوی اکثره نشرات ملي نفاق او د پښتنو پر وړاندې پراخ کمپاین ته وقف شول. کله چې د طالبانو نظام تر سقوط وروسته په بن کې په یوه اړخیز ډول واک تاجک اقلیت، په تېره بیا پنجشېر کې نظار شورا ډلې ته انتقال شو او کرزی د دولت د یوه سمبولیک مشر په توگه د چارو په راس کې راغی، نو دې ډلو د افراط تر وروستي بریده پورې د افغانیت او ملي وحدت پر ضد گامونه پورته کړل. د حکومت له ټولو امکاناتو او د بهرنیو پوځونو له شتوالي څخه یې ناوړه گټه پورته کړه، د افغانستان د تېر تاریخ، هویت،حیثیت، ملي وحدت او افغانیت پر ضد یې، چې څه کولای شول هغه یې تر سره کړل. دوی ته د طالب ځېنې لپاره یو چانس په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلی و او له دې پلمې څخه یې د پښتنو او ملتپالو افغانانو د ځینې لپاره تر اخرې حده پورې ناوړه ګټه پورته کړه، د ملي هویت پر ضد یې اثار چاپ کړل، رسنۍ یې فعالې کړې او بالاخره د قوانینو له لارې یې د ملي هویت د حذف لپاره هڅې پیل کړې.

ما د یوه افغان په توګه له نورو افغانانو سره یو ځای د دغو پردیپالو ډلو پر ضد پر خپل وخت غبر اوچت کړی، د هغوی له توطیو څخه مې پرده پورته کړې، نه غواړم په دې سریزه کې هغو ته نغوته وکړم، دا کتاب په خپله د همغو پېښو انځورنه کوي.

په دې کتاب کې د ملت ضد پټو او ښکاره عناصرو پر وړاندې ګام پر ګام د ملتپالو افغانانو مبارزه انځور شوې ده. کېدی شي راتلونکي نسل ته دا پوښتنه پیدا شي چې افغان ضد او هېواد ضد عناصر دومره قوي او متعصب نه وو، لکه هغومره یې چې یادونه شوې یا کېږي. په دې برخه کې باید وویل شي چې د افغانستان په ټول تاریخ کې هېڅکله هم داسې نه دي پېښ شوي چې ملت ضد عناصر دې په داسې یو اړخیز ډول، چې د نړیوالو یرغلګرو سل په سلو کې ملاتړ هم ورسره وي، واک ترلاسه کړي، د کرزي د حاکمیت په ټوله دوره کې ملتپاله افغانان د واک په حاشیه کې وو، د واک اصلي سرچینې او امکانات د روس پلوه او ایران پلوه افغان ضد کړیو په لاس کې وو. هر ملتپال او هویتپال افغان چې به غبر پورته کاوه، نو د طالب او القاعدې په نامه یې فزیکي او معنوي حذف ته زمینه برابرېده، رسنیز او دولتي وسایل هم د افغان ضد کړیو په لاس کې وو، نو په داسې یو حالت کې مبارزه کول اسانه کار نه و، مقننه، اجرایه، قضایه قوې هم د پردیپالو کړیو په لاس کې وې، په ټول نظام کې د پښتنو ونډه په سلو کې (۲۵) سلنه وه، هغه هم داسې پښتانه چې له سیاسي پلوه بیا په سلو کې (۸۰)د نظار شورا او جمعیت تر فلتره تېر شوي وو او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرسختي خو سرټېټي پلویان ګڼل کېدل. د ملت مخالفو ډلو د خپل ځان په ګټه د بهرنیو ځواکونو په شتوالي کې له داسې یو طلایي چانس څخه ګټه اخیستله او غوښتل یې د افغانستان نوم، ملي هویت او تاریخي حیثیت ختم کړي، دوی پر دې پوهېدل چې که چېرې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، نو دوی بیا په خپل مټ د واک داسې اسونه نه شي ځغلولای، نو فکر یې کاوه چې له دې موقع څخه هر ډول ګټه پورته شي.

ملتپال عناصر که څه هم نه له بهرني ملاتړه برخمن وو او نه هم له حکومتي ځواکه، خو د منطق، شعور او قانونیت وسله ورسره وه او په خپل ملي او اخلاقي جرئت یې په تش لاس د پردیو او پردیپالو عناصرو د توطیو پر وړاندې میدان ته ودانګل. په دې اثر کې د ملي هویت د خوندیتابه لپاره د نږدې شپږو کلونو ګرمو او متواترو مبارزو انځور پروت دی. دا اثر داسې نه دی لیکل شوی چې لیکوال دې له سره محتویات وټاکي او بیا دې هغه په تسلسل سره تعقیب کړي.

دا اثر د پېښو داسې یو تسلسل دی چې یوه پر بله پسې واقع شوي او لیکوال هغه پر خپل وخت د قلم تر قید لاندې راوړي دي. کله چې یوه پېښه رامنځته شوې، پر همغه ورځ ثبت شوې، دا چې سبا به څه پېښېږي، هغه بلې پېښې ته نه ده معطل شوې، پر خپل وخت لیکل شوې ده. دې اثر ته مخکې تر مخکې مسیر نه دی ټاکل شوی، بلکې پېښې اثر ته مسیر ورکوي؛ د ملي مبارزینو له ډلې هېڅوک هم پر دې نه پوهېدل چې اخر به څه کېږي، خو هوډ یې ټینګ و او تکل یې پوخ؛ د مبارزې په بهیر کې په لسګونو ځله داسې حالات راغلي، چې سر ته په کې خطر زیات نږدې شوی و، د دې ډول خطرونو له احساس سره سره بیا هم ځوانو مبارزینو له خپلې ملي داعیې څخه مخ وانه ړوه، زه د همدغو مبارزینو په استازۍ راتلونکي نسل ته دومره وایم چې موږ د زمانې په خطرناکو او حساسو شرایطو کې راګیر وو، تش‌لاسی، ساده زړی، جګړې ځپلی او بې وسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولس، د یوه شعوري، وسلوال، مکار، بې حیا او پردیپال دښمن پر وړاندې د مبارزې میدان کې ولاړ و. افغانستان باندې هېڅکله دومره سخت شرایط نه وو راغلي چې ملتپال دې په داسې یوه تنګسیا کې راګېر شوي وي، خو ملي مبارزینو دا خپله یوه ملي او اسلامي فریضه وګڼله چې د خپل سر په قیمت د خپل عقیدهیي او ملي هویت (اسلامیت او افغانیت) ملاتړ ته ورودانګي. تر یوې شپږ کلنې سرسختې مبارزې وروسته مبارزین پر دې بریالي شول چې د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه پر وړاندې اساسي توطیې شنډې کړي، البته دا په دې مانا نه ده چې خطرونه ټول رفع شوي دي، د خطرونو یوه برخه دفع شوې، خو ټول خطرونه لا رفع شوي نه دي. مبارزه لا هم دوام لري، نو ځکه خو دلته په کار دي چې نننی او سبانی نسل دې ډول خطرونو ته لا پسې متوجه اوسي. د نننیو خطرونو په دفع کولو کې چې چا هم اساسي نقش لرلی دی، له هغو ټولو څخه مننه په کار ده، په دې کتاب کې یې انځورنه شوې ده. په کار خو دا وه چې له هر یو څخه په ترتیب سره مننه شوې وای، خو څرنګه چې دا یوه ملي مبارزه او ملي پروسه وه، په میلیونونو افغانانو په کې په مستقیم او نامستقیم ډول ونډه لرله، نو ممکنه نه برېښي چې په نوملړ سره دې د ټولو یادونه وشي، ځینې داسې نومورکي اتلان هم په کې وو چې په پټه یې معنوي او مادي مرسته کړې او قرباني یې ورکړې، له ټولو څخه مننه په کار ده، نو ځکه مو د نومونو یادونه ونه کړه چې خدای مه کړه د کوم رښتیني او ناڅرګند مبارز نوم په کې له یاده ونه وځي او د هغه د مبارزې حق ادا نه شي، نو اوس د ټولو ملتپالو افغانانو په استازۍ له ټولو هغو ملي مبارزینو څخه مننه کوم او کور ودانی ورته وایم چې په تېر شپږ کلن بهیر کې یې ګرمه او فکري مبارزه وکړه او له هېڅ ډول سرښندنې یې ډډه ونه کړه. له راتلونکي پښت څخه مو هم هیله ده چې د اوسني نسل مبارزینو خو د ملي هویت داعیه تر تاسو پورې خوندي درورسوله، نور نو ستاسو مکلفیت دی چې هغه لا پسې خوندي کړئ او هغې ته ټول متوجه احتمالي خطرونه له منځه یوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کتاب کې هڅه شوې چې په تېر شپږ کلن بهیر کې د ملي هویت په برخه کې ترسره شوې مبارزې او فعالیتونه په ترتیب سره راوړل شي، زموږ له هڅو سره سره بیا هم کېدی شي، د ځینو فعالیتونو انځور پاتې شوی وي، هغو ته هم په درنه سترګه ګورو او له مبارزینو څخه یې مننه کوو.

مخکې تر دې چې له لوستونکو څخه خدای پاماني واخلم، د دې کتاب په پیل کې د هېواد دوو پوهاندانو، (پوهاند عبدالحی حبیبي او پوهاند عبدالاحمد جاوېد) د لیکنو یادونه هم کوم، هغه مې په دې خاطر د دې کتاب په پیل کې راوړې او له کتاب سره مې ملې کړې چې د افغان او افغانستان د تاریخي او ملي هویت په باب د ځوان پښت د ذهنیت د روښانتیا او د ملي هویت د مخالفینو لامنطقه دلیلونو ته د یو منطقي ځواب سبب شي.

نور نو دا تاسو او دا هم د ملي هویت او ملي عزت لپاره د څو کلنو مبارزو یو مسلسل انځور.

د یو موټي، غښتلي، پرمختللي، لوی افغانستان

د جوړېدو او د ملي هویت د لا ځلا او ښکلا په هیله

۱۳۹۷ل کال د غبرګولي (۲۳)مه نېټه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند عبدالحی حبیبي

# افغان او افغانستان

د افغان کلیمه چې اوس د افغانستان د ټولو خلکو ملي نوم دی او د آسیا په زړه کې یې تر ټولو تاریخي،اقتصادي او اجتماعي شرایطو لاندې یو نه بېلېدونکی واحد جوړ کړی، داسې نوم دی جې لږ تر لږه یو زر اووه سووه(۱۷۰۰) کلن تاریخي لرغونتوب او ملي اصالت لري.

په افغانستان کې دننه او د باندې ځینې کسان فکر کوي چې دا نومونه د احمدشاه ابدالي په لاس د افغاني دولت تر بیا جوړولو وروسته په اتلسمه پېړۍ کې رامنځ ته شوي او زموږ هغه هېواد وال چې له تاریخې پېښو نه خبر نه دي تل له مانه پوښتي چې آیا دا نومونه لرغونی تاریخ لري کنه؟، نو ځکه په دې لیکنه کې په ډېر لنډیز سره د خپل ملي تاریخ دا موضوع درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:

د افغان نوم تر کومه ځایه چې ماته څرګند دی په تاریخ کې اوړدې رېښې لري او په همدې سیمه کې د هلمند او سند د دوو لویو سیندونو ترمنځ په همدې نامه یوې ډلې وګړو ژوند کاوه چې تفصیل یې دادی:

شل کاله پخوا(اوس پنځه پنځوس کاله – مترجم) (اوس اووه شپیته۶۷ کاله – هلمند) پخوا د ایران د شېراز په نقش رستم کې د شیکاګو د ختیزې مؤسسې د لرغونپوهانو یوې ډلې د هغه ځای په ډېرلیکونو کې د زردشت په کعبه کې په دوو پهلوي اشکاني(پارتي) او یوناني ژبو یو ډبرلیک وموند

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه د ساساني کورنۍ دویم بادشاه لومړني شاپور ته ۲٦۰ م کال او د اودیسې په جګړه کې د روم د امپراتور والیرین (valerian)تر ماتې او اسارت وروسته دلته د زردشت د کعبې د دېوال په ډبرو لیکلی دی.

څرنګه چې لومړی شاپور په ۲۷۳ م کال کې مړ شوی، نو د دې ډبرلیک د لیکلو نېټه له ۲٦۰ تر ۲۷۳ م کال پورې د دیارلسو کلونو ترمنځ ټاکلای شو،(د دې ډبرلیک نیمګړې فارسي ژباړه دې د لرغونپوهنې د رپوټونو د ۴ ټوک په ۱۸۱ مخ کې چې په ۱۹۵۹م کال په شېراز کې خپور شوی، وکتل شي.)

د دې ډبرلیک په دویم بند کې پښکابور (Pashkabur)د ښار نوم د کوشان خساتر (kushan khsatr) یعنې د کوشاني هېواد وروستني ختیز سرحد په توګه یاد شوی دی چې هغه یې د یوناني له سپاپوروس، د چیني هیون تسنګ له پولوشابولو او د اسلامي دورې د مؤرخینو له پرشاپور او پرشاور(پېښور) سره یو بللی دی، د همدې ډبر لیک په شپږمه برخه کې د شاپور د واکمنۍ په مهمو کسانو کې د (وینده فرن ابګان رزمه ود) نوم یاد شوی دی چې د سپرنګ لونګ (spreng ling)په نامه یوه محقق لومړی ځل دا ډبرلیک ولوست او د امریکې په سامي مجله کې یې په ۱۹۴۰ م کې یوه مقاله ولیکله او دویمه کلیمه(ابګان) یې په قاطع ډول د افغان له اوسني نامه سره تطبیق کړه او هم وایي چې د ساساني پاچا دریېم شاپور له نامه سره له ۳۰۹ تر ۳۷۹ م کال پورې یې اویا کاله پاچاهي کړې، د اپکان (apakan)په بڼه یو صفت او لقب یاد شوی دی چې دا کلیمه هم کولای شو د ابګان د یادې شوې کلیمې غوندې وګڼو چې د زړورتوب،رشد او نجابت د صفت او یاهم د نژادي تړون په بنا راوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وي او همدا موضوع ده چې ځینې مؤرخین وایي، لکه سر اولف کیرو یې د ساساني دربار په مشرانو کې د درانیو او یوسفزیو د شته والي په فکر کړی دی، (پټانان- انګلیسي متن ۸۰ مخ)او موږ نوموړی نوم(وینده فرن افغان رزم بد) یعني(د افغان د جګړې سالار وینده فرن) ویلای شو چې ښایي یو افغاني سالار وي، د فردوسي په شاهنامه کې هم دوه ځله (اوګان) نوم راغلی چې د فریدون د وخت له سپه لارانو څخه و.

سپهدار چون قارن کاوګان
سپه کش چو شیر وی و چون اوګان

(شاهنامه، د مسکو چاپ، لومړی ټوک۱۱۰ مخ)

همدا د فریدون په داستان کې یو بل ځای وایي:

همه ګرد ایوان، دورویه سپاه
بزرین عمود و به زرین کلاه
سپهدار چو قارن کاوګان
به پلیس سپاه اندرون آوګان

(لومړی ټوک ۱۱٦ مخ)

که څه هم چې د شاهنامې داستانونه تاریخي سندونه نه دي، خو زیات پخواني حقیقتونه پکې نغښتی دي، د نمونې په توګه په همدې بیتونو کې قارن یاد شوی چې د قارن کورنۍ د اشکانیانو د دورې یوه اشرافي کورنۍ وه او په ۵۰ کال کې د بین النهرین اشکاني واکمن کارنس (carenes)نومیده (د مینارسکي د ویس وار مین مقاله،۴۳۱ مخ، د تهران چاپ ۱۹۵۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ((اوگان)) هم هماغه د ساساني عهد (ابگان) ته ورته دی، خو په زړو روايتونو کې د فريدون سپه سالار و چې هغه يې د سمکنان د زوی آوه نومي پهلوان سره منسوباوه او آلماني بوستي په خپل کتاب(ايراني نومونه) کې وايي چې: د آوه اصل اوستايي دی د مهربان او لاس نيوونکي په نامه (د شاهنامې فرهنگ،۱۲مخ، د تهران چاپ،۱۹۴۱م) خو په شاهنامه کې په خپله دا دوه کسان د کيخسرو د وخت اتلان(پهلوانان) دي چې له افراسياب سره د ده په لويه جگړه کې داسې ياد شوي دي:

چو کيخسرو آن رزم ترکان بديد
که خورشيد گشت از جهان ناپديد
سوی آوه و سمکنان کرد روی
که بودند شيران پر خاشجوی

(شاهنامه ۲۸۱ مخ،۵ټوک)

په هر حال له دې يادونې څخه داسې څرگنديږي چې آوه، آوگان په لرغونو آريايي رواياتو او شاهنامو کې دود و او که د بوستي د وينا له مخې يې اصل اوستايي وبولو نو مانا به يې مهربان او لاس نيوونکی وي چې داسې نومونه له لرغونو اتلانو سره وړ وو او که بيا وروسته د يوه قوم او يا ټولنې په معنی اوښتي وي لېرې نه ده.

که د ابگان، اپه گان او اوگان کليمو ته په زړو رواياتو او د ساساني دورې په پاتې شونو کې د باور وړ اهميت ورکړل شي، لکه چې سپرنگ لنگ او اولف کيرو همدا نظر لري، نو دعوه کولای شو چې د افغان نوم يا صفت د ابگان او اپه‌گان په بڼه له درېيمې عېسوي پېړۍ څخه اخيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده او بادشاهانو، اداره چیانو او واکمنانو پېژانده او دا سند تر اوسه د دې نامه د لرغونتوب په باب د یادولو وړ زوړ سند دی چې د زړو روایتونو(اوګان) هم ورته دی.

دویم زوړ سند چې د دې نامه په باب یې لرو د هند له تر لاسه شویو او پاتې شویو آثارو سره اړه لري چې دا نوم د اوه ګانه avagana په بڼه چې د ساساني دورې د ابګان او اپه ګان له بڼو سره ورته دی، په هندي آثارو کې په لاندې تفصیل مومو:

ورهامي هیرا (varha-mihira)هندي شاعر او نجومي دی چې د پنځمې عیسوي پیړۍ په پای کې د هند په راجین کې وزېږید او د ۵۰۵م شاوخوا یې ښه شهرت وموند. د ده مهم کتاب(پنچه سیدهانتیکا Pance siddhantika) نومېده چې د نجوم د علم و، د پنځو کتابونو لنډیز و او دی د نجوم په باب یو منظوم کتاب هم لري چې پکې یې د ښکلو ډبرو، د هند د جغرافیې او نورو کار وړ موضوعاتو په باب هم خبرې کړي او نوم یې پرې(بهریته سنهیتهbhrita sanhita) ایښې دی چې په ۱۱-۱٦ او ۱٦-۳۱ بیتونو کې یې د افغان نوم د اوه ګانه په بڼه یاد شوی دی.

د همدې تاریخي سند له مخې د افغان کلیمه په هندیانو کې لږ تر لږه ۱۴۰۰ کاله وړاندې هم مشهوره وه او هندي لیکوالو یاده کړې ده.

تر اسلام وړاندې پېړیو کې مو د افغان نوم په دوو پخوانیو سندونو لویدیځ ته په پارس او ختیځ ته په هند کې دروښود او موږ پوهېږو چې همدا وخت بودایي دین د افغانستان په ختیځ او شمال کې دود و، بېلو ښارونو لکه بلخ، کندز، کاپیسا، هډې، لغمان او له غزني نه تر کندهاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري ودان و او څرنګه چې د چین خلک هم د دین له مخې بودایان وو، نو ځکه به د چین بودایي زیارت کوونکي تل د زیارت او تبرک له پاره دې هېواد ته تلل. له دې زیارت کوونکو څخه یو هم "هیون تسنګ" دی چې د اوومې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د اسلام له ظهور سره سم، خو د عربو په لاس د افغانستان تر فتح کېدو وړاندې دې هېواد ته راغلی دی، دی د ٦۲۹ ع کال د اګست پر لومړۍ نېټه له "لیانګ چو" نه را روان شو او د ٦۳۰ ع د مارچ پر ۵ "سمرقند" او پر ۲۰ نېټه د افغانستان "خلم" ته راورسېد، دی د اپریل پر ۲۰ په "بلخ" او د اپریل پر ۳۰ په بامیانو کې و او د هندوکش په له واورو ډک غره د می پر لسمه نېټه "کاپیسا" ته راورسېد، د اوړي تر پایه پورې د کابل شاهانو په دې پایتخت کې پاتې شو او بیا یې خپل سفر ته داسې دوام ورکړ.

د اګست پر ۱۵ لغمان ته راغی او درې ورځې یې هلته تېرې کړې، د اګست پر ۲۰ ننګرهار ته راغی، دوه میاشتې هلته پاتې شو، د نومبر له لومړۍ نېټې نه د ګندهارا په نورو برخو او د دسمبر له لومړۍ نېټې نه د ګندهارا په نورو برخو او د دسمبر له لومړۍ نېټې نه د پېښور په سیمو کې و، د ٦۳۱ ع د جنوري پر لومړۍ نېټه د سند د سیند په کښونو کې په سفر روان شو او د اپریل پر ۱۰ نېټه ټیکسلا ته ورسېد، دی ۱۲ کاله په هند کې پاتې شو او په بېرته راستنېدو کې د ٦۴۳ ع کال د دسمبر پر ۱۵ نېټه بېرته ټکسیلا ته راغی او بیا یې د افغانستان لاندیني ښارونه ولیدل.

د دسمبر پر ۲۵ نېټه د فیل پر سورلۍ له اباسین نه راواوښت، د ٦۴۴ ع کال د مارچ پر ۱۵ نېټه لغمان ته راورسېد او د هغه ځای له پاچا سره یوه میاشت پاتې شو، د جون پر ۱۵ "فه-له-نه" یعنې "بنو" ته ورسېد، د جون

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ۲۰ "و - پو-کين" او د جون پر ۲۵ " تساو-کيو-تو" (غزني) ته ولاړ، د جولای پر ۵ کاپيسا، د جولای پر لومړۍ نېټه اورتسپانه (کابل)، د جولای پر ۵ کاپيسا، د جولای پر ۲۰ اندراب، د اگست پر لومړۍ نېټه توخار (تخار) د سپتمبر پر ۸ بدخشان او د دسمبر پر ۱۲ پامير ته ورسېد چې بيا له هغه ځايه يارکند او ختن ته تېر شو.

د هيون تسنگ سفرنامه د "سي-يو-کي" يعنې د لويديزو هيوادو خاطرې نومېږي او له چيني ژبې نه په انگليسي ژباړل شوې او په وارو - وارو خپره شوې ده چې د دې ارزښتناک کتاب يوه برخه د هغه وخت د افغانستان د خاورې او خلکو د جغرافيايي، ديني، سياسي او اجتماعي اوضاعو په باب ډېر په زړه پورې مواد لري او کله چې دی له هند نه په راغبرگېدو کې "فه-له-نه" يعنې د "بنو" ولايت ته رسېږي، د " سي-يو-کي" د لومړي ټوک په ۲٥٦ مخ کې (انگليسي ژباړه) د "او-پو-کين o- ) " ( po-kienپه نامه يوه سيمه د بنو او غزني ترمنځ د بنو شمال لويديځ او د غزني جنوب ختيځ ته، يادوي چې تر ده وړاندي يوه بل چيني زاير فاهيان هغه د "لو-يې" يعنې "روه ( Roh ) "په نامه ياده کړې وه ( ۲ ) څېړونکو خصوصا جنرال کننگهم د هند د لرغوني جغرافيې ليکوال دا "او-پو-کين" د "اوه گان" (افغان) له کليمې سره تطبيق کوي او وايي چې هيون تسنگ د دې خلکو ژبه هندي نه بولي، خو د ده په وينا يې د هند له ژبو سره لږ ورته والی درلود، نو له دې نه به مطلب پښتو وي او څرنگه چې چيني "اوپو-کين" همغه د لرغوني "اوه-گان" هجاوې (څپې) لري نو بويه په باور ووايو چې مراد همدا افغان دی چې اوس هم د سندهـ او غزني ترمنځ د پکتيا - پکتيکا او غزني ولايتونه د افغاني اصيلو او لرغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قبیلو استوګنځي دي، دی حتماً د همدې کورمې او ګوملې په غرونو چې د "او-پو-کین" یعنې "افغان" استوګنځی و او په همدې نامه یادېده، پکتیا ولایت ته ور اووښتی دی.**

**تر اسلام وړاندې د افغان د نامه په باب همدا درې لرغوني ساساني، هندي، چیني سندونه لرو او تر دې وروسته په اسلامي دوره کې د دې نامه یاد په دري او عربي کتابونو کې په مکرر ډول راځي چې ډېر زوړ یاد یې په "حدودالعلم" کې دی چې په دې کتاب کې د عبدالجبار عتبي په "تاریخ یمیني" کې "افغان" د سبکتګین او د ده د کورنۍ په عصر کې په وارو – وارو یاد کړی، ان چې ابن اثیر په الکامل کې هغه د ابغان په زړه املا هم لیکي، ترې راوروسته مورخانو لکه فخر مدبر په اداب الحرب والشجاعه، قاضي منهاج سراج جوزجاني په طبقات ناصري، حمدالله مستوفي په تاریخ ګزېده او محمد قاسم فرشته او نورو هم "افغان" او "اوغاني" قبایل په وارو – وارو یاد کړي دي.**

**همدا راز د افغانستان د کلیمې په باب هم ویلای شو چې دا داسې نوی نوم نه دی چې د احمدشاه ابدالي په وخت کې دې جوړ شوی وي، بلکې تر ده په پېړیو وړاندې یعنې ( ۷۰۰ ) کاله مخکې هم موجود او د استعمال وړ و، موږ د سیفي هروي په تاریخ هرات کې چې د ۷۲۱ ه ( ۱۳۲۱ )ع کال شا او خوا تالیف شوی وینو چې همدا د افغانستان ختیزي سیمې یې د سند تر څنډو پورې د " افغانستان" په نامه بللي او له دې نه څرګندېږي، کله چې هرات د ((ال کرت)) پایتخت و او هېواد د غزنویانو او غوریانو د سیاسي وحدت له دورو نه د چنګېزیانو د تېریو له امله د تجزیې او ورانۍ پر لور روان و، د افغانستان نوم هغه وخت هم موجود و،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دومره پراختیا یې نه درلوده، لکه د احمدشاه بابا په وخت کې یې چې ترلاسه کړه.

د هرات د تیموریانو په وخت کې مولانا کمال الدین عبدالرزاق سمرقندي هروي چې په (۸۱٦ ه) (۱۴۱۳) کال په هرات کې زېږېدلی او د هرات د دربار د پوهانو، مورخانو قضا او سیاست له کسانو څخه و خپل د "مطلع سعدین او مجمع بحرین" تاریخ په ۸۷۵ ه ( ۱۴۷۰ ع )کال ولیکه، دی هم په خپل کتاب کې افغانستان په همهغه جغرافیایي وسعت چې سیفي پېژانده په وارو - وارو یادوي چې د هرات د تیموریانو د لوی هېواد خراسان یوه برخه و او معین الدین اسفزاري هم په روضات الجنات کې افغانستان په وارو - وارو یاد کړی دی.

کله چې بابر په ۹۳۲ ه ( ۱۵۲٦ )ع کال له افغانستانه د هند پر لور ولاړ او په ډیلي کې یې د هند د مغولو امپراتوري جوړه کړه، نو د ال بابر په اکثرو تاریخونو کې وینو چې همدا د افغانستان نوم په همهغه واړه جغرافیایي مفهوم موجود او مستعمل دی او د دې سیمې خلک تل د هند د تیموریانو او د ایران د صفویانو د یرغلگرو امپراتوریو په مقابل کې د خپل ژوند او ازادۍ د ساتلو پر جگړه بوخت دي . څو چې په همدې افغانستان کې د دوو پېړیو د اوږده مقاومت او مقابلې په نتیجه کې د میرویس او احمدشاه د مېړنیو قیامونو په وسیله یو ځل بیا د دې خاورې په سیاسي وحدت، بیا احیاء او د لوی افغانستان په جوړولو بریالي شول او دا دی موږ اوس د افغان یو زر اووه سوه کلن او د افغانستان اووه سوه کلن ویاړمن نومونه د خپل ملي وحدت او تاریخي سوابقو د ویاړ وړ پیل او مبداء په توگه پېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند عبدالاحمد جاوید

# افغان و افغانستان

کلمه ی «افغان» از قرن چهارم هجری و کلمه ی «افغانستان» ، از قرن هفتم هجری به اینطرف در متون عربی و دری ، مکرر به کار رفته است ؛ اما پیش از این تاریخ ، تا آنجا که تحقیق شده ، نخستین بار این کلمه در یکی از متون هندی تالیف شده در اوایل قرن ششم میلادی ، دیده میشود. منجم معروف هندی ورها «مهیرا» در کتاب «برهات سمهیتا» ، از افغانان به صورت «آواگانه» یاد میکند.

۱. کمی بعدتر ، جهانگرد معروف چینی هیون «تسانگ» از قبیله ای به نام «اپوکین» که در جبال سلیمان قرار داشتند ، ذکر میکند.

۲. این دو مورد ، قدیمی ترین مواردی اند که کلمه ی «افغان» به عنوان قوم یا قبیله، در آنها به کار رفته است.

۳. در ماخذ عربی ، قدیمترین جای که اسم «افغان» در آن ذکر یافته ، «تاریخ یمینی» تالیف عبدالجبار «عتبی» است . در یکجا می نویسد : « کشف سواد جیوشه ودانت له الافغانیه الخلج ... » جرفادقانی در ترجمه ی این قسمت گوید : « جماعت افغانیان و خلج که صحرانشین آن بقاع بودند ، در جمله ی حشم ناصرالدینی ، منحصر شدند.»

٤. منینی شارح «تاریخ یمینی» ، این مطلب را چنین شرح میدهد : « (دانت) ای انقادت و اطاعت (له) ای الامیر ( الافغانیه) هوقوم بلاد هم جبله قریبه من الترك صورت والادمه غالباً علیهم جبالهم قریبه من بامیان و هم موصون (موصوفون) بالدعارت و الشطارت ولم یدینو الامیر قبله لحصانه جبالهم و مناعه قلاعهم و قلالهم.»

ترجمه ی شرح چنین خواهد بود : افغانان از او (امیر) اطاعت کردند و سرزمین ایشان کوهستانی است . از نظر صورت ، به ترکها نزدیك اند و اغلب گندمگون . کوه های ایشان نزدیك به بامیان است و معروف به عارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



و شطارت اند و قبلاً از امیری اطاعت نکردند به جهت کوه های حصین و قلعه ها و قله های منیع.

۵. عتبی مکرر ذکر افغانیان کرده ، از جمله «العساکر الافغانیه» ، سپس جای که از استیلای سلطان محمد بر تخارستان سخن میراند ، گوید : «از اصناف ترك و خلج و هند و افغانی و حشم غز ، لشکر فراوان جمع آورد.»

٦. ابوریحان محمد بن احمد بیرونی (متوفی ٤٤٠ هجری) ، دانشمند بزرگ غزنه ، شرحی در باره ی افغان ، در کتاب «فی تحقیق ماللهند من مقوله مقبوله فی العقل اومر ذولته» ، بدین ترتیب آورده است : « وفی الجبال الغربیه منها اصناف الفرق الافغانیه الی ان تنقطع بالقرب من ارض السند... »

ترجمه ی آن اینست که در کوه های غربی هند ، برخی از طوایف افغان هستند که تا مجاورت دره های رود سند ، سکنی دارند.

۷. بیهقی ، تاریخ اغتشاش افغانان را در حوادث ٤١١ و ٤١٤ ضبط کرده است . در سال ٤١٣ ، مسعود «غزنوی» ، ابن دیار را که از بزرگان دربارش بود ، برای فرونشاندن اغتشاش افغانان ، به کوهستان غزنی فرستاد.

۸. در سال ۵۱۲ که ارسلان بر مسعود «غزنوی» ، لشکریانی گردآورده است که افغان ها و خلج ها جزو سپاهیان او بودند و در ۵٤۷ نیز ، افغان ها در میان لشکریان بهرامشاه «غزنوی» ، نام برده شده اند. در ۵۸۸ ، افغانان در جزو سپاهیان معزالدین «سام» (پادشاه غور) بوده اند.

۹. افغان شال یا افغان شل ، نام جای در غزنی بوده است ؛ همان دامنه ای که امروزه، آرامگاه سبکتگین در آن قرار دارد.

۱۰. پنج موردی که بیهقی ترکیب افغان شال را ذکر کرده ، ذیلاً نقل میشود : «حاضران بسیار دعا کردند و از باغ بیرون آمد و راه صحرا گرفت و ... و حشم و بزرگان همراه وی به افغان شال درآمد و به تربت امیر عادل سبگتگین رض الله عنه فرود آمد و زیارت کرد.»

۱۱. «و برآن جانب رود که سوی افغان شال است ، بسیار استر سلطانی ... بودند.»

۱۲. «امیر به کوشك محمودی به افغان شال باز آمد.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. «چون رسولان را بدیدند ، چندان نثار کردند به افغان شال در میدان ... و در بازار ها از دینار و درهم و هر چیزی که رسولان حیران فروماندند .»

١٤ . «روز آدینه ، بیست و یکم ماه ، به سلامت و سعادت ، به دارالملك رسید و به کوشك محمود به افغان شال ، به مبارکی فرود آمد.»

۱۵. در کتب جغرافیا ، نخستین جای که اسم افغان به کار رفته ، کتاب «حدود العالم من المشرق الی المغرب » است. این کتاب که مولف آن معلوم نیست ، در گوزگانان (میمنه ی امروزی) برای ابوحارث محمد بن محمد ، یکی از شاهان سلسله ی آل فریغون ، در حدود ۳۷۳ نوشته شده است. در این کتاب ، در دو جا ، نام افغان برده شده ، به این ترتیب :

١٦. « سوول ، دهی است بر کوه ، با نعمت و اندرو ، افغانان اند.» باز در تعریف بینهار می نویسد : « بینهار ، جایست ، پادشاه او مسلمانی نماید و زن بسیار دارد ؛ از مسلمانان و افغانان و از هندوان بیش از سی ...»

۱۷. ابوالحسن علی بی ابی الکرم محمد بن محمد بن عبدالکریم بن عبدالواحد شیبانی ، معروف به ابن الاثیر الجرزی ، متوفی ٦۳۰ در کتاب الکامل ، ذکر افغان را آورده است . مولف معجم البلدان ، در صفحه ی بیست و نه جلد اول ، از جبال الافغانیه یاد میکند.

۱۸. ابن بطوطه ، جهانگرد معروف عرب ، در راحله ی خود ، مکرر از افغانان یاد کرده است و در یکجا زیر عنوان «ذکر خلاف شان افغان به ارض سند» می نویسد : «ترجمه : شاه افغان با سلطان سرزمین ملتان ، از توابع بلاد سند ، مخالف بود و امیر آنجا را که نامش بهزاد بود ، به قتل رسانید و خود مدعی سلطنت شد. سلطان ، خود را برای قتل او آماده ساخت ؛ چون دانست که در برابر او مقاومت نمی تواند ، فرار اختیار کرد و با قوم خود که افغان و ساکنان کوه های بلند بود ، پیوست ... .»

۱۹ . باز در جای دیگر می نویسد که قومی در نزدیك کابل ، خود را افغان میگفتند .

۲۰ . در قرن هفت ، ذکر افغانان در کتب تاریخ ، بسیار است ؛ چنانکه منهاج سراج «جوزجانی» ، در «طبقات ناصری» می گوید : « انصار حق به حکم آن فرمان ، به همه بلندی و مضایق لورها ، عمیق در رفتند و سر و برده به دست آوردند ؛ خصوصاً جماعت افغانان که هریك از ایشان ، گویی ، زنده فیلی است (با) دو غژغا {و} بر کتف نهاده و یا برجیست ، بر باره

(c) ketabton.com: The Digital Library



برای هیبت بر فراز او بیرق کشاده ، مبلغ ایشان که خدمت رکاب (الغ خانی)، مرتب بود به قدر سه هزار سواره و پیاده ، مردانه و دلیر و جانباز که هریك از ایشان صد هندو را در کوه و جنگل ، به چنگل گرفتی و دیو را در شب تاریك (بتك) عاجز آوردی ... »

۲۱. ضیاالدین «برنی» ، در «تاریخ فیروز شاهی» ، در حوادث زمان محمد بن تغلق ، مینویسد که گروهی از افغانان ساکن ملتان ، طغیان کرده اند و سرکرده ی آنان را ملتان «ملتان مل» یعنی پهلوان ملتان نامیده اند و در همین زمان ، از سرکرده ی دیگری که او هم سرکشی کرده و «مغ افغان» نام داشته ، ذکر کرده اند.

در زمان تیمور نیز نام افغانان برده شده ، چنانکه در «تزك تیموری» ، «ظفرنامه ی نظام شاهی» و «ظفرنامه ی شرف الدین علی یزدی» و «مطلع السعدین» ، کراراً نام افغانان به ضبط «افغان» و «اوغان» است.

۲۲. در اسناد قرن هشتم و بیشتر کتاب های مربوط به تاریخ آل مظفر و از آن جمله، در «مواهب الهی» تالیف معین الدین معلم «یزدی زو» ، «تاریخ محمود گیتی»، نام از یك طایفه هست که در آن زمان ، از سیستان وارد خاك کرمان شده، در آنجا تاخت و تاز میکردند و در برخی از متون ، نام آنها را «اوغان» و «جرما» ، ولی بیشتر ، «اوغنی» و «جرمایی» ضبط کرده اند.

۲۳. در اواخر سال ٦١٧ ، سلطان جلاالدین «منکبرنی» ، بزرگترین پسر خوارزمشاه، بعد از زد و خورد با مغول ، در حدود نیشاپور ، به طرف هرات حرکت کرد و در ٦١٨ ... آمد. مظفر ملك ، رییس افغانان نیز به خدمت او پیوست و سلطان که در همین جنگ ، بر وی فتح آمد ، سپاهیانی مخلوط از افغانان و غوری ها و خلج و اقوام مختلف ترك داشت.

۲٤. صاحب «تاریخنامه ی هرات» در چندین جا ، کلمات «افغان» ، «افغانی» و «افغانیان» را به کار برده است که از آنهمه موارد به ذکر یك مورد اکتفا می کنیم ؛ جایی که گوید : « بعون ایزد بخشنده ، روزی دهنده ی جان آفرین ، در حال قریب، دوهزار مرد غوری و افغانی و هروی به یك حمله خویشتن را بر در حصار انداختند ... »

۲۵. خواجه نظام الدین «احمد» ، موولف «طبقات اکبری» که ذکر شیر شاه «افغان» را آورده ، نیز از افغانان یاد کرده است .

۲٦. بابر در تزك معروف خود ، مکرر ذکر افغان را آورده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



در قرون یازده و دوازده ، کلمه ی «افغان» ، درمتون تاریخ ، مکرر ذکر شده ، خاصه پس از عروج و سلطنت هوتکی در ایران و سلسله ی مختلف افغانی در هند ، این نام در تواریخ و کتب جغرافیایی قرون ، به کثرت دیده میشود ؛ مانند «هفت اقلیم امین احمد رازی» ، «حدیقه الاقالیم بلگرامی» ، «تاریخ الفی» ، «تاریخ فرشته» و نظایر آنها. (برای تحقیق مزید ، میتوان به کتب مذکور و هم کتبی مانند افغانستان فریز «دتایتلر» ، لندن ، ۱۹٦۷ ، لفظ افغانستان منتشره ی انسایکلوپیدیای اسلامی ، مقاله ی لانکز «ورث دیمز» – صفحه های ۱٤۷۳ تا ۱٤۷٤ ، چاپ لندن ، ۱۹۱۳ و دایره المارف جزو دوازدهم ، چاپ کابل ، ۱۳۳٤ ، به مقاله ی مورخ معروف ، آقای غبار و مقاله ی پوهاند حبیبی در مجله ی کابل ، جدی سال ۱۳۱۹ و مقاله ی محققانه ی شاغلی محمد انور «نیر» ، شماره ی ۲۵۷ مجله ی آریانا ، مراجعه کرد. )

۲۷. در شعر ، نخستین جایی که کلمه ی «افغان» استعمال شده و به ما رسیده ، در اشعار عنصری ، فرخی ، ابوالفرج «رونی» ، ازرقی و مسعود سعد «سلمان» است. برخلاف آنچه که نوشته اند ، در شاهنامه ی فردوسی ، لفظ «افغان» و «اوغان» نیست و تنها کلمه ی «افغان» به معنی ناله و فغان به کار رفته ، نه به معنی قوم و مردم ؛ آنچه که در شاهنامه ی چاپ بمبئی و ملحقات شاهنامه های دیگر ، داستان کك «کهزاد» به نام فردوسی چاپ شده ، از آن فردوسی نیست ؛ بلکه گوینده ای در قرن ششم ، میزیسته که بعداً راجع به آن صحبت خواهیم کرد. «لغت فرس اسدی» در صحفه ی ۱٦۲ خود ، در ذیل لغت «کهبر» ( که اسم جاییست) این شعر عنصری را مثل می آورد :

شه گیتی ز غزنی تاختن بود　　　بر افغانان و برگبران کهبر

۲۸ . چنانکه گذشت ، فرخی ، کلمه ی «افغان» را درشعر چنین آورده است :

به گـــونه ی شل افغانیان دوپره و تیز
چو دسته دسته بهم تیر های بی سوفار

۲۹ . ابوالفرج رونی در ضمن قصیده ای گوید :

مـــوکب منــصور او بـــه ویهند
بر تن افغان همی تنیده فغان را

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰. مسعود سعد در سه جا ، کلمه ی «افغان» را آورده است :

از لشکر ترك و هند و افغان
بـــر باره هزار شیرنر کرده

و یا :

شکسته گشت به تیغ تو لشکر کفار
خراب شد به سپاه تو کشور افغان

و یا :

گهـــی شـتابان اندر قفای افغانان
چو اژدهای دژگه میان غاز تویی

۳۱. شاعری که از نام و نشان او ، اطلاعی در دست نیست و ظاهراً در قرن ششم میزیست ، قسمتی و یا شاید همه ی داستان های بازمانده ی رستم را برای یکی از سلاطین به نظم آورده و از آن میان ، یك داستان در جزو ملحقات و گاه ، به صورت دفتر علیحده ، دیده میشود ؛ و این همانست که در ملحقات شاهنامه به نام داستان «کك کهزاد» موسوم و بیت اول آن اینست:

کنون داستان کك کهزاد بگویم بدانسان که دارد به یاد

در جای دیگر ، کك «کهزاد» را او چنین معرفی میکند :

نژادش ز اوغان سپاهش بلوچ ابر دشت خرگاه بگزید کوچ

۳۲. بنابر ادبیات این داستان ، نزدیك به زابل ، به سه روزه راه ، کوهی بلند بود که در آن از افغانان ولاچین و بلوچ ، قوم بسیاری گرد آمده بودند و در قلعه ای بربالای آن کوه ، به نام قلعه ی «مرباد» میزیستند.

به دژ در یکی پهلوان جای داشت که در رزم با اژدها پای داشت
نژادش ز اوغان ســپاهش هــزار همه ناوك انداز و ژوبین گذار
دو رانــش هــمانــنده ران پیــل گــه رزم جوشانتر از رود نیل
ورا نـــام بدی کـــك کــــهزاد به گیتی بسی رزم بودش به یاد

این داستان به خوبی میرساند که کلمه ی «افغان» پیش از اسلام بوده که داستان رستم با یکی از پهلوانان آنان در افواه و داستان ها ، مانده و دست به دست ، رسیده است ؛ تا اینکه در قرن ششم ، گوینده ی مذکور ، آنرا به رشته ی نظم درآورده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



در اصل و اشتقاق کلمه های «افغان» و «اوغان» ، حدس های بسیار زده اند ؛ از آن جمله ، پیلو عقیده دارد که این اسم در اوایل «اغوان» بوده و بسیار قدیمی و مشتق از ریشه ی آریایی است که بعداً «اوغان» و سپس «افغان» شده است.

۳۳ .کلمه ی «اوغان» در زبان ارمنی به معنی باشنده گان گوه و جبال است.

۳٤. ارامنه ای که در گنجه ، شیروان ، نخجوان و گیلان سکونت دارند ، به نام «اغوان» افتخار می نمایند.

۳۵. یك نظر دیگر هم است : کلمه ی «افغان» محتملاً با کلمات «فغ» ، «پغ» ، «بغ» و «بگ» همریشه باشد ؛ چنانکه این ریشه را در الفاظ بسیاری مانند پغمان ، بغلان ، بغشور و ... می بینیم و این همان ریشه ایست که در کلمات «فغفور» (بغ – پور) ، «فغواره» ، «بغستان» ، «بیستون» ، »بغداد» و غیره ، دیده میشود. کلمه ی «فغ» به معنی سرور و بزرگ و هم به معنی بت و معبود آمده است ؛ چنان که عنصری گوید :

گفتم فغان کنم ز تو ای بت هزار بار - گفتا که از فغان بود اندر جهان فغان

۳٦ . فردوسی گوید :

فرستش به سوی شبستان خویش سوی خواهر و هم فغستان خویش

۳۷. اما اینکه میگویند کلمه های «افغان» و «اوغان» ، اسم های اند که دیگران داده اند ، درست به نظر نمیرسد ؛ چه از قدیم ، این اسم وجود داشته و محتملاً نام یکی از قبایل بوده ، بعد بر سایر قبایل پشتون ، به عنوان اسم دوم و بعد از حدود قبیله بیرون شده ، بر تمام ساکنان سرزمین افغانستان، اطلاق شده و اکنون نام ملی و پرافتخار تمام باشنده گان این سرزمین تاریخی است.

در مورد کلمه ی «افغانستان» ، می توان گفت : همانطوری که کلمه ی «افغان» از یك قبیله ی خاص بر قبایل ابدالی و غلجایی و بعدتر بر تمامی قبایل پشتون و از قبایل پشتون ، به تمام ملت افغانستان ، اطلاق گردید ، کلمه ی «افغانستان» نیز از مسکن قبیله یا قبایل خاص ، به مساکن تمام قبایل پشتون و از مساکن تمام قبایل پشتون ، به سرزمین مردزای و باستانی افغانستان ، اطلاق شد و به عبارت دیگر ، جانشین کلمه ی «خراسان» دوره ی اسلامی و «آریانای» قبل از اسلام گردید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا آنجا که اطلاع داریم ، نخستین مرتبه ، مؤلف «تاریخ هرات» (سیفی «هروی») کلمه ی «افغانستان» را در معنی کوچك آن که احتمالاً به نواحی بنو و اطراف آن ، اطلاق میشد ، به کار برده است ؛ آنجا که میگوید :

۳۸ . «ملکی شهر هرات ، حمیت عن الافات و توابع آن ، چون جام و باخرز و کوسویه و خره و فوشنج و دزآب و تولك کابل و تیراه و به سیستان و افغانستان تا شط سند و حد هند ، فرستادیم.» مؤلف «تاریخنامه ی هرات» ، ۳۵ بار کلمه ی «افغانستان» و در دو جا ، «اوغانستان» را به کار برده است.

۳۹. معین الدین محمد «زمچی اسفزاری» ، دانشمند قرن نهم ، در چند جا نام افغانستان را به اشکال دیار افغانستان (ص ٤١٦) ، ولایت افغانستان (ص ١٦١) و افغانستان (ص٤١٠) آورده است ؛ از آن جمله است :

٤٠. «امرا گفتند که اسفزار و فراه و سجستان تا حدود افغانستان ، ازتوابع هرات است ... حکم کرد که یرلیغ نوشتند که مملکت هرات و ولایات از حد جیحون تا تا اقصای افغانستان ، بدو مفوض دارند.»

٤١ . « وآلات حرب طلبیده به اندك زمانی از حدود خراسان و جبال و شبرغان و افغانستان ، نزدیك به پنجاه هزار مرد از پیاده و سوار ، به هرات آمدند. »

٤٢. در تزك تیمور نیز کلمه ی «افغانستان» به کار رفته ، از آنجمله است :

« و کنکاش دیگر که در تسخیر ممالك سیستان و قندهار و افغانستان کردیم ، اینست که ... »

٤٣. عبدالرزاق «سمرقندی» ، در «مطلع السعدین» گوید : « ذکر توجه امیر تیمور «گورگان» به سیستان ، قندهار و افغانستان ... » که « موکب همایون از جیحون عبور نموده ، ولایت قندهار و کابل تا غزنین تا ... و آب سند و افغانستان که در زمان حضرت صاحبقران ... »

بابر در «بابرنامه» در چند جا ، کلمه ی افغانستان را به کار برده است ؛ از آن جمله : «ولایت کابل از اقلیم چهارم است ؛ درمیان معموره واقع شده ، شرقی آن لمغانات و پرشاوره و کاشغر وبعضی از ولایت هند است . غربی او کوهستانهاست که در کرنود و غور ، در آن کوهستان است .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شمالی او ولایت قندوز و اندراب است. کوهن هندوکش در میان است . جنوبی آن فرمل و نغز و بنو و افغانستان است.»**

**٤٤. «مختصر ولایتی است ، طولانی افتاده ، طول او از مشرق به طرف مغرب است . اطراف و جوانب آن ، تمام کوه است ....»**

**امین احمد «رازی» در «تذکره ی هفت اقلیم» ، حد جنوبی ولایت کابل را متصل فرمل پندارد و افغانستان میداند.**

**٤٤. الفنستن ، جنرال معروف انگلیس که در سال ١٨١٥ ، کتاب معروف «سلطنت کابل» خود را نوشته ، برای نخستین بار ، لفظ افغانستان را به کار میبرد ( اطلاق این کلمه را در مورد این سرزمین ، نسبت به کلمه ی خراسان ، رجحان میدهد.) در مکاتبات و معاهدات رسمی با دول خارج ، ظاهراً ، نخستین بار از طرف لارد «اکلند» (ویسرای هندوستان) در پاسخ نامه ی خودش با عنوان شاه شجاع ، مورخ جمادی لاول ١٢٠٤ هـ (آگست ١٨٣٨) به کار رفته است. برای تفصیل بیشتر در مورد کلمه های «افغان» و «افغانستان» از قرن نهم به اینطرف ، رجوع شود به مقاله ی محققانه ی دانشمند محترم ، شاغلی محمد انور «نیر» ، شماره ی ٢٥٧ مجله ی آریانا.**

**مراجع و مصادر :**

**ص ٤٠ ، افغانستان ، تالیف ویلبر ، طبع هراف پرس ، نیوهون (؟) ، عبدالعزیز شمس «بهایی نوری» ، به دستور سلطان فیروز شاه (٧٩٠م). اثر ورهامیرا را تحت عنوان براهی ، به فارسی منتقل نمود . ص ٣١١ ، راهنمای کتاب ، شماره ی ٥ .**

**٢ - بعضی از محققان ، اسامی خاصی را که در قرن سوم و چهارم میلادی و یا در شاهنامه ی فردوسی ، به کار رفته ، با کلمه ی «افغان» تطبیق کرده اند. توضیح آنکه دریکی از کتیبه های نقش رستم شیراز ، در جمله ی رجال سلطنت شاهپور اول ... (متوفی ٢٧٣) اسم و لقبی به صورت «وینده لون بگان رزمه» آمده که سپرنگ «لینگ» در مجله ی «سامی آمریکا» ی سال ١٩٤٠ م ، کلمه ی «ابگان» آن را باکلمه ی «افغان» یکی میداند و هم لفظ اپگان را که به عنوان لقب یا نام شاهپور سوم – قرن چهارم میلادی – ذکر رفته ، از همین قبیل میشمارد . شاغلی پوهاند حبیبی ، محقق دانشمند افغان ، در دو مقاله ی وزین خود که در باره ی افغان و افغانستان در مجله ی آریانا ، شماره ی سوم - سال بیست و هفتم ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوشته ، لفظ اوگان را که نام یکی از پهلوانان عهد فریدون است ، با کلمه ی «افغان» مرتبط میداند و این شعر فردوسی را دلیل می آورد :

سپهدار چون قارن گاوکـــان    سپه کش چو شیروی و چون اوگان
همه گرد ایوان دو رویه سپاه    بــــه زرین عــمود و به رزین کــلاه
سپهدار چون قارن گاوکــان    به پیـــش ســـــــپاه انـدرون اوگان

– ص ۱۱۰ و ۱۱٦ جلد اول شاهنامه.

از همینجاست که اولف «کارو» در کتاب خود به نام «پتهان ها» ، وجود بعضی از اسلاف قبایل افغان را در دربار ساسانی ، حدس زده است – شاید مقصود شاغلی حبیبی از ذکر عبارت « Goundifer Abgan Rismoud» در نقش رستم ، از آن شاهپور اول باشد. رجوع به ص ۷۹ پتان ها ، تالیف اولف «کارو» ، لندن ۱۹٦۵ – به نقل از مجله ی Sprengling ۱۹٤ ، A.S.L ، حاشیه ی همان کتاب ، ص ٤٤۵ و ازهمین مقوله است که بعضی از دانشمندان شوروی ، لفظ پشتوتن ، پهلوان نامی شاهنامه را ، شکل دیگر لفظ پشتون میدانند. نگارنده در باره ی وجود کلمات «افغان» پیش از اسلام ، نظری دارد که در صفحات بعد می آید.

۳ - ترجمه ی تاریخ یمینی ، از ابوالشرف ناصح بن نظر جردقانی ، به اهتمام دکتور جعفر شاه ، تهران ، ۱۳٤۵.

٤ - ص ۸۸ ، شرح الیمینی با الفتح الوهبی علی التاریخ ابی نصر عتبی للشیخ منینی .

۵ - ص ۸٦ ، جلد اول ، یادداشت های قزوینی ، چاپ پوهنتون تهران ، سال ۱۳۳٤.

٦ - ص ۲۸۵ ، ترجمه ی «تاریخ یمینی» و کذا ص ۳۲۳ همان کتاب.

۷- ص ۱٦۷ ، چاپ مطبعه ی دایره المعارف عثمانیه ، حیدرآباد دکن ، هند، سال ۱۳۷۷ هجری قمری و کذا ص ۱۰۲ ، چاپ زاخو ، طبع مجدد ، لندن – ۱۸۷۷ و لایپزیك ، اتو هانزویر ، ۱۹۲۵ و کذا ص ۲۰۸ ، جلد اول دکتور زاخو ، لندن ، ۱۹۱۰.

۸ - ابوسعید عبدالحی بی ضحاك گردیزی ، موولف کتاب «زین الاخبار» – سال تالیف در حدود ٤٤۲ هـ - نیز به این موضوع اشاره کرده ، می نویسد : « امیر ، ایزدیار را به سوی کوهپایه ی غزنین فرستاد که آنجا افغانان و عاصیان بودند. ص ۸۷ ، چاپ تهران ، ۱۳۲۷ ، با مقدمه ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قزوینی ، کذا ص ٢٠٤ زینا الاخبار ، به مقابله و تصحیح و تحشیه و تعلیق عبدالحی «حبیبی» ، چاپ بنیاد فرهنگ ایران ، سال ١٣٤٧ خ.

٩ - کلمه ی «شال» را ادیب «پیشاوری» وسعید «نفیسی» در حواشی «تاریخ بهار» ، تعبیرخاصی کرده اند و استاد خلیلی در سلطنت غزنویان ، آنرا حل پشتو دانسته ، معنی منار و بعد یادگار را از آن گرفته است ؛ اما به عقیده ی نگارنده ، این شال و شل ، آن معنی را میرساند که فرخی در شعر خود آن را مخصوص افغانان دانسته که عبارت از نیزه ی کوچك دوپره یی باشد. ظاهراً مقصود از افغان شل ، جایگاه شل سازی یا میدان نیزه بازی افغانان و یا چیزی مانند آنست. شعر فرخی اینست :

به گونه ی شل افغانیان ، دو پره و تیز
جو دسته بسته بهم ، تیر های بی سوفار

– ص ٦٣ ، دیوان فرخی ، چاپ عبدالرسولی ، ١٣١١ ، چاپخانه ی مجلس.

همچنین ، معانی شل به معنی استخر و دیوشل یعنی استخر بزرگ و شال به معنی لباس خاصی که هنوز در افغانستان معمول است ، را نباید از نظر دور داشت.

شال را در «لغت فرس اسدی» ، گلیم کوچك و پشمین معنی کرده و این شعر عنصری را مثال آورده است :

زان مثل حال من بگشت که کسی شال جست و دیبا یافت

ظاهراً افغان شال نام قبیله ای بوده است ، چنانکه بابر در تزك خود مینویسد : « باغات چرخ لهوگر ، بسیار است در دیگر مواضع لهوگر ، باغ نمیشود و مردم او اوغان شال اند.» در کابل این لفظ شایع است. غالباً افغان ، شعاریست که اوغان شال میگویند.

– ص ٨٧ بابرنامه ، چاپ هند ، محرم ١٣٠٨.

گذشته از اینها ، هنوز لفظ شلگی در پشتو به معنی نیزه مستعمل است و نیز کلمات «شال» ، «شالیز» و »شالکوت» را نیز نباید از نظر دور داشت. فخر «مدبر» ، مولف کتاب «آداب الحرب و الشجاعه » ، شل و زوبین را سلاح افغانان خوانده است.

– ص ٢٦٠ ، به تصحیح و اهتمام احمد سهیلی خوانساری ، ١٣٤٦

١٠ - ص ٢٥٦ ، تاریخ بیهقی ، به تصحیح داکتر قاسم غنی و داکتر فیاض ، چاپ رنگین ، ١٣٢٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱ - ص ۲٦۰ ، تاريخ بيهقى.
۱۲ - ص ۲۷۱ ، تاريخ بيهقى .
۱۳ - ص ٤۲٦ ، تاريخ بيهقى .
۱٤ - ص ٤۰۰ ، تاريخ بيهقى .
۱۵ و ۱٦ – ص ٤۵ ، حدود العالم من المشرق الى المغرب ، چاپ مطبعه ی مجلس ، به همت سید جلال «تهرانی» ، جمادی الاول ۱۳۵۳. كذا ص ۳۹۷ حدود العالم ... ، با مقدمه ی بارتولد و حواشی و تعلیقات مینورسکی ، ترجمه ی پوهاند میر حسین شاه ، چاپ مطبعه ی معارف ، سال ۱۳٤۲.
سرپرسی «سایکس» ، از قول مینورسکی نقل میکند که هرگاه کلمه ی «ایگان» که در «التنبیه مسعودی» دیده شود ، کلمات «اوخان» و «ایغان» ، ص ٥٦ التنبیه و الاشراف ابی الحسن مسعودی ، متوفی ۳٤٥ ، چاپ بغداد ، ذکر رفته ، با تغییر یك نقطه به کلمه ی «ابگان» تصحیح شود و این تصحیح ، طرف قبول قرار گیرد. ذکر کلمه ی «اپکان» یا «افغان» ، سی سال پیشر از حدود العالم ، فراتر میرود.
– ص ١٤ ، جلد اول ، تاریخ افغانستان ، چاپ لندن ، سال ۱۹٤۰.
۱۷- ابوریحان «بیرونی» ، در کتاب «الصیدنه» نیز از الجبال الافغانیه یاد میکند.
– ص ۷۱ ، نسخه ی خطی . برای تفصیل ، رجوع شود به مجله ی وژمه ، مقاله ی پوهاند حبیبی زیر عنوان «پښتو د تآریخ او لغت په رڼا کښې» ، شماره ی جوزا و سرطان ... (؟)
۱۸- ص ۷۲ رحله ی ابن بطوطه ، المسات تحفت النظار فی غرایب البصار ، طبع اول ، سنه ۱۳۲٦ و ص ۱۱٤ مهذب رحله ابن بطوطه ، جزو ثانی ، طبع قاهره ، مطبعه ی امیریه ... ، سال ۱۹۳٤.
۱۹ – ص ۱۰٥ و ۱۰٦ راحله ی ابن بطوطه .
۲۰ - طبقات ناصری ، تالیف منهاج الدین عثمان بن سراج الدین معروف به قاضی منهاج سراج جوزجانی در سنه ی ٦٥٨ هـ ، جلد دوم ، به تصحیح و مقابله و تحشیه و تطبیق عبدالحی «حبیبی» ، چاپ مطبعه ی دولتی ، ۱۳٤۳ خ.
۲۱ و ۲۲ - مجله ی ارتش ، مقالات سعید «نفیسی» ، ذیل جغرافیای سیاسی افغانستان و هم ص ٤۱۸ ، تاریخ مفصل ایران ، جلد اول ، تالیف عباس اقبال ، تهران ۱۳۱۲ ، مطبعه ی مجلس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳ - ص ٦۰ تاریخ مفصل ایران .

۲٤ - تاریخنامه ی هرات ، تالیف سیف بن محمد بن یعقوب الهروی در اوایل قرن هفتم ، به تصحیح محمد زبیر «صدیقی» ، مطبعه ی کلکته ، ۱۳٦۲ هـ

۲۵ - ص ۸٦ و ۹۷ ، چاپ سوسایتی بنگال ، کلکته ، مطبعه ی بپتت شن ، ۱۹۳۱.

۲٦ - ص ۸۱ ، ۷۳ ، ۹٤ و نظایر آن ، بابرنامه ی موسوم به تزك بابری و فتوحات بابری در وقایع گات و احوال ظهیرالدین بابر که در زمان اکبر پادشاه ، خان خانان (بیرم خان) از ترکی به فارسی ترجمه کرده و به «تجارب الملوك» موسوم داشته است ؛ چاپ هند ، مطبعه ی چیترا اپرابها ، محرم ۱۳۰۸.

۲۷ - رجوع شود به «لغت شاهنامه ی» ولف ، ۱۹۵۳ ، برلین ، ص ٦۷.

۲۸ - ص ٦۲ دیوان فرخی ، چاپ دبیر سیاقی.

۲۹ - ص ۲ ، دیوان ابوالفرج «رونی» ، چاپ چایکن ، مطبعه ی شوروی ، ۱۳۰٤.

۳۰ - صفحات ٤۸۳ ، ٤۱۸ و ۵۱۷ دیوان مسعود سعد «سلمان» ، به همت آقای رشید «یاسمی» ، چاپ تهران .

۳۱ – شاهنامه ، طبع بمبئی ، سنه ۱۲۷۵ هـ

۳۲ - رجوع شود به صفحه ی ۳۰٦ حماسه سرایی در ایران ، تالیف دکتور صفا و شماره های ۱۱ و ۱۲ سال اول مجله ی باختر ، مقاله ی ملك الشعرا بهار و صفحات ٦۹ و ۷۰ ترجمه ی «تتمه البیان فی تاریخ الافغان» ، تالیف علامه سید جمال الدین «افغان» ، ترجمه ی محمد امین «خوگیانی» ، چاپ مطبعه ی دولتی ، سال ۱۳۱۸.

۳۳ - دایره المعارف ، جزو دوازدهم ، ص ۲٦۵.

۳٤ - ص ۲ د پښتو د ادبیاتو تاریخ ، تالیف پوهاند رشتین .

۳۵ – ص ٦۹ تتمه البیان.

۳٦ - ص ۲۳۹ ، دیوان عنصری با مقدمه و حواشی و تعلیقات ، به اهتمام دکتور یحیی «قریب» ، کتابخانه ی ابن سینا ، ۱۳٤۱ خ.

۳۷ – دیده شود صفحات ٦۰ و ۱۰۹ «پښتانه د تاریخ په ړنا کښې» ، تالیف سید بهادر شاه «ظفرکاکاخیل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۸ - ص ۱٦۹ ، تاریخنامه ی هرات ، تالیف سیف بن محمد یعقوب الهروی (اوایل قرن هفتم) به تصحیح محمد زبیر «صدیقی» ، مطبعه ی کلکته ، ۱۳٦۲ هـ.

۳۹ – ص ٤۸۹ ، روضات الجنات فی اوصاف مدینه الهرات ، جلد اول با تصحیح و حواشی و تعلیقات سید محمد کاظم «امام» ، سال ۱۳۳۸ خ.

٤۰ – ص ٤٦۲ ، روضات.

٤۱ - ص ٦۲ ، ج ۳ روضات ، کذا صفحه ی ۱۱۱.

٤۲ - ص ٦۱ ، تاریخ سلطان مبرور مسمی به «تزك تیمور» ، طبع مطبعه ی فتح الکریم ، بمبئی ، ۲۹ شعبان ، ۱۳۰۷.

٤۳ - ص ۱٤۹ ، مطلع السعدین ، به تصحیح محمد شفیع ، لاهور ، ۱۳۰۰ ؛ به نقل از صفحه ی ۷۸ مجله ی آریانا ، مقاله ی آریانا ، خراسان و افغانستان ، اثر دانشمند محترم انور «نیر»

٤٤ - ص ۸۰ ، بابرنامه ، چاپ هند ، مطبعه ی چیترا پرابها ، محرم ۱۳۰۸ ؛ کذا کلمه ی «افغانستان» در صفحات ۸۸ ، ۸۳ ، ۹۰ و ۱٤۳.

٤٤ - ص ۹۸ و ۱۵۱ ، سلطنت کابل ، تالیف الفنستون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مـلـت

## (لومړی درس)

پر (۱۳۹۲ل) کال موږ په ژوندون ټلویزیون کې د ملي درسونو په نامه د ملي بحثونو یوه لړۍ پیل کړه. هدف دا و چې په دې پروګرام کې د هېواد ملي او علمي شخصیتونه بېلابېلې موضوعګانې وڅېړي چې ولس له خپل هویت او ملي مسایلو سره ښه بلد کړي او د ملت پر وړاندې احتمالي خطرونو ته هم متوجه شي. په خواشینۍ سره چې د هغه وخت سیاسي حالات ترخه غوندې وو، زموږ پوهو او هوښیار علمي شخصیتونو له احتیاط څخه کار واخیست او خطر ته یې اوږه ور نه کړه، خو دا درسونه ما خپله پیل کړل. لومړی درس مې د (ملت) تر عنوان لاندې و. ما چې په دې درس کې د کومو خطرونو اټکل کړی، څلور کاله وروسته همغه خطرونه څرګند شول. دا دی دلته دا لیکنه کټ مټ وړاندې کوم:

په تېره یوه لسیزه کې په هېواد کې د (ملت، ملیت، ملتپالنې، ملت جوړونې او ملت غندنې) په باب بېلابېل او مختلف بحثونه شوي دي، یو شمېر ملت ضد ډلو لا ان په افغانستان کې د (ملت) مفهوم هم نفې کړی او داسې لید لوري وړاندې کوي، چې په هغو کې د واحد ملت له منلو چورلټ انکار کوي، دا ډلې د ملت لپاره خپل خپل تعریفونه لري، خپلخوښي تعریفونه، له ملت څخه انکار او د جعلي یا تصنعي ((ملي اتلانو)) راټوکول د دې ډلو د ویناوو څرګند ټکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی په مقابل کې، که واقعیتونه او حقیقتونه هر ډول دي، خو د واقعیتونو د بیان لپاره زړور او مدبر ملتپال گروپونه او یا هم شخصیتونه ډېر کم دي چې د ملت ضد ډلو د څرگندونو پر وړاندې رښتیا ووایي او واقعیت بیان کړي، ځیني ځانساتي بیا د خپل ډار منطق ته دا سپېروني هم ورکوي چې ((والله نو هغوی چې هر څه وایي، ودې وایي پروا نه کوي ، موږ خو ملي وحدت غواړو که موږ د هغوی ځواب ووایو، موږ به هم د هغوی غوندې شو، نو پرېږده چې هر څه وایي...)) د ځانساتو منطق که هر څه دی، خو دا یو حقیقت دی چې دوی د ملي یووالي په خاطر دا خبره نه کوي، بلکې خپل ډار د (ملي وحدت) تر چتر لاندې پټوي، ملي یووالی خو په دې ټینگېږي چې د ملت ضد عناصرو پر ضد شعوري، هر اړخیزه او دقیقه مبارزه وشي، یو څوک چې زموږ پر هېواد یرغل کوي، موږ به یې په دې خاطر دفاع نه کوو چې موږ له یرغلگرو سره مساوي ونه گڼل شو؟




د ملي هویت مسله هم همداسې ده، یو څوک چې د ملت پر ملي ارزښتونو ملنډې وهي او د هېواد د زرگونو کلونو یووالي او ملي ارزښتونو ته سپوره الفاظ کاروي او موږ بیا په دې پلمه چې موږ ته هم څوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی په سترګه ونه ګوري، واقعیتونه نه وایو، زما په نظر دا د یوه کمزوري ایمان نښه ده، خیر په هر ډول د ملت ضد اشخاصو لاره خپله ده، د ورځچارو او ځانساتو خپله او د ملتپالو افغانانو خپله. د دې لپاره چې د هېواد ځوان پښت د لوست لپاره یو څه وړاندې کړو، ښه به وي چې تر (ملت) وړاندې او وروسته رغنده جوړښتونو ته اشاره وکړو او د هغو پر تعریف لنډه رڼا واچوو.



فرد: یو ځانکړی شخص دی، له نورو څخه جلا ځانګړي ضرورتونه او هدفونه لري او پر بل چا یا شخص د وېشنې وړ نه دی. لکه څنګه چې په ژبه کې (غړ) د ژبې تر ټولو کوچنی واحد دی او پر نورو اجزاوو د تجزیې وړ نه دی، دغسې (فرد) د بشري ټولنې تر ټولو کوچنی، وروستنی او نه تجزیه کېدونکی واحد دی، هر شخص په واقعیت کې د یوې کورنۍ، خېل، قبیلې، قوم، ملت، امت او بشریت بنسټ جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ:** په انساني ټولنه کې د افرادو هغې ډلې ته وايي چې په یوه کور کې ژوند کوي او یو بل سره د وینې شراکت یا ارتباط لري، کورنۍ د بشري ټولنې یو واحد دی. ځینې بشر پوهان بیا مور او اولادونه یانې (مېره، ښځه او اولادونه) چې د یوې کورنۍ هسته ګڼل کېږي او تر دې لږ څه په لویه کچه، خپل او خپلوان چې په یوه ګډ ځای کې اوسېږي، دې ډول جوړښت ته (کورنۍ) وايي. د کورنۍ یو بل تعریف په دې ډول دی: د پلار، مور او اولادونو په ګډون د افرادو یوه ډله ده چې معمولاً د پلار تر ریاست لاندې ژوند کوي، د دې تر څنګ (کورنۍ) لږ په لویه کې داسې تعریفوي:

د خپلو خپلوانو په ګډون د افرادو هغې ډلې ته ویل کېږي چې یو بل سره ارثي اړیکي لري.

یو بل تعریف یې هم شته: کورنۍ د انسانانو هغه ټولنه ده چې د یو مشترک اصل له مخې سره راټوله شوې ده.

**خېل:** په ډېرو قومونو او ملتونو کې د (خېل) پوړۍ نه شته، خو په پښتو کې دا پوړۍ ډېره څرګند ده او موږ د پښتنو په هره قبیله کې څو څو خېلونه لرو، خېل په دې ډول تعریفېږي: د څو کورنیو یوه ټولګه ده چې واحده منشا لري، خېل په یوه محدوده جغرافیه کې اوسي او زیات جغرافیايي وسعت نه لري.

**قبیله:** د څو کورنیو، خېلونو، ټبرونو یا طایفو یوه ټولګه ده چې ګډ اقتصادي اړیکي او د وینې ګډه ریښه لري. د قبیلې یو بل تعریف دا دی: د کورنیو داسې یوې ټولګې ته ویل کېږي چې مشترک نیکونه ولري او دا نیکونه واقعي ښه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې نور بيا قبيله په دې ډول تعريفوي: يو ټولنيز جوړښت دی چې ځو کلي، ناحيې او خېلونه رانغاړي، مشترک فرهنګ، واحده ژبه، ګډه ځمکه او واحد نوم لري، طبيعي خبره ده چې ګډ اقتصادي اړيکي لري او جغرافيايي محدوده يې نسبتاً پراخه ده.

**قوم:** د قبيلې په اندول لوی ټولنيز تشکل دی چې کېدی شي له ځو قبيلو څخه جوړ وي، نسبتاً عصري ژوند او صنعتي اقتصاد لري. ځينې بشر پوهان بيا قوم په دې ډول تعريفوي: د انسانانو هغه ډله ده چې د اصل و نسب ګډه ريښه لري، ګډ فرهنګ، ګډه ژبه، او ګډ چلند لري.

د پورتنيو جوړښتونو تر څنګ په افغاني پښتنې ټولنه کې د پښې، تپې، ګوندی، ټبر، پلرني او ځينې نورې نومونې او جوړښتونه هم شته چې زياتره په نورو ملتونو او قومونو کې دا ډول جوړښتونه نه شته، دا ډول جوړښتونه تر ډېره بريده په عربو، پښتنو او ځينو نورو قومونو کې ترسترګو کيږي.

**ملت:** ملت ته د قران کريم په (البقره) او (آل عمران) سورتونو کې اشاره شوې، په انګرېزي ژبه کې ورته (Nation) کليمه کارېږي، چې اصلاً د لاتيني ژبې له (Natio) څخه اخيستل شوې، د (تولد کېدو) مانا ښندي، د (ملت) همدا عربي شکل په پښتو او دري ژبو کې هم کارېږي، په پښتو کې (ولس) هم کارېږي چې له ملت سره تقريباً مترادفه کليمه ده، په ځينو ژبو کې (قوم) هم د ملت په مانا کاروي. ځينې پوهان وايي:

د ګڼو (سياسي، اقتصادي، نظامي او کهوالۍ او نورو...) اړتياوو له مخې د مشترکو وجوهاتو له امله د قومي ډلو مشارکت ته ملت ويل کېږي.

ځينې بشر پوهان بيا وايي: د قومونو هغې ټولګې ته ويل کېږي چې په واحده جغرافيه کې اوسېږي، مشترک ارزښتونه او ګډ عقايد لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنپوهان په دې نظر دي چې د يوه نژاد او وينې پر بنسټ د يوه سوچه ملت جوړېدل ناممکن دي، دوی وايي: کېدی شي د يوه دين، يوه نژاد او يوې ژبې خلک په بېلا بېلو هېوادونو کې ژوند وکړي، خو مستقل ملتونه وي، دوی د ساري په توګه د (سويس) هېواد يادوي، چې خلک يې په الماني، فرانسوي، لاتيني او ايټالوي ژبو خبرې کوي، خو سويس يو ملت دی، ځېنې بيا دې ډول ملتونو ته (قراردادي) ملتونه هم وايي، امريکا متحده ايالات ، کاناډا، بلجيم او ځينو نور هم په دې ملتونو کې ګڼل کېږي، د بشرپوهانو په نظر: ((ګډه جغرافيا، د يوه واحد دولت تابيعت، ګډې ګټې او زيانونه، ګډ ارزښتونه او باورونه د يوه ملت جوړونکي عناصر دي)) ځينې نور بيا خبره نوره هم رالنډوي او وايي: ((د يوه واحد دولت وګړي يو ملت دی))




ملت او مليت يوه مانا لري؟ پر افغانستان باندې د پخواني شوروي تر يرغل وروسته د (مليت) اصطلاح د يوه قومي تشکل لپاره وکارېدله، تردې وړاندې دا اصطلاح په دې مانا نه کارېدله، د روسانو هدف دا و چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان کې کيو قومونو ته د (مليت) په نامه د هويت يوه نوې بڼه ورکړي او هغوی گنې په دې اصطلاح کې لږ شان لوی وښيي او له پښتنو سره يې د کمي انډول کچه برابره کړي، روسانو په دې اصطلاح کې خپل سياسي اهداف درلودل، د کليمې د حقيقي مفهوم له مخې (مليت) قومي يا ټولنيز جوړښت نه دی، (مليت) (Nationality) ده او (ملت) (Nation) دی، (مليت) په واقعيت کې د (ملت) څرنگوالی او جوهر تشريح کوي، خو روسانو دا کليمه دلته د قوم او ملت ترمنځ د يوه بل تشکل لپاره وکاروله. د ساري په توگه له يوه جرمن څخه که وپوښتل شي هېواد دې کوم دی، هغه به وايي جرمني، (مليت) (Nationality) دې څه دی؟ نو هغه به ووايي (جرمن) يم، يا لکه له کوم افغان څخه چې په بهر کې د (مليت) په باب وپوښتل شي نو هغه به ووايي افغان يم. پاتې دا چې (مليت) د (ملت) تشريح ده نه قومي تشکل.**



**امت: تر (ملت) نسبتاً لويه دايره ده، کېدی شي د څو ملتونو يوه ټولگه په کې راټوله وي، امت په لغت کې (هر څيز) ته ويل کېږي، په اصطلاح کې د هغو خلکو مجموعې ته ويل کېږي چې گډ اعتقادي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي او معنوي ارزښتونه لري، ځینې بیا (امت) همغې ډلې ته وایي چې واحد امام ولري.

د (امت) کلیمه په قران کریم کې (٦۴) ځله راغلې ده، د مشر، لارښود، نمونه، دین او ائین ماناګانې رانغاړي، یا د انسانانو هغې ډلې ته وایی چې د یوې عقیدې پلوي کوي.

د (اسلامي امت) مفهوم هم له همدې مانا څخه الهام اخلي، (اسلامي امت) په پراخ مفهوم سره هغه خلک دي چې ګډ اعتقادات او واحده قبله لري، حضرت علي (رض) دیني او الهي ټولنې ته امت وایي.

د اسلام په سیاسي نظریاتو کې د (امت) اصطلاح کارېږي او هغو خلکو ته چې د نژاد، رنګ او ژبې له توپیر پرته په اسلامي حکومت کې اوسېږي، ټولو ته اسلامي امت وایي، د امت اساسي بنسټ اعتقاد دی، نه رنګ، ژبه، وینه او نژاد.

**بشریت:** په بشري تشکل کې د بشریت اصطلاح هم کارېږي، تر اسلامي امت وروسته د بشریت اصطلاح یوه لویه او پراخه دایره رانغاړي، د بشر هر ډول، په هر اعتقاد چې وي، ټول په دې دایره کې شاملېږي، بشریت په حقیقت کې د (بشر) څرنګوالی ښیي، لکه (ملیت) چې (ملت) توضیح کوي.

د پورته اصطلاحاتو له تعریفونو څخه هدف دا و چې کله کله ځینې خلک له ټولنیزو اصطلاحاتو څخه ناسمه ګټه پورته کوي او یوه ټولنیزه اصطلاح هم د سیاسي غرضونو لپاره کاروي، دا هره اصطلاح ځانته پراخه توضیح او تشریح غواړي، خو په دې لیکنه کې یوازې په لنډیز سره ورته اشاره وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوښتنې او ځوابونه

**کمال سادات** (د سياسي چارو کارپوه): په نوره نړۍ کې بېلابېل مذهبونه او ژبې وي، مگر خپل وحدت يې ساتلی، خو دلته زموږ هېواد کې هر قوم ځانته مليت وايي؟ ملت جوړولو لپاره څه کول پکار دي؟



ځواب: زموږ د ملت ترمنځ اصلاً نفاق نه شته، نفاق د ځينو سياسيونو او سياسي ډلو ترمنځ دی، روسانو دلته د قوم پر ځای د (مليت) کليمه وکاروله، ((مليت)) اصلاً قومي يا ډله ييز شکل نه دی، ((مليت)) د يوه شي جوهر څرگندوي، انگريزي کې ورته نېشنلټي (Nationality) وايي لکه ((انسانيت)) چې د (انسان) جوهر څرگندوي يا ((حيوانيت)) چې د (حيوان) جوهر څرگندوي ، دغسې د (مليت) کليمه هم د (ملت) جوهر څرگندوي، لکه څنگه چې ما په بېلابېلو وختونو کې دې ټکي ته اشاره کړې ده، روسانو د دې لپاره چې د افغان قومونو ترمنځ تصنعي تساوي رامنځته کړي نو يو شمېر وړو قومونو ته يې د (مليت) کليمه وکاروله او بيا يې د ټولو قومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره همدا کلیمه وکاروله، دا کلیمه د ژبپوهنې له مخې د کوم قومي تشکل مانا نه ښندي، بلکې د یوه مفهوم تشخص او ځانګړتیا څرګندوي، د ملي وحدت ټینګښت اصلاً د حکومتونو کار دی، خو دلته په تېرو لسیزو کې اصلاً په خپله حکومتونه او د هغو متصدیان د ملي نفاق سبب شوي دي، نو کله چې دلته ملي حکومتونه جوړ شي، د ملي یووالي لپاره اساسي کارونه تر سره کېدی شي.

**مسعود سروري** ( د ملي تحریک غړی): په دې وروستیو کې ځینو خلکو ته د ملي قهرمانانو لقبونه ورکړل شوي، حال دا چې



هغوی وایي موږ ملت نه یو! او افغانان نه یو او بله پوښتنه مې دا ده چې ځینې خلک تاسو ته متعصب وایي، ولې؟

**ځواب:** ځینې خلک ملت نه مني خو ((ملي قهرمان)) یې مني! دوی خپله زموږ مشکل حل کړی، ځکه چې ملت نه وي، قهرمان یې اتومات نه شته، بل دلته دوه پراډاکسه (ضدین) واقع کېږي.تاسو به داسې پیغمبر نه وي لیدلی چې امت ونه لري، داسې پاچا به مو نه وي لیدلی چې ملت ونه لري او داسې امام به مو نه وي لیدلی چې مقتدیان ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بله خبره  د تعصب په اړه، ريښتيا وينا ترخه وي، نو څوک چې رښتيا وايي، هغه نورو ته مجرم او متعصب ښکاري،د(تعصب) کليمه له (عصب) څخه اخيستل شوې، عصبيت هم له همدې کليمې څخه جوړ**



**شوی او متعصب هغه چاته ويل کېږي چې عصبي ناروغي ولري او زه د خدای ج په فضل شکر دی له بشپړې روغتيا څخه برخمن يم او که په خپله ژبه خبرې کول، زده کړه کول ليک او لوست کول تعصب وي، بيا خو له پښتنو پرته د دنيا نور ټول خلک متعصبين دي، ځکه يوازې پښتانه دي چې په خپله ژبه خبرې نه کوي. په خپله ژبه خبرې کول او تعليم کول دا د هر چا حق دی، الله ج دا حق ورکړی دا زموږ بشري حق هم دی، موږ دغه الهی او بشري مسلم حق غواړو! او څوک چې د دې حق ضد دي اصلي تعصب هغوی کوي، نه موږ. موږ چا سره ستونزه نه لرو او نه  د بل پرحق تېری کوو خو بل چاته هم دا حق نه ورکوو، چې زموږ حقوق تر پښو لاندې کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لایق شاه ځدراڼ (یو تن مدني فعال): د قومونو د وحدت او ملت جوړونې لپاره څه کول په کار دي؟**



**ځواب: قومي ستونزو ته لمن وهل دوه عوامل لري: کورني او بهرني. اصلاً د ملت په متن او بطن کې ستونزه نشته، لومړی باید خارجي لاسونه لنډکړل شي او دا کار هغه وخت ممکن دی چې دلته ملي حکومتونه وي په ملي حکومتونو کې دا ډول اشخاص چې تفرقه اچوي خپل قوت له لاسه ورکوي، ملت ضد مسایل د روسانو د یرغل پر مهال په افغانستان کې گرم شول او دلته یې خپل لاسپوڅی لرل او تر یرغل وروسته نوره هم لمن ورته ووهل شوه خو نوی نسل د دې توان لري چې دا مشکلات حل کړي.**

**عطاالله خان حیران: ځینې کړی او پردیپال افراد د پښتون شتوالی نه شي زغملی او د پښتون د کلیمې ترڅنگ له افغان کلیمې سره هم مخالفت لري او ځینې خلک ځان ته د افغان پرځای ((افغانستاني)) وایي، دوی وایي چې افغان پښتون ته وایي، ستاسې نظر پرې غواړم؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library





ځواب: مترادفات په ژبه کې شته، خو حقیقي مترادفات نه شته،ژبپوهان وايي یوه کلیمه چې د بلې کلیمې پرځای سل په سلو کې مانا ورکړي دا په ژبه کې نه شته. پښتون په ټول افغان کې داخل دی، لکه څنګه چې افغان پشه یان،نورستاني، سکان، تاجک او نور ټول په افغان کې شامل دي دغسې نور قومونه هم د افغان په لویه دایره کې ځایېږي. موږ ستره محکمه وایو، خو غټه محکمه نه وایو، ان نهه لس کلیمې په یوې مانا استعمالېږي، لکه فلانکی ډېر ستر سړی شو،ډېر لوی سړی شو، ډېر نیک سړی شو،ډېر هوښیار سړی شو، یانې د یو کس لپاره مو څو کلیمې وکارولې، خو دا حقیقي مترادفې نه دي، یانې چې ځای یې راشي بیا دا کلیمې خپل خپل ځای لري او مانا یې هم تغیرېږي، دا یو شمېر پښتون ضد عناصر دا کارونه کوي،دوی د منطق له مخې دومره کمزوري دي چې د ژبپوهنې اصول او قواعد هم نه مني.افغان واحده کلیمه ده؛ اشتقاقي نه ده،د تجزیې وړ نه ده.

لکه، افغان نوم دی او افغانستان د مکان نوم دی، یانې هغه سیمه چې افغانان پکې اوسېږي.

لکه څنګه چې د (ګل) لپاره (ګلستان) مکان دی،یانې د ګلو سیمه، دګلو ځای اوس موږ داسې ویلای شو چې ګل نه وي او ووایو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړشه ښارته د ګلانو کوځې نه موړ ته څو ((ګلستاني)) راوړه ایا دامنطق مني؟!!

ته چې ګل نه منې نو ((ګلستاني)) يې بيا څه مانا؟

چې افغان نه منې ((افغانستاني)) څه مانا؟ افغانستان خو مکاني نوم دی چې له لغوي پلوه يې تجزيه کړې بيا هم افغان پاتې کېږي اصل خو پر خپل ځای دی، ته خو يې اصل سره مخالف يې، د دې لپاره چې له  افغان کليمې سره حساسيت وښيي، يوه نامنطقي دايره طی کوي.

دوی يو غلط دليل راوړي چې ((چراپاکستاني ميګيم))! داخبره بايد په علمي ډول واضح شي چې ځينې نومونه دي او ځينې مکان نومونه چې مابعد يې له يوې ريښې څخه چې نوم دی يا قوم دی ارتباط لري،  له هغې ريښې څخه جوړ شوی، صفت څخه نه دی جوړ شوی، افغان نوم دی او افغانستان مکان نوم دی يانې هغه سيمه چې افغانان پکې اوسېږي. لکه تاجک-تاجکستان، ازبک-ازبکستان. پاتې شوه د پاکستان خبره، پاکستان خو د ملت نوم نه دی او نه د قوم نوم دی، بلکې د مذهبي اساساتو پر بنا جوړ شوی يو هېواد دی. هلته  (پاک) صفت دی او (ستان) د اوسېدو ځای، يانې پاکه سيمه، نه د هغو خلکو  په نوم چې پکې اوسېږي.

اکثره چې دلته سياسي بحثونو کې کېني دوی ژبپوهان نه دي په ګرمو احساساتو غږېږي.افغانستان د افغانانو په نوم جوړشوی، افغان او افغانستان ته څوک متبادل نه شي غوره کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځینې خلک وایي داخو د یو قوم نوم دی،زه به تاسې ته د امریکا مثال درکړم ((امریکا)) د تلفظ په لږ تغیر یو ایټالوي گرځندوی دی چې د یو شخص نوم دی، د نړۍ دومره لوی هېواد د یو شخص په نوم جوړ شوی، خلک ورسره حساسیت نه ښیي! او که دلته د یو قوم په نوم جوړ شوی وي، دوی یې نه مني. اول خو موږ ورته قوم نه وایو د ملت نوم دی نه د قوم، افغان کلیمه پر ټولو افغانانو چې دلته اوسېږي اطلاقېږي، او که بیا هم دوی وایي چې نه . خو بیا زه وایم زه ډېر یم زما په نوم یادېږي، لکه یو باغ د نرگیسو باغ دی ډېر پکې د نرگېسو گلان دی نور گلان هم پکې شته خو د نرگیسو باغ په نوم یادېږي، ځکه د نرگېسو گلان پکې ډېر دي،اوس موږ نشو ویلای چې د نرگیسو، لاله،کشمالیو باغ، موږ وایو د نرگېسو باغ نور گلان هم پکې شته دي او ښایسته پرې هم ښکاري.**



**امید حیران:استاده! ځینې رسنۍ زموږ په هېواد کې د ملي گتو،ملي هویت،ملي ارزښتونو او ملي کولتور پرضد خپرونې کوي، حکومت د کوم مصلحت له مخې د دې ډول افغان ضد رسنیو مخه نه نیسي؟**

**ځواب: دا حکومت له بن تر کنفرانس نه نیولې تر اوسه پورې د مضر مصلحت پر بنسټ جوړ شوی، چې دا کار د ملت په گټه نه و،په ډاگه وایم دا کار د دې سبب شو چې اوس ایران تر بل هر هېواد ان تر امریکا هم دلته ډېر نفوذ پیدا کړی او زموږ په هېواد کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي، ژبینو کولتوري، مذهبي حساسیتونو ته لمن وهي، د حکومت په چارو کې فوق العاده وندډه لري، ایران تر امریکا هم د حکومت په رگ رگ کې ننوتی،موږ ځو ځله اعلان وکړ چې راځئ ژوندون ټلوېزیون وارزوئ چې اقتصادي منابع له کومه کوي؟ بیا به دا فورمول پر ټولو تطبیق کړو، خو څوک حاضر نه شول، ځکه موږ پوهېدو چې دلته ځینې رسنۍ شته چې په بشپړه توگه د ایران گټو ته کار کوي. د پاکستان حکومت هم د افغانستان سرسخته دښمن دی، نه د پاکستان خلک، دواړو هېوادو کې ځینې عناصر شته چې موږ سره دښمني لري، باید غم یې وخوړل شي.



میوند ارین(د افغان یون ولسي سراسري خوځښت غړی): کله چې ملت رامنځته شي دوه ارزښتونه لري: مادي او معنوي، افغانستان کې دغو دوو ارزښتونو ته څومره پاملرنه شوې؟

ځواب: ارزښتونه خو افغانستان کې تراوسه پورې حاکم دي، که حاکم نه وای موږ نه پاتې کېدو،د افغانستان شمال او جنوب، شرق او غرب ټول گډ کلتور او مستحکم دیني، مذهبي او نور اړیکي لري. گاونډیو داکوښښ کاوه چې زموږ اسلامي او ملي ارزښتونه له منځه یوسي، دا ملت خپلو ارزښتونو ته ژمن پاتې شوی،دا ټولنه یوه عقیدوي ټولنه ده، زموږ دین اسلام دی او ۹۹،۹سلنه خلک مسلمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ان عربستان کې تر دې کچې نه دي.

مذهبي وحدت بله د ياد وړ خبره ده، پښتانه ،تاجک،ازبک په مذهب کې سره يو دي، اهل تشيعه که په مذهب کې بېل دي خو له نورو افغانانو سره په دين کې يو دي، که تاجک د هزاره وروړنو سره په مذهب کې جلا دي خو په ژبه کې سره يو دي، دوی د يوې غالې ګلان دي، ځينې کړې شته چې د محوې لپاره يې هڅې کوي، خو دې ملت کې همدا ارزښتونه دي چې ملت يې ساتلی.

خاطره (د مېرمن ادبي بهير غړې): ځوانانو ته پکار دي چې ملي يووالي ته کار وکړي، خو ځينې پرديپال شته چې زموږ ملي وحدت، ملي ګټو، ملي اتلانو ته سپکې سپورې خبرې کوي



البته د بيان له ازادۍ نه په ناسمې ګټې اخيستو سره ، ځينې خلک بيا په ټلوېزيونونو کې ناست دي دوی ته وايي چې ستاسې نظر ته په احترام سره، ايا کنځاوو ته تاسو احترام کوئ؟ ايا داسې مرجع شته چې د دې ډول ګډوډيو مخه ونيسي؟ او ايا ارزښتونو ته توهين اوسپکاوی کول د بيان ازادۍ کې شته که نه؟ځکه دا د ژبني تعصب له مخې کېږي يعنې زموږ مشران چې د دوی له ژبې څخه نه دي، دوی ورته توهين کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: اول خو د اساسي قانون له مخې د بیان ازادي تر هغه حده پورې جواز لري چې د بل چا ازادي زیانمنه نه کړي، یانې هره هغه ازادي چې بل څوک زیانمن کړي بیا د بیان دا ډول ازادۍ جواز نه لري او هلته د قانون په چوکاټ کې د بیان ازادي ده، د ملي اتلانو خوندي کول او د واقعي ملي اتلانو خوندي کول ، ځکه چې دې کې باید یو تفکیک وشي، د (واقعي) کلیمې پر کارولو هم شاید ځینې خلک اعتراض ولري چې یو شی به تاته واقعي ښکاري، مورږ ته واقعي نه دی، خو خیر په مجموع کې، هغه شخصیتونه چې د حکومتونو له خوا موسمي اتلان وي د هغو په باره کې د نظر اختلاف شته، خو چې د ملت ترمنځ کوم اتلان وي د هغو په باب د نظر اختلاف نه شته، دې ډول اتلانو د سوونو کلونو په نتیجه کې ځانونه تثبیت کړي دي، هغو ته حکومت القاب نه دي ورکړي، خپله خلکو ورکړي دي، افغانستان کې له بده مرغه چې قضایي یا عدلي ارګانونه ډېر فعال نه دي، په نورو ځایونو کې د دې لپاره حل لارې شته دي. مثال (سلمان رشدي) د دنیا یو لیکوال و، په اسلامي ټولنه کې ورته خلک د تنفر تر حده پورې په سپکه سترګه ګوري او ډېرې زیاتې اشتباه ګانې ترېنه شوي دي، پرته له شیطاني ایتونو څخه چې د اسلام ستر پیغمبر (ص) ته پکې سپکاوی شوی، ده نور کتابونه هم لیکلي دي، یو کتاب یې د (راجیو ګاندي) کورنۍ په باب دی، دا لیکوال د هغو شخصي حریم ته ورداخل شوی و، هغوی پرې عریضه وکړه، په لندن کې په یوه محکمه کې (سلمان رشدي) جریمه هم شو، کتاب یې هم سانسور شو، معافي یې هم وغوښته او ډېر زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوان ورته ورپېښ شو، حتی تر دې پورې چې زړه یې و بیا هېڅکله د چا پر وړاندې داسې هڅه ونه کړي، افغانستان کې توهین او تحقیر اوس عادي خبره ده، اوس ځینې کسان چې تلوېزیونونو کې ناست وي داسې تصور کوي چې زه به یو چاته توهین او تحقیر وکړم یو شمېر حساسیتونه به راوپارېږي، نو زه به دې کې مطرح شم، دلته متأسفانه عدلیي او قضایي ارگانونه حاکم نه دي، باید هغه حاکم شي او حل لار یې راوباسي، که نه دې کې حق تلف کېږي، حق دې ته وایي چې، یو شی له تانه کم شي او ته متضرر شې نو ستا د ژوند همغې برخې ته موږ حق وایو، نو دا چې د یو چا په ستاینه او د بل په غندنه وخت مصرفوي یو طرف ته زیان اړوي، نه دا خپله حق تلفي ده، البته دا خبره د یادونې وړ ده چې حتی که یوه محدوده ډله یا محدوده سیمه یا ولسوالۍ هم یو مشخص شخص ته احترام ولري د هغو خلکو په خاطر چې هلته اوسېږي د هغوی په خاطر باید کوشش وشي چې دې شخص ته توهین ونه شي، د دنیا ډېر غټ غټ مثالونه موږ لرو چې له تشریح یې تېرېږم، خو مجموع کې دا همغه ډلې دي چې موږ ترې شکایت کوو، هغوی یوازې یو شخص نه، بلکې ټول ملت ته توهین کوي، یو سړی دوه ځلې د اطلاعاتو کلتور وزیر پاتې شوی، سړی ورته نه وایم، بلکې یو شخص ځکه سړیتوب، خو ډېر لوی معیار دی، یو شخص دوه ځله د اطلاعاتو کلتور وزیر په توگه او یو ځل د تلوېزیون د رییس په توگه پاتې شوی، په همدې گډوډۍ کې هغه په تلوېزیونونو کې کېني او وایي چې ((ما ملت نیستیم))، نو ته د چا د اطلاعاتو کلتور وزیر وې، ملت نشته، دولت نشته مگر ته پکې وزیر یې، نو دغسې اشخاص دي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ منطق نه لري، خو خدای تعالی يې په خپله ځپېږه وهي، خو د الله پاک اوسېله ډېره ده، زموږ تنګه ده، موږ وايو چې لږ ژر يې ووهي، که نه دغومره چې يې دوی وشرمول په دنيا کې هېڅوک نه دي شرمېدلي، خو بيا هم نه شرمېږي، وايي شرم د هغو دی چې په شرم وپوهېږي، د دوی مشکل په همدې ځای کې دی، نو موږ باید عدلي او قضايي ارګانونه تقويه کړو، چې هغو کې خصوصاً د رسنيو قوانينو ته بايد ډېر پام وي، دې کې چې متضرر شخص هر څوک وي که هغه حکمي وي يا حقيقي وي چې هغه بيا دعوه اقامه کړای شي، اوس نو دا دويم پړاو يې زموږ په قوانينو کې واضح نه دی، څو ورځې مخکې يو جنګسالار پر موږ عريضه کړې وه، ويل يې چې د دوی په ټلوېزيون (ژوندون) کې د ده په نظر چې زه توهين شوی يم، هماغه خبرې موږ د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ورته بېرته واچولې، د همغه جنګسالار خپلې خبرې، نو موږ ويلې که توهنېږي، نو خپله ده ځان توهين کړی، که دا ښې خبرې وي، نو موږ څخه دې تشکر وکړي، که خرابې وي، نو خپله ده ځان توهين کړی، په عوض د دې چې ته عريضه وکړې هغه عريضه کړې وه، بيا موږ خوشاله په دې وو چې په دې وطن کې داسې يوه مرحله رامنځته ته شوه، چې يو جنګسالار پر قلموال باندې عريضه کوي، موږ وويل دا دواړه عريضې دې څارنوالۍ ته راجع شي، څارنوالۍ ويل، وس مو نه رسېږي، نو هغې مرجع ته چې ته عريضه کوې، هغه مرجع تر اوسه دومره کوشېره شوې او دومره قوي شوې نه ده چې قانون حاکم کړي، نو لږ وخت پکار دی چې دې مسايلو ته سمه پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**عصمت الله پښتون: د افغان ملت جغرافیایي حدود کوم دي، د افغان ملت د څه په نوم یادېږي، د افغان ملت کلیمه څومره پخوانۍ ده، ایا د افغانستان تر جوړېدو پخوا افغان ملت شتون درلود که نه؟**

**ځواب:یوه مسله چې په ځینو رسنیو کې یادېږي، چې: ((ما از این خاطر ملت نیستیم که جغرافیه ما مشخص نیست)) نو تاسو وګورئ ، مانا دا چې ستا د جغرافیې یوه برخه د بل چا تر تاثیر لاندې وي، دلته به ملت نه وي؟ د پنځوس کلونو شاوخوا کې جرمني سره دوه بېل بېل هېوادونه وو، چې یو یې تر زیاته حده د روس یا پخواني شوروي تر کنټرول لاندې و، او بل یې نیمه ازاد و یا د امریکایانو تر چتر لاندې یې فعالیت کاوه، ایا جرمن ملت نه و؟ دوو جلا جلا جغرافیو کې یو واحد ملت اوسېده، په جبر باندې سره وېشل شوی و، مګر ملت خو و، یمن پر دوو برخو: شمالي او جنوبي سره ویشل شوی و، ملت په کې نه و؟ کوریا په جبر باندې وېشل شوې، شمالي او جنوبي، ایا ملت په کې نه شته؟ نو زموږ یو طبیعي سرحدونه دي او یو هغه چې اوس یې موږ باندې په زوره، د فشار په نتیجه کې تپلي، خو ملت نه دي منلي، مګر حکومتونو د ناچارۍ له امله ورسره سر خوځولی، زموږ طبیعي سرحدونه له امو څخه تر اباسینه دي، دا زموږ طبیعي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرحدونه دي، څو چې په دې طبیعي سرحدونو کې زموږ حاکمیت ونه چلېږي، دلته دایمي ثبات راوستل هم اسانه کار نه دی، ځکه همدغه گاونډیان او د هغوی کورني تالیڅتي به مداخله کوي او هر وخت به بې ثباتي رامنځته کوي، دا ستا طبیعي حدود دي، بیا په دې طبیعي حدودو کې تقریباً (۳٦۰۰۰۰) کیلو متره مربع ساحه چې په جبر باندې بېله شوې ده، او اوس ستا تر حاکمیت لاندې نه ده، خو زموږ د ملت یوه برخه په کې اوسېږي، موږ په رسمي ډول په دغه اوسنۍ جغرافیه کې ژوند کوو، موږ ادعا لرو او هغه د نړیوالو قوانینو د ټولو ارزښتونو له مخې چې په نړۍ کې د یو ملت د یووالي لپاره په کار دي، خو زور نه لرو، هانگ کانگ سل کاله انگلستان سره و، مگر چین یو مقدر هېواد و، انگرېزانو هانگ کانگ نه خوشې کاوه، د هانگ کانگ وروستی گورنر (والي) یو انگرېز و، کله چې یې هانگ کانگ پرېښودو په سترگو کې یې اوښکې راغلې، بیانیه یې نه شوه ورکولی، ویل یې زه هغه بدبخته والي یم چې زما د حاکمیت په موده کې هانگ کانگ چین ته حواله شو، دا باید نه وای سپارل شوی، مگر چین زور درلود، چین طاقت لاره، په دنیا کې مطرح و، سل کاله یې صبر وکړ، خو بیا هم له خپلې ادعا څخه تېر نه شو او هانگ کانگ یې راخپل کړ، موږ هم دوه سوه کاله صبر کوو، خو د دې مملکت د یوې برخې سند یا قباله چاته نه ورکوو. نو دلته چې په دې ټلوېزیونو کې کېني ((صیب ما خو کشور بې عرض و مرض هستیم))، وروره یوه اشغال شوې برخه ده، په فلسطین کې یوه برخه اسرائیلو اشغال کړې، بله برخه کې یې فلسطینیان اوسېږي، موږه هم دغسې یو، چې زموږ د خاورې یوه برخه انگرېزانو اشغال کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس يې پاتېمړي يا ميراث خور ته پاتې ده، بيا به گورو سره، کله چې مو وس پيدا شو، زور مو زيات شو، منطق قوي شو، نړۍ کې د افغانستان وزن زيات شو، بيا به دا خپله حقوقي دعوه مطرح کوو، د ملتونو په تاريخ کې دا سل کاله هېڅ شی دي.**

**پاتې شوه د افغان کليمه، د افغان کليمه زرگونه کاله قدامت لري، څوک چې يې ډېر مخالف دي، د فردوسي شاهنامه کې دې وگوري، سربېره پر دې ډېر پخوا د افغان کليمه په الماني ژبه کې راغلې، د غرو د اوسېدونکو په مانا، اسلامي اثر (حدود الهام) کې، د ابو ريحان البيروني په اثارو کې، د فروخي سيستاني په اثارو کې او نورو گڼو اثارو کې د افغان کليمه راغلې ده، د يو ملت په توگه راغلې، يو خوا يې (توران) يا (ترکان) يادول، بله خوا يې (افغانان) يادول، د دنيا غټ مفکرين د افغان پر کليمه وياړي، علامه اقبال لاهوري چې د دنيا غټ اسلامي مفکر دی، هغه پر افغانيت وياړي، مگر دلته داسې خلک شته چې د افغانستان شيره زبېښي، مگر د افغان کليمې سره مخالف دي، په هره ټولنه کې دا مکروب وي، په وجود کې هم مکروب وي، دا نو دا مانا نه لري چې موږ مکروب ته تسليم شو، تداوي او وقايه به يې کوو.**



**ارين پکتيار: استاده! دولس کاله مخکې د پېښور په کتابتونو کې ما يو کتاب واخيست چې د زړونو او دماغونو ماينونه نومېده، په هغه وخت کې ما يو تخنيکي ماين پېژانده د زړونو او دماغونو ماينونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره بلد نه وم،نن افغان ولس ته زېړی ورکوم یو نوښت یې شروع کړ، د استاد په مشرتوب به دغه نوښت پر مخ ځي، استاده زما پوښتنه دا ده چې کوم عوامل ملت سره ګنډي او کوم عوامل دي چې ملت سره وېشي؟

**ځواب:** مخکې مو یادونه وکړه چې یو معنوي ارزښتونه دي چې هغه په عقایدو کې، په دین کې، په مذهب کې، په بېلا بېلو فرقو کې خلاصه کېږي، یو اقتصادي مسایل دي چې د یوې ټولنې یا یو ملت افراد ورڅخه ګټله اخلي یا ورڅخه متضرر کېږي، څومره چې په یوه ټولنه کې اقتصادي سوکالي رامنځ ته کېږي د یو ملت د پیوستون لارې چارې ورسره زیاتېږي، خوست یو ولایت دی چې هغه کې لږه اقتصادي زرغونتیا راغلې ده، د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو څخه ورته خلک ورځي پرته له دې چې څوک ورڅخه پوښتنه وکړي چې د کوم ولایت یې، د کومې سیمې یې، په کومه ژبه خبرې کوې، هلته کار کوي، څوک دکانداري کوي، څوک هوټل کې کار کوي، څوک بل کار کوي، ملت سره وتړل شو، همدا ډول په شمال کې کانونه دي، خلک ورځي هلته کار کوي، د اقتصادي ګټو په خاطر، څومره چې اقتصادي ګټې زیاتېږي په مملکت کې د ملت د افرادو ترمنځ مینه، محبت او تړون رامنځته کېږي، تاسو ګورئ اوس، امریکې ته چې خلک ورځي، دلته چې ډېر ځان ته توریالی وایي که د امریکې ګرین کارت چا ورکړ، نو هلته ورځي، ځکه هلته اقتصادي سوکالي ده، هلته ګوره معنوي سوکالي نه شته، مګر اقتصادي سوکالي شته، ښې ټولنې، ښه ملتونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونه هغه دي چې مانیزه او مادي سوکالي ولري، په ځینو هېوادونو کې مادي سوکالي زیاته ده، په ځینو کې کمه ده، په ځینو کې بیا برعکس، افغانستان داسې هېواد دی چې روهي تکیه یې زیاته ده، پر دین باندې د خلکو ډېره تکیه ده، که بل قوم وای او دومره فشار پرې راغلی وای، نو له سره پاشل کېده. نو موږ که غواړو دا ملت سره سوکاله وساتو، واحد یې سره وساتو، باید اقتصادي پلانونه ولرو، چې ملت د اقتصادي ګټو له خاطره داسې سره وتړل شي چې یو بل ته ګټه ورسوي، وګورئ ورور له ورور سره تر هغه وخته ښه وروري کوي چې اقتصاد یې ښه وي، بېلتون او تربګني هغه وخت رامنځته کېږي چې اقتصاد یې د کمزورتیا خواته لاړ شي. څوک چې چا سره دوستي کوي نو وایي چې تاکې مې دا ګټه ده، انسان چې دی د ګټې تابع دی، (ماکیا ولي) یو لوی مفکر دی هغه وایي، انسان د خپل پلار قاتل هېرولی شي، خو د خپلو شتمنیو لوټوونکی نه شي هېرولی، یانې د انسان خصلت داسې دی چې هغه د خپلو ګټو تابع دی، څومره چې ګټې د خلکو زیاتې شي، دې وطن سره دخلکو مینه پیدا کېږي او ملت د یووالي طرف ته ځي.

## محمد نواز حقیقت، د هېواد د ماشومانو د ادب بابا:

ډېر خوشاله شوم چې د ژوندون ټلوېزیون په نوښت باندې داسې ښوونیز او د کار موضوع د تدریس لپاره عملي شوې ده او ملګري هم حاضر دي. په افغانستان کې فعلاً ناخوالې موجودې دي او هره خوا جنګونه هم دي، اساساً لکه عنوان چې نوشته دی (ملي درسونه) له داسې ملي درسونو څخه ځوانان محرومه دي او د افغانستان هغه اساسي ارزښت نه پېژني، باید دې کار ته دوام ورکړای شي، زه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library





یوه نقطه عرض کوم، د افغان او افغانستان په نامه، د افغان کلمه، استاد عبدالحی حبیبي وايي چې (۱۷۰۰)کاله کېږي چې د افغان کلیمه کارول کېږي او د افغانستان کلیمې (۷۰۰) کاله کېږي چې دا کلیمه په افغانستان کې او په نړدې شاوخوا هېوادونو کې او په نړۍ کې استعمال شوې ده، زه غواړم یوه بله خبره اضافه کړم، زه خپله ګوار کوهستانی یم، او د نورستان یا د نورستانو له قوم سره نژدې اړیکي لرم، (ګواري) ژبه یوه (اریایي) ژبه ده چې (سنسکریت) ژبې او (اریک) ژبې ته یې سلسله رسېږي، په (ګواري) ژبه کې دا اوس هم پښتنو ته د (اوګان) کلیمه کارول کېږي، زه فکر کوم چې دا کلیمه (افغان) خپله د (اوګان) کلیمه ده، فقط د (و) پر ځای فعلاً (ف) کارول کېږي او د (ګ) پر ځای (غ) کارول کېږي، دا یوه سوچه افغاني اریایي کلیمه ده او له(۱۷۰۰)کالو څخه یې ډېر وخت کېږي چې دا نوم کارول شوی دی.هغه څوک چې د افغان له کلیمې سره او د افغانستان له کلیمې سره حساسیت ښیي، دا باید وپېژنو چې دا د پردیو مزدوران دي، غلامان دي او د دوی ویستل له دې خاورې څخه یوه ضروري خبره ده او دا د افغانانو یوه فریضه ده، زه نور څه نه وایم، دغسې پوهنیزو او څېړنیزو پروګرامونو ته باید ادامه ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي شورا مخې ته لومړی لاريون

د (۱۳۹۲ل) کال د قوس يا ليندۍ پر (۵) نېټه په مشرانو جرگې کې د يو شمېر مغرضو او پرديپالو غړو د چالاکۍ له امله د مشرانو جرگې اکثريت غړي اغفال شول او پرېکړه يې وکړه چې د هويت په تذکرو کې دې (دين) او (افغان) کليمه نه راځي، دې پرېکړې د اسلامپالو، هېوادپالو او ملتپالو باشعوره افغانانو پر ذهن سخت منفي تاثير وکړ، هغه چا چې دا مسله په ژور ډول درک کړې وه، هغوی تر ټولو زيات لومړني غبرگون ته تيار شول.

د افغانستان ملي تحريک لومړنی خوځښت و چې د قوس يا ليندۍ پر همغه (۵) نېټه يې د مشرانو جرگې (رييس فضل الهادي مسلميار) ته ټلېفون وکړ چې د دې تېروتنې د علت د جبران او د نويو پرېکړو لپاره د هغه په نظر پوه شي، خو د معمول په څېر له ډېرو هڅو سره سره د ټلېفوني ارتباط په ټينگولو بريالي نه شو.

د قوس پر (٦) نېټه ملي تحريک خپله يوه بېړنۍ غونډه وکړه او د غونډې په ترڅ کې پرېکړه وشوه چې د دې پرېکړې پر وړاندې بايد د يو لاريون په ترڅ کې غبرگون وښودل شي.

د مظاهرې لپاره يوازې دوه ورځې وخت په لاس کې و، (پنجشنبه) او (جمعه)، د پنجشنبې ورځ هم په کابل کې رخصتي وي. ټولو تحريکوالو دندې سره ووېشلې، چا د باينرونو د ډېزاين او چاپ، چا د بيرغونو، چا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعارونو او تخنیکي چارو او چا هم له نورو مدني، سیاسي ټولنو او قومي شوراګانو سره د ارتباط چارې پر غاړه واخیستې.

د پنجشنبې پر مازیګر بیا یوه غونډه وشوه چې د کارونو انکشاف وارزول شي، یو څه کارونه پر مخ تللي وو او څه لا پاتې وو.

د پاتې کارونو لپاره وپتېیل شوه چې د جمعې ورځې مازیګر ټول کارونه راټول او د شنبې سهار (۹) بجې ټول په (دهمزنګ څلور لارې) کې راټول شو.

د شنبې ورځ سهار پر خپل وخت د تحریک د څارندوی او تخنیکي ټیم د مظاهرې لپاره د راټولېدو په ځای کې حاضر وو.



د خلکو ګڼه ګوڼه هم ورو ورو زیاتېدله، د یوه ساعت په بهیر کې د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شورا ګانو، د ملي تحریک، سیاسي ګوندونو غړي، د پوهنتونو محصلین چې د ټولو شمېر زرګونو تنو ته رسېده، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمزنګ څلور لارې کې، د دهمزنګ- دارالامان سړک په یوه لیکه کې منظم شول.

لاریون د داسې لوړ افغاني او اسلامي کلتور ښکارندوی و چې نه په کې کابل ښاریان په تنګ شول، نه لارې بندې شوې، یوازې ټاکلی هدف تعقیب شو. مظاهره چیان له دهمزنګ څلور لارې څخه د ملي شورا تر ودانۍ پورې پلي روان شول، یوازې منځنی عمومي سړک د ترافیکو پر مخ بند شو، خو درې فرعي سړکونه د ترافیکو پر مخ خلاص وو او تر مظاهرې وړاندې او وروسته هم ترافیکو ته کومه ستونزه نه وه.

سره له دې چې د کابل په دې سیمه کې د ایران مذهبي او فرهنګي مرکز چې د محسني مرکز په نامه مشهور دی، غوښتل د لاریون پر وړاندې ستونزې راپیدا کړي، خو د لاریون د مشرانو او امنیتي ځواکونو په تدبیر او د لاریونوالو د ګرمو جذباتو له امله ایرانپالو اشخاصو د مظاهرو د اخلال لپاره څه خنډونه په خپل وس پوره ونه لیدل.

مظاهره په ګرمو شعارونو د ملي شورا مخې ته ورسېده، هلته بیا راټول شول، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ګڼ شمېر وکیلان یې هر کلي ته راووتل، همدلته لاریونوالو خپله پرېکړه ولوسته.

## بسم الله الرحمن الرحیم

## اسلام وژغورئ او افغان وژغورئ

## د لاریونوالو پرېکړه لیک

(۱۳۹۲ل) کال د قوس (لیندۍ) (۹) نېټه، کابل- افغانستان

د قوس پر (۵) مه نېټه مشرانو جرګې د هویت د تذکرې په باب داسې یوه ناسنجول شوې، ناقانونه او عجولانه پرېکړه وکړه، چې په ښکاره ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان له ملي او اسلامي هويت سره په تضاد کې وه، د دې جرګې دې ناقانونه پرېکړې د مليونونو افغانانو اسلامي او ملي احساسات راوپارول او د ګڼو مظاهرو په ترڅ کې يې د دې پرېکړې پر ضد خپل اعتراضونه څرګند کړل.

د ملي شورا مخې ته د زرګونو افغانانو مظاهره چې د افغان ملت د ګڼو پرګنو غږ او فکر تمثيلوي، د دغه پرېکړه ليک په ترڅ کې يې د افغان ملت اساسي او ملي غوښتنې منعکس کړي او د ملي شورا له دواړو جرګو څخه په ټينګه غوښتنه کوي، چې د ملت دا غوښتنې عملي کړي:

۱- اسلام او اسلاميت، افغان او افغانيت زموږ د ملت دوه داسې ستر ارزښتونه دي چې هېڅوک حق نه لري، د دې ارزښتونو پر ضد په پټه يا ښکاره، قصدي يا ناقصدي، شعوري يا ناشعوري ډول هڅې وکړي.

۲- (اسلام) زموږ د ديني يا اعتقادي او (افغان) زموږ د ملي او تاريخي هويت دوه ځلانده نومونه دي، د هېڅ قانون، مصوبې او پرېکړې په نوم مغرضې هڅې ، چې دې دوو سترو نومونو ته زيان ورسوي، له يوې مخې مردودې دي او عاملينو ته يې د سختې سزا غوښتونکي يو.

۳- د قوس پر (۵) مه نېټه د مشرانو جرګې پرېکړه ناقانونه او د ځينو مغرضو کړيو د فشار زېږنده ده، پدې پرېکړه کې افغانيت او اسلاميت ته زيان رسېدلی. دا پرېکړه په هېڅ ډول افغان ملت ته د منلو وړ نه ده، مشرانو جرګه بايد په خپله ژر تر ژره دا ناقانونه فيصله ناقانونه او باطله اعلان کړي.

۴- هغه څوک چې د (افغان) او (اسلام) له کليمې سره حساسيت ښيي، بايد ژر تر ژره ملت ته وروپېژندل شي. ملت خپله ښه پوهېږي چې د دې ډول اشخاصو پر وړاندې څه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- د (ملت کور)، (ملي) او د (ملت استازي) اصطلاحوې هم باید توضیح شي، د کوم ملت کور؟ کومه ملي شورا؟ او د کوم ملت استازي؟ ځینې په اصطلاح وکیلان چې د افغان کلیمې د یادونې مخه نیسي، هغوی ته دا ډول اصطلاحوې څه ماناوې لري؟ زموږ د ملت نوم (افغان) دی. هېڅ بله کلیمه د دې کلیمې ځای نه شي نیولای.




٦- لاریون وال د ټولو هېوادوالو د اصلي او اساسي غوښتنې پر بنسټ، له حکومت او د ملي شورا په ګډون له ټولو ارګانونو څخه په ټینګه غوښتنه کوي چې د اسلام د مقدس دین او باغیرته افغان ملت د روښانه تثبیت په خاطر دې د تذکرې په اوسني جوړښت کې سل په سلو کې د (دین) او (ملیت) کلیمې ولیکل شي. (ملیت) د (افغان ملت) د پېژندنې په مانا دی، نه د قومیت یا قومونو د پېژندنې په مانا. هغه تذکرې چې په هغې کې (افغان) کلیمه د (ملیت) او (اسلام) د (دین) د ستونونو پر وړاندې ونه لیکل شي، په هېڅ وجه د منلو وړ نه دي. موږ (بې دینه) او (بې ملته) تذکرې نه غواړو.

۷- لاریونوال د هغو په اصطلاح وکیلانو چې د پردیو په لمسون یې پدې تېره موده کې د اسلامي او ملي هویت د مسخه کولو هڅه کړې او تر بېلابېلو عنوانونو لاندې یې دا ستر ارزښتونه څنډې ته کړي، د کلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غندنې ترڅنګ، د اسلامپالو، افغانپالو او هېواد پالو وکیلانو د زیار، کار او مبارزې ستاینه او مننه کوي، چې د (ایران)، (پاکستان)، (روس)، (غرب) او نورو افغان ضد کړیو د پټو او ښکاره توطیو پر وړاندې یې تر دې دمه په ډېر عزت، غیرت، دقت او شهامت مبارزه کړې ده، موږ له دې وکیلانو څخه په ډېر درنښت هیله کوو چې خپلو دې ډول مبارزو ته د ټولو افغان ضد، اسلام ضد او هېواد ضد مکروبونو او رنځونو تر ختمولو پورې دوام ورکړي او پرې نه ږدي چې ایرانی، پاکستانی او غربی هویت د افغاني هویت ځای ونیسي.**

**په درناوي**

**د اسلام وژغورئ او افغان وژغورئ د مظاهرې ګډونوال**

**بیا د لاریونوالو په استازی (۱۲) تنه مخور شخصیتونه چې د بېلابېلو بنسټونو استازي یې کوله، د ولسي جرګې له مشر (عبدالروف ابراهیمي) سره وکتل او هغه ته یې په خپلو خبرو کې څرګنده کړه چې افغانان په هېڅ**



**وجه له اسلامیت او افغانیت څخه تېرېدونکي نه دي، ولسي او مشرانو جرګې باید خپلې تېروتنې اصلاح کړي او که نه د ملت له ټینګ غبرګون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به مخ شي، د ولسي جرگې مشر ژمنه وکړه چې د لاريونوالو غوښتنو ته به د حل لاره راباسي.

بيا همدې هيئت د مشرانو جرگې له رييس (فضل الهادي مسلميار) سره وکتل، د مشرانو جرگې رييس د لاريونوالو حرکت وستايه او دا يې يو مدني کار وباله، مسلميار هم له لاريونوالو سره ځان همنظره وښود او تر ګڼو خبرو اترو وروسته د دې تېروتنې د اصلاح لپاره پر يوه پلان موافقه وشوه.



د ملي شورا د دواړو خونو رييسانو سره تر کتنې وروسته پوهنوال محمد اسمعيل يون لاريونوالو ته د دې کتنې جزيات او نتايج په ډاګه کړل، پوهنوال يون لاريونوالو ته وويل:

۱- ستاسو لاريون تر (۵۰) سلنې زياته مثبته نتيجه ورکړه، په اصولو کې زموږ غوښتنې ومنل شوې اوس به يې د عملي تطبيق لپاره کار کوو.

۲- مشرانو جرگې ومنله چې دوی به له ولسي جرگې سره ګډ کمېسيون جوړوي، که چېرې د ولسي جرگې له خوا د هويت په تذکرو کې د (اسلام) او (افغان) کليمو پر نه ليکلو ټينګار وشو، نو مشرانو جرگه به دا پرېکړه ردوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- لاریونوالو له مشرانو جرګې وغوښتل چې په مختلط کمېسیون کې دې د دې جرګې په استازیتوب باید داسې اشخاص معرفي کړي چې له اسلامیت او افغانیت سره مینه ولري.**

**۴- کله چې مشرانو جرګې د ولسي جرګې طرح رد کړه، ولسي جرګه بیا په دوو ثلثو افغان ضد او اسلام ضد پرېکړه نه شي کولای. ځکه چې په ولسي جرګه کې ملتپال او اسلامپال افغانان ضرور د دې پرېکړې مخه نیسي.**

**۵- ولسي جرګه پر اسلامیت او افغانیت د رایې اچونې حق نه لري، خو که بیا هم دوی د دې سترو ارزښتونو پر ضد پرېکړه وکړي، نو په دې حالت کې دې د ولسي جرګې اسلامپال او افغانپال وکیلان خپل نومونه او لاسلیکونه په رسمي ډول له رسنیو خپاره کړي. چې افغانپال او اسلامپال وکیلان له افغان ضد او اسلام ضد وکیلانو جلا شي.**

**٦- په دې حالت کې مو، نو بیا له ولس څخه هیله ده چې اسلام ضد او افغان ضد وکیلانو ته له اسلامي او افغاني اصولو سره سمه سخته سزا ورکړي.**

**مظاهره د همدې نتیجې په اعلان سره پای ته ورسېده، دا د هېواد په اوسني تاریخ کې داسې یوه هدفمنه مظاهره وه، چې پیل او نتایج یې درلودل، نه په کې چاته زیان ورسېده، نه په کې اخلال رامنځته شو او نه هم له خپلو اصولو ووتله د دې ترڅنګ د قضیې ټولو خواوو پر اصلي موضوع بحث وکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یادونې وړ ده چې پر همدې ورځ د پاکستان لومړی وزیر هم کابل ته راته، اکثره لارې بندې وې، زموږ زیات شمېر هېوادوال چې د کابل له شاوخوا سیمو څخه دې مظاهرې ته راروان وو، پر وخت راونه رسېدل او همدارنګه د ښار له ګڼو سیمو څخه چې هېوادوالو غوښتل د ملي او اسلامي ارزښتونو د پالنې په دې لاریون کې ګډون وکړي، هغوی هم له هڅو سره سره پر خپل وخت مظاهرې ته راونه رسېدل، خو بیا هم د لاریونوالو شمېر دومره زیات وو چې د شمېر له مخې کوم کمی په کې نه احساسېده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوست او د ملي هويت ننګه

**کله چې کابل کې د ملي شورا مخې ته مظاهره وشوه، نو ورسره هممهاله په خوست، کونړ، ننګرهار او يو شمېر نورو ولايتونو کې هم د ملي شورا د پرېکړو پرضد مظاهرې وشوې.**




**خوست لومړنی ولايت و چې په زرګونو هېوادوال واټونو ته راووتل او پر مظاهرو يې لاس پورې کړ. په دې مظاهره کې بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ځوانو بنسټونو او د ملي خوځښتونو استازو ګډون کړی و. لاريونوالو اسلاميت غواړو، افغانيت غواړو شعارونه ورکول او د ملي شورا پر هغو وکيلانو يې د مرګ نارې وهلې چې د دغو دوو ارزښتونو پرضد يې کارتونه پورته کړي وو. دوی دا هم ويل چې دا د ملت استازي نه دي او کوم کار چې دې وکيلانو وکړ، دا د اساسي قانون د محتوا خلاف دی او دوی اصلاً د دې حق نه لري چې پر ملي او عقيده‌يي هويت رايه اچونه وکړي. دوی دا هم وويل چې د مشرانو جرګې او ولسي جرګې غړي دې له ملته ښښنه وغواړي او که نه په کار ده چې محکمې ته معرفي شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کونړیان او ملي هویت

د (۱۳۹۲ل) کال د لیندۍ پر (۱۱)مه نېټه چې د (۲۰۱۳م) کال د ډسمبر له لومړۍ نېټې سره سمون خوري، په کونړ کې هم ګڼ شمېر ځوانان راپاڅېدل او د هویت په تذکره کې یې د دین او ملت د لیکلو له داعیې څخه ملاتړ څرګند کړ.

په دې مظاهره کې د کونړ مدني ټولنو، قومي شوراګانو او د ځوانانو بېلابېلو بنسټونو برخه اخیستې وه.

مظاهره د کونړ د اسعد اباد په مرکزي واټ کې ترسره شوه. لاریونوالو ګواښ کاوه، چې له افغانیت او اسلامیت پرته تذکرې مانا نه لري، دوی وویل، نه یوازې دغه ډول تذکرې به وانه خلي، بلکې د تذکرو دفترونه به وتړي.

راټولو شوو خلکو له تذکرو څخه د افغان او د اسلام د کلیمو ویستونکي غداران بلل او له حکومته یې د هغوی نیول غوښتل.

په کونړ کې خبریال نعمت الله کریاب وایي، لاریونیان تر بل هر وخت ډېر قهرېدلي وو او ددغې پرېکړې پر وړاندې یې د خلکو د پاڅون خبره کوله.

د لاریون ډېر ګډونوال د دیني مدرسو، لېسو او پوهنتون محصلین وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوی پرله پسې هغه کسان غندل، چې له تذکرو يې د اسلام او افغان کليمې ويستې دي.**

**لاريونوالو ويل پر اسلاميت او افغانيت يې خورا ډېرې قربانۍ ورکړي او تر هغه به غلي نه شي چې د تابعيت په تذکرو کې يې دغه دواړه کليمې نه وي ليکل شوې.**

**لاريونيانو دا هم ويل چې د افغان له کليمې پرته تذکرې نه اخلي او گواښ يې کاوه چې د تذکرو د وېشونکو دفترونه به له منځه يوسي.**

**مظاهره چيانو له حکومته هم غوښتنه کوله چې پرېکړه کوونکي د غدارۍ په نوم د افغانستان لويې څارنوالۍ ته ولېږي.**

**دوی همدا راز ويل که يې غوښتنې ونه منل شي لارو ته به راووځي او**



**په تاوتريخوالي به لاس پورې کړي.**

**د لاريونيانو له منځه ځينو د خولو د تړلو خبره هم کوله او له دغه اړخه د راپورته کېدونکو زيانونو پړه يې پر هغو اچوله، چې د دوی په وينا له تذکرو يې د اسلام او افغان د کليمو ويستلو پرېکړه کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تذکره کې باید د دین کلیمه ضروري ولیکل شي. هېڅکله به موږ داسې تذکره وانه خلو، چې د دین او افغانیت کلیمه په کې نه وي راغلې.

په ورته وخت کې د مشرانو جرگې رییس فضل الهادي مسلمیار وایي دا کلیمې نه دي لرې شوي.

"زه نن یوځل بیا افغان ولس ته وایم، چې مشرانو جرگې هېڅکله د خپل دین او افغانانو خلاف داسې قانون نه دی تصویب کړی، چې د سردردۍ لامل شي، په تذکره کې د دین کلیمه ساتل شوې، نه لرې شوې او نه به لرې شي، هېڅکله به موږ داسې تذکره وانه خلو، چې د دین او افغانیت کلیمه په کې نه وي راغلې، البته اختلاف پر دې دی، چې دغه توري د نویو تذکرو په کوم ځای کې ولیکل شي. د مشرانو او ولسي جرگې گډه جرگه به په دې باب پرېکړه کوي او بیا به ټولو ته اعلان شي."

پردې سربېره لاریونوالو د ولسمشر کرزي له وروستي دریځه هم ملاتړ کاوه، چې د امنیتي او دفاعي تړون په تړاو یې د امریکا پر وړاندې خپل کړی.

په کونړ کې لاریونوالو د خپل لاریون په پای کې یو پرېکړه لیک هم صادر کړ او په هغه کې یې له دولت څخه غوښتنه کړې وه چې که د هویت په تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمې ونه لیکل شي، نو دوی به پر پراخو لاریونونو لاس پورې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګرهار او د خپل هویت ملاتړ

**د خوست او کونړ ترڅنګ په ننګرهار کې هم د اسلامیت او افغانیت لپاره درنه مظاهره وشوه، په دې مظاهره کې چې په جلال اباد ښار کې ترسره شوه. د ځوانانو بېلابېلو بنسټونو، قومي شوراګانو او سیاسي خوځښتونو ګډون کړی و. لاریونوال د جلال اباد ښار په پښتونستان واټ**




**کې سره راټول شوي وو، د افغانیت او اسلامیت پر ملاتړ یې شعارونه ورکول او هغه کسان یې غندل چې په ملي شورا کې یې د هویت په تذکره کې د دې سترو ارزښتونو له لیکلو سره مخالفت کړی. لاریونوالو د بلخ د والي عطامحمد نور پرضد هم شعارونه ورکول چې ویل کېږي، یو شمېر وکیلان یې د افغانیت پرضد تطمېع کړي دي. لاریونوالو د عطامحمد نور او یو شمېر نورو جنګسالارانو عکسونو ته هم اور هم ورته کړ او ګوتڅنډنه یې وکړه چې له د اساسي قانون له روحیې سره سم د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) ستون ونه لیکل شي، نو پر لویو مظاهرو به لاس پورې کړي، د کابل-جلال اباد او د هېواد نورې لویې لارې به وتړي او په دې برخه کې چې هره ستونزه پېښه شوه، مسوولیت به یې د حکومت پر غاړه وي.**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام وژغورئ او افغان وژغورئ

## (دويمه غونډه)

د (۱۳۹۲ل) کال د لېندۍ پر (۱۵) مه نېټه د ژوندون ټلوېزيون او د (اسلام و ژغورئ او افغان وژغورئ) په ملاتړ د ژوندون ټلوېزيون په انګړ کې يوه پراخه غونډه جوړه شوه .دا غونډه چې د افغانستان ملي تحريک په ګډون د لسګونو مدني ټولنو او ځوانو خوځښتونو په سوونو غړو په کې ونډه اخيستې وه، ماسپښين مهال پر دريو بجو پيل شوه. د ژوندون خبريال په دې باب وايي:



غونډه د قاري عبدالله عاجز له خوا د قران کريم د څو مبارکو ايتونو په تلاوت سره پيل شوه.

ورپسې د افغانستان ملي سرود وغږول شو.

تر ملي سرود وروسته د ژوندون ټلوېزيون موسس استاد پوهنوال محمد اسمعيل يون د غونډې اساسي وينا واوروله او پر هغو مسايلو او کشمکشونو يې پراخه رڼا واچوله چې د هويت په تذکره کې د اسلام او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان کلیمو د نه لیکلو له امله راپیدا شوې دي. استاد یون د هغو اشخاصو پر نېتونو هم رڼا واچوله چې غواړي دې ملي داعیې ته قومي رنګ ورکړي، یون د ایرانپالو رسنیو د تمویل د سرچینو د رڼاوي غوښتنه هم وکړه او خپله یې هم په ډاګه اعلان کړه چې هر وخت د ژوندون د پرسونل او مالي سرچینو په اړه رڼاوي ته تیار دی.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې له بېلا بېلو سیمو څخه ګڼ شمېر ځوانانو هم ګډون کړی و، د هغوی په استازۍ څو تنو د ژوندون ټلوېزیون ننګه او ملاتړ وکړ.

په غونډه کې د پښتون خوځښت په استازۍ (خیر الله شینواری) خبرې وکړې، له چارواکو څخه یې د ملي وحدت د تعریف په باب وضاحت وغوښت، شینواری هم د ژوندون ټلوېزیون ننګه وکړه او د دې ټلوېزیون د کار کوونکو جرئت یې وستایه. د علومو اکاډمۍ غړي څېړندوی محمد حسن توحیدي هم په دې غونډه کې خبرې وکړې او د قران په رڼا کې یې د هویت په تذکره کې د اسلام او افغان کلیمو د برحقې داعیې غوښتنه وکړه، توحیدي وویل: اسلام باید پر مذهبونو او افغان ملت باید پر قومونو ونه وېشل شي، قران موږ د یو والي خواته رابولي. د غونډې په پای کې د افغانستان ملي تحریک غړي (قدرت الله بدلون) له خوا د غونډې د برخوالو پرېکړه لیک ولوستل شو، چې (۱۱) مادې یې درلودې، د پرېکړه لیک په لوستلو سره غونډه رسماً پایته ورسېده. د پرېکړه لیک متن په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم**

**اسلام وژغورئ او افغان وژغورئ**

**د دويمې غونډې د ګډونوالو پرېکړه ليک**

**د ۱۳۹۲ کال د لېندۍ ۱۵ مه نېټه ،کابل-افغانستان**

**۱ -له ملي شورا څخه يو ځل بيا په ټينګه غوښتنه کوو چې حتمي او ضروري دې د تذکرې پر لومړي مخ د اسلام او افغان کليمه چې زموږ د دين او ملي هويت ښکارندويي کوي، وليکل شي. پر دې دوو سترو ايډيالونو هېڅوک د رايې اچونې حق نه لري.**

**۲ -هيڅ بله کليمه، هيڅ بل انډول، هيڅ بل الترنتيف او بديل د دې کليمو ځای نه شي نيولی.**

**۳ -له دولت څخه که رښتيا هم دولت وي، په ټينګه غوښتنه کوو، چې د اسلامپالو او ملتپالو او د هغوی په مقابل کې د قومپالو او پرديپالو ترمنځ د توپير اخلاق او جرئت پيدا کړي.**

**۴- يو شمېر سمتپال، قومپال او پرديپال اشخاص او کړۍ دولتي امکانات د خپلو تنظيمي، سمتي او قومي ډلو لپاره کاروي، له دولت څخه غوښتنه کوو چې دا ډول ياغيان او پرديپال مهار او د قانون منګولو ته وسپاري .**

**۵- موږ د هويت په تذکره کې د چا د قوم او قوميت د ليکلو مخالفت نه کوو خو ټينګار کوو، چې دا ډول مسايل دې په چيپ يا ډيټا کې راشي، دغه راز به چيپ کې د (مذهب) د ليکلو غوښتنه هم کوو، خو د تذکرې پر لومړي مخ يوازې د (اسلام) او (افغان) کليمو پر ليکلو ټينګار کوو.**

**٦ -له ولسمشر کرزي څخه په ټينګه غوښتنه کوو چې د يو شمېر جنګسالارانو، قومپالو او ايرانپالو تر فشار لاندې په هېواد کې نوي راټوکېدلي ملي خوځښتونه ونه ځپي او د حکومتي وسايلو په زور د هغوی د جرئت وزرونه ونه تړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ -له ولسمشر څخه بیا هم غوښتنه کوو چې د ملي وحدت د ټینګښت لپاره د پښتو او دري ژبو د انډول او تناسب بهیر دې ژر تر ژره پر خپلو مرستیالانو هم تطبیق کړي، دا بهیر باید له ارګه پیل او د هېواد تر کلیو او بانډو پورې ورسېږي.

۸ -د غونډې برخوال په ټینګه وایي چې د هېواد د اسلامي او ملي هویت دخوندیتابه لپاره د ژوندون ټلوېزیون، د افغانستان ملي تحریک او نورو ورته خوځښتونو پوره پوره ملاتړ کوي .

۹ -یو شمېر ځانپلوري او پردیپال چې هم په حکومت کې دي او هم له حکومت بهر، هڅه کوي چې پر ژوندون ټلوېزیون فشار راوړي او له خپلې دې ملي او اسلامي لارې یې واړوي او که داکار ونه شو، نو بیا په دولت کې د واکمنو ایرانپالو کړیو له لارې د دې هېوادني او ملي مرکز د تړلو هڅه کوي. موږ ټولو دولتي او نا دولتي ارګانونو ته دا په ډاګه وایو چې هېڅ حکومتي ناحکومتي جنګسالار، ایرانپالي او پنجابپالي ته د دې اجازه او مجال نه ورکوو چې د ټولو افغانانو دې ستر مرکز ته کږې هم وګوري.

۱۰ -د هېواد له عدلي، قضایي او تقنیني ارګانونو او په ټوله کې له دولت څخه غواړو چې د پردیپالو او هویت خرڅوونکو د جزا او کنترول لپاره باید څرګند قانون جوړ او عملي کړي.

۱۱- دولت دې ژر تر ژره، یو ناپېیلی هیئت وټاکي چې په هېواد کې د ټولو رسنیو مالي سرچینې، تخنیکي امکانات او پرسونل ټول وارزول شي، چې څوک له کومه ځایه خړوبېږي.

په درناوي

ژوندی دې وي افغان ملت

مړه دې وي د افغانستان پټ او ښکاره دښمنان

سر لوړی او اباد دې وي افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه څارنوالي او زموږ هدف

د (۱۳۹۲ل) کال د لیندۍ پر (۱۹)مه چې د (۲۰۱۳م) کال د ډسمبر له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، ژوندون راډیو تلوېزیون لویې څارنوالۍ ته د افغانیت، اسلامیت، افغان او افغانستان ضد اشخاصو، رسنیو او کړیو د توطیې پر وړاندې خپل غوښتنلیک وړاندې کړ.

په هغه کتنه کې چې د همدې ورځې پر سهار ما (یون) له لوی څارنوال ښاغلي (محمد اسحاق الکو) سره درلودله، له لوی څارنوال څخه




مې وغوښتل، د هغه ملي حرکت چې د افغان، افغانیت، اسلام او اسلامیت د خوندیتابه لپاره د مدني ټولنو، افغانپالو او اسلامپالو خوځښتونو له خوا پیل شوی، قانوني او حقوقي ملاتړ وکړي او یو شمېر ایرانپالې کړۍ او رسنۍ پرې نه ږدي چې د هېواد ملي هویت مسخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له لوی څارنوال وغوښتل چې د دوی دغه عادلانه غوښتنې د قانون په چوکاټ کې وڅېړي. لوی څارنوال زما غوښتنې هغه موظف هیئت ته راجع کړې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر (سید مخدوم رهین) او د یو شمېر نورو کړیو د غوښتنې له امله جوړ شوی و. دا کمېسیون د سید مخدوم رهین په غوښتنه جوړ شوی او له هغه څخه د ژوندون تلوېزیون او یوې بلې چاپي رسنۍ د تعلیق غوښتنه شوې وه. ما دې موظف کمېسیون ته خپل وضاحت ورکړ او د دې یادونه مې وکړه چې ښاغلی رهین او د مشرانو جرگې مرستیال او د فرهنگي او دیني چارو د کمېسیون مشر له ژوندون تلوېزیون سره سیاسي ستونزې لري او د سیاسي انگېزې له مخې د ژوندون تلوېزیون پر وړاندې دا حرکت کوي. د رسنیو د سرغړونو کمېسیون هم د ښاغلي رهین تر فشار لاندې دی او ان د عطا محمدنور فشار هم په دې برخه کې احساسېږي.

نو ځکه خو دا مکتوب او نظرونه او دا ډول اشخاص سیاسي انگېزه لري، ژوندون تلوېزیون ته د دې ډول اشخاصو نظر د منلو وړ نه دی او نه هم قانوني بڼه لري.

ما له لوی څارنوال څخه د (ضمیر) د قاضي کولو غوښتنه هم وکړه، ومې ویل مخکې تر دې چې موږ پر یو چا باندې د کاغذي او فزیکي اسنادو خبره وړاندې کړو، ضمیر باید قاضي کړو. زه هم پر دې پوهېږم، ته هم، ولسمشر هم او نور افغانان هم پر دې پوهېږي چې د محسني صیب مدرسه او تمدن تلویزیون له ایرانه خړوبېږي، د دې په مقابل کې چوپ پاتې کېدل له افغان او مسلمان ولس سره ستره جفا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما لوی څارنوال ته وویل چې د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق په باب د ښاغلي رهین پرېکړه شخصي، سیاسي او له قومي تعصبه ډکه ده او هېڅ ډول قانوني بنسټ نه لري، د رسنیو د سرغړونو د کمېسیون په نامه یې خپله ذهني پرېکړه رالېږلې ده او یوه بله کوچنۍ چاپي رسنۍ یې ځکه له دې مسلې سره یو ځای کړې چې له ژوندون ټلوېزیون سره خپل پخوانی او اوسنی تعصب پټ کړي.**

**هغه غوښتنلیک چې د ژوندو ن ټلوېزیون له خوا مې لویې څارنوالۍ ته وسپاره، په دې ډول دی:**

## د افغانستان اسلامي جمهوریت د لویې څارنوالۍ محترم مقام ته!

**په دې ورځو کې د یو شمېر پردیپالو، ایرانپالو، افغان ضد، اسلام ضد او هېواد ضد کړیو له خوا د افغان، افغانیت، اسلام او ا سلامیت پر ضد پټې او ښکاره هڅې زیاتې شوي، یو شمېر پردیپالې رسنۍ هم په دې ناوړه هڅو کې شاملې دي.**

**ژوندون داسې یو ټلوېزیون دی چې د افغانانو په مالي پانگه، بسپنو او مرستو جوړ شوی او د خپل فعالیت له پیله یې بیا تردې دمه د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او هېواد د ملي گټو لپاره تر خپل وروستي وسه کار کړی دی.**

**ژوندون راډیو تلوېزیون په دې وروستیو کې د یو شمېر ایرانپالو او پنجابپالو کړیو او رسنیو تر پراخ یرغل لاندې دی. دوی غواړي د هېواد د دې ملي او رسنیز مرکز پر وړاندې خنډونه پیدا کړي، په حکومت کې له تنظیمي کړیو، تنگنظرو او هغو اشخاصو څخه هم کار اخلي چې نه غواړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ملت د ځلانده هویت او قوت خاوند شي، نو ځکه خو د ټولو د فشار تمرکز پر ژوندون راډیو ټلوېزیون باندې دی. ژوندون راډیو ټلوېزیون د هغو هېواد پالو، اسلامپالو او ملتپالو افغانانو غږ په ښه ډول منعکس کړ چې غوښتل یې د هویت د تذکرې پر لومړي مخ د اساسي قانون له حکم سره سم د اسلام او افغان کلیمې ولیکل شي، دې خبرې د یو شمېر ایرانپالو، پنجابپالو او نورو پردیپالو حساسیتونه راوپارول، نو ځکه خو یې له هغو دولتي ارګانونو څخه چې په یو نه ډول یې ځینې اشخاص د افغان ملت له ملي هویت سره حساسیت لري، ناوړه ګټه پورته کړه او د ژوندون ټلوېزیون پر ضد یې عرایض وړاندې کړل. دا ډلې غواړي له دې ملي موضوع څخه د خلکو پام قومي موضوعګانو ته واړوي.

موږ د افغانستان له لویې څارنوالۍ څخه دغه لاندې غوښتنې لرو:

۱ -له لسو کلونو راهیسې دې ټولې رسنۍ وارزول شي چې څومره نشرات یې د هېواد د ملي ګټو لپاره کړي او څومره نور یې د ملت، اسلام او افغانیت پر ضد دي.

۲ -د ټولو رسنیو د تمویل سرچینې او پرسونل دې په هر اړخیز ډول وارزول شي، هره نا مشروع سرچینه دې رڼه شي او هغو رسنیو چې له ایران، پاکستان او یا نورو نامشروع سرچینو څخه یې پیسې تر ګوتو کړي، باید عدلیي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.

۳ -د ملي او قومي رسنیو ترمنځ دې سره کرښه راکاږل شي: څوک، افغان، افغانستان، اسلام او د هېواد ملي ګټې غواړي او څوک قومي مسایل خپروي. قومپالي اوس دومره سپین سترګي دي چې هم قومي تفرقه اچوي او هم یې پړه پر بل باروي.

۴ -څوک چې په ټلوېزیونونو کې د افغانستان ملي سرود او ملي بیرغ پر ځای نور بیرغونه او سرودونه خپروي له هغوی سره دې قانوني چلند وشي.

۵ -پر ځانګړي ډول د ژوندون، تمدن او یو شمېر نورو ټلوېزیونونو په اړه یادونه کوو چې لویه څارنوالي دې یو بشپړ، ناپیېلی، مسلکي هیئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکي، په دې هیئت کې دې د تمدن ټلوېزیون او ژوندون غړي هم شامل وي. د ټلوېزیونو او همدارنگه د ښاغلي محسني د مدرسې مالي سرچینې دې وپلټي، هره مالي سرچینه چې ایرانۍ او پاکستانۍ وه قانوني چلند دې ورسره وشي.

٦ -لویه څارنوالي دې هغه اشخاص چې په ډاگه د افغان ، افغانستان پر ضد شعار ورکوي او د افغان ملي هویت پر ځای پر قومي هویت ټینگار کوي هغوی دې هم محاکمې ته راکاږي، که هغه په دې دولت کې په هره کچه وي، که وکیل وي، که وزیر، که والي او که بل هر څوک.

٧ -لویه څارنوالي دې هغه گوندونه او ډلې هم تر څار لاندې ونیسي چې د اساسي قانون د روحیې خلاف یې ټول کړه وړه د قوم، سیمې او ژبې پر محور راڅرخي.

ژوندون ټلوېزیون ټول افغان ملت او د دې هېواد رښتینو بچیانو ته ډاډ ورکوي چې د خپل فعالیت او ژوند تر وروستۍ سلگۍ به اسلامیت، افغانیت او انسانیت پالي، د ایرانپالو، سمتپالو، پنجاپالو، فساد گرو، ناقانونه زورواکو، هر ډول پردیپالو او نورو مکروبونو پر ضد به خپل رسنیز جهاد ته دوام ورکوي او په دې لاره کې به د هر ډول خنډ، مشکل او زور په مقابل کې په نره ودرېږي.

ژوندی او پیاوړی دې وي افغان ملت
مړه او سپېره دې وي د افغانستان دښمنان
رپانده او ځلانده دې وي په سیمه او نړۍ کې
د افغانستان او اسلام بیرغ
په درناوي
پوهنوال محمد اسمعیل یون
د ژوندون راډیو ټلوېزیون د امتیاز خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره په ژوندون کې متواترې غونډې

د (۱۳۹۲ل) کال د لیندۍ (۱۹)مه چې د (۲۰۱۳م) کال د ډسمبر له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، له لوی څارنوال سره تر کتنې وروسته، هغه وویل چې زما مرستیال سره وګوره، هلته چې زه لاړم دوه تنه نور هم ناست وو، ما سره یې ډېره ښه وضعه وکړه چای یې راوړ، بیا یې بحث پیل کړ چې یون صیب په تېره اوونۍ کې ستاسو له ټلوېزیون څخه یو بحث نشر شوی، جنرال عبدالواحد طاقت په کې ځینې ترخې خبرې کړي، که د هغو په باب وضاحت راکړې، ښه به وي، خو دا به په لیکلې ښه وي. ما د ژورلیدونو پروګرام (CD) هم ځان سره وړې وه، دوی سره هم ټلوېزیون ایښی و، خپله (CD) یې چالان کړه، ما چې د دوی (CD) وکتله ایډیټ په کې شوی و، خبرې وړاندې وروسته شوې وې او ځینې برخې یې کمې شوې وې، ما اصل (CD) ورکړه، دوی هغه وکتله، د جنرال طاقت د خبرو او نورو ابهاماتو په باب د دوی قناعت حاصل شو، د غرمې ډوډۍ مو هم له همدې هیئت او د څارنوالۍ مرستیال سره وخوړه، ټلوېزیون ته راغلم، کله چې ټلوېزیون ته راغلم، دوه دوه نیمې بجې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا مکتوب راغی چې د لویې څارنوالۍ د حکم پر اساس د ژوندون ټلوېزیون نشرات تعلیق دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دې خبرې سخت زور راکړ، له ټلوېزيونه مې اعلان خپور کړ چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت او څارنوالي په ناقانونه ډول غواړي، د ژوندون ټلوېزیون نشرات تعلیق کړي. د دې خبر په خپرېدو سره ژوندون ټلوېزیون ته د سلګونو هېوادوالو بهیر رامات شو. د لیندۍ پر (۲۰-۲۱-۲۲) مو په ژوندون ټلوېزیون کې تر (۳۰) زیاتې غونډې وکړې او په هره غونډه کې پر دې ټینګار وشو چې د یوې لویې مظاهرې په ترڅ کې به د افغانیت او اسلامیت له داعیې څخه ملاتړ کوو او هم به د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق**



**پرېکړه باطلوو. ولس کې دومره زور او منطق و چې چا یې مخه نه شوه نیولای. په همدې غونډو کې پرېکړه وشوه چې د لېندۍ پر (۲۳)مه د شنبې پر ورځ به د سترې محکمې مخې ته یو لوی لاریون کوو او خپلې ملي غوښتنې به مطرح کوو. په ژوندون کې د غونډو ټول جریان په منظم ډول د ژوندون پر څپو خپرېده، په هېواد او تر هېواده بهر یې په لکونو افغانانو ملاتړ کاوه او دې کار د ملت یوې سترې مدني حماسې ته لاره اواروله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ترڅنګ چې په ژوندون کې غونډې روانې وې، په بغلان، جرمني او ځینو نورو ځایونو کې هم د ژوندون ټلوېزیون او د اسلامیت او افغانیت د لویې داعیې په ملاتړ غونډې جوړې شوې، د (شل دلایل)، په نامه مې یوه لیکنه هم له ژوندون څخه واوروله چې دلته دا لیکنه راوړو او د دې ترڅنګ یوازې د بغلان او جرمني د غونډو یادونه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شل دلایل

د (۲۰۱۴م) کال د دسمبر پر (۱۰)مه نېټه ما له ژوندون ټلوېزیون څخه هغه شل دلایل وړاندې کړل چې د هویت په تذکرو کې ملي (ملت) (دین) د تثبیت په باب لیکلي وو. په دې وینا کې راغلي وو: (( د لیندۍ یا قوس پر (۵)مه نېټه مشرانو جرگې د یوې جعلي او له درغلۍ ډکې رایې اچونې له لارې د افغانستان د هویت له تذکرې څخه د افغان او اسلام یا (ملیت) او (دین) د ثبت مخه ونیوله. د دې جرگې د هغو غړو د پرېکړې د رد په باب ما شل دلایل راوړي چې، له خپل گران او مظلوم ملت سره یې شریکوم:

۱. ملي شورا: کله چې ملت نه وي نو ملي څه مانا؟ ملي شورا بیا څه مانا؟ د کوم ملت شورا؟

۲. د ملت کور: شورا خپل مقر ته د ملت کور وایي. د کوم ملت کور؟ د ایراني، پاکستاني، عرب، روس، هندو کوم یو؟ دا د کوم ملت کور دی؟ که د افغان وي، نو ولې یې نوم نه لیکئ!

۳. د ملت نوم: که دا ښاغلي د ملت له نوم سره حساسیت لري، نو بیا یې په شورا کې ولې ناست دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- دين:** د دين، جهاد او اسلام په نامه راغلو اشخاصو، اوس (دين) هم له تذکرې لرې کړ، اوس به موږ (بې دينه) تذکرې په جيب کې گرځوو.

**۵- ملت:** تذکره د يوه شخص د عقيده يي او ملي هويت ځرگندويه ده، کله چې د يو چا دين او مليت نه وي ځرگند، نو تر دې لوړ ارزښتونه او ځانگړتياوې کومې دي چې يوځوک پرې تشخيص شي؟

**٦- تخلص:** د يوه شخص فردي تشخص د همغې ټولنې له ورته بل شخص څخه پر همدې تخلص سره کېږي، نو چې تخلص دې هم ختم کړ، ملت او دين هم، نو بيا يې يوازې خپل نوم پاتې شو، درې مشخصې له منځه لاړې يوه پاتې شوه.

**۷- ملي:** کله چې د ملت له مفهوم سره حساسيت ښودل کېږي، نو بيا خو (ملي) کليمه چې ملت ته يې نسبت دی، هم بايد له منځه لاړه شي، ځکه چې اصلي ريښه يې نه شته، نو بيا خو ملي دفاع، ملي امنيت، ملي



اردو او په ټوله کې ملي امنيتي سکتور ته هېڅ اړتيا نه شته.

**۸- دفاع:** کله چې په يوه هېواد کې ملت نه وي، نو د نورو ملتونو له يرغل څخه يې دفاع ته څه اړتيا ده؟ خلاصه دروازه ده هر څوک چې ځي او راځي، دروازه ورته خلاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، مدافع يې هم معلوم نه دی.

**۹- د ملت استازی:** د کوم ملت استازی؟ د همغه ملت چې دی يې په مقابل کې ولاړ دی؟ هم يې استازيتوب کوي، هم يې هويت ختموي؟ عجيبه استازيتوب، ايا که يو بل څوک د همدې استازو همدا شان استازيتوب وکړي، نو دوی به يې ومني؟

**۱۰- هويت:** يوه شخص ته تذکره  د دې لپاره ورکول کېږي چې هويت يې مشخص شي، نو کله چې په تذکره کې د يو چا اعتقادي او ملي هويت پټېږي، نو بيا تذکرې ته څه اړتيا ده؟ هر څوک دې همداسې گرځي.

**۱۱- قوميت:** (مليت) د قوميت قرباني شو، ايا همدا قومونه نه دي چې ملت ترې جوړېږي؟ يو شمېر سمتپالو او قومپالو چې د پرديو په اشاره يې دې مسلې ته لمن وهله، د فکر دايره يې څومره وړه ده. په خپلو خبرو کې د لويو ملتونو يادونه کوي، خو په عمل کې د قوم دايره د ملت پر دايرې لوړه گڼي. ښه خو دا وه چې دوی د لويو خلکو په شان لوی فکر کړی وای:

څو دې توان رسي په لوی درياب گرځه
پــه وياڵــه کــې دې زوال وينـــم نهنگــه

**۱۲- افغانستان:** افغانستان له (افغان) څخه رغېدلی نوم دی، د افغان مکان نوم (افغانستان) دی. کله چې يو څوک د (افغان) له کليمې سره حساسيت لري، په حقيقت کې له افغانستان سره هم حساسيت لري، نن يې د پرديو په مرسته او د يو شمېر کورنيو نافکرانو په ملگرتيا د افغان کليمې پر ضد هڅه وکړه، ډېر ژر به د (افغانستان) کليمې ته هم پورته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳- اسلامي:** د (اسلامي) کلیمې نسبت (اسلام) ته دی. (ي) ته نسبتي (ي) وايي چې له ماقبل سره د یو مابعد شي نسبت ښيي، خو کله چې ماقبل نفې شوی وي، مابعد څه مانا؟ دې ښاغلو چې له تذکرې څخه د دین کلیمه حذف کړه، د دین توضیح لپاره به ضرور په سلو کې نهه نوي اعشاریه نهه نوي (اسلام) لیکل کېده، نو (اسلامي) بیا چاته نسبت کېږي؟ دا دا مانا لري چې یوڅوک ووايي: زه مسلمان نه یم، خو اسلامي که راته وویل شي پروا نه کوي.

**۱۴- یو نیم ملیون شهیدان:** موږ هره ورځ وایو چې زموږ ملت د اسلام او افغانستان لپاره یونیم ملیون شهیدان ورکړي، ایا دا شهادتونه د همدې لپاره وو چې د شهیدانو په ارمان؛ اسلامیت او افغانیت دې ملنډې ووهل شي او دا دواړه ستر معنوي ارزښتونه دې حتی د هغوی په پېژند پاڼه کې رانه شي.

**۱۵- لوری:** تش په نامه د ملت استازو(؟) نه یوازې له مظلوم او هر دم شهید ملت څخه لوری او تګلوری ورک کړی، بلکې د هویت په تذکره کې هم یې له خلکو لوری ورک کړ. په نړیوالو تړونونو کې به راتلل: افغان لوری، جرمن لوری، قزاق یا ازبک لوری، افغان لوری، پاکستانی، هندي یا امریکایي لوری. اوس چې له (افغان) کلیمې سره حساسیت ښودل کېږي، افغان لوري ته به څه استعمالېږي؟ افغاني او یا د دوی په اصطلاح (افغانستاني) کلیمې خو هم له همدې ریښې سره تړلې دي. بیا به څه کېږي؟

**۱٦- جنجال ختموو:** یو شمېر ډارن، ورځچاري او ځانساتي وکیلان او یا هم دولتي چارواکي وايي، موږ جنجال ختموو. د دوی په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنجال په (افغان) کلیمه کې دی، نه په هغو خلکو کې چې جنجال راټوکوي، دوی جنجال په (هویت) کې ګڼي نه په (بې هویتۍ) کې.

**۱۷- ملي وحدت:** یو شمېر ډارن او مضر احتیاط کاري بیا وایي: موږ باید د (ملي وحدت) لپاره له ډېرو شیانو تېر شو، اوسپله وکړو. دې ښاغلو ته باید وویل شي، چې تاسو د (ملي غفلت) او (ملي وحدت) ترمنځ فرق نه شئ کولای. ملي وحدت دې ته وایي چې د یو هېواد ټول وګړي، په عادلانه او مساویانه توګه د خپل هېواد په برخلیک کې شامل شي، نه دا چې ډېر تر لږو قرباني شي او یا د کمو، خو سپین سترګو او جنجالي اشخاصو خبره ومنل شي. زموږ په نظر د نامعقولو جنجالونو او نامشروع غوښتنو د ختمولو له لارې ملي وحدت تامینېږي، نه د ناروا امتیازاتو د ورکړې له لارې.

**۱۸- قوانین که جنجال:** د ملي شورا دنده داده چې قوانین تصویب کړي او د ولس ګټې خوندي کړي، د اساسي قانون په یو اتیایمه ماده کې راغلي: ((د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ملي شورا د ستر تقنیني ارګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندګي کوي. د شورا هر غړی د رایې د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه او سترې ګټې د خپل قضاوت محور ګڼي.)) اوس ګورو چې د خلکو کومه اراده دوی تمثیل کړې؟ همدا د ولس اراده ده چې ملي او اسلامي ارزښتونه یې تر پښو لاندې شي؟ او شورا ولس ته نوي جنجالونه پیدا کړي؟

**۱۹- خدمات که تخریبات:** د قوانینو د تصویب او اسانۍ ترڅنګ د شورا بله دنده دا ده چې حکومت اړ کړي، ولس ته خدمات ورسوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا پرديپالي غړي اوس پر دې مصروف دي چې په ملت کې د نفاق نوي تخمونه وکري، کله چې اساسي قانون حکم کوي: د (افغان) کليمه د دې ملت پر هر فرد اطلاقېږي، نو بيا پر دې خبره بحث په کار نه دی، خو د شورا پرديپالي غړي نه يوازې دا چې د قانون او ملت طبيعي مسير او هويت نه مني، بلکې ملت ته لا زياتې ستونزې تړوکوي.

۲۰- له خيره مو توبه شر مه رسوه: ملي شورا د دې پرځای چې د ملت د يووالي او استحکام لپاره هڅه وکړي، پخواني ارزښتونه او هډونه لاپسې کوشېر کړي، ملت ته نوې گټې ورسوي، هېواد ته د تجزيې احتمالي خطرونه رفع او دفع کړي، سرکښه زورواکي او چارواکي مهار او د فساد جرړې وباسي، د گاونډيو پټې او ښکاره توطيې خنثی کړي، د جگړې ختمولو لپاره لاره چاره پيدا کړي، دې هېواد او ملت ته نوي غمونه تړوکوي او له گاونډيو څخه نوي رالېږل شوي تعريفونه وړاندې کوي.

په ملي شورا کې د ملتپالو، هېوادپالو او اسلامپالو استازو شمېر هم کم نه دی او رښتيا هم د دې مظلوم ولس رښتيني استازي دي، خو څرنگه چې ملت مظلوم دی، دا استازي هم مظلومين دي، دوی هم د ملت په شان نه زر لري او نه زور چې په شورا کې يې وکاروي او د تقلبي، ايرانپالو او پاکستانپالو په اصطلاح وکيلانو د غرضونو او مرضونو مخه ډب کړي.

موږ اوس په شورا کې له همدغو مظلومو خو باغروره او باعزته و کيلانو څخه هيله کوو چې خپل تيت و پرک حالت ته د پای ټکی کېږدي. د محدودو، خو منظمو، زورواکو او پرديپالو تش په نامه وکيلانو پر ضد يو گډ حرکت، تگلاره او انسجام رامنځته کړي، په شورا کې راټوکېدلي زهر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله له منځه یوسي او د پردیپالو او هېوادپالو وکیلانو لیکه یوه له بله جلا کړي. له اسکېرلي، باغیرته ملت څخه مو هیله ده لکه څنګه چې مو له چنګېزه تر هلاکو، له هلاکو تر انګرېزه او له انګرېزه بیا تر روسه او له روسه بیا تر دې نورو ډول ډول انګرېزانو پورې مو، د هر بهرني پرضد ښکاره مبارزه او جهاد کړی ، دغسې یوځل بیا خپل ملي غرور، عزت او وحدت لا پسې غښتلی کړئ، د هر ګاونډي په تېره بیا د ایران او پاکستان د ښکاره او پټو توطیو او د هغوی د کورنیو تالي څټو پرضد خپله شعوري، ملي او اسلامي مبارزه او جهاد ترسره کړئ! په پای کې کې وایم، دې ډول کورنیو او بهرنیو خاینونو ته د دې خبرې یادول هم په کار دي چې:

لا تـــراوسه یـې مـاغزه په کـــرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په څنګ دی

OO

ټیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه پـــه دې افتادګۍ کـې لوی ګـړنګ یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جرمني کې مېشت هېوادوال او د ملي هویت ملاتړ

د هېواد په داخل کې د ژوندون، افغانیت او اسلامیت پر ملاتړ غونډېو سربېره په بهر کې هم افغانانو له دې ارزښتونو څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. په جرمني کې هم په دې باب یوه مهمه غونډه وشوه. په دې غونډه کې ګڼ شمېر اروپا مېشتو ټولنو ګډون کړی و او دغه پرېکړه لیک یې صادر کړ:

د تابعیت په تذکرو کې د اسلام او افغان کلیمو د حذف او همدارنګه د ژوندون ټلویزیون د خپرونو د ځنډولو په تړاو په اروپا کښې د مېشتو افغاني کولتوري ټولنو او ملي شخصیتونو غونډه او پرېکړه لیک نېټه : ۱۱,۱۲,۲۰۱۳ ننني غونډه د کونړ د ځوانانو د کولتوري ټولنې په کوربه توب



او په اروپا کې د مېشتو دیارلسو افغاني کولتوري ټولنو په بلنه او همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د ملي ، سیاسي او فرهنګي شخصیتونو په ګډون جوړه شوې وه .
په غونډه کې د ولسي او مشرانو جرګې هغه پرېکړه چې د هویت په تذکرو کې یې د اسلام او افغان نومونو د لیکلو مخنیوی وکړ او همدارنګه د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور وزارت او د لویې څارنوالۍ هغه پرېکړه چې له مخې یې د ژوندون ټلوېزیون خپرونې وځنډول شوې ، خبرې وشوې . د غونډې ټولو برخوالو په دې توافق درلود چې د ژوندون ټلوېزیون د خپرونو ځنډول او د تابعیت په تذکرو کې د اسلام او افغان د هویت حذف کول د پاکستان او په ځانګړي ډول د ایران د افغان ضد سیاسي پروګرامونو یوه برخه ده چې غواړي په پرلپسې ډول د افغانستان او افغانانو ملي ارزښتونو او له هغو څخه د دفاع ملي افغاني فکر بنسټونه له منځه یوسي . دغه سیاسي پروګرام د ملي ترمینالوژۍ له له منځه وړلو راپیل شوی او اوس د اسلام او افغان هویت د ورکېدو تربریده راورسېده .
پاکستان او په ځانګړي ډول ایران د دې پروګرام د عملي کولو لپاره له بېلابېلو لارو مخکې ځي . له یوې خوا یې بېلابېل سیاسي ګروپونه د ژبني او مذهبي خپلولۍ په اساساتو او پراخو مالي امکاناتو په ورکړه جوړ کړي دي او له بلې خوا د لسګونو ټلوېزیوني ، راډیویي او چاپیزو خپرونو له لارې د خپلو سیاسي برنامو لپاره په خلاص لاس کار کوي . ژوندون ټلوېزیون چې د یو ملي افغاني فکري بنسټ په توګه یې خپرونې پیل کړي دي او له دې لارې یې د دغه افغان دښمنو هېوادونو او په هغوی پورې تړلو ډلو د څېرو او سیاسي موخو د رسوا کولو او همدارنګه افغاني ملي شعور د بیدارولو په برخه کې بېلابېلې او په پرله پسې ډول خپرونې کوي او په دې برخه کې یې خپل غږ په ډېره مېړانه اوچت ساتلی دی، تر دې چې په ورستیو کې د اسلام او افغان هویت نه په دفاع کې د یو شمېر په هېواد مینو افغانانو او ملي ځوانو خوځښتونو سره په همغږۍ د مبارزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډګر ته مخامخ راووتل، نو همدا علت و چې د افغان دښمنو ډلو زغم نور ختم شو او په دې لټه کې شو چې دغه ملي افغاني غږ په ستوني کې غلی کړي.  د دې کار لپاره ټول ایرانپال او پنجابپال ګروپونه چې په دولتي او نادولتي برخو کې موظف شوي ، سره یو ځای شول او د یو شمېر مقام ساتو او بې ضمیره افغانانو په ملتیا یې د ژوندون ټلوېزیون د خپرونو د ځنډولو توطیه مخ ته کړه . موږ د نننۍ غونډې برخوال په اروپا کې د بېلا بېلو کولتوري ټولنو په استازیتوب د افغانستان د ملي شورا هغه پرېکړه چې له مخې یې د تابعیت په پېژندپاڼو کې د افغان او اسلام د نوم د حذف او همدارنګه د اطلاعاتو او کولتور وزارت او لویې ښارنوالۍ هغه پرېکړه چې د ژوندون د نړیوال ټلوېزیون د نشراتو د ځنډېدو په تړاو یې کړې ده، په کلکه غندو او په دغه برخه کې خپلې غوښتنې به لاندې پرېکړه لیک کې وړاندې کوو:

## پرېکړه لیک

۱ -موږ د ژوندون ټلوېزیون او همدارنګه د ټولو هغو ملي خوځښتونو هلې ځلې چې د اسلامي او افغاني هویت نه په دفاع کې یې کوي، په کلکه ملاتړ کوو او په ټول قوت سره د دوی تر څنګ ولاړ یو.

۲ -موږ په اروپا کې مېشت افغانان نه یوازې د ژوندون نړیوال ټلوېزیون ټولې خپرونې د هېواد د ملي ارزښتونو او افغاني کولتور په تول برابرې ګڼو، بلکې د دغه ټلوېزیون خپرونې له ملي ګټو نه د دفاع لپاره د هېواد په اوسنیو حساسو سیاسي حالاتو کې یوه ملي اړتیا ګڼو .

۳ – موږ د اطلاعاتو او کولتور وزارت او لویې ښارنوالۍ هغه پرېکړه چې د ژوندون ټلوېزیون د خپرونو د ځنډولو په تړاو یې کړې ، د ازادو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسنیو د قانون خلاف ، یو سلیقوي ، ناعادلانه او له ژبني تعصب څخه ډکه سیاسي پرېکړه ګڼو او په کلکه ترې غوښتنه کوو چې ژر تر ژره خپله دغه پرېکړه بېرته واخلي او ژوندون تلوېزیون څخه د خپلې غلطې کړنې په خاطر بښنه وغواړي.**

**۴ - موږ له ټولو هغو افغانانو نه چې ځان پردیپال نه بولي او د دولت په بېلابېلو پوستونو کې دنده لري ، په کلکه غوښتنه کوو چې د خپل افغاني احساس او د چارو د واک د مسوولیت او مکلفیت له مخې نور د ایرانپالو او پنجابپالو افغان ضد ډلو پر وړاندې پټه خوله پاتې نه شي او په ډاګه خپل دریځ خپل ولس ته روښانه کړي او که نور هم د مقام ساتنې په خاطر چوپ پاتې شي، نو ولس به یې د همدغه پردیپالو په کتار کې حساب کړي او دا دې نه هېروي چې ولس په راتلونکې کې ستاسې د کړنو حساب غواړي.**

**۵ – موږ له ټولو ملي افغاني خوځښتونو او په ځانګړي ډول له ځوانو ملي خوځښتونو څخه هیله کوو چې د هېواد په دې حساسو سیاسي شېبو کې له خپلمنځي، سلیقوي او شخصي تربګنیو څخه لاس واخلي او په یو غږ د افغان او اسلام څخه د دفاع په سنګر کې سره راټول شي.**

**٦ – موږ له ولسمشر کرزي څخه په کلکه غوښتنه کوو چې نور د پښتون قوم له ځپلو لاس واخلي او د دې قوم روا او منل شوي حقونه د نورو د خوشالولو او د خپلو سیاسي مصلحتونو لپاره قرباني نه کړي . هېر نه کړئ چې په دې کار تاسې خپله قومي بېلوالي ته لمن وهئ او د یو واحد افغان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت جوړونې مخه نيسئ او هغه ناورين چې ستاسې د دې کړنو په پايله کې ورسره هېواد او ولس مخامخ کېږي، مسووليت به يې ستاسې پر غاړه وي.

۷ – موږ د دولت درې گونو قواوو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د افغانستان اساسي قانون سر سم هر هغه څوک چې زموږ د اسلامي او افغاني هويت پر وړاندې ودرېږي ، قانوني چلند ورسره وشي او د ملي خيانت په جرم يې له سختې سزا سره مخامخ کړي.

ځای د کولن ښار ، جرمنی

نېټه :۱۱,۱۲,۲۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملت حماسه کې د بغلان څېره

د (۱۳۹۲ل) کال د لېندۍ پر (۲۳)مه نېټه په کابل کې د اسلامیت او افغانیت لپاره د سترې محکمې مخې ته یوه لویه مظاهره تر سره شوه، خو مخکې تر دې په ژوندون ټلوېزیون کې د افغانیت او اسلامیت د ملاتړ لپاره متواترې غونډې روانې وې. د افغانیت او اسلامیت داعیه له همغه پیله د ژوندون ټلوېزیون پر څپو باندې په منظم ډول خپرېدله، د ملي او عقیده یي هویت دښمنانو په دې خاطر چې د ملت غږ غلی کړي، نو تر هر څه لومړی یې د ژوندون ټلوېزیون د بندولو هڅه وکړه. ولس د ژوندون ملاتړ وکړ، تر (۳۰) زیاتې ملاتړ غونډې په ژوندون ټلوېزیون کې جوړې شوې او د یوې لویې مظاهرې لپاره هم پرېکړه وشوه. نه یوازې په ژوندون، بلکې په نورو سیمو کې هم د دې داعیې د ملاتړ لپاره غونډې جوړېدلې. په بغلان ولایت کې هم یو لاریون وشو. شاه محمود کډوال چې دا مهال د بغلان پوهنتون استاد او د دې لاریون یو تن سمبالوونکی و، د بغلان د لاریون په باب وایي:

((هغه وخت چې په برېښنایي پېژندپاڼو کې د ( دین او ملت ) د لیکلو پر وړاندې غبرګون وښوول شو ، نو د دې سترو ارزښتونو په ملاتړ هم غبرګونونه څرګند شول . څرنګه چې د ( دین او ملت ) د ملاتړو مشري ښاغلي استاد یون کوله او دا مبارزه د ژوندون راډیو تلوېزیون له لارې خپرېدله ، نو د (دین او ملت ) دښمنانو تر ټولو لویه هڅه همدا وه چې که د اسلامپالو او ملتپالو افغانانو هر ځومره غونډې ، جرګې ، منطقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحثونه او لاريونونه کېږي ، دومره مهمه نه ده ، خو چې د خپرېدو مخه يې ونيول شي چې د حق پلويان لا ډېر نه شي .

ټولو ته څرګنده ده چې د موضوع بنسټ په برېښنايي پېژندپاڼو کې د (دين او ملت ) د کليمو ليکل وو چې پر وړاندې يې له ستمي فکرونو اغېزمن تش په نوم واکمن مجاهدين ولاړ وو ؛ د نظار شورا او شمال ټلوالې هغه مجاهدين او مقاومتيان ؟ چې دا وخت د حکومت نږدې ټول پوځي او ملکي واک له دوی سره و او هر څه يې چې غوښتل ، هغه




کېدل . د بهرنيو شبکو لاسوهنه هم ردېدای نه شي، ځکه بېلابېل لاملونه وو چې هغوی نه غوښتل له ملي هويت سره مل پېژندپاڼې ووېشل شي، ځکه چې دې کار يوخوا هېواد او ملت پياوړی کاوه، بلخوا د ملت او هېواد د بېلتون مخه يې نيوله.

له ( دين او ملت ) نه د ملاتړ بهير په استاد يون او ژوندون راډيو تلويزيون پورې غوټه شول او د دې هڅه وشوه چې له ( دين او ملت ) څخه د ملاتړ او دفاع د بهير جرړې وباسي . د بېلابېلو اسلامپالو او ملتپالو روڼاندو د غونډو ، جرګو ، مشورو او د دوی د فکرونو او نظرونو د خپراوي مرکز ژوندون و، نو د دې رسنير ، ښوونيز ، ټولنيز او شعوري مرکز ترل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دښمنانو ستره موخه شوه چې د دې لپاره نارسمي کرکو ، غوښتنو او هڅو رسمي او حکومتي بڼه هم خپله کړه .**

**یوخوا له ( دین او ملت ) څخه د ملاتړ لوی اکثریت او بلخوا له ( دین او ملت ) څخه منکر کوچنی اقلیت و، خو ستونزه دا وه چې اکثریت محکوم او اقلیت حاکم و، نو په داسې حال کې مبارزه له حاکم اقلیت سره وه چې له (دین او ملت ) څخه منکر و. محکوم اکثریت له بېلابېلو پوځي او ملکي فشارونو سره مخ و؛ له نړیوالو او کورنیو دښمنانو سره پر پوځي او ملکي مبارزه بوخت وو ، فرهنګي ، اقتصادي او ... ښکېلاک ټول سره یو موټی وو او د اکثریت پر ځپلو بوخت وو ، خو بیاهم دښمن هر ځای مختورن شو .**

**هغه وخت چې په کابل کې د ( دین او ملت ) او ژوندون راډیو تلویزیون په ملاتړ لومړی ستر لاریون ترسره شو ، هممهاله ورسره په ټول هېواد کې خوځښتونه پیل شول ، دا د وخت ګرمه موضوع شوه چې رسنیو کې هم پرې ډېر بحثونه وو او ټولنې ته خپاره شول . ډېر نالوستي هم وپوهول شول چې دا بحثونه او خوځښتونه د څه لپاره دي ؟ د هېواد د نورو سیمو په څېر بغلانیان هم د ملي ارزښتونو په دفاع او ملاتړ کې ورګډ شول او خپله ونډه یې څرګنده کړه .**

**لکه چې وړاندې یادونه وشوه ، دا وخت په ټول هېواد کې اقلیت حاکم او اکثریت محکوم وو ؛ بغلان کې هم همدا حالت و، بیا بغلان خو یوه داسې سیمه ده چې ښایي د هېواد او ملت فکري او شعوري دښمنان پکې تر نورو سیمو ډېر وي . یو سخت حالت و، ځکه زموږ لپاره شونتیاوې هېڅ وې . د دې ترڅنګ د حکومتي لنډغرو ګواښونه هم ډېر وو .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ لومړی له استاد یون سره اړیکي ونیول چې څه وکړو ؟ هغه وویل چې څه کولای شئ ، ویې کړئ ! وخوځېدو او ملګري مو پوه کړل چې د (دین او ملت) په ملاتړ او د ژوندون راډیو تلویزیون د تړلو پر وړاندې یو غبرګون ښیو . فدا محمد فدایي چې یو وخت مو محصل او بیا راسره استاد شو ، د سیمې استوګن او د منډې تړړې سړی دی ، راسره شو . ګرد



ګرځېدو چې یو څه وکړو ، ډله مو سوکه سوکه پراخېدله ، نور استادان او محصلین مو هم پوهول چې کلی او ولس وپوهوي . په دې ترڅ کې چې د خلکو په پوهولو بوخت وو ، نور کاروونه هم راترغاړې وو ؛ د لاریون لپاره شعارونه چاپول ، بیرغونه پېرل ، ځانګړې ښکلاییزې ملي نښې او ... خو یوه افغانۍ په منځ کې نه وه . د نورو ملګرو مشرانو ترڅنګ مو دا موضوع له ( شمس الحق بارکزي ) سره هم شریکه کړه چې د دې لیکنې د لیک پر وخت د بغلان د ولایتي شورا غړی دی. هغه ( ۳۰۰۰ ) درې زره افغانۍ مرسته وکړه او خپلو خپلوانو ته یې وویل چې لاریون ته راشي ، خو خپله رانغی . نه یواځې دا بلکې د بغلان هېڅ مشر موږ سره په لاریون کې نه وو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ولس و. ځوانان سوکه سوکه خبرېدل او پارېدل ، په دې ډول که پیسې نه وې ، خو بېلابېلې شونتیاوې نورو ملګرو چمتو کړې .

کله مو چې د پلخمري په بازار کې شعارونه د بینرونو په بڼه چاپول ، نو د چاپ مرکز مسوول ( پوپلیار ) له دې وېرې چې زیان ونه ویني ، د خپل مرکز نوم او نښې نښانې یې په بینرونو چاپ نه کړې . هره شېبه له داسې ناسیده ګواښونو سره مخ وو ، خو کار ته مو خنډ کېدای نه شول .

یو وخت راته محمداعظم الفت د بغلان د مشهور جهادي او ټولنیز شخصیت ښاغلي ( ملاعلم مطمین ) زوی او زموږ محصل چې وروسته په یوه چاودنه کې شهید شو ( جنت یې ځای شه ) وویل چې په بازار کې نور بیرغونه نه موندل کېږي ، ځکه ټول ملګرو پېرلي دي او لاریون ته یې چمتو کړي ، په دې خبره مو ډېر د خوښۍ احساس وکړ چې داسې ورځ هم راغله چې ملي بیرغونه مو بازار کې خلاص کړل !!!

کله چې نور کارونه راټول شول بیا د ځای په لټه کې شولو چې کوم ځای کې لاریون وکړو ؟ د بغلان د یوه تن قومي مشر حاجي محمد حسن احمدزي په دفتر کې ناست وو ، چا یو ځای چا بل ځای ښوده ، خو په پای کې مو ( زمانخیل ) د راټولولیدنې او لاریون ځای وټاکه . دلته د دې سیمې د یوه استوګن ، یوه درانه او ځواکمن سړي ( ګل محمد ) ځانګړې مرسته او ډاډ د یادولو دي.

د لاریون په اړه مو له امنیې قوماندان ښاغلي امین الله امرخیل سره تیلیفوني خبرې وکړې او د هغه اجازه مو ترلاسه کړه او په ملي امنیت کې مو هم ځیني خبر کړل ، ځکه زموږ وېره له حکومته وه ، نه له مخالفینو.

د ۱۳۹۲ لمریز کال ، د لېندۍ ( ۲۲ ) د جمعې ورځ ماسپښین مهال مو د لاریون لپاره وټاکه او ټول ملګري مو وپوهول چې د جمعې ورځې لمونځ به د (زمانخېلو ) په جومات کې په جمعه کوو او بیا به لاریون ته ووځو .

د ( زمانخېلو ) د جومات امام مو له وړاندې پر موضوع پوهولی و، چې هیله ده له خلکو سره یې بیا یاده کړي . مولوي صیب تر خطبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته خلکو ته یادونه وکړه او د سیمې له خلکو ، مشرانو او ځوانانو یې وغوښتل چې لاریون کې ورګډ شي . دلته دا یادونه هم اړینه ده چې نه یواځې د (زمانخېلو )، بلکې د بغلان له بېلابېلو سیمو مشران او ځوانان راغلل چې شمېر یې سلګونو ته رسېده .

مونږ د دې لاریون د خبري پوښښ لپاره د بغلان ټولې رسنۍ خبرې کړلې ، خو هېچا زمونږ خبر وانخیست ، ځکه دا رسنۍ هم په هغه چا پورې تړلې وې چې دوی هم د ( دین او ملت ) او ژوندون تلویزیون مخالف وو ، یواځې زمونږ ملګري او په پلخمري کې د ( افغان کېبل او چونغر رادیو ) مشر ښاغلي ( رفیع وردګ ) لاریون تر پوښښ لاندې راووست او خپور یې کړ .

لاریون ډېر منظم پیل شو ، تر لمانځه سم لاسي وروسته ګرځنده لاسپیکرونه ، بیرغونه او ټول مواد چمتو او خپاره شول . په پیل کې د قرانکریم تلاوت ، بیا ملي سرود او ورپسې مشرانو او ځوانانو خبرې وکړې ، په پېژندپاڼو کې یې د ( دین او ملت ) له لیکلو او ژوندون راډیو تلویزیون څخه خپل ټینګ ملاتړ څرګند کړ .

اوس د دې لیکنې پر وخت چې له لاریون نږدې څلور کاله تېر شوي ، ښایي زه د هغه وخت سمه انځورنه ونه کړای شم ، نه د هغه ډار او وحشت چې د حکومتي ترهګرو له لوري خپور وو او نه د هغسې خپسې چې پر ملت ناسته وه ، خو بیاهم میړني ولس د خپل نفوذ ساحه څرګنده کړه او خپل غږ یې پروته کړ او دښمن یې په هغه ځای کې وننګوه چې تل یې دا سیمه له یو موټي هېواده جلا بللې ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سترې محکمې مخې ته د ملت حماسه

د ۱۳۹۲ل کال د قوس پر(۲۳) مه نېټه د شنبې پر ورځ د ژوندون ټلوېزیون په انګړ او شاوخوا سیمو کې په زرګونو هېوادوال راټول شول او د هویت په تذکره کې یې د افغان او اسلام کلیمو د لیکلو لپاره پراخ



لاریون وکړ. لاریونوالو د ژوندون ټلوېزیون او زما (محمد اسمعیل یون) د دریغ ملاتړ وکړ، ژوندون ټلوېزیون یې د افغانستان د ملي او اسلامي هویت ځلوونکی وباله او ماته یې ډاډ راکړ چې د سر په بدل به دې ملاتړ کوو. لاریونوالو خپل لاریون د ژوندون ټلوېزیون له مرکزي دفتر څخه پیل او تر سترې محکمې پورې یې ورساوه، مظاهره چیانو شعار ورکاوه، افغانیت غواړو، اسلامیت غواړو، ژوندون غواړو، قانون غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مظاهره کې چې تر لسو زرو زیاتو افغانانو ګډون درلود، د جوش او خروش، ملي او اسلامي ارمانونو له مخې د افغانستان په ټول تاریخ کې یوه بېسارې مظاهره وه. لاریونوالو په لسګونو ملي او اسلامي شعارونه ورکول، دوی د سترې محکمې مخې ته راټول شول لومړی یې




دغه پرېکړه لیک صادر کړ او زما په ګډون یې یو پنځه کسیز هئیت د سترې محکمې له عالي شورا سره د کتنې په خاطر انتخاب کړ.

بسم الله الرحمن الرحیم

اسلامیت وژغورئ، افغانیت وژغورئ

د لاریونوالو پرېکړه لیک

۱۳۹۲ ل کال د لیندۍ (۲۳)مه نېټه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- هېڅوک د دې حق نه لري او نه موږ چاته د دې حق ورکوو، چې د اسلام او اسلامیت، افغان او افغانیت په باب رایه اچونه وکړي او یا په دې باب بحث وکړي.

۲- د اساسي قانون له غوڅو احکامو سره سم د هویت د تذکرې پر لومړي مخ د (اسلام) او (افغان) د تثبیت او ځلونې په خاطر سل په سلو کې د (دین) او (ملت) د ستون لیکل غواړو، موږ بې دینه او بې ملته تذکره نه غواړو.

۳- د هویت په تذکره کې د (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو د مخنیوي لپاره د هېڅ دولتي ارګان پرېکړه، که هغه د ولسي جرګې له خوا وي، که د مشرانو جرګې او یا کومې بلې جرګې او ادارې له خوا، نه قانوني ده او نه ملت ته د منلو وړ ده.

۴- له سترې محکمې څخه هیله کوو، هر هغه څوک چې افغان نه وي او په افغانستان کې په ناقانونه توګه اوسېږي، امنیتي ارګانونو ته امر وکړي چې د یوه بل هېواد د وګړي په توګه ورسره چلند وکړي او ژر تر ژره یې د قانون منګولو ته وسپاري.

۵- ژوندون ټلوېزیون د ټولو افغانانو داسې یو ملي ټلوېزیون دی، چې ملي او اسلامي ارزښتونه یې پالللي او پالي یې، لاریونوال په ټینګه د دې ټلوېزیون او استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د ملي او اسلامي دریځ ملاتړ کوي.

۶- لاریونوال له سترې محکمې څخه غواړي، د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق په باب د اطلاعاتو او کلتور وزیر او لوی څارنوال ناقانونه پرېکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د سياسي انگېزو، قومي او ژبنيو تعصبونو او د پرديو فشارونو زېږنده ده، ژر تر ژره لغوه کړي.**

**۷- لاريونوال ټينگار کوي چې د ژوندون ټلوېزيون د حيثيت د اعادې په خاطر بايد لوی څارنوال او د اطلاعاتو او کلتور وزير ژر تر ژره له ژوندون ټلوېزيون څخه ښنه وغواړي.**

**۸- لاريونوال له سترې محکمې څخه غواړي د يو واکمن او بې طرفه هئيت له خوا د ټولو رسنيو د تمويل سرچينې وپلټي او هغه رسنۍ چې له ايران، پاکستان او يا نورو نامشروع سرچينو څخه خړوبېږي، بايد ژر تر ژره د محاکمې مېز ته راکاږي.**

**۹- د ملي او قومي رسنيو ترمنځ دې سره کرښه راکاږل شي، څوک د افغان، افغانستان، اسلام او د هېواد ملي گټې غواړي او څوک قومي مسايلو ته لمن وهي؟ هغه رسنۍ چې هم قومي تعصبونه پاروي او هم يې پړه پر بل چا باروي، بايد قانوني چلند ورسره وشي.**

**۱۰- څوک چې په خپلو ټلوېزيونونو کې د افغانستان ملي سرود نه خپروي، ملي بيرغ نه رپوي، نور بيرغونه رپوي او نور سرودونه خپروي او د افغانستان د اساسي قانون د (۴، ١٦، ۱۹، ۲۰، ۲۲، ۲۴) او نورو مادو د محتوياتو خلاف خپرونې کوي، بايد ژر تر ژره د قانون منگولو ته راکاږل شي.**

**۱۱- د شيخ محمد اصف محسني مدرسه او تمدن ټلوېزيون چې د ايران په مالي مرسته جوړ شوي او افغان ضد کلتوري، مذهبي، سياسي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور فعالیتونه په کې پرمخ بیول کېږي، باید ژر تر ژره د یوه واکمن ناپېیلي هئیت له خوا وڅېړل شي او د ملي نفاق دا ځاله دې ژر تر ژره وتړل شي.

۱۲- لاریونوال د جنرال طاقت د خوشې کېدو غوښتنه کوي، جنرال طاقت یوازې د افغانستان ضد یوه شخص پر وړاندې یوه کلیمه کارولې، نه یې کوم مشخص قوم او یا قومونو ته سپکاوی کړی او نه یې کومې ژبې ته!

۱۳- لاریونوال له سترې محکمې غواړي هغه اشخاص، چې په تېرو لسو کلونو کې یې د هېواد ملي وحدت پر ضد په ډاګه څرګندونې کړي، ملي شخصیتونه او قومونه یې توهین کړي، لکه انور سادات، لطیف پدرام، عبدالحفیظ منصور، حکیم شجاعي، عطامحمد نور او نور محاکمې ته راکاږي.

۱۴- لاریونوال وایي که چېرې زموږ مشروع او قانوني غوښتنې ونه منل شي، نو موږ به پر نورو لویو مظاهرو لاس پورې کړو، ان تر دې چې لویې لارې به بندې کړو او له دې پلوه چې هر ډول ستونزې رامنځته شوې، د ټولو مسؤلیت به د حکومت په تېره بیا د لوی څارنوال او د اطلاعاتو او کلتور وزیر پر غاړه وي. ومن الله التوفیق

تل دې وي افغانستان

سرلوړی دې وي افغان ملت

مړه او سپېره دې وي د افغانستان پټ او ښکاره دښمنان

تر دې وروسته زما (یون) په ګډون د لاریونوالو په استازۍ پنځو تنو د سترې محکمې د عالي شورا له ځینو غړو سره وکتل. د سترې محکمې عالي شورا غړو پرېکړه وکړه چې ژوندون ټلوېزیون د تعلیق امر به همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس فسخه کړي، د پرېکړه لیک نور مواد وخت ته اړتیا لري، دا به دوی د ستري محکمې د عالي شورا په عمومي غونډه کې تر بحث لاندې ونیسي او بیا به اړوندو مراجعو سره په دې برخه کې خبرې وکړي او لازم تصمیمونه به ونیسي.

په دې ډول د لومړي ځل لپاره د افغان ملت مدني حماسه د تاریخ په حافظه کې ثبت شوه، پرته له دې چې چاته زیان واوړي، څوک توهین شي، دولتي او عامه شتمني زیانمنه شي د خلکو لاریون په ارامه فضا کې پای ته ورسېده او زموږ د ولس مدني انځور یې د تاریخ په حافظه کې ثبت کړ.

د دې ترڅنګ په ګڼو ولایتونو، لکه: خوست، پکتیا، ننګرهار، کونړ، فراه، هرات، هلمند، کندوز او ځینو نورو ولایتونو کې د هویت په تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمو د لیکلو او د ژوندون ټلوېزیون په ملاتړ لاریونونه وشول. ما د ژوندون ټلوېزیون له لارې له خپلو ټولو هېوادوالو په تېره بیا د کابل له لاریونوالو څخه مننه وکړه چې په نره یې د اسلامیت او افغانیت د داعیې د ملاتړ لپاره د مبارزې میدان ته راودانګل، د دې مننې لیکنی متن په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملت حماسې ته درناوی

کله چې د (۱۳۹۲ل) کال د لیندۍ پر (۲۳)مه نېټه د سترې محکمې مخې ته د اسلامیت، افغانیت او ژوندون ټلوېزیون د ملاتړ لپاره ستره مظاهره وشوه، نو ما پر ځان پور وګڼله چې د یوې مننې په ترڅ کې د ملت د مننې حق ادا کړم، د ټلوېزیون له لارې مې له ملته منته وکړه. دا منته د (۲۰۱۳م) کال د ډسبمر پر (۱۸)مه له ژوندون ټلوېزیون او برېښنایي رسنیو څخه خپره شوه، دلته یې کټ مټ رانقلوم:

بسم الله الرحمن الرحیم

د کایناتو د هغه لوی څښتن تعالی په نامه

چې د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی

خپل ولس ته د مننې پیغام

د ملت حماسې ته درناوی

مرګ زما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی

له عزت سره چې نه وي زیست روزګـار

ولسونـــه چـــې سنــد یــو بــلــه وکا

پادشاهان ورته سجود کانــدي اختیـــار

داسې یو حالت کې چې ملت د ویاړ او پرتم، تورې او قلم، جنګ او فرهنګ یوه ستره تاریخي او مدني حماسه وټوکوي، سړی نه پوهېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کومې جملې یې پیل کړي، له چا څخه لومړی مننه وکړي؟ چاته د ستاینې گلونه او د مننې اوښکې ډالۍ کړي؟ خو ښه به وي چې د مننو او ستاینو د معمول خلاف، زه د ټولو ژوندونوالو، ټولو اسلامپالو او ټولو هېوادپالو افغانانو



په استازۍ له هغو میندو د مننې لړۍ پیل کړم چې مورې ته یې په پنځه وخته لمانځه کې د دعا لاسونه لپه کړل، مورې ته یې د دعا لښکرې راولېږلې، له هغو خویندو به یې پیل کړم چې نه یې په دعاگانو کې هېر کړو، نه یې په عملي ملاتړ کې، د همدې اسکېرلو خو غیرتي خویندو له خوا په سوونو ټلیفونونه راغلل، د مظلومیت د څپو، په ژړغوني، خو له ډېر عزت، عفت او همت نه په ډک اواز یې زمونږ ملاتړ وکړ او همدا به یې ویل: که له ظلمو نه پوره نه شوه... له هغو سپین ږیرو مشرانو او مخورو به یې پیل کړم چې د عمر اوږده برخه یې د دې وطن په غم او درد کې تېره کړې، خو لا هم په سپېرو او دود وهلو خونو کې اوسي او هر یو به همدا ویل:

پام چې وار دې خطا نه شي

مـــا مـــــنلي غـرغــــرې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغو ماشومانو به یې پیل کړم چې له تندي یې سپینې ټوټې تاوې کړې وې او پرې لیکل شوي وو: اسلامیت غواړو، افغانیت غواړو، ژوندون غواړو. ښکلو ماشومانو، لکه د پغمان د سرو مڼو په شان پر خپلو ښکلو اننگیو د افغانستان ښکلی درې رنگه بیرغ رسم کړی و او مخونه یې دومره ښکلي ښکارېدل، لکه د بوډۍ ټال، د رنگونو په شان. دې امتیازاج او ښکلا ته هېڅ با احساسه افغان د خپلو اوښکو سېلاب نه شي ټینگولای.

له هغو مسافرو افغانانو به یې پیل کړم چې د نړۍ په (پنځوسو) هېوادونو کې مېشت دي او هره ورځ د وطن د لیدو په هیله اوښکې تویوي، د هغو افغانانو د دعاگانو برکت و چې په مکه معظمه، د خدای په کور کې یې مورږ ته د دعا لاسونه لپه کړل.

له هغو ځوانانو به یې پیل کړم چې له سرونو یې سپین کفنونه تړلي وو او د خپلو سترو ایډیالونو، اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره یې د ظلم او استبداد په مقابل کې سر په لاس کې نیولی و.

له هغو میندو او پلرونو به یې پیل کړم چې د خپل ځیگر ټوټې یې، سره له دې چې د ظلم او استبداد له خوا هر ډول خطرونه ورته متوجه وو، خو بیا یې هم د عدالت د تامین لپاره د مبارزې لومړۍ کرښې ته راولېږلې. په نړۍ کې به د قربانۍ داسې بېلگه څوک پیدا کړي چې خپل منصور اولادونه په داسې حال کې د جگړې ډگر ته ولېږي، چې نه توپ لري او نه ټوپک او په تش لاس د ظلم او استبداد په مقابل کې ودرېږي؟

له خپلو قدرمنو علمای کرامو به یې پیل کړم چې په نره یې د شریعت د منطق په ژبه د اسلامیت او افغانیت ملاتړ ته راودانگل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو ولایتونو له ځوانانو به یې پیل کړم چې په کابل کې یې تر لویې مظاهرې ځان د مخه کړ، خپله لاس په کار شول، پرته له دې چې د چا منفي نظر، فرمایش او یا زور ته سر ټیټ کړي، په خپل تفکر یې پر لویو لاریونونو لاس پورې کړ.

له هغو زنداني ورونو به یې پیل کړم چې د زندان د تورو تمبو تر شا یې مور ته د ملاتړ پیغامونه راولېږل. زندانیانو خپل ملاتړ د غذایي اعتصاب له ګواښ سره وصل کړ او ویې ویل چې که چېرې د ژوندون د تعلیق پرېکړه بېرته وانخیستل شي، نو دوی به پر لوی غذایي اعتصاب لاس پورې کړي.

له هغو ځوانو خوځښتونو، مدني ټولنو، سیاسي ګوندونو، حرکتونو، صنفي اتحادیو او قومي شوراګانو به یې پیل کړم چې په پوره یووالي یې په لاریون کې ګډون وکړ.

له هغو ټولو هېواد والو به یې پیل کړم چې په پراخه اوسېله یې په مظاهره کې ګډون وکړ، له سهاره تر مازیګره یې له خوراک او څښاک پرته د خپلې برحقې داعیې لپاره چغه پورته کړه.

له هغو ځوانو څارندویانو او د مظاهرې له منتظمینو به یې پیل کړم چې په ډېره سړه سینه یې د مظاهرې نظم خوندي کړ، ډېر فشارونه پرې راغلل، خو خپله اوسېله یې په هېڅ ډول له لاسه ورنه کړه.

د مظاهرې له ټولو ګډونوالو څخه به یې پیل کړم چې له ډېرو لوړو کلتوري اخلاقو، سړې سینې او پوره زغم څخه یې کار واخیست او یو ځل بیا یې د یوه متمدن، با کلتوره او غیور ملت په توګه نړۍ ته ځان ثابت کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترې محکمې له عالي شورا به يې پيل کړم چې د ژوندون ټلوېزيون د تعليق په اړه يې د لوی څارنوال او اطلاعاتو کلتور وزير ناقانونه پرېکړه ژر تر ژره ملغی کړه او د لاريونوالو د نورو غوښتنو د څېړنو ژمنه يې وکړه.

له خپلو ملي پوليسو به يې پيل کړم چې په پوره نظم، دقت او عزت يې د امنيت په خونديتابه کې خپله مرسته او همکاري وکړه.

د هېواد له درېو نسلونو څخه به يې پيل کړم چې هم په کې کشر شامل و، هم په کې ځوان او هم په کې د نوي کلونو د عمر خاوندان. د هېواد د سپين ږيرو مخورو ، ځوانانو او تنکيو ځوانانو د درېواړو نسلونو يووالی زموږ د هېواد والو د اوچت ملي شعور ښکارندوی کوي.

له خپلو ټولو هغو هېوادوالو، خويندو، ميندو، پلرونو، ځوانانو، مساپرو او نورو څخه به يې پيل کړم چې د مظاهرې تر بريا او کتنې وروسته يې له ډېرې خوشالی په سترگو کې اوښکې گرځېدلې او په سلگو سلگو يې د بريا مبارکي وويله.

د ژوندون ټلوېزيون له ټولو کارکوونکو به يې پيل کړم چې دا څو پر له پسې اوونۍ يې شپه ورځ پر ځان يوه کړې او د خپل مظلوم ولس په خدمت کې دي.

له ټولو پورتنيو ښاغلو او اغلو څخه تر مننې او ستاينې وروسته غواړم، له ټول افغان ملت څخه مننه وکړم چې په خپله لمن کې يې داسې گلالي غمي او سرې روزلي چې د غره په شان خويونه لري؛ هر څه يې په لاس کې دي، خو څوک نه ازاروي، هر څوک وېشتلی شي، خو څوک نه ولي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لـمن مـې ډکـه ده له کاڼـو خو څوک نه پـــرې ولم**
**پـه عــــادتــونـو کـې دا یو عادت د غـــره لــــرمـه**

زما ملت یو ځل بیا پردیپالو او نورو رقیبانو ته په ډاګه کړه چې د څومره لویې اوسېلې خاوند دی، د تاترې په شان، د سپین غره او شمشاد په شان او د پامیر او هندوکش په شان زغم او اوسېله لري، که خپل ناهله زامن یې پر سپینې لمن داغونه هم ږدي، نو تر یوه وخته ورته اوسېله کوي، خو یو مهال بیا سبق هم ورکوي.

زما قدرمن او غیرتي ملته!

پردیپالو او ځینو تالیخڅو غوښتل، یو ځل بیا د دې ولس ټولنیز، ملي، اسلامي او هېوادنی شعور امتحان کړي. زموږ ولس چې د سختو ازموینو له ډګره تل بریمن او پتمن وتی، یو ځل بیا له دې ستر ازمېښته پتمن او بریمن راووت. په دې وطن کې خو ځینې مظاهرې د قدرت پر سر وي، د څوکیو پر سر وي، د غوړو او چربو پر سر وي، خو زموږ د ملت مظاهره، د معنوي ارزښتونو پر سر وه او د دې ارزښتونو د ښکلا او ځلا په خاطر وه، د اسلامیت او افغانیت پر سر وه د ژوندون پر سر وه. زما ملت شعار ورکړ چې اسلامیت غواړو، افغانیت غواړو، ژوندون غواړو اوقانون غواړو. په مقابل کې یې ایرانپالو شعار ورکړی و، چې نه افغانیت غواړو، نه اسلامیت غواړو نه قانون او نه ژوندون: وګورئ د دې دوو شعارونو د څرنګوالي ترمنځ څومره توپیر دی، څوک څه کوي؟

**ډېر تفاوت شتــه پـه انسان کـې د مـانا په لحاظ**
**واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې مظاهرې پیغام دا و چې سیمې او نړۍ ته په ډاګه کړي چې افغان ولس یو متمدن، فرهنګیالی او توریالی ملت دی، هغه ډلې او اشخاص چې د دې هېواد پر مظلوم اکثریت کله کله د بې کلتورۍ تور داغ پورې کوي، اوس دې راشي او ودې ګوري چې څوک د لوړو کلتوري او معنوي ارزښتونو لرونکی دی؟ او څوک د نورو د کلتور دسمالونه پر غاړه ګرځوي؟

دښمنانو غوښتل چې زموږ د ملت چغه خپه کړي، فریاد یې وچ کړي او ژبه یې غوڅه کړي، خو هغوی په دې کار کې لاندې راغلل:

که ظالم مې ژبه غوڅه کړه تېره شوه
توره څومره چې تېره شوه لا خوږه شوه
اوس که نر یې نو غوږونه دې خپل پرې کا
چې زما نغمه سره نه شوله سره شوه

ددې لاریون بل پیغام دا و چې افغان ضد ډلو ته دا وښیي چې دا مظلوم خو غیرتي ولس له ګڼو ناخوالو او ستونزو سره سره لا هم د خپلو سترو معنویاتو د حفاظت په خاطر په خپل منځ کې وحدت، یووالی او پیوستون لري او که چېرې وغواړي هر پټ او ښکاره پردیپالی د نابودۍ په سیند کې ډوبولای شي.

د مظاهرې بل پیغام دا و چې مخالفین او نور مذبذب اشخاص که غواړي په اینده کې سوله ییز لاریون وکړي او د سړیتوب لاره خپله کړي، نو له دغسې مظاهرې دې عبرت او پند واخلي.

ددې ستر بریمن لاریون بل پیغام دا و چې ځانساتو، ورځچارو، دولتي او نادولتي مامورینو او مامورګیو ته دا په ډاګه کړي چې ستاسو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستې، همغږۍ، فکر، نظر او ملګرتیا پرته او ان له مخالفت سره سره بیا هم دا ولس د دې زور او ځواک لري چې خپل برخلیک او د خپل ژوند تګلورې په خپله وټاکي.

ددې مظاهرې بل ستر پیغام دا و چې اسلامیت او افغانیت داسې سره غاړه غړۍ شول او داسې سره واوبدل شول چې د هېواد په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی، همدا دوه ستر مشالونه دي چې موږ له تیارو څخه ژغوري، د لومړي ځل لپاره مسجد او هوجره، ملا او معلم، ښوونځی او مدرسه، کشر او مشر پر یوه لاره روان وو او یو بل ته یې د وروری لاسونه سره ورکړي وو، دا په هېواد کې د ملي یووالي تر ټولو ښه سمبول و.

نو اوس د خپل ولس دغه درایت، کفایت، ایمان، هوډ، تکل، فکر او لرلید ته په کتو او له هغو څخه په الهام اخیستو سره، راتلونکي ته ډېره هیله لرلای شو. د همدغه قوت موثریت ته په پام سره موږ په دې ډاډه یو چې ګام پر ګام به خپلو ملي او اسلامي هدفونو ته رسېږو، د هویت د تذکرې پر لومړي مخ به سل په سلو کې د اسلام او افغان کلیمو د تثبیت په خاطر د (دین) او (ملت) ستون لیکل کېږي، د دې هدف د عملي تطبیق لپاره به لومړی د مشرانو جرګې او ولسې جرګې د ګډ کمېسیون پرېکړې ته انتظار باسو، که بیا هم دا دوه ایډیالونه پکې ونه لیکل شول او یا یې له دې څخه یو ولیکه، یو یې حذف کړ، نو بیا هم ملت ته د منلو وړ نه دي، په دې حالت کې به مظلوم اکثریت، دا ځل د پښتونستان واټ ته راټولېږي او مخکې تر دې چې ولسمشر د ملي شورا دا ناقانونه مصوبه لاسلیک او توشیح کړي. په یاد واټ کې به د یوې لویې مظاهرې په ترڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له ولسمشره وغواړي چې هېڅکله باید زموږ پر ملي او اسلامي هويت خاورې وانه ړوي. ولسمشر باید دا قانون رد او د سمون لپاره يې کورنيو چارو وزارت ته ولېږي، هغوی بايد د افغان او اسلام د تثبيت په خاطر له سره، نوی کارت ډيزاين او د تصويب لپاره يې قانوني مراجعو ته واستوي.

ولس له ولسمشره غواړي د څو محدود فسادگرو، غلو، داړه مارو او جنگسالارانو د لوټ او تالان له امله د افغانستان نوم په نړۍ کې د فساد په لومړۍ ليکه کې راځي، حقيقت خو دا دی چې افغانستان يو سپېڅلی نوم دی چې له فساد سره هېڅ اړيکه نه لري، دا خو فسادگر دي چې فساد يې کړی، نه افغانستان، نو په کار خو دادي، هغه کسان چې د افغانستان سپېڅلی او نېک نوم يې بد کړی، د هغوی نومونه دې د رسنيو له لارې افشا شي چې زموږ د سپېڅلي هېواد نوم له فساد گرو جلا شي.

له ولسمشر څخه غواړو په تېرو (۱۲) کلونو کې ټول دولتي تشکيلات د رسنيو پر مخ خواره کړي، چې ولس ته پته ولگي، څوک په کې څومره دي؟ چا د کوم لياقت پر اساس کومې څوکۍ اخيستي، چا قومي او سيمه ييزو مسايلو ته لمن وهلې ؟ د ساري په توگه دې ژر تر ژره يوازې د هغې ولسوالۍ د افرادو لېست خپور کړي چې د (پوزېشن) او (اپوزېشن) دواړه پوستونه يې اشغال کړي، هم ورسره حاکميت دی او هم تر ټولو زيات د مظلوميت چغې وهي.

له ولسمشر څخه، د ده له دفتره نيولې بيا تر وروستۍ دولتي اداري پورې، په ټولو کې، د اساسي قانون له محتوياتو سره سم د بشپړ ژبني عدالت تامينول غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر څخه دا هم غواړو چې د يوه ناپېيلي هئيت د توظيف له لارې دې د تمدن ټلوېزيون او شيخ محمداصف محسني مرکز په ګډون ټولې هغه رسنۍ چې په تېره يوه لسيزه کې يې رسنيز فعاليت لرلی دی. د دې ټولو رسنيو مالي سرچينې او د پرسونل څرنګوالی باید وڅېړل شي او نتيجه يې ولس ته اعلان شي.

د اساسي قانون د ساتندوی او پالندوی په توګه له ولسمشر څخه دا هم غواړو، هغه ټلوېزيونونه چې د هېواد د ملي بيرغ پرځای، نور بيرغونه رپوي او د ملي سرود پرځای نور سرودونه خپروي او همدارنګه د اساسي قانون د (۲۰،۱۹،۱٦،۴،۳، ۲۲، ۳۴) او نورو مادو د محتوياتو خلاف نشرات کوي، له قانون سره سم سزا ورته ورکړي.

موږ ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې زموږ مبارزه د افغان او افغانيت اسلام او اسلاميت او په هېواد کې د ټولو افغانانو د ملي وحدت او برابرۍ لپاره ده، موږ د قومونو د تساوي شعار نه ورکوو، ځکه چې دلته د تساوي د کليمې په عملي تطبيق کې اصلاً تساوي نه ښکاري، موږ د ټولو افغانانو ترمنځ تساوي غواړو او دې رښتيني بشري اصل ته د زړه له کومې کار کوو.

موږ په افغانستان کې هر ټبر، هر قوم او هر ټولنيز ټولي ته ډاډ ورکوو چې د قومي او جنګي ټوپکوالو له اسارت څخه د دوی د خلاصون لپاره په ټينګه مبارزه کوو. موږ خپلو هزاره افغان ورونو ته ډاډ ورکوو چې د څو جنګسالارانو له اسارته مو ژغورو، موږ تاجک افغان ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د يوې محدودې درې د جنګسالارانو له منګولو څخه د دې قوم د ژغورنې لپاره هلې ځلې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ازبکو ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یو یا څو محدودو جنګسالارانو له ظلمه مو ژغورو.

موږ د هېواد د هر ټبر، هر قوم، هر خېل او هرې ژبې افغان وګړي ته وایو چې له مظلومیت څخه د خلاصون لپاره مو هلې ځلې کوو.

موږ د هغې ورځې په ارمان یو، هغه زورواکي چې د قوم، ژبې، سمت، مذهب او نورو شعارونو تر چتر لاندې یې ناکنټروله او بې شمېره نامشروع پانګه پیدا کړې، داسې ورځ به راشي چې له مشروع او قانوني لارې به د دې پانګې رڼاوی کېږي.

موږ له ولسمشر څخه هیله کوو چې په تېرو لسو کلونو کې د هغو لسو ملیاردرانو پانګه ملي اعلان کړي او د بیت المال برخه یې وګرځوي چې له نامشروع لارې یې پیدا کړې ده.

موږ له خپل مومن، مسلمان او مجاهد ملت څخه هیله کوو لکه څنګه چې د جهاد پر مهال، په ملیونونو افغانانو له اسلامیت او افغانیت څخه خپل سرونه قربان کړل، اوس دې یو ځل بیا د خپل ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره په ټینګه راودانګي.

درنو او قدرمنو هېوادوالو!

په تېرو څو اوونیو کې په زرګونو، په لکونو او ملیونونو هېوادوالو د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او ژوندون ټلوېزیون پراخ ملاتړ وکړ، په دې کې په لسګونو مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو، قومي شوراګانو، سیاسي ګوندونو، د علماوو شوراګانو، فرهنګي ټولنو او زرګونو مخورو شخصیتونو ډېر مخکښ رول درلود، داسې شخصیتونه هم وو چې د نوم له یادونې پرته یې په نومورکي ډول په دې ملي مبارزه کې ډېره فعاله ونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیسته، موږ کوښښ کاوه چې په ترتیب سره د دې ټولو بنسټونو او ښاغلو نومونه واخلو، مننه ورڅخه وکړو، خو څرنګه چې له ټولو نومونو او بنسټونو څخه داسې اوږد لېست جوړېده چې بیان یې پوره ورځ غوښته او د دې خطر احتمال هم و چې هم د ځینو مستحقو قدرمنو نومونه به بیا هم له یادونې پاتې شي، نو ځکه مو له ټولو څخه په یوځایي ډول مننه غوره وبلله.

ګران او قدرمن ولسه! په تېرو څو اوونیو کې په ملیونونو افغانانو که هغه د بهرنیو مساپرو افغانانو په بڼه وو، یا په ولایتونو کې د بېلابېلو لاریونونو په بڼه، یا هم په ژوندون کې د لسګونو غونډو په شکل، یا د لوی لاریون په ترڅ کې او یا هم د بېلابېلو لویو شخصیتونو له خوا، ماته بېلابېل القاب: لکه خالد بن ولید، سلطان محمود غزنوي، میرویس نیکه، لوی احمد شا بابا، خوشال بابا، افغان بابا، اسلامیون، افغان یون او نور راکړل شول، زه د دې ترڅنګ چې ځان د خپل ولس د احسان پور وړی ګڼم، د خپل ولس د دې پراخه او بې کچې مینې، لورینې، پېرزوینې او ستاینې مننه کوم، خو د دې خبرې یادول هم ضروري ګڼم چې زه په هېڅ ډول د دې ډول القابو او ستاینو مستحق نه یم . زه د دې ټولنې داسې یو وروستی فرد یم چې تر هغه زیات پر کوچني واحد نه تجزیه کېږي، زه د هېواد د یادو سترو او نورو اتلانو د پښو ګرد ته هم نه شم رسېدلای.

زه درې کاله مخکې د هندوستان (پاني پت) ته په دې خاطر لاړم چې د لوی احمد شاه بابا د مېړانې، تورې او سرېتوب ځلی وګورم او تر هغې ونې لاندې ودرېدم چې (۲۴۷) کاله وړاندې ترې احمد شاه بابا لاندې ولاړ و او تر همدې ونې لاندې یې د جنګ قومنده ورکړې وه. هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته داسې یو ارمان راغی چې کاشکې زه هم د هغه وخت افغان او د احمد شاه بابا د لښکرو یو قلموال وای، چې ما د بابا د تورې، مېړانې او سرېتوب کیسې ټکي په ټکي لیکلې وای او د تاریخ حافظې ته مې سپارلې وای.

زمونږ د اتلانو کیسې نورو مونږ ته لیکلي او هغه یې اکثره تر یوه مضر فلتر وروسته مونږ ته رارسولي دي. احمد شاه بابا د نړۍ په (۷) امپراتورانو کې هغه شخصیت دی چې هم یې توره وهلې، هم یې قلم چلولی او هم یې پر مفتوحو سیمو کې د خپل رایت عزت ساتلی دی، دا خصلتونه بیا په دې نورو شپږو امپراتورانو کې نه وو.

زه نه غواړم چې د شهرت په داسې څپو کې ډوب شم چې وړ نه یې یم، کارونه رانه پاتې شي او دا کار په ما کې د ځانپالنې، ځان غوښتنې غریزه وټوکوي او نورو ته د تنگنظرۍ پلمه په لاس ورکړم، له خپل ولس څخه مې هیله ده چې زما او د خپلو ارمانونو ملاتړ وکړي، زه که د پورته یاد شویو او نورو اتلانو د لارې په لارویانو کې حساب شم نو دا به زما لپاره د لوی ویاړ ځای وي، زه ځان د هېڅ ډول القابو او ویاړنو مستحق نه گڼم.

خو د خپل ولس د یوه خدمتگار په توگه د تل لپاره د خپل مظلوم ملت خدمت ته چمتو یم، د خپلو مشرانو له خوا به امر وي او زمونږ له خوا به چټک گامونه.

درنو هېوادوالو او د رسنیو د بیان پلویانو!

زمونږ په اوسنۍ مبارزه کې دا په ډاگه شوه چې کومې رسنۍ هېوادپالې دي، کومې پردیپالې او کومې تنظیم پالې؟ پردیپالو رسنیو د ملت د دې سترې حماسې پر وړاندې تبلیغات وکړل، خو له شرمه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصويرونه نشر نه کړای شول. ان ملي ټلوېزيون چې په کار وه د ټول ملت ټلوېزيون وای، خو دلته يې خپل مسووليت ترسره نه شو کړای. د ژوندون ټلوېزيون پر ضد يې ډېرې وړې مظاهرې هم نشر کړې، خو د ژوندون، اسلاميت او افغانيت په ملاتړ يې د ډېرو لويو مظاهرو خبر هم خپور نه کړ. د خپل مظلوم ولس په استازۍ له ملتپالو رسنيو مننه کوم او د تنظيمپالو او پرديپالو رسنيو غندنه کوم، د هغو پر وړاندې به زموږ مبارزه دوام لري.

درنو هېوادوالو!

يو ځل بيا له خپل ټول مظلوم، غيرتي، بااحساسه، بادرکه، بادرده، بانظمه، مفکر، مدبر، اوسېله ناک، صابر، باکلتوره او باشهامته ملت څخه د زړه له کومي مننه کوم، مننه مننه مننه او بيا هم مننه، د خپلو ميندو، خويندو، علمای کرامو، مساپرو، کورمېشتو او بهرمېشتو افغانانو د دعاګانو او ملاتړ په هيله.

ژوندی دې وي افغانستان

سر لوړی دې وي افغان ملت

رپانده دې وي د افغانستان درې رنګه ملي بيرغ

تل دې وي اسلاميت او افغانيت

مړه او سپېره دې وي د افغان او افغانيت

اسلام او اسلاميت پټ او ښکاره دښمنان

مړه دې وي پرديپال

ژوندي دې وي هېواد پال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامیت وژغورئ او افغانیت وژغورئ

## (غوښتنلیک)

د (۲۰۱۴م) کال د جنورۍ پر (۱۱)مه نېټه چې د (۱۳۹۲ل) کال د جدي له (۲۲) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان ملي تحریک په ګډون بېلابېلو مدني ټولنو، ټولنیزو بنسټونو، علمي مرکزونو، ځوانو خوځښتونو، قومي شوراګانو، هېوادپالو، اسلامپالو او ملتپالو افغانانو یو غوښتنلیک برابر کړ، دا غوښتنلیک د سترې محکمې په عنوان تر هغه وروسته ولیکل شو چې د ملي شورا ګډ کمېسیون هم د هویت د تذکرو په باب د اساسي قانون خلاف پرېکړه وکړه.

د افغانستان اسلامي جمهوریت د سترې محکمې عالي مقام ته!

له څو میاشتو راهیسې په ملیونونو اسلامپالو او هېوادپالو افغانانو په متواتر ډول د ملي هویت په تذکرو کې د اسلام د مقدس دین او غیرتي افغان ملت د تثبیت په خاطر د (دین) او (ملت) ستون د لیکلو غوښتنه کړې او کوي یې.

د ملت رښتینو بچیانو د دې سترې داعیې د غوښتنې لپاره په کابل او بېلابېلو ولایتونو کې او تر هېواده بهر سترې غونډې او مظاهرې وکړې او د مظاهرو لړۍ د ملي شورا تر دروازو هم ورسېدله، خو په خواشینۍ سره چې پر ملي شورا د یو شمېر زورواکو او پردیپالو غوړېدلي سیوري دافغانانو مشروع او قانوني غوښتنې له ستونزو سره مخامخ کړې. د (اسلام)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او (افغان) د تثبیت په خاطر ملي شورا د دواړو جرګو یو ګډ کمېسیون وټاکه، خو مشترک کمېسیون هم تر ډېره حده له همغو افرادو جوړ و، چې ان له پیله یې د هویت په تذکرو کې د (افغان) د سپېڅلي او ویاړمن نوم له لیکلو سره تضاد درلود. مشترک کمېسیون یو ځل بیا د (افغان) کلیمه د تذکرې له لومړي مخ څخه وایستله او د دې پرځای یې د شخص له نوم سره د (تخلص) پر زیاتونې ټینګار وکړ او په دې ډول د افغان ملت مشروع او قانوني حق په خپله د (ملت) په نامه د راغلو په اصطلاح استازو له خوا تر خاورو لاندې شو. سره له دې چې پر (اسلامیت) او (افغانیت) رایه اچونه د ملي شورا کار نه دی او نه د دې صلاحیت لري، خو دا چې دا ارزښتونه د یوه غرضي او مرضي پلان له مخې یادې شورا ته وړاندې شوي وو، نو د هېواد ضد او ملت ضد کړیو هدفونه تر دې دمه پرمخ لاړل.

موږ د هېواد بېلابېلې مدني ټولنې، قومي شوراګانې، علمي مرکزونه او په مجموع کې ټول ملت په دې متفق یو او په ټینګه د دې غوښتنه کوو چې د هویت په تذکرو کې دې ضرور سل په سلو کې د (دین) او (ملت) ستون زیات شي. اوس یو شمېر مغرضې کړۍ غواړي زموږ د دیني هویت د تثبیت له لارې ملي هویت او یا هم د ملي هویت د تثبیت له لارې دیني هویت نفې کړي، موږ دا کار په خپل ذات کې د هېواد، ملت او اسلام د دښمنانو یوه بله توطیه ګڼو، موږ سل په سلو کې د هویت د تذکرې پر لومړي مخ د دواړو سترو ارزښتونو (اسلام) او (افغان) د تثبیت غوښتونکي یو او په دې برخه کې هر ډول خنډ اچونه، مکر او فریب د (دین) او (ملت) خلاف عمل ګڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغان ولسونه او پرګنې، مدني بنسټونه، قومي شوراګانې او ټولنې په افغانستان کې د عدالت د سترې سرچینې په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سترې محکمې له عالي مقام څخه په ډېر درنښت غوښتنه کوي چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون وروستۍ پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقرې، چې په څرګند ډول یادونه کوي؛ د دې ملت پر هر فرد د (افغان) کلیمه اطلاقېږي، د دې مادې په رڼا او له هغې سره په تطابق کې وڅېړي او په دې باب خپله پرېکړه او نظر څرګند کړي. افغان ملت په غوڅ ډول فکر او ټینګار کوي چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون وروستۍ پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې د روحیې خلاف ده او ملت ته په هېڅ ډول د منلو وړ نه ده. د ملت هر فرد خپل ملي هویت غواړي، هېڅوک حق نه لري چې ملت له خپل دې حقه محروم کړي. موږ یو ځل بیا د سترې محکمې له عالي مقام څخه په ډېر درنښت هیله کوو چې د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقرې او د اساسي قانون د نورو مادو د محتویاتو په رڼا کې د هویت له تذکرو څخه د (افغان) کلیمې د حذف لپاره دا ډول هڅې رد او په دې باب خپل نظر څرګند کړي او ملت د ملت ضد اشخاصو له توطیو څخه وژغوري.**

**په درناوي**

**د ملي تحریک په ګډون د هېواد فرهنګي، مدني بنسټونه**

**قومي شورا ګانې او بېلا بېلې ټولنې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي هويت او ولسمشر

**(له ولسمشر حامد کرزي سره د اسلاميت او افغانيت په باب د ځانګړې کتنې جزئيات)**

**مخکې تر دې چې ولسمشر حامد کرزي سره د افغانيت او اسلاميت په باب د ځانګړې کتنې جزئياتو ته راشم، مجبور يم، لږ لنډې تېرې ماضي ته ورستون شم.**

**له تېرو څو مياشتو راهيسې د ملي هويت يا د تابعيت د تذکرو پر سر جنجال روان دی. خبره ان تر مظاهرو، خوابديو او ډېرو زړه بداويو پورې هم ورسېده. په دې بهير کې رښتيني، اسلامپال، هېوادپال او ملتپال افغانان هم معلوم شول. ورځچاري، ځانساتي، ځان ګټي او افغان ضد اشخاص او ډلګۍ هم ټول په ډاګه شول. خبره له شف شف څخه شفتالو ته راووته!**

**د افغانستان ملي تحريک په ګډون ګڼ شمېر مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو او مدني حرکتونو يوځل د ملي شورا او بيا د سترې محکمې مخې ته لويې مظاهرې وکړې. دا مظاهرې که څه هم پر ځينو پرديپالو او ځانساتو ښې ونه لګېدې، خو د ولس روحيه يې تر دې حده پياوړې کړه چې سرې ورته يو نسبي، فرهنګي، مدني او حقوقي وړوکی اوښتون ويلای شي. دې مظاهرو د ټولو هېوادوالو په تېره بيا د مظلوم اکثريت ولوله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوپاروله او روحیه یې ورته دومره قوي کړه چې هېوادوال یې د لا لویو مظاهرو لپاره جوګه کړل.

د لاریونوالو غټ هدفونه همدا وو چې د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) ستون ولیکل شي او په دې ډول دې د اسلام او افغان د تثبیت لپاره له اساسي قانون او ټولو بشري او مدني قوانینو سره سم اقدام وشي. د دې دوو ارزښتونو پټو او ځینو ښرګندو مخالفینو هڅه وکړه پر (ژوندون ټلوېزیون) او شخصاً پر ما (محمداسمعیل یون) فشار راوړي چې له دې سترو ارزښتونو او ایډیالونو څخه لاس په سر شم، چې د ملي داعیې دا خبره همداسې ګونګه پاتې شي. پر ژوندون ټلوېزیون له فشار راوړلو څخه هدف همدا و چې د دې رسنۍ له لارې د خلکو پیغام رسول کېږي او د ولس غږ پورته کېږي، که دا رسنۍ ټکنۍ او یا وتړل شي، نو پر اوسني وخت دا کار د افغانیت او اسلامیت د داعیې د تړلو او یا هم د دې ایډیالونو د ټکني کولو په مانا ګڼل کېږي. د دوی بل هدف دا و چې د خلکو ذهنیت له اصلي موضوع (اسلامیت او افغانیت) څخه څنګزني موضوع (ژوندون ټلوېزیون) او د هغه تعلیق ته راواړوي. خو زموږ باغیرته ملت د شعوري هڅو او لاریونونو په ترڅ کې هم د ژوندون د تعلیق او تړلو خطر ډېر ژر دفع کړ او هم د خپلو ایډیالونو د بریا په لټه کې شو. د ولس ربښتینو بچیانو د مشرانو او ولسي جرګې له مشرانو او بېلابېلو غړو سره د خپلو کتنو په ترڅ کې هغو ته په ډاګه کړې او دا خبره یې تعقیب کړې وه چې دوی له دې دوو ارزښتونو څخه تېرېدونکي نه دي. سترې محکمې ته یې د خپل (۱۳) ماده یي پرېکړه لیک په ترڅ کې هم دا په ډاګه کړې وه چې د اساسي قانون د دریيمې او څلورمې او نورو مادو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



محتویاتو سره سم دوی سل په سلو کې د هویت په تذکره کې د (اسلام) او (افغان) د کلیمو لیکل غواړي. د ګرانو هېوادوالو د ګڼو فشارونو له امله د مشرانو او ولسي جرګې ګډ کمېسیون پرېکړه وکړه چې د هویت په تذکرو کې دې د نوم ترڅنګ (تخلص) او د (دین) ستون زیات شي، خو د ملت په نامه راغلو په اصطلاح استازو یوځل بیا د (ملت) ستون ته شا واړوله، خو زموږ ګرانو هېوادوالو، تحریکوالو، ژوندونوالو، لیکوالو او نورو مخورو پر دې فشاري پرمختګ بسنه ونه کړه، دوی وویل که څه هم دا یو پرمختګ دی خو لا هم په سلو کې پنځوس برخې مزل پاتې دی، موږ نه غواړو د یوه ارزښت په لیکلو سره بل له منځه یوسو؛ اسلام ولیکو، ملت هېر او نفې کړو او یا ملت ولیکو اسلام له سره تېر کړو، موږ دا دواړه ایډیالونه غواړو او دواړه د تذکرې پر لومړي مخ غواړو.



تحریکوالو، ژوندونوالو، مدني او فرهنګي ټولنو او ځوانو خوځښتونو یو ځل بیا د بېلابېلو غونډو او متواترو اعلامیو له لارې له ولسمشر، سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون څخه وغوښتل چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون دا نیمګړې او ناقانونه پرېکړه رد او د تعدیل لپاره یې پرېکړه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه (یون) په خپله د افغانستان ملي تحریک او ګڼو فرهنګي ټولنو په استازۍ سترې محکمې ته عارض شوم او د بېلابېلو ټولنو ګډه اعلامیه او غوښتنه مې د سترې محکمې سرپرست (قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي) ته ورسوله له هغه سره مې په دې اړه رسمي ملاقات وکړ او د ټولو هېوادوالو غوښتنه او اندېښنه مې ورسره شریکه کړه، ما له قاضي القضات صیب څخه وغوښتل څرنګه چې د ملي شورا وروستۍ پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې له پنځمې فقرې سره په تضاد کې ده، ستره محکمه باید د نفوسو د احوالو د ثبت دا مصوبه د اساسي قانون له محتویاتو سره سمه وڅېړي چې سمون ورسره لري که په ټکر کې ده؟ او په دې باب خپله پرېکړه ولسمشر ته صادره کړي، قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي ماته وویل ((ستاسو خبره سمه ده د ملي شورا پرېکړه د اساسي قانون د محتویاتو او په تېره بیا له څلورمې مادې سره سمون نه لري موږ له اساسي قانون سره د نورو قوانینو مطابقت څېړو، په دې شرط چې حکومت یې له موږ څخه وغواړي، نه په خپل سر د قوانینو مطابقت څېړو او نه هم له دولت یا حکومت پرته د نورو نادولتي، سیاسي، ټولنیزو او نورو ټولنو په غوښتنه د قوانینو مطابقت مطالعه کوو))، پوهاند عظیمي چې د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون غړی هم و، دا هم وویل: ((کله چې اساسي قانون جوړېده، نو فکر وشو چې که د هر چا په غوښتنه له نورو قوانینو سره د اساسي قانون د تطابق څېړنه مطرح شي، نو له سترې محکمې څخه به خپل ټول اساسي کارونه پاتې وي، همدا قوانین به څېړي، نو ځکه د دې غوښتنې اعمال حکومت ته محول شو.)) پوهاند عظیمي بیا قانون ته لاس کړ په دې باب یې یوه ماده ولوستله چې ستره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه د حکومت په غوښتنه له اساسي قانون سره د نورو قوانينو مطابقت څېړي. پوهاند عظيمي وويل: ((که تاسې غواړئ چې د ملي شورا دا پرېکړه له اساسي قانون سره په مطابقت کې وڅېړل شي، بايد حکومت ته خپل عرايض وړاندې کړئ چې هغه يې موږ ته راولېږي او موږ به بيا دا موضوع د سترې محکمې د عالي شورا په غونډه کې مطرح کړو.)) کله چې زه د قاضي القضات له دفتره راوتلم، نو پر همغه ورځ مې جمهوري رياست ته د همغې اعلامیې د متن يوه کاپي ورولېږله: يوه کاپي مې د ولسمشر فرهنگي چارو مشاور ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) او بله مې هم د ولسمشر د دفتر رييس ښاغلي (کريم خرم) ته ،چې دوی يې ولسمشر ته ورسوي د دې اعلامیې په متن کې راغلي وو: ((تر هغه پورې چې جمهور رييس له سترې محکمې، د اساسي قانون پر تطبيق د څار کمېسيون او نور حقوقپوهانو سره سلا مشوره نه وي کړې، بايد د ملي شورا ناقانونه مصوبه توشيح نه کړي)) له نېکه مرغه چې اعلاميه ولسمشر ته رسېدلې وه، يوه ورځ وروسته ورته د توشيح لپاره د ملي شورا مصوبه هم راغله، ولسمشر د اعلامیې د متن منطق ته په کتو سره د ملي شورا مصوبه معطل او له توشيح څخه يې ډډه وکړه. خو د هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو بنسټونو اعلاميه ساعت په ساعت د (ژوندون ټلوېزيون) پر څپو خپرېدله او هېڅ وقفه په کې نه راتلله. دې سره موږ جوخت له بېلابېلو لارو او اشخاصو، لکه ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل)، (کريم خرم)، (ډاکتر رنگين دادفر سپنتا)، (ډاکتر صادق مدبر) او نورو اشخاصو له لارې هره شېبه او پرله پسې ډول هڅه کوله چې له ولسمشر سره ليدنه وکړو او د بې هويتۍ د دې سترې غميزې په باب ورته خپل دلايل ووايو، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواشینۍ سره چې بریالي نه شو، یوه اوونۍ وروسته ولسمشر د عدلي او قضایي چارو کمېسیون په غونډه کې دا موضوع مطرح کړه. په دې غونډه کې قاضي القضات (عبدالسلام عظیمي)، د عدلي او قضایي چارو د کمېسیون غړی نصرالله ستانیکزی، د عدلیې وزیر (حبیب الله غالب)، د ملي امنیت شورا سلاکار (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا)، د جمهور ریس دفتر رییس (کریم خرم)، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رییس (ګل رحمن قاضي) او ځینې نور اشخاص شامل وو. په دې غونډه کې هم د هویت پر تذکرو بحث وشو، داکتر سپنتا او نصرالله ستانیکزي د هویت په تذکرو کې د (افغان) کلیمې پر لیکلو ټینګار کړی و او په دې برخه کې یې ګڼ شمېر دلایل راوړي وو، خو غونډې کومه پایله نه لرله، یوه خبره په کې دا شوې وه چې د (سردار محمد داودخان) د وخت تذکره دې په پام کې ونیول شي، همغه تذکره یې غونډې ته راوړې وه. څرنګه چې هغه وخت (ملت) نه و لیکل شوی، نو د (ملت) د کلیمې مخالفینو ته دا یو غټه پلمه په لاس ورغله، د غونډې عمومي په تېره بیا د ولسمشر روحیه دا وه چې همدا تذکره ښه ده. کله چې موږ خبر شو نو بیا له کریم خرم، ډاکتر سپنتا او هېوادمل صیب سره په تماس کې شو او ورته ومو ویل چې په هېڅ وجه دا خبره د منلو وړ نه ده، تاسې د داودخان د وخت په تذکره کې یوازې همدا د (ملت) د یوې کلیمې نه لیکل معیار نیسئ او که ټوله تذکره؟ ما له ښاغلي کریم خرم او هېوادمل صیب سره ډېر تېزې خو له ډاکټر سپنتا سره په تول تللې خبرې وکړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library





کریم خرم راته وویل: ((د داودخان د وخت تذکره څنګه ده؟ هلته خو ملت نه شته؟)) ما ورته وویل: ((د داودخان د وخت په تذکره کې خو نورې ژبې هم نه شته، هغه کاغذي وه، دا الکترونیکي، هغه ټوله پښتو وه، دا په څو ژبو ده؟ ایا دا حکومت هم د داودخان د حکومت په معیارونو برابر دی؟ د داودخان په وخت کې کوم والي له افغانیته انکار کولای شو؟ شورا د دې جرئت درلود چې افغان ضد او اسلام ضد حرکت وکړي، داودخان خو قومي او سیمه ییز تخلصونه هم په همدې خاطر لغوه کړي وو چې واحد ملت جوړ او قوي شي، اوس خو ټول حکومت پر سیمو او قومي ډلو وېشل شوی، کوم کار مو د داودخان د حکومت پر معیار برابر دی، چې یوازې هلته د (ملت) کلیمې له نشتوالي څخه ناوړه ګټه اخیستل کېږي، که د داودخان تذکره معیار وي، نو بیا ټوله تذکره معیار کړئ، نه یوازې یوه کلیمه. په هغه تذکره کې خو (دین) هم ذکر و، خو د اوسني حکومت په طرحه کې خو نه (دین) و او نه (ملت).

له ښاغلي هېوادمل سره مې هم همدا خبرې وکړې، ډاکټر سپنتا راته په ټلېفون کې د قضایي کمېسیون د غونډې په باب وویل چې زما نظر له پخوا څخه په دې باب معلوم دی، زه د افغان د کلیمې پلوی یم (افغان) زموږ ملي او سیاسي هویت دی، تاسې کولای شئ له ښاغلي کریم خرم څخه چې په هغه جلسه کې ناست و، خو په جلسه کې یې هېڅ خبرې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، زما د نظر په باب وپوښتئ. سپنتا وویل: (( باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، مسئله قوم برایم مطرح نیست اما باید یک هویت داشته باشیم ان هویت ملي افغان است، صرف نظر از اینکه بعضی ها از کلیمه افغان تعبیر دوگانه دارد، بعضی ها افغان به معنی پشتون تلقی میکند، اما ما افغان نه به معنی پشتون، بلکه به معنی هویت ملی و سیاسی و مدرن ان تلقی مینمایم. ما درجلسه قضایی به رییس جمهور گفتم که در فرانسه (۳۵) درصد (فرانس) زندگی میکند اما همه باشنده گان فرانسه (فرانس) را به حیث هویت ملی خویش قبول کردند، در افغانستان هم کدام مشکلی وجود ندارد که افغان را به حیث هویت ملی خود قبول نمایم.)) سپنتا زیاته کړه: ((په دې مسئله کې زه تاسره هم نظره یم، سره له دې چې په ډېرو برخو کې زما او ستا د نظرونو ترمنځ اختلاف و او شته. خو په دې مسئله کې زه ستا د نظر پلوی یم)) البته ډاکتر سپنتا د (دین) په انډول د (ملت) پر عنصر زیاته تبصره وکړه او پر همدې توکي یې ټینګار کاوه، ځکه بحث هم د (ملت) پر کلیمې و.


له ډاکتر سپنتا، سرمحقق زلمي هېوادمل او کریم خرم سره زما ټلېفوني ارتباطات له دې امله وو چې همدا کسان جمهور رییس ته لاسرسی لري.

ددې خبرې یادول هم ضروري دي چې نصرالله ستانکزي هم ډېر زیات معقول حقوقي دلایل وړاندې کړي وو، خو چا ورته څه خاص ارزښت نه و ورکړی. موږ چې د جمهوري ریاست دې حالت ته پام وکړ؛ نو خواشیني شو، د ملي تحریک په ګډون مو د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ځوانو خوځښتونو او فرهنګي ټولنو مطرحو اشخاصو ته بلنه ورکړه ، له هغوی سره مو مشوره وکړه او د یوې بلې لویې مظاهرې په لټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې شو، یو شمېر ولایتونو کې هم له مطرحو شخصیتونو سره په تماس کې شو او پر یوه وخت مو په ګڼو ولایتونو کې د لویو مظاهرو د جوړولو تکل وکړ. د مظاهرې لپاره مو د تدارک کمېسیون هم په پام کې ونیو، خو یو شمېر ملګرو وویل: ((یوځل بیا به له ولسمشر سره تماس ونیسو، که نتیجه یې ور نه کړه، نو بیا به خپل وروستی زور په مظاهرو کې راټولوو او څرګندوو)) بیا بیا مو کوښښ وکړ، خو زموږ د څو ځلي او پرله پسې هڅو سره سره له ولسمشر سره پر ملاقات بریالي نه شو. یوه اوونۍ وړاندې راته هېوادمل صیب زنګ وواهه چې رییس صیب وایی تاسې د ملاقات لپاره خپل لېست راولېږئ، رییس صیب ماته ویلي چې ملاقات برابر کړه. ما ویل څومره کسان؟ هغه وویل، لس پنځلس متخصص او پوه کسان چې له هر قومه وي، ما د (۲۲) کسانو لېست وربرابر کړ، چې د بېلابېلو سیمو او بېلابېلو قومونو مخور شخصیتونه پکې وو، لېست مې ورولېږه، دوه ورځې وروسته له جمهوري ریاسته زنګ راغی، ستاسو لېست ډېر اوږد دی، رییس



صیب وایي، د (یون) په شمول یوازې پنځه تنه. بیا مې په لېست کې کمښت راوړ: یو (شېرعلم امله وال) چې په قوم پښه یي او ښه لیکوال دی، بل (جنرال غلام حسین هزاره)، د سیاسي چارو کارپوه، بل (عبدالحکیم تورسن)، په قوم تاجک او د سیاسي چارو کارپوه دی، څلورم شخص (چرند سنګ) د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوست د افغان سکانو له جملې څخه دی، او پنځم زه خپله وم، دا لست مې ورکړ،د (۱۳۹۲ل)کال د دلوې پر (شپږمه) د یکشنبې پر ورځ مازیګر څلورنیمې بجې ملاقات برابر شو. کله چې په ګلخانې ماڼۍ کې د ملاقات ځای ته ورسېدو، نو لوی څارنوال (اسحاق الکو)، قاضي القضات (پوهاند عظیمي) ، ډاکتر مدبر، ډاکتر سپنتا، کریم خرم، او نور هم راغلي وو، پوه شو چې دوی هم دې غونډې ته راغلي دي، ولسمشر هم تشریف راوړ، تر ستړي مشي وروسته یې ټول د کابینې د غونډو خونې ته دعوت کړو.**

**ولسمشر پر خپله څوکۍ او نورو په مشترک ډول دواړو خواوو ته کېناستو، د غونډې ټول ترکیب په دې ډول و:**

**۱- ولسمشر حامدکرزی**

**۲- قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي**

**۳- لوی څارنوال محمداسحق الکو**

**۴- عدلیې وزیر حبیب الله غالب**

**۵- د علماوو شورا رییس مولانا قیام الدین کشاف**

**۶- د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر رنګین دادفر سپنتا**

**۷- د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رییس ګل رحمن قاضي**

**۸- د چارو د اداري لوی رییس ډاکتر صادق مدبر**

**۹- د ولسمشر د دفتر رییس کریم خرم**

**۱۰- پوهنوال محمد اسمعیل یون**

**۱۱- جنرال غلام حسین هزاره**

**۱۲- شېرعلم امله وال**

**۱۳- عبدالحکیم تورسن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴- چرند سنگ

غونډه ولسمشر په دې ډول پیل کړه: ((بسم الله الرحمن الرحیم.

ورونو دا غونډه یوه غیر رسمي مشورتي غونډه ده، چې د یوې خاصې موضوع یانې د تذکرو په باب جوړه شوې ده.

یو شمېر ورونه چې د بېلابېلو فرهنگي، مدني ټولنو نمایندگي کوي (همداسې ده که نه؟ (ماته یې وویل، ما وویل هو) ماته عارض شوي وو او خپلې پانې یې رالېږلې وې، په هغو کې یې له ما غوښتي وو چې په تذکره کې دې د (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) کلیمې ولیکل شي، دا ورونه اوس راغلي د دوی دلایل به واورو چې دوی څه وایي، بیا به په دې موضوع غور وکړو)).

ماته یې وویل: ((شروع یې کړه،!)) ما وویل: ((زه یې پیل کړم؟ ده وویل: ((هو!)) ما خپلې خبرې په دې ډول پیل کړې: (( بسم الله الرحمن الرحیم. د قدرمن ولسمشر، قاضي القضات صیب او نورو ټولو قدرمنو مشرانو او د غونډې د برخوالو په اجازه!... ماسره د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو لپاره ډېر زیات دلایل شته، خو نه



غواړم دلته ټول بیان کړم، نه وخت د دې ایجاب کوي او نه دلته داسې خلک ناست دي چې هغوی پر دې موضوع او یا د دې موضوع پر باریکی نه پوهېږي، بلکې دلته ټول داسې خلک ناست دي چې پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع او د دې موضوع پر حساسیت، نزاکت او ضرورت ډېر زیات او ښه پوهېږي، نو ضرورت نه شته چې ډېر زیات توضیحات ورکړل شي. خو غټو ټکو ته مجبور یم اشاره وکړم: زموږ لرې ماضي، نږدې تېرې ماضي او حال ته په کتو سره (افغان) او (اسلام) داسې ارزښتونه دي چې دا ملت ورڅخه په هېڅ وجه تېرېدونکی نه دی، دې ملت پرې قرباني ورکړې، دا دواړه ارزښتونه نه د رایگرۍ موضوع ده، نه په رایگرۍ راغلي، نه پرې بحث او نظر پوښتنه کېدی شي. او نه څوک د دې حق لري چې پر هغو بحث وکړي. ټول بشري او زموږ اساسي قانون د دې حق راکوي چې دا ارزښتونه خوندي وساتو، د افغانستان اساسي قانون (قانون مې وروښود) د څلورمې مادې پنځمه فقره او نورې مادې واضح کوي چې د دې ملت پر هر وګړي د (افغان) کلیمه اطلاقېږي او تذکره موږ فرد ته ورکوو، د هر فرد هویت (افغان) دی، هېڅ قانون، هېڅ شخص حق نه لري چې له ماڅخه په چل او فرېب او یا د قوانینو د دوران له لارې دا حق سلب کړي. افغانستان کې هېڅ قانون د اساسي قانون له محتویاتو سره په ټکر کې وضع کېدی نه شي. کوم قانون چې اوس ملي شورا له بېلابېلو لارو او یا هم د څو اشخاصو او کړیو د چالاکۍ او فرېب له لارې تاسو ته رالېږلی، دا د همدغه اساسي قانون د محتویاتو مخالف دی، نو ځکه مردود دی. د افغانستان نورو تېرو تذکرو ته په پام سره چې هلته په اکثرو کې (دین) او (ملت) راغلي، د اسلام او افغان کلیمې یې تسجیل کړي دي، د همدې اوسني حکومت په تذکره کې هم د (دین) او (ملت) کلیمې لیکل شوي، ریس صیب! تاسو په خپله غالباً پر (۱۳۸۲ ل) کال یو فرمان صادر کړ چې د هویت په تذکرو کې دې د ټولو لپاره افغان کلیمه ولیکل شي))، پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال ولسمشر وویل ((بې شکه، ما په همدې خاطر دا کار وکړ چې ملي وحدت تامین شي)) ما ورته وویل: ((نو دا څوک و چې هم یې (دین) له تذکرې څخه وویست او هم (ملت)؟)) ما ورته ټولې تېرې تذکرې ورښکاره کړې. ((بله خبره داده چې د نړۍ نورو مطرح هېوادونو د هویت تذکرې که هم وګورئ، اکثرو په کې خپل ملي هویت درج کړی دی))، د لسو هېوادونو لکه قطر، کویټ، نایجریا، المان، برېتانیا او ځینو نورو هېوادونو تذکرې مې هم ورته ښکاره کړې، مخکې تر دې چې زه تذکرې وښیم، ولسمشر وویل، ((نور هېوادونه څنګه دي؟)) ما ورته وویل ((د اکثرو هېوادونو په تذکرو کې نشنلټي ذکر ده)) ده وویل: ((پاسپورت مه یادونه، تذکره راښیه،)) ما ورته د لسو هېوادونو تذکرې راوړې وې، هغه مې ورته لاس په لاس مخې ته کېښودې، د المان تذکره هم په کې وه په نشنلټي کې یې لیکل شوي وو (ډوچ) او د نورو هېوادونو هم، ولسمشر وویل: (سپنتا ته یې ورښکاره کړه) ډاکټر سپنتا د ولسمشر ښي لاس ته په وروستۍ لیکه کې ناست و. هغه ته یې لاس په لاس ورکړې. هغه چې تذکرې وکتلې، د تایید سر یې وخوځوه. جمهور رییس د داودخان د وخت تذکره په لاس کې ونیوه، ویې ویل: ((دادی دلته خو یې ملت نه دی لیکلی؟ څو ورځې مخکې موږ په جلسه کې همدا د داودخان د وخت تذکره معیار ونیوله، څرنګه چې هلته ملت نه و، نو موږ وویل چې دلته هم ورته ضرورت نه شته)). ما ورته وویل: ((رییس صیب د داود خان د وخت په تذکره کې مو همدا یو معیار په پام کې نیولی، چې ملت په کې نه شته که څنګه؟ هلته خو (دین) هم شته، تاسو ولې دین کښلی و، ایا د اوسنۍ تذکرې بڼه هم د هغې تذکرې په شان ده؟ شکل، ژبه او محتوا یې ټول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همغه شان دي؟ بله خبره داده چې د داودخان په وخت کې خو ملت ته هېڅ خطر نه و او نه چا د دې جرئت کولای شو چې د ملت پر وړاندې ودرېږي، د داودخان په تذکره کې (دین) معیار نه نیسئ، خو (ملت) چې په کې نه شته بیا همغه راتېنګوئ؟)) دې وخت کې یوځل عدليې وزیر غالب صیب غږ کړ، ((در تذکره ما دین بود)) ما ورته وویل: ((نه و، چېرته؟ نه دین و، نه ملت، دین بیا دویم ځل د مولوي صیب تره خېل محمدي په وړاندیز ولسي جرګې تصویب او په تذکره کې یې ځای کړ، د مشرانو جرګې په مصوبه کې نه دین شته نه ملت)) غالب صیب بیا ټینګار وکړ، ما وویل: ((زه دوه ځله نورو ملګرو سره شورا ته په همدې خاطر لاړم چې تذکره کې نه (دین) و نه (ملت)،)) غالب صیب بیا ټینګار وکړ: ((دین بود تو خبر نداری)) ما وویل: ((لاړ به شو د ولسي او مشرانو جرګې لومړیو بحثونو او تایید شویو طرحو ته)) دې وخت کې پوهاند صیب عظیمي د غالب صیب د نظر په باب وویل: (دین و، خو په ارشیف کې پاتې شوی)) دا چې د ارشیف مانا دلته څه ده؟ په دې پوه نه شوم، خو څه ناڅه پته ولګېده، هغه طرحه چې وزیرانو شورا پاس کړې وه، په هغې کې د (دین) کلیمه وه، خو کومه طرحه چې د عدليې وزارت له خوا شورا ته لېږل شوې، په هغې کې د (دین) کلیمه نه شته او یا هم د دې خبرې یادونه نه ده شوې چې د تذکرې پر لومړي مخ دې (دین) ولیکل شي.

دې وخت کې ولسمشر بیا وویل: ((نو چې پورته لیکل شوي د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، نو بیا خو دواړه په کې راغلل، افغانستان او اسلامي، نو بیا (ملت) او (دین) ته څه اړتیا ده؟)) ما وویل: ((رییس صیب د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت عنوان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي نوم دی، نه د (ملت) نوم دی، نه د (دین). دا عنوان وخت پر وخت بدلېږي، خو زموږ (دین) او (ملت) نه بدلېږي، (اسلام) او (افغان) نه بدلېږي. یو وخت دلته د افغانستان شاهي دولت و، بیا جمهوریت، شو، بیا دموکراتیک جمهوریت شو، بیا اسلامي دولت، بیا اسلامي امارت، بیا موقته اداره، انتقالي اداره او دا دی اوس اسلامي جمهوریت دی، یو څو فیصده د دې احتمال هم شته چې سبا ته بیا اسلامي امارت شي. د دولتونو عنوانونه بدلېږي، خو(ملت) او (دین) نه بدلېږي. زموږ دین (اسلام) او ملت مو (افغان) دی، دا د دولت په عنوانونو پورې نه تړل کېږي. بله خبره داده چې دې ته د ملي هویت تذکره هم وایي، نو چې زما ملي هویت په کې معلوم نه وي نو د څه شي تذکره ده؟ هغه تذکره چې ستا ملي او عقیده یي هویت نه شي څرګندولای، هغه نو د څه شي تذکره ده؟ څه ارزښت لري؟ لنډه دا چې موږ (بې دینه) او (بې ملته) تذکره نه غواړو او نه یې زغملای شو. دلته یو دولت په دې پلمه سقوط شو چې په تذکره کې یې د (دین) ستون نه و لیکل شوی، اوس به یو حکومت په دې پلمه سقوط کېږي چې په تذکره کې یې د (ملت) ستون نه دی لیکل شوی، نن چې یې د (افغان) کلیمه له تذکرې وویستله سبا ته به یې له پاسپورته باسي، بل سبا بیا د افغانستان کلیمه هم نه مني، پر هغې به هم راسره بحث کوي. بل په دې کې تاوان څه دی، که ولیکل شي؟)) جمهور رییس وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((هېڅ تاوان نه لري، بلکې ګټه لري، اته نوي فیصده ګټه لري.)) دې وخت کې یې عدلیې وزیر ته مخ ورواړوه، ویې وویل: ((شما بگوید!)) هغه وویل: ((او جا گفته شد که جمهوری اسلامی افغانستان امده، دیگر ضرورت نیست، همین افغانستان ملت ما است دیگر ضرورت نیست که ملت نوشته شود یا نه شود، همانجا همین فیصله شد.)) دا چې چا چېرې او څنګه دا فیصله وکړه موږ ته پته



ونه لګېده، خو دومره اخیستنه مو وکړه چې د کابینې تر غونډې وروسته نور خلک هم شته چې ځانګړې پرېکړې کولای شي او (ملت) د خصوصي اشخاصو کار دی چې راوړي یې او که نه، دا خلک معلومېږي نه، خو کارونه کولای شي. ما سملاسي وزیر صیب ته وویل: ((افغانستان زموږ د هېواد



نوم دی، د ملت نوم مو (افغان) دی، موږ باید د ملت او هېواد ترمنځ فرق وکړو. افغانستان رغېدلی له افغانه دی، نو څوک چې (افغان) نه مني (افغانستان) خو اتومات نه مني)).

ما وویل: ((زه نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلایل هم لرم که وخت و، وروسته به یې ووایم، خو اوس خپلو ملګرو ته نوبت ورکوم.)) جمهور رئیس، (حکیم تورسن) ته اشاره وکړه چې خبرې پیل کړي! تورسن صیب وویل: ((به اجازه رییس صاحب جمهور و تمام حاضرین محترم در این مجلس، ما میخواهم گفته های خود را در چند کلیمه مختصر عرض بدارم، تنها در مورد همین موضوع، مختص سری تذکره تابعیت بحث میکنم گر چه موضوعات دیگر نیز وجود دارد که فعلاً وقت اش نیست، اگر رییس صاحب لازم دید، در یک فرصت مناسب دیگر باز بحث میکنم، رییس صاحب محترم! باید عرض شود که در طول سی، سی و پنج سال بسیاری ارزشهای مهم به این و ان عنوان از ما گرفته شد، تنها افتخار که مانده، همین افغان و افغانیت ما و شما است، که تمام ملت را وصل کرده، کلیمه افغان به همه اقوام، خورد و کلان و هر فرد این مملکت اطلاق میشود، این مشخص به یک قوم نیست، افغان افتخار ماست، اگر این افتخار از ما گرفته شود، دیگر خو چیز نه مانده، که گرفته شود، همین هویت ملی ما (افغان) و (افغانیت) مانده اگر این هم گرفته شود، دیگر چیزی نمی ماند، حالا که خارج میروم، همه ما به افغان یاد میشویم، اگر تاجک و ازبک، پښتون و اینها نوشته شود در خارج برای ما چه بگوید، تاجک کجا استی؟، تاجک تاجکستان، ازبک ازبکستان، پشتون پاکستان، ما قرغیز هم داریم، تاتار هم دارم، اینها را چه بگوید؟ قرغیز قرغزستان یا قرغیز افغانستان، تاتار روسیه یا تاتار افغانستان، در روسیه چندین قوم زندگی میکند ولی همه انها را روس میگوید، در تذکره هویت شان برای همه شان روس گفته میشود. همین هندو های افغان ما، اینقدر وطنپرست هستند، که ما هندوستان رفته بودیم، یک هندو افغان مارا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تابعیت هندوستان میداد، یک شرط برایش مانده بود، که فقط جای تولد تانرا افغانستان نوشته نکو، هندو افغان ما برایش گفت، ما در افغانستان تولد شدم، ما افغان هستم، افغان و افغانستان افتخار ما ست، به خدا قسم که او هندو ما خاص از خاطر نام افغان و افغانستان تابعیت هندوستان را قبول نکرد، این وطن خانه مشترک ما است ما به هیچ وجه از افغان و افغانیت تیر شدنی نیستم و این افتخار باید از ما گرفته نه شود ونه ما به کسی به شمول شخص خود شما را حق میدهم، که هویت ملی ما از ما سلب شود، یک مورد دیگر را نیز میخواهم جناب رییس جمهور به شما بگویم، که شما همیشه در مبارزه جاری تان به خارجیها از دید کوچه اهنگری انتقاد مینماید، خوب است که از کوچه اهنگری به کوچه زرگری هم قدم بزنید از زرگران هم مشوره بگیرید، زرگران مشوره بسیار باریک و ظریفانه را میدهد، خوب است، کارشناسان و افراد چیزفهم را نیز وقت به وقت دعوت نماید و از انها نیز مشوره بگیرید!)) د تورسن صیب په خبرو کې د (کوچه اهنگری) کلیمې جمهور رییس ته ډېر خوند ورکړ، ویې ویل: (( چون جنگ جنگ اهنگری است، از این خاطر از کوچه اهنگری داخل میشم))

تورسن صیب وویل: ((ما گپهای دیگر رانیز داریم خو فعلاً وقتش نیست که همه شان رابیان کنیم، فعلاً به همین گپهای خود اکتفا مینمایم، تشکر از توجه شما!))

د تورسن صیب په خبرو پسې بیا جمهور رییس خبرې پیل کړې: ((گپهای تورسن صیب راست است، ما یک وقت در (شمله) بودیم، در شمله هندوستان، یک روز در یک کوچه بازار پیاده میرفتم، یک دو سه تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**طفل پشت ما می امد، خیرات میخواست، ما به یکی از انها یک چند روپیه دادم، فکر کردم که هر سه اش از یک فامیل است، چند قدم دیگر که رفتم از همین سه طفل یک دختر پشت ما میدوه، به اواز بلند میگوید که به او پیسه دا دی برای ما هم بدهید، ما پیسه ندادم، در اخر به اواز بلند دوزدن شروع کرد، عجیب این که دشنام زدنش به پشتو بود، داسې ترخې کنځلې يې کولې چې ای ستا پلان او مدان چې هېڅ د يادولو نه دي، زه حيران شوم چې دا جلۍ څنګه پښتو وايي، دلته دا جلۍ او پښتو؟ بيا مې ورپسې ورمنډه کړه چې ويې نيسم، پيسې ورته ورکړم، دې راځخه منډه کړه، ما هم دويدم اينا هم، خو گيرش نه كردم، طفل دیگر که همرایش بود و از او کرده کمی خورد بود او را گیر کردم، همداسې رپېده له ډاره، ما ويل مه ډارېږه، وهم دې نه، دا راته ووايه چې تاسې دلته څه کوئ او دا پښتو دې څنګه زده کړې؟ ده راته وويل چې مونږ خو پښتانه يو، دلته اوسېږو مونږ کور کې پښتو وايو، هغه بله مې خور وه، ټول کور کې پښتو وايو، بيا مې د هلک پر سر لاس تېر کړ. این ها پشتونهای بودند که سابق از پاکستان به هندوستان رفته بودند و در شمله در نزدیک کوه های همالیه زندگی میکرد، پشتو را یاد داشت اما کلی انها خود را هندی میگفتند، و در تذکره شان (انډين) نوشته بود، به همه هندی ها انډين (اطلاق) میشود، همین (سلمان خورشید) که فعلاً وزیر خارجه هندوستان است از لحاظ قومی پشتون است و در پشتون اپریدی است، در اپریدی هم کوکخیل است، مگر فعلاً نمیگه که پشتون هستم، اپریدی هستم یا کوکخیل هستم، بلکی میگه که هندی یا انډين هستم. در هندوستان صدها قوم و صدها مذهب هستند، به همه شان انډين اطلاق میشود، حتی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان هندوستان هم نشنلتی خود را (انډين) میگوید. پس گپ های تورسن صیب راست که هندوهای افغان ما، در هر جای دنیا که باشد، خود را افغان میگوید و به افغان بودن خود افتخار میکند.))



ولسمشر بيا جنرال غلام حسين هزاره ته نوبت ورکړ، جنرال هزاره خپلې خبرې داسې پيل کړې: ((به اجازه رییس صاحب جمهور و همه محترمین حاضر در این جلسه ما کمکی ملا هستم ملایی صحبت میکنیم، الله(ج) در قران عظیم الشان می فرماید: بسم الله الرحمن الرحیم، يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ...

هدف ما ازین ایه کریمه اینبود که خداوند(ج) ما را شعبه شعبه افریده، برای تعارف یکدیگر مگر به نزد خداوند(ج) مکرم کسی است که تقوا داشته باشد. وقتیکه ما برای تعارف خویش یک هویت نداشته باشیم، مردم ما را به نام چی و از کجا میشناسد؟ افغان و افغانستان افتخار ماست، ما سر افغان بودن خویش افتخار میکنم، یک تعداد اشخاص که انها نه نمایندگی از کدام قوم میکند. نه از کدام زبان و سمت گپ انها جدا است، هیچکس حق ندارد افغانیت ما را از پیش ما بگیرد، از این خاطر ما تایید میکنم، اسلامیت و افغانیت باید در تذکره ذکر گردد. ما از گپهای برادر خود اقای یون پشتیبانی میکنم و طرفدار این هستم که (دین) و

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملت) (اسلام) و (افغان) در تذکره ذکر گردد که هویت ملی ما مستحکم گردد.

گپ دیگر من به رییس جمهور این است که ما خو این طرف و ان طرف در تلویزیونهای گپ میزنم، دولت را گوشتزد میکنم، کاستیها، نواقص و کامیابیها را برجسته میسازیم، خوب است که رییس صاحب وقت ناوقت این کارشناسان، اهل خبره و دیگران را دعوت نماید، از اینها در مورد مسایل کلان مملکت مشوره بگیرد، تنها سر چند نفرکه این طرف و ان طرف رییس جمهور حلقه زده به اینها مملکت جور نه میشود، به هر حال در بعضی مسایل از عملکردها و نظر رییس جمهور به خصوص در مورد عقد قرارداد امنیتی پشتیبانی مینمایم و در بعضی مسایل گیله ها و انتقاد های رانیز دارم. در اخر یک بار دیگر گپهای برادران خود را تایید مینمایم، و خواهان ذکر کلیمه (اسلام) و (افغان) در تذکره هستم.))

جمهور رییس د جنرال هزاره تر خبرو وروسته وویل: (( جنرال صیب گپهای ته در تلویزیونها میشنویم از همه چیز خبر دارم.)) بیا يې شېرعلم امله وال ته د خبرو نوبت ورکړ!



شېرعلم امله وال وويل: ((د جمهور رييس او ټولو قدرمنو مشرانو په اجازه، زما نوم شېرعلم امله وال دی، په قوم پشه يي يم، په پشه يي، پښتو او دري ژبو درېواړو ښې خبرې کولای شم او په همدې درېواړو ژبو ليکنې کوم. تراوسه مې څو عنوانه کتابونه چاپ شوي چې دلته مې راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دي، رييس صاحب تاسو ته به يې وروسته درکړم، په پوهنتون کې استاد یم، د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې تدریس کوم، لکه څنګه چې مې مخکې په خبرو کې یادونه وکړه، زه په قوم پشه یي یم، خو ملت مې افغان دی او پر افغان ویاړم، افغان زما ملي هویت دی او د ټولو افغانانو ملي هویت دی، دا ویاړ تقریباً زر کاله وړاندې موږ ته راکړل شوی په دې جغرافیه کې ټول اوسېدونکي افغانان دي. موږ هېڅا ته، حتی رییس صیب تاسو ته هم اجازه نه درکوو، چې زموږ د ملي هویت پر وړاندې ودرېږئ. رییس صاحب تاسو چې له امریکا سره د امنیتي تړون په باب دا دومره جنجالونه جوړ کړي او دومره ناندرۍ وهئ، دا په دې خاطر چې افغان ملت ته ګته ورسوئ، دا ولس سوکاله کړئ، که دا هدف نه وي، نو دومره جنجالونو ته څه اړتیا ده؟ رییس صاحب تاسو په دې تېرو دولسو کلونو کې د ملي وحدت د ټینګښت لپاره ډېر کارونه کړي دي، د خپلې واکمنۍ په دې وروستیو شپو ورځو کې دا بل ګام هم پورته کړه، دا قانوني کار دی، تاسې د اساسي قانون ساتونکي او عملي کوونکی یاست



که چېرې تاسو دا کار ونه کړئ نو اینده کې به پر تاسو سخت تور پورې شي او ګټلی نوم به مو له خاورو سره خاورې شي.

نو زموږ غوښتنه ده چې قانون تعدیل او د اساسي قانون له روحیې سره سم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان او اسلام کلیمه د هویت په تذکرو کې راوړئ، تر اسلامیت او افغانیت نور پورته ارزښتونه موږ نه لرو، هېڅوک حق نه لري چې له موږ څخه دا ارزښتونه واخلي. موږ هر ډول قرباني ته حاضر یو، که د ویني تویېدنې تر بریده هم ورسېږي، له تاسې څخه د یو روشنفکره افغان په توګه هیله کوم، چې اساسي قانون تطبیق کړئ، ستاسې اساسي دنده هم د اساسي قانون تطبیق او ساتنه ده.)).

د شېرعلم امله وال تر خبرو وروسته ولسمشر (چرندسنګ) ته چې د افغان سکانو له جملې څخه دی، نوبت ورکړ. ولسمشر وویل: ((چرن سنګ اوس ستا نوبت دی وایه)) چرند سنګ وویل: د ریس صاحب او ټولو په اجازه، زه افغان یم او پر افغانیت ویاړم، البته (دین) مې له نورو افغانانو جلا دی، خو افغانیت کې ټولو سره شریک یم او ملت مې افغان دی، موږ پخوا هم په تذکره کې د (دین) او (ملت) د لیکلو غوښتنه کړې وه، اوس چې دین په کې ذکر شو، ښه شوه، څوک چې مسلمانان دي، هغه ته به د (دین) ستون په مقابل کې (اسلام) لیکي او څوک چې هندو وي، هغه ته به هندو لیکي، هندو خو زموږ مذهب یا دین شو، نو دا ملت مې څه شو؟ که زه یو بل ملک ته لاړ شم، نو هغه به ماته څه وواییي؟ د کوم ځای هندو یې؟ د هندوستان هندو یې که د بل ځای؟ ملت دې څه شی دی، نو زه به ورته څه ووایم؟ څه موده وړاندې د (قاضي نذیر حنیفي) په نامه یووکیل په ولسي جرګه کې وویل: هندوان او سکان دې موږ ته دا ثابته کړي چې دوی څه وخت له هندوستان څخه افغانستان ته راغلي دي؟ دې ښاغلي ته باید وویل شي چې هندوان او سکان له هندوستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان ته نه دي راغلي، بلکې دوی له دې ځایه هندوستان ته تللي دوی د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي)).**

**دې وخت کې جمهور رییس وویل: ((بې شکه، بې شکه چې د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي،**



**ښه یې نه دي کړي چې ویلي یې دي، دوی له هندوستانه راغلي دي، دوی د دې وطن اوسېدونکي دي.)) چرند سنگ زیاته کړه: ((دا زه افغان یم، د دې وطن ټول هندوان او سکان ځانونه افغانان بولي، پر افغانیت ویاړو، موږ چې د دنیا هر ملک ته لاړ شو، ځان ته افغان وایو، په هندوستان کې هم موږ ځان ته افغانان وایو، پر افغان ویاړو، هلته زموږ عزت هم په همدې کېږي چې افغانان یو، موږ غواړو چې دا افتخار له موږ څخه څوک وانخلي، زموږ او د هندوستان د هندوانو او سکانو خو فرق په همدې افغانیت کېږي، که نه مذهب خو مو له هغو سره یوشان دی، خو ملت مو توپیر لري، اوس چې څوک موږ څخه دا ملي هویت اخلي، دا د هېچا حق نه دی، نو رییس صاحب په پای کې بیا وایم چې په تذکره کې د (ملت) او (دین) کلیمې لیکل حتمي او ضروري دي، د ملت په مقابل کې دې ټولو ته افغان ولیکل شي او د (دین) په مقابل کې څوک چې مسلمان وي، هغه ته (اسلام) او څوک چې هندو مذهبی وي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه ته دې (هندو) وليکل شي، دا زما نظر و چې تاسې ته مې وړاندې کړ.))**

**د چرند سنگ په خبرو پسې ولسمشر د امنيتي چارو سلاکار (ډاکتر رنگين دادفر سپنتا) ته نوبت ورکړ، چې خپلې خبرې وکړي. ډاکتر سپنتا وويل: (( به اجازه همه دوستان! اول بايد ما متذکر شويم که ما در بسيارى مورد با همکار سابق خويش اقاى يون اختلاف نظر داشتم و دارم ولى در اين مورد ما نظر اينها راتاييد مينمايم.**

**باوجوديکه ما يک فارسى زبان هستم، قومم معلوم نيست که از کدام قوم هستم، ونه خود ما به قوم متعقد هستم، مادر ما مربوط قوم طاهرى است و در خانه ما اخرين کسيکه پشتو حرف ميزد پدرم بود، ما به قوم عقيده ندارم، ولى فارسى زبان هستم و زبان فارسى ما بعد از استاد واصف باخترى خوب است، جناب رييس صاحب من در اين مورد بار ها به شما صحبت کردم و در جلسه اخرى نيز سر موقف خود را دوباره تاکيد کردم. در اين جلسه يک بار ديگر ياد اور مى شوم که من يک افغان هستم، و افغان يک هويت ملى و سياسي ما ست، صرف نظر از ان که بعضى ها افغان را تعبير دوگانه ميدهد، براى ما افغان بودن هويت ملى است، در هر مملکت چندين قوم زندگى مينمايد، ما نميتوانيم، به هر قوم خورد و کلان يک هويت عليحده ملى بدهيم ما اين مثال را چند بار ياد اور شدم، يک بار ديگر تکرار ميکنم که يک جامعه يا ملت مانند يک کور يا پوش پياز است، که پرده اخرى يا پوش کلان تمام پرده هاى انرا پوشانده، حالا ما نميتوانيم که به هر پرده ان نام عليحده بدهم، کلش به نام پياز ياد ميگردد، افغانستان هم کشورى است که در ان اقوام گوناگون زندگى**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**میکند ولی همه اینها در پوش افغان گنجانیده میشود، و پرده افغان همه اینها را افاده میکند. تمام جوامع بشری، کشورهای پیشرفته این مشکل را حل نموده، بطور مثال فرانسه، در فرانسه سی و پنج در صد (فرانس) هستند، ولی همه باشندگان ان کشور (فرانس) رابه حیث هویت ملی خود قبول کرده.)) ډاکتر سپنتا د المان په باب وویل: ((در المان به همه المانیها (دوچ) نوشته میکند، هفت سال پیش ما پاسپورت المان داشتم، شما خبر داشتید که ما او را**



**پس تسلیم دادم، فعلاً پاسپورت ندارم، ولی اولادهای ما پاسپورت المانی دارد، در پاسپورت انها (دوچ- افغان) نوشته است. مثال های زیادی وجود دارد، رییس صاحب ما از روز اول برای تان گفتم، که افغان هویت ملی ماست و حالا نیز ما نظریات برادرها را درین مورد تایید مینمایم. اگر ستون (ملیت) ذکر گردد و در مقابل اش به همه (افغان) نوشته شود کاری درستی است.))**

**تر ډاکتر سپنتا وروسته (استاد نصرالله ستانیکزي) ته نوبت ورسېد. هغه خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((د محترم رییس صاحب او ټولو دوستانو په اجازه، زه نه غواړم ډېرې خبرې وکړم، اکثرو دوستانو خبرې وکړې، زه د دوستانو خبرې تائیدوم، منتها د داودخان د وخت د تذکرو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باب یوه یادونه کوم، په تېره جلسه کې هم دا تذکره یاده شوه چې (ملت) په کې نه دی یاد شوی، هلته هم ما خپل دلایل درلودل، اوس یو ځل بیا د هغې تذکرې په باب خپل دلایل وایم. د داودخان تذکره د (۱۳۵۳ل) کال په بهیر کې ووېشل شوه، دا هغه وخت و چې د مدني حقوقو قانون نه و تصویب شوی، پر (۱۳۵۵ل) کال د مدني حقوقو قانون تصویب شو. په دې قانون کې راغلي چې فردي او ملي هویت د یوه هېواد د هر تبع حق دی او دا قانون هم د داودخان په وخت کې تصویب شوی، که داودخان دویم ځل تذکرې وېشلې نو ضرور یې په کې د ملت ستون زیاتوه، ځکه چې د هویت یا تابعیت تذکرې له دې قانون سره په مخالفت کې نه شوې تقسیمېدلای، خو داودخان وخت پیدا نه کړ او نور مشکلات تاسې خپله ولیدل چې رامنځته شول. د دې لپاره چې دا مشکل حل شي ډاکتر صیب سپنتا د افغان د تثبیت لپاره د (ملیت) کلیمه پیشنهاد کړه، خو زه د (ملیت) پر ځای (ملت) د کلیمې وړاندیز کوم، ځکه چې له (ملیت) کلیمې څخه روسانو خلکو ته بل ډول ذهنیت ورکړی، هغوی (ملیت) د (قومیت) لپاره کاراوه، نه د نشنیلټۍ یا (ملت) د تعبیر په مانا.)) دې وخت کې ډاکتر سپنتا وویل: ((منظور ما همان نشنیلټي است نه قومیت)) ستانکزي زیاته کړه، د دې په خاطر چې له یوې واحدې کلیمې څخه دغه دوه گونی تعبیر له منځه لاړ شي نو ښه ده چې د (ملت) ستون زیات شي او په مقابل کې یې ټولو ته (افغان) کلیمه ولیکل شي.)) ولسمشر هم د (ملیت) د کلیمې د دوو گوني تعبیر په باب سر وخوځوه او ویې ویل: ((دا د روسانو تعبیر و، ملیت همدا نشنیلټي ده)). دې وخت کې ما (یون) وویل د دې لپاره چې ټول ناسم تعبیرونه له منځه لاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدا د (ملت) کلیمه سمه ده، اوسنۍ تذکره کې چې همدا اوس تقسمیږي هم همدا د (ملت) کلیمه لیکل کېږي او په مقابل کې یې ټولو ته افغان.**



**تر دې وروسته د علماوو شورا رییس (مولانا قیام الدین کشاف) خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((اسلامیت) او (افغانیت) او (اسلام) او (افغان) داسې حقیقتونه دي چې د لمر په شان روښانه دي، دا داسې دي چې یو څوک ووایي زه شپه او ورځ، تور او سپین نه منم او له هغو څخه انکار کوم. زه افسوس کوم د هغو خلکو په حال چې ځانته نه مسلمان وایي، نه افغان، ماته یو زیات شمېر علما راغلل راته یې وویل، چې موږ باید په دې برخه کې یوه فتوا صادره کړو، چې ولې د هویت په تذکرو کې (دین) نه دی راغلی، ما څو ځله دا خبره کړې چې افغانستان له اسلام پرته تش کالبد دی، داسې چې په تن کې روح نه وي، ما علماوو ته وویل چې دې برخه کې صبر کوو، نو اوس زه وایم، رییس صاحب چې دا دواړه کلیمې (دین) او (ملت) دې په تذکرو کې راشي، که نه له دې څخه غټ جنجال جوړیږي، دا څه مانا ورکوي چې تذکره کې دې نه (دین) وي نه (ملت) نو دا تذکره د څه لپاره ده؟ افغانستان یو اسلامي هېواد دی، دلته باید دې مسئلې ته ډېر پام وشي، د خلکو احساسات ونه پارول شي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې عدلیې وزیر وویل: ((دین است چرا نیست!)) ما بیا وویل: رییس صیب د حکومت په طرحه کې نه دین شته نه ملت، دا چې د حکومت کومو مامورینو له کومې لارې او څنګه دا کار کړی، دا بېله خبره ده، خو حقیقت دادی، چې حکومت کومه طرحه لېږلې وه په هغه کې نه (دین) شته نه (ملت).)) ولسمشر وویل: ((ولې نه شته؟ موږ خو دا مسئله لېږلې وه.)) دلته عدلیې وزیر بیا وویل: ((دین است))، دې وخت کې بیا پوهاند صیب عظیمي وویل: ((دا په ارشیف کې شته)). د ارشیف مانا همغه مانا ده چې ما ورته مخکې اشاره وکړه. یانې دا چې که دلته په وزیرانو شورا یا هم عدلي او قضایي کمېسیون کې پرې بحث هم شوی، هلته نه ده لېږل شوې. ما وویل: ((دا خو د ولس زور و چې (دین) یې د ښامار له ستوني راوویست او د تذکرې پر لومړي مخ یې ځای کړ، اوس باید ملت هم د دې ښامار له ستوني راوځي.))

ما وویل: (( رییس صاحب اصلي خبره داده چې په ملي شورا کې خلکو داسې فکر وکړ چې څه حکومت خو دین او ملت په تذکره کې راوړي، یو شمېر خلکو د تذکرې پر لومړي مخ د قومیت د لیکلو غوښتنه کوله، د ولسي جرګې اکثرو غړو پرېکړه وکړه چې د تذکرې پر لومړي مخ د قومیت ذکر ته اړتیا نه شته، دا کار واحد ملت پر قومونو وېشي، نو ټولو ته (افغان) لیکل سم دي. قومیت لکه څنګه چې په ډېټابېس کې و، ډېټا بېس کې پاتې شو، خو ملت نه په ډېټابېس کې و نه د حکومت په وړاندیز کې، نو څکه هم له ډېټا ووت، هم د تذکرې له لومړي مخه او کومو وکیلانو چې په شفاهي ډول د ملت یا افغان پر لیکلو ټینګار کاوه، د هغوی تصور دا و چې په متن کې شته، نو قومیت چې پر لومړي مخ رد شو نو خپله یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت پاتې کېږي، خو ویل کېږي چې د (ملت) په باب د وکیلانو شفاهي تصویب هم له ارشیف څخه ایستل شوی، نو په لیکلي متن کې خو غیر له هغې هم نه و، نو ځکه (ملت) هم د تذکرې له لومړي مخ او هم له ډېټابېس څخه ووت، ولسي جرگه وروسته متوجه شوه، چې (دین) هم پاتې شو، وروسته یې په بله غونډه کې د مولوي صیب تره خېل په وړاندیز هغه پاس او بیا یې مشرانو جرگې ته ولېږه. مشرانو جرگې د (تخلص) په زیاتولو د حکومت طرح تایید او ولسي جرگې د (دین) د ستون په زیاتولو سره قانون مشترک کمېسیون ته حواله کړ، گډ کمېسیون پر اختلافي مسایلو بحث وکړ (ملت) د توطیو، دسیسیو او ابهاماتو قرباني شو.)) پر دې وخت عدلي وزیر یوځل بیا وویل: ((کلیمه افغان در دیتابېس است)) ما ورته وویل: ((نه شته، رییس صاحب نه په ډېټابېس کې شته نه د تذکرې پر لومړي مخ.))

ولسمشر ما ته مخ راواړوه: ((دا کار خو موږ کاوه، څه ضرورت و مظاهرو ته، دومره غالمغال او ټلوېزیوني بحثونو ته!)) ما ورته وویل: ((رییس صیب اجازه راکړه، یو دوه درې معترضې جملې ووایم!)) هغه وویل: ((ووایه! ما وویل: ((یو نیم کال د مخه مې احوال درولېږه چې ماته وخت راکړه د هویت د تذکرو په باب درسره گورم، دا حساسه مسئله ده، یو شمېر کړی شته چې غواړي ملي هویت ته زیان ورسوي، ما ته چا وخت رانه کړ، تا وویل چې هېواد مل صاحب سره تماس ونیسه، ما هغه ته وخت پر وخت خپل نظریات ورکړي، کېدی شي هغه تا سره شریک کړي وي، خو د یو نیم کال په بهیر کې موږ پردې بریالي نه شو چې تاسو وگورو، کله چې ما استعفی ورکړه، دنده مې پرېښودله او تاسو سره مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاقات درلود، بیا مې یادونه وکړه چې که چېرې د ولسي جرګې انتخابات عادلانه شوي وای نو نن به په ولسي جرګه کې افغان ضد عناصرو د ملي هویت پر ضد کارتونه نه پورته کول، د افغان له کلیمې سره به یې حساسیت نه ښود، تا وویل چې دا څو محدود کسان دي، هغه ده بایې لوله، تاسې سره دا تصور و چې اکثرو د (ملت) کلیمه تایید او تصویب کړه، خو نتیجه دا وه چې هرڅه د ملت ضد عناصرو په ګټه پای ته ورسېدل.

کله چې له حکومته اشتباه وشوه یا مامورینو درغلي وکړه، افغان او اسلام یې حذف کړل، ولسي جرګې هم اسلام او افغان ذکر نه کړل، مشرانو جرګه هم له اسلام او افغانه لاس پر سر شوه، نو خبره نوره خلاصه وه ، یوازې خبره توشېح ته پاتې وه، دا خو د ولس د مظاهرو برکت و چې ولسي جرګه او مشرانو جرګه یې خپلو نیمګړتیاو ته متوجه کړې، په نتیجه کې اسلام بېرته ځای پر ځای شو، نو چې نه دې حکومت عرض اوري، نه مشرانو، نه ولسي جرګه او نه هم کوم بل ارګان، له مظاهرې او هغه هم له اصولي مظاهرې پرته بله کومه لاره پاتې ده؟)) ولسمشر وویل: ((ما خو توشیح نه کړ دا دی پر مېز راته پروت دی)) قانون یې ښکاره کړ، ما وویل: ((رییس صیب دا د همغو مظاهرو برکت دی چې تاسو دا قانون توشیح نه کړ، موږ نه یوازې دا غواړو چې دا قانون باید توشیح نه شي، بلکې غواړو چې په دې کې تعدیل راشي، که تاسو یې توشیح هم نه کړئ، هغه خپله پر قانون بدلېږي، موږ خو ډېره هڅه وکړه چې د دې قانون د توشیح د معیاد تر پوره کېدو دمخه تاسو سره وګورو، خو چا زموږ غوښتنو ته غوږ ونه نیوه، که موږ مظاهرې نه وای کړې، نو دا خبره هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حکومته او هم له شورا څخه تېره وه (اسلام) او (افغان) دواړه قرباني شوي وو)) ولسمشر بیا وویل:(( نه تاسې نور حساس کړل)) ما وویل: ((ولې حساس شي؟ موږ خو اسلامیت او افغانیت غوښتی، د دې په مقابل کې ولې ځینې اشخاص حساس شي؟ بیا چې حساس شي، شي دې نو.)) نو پر دې وخت ډاکټر سپنتا وویل: ((حساسیت طرف مقابل را هم باید در نظر گیرم)) هغو کسانو ته یې اشاره وه چې ویل یې (افغان نیستم) او بل د لوی اکثریت حساسیت ته چې ټول افغانیت او اسلامیت غواړي، ما وویل: په سلو کې (۹۹) افغانان افغانیت او اسلامیت غواړي یو کم شمېر اشخاص او کړۍ چې له افغانیت او اسلامیت سره دښمني لري، د هغوی خبرو ته اوس ترجیح ورکول کېږي او (۹۹) په سلو کې خلک له نظره لوېږي؟ د دې لوی اکثریت حساسیت ته پام نه کېږي خو د محدودو اشخاصو حساسیت ته پاملرنه کېږي.**



**بله خبره دا ده چې اوس د هویت په تذکرو کې د افغان کلیمې پر نه لیکلو ټینګار او پر لیکلو یې بې تفاوتۍ، له (ملت) او (دین) سره د مخالفت په مانا ده او بله وروستۍ خبره دا کوم چې که (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) په تذکره کې ذکر شي، د دې تاوان څه دی؟ تذکره پرې سېزل کېږي؟ مصارف پرې زیاتېږي؟ د چا پر اوږو بار پرېوځي که ځنګه؟ ګټه یې ډېره ده که زیان؟)) ولسمشر بیا وویل: ((نه ګټه یې ډېره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده)) ما وویل: ((چې گټه یې ډېره ده نو ویې لیکه، فرمان ورکړه)) ده وویل: ((جوړوم یې خو تاسو موږ خپل کار ته پرېږدئ))

تر دې وروسته جمهور رییس د نتیجې او جمع بندۍ په توگه وویل: ((ورونو موږ دلته شورا هم لرو، د هغوی نظر ته به هم گورو، ښه پوره بحث وشو اکثریت په دې نظر دي چې په قانون کې باید تعدیل راشي)) (ډاکټر مدبر) ته یې غږ کړ د قانون د توشیح وخت تېر شوی که پاتې؟ ډاکټر مدبر او نصرالله ستانکزي ورته وویل: ((پنځلس ورځې یې پوره شوي، تېره سه شنبه یې وخت پوره شو، هغه اوس د قانون ښه خپله کړې. دې وخت کې ولسمشر وویل: ((خیر نو حل لاره د قانون تعدیل دی؟)) نصرالله ستانکزي ورته وویل: ((هو د حل لاره یې همدا ده)) بیا ولسمشر وویل: ((ښه ده په دې به غور وکړو)) ما بیا وویل: ((رییس صیب موږ ته دې مشخص ونه ویل څه وخت به دا کار تر سره شي؟ بیا خبره مبهمه پاتې شوه، هسې نه چې د تېر په شان بیا پاتې شي؟ موږ غواړو وخت رافکس کړې چې موږ ملت ته ډاډ ورکړو)) ده بیا وویل:



((درجوړوو یې نور نو ستاسو کار نه دی دا د حکومت کار دی، موږ خپل کار ته پرېږدئ، کوو یې خو تاسې به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوئ)) ما بیا وویل: ((رییس صیب موږ به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوو خو تاسو به موږ ته د دې کار د عملي کولو تضمین راکوئ او وخت به راته ټاکئ چې تر دغه وخته دا مشکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلېږي؟)) ده بیا وویل: ((بس کوو یې په دې ورځو کې به یې خلاص کړو، نور ډېرو بحثونو او جنجالونو ته حاجت نه شته ، حکومت خپل کار ته پرېږدئ!)).

په همدې خبرو پسې جلسه ختمه شوه ولسمشر بلې خونې ته د بل ملاقات لپاره لاړ.

په دې جلسه کې لوی څارنوال محمد اسحق الکو هم ناست و، زموږ خبرو ته یې د تایید سر خوځاوه، خو خپله یې څه ونه ویل. (کریم خرم) او (ډاکټر صادق مدبر) هم خبرې ونه کړې. د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون مشر (گل رحمن قاضي) چې د دې غونډې بل برخوال و او لازمه وه چې خبرې یې کړې وې، تر اخره غلی و، هېڅ خبره یې ونه کړه.

تر ملاقات وروسته ما ته ډاکټر صیب صادق مدبر وویل: ((کلیمه افغان در دیتابېس وجود ندارد)) هغه د قانون هغې مصوبې ته لاس ونیو چې ده سره وه او ملي شورا ورته رالېږلي وه.

ددې دومره جزیاتو له یادونې او د غونډې د (مینوټ) له لیکلو څخه مې هدف دا و چې د ملي او عقیده یي هویت مسئله یوه ډېره حساسه مسئله ده، زه اوس هم د ولسمشر پر ژمنې سل په سلو کې باوري نه یم، موږ له جمهور رییس سره ژمنه وکړه چې د دې قانون تر تعدیل پورې به نه ټلوېزیوني بحثونه کوو او نه مظاهرې، خو که چیرې په یو معین وخت کې د ملت دا قانوني غوښتنې ونه منل شوې، نو بیا خو مجبور یو، هم به لاریون کوو هم به ټلوېزیوني بحثونه او هم به ټولې هغه قانوني لارې کاروو چې د دې برحقې داعیې لپاره په کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې تفصيلي ليکنې بل هدف او پيغام دا دی چې راتلونکي پښت ته دا په ډاگه کړو چې تاسو چا د هويت له بحرانه ژغورلي ياست او چا درته د هويت پر ضد توطيې جوړې کړې دي؟ له هغو اسلامپالو او هېواد پالو افغانانو څخه هم ډېره مننه کوم چې د تېرو څو مياشتو په بهير کې يې په ډېره ميړانه، د خپل ملي او اسلامي هويت د ملاتړ لپاره ميدان ته راودانگل.

دا ليکنه به په دې خاطر خپره کړم چې څو ورځې چوپ پاتې کېدل د ولسمشر د ژمنې عملي کېدو ته د انتظار لپاره دي، نه کوم حق السکوت دی، نه کوم ډار، نه کومه وېره، نه کوم احتياط او نه هم د کوم نامشروع امتياز خبره په کې مطرح ده چې ځانساتو او ورځچارو ته د ((ناوړه تبسم)) پلمه په لاس ورنه شي.

که د يو محدود او ټاکلي وخت په بهير کې د ملت دا مشروع غوښتنې ونه منل شوې؛ ولسمشر د يوه تقنيني فرمان په نتيجه کې د (اسلام) او (افغان) د تثبيت لپاره د (دين) او (ملت) ستونونه د هويت د تذکرې پر لومړي مخ ونه ليکل، نو بيا به د رسنيو او نورو ټولو تبليغاتي امکاناتو او د خپل ولس د ملي او شعوري بنسټونو له لارې خپل نظريات له ولس سره شريکوو، دا جريان به هم ټول د انځوريزو، چاپي او اورېدنيو رسنيو پر مخ  څرگند وو، د ولس په مشوره به د مظاهرو په گډون ټولې هغه لارې چارې کاروو چې قانون راته اجازه او حق راکوي. وما علينا الالبلاغ

يادښت: کله چې مو ولسمشر سره دا جلسه وکړه، تر هغه وروسته مو گام پرگام او وخت پر وخت په تذکرو کې د افغانيت او اسلاميت موضوع تعقيبوله، د ولسمشرۍ ماڼۍ له خوا په تېره بيا د چارو د ادارې له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت پر وخت احوال او ډاډ راکول کېده چې دا کار ضرور خلاصوو، تاسو اندېښنه مه کوئ، جمهور رییس حامدکرزي همدا ځوابونه رالېږل چې لوز مې درسره کړی دا کار خلاصوم مظاهرې به نه کوئ، په همدې همدې کې یې راباندې میاشتې تېرې کړې او زموږه اوسېله یې هم ډېره راتنګه کړه، څومره چې به موږ ټینګار کاوه، د ده ژمنې به لاپسې تازه کېدلې، خو هېڅکله یې بیا موږ ته د دې وخت رانه کړ چې له ده سره په مستقیم ډول وګورو او خپلې کړې ژمنې ورته مخې ته کېږدو، ترپایه همدا موضوع د غوښتنو او ژمنو ترمنځ ناحله پاتې شوه.ان تر دې چې د نوي ولسمشر لپاره د ولسمشرۍ د ټاکنو وخت رانږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرزي د واکمنۍ تر پایه نورې هڅې

د حامد کرزي په واکمنۍ کې له ګڼو مظاهرو او همدارنګه له هغه سره تر ځانګړې او وروستۍ تفصیلي کتنې وروسته بیا هم د ملي داعیې غوښتونکي په ارامه کېنناستل، هر وخت یې له بېلابېلو لارو د جمهور رییس له دفتر سره اړیکي نیول، خو هغوی به متواترې ژمنې کولې چې مظاهرې مه کوئ، کارونه خلاصېږي او موږ خپله ژمنه عملي کوو. په دې بهیر کې مو د سترې محکمې، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون او همدارنګه نورو اړوند ادارو ته بېلابېل مکتوبونه هم ورولېږل او د هویت په تذکره کې مو د اساسي قانون له محتوا سره سم د افغانیت او اسلامیت د لیکلو غوښتنه وکړه، خو یادو ارګانونو هم په دې برخه کې کوم قانوني ګام پورته نه کړ، د دې ترڅنګ مو په دې اړه د ټلوېزیون او نورو ډله ییزه رسنیو له لارې ګڼ شمېر اعلامیې هم خپرې کړې، خو خپله جمهور رییس حامدکرزي یوازې ژمنې کولې او وخت یې تېراوه. ځینو مشاورینو یې کېدی شي دا هم ورته ویلي وو چې له دې مسلې څخه ستونزې پیداکېږي، تاسو خو (یو ملي شخصیت!) یاست، دې جنجال کې ځان مه اخته کوه، بل حکومت ته یې پرېږده، کېدی شي دا ډول مشورې هم په کې خپل اغېز ولري، خو خپله دی هم په حکومت کې د یو شمېر جنګسالارانو او اقلیتونو د حقوقو د یو شمېر مدعیانو د خوشالۍ لپاره د قانون پر سر معاملې ته حاضر و. ان خبره دېته ورسېده چې د جمهوري ریاست انتخاباتو ته ډېر کم وخت پاتې شو، نوماندان هم مشخص شول. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ملي تحریک د اشرف غني له نوماندۍ څخه مشروط ملاتړ وکړ، (۲۱) ماده ییزه غوښتنې مو مطرح کړې له هغې جملې څخه په یوه ماده کې د ملي هویت په اړه یادونه شوې وه. په دې پروتوکول کې راغلي وو چې که چېرې اوسنی جمهور رییس (حامد کرزی) د خپل حاکمیت تر پایه د هویت په تذکرو کې له قانون سره سم د افغانیت او اسلامیت ذکر ونه کړي، نو که چېرې تاسو د جمهوري ریاست مقام ته بریالی شوئ، په لومړي گام کې به په دې برخه کې اقدام کوئ! او له اساسي قانون سره سم به د هویت په تذکرو کې د (اسلام) او (افغان) کلیمې لیکئ! هغه د دې مادې د تطبیق ژمنه وکړه او ان دا یې هم وویل چې دا ماده د یو شرط په توگه د بحث وړ ځکه نه ده چې زه خپله افغان یم او دا خپل مسوولیت گڼم. اشرف غني په ټاکنو کې بریالی شو. دا چې نور بیا څه وشول دا به په نورو لیکنو کې ولولئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جمهور رییس محمد اشرف غني څخه غوښتنه

**دا لیکنه یا غوښتنه د (۲۰۱۴م) کال د نومبر پر (۱۷)مه نېټه چې د (۱۳۹۳ل) کال د لړم میاشتې له (۲۶) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې ده. دا مهال ډاکتر اشرف غني نوی واکمنۍ ته رسېدلی و.**

مخکې تر دې چې دی د تذکرو قانون توشیح کړي دا غوښتنلیک هغه ته لېږل شوی و.

له هغې ورځې چې د تابعیت د تذکرې د وېش مسله رامنځته شوې، نو له همغې ورځې یو شمېر پردیپالو کړیو هڅه کړې چې د هویت په تذکرو



کې د دین او ملت ارزښتونه له منځه یوسي، دوی په ملي شورا کې د یو شمېر کړیو او په حکومت کې د یو شمېر اشخاصو په واسطه د هویت له تذکرو څخه د (اسلام) او (افغان) کلیمې وایستلې، خو په زرګونو افغانانو د ملي شورا او هم د سترې محکمې پر وړاندې مظاهرې وکړې، په پای کې ملي شورا د هویت په تذکره کې د (دین) کلیمه ولیکله چې د هر مسلمان افغان لپاره به ددین په مقابل کې د (اسلام) کلیمه لیکل کېږي، خو د (ملت) کلیمه چې په مقابل کې به یې د هر افغان لپاره د (افغان) کلیمه لیکل کېږي، په تذکره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې را نه وړه او په دې ډول يې د یوه واحد افغان ملت د هويت د تثبيت مخه ونيوله.

تر هغه وروسته ګڼ شمېر افغانانو د سترې محکمې له رييس سره وکتل، هغه وويل د شورا دا پرېکړه ، چې څوک له خپل ملي هويت څخه بې برخې کړي، ناقانونه ده. خو ويې ويل چې په دې برخه کې د محکمې حکم د یوه قانوني بهير ايجاب کوي. بيا ګڼو افغانانو له ولسمشر حامد کرزي سره وکتل، هغه د سترې محکمې رييس، لوی څارنوال، د اساسي قانون پر تطبيق د څار کمېسيون مشر، د امنيت شورا سلاکار، د علماوو شورا رييس، خپل حقوقي سلاکاران، د عدليې وزير او د نورو اړوندو ادارو مسولين راوغوښتل، په دې غونډه کې پرېکړه وشوه چې ولسمشر دې د يوه ځانګړي تقنيني فرمان له لارې د ملي شورا تېروتنه اصلاح کړي او حکم دې وکړي چې د تذکرې پر کارت د (دين) او (ملت) ستونونه دواړه وليکل شي، د دين په مقابل کې دې د هر مسلمان افغان ته (اسلام) او د (ملت) په مقابل کې دې د هېواد هر اوسېدونکي ته (افغان) وليکل شي. جمهور رييس دا ژمنه وکړه چې داکار به زه کوم، خو په خواشينۍ سره چې تر پایه يې خپله ژمنه عملي نه کړه او د ملي شورا ناقانونه پرېکړه هماغه شان ناقانونه پاتې شوه.

اوس چې يو ځل بيا د تذکرو د وېش او چاپ خبره مطرح کېږي، ټولو افغانانو سره دا تشويش دی چې هر افغان ته به (بې افغانه) تذکره ورکول کېږي او د ملي شورا ناقانونه پرېکړه به عملي کېږي؟ او که نه هر افغان ته به د هغه له هويت سره سم د (افغان) کليمې په ليکلو سره تذکرې ورکول کېږي اود اساسي قانون حکم به عملي کېږي؟

موږ ستاسو څخه په ډېر درنښت هيله کوو، چې د ملي شورا ناقانونه مصوبه بايد توشېح نه شي، جمهور رييس بايد د يوه تقنيني فرمان له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی د هویت په تذکره کې د(افغان) کلیمې پر لیکلو سره سمون او اصلاح راوړي او بیا د تذکرو د چاپ او وېش حکم صادر کړي.

د اصلاح لنډه لاره د تقنیني فرمان صادرول دي او اوږده لاره یې شورا ته د بېرته مستردېدو حکم دی. خو موږ هیله لرو چې دیوه فرمان په ترڅ کې دې دا تېروتنه اصلاح شي، له هغې پرته د بې هویته تذکرو وېش افغان ولس سره یو لوی خیانت ګڼو، داسې لوی خیانت چې د هېواد په تاریخ کې له بل هېڅ خیانت سره د پرتلنې وړ نه دی. یو ځل بیا ټینګار کوو چې د ملي هویت تذکره دې د ملي هویت په کلیمې (افغان) مزینه او بیا دې چاپ او توزیع شي.

په درناوي

افغان مدني او فرهنګي ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي هويت لپاره مبارزه دوام لري

د ژوندون ټلوېزيون خبريال په خپل يو راپور کې ليکي: د (۲۰۱۴م) کال د نومبر پر (۳۰)مه نېټه د افغانستان ملي تحريک مشر استاد پوهنوال محمد اسمعيل يون د افغان ملت گوند له پخواني مشر ښاغلي ډاکټر انوارالحق احدي سره وکتل. ښاغلي احدي استاد يون ته د حج فريضې د



ادا کولو په مناسبت يوه ځانگړې مېلمستيا کړې وه. په دې مېلمستيا او کتنه کې دواړو د هېواد د روانو حالاتو، اوسنيو خطرونو، راتلونکو احتمالي خطرونو او د هغوی د مخنيوي پر لارو چارو خبرې وکړې. استاد يون ډاکټر انوارالحق احدي ته په دې کتنه کې وويل: چې ټاکل شوې ده نن شپه د(قوس نهمه) ډاکټر اشرف غني احمدزی د نفوسو د احوال ثبت قانون توشېح کړي او دې کار سره به د (افغان) کليمه د هويت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکرو ووځي او هم به د افغانیت ستر ارزښت او داعیې ته سخت زیان واړوي، ډاکټر احدي وویل: که څه هم اوس موږ له ډاکټر اشرف غني سره مستقیم تماس نه لرو، خو کوښښ کوو چې له هرې ممکنې لارې ډاکټر اشرف غني ته پیغام ورسوم، چې دا قانون تر هغه وخته توشېح نه کړي چې یوه معقوله حل لاره ورته نه وي پیدا شوې. په دې کتنه کې ډاکټر انوارالحق احدي د مطرحو افغان شخصیتونو او ملي خوځښتونو د راټولولو پر یوې طرحې هم خبرې وکړې.

د یکشنبې ماسخوتن ډاکټر اشرف غني د نفوسو د احوالو د ثبت قانون له خپلې قانوني نیمګړتیا سره سره توشېح کړ. د دوشنبې پر ماښام د دې ناقانونه قانون پر وړاندې استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون خپل غبرګون وښود چې د ګڼو هېوادوالو ملاتړ یې راخپل کړ.

د قوس پر (یوولسمه) نېټه د سه شنبې پر ورځ استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون له پخواني ولسمشر حامد کرزي سره وکتل، په دې کتنه کې



په هېواد کې د ملي وحدت پر ټینګښت بحث وشو او د هېواد اوسني حالات او د پردیو مداخلې وڅېړل شوې. پخواني ولسمشر حامد کرزي د ډاکتر اشرف غني له خوا د نفوسو د احوالو ثبت قانون پر توشېح خواشیني څرګنده کړه. استاد محمد اسمعیل یون ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ خو تاسو ته هم ډېر عذرونه وکړل او ډېرې جرګې مو درولېږلې چې دې قانون کې تعدیل راوړه، خو تاسو تعدیل رانه وړ. موږ او ټول ملت له تاسو څخه هم په دې برخه کې ډېرې ګیلې لرو او ډېر درڅخه خفه یو. حامد کرزي وویل: ما خو معطل کړ، امضا خو مې نه کړ، ده به هم نه امضا کاوه. استاد یون وویل: تاسو او اوسني ولسمشر دواړو په کې خپله خپله برخه لرله، خو نتیجه هغه څه شوه چې دا دی اوس یې ګورو او راتلونکی نسل به یې هم بد عواقب وګوري .**

**د ژوندون خبریال زیاتوي:**

**استاد یون ته هره ورځ په سلګونو افغان مشران او ځوانان راځي او په دې باب ورسره ګوري، استاد یون غواړي د خپل ولس له مطرحو شخصیتونو او ملي خوځښتونو څخه تر سلا مشورې وروسته د ملي هویت د ځلونې او د هویت په تذکرو کې د افغان کلیمې د ځایونې لپاره ټولې هڅې منسجمې کړي او بیا په دې برخه کې غوڅ اقدام وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیا هم افغانیت او ملي هویت

**د (۱۳۹۳ل) کال د لېندۍ پر (۹)مه نېټه ډاکتر غني په پټو سترګو او له چا سره له مشورې پرته د نفوسو د احوالو ثبت قانون توشیح کړ. دې کار یو ځل بیا اساسي قانون تر پښو لاندې کړ. موږ چې تر دې دمه پورې د ملي هویت داعیه په منظم ډول تعقیب کړې وه، دې کار راباندې سخت تاثیر وکړ. یوه ورځ وروسته ما د غني د دې اقدام پر وړاندې خپل قانوني غبرګون وښود چې دلته یې د هغې وینا د لیکلي متن یوه برخه رانقلوم:**

**د کایناتو د هغه ستر رب په نامه چې د زرې زرې حساب او کتاب**



**ورسره دی، نه له چا پیدا دی او نه ترې څوک پیدا دي، خو لکه څنګه چې یې دا ټول موجودات پیدا کړي، د سترګو په رپ کې یې فناه کولای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم شي، له امیر څخه فقیر، له فقیر څخه امیر، له غریب څخه غني او له غني څخه غریب جوړولای شي، هغه چې د غرور پر نیلي سپور وي او د پاچاهۍ نشې یې د عقل وزرونه تړلي وي، خو دی د دې توان لري چې:

په یوه گردښت یې پرېباسي له برمه
نه یې غشی نه لېندۍ وي نه یې سپار

گرانو هېوادوالو! زه نن نه د کومې ډلې، نه د کوم گوند، نه د کوم تنظیم، نه د کوم ولایت، نه د کوم سمت، نه د کوم رسنیز مرکز او نه هم د کوم زور او کومو زرو له ادرسه او نه هم د کوم چا په استازۍ تاسې ته مخاطب یم، زه یو عادي افغان یم او پر دې ویاړم چې د خپل عمر په نږدې (۴۷) کلن بهیر کې:

نه مې د چا مال خوړلی او نه مې څوک وژلي دي
نه مې چاته ورک شه یا گم شو کله ویلي دي
خو وخت د اعتراف دی گناه خپله درته وایمه
نه یمه منکر په مظلومانو مې ژړلي دي

گرانو او خوږو افغانانو! له هغې ورځې چې د پخواني شوروي اتحاد لښکرو زموږ پر هېواد یرغل وکړ، نو له همغې ورځې راهیسې هېڅ افغان ښه ورځ نه ده لیدلې، د روسانو په یرغل کې نه یوازې زموږ هېواد ته درانه زیانونه ورسېدل، بلکې ستر معنوي او کلتوري زیانونه یې هم واړول. د کلتوري او ملي زیانونو په لړ کې زموږ ملي هویت ته هم سخت زیان ورسول شو. روسانو او د هغو کورنیو تالیځتو د ملي هویت او واحد افغان ملت لپاره نوي، متضاد او بېلابېل تعریفونه وړاندې کړل، خو هغه هېوادپال افغانان چې د روسانو پر غرضونو او مرضونو پوهېدل، پر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت يې د روس پلوه ډلو د شومو حرکتونو پر وړاندې مبارزه وکړه، کله چې شوروي لښکرې ماتې شوې، نو بيا يې ځای د پارس او پنجاب نويو راټوکېدلو قوتونو او عربي شېخانو ونيو او روس غچ اخيستونکي ورسره يو ځل بيا ملګري شول او بيا هم زموږ پر ملي هويت او ملي وحدت له څو خواوو يرغلونه پيل شول. د دې مثلث او مربع لمبې لا سړې شوې نه وې چې د طالبانو د ترخه نظام او نړيوالو اړيکي د اور ليکې ته ورسېدل او يو ځل بيا هېوادوال د اور پر تبی کېنول شول، د بن په کنفرانس کې يوې محدودې سيمې، يوې ولسوالۍ او يوه روس پلوه او ايران پلوه متعصب ګروپ ته سياسي واک وسپارل شو، د ولسواکۍ انګازې او اوازې هرې خواته خپرې شوې، خو په نظام کې د واکمنو جنګسالارانو پر خلاف چا د نيوکې چغه نه شوه پورته کولای، يو تن د ولس په اصلي رايو نږدې درې ځله ولسمشر شو، خو (ولس) شاته پاتې شو او (مشر) د ارګ د دېوالونو دننه د جنګسالارانو په ډول ډول ناقانونه معاملو پوره ديارلس کاله تېر کړل، هر ملتپال او هېوادپال شخص چې په دې بهير کې د عدالت چغه پورته کوله او په نظام کې د واکمن فساد او سيکتاريزم پر وړاندې به ودرېده، هغه به په بېلابېلو فاشيستي او نشنيلستي تورونو تورنېده او د فعاليت ساحه به يې محدودېدله. په (۱۳) کلونو کې د پخواني پارس او اوسني ايران، فاشيستي مکروب دومره د دولت په رګونو کې ننوت چې نږدې هر رګ يې د ايران د هيلو تمثيل کاوه، له هرې خوا پر افغاني هويت بلوسې روانې وې، د پنجاب فاشيستي کړيو چې لا له نيمې پېړۍ راهيسې يې له افغاني هويت او ملي وحدت سره اساسي کينه لرله، د ايران له خاينو کړيو سره هماهنګ عمل ته راودانګل. ايرانپالې رسنۍ په حکومت کې دومره فعالې وې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاش او مادي امتیازات یې له نړیوالې ټولنې په تېره بیا له غربي نړۍ څخه ترلاسه کول، خو فکر، انګېزه او عقیده یې د ایران د اخوندانو پالـله. د هېواد اکثریت چې د طالبانو د افراط قرباني شوی و، په قصدي ډول حاشیې ته راکاږل شو او په هېواد کې د ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي هویت د حفاظت لپاره د وراثت خلا رامنځته شوه، له دې خلا څخه ایرانپالو او پنجابپالو کړیو په سرعت سره ګټه پورته کړه او د یادو شویو کړیو د نفوذ لپاره یې پراخه زمینه برابره کړه، پر ملي ترمینالوژۍ او نومونو د ایران د پارس ژبنی یرغل پیل شو او په زره بین یې هره هغه کلیمه یا لغت څارل چې له کلونو کلونو دلته دود وو او د افغانیت رنګ یې لاره، نو اتومات به یې ورته ایرانی لغت د متبادل په توګه غوره کړ او ایرانپالو رسنیو به یې پر تبلیغ لاس پورې کړ. په تېرو دیارلسو کلونو کې تر (۵) زیات ټلوېزیوني چینلونه او تر (۲۰) زیاتې چاپي رسنۍ په مستقیم ډول د ایران له خوا وچلېدل او لا هم چلېږي، د دغسې یو حالت په مقابل کې چې هر مسلمان او هېوادپال افغان سر پورته کړی، نو هغه ته د سر تر وېښتانو زیات دښمنان راټوکول شوي دي. زه د هغو افغانانو له جملې څخه یم چې له تېرو (۳۰) کلونو او په تېره بیا د تېرو (۱۳) کلونو په بهیر کې د روس، ایران او پاکستان دې شیطاني مثلث ته ښه په ځیر سره متوجه وم او څه چې مې له واکه شوي، هغه مې د هېواد د ملي ګټو او ملي هویت د خوندیتابه لپاره کارولي دي.

کله کله داسې هم شوي چې زموږ د ملي، اسلامي او انساني مبارزې پر وړاندې موږ ته خپل خلک لمسول شوي، تطمیع شوي، سپکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپورې يې راته ويلي، په سلو نومونو يې ياد کړي يو، خو موږ خپله اوسېله او زغم له لاسه نه دي ورکړي.**

**له هغې ورځې چې په افغانستان کې د هويت د تذکرو يا الکترونيکي تذکرو د جوړښت او وېش خبره مطرح شوې ، نو له همغې ورځې ايران او ايرانپالې کړۍ په دې هڅه کې دي چې هم د هويت د تذکرو په بڼه او ژبه کې تغير راوړي او هم يې محتوا کې، د دوی د شومو هڅو پر وړاندې له همغه پيله ما او موږ هم خپلې ملتپالې هڅې پيل کړي، هره دروازه، هر ور مو ټکولی، د هر ملتپال، هېوادپال چارواکي، زورواکي، کمواکي، کورواکي، ډېرواکي، مفکر او نا مفکر زنې او لاسونه مو نيولي، عذرونه مو ورته کړي چې د خدای لپاره لږ متوجه شئ، د ملت پر هويت يو سېلاب راروان دی. پخواني ولسمشر حامد کرزي ته شپږ مياشتې منتظر شوم چې د هويت د تذکرو په باب ورته خپل نظر ووايم، سره له دې چې د ده د دفتر په لس متری کې مې دفتر و، خو وخت يې را نه کړ، بيا مې ورته ليک وليکه، ويل يې هېڅکله به داسې نه کېږي چې هويت ته زيان ورسېږي، خو اخر يې هغه څه وکړل چې هيله ترې نه کېده، د نفوسو د احوالو ثبت قانون په داسې يوه بڼه ملي شورا ته لاړ چې د وزيرانو شورا او عدليې وزارت ترمنځ هم په متنونو کې توپير و! وزيرانو شورا يو متن تصويب کړی و او عدليې وزارت بل څه لېږلي و، ملي شورا کې ايرانپالي او پرديپالي گروپونه له بېلابېلو لارو، چل، فريب، مهارت، توطيې، تطميع او دولتي زور ځخه په گټې اخيستنې د (دين) او (ملت) د دواړو کليمو په مخنيوي کې بريالي شول، دې خبرې نو هغه وخت زور واخيست چې په شمال کې يو ميليادرد زورواکي چارواکي پښې ودربولې چې د هويت په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تذکرو کې دې د (افغان) پر ځای د هر چا (قوميت) وليکل شي، نو په کابل کې د سمبوليک ولسمشر زړه هم سست شو. کله چې په ولسي جرگه کې يو شمېر ماهرو پرديپالو منافقينو په چل او فرېب د ملي شورا اکثريت هېواد پال، خو کم کفايته او بې کفايته وکيلان غافلگير کړل، د هويت له تذکرې يې د (دين) او (ملت) دواړه ارزښتونه حذف کړل او د يوې (بې دينه) او (بې ملته) تذکرې د وړاندې کولو هڅه يې وکړه، نو يو زيات شمېر هېوادپالو او ملتپالو، اسلامپالو افغانانو د هغوی پر وړاندې لاريون وکړ. کله چې ايرانپالو کړيو د ولس د غبرگون زور وليد، نو بيا يې ژوندون ټلوېزيون ته پلمې جوړې کړې او په دې کړی کې ټولې ايرانپالې او پنجابپالې کړی سره راټاله شوې، خو د لوی خدای (ج) په فضل او د خپل ولس په ملاتړ ژوندون لکه څنگه چې ازاد و، هماغسې ازاد پاتې شو، سترې محکمې لاريونوالو سره ژمنه وکړه چې کله هم حکومت دا قانون سترې محکمې ته محول کړي، نو د هېوادوالو دې قانوني غوښتنو ته به قانوني جامه ور واغوندي. کله چې ملي شورا د هېوادوالو غبرگون وليد، نو په خپل گډ کمېسيون کې يې پرېکړه وکړه چې د (دين) ستون دې وليکل شي او په مقابل کې دې ټولو ته (اسلام) وليکل شي خو پر (ملت) يانې (افغان) يې بيا خاورې واړولې. موږ بيا سترې محکمې ته لاړو، قاضي القضات وويل چې ستاسو داعيه قانوني ده، خو ولسمشر بايد موږ ته دا قانون راولېږي چې له اساسي قانون سره يې تطابق وځېړو، ټولې هڅې مو وکارولې چې ولسمشر کرزي سره بايد وگورو، خو هغه، هغه مهال موږ ته وخت راکړ چې ولسمشر ته د دې قانون د مصوبې د وررسېدو پنځه لسمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ وه، دا چې پر دې ورځ څه تېر شول او څوک په دې مجلس کې شامل وو، دا مې ټولو هېوادوالو ته واضح کړي دي.

کله چې له پخواني ولسمشر څخه نهیلي شو او هغه ورځ تر بلې دا مسئله ټالوله، نو بیا مو تاسو ته مراجعه وکړه، هغه وخت تاسو یو نوماند وئ او زموږ له خوا د تاسو د ملاتړ لپاره یو اساسي شرط همدا و چې د هویت په تذکره کې به ضرور د افغان او اسلام کلیمې لیکل کېږي، تاسو ژمنه وکړه چې تر کامیابۍ وروسته به حتمي دا کار کوئ، خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې نه تاسو خپله ژمنه عملي کړه او نه هم پخواني ولسمشر، تاسو د خپلې ژمنې خلاف کار ترسره کړ، راساً مو په پټو سترګو همغه قانون توشیح کړ چې د حامد کرزي له وخته معلق پاتې و، اوس درته په ډاګه وایو چې ستاسو له خوا دا هڅه د اساسي قانون خلاف عمل دی او د ملي ګټو ضد کړنه، موږ به تر هغه وخته خپلو مبارزو ته دوام ورکوو چې تر څو مو خپل عقیده یي او ملي هویت خوندي کړی نه وي. د دې لپاره چې تاسو د ملت له عام نفرت سره مخامخ نه شئ، نو په ډېر ټینګار درڅخه غوښتنه کوو چې خپله دا ناقانونه پرېکړه بېرته واخله او د اساسي قانون له روحیې سره سم د هویت په تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمو لیکلو ته لاره اواره کړه. قانون تعدیل او ملي شورا ته یې واستوه، له دې پرته به د ملت له سخت غبرګون سره مخامخ شې.

د اساسي قانون د تطبیق او د ملي او اسلامي هویت د ځلا په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي هويت لپاره متواتره مبارزه

د ژوندون راډيو ټلوېزيون خبريالانو چې گام پر گام يې د ملي هويت موضوع له پيله تر دې دمه څارلې، په خپل وروستي راپور کې وايي:

د (۲۰۱۴م) کال د ډسمبر پر (۸)مه نېټه چې د (۱۳۹۳ل) کال د ليندۍ له (۱۷) نېټې سره سمون خوري، د هويت په تذکرې کې د ملت د ستون د ليکلو د ملي داعيې د تطبيق لپاره هلې ځلې روانې دي. گڼ شمېر مدني ټولنې او مطرح ملي شخصيتونه ټولې قانوني لارې گوري چې جمهور رييس اشرف غني احمدزي ته يې وړاندې کړي چې د هغه په لاس د نفوسو د احوالو د ثبت ناقانونه توشيح شوی قانون بېرته لغوه کړي او تر سمون وروسته يې توشيح او نافذ کړي.

تر هغې وروسته چې ولسمشر اشرف غني د نفوسو د احوالو د ثبت قانون د افغان له کليمې پرته توشيح کړ، گڼ شمېر غبرگونونه يې راوپارول گڼ شمېر افغانان گوابښ کوي، که د هويت په تذکرو کې د افغان نوم ذکر نه شي، تذکره نه اخلي او ولسمشر به له ننگونو سره مخ کړي.

د نفوسو د احوالو ثبت قانون چې د افغان له کليمې پرته د جمهور رييس له خوا توشيح شو، له گڼو پوښتنو او غبرگونونو سره مخ دی.

د هويت په تذکرې کې د ملت د ستون د ليکلو د ملي داعيې د تطبيق لپاره هلې ځلې روانې دي.

په دې لړ کې د افغانستان ملي تحريک مشر استاد پوهنوال محمد اسمعيل يون د يکشنبې شپه ناوخته د ملي امنيت شورا سلاکار محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنیف اتمر سره چې دا مهال په بهر کې دی، تلیفوني خبرې وکړې او ورڅخه یې وغوښتل، ولسمشر اشرف غني ته دا پیغام ورسوي چې افغان ولس له خپل هویته محروم نه کړي او که نه د ملت له سختو غبرگونونو سره به مخ شي. محمد حنیف اتمر له استاد محمد اسمعیل یون څخه وغوښتل چې څلور ورځې ماته وخت راکړئ، کله چې له سفر څخه



راستون شوم، نو ولسمشر ته به د ملت پیغام ورسوم. استاد محمد اسمعیل یون د یکشنبې پر ورځ سهار لس بجې د سترې محکمې له سرپرست ښاغلي (عبدالرشید راشد) سره وکتل، استاد یون د سترې محکمې له سرپرست څخه وغوښتل چې د نفوسو د احوالو ثبت قانون چې د ملي شورا له خوا تصویب شوی او ولسمشر اشرف غني احمدزي توشیح کړی د اساسي قانون د څلورمې



مادې له پنځمې فقرې سره په تضاد او ټکر کې دی. په دې فقره کې راغلي چې د هېواد پر هر وگړي د (افغان) کلیمه اطلاقېږي. خو ملي شورا د ملت د هویت دا حق حذف کړی دی. ستره محکمه باید له اساسي قانون سره د دې قانون مطابقت وڅېړي او ملت ته د خپل هویت حق بېرته ور په برخه کړي. د سترې محکمې سرپرست ښاغلي راشد استاد یون ته وویل، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی به د یوې اوونۍ په بهیر کې له ولسمشر سره وګوري او د ملت اندېښنه به ورسره شریکه کړي او نتیجه به بېرته مدني ټولنو او ولس سره شریکه کړي. د سترې محکمې سرپرست ژمنه وکړه چې که حکومت سترې محکمې ته دا قانون محول کړي، نو د سترې محکمې عالي شورا به یې په ډېر دقت سره وڅېړي او نتیجه به یې ولس ته بیان کړي.

له بلې خوا د ګڼ شمېر مدني، فرهنګي ټولنو او قومي شوراګانو استازو، یو شمېر تېرو سرپرستو وزیرانو او د اجراییه رییس لومړي مرستیال انجنیر محمدخان سره هم په دې اړه کتلي او د ملت ژوره اندېښنه یې هغوی سره شریکه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جمهور رییس غني سره ځانګړې کتنه

کله چې د (۱۳۹۳ل) کال د لېندۍ پر (۹)مه نېټه جمهور رییس غني په ناقانونه ډول د نفوسو د احوالو ثبت قانون توشیح کړ، نو له هغې ورځې سره سم بېلابېلو مدني او ملي ټولنو وپتېیله چې له قانوني لارو د دې پرېکړې پر خلاف خپل غبرګون وښیي، په دې بهیر کې لوی لاریونونه او نورې قانوني لارې هم شاملې وې. کله چې جمهور رییس غني د ملي حرکتونو له فعالیتونو او پلانونو خبر شو، نو د همدې کال د جدي په میاشت کې یې د دې حرکتونو استازو ته د ملاقات بلنه ورکړه. په دې ډله کې زه یون، ډاکټر خوشال روهي، ډاکټر فیض محمد ځلاند، سید خالد سادات، ډاکټر کمال سادات، خیال محمد حسیني او یو شمېر نور دوستان شامل وو. جمهور رییس غني چې کله هم زموږ دلایل واورېدل، نو ژمنه یې وکړه چې ما ته دوه میاشتې وخت راکړئ، د همدې ژمنیو رخصتیو (سلواغې) میاشت کې د نفوسو د احوالو ثبت قانون کې تعدیل راوړم او بیا به یې یا شورا ته ولېږم او یا به هم فرمان ورکړم. ما ته لږ وخت راکړئ چې د سترې محکمې له غړو سره مشوره وکړم، د هغوی تر مشورې وروسته به دا مشکل حل کړم، جمهور رییس وویل، کله چې مې په قانون کې تعدیل راوړ، نو بیا به تاسو هم د تذکرو د وېش په لړۍ کې مرسته کوئ، موږ ورسره هم خپله ژمنه وکړه. د دې ترڅنګ جمهور رییس دا ژمنه هم وکړه چې د تذکرو د وېش په اداره کې پراخ مالي فساد موجود دی، زه غواړم دا اداره مستقله کړم، فساد په کې ختم کړم او بیا د تذکرو د وېش بهیر پیل کړم.

موږ په خوښۍ له جمهور رییس څخه رارخصت شو، خو ژمنې لکه څنګه چې یې یادونه شوې ده، عملي نه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هویت په تذکرو کې یو نسبي مثبت پرمختګ

ولسمشر اشرف غني نن دوشنبه د (۱۳۹۴ل) کال د چنګاښ پر (۱۵) نېټه ژمنه وکړه چې په الکترونیکي تذکرو کې به د ملي هویت د تثبیت لپاره له اساسي قانون سره سم د ملت ستون لیکي او ټولو ته به د (افغان) کلیمه اطلاق کېږي. ولسمشر دا پرېکړه نن په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د برېښنایي تذکرو د وېش اړوند له (۳۲) کسیز هئیت سره په غونډه کې وکړه.



ولسمشر د عدلیې او کورنیو چارو وزراتونو ته لارښوونه وکړه چې په دې اړه د یو تقنیني فرمان متن برابر کړي. ولسمشر غني وویل چې دی به د ملي شورا د نږدې راتلونکې رخصتۍ پر مهال د یوه تقنیني فرمان په ترخ کې دا موضوع حل کړي او هر افغان به په برېښنایي تذکرو کې له افغان هویته برخمن شي. هیله ده ولسمشر غني پر خپلې کړې ژمنې وفا وکړي او ډېر ژر د اساسي قانون له حکم سره سم په برېښنایي تذکرو کې د افغان هویت د تثبیت لپاره ګام پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو ځل بيا د ملي هويت ننګه او ملاتړ

**(د افغانستان ملي تحريک اعلاميه)**

**د (۲۰۱۵م) کال د (اګست) مياشتې (۵)مه نېټه.**

**ټولو هېوادوالو ته څرګنده ده چې له نږدې درېو کلونو راهيسې د ملي هويت د تذکرو پر سر د ملتپالو افغانانو او ملت ضد (پټو او ښکاره) عناصرو ترمنځ مبارزه روانه ده. د دې مبارزې لړۍ له تېر سست او ايتلافي حکومت څخه اوسني دوه سري، اوه سري او ايتلافي حکومت ته راورسېده. تېر حکومت هم ملتپالو، اسلامپالو او هېوادپالو افغانانو سره ژمنې او قسمونه وکړل، خو هېڅکله يې هم خپلې ژمنې عملي نه کړې.**

**اوسني حکومت او په تېره بيا دولت مشر يې (ډاکتر اشرف غني) هم تر ټاکنو دمخه د ژمنو په تعقيب د تېر کال په څلورمه ربع کې د يو زيات شمېر کلتوري ټولنو، مدني او ملي خوځښتونو د استازو په ګډه غونډه کې ډېره ټينګه ژمنه وکړه او سوګند يې ياد کړ چې د ياد کال د دلوې او حوت په مياشت کې به د هويت په تذکرو کې د ملي هويت حق پرځای کړي او د (افغان) کليمه به د هر افغان لپاره ذکر کړي، له هغه وخته نږدې (۸) مياشتې تېرې شوې، خو ولسمشر د نن او سبا په پلمه خبره وغځوله. له دوو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتو راهیسې د دې بهیر ټولو اړوندو ارگانونو د ملي هویت حق د اعادې لپاره ټولې قانوني لارې چارې برابرې کړې، جمهور رییس ته یې د یو تقنیني فرمان متن برابر کړ او د ده له ژمنې سره سم یې ټول کارونه ورته بشپړ کړل، خو جمهور رییس یې د نن او سبا په طمع له لاسلیک څخه ډډه کوي. د همدې اوونۍ په بهیر کې د اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله تر مشرۍ لاندې په وزیرانو شورا کې یو وزیر هم په تذکرو کې د ملي هویت موضوع یاده نه کړه. داسې لکه چې د کوم بل هېواد د وزیرانو شورا جلسه وي او هېڅ افغان په کې گډون ونه لري. دوی د ملي شورا همغه پخوانۍ کرغېړنه مصوبه تایید کړه او د (افغان) کلیمې لیکل یې بیا، په اصطلاح د کابینې غونډې ته چې د دولت مشر اشرف غني په حضور کې جوړېږي، محول کړه.

د ډاکتر اشرف غني تېرو ژمنو او د اوسني گډوله حکومت نورو اجرااتو ته په کتو سره د دې وېره او خطر شته چې ډاکتر غني به یو ځل بیا هم خپلې تېرې ژمنې هېرې کړي او د ملت ضد، ایرانپالو او پاکستان پالو عناصرو د خوشالۍ په خاطر به د تېر په څېر یو ځل بیا د هغوی په گټه گام پورته کړي او د ملي شورا او په اصطلاح وزیرانو شورا تېره پرېکړه به تایید کړي.

د افغانستان ملي تحریک د یوه ملي، فرهنگي، هېوادپال، ملتپال او اسلامپال خوځښت په توگه چې تر دې دمه یې تر هرچا زیاته د ملي هویت او په تېره بیا د هویت په تذکره کې د (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو داعیه پاللې، یو ځل بیا هېوادوالو ته په ډاگه اعلانوي چې د ملي تحریک ټول غړي په خپل ټول توان سره د دې برحقې داعیې د بریا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د خپلې مبارزې تداوم ته تیار دي او د دې ترڅنګ له نورو ټولو هېوادپالو او ملتپالو افغانانو څخه هم هیله کوي چې دوی هم باید د خپل هویت د خوندیتابه لپاره یوې لویې مبارزې ته تیار اوسي.

له ټولو مدني، کلتوري ټولنو، قومي شوراګانو او ملي خوځښتونو څخه غواړو چې د ملي هویت د ننګې او ملاتړ لپاره یوه پراخه ګډه کمېټه جوړه کړي.

د افغانستان ملي تحریک له ولسمشر ډاکتر اشرف غني څخه جدي او بیا هم په ډېر تینګار غوښتنه کوي چې له اساسي قانون سره سم باید د هویت په تذکره کې د (افغان) کلیمې د لیکلو لپاره قانوني اقدام وکړي او تر دې زیات پر اساسي قانون او زموږ پر ملي هویت ملنډې ونه وهي. ملي هویت د ده او د کوم بل ښاغلي ډالۍ نه ده چې ملت ته یې ورکوي، بلکې د هغه ساتنه او پالنه د ده قانوني دنده ده، دا ښاغلی چې د هویت په تذکره کې (افغان) کلیمه نه شي لیکلی، نو افغان خاوره به څنګه له پردیو یرغلګرو وژغوري، که چېرې دولت مشر غني او د ده د دولت نورو دولتي مشرانو او حکومت مشرانو د ملت دا قانوني حق تېر، هېر او تر پښو لاندې کړ، نو په ځرګنده ورته وایو چې د ملت له داسې غبرګون سره به مخ شي چې دوی یې په خوب کې هم تصور نه وي کړی. بیا به نو د ټولو ناوړه احتمالي پېښو مسوولیت د دې ګډوله حکومت د ملت ضد عناصرو پر غاړه وي، د تاریخي شرم، ننګ او پېغور په رنګ به هم رنګ وي.

د افغان ملي هویت د ځلا

او د افغان ضد عناصرو د بربادۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک دارالانشا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیا هم اسلامیت او افغانیت او د هویت تذکره

(له اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله سره د کتنې جزیات)

د (۲۰۱۵م) کال د اګست پر (۱۰)مه نېټه مو له اجراییه رییس ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله سره وکتل او د هویت په تذکره کې مو د (دین) یانې اسلام او (ملت) یانې افغان د ستونونو پر زیاتولو ټینګار وکړ، د دې کتنې جزیات مې پر همغه ورځ ولیکل او خپاره مې کړل، دا دی د کتنې ټول جزیات کټ مټ دلته رانقلوم:

له هغې ورځې چې د هویت د تذکرو پر سر ستونزې راولاړې شوې، له همغه وخته بیا تر دې دمه پورې موږ ټول جزیات، که هغه مظاهرې وې، که له پارلمان سره جلسې او جنجالونه او یا هم له سترې محکمې، پخواني او اوسني ولسمشرانو سره جلا جلا کتنې او یا هم د بېلابېلو ملتپالو او هېوادپالو افغانانو ترمنځ په دې اړه خپل منځي جلسې، نو د دې ټولو جزیاتو څرنګوالی مو پر خپل وخت له خپل ولس سره شریک کړی دی. په دې ورځو کې د ډاکتر عبدالله عبدالله تر مشرۍ لاندې وزیرانو شورا پرېکړه وکړه چې برېښنایي تذکرې دې د اسد پر (۲۸)مه نېټه ووېشل شي. دې کار یو ځل بیا د بېلابېلو ملتپالو او هېوادپالو کړیو ترمنځ اندېښنې راولاړې کړې. اندېښنې د تذکرو د وېش د نېټې په باب نه وې، بلکې په دې اړه وې چې ملي هویت (افغان) په کې نه دی لیکل شوی؟ ټولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څرګنده ده چې وزیرانو شورا د ملي شورا د همغې نیمګړې مصوبې د تحقق لپاره پرېکړه کړې چې په هغه کې د ملت ستون یا (افغان هویت) حذف شوی و.

ددې اندېښنې د لرې کولو لپاره موږ ډېره هڅه وکړه چې له ولسمشر ډاکتر اشرف غني سره وګورو، خو لکه څنګه چې هغه له پخوا څخه، ان په حساسو هېوادنیو مسلو کې هم د وخت د نشتوالي پر نري رنځ اخته دی، بیا هم موږ ته له هغه سره د هغه د څو درجنو کم کفایته مشاورینو له شتوالي سره سره په دې حساسه مسله کې د کتنې زمینه برابره نه شوه. نو مجبور شو د غني د پنځوس سلیز حکومت له بل مشر ښاغلي (ډاکتر عبدالله عبدالله) سره وګورو. سره له دې چې له ډاکتر عبدالله عبدالله سره زموږ د پخواني ذهني واټن او تضاد له امله زموږ کتنه اسانه خبره نه وه، خو د افغانیت او اسلامیت د داعیې د اعادې لپاره موږ د هر ډول ذهني او رواني فشار زغملو ته تیار یو، نو ځکه مو د الکترونیکي تذکرو د وېش او چاپ د دوو تنو مسوولینو ښاغلي (همایون محتاط) او ښاغلي (میرویس علیزي) په واسطه له ډاکتر صیب عبدالله عبدالله سره د دې اندېښنې د روښانتیا په باب لیدنه وکړه. دا کتنه د (۱۳۹۴ل) کال د اسد پر (۱۹)مه نېټه، د دوشنبې پر ورځ د ماسپښین شل کم څلور بجې په سپېدار ماڼۍ کې تر سره شوه. په کتنه کې په خپله ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله، ښاغلي همایون محتاط، ښاغلي میرویس علیزي، ښاغلي ډاکتر فیض محمد ځلاند، ما (یون) او د اجراییه ریاست یو منشي ښاغلي (فریدون خوځون) ګډون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډې په پيل کې ښاغلي عبدالله عبدالله زما (يون) د مور بي بي د مړينې له کبله ماته د دعا لاسونه پورته کړل. بيا ما ورته د غونډې برخوال که څه هم ده خپله ټول پېژندل، په ډېر لنډيز سره وروپېژندل.

ورپسې ما د هويت په تذکره کې له پيله راپېښې شوې ستونزې يوه په بله پسې بيان کړې. په ملي شورا کې په دې برخه کې شوې درغلي، غبن او نيمګړی تصويب او همدارنګه په دې باب د ولس مظاهرې او غبرګونونه، پخواني او اوسني ولسمشر سره کتنې او د هغوی تعهدونه مې ټول يو په بل پسې تشريح کړل.

اوسني وخت کې مې ورته يو حل بيا د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقرې له مخې چې پر هر وګړي د افغان کليمه اطلاقېږي، د دې ستونزې قانوني حل تشريح کړ، بيا مې ورته د افغانيت د ذکر اړتيا



تشريح کړه او دا مې هم ورته واضح کړه چې که دا ستونزه حل نه شي، نو حکومت ته به غټې مشکلات پيدا شي، حکومت هم په نازک حالت کې دی، که مظاهرې او ستونزې راولاړې شي، نو طبيعي خبره ده چې اوسني نازک حکومت ته غټې چېلنجونه راولاړولای شي. موږ هم نه غواړو چې حکومت ته پر اوسنيو ستونزو نورې ستونزې، چې حکومت يې بيا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنترول وس هم ونه لري، راولاړېږي شي. اوس ستاسو څخه زموږ هیله ده، مخکې تر دې چې د اسد پر اته ویشتمه نېټه د تذکرو وېش پیل شي، ښه ده چې ولسمشر ته ووایې د ملت د ستون د زیاتونې یا د افغان کلیمې د لیکنې په ګډون نور ضروري مسایل د یوه تقنیني فرمان له لارې په تذکره کې ځای او بیا د تذکرې وېش پیل شي. موږ هم د تذکرې وېش غواړو او هم د ملت د ستون لیکل. خو د افغان کلیمې تر لیکنې دمخه د تذکرو له هر ډول وېش سره ځکه مخالف یو، چې دلته زموږ ملي هویت تر پوښتنې لاندې راځي.

زما تر دې او نورو توضیحاتو وروسته ډاکټر صیب عبدالله خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((اول زه خپل نظر درته وایم، زه په اصولو کې په تذکره کې له افغان کلیمې سره ایډیالوژیک مشکل نه لرم، په دې شکل چې اوس ده راشي او که افغان په کې ولیکل شي، هم مخالفت یې نه کوم، اوس خبره داده چې دا مسله داسې یو حد ته رسېدلې چې هر طرف ته په کې یو ډول ستونزه ده، نو که د یوې خوا غوښتنې په پام کې نیول کېږي دا هم یو مشکل دی، زما خپل نظر خو دا دی چې اوس تذکرې وویشل شي ښه به وي، زموږ یو زیات شمېر مشکلات د همدې تذکرو له امله دي، تذکره زموږ هویت دی، څومره چې ژر کېږي، باید توزیع یې پیل شي او که اوس ونه وېشل شي نو بیا ټول عمر دا مسله پاتې ده، نه نړیوال مرسته کوي او نه نور امکانات شته، اوس د وزیرانو شورا پرېکړه کړې، باید دا پرېکړه عملي شي، نن زه خبر شوم چې جمهور رییس په مطبوعاتي کنفرانس کې ویلي چې د تذکرو اداره په دې برخه کې تخنیکي مشکل لري او امادګي نه لري.)) دا مهال د تذکرو د وېش مشر (محتاط) صیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویل: ((ما امادگی داریم و هیچ نوع مشکل تخنیکی نداریم)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((زه فکر کوم هېڅ ډول تخنیکي مشکل نه شته خو که بل مشکل وي جمهور رییس یې باید واضح کړي، خو زه د اسد پر (۲۸)مه دا واضح کوم چې تخنیکي مشکل نه شته.)) دا مهال ما بیا وویل چې: ((موږ د تذکرو د وېش له بهیر سره مخالف نه یو، خو په دې شرط چې افغان کلیمه په کې ولیکل شي او که دا کلیمه په کې راغله نو موږ او په مجموع کې ټول ملت بیا هر ډول مرستې او همکارۍ ته تیار یو. له تاسو څخه اوس غوښتنه کوو چې دا مشکل له ولسمشر سره حل و فصل کړئ، موږ خپله اوس هغه ته لاسرسی نه لرو او وخت هم ډېر کم پاتې، هسې نه چې له ملي هویت پرته تذکرې پیل شي بیا به غټ مشکل پیدا شي.))**

**دا مهال ډاکټر صیب ځلاند وویل: ((ډاکټر صیب له تاسو څخه مو هیله ده چې تاسو په دې برخه کې جدي اقدامات وکړئ، له افغان پرته تذکره به ستاسو حکومت ته ډېرې سختې ستونزې راولاړې کړي، ډېرې خلک به سړکونو ته راووځي، په لسګونو زره خلک به مظاهرې وکړي او بیا به یې دا حکومت د کنترول ظرفیت هم نه لري او کېدی شي د حکومت د زوال سبب شي...)) ډاکټر صیب عبدالله عبدالله وویل: ((تاسو چې جمهور رییس سره کتلي وو هغه درته په دې برخه کې څه وویل؟)) ما وویل: ((د تېر ۱۳۹۳ل کال د جدي په میاشت کې موږ سره ولسمشر ژمنه وکړه چې د ملي شورا د ژمنیو رخصتیو پر مهال به د یو تقنیني فرمان له لارې دا مشکل حل کړم او افغان کلیمه به په تذکره کې درج کړو، ډاکټر صیب اشرف غني دا هم وویل چې زه به له ډاکټر صیب عبدالله عبدالله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره په دې برخه کې مشوره وکړم.)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((ما سره خو یې په دې باب څه نه دي ویلي، خو ستاسو نوم یې راته واخیست چې (یون) سره په دې باب غږېږم)) بیا ډاکټر صیب ځلاند وویل: ((جمهور رییس موږ ته تاسو د پلمې په توګه یادوي، ګنې زه خو یې منم خو دوی (تاسو) یې مخالفت کوئ او وایي چې د افغان کلیمه دې په کې نه راځي.))

دې خبرې سره ډاکټر عبدالله ټینګ غبرګون وښود، ویې ویل: ((نه نه هېڅ پوښتنه نه پیدا کېږي، هېڅوک زما پر افغانیت باندې شک نه شي کولای، زه همدې وطن کې پیدا شوی یم، ما دې وطن کې ټول عمر تېر کړی، ما جهاد کړی، د جهاد د تقدس په خاطر مې جهاد کړی، څوک حق نه لري چې پر ما باندې دا تور پورې کړي، البته ځینې خلک شته چې بېلابېل نظرونه لري، زه نه وایم چې د چا نظر سم دی او د چا نه دی، خو نظرونه دلته بېلابېل دي.))

ما وویل: ((ډاکټر صیب! نظرونه به بېلابېل وي خو مهمه خبره دا ده چې قانون څه وایي، زه بیا وایم چې د اساسي قانون د څلورمې مادې پنځمه فقره حکم کوي چې د افغانستان پر هر وګړي د افغان کلیمه اطلاقېږي او تذکره موږ هر وګړي ته ورکوو، نو بیا په دې کې سوال څه دی، چې موږ چاته ووایو افغان یې او که نه؟))

ډاکټر صیب عبدالله عبدالله وویل: ((پورته یې لیکلي دي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، دې کې ټول افاده شول، اسلام هم راغی او افغانستان هم، بل تعبیر ترې نه شي کېدی، غیر له افغانه، خو که څوک بیا بېلابېل تعبیرونه ترې کوي، هغوی کولای شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېدی شي ځینې خلک ځانته هېڅ افغان ونه وایي، خو دا کېدی شي ډېر محدود کسان وي.))**

**ما وویل: ((ډاکټر صیب یو ځل بیا وایمه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت نوم دی، چې زموږ د دولت یو ډول ځرګندوي، لکه یو وخت کې د افغانستان جمهوریت و، بیا د افغانستان دموکراتیک جمهوریت، بیا د افغانستان اسلامي دولت، بیا د افغانستان اسلامي امارت او اوس د افغانستان جمهوري دولت دی، دا نوم خو وخت پر وخت بدلېږي، خو ملت مو افغان دی او هغه نه بدلېږي، موږ باید د مملکت (country) او ملت (Nation) ترمنځ فرق وکړو. (افغانستان) له (افغانه) جوړ شوی، کله چې افغان نه منل کېږي، نو افغانستان خو بیا اتومات نه منل کېږي او تاسو خو ښه پوهېږئ چې له پورته عنوان څخه د هویت په برخه کې نوره ناوړه ګټه هم پورته کېږي.)) دا مهال ډاکټر عبدالله وویل: ((هو ربنتیا ځینې کسان بیا وایي، موږ افغانستاني یو، دا نو بیا د هغوی تعبیر دی، چې دا ډېر کم کسان دي او افغانستاني بیا د افغان مانا نه لري.)) ډاکټر ځلاند وویل: ((دا خو هغه کسان دي چې افغان نه مني هغه ډېر کم دي او د ګوتو په شمار دي، موږ د هغو په خاطر د افغان کلیمې له لیکلو تېر شو چې هغوی یې نه مني؟ خو چې اکثریت یې مني هغه په پام کې نه نیسو، نو راځئ چې ریفرینډم وکړو چې څوک اکثریت کېږي؟)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((په یوې کلیمې ریفرینډم سخت کار دی، ملت ته په تاوان دی، ملت سره وېشل کېږي، موږ څخه به نور کارونه پاتې وي، خو اکثریت معلوموته د پارلمان له لارې هم نسبي اکثریت په یو نه یو ډول معلومېږي)) ډاکټر ځلاند وویل: ((دا چېرته د ملت ربنتیني استازي دي؟)) ډاکټر عبدالله وویل: ((هر څنګه چې دي خو د ملت استازولي کوي.)) ما (یون) وویل: ((دې پارلمان خو یو ځل د افغانستان په سفارتونو کې د دوه تابعیته وو د رد موضوع هم په اکثریت سره تصویب کړې وه، د اهله تشیعه وو د شخصیه احوالو قانون یې هم په اکثریت سره تصویب کړی و، نو څنګه ولسمشر بېرته مسترد کړل او ملي شورا پرې بیا له سره غور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ. ولسي جرگه یوه ورځ یو وزیر ته د ناباورۍ او بله ورځ همغه وزیر ته د باور رایه ورکوي، په شورا کې دا مسله په غبن سره تېره شوې، په پیل کې مې ورته اشاره وکړه، هېڅوک په شورا کې پیدا نه شول چې ووایي زه افغان نه یم، بله خبره دا که شورا د اساسي قانون خلاف پرېکړه هم وکړي، نو موږ ته به د منلو وړ وي؟ جمهور رییس به له هغه واک څخه څه وخت گټه پورته کوي چې شورا یو ناقانونه مسوده تصویب کړي او دی یې د یو تقنیني فرمان له مخې اصلاح او یا یې بېرته ورمسترده کړي؟)) دا مهال ډاکټر عبدالله وویل: ((زه پوره باور لرم چې شورا کې به له یو دوه درېو تنو پرته هېڅوک هم ونه وایي چې زه افغان نه یم، ټول وایي چې موږ افغانان یو، خو اوس دا مسله همداسې راغلې ده.)) محتاط وویل ((فعلاً اکثریت شورا به این نظر است که کلیمه افغان ضروری بود، اگر این موضوع دوباره به شورا محول شود، یقین است که شورا صد در صد موضوع افغانیت را تایید میکند، اکثریت شان همرای ما در تماس هستند و خواهان شروع توزیع تذکره الکترونیکی است.)) ډاکټر عبدالله عبدالله وویل: ((حل لارې ووایئ! که چېرې جمهور رییس فرمان ورکړي چې افغان کلیمه دې په ډېټابیس کې راشي، مشکل به حل شي؟)) ما وویل: ((نه افغان کلیمه باید د تذکرې پر لومړي مخ راشي، موږ ولې خپل هویت د پردې تر شا پټ کړو، تذکره خو ده د هویت لپاره!))

میرویس علیزي او محتاط وویل: ((مشکل یو څه حلېږي خو پوره نه.)) دې وخت کې ډاکټر صیب عبدالله وویل: (( که قوم او ملت دواړه د تذکرې پر اول مخ راشي ځنگه به شي؟)) محتاط ورته وویل: ((د قوم د لیکلو په حالت کې اروپایي اتحادیه موږ ته فنډ نه راکوي او وایي چې دا د ملگرو ملتو د نړیوال کنوانسیون مخالف کار دی، دې حالت کې د یو چا ژوند ته گواښونه او خطرونه پېښېدی شي.))

ما وویل: ((موږ درې حل لارې وړاندې کوو: لومړی دا چې ټولو ته دې افغان ولیکل شي او د قانون حکم هم همدا دی، دویم که څوک پر قومیت ټینگار کوي، نو ملت دې ټولو ته افغان ولیکل شي او حتمي دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او قوم دې اختیاري پرېښودل شي، که د چا زړه و ودې لیکي او که د چا زړه نه و، نه دې لیکي او درېیم حالت دا دی چې دا ښه حالت هېڅکله نه دی او وروستی حالت دی چې ملت دې ټولو ته افغان ولیکل شي او که چا ویل چې زه افغان نه یم، نو د ملت ستون دې ورته نه لیکل کېږي، نو بیا به وروسته وکتل شي چې له نورو قوانینو سره څه کوي؟ څوک چې له خپل ملته منکرېږي، د هغه نور حالت به څه وي؟)) دې وروستي حالت سره ډاکټر عبدالله عبدالله جدي مخالفت وښود او ویې ویل: ((دا کار ملت پر بېلابېلو برخو ویشي، د یوه تذکره کې به ملت افغان وي د بل کې به نه وي.)) نو ما بیا وویل چې ښه نو زموږ همغه لومړی وړاندیز دی، چې ټولو ته دې افغان ولیکل شي، دې وخت کې یو ځل بیا د افغان کلیمې د لیکلو او نه لیکلو خبره تاوه شوه. ما بیا وویل که ولیکل شي تاوان یې څه دی؟ که ونه لیکل شي نو تاوان خو یې واضح دی، چې ملت له خپل هویت څخه محرومېږي او هېڅکله ورته دا حالت د منلو وړ نه دی.

دې وخت کې علیزي وویل: ((موږ هېڅ تخنیکي مشکل نه لرو، هر وخت یې پیل ته تیار یو)) محتاط وویل: ((موږ یې هم پیل ته تیار یو او هم د ملت ستون لیکلو ته، په دې دواړو برخو کې هېڅ مشکل نه شته، تاسو باید جمهور رییس قانع کړئ چې دا مسله نوره اوږده نه کړي)) محتاط په پای کې زیاته کړه: ((ښه لاره همدا ده چې موږ د کورنیو چارو وزارت له لارې د ملت – افغان کلیمو د زیاتولو وړاندیز کړی، تاسې یې پر ولسمشر ومنئ چې هغه یې د یو تقنیني فرمان په ترځ کې موږ ته راولېږي، نور نو موږ نه تخنیکي مشکل لرو او نه هم کوم بل مشکل.))

په پای کې زموږ د څو تنو (محتاط، علیزي،ځلاند، یون) وړاندیز دا شو چې د ملت ستون په زیاتولو او د افغان کلیمې د لیکلو لپاره دې له ولسمشر څخه تقنیني فرمان واخیستل شي او ډاکټر صیب عبدالله عبدالله باید د دې فرمان په صدور او د جمهور رییس په قانع کولو کې اصلي هلې ځلې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر صیب عبدالله په پای کې د نتیجې په توګه وویل: ((ما ستاسو وړاندیزونه واورېدل، اول او دویم وړاندیز مې هم یاداشت کړل، زه به یې جمهور رییس سره مطرح کړم، خو وعده درسره نه کوم، چې هغه به حتمي دا کار وکړي که ونه کړي، خو زه بیا وایم چې زه له افغان کلیمې سره ایډیالوژیک مخالفت نه لرم، که جمهور رییس یې راوړي او که رایې نه وړي مخالفت یې نه کوم، د تذکرې د وېش پر تاریخ ټینګار کوم، خو ستاسو وړاندیزونه ورته رسوم.)) ما او ځلاند بیا د پای د ټکي په توګه وویل: ((که د افغان کلیمه په کې رانه شي، موږ یې مخالفت کوو او بیا چې هر ډول ستونزه پېښه شوه، مسؤلیت به یې د همغه چا پر غاړه وي چې دا مشکل یې تردې دمه رارسولی دی، بیا مو د مدني او بېلابېلو کلتوري ټولنو او قومي شوراګانو هغه غوښتنلیک هم ډاکټر عبدالله ته ورکړ چې د جمهوري ریاست د مقام په نامه لیکل شوی و او دی یې باید ولسمشر ته ورکړي، دا لیک په جلا ډول لیکل شوی په هغه کې له جمهور رییس څخه غوښتنه شوې وه چې د یوه تقنیني فرمان له لارې د افغان کلیمې پر لیکلو سره د تذکرو د وېش لړۍ پیل کړي.

د یادونې وړ ده چې د دې ناستې مینوټ مې ځکه ولیکه چې د یو تاریخي سند په توګه ولس ته پاتې شي. البته کېدی شي ځینې کلیمې او خبرې مې له یاده وتلې وي، خو د ناستې غټ ټکي همدا وو چې تاسو ته مې یاد کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانیت او اسلامیت د ملاتړ لپاره د لوی لاریون دتدارک او انسجام کمېټې

# لومړۍ ابلاغیه

**د (۲۰۱۵م) کال د اګست (۱۴مه) چې د (۱۳۹۴ل) کال د اسد له (۲۴)مې نېټې سره سمون خوري.**

نن شنبه د اسد(۲۴) نېټه په کابل کې د بېلابېلو هېواد پالو او اسلامپالو سیاسي خوځښتونو، مدني بنسټونو، کلتوري ټولنو او قومي شوراګانو استازو یوه بېړنۍ غونډه وکړه او په دې غونډه کې یې د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د تثبیت لپاره پر عملي لارو چارو خبرې وکړې .

څرنګه چې له پخوانیو هلو ځلو سره سره دولت د افغانیت د تثبیت لپاره کوم عملي ګام پورته نه کړ او داسې اندېښنه ده چې ښایي د بې هویته تذکرو د وېش لړۍ پیل شي، د غونډې برخوالو په یوه اتفاق پرېکړه وکړه، چې په نږدې راتلونکي کې د دې سترې داعیې لپاره لومړی په کابل او بیا په ټولو ولایتونو کې پر لویو لاریونونو لاس پورې کړي. د غونډې برخوالو چې د هېواد له بېلابېلو قشرونو یې استازیتوب کاوه، ژمنه وکړه چې په خپل ټول قوت سره په مظاهرو کې ګډون کوي او تر هغې پورې به خپلو مظاهرو ته دوام ورکوي، چې د ملي هویت داعیه یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي تثبیت کړي. د غونډې برخوالو د لاریون د انسجام لپاره د تدارک یوه کمېټه وټاکله او پرېکړه یې وکړه، چې سبا به هم خپلمنځي غونډو ته دوام ورکوي او بیا به خپلو ټولو غړو او هېوادوالو ته د مظاهرو دقیق ځای او مهال اعلانوي. ګډونوالو په پای کې پر ټولو هېوادوالو غږ وکړ چې له خپل هویت څخه د دفاع لپاره په ټول توان په مظاهرو کې برخه واخلي او د ولس د دې ملي داعیې د بریا لپاره خپلمنځي انسجام او همکارۍ ته دوام ورکړي.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د پراخ لاریون د تدارک او انسجام کمېټې دویمه ابلاغیه

د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د پراخ لاریون د تدارک او انسجام کمېټې نن یکشنبه د اسد د میاشتې پر (۲۵)مه نېټه د هېواد د بېلابېلو مدني او کلتوري ټولنو، قومي شوراګانو د ولس د انتخابي بنسټونو استازو، سیاسي او ملي خوځښتونو او د لاریونوالو له بېلابېلو استازو سره متواترې او پرله پسې غونډې درلودې او پر دولت یې له بېلابېلو خواوو قانوني او مشروع فشار راوړ او د ولس پیغام یې هغوی ته ورساوه.

د همدغه قانوني فشار په نتیجه کې دولت نن یکشنبه ماښام ژمنه وکړه چې د اسد پر(۲۸)مه نېټه به د برېښنايي تذکرو وېش نه پیلوي او د افغان کلیمې د لیکلو په ګډون به د ولس قانوني غوښتنو ته مثبت ځواب وايي .

د مظاهرې د تدارک کمېټې له بېلابېلو افغاني بنسټونو او د لاریونوالو له استازو سره په ګډه پرېکړه وکړه چې حکومت ته تر راتلونکې جمعې ورځې پورې نور هم انتظار وباسي چې خپلې ژمنې عملي کړي. د لاریون د تدارک کمېټه ټولو هېوادوالو ته په ډاګه اعلانوي چې که حکومت تر راتلونکې جمعې ورځې پورې بیا هم خپلې ژمنې د پخوا په څېر عملي نه کړې او د ملت ارادې ته یې غاړه کېنښوده، نو د ملت له پراخ غبرګون، لاریون او نورو احتجاجونو سره به مخ شي. تر هغه وروسته به ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسوولیت او د پېښو ناوړه عواقب د همدغو حکومتي چارواکو پر غاړه وي. د لاریون د تدارک کمېټه د دې یادونه او مننه لازمي بولي چې که د هېوادوالو پراخ احتجاجونه، احساسات او رسنیز پیغامیز بهیر نه وای، نو حکومت د دوی د مشروع غوښتنو د پرځای کولو ژمنه نه کوله، نو دلته په کار دي چې له خپل ټول غیور ملت څخه د افغانیت او اسلامیت د سترې داعیې د ملاتړ لپاره د زړه له تله مننه وشي. د لاریون د تدارک کمېټه څرګندوي چې دوی د ملت د استازو په ګډون له ټولو موثرو بنسټونو او اشخاصو سره د ګډ تفاهم له لارې پر حکومت باندې خپل وروستي فشار**



**ته ادامه ورکوي چې د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د تثبیت لپاره خپلې ژمنې ژر تر ژره عملي کړي. د دې ترڅنګ له خپلو هېوادوالو څخه په ډېر درنښت هیله کوي لکه څنګه چې یې په تېرو څو ورځو کې خپل ملي پیوستون او ملي افکار سره هماهنګ کړل او د یوې لویې مظاهرې لپاره یې خپل تیاری څرګند کړ، دغسې خپل دې هوډ او تکل ته دوام ورکړي، د مظاهرې نور ترتیبات، لوازم او تخنیکي چارې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاپسې همغاړې کړي او د يوې لويې مظاهرې لپاره خپل چمتووالی لاپسې بشپړ کړي.

د مظاهرې د تدارک کمېټه يو ځل بيا خپلو هېوادوالو سره ژمنه کوي چې هر نوی پرمختګ، ستونزه او پيغام به له ولس سره شريکوي. که تر راتلونکې جمعې پورې د ملت د افغانيت ملي داعيه ونه منل شوه، نو تاسو ټولو هېوادوالو ته به ستاسو د استازو او نورو رسنيزو وسايلو لارې د پراخې مظاهرې نېټه، وخت او ځای اعلان شي. يو ځل بيا له خپل غيرتي ملت څخه مننه.

د اسلاميت او افغانيت د سترې داعيې د بريا په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلاميت او افغانيت د پراخ لاريون
# د تدارک او انسجام کمېټې
# درېيمه ابلاغيه

د (۱۳۹۴ ل) کـال د اسـد ( ۳۰ ) مه نېټـه د جـمعې مـبارکې ورځ

درنو هېوادوالو! لکه څنګه چې مو تاسو سره ژمنه کړې وه، د هويت په تذکرو کې به د اسلاميت او افغانيت د تثبيت په خاطر هر نوی پرمختګ له تاسې سره شريکوو او په دې باب مو د اسد پر ( ۲۵ ) مه نېټه د يکشنبې پر شپه تاسو سره خپله دويمه ابلاغيه شريکه کړې وه، هغه وخت حکومت ژمنه کړې وه چې د تېرې پنجشنبې پر ورځ به د کابينې په تېره غونډه کې په برېښنايي تذکرو کې د هويت ستونزه حلوي، خو د کابينې په تېره غونډه کې د ډاکتر عبدالله عبدالله د نشتوالي او ځينو نورو ناويلو عواملو او دلايلو له امله د تذکرو د سمون موضوع د يادې غونډې په اجنډا کې شامله نه شوه. تر کابينې وروسته خصوصي تفاهم يا پرېکړه دا وشوه چې په خپله ولسمشر (ډاکتر غني) او اجرائيه رييس (ډاکتر عبدالله) به تر خپلمنځي تفاهم وروسته دا ستونزه اواروي. اوس يو ځل بيا له ارګ څخه داسې ژمنې او لوزونه تر لاسه شوي چې په برېښنايي تذکرو کې به د اساسي قانون د څلورمې مادې له حکم سره سم اسلاميت او افغانيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسجیلېږي. په ارګ کې یو شمېر چارواکو دا ځل دا ژمنه هم کړې چې تر راتلونکې سه شنبې پورې به دا مشکل د اساسي قانون له محتوا سره سم حلوي او که چېرې دا ستونزه حل نه شوه، بیا به په ګډه خپله وروستۍ پرېکړه کوو اوس د مظاهرې د تدارک کمېسیون یو ځل بیا خپلو هېوادوالو، د مظاهرې پلویانو او غوښتونکو څخه هیله کوي چې د وروستي ځل لپاره یو ځل بیا حکومت او په هغو کې ځینو مصلحو عناصرو ته فرصت ورکړي چې خپلې ژمنې عملي کړي، که دوی بیا هم د تېرو ژمنو په تعقیب خپله ژمنه عملي نه کړه، نو موږ مظاهره د خپل وروستي قوت او حق په توګه خوندي ساتو.

یو ځل بیا ټولو اسلامپالو او هېوادپالو افغانانو څخه هیله کوو چې د مظاهرې ترتیبات لاپسې غښتلی او منظم کړي، د مظاهرې د تدارک کمېټه له بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو ملي خوځښتونو او بانفوذه اشخاصو سره له نږدې په تماس کې ده، د مظاهرې ترتیبات هم لاپسې منظموي، که چېرې تر راتلونکې سه شنبې د سنبلې تر (۳) یمې نېټې پورې حکومت دا مشکل حل نه کړ، نو د مظاهرې دقیقه نېټه او موقعیت به ګرانو هېوادوالو ته اعلان شي.

د اسلامیت او افغانیت د بریا او ځلا په هیله

د مظاهرې د تدارک او انسجام کمېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت لپاره د پراخ لاریون د تدارک او انسجام د کمېټې

# څلورمه ابلاغیه

د (۲۰۱۵م) کال د اگست (۲٦)مه نېټه.

د لوی او ښښونکي خدای(ج) په نامه! درنو او قدرمنو هېوادوالو! لکه څنگه چې مو تاسو سره ژمنه کړې وه، د هویت په تذکرو کې به د اسلامیت او افغانیت د تسجیل په خاطر هر نوی پرمختگ له تاسو سره شریکوو او په دې باب مو د تېرې میاشتې پر (۲۴)مه نېټه د یوې پراخې مظاهرې هوډ او تکل کړی و، هغه وخت په حکومت کې بېلابېلو اشخاصو ژمنه کړې وه چې دا مشکل به د اساسي قانون په رڼا کې حلوي او د اساسي قانون له محتوا سره سم به په برېښنایي تذکرو کې اسلامیت او افغانیت تسجیلوي، خو د ولسمشر په گډون د دولت ټولو چارواکو په متواتر ډول په دې برخه کې خپلې ژمنې تر پښو لاندې کړې او د افغانیت او اسلامیت له سترې داعیې سره یې داسې چلند وکړ چې گنې دوی نه افغانان دي او نه هم مسلمانان. دې ډول پردیپالو، بې تفاوتو او له هویته لرې چارواکو ته نور نو د ولس د صبر کاسه ډکه ده. د مظاهرې د تدارک کمېټې هم په تېره موده کې خپلې ټولې سوله ییزې، قانوني، منطقي او اصلاحي لارې چارې ولټولې، خو د دولتي چارواکو د منطق غوږونه او د احساس رگونه دومره کاڼه او مړه وو چې د افغان ولس د غوڅ اکثریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلې یې نه یوازې دا چې عملي نه کړې، بلکې د ولس د رښتینو بچو د استازو منطق ته یې هېڅ ارزښت ور نه کړ او هېڅ غوږ یې پرې ونه گراوه. اوس د ولس پرمخ ټولې دروازې تړلي دي، یوازینۍ لاره داده چې د ولس بچیان د خپل ملي او اسلامي هویت د تثبیت لپاره لوی لاریون ته راودانگي. د مظاهرې د تدارک کمېټه مجبوره شوه د خپل ملي او اسلامي هویت د حفاظت لپاره له خپل قانوني حق څخه گټه پورته او خپل حق د




یوې پراخې مظاهرې له لارې  مطرح کړي. د مظاهرې د تدارک کمېټه هېوادوالو ته اعلانوي چې د (۱۳۹۴ل) کال د وږي میاشت یانې راتلونکې سه شنبه د سنبلې (۱۰) مه نېټه د لویې او پراخې مظاهرې ورځ ده، ټول اسلامپال او هېوادپال افغانان دې خبر وي. د مظاهرې د تدارک کمېټه له ټولو هېوادوالو، سیاسي ملي خوځښتونو، فرهنگي او علمي مرکزونو، قومي شوراگانو او رسنیو څخه په ډېر درنښت هیله کوي لکه څنگه چې یې پخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مظاهرې لپاره خپله ژمنه او تلوسه، هوډ، عقیده او تکل په ډاګه کړي وو، له خپلې ملي ولولې او احساس سره سم د خپل اسلامي او ملي هویت د خوندیتابه لپاره په دې پراخ ولسي لاریون کې ګډون وکړي.

د مظاهرې ځای به وروسته تاسو قدرمنو هېوادوالو ته اعلان شي.

**د خپل اسلامي او ملي هویت د خوندیتابه، بریا او ځلا په هیله د لاریون د تدارک او انسجام کمېټه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تراژیدۍ کې نمانځنه او یادونه

د (۲۰۱۵م) کال د اگست پر (۳۰)مه نېټه چې د (۱۳۹۴ل) کال د وږي میاشتې له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، په کابل کې مو د ژوندون ټلوېزیون په انګړ کې له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ ونمانځله. پر دې سره د پښتنو او بلوڅو سره د تاریخي پیوستون پر ارزښت او ضرورت سربېره مو په ګڼ شمېر هېوادنیو مسایلو هم خبرې وکړې. په دې ترڅ کې مو یوه مهمه موضوع د ملي هویت د تذکرو په باب وه، حکومت ته مو په ډاګه کړه چې افغانیت او اسلامیت څخه تېرېدونکي نه یو او دا زموږ سره کرښه ده. دا دی دلته د دې وینا د ځینو مهمو برخو مهم ټکي را اخلم:

## بسم الله الرحمن الرحیم

## په تراژیدۍ کې نمانځنه او یادونه

تر هرڅه وړاندې ټولو قدرمنو مشرانو، ځوانانو، دولتي چارواکو د لر او بر افغان مخورو شخصیتونو ته درناوی او د زړه له تله سلامونه او احترامونه!

په تېره بیا له مقبوضه افغانستان څخه راغلو قدرمنو مشرانو! اورنګزېب کاسی صیب، امان الله امان، ریاض بنګښ صیب، ریاض مروت صیب،

(c) ketabton.com: The Digital Library



طارق رحیم صیب، حسینه گل تنها خور، نایاب صیب، ناښاد صیب، قدرمن ورور صادق ژړک، اتمانخېل صیب او نورو دوستانو ته ځانګړي سلامونه!

غواړم په مستقیم ډول اصلي موضوعګانو ته راشم او ستاسو قدرمنو په شتوالي کې څو مهمې مسلې وړاندې کړم.

ددې ورځې یادونه او نمانځنه څه مانا؟: ځینو خلکو ته دا خبره بابیزه، بې تفاوته او کم ارزښته ښکاري چې څوک خپل ملي ارزښتونه پالي، د خپل هېواد تېر او هېر تاریخ ژوندی کوي او اصل ته د کتنې پر ارزښت ټینګار کوي، دوی وايي، والله نو موږ په څه غم کې یو، دوی په څه غم کې دي .دوی ته خپل غم، غم ښکاري او د نورو په غم غمجن نه دي، له سترو انساني ارزښتونو سره د دې ډول اشخاصو ډډه نه لګي.

زړه يې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی
په ليدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي

د بې تفاوتۍ، تنګنظرۍ، ډار، پردیپالنې او نورو ناروغیو په دغسې یو ګرداب کې چې هرڅوک سترې هېوادنۍ مبارزې ته وردانګي، نو هغوی به طبعاً له ډېرو ستونزو سره مخامخېږي. په یوه انسان کې د مانا او مفهوم توپیر همدغلته څرګندېږي.

ډېر تفاوت شته په انـــسان کې د مانـــا په لحاظ
واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي


موږ درې کاله وړاندې د بې تفاوتۍ او بې جرئتۍ همدغه سکوت مات کړ، هم مو په پښتونستان واټ کې د پښتونستان لوحې نصب کړې او هم مو د هېواد د خپلواکۍ د ورځې ترڅنګ له پښتنو او بلوڅو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیوستون ورځ ونمانځله او دا دی د اوږده وهم په ماتولو سره دې لړۍ ته دوام ورکوو. اوس زموږ ملي جرئت او حرکت قوت موندلی، خو دا حرکت لا هم نور قوت او انسجام ته اړتیا لري.

**د تراژیدۍ تداوم:** نړدې څلوېښت کاله کېږي چې افغان ملت په تېره بیا پښتون ولس په یوه څو اړخیزه تراژیدۍ کې راگیر دی. پښتون په قصدي ډول سیاسي انزوا ته ټېل وهل کېږي، له اقتصادي فقر سره مخامخېږي، د تعلیم له نعمته بې برخې کېږي او له نورې نړۍ سره یې



قصداً د ټکر زمینه برابرېږي. دا ټول د یوې اوږدې ستراتیژۍ برخه ده، پښتنو سیاستوالو ته په کار دي، د دې اوږدې تراژیدۍ د ستراتیژۍ ژورتیاوو ته پام وکړي او د هرې غمیزې د مخنیوي لپاره خپل خپل پلان ترتیب کړي، د تراژیدۍ په بهیر کې د ملي روحیې پیاوړتیا هغه درملنه ده چې وخت پر وخت یې کارول په کار دي.

**اسلامیت او افغانیت:** د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د تسجیل په خاطر د دې هېواد رښتینو بچیانو له همغه پیله تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې دمه خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، اسلام یې د اسلامیت د مخالفینو د وهم د ښامار له خولې راووېست، د هویت په تذکره کې یې تسجیل کړ او د افغانیت لپاره یې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، ډاکتر غني هم د تېر ولسمشر په شان د افغانیت د تسجیل په خاطر ژمنې وکړې، خو تر دې دمه یې هېڅ عملي او قانوني اقدام ونه کړ. اوس دولتمشر هم د دولت له فاسدو کشرانو څخه دومره وېرېږي چې په خپله هویت پاڼه کې ځان ته افغان نه شي لیکلای. د ضعیف او قومي ایمان ترمنځ د برید کرښه همدلته معلومېږي، چې یو څوک د افغانستان پر لوړ مقام ناست او له افغانیت څخه ننګه او ملاتړ نه شي کولای. نو سړی به نور چا ته وژاړي؟ د ښاغلي غني یو شعار دا و چې هېڅ افغان له بل افغان څخه کمتر نه دی او هېڅ افغان له بل افغانه برتر نه دی. نو اوس چې د افغان کلیمه د هویت له تذکرې څخه حذفېږي، دی مجبور دی چې ووایي: ((هېچ چیز از چیز دیگر کده کمتر نیست و هیچ چیز از چیز دیگر کده برتر نیست)).

دولتمشر حق نه لري چې ځان ته افغان ولسمشر ووایي، ځکه هغه ولس چې ولسمشر یې نوم په هویت پاڼه کې نه شي لیکلی، نو دا امتیاز هم باید ورڅخه واخیستل شي. موږ ښاغلي مفکر ته په ډېر سړیتوب سره یادونه کوو چې دې ولس ته په ټیټه سترګه مه ګوره، همدا ولس و چې ته یې دومره لوړ کړې چې اوس لاندې هېڅ شی په سترګو نه درځي. موږ هېچاته اجازه نه ورکوو چې ملي هویت مو هم لکه دولتي څوکۍ په معاملو، ځانساتنو، سرټیټیو او غوړه مالیو ووېشي او ملت متفرق کړي.

د ښاغلي دولتمشر ترڅنګ د دې سهامي شرکت بل ونډه وال وزیر صاحب ښاغلي نورالحق علومي ته هم وایو چې هویت ستاسو د ښاغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصي مال و متاع نه ده؟ چې موږ یې ستا په شان له بې دریغه اشخاصو څخه غواړو، یو وزیر چې د (ملت) او (مملکت) په توپیر او تعبیر نه پوهېږي، له هغه څخه به د ملت د ملاتړ هیله څنګه وشي؟ دا چې دا ښاغلی وایي دلته پورته لیکل شوي (د افغانستان اسلامي جمهوریت) نور هېڅ شي ته ضرورت نه شته، ښاغلیه ستاسو ضرورتونه او د ملت ضرورتونه توپیر کوي، ستا ضرورت وزارت و چې په ډېرې بدرنګۍ او معاملو ورته ورسېدې، خو هویت د ملت ضرورت دی. که د تذکرې پر لومړي مخ افغان ولیکل شي، نو ستا پر کور به څه اور بل شي؟ پردیپالنه، ملت هېرونه هم یو حد لري، یو ځل پخوا هم یوې ډلې دا ډول تجربه وکړه، خو ملت ته په ډېر زیان تمامه شوه، تاسو چې د همغو تېرو عملونو کفاره ورکړئ او خپل غیور افغان ملت ته د احترام سر ټیټ کړئ، نو ایله به مو د تېرو تېروتنو پېټی یو څه کم شي، نه دا چې د ملت پر زخمونو نورې مالګې ودوړوئ، ستر جنرال، ډګر جنرال، تورن جنرال دا جنرال او هغه جنرال، لوړې رتبې، خو د کار درک نه لګي. زموږ د پوځ تنکي ځوانان، سرتېري او ځوان صاحبمنصبان هره ورځ د دې هېواد لپاره قرباني ورکوي، خو یو شمېر لوړپوړي چارواکو یې د اعاشې، اباطې، روغنیاتو او مهماتو پیسو ته سترګې پټې کړې وي، په ملیاردونو افغانۍ په یوه قرارداد کې غلا کېږي، لوړې رتبې او ټیټ کارونه، د یوه افغان له شان سره نه ښایي. طالبان نه رتبه لري، نه څوکۍ، نه یې هجره معلومه ده، نه دېره او نه هم پوځي پوړۍ او تعلیم لري، خو د همدغو لوړپوړو چارواکو د بې کفایتۍ له امله هره ورځ یوه ولسوالۍ نیسي او زموږ تنکي تنکي پوځیان په کې قرباني کېږي. تاسو ښاغلی لومړی، باغران، دانګام، موسی کلا، نازیان، اچین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوشته او نورې سل ولسوالۍ فتح کړئ، بیا تذکره ووېشه، نو د دې گرمې حلوا له وېش څخه دې موخه څه ده؟ هدف ټولو ته څرگند دی، یوازې او یوازې د هویت ختمول. لعنت دې وي پر هغو چارواکو چې نه یوازې له خپلې خاورې او هویت څخه دفاع نه شي کولای، بلکې شرمېږي پرې هم. دوی چې پر هویت شرمېږي زموږ ټول هېوادوال ان کاڼي او بوټي پر دوی شرمېږي.

درنو هېوادوالو! څینو خلکو سره دا پوښتنه او اندېښنه ده، که چېرې په تذکره کې د افغان کلیمه ونه لیکل شي، نو موږ یې نه اخلو! نه ورونو خبره باید سپینه او واضح وشي. موږ د هویت په تذکره کې د اسلام او افغان دواړو کلیمو لیکل غواړو او بیا تذکره اخلو. دا نو بیا د افغانیت او اسلامیت د دښمنانو کار دی چې دا تذکره اخلي که نه یې اخلي، نور نو زموږ د ولس د زغم، اوسېلې او پرله پسې ښه سړیتوب د صبر کاسه ډکه شوې ده.

ښاغلی دویم، درېیم او نورو مفکرینو ته یو ځل بیا یادونه کوو چې ژر تر ژره د هویت د تثبیت مسئله حل کړئ، که نه نو د ولس له داسې غبرگون سره به مخامخ شي چې بیا به د دې سست، پخ، نا متجانس او متضاد حکومت مراندې داسې سره وشلېږي چې هېڅوک به یې د راټولولو جوگه نه وي.

موږ نه غواړو چې حکومت ړنگ شي، موږ غواړو چې هم حکومت پیاوړی شي او هم اصلاح شي، خو همدا څینې چارواکي دي چې د ربښتیني ملي حکومت، ربښتیني پوځ د جوړېدو، غښتلتیا او پیاوړتیا مخه یې نیولې ده. هغو ملتپالو افغانانو څخه هم په ټینگه غوښتنه کوو چې ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس لري او د دولت پر لوړو څوکیو کار کوي، دوی څخه هم غواړو چې نور نو له خولې څخه د ډار مشنګ لرې کړي، د افغانیت او اسلامیت د داعیې لپاره راودانګي او دا غیرتي ولس له بې زړو او ډارنو چارواکو څخه وژغوري. دې کار کې مو د دین او دنیا دواړو ګټه نغښتې ده .

**ملي مناظره:** د انتخاباتي کمپاین پرمهال دواړو او په ټوله کې ټولو نوماندانو بېلابېلې مناظرې وړاندې کړې. ښاغلي ډاکتر غني، ښاغلي ډاکتر عبدالله ته هره ورځ د یوې لویې مناظرې وړاندیز کاوه او هغه به د جانانه مناظرې وړاندیز. اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې د دې مشترک پنځوس سلیز حکومت دواړو مشرانو باندې غږ وکړو چې که د دوی په اوړو کې شګه نه وي، نو د ملي هویت پر سر دې د وضاحت، سلامت او ملامت د معلومولو لپاره یوې پراخې ملي او دیموکراتیکې مناظرې ته حاضر شي، چې حقیقت څرګند شي، که د ملتپالو، هېوادپالو او اسلامپالو افغانانو داعیه په حقه نه وه، نو هغوی به له خپلې داعیې څخه تېر شي او که دوی کوم دلیل او منطق نه درلود، نو بیا دې دوی د ملت غوښتنې ته غاړه کېږدي.

د هېواد د ملي او اسلامي هویت
د ځلا او بریا او له امو څخه تر اباسینه پورې
د لوی او غښتلي افغانستان د جوړېدو په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت په ننګه د لوی لاریون په اړه وروستۍ پرېکړه

د (۲۰۱۵م) کال د اګست (۳۱)مه، د ۱۳۹۴ل کال د وږي (۹)مه دوشنبه. ګرانو هېوادوالو !د تابعیت په تذکرو یا پېژندپاڼو کې د اسلامیت او افغانیت په ننګه د سه شنبې په ورځ د لوی لاریون لپاره بشپړ تیاری نیول شوی دی، خو د افغانستان د بېلابېلو قومونو د مشرانو یوې درنې او




مخورې جرګې د لاریون د انسجام له کمېټې څخه د شنبې تر ورځې وخت غوښتی چې دا موضوع به له مشرانو سره د خبرو او منځګړتوب له لارې حلوي. له بلې خوا یو شمېر دولتي چارواکو هم ډاډ ورکړی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزه د حل کېدو په درشل کې ده او يو څو ورځې نور يې د زغم غوښتنه کړې ده. پر دې سربېره له ولايتونو څخه د اسلاميت او افغانيت ملاتړي پرله پسې غوښتنه کوي، چې لاريونونه دې له دوی سره همغږي شي او تر راتلونکې شنبې پورې دې لاريونونه وځنډول شي.

د لاريون د انسجام کمېټې د قومي مشرانو د جرګې غوښتنې، د يو شمېر چارواکو ژمنو او په ولايتونو کې د اسلاميت او افغانيت د ملاتړو وړانديزونو ته د درناوي له مخې پرېکړه وکړه، چې د وروستي ځل لپاره به لاريون تر راتلونکې شنبې (د وږي ۱۴) پورې ځنډوي. که چېرې تر راتلونکې شنبې پورې د ولسمشر د فرمان له لارې موضوع حل نه شي او د تابعيت په تذکرو کې د اسلاميت او افغانيت يادونه ونه منل شي، نو راتلونکې شنبه د سهار پر ۸ بجو به په کابل کې لوی لاريون پيلېږي او بيا به د هېواد ګوټ ګوټ ته غځېږي او ورسره به لويې لارې تړل کېږي .

څرنګه چې موږ د چارواکو پر نيت او ژمنو ډاډه نه يو، نو له درنو هېوادوالو څخه غوښتنه کوو چې په ټول توان د شنبې ورځې د لاريون لپاره تياری پيل کړي. موږ له خپلو جيدو ديني عالمانو، د جوماتونو له ملا امامانو، قومي مشرانو او شوراګانو، د ګذر وکيلانو او د کليو له ملکانو، سياسي ګوندونو، مدني بنسټونو، د ځوانانو ټولنو او له ټولو هېوادپالو افغانانو څخه غوښتنه کوو، چې د لوی لاريون لپاره د ولس په خبرولو او چمتو کولو کې زموږ ملا وتړي. موږ ټولو هېوادوالو ته خبرداری ورکوو، چې د نن ورځې غفلت به مو بنايي د ملي هويت په بيه تمام شي. نو راځئ چې د خوشال بابا په څېر د افغان په ننګ توره وتړو او له خپل هويت او ملي ارزښتونو څخه په مېړانه دفاع وکړو. د لاريون وخت ټاکل شوی، خو د ځای په اړه مالومات به راتلونکې پنجشنبه له تاسو سره شريک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاریون د ښه انسجام لپاره د (دوشنبې) پر ورځ د سنبلې پر (۹)مه نېټه د مازیگر څلور بجې یوه لویه غونډه په پام کې نیول شوې ده. د ټولو سیاسي گوندونو، قومي شوراگانو او مدني بنسټونو استازو ته بلنه ورکوو، چې پدې غونډه کې برخه واخلي او د لاریون په غوره انسجام کې له موږ سره مرسته وکړي .

د سنبلې د (۹) نېټې غونډې ځای :له پل محمود خان څخه د شش درک په لوري ښي لاسته لومړۍ کوڅه ( د دفاع وزارت ختیز دېوال ته مخامخ)، په کوڅه کې ښي لاسته درېیم کور.

د اړیکو شمېرې: ۰۷۰۰٦۷۰۵۵۲ – ۰۷۷۴۰۰۱۱٦

په درنښت

د لاریون د تدارک او انسجام کمېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پکتیا او د افغانیت پر ننگه لاریون

د (۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۱۱)مه نېټه چې د (۲۰۱۵م) کال د سپتمبر له (۲) نېټې سره سمون خوري، په پکتیا ولایت کې د افغانیت او اسلامیت په ننگه لاریون وشو.

د پکتیا په مرکز گردېز کې زرگونو کسانو په الکترونیکي تذکرو کې د افغان او اسلام د کلیمو د ذکر په ننگه مظاهره وکړه او ویې ویل چې که چېرته یې مرکزي حکومت غږ ته مثبت ځواب ونه وایي، دوی به د دغو تذکرو د وېش مرکزونه له لوړ تهدید سره مخ کړي.




په دې مظاهره کې چې د پکتیا مېشتو قومونو، ولایتي شورا، مدني ټولنو، سیاسي نماینده گیو او ځوانانو برخه اخیستې وه، غوښتنه وکړه چې که چېرته د دوی غږ وانهورېدل شي له افغان حکومت سره به پرېکوڼ اعلان کړي، د پکتیا ولایتي شورا وکیل عبدالروف خان ځدراڼ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((موږ د افغان له کلیمې پرته دغه تذکره نه اخلو، ځکه افغانستان زموږ کور او افغان مو نړېوال هویت دی.

په تذکرو کې که د افغان کلیمه ونه لیکل شي، موږ به له دې حکومت سره په عاجل ډول د خپل پرېکوڼ په اړه غور وکړو.

موږ پر افغان ولسمشر او د هغه تر مشرۍ لاندې پر ټوله اداره غږ کوو چې که په دې برخه کې زموږ غوښتنه ونه منل شي، له شته حکومت سره به هر ډول اړیکې غوڅې کړو.))

د مظاهرې ګډونوالو پر دې تاکید کاوه چې مرکزي حکومت دې د دوی حقه غوښتنې ومني او که چېرته یې ونه مني، حکومت ته به ستونزې جوړې کړي.

د پکتیا ولایتي شورا غړي تاج محمد منګل، د قومونو، ولایتي شورا، مدني ټولنو، سیاسي ګوندونو او علماوو شریک لیکلی شپږ ماده ییز پرېکړه لیک ولوست، ده وویل، ((موږ د پکتیا علما، ولایتي شورا، قومونه، مدني ټولنې، سیاسي نماینده ګۍ او ځوانان ټول په شریکه دغه شپږ ماده ییز پرېکړه لیک اعلانوو او غواړو، چې مرکزي حکومت مو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي، که نه زموږ له توند غبرګون سره به مخ شي))

په دې پرېکړه لیک کې راغلي وو چې که حکومت یې غوښتنو ته جدي پاملرنه ونه کړي، دوی به د حکومت پر ضد خپلو مظاهرو ته دوام ورکړي او د هرې بدې پایلې پړه به د مرکزي حکومت او افغان ولسمشر پر غاړه وي.

مدني فعالانو په دې مظاهره کې د ګډون پرمهال د خپلو شعارونو ورکولو ترڅنګ دا خبره هم وکړه چې دا یې د مظاهرو پیل دی او ولس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خبروي چې د خپلو حقونو اخیستو لپاره به لارو ته راوځي، یو تن مدني فعال محمد جهاد احمدزي وویل چې د افغان حکومت کاواکه ستنې به د دوی په لاسونو ونړېږي:

((که چېرته په الکترونیکي تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمه ذکر نه شي، نو د دې بې بنسټه یا کاواکه حکومت ستنې به د دې خلکو په لاس ونړېږي او د ولسونو له احساساتو سره لوبې به تل د حکومتونو په زیان تمامې شي. په دې پرېکړه شوې، چې که چېرته مو غوښتنې ونه منل شي مظاهرو ته به دوام ورکوو او ان تر کابله به یې وغځوو)).

دې مظاهره چیانو له افغان حکومت څخه غوښتنه کوله، چې د دوی غوښتنې دې ومني، که داسې ونه شي خپلو مظاهرو ته به دوام ورکړي او له پکتیا څخه د مظاهرو لړۍ به تر کابله وغځوي. کوم راپور چې مو ولوست دا په پکتیا کې د ازادۍ راډیو خبریال داود تپاند پر همغه وخت لیکلی و، له ازادۍ راډیو او نورو خبري رسنیو یې خپور کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت په ملاتړ د لوی لاریون د ګډونوالو پرېکړه لیک

لکه څنګه چې مو په تېرو برخو کې د لوی لاریون د تدارک او انسجام کمېټې په پرله پسې ابلاغیو کې ولوستل چې د حکومت د مهمو چارواکو د پرله پسې ژمنو له امله لوی لاریون څو ځله شاته وغورځېده، خو په پای کې غوڅه پرېکړه وشوه چې د وږي پر (۱۴)مه نېټه به دا لاریون ترسره کېږي. لاریون له ډېرو مشکلاتو او خنډونو سره له عیدګاه جوماته پیل او په پښتونستان واټ کې پای ته ورسېد. زرګونو هېوادوالو په کې ګډون کړی و. په پښتونستان واټ کې یې دغه لاندې پرېکړه لیک صادر کړ:

د (۲۰۱۵م) د سپتمبر (۵)مه، د (۱۳۹۴ل) کال د وږي یا سنبلې (۱۴)مه

کابل- افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

له تېرو دوه دریو کلونو راهیسې د یو شمېر بهرنیو هېوادونو په تېره بیا د ایران او پاکستان او د هغو د کورنیو ګوډاګیانو او تالیځتو له خوا په پرله پسې ډول هڅې روانې دي، چې پر غیرتي افغان ولس، بې دینه، بې ملته او بې هویته تذکرې تحمیل او افغان ملت په داسې یوه تنګسیا کې واقع کړي چې له خپل ملي هویت څخه تېر شي. له دې کار څخه د یو شمېر وطن پلورو او ملت پلورو پردیپالو کړیو اصلي موخه داده چې یو خو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په لومړي گام کې ستر افغان ولس له خپل ملي هویته بې برخې کړي او دېته به يې مجبور کړي چې د تذکرو په نه اخیستو سره د دې توطیې پر وړاندې غبرگون وښيي او بل به يو شمېر محدودو وطن پلورو اشخاصو ته دا تذکرې ووېشل شي او بیا به د هېواد د راتلونکی سیاسي نظام او انتخاباتي سیستم برخلیک هم له همدې بې هویته تذکرو سره تړلی وي، یوازې همغه بې هویته اشخاص به په ټاکنو کې برخه اخیستلای شي چې د همدې بې ملته تذکرو خاوندان وي. په دې ډول به افغان دښمنه او**



**افغانستان ضد گاونډي هېوادونه په یوه غشي دوه هدفونه وولي، خو له نېکه مرغه چې زموږ غیرتي ولس که څه هم جگړو او غمو ځپلی، خو د پردیو او د هغو د کورنیو گوډاگیانو پر وړاندې يې لاهم د سپېڅلي جهاد او رښتیني ملي مقاومت جذبې او ولولې له لاسه نه دي ورکړې. د بهرني او کورني دښمن د دې گډ امتزاج په نتیجه کې رامنځته شوې توطیې یې هم له همغه پیله په ښه ډول درک کړي او د خنثی کولو لپاره یې په ټېنگ هوډ د مبارزې ډگر ته وردانگلي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتینو افغانانو په ملي شورا کې په دې اړه د شوي غبن پر وړاندې مظاهرې وکړې او د هغوی له درغلۍ ډکه پرېکړه یې په قانوني ډول چیلنج کړه. د ولس بچیانو د ټولو اړوندو ارگانونو او چارواکو له همغې جملې څخه د پخواني ولسمشر حامدکرزي په گډون د سترې محکمې د رییس قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي، لوی څارنوال محمد اسحق الکو، عدلیې وزیر اسدالله غالب، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رییس قاضي گل رحمن، د علماوو شورا رییس مولوي قیام الدین کشاف، د امنیت شورا سلاکار ډاکتر رنگین دادفر سپنتا، د چارو د ادارې لوی رییس صادق مدبر، د ولسمشر د دفتر رییس کریم خرم او د ولسمشر د حقوقي سلاکار نصرالله ستانیکزي او نورو په گډون ټولو سره




گډه غونډه وکړه، دوی ټولو د بېلابېلو مدني ټولنو، سیاسي خوځښتونو، د بېلابېلو قومونو د استازو په گډه غونډه کې پرېکړه وکړه چې د ملي شورا شوې تېروتنه به ژر اصلاح کوي او ولسمشر به ډېر ژر د سمون په خاطر یو تقنیني فرمان ورکوي، د دې ټولو ښاغلو په گډون پخواني ولسمشر خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمنه، سوګند او قول تر پښو لاندې کړل، خو د ولس له وېرې چا د بې هویته تذکرو د وېش د پیلولو جرئت ونه کړ.

کله چې ډاکتر اشرف غني او ډاکتر عبدالله په مساوي ډول واک ته ورسول شول، نو ډاکتر غني هم تر ټاکنو دمخه ژمنه کړې وه چې تر واک وروسته به ضرور د هویت په تذکرو کې د (دین) او (ملت) ستونونه زیاتوي. د تېر کال د جدي په میاشت کې اوسني جمهور رییس یو ځل بیا د هېواد او ولس له رښتینو بچیانو سره ټینګه ژمنه وکړه چې د تېر کال د دلوې پر لومړۍ نېټه به د ملي شورا د ژمنیو رخصتیو پرمهال دا مشکل حلوي او د ملت حق به ملت ته رسېږي. خو په ډېرې خواشینۍ سره باید ووایو چې دې ښاغلي هم خپلې ژمنې او لوزونه عملي نه کړل، خبره د ملي شورا دوبنیو رخصتیو ته راورسېده، پر دې مهال یې هم تر لسو زیاتې ژمنې وکړې، نن یې حلوم، سبا یې حلوم، خو یو ځل یې هم خپله ژمنه عملي نه کړه. په پای کې یې د ولس د بچیانو او رښتینو افغانانو پرمخ د منطق او قانونیت ټولې لارې وتړلې، ولس مجبور شو چې لارو او واټونو ته راووځي او دا دی دا لړۍ اوس په ټول افغانستان کې پیل شوې. ننني لویه مظاهره یې یوه څرګنده بېلګه ده، موږ د مظاهرې زرګونه برخوال او ګډونوال په خپله، د خپلو کورنیو او وکالتاً د خپل ټول غیور ولس په استازۍ دغه لاندې پرېکړه لیک صادروو:

۱ -له جمهور رییس او د ده د حکومت له نورو شریکبانو څخه په ټینګه غواړو چې قانون ته غاړه کېږدي او له ملي هویت سره خپله دښمني پایته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ -د مظاهرې ټول ګډونوال په یوه خوله غږ کوو چې سل په سلو کې دې د هویت په تذکرو کې د (دین) او (ملت) ستون ولیکل شي، د دین ستون په مقابل کې دې هر مسلمان افغان ته (اسلام) او د (ملت) ستون په مقابل کې دې هر هېوادوال ته د (افغان) کلیمه ولیکل شي.

۳ -د (اسلام) او (افغان) د کلیمو هېڅ متبادل، انډول او عوض نه منو او هېچا ته اجازه نه ورکوو چې پر دې سترو ارزښتونو سیاسي تجارت، معامله او د پردې تر شا پټ پټوني وکړي.

۴ -که څه هم په ډېټابیس کې د قوم یادونه راغلې، خو که بیا هم زموږ یو شمېر هېوادوال غواړي د (ملت) ترڅنګ (قوم) هم په تذکره کې ولیکل شي، د مظاهرې ګډونوال یې مخالفت نه کوي، خو په هغه حالت کې چې (قوم) په اختیاري ډول پرېښودل شي، چې که د چا خوښه وي ودې لیکي او که نه یې غوښتل نه دې لیکي، خو د (ملت) لیکل ضروري او حتمي ګڼو.

۵ -موږ د جمهور رییس او د هغه د حکومت د نامتجانسه شریکبانو هغه نارسمي او پټ وړاندیز په کلکه ردوو چې وایي (ملت) او (قوم) دې دواړه اختیاري شي. موږ دا وړاندیز یوه توطیه ګڼو او د افغانستان د تجزیې لپاره لومړی کتبي هڅه. دا شوم وړاندیز د دې سبب ګرځي چې د افغانستان د یووالي او ملي هویت دښمنان سبا ته د (افغانستان) د نامه د اختیاري کولو شومه موخه هم تعقیب کړي.

٦ – زموږ د مالوماتو له مخې د تذکرو د وېش په اداره او تخنیکي سیستم کې لا هم ډېرې ستونزې شته، چې باید حل شي. د تذکرو د وېش اوسنۍ اداره د دومره مهمې ملي پروسې د مدیریت وړتیا، لازم اعتبار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوندیتوب نه لري، له دې کبله باید یوه بله خپلواکه، باکفایته او د ملي ترکیب له مخې یوه متوازنه اداره جوړه او د تذکرو د وېش چارې ورته وسپارل شي.**

**۷ -موږ له حکومته په ټینګه غواړو تر هغه وخته پورې چې په تذکره کې د افغان کلیمې د تسجیل حق نه وي تثبیت شوی، د بې هویته تذکرو د وېشلو امتحاني لړۍ دې هم بنده کړي. موږ یو ځل بیا له حکومته په ټینګه غواړو چې د اسلام او افغان کلیمو تر لیکلو وروسته دې د تذکرو وېش لړۍ پیل کړي، که بیا هم په دې خاوره کې کوم داسې شخص اوسېده چې هغه افغان نه و، هغه دې بیا دا تذکره نه اخلي. بیا به د هېواد نور قوانین وګورو چې دلته یو څوک په ناقانونه توګه اوسېدلی وي، د کورنیو او نړیوالو قوانینو له مخې د هغه سزا څه ده؟**

**۸ -د اساسي قانون د دوه شپېتمې مادې لومړۍ فقره وایي څوک چې جمهوري ریاست ته کاندیدېږي، باید د لاندې شرطونو لرونکی وي:**

**((د افغانستان تبعه وي، له افغان مور او پلاره زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعیت ونه لري)).**

**د جمهوري ریاست په لومړیو دوو دورو کې دوه داسې اشخاص کاندید وو چې ځانونه یې افغانان نه بلل، مانا دا چې له افغان مور او پلاره نه دي زېږېدلي، خو ځانونه یې جمهوري ریاست ته کاندي کړي وو، مانا دا چې درغلي یې کړې وه، موږ لاریونوال له اوسني حکومت، عدلي او قضایي ارګانونو څخه غواړو چې دا ډول اشخاص ژر تر ژره د عدالت منګولو ته راکاږي چې نورو دې ډول اشخاصو ته د عبرت سبب شي. که ډاکتر اشرف غني هم ځان ته افغان نه وایي او د هویت په تذکرو کې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library





افغان کلیمې له لیکلو ډېره کوي، نو پر ده باندې هم په ټول قوت د قانون د تطبیق غوښتنه کوو.

۹ -هویت د ملت قانوني حق دی، کوم امتیاز نه دی، له اوسني دولت څخه په ټینګه غواړو چې له ملت څخه دا حق سلب نه کړي، د اساسي قانون د څلورمې، دوه شپېتمې او په مجموع کې له ټولې محتوا سره سم دې د هویت د تثبیت لپاره پر عملي اقدام لاس پورې کړي.

۱۰ -لاریونوال د اوسني حکومت له وزیرانو او جمهور رییسه غواړي چې که چېرې د ملت د حق پر وړاندې همداسې په متواتر ډول خنډ ګرځي او یا هم د مضر احتیاط، وېرې او ډار پر نري رنځ اخته وي، نو ژر تر ژره دې له خپلو مقامونو استعفاوې وکړي او که نه نو ملت به یې په زوره مجبور کړي چې خپلې دندې پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادښت: که چېرې د لاریونوالو دا قانوني غوښتنې ونه منل شي، نو لاریونوالو هوډ کړی چې خپلې داعیې ته به د هغې د بریالیتوب تر وروستي بریده دوام ورکوي او دغه لاندې هڅې به ترسره کوي:

۱ -د هېواد په اکثرو ولایتونو کې به ستر ستر لاریونونه کوي.

۲ -د کابل په پښتونستان واټ کې به بله لویه مظاهره کوي.

۳ -د ملي شورا مخې ته به ستره مظاهره کوي.

۴ -له قانوني زور و ځواک څخه په ګټې اخیستنې به د تذکرې د وېش د لومړۍ درجې د مامورینو د دې ناقانونه کار مخه نیسي او د هغوی د سرزورۍ په حالت کې به له قانوني او ولسي زور څخه کار اخلي.

۵ -کابل ته به ټولې لویې غځېدلې لارې بندوي.

که دې ټولو قانوني لارو او د منطق د دې ټولو اسبابو له کارولو سره سره بیا هم دولتي چارواکي د خپل لېونتوب، جنون او پردیپالنې د غرور پر اسونو سواره وي، نو د جیدو علماوو په فتوا به له یو ستر اسلامي، ملي جهاد او پاڅون سره مخامخېږي، بیا چې هر ډول ناوړه پېښې رامنځته شوې، نو مسوولیت به یې ددې دوو دولتمشرانو، ډاکتر صاحبانو، مفکرینو او هغو نامفکرینو پرغاړه وي چې د ولس په رایو دې مقامونو ته ورسېدل او بېرته د ولس د هیلو پر وړاندې ودرېدل.

تل دې وي زموږ ملي هویت

مړه دې وي د اسلامیت او افغانیت دښمنان

ځلانده دې وي افغان، افغانیت او افغانستان

وما علینا الا البلاغ

د اسلامیت او افغانیت د پراخ لاریون ټول برخوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل غیور ملت ته د ملي حماسې مبارکي

دا لیکنه د (۲۰۱۵)م کال د سپتمبر پر (٦)مه چې د (۱۳۹۴ل) کال د سنبلې له (۱۵) نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

پرون د سنبلې (۱۴)مه له عیدگاه جومات څخه د افغان ملت ستره حماسه پیل او تر پښتونستان واټ پورې وغځېده. دې حماسې د ارگ د کښو چارواکو غوږونه ولړزول، د افغان ملت روحیه یې لا پسې اوچته کړه، د بې زړه، بې فکره او نا مفکره مفکرینو روحي حالات یې لا پسې خراب کړل.

د ارگ گونگیو چارواکو چې د ولس د حماسې او د هغو د استازو د منطق د تېرې تورې پر وړاندې یې د مخامخ خبرو جرئت نه درلود، نو ځان یې د ارگ د دېوالونو تر شا پټ کړ .مفکر چې پخوا به یې هر چاته د مناظرې ټېر ډباوه اوس یې د منطق غشي مات و .هم له خپل ناقانونه اجراییه رییس څخه ډارېده او هم له خپل ملت څخه، حیران و چې څه وکړي، نو یو ځل بیا یې د بیت المال خزانې ته پام شو، مفکر فکر وکړ چې راځه هره اوونۍ خو هسې هم له ملي خزانې څخه (۵۰) میلیونه ډالر د افغانۍ د ثبات په پلمه راباسې، راځه یو څه نوره زیاتونه هم وکړه، غوښتل یې د بیت المال په مال د ملت د حماسې مخه ونیسي، غوړه مالو مشاورینو ته یې هم دنده وسپارله، هغوی د درواغجنو ژمنو او پلمو له لارې غوښتل د ملت لاریون شاته کړي، خو کله چې د ملت د صبر



(c) ketabton.com: The Digital Library



جام ډک شو، نو ستره حماسه يې وپنځوله، مفکرينو(!) بيا د اجيرو او کرايي ليکوالو، د جمهوري رياست له مطبوعاتي کنځلتون او په هغه کې د غوړه مال او کنځلمار مشاورګي په خولې د ملت په حماسې پسې سپکې خبرې پيل کړې. يو دولتمشر چې دومره کمزوری شي چې خپل وياند نه شي ټاکلی او له کرايي ليکوالو پرته يې څوک په رسمي ډول ملاتړ نه شي کولای، نو هغه به څه ولسمشر وي؟ کوم کرايي ليکوال يې چې په خپلو او يا هم بدلو نومونو ملاتړ کوي، هغوی هم خپله حکومتي دنده نه ښيي، ځکه چې بيا خو مسووليت ورته راجع کېږي، نو دغسې ګوډ و مات او کمزوری حکومت به د ولس د کوم درد درملنه وکړای شي.

زه د مظاهرې د يو ګډونوال په توګه خپل غيور ملت ته د دوی د دې سترې مظاهرې مبارکي وايم، خوشاله په دې يم چې مظاهرې دومره زيات تاثير کړی، چې مفکر (!) ورته ګوته په غاښ او لا جوابه دی او د هغه کرايي ليکوال او تاليځتي يې دومره وارخطا کړي چې له سپوره کنځلو، تورونو او د نورو له توهينولو پرته ورته نور څه پاتې نه دي، څومره خوند کوي، هغه شخصيتونه چې د ملي منطق په ګاڼه سمبال دي او مخالفين يې د دولت له واک سره سره يوازې کنځلې کوي او د يوه کنځلمار حکومت په بڼه ځان څرګندوي. دا نو د وارخطايي وروستی او شرمېدونکی حالت دی.

د حماسه پنځوونکي افغان ملت
د لا بريا او د دې غيور ملت
د دښمنانو د لا شرمېدو په هيله
محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګرهار او یو ځل بیا د ملي هويت ملاتړ

د ننګرهار خلکو په جلال اباد ښار کې د (۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۱۵)مه نېټه چې د (۲۰۱۵م) کال د سپتمبر له (٦)مې سره سمون خوري، په تذکرو کې د افغان او اسلام کليمو د ليکلو په ملاتړ مظاهره وکړه په




ننګرهار کې ختيځ ميشتو ولسونو په تذکرو کې د افغان او اسلام کليمو د ليکلو په ملاتړ ستر ولسي لاريون وکړ چې په سلګونو قومي مشرانو، ځوانانو، مدني فعالانو او د ولايتي شورا استازو په کې برخه اخيستې وه .د دې مظاهرې يو تن ترتيبوونکي او د ننګرهار د ولايتي شورا وکيل ذبيح الله زمري وويل چې د افغان او اسلام کليمې پرته به هيچا ته اجازه ورنه کړي چې په ختيزو ولايتونو کې د تذکرو وېش پيل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذبيح الله زمري زياته کړه، که حکومت په زور دا کار ترسره کړي، نو دوی به د ولس او قانون په زور د دې ناقانونه کار مخه ونيسي. د يادونې وړ ده چې په دې مظاهره کې ننګرهار مېشتو افغان سکانو او هندوانو هم برخه اخيستې وه او په ټينګه يې د هويت په تذکرو کې د افغان او اسلام د ليکلو ملاتړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندوز او ملي مبارزه

**د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (٦)مه نېټه هېوادپالو او اسلامپالو افغانانو په داسې حال کې په کندوز کې د افغانيت او اسلاميت په ننګه لاريون وکړ چې ددغه ولايت امنيتي حالات ډېر نازک و.**

**لاريون کوونکو چې له ځانونو سره بېلابېل ملي شعارونه لېږدول، له ګډ حکومته وغوښتل چې الکترونيکي تذکرې بايد تر هغه وخته ونه وېشل**




**شي، چې د دوی غوښتنې منل شوې نه وي. په کندوز کې دا مظاهره په داسې حال کې وشوه چې کندوز ښار د محاصرې په حال کې و. په داسې حالاتو کې مظاهره کول له خپل ملي او عقيده يي هويت څخه ملاتړ د خلکو د اوچت احساس او مينې څرګندونه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هندوستان کې د افغان محصلینو ملي ولوله

د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (۷)مه نېټه په هند کې افغان محصلینو په نویو تذکرو کې د ( اسلام او افغان) کلیمو د لیکلو په ملاتړ سوله ییز لاریون وکړ. په دې لاریون کې ګڼو افغان محصلینو ونډه اخیستې وه.



محصلینو د افغانستان ملي بیرغونه رپول او ټولو په یوه خوله ویل چې د هویت په تذکره کې د اسلام او افغان کلیمو لیکل غواړو. دوی د خپل لاریون په ترڅ کې یو پرېکړه لیک صادر کړ چې په هغه کې یې له افغان حکومته غوښتي وو چې د ملت غوښتنو ته پام وکړي. په هند کې د افغان محصلینو دې مظاهرې د ستر ملي او دیني شعور او احساس ښکارندویي کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فراه کې د ولس ملي احساسات

د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (۹)مه نېټه فراه ولایت کې په سلګونو خلکو په تذکره کې د افغانیت او اسلامیت په ننګه پراخ لاریون ترسره کړ. لاریون کوونکو د افغانیت او اسلامیت؛ زموږ ملي او اسلامي ارزښتونه دي، شعارونه



له ځانه سره لېږدول او له حکومته یې په کلکه غوښتنه وکړه، چې زموږ ملي او اسلامي هویت باید په تذکرو کې خوندي شي.

په فراه ولایت کې د ملي هویت په ملاتړ مظاهره هم د خاص ارزښت لرونکې ده. دلته جنګونو او نورو ستونزو د دې ولایت خلک دومره ځورولي چې له دغسې لویو ملي مسایلو پرته ډېره ګرانه ده چې خلک دې سره راټول او خپل غږ دې په ډله ییز ډول پورته کړي، خو دا مظاهره د فراه د خلکو د ستر ملي احساس ښکارندویي کوي. یوطبیعي ولسي غږ دی، که نه خو په دې ولایت کې تنظیمونه تر اوسه په دې نه دي بریالي شوي چې د کوم ملي او مدني حرکت دا ډول کومه بېلګه وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هرات او افغان ملتپالنه

په هرات کې مظاهره چیانو له حکومته وغوښتل چې په برېښنايي تذکرو کې د افغان کلیمه ولیکي . ازادۍ راډیو د (۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۱۹)مه نېټه  چې د (۲۰۱۵م) کال د سپتمبر له (۱۰)م سره سمون خوري، د دې مظاهرې په باب یو راپور خپور کړ.




د هرات ولایت په سلګونه اوسېدونکو نن د یوې مظاهرې په ترڅ کې له افغان حکومت وغوښتل چې په برېښنايي تذکرو کې د افغان کلیمه ولیکي.

مظاهره کوونکو ګاونډیان د افغانستان د خلکو په بې اتفاقه کولو تورن کړل او افغان حکومت ته یې خبرداری ورکړ، که د دوی غوښتنې ونه منل شي نو ایران، ترکمنستان او د افغانستان یو شمېر ولایتونو ته به د هرات لویه لاره وتړي.

په دې وروستیو کې په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې په برېښنايي تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمو د لیکلو په ننګه مظاهرې وشوې، خو افغان حکومت تر اوسه د مظاهره کوونکو د دې غوښتنې په اړه څه نه دي ویلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوست او د هویتپالنې غږ

**کله چې د ولسي جرګې د ناقانونه پرېکړې په تعقیب مشرانو جرګې هم د ناخبرۍ او ناسم پوهاوي له امله د هویت په تذکره کې د افغانیت او اسلامیت نشتوالی تایید کړ، نو دې سره د ولس د غوسې یوه څپه راپورته شوه. خوست لومړنی ولایت و چې پر لویو لاریونونو یې لاس پورې کړ او د ملي شورا دا ناقانونه پرېکړه یې وغندله او دا یې د اساسي قانون خلاف وبلله.**



**د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (۱۰)مه نېټه یې یو بل لوی لاریون راوویست. ابراهیم رحیمي چې یو سیمه ییز خبریال دی، همغه وخت یې د دې لاریون په باب یو راپور خپور کړ. د دې راپور لنډیز په دې ډول دی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په الکترونیکي تذکرو کې د اسلام او افغان کلیمو د نه لیکلو پرضد نن په خوست ښار کې شاوخوا زرو کسانو مظاهره وکړه او له حکومت څخه یې وغوښتل، چې په یاده برخه کې جدي اقدامات وکړي.

مظاهره چیانو په شعارونو او خبرو کې په الکترونیکي تذکرو کې د اسلام او افغان کلیمو نه لیکل، د ځینو بهرنیو استخباراتي کړیو مداخله وبلله، چې په وینا یې غواړي، د افغانستان قومونه سره ووېشي.

د خوست دغو مظاهره کوونکو د ملي یووالي حکومت له مشرانو په کلکه وغوښتل، چې په افغانستان کې د یوه بل بحران د رامنځته کېدو او د افغانانو د وینې د تویېدو مخنیوی وکړي. مظاهرچیانو گواښ وکړ چې که له اساسي قانون سره سم ددوی غوښتنې ونه منل شي، نو د خپل حق لپاره به له هر ډول وسیلې څخه کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ډنمارک کې د ملي هویت ملاتړ

دا خبر د (۲۰۱۵م) کال د سپتمبر پر (۱۰)مه نېټه چې د (۱۳۹۴ل) کال د وږي له (۱۹)مې نېټې سره سمون خوري خپور شوی دی.

په ډنمارک هیواد کې د ملي تحریک څانگې په نوښت او یو شمیر سیاسي گوندونو ، کلتوري او مدني ټولنو په همکارۍ په پیژندپاڼو کې د اسلام او افغان کلیمود لیکلو او په هېواد کې دننه روانو لاریونونو د ملاتړ په موخه غونډه جوړه شو. غونډه د محترم استاد نورالرحمن مختارزي له




خوا د قران عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو پر لوستلو پیل شوه او ورپسې د ملي تحریک ډنمارک څانگې لومړي مرستیال ښاغلي عمر بورا زماني د اسلام او افغان کلیمو پر ارزښت او اهمیت خبرې وکړې. همدا راز د غونډې له برخوالو څخه دروند مشر ښاغلي بشیر بشریار ، شاه ولي آرین، غرزي پردېسیار، بارکزي، سهراب حبیب، محد ظاهر انوري او غلام سخي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکزي خبرې وکړې او په کلکه یې د ملي وحدت حکومت له چارواکو څخه غوښتنه وکړه چې په تذکرو کې دې د اسلام او افغان کلیمې ذکر کړي او همدارنګه یې د خپلو ګوندونو او ټولنو په نمایندګۍ له روانو لاریونونو څخه د ملاتړ څرګندونه وکړه . غونډه د ملي تحریک د ډنمارک څانګې مشرمحمد افضل شیرینزوی له خوا د پریکړه لیک په لوستلو پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانیت او د نیمروز د خلکو ګرمې ولولې

**د نیمروز پیاوړي ولس د ( اسلامیت او افغانیت ) پر ننګه پراخ لاریون ترسره کړ. په دې ولایت کې لاریون کوونکو غوښتنه لرله، چې د اسلام او افغان کلیمې باید په برېښنایي پېژندپاڼو کې ولیکل شي٠ که چېرته دا دوه**



**کلیمې ونه لیکل شي، دوی به خپلو مدني حرکتونو ته دوام ورکړي. دا مظاهره د (۱۳۹۴ل) کال د وږي میاشتې پر (۲۰)مه نېټه د جمعې پر ورځ ترسره شوه او د زرنج ښار په سلګونو اوسېدونکو په کې ګډون کړی و. د یادونې وړ ده چې د نیمروز ولایت په تاریخ کې دا لومړی ځل و چې ولس په دې پراخه کچه د سترو ملي غوښتنو لپاره پر لوی لاریون لاس پورې کړی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت په ننګه د ملي پاڅون خبرتیا

دا خبرتیا د (۱۳۹۴ل) کال د وږي میاشتې پر (۲۰)مه نېټه لیکل شوې او خپره شوې ده.




درنو هېوادوالو! له یوې اوونۍ راهیسې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د اسلامیت او افغانیت په ننګه پراخ او بېساري لاریونونه روان دي او هره ورځ د تابعیت په تذکرو کې د اسلام او افغان کلیمو د راوړو غوښتنه کېږي. د ولس دغه ملي اجماع او سوله ییزه حماسه د افغانستان په تاریخ کې بېسارې ده، خو له بده مرغه لاهم د ارګ مشرانو د دې جرئت نه دی موندلی چې د افغان دښمنه کړیو پر وړاندې د افغانیت ننګه او ملاتړ وکړي او د ولس غوښتنې ته مثبت ځواب ووایي. که څه هم ارګناستي مشران د پخوا په څېر ژمنې کوي، خو پدې برخه کې د ډاډ وړ هېڅ عملي ګام نه دی اخیستل شوی او له بده مرغه د ډاکټر عبدالله په مشرۍ د اصلاحاتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همپالنې ټیم لا هم د ولس د اسلامي او افغاني داعیې پر وړاندې پر خپل افغان دښمنه دریځ ټینګار کوي .

که څه هم په کابل کې د لوی لاریون د انسجام کمېټې ژمنه کړې وه چې راتلونکې یکشنبه ( د وړي ۲۲ مه ) به د اسلامیت او افغانیت په ننګه د کابل دویم لوی لاریون ترسره کوي، خو څرنګه چې لا هم په ډېرو ولایتونو کې لاریونونه روان دي او له موږ څخه غوښتنه کېږي چې خپل دویم لاریون یو څه وځنډوو او له بلې خوا د ولس حماسي جذبې او د حکومت کنېو غوږونو ته په کتو سره پرېکړه وشوه چې په ولایتونو کې د لاریونونو له پایته رسېدو سره به دا ځل د لاریون پر ځای د ټول هېواد په کچه پر یوه ورځ یو سراسري ملي پاڅون پیلېږي، لویې لارې به تړل کېږي او ورسره به ارګ او ملي شورا کلابند کېږي. خو تر هغه وړاندې به د افغان ولس دیني عالمان، قومي مشران، سیاسي او ټولنیز شخصیتونه د وروستي ځل لپاره په یوه لویه ملي غونډه کې پر دولت غږ کوي، چې د اسلامیت او افغانیت داعیې ته غاړه کېږدي، له اساسي قانون څخه دفاع وکړي او د افغان ولس برحق غوښتنې ومني. تر اختر وروسته چارشنبه ( د تلې ۸ مه ) به بیا په ټول هېواد کې زموږ ملي پاڅون پیلېږي او تر هغو به دوام کوي چې یا به زموږ غوښتنې منل کېږی او یا به له وړاندې کاواکه حکومت استعفا ته اړ کېږي.

لومړی خو موږ د افغانستان له مېړني ولس څخه ډېره مننه کوو، چې تر دې دمه یې په ډېر اخلاص او سرښندنې له خپلې سپېڅلې عقیدې او ملي هویت څخه ننګه او دفاع کړې ده او بیا دوی ته ډاډ ورکوو چې انشا الله د افغانیت د دښمنانو پښې په لړزه دي او زموږ له ملي پاڅون سره به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ژر په ګونډو شي. راځئ په ټول توان د اسلاميت او افغانيت په ننګه ملي پاڅون کې ګډون وکړو او له خپل اسلامي او ملي هويت څخه په کلکه دفاع وکړو. موږ ډاډه يو چې انشاالله د همدې پاڅون په برکت به د افغانانو ترمنځ ملي يووالی لا پياوړی شي او يو داسې ملي اتحاد به رامنځته شي چې د دښمن د هر ډول دسيسو د شنډولو واک او ځواک به ولري.

- د خپلواک، سرلوړي او يو موټي افغانستان په هيله
  د ملي پاڅون د انسجام کمېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلخ او د ملي هویت په ننګه مظاهره

د (۱۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۲۱)مه نېټه چې د (۲۰۱۵م) کال د سپتمبر (۱۲)مه کېږي، بلخیانو د تذکرو د ستونزې د حل په موخه ستر لاریون وکړ.

په دې لاریون کې د افغان ملت بېلا بېلو قومونو برخه لرله. د ملي یووالي تر شعار لاندې یې د تذکرو د ستونزې د حل په موخه خپله طرحه وړاندې کړه:



بلخ؛ د ګران وطن افغانستان په کچه په هغو ولایتونو کې راځي، چې د هېواد ګڼ او بېلا بېل درانه قومونه پکې میشت دي. زموږ د هېواد دغې پرتمینې برخې د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو د ملي یووالي، مدنیت او علمي اړخ د ښکاره کولو ښې بېلګې وړاندې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان پر وړاندې د شته کورنیو او بهرنیو ستونزو په نظر کې نیولو سره؛ د هېواد ټولو افغان قومونو (هزاره، تاجک، پښتون، ازبیک او...)، د ټولو جهادي، سیاسي او مدني مشرانو او ځوانانو دنده ده، چې د تذکرو د شته ستونزو د حل په موخه د قومپالنې له لارې نه، بلکې د یو واحد او ویاړلي ملت په توګه سره وړاندې لاړ شي او د هېواد کورنیو او بهرنیو دښمنانو ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي.

نو موږ بلخیان دنده لرو، چې په دې وروستیو کې د ګران وطن د تذکرو پر سر د روانو ناندریو د حل په موخه د سالمو او قانوني غوښتونو پر بنسټ پر حکومت فشار راوړو، چې دغې ملي مسلې ته دې د اساسي قانون او د دې پرتمین، خو ځورېدلي ولس په خوښه حل پیدا کړي.

موږ او تاسو د ملي یووالي له دریځه د بلخ ولایت په مرکز کې د دغه سوله ییز لاریون له لارې د تذکرو د ستونزې د حل په موخه لاندې ملي طرحه وړاندې کوو.

۱. حکومت مسوولیت لري، چې د تابیعت تذکرو پر وړاندې خپله چوپتیا ماته کړي.

۲. له حکومت څخه غوښتنه کوو، چې په تذکرو کې د اسلام پر ذکر کولو سربېره افغان د ملت په توګه او زموږ بېلا بېل قومونه (ایماق، ازبیک، سادات، ترکمن، تاجک، هزاره، نورستاني، پشه یي، پښتون او...) د قومونو په توګه ولیکل شي. په دغه چاره به د افغان قومونو پیوستون او ملي یووالی لا پیاوړی کړي.

۳. د تابیعت تذکرو د حل په موخه دې اساسي قانون ته رجوع وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤. د هیواد ملي سرود، زمونږ د خلکو ترمنځ د ملي یووالي ښکارندوی دی، په برېښنایي تذکرو کې د قومونو لیکل به د ملي سرود په شان د خلکو ترمنځ د وحدت او یووالي د لا ټینګښت سبب شي.

٥. دا چې د تذکرو وېش د هېواد د بېلا بېلو سیاسي ستونزو د حل لپاره ګټوره مسله ده؛ نو حکومت باید د یادې ستونزې د حل لپاره د دغې چارې په پیل کولو زر تصمیم ونیسي.

که چېرې د ملي یووالي حکومت په هېواد کې د قوم پالنې د هر ډول هڅو د مخنیوي پر وړاندې غلی پاتې شي؛ نو د بلخ ولسونه به یې په غبرګون، په نږدې موده کې (۲۰زره کسیز) ملي سوله ییز لاریون راوباسي.

درناوی

د بلخ د ولسونو ملي لاریون

مزارشریف، د سنبلې ۲۱مه، ۱۳۹۴لمریز

د یادونې وړ ده چې بلخ داسې ولایت دی چې له یوې نیمې لسیزې راهیسې یې دولتي واک په بشپړ ډول د اسلامي جمعیت په انحصار کې دی او دا ډله په خپل ټول توان سره د ملي هویت پرضد له هر ډول وسیلې څخه کار اخلي، نو د بلخ د جنګسالارانو پر وړاندې دا ډول ملي لاریون د خاص ارزښت وړ ګڼل کېږي او د ملي شعور انځورګري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار او د ملي داعيې پالنه

**د (۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۲۲)مه نېټه په کندهار کې د ملي هویت په ننګه لاریون ترسره شو.**

**لاریونوالو د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت پر لیکلو ټینګار وکړ.**

**د کندهار خلکو د یوه لاریون په ترځ کې له حکومته وغوښتل چې په نویو برېښنایي پېژندپاڼو کې دې د اسلام او افغان کلیمې ولیکل شي.**



**په یاد لاریون کې د کندهار ولایتي شورا غړو، مدني ټولنو او ځایي اوسېدونکو ګډون کړی و. لاریونوالو ګواښ وکړ که په نویو تذکرو کې افغان او اسلام کلیمې ونه لیکل شي، نو لويې لارې به بندې او خپلو لاریونونو ته به دوام ورکړي او له افغان او اسلام کلیمو پرته به تذکرې وانخلي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزني او د افغانيت او اسلاميت په ننگه لاريون

د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (۱۳)مه نېټه چې د (۱۳۹۴ل) کال د وږي له (۲۲)مې نېټې سره سمون خوري، د غزني ولايت سلگونو اوسېدونکو هم د يوه لاريون په ترڅ کې په برېښنايي تذکرو کې د افغان او اسلام کليمو پر ليکلو ټينگار وکړ. پژواک خبري اژانس په دې باب وايي:

((تر دې وړاندې په تذکره کې د افغان او اسلام کليمو د ليکلو په ننگه




په کابل، ننگرهار، کونړ، بلخ، پکتيا او ځينو نورو ولايتونو کې لاريونونه شوي دي.

د نفوسو د احوالو د ثبت قانون طرحه تېر کال د ملي شورا له لوري تصويب شوه او تر هغه وروسته بيا د ولسمشر له لوري توشېح شوه، خو د ملي شورا، مدني بنسټونو او گوندونو يو شمېر غړو په برېښنايي تذکرو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان کلیمې د لیکلو غوښتنه کړې ده او وایي چې د دې کلیمې تر لیکلو وروسته دې تذکرې ووېشل شي.

خو یو شمېر کسان بیا وایي چې پر تذکرو باندې د افغانستان اسلامي جمهوریت لیکل شوی او دا کار دا څرګندوي چې دا تذکره د یوه افغان ده.

خو یو زیات شمېر بیا په تذکرو کې د ملي هویت په توګه د افغان کلمې پر لیکلو ټینګار کوي.

د تذکرو د وېش لړۍ تر اوسه پورې نه ده پیل شوې.

د اړوندې موضوع په اړه د غزني ښار سلګونو اوسېدونکو، د مدنې ټولنو غړو او قومي مشرانو په برېښنایي تذکره کې د افغان او اسلام کلیمو د لیکلو په ننګه د وږي پر (۲۲)مه لاریون وکړ.

لاریون کوونکو مرګ پر هغه افغان چې له دې کلیمو سره مخالفت کوي، مرګ پر هېواد پلورونکو، مرګ پر اسلام او افغان پلورونکو، مرګ پر پاکستان او مرګ د پاکستان او ایران پر پلویانو شعارونه ورکول.

په غزني کې د ژوند ټولنې مشر او د لاریون یو تن سمبالوونکي (نقیب الله خاکسار) پژواک خبري اژانس ته وویل چې په تذکره کې باید د افغان او اسلام کلیمې ولیکل شي.

هغه زیاته کړه: ((که چېرې ولسمشر په دې اړه جدي ګام وانه خلي او هغه کسان چې غواړې هېواد تجزیه کړي، هغه ګاونډي هېوادونه چې غواړي په افغانستان کې قومونه سره اخته کړي، د هغو مخه ونه ونیسې، نو دا کار به د افغانانو غوسه را وپاروي او د سر په قیمت به وجنګېږي تر څو په تذکره کې د افغان او اسلام کلیمې ولیکل شي.))

د لاریون یو بل ګډونوال عبدالرحیم هم ټینګار وکړ چې په تذکره کې باید د افغان او اسلام کلیمې ولیکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زیاته کړه: ((که چېرې د ملي وحدت حکومت په دې اړه پوره غور ونه کړي نو موږ به خپلو لاریونونو ته دوام ورکړو او تر هغه به په غزني کې د کندهار- کابل لویه لاره وتړو چې مو غوښتنې ومنل شي.))

هغه وویل چې حکومت باید د تذکرو په برخه کې خلکو ته روښانه وضاحت ورکړي تر څو خلک له ستونزو خلاص شي.

یو شمېر نورو لاریون کوونکو هم ورته څرګندونې وکړې او ګواښ یې وکړ که چېرې په تذکره کې د افغان او اسلام کلیمې ونه لیکل شي نو د تذکرو له اخیستو به ډډه وکړي او حکومت ته به ډېرې ستونزې جوړې کړي.

یادو لاریون کوونکو یو پرېکړه لیک هم صادر کړ.

په پرېکړه لیک کې راغلي چې ولسمشر او نور چارواکي باید قانون ته غاړه کېږدي او له خلکو سره کړې ژمنې عملي کړي.

د پرېکړه لیک له مخې: ((هېچا ته اجازه نه ورکوو چې د اسلام او افغان په کلیمو تجارت وکړي او په تذکره کې دې د قوم لیکل اختیاري شي، خو افغان باید ټولو ته ولیکل شي.))

لاریون تر غرمې مخکې پر ( ۹ ) بجو د غزني ښار له څلوېښت متره سړک څخه پیل او تر غرمې مخکې د یوولس نیمو بجو په شاوخوا کې د کابل- کندهار پر لویه لار پای ته ورسېد.

لاریون کوونکو د شاوخوا شلو دقیقو لپاره د کابل- کندهار لویه لار هم د ترافیکو پر مخ تړلې وه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لغمان، اسلامپالنه،ملتپالنه او هویت پالنه

مهترلام ( پژواک،د (۱۲۹۴ل) کال د وږي (۲۴)مه نېټه ) : د لغمان ولایت سلګونو اوسېدونکو په تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمو په ملاتړ لاریون وکړ او ګواښ یې وکړ، چې له دې کلیمو پرته به تذکرې وانخلي.




دغه سوله ییز لاریون د وږي پر (٢٤)مه، سهار مهال د ولایت په مرکز کې پیل شو .

لاریون کوونکو چې له ځانه سره یې ملي بیرغونه لېږدول ، په تذکرو کې یې د اسلام او افغان کلیمو د لیکلو غوښتنې کولې.

په دې لاریون کې د لغمان سلګونو قومي مشرانو، جهادي قوماندانانو، دیني علماوو ، د مدني ټولنو فعالانو او ګڼ شمېر ځوانانو برخه اخیستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاریون ګډونوالو د ملي یووالي حکومت مشرانو ته په ډاګه وویل، چې دوی به هېڅکله بې هویته پېژندپاڼې وانخلي.

د لاریون یو تن ګډونوال او د مدني ټولنې فعال (خیبر نیازي) پژواک اژانس ته وویل چې د هر هېواد په پېژندپاڼو کې د هغوی ملت لیکل شوی وي.

نوموړي زیاته کړه، چې دوی به هېڅکله د افغان او اسلام کلیمو پرته تذکرې وانخلي.

د قاري شریف الله نظري په نامه یو تن دیني عالم بیا په تذکرو کې د اسلام او افغان کلیمو پر لیکلو ټینګار وکړ او ویې ویل چې که غوښتنې یې ونه منل شوې، نو لاریونونو ته به ادامه ورکوي.

د لاریون په پای کې پرېکړه لیک ولوستل شو چې په هغه کې له ولسمشر محمد اشرف غني څخه ِغوښتل شوي وو، چې افغانان پر خپل اسلامیت او افغانیت ویاړي او له یادو کلیمو پرته به تذکرې وانخلي.

د یادونې وړ ده چې تر دې مخکې د کابل ترڅنګ په ګڼ شمېر ولایتونو کې دا ډول لاریونونه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بادغیس ولس او د خپل هویت ننګه

د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (۱۵)مه نېټه د بادغیس خلکو هم د بې هویته تذکرو له وېشلو سره مخالفت وښود او د لاریونونو هغه لړۍ چې په نورو ولایتونو کې پیل شوې وه، بادغیس ته هم ورسېده. بادغیس ولایت چې حکومت ورته له کلونو راهیسې مدني او نور پرمختیایي خدمات نه دي



وررسولي، دا لومړی ځل دی چې بادغیس کې ولسي خلک ښار ته راوځي او د یوه ستر ملي هدف لپاره مظاهره کوي.

د بادغیس خلکو په دې مظاهرې سره نړۍ ته دا وښوده چې خپلو ملي او دیني ارزښتونو سره بې مثاله مینه لري. په داسې سختو او تنګو شرایطو کې په خپله جذبه د ملي هویت ملاتړ ته راوتل، د دې ولس د ستر ملي او عقیده یي شعور ښکارندویي کوي. په دې مظاهره کې د بادغیس خلکو په یوه غږ ویل چې افغانیت غواړو او اسلامیت غواړو او د هویت په تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمو لیکل غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامیت او افغانیت په ملاتړ د ملي اجماع غونډه

د (۲۰۱۵م) کال د سپټمبر پر (۱۸)مه نېټه چې د (۱۳۹۴ل) کال د وږي له (۲۷) نېټې سره سمون خوري، په کابل کې تر هغې لويې مظاهرې وروسته چې له عیدگاه جوماته پيل شوې وه او په پښتونستان واټ کې پایته ورسېده، د ملي اجماع یوه غونډه رابلل شوې وه.

په دې غونډه کې د بېلابېلو قومونو مخورو شخصیتونو گډون کړی و. د دې غونډې د اساسي وینا په توگه ما (یون) یوه لیکلې بیانیه ترتیب کړې وه. دا بیانیه د غونډې د اساسي وینا په توگه د ښاغلي (داودشاه نیازي) له خوا واورول شوه، چې دا دی دلته یې کټ مټ رانقلوم:

درنو او قدرمنو مشرانو! ځوانانو، د سیاسي، ټولنیزو، ملي او مدني خوځښتونو استازو، قومي مخورو، دیني عالمانو او ټولو گډونوالو ته تر هر څه وړاندې السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته وایم!

د اسلامیت او افغانیت په ننگه ولاړو ځوانانو، مخورو او د دې پرتمینې غونډې ټولو برخوالو! اجازه راکړئ تر هر څه وړاندې ستاسې په استازۍ ستاسو د ورونو او عزیزانو له هغو سوله ییزو مبارزو او اتلولیو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې په تېرو دوو دوه نیمو کلونو او په تېره بیا په تېرو نږدې شلو ورځو کې یې د هېواد په تاریخ کې ثبت کړې. بیا غواړم له هغو خویندو، میندو او پلرونو څخه مننه وکړم چې د سرو مرمیو باران، انفجار او انتحار ته یې ونه کتل، خپل ورونه او اولادونه یې د سوله ییزې مبارزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او د حق پالنې ډګر ته راوایستل او د اسلامیت او افغانیت په ننګه یې میدان ته راودانګل. له دوی ټولو څخه مننه، مننه او بیا هم مننه.**

**له کابل څخه مننه، له کندهار څخه مننه، له پکتیا او ننګرهار څخه مننه، له کونړ او کندوز څخه مننه، له زابل او هلمند څخه مننه، له فراه او هرات څخه مننه، له بادغیس او نیمروز څخه مننه، له میدان او لغمان څخه مننه، له خوست او بغلان څخه مننه، له بلخ او غزني څخه مننه، له بهر مېشتو افغانانو له هند مېشتو، ډنمارک مېشتو، لندن مېشتو او نورو بهر مېشتو افغانانو څخه مننه چې په یوه غږ یې د حق ناره پورته کړه، نه ورسره ټوپک و، نه توپ، نه ټانک نه الوتکه، تش لاس او د تکبیر ناره. نه یې په ښار کې څوک په تکلیف کړل، نه یې څوک ټپیان کړل، نه یې څوک ووېرول، یوازې د خپل مدني حق اواز یې اوچت کړ. څه شول هغه ښاغلي چې څلوېښت کاله کېږي په کور دننه او بهر یې پر دې عظیم ملت د وحشت، دهشت او بې کلتورۍ تورونه پورې کول، د چا په لاس کې ټوپک و؟ د چا په لاس کې چاقو و؟ د چا په لاس کې ماشینګنه او چا له ځانه زغروال وسایل تاو کړي وو؟ ټول تش لاسی ولس و، خو د ایمان او عقیدې په وسله سمبال وو.**

**درنو هېوادوالو! د خواشینۍ او افسوس خبره خو داده چې د ملت له دومره فریادونو، مظاهرو او غږونو سره سره بیا هم حکومت د بې کفایتۍ، بې تفاوتۍ او لټۍ پر داسې درانه خوب ویده دی، چې د رد او یا هم د تایید ځواب نه لري. د خپل ملت او په تېره بیا د خپلو طبیعي پلویانو پر وړاندې دومره بې تفاوتي د نړۍ په سیاسي تاریخ کې ساری نه لري.**

**غیور افغان ولسه! په اوسني حکومت کې پردیپالې کړۍ نه یوازې هڅه کوي چې د افغانانو عقیده یې او ملي هویت له منځه یوسي، بلکې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په چل، فرېب، مهارت او شرارت سره غواړي د افغان ولس ډېره درنه برخه له سیاسي ډګره هم وباسي. د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون په نامه یې یو خپل خوښی، خپلسری، تنظیمي او ملت ضد ترکیب جوړ کړی، د اساسي قانون او نورو نافذه قوانینو خلاف یې ناقانونه پرېکړه په ناقانونه ډول په توره شپه کې د تورې پردې شاته د تورو نېتونو په قلم لاسلیکېږي او پر ولس تحمیلېږي.**

**درنو هېوادوالو! د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون په نامه د تنظیمي**



**جنګسالارانو خپلخوښی ترکیب داسې یو سیاسي طاعون دی چې د ټول افغان ملت رګونه به ونیسي او که همدا اوس یې مخه ونه نیول شي، نو زموږ ستر ملت به له سیاسي انتحار سره مخامخ کړي. ملت لا د هویت پر تذکرو د واکمنۍ غمیزې له غمونو نه دی راوتلی چې دوی پرې د انتخاباتي اصلاحاتو په نامه د ټاکنیزو مخدراتو بل ناورین ورتحمیل کړ.**

**د پورته ناورینونو ترڅنګ امنیت ورځ تر بلې خرابېږي، تر سلو زیاتې ولسوالۍ د دولت له کنټروله وتي، د پاکستان د پنجاب پوځ په کونړ، ننګرهار، کندهار، پکتیا، پکتیکا، خوست او نورو سیمو کې په لسګونو کیلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



متره له پخوانیو اشغالي سیمو څخه د هېواد داخل ته راننوتی، داعش بله منفي پدیده ده چې هره ورځ زموږ په لسګونو هېوادوال په بې رحمۍ سره وژني، خو دولت یې تر اوسه پرضد کومه مشخصه سیاسي، پوځي او عملي پالیسي نه لري. اقتصادي فقر او وزګارتیا اوج ته رسېدلې. هره ورځ لږ تر لږه لس زره تنه ځوانان له هېواده بهر ته کډوال کېږي. اقتصادي پروژې له سقوط سره مخامخ دي. هره اوونۍ د بیت المال له زېرمې څخه (۵۰) ملیونه ډالره د افغانیو د ثبات په پلمه د افغانستان بانک څخه ایستل کېږي، خو په هېواد کې پولي ثبات نه ټینګېږي، د ایران او پاکستان د کرنسۍ چلند په چټکۍ سره زموږ هېواد ته غځېږي. خو دولت نه فکري ثبات لري، نه سیاسي، نه مالي، نه معنوي او نه هم کوم بل ډول. تر ټولو بده خبره لا داده چې د حکومت سیاسي اخلاق هم دومره کمزوري دي چې نه یوازې پر خپلو نیمګړتیاوو اعتراف نه کوي، بلکې د دروغو او نه عملي کېدونکو ژمنو تنابونه لاپسې غځوي. حکومت د داخلي اختلافاتو او فساد پر داسې نري رنځ اخته دی چې د ولس له ملي او شعوري پاڅون پرته یې د رغېدو مجال نه شته. د یوه نظام مشر چې (۹۹) سلنه خپل سرسختي پلویان پر سل سلنې مخالفینو بدل کړي، تر دې نو د سیاسي مشرتابه د بې کفایتۍ بله بېلګه په نړۍ کې نه ده لیدل شوې.

موږ له اوسني مشترک حکومت څخه د مثبتو کارونو ډېره هیله نه لرو، خو دا ورڅخه په ټینګه غواړو چې نوره خرابی دې نه رامنځته کوي. بې ځایه، بې وخته او مضر قوانین دې نه تصویبوي. پخواني سیستمونه دې نه ړنګوي، پخواني مامورین دې تر هغه نه لرې کوي چې تر هغو یې ښه نه وي پیداکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هویت په تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت په مسله کې هم پخوانی ولسمشر ملت ته پړ دی، هم ملي شورا او هم اوسنی دولتمشر. اوسني دولتمشر ته تر یوزر ځلو زیات د ولس پیغامونه ورسېدلي، خو ده پرې سر نه دی ګرولی، خو کله چې دوه جنګسالاران ورته پښې ودربوي، نو بیا هر څه ورته نقد پر پوله ایښي دي، اوسنی دولتمشر په خپل لاس ستاسو استازو ته قول ورکړ چې د هویت د تذکرو معضله به حلوم، خو پر خپل قول یې هېڅکله عمل ونه کړ. اوس چې ولس لارو او واټونو ته راووت بیا هم لکه د حکومت پر ستوني چې خپسه ناسته وي، اخ و ټوخ یې نه پورته کېږي. داسې لکه مړې تبې چې نیولی وي. موږ ښاغلي دولتمشر ته وایو چې دا هماغه ولس دی چې ته یې له یو څادر سره د ولسمشرۍ مقام ته ورسولې، نه دي ګوند درلود، نه دې وسلې، نه دې پیسې، نه دې غوره ټولنیزه او لوړه سیاسي جاذبه، خو همدا ولس درپسې شو، په سر او مال یې ته دې مقام ته ورسولې، خو اوس پر ارګ د فرعونیت فضا خوره ده، د ولس فریاد، غږ او چغو ته څوک غوږ هم نه ږدي، داسې فکر هم نه کوي چې دلته هم کوم ولس شته که نه؟

دغه او دغو ښاغلو ته باید ووایو چې ایا په خپل ټول ژوند کې یې داسې منظمې، سوله ییزې او مدني مظاهرې لیدلي چې ولس دې د خپلو حقه حقوقو لپاره فریاد پورته کړي او چاته دې په کې د زرې قدر ته تاوان پېښ نه شي؟ په هغو ځایونو کې چې همدا ښاغلي په ټانکونو کې نه شي ګرځېدلی، ولس له ملي بیرغونو سره راووت او خپل اسلامیت او افغانیت یې یو ځل بیا ثابت کړ.

افغان ملت د ټوپک ډېره پخه تجربه لري، چارواکي دې خپل ولس نه مجبوروي چې د وسلې تجربه یوځل بیا تکرار کړي، زما ولس د غره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان خوی لري، کاڼي لري، خو چې څوک یې په عذاب نه کړي د کاڼي گوزار پرې نه کوي.

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوک نه پرې ولم
پـــه عـادتونو کـــې دا یـــو عادت د غره لرمه

یو ځل بیا اوسني حکومت مشرانو ته وایو چې د ولس ارادې ته غاړه کېږدي، په څو کرایي خبریالانو، لیکوالو، میرزایانو او درباري غوړه مالانو د ولس مخه نه شئ نیولای. له هغې ورځې ووېرېږئ چې د ولس لاس ستاسو تر گرېوانه در رسېږي.

په پای کې یو ځل بیا یادونه کوو چې موږ په هېڅ وجه د اسلامیت او افغانیت له داعیې څخه نه شو تېرېدلای، نه یوازې د هویت په تذکره کې د اسلامیت او افغانیت تسجیل غواړو، بلکې د ټولو هغو په اصطلاح قوانینو لغوه کېدل غواړو چې زموږ د خلکو د حقه حقوقو د مخنیوي سبب گرځي، له حکومته غواړو چې د نورو قوانینو په تسوید او تصویب کې له زیات دقت څخه کار واخلي، هسې نه چې لکه د تذکرو په شان په نورو قوانینو پسې هم ولس راپاڅېږي.

په درناوي
د اسلامیت او افغانیت په ملاتړ
د لاریونونو د انسجام کمېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاريونونه او د انسجام کمېټه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسلاميت او افغانيت د ملاتړ لپاره د پراخو لاريونونو د انسجام کمېټې اعلاميه

دا ليکنه د (۲۰۱۵م) کال د سپتمبر پر (۲۰)مه نېټه شوې او پر همغه مهال خپره شوې ده.

درنو هېوادوالو! په تېرو شلو ورځو کې د هويت په تذکرو کې د اسلاميت او افغانيت په ملاتړ د هېواد په ګڼو ولايتونو، مرکز کابل او تر هېواده بهر د زرګونو افغانانو له خوا پراخ سوله ييز لاريونونه، اعتراضونه او مدني حرکتونه ترسره شول، خو حکومت لا تر دې دمه د دې هېوادپالو، اسلامپالو او ملتپالو افغانانو قانوني غوښتنو ته کوم مثبت ځواب نه دی ويلی. اوس جمهور رييس غواړي د (سياسي اجماع) تر نامه لاندې يو شمېر پخواني سولېدلي ډلمشران او نور اشخاص راټول کړي، له هغو سره تر مشورې وروسته په دې باب خپله په اصطلاح وروستۍ پرېکړه اعلان کړي. په دې سياسي اجماع کې د افغان ولس استازي چې په لويو مظاهرو کې يې تصوير ځرګند شو، نه د يوه لوري په توګه مطرح دي او نه په اصطلاح د سياسي اجماع برخه او طرف ګڼل کېږي. کېدی شي په دې سياسي اجماع کې ځينې مخلص او مصلح اشخاص هم وي، خو ځرنګه چې په دې سياسي اجماع کې يو شمېر مغرض، سياسي او ولس رټلي اشخاص شامل دي او په هېڅ ډول د افغان ولس د اساسي او قانوني غوښتنو تمثيل نه شي کولای او ان په ماضي کې يې د ملي هويت پر وړاندې هڅې هم ترسره کړي، نو ځکه خو دا ډول سياسي اجماع افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولس ته د منلو وړ نه ده .افغان ملت سره تر ټولو غوره سیاسي او ملي اجماع همغه لویه جرگه ده چې د هغې د پرېکړې له مخې اساسي قانون د یوې اجماع په ترڅ کې رامنځته شو. تر لویې جرگې او اساسي قانون پورته موږ د ملي ارادې د تمثیل نورې لوړې مرجعې نه لرو. نو هره هغه سیاسي اجماع چې له دې دوو سترو قانوني سرچینو سره په ټکر کې وي، مسلمان افغان ملت ته د منلو وړ نه ده.

جمهور رییس هر چا سره د سلا مشورو حق لري، خو دا ټولې مشورې او ناستې پاستې باید د اساسي قانون له محتویاتو سره په مخالفت کې واقع نه شي او د قدرت نورې ناقانونه سرچینې رامنځته نه کړي.

د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د پراخو لاریونونو د تدارک او انسجام کمېټه یو ځل بیا له جمهور رییس څخه غواړي چې د سیاسي اجماع پرځای اساسي قانون ته مراجعه وکړي. اساسي قانون پر هغوی ومنئ نه دا چې د هغو پرېکړې تر اساسي قانون لوړې وگڼل شي. د انسجام کمېټه په ډاگه اعلانوي، هره هغه پرېکړه چې له دې اجماع څخه رامنځته شوه او د ملت د هیلو او د اساسي قانون خلاف وه، هغه موږ ته د منلو وړ نه ده او افغان ولس به تر هغه وخته پورې خپلو لاریونونو او نورو مدني حرکتونو ته ادامه ورکوي، تر څو چې د اساسي قانون محتویات نه وي عملي شوي.

په درنښت

د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د پراخو لاریونونو

د تدارک او انسجام کمېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هویت د تذکرو په اړه وروستی وضاحت د افغانستان ملي تحریک اعلامیه

دا لیکنه د (۲۰۱٦م) کال د اپریل پر (۱۳)مه نېټه لیکل شوې او خپره شوې ده.

د هویت د تذکرو داستان اوږد دی، موږ خپلو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د برېښنایي تذکرو په باب به هره نوې خبره وخت پر وخت خپلو هېوادوالو سره شریکوو. څو ورځې وړاندې جمهور رییس د کابینې د تقنین کمېټې ته دنده وسپارله چې په پخواني قانون کې د تعدیل لپاره یوه نوې طرحه وړاندې کړي. یادې کمېټې یوه نوې طرحه جوړه کړه چې د هغې له مخې به د هویت د تذکرو پر لومړي مخ (ملت) او (قوم) دواړه ستونونه لیکل کېږي. دا کار څه ناڅه د هېوادوالو د خوښۍ وړ وګرځېد، خو دا طرحه لا هم د عدلیې وزارت له خوا د کابینې غونډې ته نه ده لېږل شوې او په مخ کې یې یو لړ خنډونه لیدل کېږي. لا هم د جمهور رییس او د هغه د اجراییه رییس ترمنځ په دې باب اختلافات موجود دي. جمهور رییس لا هم پر خپلې کابینې واکمن نه دی، د کابینې اکثریت غړي د ډاکتر عبدالله پلویان دي او جمهور رییس د قانون د حاکمیت جرئت او ځواک نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د جمهور رییس شاوخوا ځانساتې کړۍ غواړي، څو نور ناقانونه اپشنونه وړاندې کړي؛ ښاغلی غني له ښاغلي عبدالله سره یوه بله ناقانونه معامله وکړي او د ولس په سترګو کې خاورې وشیندي.

موږ داسې فکر کوو چې د بې وسه او بې کسه جمهور رییس له وسه د خیر هیله پر نهیلۍ بدلېږي او دا حالت ولس یو ځل بیا لویو مظاهرو ته اړباسي. موږ به په نږدې راتلونکي کې یوځل بیا له بېلابېلو ملي او مدني خوځښتونو سره ګډه غونډه او غونډې ولرو، د افغانیت او اسلامیت د داعیې او لاریونونو کمېسیون به هم بیا فعالېږي او په راتلونکې اوونۍ کې به په دې باب غونډه ولرو، د اوس لپاره پر همدې وضاحت بسنه کوو.

درنښت

د هېواد د پرمختیا او د ملي او اسلامي هویت

د خوندیتابه په هیله

د افغانستان ملي تحریک

درالانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ځل بیا د هویت د تذکرو په باب د افغانستان ملي تحریک اعلامیه

دا اعلامیه د (۲۰۱۶م) کال د اگست میاشتې پر (۲)یمه نېټه لیکل شوې او خپره شوې ده.

لکه څنگه چې هېوادوال خبر دي د هویت د تذکرو مسئله د حامدکرزي په مشرۍ له تېر حکومت څخه اوسني حکومت ته په میراث پاتې، تېر حکومت که څه هم په هویت پاڼو کې د افغانیت او اسلامیت د تسجیل لپاره د هېوادپالو افغانانو قانوني غوښتنې عملي نه کړې، خو کرزي د ملي شورا له خوا د ناقانونه فرمان د توشیح جرئت هم ونه کړ او د نفوسو د احوالو د ثبت په اصطلاح قانون همداسې معلق پاتې شو. د اشرف غني د کاندیدۍ پرمهال نوموړي له بېلابېلو ټولنو په تېره بیا د افغانستان ملي تحریک سره ژمنه وکړه چې د نورو لویو ملي مسایلو ترڅنگ به د هویت په تذکرو کې ضرور د (افغان) او (اسلام) کلیمې لیکو، خو دې ښاغلي د نورو تېرو وعدو په شان نه یوازې دا ملي داعیه عملي نه کړه، بلکې د هغې خلاف یې نوموړی ناقص قانون لاسلیک کړ او د نشر لپاره یې واستوه. ملتپالو افغانانو بیا اعتراضونه وکړل او د ملي وحدت د حکومت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې مشر سره یې کتنه وکړه، ده ښاغلي بیا ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۳ل) کال د کب ترپایه به دا مشکل حل کړم. خو بیا یې هم خپله وعده عملي نه کړه، اجراییه رییس سره هم کتنه وشوه، خو د رد او تایید څرک ونه لګېد.

تر هغه وروسته د هېوادوالو له خوا تر (۲۴) زیاتې مظاهرې وشوې او ګڼ شمېر اعتراضونه، دولتمشر بیا د بېلابېلو بنسټونو له استازو سره د ملاقات ژمنه وکړه، کله چې دا هیئت ارګ ته ورغی، ځان یې د مریضۍ په نامه پټ کړ او خپل مشاورین ښاغلی (حنیف اتمر) او ښاغلی (اکرم خپلواک) یې د مذاکرې لپاره راولېږل، هغوی ژمنه وکړه چې دا مشکل به حلوو، خو تاسو نورې مظاهرې مه کوئ، د هغوی ژمنه دومره ټینګه وه چې ویل یې که خبره ان زموږ پر استعفی هم تمامه شي، موږ ورته حاضر یو. بیا د ملي اجماع خبره مطرح شوه او نورې ډول ډول لارې، اوازې او انګازې خپرې شوې، په سوونو څه چې په زرګونو تماسونه ونیول شول، خو د مفکر صیب په ګډون هېڅ چارواکي پرې سر ونه ګراوه. د سرور دانش په مشرۍ د کابینې حقوقي څانګې هم یوه طرح جوړه کړه، د هغې مړی او ژوندی هم معلوم نه شو. لنډه دا چې له تذکرو څخه یو ناسور زخم جوړ شو چې اوسمهال یې هېڅ واکمن د علاج جرئت نه کوي.

اوس بیا اوازې دي چې اجراییه ریاست کومه طرح جوړه کړې او پر مفکر جمهور رییس یې منلې ده. دا چې په دې طرح کې به څومره درغلي وي دا پته چاته نه لګي، موږ سره له دې چې اکثرو اړوندو ارګانونو او اشخاصو سره په تماس کې شو، خو هېڅ معلومات مو ترلاسه نه کړای شول، دا پته اوس نه شته چې دا طرح د ډاکتر عبدالله عبدالله رحیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مجیب الرحمن رحیمي) جوړه کړې او د ډاکتر اشرف غني رحیمي (عبدالسلام رحیمي) ته یې لېږلې که کومه بله مسئله ده، خو د جمهور رییس د نیم درجن ویندویانو او څلورنیم شلې مشاورینو په ګڼون یو هم ترې پوره خبرتیا نه لري .نو ځکه مو دغه مبهم حالت یو ځل بیا له خپلو هېوادوالو سره شریک کړ .

دا چې هېوادوال او مدني بنسټونه او د دې ملي داعیې لارویان په دې برخه کې کومه پرېکړه کوي او د مفکر صیب نافکره پرېکړو ته څه ځواب وایي، د ټولو بنسټونو سلا مشورو او ګډ غبرګون پورې اړه لري، خو د دې ټکي یادول هم ضروري بولو چې که نور څوک په دې برخه کې خپل مسوولیت ادا کوي او که نه، ملي تحریک چې د دې داعیې له اصلي بنسټونو او سرغندویانو څخه دی، له دې داعیې څخه په هېڅ ډول تېرېدونکی نه دی. ان که خبره د مفکر د بلواکې واکمنۍ پر ړنګېدو او د ملي تحریک ژوند ته د سختو ګواښونو په قیمت هم تمامه شي، تحریک به د خپل ملت دا ملي داعیه پالي.

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

دارالانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جمهور رییس څخه د قانوني سمون غوښتنه

ټاکل شوې وه د (۱۳۹۵ل) کال د ملي شورا د دوبنیو رخصتیو پرمهال جمهور رییس ډاکتر اشرف غني د یوه تقنیني فرمان له لارې د هویت په تذکره کې قانوني سمون راولي. دوبنۍ رخصتي هم تېره شوه، خو جمهور رییس پر خپلې ژمنې وفا ونه کړه. دغه لیک د بېلابېلو مدني ټولنو او خوځښتونو له خوا پر همدې بنسټ ولیکل شو او له هغه څخه غوښتنه وشوه چې د تذکرو تر وېش دمخه باید په هغو کې قانوني سمون راشي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت محترم مقام ته

په برېښنايي تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت د تثبیت غوښتنه

له هغې ورځې چې د نفوسو د احوال د ثبت قانون او په تېره بیا د هویت یا تابعیت د تذکرو د چاپ او وېش په باب بحثونه پیل شوي، نو له همغې ورځې یو شمېر ناڅرګندو عناصرو هڅه پیل کړې، چې له غبن، چل، فریب او نورو نامشروعو لارو د هېواد اسلامي او ملي هویت مسخه کړي او دا کار د قانون تر پردې لاندې په ناقانونه ډول مخته بوځي. دوی په خپلو دې هڅو کې تر یوه حده بریالي شول، کله چې د هویت په تذکرو کې د (دین) او (ملت) د ستونونو د لیکلو خبره مطرح شوه او د ټولو هېوادوالو هیله وه چې د دین د ستون په مقابل کې هر مسلمان افغان ته (اسلام) او د (ملت) ستون په مقابل کې د هېواد هر وګړي ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(افغان) کلیمه ولیکل شي او په دې ډول د افغانانو اسلامي او ملي هویت خوندي شي، خو دې ناځرګندو عناصرو د چل او غبن له لارې د هویت په تذکره کې د دې دواړو سترو ارزښتونو د لیکلو مخه ونیوله. سره له دې چې د ملي شورا اکثریت وکیلان د دې ارزښتونو غوښتونکي وو، خو یو شمېر عناصرو له داسې فرېب څخه کار واخیست چې عملاً یې د دې ارزښتونو مخه ونیوله. وروسته د ولس د بېلابېلو پرګنو له خوا مظاهرې وشوې او ملي شورا مجبوره شوه، د یوه ګډ کمېسیون له لارې د (دین) ستون بېرته تذکرې ته داخل کړي، خو پر (ملت) یې بیا هم خاورې واړولې، پخواني ولسمشر هم ژمنه وکړه چې دا نیمګړی قانون به تعدیلوي او سمون به په کې راولي، خو هغه پر خپله ژمنه وفا ونه کړه.

اوسني ولسمشر (ډاکټر اشرف غني) هم د ۱۳۹۳ل کال د مرغومي په میاشت کې د بېلابېلو مدني، کلتوري ټولنو او قومي شوراګانو د استازو په غونډه کې له هغو سره ژمنه وکړه چې د همدې کال د (دلوې) په میاشت کې به د ملي شورا د ژمنیو رخصتیو پر مهال د یو تقنیني فرمان له لارې د (ملت) ستون هم د هویت په تذکره کې زیاتوي او د هېواد هر وګړي ته به د (افغان) کلیمه لیکي.

تر هغه وروسته ولسمشر له بېلابېلو اړوندو ارګانونو او اجراییه رییس ښاغلي (ډاکټر عبدالله عبدالله) سره هم سلا مشوره وکړه او ټولو د (ملت) د ستون له لیکلو سره موافقه وکړه، ولسمشر غني د یو تقنیني فرمان د متن د ترتیب غوښتنه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د ملي شورا د دوبنیو رخصتیو پر مهال به د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې د تذکرې پر لومړي مخ د هېواد هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وګړي ته د (افغان) کلیمه لیکل کېږي، د فرمان متن هم ترتیب شو، خو تر اوسه پورې ولسمشر دا فرمان لاسلیک نه کړ.**

**اوس په هېواد کې بېلابېلو ملي بنسټونو، مدني ټولنو، فرهنګي بنسټونو، قومي شوراګانو، سیاسي خوځښتونو او په ټوله کې ټولو اسلامپالو او ملتپالو هېواد مینو افغانانو غوښتل، یوځل بیا پر سترو مظاهرو او لاریونونو لاس پورې کړي او په خپله هویت پاڼه کې خپل اسلامي او ملي هویت (اسلامیت) او (افغانیت) تثبیت کړي، خو د دې ټولو بنسټونو د همغږۍ جرګې تر مظاهرو دمخه غوره وبلله چې له قانوني لارو چارو د خپلې داعیې د تثبیت غوښتنه وکړي. دا بنسټونه د جمهوري ریاست له محترم مقام او په تېره بیا شخصاً له قدرمن جمهور رییس محمد اشرف غني څخه هیله لري چې د ملت دې داعیې ته له قانوني لارې هرکلی ووایي. څرنګه چې د هویت د تذکرو په باب د ملي شورا پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقرې مخالفه ده، نو لازمه او ضروري ده چې دا پرېکړه د یادې مادې له محتوا سره سمه اصلاح شي. د اساسي قانون د څلورمې مادې په پنځمه فقره کې راغلي دي: (( د افغان کلیمه د ملت پر هر وګړي اطلاق کېږي)). نو څرنګه چې تذکره هم د هېواد هر وګړي ته ورکول کېږي او د هر وګړي ملي هویت (افغان) دی، نو ځکه موږ غواړو د همدې فقرې پر اساس د هویت په تذکره کې د (دین) ستون تر څنګ د (ملت) ستون زیات شي او په مقابل کې یې هر هېوادوال ته (افغان) کلیمه ولیکل شي. په دې ډول به هم د اساسي قانون محتوا او روحیه تطبیق شي، هم به ملي وحدت تامین شي او هم به ملي هویت او یووالي ته پېښ ګواښونه کمزوري او له منځه لاړ شي او د هېواد د دښمنانو هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسیسې به هم شنډې شي چې واحد افغان ملت پر بېلابېلو نومونو او ټوټو وېشي. موږ له تاسو څخه هیله لرو چې د هویت تذکرو تر سمون دمخه د دې تذکرو د وېش په باب ټوله نیمگړې پروسه ودروئ. کله چې یاد سمون راغی تر هغه وروسته دې د تذکرې د وېش په اړونده اداره کې هم پوره سمون او پیاوړتیا راشي، بیا به حکومت، ولس او د هېواد مدني بنسټونه په گډه د دې بهیر د بریالیتوب لپاره هلې ځلې کوي، د اسلامي او ملي هویت له تثبیت پرته د نیمگړې تذکرې وېش د هېواد اسلامي او ملي ارزښتونو سره د مخالفت مانا لري او هېڅ افغان ته د منلو وړ نه ده، په داسې یو حالت کې که د مظاهرو په گډون هر ډول مشکل پیدا شو، نو مسوولیت به یې د ولسمشر او نورو دولتي چارواکو پر غاړه وي. خو هېوادپال او اسلامپال افغانان به تر هغه پورې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي چې خپل اسلامي او ملی هویت یې نه وي تثبیت کړی،د اسلامي او ملي داعیې د پوره کېدو په هیله.

په درناوي

د هېواد مدني ټولنې، قومي شوراگانې او سیاسي خوځښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تابعيت په تذکرو کې د ملت او قوم ستون د ليکلو په باب د افغانستان ملي تحريک اعلاميه

**دا اعلاميه د (۲۰۱۷م) کال د مارچ مياشتې پر (۲)يمه نېټه ليکل شوې او خپره شوې ده.**

د افغانستان ملي تحريک چې له څلورو کلونو راهيسې له يو شمېر نورو مدني او ملي حرکتونو سره يې يو ځای او اوږه پر اوږه د ملي هويت په تذکرو کې د (اسلام) او (افغان) کليمو د ليکلو لپاره مبارزه کړې او په دې برخه کې يې ان د مخکښې رول لوبولای، په دې خبره خوشاله دی چې اوسني گډوله حکومت لږ تر لږه د قانون د يوې مادې يوې برخې ته غاړه کېښوده. ويل کېږي چې جمهور رييس د يو تقنيني فرمان له مخې په تذکرو کې د دين ستون ترڅنگ د (ملت) او قوم ستون د ليکلو حکم کړی دی. ملي تحريک که څه هم د هويت په تذکرو کې د (دين) او (ملت) ستونونو پر ليکلو ټينگار کاوه، خو چې د ځينو نورو خلکو په غوښتنه د قوم ستون هم زياتېږي، موږ يې د زيات مخالفت وړ نه بولو. د جمهور رييس تقنيني فرمان افغان ولس ته کومه اضافي ډالۍ نه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د اساسي قانون له روحیې سره سم یې ګام اخیستی دی، خو بیا هم یو نسبي پرمختګ ګڼل کېدی شي. د افغانستان ملي تحریک ټولو ملي او مدني حرکتونو ته بلنه ورکوي چې خپلو ملي او قانوني مبارزو ته په دقت سره دوام ورکړي، ترڅو چې نه یوازې د ملي هویت د تذکرو مسله له اساسي قانون سره سمه عملي شي، بلکې نورو دېته ورته مسایلو ته لا پسې متوجه اوسي، چې حکومت تر دې زیات له قانون څخه سرغړاوی ونه کړي او قانون د خپلو شخصي موخو لپاره تر دې زیات قرباني نه کړي.

د اساسي قانون او نورو قوانینو د تطبیق په هیله

په درنښت

د افغانستان ملي تحریک دارالانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تذکرو د وېش د اداري او ازمويني په اړه د افغانستان ملي تحريک اعلاميه

دا اعلاميه د (۲۰۱۷م) کال د مې پر (۱۰)مه نېټه لیکل شوې او خپره شوې ده.

له هغې ورځې چې د طالبانو نظام ړنګ شوی، نو د دولت پر ټولو حساسو رګونو د نظار شورا د سکتارستي ډلې حاکمیت ټینګ شوی، دا هغه ډله ده چې د اسلام تر نامه لاندې ژبنی، سمتي او اتنیکي اجنډا پر مخ وړي.دوی د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته د نورو ادارو ترڅنګ د مرکزي احصایې اداره او د نفوسو د احوالو د ثبت اداره تر بشپړ کنټرول لاندې راوسته، د مرکزي احصایې ادارې له پنجشېر ولسوالۍ څخه د ولایت جوړونې لپاره جعلي احصایه جوړه کړه او همدارنګه یې د پارلماني څوکیو په وېش کې له پښتون مېشتو ولایتونو څخه (۱۵) څوکۍ نورو سیمو ته انتقال کړې، د نفوسو د احوالو ثبت ادارې هم هڅه کوله چې د پښتنو قومي هویت حذف کړي او یو شمېر پښتنو ته تاجک هویت ولیکي، دوی خبره ان د افغان هویت حذف ته هم ورسوله او د دوی د نیمګړې طرحې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنگه په ملي شورا او حکومت کې د یو شمېر ایران پلوه ډلو د توطیو او دسیسو له امله ملي او اسلامي هویت هم له گواښ سره مخ شو.

د افغانستان ملي تحریک په شمول یو شمېر ملتپالو او اسلامپالو خوځښتونو پر خپل وخت گام پورته کړ او د عام ولس ذهنیت یې دې خطر ته راواړوه، ولس پر مظاهرو لاس پورې کړ او تر درې کلونو متواترو مظاهرو او مبارزو وروسته د (ملي وحدت) په نامه د گډوله حکومت چارواکي او په تېره بیا د یاد حکومت مشر (ډاکټر غني) دېته اړ شو چې د یوه فرمان له لارې د هویت په تذکرو کې د (اسلام) او (افغان) کلیمو لیکلو ته ځای ورکړي. ولس په تمه و چې ژر به د تذکرو د وېش لړۍ پیل شي. تر دې فرمان د مخه به د تذکرو د وېش ادارې، ستمي کړیو او د هغو اړوندو ادارو چغې وهلې چې دوی سل په سلو کې د تذکرو وېش ته تیاری لري، خو کله چې فرمان صادر شو، یوه میاشت نور وخت یې هم وغوښت، بیا یې درې میاشتې وخت نور پسې وغوښت او دا دی دا لړۍ لا روانه ده. هدف دا دی چې د نوي فرمان د محتوا د مخنیوي په خاطر نورې پلمې او خنډونه جوړ کړي. کله چې د هویت په تذکرو کې د (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو په خاطر له دولتمشر غني سره د ملي خوځښتونو په استازۍ د یوه (لس کسیز) هیئت اساسي غونډه وه، نو دولتمشر هلته یادونه او ژمنه وکړه چې د تذکرو د وېش اداره د مالي فساد په گډون ډېرې ستونزې لري او زه غواړم دا پر یوې خپلواکې ادارې بدله کړم، موږ فکر کاوه چې له نوي فرمان سره سم به د تذکرو په اداره کې هم بدلون راشي، خو تردې دمه دا ژمنه عملي نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانستان ملي تحریک په دې نظر و چې لومړی دې د تذکرو د وېش په اداره کې بدلون راشي او ورسره سم دې د تذکرو وېش پیل شي، خو که چېرې اداري سمون ژر ممکن نه وي، نو ژر تر ژره دې د (اسلام) او (افغان) کلیمو په ثبت سره د تذکرو د وېش لړۍ پیل شي او ورسره سم دې په دې اداره کې سمون راشي، هدف مو دا و له هرې ممکن لارې چې وي لومړی دې د اسلامیت او افغانیت هغه لویه داعیه ترسره شي او بیا دې ورسره هممهاله، متصله او یا هم په تدریجي ډول اداري اصلاحات پلي شي. که څه هم موږ سل په سلو کې په دې نظر وو چې د تذکرو د ادارې فعلي جوړښت په هېڅ وجه د دې ملي پروسې د پرمخبیولو صلاحیت، ظرفیت او کفایت نه لري او په واقعیت سره دا یو ملت ضد ترکیب دی چې په دې اداره کې راټاله شوی، په همدې خاطر موږ په هغه پیل کې د دې ادارې تشکیلاتي جوړښت د برېښنایي رسنیو له لارې هېوادوالو ته خپور کړ.**

**اوس چې د تذکرو د وېش لپاره د مامورینو د استخدام د ازموینو کوم کار پیل شوی، دا هم د یادې ادارې د همغو پخوانیو توطیو د کړیو یو لړۍ ده چې غواړي ملي بهیرونه بدنام او له خنډونو سره مخ کړي، بده یې لا دا چې دا بهیر یې د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمېسیون په نامه یو کمېسیون ته، چې خپله د فساد یوه ځاله ګڼل کېږي، هغه ته سپارلی دی.**

**د یاد کمېسیون نوی مشر (نادر نادري) چې په خپله په یو ملت ضد سیاسي جریان پورې اړه لري، دا جریان ملت ضد او په تېره بیا پښتون ضد سابقه لري، په خپله یاده پروسه نوره هم له ستونزو سره مخامخ کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې یو شمېر ورونو د فیسبوک له لارې خپل غږ اوچت کړی، دا یو مثبت کار دی، خو پوره او کره نه دی، فیسبوکي مبارزه او عملي مبارزه زیات واټن لري، نو د دې لپاره چې زموږ د هېوادوالو فیسبوکي مبارزه عملي رنګ راوړي، ښه به وي چې د ټولو حرکتونو یو یو استازی او یا هم د دې برخې نور مبارزین د راتلونکې یکشنبې پر ورځ چې د ثور میاشتې له (۲۴)مې نېټې سره سمون خوري، ماسپښین دوه بجې په کابل کې د ژوندون ټلوېزیون مرکزي دفتر ته تشریف راوړي او هلته به هم د تذکرو د وېش د ادارې، هم د اداري اصلاحاتو کمېسیون، هم د پاسپورټ د ادراې او هم په نورو دولتي ادارو کې د پښتو ژبې او هم د پښتنو د حقه حقوقو په باب اساسي بحث وکړو، عملي لارې چارې به په ګوته کړو او بیا به پرې عمل وکړو .ژوندون ټلوېزیون مو ځکه د ادرس په توګه یاد کړ چې هم یې ټولو ته ادرس معلوم دی او هم یې د ملي هویت په مسله او نورو ملي مسایلو کې خپل ملي رول په ښه او غوڅ ډول ادا کړی دی .

د افغان ولس د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره د عملي مبارزې په هیله

په درنښت

د افغانستان ملي تحریک دارالانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تذکرو ملي بهير او د ګومارنې عادلانه حل لاره

**دا لیکنه د (۲۰۱۷م) کال د می پر (۱۱)مه نېټه تر هغې وروسته خپره شوه چې د نفوسو د احوالو ثبت ادارې يو شمېر نوي مامورين وګومارل او دې ګومارنې سخت غبرګونونه راوپارول.**

د تذکرو د ادارې د جوړښت او راتلونکي کاري څرنګوالي په باب ډېرې خبرې او ډېر نظرونه شته چې پر ځينو يې موږ مخکې بحث کړی او پر ځينو نورو برخو به يې ضرور وروسته بحث کوو. خو اوس د ګومارنې لپاره يوه عادلانه حل لاره په ګوته کوو:

د افغانستان د اساسي قانون محتوا داده چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې بايد متوازن انکشاف، پرمختيا رامنځته او په هره برخه کې عدالت تامين شي. د تذکرو د ازموينې په ګډون ټول قوانين، مقررات، ازموينې او نور پروسيجرونه بايد داسې اعيار شي چې پورتنی اصل او محتوا خوندي کړي.

د کانکور او ازموينې په نوم چې کوم پروسيجرونه تطبيقېږي او دېته د (لياقت) نوم ورکول کېږي، دا په واقعيت کې د اساسي قانون او د هېواد د وګړو ترمنځ د عدالت د تامين اصل له منځه وړي. په دې مانا چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورستان یو اوسېدونکی زده کوونکی، د کابل له یوه زده کوونکي یا د یوه واحد پوست لپاره متقاضي سره په یوه واحده ازموینه کې ځکه برابرې نومرې نه شي ګټلی چې د کابل زده کوونکي او یا فارغ التحصیل لپاره د نورستان په اندېول لا واردمخه د ژوند ډېر سهولتونه او درسي اسانتیاوې ورکړل شوې دي. د کابل زده کوونکي یا فارغ درسي ساعتونه نه دي ضایع کړي، نورې ناخوالې پرې نه دي راغلي، ژوند او درسي چاپېریال یې نسبتاً مناسب دی. خو دا په دې مانا نه ده چې د کابل اوسېدونکی به د نورستان له اوسېدونکي څخه د ذهني ځواک (IQ) له پلوه زیات قوت لري، بلکې که دا دواړه زده کوونکي یا فارغان له سره په یوه واحد چاپېریال او یوه واحد ټولګي کې کېنول شي، نو کال وروسته به په ازموینه کې دواړه سره مساوي او یا نږدې نومرې یوسي. اوس چې په هېواد کې هره بشري او انساني موضوع او یا هم دولتي دندې د سیاسي توطیو تر سیوري لاندې راځي، نو ښه لاره داده چې په مرکز کې ګومارنه د ولایتي استازولۍ او ونډې له مخې تنظیم شي. د ساري په توګه که د تذکرو د وېش اداره (۵۰۰) پوستونه ولري، دا پوستونه دې د نفوس په اندېول د هېواد پر ټولو ولایتونو ووېشي، هر ولایت ته چې کومه ونډه ورسېدله، (د ساري په توګه لس سیټونه) په همغه ولایت کې دې له داوطلبانو څخه ازموینه واخیستل شي، په هغو کې چې کومو کسانو تر نورو لوړې نومرې وګټلې هغوی دې پر دندو وګومارل شي، په دې ډول به هم ولایتي، سمتي او قومي استازولي تامین شي او هم به لیاقت په پام کې ونیول شي، له دې پرته د سیاسي انګېزې تر اغېز لاندې هر ډول ازموینې په هېواد کې نه یوازې د اساسي قانون محتوا زیانمنوي، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هېواد له لوی بحران سره مخامخوي، لکه څنګه چې د کابل یو محصل په نورستان کې د امتحان د ورکړې څه چې د شپې تېرولو توان نه لري، دغسې د نورستان یو اوسېدونکي ته هم په کابل کې د ازموینې اوسنۍ بڼه، د ژبې او چاپېریال بدلون خپلې خپلې ستونزې لري.**

**په دې برخه کې نور ګڼ شمېر علمي او منطقي دلایل هم شته چې د دې لیکنې د اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږو، که د تذکرو اداره یا د اداري اصلاحاتو اداره او یا هم نور معترضین او متضررین غواړي، په دې برخه کې ورته پوره وضاحت او څرګندونې وړاندې کولای شم.**

**اوس همدومره**

**محمد اسمعیل یون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ځل بیا ملي هویت او ملي عزت د ولسي جرګې د ناقانونه پرېکړې په باب د افغانستان ملي تحریک اعلامیه

**دا اعلامیه د (۲۰۱۷م) کال د اکتوبر پر (۳۰)مه نېټه خپره شوې ده.**

**په برېښنايي پېژندپاڼو کې د (دین) او (ملت) ستون د لیکلو لپاره د ګڼ شمېر افغانانو تر پراخو او سراسري مظاهرو وروسته د (۱۳۹۵ل) کال د کب میاشتې پر (۱۲)مه نېټه جمهور رییس غني د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې د نفوسو د احوالو ثبت قانون تعدیل کړ او دې سره اکثریت افغانانو ته داسې هیله پیدا شوه چې ځه که خدای کول جمهور رییس د اساسي قانون له روحیې سره سم ګام پورته کړ او هر افغان به په خپله پېژندپاڼه کې د خپل ملي او دیني هویت حق ترلاسه کړي. تر هغه وروسته پر (۳۰/۱۲/۱۳۹۵) نېټه په جمهوري ریاست کې د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې له خوا د تذکرو د وېش د عملیاتي پلان د تطبیق مسله مطرحه شوه او پرېکړه وشوه چې د دې فرمان تر صدور وروسته به په (۹۰) ورځو کې د تذکرو عملي وېش کېږي، تر هغه وروسته څو وارې دا نېټه وغځول شوه، څو میاشتې وړاندې ورته په یوه بله ناقانونه پروسه کې مامورین هم وګومارل شول. په پای کې د (۱۳۹۶ل) کال د اسد (۲۲)مه نېټه ورته د وروستۍ نېټې په توګه وټاکل شوه، کله چې هغه نېټه راورسېده، نو وویل شول چې په درې اوونیو کې به یې د وېش کار پیل شي، درې اوونۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نورې هم پسې تېرې شوې، بیا دوه اوونۍ نور وخت وغځول شو، هغه هم پوره شو، په وعدو پسې نورې وعدې راغلې، خو یوه هم عملي نه شوه، دا په داسې حال کې وه چې د جمهور رییس تر تقنیني فرمان وړاندې به د ملي هویت مخالفینو او د تذکرو د وېش اړوندو ادارو هره ورځ ویل چې: ((برای توزیع تذکره الکترونیکی صد در صد امادگی وجود دارد.)) خو کله چې فرمان صادر شو، بیا د دې ((صد در صد امادگۍ)) درک ونه لګېد .د افغانستان ملي تحریک له همغه پیله د دولت لټې ته متوجه او د تذکرو د وېش په برخه کې د ټولو اړوندو چارواکو پر نېتونو شکمن و، نو ځکه خو یې په متواتر ډول له جمهوري ریاست، د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت سره په تماس کې و او وخت پر وخت یې احوال اخیسته، خو هر ځل ژمنه تازه کېدله، موږ ځکه په دې برخه کې لویه غونډه جوړه نه کړه او دا تشویش مو ډاګیز نه کړ چې نه مو غوښتل د (زرکلن) د کنځلمارو پلویانو کنځلو ته پلمه برابره کړو، بیا به یې ویلې چې تاسې حساسیت راپاروئ، هغه دی فرمان او تطبقېږي په خیر .ملي تحریک فکر کاوه داسې لاسونه شته چې غواړي د دې تقنیني فرمان د تطبیق مرحله تر هغه وخته پورې وځنډوي چې ولسي جرګې ته دا فرمان ورشي. ولسي جرګه چې دا مهال له ملت او دولت او په تېره بیا له جمهور رییس غني سره ښه اړیکي نه لري، نو د یو شمېر هغو اشخاصو لپاره چې غواړي ملي هویت مسخ کړي، دا یو بل چانس ګڼل کېده. په ولسي جرګه کې هېواد پلورو او هویت پلورو اشخاصو یو ځل بیا د تېر په شان له دې فرصت او د حکومت له بې کفایتۍ څخه ګټه پورته کړه او د جمهور رییس تقنیني فرمان یې رد کړ. د ولسي جرګې دا پرېکړه د اساسي قانون د روحیې خلاف ده او یو قانون ضد عمل ګڼل کېږي. د افغانستان ملي تحریک په داسې حال کې چې د ولسي جرګې دا پرېکړه په کلکه غندي، له مشرانو جرګې څخه هیله کوي چې د ولسي جرګې دا پرېکړه رد او د اساسي قانون له روحیې سره سم ګام پورته او د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید کړي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ترڅنګ جمهور رییس ته هم په ډاګه وایو چې ستاسو او ستاسو د نورو غوړه مالو بېواکه چارواکو پر حال افسوس په کار دی چې د (۲۳٦) ورځو په بهیر کې مو د دې وس پیدا نه کړ چې د تذکرو د وېش لړۍ پیل او خپل فرمان پلی کړئ. یو حکومت چې په اتو میاشتو کې یوه تذکره ونه شي وېشلای شي، هغه به ملت ته نور خدمات څنګه وړاندې کړي؟

موږ جمهور رییس ته په ډاګه وایو چې له نامشروع ولسي جرګې څخه د یو مشروع کار هیله لرل، خپله یو نامشروع فکر دی، که جمهور رییس او د هغه غوړه مالان دا فکر کوي چې د دوی د مسوولیت خلاص شو، نور نو مسوولیت ملي شورا ته راجع دی، دا خیال دې اوبو ته تېر کړي. که جمهور رییس او د هغه مړ غوړو یارانو د جمهور رییس فرمان پر خپل وخت تطبیق کړی وای، نو نن به په لکونو افغانانو ته تذکرې وررسېدلې وای او خبره به په ولسي جرګه کې د ناستو ایرانپالو پرېکړې ته نه رسېدله. موږ حکومت او ولسي جرګه دواړه په دې کار کې پړه ګڼو او له مشرانو جرګې څخه هیله کوو چې په دې برخه کې خپل ملي مسوولیت ادا او د اساسي قانون له احکامو او مقرراتو سره ګام پورته کړي.

د افغانستان ملي تحریک له ټولو ملي او مدني حرکتونو څخه په ټینګه غوښتنه کوي، لکه څنګه چې مو پخوا په دې برخه کې په زغرده مبارزه کړې، خپلو مبارزو او مظاهرو ته دوام ورکړئ، یو بل ته لاسونه سره ورکړئ، خپل یووالی او پیوستون وساتئ او دا ملي ارمان او حق د بري منزل ته ورسوئ!

په درنښت

د افغانستان ملي تحریک دارالانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ځل بیا ملي هویت او ملي عزت

**(د ولسي جرگې د وروستۍ ناقانونه پرېکړې په باب ولسي غبرگون)**

**دا خبرتیا د (۲۰۱۷م) کال د اکتوبر پر (۳۰)مه نېټه خپره شوې ده.**

**د افغانستان ملي تحریک غواړي یو ځل بیا د ملي هویت او ملي عزت د خوندیتابه لپاره یوه مشورتي غونډه ولري، په دې غونډه کې به د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په اړه د ولسي جرگې د ناقانونه پرېکړې په باب یو ځل بیا له ملي خوځښتونو او شخصیتونو سره هر اړخیز بحث وشي او د راتلونکو مبارزو، مظاهرو او حل لارو په باب به گډه پرېکړه وکړو. ملي تحریک له ټولو ملي، سیاسي او مدني حرکتونو او هر هېوادپال افغان ښخه په ډېر درنښت هیله کوي چې په دې مشورتي غونډه کې گډون وکړي.**

**په درنښت**

**د ملي تحریک دارالانشاء**

**پته: کابل – جلال اباد سړک، یکه توت درې لارې، د ژوندون ټلوېزیون جرگه خونه**

**وخت: د (۱۳۹٦) لمریز کال، د عقرب میاشتې (۹)مه ، ماسپښین (یوه نیمه) بجه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي هويت او ملي عزت

**تر پورته سرليک لاندې د (۲۰۱۷م) کال د اکتوبر مياشتې پر (۳۱)مه نېټه د افغانستان ملي تحريک په بلنه د ژوندون راډيو ټلوېزيون په تالار کې د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ملي حرکتونو او ګوندونو د استازو په ګډون يوه ملي او پرتمينه غونډه جوړه شوې وه.**



**په غونډه کې د هېواد له بېلابېلو سيمو څخه مخورو او ژبورو شخصيتونو ګډون کړی و، ويناوالو په خپلو خبرو کې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون، چې د جمهور رييس له خوا د يوه تقنيني فرمان په توګه نافذ شوی و او پرون په ولسي جرګه کې د پردېپالو وکيلانو له خوا رد شو، په هر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخیز ډول وڅېړه، ټولو ویناوالو او ګډونوالو د رایو او نظر په اتفاق سره د ولسي جرګې پرېکړه وغندله او دا یې د اساسي قانون د احکامو خلاف وبلله. د غونډې برخوالو له جمهور رییس څخه په ټینګه غوښتنه وکړه چې خپل تقنیني فرمان ژر تر ژره عملي کړي او د راتلونکې شنبې پر ورځ دې په خپله لومړنۍ تذکره واخلي او دې سره دې ډېر ژر عملاً دا پروسه پیل کړي. غونډې له مشرانو جرګې څخه وغوښتل چې د ولسي جرګې دا ناقانونه پرېکړه رد او د اساسي قانون مطابق ګام پورته کړي. د غونډې برخوالو په یوه خوله دولت ته په ډاګه کړه چې که د راتلونکې اوونۍ تر پایه د اساسي قانون مطابق د تذکرو د وېش لړۍ عملاً پیل نه کړي، نو په ټول هېواد کې به لوی لوی لاریونونه پیل کړي.

ګډونوالو دا خبره هم په ډاګه اعلان کړه چې د ملي او اسلامي هویت لپاره هر ډول قربانۍ ته حاضر دي او په دې برخه کې د هېڅ جابر، غاصب او پردیپال پروا نه لري. د غونډې په پای کې د ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره د تدارک یوه کمېټه هم په اختیاري او داوطلب ډول غوره شوه چې دوی به په راتلونکي کې د تذکرې او ملي هویت اړوند کارونه تعقیبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي او اسلامي هويت د ملاتړ لپاره د تدارک کمېټې اعلاميه

(۱۳۹٦ل) کال، د عقرب (۹)مه

لکه څنګه چې مو دمخه يادونه وکړه، نن د ژوندون راډيو ټلوېزيون په تالار کې د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، د ملي حرکتونو او ګوندونو د استازو په ګډون يوه ملي او پرتمينه غونډه جوړه شوې وه. دا غونډه په عاجل ډول رابلل شوې وه.

په غونډه کې د هېواد له بېلابېلو سيمو څخه مخورو او ژبورو شخصيتونو ګډون کړی و او هر يو د يوه مدني او ملي بنسټ استازولي کوله، ويناوالو په خپلو خبرو کې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون، چې د جمهور رييس له خوا د يوه تقنيني فرمان په توګه نافذ شوی و او پرون په ولسي جرګه کې د پرديپالو وکيلانو له خوا رد شو، په هر اړخيز ډول وڅېړه، ټولو ويناوالو او ګډونوالو د رايو او نظر په اتفاق د ولسي جرګې پرېکړه وغندله او دا يې د اساسي قانون د احکامو خلاف وبلله. د غونډې برخوالو د ملي هويت په تسجيل سره د تذکرو د عملي وېش پر ميکانيزم ټينګار وکړ او وېې ويل چې د دې کار لپاره بايد تر هغه پورې د تدارک يوه کمېټه فعاله وي چې تر څو پورې د جمهور رييس تقنيني فرمان عملي شوی نه وي. د غونډې برخوالو له جمهور رييس څخه په ټينګه غوښتنه وکړه چې خپل تقنيني فرمان ژر تر ژره عملي کړي او د راتلونکې شنبې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ دې په خپله لومړنۍ تذکره واخلي او دې سره دې ډېر ژر عملاً دا پروسه پیل کړي. غونډې له مشرانو جرگې څخه وغوښتل چې د ولسي جرگې دا ناقانونه پرېکړه رد او د اساسي قانون مطابق گام پورته کړي. د غونډې برخوالو په یوه خوله د ولت ته په ډاگه کړه چې که د راتلونکې اوونۍ تر پایه د اساسي قانون مطابق د تذکرو د وېش لړۍ عملاً پیل نه کړي، نو په ټول هېواد کې به لوی لوی لاریونونه پیل کړي. د غونډې برخوالو وویل چې دوی به د خپلو مظاهرو لړۍ له ملي شورا څخه پیلوي، ولایتونو ته به یې غځوي او همدارنگه د ټولو هغو ارگانونو دروازې به ټکوي چې د قانون د پلي کولو مسوولیت لري.

گډونوالو دا خبره هم په ډاگه اعلان کړه چې د ملي او اسلامي هویت لپاره هر ډول قربانۍ ته حاضر دي او په دې برخه کې د هېڅ جابر،



غاصب او پردیپال پروا نه لري .د غونډې په پای کې د دې غونډې د برخوالو له جملې څخه د ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره د تدارک یوه کمېټه هم په اختیاري او داو طلب ډول غوره شوه چې دوی به په راتلونکې کې د تذکرې او ملي هویت اړوند کارونه تعقیبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادوال کولای شي د پاتې کارونو او راتلونکو پرمختیاوو لپاره د تدارک کمېټې له لاندې ښاغلو داو طلبو غړو سره اړیکي ونیسي:

۱ -خیر الله شینواری – ۰۷۹۹۱۵۹٤۷۱

۲ -انتظار خادم- ۰۷۸۱۷۸۱۵۰۰

۳ -شفیع اعظم- ۰۷۰۰۰۰۱۳۱۱

۴ -صفت ځواک – ۰۷۲۸۷۰۵۵۵۵

۵ -فیض محمد ځلاند- ۰۷۷۷۸۰۰۰۱۱

٦ -ضیاء الرحمن ضیاء – ۰۷۰۰٦۵۱۰۰۸

۷ -خیبر ستوری – ۰۷۰۷٦۷٦۰۳۰

۸ -ذبیح الله هېوادوال- ۰۷٤٤۵۰۷۹٦۲

۹ -اول گل احمدزی – ۰۷۲۹۳۱۰۳۸۳

۱۰– محمد ادریس همت- ۰۷۸۰۳۰٦۹۳۱

تر دې وروسته د تدارک کمېټې غړو خپل کارونه سره ووېشل او د ملي شورا مخې ته یې د مظاهرې لپاره د چمتوالي هڅې پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي شورا مخې ته لاریون

کله چې ولسي جرگې د برېښنايي تذکرو په باب د جمهور رییس تقنيني فرمان رد کړ، نو يو ځل بيا د ولسي جرگې پر وړاندې غبرگونونه راوپارېدل. د غبرگونونو په دې نوې څپه کې عدالت گوند او يو شمېر نورو ځوانانو د ملي او اسلامي هويت (افغانيت ) او (اسلاميت) د ساتنې په موخه لاريون تر سره کړ.

نن سهار چهارشنبه د لړم مياشتې لسمه نېټه عدالت گوند د سلگونو تنو ځوانانو په ملتيا د ملي شورا مخې ته پراخ لاريون ترسره کړ، په دې ل



اریون کې د عدالت گوند غړو او د هیواد يو شمېر با احساسه ځوانانو گډون کړی و.

لاريون د سهار پر لسو بجو د ملي شورا پخواني ودانۍ له دروازې څخه پيل شو، لاريون کوونکو (بې هويته تذکرې نه اخلو ، مرگ د پارلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پردیپالو وکیلانو، مرگ پر مزدورو، او بې هویته وکیلانو، ولسي جرگه دې منحل شي ، مرگ د ایران او پاکستان پر جاسوسانو) او نورو شعارونو په ورکولو سره ځان د ملي شورا د نوې ودانۍ مخې ته ورسوه.

د عدالت گوند رهبري شورا غړو د لاریون په ترڅ کې له ولسي جرگې څخه د یادې موضوع په اړه د وضاحت غوښتنه وکړه چې د ولسي جرگې اداري پلاوي له خوا د ځواب ورکولو په موخه د ولسي جرگې لومړي مرستیال حاجي نذیر احمدزي په مشرۍ وکیل نادرخان کټوازی، وکیل عبیدالله بارکزی، وکیل مخدوم، وکیله سنگین، وکیل ابراهیم غښتلی د لاریون مخې ته حاضر شول او د موضوع په اړه یې لومړی له عدالت گوند او لاریون کوونکو څخه مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې دوی به تل له عدالت گوند سره په دې حقه داعیه کې اوږه پر اوږه ولاړ وي او زیاته یې کړه چې هېڅوک نه شي کولی له افغان کلیمې څخه پرته پیژند پاڼې پر افغان ولس ومني. د لاریون په پای کې د عدالت گوند رهبري شورا له خوا یو څو ماده ییزه پرېکړه لیک هم د ولسي جرگې د دغه اقدام په باره کې صادر شو چې متن یې په لاندې ډول دی:

۱. د ولسي جرگې زیات شمېر پردیپاله وکیلانو یو ځل بیا ملي خیانت وکړ او د ملت د طبعیت خلاف او د اساسي قانون د (۴) مې مادې پرضد یې پرېکړه وکړه او تذکرو څخه یې افغان کلیمه حذف کړه. موږ دا خاینانه پرېکړه غندو او ملت به ورسره حسابي کوي.

۲. مشرانو جرگې نه په کلکه غواړو چې د ولسي جرگې وروستۍ پرېکړه رد کړي، ځکه یاده پرېکړه د قانون خلاف ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. حکومت او د تذکرو اداره باید د ولسمشر د تقنیني فرمان له مخې ژر تر ژره د تذکرو وېش پیل کړي.

۴. که چېرته مشرانو جرگې هم، د قانون او ولس د طبعیت او غوښتنې خلاف پرېکړه وکړه! موږ به په ټول هېواد کې په پراخو لاریونونو لاس پورې کړو.

۵. هېڅ افغان به بې هویته تذکره وانخلي، ځکه اسلامیت او افغانیت زموږ ارزښتونه او سرې کرښې دي. په هېڅ صورت ترې نه تېرېږو.

تل دې وي افغانستان
ژوندي دې وي د عدالت لارویان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د ديني عزت او ملي هويت په ننگه د ولسي لاريون خبرتيا

**دا خبرتيا د (۲۰۱۷م) کال د نومبر پر (٦)مه نېټه خپره شوې ده.**

**په هېواد کې ځينې فعال اسلامپال، ملتپال او هېوادپال حرکتونه، سياسي خوځښتونه او قومي شوراگانې غواړي، د اسلاميت او افغانيت؛ د خپل ديني او ملي عزت په ننگه د ملي شورا مخې ته يو پراخ لاريون تر سره کړي، له ټولو اسلامپالو، هېوادپالو او ملتپالو افغانانو څخه په ډېر درنښت هيله کېږي چې په دې پراخ ولسي لاريون کې گډون وکړي او په دې ډول خپل ملي او ديني مسووليت او رسالت ترسره ، د هويت دښمنه عناصرو توطيې او دسيسې شنډې او يو ځل بيا خپل افغاني او اسلامي غيرت اثبات کړي.**

**په درنښت**

**د ديني عزت او ملي هويت په ننگه**

**د ولسي لاريون د تدارک کمېټه**

**نېټه او وخت: د (۱۳۹٦ ل) کال د عقرب (۱۷)مه، چهار شنبه سهار (۹) بجې**

**د لاريون مسير: دارلامان واټ، د ملي شورا پر لوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلاميت او افغانيت په ننگه ولسي لاريون

د (۲۰۱۷م) کال د نومبر پر (۸)مه چې د (۱۳۹٦ل) کال د لړم له (۱۷)مې نېټې سره سمون خوري، د ملي شورا مخې ته پراخ لاريون ترسره شو. دا لاريون په دارالامان واټ کې له علاوالدين پارک څخه پيل او د دارالامان تاريخي ماڼۍ ته ورڅېرمه د ملي شورا د نوې ودانۍ مخې ته د يوه پرېکړه ليک په صادرولو سره پايته ورسېده. جزييات يې په دې راپور کې ولولئ!

د افغانستان ملي تحريک په گډون بېلابېلو مدني ټولنو او قومي



شوراگانو نن يو ځل بيا د افغانيت په ننگه لاريون وکړ. د لاريونونو دا لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له تېرو پنځو کلونو راهیسې پیل شوې، د وخت په تېرېدو سره یې ملاتړ زیاتېږي، ان هغه ډلې او اشخاص چې پخوا یې د جنګسالارانو له وېرې او یا هم د خپل مقام او موقف د ساتنې لپاره له دې داعیې سره ځان نه نږدې کاوه، هغوی هم اوس پر دې حقانیت پوهېدلي. نننی لاریون په تېرو پنځو کلونو کې د ملتپالنې او اسلامپالنې لپاره د شعوري مبارزو او مظاهرو د لړۍ یوه کړۍ ده. نن په زرګونو هېوادوالو په دې شعوري لاریون کې ګډون وکړ. مظاهره سهار لس بجې له ملي شورا څخه پنځه نیم کیلومتره لرې په دارالامان واټ کې له علاوالدین پارک څخه پیل شوه. لاریونوالو ځانونو سره د افغانیت او اسلامیت په ملاتړ په لسګونو



شعارونه او په سلګونو ملي بیرغونه لېږدول. مظاهره بیا په پلې مزل د ملي شورا تر دخولي وره پورې ورسېدله هلته ورته ولسي جرګې په خپلې استازۍ د دې جرګې د لومړي منشي (قادرځاځي) په مشرۍ یو هئیت راولېږه چې په هغه هیئت کې د ولسي جرګې غړي قدرت الله سهاک، نعیم زوی، نسیمه نیازۍ، ارین یون، راضیه منګل، ناجیه بابکرخېل او یوشمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور غړي شامل وو. هیئت له لاریونوالو سره ژمنه وکړه چې ستاسو غوښتنې به ولسي جرګې ته ورسوو او موږ خپله هم درسره په دې داعیه کې هم نظره او ملګري وو. بیا د لاریونوالو په استازۍ مجیب الرحمن لحاظ د مظاهرې د برخوالو پرېکړه لیک ولوست، پرېکړه لیک په دې ډول و:

## بسم الله الرحمن الرحیم

## د هویت په تذکره کې

## د افغانیت او اسلامیت د لیکلو په ننګه

## د لاریونوالو پرېکړه لیک

د (۱۳۹٦ل) کال د لړم پر (۱۷)مه نېټه د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو او ملي خوځښتونو په استازۍ ګڼ شمېر هېوادوالو د ملي شورا مخې ته د ملي هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د ثبت او لیکلو په موخه یو پراخ لاریون وکړ او دغه لاندې پرېکړه لیک یې صادر کړ:

۱ -د نفوسو د احوالو د ثبت قانون کې ملي شورا په خپلې پخوانۍ پرېکړې او ولسي جرګې د (۱۳۹٦ل) کال د عقرب پر (۸)مه نېټه خپله پرېکړه کې د اساسي قانون د څلورمې او نورو مادو محتوا په پام کې نه ده نیولې، دا ټولې پرېکړې یې د اساسي قانون د محتوا مخالفې دي، نو ځکه خو د ولس او اساسي قانون له نظره مردودې دي.

۲ -موږ په لومړي ګام کې مشرانو جرګې څخه غواړو چې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په باب د ولسي جرګې ناقانونه پرېکړه رد او په دې اړه د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید او تصویب کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳ -د مشرانو جرگې له خوا د جمهور رییس د تقنیني فرمان د تایید او تصویب په حالت کې موږ د ولسي جرگې له رییسه هیئت او غړو څخه غوښتنه کوو چې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په اړه، مشرانو جرگې ته د گډ هیئت لپاره د ولسي جرگې د هیئت په ترکیب کې داسې اشخاص وټاکي چې د افغانستان ملي گټو، ملي وحدت او اساسي قانون ته ژمن وي، ملت ضد او اسلام ضد اشخاص به دې ترکیب کې نه شو منلای.**

**۴ -د مشرانو جرگې له خوا د جمهور رییس د فرمان د تایید او تصویب په حالت کې د ولسي جرگې او مشرانو جرگې له مشترک کمېسیون څخه په جدي ډول غوښتنه کوو چې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په باب د جمهور رییس دغه تقنیني فرمان چې همدا اوس نافذ دی، تایید او تصویب کړي او پرې نه ږدي چې مغرض اشخاص د ملي شورا له موقف**



**څخه په گټې اخیستنې تر دې زیات د ملت د سر گردانۍ سبب شي.**

**۵ -لاریونوال په ډاگه ملي شورا ته اعلانوي چې اسلامیت او افغانیت زموږ دیني او ملي هویت دی، دا مو سرې کرښې دي، له دې ارزښتونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه تېرېدی نه شو، الهي قانون او اساسي قانون موږ ته دا ارزښتونه راکړي، هېڅا ته د دې اجازه نه ورکوو چې په چل، مهارت، درغلۍ، زور، فشار او د پردیو په لمسون زموږ دا ارزښتونه زیانمن کړي. د دې ارزښتونو د ساتنې ترڅنګ لاریونوال د دې یادونه هم کوي چې د ډیورنډ منحوسه کرښه پر افغانانو باندې د انګرېزي ښکېلاک له خوا په زوره تپل شوې کرښه ده او هېڅ افغان ته د منلو وړ نه ده، له ملي شورا څخه غوښتنه کوو چې په دې اړه هم په خپله شورا کې او هم له شورا څخه بهر د انګرېز د سفیر په ګډون هېڅ کورني او بهرني شخص او ارګان ته د نامسولانه خبرو اجازه ورنه کړي.

٦ -لاریونوال ملي شورا ته په ډاګه وایي چې که چېرې د دوی قانوني غوښتنې ونه منل شي او ملي شورا بیا هم د اساسي قانون خلاف پرېکړو ته دوام ورکړي، نو هم به خپلو قانوني مدني اعتراضونو ته دوام ورکړي او هم به پر ملي شورا په تېره بیا پر ولسي جرګه، عدلي او قضایي ارګانونو کې خپل عرایض ثبت کړي. د دې ترڅنګه له حکومت او ولسمشر څخه هم په ټینګه غوښتنه کوو چې په دې برخه کې نافذ شوی تقنیني فرمان ژر تر ژره عملي کړي.

د افغانیت او اسلامیت د ځلا او بریا په هیله

په درنښت

د اسلامیت او افغانیت په ننګه راولاړ شوي لاریونوال

وروسته د لاریونوالو په استازۍ یو شل کسیز هیئت د ولسي جرګې له هیئت سره چې په ترکیب کې یې قادر ځاځی، قدرت الله سهاک، ارین یون، نسیمه نیازۍ، راضیه منګل او ځینې نور وکیلان شامل وو، یوځای د ولسي جرګې مقر ته لاړل او هلته یې یو ځل بیا د هویت په تذکره کې د افغانیت او اسلامیت د لیکلو او د ولسمشر د فرمان د تایید او تعقیب په باب هر اړخیز بحث وکړ او دلته یو ځل بیا د ولسي جرګې هیئت د دې داعیې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تعقیب لپاره خپله ژمنه تکرار کړه. د لاریونوالو استازي وروسته د ولسي جرګې له هئیت سره یوځای مشرانو جرګې ته لاړل، هلته یې د محمد عالم ایزدیار په مشرۍ د مشرانو جرګې د کمېسیونونو د رییسانو په ګډه جرګه کې ګډون وکړ او خپل پرېکړه لیک یې هغو ته وړاندې کړ. د مشرانو جرګې مرستیال د یادې جرګې د رییسانو په استازۍ وویل چې موږ به ستاسې غوښتنې په اجنډا کې شاملې کړو او ټولو سناتورانو چې په عمومي غونډه کې کومه پرېکړه وکړه، هغه به منو. د کمېسیونونو رییسانو هم ډاډ څرګند کړ چې تر کومه ځایه چې په مشرانو جرګه کې پر دې موضوع څومره بحث شوی اکثره سناتور صاحبان مثبت نظر لري، ډاډ درکوو چې



د نفوسو د احوالو د ثبت قانون چې د جمهور رییس له خوا د یوه تقنیني فرمان په نتیجه کې نافذ شوی، هغه به تصویب شي، لاریونوالو د دواړو جرګو له هئیتونو څخه وغوښتل چې د مشرانو جرګې تر مثبت تایید وروسته باید هم دواړه جرګې په مشترک کمېسیون کې په دې باب مثبته پرېکړه وکړي او بالاخره دا ستونزه نوره پایته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زابل او ملي هويت

د (۲۰۱۷م) کال د نومبر پر (۱۱)مه نېټه په زابل کې د ملي هويت په ننګه لاريون وشو. دوی په برېښنايي پېژندپاڼو کې د افغان کليمې د ليکلو ننګه وکړه.

نن ټکی اسيا وېبپاڼه وايي، چې د (۱۳۹٦ل) کال د لړم (۲۰)مه شنبه په زابل ولايت کې هم په تذکرو کې د اسلام او افغان په ملاتړ لاريون وشو.

دغه لاريون چې سهار پر نهه بجې د شاه جوی ولسوالۍ په بازار کې




پيل شوی و، پر ۱۲ بجې پای ته ورسيد.

د تېرې اکتوبر مياشتې پر (۳۰)مه ولسي جرګې په عمومي غونډه کې په پېژندپاڼو کې د اسلام او افغان کليمو پر ضد رايه ورکړه، چې د مدني ټولنو استازو پرې سخت غبرګون وښود.

تېره اوونۍ په کابل کې هم د بېلابېلو ټولنو استازو لاريون کړی و او په پېژندپاڼو کې يې د اسلام او افغان کليمو د زياتولو غوښتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کونړ عالمان، افغانيت او اسلاميت

نن د (۲۰۱۷م) کال د نومبر (۱۲)مه چې د (۱۳۹٦ل) کال د عقرب میاشتې له (۲۱)مې نېټې سره سمون خوري، د کونړ ولایت په اسعداباد ښار کی د دینی علماوو او مدرسو د زده کوونکو له خوا په پیژندپاڼو کې د



اسلامیت او افغانیت د نه لیکلو او یو شمېر هغو وکیلانو پر ضد چې د اسلامیت او افغانیت ضد کسانو ملاتړ کې ولاړ دي، پرتمینه مظاهره وشوه، په دې لاریون کې ګڼو عالمانو خبرې وکړې او ویې ویل که حکومت زمونږ غږ وانه وري، موږ به خپل اواز د ارګ تر دروازې ورسوو. دوی په یوه غږ په پېژندپاڼو کې د اسلام او افغان کلیمو د لیکلو غوښتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تذکرو په اړه یو ځل بیا یوه یادونه او یوه مننه

د (۲۰۱۷م) کال د نومبر پر (۱۹)مه نېټه چې د (۱۳۹٦ل) کال د لړم میاشتې (۲۸)مې نېټې سره سمون خوري، د ملي شورا مشرانو جرګې په



خپلې عمومي غونډه کې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په اړه د جمهور رییس هغه تقنیني فرمان له یوې سپینې رایې پرته د رایو په اتفاق تایید کړ چې د همدې میاشتې پر (۸) مه نېټه د ولسي جرګې له خوا رد شوی و. د ولسي جرګې د پرېکړې په باب ګڼ شمېر هېوادوالو او مدني خوځښتونو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وخت اعتراضونه وکړل او دا اعتراضونه د ملي شورا تر دروازو پورې هم ورسېدل. مشرانو جرګې د خلکو د مدني اعتراضونو په غبرګون کې د ولسي جرګې د پرېکړې په باب ویلي وو چې د ولسي جرګې پرېکړه د اساسي قانون د محتویاتو خلاف ده او دوی به یې له قانوني پروسیجر سره سم په خپله عمومي غونډه کې رد کړي. مشرانو جرګې له ولس سره خپله ژمنه عملي کړه. نو ځکه خو مننه ترې په کار ده چې له قانون سره سم ګام یې پورته کړ.

د افغانستان ملي تحریک د یوه ملي، مدني، فرهنګي او ټولنیز خوځښت په توګه د مشرانو جرګې دا مثبت او قانوني ګام ستایي، مننه ترې کوي او د دې ترڅنګ یادونه کوي چې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په اړه له ولسي جرګې سره راتلونکي ګډ کمېسیون ته هم اسلامپاله او ملتپاله سناتوران ورولېږي چې هلته هم په ښه ډول دا ملي داعیه تعقیب او له اساسي قانون سره سمه پرېکړه وشي. له ولسي جرګې څخه هم په ټینګه غوښتنه کوو چې تر دې زیات دې د ملت د سردردۍ سبب نه ګرځي او ګډ کمېسیون ته دې داسې اشخاص ورولېږي چې هم له قانونه باخبره وي او هم ملي او اسلامي هویت ته ژمن وي.

له خپلو ګرانو هېوادوالو څخه هم ډېره مننه په کار ده چې په تېرو پنځو کلونو کې یې د خپل دیني او ملي هویت مسله په ښه تدبیر سره تعقیب کړه او په دقت سره یې د پردیو د دسیسو مخه ونیوله، خو د دې تېرو مبارزو په تعقیب یو ځل بیا پر خپل ملت غږ کوو چې که څه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشرانو جرگې په ننني پرېکړې سره په دې برخه کې مثبت پرمختگ رامنځته شوی او خبره په ښه ډول مثبت لوري ته روانه ده، خو دې سره سره بيا هم موږ باید گډ کمېسیون او د ولسي جرگې حرکت په دقیق ډول وڅارو او پرې نږدو چې په دې برخه کې رامنځته شوی پرمختگ یو ځل بیا له توطیو او دسیسو سره مخامخ شي.**

**د ملي او اسلامي هويت د ځلا او بريا په هيله**

**په درنښت**

**د افغانستان ملي تحريک دارالانشاء**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مشرانو جرگې له مشرتابه څخه مننه او د هغو ستاینه

د (۲۰۱۷م) کال د نومبر پر (۱۹)مه نېټه چې د (۱۳۹٦ل) کال د لړم میاشتې له (۲۸)مې نېټې سره سمون خوري، د مشرانو جرگې عمومي غونډې له یوې سپینې رایې پرته د رایو په اتفاق د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په باب د جمهور رییس فرمان تایید کړ. دا کار د زیاتو هېوادوالو د خوښۍ سبب شو. د افغانستان ملي تحریک مشرتابه هیئت د مشرانو جرگې



مشرتابه ته د درناوي او له هغوی څخه د مننې په پار د (۱۳۹٦ل) کال د لړم میاشتې پر (۲۹)مه نېټه یانې د یاد قانون تر تایید یوه ورځ وروسته د مشرانو جرگې له رییس ښاغلي فضل الهادي مسلمیار سره وکتل. د ملي تحریک په هیئت کې پوهاند محمد اسمعیل یون، ضیاءالرحمن ضیاء، څېړن هدایي، وفاالرحمن وفا، مطیع الله ساپی، قدرت الله بدلون، شاهد الکوزی، ډاکتر خیبر سهاک، مجیب الرحمن لحاظ، محبت الله حیات،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیاض حمید او یو شمېر نور انډیوالان شامل وو. لومړی مو له مسلمیار صیب څخه مننه وکړه او بیا مو ورته وویل چې ستاسو په واسطه د مشرانو جرگې له ټولو غړو څخه د هغوی د دې ملي جرئت له امله مننه کوو. یو ملي گام مو اوچت کړ. مسلمیار صیب په خپل نوبت وویل چې دا زموږ د ټولو گډ کار دی او ملي فریضه مو ده. بیا یې له ټولو هغو اشخاصو او حرکتونو څخه مننه وکړه چې تر دې دمه یې دا ملي موضوع تعقیب کړې او مبارزه یې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د برېښنايي تذکرو د برخليک ټاکنې په حساسو شېبو کې د افغانستان ملي تحريک غوښتنه

**دا اعلاميه د (۲۰۱۷م) کال د ډسمبر پر (۱٦)مه نېټه چې د (۱۳۹٦ل) کال د لېندۍ له (۲۵)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.**

له څنګه چې ټول هېوادوال خبر دي له تېرو نږدې پنځو کلونو راهيسې، د يو شمېر کورنيو او بهرنيو کړيو له خوا هڅه کېږي چې هېواد کې د برېښنايي تذکرو قانوني وېش له ځنډ او خنډ سره مخامخ کړي. دوی په تېرو کلونو کې په ملي شورا او نورو دولتي ارګانونو کې د چل او فريب له لارې هڅه وکړه، د اسلاميت او افغانيت د مخنيوي په خاطر په تذکرو کې د (دين) او (ملت) ستون ته ځای ور نه کړي، خو څرنګه چې په تېرو ځلورو پنځو کلونو کې د افغانستان ملي تحريک په ګډون ګڼ شمېر ملي خوځښتونو، هېوادپالو، اسلامپالو او ملتپالو افغانانو په ټول هېواد کې ګڼ شمېر لاريونونه وکړل او په دې برخه کې يې د اساسي قانون د اساسي لاسوند په ګډون ګڼ شمېر حقوقي دلايل وړاندې کړل او د هويت په تذکرو کې يې د اسلاميت او افغانيت د ليکنې حقانيت تثبيت کړ، نو جمهور رييس هم دغې ملي داعيې ته په پام سره يو تقنيني فرمان صادر کړ چې د هغه له مخې بايد د هويت په تذکره کې د (دين)،(ملت) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



(قوم) ستونونه ولیکل شي او په دې ډول د خلکو غوښتنو ته مثبت ځواب وویل شي. ولسي جرګې یو ځل بیا د چل، فریب او مهارت له لارې د جمهور رییس تقنیني فرمان رد کړ، په مقابل کې یې یو ځل بیا هېوادوالو لاریونونه پیل کړل، خو مشرانو جرګې د ملي دریځ په خپلولو سره د اساسي قانون له حکم سره سم د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید کړ. دې سره د دې فرمان برخلیک د دواړو جرګو یو مشترک کمېسیون ته محول شو. دواړو جرګو دې مشترک کمېسیون ته خپل اته اته کسیز هیئت وټاکه. ټاکل شوې ده د قوس میاشتې پر (۲۷) مه نېټه، د دوشنبې پر ورځ مشترک کمېسیون په دې باب خپله وروستۍ پرېکړه وکړي. د دې مشترک کمېسیون غړي په دې ډول دي:

د ولسي جرګې هیئت: میرداد نجرابي، سخي مشواڼی، محمود سلیمانخېل، عبدالحی اخندزاده، عبدالقیوم سجادي، ناجیه ایماق، عبدالودود پیمان او انجنیر محمد هاشم اورتاق.






(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مشرانو جرګې هیئت: ډاکتر فیصل سمیع، حاجي لطف الله بابا، نجیبه حسیني، صدیقه بلخي، عبدالطیف نهضتیار، محمد حسن هوتک، هاشم الکوزی او ګلالۍ اکبري.**




**د افغانستان ملي تحریک په لومړي ګام کې د ملي شورا د دې ګډ کمېسیون له هیئت څخه په ډېر درنښت هیله کوي چې خبره تر دې زیاته جنجال ته ونه باسي، د اساسي قانون له احکامو سره سم په دې برخه کې د جمهور رییس صادر شوی تقنیني فرمان تایید کړي. له دې پرته به ولس یو ځل بیا پر لاریونونو او اعتراضونو لاس پورې کړي او که په دې برخه کې بیا هره ناوړه پېښه رامنځته شوه، نو مسوولیت به یې د همدغه مشترک کمېسیون د هغو افرادو پر غاړه وي چې د ملي هویت د حذف لپاره یې ناقانونه هڅه کړې ده.**

**له ولس څخه هم په ډېر درنښت هیله کوو چې په ملي شورا کې پر یادو (١٦) وکیلانو خپل اخلاقي، اجتماعي او قانوني فشار راوړي چې له اساسي قانون سره سم ګام پورته کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې یو ځل بیا یادونه کوو چې د ملي هویت په برخه کې د هېڅ ډلې، شخص او اشخاصو درغلي او ناقانونه پرېکړه نه منو، تر دې وړاندې که په ملي شورا او نورو دولتي ارگانونو کې د ملي هویت مخالفین په اسانۍ سره نه شول تشخیصېدلای، نو که اوس په دې کمېسیون کې بیا هم خدای مه کړه اکثریت گډونوال د ملت د ارادې او اساسي قانون خلاف پرېکړه وکړي، نو ټول ملت حق لري چې له اساسي قانون سره سم ورسره چلند وکړي.

ملي تحریک په دې خاطر دا اعلامیه ضروري وگڼله چې هم په ملت کې ملي خوځښتونه او هم د ملت ((استازو)) ته یو ځل بیا دا ملي داعیه وریاده کړي او په دې برخه کې راولاړه شوې ربړه د اساسي قانون له روحیې سره سم حل کړي.

د اسلامیت ، افغانیت او ملي وحدت د بریا په هیله

په درنښت

د افغانستان ملي تحریک دارالانشاء

د (۱۳۹٦ل) کال د لېندۍ (۲۵)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ملي گام، یو قانوني اقدام او یوه ملي بریا

دا لیک د (۲۰۱۷م) کال د ډسمبر پر (۱۸)مه چې د (۱۳۹٦) کال د لېندۍ له (۲۷)مې نېټې سره سمون خوري، د ملي شورا د هغه گډ کمېسیون د پرېکړې د تایید په باب خپور شوی چې د رایو په اتفاق سره یې د تذکرو په اړه د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید کړ.

لکه څنگه چې ټول هېوادوال خبر دي، د ملي هویت د تذکرو پر سر له پنځو کلونو راهیسې د حکومت، ملي شورا او ملتپالو افغانانو ترمنځ جنجالونه روان وو .اسلامپالو او ملتپالو افغانانو غوښتل چې د ملي هویت په تذکرو کې دې د (دین) او (ملت) ستون ولیکل شي او په دې ډول دې د تذکرې پر لومړي مخ د (اسلامیت) او (افغانیت) لیکل حتمي شي. په حکومت او ملي شورا کې یو شمېر پردیپالو کړیو هڅه کوله چې په تذکره کې د دغو دوو سترو معنوي ارزښتونو د لیکلو مخه ونیسي. ملي حرکتونو له (۱۳۹۰ل) کال راهیسې پر ملي مبارزو لاس پورې کړ، وروسته خبره گڼو مظاهرو او احتجاجونو ته ووتله او د هېوادوالو له خوا په لسگونو مظاهرې وشوې، تېر کال جمهور رییس اشرف غني په دې باب یو تقنیني فرمان صادر کړ چې د هویت په تذکره کې دې د (دین)، (ملت) او (قوم) ستونونه ولیکل شي او په دې ډول دې د ټولو هېوادوالو غوښتنو ته مثبت ځواب وویل شي. د جمهور رییس دا فرمان باید پر خپل وخت عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وای، خو بیا هم د بېلابېلو عواملو له امله دې فرمان عملي بڼه خپله نه کړه او ولسي جرګې د (۱۳۹٦ل) کال د (عقرت میاشتې) پر (۸) مه نېټه د جمهور رییس فرمان رد کړ. دې سره یوځل بیا د ملي تحریک په ګډون یو زیات شمېر هېوادوالو او ملي خوځښتونو په کابل او نورو ولایتونو کې لاریونونه وکړل. مشرانو جرګې دغو مظاهرو او د خلکو غبرګونونو ته په پام سره د (۱۳۹٦ل) کال د (عقرب) میاشتې د (۲۸)مې نېټې په عمومي غونډه کې د رایو په غوڅ اکثریت سره په دې باب د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید کړ. د مشرانو جرګې له دې پرېکړې سره سم د دې فرمان برخلیک د ولسي او مشرانو جرګې ګډ کمېسیون ته محول شو. دواړو جرګو خپل اته اته تنه غړي دې ګډ کمېسیون ته ورمعرفي کړل او د ټولو شپاړسو غړو له جملې څخه (۱۲) تنو حاضرو غړو د رایو په اتفاق سره د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید کړ. د ملي شورا د ګډ کمېسیون په دې قانوني پرېکړې سره هغه ستونزه چې له پنځو کلونو راهیسې رامنځته شوې وه، په قانوني ډول سره حل شوه.

د افغانستان ملي تحریک په داسې حال کې چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون دا پرېکړه ستایي او یو قانوني عمل یې ګڼي. په جلسه کې ټولو حاضرو غړو ته کور ودانی وایي، چې له اساسي قانون سره سم یې د هویت په تذکرو کې د دیني او ملي هویت د خوندیتابه لپاره د جمهور رییس تقنیني فرمان ته تاییدي رایه ورکړه. د دوی دا ملي حرکت به تاریخ د تل لپاره په خپله حافظه کې خوندي وساتي.

د افغانستان ملي تحریک د ملي شورا له ګډ کمېسیون څخه د مننې ترڅنګ له حکومت څخه هم په ټینګه غوښتنه کوي چې ژر تر ژره دې د برېښنايي تذکرو د وېش لړۍ پیل او په دې برخه کې دې نور هېڅ ډول پلمې او خنډ ته اجازه ور نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان ملي تحریک د یو مسول ملي، اسلامي، مدني او ټولنیز خوځښت په توګه دا خپله یوه اخلاقي فریضه ګڼي چې له ټولو هغو افغانانو، ملي او مدني حرکتونو او قومي شوراګانو څخه مننه وکړي چې زموږ ملي او دیني هویت ته د خطرونو او ګواښونو له همغه پیله دې حساسې ملي مسلې ته متوجه وو او په دې برخه کې یې نه ستړې کېدونکې، بې دریغه شعوري او ملي مبارزه وکړه. ملي تحریک له هېوادوالو څخه د منڼې ترڅنګ هغوی ته د دې یادونه کوي او ډاډ




ورکوي چې د دوی مادي او معنوي سربښندنې به هېڅکله د تاریخ د حافظې له یاده ونه وځي. ملي تحریک هېوادوالو سره ژمنه کوي چې په دې برخه کې به د ملي مبارزې له پیله بیا د قانوني بریا تر دې وروستۍ ورځې (د ۱۳۹٦ل کال د لیندۍ تر ۲۷) مې نېټې پورې مبارزې او هلې ځلې په مستند او دقیق ډول په یوه مهم اثر کې خوندي او چاپ کړي او په دې ډول به د هېواد د تاریخ دغه کلونه او په هغو کې شوې مبارزه راتلونکي نسل ته د الهام او پیغام په توګه وړاندې کړي. له ټولو هغو هېوادوالو او مدني فعالانو څخه هیله کوو چې هر چا په دې تېر پنځه کلن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملي بهير او مبارزه کې هر ډول ونډه اخيستې وي، له مستندو اسنادو او تصويرونو سره يې يو راپور، د ملي تحريک په ادرس راوليږي چې په دې اړه په چاپېدونکي کتاب کې خپاره شي.**



**ملي تحريک به په دې باب د ځانګړي اثر تر چاپ وروسته د يوې لويې غونډې په ترخ کې، هم له مبارزو هېوادوالو څخه د مننې مراتب څرګند کړي، هم به په دې غونډه کې ياد کتاب ووېشي او هم به پر هېوادوالو غږ وکړي چې د بريښنايي تذکرو د وېش له ملي بهير سره خپله هر ډول مرسته او همکاري وکړي.**

**د همدې ورځې د رارسېدو په هیله**

**په درنښت**

**د افغانستان ملي تحريک**

**دارالانشاء**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیندۍ (۲۷)مه د ملي هويت لپاره یوه بریمنه ورځ

د (۲۰۱۷م) کال د ډسمبر (۱۸)مه چې د (۱۳۹٦ل) کال د لیندۍ له (۲۷)مې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان د دیني او ملي هويت د قانوني تثبیت لپاره یوه تاریخي ورځ ده. پر همدې ورځ د ملي شورا ګډ کمېسیون چې د جمهور رییس اشرف غني له خوا د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په باب غونډه درلودله، یاد کمېسیون پرېکړه وکړه چې په دې اړه د جمهور رییس فرمان تایید دی. په دې ډول د ملي هويت د تذکرې یا برېښنایي پېژند پاڼې په باب کوم بحران چې د یو شمېر کورنیو او بهرنیو کړیو له خوا رامنځته شوی و او د چل، فریب، درغلۍ، زور، زر او نورو نامشروع لارو یې غوښتل د افغان ولس ملي هويت له ستونزو سره مخ کړي، دا بحران د قانوني پروسیجر له مخې پایته ورسېد.

ما (یون) چې د ملي تحریک او یو شمېر نورو ملي خوځښتونو له غړو سره د دې بحران له پیله بیا تر دې دمه یوه ورځ هم ارامه نه ده تېره کړې، د داسې یوې بریمنې ورځې لیدل راته طبعاً د یوې تاریخي ورځې حیثیت درلود. پر هغه ورځ یانې د عقرب پر (۸)مه نېټه چې ولسي جرګې په دې اړه د جمهور رییس فرمان رد کړ، نو خبره بل حساس او خطرناک پړاو ته ورسېدله، یو ځل بیا په هېواد کې د لاریونونو لړۍ پیل شوه، زیات شمېر سیاسي فعالانو او مخورو شخصیتونو یو ځل بیا د ملي شورا مخې ته مظاهره وکړه. د لاریونوالو یو هیئت په دې اړه لومړی د ولسي جرګې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیئت او بیا د مشرانو جرګې د رییسانو له هیئت سره وکتل، هغوی ته یې خپل پرېکړه لیک ورکړ، مشرانو جرګې ژمنه وکړه چې دوی به په خپل عمومي مجلس کې په دې بحث وکړي. د عقرب پر (۲۸)مه مشرانو جرګې له کړې ژمنې سره سم د جمهور رییس فرمان تایید کړ، خبره بیا ګډ کمېسیون ته لاړه. د ګډ کمېسیون لپاره دغه لاندې غړي وټاکل شول:

د مشرانو جرګې هیئت: ډاکټر فیصل سمیع، حاجي لطف الله بابا، نجیبه حسیني، صدیقه بلخي، عبدالطیف نهضتیار، محمد حسن هوتک، هاشم الکوزی او ګلالۍ اکبري.

د ولسي جرګې هیئت: میرداد نجرابي، سخي مشوانی، محمود سلیمانخېل، عبدالحی اخندزاده، عبدالقیوم سجادي، ناجیه ایماق، عبدالودود پیمان او انجنیر محمد هاشم اورتاق.

د ګډ کمېسیون له غړو سره مفاهمه په کار وه، ما تر خپله وسه پورې له هغوی سره تماسونه ټینګ کړل او له نورو هېوادوالو مې هم وغوښتل چې په دې برخه کې له خپل نفوذ څخه کار واخلي. ما خپله څو ځله، له ښاغلي ډاکټر فیصل سمیع، محمود خان سلیمان خېل، سخي مشوانی، عبدالحی اخندزاده، هاشم الکوزي، حاجي لطف الله بابا او نورو سره خبرې وکړې، هغوی تر وروستي حده پورې خپل ډاډ څرګند کړ.

عبدالقادر ځاځي سره مې هم منظم تماسونه درلودل. د ولسي جرګې یو شمېر نورو وکیلانو لکه بارکزي صیب، نواب منګل او نورو سره هم په تماس کې وم. د قوس میاشتې په ټول بهیر کې زه خورا سخت مصروف وم، (د ارګ ناویلې خبرې) اثر مې چاپ ته تیاراوه. دا اثر چې نږدې (۹۰۰) مخه کېده، په یوه میاشت کې مې تر شپږ ځله زیات ایډېټ کړ، د (خادم نړۍ لید) پر اثر مې هم کار کاوه، شپه او ورځ کې مې ایله څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه ساعته خوب کاوه، د تذکرو موضوع هم حساس پړاو ته رسېدلې وه، پنځه کلونو هڅو هم ښه ستړي کړی وم. په دې برخه کې د هرې منفي



پېښې راپېښېدل ښځي دردونکي وو او غبرگون ښودل ورته هم اسانه کار نه و. نو ځکه مې د مبارزې دا شېبې په دقیقه تعقیبولې، کله چې د ولسي جرگې د قوس پر (۲۰)مه نېټه د گډ کمېسیون لپاره خپل غړي مشخص کړل، نو قادر ځاځي راته په ټلېفون کې وویل: اوس نو ستا کار دی چې له کومې لارې هر یو سره تماس نیسې، هر یو باید جلا جلا وگورې، مسلیمار صیب نه شته حج کې دی، فاروق وردگ سره هم باید خبرې وکړې، خو ته باید خپله شخصاً یو یو سره تماس کې شې، د موضوع پر حقانیت او قانوني لارو چارو ورسره خبرې وکړې او قناعت یې حاصل کړې، که تاسو ورسره اړیکي ولرئ، هغوی به پر دې پوه شي چې هم یې بهر ته ولسي ملاتړ شته او هم پرې فشار دی، نو دوی به فرمان تایید کړي، قادر ځاځي زیاته کړه، ما خپله هم هر یو سره خبرې کړي او بیا یې هم تعقیبوم، خو تاته مې ځکه خبر درکړ چې نور تاسو ټولو انډیوالانو ته وواياست. قادر ځاځي زیاته کړه، میرداد نجرابي وایي چې موږ په راتلونکې اوونۍ کې اماده نه یو، مشترک کمېسیون لږ وځنډوئ، قادر ځاځي وویل د مشرانو جرگې له خوا هیئت تیار دی، د ولسي جرگې له خوا د ورځې تعین زما کار دی، زه بیا درته وایم چې کومه ورځ غونډه ونیسو، هغه به د شنبې ورځ د قوس پر (۲۵)مه درته ووایم. خو تر هغه پورې باید ټول وکیل صاحبان وگورئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی پر دې خوشالېږي هم. البته هغه چې مخالف دي، پر هغو انرژي مه مصرفوه، له هغو سره زه خپله خبرې کوم، که نتيجه يې ورنه کړه هم پسې مه ګرځه، موږ چې خپل خلک منظم کړو، (۹-۱۲) تنه کېږو، همدا کفايت کوي. ما د ګډ کمېسيون له غړو سره اړيکي تعقيبول، د شنبې پر ورځې يو ځل بيا قادر ځاځي راته زنګ وواهه، ويې ويل د دوشنبې پر ورځ به د ګډ کمېسيون غونډه ونيسو، زه يې همدا نن مشرانو جرګې ته



مکتوب لېږم، هغوی تيار دي، زموږ خپل هيئت هم بايد ورته تيار شي، نجرابی وايي چې زه اماده نه يم، دی اماده دی که نه دی، مهمه نه ده، د ګډ کمېسيون مشري هم د مشرانو جرګې د منشي ډاکتر فيصل سميع پر غاړه ده، هغه مو مشر کړی دی. مشري ځکه د هغوی ده چې هغوی د جمهور رييس فرمان په اتفاقي ډول تاييد کړی او ولسي جرګې په اختلافي ډول رد کړی، نو ځکه خو مشري د هغوی په لاس کې ده. زما نظر خو دا دی چې څومره ژر کېږي، مشترک کمېسيون خپله غونډه دايره کړي، څومره چې دا موضوع شاته کېږي، دا خلک ورته توطيې جوړوي، که څوک راځي که نه راځي خپله خوښه يې، موږ نه شو کولای يوازې د نجرابي خوښې ته د ټول ملت سرنوشت پرېږدو، زه دا دی دارالانشاء ته وايم چې ټولو ته خبر ورکړي، نور څوک راځي که نه راځي مهمه نه ده، موږ بايد (۹) تنه پوره کړو چې نصاب پوره شي او هغه پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. ما ورته وویل بېخي درسره موافق یم، هغه همداسې وکړل او ما خپلو تماسونو ته دوام ورکړ. د قوس تر (۲۷)مې د دوشنبې تر سهاره مې یو ځل بیا له ښاغلي ډاکتر فیصل، هاشم الکوزي، سخي مشواڼي، لطف الله بابا او محمود سلېمانخېل سره خپل تماسونه ټینګ کړل، ټولو خپل ډاډ څرګند کړ. هاشم الکوزي صیب راته وویل چې د سهار تر لمانځه وروسته مې ټولو سره تماسونه نیولي، انشاالله سره ټول تیار دي. عبدالحی اخندزاده هم همدا وویل، لطف الله بابا، سخي مشواڼي او محمود سلیمانخېل هم خپل هوډ بیا تازه کړ. سخي مشواڼي وویل چې دغسې چې هر کار ته مخکې تر مخکې پلان جوړ کړو، د چا پلار یې هم موږ څخه نه شي ګټلای، ته سل په سلو کې خاطر جمع اوسه، محمود سلیمانخېل خو راته وویل. یوولس نیمې بجې راته منتظر اوسه یا به مې مړی له مشترک کمېسیون څخه وځي، یا به یې مړی وګورې یا به ښه زېری درباندې وکړ. د دوشنبې ورځ سهار څه کم لس بجې یو ځل بیا د ولسي جرګې په غونډه کې د دوی د هیئت د ځینو غړو د غیر حاضرۍ او ګډ کمېسیون ته د نه ورتګ خبره یاده شوه. زه کابل پوهنتون کې یوې غونډې ته روان وم، په موټر کې مې د ولسي جرګې راډیو چالانه کړې وه. عبدالحی اخوندزاده هم شکایت وکړ، ما غوښتل چې دا مهال یو ځل بیا دې وکیلانو سره تماس ونیسم، دې وخت کې محمود سلیمانخېل راته زنګ وواهه، وه یون صیب خبر شوې، دا اخندزاده بیا څه وایي چې نجرابي نه شته او صلاحیت یې چاته نه دی ورکړی، که څنګه خبره ده؟ دا خبره ولې عمومي غونډه کې یادوي، باید نجرابي راشي که نه راځي، هغه خو یو تن دی، ته یې څه ته دلته یادوې. ما ویل ته ورته ووایه چې ته خپله جلسې ته راشه، نجرابي څه کوې، ده وویل زه پر لاره یم. په لاره کې مې راډیو واورېدله، ما ویل ته هم ژر لاړ شه، د ولسي جرګې تر غونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته دواړه لاس په لاس ګډ کمېسیون ته ورشئ زه خپله هم ورته زنګ وهم، ما اخندزاده صیب ته ټلېفون وکړ، ټلېفون یې کار ونه کړ، سخي مشوانۍ ته مې زنګ وواهه، هغه ټلېفون پورته کړ، ورته ومې ویل چې تاسو دریې واړه او جمع هاشم اورتاق صیب ګډ کمېسیون ته لاړ شئ. هغه نور که ځي که نه ځي خوښه یې خپله، خو نن باید ضرور جلسه وشي او دا موضوع یو طرفه شي. هغه وویل ته خاطر جمع اوسه، کله چې غونډه خلاصه شي ټول راټولوم او په ګډه ځو. یوولس بجې په پوهنتون کې یوې غونډې کې کېناستم، څو دقیقې لا تېرې نه وې چې محمود خان سلیمانخېل زنګ وواهه، یون صیب مبارک، مبارک ومو ګټله، غونډې څخه ووتم، محمود خان ډېر خوشاله و، ویې ویل ټولو په اتفاق سره تایید کړ، هېڅ مخالف نه و. څلور مخالف چې وو، یو هم نه و راغلی. زه له غونډې باندې ووتم، محمود خان سره مې ازادې خبرې وکړې، مننه مې ترې وکړه، هغه راته وویل اوس به نو ګډی حلالوې، ما ویل ټولو قدرمنو وکیلانو ته به مېلمستیا او قدردانی کوو. بېرته غونډې ته لاړم، لطف الله بابا او سخي مشوانۍ هم زنګونه ووهل، مبارکي یې راکړه، ما ترې مننه وکړه. همدا مهال مې فیسبوک ته دا خبر پورته کړ، په څو شېبو کې اکثره هغه هېواد مېشتي او بهرمېشتي افغانان خبر شول چې دې موضوع سره یې ډېره مینه لرله او ستړیا یې په کې ګاللې وه، د مبارکیو او خوشالیو اوربښت پیل شو، ژوندون ټلوېزیون ته مې هم همغه شېبه زنګ وواهه، ما ویل عاجل خبر خپور کړئ،تر دوو بجو پورې په پوهنتون کې د ځینو کارونو لپاره معطل شوم، درې بجې ټلوېزیون ته راغلم، دلته یو شمېر ملګري دفتر کې ناست وو، هغوی هم ډېر خوشاله وو. مازیګر څلور بجې د مشرانو جرګې منشي ښاغلي ډاکتر فیصل سمیع راته زنګ وواهه ما هغه ته یوولس نیمې بجې زنګ وهلی و، ټلېفون یې بند و، په مېسج مې ترې مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده بیا په خپل وار مننه هم وکړه او مبارکي يې هم راکړه. تر ماښامه مې په دې اړه د تحریک یوه اعلامیه جوړه او ضیاءالرحمن ضیاء له فیسبوک څخه خپره کړه، د ماښام تر لمانځه وروسته کور ته راغلم، د پنځو کلونو او په تېره بیا د یوې وروستۍ میاشتې ستړیا مې تر ډېره حده پورته شوه. کله چې غرمه څه باندې یوولس بجې راته سلیمانخېل د مبارکۍ زنګ وواهه، نو لکه یو غر چې مې له اوږو پورته شوی وي، له نوکه نیولې تر ویښتانو پورې مې ټوله ستړیا له بدنه ووته، پوهنتون کې د غرمې د ډوډۍ پرمهال استادانو راته وویل چې څنګه د معمول خلاف خوشاله ښکارې؟ ما ورته وویل له قانوني پلوه د تذکرو مشکل حل شو، هغوی هم ډېر خوشاله شول او مبارکي يې راکړه. کله چې د ماښام تر لمانځه وروسته قدرت الله بدلون له ټلوېزیونه کور ته راورسولم، نو لومړی مې جامې بدلې کړې، اودس مې وکړ اول مې د شکرانې دوه رکعته لمونځ اداکړ، دا مې خدای سره لوز کړی و، چې که خدای(ج) دا کار وکړ، نو زه به يې عظمت او مهربانۍ ته سر ټیټوم، تر لمانځه وروسته مې مېرمن راته وویل، ماسخوتن لمانځه ته لږ وخت پاتې، دا د څه وخت لمونځ دی؟ ما ویل دغسې د شکرانې لمونځ مې وکړ، هغې وویل د څه په خاطر؟ ما ویل د تذکرو په خاطر، له خدای سره مې لوز کړی و. هغه هم ډېره خوشاله شوه، هغې ته هم له نن غرمې سره سم بې شمېره ټلېفونونه راتلل او مبارکۍ يې ورکولې او مننه يې هم کوله فیسبوک هم مبارکیو نیولی و، له یو نیم منفي نظر پرته اکثره هېوادوال خوشاله وو او یو بل ته يې مبارکۍ ورکولې، په تېره بیا زما په ادرس يې زیات مثبت شیان لیکلي وو. تر یو څه ځنډ وروسته ډوډۍ تیاره شوه، ما تر ډوډۍ خوړلو مخکې د ماسخوتن لمونځ اداکړ، بیا مې ډوډۍ وخوړه او بیا خپل چپرکټ ته پورته شوم. نور نو پرځان پوی شوی نه یم، خوب وړی وم. یو څه وخت وروسته له خوبه پاڅېدم، ساعت مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکوت د شپې یوولس بجې دي، لومړی مې خپل ټلیفون چک کړ، په لسګونو مسکالونه او مسیجونه راغلي وو، څرنګه چې زما د ټلیفون غږ غلی وي، نو ځکه پرې پوه شوی نه وم. دوستانو ته مې ببرته ځکه ځواب نه شو ویلای چې ناوخته و، فیسبوک مې چک کړ، هلته هم پر ورځنیو حالاتو سربېره د تذکرو موضوع ښه ګرمه روانه وه. غوڅ اکثریت هېوادوال پرې خوشاله وو.ګڼو دوستانو او هغوی چې له پیله بیا تر دې دمه د دې ملي کاروان ملګري وو، ګڼ شمېر مثبت پیغامونه او د مبارکۍ پیغامونه پورته کړي وو. له یو نیم پرته چې له ورایه ترې د تنګنظرۍ، کینې او بغض بوی راته نور اکثره نظرونه مثبت وو. د فیسبوک تر چک وروسته مې ددغه یادښت پر لیکلو پیل وکړ، هدف مې دا و چې د نن ورځې تانده خاطره راڅخه مړاوې او هېره نه شي او د هغو کسانو د خدماتو یادونه وکړم چې په دې حساسو شېبو کې یې خپل ملي او دیني مسوولیت اداکړ. اوس د شپې یوه نیمه بجه ده او دې یادښت ته د پای ټکی ږدم.

نورې خبرې په نورو لیکنو او همدارنګه د ملي هویت په اړه په ځانګړي اثر کې لوستلای شئ.

په درنښت

محمد اسمعیل یون

د (۱۳۹٦ل) کال د لېندۍ (۲۸)مه د شپې یوه نیمه بجه

زما خپل کور، لومړی مکروریان، کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان ملي تحریک خبرتیا

دا خبرتیا د (۲۰۱۸م) کال د جنورۍ پر (۵)مه نېټه خپره شوه، ټاکل شوې د همدې نېټې پر سبا یې په کابل کې د هویت د تذکرو په باب یوه غونډه جوړه شي. خو په سیمه کې امنیتي پېښو او د حکومت د امنیتي چارواکو د مشورې له امله دا غونډه معطل شوه.
دلته دا لیک په دې خاطر خپروو چې راتلونکی نسل خبر شي چې د ملي هویت لپاره مبارزه په څه ډول شرایطو کې ترسره شوې ده.

لکه څنګه چې مو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه؛ ملي تحریک به د (۱۳۹٦ل) کال د جدي پر (۱٦)مه نېټه له بېلابېلو مدني ټولنو او ملي خوځښتونو سره د ګډې مشورې له لارې د یوې لویې ولسي غونډې په ترڅ کې د ملي هویت د پېژندپاڼو د وېش د ځنډ او د هېواد د روانو حالاتو په باب خپل دریځ اعلان کړي.

ملي تحریک په دې باب له ولسي مشرانو او بېلابېلو ملتپالو ټولنو سره مشوره هم کړې وه، د غونډې لپاره وخت او ځای هم غوره شوي وو او ټاکل شوې وه چې په سوونو مخور شخصیتونه او ځوانان په دې غونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کډون وکړي، خو د نهمې امنیتي حوزې اړوند بنايي سیمه کې د پرونۍ پېښې او د هغې په تعقیب تېره شپه پر ملي پولیسو د ځانمرګي برید له امله، دا غونډه د یو نامعلوم وخت لپاره وځنډول شوه. د اړوندو امنیتي ځواکونو او مشرانو مشوره دا وه چې نور احتمالي خطرونه هم شته، نو که غونډه یو څه وخت وځنډول شي، ښه به وي، د ملي تحریک مشرتابه، د مشرانو او امنیتي مسوولینو مشوره د وخت له امنیتي حساسیتونو او نزاکتونو سره مناسبه وګڼله، نو ځکه یې غونډه د یو څه مودې لپاره وځنډوله او وروسته به یې د اړتیا پر وخت دایره کړي. په دې خاطر ټولو هغو هېوادوالو ته خبر ورکول کېږي چې دې غونډې ته د راتګ بلنه ورکړل شوې وه او یا هغوی غوښتل، په دې غونډه کې ګډون وکړي. غونډه د شنبې له ورځې څخه بل وخت ته ځنډول شوې ده. هیله ده ټول وروڼه خبر اوسي.

په درنښت

د ملي تحریک دارالانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان د تاریخ په څپو کې



کله چې په ملي شورا کې ګډ کمېسیون د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په باب د جمهور رییس تقنیني فرمان تصویب کړ، نو په ولسي جرګه کې یو ځل بیا یو شمر تنګنظرو پردیپالو له دې پرېکړې سره مخالفت وښود او ان د افغان او افغانستان د تاریخي شالید په باب یې یو ډول پوښتنې او څرګندونې مطرح کړې. که څه هم د افغان او افغانستان په باب بېلابېلو تاریخپوهانو څېړنې کړې دي. خو د (۱۳۹٦ل) کال د مرغومي په وروستیو کې د هېواد یوه مسلکي تاریخپوه (څېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ) هم له تېرو څېړنو څخه یو نچوړ راویستی دی. دا نچوړ ډېر لنډ خو ډېر ګټور دی، دا دی دلته یې لوستونکو ته وړاندې کوو:

په داسې حال کې چې د (افغان) نوم (۲۵۰۰) کاله تاریخي سابقه لري او په افغانستان کې د ټولو مېشتو وروڼو قومونو مشترک او ملي هویت دی، خو په ولسي جرګه کې یو شمېر وکیلان ورسره مخالفت کوي. زما په نظر درې مهم لاملونه لري:

لومړی لامل یې دا دی چې افغان وکیلان له خپل تاریخ څخه بې خبره دي او که د خپل تاریخ له واقعیتونو خبر وای، نو زه باور لرم چې هېڅکله به یې د «افغان» له کلیمې سره په تذکرو کې مخالفت نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم لامل یې شاید دا وي چې یو شمېر وکیلان د «افغان» نوم پښتنو ته منسوبوي، نو ځکه د «افغان» له نامه سره مخالفت کوي.**

**درېیم لامل یې، کېدی شي د پردیو اشاره وي چې زموږ د ملي هویت پر وړاندې توطیې جوړې کړي. پداسې حال کې چې د «افغان» نوم د پښتنو په شمول د افغانستان د ټولو قومونو دویم او ملي نوم دی.**

**د پښتون اصلي او لومړنی نوم د ویدا په سرودونو، په تواریخ هرودت او د بطلیموس په جغرافیا کې تر میلاده مخکې ثبت او کابو (٦٠٠٠ ) کاله عمر لري. په تاریخي لحاظ پښتون تل ځانته د پښتون او پښتانه خطاب کړی او خپل قومي هویت د پښتون په نامه معرفي کوي. لوی مؤرخ (بارتولد) لیکي، چې پښتانه ځانته پښتون یا پښتانه وایي. (تذکرهٔ جغرافیای تاریخي ایران، ۱۳۰ او ۱۳۱ مخونه)**

**په تاریخونو او شجرو کې څه باندې (۴۰۰) پښتني خېلونه او قبیلې معرفي شوي دي، خو د افغان په نامه د پښتنو کومه قبیله او څانګه نه ده را پېژندل شوې. (بیلیو، د افغانستان د اتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه، ۴۴۱، ۴۵۵ مخونه) پس په اصل کې د پښتون اصلي، تاریخي او قومي هویت پښتون دی.**

**د «افغان» نوم کله او د چا له خوا پښتنو ته استعمال شو؟ دغه راز د افغانستان د نورو قومونو لپاره کله او د چا له خوا استعمال شو؟ د پښتنو لپاره د «افغان» نوم د لومړي ځل لپاره په هندي سانسکریټ تاریخي آثارو (مهاباراته ۵۰۰ ق.م. – ۴۰۰م.) او (بري هات سمهیتا ۵۰۵-۵۸۷م.) کې د پښتنو لپاره د «اسواکا»، «اسوه غانا»، «اواګانا» او «اوغانا» په شکل استعمال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوی دی. حتی تر اوسه د افغانستان نور قومونه پښتنو ته د «اوغان» اوغو» او «افغان» خطاب کوي او ریښه یې له سانسکریت څخه پیلیږي. باید ووایم چې مهاباراته هغه اریایي قبایل وو چې له پښتنو سره یو ځای یې له بلخ څخه د هند پر لوري مهاجرت وکړ.**

**د پښتنو لپاره د «افغان» نوم د دویم ځل لپاره په ساساني منابعو کې د لومړي شاپور (۲٦۰-۲۷۳م.) او درېیم شاپور (۳۰۹-۳۷۹م.) د واکمنیو پر مهال د نقش رستم په ډبرلیک کې د «ابگان «او «اپاکان» په شکل استعمال شوی دی. (کایرو، پښتانه، ۱۳۳مخ)**

**دغه راز عربي لیکوالو، مسعودي په خپل اثر (التنبیه والاشرف ۳۴۵هـ) کې او ابن اثیر په خپل اثر (تاریخ کامل ٦۲۸هـ.) کې پښتانه د «ابغان»، «اوغان» او «افغان» په نامه نومولي دي. د افغانستان په پارسي آثارو کې «حدود العالم من المشرق الی المغرب ۳۷۲هـ.» لومړنی اثر دی چې پښتانه یې د افغان په نامه را پېژندلي دي.**

**دغه راز (۸۰۰) کاله وړاندې د افغانستان نور قومونه هم د» اوغان»، «اوغاني» او «افغان» په نامه د بېلا بېلو مؤرخینو له خوا پېژندل شوي دي چې زه دلته په لنډ ډول د دغو اثارو نومونه او مخونه وړاندې کوم تر څو گران هېوادوال گټه ترې واخلي:**

**۱ – د «تاریخ نامهٔ هرات» اثر په ۱۳۱۸-۱۳۲۱م د سیفي هروي له خوا کښل شوی او د هغه وخت د کندهار اوسېدونکي یې کردیان د افغان په نامه را پېژندلي دي. (۱۹۹-۲۰۰مخونه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – د «تاریخ المظفر» اثر په دوو ټوکونو کې د محمود کتبي له خوا په ۸۲۳هـ. کې کښل شوی او د «هزاره» او» مغول» قومونه د «اوغان» او «اوغانیانو» په نامه را پېژني. (لومړی ټوک ۸۷مخ، دویم ټوک ۲۰۷مخ)

۳ – د «حبیب السیر فی الاخبار اولاد البشر» اثر په درېیم ټوک کې څو ځلې د هزاره او مغولو قومونه د((اوغاني)) په نامه راپېژني. (۲۸۳-۲۸٦، ۳۲۰مخونه)

۴ – د «تاریخ روضة الصفا) اثر په څلورم ټوک کې د مغولو قوم د «اوغان» په نامه را پېژني. (۴۷۴مخ)

۵ – عبدالرزاق سمرقندي د خپل اثر «مطلع سعدین و مجمع بحرین» په لومړي او دویم ټوک کې ترکان او مغل د ((اوغاني))، «اوغان» او «افغان» په توګه را پېژني. (۳۸۰، ۱۴۳مخونه)

٦ – حافظ ابرو د خپل اثر ((جغرافیای حافظ ابرو» په درېیم ټوک کې ترکان د «اوغاني» او د هزاره قوم د» اوغان» او «افغان» په توګه را معرفي کوي. (۱۵۱-۱۵۲، ۱۷٦-۱۷۷مخونه)

باید ووایم چې پورته تاریخي آثار د مغولو او تېموریانو د وخت لومړي لاس آثار دي چې مغول، کرد، ترک، هزاره او نور قومونه د «اوغان» او «افغان» په توګه (۸۰۰ ) کاله وړاندې مور ته را پېژني خو له بده مرغه چې یو شمېر وکیلان له دې تاریخي واقعیت څخه خبر نه دي چې د «افغان» نوم د افغانستان د ټولو قومونو یو مشترک او ملي نوم دی، نو ځکه له دغه نامه سره حساسیت ښیي او د افغانستان د اساسي قانون پر خلاف عمل او اشتباه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظفر کاخیل لیکي، چې په دیارلسمه میلادي پېړۍ کې د افغانستان د ټولو قومونو لپاره د «افغان» د نوم ویل پیل شول، پښتون ځانته پښتون او پښتانه وایي او نه «افغان»، ځکه د دوی قومي نوم او هویت پښتون دی او «افغان» د دوی یو ملي نوم او هویت ګڼل کېږي. (۸۷مخ) دغه راز امریکایي لیکوال ارنولد فلیچر لیکي، چې د «افغان» نوم په لومړي سر کې پښتنو ته استعمال شو، خو وروسته ټولو «افغان» قومونو ته غوره شو، پښتانه د((افغان)) له نامه سره د پارسي ژبې د لیکلو له لارې اشنا شول، دوی ځانته پښتون یا پښتانه وایي. (پښتانه، ۱۵مخ)

په نتیجه کې ویلی شو چې د((افغان)) نوم د افغانستان د ټولو قومونو دویم او ملي نوم دی چې له (۸۰۰ ) کاله راهیسې د افغانستان د ټولو قومونو لپاره په کار وړل شوی او د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې پر ټولو قومونو یو شان اطلاق شوی دی. هر څوک چې په تذکرو کې د «افغانیت» او «اسلامیت» له کلیمو سره مخالفت کوي په اصل کې د افغانستان له اساسي قانون څخه سرغړونه ګڼل کېږي او باید د هېواد عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د برېښنايي تذکرو د څنډ په باب د افغانستان ملي تحريک اعلاميه

**دا اعلاميه د (۲۰۱۸م) کال د فبرورۍ پر (۱۳)مه نېټه ليکل شوې او په دې کې حکومت ته لس ورځې وخت ورکړل شوی، چې د تذکرو په باب د جمهور رييس فرمان او د ملي شورا وروستۍ ګډه مصوبه عملي کړي.**

د نفوسو د احوالو د ثبت قانون چې نږدې يوه نيمه مياشت وړاندې د ملي شورا د دواړو جرګو د ګډ کمېسيون له خوا د حاضرو غړو د رايو په اتفاق تصويب او د جمهور رييس له خوا توشيح شو بايد پر همغه وخت او ان په دې اړه د جمهور رييس د فرمان له صدور سره سم عملي شوی وای. اوس په دې برخه کې يوه ورځ څه چې يوه ثانيه تاخير هم د ملت د ملي ګټو خلاف عمل دی او له ملت سره يوه ستره جفا، اوس چې دا قانون په حکومت کې او له حکومت څخه بهر د څو محدودو، جنګسالارانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردیپالو کړیو له خوا یرغمل شوی او جمهور رییس باندې د سیاسي فشار او همدارنگه د هغه د مضر احتیاط له امله له تطبیق څخه پاتې شوی دی. دا کار د اساسي قانون او نورو قوانینو پر وړاندې د جمهور رییس بې پروایي او بې تفاوتي څرگندوي .

د افغانستان ملي تحریک د یوه مدني حرکت او ملي خوځښت په توگه له جمهور رییس څخه په جدي ډول غوښتنه کوي چې ژر تر ژره د تذکرو د وېش لړۍ پیل کړي. او که دی د عطامحمد نور په شان له نورو جنگسالارانو څخه وېرېږي او تذکره نه شي اخیستلای، نو ولس ته دې لاره خلاصه کړي چې موږ له اساسي قانون سره سم خپلې تذکرې واخلو. یو جمهور رییس چې له اساسي قانون، نورو نافذه قوانینو او خپل تقنیني فرمان سره سم خپله تذکره نه شي اخیستلای، نو یوه لپه زهر دې وخوري، د مور شیدې په داسې انسان حرامې دي، چې د وطن د مور حق نه شي اداکولای. موږ جمهور رییس او د هغه ځانساتي ټیم ته لس ورځې وخت ورکوو چې که په دې بهیر کې د ملي شورا له وروستۍ پرېکړې سره سم د تذکرو د وېش لړۍ پیل نه کړي، نو د لاریونونو په گډون هره هغه وسیله چې د دې ملي داعیې لپاره زموږ په وس پوره وي. هغه به کاروو.

د ملي هویت د پیاوړتیا او د قانون د عملي کېدو په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک دارانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو احتیاطي خبر او د هېوادوالو غبرگون

د (۲۰۱۸م) کال د فبرورۍ (۱۵)مه او د (۱۳۹٦ل) کال د دلوې (۲٦)مه نېټه د ماسپښین پاو باندې دوه بجې وې، په دفتر کې د تحریک له ملگرو؛




مطیع الله ساپي، قدرت الله بدلون، شاهد الکوزي، فیاض حمید او یو شمېر نورو مېلمنو سره ناست وم چې د جمهوري ریاست د ساتونکي قطعې مشر جنرال اختر محمد ابراهیمي راته زنگ وواهه، استاده ښه یې؟ صحت دې ښه دی؟ غږ مې لږ ښه نه و، ویلې اواز دې ښه نه دی، مریض خو به نه یې؟ ما ویل نه، ښه یم، کله کله حساسیت پیداکوم، نو ځکه مې اواز توپیر کوي، هغه وویل وخت لرې یو دوه درې دقیقې خبرې لرم، ما ویل مهرباني وکړه، هغه وویل یو زېرې درته لرم، خو نشروه یې مه، ځکه چې تراوسه هېڅوک خبر نه دي، خبره داده چې نن ساعت وړاندې جمهور رییس او لومړۍ مېرمن د الکترونیکي تذکرو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بایومیترک وکړ، ان شاالله چې ژر به د تذکرو وېش پیل شي. کله چې وېش پیلېده پر هغه دې هم مخکې تر مخکې خبروم. نن که مې وخت پیداکړ تر مازیگره پورې لیدو ته دې درځم، کتاب (د ارگ ناویلې خبرې) هغه پسې هم درځم، رییس صاحب (جمهور رییس) ته به یې ورکړم، خو خدای دې وکړي چې ډېر مصروف نه شم او که مصروف شوم، نو بله ورځ درځم. د ابراهیمي صیب په دې خبره ډېر خوشاله شوم، بېرته خپل اتاق ته داخل شوم، سملاسي مې (د احتیاطي خبر) تر نامه لاندې دا لنډ خبر له خپلې فیسبوک ایډي څخه پورته کړ. راسره ناست ملگري هم ډېر خوشاله شول، هغوی هم دا خبر له خپلو ایډي گانو پورته کړ او په یو دوو ساعتونو کې په سلگونو کسانو لایکونه ورکړل.

تر ماښامه پورې گڼو دوستانو ټلېفونونه وکړل او د دې احتیاطي خبر په اورېدو یې خوښي خرگنده کړه او د نورو جزیاتو پوښتنه یې وکړه. ما وویل یو مثبت خبر دی، خو تر هغه پورې چې سل په سلو کې عملي شوی نه وي، زیات تکثیر یې ځکه په کار نه دی، چې څو ځله موږ له داسې زېري او مثبتو خبرونو سره مخامخ شوي یو، خو وروسته خبره بیا د مایوسۍ او خواشینۍ خواته لاړه شي. ماسخوتن مې په مړه خېټه ډوډۍ وخوړله، کاغذونه مې له معمول سره سم په چپرکټ کې کېښودل، تر لسو بجو ویښ وم، فیسبوک مې چک کړ، بیا راباندې د خوب



(c) ketabton.com: The Digital Library



ځپه راغلې وه. دوه بجې بیا له خوبه ویښ شوم. تشناب ته لاړم، اودس مې وکړ، نېټ مې چک کړ، ګورم چې ځینو رسنیو هم همدا خبر خپور کړی دی، پژواک خبري اژانس، سپوږمۍ راډیو، طلوع ټلوېزیون او ځینو نورو رسنیو ویلي چې جمهور رییس، لومړۍ مېرمنې او د جمهور رییس دویم مرستیال سرور دانش د نویو تذکرو د اخیستلو لپاره خپل بایومیترک بشپړ کړ او په راتلونکو دوو ورځو کې به د تذکرو وېش لړۍ پیل شي.

اکثرو هغو دوستانو چې ماسره په فیسبوک کې ملګري دي، هغوی هم دا خبر خپور کړی و. خپلې ایډي ته لاړم، (احتیاط خبر) تر زرو زیاتو کسانو لایک کړی و. په سلګونو کسانو کمنټونه لیکلي وو، ټولو خوښي ښودلې وه، ځینو دوستانو د مسینجر له لارې نور وضاحت غوښتی و، د اکبر په نامه یو ورور راته لیکلي وو چې په دې برخه کې که نور وضاحت راکړل شي، د هغه پیغام مې په دې ډول ځواب کړ چې یو مثبت احتیاطي خبر دی، خو عملي کېدو ته یې په تمه یو، هغه ژر راته خپل ځواب بېرته راولېږه، ما ویل سړی خو ویښ دی راځه په مسینجر مې ورته ټلیفون وکړ ما ویل ویښ یې ده وویل هو ویښ یم، ما ویل چېرته یې؟ ده ویل سعودي کې مسافر یم، د تذکرو وېش ته مې ډېره سودا ده، نو ځکه مې تاسو ته تکلیف درکړ، دا چې ماته دې پر دې وخت پیغام راکړ، نو ځکه مې فکر وکړ چې استاد ویښ دی، ډېر خوشاله یم چې که خدای کول د تذکرو وېش پیلېږي، له ښاغلي اکبرخان سره مې یو څه د زړه خواله وکړل، هغه هم ډېر زیات خوشاله شو، استاده په سرو مال درسره ولاړ یو، له هغه مې خدای پاماني واخیسته، قلم او کاغذ مې راواخیستل او ددغه یادښت پر لیکنه مې پیل وکړ، اوس د شپې درې بجې او (۴) دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library




دي چې دا یادښت دې ځای ته راورسېد. شپه اوښتې خو سهار شوی لا نه دی، زه زیاتره وخت د شپې تر دوه دریو بجو وروسته تر سهاره ویښ یم، لیکنې کوم او څه ناڅه مطالعه، د سهار تر لمانځه وروسته بیا یو څه خوب کوم، اته بجې پاڅېږم، (۹) بجې دفتر ته ځم او بیا خپل نور کارونه تعقیبوم. نن سهار جمعه مبارکه پیلېږي، د جمعې تر لمانځه وروسته پر (۲) بجو د برېښنایي تذکرو د وېش په اړه په سیدنورمحمدشاه مېنه کې ( د ملي پرمختګ ټولنې) یوه غونډه رابللې، موږ ته یې هم بلنه راکړې، که ژوند و، ګډون به په کې وکړو، د یادونې وړ ده چې یادې ټولنې دا غونډه درې ځلور ورځې دمخه اعلان کړې وه او له وروستنیو پرمختګونو خبر نه وو. دا پرمختګ به د هغوی زړه او ارادې ته لاپسې قوت ورکړي. که غونډه جوړه شوه جزیات به یې وروسته څرګند کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو بل بد خبر

د جمعې ورځ سهار نهه نیمې بجې دفتر ته راغلم، خپل کاغذونه مې سره منظمول، لیک ته لا وزګار شوی نه وم چې قدرت الله بدلون دفتر ته راننوت، یوه شېبه سره ناست وو، لس نیمې بجې وې، هغه خپل فیسبوک کاته د تذکرو بحث مطرح شو، بدلون وویل چې عبدالله عبدالله له خپلې ایډي د اجراییه ریاست په نامه یوه اعلامیه خپره کړې او ویلي یې دي چې د برېښنایي تذکرو وېش نور بحث ته اړتیا لري، دا یوه ملي موضوع ده، هغه د ډاکټر عبدالله عبدالله اعلامیه ماته راوښوده، دې سره بیا یوځه خواشینی شوم. زه سره له دې چې له پخوا څخه پر دې پوهېدم چې په اجراییه ریاست کې راټول ستمي او افغان ضد عناصرو له پیله افغان ضد کړنې ترسره کړې، خو خپله عبدالله عبدالله ځان ظاهراً ډېر ښه خرګنداوه. د نظار شورا دا



(c) ketabton.com: The Digital Library



خاصيت دی چې يوه ډله يې د زيات مخالفت له امله په حکومت کې ونډه واخلي او بله برخه يې له حکومته بهر د نورو امتيازاتو لپاره مخالفت ته دوام ورکړي. هم حکومت خوري هم مخالفت کوي، تېر امتيازات هضم کړي او د نورو په لټه کې شي. له مخالفته هم لاس نه اخلي او حکومت هم کار ته نه پرېږدي، اوس عبدالله عبدالله وايي چې د تذکرو موضوع ډېر بحث ته اړتيا لري. کوم بحث او څومره بحث؟ بحث هغه وخت په کار دی چې قانون موجود نه وي. کله چې قانون موجود وي، بيا خو نو د اشخاصو ترمنځ بحث څه مانا، کومه اجماع، کوم توافق؟ توافق او اجماع خو همدا قانون دی. هم د اساسي قانون او هم د نفوسو د احوالو ثبت قانون په باب پوره پوره بحث شوی، نور بحث ته څه اړتيا ده؟ او که خبره د اشخاصو او ډلو ترمنځ نظرونو ته واچول شي، نو هره موضوع به کلونه کلونه وخت وغواړي، خو بيا به هم کومه غوڅه او اتفاقي نتيجه ترې څرگنده نه شي. ان يو تنظيم هم په خپل منځ کې پر ډېروو مسايلو توافق ته نه شي رسېدلای، خپله اسلامي جمعيت يې څرگند مثال دی. د دوو مياشتو لپاره يې صلاح الدين رباني د سرپرست په توگه ټاکلی و او ويل يې چې د جمعيت تر کنگرې پورې سرپرست دی او څو مياشتو کې به کنگره دايرېږي، څلور پنځه کاله ووتل، خو د جمعيت کنگره دايره نه شوه. خپله عبدالله عبدالله د جمعيت کانديد و خو اوس يې د جمعيت ځينې غړي مني او ځينې يې نه مني. يو جمعيت تنظيم د امتيازاتو په خاطر پر څو ډلو او مشرانو وېشل شوی دی. ايا يوه ډله چې په خپل منځ کې اجماع نه شي کولای، نو بيا له هغوی څخه څنگه دا هيله وشي چې د هېواد په کچه اتفاق او اتحاد رامنځته کړي؟ دا ناممکنه خبره ده. عبدالله سره له دې چې دوه نيم کاله وړاندې له مور سره په يوه ځانگړي ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د افغان کليمې سره خپل ايډيالوژيک مخالفت رد کړی و، خو اوس يې يو ځل بيا خپل اصلي جوهر څرګند کړ. عبدالله نه يوازې د افغان له کليمې سره مشکل لري، بلکې هغه به نور مشکلات هم لري، هغه په اوسنۍ تذکره کې د قوم په ستون کې څه ليکي؟ (پښتون) که (تاجک)؟ که پښتون ليکي نو پښتانه به وايي چې ته څنګه پښتون يې چې نوم دې پښتون دی خو ګټه دې نورو ته رسېږي، تاجک به وايي چې دا دومره ځنډ دې موږ ته پرويستي وو که څنګه؟ که تاجک ليکي نو کېدی شي د پلار خطا خطاب ورته وکړي، په هر حال د عبدالله د اصليت معلومول هغه ته سخت په زيان دي. داسې ډېر کسان چې نسبونه يې معلوم نه دي هغه کوښښ کوي چې نوې تذکره ونه وېشل شي او د دوی ورک نسبونه همداسې ورک پاتې شي.

په هر حال خبرې ډېرې زياتې دي، انديښنې او خندونه هم شته، خو اوس نوی نسل ډېر هوښيار شوی، د تذکرو وېش يوه ملي پروسه ده، دا بايد د اشخاصو، ډلو او ډلګيو د غوښتنو قرباني نه شي، اوس دا مسله د قانوني پړاوونو له مخې دې حد ته رسېدلې چې نه يې ناقانونه اجراييه رييس او نه هم جمهور رييس د بيا ګرځولو حق لري. قانون بايد تطبيق شي. د هېڅ قانون تطبيق د ناقانونه خلکو خوښې ته نه پرېښودل کېږي او ناقانونه خلک هېڅکله د قانون تطبيق ته غاړه نه ږدي.

د دې ليک په بهير کې مې د جمهوري رياست د ساتونکې قطعې مشر جنرال اختر محمد ابراهيمي ته ټلېفون وکړ او د عبدالله عبدالله د اعلاميې او مخالفت په باب مې ورته وويل، هغه وويل عبدالله به خپل کار کوي، د دوی د ټولې ډلې نظر يو دی، خو جمهور رييس او کابينه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصمیم لري چې د تذکرو وېش لړۍ پیل شي، هغه ډاډ څرګند کړ چې جمهور رییس په دې مسله کې بېرته شاته نه ګرځي. دا به وخت ثابته کړي چې جمهور رییس په دې مسله کې قانون تطبیقوي او که نه بیا د جنګسالارانو غوښتنو ته تسلیمېږي؟ د دې خبرې یادول هم ضروري دي چې که جمهور رییس شاتګ وکړ، نو بیا د تذکرو د وېش لړۍ په راتلونکي کې تر دې هم له زیاتو ستونزو سره مخامخېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګونې، ابهام او هیلې

نن بیا هم یوه ستړې او ستونزمنه ورځ وه، سهار چې دفتر ته لاړم نو مثبت او منفي خبرونه دواړه را دمخه شول. پرون جمهور رییس د تذکرو د بایومیترک پیل لپاره ښه ورځ ټاکلې وه. د دلوې (۲٦)مه نېټه له افغانستانه د روسي پوځیانو د وتلو وروستۍ ورځ وه. د نجات ورځ او د ملي نجات ورځ ګڼل شوې ده. جمهور رییس پر همدې ورځ د نوې برېښنايي تذکرو لپاره خپل بایومیترک بشپړ کړ. دا ورځ کېدی شي شعوري وه او یا ناشعوري خو موږ لیکوال یې په ښه فال نیسو. کوم غمونه په تېره بیا د هویت پر سر جنجالونه چې اوس راپاتې دي، دا همغه زړي دي چې روسانو د کینې پر بنسټ کرلي وو، اوس رالوی شوي او شاخونه یې کړي دي.

که چېرې د ملي هویت تذکره په منظم ډول ووېشل شي، له ځنډ او خنډ سره مخامخ نه شي، نو د روسانو هغه کرلي زړي به هم ورو ورو وراسته شي او پدل به یې ختم شي. د سهار جریان مې تر دې دمخه لیکنه کې یو څه تشریح کړ.

دوه نیمې بجې په سیدنورمحمدشاه مېنه کې د ملي پرمختګ اجتماعي ټولنې د تذکرو د وېش په باب یوه غونډه جوړه کړې وه. غونډه کې د قران کریم تر تلاوت او ملي سرود وروسته د یادې ټولنې مشر ښاغلي قاري امید ساپي خبرې وکړې، بیا یې وروسته ماته نوبت راکړ، ما ښه زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش کړ، څه چې مې په زړه و هغه مې ټول د ټلوالې، ډاکتر عبدالله عبدالله او عطامحمد نور په ادرس چې د تذکرو مخالفت يې کړی ، وویل.

یادونه مې وکړه چې دوی وایي په دې برخه کې باید اجماع رامنځته شي، ما وویل چې دوی خپله کله په اجماع رامنځته شوي چې نورو کارونو ته اجماع پلمه کوي، ایا د جمعیت تنظیم د مشرتابه پر سر اجماع شته؟ ایا اجراییه ریاست په اجماع رامنځته شوی؟ ایا دوی نور ټول کارونه په اجماع ترسره کړي دي؟ بله اساسي خبره دا ده چې د ملي هویت پر سر اجماع شته او هغه اساسي قانون دی چې د یوې اجماع یانې لویې جرګې په ترڅ کې رامنځته شوی، ایا لویه جرګه مهمه ده که د جمعیت او نظار شورا اجماع؟ ما دلته ټول هغه قانوني دلایل وویل چې د تذکرو د وېش لپاره موجود وو.



ما پسې وروسته د وردګو ولایت د ولایتي شورا وکیل ښاغلي (شریف الله هوتک) خبرې وکړې، هغه هم د تذکرو د وېش له بهیره ملاتړ څرګند کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا (نظم) صیب او (خیرالله شینواري) خبرې وکړې، پرېکړه لیک هم ولوستل شو، ټولو د تذکرو د وېش د ژر پیل غوښتنه وکړه او تر بایومیټرک وروسته یې ژر د دې لړۍ پر عملي شروع کېدو ټینګار وکړ. غونډه ښه وه، ګڼ شمېر ځوانان ورته راغلي وو. زه (یون)، مطیع الله ساپی او قدرت الله بدلون بېرته دفتر ته لاړو. د زمبابوې پر وړاندې کرکټ هم ښه روان و، د تذکرو په باب لا هم یو نیم کس خپل مخالفت ته دوام ورکاوه. ماښام ناوخته کور ته راغلم، تر ډوډۍ او لمانځه وروسته مې فیسبوک ته مخه کړه، د یو شمېر مطرحو څېرو لکه لوی څارنوال فرید حمیدي، د مشرانو جرګې رییس فضل الهادي مسلمیار، ډاکتر اکرم خپلواک، فیض الله ذکي، فایق، حلیم فدایي، حاجي فضل کریم فضل، قیام الدین کشاف، نصیر دراني او ځینو نورو مطرحو څېرو عکسونه مې وکتل چې بایومیټرک یې تکمیل شوی و. دې کار ډېر خوند راکړ، بیا مې د بېلابېلو اشخاصو کمنټونه وکتل چې اکثره یې د تذکرو د وېش په ملاتړ وو.

مثبت کمنټونه یا نظرونه زیات وو. له دې څخه دا معلومه شوه چې له معلوم الحاله کړیو پرته د ملت د نورو اجزاوو ترمنځ تر ډېره حده اتفاق موجود دی. دې کار مې زړه یو څه ارام کړ. بیا مې د جمهوري ریاست ساتونکې قطعې مشر جنرال صیب ابراهیمي ته زنګ وواهه، ما ویل د ولس ملاتړ خو زیات دی خو چې ولسمشر د تېر په څېر بیا په شا نه شي. هغه وویل نه سړی ټینګ ولاړ دی او که په شا کېده بیا یې دا کار نه پیلوه، ما ویل دی خو دې سر له سبا واخلي، بلې ورځې ته دې نه معطلوي. ځکه ځینې ډلې غواړي بیا په دې مسله کې ستونزې راولاړې کړي، خصوصاً معلم صیب عطامحمد نور، هغه وویل د هغه غم به هم انشاالله وخوري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره یې ورته سنجولې بیا به دې زه خبر کړم. دې سره مې لږ نور هم زړه ارام شو، دا مهال مې په کندهار او ننګرهار کې د تذکرو په ملاتړ د کېدونکو غونډو خبرونه هم وکتل، نو هیله مې نوره هم پیاوړې شوه چې څه نور که خدای کول، د ولس ځوانان خپل غم خپله خوري، ملي شعور ډېر پیاوړی شوی دی، د فیسبوک صفحې هم د مخالفینو پر ځپنې ډکې دي، پخوانیو جنګسالارانو څخه یې د نه سرې زامن جوړ کړي وو. د مسینجر په ذریعه مې په داخل او بهر کې یو شمېر دوستانو ته ټلېفونونه وکړل. تر هغه وروسته مې قلم او کاغذ راواخیست او دغه یادښت مې ولیکه، اوس د شپې یوولس بجې او لس دقیقې دي چې دا یادښت تر دې ځایه راورسېده او د زمانې د یوه یادګار په توګه مې خوندي کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر بایومیتریک وروسته د ولس ملاتړ غونډې

د ځینو اشخاصو، ډلو او پردیپالو له مخالفتونو سره سره جمهور رییس، مرستیال یې سرور دانش او مېرمن یې رولا غني د (۱۳۹٦ل) د دلوې پر (۲٦) مه نېټه د هویت د تذکرو لپاره خپل بایومیتریک ترسره کړ. دا کار په هېواد کې د ولس د زیات هرکلي سبب شو او هر ځای تاییدي غونډې پیل شوې چې دلته یې د ځینو یادونه کوو:

## ننگرهار

په ننگرهار کې د برېښنایي تذکرو د ژر وېش په موخه سوله ییز لاریون وشو.

د ننگرهار ولایتي شورا یو شمېر غړو ، ځوانانو او مدني بنسټونو استازو دیو سوله ییز لاریون او مطبوعاتي کنفرانس پرمهال د برېښنایي تذکرو د ژر وېش غوښتنه وکړه او ټینگار یې وکړ که هرڅوک د دې ملي پروسې مخنیوی وکړي ولسونه او یاد بنسټونه به یې پروړاندې پراخ لاریونونه پیل کړي.

د ولایتي شورا غړي محمد اجمل عمر وایي هرڅوک ، چې په افغانستان کې اوسېږي افغان دی او د افغان نوم د افغانانو ویاړ دی.

د ولایتي شورا دغه غړی زیاتوي که هرڅوک د یادې ملې پروسې مخنیوی کوي افغان نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دغه اعتراضي او سوله ییز لاریون کې د ولایت پخواني مرستیال محمدحنیف گردیوال وویل، چې د برېښنايي تذکرو د وېش په برخه کې خنډ او ځنډ ورته د منلو وړ نه دی . د ځوانانو چارو امر مطیع الله احمدزي وویل، چې بریښنایي پېژندپاڼې یوه مهمه او ملي پروسه ده ،**




**چې په توزیع سره یې په هېواد کې ټولې شته ستونزې حل کیدای شي او ټینگار یې وکړ ، چې د ځنډ او خنډ په صورت کې به مدني فعالان او ځوانان پټه خوله پاتې نه شي .**

**دغه رار مدني فعال نوراحمد نوراني ، چې له تېرې پنجشنبې ورځې راهیسې یې دبرېښنایي تذکرو د وېش په برخه کې د ځنډ له امله د نه خوړلو اعتصاب پیل کړی و ، له ولسمشر یې مننه وکړه ، چې برېښنایي پېژندپاڼو ته یې فارم ډک کړی او له ولسونو یې غوښتنه وکړه ، چې برېښنایي پېژند پاڼې واخلي .**

**په ننگرهار کې د ویښ ځوانانو ټولنې مشر (عزیزخوړیاڼي) او څو تنو نورو گډون والو وویل، چې د نفوسو د احوالو قانون د ولسمشر له لوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



توشيح شوی او په بريښنايي پيژندپاڼو کې د اسلام او افغان کليمه د ملي شورا د ګډ پلاوي له لوري تصويب شوې ده.

د کنفرانس او لاريون ګډونوالو همدا راز له ټولو ځوانانو او ولسونو غوښتنه وکړه، د هغو اشخاصو پروړاندې ، چې ملي پروسې ننګوي او له ځنډ سره يې مخامخوي خپل غږ پورته کړي .

د سوله ييز لاريون او کنفرانس ګډون والو يو پرېکړه ليک هم خپور کړ ، چې پکې د برېښنايي پېژندپاڼو پر وېش ټينګار شوی و.

دوی ګواښ وکړ که تر دې وروسته هر څوک د برېښنايي پېژندپاڼو د توزيع په برخه کې خنډ پېښ کړي، نو په خبره يې پراخ لاريونونه به پيل او د ارګ په مخ کې به خېمې و دروي څو دا ملي پروسه پيل شي.

د يادولو وړ ده د برېښنايي پيژندپاڼو اړوند ټول تخنيکي مسايل پای ته رسېدلي ، چې تېره ورځ د ولسمشر او هېواد لومړۍ مېرمنې په ګډون يو شمېر لوړ پوړو چارواکو د برېښنايي پېژندپاڼو د ترلاسه کولو په موخه عرض پاڼې سپارلي، خو لا يې پېژندپاڼې نه دي ترلاسه کړي.

## ډنمارک

په ډنمارک کې د افغانستان ملي تحريک څانګې د مورنۍ ژبې نړيوالې ورځې په وياړ يو علمي سيمينار جوړ کړی و. په ياد سيمينار کې د مورنۍ ژبې پر ارزښت بېلابېل بهر مېشتو افغانانو خبرې وکړې او مورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library






ژبه یې د هر وګړي مسلم حق وګاڼه. د دې ترڅنګ یې د برېښنايي تذکرو د وېش غوښتنه هم وکړه. پر افغان حکومت یې غږ وکړ چې د اساسي قانون له مخې دې ټولو افغانانو ته نوې برېښنايي تذکرې ژر تر ژره ووېشي.

## کندهار

د کندهار سلګونو اوسېدونکو د یوې اعتراضیه غونډې له لارې د برېښنايي تذکرو د ژر وېش غوښتنه وکړه او په دې برخه کې یې د هر راز ځنډ مخالفت وکړ.

دغه غونډه د افغانستان د ملي تحریک د کندهار څانګې له خوا پرون مازیګر د کندهار ښار په یوه خصوصي سالون کې جوړه شوې وه چې قومي مشرانو، د ولایتي شورا غړو، مدني او ټولنیزو فعالانو او مېرمنو په کې ګډون کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډې ويناوالو په يوه خوله له حکومته وغوښتل چې د برېښنايي



تذکرو وېش دې ژر پيل کړي.

د کندهار د ولايتي شورا غړي حاجي سيد احمد سېلاب وويل، د




برېښنايي تذکرو وېش يوه ملي پروسه ده چې ټول قانوني پړاوونه يې بشپړ شوي او په دې برخه کې هېڅ قانوني خنډ او ستونزه وجود نه لري.

هغه زياته کړه، برېښنايي تذکرې د امنيت، سياسي ثبات، متوازنې پرمختيا او ټولنيز عدالت په راوستلو کې رغنده رول لري چې خنډ يې په هېڅ توګه د زغم وړ نه دی.

نوموړي له ولسمشره وغوښتل چې په دې برخه کې د هېچا فشارونو ته غاړه کې نه ږدي او د برېښنايي تذکرو وېش دې ژر تر ژره پيل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولایتي شورا بل غړي نعمت الله وفا وویل، برېښنايي تذکرې د وخت اړتیا او د ولس غوښتنه ده.

هغه دا هم وویل چې له دې ملي پروسې سره باید سیاسي چلند ونه شي او ځنډ یې د حکومت او ولس په زیان دی.

د کندهار یوه مدني فعال هم ورته څرگندونې وکړې او له ولسمشره یې وغوښتل چې د برېښنايي تذکرو د وېش په برخه کې دې د ځینو خلکو او ډلو منفي نظریو ته ځای نه ورکوي.

هغه زیاته کړه، له بده مرغه ځیني خلک چې د حکومت په اډانه کې په لوړو پوستونو کار کوي، د دې ملي پروسې د پیلېدو پر وړاندې خنډونه جوړوي.



یوه بل مدني فعال فیض محمد همدرد وویل، د برېښنايي تذکرو پر وړاندې خنډونه د ملت او هېواد پر زیان دي او ولس باید اجازه ور نه کړي چې څوک په دغه راز ملي مسایلو کې خنډونه جوړ کړي.

د غونډې برخوالو د ډیورنډ کرښې د هغې غاړې د پښتنو د حق غوښتنې له خوځښتونو هم ملاتړ اعلان کړ او ویې ویل، هېڅ راز کرښې دغه لوی ولس سره جلا کولای او وېشلای نه شي.

د یادونې ده، د کندهار امنیه قومندان هم په خپلو تازه څرگندونو کې د برېښنايي تذکرو وېش یوه ملي موضوع وبلله او له دغې ملي پروسې یې سیاسي گټه اخیستنه وغندله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندهار امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق پژواک خبري اژانس ته وویل، د برېښنایي تذکرو د وېش اړوند ټول تخنیکي مسایل لا له وړاندې حل شوي او د ځنډ لپاره یې هېڅ راز قانوني توجیه موجوده نه ده.

نوموړي د برېښنایي تذکرو پر وېش ټینګار وکړ او ویې ویل هېچا ته به اجازه ور نه کړي چې په دې برخه کې ستونزې جوړې کړي.

دغه څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې د حکومت ځینو لوړو پوړو مشرانو له تېرو څو ورځو راهیسې د بایومټریک له لارې ځانونه ثبت کړي او ټاکل شوې تر راتلونکو څو ورځو د برېښنایي تذکرو د وېش لړۍ پیل شي، خو د حکومت اجرائیه ریاست د برېښنایي پېژندپاڼو له وېش سره مخالفت کړی او د اوس لپاره یې د دې لړۍ ځنډولو غوښتنه کړې ده.

اجرائیه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله ویلي، د برېښنایي تذکرو وېش یوه ملي مسئله ده او په دې اړه دې یوه ملي اجماع رامنځته شي.

## ننګرهار

د ننګرهار او کونړ قومي مشرانو د یوې غونډې په ترڅ کې د برېښنایي پېژندپاڼو د نوملکینې د پیل شوی بهیر ملاتړ وکړ .
قومي مشرانو پر حکومت د دې ملي پروسې د چټکتیا او نورو ولایتونو ته د ژر پراختیا غږ کړی دی .
دوي وایي هر هغه څوک چې یې مخالفت کوي پردیپال دي او د لوی اکثریت پر وړاندې خنډ نه شي جوړولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ننگرهار او کونړ قومي مشران وايي د برېښنايي پېژندپاڼو د نومليکنې د بهير ملاتړي دي او هر څه ژر دې دغه لړۍ نورو ولايتونو ته هم وغځول شي.

هغوی نن  د يوې غونډې په ترڅ کې د دې ملي پروسې پر وړاندې خنډ راپورته کوونکي اشخاص پرديپال وبلل او له ولسمشر يې غوښتنه لرله چې دوی يې پوره ملاتړي دي، قانون ماتوونکي اشخاص دې وځپي.

د ننگرهار ولايتي شورا منشي ذبيح الله زمری وايي هغه خلک چې د يو شمېر قومونو په استازولۍ د پېژندپاڼو مخالفت کوي نفوذ نه لري او نه يې هم ترې قوم خبر دی، دی وايي دا کړی د نورو هېوادونو په لسمون غواړي خپل نظر پر نورو تحميل کړي.

تر هغې وروسته چې په کابل کې د پېژندپاڼو د ويش لپاره د نومليکنې بهير پيل شوی دی د هېواد په يو شمېر  ولايتونو کې يې د ملاتړ په موخه غونډې او سوله ييز لاريونونه شوي او له حکومته په کې د دغه بهير د چټکوالي غوښتنه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اتمر یو ملي جرئت

نن (۱۳۹٦ل) کال د دلوې (۲۸)مه نېټه د شنبې ورځ په ارګ ماڼۍ کې د شوروي پوځونو د ماتې ورځ ونمانځل شوه، دا ځل د معمول خلاف د هغو کسانو یادونه او نمانځنه ونه شوه چې نه یوازې په جهاد کې یې اساسي ونډه نه وه اخیستې، بلکې د جهاد په ګرمو شېبو کې یې له روسانو سره اوربند او پروتوکولونه وکړل، د جهاد پر ځای وروسته د فساد پر اصلي وسیلو بدل شول. نن په لومړي کتار کې هغه کس هم ناست و چې په جهاد کې یې تنظیم تر نورو ټولو تنظیمونو اساسي نقش درلود. روسانو تر



هرچا زیات له حکمتیاره ډېر شکایت کاوه او نن د شوروي اصلي مخالف پر همغه کرسۍ ناست و چې مستحق یې و. نن چا د جعلي اتلانو نومونه وانه خیستل او نه روسپلوه ډلو ته د جعلي اتلانو د ځلولو چانس و، روسپلوه ډلې د روس دښمنه ډلو په توګه نه تمثیلېدې. د غونډې دا جریان چې چا لیدلی وي او بیا یې له تېر اوولس کلن بهیر سره پرتله کړی وي، هغه یې پر توپیر او ژورتیاوو ښه پوهېږي. د دې غونډې د خبرو محتوا څرګنده وه، عبدالله عبدالله یو ځل بیا د یو متعصب تنظیم له زاویې څخه خپل نظر او کرکټر څرګند کړ. قانونپوه سروردانش د اساسي قانون د منطق بحث وړاندې کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضل الهادي مسلميار غوڅه خبره وکړه چې قانون بايد د اشخاصو د تعبير او تفسير تابع نه شي، جمهور رييس غني هم د بلې هرې ورځې په انډول سپينه خبره وکړه، جهاد يې د ملي وحدت سمبول وګاڼه او ستر ملي، اسلامي او افغاني ارزښت او ويې ويل هرڅوک چې د افغانيت او اسلاميت له دايرې وځي، دلته يې ځای نه شته. د غني د خبرو پيغام دا و چې ملت په مشوره نه رامنځته کېږي، دلته ملت موجود و، اوس نه دی رامنځته شوی، د دې خبرو مانا او محتوا ستمي او جمعيتي عناصرو ته څرګنده وه. خدای حاضر دی د ننني غونډې کميت او کيفيت، مانا او محتوا ماته ځانګړی خوند راکړ. ورځ مې ټوله پر سرګردانۍ او د دوکتورا پروګرام د نهايي دفاع پر کارونو تېره شوه، د شپې ناوخته کور ته راغلم، لس بجې شاوخوا کې مې ښاغلي حنيف اتمر ته په دې خاطر زنګ وواهه چې نن يې د تذکرې لپاره خپل بايوميترک چک بشپړ کړی و. کله چې مې د حنيف اتمر عکسونه په فيسبوک وکتل، نو زړه مې ډاډه شو چې څه که خدای کول کار نتيجه ورکوي. اتمر صيب سره مې د تذکرو پر سر په تېرو درېو کلونو کې تر (۳۰) څله زيات ملاقاتونه، ټلېفوني خبرې اترې، مستقيم او نامستقيم بحثونه کړي دي، دا بحثونه کله دومره ترخه شوي چې تر نورمال حالته وتي، ان د کليمو تريخوالی يې هم تر کنټروله وتی. زما احساس او منطق ډېر تېز و، خو د ده اوسېله او سياسي تدبير. زما په زړه کې اور و او د ده په مخ کې سياسي مجبوريتونه، ما د ستميانو د نظرياتو عمق ته کتل او ده د هغوی لباسي بڼې ته، خو په هر ترتيب د نظرياتو اختلاف که هرڅومره زيات وو، خو ارتباطات مو نه قطع کول. که زه دلته د ټولو هغو ټلېفونونو، مخامخ کتنو، پيغامونو او نظرونو جزيات راوړم، کېدی شي يو بل کتاب ترې جوړ شي. خو د حنيف اتمر پر وړاندې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوصه هغه وخت سړه شوه چې کله د دوی په هڅو د کابینې په مجلس کې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون تعدیل شو او جمهور رییس د یوه فرمان په ترڅ کې هغه نافذ کړ. اتمر صیب ماته زنګ وواهه چې نن ماښام به شش درک کې د امنیت شورا دفتر مېلمستون کې ځان ته سره وګورو، له وعدې سره سم لاړم. دوه په دوه وو. تر روغبړ وروسته یې راته وویل، ډېره مبارزه دې وکړه، له ډېر تدبیره دې کار واخیست. ډېره اوسېله دې وکړه، ستړی نه شوې، هرچا درپسې هر ډول خبرې وکړې، ډېر ښه مدیریت دې وکړ، د دومره لویې موضوع، د دومره مظاهرو او دومره ولس کنټرول په داسې شرایطو کې اسانه کار نه و، موږ هم یوازې پرېښودې، موږ د مسلې دومره عمق ته متوجه نه وو چې دا خلک به له دومره تعصب څخه کار اخلي، دوی واقعاً د دې ملت له هویت او ارزښتونو سره مخالف دي. اوس چې خبره دې حد ته ورسېده، نو جمهور رییس ورته په ټېنګه ولاړ دی، یو سانتي هم نه شاته کېږي او وايي چې که پاچاهي مې پرې ځي، ترېنه تېر یم، د کابینې تر مجلس یوه ورځ دمخه عبدالله راغی او ورته یې وویل چې که د تذکرو مسله کې خپل نظر بدل نه کړئ، نو موږ له حکومته وځو او حکومت ړنګوو. جمهور رییس ورته وویل تراوسه خو ما نه غوښتل چې حکومت دې ړنګ شي او یا دې تاسو له حکومته ووځئ، خو اوس یې زه په همدې خبره ړنګوم، که تاسې وځئ که یاستئ زه له دې موضوع څخه تېرېدونکی نه یم. ته مې ځکه راوغوښتلې چې درته ووایم جمهور رییس په دې مسله کې ډېر جدي دی، د هغه پر نیت باید شک ونه کړئ، ما هېڅ فکر نه کاوه چې عبدالله دې په داسې مرضونو ککړ وي. ما ورته وویل چې ما مخکې درته وویل چې دا خلک ټول یو دي، له تعصب او کینې ډک دي، دا ټول ستمیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، هسې يې ځان باندې د مسلمان او مجاهد ماسک لګولای دی. اتمر صیب وویل، په تېرو دوه دوه نیمو کلونو کې چې دې کومې ستونزې ګاللي او له ما څخه طبعاً خفه شوی يې، زه اوس دوه خبرې کوم، یو خو درڅخه د زړه له کومي تشکر کوم چې سختې ملي فاجعې ته متوجه شوی وې چې زموږ پرې سره نه خلاصېده او ډېره ښه دې مدیریت کړه او دویم درڅخه ښبنه غواړم چې له ما څخه خوابدی شوی او خفه شوی نه يې، ځکه چې ستا او زما ترمنځ ډېرې تېزې خبرې سره تبادله شوې دي، هم په ټلېفون کې هم په مجلسونو کې. نو اوس دې خپلو ملګرو ته ډاډ ورکړه چې موږ مو تر شا ولاړ یو، زموږ د حکومت هغه برخه چې موږ سره ده.

د اتمر صیب دې مجلس زما زړه ته قوت ورکړ او هغه ستړیا مې تر یوه حده ووته چې تر دې دمه مو ګاللې وه، تر هغې وروسته هم تر کال زیاته موده ووته، بیا هم خبره همغه شان پاتې شوه او فرمان تطبیق نه شو. بیا مې هم څو ځله اتمر صیب ته په ټینګه یادونه وکړه، خو اکثره په نن او سبا کې خبره تاوېدله. تر څو چې خبره یو ځل بیا ولسي جرګې ته ورسېدله، ولسي جرګې له جمهور رییس سره د ځینو وکیلانو د حساسیت، د ځینو د بې تفاوتۍ او د ستمي کړیو د مهارت په وجه د جمهور رییس فرمان رد کړ، بیا مو پر مظاهرو لاس پورې کړ. مشرانو جرګې د ولس غوښتنه ومنله او په پای کې مشترک کمېسیون د رایو په اتفاق د اساسي قانون له روحیې سره سم د جمهور رییس تقنیني فرمان تایید او تصویب کړ.

د دې ستونزې قانوني سیر بشپړ شو او جمهور رییس باید ژر عملي کړی وای. دې کې بیا نږدې یوه میاشت تېره شوه. ستمي کړیو خپل وروستی زور وازمویه خو په پای کې خبره دې ته ورسېده چې جمهور رییس او د حکومت نور غړي بایومیتریک وکړي. د اتمر صیب په دې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ده خپل بایومیترک وکړ، خوشاله شوم او دا کار د دې سبب شو چې دا پورته لیکنه رامنځته شي. د شپې لس بجې مې اتمر صیب ته زنګ وواهه، ښه و، ټلېفون یې پورته کړ، خوشاله ښکارېده، ژر یې وویل چېرته یې چې اوس دې په ټلېفون هم نه شو پیداکولای، کتاب خو دې راونه لېږه، (د ارګ ناویلې خبرې). ما ویل درلېږلی مې دی، زه به یې بیا هم تعقیب کړم. ما ویل څنګه دي حالات ښه روان دي، ته څنګه یې؟ د تذکرو مشکل به څنګه شي؟ کله به یې عملاً واخلئ، ده وویل زه خو یې همدا نن هم اخلم خو چې څوک یې راکړي. بیا یې وویل درې اوونۍ نور وخت هم راکړئ، مشکل به حل شي، ما ویل جمهور رییس، تاسو او څو تنه یې ژر واخلئ نور خو د کرارې کار دی، څومره چې یې معطلوئ مشکل زیاتېږي. ما دا هم وویل که وخت لرې چې له نږدې پرې خبرې وکړو. ده وویل دوه درې ورځو کې یو سفر لرم چې راغلم، کېنو، پر ټولو مسایلو به بحث وکړو. اوس نو درې اوونۍ نور وخت کې سړی نه شي ویلای چې څه به وشي، خو اتمر صیب تر پخوا ډېر مصمم او خوشاله ښکارېده، په ټلېفون کې یې هم د پخوا په انډول په زغرده خبرې کولې، زه هم څه ناڅه د ده روحیاتو ته خوشاله شوم او دغه لیک مې ولیکه اوس د شپې پاو باندې یوولس بجې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د برېښنايي تذکرو په باب نظر پوښتنه

کله چې د تذکرو د وېش د بایومیترک یا نوملیکنې چارو دوام درلود، نو ګڼ شمېر رسنیو او ځینو اشخاصو هڅه وکړه، چې په دې برخه کې د فیسبوک او ځینو نورو رسنیو له لارې نظر پوښتنه وکړي. که څه هم دا نظر پوښتنې پر علمي او اصولي اساساتو ولاړې نه وې، غرضي هم په کې وې، خو په اکثریت سره د ټولو نتیجه دا وه چې افغانان له خپل ملي هویت سره زیاته مینه لري او له ځینو محدودو کړیو پرته نور ټول پر دې ټینګار کوي چې د ملي هویت په تذکره کې دې د (افغان) او (اسلام) دواړه کلیمې ولیکل شي.

پژواک خبري اژانس دې ډول نظر پوښتنو ته یوه کتنه کړې چې دلته یې لنډیز وړاندې کوو:

کابل (پژواک، د ۱۳۹٦ل کال د کب ۵مه): په انلاین بڼه د ځینو رسنیو د نظرپوښتنو د ګډونوالو رایې ښیي چې په منځنۍ کچه له هرو پنځو تنو څلور تنه افغانان د برېښنايي تذکرو د وېش له اوسني بهیر سره موافق دي.

د نفوسو د احوالو د ثبت قانون مسوده پر (۱۳۹۲ل) کال د ملي شورا له خوا تصویب او پر (۱۳۹۳ل) کال د ولسمشر له خوا توشیح شوه، خو اعتراض کوونکي په تذکرو کې د اسلام او افغان کلیمو د لیکلو غوښتونکي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تېر کال په کب میاشت کې ددغه قانون شپږمه ماده د ولسمشر په تقنیني فرمان سره تعدیل شوه او د تصویب لپاره ملي شورا ته واستول شوه.**

**په دغه ماده کې په تذکرو کې پر اسلام سربېره، د تذکرې اخیستونکو ملت(افغان) او قوم( پښتون، تاجک، هزاره، ازبک او په هېواد کې مېشت نور قومونه) لیکل هم په پام کې نیول شوي دي.**

**دغه فرمان د ولسي جرگې له خوا رد او د مشرانو جرگې له خوا تایید شو، خو د ملي شورا د دواړو جرگو گډ پلاوي د مشرانو جرگې پرېکړه تایید کړه او پر همدې بنسټ د روان کال د سلواغې پر (۲٦)مه د برېښنایي تذکرو د وېشلو بهیر په داسې حال کې پیل شو چې د حکومت د اجراییه رییس په گډون ځینو له دې کار سره مخالفت وکړ.**

**په وروستیو ورځو کې د امریکا غږ، "هشت صبح" ورځپاڼې، پژواک خبري اژانس او سلام وطندار په څېر رسنیو په دې اړه د انټرنیټي پاڼو له لارې انلاین نظر پوښتنه ترسره کړې ده.**

**هشت صبح او سلام وطندار پوښتنه کړې چې ایا په برېښنایي تذکرو کې د افغان کلیمې له لیکلو سره موافق یئ؟، امریکا غږ داسې پوښتنه مطرح کړې چې ایا نوې تذکرې ووېشل شي او که نه؟ پژواک پوښتنه کړې چې ایا برېښنایي تذکرې اخلئ او که نه؟**

**د هشت صبح، سلام وطندار او پژواک پر ټولو پاڼو نن تر غرمې مخکې پورې (۱٦۷) تنو دې پوښتنې ته ځواب ورکړی او د مثبت او منفي ځواب سلنه یې هم مشخصه شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د امریکا غږ نظر پوښتنې په پاڼه کې د هغو کسانو شمېر نه لیدل کېږي چې ځواب یې ورکړی، خو په دې پاڼه کې د رایې ورکوونکو مثبت اومنفي سلنه مشخصه شوې ده.**

**ثبت شوې شمېرې د دې ښودنه کوي چې په منځنۍ کچه د تذکرو د وېش له اوسني بهیر سره د مخالفو کسانو سلنه ټیټه ده.**

**د سلام وطندار نظر پوښتنې د تبصرو په برخه کې د (کوچي اسلمي) په نامه یوه کس لیکلي:" د اساسي قانون له ۴مې مادې سره سم چې د قوانینو مور ده باید برېښنایي تذکرې ووېشل شي".**

**د هېواد د اساسي قانون په څلورمه ماده کې راغلي:" په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې یې په مستقیم ډول خپله یا یې د خپلو استازو له لارې عملي کوي. د افغانستان ملت له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعیت ولري، عبارت دی.د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک،ترکمن، بلوڅ، پشه یي، نورستاني،ایماق، عرب، قرغیز، قزلباش، گوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ دی. په تابعیت او پناه ورکولو پورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي. د افغانستان کلمه د افغان ملـت پر هر فرد اطلاق کېږي"**

**اسلمي هم د افغان کلیمه په هېواد کې د ټولو مېشتو قومونو د ملي یووالي سمبول او د افغانستان د خلکو د پلرونو او نیکونو ویاړ بللی او لیکلي یې دي:" هیله لرم چې دغه تاریخي ویاړ خوندي او په تذکره کې د افغان کلیمه ولیکل شي" .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز د پژواک د نظر پوښتنې په پای کې د اجمل احمدي په نامه یوه کس لیکلي:" هو سل په سلو کې برېښنايي تذکره اخلم، زه یو تاجک یم، خو پر خپل افغان هویت ویاړم. مړه دې وي د افغانستان دښمنان او پلورل شوي ډالر پرستان".

د فېسبوک کارکوونکی امید اعتمادي د برېښنايي تذکرې د وېش پروسه کې د افغان کلیمې له یادونې سره مخالفت لري او لیکي:((ټول خلک برېښنايي تذکره غواړي، خو په خپل هویت سره. افغان د یوه قوم هویت دی، موږ داسې تذکره نه غواړو چې زموږ هویت کې یې جعل کړی وي)).

احمد ذکي افشار د هشت صبح د پوښتنې په ځواب کې چې ایا په برېښنايي تذکره کې د افغان کلیمې له درج سره موافق یاست؟ لیکلي:((نه، د افغان لیکلو لپاره دلیل نشته، خو که چېرته د همدې یوې کلیمې په لیکلو سره امنیت ټینګېږي، نو پسه هم راته ولیکئ، زه ورسره موافق یم".

خو د محمد نادر افغان په نامه یو کس په دې اړه د شته نظري اختلافاتو او د ځینو کسانو د بدو خبرو په اړه لیکلي دي:((له احمقانه خبرو څه نه جوړېږي، د خلکو په منځ کې هېڅ ستونزه نشته، یوازې څو احمقان او بې شعوره کسان دي چې د دې کارونو تر شا غیر انساني او غیر اسلامي شعارونه په متعصبانه بڼه وړاندې کوي، لطفاً د خلکو ترمنځ له کرکې اچونې ډډه وکړئ که نه په دې اور کې به لومړی خپله تاسې وسوزېږئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانستان د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې تخنیکي مرستیال (محمد ویس پایاب) وایي، تر کومه چې دا اداره کارونه مخته وړي، د خلکو په منځ کې ستونزه نشته، ستونزه یوازې د سیاستوالو ترمنځ ده.**

**هغه د هېواد له سیاستوالو وغوښتل چې ډېر ژر دې په دې برخه کې خپل اختلافات پای ته ورسوي.**

**د نوموړي په خبره، تر اوسه پورې شاوخوا (۵۵۰) لوړپوړي دولتي چارواکي د برېښنايي تذکرې د اخیستلو پروسه کې بایومټریک شوي چې د روان کال د سلواغې له (۲۷)مې نېټې نه یوازې په ارګ کې دوام لري.**

**د پایاب په خبره ، د نفوسو د احوالو د ثبت اداره به د ولسمشر تر لارښوونې وروسته د برېښنايي تذکرو وېش پیل کړي.**

**نوموړي د څلورو رسنیو د نظرپوښتنو د پایلو په اړه وویل:((د یوې تخنیکي ادارې په توګه زموږ مسوولیت دادی چې د تذکرې د ثبت او راجسترېشن لپاره زمینه مساعده کړو، اکثره خلک له کلونو راهیسې د برېښنايي تذکرو وېش ته انتظار وو... په همدې سبب فکر کوم چې د فېسبوک له لارې د تر سره شوې نظر پوښتنې منځنۍ پایله به حقیقت ته نږدې وي.))**

**پژواک هڅه وکړه چې ددغې نظر پوښتنې د څرنګوالي په اړه د افغانستان د احصایې مرکزې ادارې سره هم خبرې وکړي، خو ځواب یې تر لاسه نه کړ. پر یادو نظر پوښتنو سربېره یو شمېر نورو اشخاصو هم د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو شخصي فیسبوکپاڼو او اکونټونو له لارې نظرپوښتنې ترسره کړې وې، په دې نظر پوښتنو کې د ملتپالو او هویتپالو افغانانو د تایید نتیجه تر نوي سلنې پورته وه، د دې ترڅنګ هغو کسانو چې نه یې غوښتل افغان کلیمه په تذکرو کې ولیکل شي، هغوی هم نظر پوښتنې وکړې. د دې ډول اشخاصو له ځاني هڅو، کینو، تعصب او نظر پوښتنې ته له مسیر ورکولو سره سره بیا هم دوی په دې بریالي نه شول چې د ملي هویت د مخالفینو شمېر تر پنځه لس سلنې زیات کړي او که چېرې دا نظر پوښتنې د دوی په ګټه وای، نو بیا یې ترې غوغا جوړوله، خو کله چې د دوی له خوا د دوی خپلې نظرپوښتنې د دوی د توقع خلاف تمامې شوې، نو بیا حیران وو چې څه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بغلان کې د تذکرو د وېش ولسي ملاتړ

د برېښنايي تذکرو لپاره په ارګ کې تر بايوميترک وروسته، نظر پوښتنې هم وشوې يو شمېر اشخاصو مخالفتونه هم وکړل او د دې ترڅنګ د ولس له خوا ملاتړ غونډې هم دوام لري. په دې باب بغلان کې هم ملاتړ غونډه وشوه.

د بغلان يو شمېر اوسېدونکي په دې ولايت کې دبريښنايي پيژندپاڼو د ژر تر ژره پيل غوښتونکي دي دوی وايي دافغانيت او اسلاميت په ليکلو سره دې ورته تذکرې وويشل او هغه کسان چې د دې پروسې پروړاندې خنډونه جوړوي خپلو شخصي موخو ته د رسېدو لپاره ورته کړنې ترسره کوي.

په همدې حال کې د بغلان دولايتی شورا غړي وايي چې د بريښنايي



(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکرو په ویش سره به له ناامنه سیمونه هم خلک دې ته زړه ښه کړي ترڅو پیژندپاڼې ترلاسه کړي .

د بغلان ولایت اوسېدونکي د برېښنایي پېژندپاڼو د ژر تر ژره پیل ترځنګ په دې پېژندپاڼو کې د افغان او اسلام کلیمو پر لیکلو ټینګار کوي او وایي هغه کسان چې د دې ملي پروسې پر وړاندې خنډونه جوړوي افغانان نه دي.

په همدې حال کې د بغلان د ولایتي شورا غړي یادې پیژندپاڼې د ښې حکومتولۍ او رڼو ټاکنو لپاره ګټورې بولي او ډاډ ورکوي که دغه ملي پروسه په دغه ولایت کې پیل شي له ټولو نا امنه سیمو نه به د پېژندپاڼو د ترلاسه کولو لپاره خلک ورته راشي

برېښنایي پېژندپاڼو کې د افغان او اسلام کلیمې پر سر ناندریو دې پروسې ته زیات خنډونه جوړکړل چې اوس یوه اوونۍ کیږي د دې پیژندپاڼو لپاره د نوملیکنې لړۍ له ولسمشرۍ ماڼۍ څخه پیل شوې.

شنونکي په دې باور دي چې له برېښنایي پېژندپاڼو پرته په هېواد کې راتلونکې ټاکنې ناممکنې دي او د دې تذکرو وېش د درغلیو په مخنیوي کې ګټور ګام بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پکتیا کې ملاتړ غونډه

**حکومت دې د برېښنايي پېژندپاڼو وېش پيل شوې لړۍ د ارگ له دېوالونو د باندې وغځوي.**

**د پکتيا زرمت ولسوالۍ قومي مخور او ځوانان د برېښنايي پېژندپاڼو وېش لړۍ څخه ملاتړ څرگندولو سره پر حکومت غږ وکړ چې ياد بهير دې ولايتونو او ولسواليو کې هم پيل کړي.**



**قومي مخور ملي مسايلو کې مصلحت او جوړجاړی د منلو وړ نه بولي، په وينا يې هغه څوک چې د برېښنايي پېژندپاڼو مخه نيسي، ولسونه به يې پر وړاندې ودرېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ دا قومي مخور، فعالان او ځوانان د یوې راټولېدنې پرمهال له حکومت څخه غواړي چې خپل مسوولیت ادا او د برېښنایي پېژندپاڼو وېش لړۍ دې ولایتونو او ولسوالیو ته هم وغځوي.**

**د قومي مخورو په وینا محدودې کړۍ د قوم استازولي نه شي کولای، هغه چې د مخالفت له لارې دا بهیر ټکنی کوي، د ایران او پاکستان جاسوسان دي.**

**قومي مشران او فعالان ټینګار کوي، چې اسلامیت او افغانیت باندې د ټول ملت اجماع شوې، په اړه یې هېڅ ډول مصلحت او جوړجاړې ته اړتیا نه شته.**

**د پکتیا د زرمت ولسوالۍ قومي مخور او ځوانان ملي هویت حیاتي مسله ګڼي، چې په هېڅ قیمت به ترې تېر نه شي او نه به یې په اړه سیاسي مصلحت ته اجازه ور کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چهار اسیاب د ولسونو ملاتړ

**له افغانیت او اسلامیت پرته پېژندپاڼو وېش ته به اجازه ور نه کړو. د چهار اسیاب ولسوالۍ اوسېدونکو د یوه سوله ییز لاریون پر مهال وویل؛**



**چې د برېښنایي پېژندپاڼو لړۍ دې ژر تر ژره له ارګ څخه د باندي هم پیل شي.**

**لاریون کوونکي زیاتوي؛ چې له افغانیت او اسلامیت پرته پېژندپاڼې ورته دمنلو نه دي او هغه څوک چې له دې ستون سره مخالفت کوي، افغانان نه دي.**

**لاریون کوونکي وایې؛ چې حکومت باید د برېښنایي پېژندپاڼو وېش د ارګ له دېوالو څخه د باندي هم پیل کړي، لاریون کوونکي زیاتوي؛ له افغانیت او اسلامیت پرته پېژند پاڼې ورته د منلو وړ نه دي او د وېش اجازه به ورنه کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاریون کوونکو هغه کسان او کړۍ ملي خاینین او پردیپال وبلل چې د برېښنايې پېژندپاڼو له وېش سره مخالفت کوي، دوی غوښتنه کوي چې نفاق اچونکي باید د قانون منګولو ته وسپارل شي.**

**په همدې حال کې لاریون کوونکو پر حکومت غږ وکړ چې د هغو کسانو پر وړاندې دې په کلکه ودرېږي چې د برېښنايې پېژندپانو د وېش پر وړاندي خنډونه را پورته کوي.**

**لاریون کوونکو ګواښ وکړ چې افغانیت يې ملي هویت دی او چاته به اجازه ور نه کړي چې پر هویت يې لوبې وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل مېشتي لغماني هوتخېل او ملي هویت

افغان حکومت دې د پېژندپاڼو د وېش لړې ژر تر ژره پیل کړي: په کابل کې د لغمان د هوتخیلو شورا غړو او قومي مشرانو په یوه خوله د هویت د تذکرو ملاتړ وکړ او د هغو د ژر پیل غوښتنه یې وکړه.

پر ورته مهال دوی له افغان حکومت څخه وغوښتل چې یاد بهیر



ګړندی کړي او دا لړۍ ولایتونو ته هم وغځوي.

د دوی په وینا هغه څوک چې د برېښنایي پېژند پاڼو د وېش پر وړاندې مخالفت کوي باید مخه یې ونیول شي او وځپل شي.

نن په کابل کې د لغمان کرغیو هوتخېلو شورا په پرانیست غونډه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو شمېر قومي مشرانو مدني فعالانو او ځوانانو ګډون درلود.**

**د یادې غونډې ګډونوالو په یوه خوله د هویت د تذکرو ملاتړ او د هغو د ژر پیل غوښتنه وکړه.**

**د غونډې برخوالو له افغان حکومت څخه په جدی توګه د تذکرو د وېش غوښتنه وکړه، او هغه کسان یې پردېپال یاد کړل چې د یاد ملي بهیر مخالفت کوي.**

**د یادې شورا غړو ګواښ وکړ که دا ملي بهیر ژر تر ژره د ارګ له دروازو څخه بهر نه شي، نو پر وړاندې به یې مدني حرکتونو ته ادامه ورکړي.**

**دا په داسې حال کې ده چې شاوخوا لس ورځې وړاندې یو شمېر دولتي او حکومتي چارواکو د پېژندپاڼو اخیستو لپاره په ارګ کې نوملیکنې کړې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل کې د بېلابېلو قومونو غونډه

په برېښنايي تذکرو کې دې د ملت ترڅنګ د ټولو قومونو هويت وليکل شي.

په کابل کې د مغولو، غوريانو، ساداتو، تيموريانو، قرلق، خليلي، بيات او يو شمېر قومونو مشرانو په برېښنايي تذکرو کې د خپلو قومي هويتونو پر ليکلو ټينګار وکړ.



د دې قومونو مشرانو په يوې خبري غونډې کې له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د نورو قومونو ترڅنګ دې د دوی قومي هويت هم د تذکرې پر لومړي مخ د ملي هويت ترڅنګ ذکر شي.

د يادو قومونو استازو وويل چې ځينې کړۍ هڅې کوي تر څو د دوی قومي هويت په نورو قومونو کې مدغم کړي، خو ګواښ يې وکړ که د دوی قومي هويت ذکر نه شي، پر لويو لاريونونو به لاس پورې کړي.

په کابل کې د ساداتو، خليلي، قرلق، بيات، تيموري، مغول، غـوري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یو شمېر نورو قومونو استازي په دې موخه راټول شوي چې په برېښنایي پېژندپاڼو کې دې د لویو قومونو په لیکلو سره واړه قومونه نه مدغم کېږي**




**او باید ټولو قومونو ته پکې په یوه سترگه وکتل شي.**

**قومي مشرانو په برېښنایي تذکرو کې د ملت (افغان) ستون ترخنگ د خپلو قومي هویتونو پر لیکلو ټینگار وکړ.**

**قومي مشران وایي، په برېښنایي پېژندپاڼو کې د افغان او قوم کلیمې لیکل ورته انسان ته د اکسیجن د ورکړې په مانا دي او پرته له هغه به تذکرې وانخلي.**

**په هېواد کې په داسې حال کې د بېلابېلو قومونو مشران په برېښنایي پېژندپاڼو کې د افغان او قوم کلیمو د لیکلو غوښتنه کوي چې دمگړۍ د تذکرو د وېش لپاره د بایومیټریک لړۍ روانه ده، چې تر دې مهاله د ولسمشرمحمد اشرف غني او لومړۍ مېرمنې (بي بي گل رولا غني) په گډون لسگونه لوړپوړي چارواکي بایومیټریک شوي چې د وېش لړۍ به یې هم ژر پیل شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدني حرکتونو ملاتړ غونډه

د برېښنايي تذکرو د نوملیکنې له پیل شوې لړۍ څخه د ملاتړ غونډې په ترڅ کې د افغان سمون ټولنې په نوښت د برېښنايي پېژندپاڼو د ژر تر ژره وېش په ملاتړ د قومي شوراګانو او مدني ټولنو ګډ مطبوعاتي کانفرانس



تر سره شو، چې په کې د هزاره ګانو، پښتنو، تاجکو، سکانو، ازبکو، پشه يي، نورستاني، ایماقو، ګوجرو، پامیریانو، قرغېزو او نورو ټبرونو استازو هر یوه محمد ابراهیم ابراهیمي، منجیت سېنګ، ډاکتر زمان الدین نجات، عبدالله شجاع، عزت الله پېژند، استاد عارف نورستاني، حاجي امیر شاه، انجینر راز محمد، شریف الله ملیار، هدایت الله سهیل، محمد سجاد فولادي، عبدالخالق حسیني پشه يي، محمد خالد حاجي زاده، داود شاه نیازی، انجینر ذکیه وردګ، راحله جعفري، مشعله حیدریان او حمیده وردګ په ګډه پر ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رییس عبدالله عبدالله غږ وکړ چې نور ولس په تمه نه شي پاتې کېدی او ژر تر ژره دې د برېښنايي پېژندپاڼو پروسه له ارګ څخه د کابل ښار عامه مرکزونو ته را وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوی همدا راز پر بایومتریک سربېره د تذکرو پر عملي وېش او ورکړه هم ټینګار وکړ او د غونډې په پای کې یې لاندینۍ اعلامیه خپره کړه:**

**د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش پروسې د پیلېدو په اړه د قومي شوراګانو، مدني ټولنو او د سیاسي احزابو ګډه اعلامیه:**

**د کب ۱۳مه،۱۳۹٦ل کال**

**د برېښنایي تذکرو د وېش ژر پیل د هېواد پر دښمنانو کلک ګوزار دی؛ موږ پر خپل افغانیت او اسلامیت ویاړو او هر هغه څوک چې له دغو ویاړلو کلیمو سره مخالفت کوي، د هېواد له اساسي قانون څخه سرغړوونکي یې بولو. موږ د بېلابېلو ولایتونو د قومي شوراګانو او مدني ټولنو او سیاسي احزابو غړي په یو غږ د تذکرو د وېش پروسې د پیلېدو ملاتړ کوو او له اړوندې ادارې غواړو چې د هغو کسانو لپاره دې ژر تر ژره تذکرې چاپ کړي چې د نوم لیکنې پروسه یې بشپړه شوې ده.**

**موږ پر ولسمشر محمد اشرف غني او اجرائیه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله غږ کوو چې نور دې ولس په انتظار کې نه پرېږدي، د خلکو غوښتنې دې ومني او ولسمشر دې له خپل قانوني صلاحیته کار واخلي؛ د تذکرو د وېش ځانګړې ادارې ته دې لارښوونه وکړي چې د پیل په توګه دې د کابل ښار په څلورو زونونو کې د تذکرو د وېش لړۍ پیل کړي.**

**د تابعیت الکترونیکي تذکرې د برېښنایي حکومتولۍ، ملي او سیاسي ثبات، رښو ټاکنو د تضمین، د نفوسو کره شمېر څرګندېدو، روغتیایي بیمې، لایسنس او د جرایمو په تشخیص او کمولو کې خورا بنسټیز رول لري او چې څومره ځنډېږي، هومره هېوادوال له خپل حقه بې برخې پاتې کېږي.**

**د تذکرې لرل د هر افغان حق دی، موږ نه غواړو چې زموږ حقونه د یو شمېر مغرضه سیاستوالو د سیاسي لوبو قرباني شي. که چېرې له ارګه بهر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ژر تر ژره د تذکرې د وېش مرکزونه خلاص نه شي، نو موږ به د ارگ مخې ته اعتصاب وکړو او تر هغه به خپل مدني اعتراض ته دوام ورکړو چې له ارگ څخه د باندې د تذکرو د وېش مرکزونه نه وي جوړ شوي.

د تذکرو د وېش بهیر پیل د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د سترو غونډو په ترڅ کې له تود هرکلي سره مخ شوی او خلک یې د اخیستو تږي دي، نو حکومت دې د دغه بهیر په پراخېدو او چټکولو سره افغانانو ته د تذکرو د ورکړې اسانتیا برابره کړي چې په لومړي ځل د یوې معیاري او منل شوې پېژندپاڼې خاوندان شي.

افغانستان زموږ هېواد او افغانیت زموږ ویاړلې پېژندگلوي ده، پښتانه، تاجکان، ازبکان، هزاره گان، ترکمنان، بلوڅان، پشه یان، نورستانیان، ایماق، عرب، قرغیز، پامیریان، گوجر، قزلباش، براهویان او نور قومونه د دغه هېواد اصلي واکمن دي. هېڅ افغان له بل افغان څخه زیات او هېڅ یو له بل څخه کم نه دی.

سر لوړی او اباد دې وي افغانستان!

بریالي دې وي افغانان

پر یادو غونډو سربېره په گڼ شمېر نورو سیمو کې هم د برېښنایي تذکرو د ژر وېشلو لپاره ملاتړ غونډې جوړې شوې دي، چې موږ یې دلته دا یو څو غونډې د بېلگې په توگه یادې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمهور رييس غني يو قانوني گام

نن د (۱۳۹۷ل) کال د ثور (۱۳)مه نېټه، په افغانستان کې د ملت د اساساتو د ټینگښت او د ملي هویت د تثبیت، ځلا او استحکام لپاره تر ټولو ښه، خوږه او کارنده ورځ ده. جمهور رییس غني په



پای کې عاقلانه گام پورته کړ. د اساسي قانون مطابق او د عام ملت له غوښتنو سره سم یې اقدام وکړ. نن یې د گڼو دولتي چارواکو په ملتیا، چې په هغو کې د مشرانو جرگې رییس فضل الهادي مسلمیار، د ولسي جرگې رییس عبدالروف ابراهیمي، د سترې محکمې رییس سید یوسف حلیم، د علماو شورا رییس قیام الدین کشاف، د جمهور رییس دویم مرستیال قانونپوه سرور دانش، د اجراییه ریاست مرستیال انجنیر محمد خان، د سولې عالي شورا مشرتابه، د ملي امنیت سلاکار محمد حنیف اتمر او گڼ نور دولتي چارواکي شامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. د برېښنايي تذکرو د وېش لړۍ پیل کړه. د غونډې په پیل کې د تذکرو د پیل په باب يو تاريخي مستند فلم وښودل شو، بیا جمهور رييس غني، لومړۍ مېرمن، د جمهور رييس مرستيال، د مشرانو، ولسي جرګې او سترې محکمې رييسانو ته تذکرې ووېشل شوې او بیا جمهور رييس د برېښنايي تذکرو د ارزښت او وېش په باب هر اړخيزې خبرې وکړې.

د جمهور رييس دې ګام سره په هېواد کې د برېښنايي تذکرو د وېش لړۍ، چې دا پنځه کاله له ډول ډول ستونزو سره مخامخ وه، عملاً پیل شوه. عامو افغانانو او په تېره بیا ملتپالو او اسلامپالو افغانانو د دې کار هر کلی وکړ، خو يو شمېر پرديپالو بیا په دې باب خپل منفي غبرګون څرګند کړ. دا هغه ډلې او اشخاص دي چې د افغانستان په تېر تاريخ، په تېره بیا په تېر څلوېښت کلن سیاسي بهیر کې يې هېڅکله هم د افغانستان د ملي ګټو، ملت جوړونې او ملي استحکام په ګټه خبره نه ده کړې، تل يې ملي نفاق ته لمن وهلې او د نورو هېوادونو په لمسون يې په افغانستان کې په نيابتي جګړو کې برخه اخيستې ده. د دې نيابتي ډلو او اشخاصو په استازۍ ډاکټر عبدالله عبدالله هم، خپل ملت ضد غبرګون وښود او يو ځل بیا يې خپله ملت ضد څېره څرګنده کړه.

له يو شمېر مخالفتونو او خنډونو سره سره د برېښنايي تذکرو د وېش بهير پیل شو. د ملي هويت مخالفينو او نورو افغان ضد ډلو تل له ملي پروسو سره خپل مخالفت څرګند کړی او د وخت حکومتونو د همدغو مخالفتونو له امله هغوی ته نامشروع امتيازات ورکړي، نو ځکه خو دوی له دې ډول مخالفتونو سره روږدي شوي دي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفت وکړه او نامشروع امتیاز واخله، دې کار اوس د دوی د سیاسي سوداګرۍ د یو اساسي رکن بڼه خپله کړې ده.

زه د هغو افغانانو له ډلې څخه وم چې دې تاریخي ورځې ته مې ډېر زیات انتظار ویستلی و، په تېرو پنځو کلونو کې مې له نورو زرګونو هېوادوالو سره یو ځای د ملي هویت لپاره مبارزه کړې وه او دا مې د هېوادوالو د مبارزې یوه مثمره ورځ ګڼله، زما لپاره د ډېرې خوښۍ ورځ وه، خو د خوښۍ دا ورځ په کابل کې پر ژورنالېستانو خونړي برید او یو شمېر نورو غمجنو پېښو تر خپل اغېز لاندې راوسته.

د غمیزو په دې خونړي بهیر کې مو مناسبه ونه ګڼله چې د دې ورځې په مناسبت کومه غونډه جوړه کړو، خو دوه درې ورځې وروسته، په ننګرهار، کونړ، لغمان او ځینو نورو ولایتونو کې ملاتړ غونډې جوړې شوې.

تر دې حالاتو وروسته مې وپتېیله چې د خپلې کورنۍ له غړو سره یو ځای برېښنایي تذکرې ترلاسه کړم او هغه ارمان پوره کړم چې دا څو کاله مې په زړه کې په څپو و، چې هغه ته په بلې لیکنې کې نغوته وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غبرګولي (۱۰)مه یوه ارماني ورځ

نن چهارشنبه د (۱۳۹۷ل) کال د غبرګولي (۱۰)مه زما په ژوند کې د خوښۍ یوه مهمه ورځ وه، هر انسان په ژوند کې د ارمان یوه پوړۍ لري. کوښښ کوي هغې ته ځان ورسوي. د ملي هویت د ارمان بریا نو زما په ژوند کې یوه ستره هیله وه. د دې هیلې لپاره مې نږدې درې لسیزې شعوري او پرله پسې مبارزه کړې وه، خو کله چې د طالبانو نظام تر سقوط وروسته ملي ارزښتونو ته ګواښونه زیات شول، نو مبارزه هم ورسره سخته شوه. تر (۱۳۹۲ل) کال وروسته دا مبارزه نورې سختې مرحلې ته ورداخله شوه، کله چې د هویت په تذکرو کې د (ملت) او (دین) د ستون د نه لیکلو هڅه وشوه، نو د ملتپالو او پردیپالو مبارزه مخامخ او علني پړاو ته داخل شوه.

موږ ځکه په کمزوري او سخت دریځ کې وو چې ورځچارې، ځانساتي او احتیاط کاري هم د مخالفینو په تله کې پراته وو. په متواتر ډول پنځه کاله سخته مبارزه وشوه، په تش لاس خو د منطق او احساس په زور چې ټول جریان یې په دې اثر کې خوندي دی، خو ملتپال افغانان هغه وخت بریالي شول چې د ملي شورا مصوبې یا ګډې پرېکړې د هویت د تذکرو په باب د جمهور رییس فرمان تایید کړ او هر څه د اساسي قانون له محتوا سره سم برابر شول. تر هغه وروسته جمهور رییس او نورو مهمو اړوندو دولتي چارواکو برېښنایي تذکره واخیسته او د دې کار عملي لړۍ پیل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې په ارګ کې د برېښنايي تذکرو لپاره نوملیکنه کېدله، نو ما ته هم بلنه راکړل شوه، دا مهال لا هم یو شمېر عناصر او غوړه مالان په ارګ کې وو چې هلته یې زموږ ورتګ پر زړه نه اوارېده، ما هم نه غوښتل چې هلته لاړ شم او سترګې مې پر هغو عناصرو ولګي چې په تېرو پنځو کلونو کې یې د همدې ملي بهیر مخالفت کړی او زموږ پر ضد یې له هر ډول وسیلې څخه کار اخیستی و.**

**ما ویل پرېږده چې پروسه له ارګه رابهر شي. کله چې په وزیر اکبرخان او څلورمې کارتې کې دفترونه فعال شول. نو ښاغلي ګل رحمن احمدزي سره چې د تذکرو د وېش د تخنیکي چارو رییس او یو ملتپال افغان دی، هغه سره مې تماس ونیو. هغه راته وویل چې په شېرپور کې مې دفتر دی، استاده که تشریف راوړې، نو په یوه ورځ کې به درته ټول کارونه خلاص کړم او پر دویمه ورځ به درته تذکره درکړم. د جوزا پر (۲)یمه د سې شنبې**



**پر ورځ د هغه دفتر ته لاړم، فورمې یې راته ډکې کړې، تصدیق او تایید یې هم د ده د دفتر غړو وکړ، د وینې ګروپ معلومول او نور اړوند اسناد مې ورته په یوه شپه کې برابر کړل سمسور زوی مې هند کې پر تحصیل بوخت و، هغه له هغه ځایه د وینې ګروپ تصدیق راولېږه. د جوزا پر (۳)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېټه چهارشنبه مو ټول اسناد گل رحمن احمدزي صیب ته تسلیم کړل، هغه راسره یوځای وزیراکبرخان مېنه کې د (VIP) دفتر ته لاړ شهیدزي صیب؛ د تذکرو د وېش مسول زموږ اسناد د هویت د تثبیت لپاره اړوند مامور ته ورتسلیم کړل، هغه په نیم ساعت کې ټول کار پروسس کړ، کار نوملیکنې ته برابر شو. څرنگه چې ما کورنۍ فورمه ډکه کړې وه، نو په کار وه چې د کور ټول غړي حاضر وای. سمسور زوی مې د شنبې ورځ چې د جوزا له (٦) نېټې سره سمون خوري،کابل ته راروان و. احمدزي او شهید زي صیب ته مې وویل، د دوشنبې پر ورځ به د کورنۍ ټول غړي راشو، هغوی وویل بېخي سمه ده، اسناد دې تکمیل دي، هر وخت چې دې زړه غواړي. د دوشنبې ورځ سهار (۹) بجې د کورنۍ ټول غړي وزیراکبرخان (VIP) دفتر ته لاړو، خپل اسناد مو پروسس کړل، بایومیټرک مو هم وکړ، کارونه خلاص شول، ویې ویل سه‌شنبه راشئ، ټولې تذکرې به چاپ شوې وي، د سه شنبې ورځ یوولس بجې ورغلو، د سمسور، ودان، سولې تذکرې خلاصې شوې وې، خو زما، د مېرمن مې او د هیلې تذکرې چهارشنبې ته پاتې شوې، لږ تخنیکي پروسس یې درلود، د چهارشنبې سهار (۹) بجې ورغلو، په پنځه دقیقو کې یې راته تذکرې راکړې او په دې ډول هغه ارمان ته ورسېدو چې پنځه کاله مې ورته مبارزه کړې وه او ورځې مې ورته شمېرلې وې، (۱۲) بجې ژوندون ټلوېزیون ته راغلم، هلته مې یوه مرکه وکړه، دوه نیمې بجې مې په خپله فیسبوک پاڼه د تذکرو د اخیستو تصویرونه پورته کړل، په لږ وخت کې په سوونو کسانو د مبارکۍ پیغامونه راولېږل، ټولو ته دا یو په زړه پورې خبر و، کله چې مې د هېوادوالو دومره مینه ولیده، نو د پنځو کلونو ټوله ستړیا مې له یاده ووتله، دمه مې راسته شوه او له خدایه مې د خوښۍ شکر ادا کړ. له ډېرو کړېچونو او اغزنو لارو تر دې دمه راورسېدو، دا چې راتلونکي کې به څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبږي او زموږ ملي او عقیده يي هویت به له څه ډول ننګونو سره مخامخېږي. دې ته به اینده زمانه ځواب وایيي او زموږ راتلونکی نسل به د هغو ننګونو مخه نیسي، خو کوم څه چې زموږه فریضه وه او پر موږ د راتلونکي نسل حق و، کوښښ مو وکړ چې هغه حق ادا کړو.

اوس د دې کتاب وروستۍ برخه له خپل ولس څخه د خپل هویت د بې دریغه ملاتړ له امله د مننې په اداکولو سره ختموم، سره له دې چې ما سره اوس داسې الفاظ نه شته چې د خپل غیور ملت له بې شانه غیرت څخه یې څرګند کړم او هغه هم په تېره بیا په داسې یو پړاو کې چې ما نه زور درلود او نه زر، خو دوی زما د حقیر بنده خبرې واورېدلې او بې دریغه یې هم زما او هم د خپل ملي هویت ملاتړ وکړ، ژوندي اوسې ولسه، سر لوړی او سوکاله اوسې زما غیرتي ولسه، بریمن اوسې زما اسکیرلی او په زړه سپېڅلی ولسه!

په مینه

ستاسو د ملي او اسلامي هویت؛ افغانیت او اسلامیت د لارې یو لاروی.

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۷ل کال د غبرګولي ۱۱مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستۍ يادونه او بشپړونه

د انسان په اوصافو او تعريفونو کې دا راځي چې: دا موجود (اشرف‌المخلوقات) دی، خو له دې شرف سره سره په عقل پوره او کره نه دی، ډېرې نيمګړتياوې لري او دا نيمګړتياوې يې هغه وخت لا پسې محسوسې او ډاګيزې شي چې پر يوه کار لاس پورې کړي او هغه په خپل نظر د بشپړاوي پړاو ته ورسوي. کله چې يو کار سرته ورسوي او بيا پرې يا په خپله او يا هم نور کتونکي او ځيرونکي نظر واچوي، نو له ورايه يې نيمګړتياوو، کمزوريو او بېوسيو ته پام شي. دا اثر هم د انسان د کار يوه بېلګه ده، چې له ډېرو هڅو او دقت سره سره بيا هم له نيمګړتياوو خالي نه دی. له هغې ورځې چې د ملي او عقيده يي هويت د خونديتابه لپاره عملي مبارزې او هڅې پيل شوي، نو له همغې ورځې زما ارمان او نيت و چې د دې مبارزو کرونولوژي بايد وليکل شي او راتلونکي نسل ته انتقال شي. څرنګه چې زه په خپله له پيله بيا تر دې دمه د ګڼو پېښو په منځ کې راګير وم او هر څه مې له نږدې ليدل او څارل، نو خپله مې زړه و چې هر څه زه په خپله د ليک په دايره کې راځرګند او انځور کړم، له دې کار څخه مې يوه موخه دا وه چې د ملي مبارزينو تصوير تت پاتې نه شي او د دې زمانې د اغزنو شرايطو د اصلي مبارزينو انځور بل پښت او بلې زمانې ته سم انتقال شي. د هرې ورځې پېښې او د هرې پېښې نېټې ثبتېدلې او موږ هم پر دې نه پوهېدلو چې د پېښې سر به چېرته وځي او د دې مشورې سر به څنګه خلاصېږي. نږدې شپږ کاله زمانه يې په بر کې ونيوله. کله چې د ملي هويت لپاره ملي مبارزه له قانوني پلوه د برياليتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستي پړاو ته ورسېده، نو د شپږو کلونو د یادښتونو د ترتیب او تنظیم په لټه کې شوم، ښایسته ډېر یادښتونه شول.

په کرونولوژیک ډول د دې یادښتونو ترتیب او تنظیم او بېرته د تېر شپږ کلن مزل وهل څه اسانه کار نه و؛ ځینې یادښتونه لا درکه شوي وو او ځینو تاریخي نېټې نه درلودلې، د ځینو نېټې وړاندې وروسته وې، خو په ټولیز ډول مې تر پنځه لسو ځلو زیات دا اثر واړوه راواړوه. تر ډېرو کتنو او ځیرنو وروسته دغه څه ترې جوړ شول چې اوس تاسو له نظره تېر کړ. کله چې ما د دې اثر وروستۍ جمله ولیکله، نو بیا راته ذهن ته راغلل چې لا هم ځینې مهم یادښتونه او د غونډو بهیرونه پاتې دي. په فرانسه، انګلستان، روسیې، ناروې، سوېډن، هالینډ، امریکا، عربي متحده اماراتو او ځینو نورو هېوادونو کې لویې او وړې غونډې شوې وې، د هغو غونډو راپورونه او تصویرونه مې تر دې دمه ترلاسه نه کړای شول، هغو ټولو دوستانو ته چې د ملي هویت په ننګه یې بېلابېلې غونډې جوړې کړې



وې، مننه ترې هم کوم او بښنه ترې هم غواړم، دغه راز د هېواد په داخل کې هم د یو لړ غونډو راپورونه او تصویرونه ترلاسه نه شول، په میدان وردګو کې د ملي ثبات ټولنې د مشر ضیاء الحق امرخېل په نوښت یوه لویه مظاهره وشوه، په زرګونو هېوادوالو په کې ګډون کړی و، مننه ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کار ده، کور ودانی ورته وایو. په هلمند کې د هلمند مدني ټولنې او د هغې د مشر (سردار همدرد) او نورو ټولنو په نوښت بېلابېلې مظاهرې وشوې او ګڼ شمېر خبري کنفرانسونه وړاندې شول، له ټولو څخه مننه کوو. کله چې د ثور پر (۱۳)مه نېټه جمهور رییس غني لومړنۍ برېښنايي تذکره ترلاسه کړه، نو ما له یو شمېر نورو ملګرو سره ختیزو ولایتونو ته سفر وکړ، د جمهور رییس د دې ګام د ملاتړ په خاطر مو لومړنۍ غونډه په کونړ کې وکړه چې د والي او نورو دولتي چارواکو په ګډون د کونړ په سلګونو مشرانو، مدني فعالانو او مخورو په کې ګډون کړی و. په غونډه کې د کونړ والي (وحید الله کلیمزي) په ګډون ګڼ شمېر مخورو شخصیتونو او دیني عالمانو خبرې وکړې او ټولو د جمهور رییس د دې کار هر کلی وکړ او خپل ملاتړ یې څرګند کړ. یوه ورځ وروسته یانې د ثور پر (۱٦)مه نېټه په جلال اباد ښار کې د والي (ګلاب منګل) په ګډون په لسګونو دولتي او




په سلګونو قومي مشرانو په یوه لویه غونډه کې ګډون وکړ. ټولو په یوه غږ د جمهور رییس غني دا کار وستایه او دا یې د اساسي قانون د تطبیق لپاره یو اساسي ګام وباله، ویناوالو د دې کار لپاره له جمهور رییس او حکومت څخه خپل ملاتړ څرګند کړ او هغه ډلې او اشخاص یې وغندل چې د دې ملي پروسې پر وړاندې ډول ډول خنډونه جوړوي، یوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته د ثور پر (۱۷)مه لغمان ته لاړو او هلته مو په هغه غونډه کې ګډون وکړ چې د ختيزو ولايتونو د ټولنيزې سراسري شورا د لغمان څانګې له خوا، د ملي هويت په ملاتړ جوړه شوې وه. په غونډه کې د لغمان والي (اصف ننګ) هم ګډون وکړ او د خپلو خبرو په ترڅ کې يې د تذکرو د وېش له پيل شوې لړۍ څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. په غونډه کې ټولو برخوالو د برېښنايي تذکرو د وېش ملاتړ وکړ او له حکومته يې وغوښتل**




**چې ژر تر ژره دې دا لړۍ ټول افغانستان ته خوره کړي. تر دې غونډې وروسته، د هېواد په نورو ولايتونو کې هم د برېښنايي تذکرو د وېش ملاتړ غونډې جوړې شوې. د لوګر، پکتيا او خوست ولايتونو چارواکو او ولسي وګړو ما (يون) ته بلنه راکړه چې د هغوی له خوا د برېښنايي تذکرو په ملاتړ غونډو کې هم ګډون وکړم، خو وخت مجال رانه کړ او زه د هغوی د مينې پوروړی پاتې شوم، همداراز په نورو ولايتونو کې هم دا لړۍ پسې وغځېدله. دا نو هغه وخت و چې نور نو د ملي هويت مخالفينو تر ډېره بريده ماتې خوړلې وه او د تاريخ څرخ د ملتپالو او هويتپالو افغانانو په ګټه څرخېده، خو تر دې د مخه حالات اغزن وو. په هغه زمانه کې لکه څنګه چې مې د دې اثر په متن کې يادونه کړې، د ملي هويت په ملاتړ ډېرې غونډې شوې وې، خو د ملي تحريک په شمول د ځينو سياسي ګوندونو، ملي حرکتونو او نورو مدني بنسټونو، ځينې کارنده اعلامیې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه نه شوې. ځینو رسنیو مثبت او ځینو منفي رول ولوباوه. د ځینو انډیوالانو دا نظر و چې دا برخه باید د یوه ځانګړي څپرکي په توګه څېړل شوې وای. د کتاب په متن کې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه نه ده شوې، خو دلته یادونه کولای شم چې د ملي او عقیدهیي هویت او د دغه ستر ارمان لپاره، ژوندون راډیو تلوېزیون، شمشاد راډیو تلوېزیون، کابل نیوز، سپوږمۍ راډیو، وطن تلوېزیون، پښتو تلوېزیون، پژواک خبري اژانس، ویسا، سرنوشت ورځپاڼو، لوی افغانستان جریدې، تاند، روهي لر او بر او ځینو نورو وېبپاڼو او یو شمېر نورو ولایتي خپرونو تر خپله وسه پورې خپل ملي او اسلامي مسولیت ترسره کړی دی، له ټولو مننه په کار ده. هغو رسنیو چې منفي رول یې لوبولای، دلته لازمه نه بولم چې نومونه یې واخلم، د هغوی همدا شرم بس دی چې له خپلو مغرضو هڅو او شیطانت سره سره خپلو شومو موخو ته ونه رسېدل. د منفي رسنیو تر څنګ په حکومت کې او تر حکومته بهر نور ګڼ شمېر اشخاص هم وو چې د ملي او عقیده یي هویت پر وړاندې یې منفي رول ولوبوه چې ځینو ته یې موږ د دې کتاب په متن کې هم نغوته کړې ده.

هغه شعوري هېوادوال چې د ملت په استازۍ یې د ملي هویت د ملاتړ لپاره هلې ځلې کړې، د هغو شمېر هم خورا زیات و، دوی په مستقیم او نا مستقیم ډول په دې مبارزه کې ګډون وکړ چې له ټولو څخه مننه کوو او کور ودانی ورته وایو.

په حکومت کې ښاغلی محمد حنیف اتمر هغه شخص و چې تر ټولو زیات یې په دې برخه کې هلې ځلې وکړې، که څه هم د دې موضوع په پیل کې زړه او نا زړه و، خو څومره چې د پردیپالو او متعصبو کړیو تنګنظري عملونه  او حرکتونه زیاتېدل، د ملي هویت د پالنې لپاره د حنیف اتمر احساس او عمل هم زیاتېده، په دې ټول بهیر کې ما ورسره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسگونو ځله تماسونه نیولي، خبرې مې ورسره کړې دي، جرگې او مرکې مې ورسره کړي او د ده په وسیله مو جمهور رییس ته د ملت پیغام وررسولی دی، په دې لړ کې کله کله خبرې ډېرې ترخې شوې هم دي، خو پرې شوې نه دي. که جمهور رییس ته د اتمر له خوا قناعت ښونکي دلیلونه نه وای، نو کېدی شي دا پروسه نوره هم ځنډېدلې وای.**

**د (۱۳۹۷ل) کال د ثور پر (۳) نېټه ما مسکو ته یو سفر درلود، تر سفر یوه ورځ دمخه مې له ښاغلي حنیف اتمر سره په شش درک کې د امنیت شورا دفتر په مېلمستون کې دوه په دوه وکتل، د تذکرو موضوع مې یو ځل بیا ورسره یاده کړه، ده د نتیجې په توگه راته وویل: درې خبرې دي چې هغوی (شمالټلوالې) د خپلو سرو کرښو په توگه مشخصې کړي او موږ ته وایي چې له دې مسلو تېرېدونکي نه یو او که حکومت د تذکرو وېش پیل کړي، نو موږ له حکومت څخه وځو، اوس ته وایه چې موږ له دې درېو څخه کومه یوه غوره کړو او موږ د خپلې سرې کرښې په توگه پر هغې ټینگار وکړو؟ دوی وایي، په پارلماني انتخاباتو کې تک کرسي (واحده څوکۍ) یانې دا چې حوزې دې وړې شي، دا نه شو منلای، ملگرو ملتونو چې په وروستیو کې له مصنوعي سپوږمکۍ څخه د هېواد د وگړو کومه احصایه اخیستې، هغه یې خپره کړې او په هغې کې د دوی په نظر د پښتنو شمېر زیات ښودل شوی، دا نه منو او درېیم د افغان کلیمې په ذکر سره د تذکرې وېش نه منو، اوس ته راته د وروستي نظر په توگه دا ووایه چې په دې درېو کې موږ کوم یو انتخاب کړو او پر هغې ټینگار وکړو؟ ما وویل، د هغوی دا درې واړه غوښتنې او ټینگار ناقانونه دي، کاشکې په حکومت کې هېوادپاله برخه په دې دریځ کې وای چې نه یوازې دا درې واړه برخې یې پر هغو منلې وای، بلکې د مخالفت په حالت کې یې قانوني سزا هم ورکړې وای، خو څرنگه چې دا حکومت هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو مصلحتي حکومت دی، نو که په دې درېو کې بیا هم ستاسو انتخاب یوازې یو انتخاب وي، نو بیا د برېښنایي تذکرو موضوع ځکه غوره کړئ چې دا د ټول عمر موضوع ده. دا دوه نورې موضوعګانې که څه هم مهمې دي، خو د دې یوې په اندول مهمې نه دي. پارلماني ټاکنې که په ښه ډول ترسره شي که حوزه یي نه هم وي، یو څه عدالت په کې راتللای شي، سرشمېرنه که دا نه منل کېږي، نو بیا به بله سرشمېرنه وشي، افغانستان کې څوک د چا سر نه شي کمولای، خو په شمېر کې به یې ټګي وکړي، په پای کې به حقیقي شمېره څرګنده شي. د هویت مسله ډېره حساسه ده، که یو ځل متضرره شوه، جبران یې بیا ډېر سخت دی. اتمر صیب وویل: نو ستا په نظر همدا مسله موږ ټینګه کړو؟ ما وویل، هو! پر همدې مسلې ځکه ډېر ټینګار وکړئ، چې هم اساسي قانون حکم کوي، هم یې نور قانوني مسیر بشپړ کړی او هم یې ملت غواړي، هغه ویل بس سمه ده، زه به جمهور رییس ته د خپل وروستي نظر په توګه همدا خبره وکړم او ټینګار به هم پرې وکړم. ما ورته د خبرو په پای کې وویل، زه اوس د یوې اوونۍ لپاره سفر لرم او که جمهور رییس تر هغه وخته دا کار ونه کړ، نو کله چې راغلم، پر جمهور رییس غني، ډاکټر عبدالله عبدالله او پخواني ولسمشر حامد کرزي درېواړو عریضه کوم، سترې محکمې، لویې څارنوالۍ، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون، د ملي شورا د شکایاتو کمېسیونونو، د ټاکنو کمېسیون او نورو اړوندو ارګانونو ته ځم، عریضه کوم او ورته وایم چې د اساسي قانون د دوه ویشتمې مادې مطابق څوک چې د افغانستان تابعیت ولري، مسلمان وي او له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي، هغه حق لري چې جمهوري ریاست ته ځان کاندید کړ، نو کله چې دا درې ښاغلي اوس په تذکره کې د افغان کلیمه او افغانیت نه مني، دوی جمهوري ریاست ته څرنګه ځانونه کاندید کړي وو؟ د ټاکنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمېسیون ولې دوی ته د نوماندۍ اجازه ورکړې ده. ما ویل زه پر دې هم پوهېږم چې یاد اورګانونه به زما پر عریضه سر هم ونه ګروي، خو زه به د یو لوی خبري کنفرانس په ترڅ کې خپل غږ اوسني او راتلونکي نسل ته ورسوم چې موږ په داسې زمانه کې ژوند کاوه چې د جمهوري ریاست نوماندان یې له خپل ملي هویت څخه منکر وو، خو د هېواد د زعامت لپاره نوماندان وو. اتمر صیب وخندل او ویې ویل: پر دې مسله ودرېږو، دا زموږ سره کرښه ده. که دا نور پر دې خبره له دې حکومته وځي، هم ورته تیار یو، دې ته هم تیار یو چې حکومت هم پرې ړنګ شي، خو له دې مسلې څخه نه تېرېږو. د اتمر صیب په همدې خبرو له هغه څخه رخصت شوم. تر دې ملاقات لس ورځې وروسته جمهور رییس د تذکرو د وېش لړۍ پیل کړه.

دا داستان مې ځکه ولیکه چې د ملي هویت پلویان باید د دې سړي (حنیف اتمر) دریځ له یاده ونه باسي، زه ترې د ملي هویت د پلویانو په استازۍ مننه کوم. اکرم خپلواک هم له ځینو کوچنیو ملاحظاتو او په ځینو برخو کې له وړو تنګنظریو پرته تقریباً مثبت رول ادا کړی، چې د دې مثبت رول له امله ورڅخه مننه کوو، غلام نبي فراهي، فاروق وردګ او ځینو نورو دولتي او نیمه دولتي چارواکو هم تر خپله وسه خپل مسولیت ترسره کړی چې مننه ورڅخه په کار ده.

د ولسي جرګې په وکیلانو کې هم ګڼ شمېر وکیلانو خپل مثبت رول ولوباوه چې له هغې جملې څخه کمال ناصر اصولي، ارین یون، میربت خان منګل، نادر خان کټوازي، محمود خان سلیمانخېل، سخي مشوانی، نسیمې نیازی، صاحب خان، قادر ځاځي، حمیدزي لالي، قدرت الله سهاک، اکبر ستانکزي، راضیې منګل، مولوي ترخېل محمدي، قادر کلاتوال، عبدالحی اخندزاده، نواب منګل، عبید الله بارکزي او ځینو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثبت رول ولوباوه چې ډېره مننه ورڅخه په کار ده او د دوی له لارې له نورو ټولو ملتپالو او هېوادپالو وکیلانو څخه مننه کوو.

د مشرانو جرگې له اکثرو غړو په تېره بیا رییس فضل الهادي مسلمیار، ډاکټر فیصل سمیع، لطف الله بابا، ډاکټر زلمي زابلي، هاشم الکوزي، محمد حنیف حنیفي او د گډ کمېسیون له غړو او نورو ټولو سناتور صاحبانو څخه مننه چې په پای کې یې اغېزمن رول ولوباوه.

د مبارزې په بهیر کې ټولو قومونو خپل موثر نقش ادا کړ، چې د ټولو په استازې د هوتخېلو قوم څخه چې په منظم او منسجم ډول یې په توره او مېړانه میدان ته راودانگل مننه کوو. د بېلابېلو قومي شوراگانو په استازې، د وردگو ټولنیزې سراسري شورا څخه مننه کوو.

په بهر مېشتو افغانانو کې حاجي صیب فضل الرحمن، شېر علي خان شېر، علي محمد مجبور، عبدالنصیر یاسیني، حوریه عالم، حاجي نسیم ساپي، محمد افضل شیرینزوی او نورو څخه ډېره مننه چې وخت پر وخت یې خپلې مادي او معنوي مرستې کړي دي.

په کور دننه کې له ښاغلي الهام الدین مظهر، حاجي خیر الله قدیرزوی، خان افضل هډوال، گل مقصود ثابت، محمد ابراهیم نظري، عبدالقیوم پردیس، محبوب الله خان محبوب، څخه مننه چې مالي او معنوي مرستې یې وکړې، د مدني ټولنو او سیاسي خوځښتونو په استازې ډاکټر خوشال روهي، ډاکټر فیض محمد ځلاند، ضیاء الحق امرخېل، ډاکټر ضیاء الدین کمال، د النخیل چاپخونې له مسولینو او نورو څخه هم ډېره مننه چې په متواتر ډول یې دې ملي کار ته اوږه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کومو کسانو او بنسټونو یادونه مې چې وکړه هدف مې دا و چې د یادو کسانو د یادونې له لارې له ټولو هغو میلیونونو هېوادوالو څخه چې په دې ملي بهیر کې یې په مستقیم او نا مستقیم، څرگند او نا څرگند ډول خپل رول ادا کړی دی. له هغو ټولو او د هغوی تر څنگ له ټولو نوموړکو مبارزینو څخه ډېره مننه کوو چې خپل ملي او دیني رسالت یې ترسره کړ. یو ځل بیا له ټولو مننه.**

**د دې اثر له لیکلو څخه مې هدف دا و چې د ملي هویت لپاره شوې مبارزه گام پر گام تعقیب شي او راتلونکي نسل ته د دې زمانې د مبارزینو یو تصویر وړاندې شي. له ډېرو سترو ستونزو سره سره د ملي هویت لپاره د مبارزې دا پړاو له قانوني پلوه د بري درشل ته ورسېد، خو دا احتمال هم شته چې د ملي هویت کورني او بهرني مخالفین به د بریښنایي تذکرو د وېش پر وړاندې ستونزې جوړوي او د ملي هویت د ځلونې او ملي وحدت د ټینگښت پر وړاندې به خنډونه راولاړوي، خو هیله ده، د ملتپالو مبارزه به هم روانه وي او راتلونکی نسل به زموږ د زمانې د اوسني نسل د ملي مبارزینو له مبارزو څخه الهام اخلي او پر خپل وخت به د هېواد، ملت او هویت مخالفینو ته غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکوي.**

**د ملي او عقیده یي هویت د لا ځلا او ښکلا په هیله**

**محمد اسمعیل یون**

**۱۳۹٦ ل کال، د غبرگولي(۲۳)مه نېټه**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library